المطالب العالیة

فی

توضیح الکافیة

مصنّف

الشیخ العلامہ ابو عُبید مولانا **عصمت اللہ** النورستانی

ابنِ الحاج الشّہید جُمعہ خان صاحب



ناشر مکتبۃ الاشاعۃ محلہ جنگی پشاور

0300-5875425 / 0345-9459209



المطالب العالية

في

توضيح الكافية

المعرب

مصنّف

الشیخ العلامه ابو عبید مولانا عصمت الله النورستانی
ابن الحاج الشهید جمعه خان صاحب



مكتبة الاشاعة محلہ جنگی پشاور
0300-5875425 / 0345-9459209

كتاب: المطالب العالية في توضيح الكافية (معرب)

مصنف: الشيخ العلامة ابو عبيد مولانا عصمت الله النورستاني

نظر ثاني: مولانا عبدالحكيم سواتی، مولانا بخت الله صاحب، مولانا سميع الله خنجر صاحب

زير اهتمام: مولانا نقيب الله حنيف

كمپوز: مكتبة الاشاعت

تعداد: (1100)

خپروونكی: مكتبة الاشاعت (محله جنكي قصه خواني پشاور)

چاپ ځای: مكتبة الاشاعت

(03459459209)

(03005875425)

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذی خلق الانسان، وعلمه البیان، وارسل افضل الرسل بالقرآن، واعلی درجة العلماء، باشاعة التوحید والسنة فی کل زمان ومکان، اما بعد:

زده کړه دا خبره چې مصدره نه کړه مصنف (رحمه الله) چې ابن حاجب دی، رساله خپله چې کافیه ده، په الحمدلله سره کتابةً هضمنا لنفسه، ځکه دی وایي چې داکتاب د دې جهت نه چې زما کتاب دی نه د دې جهت نه چې مشتمل دی، په عباراتو لطیفو او معانیو نفیسو باندې دا نه دی په شان دکتاب الله او دکتب د سلف صالحین باندې، حتی کې چې زه یې مصدر کړم، په الحمدلله سره چې مشابه شی دکتاب الله سره صورتاً، او دکتب د سلف سره حقیقتاً، او مامور به په حدیث دحمد کی ابتداء ده برابره خبره ده که کتابةً وي، او که لسانًاوي، او که قلبأوي، نو مصنف (رحمه الله) اګر چې کتابةً نه دی ذکر کړی، لیکن لساناً یاقلباً یې ذکرکړیدی، په دلیل عقلی او نقلی سره.

دلیل عقلی دا دی: چې انتفاء ده خاص مستلزم نده، انتفاء دعام لره.

او دلیل نقلی: دا حدیث د نبي (صلی الله علیه وسلم) دی چې (ظنوا المؤمنین خیراً) او هر چې دی کتابت د تسمیه نو دا ثابت دی په حدیث سره، چې (الامن کتب منکم کتابا فلیکتب في اوله بسم الله الرحمن الرحیم)

سوال: څه وجه ده مصنف لره چې ذکر یې نه کړو حمد په خپل کتاب کې پس د تسمیه نه سره د دینه چې په دی ترک د حمد کې ده خلاف وکړو د کتاب الله نه، د کتب د سلف نه، او د حدیث د حمد نه.

جواب: مصنف حمد ذکر نه کړو هضما لنفسه.

سوال: ذکر کول د حمد خوعبادت دی، او هضم او انکسار د نفس خو راځي په کولو دعبادت سره، او ترک دعبادت خو مستلزم دی تکبر او غرور لره.

جواب: د دې ترک دحمد لپاره دوه اعتباره دي: **اول:** یو ترک دحمد دې په دی اعتبارسره چې سړی وائی، چې دا عبادت دی خوزه ئې نه کوم. **دوهم:** او بل ترک د حمد دی په دی اعتبارسره چې سړی وائی، چې ذکر کول د حمد خو عبادت دی، خو چونکه زه کمزوری یم مشابهت دخپل کتاب، دکتاب الله او دکتب د سلفو سره نه شم راوستی، نو ځکه یې نه ذکر کوم، نوپه دی اول اعتبار سره یې ترک کول مستلزم تکبر لره دی، او په دوهم اعتبارسره یې ترک مستلزم نه دی تکبر لره، او مخالفت دکتاب الله لره.

بل جواب دا دی: چې دکتاب الله لپاره دوه حالته دی، یو حالت داجتماع دی، او بل حالت دنزول دی، نو په حالت د اجتماع کی مصدر دی په حمد سره لیکن په حالت د نزول کې مصدر نه دی په حمد سره نو مصنف (رحمه الله) موافقت کړیدی د حالت د نزول سره.

سوال: صحیح ده دکتاب الله او دکتب سلف نه خو خلاف رانغلو، لیکن دحدیث نه خو خلاف را غلو.

جواب: مامور به په حدیث دحمد کی مطلق ابتداء ده، برابره خبره ده کتابةً وی، او که لساناً وی، او که قلباً وی، نو مصنف (رحمه الله) اګر چې ابتداء بالحمد کتابةً نه ده کړی لیکن لساناً یاقلباً یې کړی ده.

سوال: تا ته څه پته ده، چې لساناً یا قلباً یې ابتداء بالحمد کړې ده، ته څه عالم الغیب خو نه یې؟

جواب: زه عالم الغيب نه يم ليكن ماسره په دې خبره دليل موجود دى، هم عقلي او هم نقلي،
دليل عقلي دا دى: چې ماموربه په حديث د حمد كې مطلق ابتداء ده، يعنې عامه ده. او انتفاء دخاص مستلزم نده. انتفاء دعام لره.
او دليل نقلي داحديث دى چې (ظنوا المؤمنين خيراً) (تركيب) (ظنوا) فعل فاعل دى(المؤمنين) يې مفعول اول دى، او (خيراً) يې مفعول ثاني دى، فعل سره دفاعل اوسره د مفعولينو نه جمله فعليه
سوال: چې د (ظنوا) صيغه دامر ده. ظن يظن نه اودا فعل قلب دى، او قانون په افعال قلوبو كې دا دى چې دهغې په مفعولينو كې به مطابقت وي په افراد ، تثنيت، جمعيت، تذكير اوتأنيث كې، او دلته خو مطابقت نه شته، ځكه چې (المؤمنين) مفعول اول دى، او داجمع ده او (خيراً) يې مفعول ثاني دى او دا مفرد دى.
جواب: دا مفعول ثاني دلته صيغه د اسم تفضيل ده، او اسم تفضيل په مختلفو طريقو سره مستعمليږي، نو په بعض طرقوكې مطابقت واجب دى. اوپه بعض طرقوكې عدم مطابقت واجب دى او په بعض كې جواز دامرين دى، كله چې مستعمل شي په (من) سره نو په هغې كې عدم مطابقت واجب دى. لكه الصلوة خيرمن النوم او چې كله نكره مستعمل شي په دې شان سره چې اضافت د نكرې نكرې ته شوي وي، او يا مجردعن اللام والاضافة وي، نو هلته هم عدم مطابقت واجب دى او دلته هم دا (خير) نكره ده، نوځكه مطابقت نه دى راغلى.
سوال: لكه څنګه چې ماموربه په حديث دحمد كې ابتداء مطلقه ده، نو دارنګې ماموربه په حديث دتسميه كې هم ابتداء مطلقه ده، نو ابتداء بالتسمية به يې هم لساناً يا قلباً كړې وي، دا ابتداء يې كتابةً ولې وكړه؟ **جواب:** (١) **النكتة للفار لا للقار،** (٢) داتسميه ليكل په اول دكتاب كې ثابت دى په حديث سره، چې (الامن كتب منكم كتاباً فليكتب في اوله (بسم الله الرحمن الرحيم) هركله موضوع دعلم النحو كلمه او كلام وو، ځكه (**موضوع**) هغه شي ته وائي چې بحث كولى شي په علم كې دعوارضو اوصفاتو ذاتيو د هغه شي نه. او په علم النحوكى بحث كولى شي دعوارضو او داحوالو د كلمې او د كلام نه نو شو كلمه او كلام. موضوع دعلم نحوى نو پس شروع وكړه مصنف په تعريف دكلمه او كلام كې، ځكه ترڅو پورې چې مونږه كلمه او كلام ونه پيژنونو څنګه به وپيژنوصفات او احوال د كلمې او كلام ځكه چې معرفت داحوالو دشي موقوف وى په معرفت دذات دشي پورې، او هر كله چې دا كلمه جزء وه د كلام نه مفهوماً او مصداقاً اوجزء مقدم وى په كل باندې په وجود دخارجي كښې نو مقدم يې كړه كلمه په كلام باندې په ذكر كې لپاره د دې چې ترتيب ذكري موافق شى د ترتيب خارجي سره.
سوال: غرض دماتن خو بحث كول دى داحوالو د كلمې اود كلام نه نو مناسب دا وه چې ده شروع كړې وى په مقاصدو كې چې هغه مرفوعات، منصوبات او مجرورات دى، نو اشتغال دمصنف په تعريف د كلمې او كلام باندې اشتغال بما لايعنې دى.
جواب: هركله چې كلمه او كلام موضوع دعلم نحوى وه ځكه چې موضوع دعلم هغه شي ته وائي چې بحث كولى شي په علم كې دعوارضوذاتيود هغه شي نه او په علم نحو كې بحث كيږي دعوارضو ذاتيو د

کلمې او کلام نه، نو دا موضوع دعلم نحو شوه نو مصنف (رحمه الله) شروع وکړه په تعریف د دې باندې، ځکه چې مونږه د دې ذات ونه پيژنو نو احوال به ئې څنګه وپیژنو، ځکه چې معرفت دذات مقدم وی په معرفت داحوالو باندې، نو حاصل داشو، چې دا تعریف د کلمې او کلام اګر چې دمقاصدو نه ندی، لیکن موقوف علیه دی دمقاصدو لپاره، او موقوف علیه د مقصود بالذات مقصود بالتبع وی

سوال: نه وائې چې موضوع دعلم نحو کلمه او کلام دی، نو دا خو تعدد دموضوع راغلو، اوتعدد د موضوع مستلزم وی تعدد دعلومو لره، نوپکار ده چې علم نحو دی هم دوه شی. یو قسم هغه علم نحو شي چې په هغې کې بحث کیږي داحوالو د کلمې نه. او بل قسم دی هغه علم نحو شي چې په هغې کې بحث کیږي داحوالو د کلام نه، حالانکه داسې خونه ده بلکه علم نحو یو علم دی

جواب: تعدد دموضوع مستلزم دی تعدد دعلومولره، خو هله چې د دې موضوعینو په مینځ کې علت مشترکه نه وی، او که چیرته علت مشترکه پکې وو، نو بیاتعدد دموضوع مستلزم نه دی تعدد د علومو لره او دلته علت مشترکه شته چې (کون د هر واحد) دی لفظ موضوع للمعنی نو غوره خبره دا ده چې موضوع د نحو لفظ موضوعه للمعنی دی، او کلمه او کلام ئې فردین دی

سوال: (۱) چې کلمه ئې ولې مقدمه کړه په کلام باندې سره ددینه چې دا خو دواړه یو شان دی په موضوعیت کې (۲) کلمه ئې ولې مقدمه کړه په کلام باندې باوجود د دې نه چې کلام اشرف دي د کلمې نه ځکه چې دا مفید د فائدې تامې دی، او اشرف مقدم وی په غیر اشرف باندې؟

جواب: هر کله چې کلمه جزء وو د کلام نه اوجزء مقدم وی په کل باندې په وجود دخارجی کې، نو مصنف (رحمه الله) مقدمه کړه په ذکر کې لپاره د دې چې دا ترتیب ذکري موافق شی دترتیب وجود خارجي سره.

سوال: لفظ د کلمې خو د لفظ د کلام نه جزء نه دی بلکه دا دواړه متباینین دي؟

جواب: دا کلمه جزء دی د کلام نه هم په اعتبار د مفهوم سره او هم په اعتبار دمصداق او افرادو سره ځکه چې مصداق د کلام (زیدقائم) دی او مصداق دکلمه زید دی یا (قائم) دی او (زید) جزء دی د زید قائم نه، دارنګې (قائم) هم جزء دی د (زید قائم) نه

سوال: دا خبره منم چې افراد د کلمې دا جزء دی د افرادو د کلام نه لیکن دانه منم چې مفهوم د کلمې جزء دی د مفهوم د کلام نه، ځکه مفهوم د کلمې دا دی چې **(لفظ وضع لمعنی مفرد)** او مفهوم د کلام دا دی چې **ما تضمن کلمتین بالاسناد** نو په دې کې خو کلیت او جزئیت نشته بلکه دا خو متبائنین دی.

جواب: مونږه وایو چې مفهوم اجمالی د کلمې جزء دی د مفهوم تفصیلي د کلام نه مفهوم تفصیلي دیته وائی چې تعبیر وکړی شی د شيء واحد نه په الفاظو متعددو سره لکه تاته څوك ووائي چې **مالکلمة** او نه ورته وائی چې **لفظ وضع لمعنی مفرد** او مفهوم اجمالی دیته وائی چې تعبیر وکړی شی دامور متعددونه په شيء واحد او لفظ واحد سره لکه تاته څوك ووائي چې ما اللفظ الذی وضع لمعنی مفرد؟ اوته ورته وائی چې **الکلمة**، نو مفهوم اجمالی دکلمه چې الکلمة دی داجزء دی د مفهوم تفصیلي د کلام نه چې **(تضمن کلمتین بالاسناد)** دی.

الكلمة: دا لفظ د الكلمة مركب دی دکلمات ثلاثه ؤ نه. (۱) الف لام (۲) تا متحرکه مدوره (۳) کلم الف لام او تاء حرفین دی او کلم اسم دی نو پس لابدي ده په دی مقام کي دتحقیقات ثلاثه ؤ نه. (۱) یو تحقیق په الف لام کي. (۲) تحقیق په کلم کي. (۳) تحقیق په تا متحرکه مدوره کي په الف لام کي لابدی ده دمعرفت دامور ثلاثه ؤ نه.

(۱) مفهوم لغوی. (۲) مفهوم اصطلاحی. (۳) اقسام نو الف لام په لغت کي لفظ ال ته وائی.

او په اصطلاح کښي **کلمه تحلی بها کلمة اخری** ته وائی نو د دي وجی نه دامشهوره ده چي الف لام راځي لپاره دتزیین او تحسین دکلمي او اقسام دالف لام په استعمال د کلام د عربو کي شپاړس دی.

پس زده کړه دا خبره چي الف لام اولاً په دوه قسمه دی (۱) استفهامیه غیر استفهامیه دا دوه قسمه دی. (۲) موصولی. او دیته الف لام اسمی وائی (۲) حرفي الف لام موصولی هغه الف لام ته وائی چي داخلیږي غالبا په هغه اسم فاعل او اسم مفعول چي دلالت کوی په معنی مصدری په طریقه دحدوث او تجدد سره او الف لام حرفی هغي ته وائی چي داخلیږي په ما سوا د اسم فاعل او اسم مفعول کذائی باندي یعني داخلیږي په هغه اسم فاعل او اسم مفعول چي دلالت کوی په معنی مصدری باندي په طریقه د دوام اواستمرارسره او دارنګي په هغه اسماؤ چي هغه غیروی د اسم فاعل او اسم مفعول نه نو معلومه شوه چي هغه الف لام چي داخلیږي په صفت مشبه باندي هغه الف لام حرفی دي ځکه چي کوم اسم فاعل اواسم مفعول چي دلالت په معنی مصدری په طریقه د دوام سر کوی نو په هغي الف لام اسمی نه داخلیږي نو صفت مشبه خو همیشه دلالت په دوام او استمرار باندي کوی نو په هغي خو په طریقه اولی سره نه داخلیږي اګر چي مشهوره دا ده چي الف لام موصولی داخلیږي په اسم فاعل او اسم مفعول باندي اتفاقاً او په صفت مشبه باندي اختلافاً اوس څه وجه ده چي الف لام موصولی په اسم فاعل او اسم مفعول داخلیږي او په نور و اسماؤ نه داخلیږي نو د دي وجه دا ده چي الف لام اسمی ذو جهتین دی صورتاً او لفظا مشابه دی دالف لام حرفی سره لکه المرأة اوالعالم شو نو دواړو کي الف لام په اعتبار د صورة سره یو شان دی او مدخول دالف لام حرفی خو مفرد وی نو دا تقاضه د دي کوی چي مدخول د دي دی هم مفرد شی او په معنی کي مشابه دی دموصول یعني الذی سره یعني دا په معنی د الذی سره راځي نو دا تقاضه د دي کوی چي مدخول د دي دی جمله شی او اعمال اولی دی داهمال نه نو دی نحاتو داسي مدخول کتلو چي هغه لفظا مفرد وی او معنا جمله وی، نو دوی پس دتتبع او استقراء نه ئي صرف دادوه اسماء پیداکړل چي دا لفظا مفرد او معناجملی دی، افراد صورتاً خو ئي ظاهردی او معنی جملی ځکه دی چي په الضارب، الف لام په معنی د الذی سره دی او ضارب په معنی د یضرب سره دی اویضرب جمله ده دارنګي په المضروب کي هم الف لام په معنی د الذی سره دی او مضروب په معنی د یضرب سره دی.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په دی قول د شاعر باندي: شعر

ما انت بالحکم الترضی حکومته ولا الاصیل ولا ذی الرای والجدل

ترجمه: نه ئي ته داسې فيصله كوونكى چې خلك راضي كيږي په فيصله د هغه باندې او نه اصيل ئي په اعتبار دنسب سره اونه خاوند دعقل ئي او نه خاوند دجګړې ئي چې خپله فيصله په خلقو باندې په زور نافذه كړي دلته په الترضى كې الف لام موصولى دى اودا داخل شوى دى په جمله فعليه باندې. دارنګې دا قاعده منقوضه شوه په دې قول شاعر:

من لايزال شاكراً على المعه فهو حر بعيشة ذات سعه

اى من لا يزال شاكراً على الذى معه، دلته الف لام موصولى داخل شوي دي په ظرف، او بل دا قاعده منقوضه شوه په دې قول دشاعر باندې:

من القوم الرسول الله منهم لهم دانت رقاب بنى معد

اى من القوم الذين رسول الله منهم، دلته القوم موصوف دى او (الرسول الله) يې صفت دى خو دا دالف لام په الرسول كې موصولى دى او س په دى سره دوه اعتراضونه دفع شو. (۱) يو اعتراض دا دى چې الرسول مضاف دى لفظ د الله ته او قانون دا دى چې كله ديو اسم اضافت كيږي بل اسم ته نو دا مضاف مجرد كيږي دالف لام نه او دلته نه دى مجرد شوى.

جواب: تجريد دالف لام حرفي نه لازم دى او دا الف لام موصولى دى، بل اعتراض دا دى چې القوم معرفه ده او الرسول الله ئي صفت دى او جمله خو صفت دنكرې لپاره واقع كيږي نه دمعرفى لپاره جواب: دا اعتراض به تا هله كولى چې دا الف لام دلته حرفى وى ليكن دا الف لام دلته موصولى دى، موصول سره دصلى نه صفت واقع شوي دي، نو خلاصه داصل اعتراض دا شوه چې تاخو وويل: چې الف لام موصولى به داخليږي په اسم فاعل او اسم مفعول باندې او دلته خو په جمله اسميه او جمله فعليه او په ظرف باندې داخل شوي دي، نو د دې جواب دا دى چې دلته چې دا الف لام داخل شوي دي په جمله فعليه او جمله اسميه او ظرف باندې نو دا د وجې دضرورت شعري نه (۲) يا دا چې دا الف موصولى داخليږي په اسم فاعل اواسم مفعول باندې غالبا اوكله كله په طريقى دقلت سره په جمله اسميه او په جمله فعليه او ظرف باندې هم داخليږي. الف لام موصولى څلور قسمه دى: (۱) جنسى. (۲) استغراقي. (۳) عهد خارجى. (۴) عهد ذهني. مثال دالف لام موصولى جنسي لكه، زيد المنطلق، يعنې زيد جنس انطلاق كوونكى دى. اومثال دالف لام موصولى استغراقي: لكه الف لام د المؤمن او الفاجر، شو په حديث د نبى (ص) كې چې (المؤمن غر كريم والفاجر خب لئيم) او مثال د الف لام موصولى عهد خارجي لكه الف لام د المنطلق شو په (جاءنى المنطلق) په هغه صورت كې چې په دې الف لام سره اشاره وشي يو شخص ته چې هغه معلوم وى متكلم او مخاطب ته، او مثال د الف لام موصولى عهد ذهنى لكه الف لام د المنطلق شو په جاءنى المنطلق كې په هغه وخت كې چې په دې سره اشاره وشى يو فرد ته چې هغه معلوم وى متكلم ته او مخاطب ته نه وى معلوم، او (الف لام حرفى) هغه الف لام ته وائى چې داخليږي د اسم فاعل او اسم مفعول نه علاوه په نورو اسماؤ باندې يا په هغه اسم فاعل او اسم مفعول چې دلالت كوى په معنى مصدري باندې په طريقه د دوام او استمرار سره، دالف لام حرفى اولاً په دوه قسمه دى: (۱)

زائد (۲) غیر زائد. زائد: دیته وائی چې په ازاله او سقوط د دې سره نقصان نه راځي په اصل معنی اومضمون د کلام کې. مثال: دالف لام حرفی زائده لکه الف لام د (اللئیم) شو په دی قول د شاعر کې:

لقد امر علی اللئیم یسبنی فمضیت ثم قلت لایعنینی

دلته دالف لام په (اللئیم) کې حرفی دی اوزائد دې حرفی ځکه دی چې الف لام موصولی داخلیږي په اسم فاعل او اسم مفعول باندې او دانه اسم فاعل دی او نه اسم مفعول دی.

او زائد ځکه دی چې په سقوط د دې سره نقصان نه راځي په اصل معنی اومضمون د کلام کې، او دلیل په دی خبره چې دا الف لام زائد دی دا دی چې د دې (اللئیم) لپاره وروسته یسبنی جمله صفت واقع شوي دي، او جمله صفت د نکرې لپاره واقع کیږي، نه دمعرفی لپاره، او دا به نکره هله شی چې الف لام پکې زائد شی، او بعض وائی چې دا غیر زائد دی نو (یسبنی) د هغو په نیز صفت نه دی بلکه حال دی.

سوال: چې هرکله په ازالی د دې الف لام زائد سره څه نقصان نه راځي په اصل معنی د کلام نو دا متکلم یې ولې راوړی په کلام کی؟ **جواب:** لپاره د تزیین او تحسین د کلمې نه د زیادت د معنی لپاره دا الف لام حرفی زائد بیا دوه قسمه دی.

(۱) لازم (۲) غیر لازم. دلازم دا معنی چې د کلمې نه یې انفکاك نه کیږي اودغیر لازم دامعنی چې انفکاك کیږي د کلمې نه او هر واحد د دې نه بیا په دوه دوه قسمه دی: (۱) عوضی، (۲) غیر عوضی. نو ټول څلور اقسام شو، مثال: دالف لام حرفی زائد لازم عوضی لکه: الف لام د لفظ د (الله) شو دا الف لام حرفی دی ځکه چې مدخول یې اسم فاعل او اسم مفعول ندی، او زائد دی ځکه چې تعریف حاصل شوی دی په علمیت سره او لازم دی د وجې د احاطې د علمیت نه او عوضی دي ځکه چې عوض د همزې نه راغلی دی. (الله) اصل کې (اله) وو بیا همزه حذف شوه او په عوض کې یې الف لام راغله نو (الله) شو او مثال: الف لام زائد لازم غیر عوضی لکه الف لام د (النجم، الصعق، او الثریا) دا الف لام حرفی دی ځکه چې مدخول یې اسم فاعل او اسم مفعول ندی، او زائد دی ځکه چې تعریف حاصل شوی دی په علمیت سره او لازم دی د وجې داحاطی د علمیت نه او غیر عوضی دی ځکه چې عوض د چا نه نه دی راغلی، اومثال لپاره دالف لام حرفی زائد غیر لازم عوضی لکه: الف لام د (الناس) شو په الناس کې دا حرفی دی ځکه چې مدخول یې اسم فاعل یا اسم مفعول نه دی او زائد دی ځکه چې تعریف حاصل دی د وجې ددخول دحرف نداء نه اوغیر لازم دی د وجې دعدم احاطی د علمیت نه او عوضی دی ځکه چې دا عوض راغلی دی د همزې نه اصل کې اناس وو، او مثال: لپاره دالف لام حرفي زائد غیر لازم غیر عوضی لکه: الف لام د (الغلامان) شو په دې قول دشاعر کې

فیا الغلامان اللذان فرا ایاکما ان تکسباشرا

نو دا الف لام په (الغلامان) کې حرفي دی ځکه چې مدخول یې اسم فاعل یا اسم مفعول نه دی او زائد دی، ځکه چې تعریف حاصل شوي دي په حرف نداء سره او غیر لازم دی، د وجې دعدم احاطی د علمیت نه او غیر عوضی دی، ځکه چې عوض د چا نه نه دی راغلی، او الف لام حرفی غیر زائد

دنحويانو په اصطلاح کې هغه الف ته وائي چې په سقوط د دې سره نقصان راځي په معنى او مضمون د کلام کې اودا په استعمال ده کلام دعربو کې اته قسمه دی. جنسي (۲) عهد ذهنی (۳) استغراقي حقيقي (۴) استغراقي عرفی (۵) عهد خارجي ذکري صريحي (۲) عهد خارجي ذکري کنائي (۷) عهد خارجي ذکری علمی (۸) عوضی. وجه د حصر پکې دا ده چې دا الف لام به خالي نه وی يا به عوض د مضاف اليه نه راغلی وی، او يا به نه وی. که عوض د مضاف اليه نه راغلی وو نو الف لام عوضی لکه الف لام د (الهوی) شو په دی قول دشاعر کې. شعـــر

اذامانهی الناهی فلج الهوی　　اصاخت الی الواشی فلج به الهجر

افادتکم النعماءمنی ثلاثة　　يدی ولسانی والضـمير المحجبا

دلته په دی الهوی کې الف لام عوضی دی يعني عوض دمضاف اليه نه راغلی دی، اصل کې (هواها) وو يا لکه الف لام دحرکة الاتصارشو ای (انصار الله) او که عوض د مضاف اليه نه نوی راغلی نو بيا به خالي نه نوی يا په دې سره اشاره کولي شی ماهيت دمدخول ته بې د ملاحظې د افرادو نه، او يا به په دې سره اشاره شوی وی ماهيت مدخول ته سره د ملاحظی د افرادو نه که اشاره شوي وی په دی الف لام سره ماهيت د مدخول ته قطع لحاظ د افرادو نه نوديته الف لام جنسي وائي، لکه الف لام د (الرجل والمرأة) شو په دی مقوله دعربو کی چې (الرجل خير من المرأة) جنس د سړي او ماهيت د سړي غوره دی دماهيت د ښځې نه، اوس دا الف استغراقي نه دی ځکه چې بيا کذب لازميږی، معنى به داشی چې هر فرد د افرادو دسړی غوره دی د هر فرد د افرادو د ښځې نه او حالانکه داسې خو نده بلکه ډير افراد د ښځو داسې دی چې بهتر دی د ډيرو افرادو د سړو نه لکه عائشه رضی الله عنها او مريم عليها السلام وغيره. او عهد خارجي يا عهد ذهنی هم نه دی ځکه چې مدح د فرد معين نده مراد په دې مقوله کی، او که چيرته په دې الف لام سره اشاره وه ماهيت د مدخول ته سره د ملاحظې د افرادو نه نو بيا به خالي نوی يا به سره د ملاحظې دټولو افرادو نه وی او يا به سره د ملاحظې د بعض افرادو نه وی، که سره د ملاحظې د ټولو افرادو نه وه نو بيا به خالي نوی يا به ټول افراد حقيقتاً مراد وي يا به ټول افراد عرفاً مراد وی، که ټول افراد حقيقتاً مراد وو نو ديته الف لام استغراقي حقيقي وائی لکه الف لام د (الانسان) شو پدې قول د الله کې: ﴿ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَفِى خُسْرٍ ﴾ دلته الف لام جنسي نه دی ځکه که الف لام جنسې شي نو بيا لازميږي حکم د خسران په ماهيت باندې او دا نده صحيح او عهد خارجي يا عهد ذهنی هم نه دی ځکه که شی نو لازميږی استثناء د متعدد د واحد نه او دا نه ده صحيح، او که مراد کل افرادوو عرفاً نوالف لام استغراقي عرفي لکه الف لام د (الصاغة) شو په دې مقوله د عربو کې چې (جمع الامير الصاغة) ای صاغة بلده او صاغة مملکته دلته اوس استغراقي حقيقي نه دی، ځکه چې جمع کول د بادشاه ټولو زرګرانو لره حقيقتاً ممکن ندی، او که اشاره شوې وه په دی الف لام سره ماهيت دمدخول خپل ته سره د ملاحظې دبعض افرادو نه نو بيا به خالي نوی يا به ملاحظه دبعض افراد معينه فی

الذهن وی، او يا به ملاحظه دبعض افرادو معينه في الخارج وی، که اشاره شوې وه په دې سره ماهيت د مدخول خپل ته سره د ملاحظې دبعض أفراد معينه في الذهن نه لکه: نعم الرجل زيد شو.

تنبيه: بعض خلك د الف لام عهد ذهني لپاره مثال دا آيات پيش کوی ﴿ وَأَخَافُ أَن يَأْكُلَهُ الذِّئْبُ ﴾ چې دلته په الذئب کې الف لام عهد ذهني دی ليکن دا مثال نه دی صحيح، ځکه الف لام عهد ذهنی خو ديته وائی چې هغې سره اشاره شوی وي يو فرد ته چې هغه معلوم وی متکلم ته او دلته خو يعقوب عليه السلام ته يوخاص فرد د ذئب معلوم نه وو، چې خاص دغه فلانکی شرمخ به يې وخوری. البته د علماؤ د علم بلاغة په نيز باندې الف لام عهد ذهنی صحيح کيږي، ځکه چې هغه عهد ذهني ديته وائی چې په هغې سره اشاره شوی وي ماهيت د مدخول ته په ضمن د يو فرد کې ای فرد کان او که چرته په دې الف لام سره اشاره شوی وه ماهيت د مدخول ته سره د ملاحظې د بعض افراد معينه في الخارج نه نو دغه افراد به خالي نوی، يا به ذکر وی صراحتاً او يا به ذکر وی کناية او يا به نه صراحة ذکر وی او نه به کناية ذکر وي خو معلوم به وی، که صراحة ذکر وو نو الف لام عهد خارجی ذکری صريحی، او که کناية وو نو الف لام عهد خارجي ذکری کنائی، او که نه صراحتاً وو او نه کناية وو نو الف لام عهد خارجي ذکری علمی، مثال د الف عهدی خارجي ذکري صريحي لکه: الف لام د (الانثى) اومثال دالف لام عهد خارجي ذکري کنائي لکه الف لام د (الذکر) شو چې دا دواړه ذکر دی په دې قول دالله کې ﴿ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنثَىٰ ﴾ دلته په الذکر کې الف لام عهد خارجی ذکری کنائی دی، ځکه چې (الذکر) مخکې کناية ذکرشوي دي په دې الفاظوسره چې ﴿ إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي مُحَرَّرًا ﴾ دلته د دې لفظ د (ما) نه مراد مذکر دی او په (الانثى) کې الف لام عهد خارجي ذکری صريحی دی ځکه چې انثی مخکې صراحة ذکر شوي دي چې ﴿ رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنثَىٰ ﴾ اومثال دالف لام عهد خارجی ذکری علمی لکه الف لام د (الکلمة) شو ځکه چې دا کلمه اګر چې مخکې صراحةً يا کنايةً نده ذکر ليکن علماً ذکر ده ځکه مراد ددينه هغه کلمه ده چې جاري وی په السنه د نحاتو باندې، او الف لام په (الکلمة) کې جنسی دی په قرينه دمقام باندې، ځکه دامقام مقام دتعريف دی اوتعريف د جنس کيږي او په جنس سره کيږي نومعنی داشوه چې الکلمة جنس کلمه په ضمن دکلمه نحويه کې لفظ وضع لمعنی مفرد ته وائی، او تا راغلی ده د وحدت جنسی لپاره نو نه لازميږي منافات په مابين دالف لام جنسی اوتا دوحدت کې.

(٢) يا الف لام په الکلمة کې عهد خارجی دی په قرينه دمقام سره ځکه چې نحات بحث کوی د کلمې نحوی نه نه دمطلق د کلمې نه.نومعنی دا چې هغه کلمه چې جاری ده په السنه د نحاتو باندې لفظ وضع لمعنی مفرد ته وائی. اوتا لپاره د وحدت نوعی ده.

(٣) او يا الف لام په الکلمة کې عوضی دی اصل کلمة النحو وو يعنې کلمه نحويه هغه لفظ ته وائی چې وضع کړي شوی وی لپاره دمعنی مفردی. اوس دا درې معانی چې مونږه وکړی په دې سره دفع داعتراض وشوه. اعتراض دا دی چې اقسام دالف لام خو تول شپاړس شو.

سوال: اوس دلته په دې الكلمة كې چې دا الف لام راغلى دى دا كوم قسم الف لام دى الف لام اسمى دى او كه حرفى دى؟ **جواب:** دا الف لام حرفى دى ځكه چې الف لام اسمى ديته وائى چې داخليږي په اسم فاعل يا اسم مفعول باندې او كلمه نه اسم فاعل اونه اسم مفعول دى.

سوال: الف لام حرفى خوده قسمه دى: (۱) زائد (۲) غير زائد. دا كوم قسم دى؟

جواب: دا الف لام حرفى غير زائد دى ځكه چې په سقوط د دې سره نقصان راځي په اصل معنى او مضمون د كلام كې چې نكارت د مبتدأ دى.

سوال: الف حرفى غير زائد خو بيا دوه قسمه دى: (۱) عوضى (۲) غيرعوضى. دا كوم قسم دى كه عوضى وى نوعوض د چا نه راغلى دى، او كه غيرعوضى وى نو هغه څلور قسمه وو (۱) جنسي (۲) استغراقي (۳) عهد خارجي (۴) عهد ذهنى دا كوم قسم دى؟ كه استغراقي ورته ووائى نو معنى به داشي چې هر فرد د افرادو د كلمې لفظ وضع الخ ته وائى نو دا خو تعريف د افرادو راغلو په جنس سره اوتعريف د افرادو نه كيږي، بلكه تعريف د جنس كيږي په جنس سره او بل دا چې په الكلمة كې دا (تا) د وحدت لپاره ده او دا استغراق او د وحدت په مينځ كې منافات دى، او كه عهد ذهنى ورته ووائى نو هغه په قوت د نكرې كې وى نو لازميږي نكارت د مبتدأ، او بل دا چې الف لام عهد ذهنى خو ديته وائى چې په هغې سره اشاره وى يو فرد ته چې هغه معلوم وى متكلم ته نه مخاطب ته نو بنا په دى خو بيا ابن حاجب صاحب دا تعريف د كلمې ځان ته وكړو مونږ ته يې ونه كړو، او كه الف لام جنسى وائى نو بيا بـ معنى داشى چې جنس كلمه هغه لفظ دى چې وضع كړى شوى وى لپاره دمعنى مفردى نو بنا په دى (لا اله الا الله محمد رسول الله) كلمه ده او وضع شوى نده دمعنى مفرد لپاره، او بل دا چې دا تاء لپاره دوحدت ده او په ما بين دجنس او وحدت منافات دى، او كه عهد خارجي ورته وائى نوپه هغې سره خو اشاره وى معهود ته او هغه معهود به مخكې ذكر وى او دلته خو مخكې څه ذكر نه دى چې هغه ته اشاره راشي په دى سره؟ **جواب:** دلته په الكلمة كې الف لام جنسى دى او دا تاء لپاره د وحدت جنسى ده، نومنافات ئې رانغلو د جنس سره، او كه ته وائى چې دا كلمه د توحيد ته شامليږى نو جواب دا دى چې جنس كلمه په ضمن د كلمه نحويه كې مراد ده، نو هغې لره شامله نه شوه ځكه چې هغه په ضمن دكلمه نحويه كې نده او يا الف لام عهد خارجي دى اومراد ددينه كلمه د نحاتو ده او كه ته وائى چې هغه تقاضه د ذكر د معهود سابقا كوى نو جواب دا دى چې ذكر د معهود عام دى كه صراحةً وى او كه كناية وى او كه علماً وى نو دلته اګر چې صراحةً يا كنايةً نه شته ليكن علماً شته نو معنى د دې داشوه چې هغه كلمه چې جارى ده په السنة د نحاتو باندې او يا الف لام عوضى دى يعنې عوض دمضاف اليه نه راغلى دى اصل كې كلمة النحو وو.

تحقيق التاء: تا متحرك كه مدوره په څوارلس معانيو سره راځي: (۱) دتأنيث لپاره نحو: ضارية ۲ د تذكير لپاره نحو: ثلاثة رجال (۳) دوحدت لپاره نحو: تمرة (۴) دجمع لپاره نحو: كماة ۵ دتاكيد دجمع لپاره نحو: جمالة (۲) دمبالغى لپاره نحو: كافية (۷) دتاكيددمبالغى لپاره نحو: علامة (۸) تاء عوضى اوتاء عوضى بيا درې قسمه ده: (۱) عوض من الفاء نحو: عدة (۲) عوض من العين نحو: اقامة

واستقامة ٣عوض من اللام نحو: لغة وستة. (٩) تاء منقولي چې اسم دوصفيت نه نقل کوی اسميت ته لکه، ناصرة چې دچا لپاره علم وګرځي. (١٠) تاء مصدريه لکه تاء دضاربية او مضروبية (١١) تاء دمرة لپاره لکه ضربت ضربة (١٢) دهيئت لپاره لکه تاء دجلسة شوه (١٣) تاء زائده نحو: حجارة. (١۴) تاء النسبت لکه مغاربة او افاغنة په دی مقام کې دا تاء لپاره دوحدت ده او وحدت څلورقسمه دی (١) جنسي (٢) نوعي (٣) صنفي (۴) فردي. دلته لپاره دوحدت جنسی ده.

تحقيق په لفظ دکلم کې: په دی کې دوه تحقيقه دی (١) يو په اعتبار ده اشتقاق سره دی. (٢) په اعتبار دجنسيت او جمعيت سره، په دی اول کې ورسره کلام هم شريك دی، نو اول تحقيق په دی اعتبار سره دی چې ايا دا کلمه او کلام مشتقات دی او که جامدو نه دی نو په دی کې دوه مذهبه دی: يومذهب دجمهورودی، او دوهم مذهب دبعض دی. مذهب د جمهورو دا دی چې دا الفاظ موضوعه براسها دی د چا نه مشتق نه دی، اونه د دې نه څه مشتق دی څکه چې دارمدار داشتقاق بنادی په تکلفات بعيديه وو باندې او تکلفات مونږ نه کوو، او مذهب دبعض دا دی چې دامشتق دی دکلم نه بسکون اللام او دليل دا دی چې دار مدار داشتقاق په تناسب باندې دی او تناسب بين الکلمتين امر اهم دی، جمهور په دی بعض باندې سوال کوی چې اشتقاق وېلی کيږي: (ان تجد بين اللفظين تناسباً في اللفظ والمعنی) نو دلته اګر چې مناسبت لفظي شته څکه چې په دی درې وارو الفاظو کې حروف اصلي. کاف، لام، ميم، دی ليکن مناسبت معنوی نشته، څکه چې کلم جرح ته وائی او کلمه لفظ وضع لمعنی مفرد ته وائی، او کلام ماتضمن کلمتين بالاسنادته وائی اوپه دی معانيو کی څه مناسبت نشته،

جواب: چې دامناسبت فی المعنی په اشتقاق کې شرط دی ليکن دامناسبت فی المعنی عام دی که په معنی مطابقی کې وی او که په معنی تضمنی کې وی او که په معنی التزامی کې وی، نو دلته اګر چې په معنی مطابقي او تضمني کې مناسبت نشته، ليکن په معنی التزامی کې مناسبت شته څکه چې لازم د بعضو کلماتو او کلام سره تأثيردی په نفوسو کی د (حزن) پشان د کلم چې دا تأثير کوی په نفوسو کی دالم يعنې د کلمې او د کلام سره هم تاثير لازم دی په نفوسو کې اود کلم سره هم تأثير فی النفوس لازم دی حتی چې تعبير کړی دی بعض شعراؤ د بعض تأثيراتو د کلمې او کلام نه په جرح سره. شعر:

جراحات السنان لها التيام ‌ ‌ ‌ ‌ ولا يلتام ما جرح اللسان

خو دا مذهب د دوی کمزوری دی څکه چې دا بنا دی په تکلفاتو باندې څکه چې (١) يو خو دوی مناسبت پيدا کړو په معنی التزامی کې او دا معني مجازی ده. (٢) د دې وجی نه چې دا تاثير په افرادو د کلام کې دی نه په افراد دکلمه کې څکه چې کلمات مفيدنوی مخاطب ته. (٣) او داتاثيرپه بعض افرادو د کلام کې دی چې کلام سيئه وی (۴) دا چې فرق دی په مابين د دې تاثيرينو کې څکه چې دجرح دتأثير سره لازم الم دی اود کلام دتأثير سره لازم حزن دی، اودويم تحقيق په **کلم** کې دا دی چې دا جمع ده او که جنس دی نوپه دی کې دوه مذهبه دی (١) يو مذهب دجمهورود ی. او (٢) مذهب دبعض دی، مذهب دجمهورو دا دی چې دا جنس دی.

(١) په دليل دتوصيف د دې كلم په مفرد مذكر سره په كلام بليغ كې چې هغه داقول دالله تعالى دى إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ دلته دا الطيب مفرد مذكر صفت واقع شوي دي دالكلم لپاره نومعلومه شوه چې دا جنس دى ځكه كه جمع وى نو بيا به الطيبات يا الطيبة ويل پكاروو، (٣) په دليل دارجاع دضمير دمفرد مذكرسره دى كلم ته په كلام بليغ وهوقوله تعالى يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ كه چيرته دا كلم جمع وى نو بيا به يې عن مواضعها يا عن مواضعهن ويلى وى. (۴) دليل دا دى چې دا كلم واقع كيږي تميز د عدد اوسط لكه وائى عرب قرأت احد عشر كلماً او تمييز ده عدد اوسط مفرد منصوب وى جمع نوى (۵) دليل دا دى چې د دې تصغير راځي بنفسه او بذاته چې كليم ويلى كيږي اودجمع قلتى نه هم تصغير بنفسه راځي ليكن دا جمع قلته نه ده ځكه چې دهغې خاص اوزان دى او دادهغې نه يو هم نه دى نو دا به جمع كثرته وى او دجمع كثرتى نه خوبنفسه تصغير نه راځي بلكه هغه به ردكړى مفردته او دمفرد نه به تصغير جوړكړى او د دې نه خوتصغير بنفسه راغلى دى نوجمع كثرته هم نه شوه نو متعينه شوه چې جنس دى. (٦) په دليل دعدم وجدان دجمع په وزن دفعلٌ باندې يعنې په وزن د فَعِلٌ باندې چرته جمع كثرته نده راغلى. (٧) په دليل داتصال ديا نسبتيه په اخر د دې پورې يعنې د دې په اخر پورې يا نسبتيه متصل كيږي او كلمىٌ ويلى كيږي نومعلومه شوه چې دا جمع نده ځكه چې دجمع په اخرپورې ياء نسبتيه نه متصل كيږي بلكه دهغې نه به مفرد جوړكړى يعنې ردبه يې كړى مفردته نو په اخر مفرد پورې به يامتصله كړى، اومذهب دبعض دا دى چې داجمع ده او جنس ندى. دليل يې دا دى چې دى اطلاق په ثلاثه ؤ اوپه مافوق دثلاثه ؤ باندې كيږي، اوپه ماتحت باندې يې نه كيږي نو معلومه شوه چې داجمع ده اوجنس ندى، اودوى جواب كوى ددلائلو دجمهورونه چې دا ايتونه بنادى په تاويل باندې په دى شان سره چې دلته دا الطيب صفت دى مضاف محذوف سره تقدير دعبارت دارنګې دى چې اليه يصعد بعض الكلم الطيب او دارنګې داضمير دمفرد مذكرهم راجع دى مضاف محذوف ته چې لفظ دبعض دى اى يحرفون بعض الكلم عن مواضعه اوتمييز دعدد اوسط كلمةً راغلى دى اوتصغير د دې كليمةً راځي جمهور ورته بيرته جواب كوى چې تاسو وايې چې اطلاق د دې كيږي په ثلاثه ؤ اوپه مافوق د ثلاثه ؤ نه په ماتحت دثلاثه ؤ نو دا اطلاق د دې فقط په ثلاثه ؤ او مافو ق دثلاثه ؤ باندې د عارض استعمال د وجې نه دى اوپه اصل وضع كې يې اطلاق په مفرد باندې هم كيدو اوبحث زمونږ په اصل وضع كې دى نه په عارض استعمال كې او تاسو چې په دى ايتونوكى تاويل كوى او تقدير راوباسئ نو دا خلاف الاصل دى ځكه تقدير ته هله ضرورت وى چې كله هغه عبارت بدون التقدير نه صحيح كيږي، او دلته خو بدون التقدير عبارت صحيح كيږي نوتقدير ته ضرورت نشته او هر چې تاسو داخبره كوى چې تميز دعدداوسط كلمةً راځي او تصغير د دې كليمةً راځي نو دا تحكم دى يعنې مدعى بلا دليله ده، بياپه دى مقام كې معرفت د څلورو الفاظو ضرورى دى: (١) جنس (٢) اسم جنس (٣) جمع (۴) اسم جمع. جنس: هغه اسم ته وايي چې اطلاق يې كيږي په قليل اوكثيرٌ على سبيل

الاجتماع مثال: لکه ماء شو د دې اطلاق په يو څاڅکي د اوبو باندې هم کيږي او په درياب باندې يې هم اطلاق کيږي او اسم جنس ديته وايي چې اطلاق يې کيږي په کثير ينو على سبيل البدلية لکه: رجل او جمع هغه اسم ته وايي چې دلالت کوي په ثلاثه ؤ اوما فوق دثلاثه ؤ باندې، اومفرد من لفظه ورله وی حقيقة او اصطلاحا لکه: مسلمون او رجال اواسم جمع هغه اسم ته وايي چې اطلاق يې کيږي په ثلاثه ؤ او مافوق ثلاثه ؤ اومفرد ورله نوی اصلاً لکه: عقودثمانيه عشرون، ثلاثون وغيره يا ورله مفرد وی خو من لفظه نوی لکه: نساء اوألو شو او يا ورله مفرد من لفظه هم وی خو خلاف القياس وی لکه رکب جمع د راکب ده او يو څو الفاظ نور دی چې د دې وضاحت هم ضروري دی: (١) کلمه (٢) کلام (٣) کلم (٤) قول نو کلمه خو لفظ مفرد ته وايي او کلام ماتضمن کلمتين الخ ته وايي يا لفظ مفيد ته وايي او کلم کلمات ثلاثه اومافوق دثلاثه ؤ ته وايي، اوقول عام دی دی ټولو ته شامل دی يعني دقول اطلاق په هر واحد د دې امورثلاثه ؤ باندې کيږي، او نسبت د قول د هر واحد سره دعموم خصوص مطلق دی او نسبت په ما بين دکلمه او کلام کې دتباين دی او نسبت په ما بين دکلمه او کلم کې هم د تباين دی، او نسبت بين الکلام والکلم دعموم خصوص من وجه دی، ماده اجتماعی لکه: قدضرب زيد ضرب زيد عمرا او ماده افتراقی دجانب د کلام نه لکه زيد قائم دا کلام دی، ځکه چې ما تضمن کلمتين هم دی، او لفظ مفيد هم دی خو کلم نه دی ځکه چې کلمات ثلاثه په کې نشته او ماده افتراقی دجانب ده دکلم نه لکه ان قام زيد، ان ضرب زيد، شو دا کلم دی ځکه چې مرکب دی د کلمات ثلاثه ؤ نه ليکن کلام نه دی ځکه چې شرط بدون الجزاء لفظ مفيد نوی. **الکلمة:** لفظ: الخ کلمه په اصطلاح دنحويانو کې يو لفظ دی، داسې لفظ چې وضع کړې شوې دې لپاره دمعنی داسې معنی چې مفرده ده ياپه حال کون د دې معنی کې چې مفرده ده. ياکلمه په اصطلاح دنحويانوکی هغه لفظ ته وايي: داسې لفظ چې وضع کړې شوی دی لپارد دمعنی او داسې لفظ چې مفرددی ياپه حال کون د دې لفظ کې چې مفرد وی الکلمة: مبتدأ ده اولفظ الخ يې خبردی.

دويم: الکلمة معرف لفظ الخ يې تعريف دی. دريم: الکلمة: محدود دی اولفظ الخ ورله حد دې او قانون دا دی، چې وضاحت دمعرف راځي په معرفت دجميع اجزاؤدتعريف سره لکه مثلاً ته چا ته دانسان تعريف وکړی په حيوان ناطق سره نودغه کس به انسان هله پيژنی چې دحيوان او دن اطق معنی وپيژنی نو دلته اوس لابدی ده دوضاحت داجزاؤ دتعريف د کلمې نه، نواولنی جزء يکې لفظ دی نو لفظ په لغت کې رمې ته وايي لکه وائی عرب: اکلت التمرة ولفظت النواة ای ورميت النواة او دا رمی بياعام ده دفم نه وی او که دغير فم نه وی او که دلفظ وی او که دغير لفظ وی نو احتمالات عقليه يکې څلور دی: دريې موجود دی په خارج کې اويو مجرد احتمال عقلي دی. (١) رمی د کلمه من الفم لکه تلفظ کول په لفظ د (زيد) باندې (٢) رمی دغير کلمه من الفم لکه: اکلت التمرة ولفظت النواة. (٣) رمی دغير کلمه دغير فم نه لکه لفظت الرحی الدقيق دا دريې احتماله موجود دې او څلورم مجرد احتمال عقلي دی چې رمی

دكلمه من غير الفم او لفظ په اصطلاح كي (ما يتلفظ به الانسان) ته وائي. دا بيا عام دی موضوع وی او كه مهمل وی كه مفرد وی او كه مركب وی بياعام كه تام وی او كه ناقص وی او مركب تام عام دی كه خبري وی او كه انشائی وی اومايتلفظ به الانسان عام دی كه حقيقة وی او كه حكماً وی او كه په جميع احيانو كې وی او كه په بعضو احيانو كې وی اوس په دې كې دا ټول اقسام داخل شو، لفظ موضوع لكه زيد عمرو وغيره اومهمل لكه جسق او ديز شو او مفرد لكه زيد او مركب لكه زيد قائم مركب ناقص لكه غلام زيد او مركب انشائی لكه: اضرب شواوحقيقة لكه ضرب زيد او حكماً لكه ضمير مستتردا ضرب او چې په جميع احيانوكی وی لكه كلمات دانسانانو او چې په بعضو احيانوكی وی لكه: كلمات الله وكلمات الجن، وكلمات الملائكة دی ټولو ته لفظ ويلی كيږي

سوال: دا تعريف نه دی صحيح چې مايتلفظ به الانسان څكه چې دا داخل شو ړكې لسان دانسان منشأ د دې اعتراض داده: چې دی معترض دلته دباء نه مراد باء داستعانت اخستی ده نو معنی داسې كوی چې لفظ هغه شی ته وايي چې تلفظ كوی په سبب دهغې سره انسان نو.

جواب: دا دی چې دا اعتراض به تاهله كولی چې دا باء دلته لپاره داستعانت وی ليكن دا باء دلته د تعديت لپاره ده يعني په معنی د علی ده، ای ما يتلفظ عليه الانسان نو لسان ترې خارج شو.

سوال: الكلمة مبتدأ ده اولفظ الخ يې خبر دي اوخبر حمل وی په مبتدأباندې اودلته حمل نه صحيح كيږي، څكه چې حمل دصرف وصف راځي په ذات باندې څكه معنی داشوه چې دا كلمه ويشتل دی

جواب: دا اعتراض به تاهله كولی چې دلته دا لفظ مصدر په خپله معنی وی ليكن دا مصدر دلته په معنی د مفعول سره دی ای ملفوظ لكه خلق په معنی د مخلوق سره،

(۲) يا مراد په دی مقام كې لفظ لغوی نه دی بلكه لفظ اصطلاحی مراد دې.

سوال: دا كتاب مأخوذ دی د مفصل نه او هلته الكلمة لفظة ذكردی نوما تن ده هغه نه ولې خلاف وكړو

جواب: څكه چې مصنف جنسيت قصد كړی دی نو تاء يې ذكر نكړه او جارالله دلفظ نه وحدت قصد كړی دی نوڅكه يې لفظة ذكر كړی دی، اوثمره دخلاف ظاهريږی په مركبات غير كلاميو كې لكه غلام زيد شو پس د علميت نه دا دجارالله په نيز كلمه نده اودمصنف په نيز باندې كلمه ده اودارنګې مركبات كلاهيه بعد العلميت لكه تأبط شرا شو داعندالمصنف كلمه ده او عند جارالله صاحب كلمه نده، او هر چې قبل العلميت دی نو بيا د دواړو په نيز باندې كلمه ندده، او مفردات لكه زيد، عمرو، وغيره د دواړو په نيز كلمه ده.

سوال: صحيح ده چې مصنف قصد دوحدت نه دی كړی نو تاء يې را نه وړه ليكن بل نقصان يې پيدا كړو چې مطابقت رانغلو په مابين دمبتدأ او خبركې؟ **جواب:** مطابقت په مابين دمبتدأ اوخبر كې مشروط دی په شروط سبعه ؤ سره: (۱) يوشرط دا دی چې دواړه به اسمين ظاهرين وی نو بناپه دی اعتراض وارد نه شو په دی قول دمصنف چې وهی اسم وفعل وحرف. (۲) خبر به مشتقی وی نو اعتراض وارد نه شو په الكلمة لفظ باندې څكه دلته خبر مشتقی نه دی بلكه مصدر دی. (۳) داخبر به

حامل وی ضمیر د مبتدأ لره نو اعتراض واردنه شو په دی قول دمصنف باندې چې وزینب، وسقر، وماه، وجور ممتنع (۴) داخبر به صیغه د اسم تفضیل مستعمل په من سره نوی نو اعتراض وارد نه شو په الصلوة خیر من النوم (۵) خبر دمبتدأ به صفت خاصه دمؤنث نوی نو اعتراض واردنه شو په المراة حائض باندې (٦) داخبر به وزن فعیل بمعنی المفعول نوی نو اعتراض وارد نه شو په المرأة جریح باندې (٧) دا خبر به وزن فعول بمعنی الفاعل نوی نوپس اعتراض وارد نشو په المرأة صبور باندې

سوال: چې مطابقت بین المبتدأ والخبر وجوباً مشروط دی په دی شروطوسره او که داشرطونه موجود نه وو نو بیا اګر چې مطابقت واجب نه دی لیکن اولی دی دعدم مطابقت نه نو بیا یې ولې اتیان کړی دی په خلاف اولی باندې؟

جواب: دامطابقت خو اولی دی لیکن دلته دی ماتن اتیان کړی دی په یو بل اولی باندې هغه دا چې لفظ اخصردی دلفظة نه ځکه چې په لفظة کې یې تاء ذکر کړې وی نو په وضعت کې به یې هم ذکر کولی او په مفردة کې به یې هم ذکر کولی نوطول راتلو او چې د دې یې تاء کټ کړه نو دهغې نه یې هم کټ کړه نو اختصار راغلو اوفرض منصبی دمصنف اختصاربماهو اختصاردی.

قوله وضع: دویم جز د اجزاؤ د تعریف د الکلمة نه وضع دی وضع صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی مجهول ده مشتق دی دوضع نه اووضع په لغت کې تعیین ته وائی

(٢) یا جعل الشئ فی حیز شئ اخر ته وائی (٣) یا **وضع** په لغت کې تعیین ته وائی، اوپه اصطلاح کې یې دوه تعریفونه دی مطلب د دواړو یودی (١) تعیین اللفظ للمعنی اولاً (٢) تخصیص شئ بشئ بحیث متی اطلق او احس الشئ الاول فهم منه الشئ الثانی اطلاق په الفاظو کې کیږي او حس په غیر الفاظوکی نو اشاره شوه تقسیم دوضع ته چې وضع دوه قسمه ده یو دالفاظو ده او بل دغیر الفاظوده. او دا کلمه د اوهم دلالت کوی په دی تنویع او تقسیم باندې خو په دی تعریف دوضع کې څه قیو دات نورهم مراد دی چې په هغې سره دفع داعتراضاتو کیږي نو اصلی تعریف یې دا شو چې وضع تخصیص د یو شی دی لپاره دبل شی په دی شان سره چې کله اطلاق وکړی شی د شي اول یا محسوس کړی شی دا شی اول نو فهم ته راځي داشی ثانی پس دعلم دمخاطب نه په وضع د شی اول لپاره د شي ثانی په وخت دعدم وجود دمانع کې په دی شرط سره چې نو ی معلوم مخاطب ته معنی د دې اولاً، اوداطلاق نه مراد اطلاق صحیحه دی.

سوال: ته وائی چې وضع تخصیص د یو شی دی لپاره د بل شی چې کله د دې شی اول اطلاق وکړی شی نو ثانی به تړې فهم ته راځي نو لفظ د اضرب واضع وضع کړی دیومعنی لپاره او دا چې یو متکلم یوامی سړی ته ووائي چې هغه یې په معنی نه پوهیږي نو اطلاق د شي اول وشو اوفهم دثانی رانغلو؟

جواب: دا اطلاق مطلقاً نه دی مراد بلکه پس دعلم دمخاطب نه په وضع د شي اول لپاره د شي ثاني.

سوال: دا تعریف دوضع جامع نه شو خپلو افرادو لره خاج شو تري جاعنی زید چې کله کوڼ ته وویلی شی نو اګر چې د هغه علم په وضع د دې باندې لپاره دمعنی وی لیکن بیا هم اطلاق د شي اول وشواوثانی

فهم ته رانه غلو **جواب:** دا مطلقاً نه دی بلکه په وخت دعدم وجود دمانع کې او دلته مانع موجود دې چې داکوڼ والی دی.

سوال: چې خارج شود دې نه جاءنی زید په هغه وخت کې چې دا وویلی شی داسې کس ته چې هغه ته د مخکې پته وی دمجیئت دزید ، نو په دې صورت کې هم اطلاق د شي اول وشو او فهم دثاني رانغلو ځکه چې هغه ته دمخکې نه فهم ته راغلی دی نو که بیا یې هم فهم ته راشی نو تحصیل دحاصل به راشی او دا ناروا دی. **جواب:** دامطلقا نه دی مراد بلکه په دی شرط سره چې معلوم نه وی معنی د دې اولاً مخاطب ته

سوال: دا تعریف دوضع ستا جامع نه شو خپلو افرادو لره خاج شوه ترې وضع دحرف لکه من اوالی شو نو من وضع کړی شوي دي دابتداء جزئی لپاره اوالی وضع کړی شوی دی ده انتهاء جزئی لپاره. اوکله چې متکلم په دی باندې تلفظ وکړی نو دغه معنی دسامع ذهن ته نه راځي او باوجود د دې نه چې دا سامع به عالم وی په دی خبره چې من وضع دی دابتداء جزئی لپاره اوالی وضع دی دانتهاء جزئی لپاره.

جواب: مراد دا اطلاق نه اطلاق صحیحه دی اودلته اطلاق صحیحه نه دی شوی ځکه چې اطلاق صحیحه په حروفوکی دا دی چې دامستعمل شی سره دضم د کلمې اخرې نه اودلته دا بغیر د ضم د کلمې اخری نه مستعمل شوي دي

قوله لمعنی: په دی لفظ دمعنی کې لابدی ده دمعرفت دامور سبعه ؤ نه (۱) مفهوم لغوی (۲) مفهوم اصطلاحی (۳) مناسبت په مفهوم لغوی اواصطلاحی کی (۴) معرفت د صیغې (۵) معرفت داصل (۶) معرفت دباب (۷) معرفت دوزن. نو مفهوم لغوی د دې موقوف دی په معرفت د صیغې باندې نو په صیغه د دې کې درې احتماله دی (۱) یا مصدر میمی دی نومعنی یې ده قصد کول.

(۲) یا صیغه د اسم ظرف ده نو معنی یې ده ځای د قصد یا زمانه د قصد

(۳) یا صیغه د اسم مفعول ده معنی یې ده قصد کړده شده او باب یې ضرب یضرب دی عنا یعني عنایة ومعنی او په معنی اصطلاحی د دې کې درې مذهبه دی (۱) یو مذهب دا دی چې معنی په اصطلاح کې مقصود ته وائی (۲) مذهب دا دی چې معنی په اصطلاح کې مقصود من الشئ یا مقصود بالشئ ته وائی (۳) مذهب دا دی چې ما یقصد باللفظ ته وائی

ثمره د اختلاف: صورت ذهنیة قبل التعبیر معنی ده په مذهب اول نه په مذهب ثانی اوثالث او چې تعبیر ترې وکړي شي په شی سره نو بیا معنی ده په مذهب ثانی اواول باندې نه په مذهب ثالث باندې او که تعبیر ترې وکړی شی په لفظ سره نو بیا معنی ده په مذاهب ثلاثه ؤ باندې لیکن غوره مذهب دادویم دی ځکه چې دا اول مذهب اعم دی دټولونه او دا مذهب ثالث اخص دی دټولونه اودا دویم متوسط دی او خیر الامور اوسطها **بالفاظ دیگر** په دی اول مذهب کې افراط دی او په ثالث کې تفریط دی اوداثانی خالي دی دا فراط اودتفریط نه

سوال: دا معنی چې مذکورده په تعریف دالکلمه کې دا به خالي نه وی یا به یې صیغه دمصدر وائی او یا به یې صیغه دظرف وائی او یا به یې صیغه د اسم مفعول وایې که ته وائی چې صیغه د مصدر میمي ده

نو صيغه خو صحيح ده ځکه چې مصدرميمي دثلاثي مجردو نه قياسا راځي په وزن د مفعل باندې ليکن معنى يې نده صحيح ځکه معنى به يې دا شي چې كلمه يو لفظ دی چې وضع کړی شوی دی لپاره د قصد کولو نو لفظ خو د قصد کولو لپاره نه دی وضع کړی شوی بلکه دمقصود لپاره وضع کړی شوی دی او که ته وائې چې صيغه د اسم ظرف ده نو داهم صحيح ده ځکه چې ظرف راځي دناقصونه مطلقا په وزن د (مفعل) باندې (یعنې که ناقص واوي وی او که يائي وی دباب ضرب نه وی او که د نصرنه وی) ليکن د دې معنى هم نده صحيح ځکه معنى به يې داشي چې دا كلمه يو لفظ دی چې وضع کړی شوی دی لپاره دځای دقصد يا لپاره دزمانی دقصداودا معنى غلطه ده او که ته وائې چې صيغه د اسم مفعول ده نو معنى خو يې صحيح ده. ليکن صيغه د اسم مفعول په دې وزن چرته نده راغلې. ځکه اسم مفعول د صحيح نه راځي په وزن (منصور) او د ناقصو نه راځي په وزن د (مرضي) باندې او دا نه په وزن د (منصور) دی او نه په وزن دمرضي دی. **جواب:** دا صيغه د مصدر ده ليکن مصدر په خپله معنى نه دی بلکه مصدر مبني للمفعول دی او علاقه په مابين د مصدر او اسم مفعول کې د کليت او جزئيت ده.

(۲) يا صيغه د اسم ظرف ده په معنى دمفعول سره اوعلاقه په مابين دظرف او اسم مفعول کې د فضليت ده او مصدر اواسم ظرف په معنى د اسم مفعول سره راځي، مثال: دمصدر بمعنى اسم مفعول لکه (خلق) بمعنى مخلوق او لفظ بمعنى ملفوظ اومثال دظرف په معنى د اسم مفعول سره لکه مرکب فاره ای مرکوب فاره ومشرب عذب بمعنى مشروب عذب

(۳) يا دا صيغه د اسم مفعول ده او په وزن دمرمي ده ځکه چې داپه اصل کې معنيٌ وو. اومعنيُ په اصل کې معنوی وو بيا واو او ياء دواړه يو ځای راغله اول په کې ساکن وو او هر واحد د دې نه بدل د چا نه نوو راغلې نو واو بدل شو په ياء او ياء په ياء کې مدغمه شوه او ضمه دنون بدله شوه په کسرې سره د وجې دمناسبت دياء نه. دا درې کارونه موافق القياس وشو، نو معنى شو بيا دا يا بدله شوه په الف باندې لتحرکها وانفتاح ماقبلها بيا التقاء ساکنين راغله بين الالف والتنوين نو الف حذف شو نو معنًى شو اوس دا مجرور بالكسره دی، تقديرا په دې مقام کې ځکه چې په اخير کې يې الف مقصوره دی

سوال: د التقاء ساکنين د وجې نه چې تا الف حذف کړو نو دا تنوين دی ولې نه حذف کولو؟

جواب: ځکه چې نون حرف صحيح دی او الف حرف علت دی او حرف علت اولى بالحذف دی، اوس که دا صيغه د اسم مفعول شي نووزن يې مفعول دی. او که صيغه دمصدريا اسم ظرف شي نووزن يې مفعل دی اومناسبت په مابين دمعنى لغوی اواصطلاحی کې دا دی چې **معنى:** په لغت کې قصد ته وائې اوداقصد کول لازم دی دمعنى اصطلاحی سره، بيا يومعنى ده يومفهوم دی اويو مدلول دی په دې کې اتحاد ذاتی دی اوفرق يکې اعتباری دی په دې جهت سره چې داقصد کړی شوی دی دلفظ نه نو معنى ورته وائې، اوپه دې جهت سره چې فهم ته راځي دلفظ نه نومفهوم ورته وائې، اوپه دې لحاظ سره چې لفظ دلالت کوی په دې باندې نو مدلول ورته وائې

سوال: تعريف دکلمة جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو ترې بعض کلمات چې هغه واضع وضع کړی دی په مقابل دالفاظو کې لکه لفظ د اسم واضع وضع کړی دی په مقابله د زيد اوعمرو کې اولفظ دفعل

واضع وضع كړى دى په مقابله دضرب اودحرج كې اولفظ دحرف واضع وضع كړى دى په مقابله دمن اوالى كې، نو تعريف دكلمه چې لفظ وضع لمعنى په دى باندې نه صادقيږى ځكه چې دا الفاظ وضع شوي دي دالفاظو لپاره نه دمعنى لپاره.

جواب: دا تعريف دكلمة په دى باندې صادقيږى ځكه چې معنى ما يتعلق به القصد ته وائي بيا عام دى كه لفظ وي او كه غير لفظ وى، ده معترض دا اعتراض بنا ووپه يوه مقدمه وهميه باندې چې دامعنى به لفظ نوى اومجيب جواب وكړو، په رد دمقدمه وهميه سره چې ستاداتوهم ان المعنى لايكون لفظا غلط دى ځكه معنى ما يتعلق به القصد من الشئ ته وائى اوداعام دى كه دا لفظ وى او كه غير لفظ وى.

سوال: دا تعريف دكلمة جامع نه شوځكه دا افرادو لره د دې نه خارج شو بعض كلمات مفرده لكه خبرٌ جملةٌ او كلام دا واضع وضع كړى دى د الفاظ مركبو لپاره چې هغه (زيدقائم) اوقام زيد دى اودا تعريف دكلمه په دى باندې نه صادقيږى چې لفظ وضع لمعنى مفرداً دي ځكه چې دا لفظ وضع لمعنى مركباً دى لهذا دمصنف لپاره پكار داوچه لفظ وضع لمعنى يې ويلى وى بې دذكركولودمفردنه نو داخل شوى به وو پكې ما وضع لمعنى مفرد او مركباً دواړه.

جواب: (۱) دا الفاظ چې كلمات مفرده دهغې لپاره وضع شوي دي مثلاً زيدقائم، او قام زيد شو دا چې په نسبت سره خپلى معنى ته واخلى نومركب دى ځكه چې جزء دلفظ دلالت كوى په جزء دمعنى موضوع له باندې، او چې په نسبت سره هغه الفاظ موضوعه خپلوته يې واخلى لكه جملة اوخبر شونومفرد دي ځكه جزء دلفظ د دې معنى دلالت نكوى په جزء د دې معنى باندې، يعنې دا الفاظ ذو وجهين دى په دى اعتبارسره چې دامعاني دجمله اوخبر دى نو دا كلمات مفرده دى ځكه چې جزءدلفظ دلالت نكوى په جزءدمعنى موضوعه باندې اوپه دى اعتبارسره چې دا الفاظ موضوعه دى دمعانيولپاره نو بيا مركب دي ځكه چې جزء دلفظ دلالت كو په جزء دمعنى موضوعه له باندې **جواب:** (۲) ددغه دواړو اعتراضونونه دا دى چې نشته دى په كلام دعربو كې يو داسې لفظ چې هغه واضع وضع كړيوى دلفظ اخر لپاره بلكه دا الفاظ واضع وضع كړى دى د مفهوم كلى لپاره افراد دهغې الفاظ دى مثال لكه اسم لفظ واضع وضع كړى دى د مفهوم كلى لپاره چې هغه كلمة تدل على معنى في نفسها غير مقترن باحدالازمنة الثلاثة دى اوزيد اوعمرو اوبكر افراد د دې دى دارنګې فعل لفظ واضع وضع كړيدي د مفهوم كلى لپاره چې كلمة تدل على معنى في نفسهامقترن باحد الازمنة الثلاثة اوضرب اودحرج دهغې افراد دي اوحرف واضع وضع كړى دى د مفهوم كلى لپاره چې كلمة لاتدل على معنى في نفسها اومن او الى دهغې افراد دى او كلام واضع وضع كړى دى د (**ماتضمن كلمتين بالاسناد**) لپاره اوزيد قائم اوقام زيددهغې افراد دى

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په ضمائرواو اسماء اشاراتو او موصولاتو سره ځكه چې دا واضع وضع كړى دى دجزئياتو لپاره نه د مفهوم كلى لپاره؟ **جواب:** په وضع دضمائرو كې دوه مذهبه دى. يو مذهب دمتقدمينو دى، او بل مذهب دمتأخرينو دى. دا جواب زمونږه بنا دى په مذهب دمتقدمينو باندې، مذهب د متأخرينو دا دى چې دا واضع وضع كړى دى دجزئياتولپاره په واسطه د مفهوم كلى

سره (دجزیات لپاره یې ولې وضع کړی دی) څکه چې مراد په دی سره جزئیات دی ا او په واسطه د مفهوم کلي سره یې ولې وضع کړی دی؟ نوڅکه چې شرط په وضع کې استحضار او معلومیة د موضوع له دی په حین دوضع کې اوجزئیات غیرمنضبط دی څکه چې بعض موجود دی اوبعض معدوم دی. اوپه موجود کې بعض غائب دی اوبعض حاضر دی نو دامفهوم کلي یې د هغه جزئیات لپاره مراة وګرځوو او ضمائراو اسماء اشارات أوموصولات د هغې لپاره وضع کړی شومثلاً مفردمذکر تقدم ذکره لفظاً اومعنیً لپاره یې وضع کړی دی لفظ د هو اومفرد مذکر محسوس بالبصرلپاره یې وضع کړی دی لفظ د (هذا) او د متقدمینو مذهب دا دي چې دا واضع وضع کړی دی د مفهوم کلي لپاره لیکن مستعمل کیږي په جزئیاتو کې څکه شرط په موضوع له کې دا دی چې هغه به منضبط او معلوم وی اومنضبط اومعلوم دامفهوم کلي دی نه جزئیات اوس په جزئیاتو کې ولې مستعمل کیږي نوڅکه چې مفهوم کلي په خارج کې موجود نه دی مګر په ضمن ده جزئیاتو کې

قوله مفرد: دا صرف نقش اوصورة دمفرد بې داجراء داعراب معین نه په دد باندې مثلث الاعراب دی. یعني په دی کې دري قسمه اعراب لوستل جائز دي علی سبیل البدلیت

سوال: ته وایي چې لفظ دمفرد مثلث الاعراب دی، رفع، نصب، جر. دري واړه پرې راتلی شي نو دا خوانواع متبائنین داعراب دی، اوجمع دمتبائنینو په شي واحد کې محال ده؟

جواب: د دې دامعنی نده چې په دی کې دا رفع او نصب اوجر دفعة واحدة راځي بلکه مقصد دا دی چې دا دري قسمه اعراب پکې جائزدی علی سبیل البدلیت.

سوال: ته وائی چې په دی کې دري قسمه اعراب لوستل جائز دی نو دري قسمه اعراب خو په دی کې نه شي راتلی. څکه چې ته یې مجرور وائی نومرفوع اومنصوب نه شو او که منصوب یې وائی نو بیا مرفوع اومجرور نه شو او که مرفوع یې وائی نومنصوب اومجرور نه شو؟

جواب: داصرف نقش بې دجریان داعراب معین نه دا محتمل داحتمالات ثلاثه ۆ دی نو که ته یې مرفوع وائی او که منصوب یې وائی او که مجرور وائی څوك درته دانشي ویلی چې داغلط دی

اوس دا دري قسمه اعراب ولې جائز دی نو دا یامجرور دی څکه چې داصفت دی دمعنی لپاره اوهغه مجرور بالکسرة تقدیراً وو، څکه چې اسم مقصور دی او مفرد مجرور بالکسرة لفظا دی څکه چې مفرد منصرف صحیح دی، نومعنی به یې داشي چې کلمه په اصطلاح د نحاتو کې یو لفظ دی داسې لفظ چې وضع کړی شوی دی لپاره دمعنی داسې معنی چې مفرده ده اومعنی مفرده دیته وائی چې دلالت نه کوی جزء دلفظ د دې معنی په جزدمعنی موضوع له باندې او توصیف دمعني په مفردسره قبل الوضع مجازاً دی په اعتبار دمایؤول الیه سره نوشو دا عبارت د ماتن دقبیلې د دې حدیث نه چې من قتل قتیلاً فله سلبه اوس په دې سره اعتراض دفع شو

سوال: دا دی چې ستا د دې ترکیب نه موږ ته معلومه شوه چې دا معنی متصفه ده په افراد سره قبل الوضع حالانکه افراد خو په دریمه مرتبه کې دی څکه چې اول وضع دلفظ دی یو معنی لپاره بیا په دویمه

مرتبه کې استعمال دی چې یواستعمال کوونکی دغه لفظ مستعمل کړی، بیا دریمه مرتبه د افراد او د ترکیب ده په دی شان سره چې که چرته جزء د لفظ دلالت کولو په جز د معنی نو مرکب او که دلالت نه کولو نو مفرد شو، اوس ددې عبارت نه معلومه شوه چې افراد مخکې وو او وضع په کې وروسته راغلې ده اوس دا ترې څنګه معلومه شوه نو دا بنا دی په یوه قاعده باندې قاعده دا ده چې کله د یو فعل نسبت وشي یو شي ته اوهغه شی مقید وی په یو قید باندې نو تقیید ددغه شی په دغه قید سره مقدم وی دنسبت کولو دفعل نه دغه شی ته لکه ضربت زیداقائماً، دلته نسبت دضرب شوي دي زید ته او دا زیدمقید دې په یو قید چې قیام دی نو دا قیام اول ثابت وو زید لره، او ضرب پرې وروسته واقع شوی دی اوس دلته د وضع نسبت شوي دي معنی ته او دا معنی مقید دی په یو قید سره چې افراد دی نومطلب دا شو چې دا معنی متصفه ده په قید د افراد سره اولاً او وضع په کې وروسته راغله.

جواب: دا توصیف د معنی په افراد سره قبل الوضع مجازاً دی په اعتبار د ما یؤول الیه سره.نو شو دا عبارت د مصنف دقبیلې د من قتل قتیلاً فله سلبه نه دلته دمقتول نه مراد هغه ژوندی کافردی خو دا مقتول یې ورته ویلی دی په اعتبار دمایؤول الیه سره اودیته مجاز بالمشارفه وائی) یا دا مفرد مرفوع دی بنا په دی چې دا خبر دمبتدأ محذوفی دی ای هو مفرد، او یا مرفوع دی څکه چې صفت دی دلفظ لپاره، نو ترجمه به یې داسې شي چې کلمه په اصطلاح د نحاتو کې لفظ دی. داسې لفظ چې وضع کړی شوي دي دمعنی لپاره او داسې لفظ چې مفرد دی، یعنې جزء دلفظ دلالت نه کوی په جزء دمعنی باندې په دلالت مقصوده سره، نو لفظ موصوف وضع صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی مجهول ضمیر پکې مستتر دی چې تعبیر ترې کولی شی په هو سره هغه ورله نائب فاعل لام جارمعنی مجرور جار سره دمجرور نه متعلق شو په وضع پورې فعل سره دنائب فاعل اوسره دمتعلق نه جمله فعلیه خبریه صفت اول لفظ لپاره اومفردیې صفت ثانی دی موصوف سره دصفتینو نه خبر دمبتدأ دی مبتدأ سره د خبر نه جمله خبریه اسمیه ده. اونکته په احدالوصفین جمله والاخر مفرد کې اشاره ده تقدم د وضع ته په مفرد باندې په دی سره دفع داعتراض وشوه اعتراض دا دی چې اصل په عبارت کې عبارت دی په نمط واحد باندې نو مصنف لره پکار وه چې یائی دواړه صفتین جملې ذکر کړی وی اوداسې یې ویلی وی چې **لفظ وضع لمعنی افرد:** او یا یې دواړه صفتین مفرد ذکرکړی وی اوداسې یې ویلی وی چې **لفظا موضوع لمعنی مفرد:** نوصفت اولی جمله اوثانی مفردیې ولې ذکر کړل په دی کې څه نکته ده؟ **جواب:** نکته په دی کې دا ده چې په دی جمله ذکر کولو کې یې اشاره وکړه تقدم دوضع ته په افراد باندې څکه چې وضع ماضی مجهوله ده دلالت کوی په وجود دمعنی مصدری (درزمانه گذشته) اوس **مفرد** څه ته وائی نو مفرد دې ته وائی چې جزءدلفظ دلالت نه کوی په جزء دمعنی مقصوده په دلالت مقصوده سره، او دا پنځه قسمه دی: (۱) چې لفظ لره جزء نوی لکه همزة استفهام (۲) چې لفظ لره جزء وی خومعنی لره جزء نوي لکه لفظ د الله شوچه داوضع شوي دي دذات بسیط لپاره یا نقطه شوه (۳) چې دلفظ لپاره

هم جزء وی او دمعنی لپاره هم جزء وی خو جزء دلفظ دلالت نه کوی په جزء دمعنی باندي لکه زید شو چې معنی د دې حیوان ناطق مع هذا التشخص ده نو دا زاء دلالت په حیوان باندې او یاء دلالت په ناطق باندې او دال دلالت په مع هذا التشخص باندې نه کوی. (۴) چې لفظ لره هم جزء وی او معنی لره هم جزء وی، او جزء دلفظ دلالت په معنی باندې هم کوی خو دغه معنی مقصوده نوی لکه عبدالله شو بعد العلمیت. نو عبد دلالت په عبدیت کوی او الله دلالت په الوهیت کوي لیکن دا معنی مقصوده نده. بلکه معنی مقصوده دلته حیوان ناطق دی او دا عبد دلالت په حیوانیت او الله دلالت په ناطقیت باندې نه کوی. (۵) چې لفظ لره هم جزء وي او معنی لره هم جزء وی او جزء دلفظ دلالت کوی په جزء دمعنی باندې او دغه معنی هم مقصوده وي خو دا دلالت مقصود نوی لکه حیوان ناطق شو بعد العلمیت. نو دا حیوان دلالت په حیوانیت او ناطق دلالت په ناطقیت کوی لیکن دا دلالت دلته نه دی مقصود بلکه دلته مقصود دلالت دی په حیوان ناطق مع هذا التشخص باندې او مرکب دیته وائي چې لفظ لره هم جز وي معنی لره هم جز وي جز د لفظ دلالت کوي په جز د معنی او دغه معنی هم مقصود وي او دغه دلالت هم مقصود وي، لکه زید قائم شو. (۳) یا دا مفرد منصوب دی

سوال: منصوبات خو دوولس دی دا کوم یودی؟ **جواب:** دا منصوب دې بنا برحالیت

سوال: حال خو دوه اشیاء غواړي (۱) عامل (۲) ذوالحال نو دې عامل او ذو الحال کوم دی؟

جواب: دا حال دی دمعنی نه او عامل په کې دا لام دی، چې حال شی دمعنی نه نو معنی به دا شی چې کلمه په اصطلاح د نحاتو کې لفظ دی داسې لفظ چې وضع کړی شوي دي لپاره ده معنی په حال کون د دې معنی کې چې مفرد ده، او معنی مفرده دیته وائی چې جزء دلفظ د دې معنی دلالت نه کوی په جزء د معنی موضوع له باندې (۲) او یا دا حال دی دضمیر دوضع نه نو ذو الحال دغه نائب فاعل شو او عامل په کې وضع دی، او معنی یې په دی تقدیر باندې دا ده چې کلمه په اصطلاح د نحاتو کې لفظ دی داسې لفظ چې وضع کړی شوي دي لپاره دمعنی په حال کون د دې لفظ کې چې مفرد یې واخلی. او لفظ مفرد دیته وایي چې جزء دلفظ دلالت نکوی په جزء دمعنی موضوع له باندې، اوس که دا حال شی د ضمیر د وضع نه نو بیا خو څه اشکال نشته او که حال شی دمعنی نه نو په دی باندې درې اعتراضونه واردیږی

(۱) یو دا چې حال خو واقع کیږي دفاعل او یا دمفعول به نه په نیز دمصنف باندې او معنی خو نه فاعل دی او نه مفعول به دی. (۲) حال چې واقع شی د ذوالحال نکره نه نو تقدیم دحال واجب دی په ذوالحال باندې او دلته مفرد ندی مقدم شوی په معنی باندې. (۳) حال مقارن وی دعامل دذوالحال سره او عامل د ذوالحال دلته وضع دی او وضع مقدمه ده په افراد باندې مقارنت نشته. **جواب:** دا خبره منم چې حال واقع کیږي دفاعل او یا مفعول به نه خو دا مفعول به عام دی که صریحی وی او که غیر صریحی وی نو دلته دالمعنی مفعو ل به غیر صریحی دي لپاره دوضع او دا خبره هم منم چې حال کله واقع شی د ذو الحال نکره نه نو تقدیم دحال واجب دی په ذوالحال باندې خو بخلاف الظرف یعني چې دا ذوالحال نکره ظرف زمان یا مکان نوی او جار مجرور نوی او دلته لمعنی جار مجرور دی او دا خبره هم منم چې مقارنت بین

الحال وعامل ذی الحال شرط دی خومقارنت في الوجود شرط نه دی بلکه مقارنت في الزمان شرط دی او مقارنت في الزمان دلته شته یعني وضع اګر چې په اعتبار دذات او وجودسره مقدمه ده په مفرد باندې لیکن په اعتبار دزمانی سره ورسره مقارنه ده اودامقارنت فی الزمان کافي دی لپاره دصحت دحال

سوال: نصب دمفرد نه دی صحیح د وجې دعدم موافقت نه دقاعدی درسم الخط سره ځکه قاعده درسم الخط دا ده، چې یواسم منصوب منون راشی نوروسته ترې الف لیکلی کیږي اودلته خو وروسته الف نشته لکه ضربت زیدا **جواب:** کتابت دالف په رسم الخط کي وروسته دمنصوب نه مشروط دی په شروط ستوسره (۱) یو شرط دادي چې متلبس باللام به نوی نحو ضربت الرجل دلته الرجل متلبس باللام دی نو وروسته ترې الف نه لیکلی کیږي (۲) مضاف به نوی که مضاف وو نو بیا به وروسته الف نه لیکلی کیږي نحو ضربت غلام زید (۳) متلبس به نوی په تاء تأنیث سره فلا یکتب فی ضربت جارية (۴) مقصور به نوي فلا یکتب في رأیت رضی (۵) غیر منصرف به نوی فلا یکتب في رأیت احمد (۶) دانصب به یقیني وی احتمالی به نوی لکه رأیت زیداً دلته دا ټول شرطونه شته نو الف لیکلی شوي دي. او دلته دا اخیر شرط منتفي دی ځکه چې دلته دانصب یقیني نه دی بلکه احتمال درفع اوجر په کې هم شته نو الف نه دی لیکلی شوی لپاره د دې چې ذهاب وکړی ذهن دسامع دغه نورو د احتمالینو ته.

سوال: دا تعریف ستا باطل دی ځکه چې په هر تعریف کې لابدی وی دجامعیت اومانعیت نه او کوم تعریف چې جامع اومانع نوی هغه باطل وی لهذا دا تعریف ستاباطل دی، اوس دا تعریف جامع ولې نه دی خپلو افرادو لره نوځکه چې الرجل قائمة اوبصري کلمه دی، ځکه چې معرب دی په اعراب واحد سره دا صغری شوه اوکوم شی چې معرب وی په اعراب واحدسره هغه کلمه وي دا کبری شوه نوپس شو دغه کلمه دا نتیجه شوه اوستا تعریف ورباندې نه صادقیږی چې لفظ وضع لمعنی مفرد دی ځکه چې جزء دلفظ دلالت کوی په جزء دمعنی موضوع له باندې، په قائمة کې داقائم دلالت کوی په قیام باندې او دا تاء دلالت کوی په تأنیث دفاعل باندې اومانع نه دی ددخول دغیر نه ځکه چې داخل شو پکې عبدالله او دا مرکب دی ځکه دا معرب دی په اعرابینو سره داصغری شوه اوکوم لفظ چې معرب وی په اعرابینو سره هغه مرکب وی داکبری شوه پس شوعبدالله مرکب دا نتیجه شوه اودا تعریف ستا صادقیږی په دی باندې چې لفظ وضع لمعنی مفرداً دی ځکه چې جزء دلفظ دلالت نکوی په جزء د معنی موضوع له باندې؟ **جواب:** الرجل اوبصری اوقائمة دتعریف نه خارج دي، ځکه دامرکب دی اود افرادو د کلمې نه نه دی ځکه چې جزءدلفظ دلالت کوی په جزء دمعنی موضوع له باندې

سوال: بیا معرب په اعراب واحدسره ولې دی؟ **جواب:** دا د وجې دشدت اتصال نه ګرځیدلی دی کلمه واحده نو ځکه معرب ګرځیدلی دی په اعراب واحد سره او عبدالله داخل دی په تعریف کې ځکه چې دا د افرادو د کلمې نه دی عند المصنف ځکه جزء دلفظ دلالت نکوی په جزء دمعنی باندې

سوال: بیامعرب ولې شو په اعرابینو سره؟ **جواب:** عبدالله دا علام منقوله ؤ نه دی، او په اعلام منقوله ؤ کې لحاظ دوضع سابق وی، اودا قبل العلمیت معرب وو په اعرابینو سره نو بعدالعلمیت هم معرب دی

په اعرابونو سره. په اعتبار دوضع سابقي سره مثال لکه ضبط شرا اوشاب قرناها کي دا نصب او رفع په اعتبار دوضع سابقي سره دي اوس دانه فاعل دي اونه مفعول به دي

سوال: صاحب دمفصل تعریف دکلمه داسي کړی دی هی اللفظة الدالة علی معنی مفرد بالوضع جارالله زمخشري په تعریف دکلمه کي دلالت ذکر کړی دی اوس زه ستاته تپوس کوم چي قید ددلالت په تعریف دکلمه کي معتبر وایي او که نه وایي که معتبریي وائی بیا ستا تعریف باطل دی ځکه قید د دلالت معتبر دی په تعریف د الکلمة کي اوتا نه دی ذکرکړی. او که معتبر نه وائی نو بیا تعریف د جارالله زمخشري باطل دی ځکه چي قید ددلالت په تعریف دکلمه کي نه دی معتبر اوهغه ذکر کړی دی

جواب: قید د دلالت معتبر وایم په تعریف دالکلمة کي ما هم ذکر کړی دی. او جارالله هم ذکرکړی دی لیکن ته پوهه شوی نه یې هغه ذکر کړی دی صراحتاً او ما ذکر کړی دی ضمناً ځکه ما ذکر کړی دی په تعریف دکلمه کي وضع. اووضع مستلزم ده دلالة لره

وهی اسم وفعل وحرف: ترکیب: واو عاطفه هی مبتدأ اسم معطوف علیه، واو حرف عاطف فعل معطوف اول اوحرف معطوف ثاني معطوف علیه سره دمعطوفین نه خبر د مبتدأ. مبتداء سره د خبر نه جمله خبریه اسمیه عطف ده په الکلمة لفظ الخ باندي نوعطف دجمله خبریه اسمیه راغلو په خبریه اسمیه باندي او یا دا واو استنافیه دی او دا جمله مستانفه ده یعني تعریف د کلمي ختم شو دا ما بعد یومستقل کلام دی. هرکله چي فارغ شو مصنف دبیان دتعریف دکلمه نحویه نه نو شروع ئي وکړه په بیان دتقسیم دکلمه نحویه کي. ځکه چي تقسیم د متمماتو او مکملاتو دتعریف نه دی، ځکه چي په تعریف سره معلومیږي معنی او مفهوم د شي اوپه تقسیم سره معلومیږي افراد او مصداق د شي نو پس دتقسیم نه به کلمه مونږه ته معلومه شی افراد او مصداقاً

ترجمه: دا کلمه نحویه په اعتبار د مفهوم سره منقسم ده اقسام ثلاثه ؤ ته چي اسم فعل اوحرف دی، او عطف مقدم دی په ربط باندي اوحمل دامورو متعددو په شي واحدباندي هله نه دی جائز چي داشی واحد قابل د تعدد نه وي، او اعراب یي جاری کړی دی په ټولو باندي د وجي د صلاحیت د هر واحد نه، لپاره د دې چي لازم نه شی ترجیح بلامرجح او دا مقام مقام د حصر دی لابدی ده د اداتو د حصر نه خو ادات د حصرعام دی که لفظاً وی او که معنا وی دلته تقدیم د عطف په ربط باندي د اداتو د حصرنه دی معنا او مطابقت په مابین د مبتدأ اوخبر کي هله ضروری دی چي خبر تقاضه د مطابقت کوی او دا تقسیم د کلي اقسامو ثلاثه ؤ ته تقسیم دکلي دی جزئیاتو ته تقسیم دکل دی اجزاء ته

تشریح: سوال: د دي عبارت ربط دماقبل سره څه دی

جواب: مخکي تعریف دکلمه ذکر شو اوس تقسیم دکلمه کوی

سوال: چي مونږه خوپه تعریف سره کلمه وپیژنده نوبکار وه چي اوس یي شروع کړی وی په تعریف د کلام کي نوتقسیم دکلمه ولي کوی؟ **جواب:** دا تقسیم ځکه کوی چي دا د متمماتو او مکملاتو د تعریف نه دی ځکه چي په تعریف سره د کلمي مغنی او مفهوم وپیژندلی شو خو افراد او مصداق یي لاندي

پيژندلی شوی نو افراد او مصداق يې لاندې پيژندی شوی نو چې تقسيم يې وکه نو افراد او مصداق د كلمه به را ته هم معلوم شی (٢) يا هر كله چې د كلمې لپاره وجودين وو (١) يووجود ذهنی (٢) وجود خارجی نو وجود ذهنی په تعريف سره پيژندی شو اوس لاندی ده د معرفت د وجود خارجی نه او دا پيژندی شی په تقسيم سره نوځکه يې د تعريف نه بعد تقسيم وکړو

سوال: دا **هي** ضمير دغائب دی تقدم دمرجع غواړي داچا ته راجع دی، يا به يې راجع وائی لفظ د الكلمة ته يا به يې راجع وائی مفهوم د كلمې ته كه لفظ دالكلمة ته يې راجع كوی نومطابقت خو راغلو په مابين د راجع او د مرجع كې او حمل د اسم پرې هم صحيح شو. ځكه چې دا الكلمة اسم دی د وجې د دخول دالف لام نه په دی باندې او د وجه داتصال دتاء تانيث متحركه نه په دې پورې او د وجه نه مسند اليه خوحمل دفعل اوحرف پرې نه دی صحيح ځكه چې الكلمة فعل اوحرف نه دی بلكه اسم دی نواسم ته څنګه فعل وائی او دويم نقصان دا راغلو چې تقسيم د الكلمة اسم ته تقسيم الی نفسه شو، او فعل او حرف ته الی غيره شو، او تقسيم د شي نفس او غيرته باطل دی، او بل دا چې داتقسيم په لفظ كې راغلو اوتقسيم په معانيوكې راځي نه په الفاظو كې او كه ته وائی چې دا ضمير راجع دی معنی ته نو بيا دغه نقصانات نه راځي خوبيا مطابقت نشته بين المرجع والضمير؟ **جواب:** زه وايم چې داضمير راجع دی لفظ دالكلمة ته ليكن تقسيم په اعتبار د مفهوم سره دی، يعنې دا كلمه په اعتبار د مفهوم سره منقسم ده اقسام ثلاثه ؤ ته.

سوال: هی مبتدأ ده او اسم وفعل وحرف يې خبردی اوكله چې دمبتدأ واحدی لپاره اخبار متعدده راشی نو هلته ياعطف مقدم وي او يا ربط مقدم وي، نو دلته ته عطف مقدم وائی كه ربط مقدم وائی يوهم نه صحيح كيږي، ځكه عطف عبارت دی دتعداددامور كثيرونه چې حكم كړی شی په مجموع باندې او ربط عبارت دی دتعداد داموروكثيرونه چې حكم وكړی شی په هر واحد باندې اوس كه ربط مقدم شی نو معنی به داشی چې دا كلمه اسم دی فعل دی اوحرف دی اودامعنی نده صحيح ځكه چې حمل د خاص راځي په عام اودا نه دی جائز، خاص اوعام كې حمل دجانب واحدنه جائز دی چې حمل دعام راشی په خاص باندې لكه الإنسان حيوان، اوعكس نه دی جائز، يعني الحيوان انسان وبل نه دی جائز ځكه چې خبر منحصر وی په مبتدأ كې نو دلته بيا انحصار د عام راځي په خاص كې او دا نه دی جائز بيا به معنی داشی چې حيوان فقط انسان دی او بل شی نه دی حالانكه دانسان نه علاوه نور حيوانات خو هم شته. نو دارنګې دلته به دا كلمه منحصره شی په اسم كې اودانده صحيح او كه عطف مقدم شی نو بيان به معنی داشی چې دا كلمه اسم اوفعل اوحرف دی نو په دې كښې اعتراضونه دی.

(١) يو حمل د امورو متعددو راغلو په شي واحد باندې او دا نه دي جائز د دې داسې مثال دی لكه په يو سړی باندې چې ډير اشياء بار كړي. (٢) دا چې هركله عطف مقدم شونو بيا دا مجموعه يو خبر شونو په دې كې يواعراب پكار وو او دلته درې اعرابونه ذكر شوي دي، دا ولې؟

(٣) دا چې دامقام مقام د حصر دی ځكه چې كلمه منحصره په اسم فعل اوحرف كې نولاندی ده د ادات

دحصرنه يعني داسې ويل پکار وو چې ماهي الاالاسم اوفعل اوحرف. يا وهي اما اسم الخ ويل پکار وو نو ادات د حصر يې ولې ذکر نه کړل؟
(۴) دا چې ضمير چې دائر شي په مينځ دمرجع او د خبر کې نو رعايت دخبر اولي وی ځکه خبر داخل وی په کلام کې اومرجع خارج و ی د کلام نه اورعايت د داخل اولي وی دخارج نه نوپکار وه چې مصنف رعايت د خبر کړی وی اؤ و هواسم الخ يې ويلی وی
(۵) دا چې جمع په حرف جمع سره دا پشان دجمع وی په لفظ دجمع سره لکه جاء نی المسلمون اوجاءنی مسلم، ومسلم ومسلم يوه ترجمه ده، نو دلته معنی داشوه چې اسم اوفعل اوحرف مجموعه کلمه ده او يو يو ته کلمه نه ويلی کيږي او دا اطلاق باطل دی ځکه په اسم فعل اوحرف هر يو باندې جدا جدا اطلاق کلمي کيږي (۲) دا چې غرض دمصنف تقسيم د کلمې دی اقسام ثلاثه ؤ ته اوتقسيم دوه قسمه دی (۱) يوتقسيم د کلی دی جزياتوته (۲) او بل تقسيم دکل دی اجزاءوته نو دلته کوم يودی؟
ـ دې اعتراض نه دوه جوابونه دی (۱) يوجواب شارح هندی صاحب کړی دی.
(۲) او بل جواب شارح جامی صاحب کړی دی نوهندی صاحب جواب په اختياردشق ثالث سره کړی ی چې دلته نه ربط مقدم وايم اونه عطف مقدم وايم، ځکه تقديم دعطف يا دربط په هغه ځای کې کيږي چې دمبتدأ واحدی لپاره اخبار متعدده راشی اودلته دمبتدأ واحد ی لپاره اخبار متعدده نه دی راغلی بلکه دا هي مبتدأ ده او د دې خبر محذوف دی چې منقسمة الی اقسام الثلاثة دی او دا اسم فعل حرف هر واحد خبردی دمبتدأ محذوفي نه لپاره ای احدها اسم وثانيها فعل وثالثها حرف. لکن د شارح جامی صاحب دشارح هندی سره نه لگی نو ر دپرې کوی او وائی چې داجواب کمزوری دی ځکه دې لپاره چې خبر حذف شو نو حذف درکن د کلام راغلو او دارنګې د اسم الخ لپاره چې مبتدأ گانې حذف شوی نو حذف دمسنداليه راغلو او نفس حذف خلاف الاصل دی او حذف درکن د کلام او بيا حذف د مسند اليه خو بالکل خلاف الاصل دی، او بل دا چې په دی کې حذف کثيره راغلو اوداهم نه دی جائز دا حذف به ته هله کوی چې بغير دحذف اوتقدير نه کلام نه جوړيدو اودلته بغير دحذف نه کلام جوړيږي نوجامی صاحب وائی چې دلته عطف مقدم دی په ربط باندې
(۱) او حمل د امورو متعدد په شی واحد باندې هله نه دی جائز چې دغه شی واحد قابل د تعدد نوی او که قابل دتعدد وو نو بيا حمل د امور متعدده په هغه باندې جائز دی او دلته دا کلمه قابله د تعدد ده
(۲) او اعراب يې جاری کړی دی په هر واحد باندې د وجې د صلاحيت لفظی د هر واحد نه لپاره د دې لازم نه شی ترجيح بلامرجح. (۳) او دا مقام مقام دحصر دی خوذکرد آداتو دحصر عام دی که لفظا وی او که معنی وی دلته اگر چې لفظا نشته ليکن معنی شته ځکه داتقديم دعطف په ربط باندې دا آداتو دحصر نه دی معنی نومعنی داشوه چې دا کلمه په اعتبار د مفهوم سره اسم فعل حرف دی نه بل شی
(۴) او رعايت د خبريې نه دی کړی ځکه رعايت د خبر اولي دی واجب نه دی اورعايت دمرجع هم جائز دی دلته مصنف اتيان کړي دی په جوازباندې لپاره د دې چې څوك داتوهم ونکړی چې رعايت د خبريه

واجب وی دا جواب خادمیه وغیره کړی دی خوغوره جواب دا دی چې رعایت دخبر اولی دی هله چې خبر تقاضه دمطابقت کوله اوخبر تقاضه دمطابقت هله کوی چې مبتدا اوخبر دواړه اسمین ظاهرین وی اوخبر مشتقی وی اودا مبتدا ضمیر دی اوخبر مشتقی ندی ،٥، اوجمع په حرف جمع سره پشان دجمع ده، په لفظ دجمع سره په هغه خای کې چې تقسیم دکل راغلی وو اجزاؤته اوکوم خای چې تقسیم دکلی راغلی وو جزیاتو ته نوهلته دا قاعده نشته او دلته تقسیم دکلی راغلی دی جزیاتو ته

سوال: دا د څه نه معلومیږي چې داتقسیم دکل دی اجزاؤ ته یاتقسیم دکلی دی جزیاتوته؟

جواب: دا معلومیږي د دې نه چې که چیرته حمل دمقسم کیدو په مجموعه اقساموباندې نه په یو یو باندې نو دا تقسیم دکل وی اجزاؤته لکه البيت سقف وجدران نو دی مجموعه دسقف او جدران ته بیت وائی، نه یو یو ته یا لکه السکنجبین ماء وعسل وخل، او که حمل دمقسم کیدو په هر یو قسم باندې علیحده نو دا تقسیم دکلی وی جزیاتو ته او دلته حمل د کلمة کیږي په هر واحد باندې د اسم فعل اوحرف نه نومعلومه شوه چې دا تقسیم دکلی دی جزیاتو ته، اوس کلمه نحویه منقسمه ده اقسام ثلاثه ؤ ته او منحصره ده په دې اقسام کې په حصر عقلی سره په دې شان چې عقل تقاضه د وجود د قسم اخر نه کوی، اوس په دې کې لابدی ده د وجې دحصر نه نو په دې کې درې وجې د حصر دي

(١) یوه وجه دحصر (ماتن) دلته ذکر کړیده، چې دا کلمه به خالي نوی، یا به دلالت کوی په معنی بنفسها باندې او یا به نکوی، که دلالت یې نه کوو نو دیته حرف وائی او که دلالت یې کوو علی معنی بنفسها نو بیا به خالي نوی، یا به مقترن وی په یو دازمنه ثلاثه ؤ پورې او یا به نوی، که مقترن وو نو فعل او که مقترن نه وو نو اسم (٢) وجه د حصر پکې دا ده چې دا کلمه به خالي نوی، یا به دلالت کوی په ذات باندې، او یا به دلالت کوی په حدث باندې مع الاقتران او یا به دلالت کوی په ربط باندې په مینځ دذات اوحدث کې که دلالت یې کوو په ذات باندې نو اسم او که دلالت یې کوو په حدث باندې نوفعل او که دلالت یې کوو په ربط په مینځ دذات اوحدث کې نوحرف.

(٣) دا کلمه به خالي نوی یا به مسند اومسند الیه دواړه واقع کیږي او یا به دواړه نه واقع کیږي او یا به فقط مسند واقع کیږي نه مسند الیه فالاول اسم والثانی حرف والثالث فعل،

لانها اما ان تدل علی معنی في نفسها اولا الثانی الحرف: ربط: هر کله چې فارغ شومصنف دبیان د انحصار د کلمه نحویه نه په اقسام ثلاثه ؤ کې نو شروع یې وکړه په دلیل دحصر کې (٢) یا دا عبارت دمصنف جواب دسوال مقدر دی څکه هر کله چې مصنف دا کلمه منقسم کړه اقسام ثلاثه ؤ ته نومعترض اعتراض وکړو چې دا کلمه منحصره ده په دې اقسام ثلاثه ؤ کې نو مصنف جواب وکړو **لانها** الخ سره.

ترجمه. لانها: دا کلمه نحویه منحصره ده په ا قسام ثلاثه ؤ کې څکه دا کلمه **اما ان تدل** یا به وی دبعض صفاتود دې کلمه نه دلالت کول په معنی موضوع خپله باندې **فی نفسها** په اعتبار دذات خپل سره یعنې بالذات نه بالواسطه. (٢) هسې معنی چې کائنه ده او موجوده ده په نفس د دې کلمه کې په دې شان سره چې دا کلمه په دلالت خپل کې په دې معنی باندې محتاج نوي کلمه اخری ته

(۳) یا هسې معنی چې دا معنی کائنه وی په ذات د دې کلمه کې په دې شان سره چې دا معنی په مدلولیت خپل کې ددغه کلمه نه محتاج نده کلمه اخری ته. اوکینونت د معنی فی نفس الکلمة عبارت دی داستقلال نه په دې شان سره چې محتاج نوی ضم د کلمه اخری ته

تشریح: سوال: دا لانها الخ جار مجرور دی اودجار مجرو ر لپاره لابدی وی دمتعلق نه نو دا په چ پورې متعلق دی (۲) دا لانها الخ دلیل دی تقاضا دسبقیت دمدعی کوی اودلته خومدعی نشته

جواب: د دې جارمجرور لپاره متعلق محذوف دی اود دې دلیل مدعی محذوفه ده چې وهی منحصرة فی اقسام الثلاثه ده. اوداجار مجرور متعلق دی په منحصرة پورې په لانها کې دا لام تعلیلی دی اوان مفتوحة الهمزة دی وجوباً ځکه چې ان په اعتبار دحرکت د همزې سره درې قسمه دی (۱) مفتوحة الهمزة وجوباً (۲) مکسورة الهمزة وجوباً (۳) محتمل داحتمالینو په دې شان سره چې که چرته دامقام مقام دمفرد وو یقیناً نو دا به مفتوحة الهمزة وی وجوباً او که دامقام مقام د جملې ووقطعاً اویقینا نو دا به مکسورة الهمزة وی وجوبا او که مقام محتمل داحتمالینو وو نو بیا به په دې همزه کې جواز دوجهین وی. دلته ان مفتوحة الهمزة وجوبا ځکه چې دامقام مقام دمفرد دی ځکه چې په دې باندې لام جاره داخل شوي دي اولام جاره داخلیږي په اسم باندې اواسم عام دی که حقیقة وی او که تاویلا وی او دا به اسم تاویلی هله شی چې ان مفتوحة الهمزة شی لانها الخ دلیل دی اودلیل ته په اصطلاح د منطقیانوکی قیاس وائی اوقیاس دوه قسمه دی (۱) اقترانی (۲) استثنائی داقیاس اقترانی دی او قیاس اقترانی هغه دلیل ته وائی چې مرکب وی دشرطیتینو منفصلتینو نه لکه العدد اما زوج او فرد. والفرد اما مرکب من زوج و فرد او غیر مرکب نو نتیجه دا شوه چې العدد اما زوج نحو اثنین او فرد مرکب نحو سبعة او فرد غیر مرکب نحو واحد فثبت الحصر.

سوال: تدل مشتق دی ددلالت نه او دلالت په تعریف د کلمه کې ذکر دی. اونه په تقسیم کې نو دا دلیل مطابق نه شو د مدعی سره **جواب:** دلالت ذکر دی په تعریف د کلمه کې ضمنا ځکه چې هلته وضع ذکر دد او وضع ویلی کیږي تعین د دال ته لپاره دمدلول. بیا دا تدل مشتق دی د دلالت نه او وضاحت اوخفاء دمشتقاتو په اعتبار دمبدی سره وی نو دلته اول معنی د دلالت پیژندل پکار دی نوپه دلالت کې لابدی ده دمعرفت دامو ثلاثه ؤ نه. (۱) معنی لغوی (۲) معنی اصطلاحی (۳) اقسام د دلالت. نو دلالت په لغت کې راه نمودن اوهدایة ته وائی، او په معنی اصطلاحی کې کون الشئ بحیث یلزم من العلم به العلم بشئ اخر اودلالت اولادوه قسمه دی: (۱) لفظی غیر لفظی ځکه دال به خالي نه وی یا به لفظ وی او یا به غیر لفظ وی که دال لفظ وو نو دلالت لفظی او که غیرلفظ وو نو دلالت غیر لفظی دلالت غیر لفظی بیا درې قسمه دی: (۱) وضعی (۲) طبعی (۳) عقلی. مثال داول لکه دلالت ددوال اربعه ؤ شو په مدلولا تو خپلوباندې او مثال د دلالت طبعی لکه دلالت دسهیل الفرس شو په طلب دماء اودکلاء باندې اومثال د دلالت عقلی لکه دلالت د رؤیت د دخان شو په وجود د نار باندې او دلالت لفظی هم درې قسمه دی

(۱) وضعی، (۲) طبعی، (۳) عقلی. مثال د دلالت لفظی وضعی لکه دلالت دلفظ دزید شو په حیوان
ناطق باندې اومثال ددلالت لفظی عقلی لکه دلالت دلفظ د دیز شو چې مسموع من الجدار وی په
وجود دلافظ باندې، او مثال د دلالت لفظی طبعی لکه دلالت د اح اح شو په وجع د صدر باندې اودلالت
لفظی وضعی بیا درې قسمه دی، (۱) مطابقی، (۲) تضمنی، (۳) التزامی، ځکه یا به دی لفظ دلالت
کړی وی په کل معنی موضوع باندې او یا به یې دلالت کړی‌وی په جزء دمعنی موضوع باندې او یا به
یې دلالت کړی وی په یومعنی باندې چې خارج وی دمعنی موضوع نه اولازم وی دمعنی موضوع سره،
که اول وو نومطابقی که ثانی وو نوتضمنی او که ثالث وو نوالتزامی مثال: داول لکه دلالت دانسان شو
په حیوان ناطق باندې مثال دثانی لکه دلالت دانسان شوفقط په حیوان یا فقط په ناطق باندې اومثال
دثالث لکه دلالت دانسان شو په ضاحك باندې نومجموعه اقسام ددلالت اته شو، فافهم
سوال: دلالت په دوه قسمه دی: لفظی اوغیر لفظی دلته په تدل کې کوم دلالت مراد دې؟
جواب: دلته مراد دلالت لفظی دی.
سوال: دلالت لفظی خو درې قسمه دی دلته کوم قسم مراد دې؟ **جواب:** دلته مراد دلالت وضعی دی
سوال: دلالت لفظی وضعی خودری قسمه دی دلته کوم مراد دی؟
جواب: داعام دی که مطابقی وی که تضمنی وی او که التزامی وی.
سوال: دا ها اسم دان دی او ان ناصبه مصدریه او **تدل** فعل مضارع ضمیر په کې مستتر دی چې راجع دی
کلمې ته هغه یې فاعل دی **علی** جار معنی موصوف **فی نفسها** جار مجرور په اعتبار دمتعلق سره صفت
دی دمعنی لپاره موصوف سره دصفت نه مجرور دجار، جار سره دمجرور نه متعلق په تدل پورې، تدل
فعل سره دفاعل اوسره دمتعلق نه داجمله په تاویل دمصدر سره دخبرد ان دی. او قانون دا دی چې خبرد
(ان) محمول وی په اسم د ان باندې او دلته حمل نه دی صحیح ځکه دی (ان) دمضارع نه مصدر جوړ کړو
نو معنی دا چې دا کلمه به یادلالت وی په دې معنی باندې، او کلمه خو دلالت ندی، نو داحمل دصرف
وصف راغلو په ذات باندې او دا ندی صحیح، د دې نه شارحینو مختلف جوابونه کړی دی.
یو دا دی چې دا عبارت بنا دی په حذف دمضاف سره په جانب د اسم کې نو تقدیر دعبارت دارنګې
دی، چې **لان** حالها اما ان تدل الخ نو حمل د وصف راغی په وصف باندې
(۲) او بعض وایي چې دا عبارت بنادی په حذف دمضاف سره په جانب د خبر کې نوتقدیر د عبارت به
دارنګې شی چې لانها اما ذات دلالة الخ دیته حمل اشتقاقی وایي
(۳) اوبعض شارحین وایي چې مصدر مبنی للفاعل دی **او لانها اما دالة علی معنی فی نفسها** نوحمل دذات
مع الوصف راغی په ذات باندې اوداصحیح دی لیکن جامی صاحب وایي چې دا جوابونه ټول کمزوری
دی داول جواب ځکه کمزوری دی چې په دی کې تقدیرقبل الحاجة راځي اودا نه دی جائز، او دا دویم
جواب ځکه کمزوری دی چې تقدیر دذات منافی دی دکلمه د ان سره ځکه غرض ددخول دان نه معنی

وصفي اومصدري ده اورفع دذات ده نوتقدير دذات مخالف دی دمقتضي دان سره اودا دريم جواب ځکه کمزوري دي چې په دی کې لازم کيږي مجاز په تعريف کې ځکه مصدر په معنی دفاعل يا مفعول سره مجازاً راځي نه حقيقة. اوس په جامی صاحب باندې اعتراض دی چې هر کله دا تول جوابونه کمزوري دی نو نه څه جواب کوی؟ نو هغه وايي چې دا **ان تدل الخ** خبر دان لپاره نه دی بلکه دامبتدأ اوخبريی محذوف دی چې من صفتها دی نوتقدير دعبارت دارنګې دی چې لانها اما من صفتها ان تدل الخ، نومبتدأسره دخبر نه دا جمله خبر دان لپاره واقع شوي دي اوجمله چې خبر واقع شو نوهلته حمل په اسم باندې ضروري نه دی بلکه په دغه جمله کې به يو عائد وی چې راجع به وی مبتدأ ته يا اسم د ان وغيره ته او دلته هم په تدل کې ضمير شته چې راجع دی کلمه ته نوصحيح شو پنځم استاذی جواب دی چې دا ان تدل الخ خبر دی دان لپاره بدون التقدير او که ته وائی چې حمل دصرف وصف راځي په ذات باندې نو جواب دا دی چې فرق دی په مينځ د شي اومؤول بالشئ کې نوحمل دعين مصدر نه دی جائز ده ذات باندې اوحمل دمؤول بالمصدرجائزدی په ذات باندې بيادلته مصنف په مينځ د اسم دان اودخبر دان کې اما ذکر کړی دی، نو يو اما دی بفتح الهمزة او بل اما دی بکسرالهمزة نو اما حرف شرط دی او اما يو حرف دی د حروف عاطفه نه. اوس دلته خو دا د عطف لپاره نه دی نو دا يې د څه لپاره ذکر کړی دی؟

جواب: دا اما دلته زائد دی ځکه دا قاعده ده چې کله متکلم اراده وکړه چې زه عطف دی يو شی کوم په بل باندې په کلمه داما سره نو پدغه متکلم باندې لازم دی ذکر کول داما په سر دمعطوف عليه کې او که اراده وکړی چې زه دايوشی عطف کوم په دې بل باندې په کلمه د (او) سره نو دده لپاره جائز دی چې اما ذکر کړی په سر دمعطوف عليه کې نو دلته يې دا اما ذکر کړيدي په طريقه د جواز سره.

فی نفسها: داجارمجرور دی اوجار مجرور ته عند النحات ظرف وايي مجازاً اوظرف په دوه قسمه دی:

(۱) يوظرف لغوه دی (۲) او بل ظرف مستقر دی

وجه د حصر: په دې قسمينو کې دا ده چې متعلق د دې جارمجرور به خالي نوی يا به مذکور وی او يا به محذوف وی که اول وو نو ظرف لغوه او که ثاني وو نوظرف مستقر ورته وايي،

وجه د تسميه: ظرف مستقر ته ظرف مستقرځکه وايي چې د دې عا مل حذف شوی وی او د هغه عامل نه ضمير راغلی وی اوپدی جارمجرور کې مستتر شوی وی اوقرار يې نيولی وی،

(۲) او ظرف لغوه ته ظرف لغوه وايي د وجې دلغويت داستتار دضمير دعامل نه په دې کې او يا د وجې د لغويت دنيابت د دې ظرف نه په مقام دعامل کې اوس دا فی نفسها جار مجرور دی نو ايا دا ظرف لغوه دی که ظرف مستقر دی نو په دی کې اختلاف دی بعض شارحين وايي چې دا ظرف لغوه دی متعلق دی په تدل پورې او جامی صاحب د دې فی نفسها نه مخکې کائن مقدر راوستی دی نو په دی تقدير د کائن کې خو يې يو ديته اشاره وکړه چې دا ظرف مستقر دی نه ظرف لغوه او دويم يې رد وکړو په هغه چا باندې چې هغه ديته ظرف لغوه وائی، دليل د نورو شارحينو دا دی چې اصل په ظرف

کې ظرف لغوه دی ځکه دا بنا وی په عدم تقدیر باندې او ظرف مستقر بنا وی په تقدیر باندې اوتقدیر خلاف الاصل دی لیکن جامی صاحب وائی چې دا مذهب د دوی کمزوری دی ځکه چې اصل په ظرف کې ظرف لغوه دی خو هله چې ظرف لغوه صحیح کیدو، او دلته لغوه نه جوړیږی د وجې د باء دتعلق د فی نفسها نه په تدل پورې ځکه د دلالت په اصله کې یا باء راځي لکه دل به یا په کې علی راځي لکه دل علیه اوفی په صله د دلالت کې نه راځي لیکن دغه بعض شارحین جواب کوی چې دا اعتراض به تا هله کولی چې دا فی دلته په خپله معنی وی لیکن دا فی دلته په معنی دباء سره ده ای علی معنی بنفسها ای بالذات، نو که خبره په مذهب د دې بعض باندې شي نو بیا هیڅ اشکال نشته او نه حاصل محصول جوړیږی، خوجامی صاحب وائی چې فی په معنی باء سره ګرځول مجاز دی نو لازمیږي مجاز په تعریف کې او دا خلاف الاصل دی لهذا دا فی په خپله معنی ده او دا ظرف مستقردی متعلق د دې محذوف دی نو بیا دغه بعض شارحین اعتراض کوی چې تقدیر خو هم خلاف الاصل دی. **جواب:** تقدیر اګر چې خلاف الاصل دی لیکن شائع او کثیر دی او مجازکثیر نه دی، او بیا دی جامی صاحب په جر دکائن سره اشاره وکړه دیته چې دا جار مجرور په اعتبار دمتعلق سره صفت دی دمعنی لپاره نو رد یې وکړو په هغه چا باندې چې هغه وائی داحال دی دمعنی نه او جامي صاحب دا صفت واقع کړو دمعنی نه، نه حال ځکه چې معنی نعتی جزیله ده دمعنی خالي نه. او بل د دې وجې نه چې په هرتعریف کې جنس او فصل وی نو دلته تدل علی معنی جنس دی اوفی نفسها فصل دی په دې سره حرف خارج شو، اوس که دا حال شی نو اخراج د حرف راځي په جنس سره ځکه حال قید وی دعامل د ذوالحال لپاره نو دا فی نفسها قید شو د دې تدل لپاره نو حروف په تدل سره خارج شو، او که صفت شی نو صفت خو قید وی د موصوف لپاره نه دعامل ده موصوف لپاره نو بیا خروج د حروفو راځي په فصل سره.

سوال: ها ضمیر راجع دی کلمې ته او في راځي د ظرفیت لپاره په دې شان سره چې ګرځوی مدخول خپل ظرف لپاره د ماقبل نو دلته دا کلمه ظرف شو دمعنی لپاره او ظرفیت دکلمه د معنی لپاره نه دی صحیح ځکه چې ظرف دوه قسمه دی. (۱) ظرف مکان، (۲) ظرف زمان او کلمه یو هم نه ده.

جواب: دا دی چې ظرف په دوه قسمه دی، (۱) ظرف حقیقي، (۲) ظرف تشبیهی دلته ظرف تشبیهی دی، لکه ځنګه چې ظرف په اشتمال کې په مظروف فیه باندې مستقل وی او محتاج نوی شی اخر ته نو دارنګې دلته دا کلمه په دلالت کې په معنی خپله باندې محتاج نه ده انضمام دکلمه اخری ته یا دا في د ظرفیت لپاره نده بلکه دا في نفسها عبارت دی، د استقلال بالمفهومیت نه اوس د دې نه معلومه شو چې معني دوه قسمه ده: (۱) مستقل بالمفهومية، (۲) غیر مستقل بالمفهومية. ځکه دامعنی به خالي نه وی یا به په فهم کې دلفظ نه محتاج وی انضمام دکلمه اخری ته او یا به نوی محتاج که محتاج نه وه نو مستقل بالمفهومیت ده او که محتاج وه نوغیر مستقل بالمفهومیت نو معنی د اسم اوفعل مستقل بالمفهومیت ده ځکه محتاج نده امر اخر ته او معنی دحرف غیر مستقل بالمفهومیت ده ځکه چې محتاج ده امر اخرته، **اولا:** او یا به دا کلمه دلالت نکوی علی معنی فی نفسها بلکه دلالت به کوی علی معنی فی غیرها. **الثانی الحرف:** قسم ثانی حرف دی ځکه داحرف یوه کلمه ده چې دلالت نه کوی علی

معنی فی نفسها بلکه دلالت کوی علی معنی فی غیرها حکه معنی د حرف په فهم کې د دې حرف ته محتاج ده ضم د کلمه اخری ته

سوال: ته وائې چې یا به دا کلمه د سره دلالت نکوی او دا ثانی حرف دی نو په دې کې مهملات داخل شو؟

جواب: د دې دا معنی نه ده چې یا به دلالت اصلا نه کوی. بلکه معنی د دې دا ده چې لاتدل علی معنی فی نفسها بل تدل علی معنی فی غیرها

سوال: مصنف په جانب د اجمال کې اسم مقدم کړی وو نو په جانب د تفصیل کې یې حرف ولې مقدم کړو؟ **جواب:** په جانب داجمال کې یې اسم مقدم کړی وو حکه چې هلته یې لحاظ د عمده والی او اصالت کړی وو او په جانب د تفصیل کې یې لحاظ دقلت او دوحدت کړی دی حکه چې دلالت نه کوي په معنی فی نفسها دهغې مصداق یو دی او چې کوی دهغې مصداقونه دوه دی او الواحد قبل المتعدد

سوال: الثانی صفت دی لپاره دموصوف محذوفه چې الکلمة دی نو پکار وه چې الثانية یې ویلی وی چې مطابقت راغلی وی بین الموصوف والصفة؟ **جواب:** د دې الثانی لپاره موصوف الکلمة نه دی بلکه موصوف د دې لپاره القسم دی یعني هغه قسم چې واقع دی په مرتبه ثانی کې هغه حرف

سوال: دا الثانی په اعتبار دموصوف محذوف سره چې القسم دی مبتدأ ده او الحرف یې خبر دی او اصل په خبر کې تنکیر دی او تعریف خلاف الاصل دی نو مصنف اتیان په خلاف الاصل باندې ولې کړی دی؟ **جواب:** مصنف اتیان کړی دی په خلاف الاصل باندې لپاره دیو نکته هغه نکته دا ده چې مبتدأ او خبر دواړه معرفه راشي نو هغه فائده کوی حصر او اختصاص نو دلته مقصود حصر دی، چې دا حرف منحصر دی په ثانی پورې چې اولادی او د دې نه مجاوز نه دی غیر ته بیا حصر کله د جانبینو نه وي او کله د جانب واحد نه وی دلته حصر من الجانبین دی.

سوال: دا قانون دی چې مبتدأ او خبر دواړه معرفي وی نو دهغې په مینځ کې ضمیر فصل ذکر کولی شي نحو زید هو القائم دلته یې ضمیر فصل ولې نه دی ذکر کړی؟

جواب: ایراد د ضمیر فصل بین المبتدأ والخبر مشروط دی، او کون د مبتدأ او خبر معرفه شرط دی او قانون دا دی چې وجود د مشروط مستلزم وی وجود د شرط لره نو چرته چې ضمیر فصل راشی بین المبتدأ والخبر نو هلته لابدي ده د کون د مبتدأ او خبر معرفه نه او وجود دشرط مستلزم نه دی وجود د مشروط لره لهذا دا لازم نه ده چې چرته مبتدأ او خبر معرفه وی دهغې په مینځ کې به خامخا ضمیر فصل راغلی وی

الثانی الحرف الخ دا جمله مستانفه جواب دسوال دی حکه هر کله چې مصنف وویل چې اما ان تدل علی معنی فی نفسها اولاً. نو معترض بې صبره وو نو ویې ویل چې ما الاول والثانی؟ نو مصنف جواب وکړو چې الثانی الحرف والاول اما ان یقترن الخ بیا په دې لفظ د الحرف کې لابدی ده د معرفت دامور خمسه ؤ نه (۱) مفهوم لغوی (۲) مفهوم اصطلاحی (۳) وجه د تسمیه (۴) مثال (۵) معرفت دعلامات د حرف (۶) اقسام دحرف

حرف: په لغت کې طرف ته وائی لکه وائی عرب جلست علی حرف الوادی ای علی جانبها

اوپه اصطلاح کې کلمة لاتدل علی معنی فی نفسها بل تدل علی معنی فی غیرها اوحرف ته حرف ځکه وائی چې حرف په لغت کې طرف ته وائی او داحرف اصطلاحی هم واقع کیږي په طرف د کلام کې

سوال: زید فی الدار او ارید ان تقوم دلته خوداحرف په وسط کې دی نه په طرف کی؟

جواب: د دې دامطلب نه دی چې دا به د کلام په اول سر یا په اخیر سر کې راځي بلکه مطلب دا دی چې دا واقع کیږي په جانب مقابل د اسم او فعل کې هغه یو طرف ته دی او دابل طرف ته دی

سوال: اسم اوفعل خو مستقل بالمفهومیت دی او دا غیر مستقل بالمفهومیت دی نو دا دهغې مقابله څنګه کوی؟ **جواب:** مقابله په دلالت کې نده بلکه مقابله په دی کې ده چې هغه واقع کیږي مسند او مسندالیه او دا نه مسند واقع کیږي اونه مسندالیه مثال لکه من اوالی شو داحروف دي ځکه چې من واضع وضع کړی دی دابتداء جزئی لپاره اوالی واضع وضع کړی دی دانتهاء جزئی لپاره اودا دلالت نکوی په دې ابتداء جزئی اوانتهاء جزئی باندې تر څو چې د دې سره بله کلمه ضم نه کړی شی اوعلامه دحرف عدم وجود دعلاما ت د اسم اوفعل دی او حرف دوه قسمه دی باعتبارالعمل (۱) حروف عامله (۲) جروف غیر عامله، تفصیل یې په اخیر دکتاب کې راځي، انشاء الله تعالی.

والاول اما ان یقترن الخ: قسم اول د دې کلمې نه چې هغه دلالت کوی علی معنی فی نفسها نو دا کلمه به خالي نوی اما ان یقترن یا به مقترن وی معنی مدلوله تضمنی د دې کلمې چې حدث دی زمانه خارج ده په قرینه عقلی سره اونسبت غیر مستقل دی، باعتبار د هیئت سره په فهم کې د لفظ داله نه په دې معنی باندې په اعتبا ر داصل وضع سره به یو زمانه پورې دازمنه ثلاثه ؤ نه مخصوصو نه چې هغه ماضی حال استقبال دی او اقتران د زمانینو مستلزم دی اقتران د زمانی واحدی لره اولا او یا به مقترن نوی معنی تضمنی د دې کلمې په اعتبار دهیئت سره په فهم کې دلفظ داله نه په اعتبار داصل وضع سره په یو دازمنه ؤ ثلاثه ؤ مخصوصو پورې.

الثانی الاسم: پس داقسم ثانی اسم دی **والاول الفعل:** اوقسم اول فعل دی، والاول مبتدأ ده په اعتبار د موصوف محذوف سره چې القسم دی، اوان یقترن الخ خبردی په دې باندې بیا اعتراض دی چې حمل نه دی صحیح نو د دې پنځه جوابونه دی کما مر

سوال: په مینځ دمبتدأ او خبر کې خوشدت اتصال وی نو دا اما یې ولې راوړیدی؟

جواب: دا اعتراض به تا هله کولی چې دا (ان یقترن) خبر واقع شوی وی یواځې لیکن دا یواځې خبرندی بلکه سره د دې معطوف نه خبر دی اودا اما یې ذکر کړی دی جوازاً بنا په هغه قاعده باندې

سوال: **ان یقترن:** کې ضمیر چا ته راجع دی؟ که الاول ته یې راجع وائی نومعنی نه صحیح کیږي ځکه معنی به یې دا شی چې داقسم اول چې کلمه ده دا به مقترن وی په یو دازمنه ثلاثه ؤ پورې او اقتران صفت دمعنی دی نه دلفظ، او که ته وائی چې ضمیر راجع دی معنی ته نومعنی صحیح شوه خو اضمار قبل الذکر راغلو، ځکه معنی مخکې نده ذکراو بل دا چې الاول مبتدأ ده اوداما ان یقترن الخ یې خبر دی اوجمله چې خبر واقع شی نوهغې کې به عائد دمبتدأ وی اوچی ضمیر معنی ته راجع شی نومبتدأ بلا عاید پاتې کیږي

جواب: دا ضمیر راجع دی معنی ته او معنی اګر چې لفظاً محکي نده ذکر لیکن معنا ذکر ده چې القسم الاول په هغې باندې دلالت کوی نو ترکیب د مصنف د قبیلې د اعدلوا هو اقرب للتقوی نه او ارجاع د ضمیر مدلول ته بعینه ارجاع د ضمیر ده دال ته نو مبتدا بلاعائده پاتې نه شوه

سوال: ته وائی چې ضمیر راجع دی معنی ته نو معنی دوه قسمه ده یو معنی مطابقی ده او بل معنی تضمنی ده دلته کومه معنی مراد ده که معنی مطابقی ته یې راجع کړی نو دوه نقصانه لازمیږی (۱) یو دا چې توصیف د معنی په فی نفسها سره نه دی صحیح ځکه معنی مطابقی دفعل غیر مستقله ده او غیر مستقل ته فی نفسها نشي ویلی او دا غیرمستقل دی ځکه ده چې مرکب ده د مستقل او غیرمستقل نه اوکوم شی چې مرکب وی د مستقل او غیر مستقل نه هغه غیر مستقل وی (۲) او بل دا چې معنی مطابقی کې خو یو جزء زمانه هم ده، نو اقتران د زمانی راځي په زمانی پورې او دا نده صحیح او که مراد د معنی نه معنی تضمنی وي نو هغه دري اشیاء دی (۱) حدث (۲) نسبت (۳) زمان که زمانه اخلی نو بیا اقتران د زمانی په زمانی پورې راځي او که نسبت اخلی نو هغه غیر مستقل دی نو بیا یې توصیف په فی نفسها سره نه دی صحیح او که حدث ترې اخلی نو ترجیح بلامرجح راځي **جواب:** زه د معنی نه معنی تضمنی اخلم او ترجیح بلا مرجح نه راځي مرجح شته چې هغه عدم صحت د معنیینو اخر یینو دی

سوال: دا تعریف د فعل مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو په کې الان غداً امس ځکه دا دلالت کوی په ازمنه ؤ باندې او سره د دې نه چې دا اسماء دی نه افعال؟ **جواب:** فعل دیته وائی چې دلالت کوی په معنی مصدري باندې په اعتبار د مادی سره او مقترن به وي په یو د ازمنه ثلاثه ؤ پورې په اعتبار د هیئت سره ا و دلته دا زمانه بعینه معنی موضوع له ده نو په اعتبار د مادې سره دلالت کوی په معنی مصدری باندې خو مقترن نده په اعتبار د هیئت سره په یو د ازمنه ثلاثه ؤ پورې

سوال: دا تعریف مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شو په کې ضربا ځکه دا دلالت کوی په معنی مصدري په یو د ازمنه ثلاثه ؤ کې ځکه دا معنی مصدری به یا موجوده وی په زمانه ماضی کې یا حال کې یا استقبال کې **جواب:** مراد د اقتران نه اقتران في الفهم دی چې د دغه لفظ نه به زمانه ستا فهم ته راځي او ضربا مقترن في الوجود دی په زمانه پورې نه مقترن فی الفهم او په اعتبار د وجود سره خو ټول ممکنات مقترن دی په زمانه پورې

سوال: دا تعریف مانع نه شو د دخول دغیر نه داخل شو په کې ضارب غدا ضارب امس ضارب الان دلته معنی مصدري فهم ته راځي او مقترن هم ده په یو د ازمنه ثلاثه ؤ پورې

جواب: مونږ وایو چې مقترن به وی په فهم کې دلفظ داله نه په دې معنی باندې او دلته معنی مصدری د ضارب نه فهم ته راځي او اقتران دغدا الخ نه معلومیږي

سوال: دا تعریف جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شوه د دې نه فعل مضارع ځکه تا وویل چې فعل هغه ته وائی چې مقترن به وی یو ه زمانه پورې او مضارع مقترن نه ده په دوه زمانو پورې

جواب: مونږ وايو چې مقترن به وی په يو دازمنه ثلاثه ؤ پورې حقيقة اومضارع هم مقترن ده حقيقتا په يو زمانه پورې چې حال دی، اوپه استقبال پورې اقتران د دې مجاز دی يا بالعكس دی. يا دا چې دا احد قيدبی لګولی دی لپاره دبيان دادنی مرتبی نه لپاره دحصر يعنې چې په يو د زمانه پورې مقترن وی نوفعل به وی نو كله چې مقترن وی په دوه زمانو پورې نو په طريقه اولی سره به فعل وی اقتران د زمانينو مستلزم دی اقتران د زمانې واحدې لره.

سوال: دا تعريف جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه فعل تعجب افعال مقاربه افعال مدح والذم اومانع نه شو د دخول دغير نه اسماء افعال په كې داخل شو دغه افعال مقترن نه دی په زمانه پورې اواسماء افعال مقترن دی په زمانه پورې.

جواب: مونږ وايو چې مقترن به وی په يو د ازمنه ؤ پورې په اعتبار داصل وضع سره نو دغه افعال په كې داخل شو ځكه دا په اعتبار داصل وضع سره مقترن وو په زمانه پورې خو دعارض استعمال د وجې نه د دې نه زمانه ؤيستلی شوې ده، نوځكه ورته افعال منسلخه عن الزمان وائی اواسماء افعال ترينه خارج شو ځكه دا په اعتبار داصل وضع سره مقترن نه وو په يو دازمنه ثلاثه ؤ پورې بلكه دعارض استعمال د وجې نه مقترن ګرځيدلې دی.

سوال: دا تعريف ستا مانع نه شو ددخول دغير نه داخل شو پكې صبوح اوغبوق صبوح ويلی كيږي شراب څكل په وخت د سهار كې اوغبوق شراب څكل په وخت دبيګا كې نو دا اسماء دی او دلالت كوی په زمانه باندې؟ **جواب:** دلته مطلق ازمنه نه دی مراد بلكه مراد ازمنه ثلاثه مخصوصه دی چې ماضی حال استقبال دی. والاول: الفعل: په فعل كې لابدی ده معرفت دامور خمسه ؤ ونه. (۱) مفهوم لغوی. (۲) مفهوم اصطلاحی. (۳) وجه د تسميه. (۴) معرفت د علاماتو. (۵) اقسام. (۲) مثال. نو فعل په لغت كې اسم دی د فعل لپاره كردن ته وائی. يا حدث ته وائی. اوپه اصطلاح كې **كلمة تدل على معنى فى نفسها مقترنة باحد الازمنة الثلاثة:** ته وائی او دی فعل اصطلاحی ته فعل ځكه وائی چې فعل په لغت كې حدث ته وائی اودافعل اصطلاحی مركب دی د حدث او نسبت او زمانه نه نوشوه داتسميه دكل په اسم دجز سره اوتسميه دمتضمن په اسم د متضمن سره اوتسميه د مشتمل په اسم دمشتمل سره علامات يې شپاړس دی. اواقسام يې ماضی او مضارع اوامر دی او مثال يې لكه ضرب، يضرب، اضرب شو.

وقد علم بذلك حد كل واحد منها: هر كله چې فارغ شو مصنف دبيان د دليل د حصرنه په اقسام ثلاثه د كلمه كې نو وې ويل چې وقد علم الخ غرض د مصنف د دې عبارت نه دوه دی، (۱) يو مقصد بيان د عظمت د دليل د حصر دی يعنې مصنف وائی چې دا كوم دليل دحصر چې ما ذكر كړو دا عظيم الشان دليل دی. (۲) او مقصد په دې عظمت كې ترغيب وركول دی طالبانو ته لپاره د دې چې طالبان دا دليل د حصر ياد كړی اوس داعظمت د دليل د څه نه معلوميږي يعنې دا به مونږه څنګه پيژنو چې دا دليل عظيم الشان دی او كنه نه دی نو ته به د ی دليل ته وګوری كه په دې سره صرف اثبات د مدعی شوی وو بې داثبات دامر اخر نه نو دا دليل به عظيم الشان نوی. او كه اثبات دمدعی

يې هم كړى وو په ضمن كې يې يو بل شى هم ثابت كړى وو نو دغه دليل به عظيم الشان وى، اوس دلته دى دليل اثبات دمدعى هم كړو چې انحصار د كلمې وو په اقسام ثلاثه ؤ كې او د دې په ضمن كې يې اثبات د امر آخر هم وكړو چې تعريف د هر واحد د اقسام ثلاثه ؤ د كلمې دى) او بل غرض د مصنف تنبيه وركول دى په تعريف جامعه او مانعه د دې اقسام ثلاثه ؤ يعنې چې په دى دليل كې ته لږ سوچ وكړى نود دې اقسام ثلاثه ؤ تعريف جامعه مانعه ترې معلوميږي، اوس په دې سره دفع داعتراض هم وشوه اعتراض دا دى چې فرض منصبى دمصنف اختصاربماهو اختصار دى نو مصنف وجه دحصر بيان كړه اودهغې په ضمن كې تعريف دهر واحد د دغه اقسامو هم وشو نو بيا دا جمله ولې ذكر كوي اوبيا وروسته وائى چې (الاسم مادل الخ) نو صرف دا وجه د حصر كافى وه كنه دانورى ولې ذكركړې؟ **جواب:** دا مصنف وائى چې زه بليغ يم او بليغ هغه متكلم ته وائى چې هغه خبره كوي مطابق دمقتضى دحال دمخاطب سره نو ده مخاطبينو ته كتلى دى اومخاطبين د ده چې طالبان دى درې قسمه دى (١) ذكيان (٢) متوسطين (٣) غبيان **ذكي:** هغه ته وايي چې په اشاره باندې پوهيږي **متوسط:** هغه ته وايي چې په معمولي تنبيه باندې پوهيږي **غبي:** هغه ته وايي چې په تنبيه اواشاره باندې نه پوهيږي ترڅو چې ورته تصريح ونه كړې نو مصنف اول تعريف د هر قسم وكړو په دليل دحصركى اشارةً نو ذكيان خوپه هغې پوهه شو او وقد علم سره يې تنبيه وركړه متوسطينو ته نو هغه هم پوهه شو اوغبي ته لاهيڅ پته ونه لګيده نو ځكه يې تعريف دهر واحد وكړو صراحتاً وقدعلم الخ.

ترجمه: معلومه شوه په دې دليل سره وجه دحصر په مينځ داقسام ثلاثه ؤ كې اوهُم دارنګې په تحقيق سره معلومه شوه په دې سره تعريف جامع مانع دهر واحدد دې اقسام ثلاثه ؤ.

(٢) افاده كړه دې دليل د حصر وجه دحصر په اقسام ثلاثه ؤ كې په حال كون د دې دليل كې چې معلوم شوي دي په دې سره تعريف جامع مانع دهرواحد د دې اقسام ثلاثه ؤ د كلمې.

سوال: د دې جملې په اول كې واو راغلى دى او واو په ډيرو معانيو سره راځي نو متبادر دلته څلور دى. عاطفه، حاليه، اعتراضيه، استنافيه، اودايو هم نه صحيح كيږي ځكه كه عاطفه ورته وايي نو هغه تقاضه دمعطوف عليه كوي اودلته معطوف عليه نشته، او كه حاليه ورته وايي نو هغه تقاضه ددوه ځيزونوكوى (١) ذوالحال (٢) عامل، اودلته هم يونشته، او كه اعتراضيه ورته وايي نو هغه خو راځي په اول سر دجمله معترضه كې اوجمله معترضه واقع كيږي په مينځ د كلامينو مثلا زمينو كې اودا اخير د كلام دى نه مينځ، او كه واو استنافيه ورته وايي نو هغه ديته وايي چې په اول سر د جمله مستانفه كې راغلى وى اوجمله مستانفه ديته وايي چې جواب دسوال كې واقع شويوى يامستقله جمله وى دمخكې سره يې ربط نوى نو دا خونه په جواب دسوال كې واقع ده اونه مستقله ده بلكه دمخكې سره مربوطه ده؟ **جواب:** دا واو عاطفه دى اومعطوف عليه محذوف دى چې علم بذلك وجه الحصر دى (٢) يا واو حاليه دى اوعامل سره دذوالحال نه حذف دى اى (افاد انحصار الكلمة فى الا قسام الثلاثة) حال كونه (**قدعلم الخ**) يا واو اعتراضيه دى خو دا قاعده كليه نده چې دا راځي په مينځ د

كلام كې بلكه كله په اخير كې هم راځي ديوغرض لپاره چې هغه بيان دمدح اوعظمت دشان ددليل دی ياتنبيه وركول دی. (۳) او كه اومنم چې دا قاعده كليه ده چې خامخا واقع كيږي په مينځ د كلامينو مثلا زمينو كې نو دا هم واقع ده په مينځ د كلامينو مثلا زمينو كې چې الكلمة معطوف عليه دی اوالكلام معطوف دی په حذف دحرف عاطف سره نو داواقع ده په مينځ دمعطوف عليه اومعطوف كی، يا داجمله مستانفه ده واقع ده په جواب دسوال كې چې هر كله داوجه دحصر بيان شوه نوسائل سوال وكړو چې **هل علم بذلك حدكل واحد منها ام لا؟** نو مصنف جواب وكړو په دې جملې سره.

سوال: عُلِم ماضی مجهول دعَلِم ده فعل دی دافعال قلوب نه اودا متعدی كيږي مفعولينو ته اوكوم فعل چې متعدی وی مفعولينو ته هغه نه چې مجهول جوړشی نومتعدی مفعول واحد ته پاتې كيږي دلته **حد كل واحدمنها** خونائب فاعل دی نو مفعول يې كوم دی؟ **جواب:** بعض وايي چې مفعول يې بذلك دی.

سوال: دا خومتعدی كيږي مفعول ته بالذات دلته ولې متعدی شوي دي په واسطه دباء سره؟

جواب: دا با زائده لپاره دتقويت دعمل خوداجواب كمزوری دی ځكه چې باء زائده راځي لپاره دتقويت د عمل دمصدراوفعل قوی دي په عمل كې نوزيادت دباء ته حاجت نشته، نواصلی جواب دا دی چې دا كله متعدی كيږي بالذات اوكله متعدی كيږي بالواسطه لكه **اعلم بان المبتدأ** الخ

دريم جواب: دا دی چې مفعولينو دافعال قلوب دوه قسمه راځي كله مفردين وی لكه علمت زيداً فاضلاً او كله مضمون د جملې وی لكه علمت فضل زيد اوكله جمله قائم مقام دمفعولينو وی لكه اعلم ان العوامل الخ. نو دلته فاعل حذف دی اوجمله قائم مقام دمفعولينو ده اصل عبارت داسې وو چې وقد علم بذلك ان الاسم كذا والفعل كذا والحرف كذا بيا ددغه اوږد عبارت نه تعبير شوي دي په حد كل واحدمنها سره.

سوال: قد علم يې وويل نوقدعرف يې ولې ونه ويل؟ **جواب:** علم يې وويل نه عرف ځكه چې معرفت مستعمل كيږي په جزئياتو كې اوعلم مستعمليږي كلياتو كې. (۲) معرفت مستعمل كيږي په بسائط كې اوعلم مستعمليږي په مركباتو كې. (۳) معرفت مستعمليږي په تصوراتو كې اوعلم مستعمليږي په تصديقاتو كې اودامقام مقام دكلياتو مركباتو اوتصديقاتو دی نه دجزئياتو بسائطو اوتصوراتو، بيا په دې ذلك كې دا اسم اشاره ده لام په كې د بعد لپاره دی اوكاف په كې حرفی خطابی دی.

سوال: ذلك راځي دمشار اليه بعيد لپاره اودليل دحصر خو قريب دی نو ديته اشاره په ذلك سره نده صحيح **جواب:** دا قاعده كليه نده بلكه اكثريه ده اوكله په ذلك سره اشاره قريب ته هم كولی شی (۲) دا فرق وضعی دی نه استعمالی نو احدهما په مقام د اخر باندې مستعمليږي (۳) دا دليل دحصر د وجې دعظمت دشان خپل نه ګرځيدلی دی په منزله دبعيدباندې نو اشاره ورته شوې ده په ذلك سره په شان د دې قول دالله تعالى ﴿ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ﴾ (۴) يا د دې دليل لپاره دوه اعتباره دی (۱) اعتبار د ابتداء (۲) اعتباردانتهاء، نو داپه اعتبار دانتهاء سره قريب دی خو په اعتبار د ابتداء سره بعيد دی او اشاره ورته شوې ده په ذلك سره په اعتبار دابتداء سره.

سوال: مصنف لپاره پكار وو چې وقدعلم به يې ويلی وی په ضمير سره دامقام دضمير وی ځكه شی چې يو ځل اسم ظاهر سره ذكر شی نوثانياً ذكركولی شی په ضمير سره.

جواب: دا منم چې مقام دضمير دی ليکن مصنف وضع دظاهر کړيده په مقام دضمير کې لپاره د يو نکتې چې هغه امتياز ددليل دحصر دی دکل ماعدی نه علی اکمل وجه. اودا په اسم اشاری سره راتلو نه په ضمير سره او په اسم اشاره سره يې تعين ځکه راخي چې داپشان دوضع ديدده په هغه شي باندې. او يا دا چې اشاره ده ديته چې دادليل د وجې دعظمت دشان نه بعيد ګرځيدلی دی نو اسم اشاره د بعيد يې راوړه او په ضمير سره دغه مقصد نه اشاره نه راتله

سوال: يو حد دی او يو رسم دی حد ويلی کيږي تعريف د شي ته په ذاتياتو سره او رسم ويلی کيږي تعريف د شي ته په عرضياتو سره او بيا په حد کې دا ضروری ده چې ذاتيات به امور ايجابيه وی او دلته خو امور سلبيه دی. نو دا خو حد نه شو بلکه رسم شو نو ته ورته حد ځنګه وائې؟

جواب: دا عبارت په اصطلاح دمنطقيانو نه دی بناء بلکه بناء دی په اصطلاح د نحاتو يعنې حد منطقی نه دی مراد بلکه حد نحوی مراد دی اوحد عند النحات ويلی کيږي تعريف جامع مانع ته

سوال: حد کل الخ کې اضافت لفظی دی که معنوی؟ **جواب:** دا اضافت معنوی دی

سوال: اضافت معنوی خو درې قسمه دی، لامی، ظرفی، بيانی، دا کوم يو دی؟ **جواب:** دا اضافت لامی دی

سوال: په اضافت کې خواظهار دلام صحيح وی اودلته خواظهار دلام نه دی صحيح يعنې حد کل لواحد ويل نه دی صحيح ځکه کل د اسماء لازمة الاضافة نه دی بدون الاضافة نه مستعمليږی. اولام چې ذکر شی نو بيا بدون الاضافة مستعمل شو؟

جواب: شرط لپاره د اضافة بمعنی اللام اظهار دلام نه دی بلکه شرط د دې لپاره اختصاص دی **منها**

سوال: من په استعمال د کلام دعربو کی راځي په دوه معنوسره، دلته په کومه معنی سره دی؟

جواب: دلته من بيانيه دی او دا بيان دی دکل واحدلپاره اودامنها جار مجرور په اعتبار دمتعلق سره صفت دی دکل واحد لپاره يعنې داسې هر واحد چې بعينه داقسامو ددغه کلمې نه دی ځکه دا قاعده ده چې جارمجرور چې واقع شی وروسته د نکرې نه نوصفت وی او چې وروسته د معرفې نه راشی نو هلته دوه مذهبه دي

الکلام ما تضمن کلمتين بالاسناد: ربط: هر کله چې فارغ شومصنف دبيان دفرد اول دموضوع د علم النحو نه چې کلمه ده نو شروع يې وکړه په بيان دفرد ثانی دموضوع د نحوه کې چې کلام دی نو وی ويل الکلام ماتضمن الخ لپاره د دې چې معلوم شی فرد ين د موضوع دعلم النحو بيا په دې الکلام کې دوه احتماله دی (۱) يا عطف دی په الکلمة باندې نوپه جانب دمعطوف عليه کې بيان د يو فرد د موضوع وو او په جانب دمعطوف کې بيان دبل فرد دې

سوال: دلته خوحرف عطف نشته؟ **جواب:** دا په هغې باندې عطف دی په حذف دحرف عاطف سره ځکه کله کله حرف عاطف ترک کولی شی په مينځ دمعطوف عليه اومعطوف کې اود دې ترک لپاره مختلف وجوهات وی (۱) کله د وجې دضرورت شعری نه وی (۲) کله ترک دحرف عاطف کولی شی د وجې دکمال اتحادنه بين المعطوف عليه والمعطوف لکه کل تقی نقی فهو آلی اصل کې کل تقی ونقی وو

(۳) کله په کې اشاره وی استقلال دمعطوف ته (۴) اوکله ترك د عاطف کولی شي د وجې دطول دمسافت نه اودلته ترك دعاطف راغلی دی یوپه کې اشاره ده استقلال دمعطوف ته. او یا عاطف ترك کړی دی د وجې دطول دمسافت نه لپاره د دې چې مشوش نه شي ذهن دمخاطب په لتیولو دمعطوف علیه کې.

ترجمه: **کلام** په لغت کې ما یتکلم به ته وائی، اوجنس کلام چې په ضمن د کلام نحوی کې واخلی یا هغه کلام چې جاری دی په السنه د نحاتو باندې په اصطلاح دنحویانوکی **ما** لفظ دی. **تضمن** داسې لفظ چې مشتمل دی اولاً گیرونکی دی دوه کلمو لره د قبیلې داشتمال دکل نه په جز باندې نه دقبیلې د اشتمال د دال نه په مدلول باندې په دې شان سره چې کیږي دا مجموعه من حیث المجموعه متضمن په صیغه د اسم فاعل سره. اوکیږي هر واحد متضمن په صیغه د اسم مفعول سره دا کلمتین عام دی که لفظا وی او که تقدیراً وی او که حقیقتاً وی او که حکماً وی او که حقیقتاً وی او که تاویلاً وی او ذکر د تثنیه لپاره د بیان د ادنی مرتبې دی نه لپاره د حصر. یا لپاره د حصر دی اوحصر په نسبت سره ما تحت ته مراد دی نه مافوق ته.

سوال: الف لام دلته موصولی دی که حرفی دی؟

جواب: دا الف لام حرفی دی نه موصولی ځکه مدخول د دې اسم فاعل اواسم مفعول ندی.

سوال: الف لام حرفی زائد دی که غیرزائد دی؟

جواب: دا غیر زائد دی ځکه که زائد شي نولازمیږی نکارت دمبتدأ.

سوال: دا غیر زائدخودوه قسمه دی (۱) عوضی (۲) غیر عوضی، دا کوم قسم دی دهغې نه؟

جواب: دا عوضی دی ځکه عوض دمضاف الیه نه راغلی دی اصل کې کلام النحو وو یا غیر عوضی دی.

سوال: الف لام حرفی غیر زائد غیرعوضي خو څلور قسمه دی (۱) جنسی (۲) استغراقي (۳) عهد خارجي (۴) عهد ذهنی دلته کوم یو اخلی، یو هم نه صحیح کیږي، که عهد ذهنی اخلی نو نکارت د مبتدأ لازمیږی، او که استغراقي اخلی نو لازمیږی تعریف د افراد په جنس باندې او دا نه ده صحیح او بل دا چې دا تعریف جامع نه شو. خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه کلام الله ځکه چې هغه یو فرد د افرادو د کلام نه دی، اومشتمل نه دی په کلمتینو باندې او که ته وائی چې الف لام جنسی دی نو معنی دا ده چې جنس کلام ماتضمن الخ ته وائی، نوپه جنس کلام کې بیا کلام الله داخل دی اودا تعریف په هغې نه صادقیږی، او که عهد خارجي اخلی نو په هغې سره اشاره وی معهود ته چې مخکې به مذکور وي او دلته مخکې نه دی مذکور؟

جواب: دا الف لام جنسی دی په قرینې د مقام سره ځکه دامقام مقام دتعریف دی اوتعریف دجنس کیږي په جنس سره او که ته وائی چې کلام الله ترې خارج شو نو زه وایم چې مراد جنس کلام دی په ضمن د کلام نحوی کې چې واخلی نوماتضمن الخ. ته وائی یا الف لام عهد خارجي اخلم او ذکر د معهود عام دی که صراحتاً وی که کنایة وی او که علماً وی دلته اګر چې صراحتاً یا کنایة نشته لیکن علماً شته. مراد هغه کلام دی چې جاری دی په السنه د نحاتو باندې.

سوال: دا ما به خالي نه وي يا به ئې عبارت وائي د لفظ نه، يا د شي نه، يا د كلام نه، يا د كلمة نه، او يو هم نه دى صحيح ځكه كه عبارت شى د كلام نه نو اخذ د محدود راځي په حد كې او دا باطل دى، او كه عبارت شى د كلمې نه نو تعريف بالمبائن راځي لكه تعريف د انسان په حمار سره ځكه كلمه او كلام متبائنين دى په اعتبار د مفهوم اصطلاحى سره، او كه عبارت شى د شي نه نو بيا دا تعريف مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو په كې هغه جدار چې منقوش وى په هغې باندې، زيد قائم، ځكه هغه متضمن دى كلمتينو لره او كلام نه دى، او كه عبارت يې د لفظ نه اخلى نو بيا دا تعريف مانع نه شو د دخول د غيرنه داخل شو په كې نعم لكه سائل ووائي چې ازيد قائم او مجيب ورته ووائي چې نعم، نو بيا دا نعم يو لفظ دى او متضمن دى كلمتين لره د قبيلې د تضمن د دال نه په مدلول باندې) بيا دا قانون دى چې هر كله معترض اعتراض وكړي په شقوقو مختلفو سره نو طريقې د جواب دوه دي

(۱) يوه طريقه دا ده: چې مجيب هغه شقوق مذكوره في السؤال متروك كړى او اختيار دبل يو شق وكړى چې په هغې معترض اعتراض نه شي كولى داهله چې احتمال دبل شق پكې وى.

(۲) او دويمه طريقه داده: چې معترض ددغه شقوق مذكورونه يوشق راواخلى اوپه هغې چې كوم اعتراض وى دهغې نه جواب وكړى كه چيرته احتمال دبل شق پكې نه وو اوس دلته معترض اعتراض كړى دى په شقوق اربعهؤ سره او احتمال د بل شق پكې نشته نوموږه د دې نه يوشق راخلو چې دا عبارت وايم دلفظ نه او كه ته وائى چې نعم پكې داخل شو نو زه وايم چې دا به متضمن وى كلمتين لره دقبيلې داشتمال دكل نه په جز باندې نه دقبيلې داشتمال ددال نه په مدلول باندې او نعم مشتمل دى په زيد قائم دقبيلې داشتمال د دال نه په مدلول باندې نو هغه ترې خارج شو، اوس په دې سره يو خو تعين دمعنى دتضمن وشو چې تضمن په معنى داشتمال سره دى او بل په دې سره يو اعتراض هم دفع شبو اعتراض دا دى چې داشتمال خو ډير صورتونه دى. (۱) اشتمال دكل په جزء (۲) اشتمال دموصوف په صفت باندې (۳) اشتمال ددال په مدلول باندې (۴) اشتمال دظرف په مظروف باندې (۵) اشتمال د ذوالحال په حال باندې نو دلته كوم مراد دې؟

جواب: نو جواب وشو چې دلته مراد داشتمال دكل دى په جزء باندې.

سوال: زيد قائم كلام دى او كلمتين هم دغه دى چې يو زيد دى او بل قائم دى نو دا خو اتحاد راغى په مينځ دمتضمن اومتضمَن كې حالانكه په متضمن او متضمَن كې خو مغائرت وى اتحاد نه وى. **جواب:** موږه وايو چې دا كلام به متضمن وى كلمتينو لره په دې شان سره چې كيږي دا مجموعه متضمن په صيغه د اسم فاعل سره او هر واحد متضمن په صيغه د اسم مفعول سره نو مغائرت په كې راغلو.

سوال: ته وائې چې كلام هغه لفظ ته وائى چې متضمن دى كلمتينو لره نو چې څوک بل ته وائى چې، كيف انت؟ اوهغه ورته وائى چې عليل نو دا عليل كلام دى ځكه مفيد د فائدې تامې دى مخاطب لره او دا خو متضمن نه دى كلمتينو لره؟ **جواب:** كلمتين عام دى كه لفظا وى او كه تقديراً وى دلته يوه كلمه لفظا ذكر ده او بله تقديراً ده د وجې دقرينې دالى نه په تعين ده دمحذوف باندې چې سوال دى.

سوال: دا تعريف د كلام جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه جسق مهمل دا كلام دى او متضمن

خو لفظ وضع لمعنی اودا ته وائی الخ وضع لفظ کلمه خکه نده کلمه جسق خکه لره کلمتین نه دی
صحیح نه دی دمهمل حمل پرې بیا نو شی که او دی نه مفرد
ده تاویلاً خو نده کلمه حقیقتاً چې اکر دا دلته وی تاویلاً که او وی حقیقتاً که دی عام کلمتین دا **جواب:**
مهمل اللفظ هذا چې ده دا یې معنی ځکه
کلمې دی دامتضمن ځکه قائم ابوه زید نه دې د شو خارج لره افرادو دی نه جامع ستا تعریف دا **سوال:**
ابوه دا دلته او وی تاویلاً که او وی حقیقتاً که دی عام کلمتین دا **جواب:** لره؟ کلمتینو نه لره جملی او
سره الاب دقائم تاویل په ده دامؤول ځکه ده تاویلاً خو نده کلمه حقیقتاً چې اکر قائم
اومتضمن دی کلام دا اضرب نه دې د شو خارج لره افرادو خپلو شو نه جامع ستا تعریف دا **سوال:**
ځکه ده نه کلمه خو منوی نو ده منوی هغه چې وائی ته که او ده کلمه یوه خو دا بلکه دی نه لره کلمتینو
که دی عام کلمتین دا **جواب:** دی؟ نه مفرد لمعنی وضع لفظ منوی او وائی ته الخ وضع لفظ کلمه
مر. کما ده کلمه حکماً لیکن نده کلمه حقیقة چې اکر دا وی حکماً که او وی حقیقتاً
الامیر امام الجمعة یوم زیدبکرا ضرب ددینه شو. خارج لره خپلو افرادو دی نه جامع تعریف دا **سوال:**
په دی کلمات ډیر بلکه لره کلمتینو دی نه خومتضمن اودا ی د کلام دا ځکه داره فی شدیداً ضرباً
مرادحصر نه حصر لیکن دی دحصر لپاره نه دی مرتبه ادنی د دبیان لپاره دتثنیه دَاذکر **جواب:** ؟ کې
مفید) لفظ چې دی کړی داسې تعریف کلام د رحمه الله مالك (ابن او ته تحت ما سره نسبت په دی اضافی
نسبت د سبب په دی حاصل چې تضمن داسې **ترجمه** **بالاسناد:** نشته. اعتراض هیڅ باندې هغې په نو
وی تامی فائدی د مفید هغه چې سره شان دې په ته اخری کلمې د مدلول سره کلمې دیوی دمدلول
ته کلمې بلې د مدلول وکړی کلمې یوې د مدلول د نسبت متکلم دا چې سره شان دې په ته مخاطب
معلومیږي. شی یو د طلب یا شی یو د خبر ته سامع نو شی چپ اودی
ځکه خو نه داعراب نه محلی داعراب وی لابدی لپاره مجرور جار د او دی مجرور جار بالاسناد **سوال:**
چې ده لابدي ځکه نه محلی اعراب د او کیږي خالي نهٔ نه داعراب اسم او دی اسم دا چې ده لابدي
نود راتلی نشی لفظاً کې جارمجرور مجموعه دی په اعراب نوبل جردی چې شته دلته لفظي اعراب
دی؟ څه محلی اعراب بالاسناد دې
دي. شوي واقع کې دنصب محل په دا یعنې دی نصب محلی اعراب دې د **جواب:**
مطلق. مفعول بر بنا دی دامنصوب **جواب:** یودی؟ کوم دا دی (۱۲) خو منصوبات **سوال:**
تضمن چې دی نه مذکور دفعل خومصدر اواسناد وائی ته مذکور دفعل مصدر خو مطلق مفعول **سوال:**
تضمن ای سره محذوف دموصوف اعتبار په دی مطلق دامفعول **جواب:** دی. تضمناً مصدر دهغې دی
بالاسناد. تضمناً کلمتین
واقع سره دمتعلق اعتبار په نو کېږي واقع څه کې ترکیب په چې جارمجرور چې دی دا قانون **سوال:**
په وائی متعلق یې به یا او پورې، تضمن په وائی متعلق یې به یا دی، متعلق پورې چا په دا نو کیږي

تضمناً پورې که په تضمن پورې متعلق شي نو تقديم د صفت راځي په موصوف باندې اوداند ی جائز
ځکه چې داتضمن فعل سره دمتعلق نه صفت دتضمنا شو او که متعلق ئې کړی په تضمناً پورې نو
توصيف د شي بنفسه راځي يعني لازم شوکون د شي واحد هم موصوف اوهم صفت ځکه داتضمنا سره
دمتعلق نه صفت واقع شود تضمناً لپاره.

جواب: دانه متعلق دی په تضمن پورې اونه متعلق دی په تضمناً پورې بلکه متعلق د دې محذوف دی
چې حاصلاً دی نو حاصل سره د دې متعلق نه صفت واقع شوي دي دتضمنا لپاره تقدير د عبارت داسې
دی چې تضمن كلمتين تضمناً حاصلاً بسبب اسناداحدى الكلمتين الى الاخرى بيا دا تضمنا حذف شو
او دا صفت قائم شو په مقام دموصوف باندې بيا هغهٔ متعلق حذف شوي دی او دا جارمجرور قائم
شوی دی په مقام دهغې باندې نوځکه ورته مونږ مفعول مطلق وايو نيابةً ځکه قانون دا دی كل شئ
وقع فی محل غيره فله حكم الغير بيا دا سبب هم حذف شو ځکه دا باء لپاره د سببيت ده دلالت کوی په
هغې باندې اواحدى الكلمتين الى الاخرى هم حذف شو او د هغې په عوض کې الف لام راوړی شو په
الاسناد کې، اوس په دې سره تعريف د اسناد هم معلوم شوچی نسبت دمدلول د يوې کلمې دی مدلول
د کلمې اخرى ته چې مفيد د فائدی تامی وی مخاطب ته په دې شان سره چې متكلم په دې تلفظ وکړی
او چپ شی نو مخاطب منتظر نه وی په معنی او مضمون د اصل معنی د کلام کې لکه زيد قائم شو

سوال: نحات چې څنګه بحث کوی د کلام نه نو دارنګې بحث د جملې نه هم کوی نو پکاروه چې مصنف
د جملې تعريف هم کړی وی. **جواب:** په جمله او کلام کې مذهبين دی (١) يومذهب د صاحب مفصل او د
صاحب دلباب دی (٢) او بل مذهب دصاحب دتسهيل دی، د صاحب مفصل او صاحب د لباب په نيز
باندې دا دواړه مرادفين دی او تعريف د يو مرادف مستلزم دی تعريف د مرادف اخر لره لکه اسد او
غضنفر مرادفين دی، اوصاحب دمفصل په نيز باندې په دې کې فرق دی کلام: ما تضمن كلمتين
بالاسنادالمقصود لذاته ته وائی اوجمله ما تضمن كلمتين بالاسناد مطلقاً ته وائی يعنې که مقصود
لذاته وي او که نوی نو د ده په نيز باندې په مينځ د کلام اوجمله کې نسبت دعموم خصوص مطلق دی
جمله اعم مطلق او کلام اخص مطلق دی. (١) ماده اجتماعی لکه زيد قائم (٢) ماده افتراقی دجانب د
جملې نه چې کله يوه جمله حال واقع شی يا صفت دموصوف وی يا خبر د مبتدأوی لکه زيد ابوه قائم
وغيره نو دلته دا ابوه قائم جمله ده او کلام نه دی ځکه چې دلته دانسبت ابوه قائم مقصود لذاته ندی،
بلکه مقصود دلته ثابتول دقيام الاب دی دزيدلپاره او په نيزدمصنف باندې مختار مذهب دصاحب
مفصل او صاحب لباب وو، اودهغوی په نيز تعريف د کلام مستلزم دی تعريف د جملې لره لهذا د
جملې لپاره يې مستقل تعريف ونه کړو.

سوال: په مينځ د کلمه او کلام کې څه نسبت دی؟ **جواب:** دا دی چې په دې کې په اعتبار د مفهوم لغوی
سره مساوات دی دواړه ما يتكلم به ته وائی اوپه اعتبار د مفهوم اصطلاحی سره په دې کې نسبت
دتباين دی اوس په دې سره دفع ديوبل اعتراض وشوه، اعتراض دا دی چې كلمه لفظ وضع الخ ته وائی

او کلام ما تضمن الخ نه وائی د دې نه معلومه شوه چې په مینځ دکلمه او کلام کې تبائن دی دیواطلاق په بل باندې نه کیږي، حالانکه لا اله الا الله ته کلمه طیبه ویل کیږي حالانکه دا خوکلام دی نواطلاق دکلمه وشو په کلام باندې دارنګې په دې قول دالله جل جلاله کې چې ﴿كَلَّاۤ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا﴾ دلته اطلاق دکلمة شوي دي په دې قول چې ﴿رَبِّ ٱرۡجِعُونِ﴾ دی اودا کلام دی **جواب:** په دې کې نسبت دتبائن دی په اعتبار د مفهوم داصطلاحی سره اودلته اطلاق دکلمه په دې کلام باندې شوي دي لغة نه اصطلاحاً په هر تعریف کې لابدی وی دجنس او فصل نه ما عبارت دی د لفظ نه دا جنس دی **تضمن کلمتین** فصل اول دی په دې سره خارج شو د دې نه مفردات اومهملات، اوبالاسناد فصل ثانی دی په دې سره یې احتراز وکړو د مرکبات غیر کلامیه ؤ نه چې هغه اته قسمه دی (۱) مرکب اضافی (۲) مرکب توصیفی (۳) مرکب صوتی (۴) مرکب منع صرف (۵) مرکب عطفی (۲) مرکب بنائی تعدادی (۷) مرکب بنائی غیرتعدا دی (۸) شبه جمله ځکه چې داخالي وی داسناد نه

ولایتاتی ذلك الافی اسمین اواسم وفعل: ربط: هرکله چې فارغ شو مصنف دبیان دتعریف د کلام نحوی نه نو شروع یې وکړه په تقسیم د کلام نحوی کې قسمینو ته نو وی ویل چې ولایتاتی الخ ځکه تقسیم د متمماتو او مکملاتو د تعریف نه دی په تعریف سره معلومیږي معنی او مفهوم د شي اوپه تقسیم سره معلومیږي افراد او مصداق د شي نو پس دتقسیم نه به موثرته کلام نحوی معلوم شی مفهوماً او مصداقاً او هر کله چې کلمه منحصره وه په اقسام ثلاثه ؤ کې حصر عقلی سره په دې شان سره چې عقل مجوز د قسم اخر نه وو نو اتیان ونه وکړو مصنف په اداتو دحصر باندې لفظاً په تقسیم دکلمه کې، او هر کله چې حصر د کلام په دې قسمین کې حصر تتبعی وو نه عقلي، ځکه په ترکیب ثنائی عقلی کې عقل مجوز د قسم اخر دی ځکه چې دا ترکیب ثنائی عقلی رسیږي اقسام سته ؤ ته عقل وائی چې کلام دې شپږ قسمه راشی **اسم اسم. فعل فعل. حرف حرف. اسم فعل. اسم حرف. فعل حرف.** پس اتیان وکړو مصنف په ادات دحصر باندې لفظا لپاره دنفی د ماعداء صراحتاً اوهرکله چې طالبان خالي الذهن وونو مصنف القاء دساده کلام وکړه او وې ویل چې ولایتاتی ذلك اووذلك لایتاتی یې ونه ویل اوهر کله چې جارالله زمخشري دا طالبان خالي الذهن نازل کړه منزلی د مترددینو ته نو القاء د کلام مؤکد ورته وکړه نو وې ویل چې وذلک. لا یتاتی الخ اومنادی داخل دی په قسم ثانی کې نوحصر د کلام په قسمینو کې وران نه شو.

تشریح: ربط د ماقبل سره څه دی او غرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط د ما قبل سره دا دی چې د دې ځای پورې مصنف تعریف د کلام نحوی وکړواواوس تقسیم د کلام دی، دا عبارت په تعریف کې هم نه دی کړی داخل او غرض په دې سره بیان دحکم هم نه دی

سوال: په تعریف سره موثر کلام ویپژندو نوتقسیم یې ولې کوی؟

جواب: دتعریف نه وروسته یې تقسیم وکړو ځکه چې تقسیم دمتمماتو اومکملاتو دتعریف نه دی

سوال: تقسیم دمتمماتو اومکملا تو دتعریف نه ولې دی؟

جواب: ځکه چې په تعریف سره معلومیږي معنی او مفهوم د شي اوپه تقسیم سره معلومیږي افراد او مصداق د شي، نوپس دتقسیم نه به دا کلام موثر ته معلوم شی مفهوما ومصداقاً

سوال: فرض منصبی دمصنف اختصار دی، نو پکار وه چې داسې یې ویلی وی ولایتاتی الافی اسمین، یعنې په دې یتاتی کې به یې ضمیر مستتر کړی وی هغه به راجع وی کلام ته نو د دې لپاره یې فاعل اسم ظاهر ولې واقع کړو (۲) دامقام مقام دضمیر دی ځکه قانون دا دی چې شی چې ذکر شی یوځل صراحتاً نوثانیاً ذکرکولی شی په ضمیرسره او کلام مخکې ذکرشوي دي نو پکار وه چې ضمیر یې ورته راجع کړی وی په یتاتی کې؟ اسم اشاره ئې فاعل واقع کړو دیتاتی لپاره نه ضمیر لپاره د تعین د فاعل دیتاتی ځکه دا ذلک اسم اشاره ده مشار الیه بعید غواړی نو یدی سره اشاره کلام ته وشوه نوتقسیم په کلام کې راغلو او که ضمیریې فاعل ګرځولی وی دیتاتی لپاره نو هغه ضمیر دغائب دی تقاضه دمرجع کوی او د مرجع د دې کې درې احتماله دی. (۱) کلام (۲) تضمن (۳) اسناد . نو مصنف به ضمیر راجع کړی وو کلام ته او مخاطب به راجع کولی اسناد ته ځکه اصل په مرجع کې قرب دی او قریب اسناد دی.

سوال: ضمیر چې راجع شی اسنادته څه نقصان راځي؟ **جواب:** که راجع شی اسناد ته نولازمیږی تقسیم په جزء د تعریف کې حالانکه تقسیم په معرف کې کیږي نه په جزء دتعریف کې.

سوال: دا کتاب ستا مختصر دی دمفصل د جار الله زمخشري نه اوجار الله په مفصل کې ویلی دی چې وذلک لایتاتی الافی اسمین نو تا ذلك ولې وروسته کړو؟

جواب: مصنف ولا یتاتی ذلک وویل یعنې مسند الیه مقدم نه کړو په مسند فعلی باندې ځکه چې تقدیم د مسند الیه په مسند فعلی باندې دتقوی او د حصر لپاره کیږي اوتقوی یاحصر په کلام کې هله کولی شی چې مخاطب منکر وی یا شکی وی اودلته طالبان خالي الذهن وونو مصنف ورته القاء دساده کلام وکړو او دا کلام یې مؤکد ونه ګرځوو په تقدیم دمسند الیه سره لپاره د دې چې دا کلام دده موافق شی د مقتضی دحال دمخاطب سره، که مثلاً ستا مخاطب خالي الذهن وی دقیام زیدنه نو هغه ته به زید قائم وائی یعنې القاء دساده کلام به ورته کوی او که شکی وو یا منکر وو دقیام دزیدنه نو ان زیدأقائم به ورته وائی، که ته ځان ته بلیغ وائی.

سوال: چې هر کله طالبان خالي الذهن وو نو بیا جار الله زمخشری صاحب ورته القاء د کلام مؤکدولی وکړه حالانکه هغه خو هم فصیح او بلیغ وو؟

جواب: جار الله زمخشری دا خالي الذهن طالبان نازل کړی دی منزله دمترددینو نوالقاء د کلام مؤکدیې ورته کړیده اوخالي الذهن مخاطب نازلولی شی منزلی دشکی اومتردد ته هله چې مخکې ورته دی متکلم القاء دیو کلام کړی وی چې دهغې نه دی مخاطب ته جنس خبر معلوم شوی وی، خو دهغې نوع ورته نوی معلومه نوګویا چې دا متردد دې په دغه نوع کې نوځکه ورته القاء د کلام مؤکد کولی شی لکه نوح علیه السلام ته الله جل جلاله القاء د کلام مؤکد کړیده چې ﴿إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ﴾ اګرچې نوح خالي الذهن وو لیکن مخکې ورته یو کلام ذکر شو چې ﴿وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ نو نوح ته د دې کلام نه جنس خبر معلوم شو چې په دې خلقو باندې هلاکت راځي خو دهغې نوع ورته نه وه معلومه

چې ایا دا به په ضمن دغرق کې وی که په ضمن دصیحه کې به وی که په ضمن دصاعقه کې به وی، که په ضمن دخسف کې به وی، نوالله تعالی دنوح علیه السلام نازل کړو منزلی دشکی او متردد ته او القاء د کلام مؤکد یې ورته وکړه دارنګې جارالله زمخشري صاحب هم مخکې یو کلام ذکر کړو چې الکلام ماتضمن کلمتین نود دې نه سامع ته جنس خبر معلوم شو چې کلام به په ضمن ددوه کلمو کې موجودیږی لیکن نوع ورته نه وه معلومه نو په دې کې شکیان اومترددین شو نوالقاء د کلام مؤکد یې ورته وکړه

سوال: یتاتی ماخوذ دی داتیان نه د دې نسبت کلام ته نه دی صحیح ځکه د دې نسبت کیږي ذوی الاجسامو او ذوی الارواحوته؟ **جواب:** دا اعتراض به تاهله کولی چې داپه خپله معنی سره وی لیکن په دې کې مجاز دی ذکر دملزوم دی چې اتیان دی اومراد ترینه حصول دی لایحصل معنی سره شو

سوال: مصنف په تقسیم دکلمه کې ادات دحصر ذکر نکړه لفظاً اوپه تقسیم د کلام کې یې ادات دحصر ذکر کړه دا ولې؟ **جواب:** هرکله چې کلمه منحصره وه په دې اقسام ثلاثه ؤ کې په حصر عقلي سره نو اتیان یې ونه کړو په ادات دحصر باندې لفظا ځکه ضرورت ورته نشته اوحصر د کلام په دې قسمینو کې حصر تتبعی دی اوعقل مجوز دقسم اخر وو ځکه عقل تقاضه کوی چې کلام دی شپږ قسمه راشی نو ځکه اتیان وکړو مصنف په ادات دحصر باندې لپاره دنفی دماعداء، اوس هرکله چې عقل مجوز د اقسام سته ؤ دی نو په واقع کې صرف دوه قسمه ولې راځي، نودهغې وجه دا ده چې په تعریف د کلام کې اسناد معتبردی اواسنادنه موجودیږی مګر په ضمن د اسمیتو کې یا په ضمن د اسم اوفعل کې نو کلام هم دغه دوه قسمه شو او اسناد یو نسبت دی طرفین غواړي چې مسنداومسندالیه دی اودا طرفین صرف په اسمینو یا اسم او فعل کې متحقق کیږي نه په غیر کې

سوال: زید قائم کلام دی اواسمین هم دغه زید اوقائم دی نو دا خوظرفیت د شي لنفسه راغی؟

جواب: دا ظرفیت دخاص دی لپاره دعام یعني نه موجودیږی دا کلام مګر په ضمن د اسمینو کې په دی شان سره چې یومسندالیه او بل مسند وي، یا په ضمن د اسم اوفعل کې په دې شان سره چې اسم مسند الیه وي اوفعل مسند وی نوپدی سره دفع داعتراض وشوه اعتراض دا دی چې غلام زید اسمین دی او کلام نه دی دارنګې ضربك کې یواسم دی او بل فعل دی او کلام ندی

جواب: مطلق اسمین یا مطلق اسم او فعل نه دی مراد بلکه مراد هغه اسمین دی چې یو مسندالیه وی او بل مسند وي، او اسم مسندالیه وی او فعل مسند وی، او دلته مسندالیه او مسند نشته بیا نسخې د کافیې په دې مقام کې دوه قسمه دي بعضو کې اسم مقدم دی او بعضو کې فعل مقدم دی وجه دا ده په کومه کې چې اسم مقدم دی نو هغې لحاظ کړی دی د اصالت ځکه اسم اصل دی د فعل نه او کومه کې چې فعل مقدم دی نو هغې کې لحاظ داستعمال شوی دی ځکه جمله فعلیه کې فعل مقدم وی د اسم نه

سوال: حصر د کلام په دې قسمینو کې باطل دی د وجې د وجود د قسم اخر نه چې یا زید دی دا جوړ دی د اسم او د حرف نه؟

جواب: دا داخل دی په قسم ثانی کښې چې من فعل واسم دی څکه دا اصل کښې ادعوا زیدا وو نو ادعوا فعل مع الفاعل حذف شوي دي او دا یاء قائمه شوې ده په مقام د هغې باندې

سوال: فعل مستقل دی او حرف غیر مستقل دی نو غیر مستقل څنګه قائم شو په ځای د مستقل باندې؟

جواب: اقامت دحرف نداء په مقام دفعل کښې سماعی دی په دې کښې عقل لره څه دخل نشته

(۲) حرف نداء په مقام دفعل کښې نه شي قائمیدی بې دمعاونت نه او دلته حرف نداء قائمه شوې ده په مقام دفعل کښې په معاونت د منادی سره.

الاسم ما دل علی معنی فی نفسه: هرکله چې مصنف دبیان دتعریف او د تقسیم د کلمې اوډ کلام نه نو شروع کړه په بیان دتعریف داقسامو دکلمه کښې تفصیلاً نو وې ویل الاسم الخ. اسم په لغت کښې علو یا علامې ته وائی بنا بر اختلاف مذهبین، او په اصطلاح دنحویانو کښې یوه کلمه ده داسې کلمه چې دلالت کوي دغه کلمه او تذکیر دضمیر په اعتبار دلفظ د ما سره دی اوس دا کلمه په څه دلالت کوی (**علی معنی فی نفسه**)

(۱) په یو معنی باندې داسې معنی چې کائنه ده په نفس د دې کلمه کښې اوتذکیر دضمیر په اعتبار د لفظ د ما سره په دې شان سره چې دا کلمه په دلالت خپل کښې په دې معنی باندې محتاج نه ده انضمام د کلمې اخری ته اومخالفت نه لازمیږي په مینځ دمأخوذ اومأخوذمنه کښې څکه کینونت دمعنی فی نفس المعنی او کینونت دمعنی فی نفس الکلمة مقصد یو دی چې استقلال بالمفهومیت دی او مقابله دحرف سره هم صحیح شوه څکه دلته معنی کائنه ده په نفس دکلمه کښې د دې مطلب دا دی چې دا معنی مستقله ده، او هلته معنی کائنه ده په غیر دکلمه کښې نو معنی دا ده چې غیر مستقله بالمفهومیت ده. (۲) یا هسې معنی چې کائنه ده په نفس د دې معنی کښې په دې شان سره چې دا معنی په مفهومیت او مدلولیت کښې د دې کلمې نه محتاج نده انضمام د کلمې اخرې ته بلکه فقط د دې کلمې نه فهمیږی او مخالفت نه لازمیږی په مینځ داجمال اوتفصیل کښې څکه چې کینونت د معنی فی نفس الکلمة او کینونت دمعنی فی نفس المعنی مآل او مقصد یو دی چې استقلال بالمفهومیت دی او مقابله د حرف سره هم صحیح شوه الخ

تشریح: په لفظ د اسم کښې لابدی ده دمعرفت دامور عشره ؤ نه: (۱) مفهوم لغوی (۲) مفهوم اصطلاحی (۳) وجه دتسمیه (۴) معرفت داصل (۵) معرفت دباب (۶) معرفت دوزن (۷) معرفت دلغات (۸) معرفت د علاماتو (۹) معرفت داقسامو (۱۰) معرفت دمثال، په دې کښې داپنځه خبری اتفاقی دی، معنی اصطلاحی، لغات، اقسام، علامات، مثال، څکه بصریین هم د دې تعریف داسې کوی چې کلمة تدل علی معنی فی نفسها غیر مقترن باحد الازمنة الثلاثة، اودبصریین او کوفین دواړو په نیز باندې په دې کښې اته لغات دی اِسمٌ سُمٌ، سُما اوعلامات هم د دواړو په نیز باندې الف لام جرتنوین الخ دی، اود دواړو په نیز باندې اسم دوه قسمه دی (۱) معرب (۲) مبنی. اومثال هم د دواړو په نیز باندې زید عمرو بکر دی او په دې باقی پنځه خبروکی اختلاف دی، بصریان وائی چې اسم مأخوذ دی د سما یسمو سمو نه ناقص واوي په اصل کښې سمو وو بیا واو حذف شو او په اول کښې یې همزه راوړی شوه نواسم شو بروزن افع په لغت کښې علو ته وائی او اسم اصطلاحی ته اسم څکه وائی چې عالی دی د خپلو اخوینو نه چې فعل او حرف دی او کوفیان وائی چې اسم مأخوذ دی دوسم یسم وسمانه.

(مثال واوي دی) اصل کې وسم وو واو حذف شو او په اول کې یې همزه راوړی شوه نو اسم شو بر وزن اعل او اسم په لغت کې علامې ته وائی او اسم ته اسم ځکه وائی چې داعلامه ده په خپل مسمی او مدلول باندې، لیکن مذهب د بصرینو غوره دی د مذهب د کوفینو نه ځکه یو خو په وجه د تسمیه د کوفینو باندې اعتراض واردیږی چې فعل اوحرف خوهم علامه ده په خپل مسمی او مدلول باندې نو بیا هغې ته هم اسم ووایه لیکن هغه جواب کوی چې په وجه دتسمیه کې اطراد شرط نه دی او بل د دې وجی نه چې دا مدعی دبصرینو مبرهنه ده اومدعی دکوفینو غیر مبرهنه ده، ځکه بصرین وائی چې دا اصل کې سمو وو په دې دلیل تصغیر اوجمع تکسیره ده چې تصغیر د دی سُمَي دي چې په اصل کښی سمیو وو د دی اسماء ده چې اصل کې و وو دا دلالت کوی په دې باندې چې دا ناقص واوي دی او که دا په اصل کې وسم وی نو بیا پکار وه چې د دې تصغیر وسیم راغلی وی او جمع یې او سام راغلی وی حالانکه داسې خو نه دی راغلی نو لهذا مذهب دبصریین غوره دی.

الاسم: کی الف لام عهدی خارجی ذکری صریحی دی ځکه په دې سره اشاره ده ماهیت دمدخول ته په ضمن دیو فرد کی چې معلوم دی متکلم اومخاطب ته چې مخکې ذکرشوي دي په تقسیم دکلمه کی

سوال: په تعریف د اسم کې چې دا ما ذکر دی دا عبارت د چا نه دی یا به یې عبارت وایې د اسم نه یا به یې عبارت وایې د لفظ نه، یا به یې عبارت وایې د شي نه، یا به یې عبارت وائی دکلمة نه یو هم نه دی صحیح ځکه که عبارت شی د اسم نه نو اخذ د محدود راځي په حد کې او که عبارت شی د شي نه نو داخل شو په کې دوال اربعه ځکه هغه یو شی دی چې دلالت کوي په معنی فی نفسه باندې اواسم نه دی او که عبارت یې اخلی دلفظ نه نو هم نه دی صحیح ځکه چې داخل شو په کې زید قائم یعنې جمله او کلام ځکه دا یو لفظ دی چې دلالت کوی علی معنی فی نفسه او اسم نه دی او که عبارت یې اخلی د کلمة نه نو مطابقت نه راځي بین المرجع والضمیر بیا دلت ویل پکار وو؟ **جواب**: دا عبارت دی دکلمة نه اوتذکیر دضمیر په اعتبار دلفظ د ما سره دی ځکه دا ما په اعتبار د مصداق سره مؤنث دی په دې مقام کې خو په اعتبار دلفظ سره مذکر دی، اوس دا ما عبارت د کلمې نه ولې دی نو ځکه (۱) چې کلمه مقسم دی د اسم فعل حرف لپاره اومقسم معتبر وی په تعریفاتو داقسامو کې.

(۲) دویم د دې وجی نه چې معتبر په تعریفاتو کې جنس قریب وی اوجنس قریب د اسم لپاره کلمه ده او په تنکیر دکلمة کې اشاره ده دیته چې داما موصوفه دی ځکه چې واقع دی په جانب د خبر کې **علی معنی** اوس دا کلمه دلالت په معنی باندې ولې کوی نو ځکه کلمه ویلی کیږي لفظ وضع لمعنی مفرد ته اوس دلالت به څنګه کوی نو دلالت به کوی په دلالت لفظی وضعی سره.

سوال: دا قسم دلالت به ولې کوی؟ **جواب**: ځکه چې کلمه یولفظ دی اووا ضع وضع کړی دی د معنی لپاره نو هغه باقی ترې خارج شولکه اح اح وغیره هغې ته اسم نه وائی ځکه هلته وضع نشته

سوال: دلالت لفظی وضعی خودری قسمه دی دلته کوم یومراد دی؟

جواب: داعام دی که مطابقی وی که تضمنی وی، او که التزامی وی. لکه انسان اسم دی نو دلالت کوی په حیوان ناطق باندې په دلالت مطابقی سره اودلالت کوی په حیوان یا ناطق باندې بالتضمن او دلالت کوی په ضاحك یا کاتب باندې بالالتزام **فی نفسه**. دا جارمجرور دی اودیته ظرف هم وائی، اوظرف په دوه قسمه دی. (۱) ظرف لغوه (۲) مستقر دا کوم یودی نوبعض شارحین وائی چې داظرف لغوه دی متعلق دی په دل پورې ځکه اصل په ظرف کې ظرف لغوه دی. او جامی صاحب وایي چې دا ظرف مستقر دی متعلق دی په کائن پورې.

سوال: په جامی صاحب باندې اعتراض دی چې اصل په ظرف کې ظرف لغوه دی، نوته دیته مستقر ولې وائی؟ **جواب:** اصل ظرف لغوه دی خوهله چې ظرف لغوه جوړیدو اودلته ظرف لغوه نه جوړیږي ځکه چې دافی انکار کوی دتعلق نه په دل پورې ځکه په صله د دلالت کې علی راځي یا باء راځي لکه دل به اودل علیه اوفی نه راځي په صله د دلالت کې هغه بعض شارحین وائی چې دلته دافی په خپله معنی نده بلکه دابمعنی الباء ده اوحروف جاره بعض راځي په معانی د بعضو سره اوس في چې بمعنی الباء شی نوهیڅ اشکال نشته لیکن جامی صاحب وائی چې فی په معنی دباء سره شی نو دی کې مجاز لازمیږي په تعریف کې اوداندی صحیح ځکه چې تعریف بنا وی په حقیقت نه په مجاز بیا هغه شارحین اعتراض کوی په جامی صاحب باندې چې تقدیر خو هم خلاف الاصل دی.

جواب: تقدیر اګر خلاف الاصل دی خوشائع دی اوکثیر دی په استعمال د کلام دعربوکی، اوس دا فی نفسه جارمجرور په ترکیب کې څه واقع شوي دي نوپه دی کې دوه مذهبه دی (۱) بعض وائی چې دا حال دی دمعنی نه خو جامی صاحب وائی چې داحال نه دی بلکه صفت دی دمعنی لپاره ځکه چې یو خو معنی نعتی جزیله ده د معنی حالی نه او فوائد د نعت زیات دی د حال نه. (۲) او بل د دې وجی نه چې په تعریف کې جنس فصل وی نو ما دل علی معنی جنس دی او في نفسها فصل اول دی او غیر مقترن الخ فصل ثانی دی او که داحال شی نو بیا دا دل جنس نه شو بلکه فصل شوځکه حال قید وی دعامل د ذوالحال لپاره نو بیا حرف په دې دل سره خارج شو.

سوال: په فی نفسه کې دا ضمیر غائب دی دا تقدم دمرجع غواړي او په مرجع د دې کې درې احتماله دی

(۱) یو دا چې راجع شی اسم ته (۲) دا چې راجع شی ماته چې عبارت دی د کلمة نه.

(۳) دا چې راجع شی معنی ته که اسم ته راجع شی نو په دی کې پنځه نقصانه لازمیږي

(۱) یو خو اخذ دمحدود راغی په حد کې (۲) دا چې ظرفیت د اسم دمعنی لپاره ند ی صحیح

(۳) لازم شو مخالفت بین الاجمال والتفصیل ځکه هلته ضمیر کلمة ته راجع وو اودلته اسم ته راجع شو

(۴) لازم شومخالفت بین المأخوذ والمأخوذ منه (۵) مقابله دحرف سره صحیح نه شوه ځکه دلته ضمیر راجع شو اسم ته نومعنی دا چې اسم یوه کلمه ده چې دلالت کوی په هغه معنی چې نفس د دې اسم کې ده نوهلته به ضمیر حرف ته راجع وی نومعنی به داوی چې حرف یوه کلمه ده چې دلالت کوی په هغه معنی چې په غیر د دې حرف کې ده نود دې څه معنی شوه او که ضمیر راجع شی کلمة ته نو دې کې

څلور نقصانه دي. (١) مطابقت نشته بين المرجع والضمير (٢) ظرفيت د کلمه دمعنى لپاره نه دي صحيح څکه ظرف يا زمان وي او يا مکان وي اودلته يوهم نه دی (٣) مخالفت راغلو بين المأخوذ والمأخوذمنه (۴) اومقابله د حرف سره هم نه صحيح کيږي. او که ضمير فى نفسه راجع شى معنى ته نو په دې کې درې نقصانات دی (١) يو دا چې ظرفيت د شي لنفسه راغى او دا باطل دی څکه په ظرف اومظروف کې مغائرت شرط دی د دې داسې مثال دی لکه ته ووائې چې (الماء فى الماء)

(٢) مخالفت راغلو بين الاجمال والتفصيل څکه چې په اجمال کې داضمير راجع شوی وو په فى نفسها کې کلمة ته او دلته راجع شومعنى ته. (٣) اومقابله دحرف سره هم صحيح نه شوه څکه د دې معنى داشوه چې اسم يوه کلمه ده چې دلالت کوی په يومعنى داسې معنى چې کائنه ده په نفس د دې معنى کې نو هلته به معنى داشى چې حرف يوکلمه ده چې دلالت کوی په يوه معنى باندې داسې معنى چې کائنه ده په غير دمعنى کې اود دې څه معنى اومطلب نه جوړيږی

جواب: دا ضمير اسم ته نه دی راجع بلکه دا يا راجع دی ما ته چې عبارت دی دکلمة نه او که ته وائى چې مطابقت نشته راجع اومرجع کې نو جواب دا دی چې تذکير دضمير په اعتبار دلفظ د ما سره دی او که ته وائى چې ظرفيت نه صحيح کيږي. نو زه وايم چې دا اعتراض به تا هله کولی چې دا في دلته د ظرفيت دپاره دی ليکن في دلته د ظرفيت دپاره نه ده بلکه دا کينونت د معنى في نفس الکلمة عبارت دی د استقلال بالمفهوميت نه په دې شان سره چې دا کلمه په دې معنى باندې دلالت کوی بالذات او محتاج نه ده په فهم کې امر آخر ته نو حاصل دا شو چې مراد د ظرفيت نه ظرفيت تشبيهي دی نه حقيقي، لکه څنګه چې ظرف حقيقي په اشتمال على المظروف کې مستقل وي او محتاج نه وي امر آخر ته نو دارنګې دا کلمه هم په دلالت على المعنى کې مستقله ده او محتاج نه ده انضمام د کلمه اخرى ته. او که ته وائې چې مخالفت راغلو د ماخوذ منه نه څکه چې جارالله زمخشري رحمه الله په مفصل کې ضمير معنى ته راجع کړی دی نو جواب دا دی چې مخالفت د ماخوذ منه نه نه دی راغلی څکه چې ارجاع د ضمير معنى ته يا کلمه ته مآل او مرجع د دواړو يو دی يعنې د کينونت د معنى في نفس المعنى او کينونت د معنى في نفس الکلمة يو مقصد دی چې استقلال بالمفهوميت دی او مقابله د حرف سره هم صحيح شوه څکه دا عبارت دی د استقلال بالمفهوميت نه او هغه عبارت دی د عدم استقلال بالمفهوميت نه يعنې هغه محتاج دی انضمام د کلمه اخرى ته. يا راجع دی معنى ته او کينونت د معنى في نفس المعنى عبارت دی د استقلال نه نو مخالفت د اجمال سره رانغلو څکه هلته ضمير راجع وو کلمه ته او کينونت د معنى في نفس الکلمة هم عبارت وو د استقلال بالمفهوميت نه نو مآل او مرجع د دواړو يو دی او مقابله د حرف سره هم صحيح ده څکه چې کينونت د معنى في نفس المعنى عبارت دی د استقلال نه او هلته عدم کينونت د معنى في نفس المعنى عبارت دی د عدم استقلال نه

غير مقترن باحد الازمنة الثلاثة: دا لفظ د غير چې ذکر شوی دی په دې تعريف د اسم نحوي اصطلاحي کې دا صرف صورة او نقش د دې غير بې د جريان د اعراب نه په دې باندې مثلث الاعراب دی په شان د لفظ د

مفرد باندې چې ذکر وو په تعریف د الکلمة کې یعنې څنګه چې لفظ د مفرد کې رفع لولستل نصب لوستل جر لوستل درې واړه صحیح وو نو دارنګه دا لفظ د غیر په دې مقام کې مرفوع منصوب او مجرور درې واړه ویل صحیح دي، (۱) مجرور لوستل څکه صحیح دي چې دا صفت دی د معنی دپاره بعد صفة، یعنې یو صفت یې في نفسه وو عند الجامي او دا یې بل صفت شو نو معنی یې دا شوه چې اسم هغه کلمه ده چې دلالت کوي په یو معنی باندې داسې معنی چې مقترنه نه وي په یو د ازمنه ثلاثه و پورې (۲) یا منصوب دی (یعنې غیر مقترن) او د نصب دپاره درې وجې دي یا مفعول به دی د فعل مقدر دپاره نو تقدیر د عبارت، به دارنګې شي چې اعني غیر مقترن باحد الازمنة الثلاثة خو دا خلاف الظاهر دی نفس جائز خو څکه دی چې د وجې د عدم فساد د معنی نه او خلاف الظاهر دی، نفس جائز خو څکه دی چې د وجې د عدم فساد د معنی نه او خلاف الظاهر څکه دی چې مناسبت یې نشته د ماقبل سره او بل دا چې عبارت بنا کیږي په تقدیر باندې او تقدیر خلاف الاصل دی یا دا غیر مقترن منصوب دی بنا بر استثنائیت د ما دل علی معنی في نفسه نه، او دا مسئله به وووستو راشي چې مستثنی متصل چې واقع شي په کلام موجب کې نو دا منصوب وي وجوباً، دارنګې دا لفظ د غیر چې واقع شي په ځای د دغه الا باندې نو دا به هم منصوب وي یا دا غیر مقترن منصوب دی بنا بر حالیت د معنی نه یعنې په حال کون د دې معنی کې چې مقترن به نوی دیو دازمنه ثلاثه و سره.

سوال: حال خو یا د فاعل نه وي او یا د مفعول به نه وي او دا معنی خونه فاعل دی اونه مفعول به؟

جواب: دا مفعول به عام دی که صریحی وی او که غیر صریحی وی دلته دا علی معنی مفعول به غیر صریحي دي نوحال واقع کیدل ترې صحیح دی.

سوال: قانون دا دی چې حال چې واقع شي دذوالحال نکره نه نو تقدیم دحال واجب دی په ذو الحال باندې کما فی الحدیث (من عادی لی ولیاً فقد اذنته بالحرب) دلته کې حال واقع شوی دی د ولیا ذوالحال نکره نه نو مقدم شوی دی په هغې باندې اودلته خو دا نه ده مقدم شوې؟

جواب: دا تقدیم واجب دی خو بخلاف الظرف یعنې کله چې دا ذوالحال نکره ظرف نه وو واقع شوی او دلته ذوالحال ظرف دی (۲) دا تقدیم واجب دی هله چې حالیت په کې متعین وو اودلته حالیت متعین نه دی بلکه نور احتمالات په کې هم شته، اومرفوع لوستل هم جائز دی (۳) څکه چې داخبر بعد الخبر دی دالاسم لپاره یعنې الاسم مبتدأ ده اوما دل علی معنی فی نفسه یې خبر اول دی اوغیر مقترن یې خبر ثاني دی (۴) یا داخبر دی دمبتدأ محذوف لپاره چې هو دی نو تقدیر د عبارت به دارنګې شي چې هو غیر مقترن الخ بیا مبتدأ سره دخبر نه جمله خبریه اسمیه صفت واقع شوي دي د ما لپاره که ما موصوفه شي یا صله واقع شوې ده د ما لپاره که موصوله شي بیا موصول سره د صلې نه یا موصوف سره دصفت نه خبر واقع شوي دي دمبتدأ لپاره چې ص . . شي دمعنی لپاره نو معنی دا ده چې داسې معنی چې دا معنی به نه وی مقترنه په فهم کې لفظ داله نه په دې معنی باندې په اعتبار د هیئت سره، او په اعتبار د اصل وضع سره په یو د ازمنه ثلاثه و مخصوصو باندې چې ماضی حال استقبال دی او

اقتران د زمانينو مستلزم دی اقتران د زماني واحدی لره او چې حال شی د علی معنی نه نو معنی به دا وی چې په حال کون د دې معنی کې چې دا به نه وی مقترن الخ یا معنی دا ده چې قصد کوم زه په دې سره غېر مقترن، او که خبر بعد الخبر شی نو معنیٰ دا شوه چې اسم یوه کلمه ده چې دلالت کوی په معنی فی نفسها اواسم غیر مقترن وی په یو د ازمنه ثلاثه ؤ پورې

سوال: دا تعریف جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شود دې نه مصدر لکه ضرب شو ځکه دا هم موجود یږی یا په زمانه ماضی کې یا حال کې یا استقبال کې او سره د دې نه چې اسم دی

جواب: مونږ وایو چې مقترن به نوی په فهم کې او دا هم په فهم کې مقترن نه دی بلکه په وجود کی مقترن دی

سوال: دا تعریف جامع نه شو افرادو لره خارج شو د دې نه ضارب الآن ضارب امس ضارب غداً ځکه دا مقترن دی په زمانه پورې په فهم کې ځکه د دې نه زمانه فهم ته راځي اوسره د دې نه چې د اسماء دیٔ؟

جواب: مونږ وایو چې مقترن به نوی په زمانه پورې په فهم کې دلفظ داله نه او دلته دا مقترن نه دی په زمانه پورې په فهم کې د لفظ داله نه بلکه لفظ داله ضارب دی او اقتران فی الفهم د الان امس اوغداً نه کیږي

سوال: دا تعریف مانع نه شو داخل شو په کې افعال مدح افعال ذم افعال تعجب ځکه هغه هم مقترن نه دی په یو دازمنه ثلاثه ؤ پورې او جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو ترې اسماء افعال ځکه هغه مقترن دي په یو د ازمنه ثلاثه ؤ پورې؟ **جواب:** مونږ وایو چې اسم دیته وائی چې مقترن به نوی په اصل وضع کې اواسماء افعال مقترن نه وو اصل وضع کې او افعال مدح الخ مقترن وو اصل وضع کې

سوال: مضارع په کې داخله شوه ځکه مقترنه نده یو دازمنه ثلاثه ؤ پورې بلکه مقترنه ده دوه زمانو پورې؟ **جواب:** اقتران دزمانینو مستلزم دی اقتران د زمانې واحدې لره

سوال: ته وائی چې اسم دیته وائی چې دلالت کوی په یو معنیٰ باندې چې مقترن به نوی دامعنی په یو شي پورې د وجې دیو دازمنه ثلاثه ؤ نه نوزید وغیره ترې خارج شو ځکه د دې عدم اقتران په یو شي پورې خو د وجې دازمنه ثلاثه ؤ نه نه دی راغلی وجه دا ده چې معترض دلته دباء نه باء سببی اخستی ده؟ **جواب:** دادای چې دا باء دلته سببی نده بلکه دا لپاره دمصاحبت ده په معنی د مع سره او علامه د دې دا ده چې د دې په ځای باندې مع ذکر کول صحیح دی

سوال: د دې معنی نه به مراد یا مطلق معنی اخلی یا به معنی مطابقی اخلی او یا به معنی تضمني اخلي او یا به التزامي اخلي، که معنی مطابقی اخلی نو بیاد دې نه اسماء بسیطه خارج شو چې معنی مطابقی ورله نه وی (۲) او مقابله دفعل سره هم صحیح نه شوه ځکه چې هلته مراد معنی تضمنی وه نه مطابقی (۳) او بل دا چې بیا فعل په دې کې داخل شو ځکه چې دفعل معنی مطابقی نده مقترنه په یو دازمنه ثلاثه ؤ پورې، او که معنی تضمنی اخلی نو بیا مقابله صحیح شوه خو اسماء مرکبه ترې خارج شو ځکه هلته معنی مطابقی غیر مقترنه ده او که مطلق معنی اخلی نو دا مطلق معنی به هم یا موجود یږی په ضمن دمعنی مطابقی کې یا په ضمن د تضمنی کې نو بیا دغه اعتراض دی

جواب: مراد مطلق معنی ده بیا یو مطلق معنی ده اویو معنی مطلقه ده نو د دې فرق پښان د مطلق شی او شی مطلق دی، مطلق شی هغې ته وائی چې دعام سره عام کیږي او د خاص سره خاص کیږي یعني موجودیږی په وجود د ټولو افرادو دعام سره او منتفی کیږي په انتفاء د یو فرد سره وشي مطلق دیته وائی چې دعام سره عام کیږي خو د خاص سره خاص نه کیږي دا مطلق معنی عامه ده که مطابقی وی او که تضمنی وی، نو که معنی د اسم مطابقی وه نو هغه به نوی مقترنه. او که معنی د اسم تضمنی وه نو هغه به نوی مقترنه. **قوله ومن خواصه دخول اللام:** هرکله چې فارغ شو مصنف دبیان دتعریف د اسم نحوی نه تفصیلا نو شروع ئې وکړه په بیان د خواصو اوعلاماتو د اسم نحوي کې لپاره دمعرفت د وجود خارجی د اسم ځکه د اسم لپاره وجودین دی (۱) وجود ذهنی (۲) وجود خارجی وجود ذهنی یې معلوم شو په تعریف سره اوس لابدي وه دمعرفت د وجود خارجی نه. او وجود خارجی پیژندی کیږي په علاماتو سره نو ځکه اوس علامات د اسم بیانوی

ترجمه: بعض دخواص معظمه ؤ مکبره ؤ د اسم نه لام تعریفی دی په اعتبار د دخول سره، ځکه چې لام تعریفی واضع وضع کړی دی لپاره دتعین د معنی مطابقی مستقلی او معنی د حرف غیر مستقله ده مطلقاً نو په حرف نه داخلیږي او معنی مطابقی دفعل هم غیر مستقله ده نوپه هغې هم نه داخلیږي نو متعین شو مدخول د دې لپاره اسم ځکه چې د اسم معنی مطابقی مستقله ده، او هر کله چې په دې تعریف دالف لام کې درې مذهبه وو (۱) مبرد (۲) خلیل (۳) سیبویه. مبرد مذهب دا دی چې همزه یواځې راځي د تعریف لپاره او دا لام ورسره راځي د دې لپاره چې التباس رانه شی د دې همزی تعریفی دهمزه استفهامی سره، او مذهب د سیبویه دا دی چې لام یواځې تعریف لپاره دی او همزه راوړی شوې ده د دې لپاره چې ابتداء بالساکن رانه شي، او مذهب دخلیل دا دی چې دا همزه او لام مجموعه لپاره د تعریف دی او هرکله چې لازمیدو په نیز د مبرد باندې حذف د عین علامه او لازمیدو په نیز دخلیل باندې حذف دجز د علامه او قانون دا دی چې **والعلامة لا تحذف ولا يتغير ولا يتبدل** نو پس مختار کړو مصنف مذهب د سیبویه نو وې ویل چې **ومن خواصه دخول اللام** اودخول ال یا دخول همزه یې ونه ویل.

تشریح: سوال: د دې ومن خواصه الخ ربط دماقبل سره څه دی؟

جواب: دا مخکې تعریف تفصیلي د اسم نحوی وو او اوس د دې ځای نه تر **وهو معرب** الخ پورې بیان د خواصو او علاماتو د اسم دی

سوال: چې تعریف د اسم یې وکړونو به تعریف سره موثره اسم وپیژندو نویکاروه چې اوس یې تقسیم د اسم کړی وی یا یې حکم د اسم بیان کړی وی نو علامات یې ولې بیانوی؟

جواب: هرکله چې وو د اسم لپاره وجودین (۱) وجود ذهنی (۲) او وجود خارجی او وجود ذهنی موثره وپیژندو په تعریف سره اوس لابدي وه دمعرفت د وجود خارجی د اسم نه لپاره د دې چې امتیاز راشی د اخوینو نه نو ذکر کړه مصنف یو څو علامات د اسم لپاره د معرفت د وجود خارجی د اسم چې د دې علامات نه په کې یوه علامه موجوده وه نو دا به اسم وی والافلا.

سوال: ستا په دې کلام کې اجتماع د نقیضینو ده، ځکه چې دا من دلته تبعیضي دی او خواص صیغه د جمع کثرتي ده نو د من نه معلومه شوه چې دا بعض علامات دي ټول نه دی اود دې صیغې نه معلومه شوه چې دا ټول علامات دی.

جواب: په کلام زما کې تناقض نشته ځکه چې دمن تبعیضي او د جمع کثرت مآل جدا جدا دی، په من سره یې اشاره وکړه دېته چې مذکور في الکتب بعض دی ټول نه دی اوپه خواص کې اشاره وکړه چې علامات د اسم په واقع کې ډیر دی حتی چې بعضو (۲) شمار کړی دی. په دې عبارت د مصنف کې چې ومن خواصه دخول اللام دی تراکیب خمسه جائزدی (۱) من خواصه جار مجرور خبر مقدم په اعتبار متعلق سره او دخول اللام مبتدأ مؤخره ده (۲) من خواصه ظرف دی اودخول اللام فاعل دظرف دی نوجمله ظرفیه شوه. (۳) من خواصه متعلق دی په ثابت پورې اودخول اللام فاعل ددغه ثابت لپاره دی نو دا شبه جمله شوه حو دا ترکیب په نیز د اخفش دی ځکه چې هغه د عمل د صفت لپاره اعتماد شرط نه وائی. (۴) من خواصه متعلق دی په ثبت مقدر پورې او دخول اللام فاعل د ثبت دی نو دا جمله فعلیه شوه. (۵) ومن خواصه مبتدأ ده او دخول اللام یې خبر دی.

سوال: جار مجرور خو په ترکیب کې مبتدأ نه واقع کیږي؟

جواب: دلته دا من بمعنی بعض دی دا من اسمي دی دا مضاف دی خواص ته نو مضاف سره د مضاف الیه نه مبتدأ او دا مابعد یې خبر شو، خواص جمع دخاصة ده پس په دی لفظ دخواص کې لاندی ده د تحقیقات ثلاثه ؤ نه (۱) تحقیق منطقی (۲) تحقیق صرفی (۳) تحقیق نحوی.

تحقیق منطقی: دا دی چې خواص جمع دخاصة ده اوخاصه ما یوجد فیه ولا یوجد في غیره ته وائی، یا تعریف د خاصی دا دی عند المناطقه چې کلية مقولة علی افراد حقیقة واحدة فقط قولا عرضیاً او خاصه بیا په دوه قسمه ده (۱) شامله (۲) غیرشامله، شامله دېته وائی چې دا ثابته وي ټولو افرادو د ذوالخاصی لره لکه ضحك بالقوة خاصه شامله د انسان ده. او غیر شامله دېته وائی چې دا شامله نوی ټولو افرادو د ذوالخاصی لره لکه ضحك بالفعل شو د انسان لپاره، او دلته مراد د خاصې نه خاصه غیر شامله ده پس اعتراض وارد نه شو په من خواصه دخول اللام باندې چې په زید او هذا باندې خو الف لام نه داخلیږي او سره د دې نه چې اسم دی نو جواب وشو چې مراد د خاصې نه غیر شامله ده.

سوال: ته وائې چې ومن خواصه دخول اللام، نو خاصه خو دېته وایي چې ما یوجد فیه ولا یوجد في غیره او لام خو په فعل کې هم راځي لکه لیضرب کې چې راغلی دی.

جواب: په اللام کې الف لام عهدی خارجی دی مراد په دی سره لام التعریف دی نه مطلق لام، پس زده کړه دا خبره چې لام اولا راځي په استعمال د کلام دعربو کې یوولس قسمه دی: (۱) لام جاره نحو المال لزید (۲) لام التاکید نحو زیدلقائم (۳) لام الابتداء نحو لزید قائم (۴) لام الامر نحو لیضرب (۵) لام الامتناع نحو لولاعلی لهلك عمر (۶) لام الجواب یعنې چې راغلی وی په جواب دلوشرطیه کې نحو قوله تعالی

﴿ لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا ﴾ (٧) لام فی جواب القسم نحو والله لاضربنك (٨) لام الاستثناء یعني لام بمعنی الا قوله تعالی ﴿ إِنْ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ ﴾ علی ترکیب (٩) لام الاحتباك او دیته لام موطنه للقسم هم وائی نحو قوله تعالی ﴿ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ ﴾ (١٠) لام البعد نحو ذلك (١١) لام التعریف عند السیبویه نحو الرجل اوس هر کله چې دلته اللام کې الف لام عهدی خارجی شو او مراد ترینه لام تعریفی دي نو دا نور ټول ترې خارج شو

سوال: ته وائی چې دخول دالف لام خاصه د اسم ده دا قاعده ستا منقوضه شوه په دی قول دشاعر

ما انت بالحکم الترضی حکومته ولا الاصیل ولا ذی الرای والجدل

دلته خو الف لام په فعل باندې داخل شوي دي؟ **جواب:** مراد د الف لام نه الف لام تعریفی حرفی دی نه موصولی او دغه الف لام موصولی دی.

تحقیق صرفی: خواص اصل کې خواصص وو بر وزن فواعل نو اجتماع د حرفینو متجانسینو راغله په کلمه واحده کې اودواړه متحرك وو نود دي اول نه مونږ حرکت وغورځوو او په ثانی کې مو مدغم کړو نو خواص شو، پس زده کړه دا خبره چې اجتماع دحرفینو متجانسینو چې راشی نو دا به خالي نوی یا به په کلمه واحده کې راغلی وی او یا به په کلمتینو کې وی، که په کلمتینو کې وه نو بیا به خالي نوی یا به دواړه متحرك وی او یا به اول ساکن ثانی متحرك وی که اول ساکن اوثانی متحرك وو نو بیا ادغام واجب دی او که دواړه متحرك وو نو بیا جواز د وجهین دی او که په کلمه واحده کې وو نو بیا ادغام واجب دی مطلقاً یعنې برابره خبره ده که اول ساکن ثانی متحرك وو او که دواړه متحرك وو او اوس چې دواړه متحرك وی نو اول به ساکن کړی شی او بیا به یې ادغام وکړی شی په ثانی کې او طریقې د ساکن کولو د دې حرف اول دوه دی (١) په نقل دحرکت سره ما قبل ته (٢) په حذف دحرکت سره په نقل سره ساکن کولی شی په دوه ځایونو کې (١) چې مخکې ترې حرف صحیح ساکن وو لکه اقشعر چې دا په اصل کې اقشعرر وو (٢) چې مخکې ترې نه حرف لین وو لکه (یود) اصل کې یودد وو، او په حذف د حرکت سره هم ساکن کولی شی په دوه ځایونو کې (١) یو په هغه ځای کې چې مخکې د دې نه حرف متحرك وي لکه مد چې اصل کې مدد وو (٢) چې مخکې د دې نه حرف علت ساکن مده وی لکه په دې مقام کې شو

سوال: دا خو التقاء دساکنین راغله او دا خو نده جائز؟

جواب: التقاء د ساکنین دوه قسمه ده (١) علی حده (٢) علی غیر حده، علی حده جائز ده او علی غیر حده نه ده جائز او دلته علی حده ده ځکه چې اول لین او ثاني مدغم دی

تحقیق نحوی: سوال: دا خواص لفظ واحد دی که مثنی ده که مجموع ده **جواب:** دا صیغه د جمع ده

سوال: جمع په اعتبار د لفظ سره دوه قسمه ده (١) تصحیحه (٢) مکسره دا کومه یوه ده؟

جواب: دا جمع تکسیره ده ځکه چې بنا د مفرد په کې ورانه شوې ده

سوال: جمع په اعتبار د معنی سره دوه قسمه ده (١) قلته (٢) کثرته دا کومه یوه ده؟

جواب: دا جمع کثرته ده ځکه چې د جمع قلتې خاص اوزان دی او دا د هغې نه یو هم نه دی

سوال: دا خواص منصرف دی که غیر منصرف دی؟
جواب: دا غیر منصرف دی ځکه چې داصیغه دمنتهی الجموع ده
سوال: حکم دغیر منصرف خو دا دی چې ان لاکسرة ولاتنوین اودا خومجرور دی.
جواب: وجمیع الباب باللام والاضافة ینجر بالکسر، اود دې هم اضافت شوي دي ضمیر ته چې راجع دی اسم ته مثال د هغه غیر منصرف چې د وجې داضافت نه غیر ته منصرف ګرځیدلی وی لکه لفظ دشعائر شو په دی قول دالله کې ﴿إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ﴾
سوال: دخول اللام مرکب اضافی دی ته ترجمه دترکیب توصیفی ولې کوی؟
جواب: مونږ چې دامعنی دترکیب توصیفی وکړه نوپه دی سره دفع دیو اعتراض وشوه اعتراض دا دی چې دخول اللام مرکب اضافی دی اوپه مرکب اضافي کې مقصود بالحکم مضاف وی نو معنی د دې دا شوه چې خاصه د اسم دخول دی او دخول خو معنی مصدری ده په خارج کې وجود نه لر ی نوته یې څنګه علامه د اسم لپاره ګرځوی، نو مونږ ه جواب وکړو چې د دې معنی دا ده چې بعض د خواص د اسم نه لام تعریفی دی په اعتبار د دخول سره او دامعنی ځکه کوو چې دا په اصل کې ترکیب توصیفی وو او بیا ترې متکلم ترکیب اضافی جوړ کړی دی، ځکه دا قانون دی چې کله چې په مرکب توصیفی کې موصوف بالذات مراد نه وی بلکه موصوف مراد وی په اعتبار دصفت سره دهغې نه دامتکلم مرکب اضافی جوړ کړی په دې شان سره چې داصفت مضاف کړی دی موصوف ته، اوپه دی کې اشاره و ی دی خبرې ته چې دا موصوف بالذات نه دی مقصود بلکه باعتبار الصفة مقصود دی. ځکه چې په مرکب اضافی کې مقصود بالحکم مضاف وی او مضاف الیه قید خارج وی
سوال: څه وجه ده مصنف لره چې ومن خواصه دخول اللام یې وویل او من خواصه دخول الالف واللام یې ونه ویل؟ **جواب:** په دې کې مذاهب ثلاثه دی. (۱) مبرد (۲) خلیل (۳) سیبویه،
مبرد وائی چې همزه یواځې دتعریف لپاره ده اولام ورسره راوړی شوی دی لپاره د دې چې التباس رانه شی په مابین دهمزه تعریفی اوهمزه استفهامي کې اودا همزه یواځې لپاره دتعریف ځکه ده چې دا تعریف ضد د تشکیك دی او د تشکیك لپاره خویواځې همزه راتله نو دتعریف لپاره هم یواځې همزه راځي، اوسیبویه وائی چې دتعریف لپاره یواځې لام د ی او دا همزه ورسره راوړی کیږي لپاره د دې چې ابتداء بالساکن رانه شی اویواځې لام ځکه دتعریف لپاره دی چې تعریف لپاره لام راځي بحرف واحد او مذهب دخلیل دا دی چې همزه اولام دواړه دتعریف لپاره دی ځکه چې تعریف ضد د تشکیك دی او د تشکیك لپاره خو هل راځي نو د تعریف لپاره ال راځي اوس هرکله چې لازمیده په مذهب دمبرد باندې حذف دعین علامه په درج کې او په نیز د خلیل باندې لازمیدو حذف دجزء دعلامی او قانون دا دی چې والعلامة لاتحذف الخ. نومختار کړو مصنف مذهب د سیبویه ځکه چې د ده په نیز باندې نه حذف دعین علامی راځي او نه حذف د جزء د علامې راځي.
سوال: تا وویل چې علامات د اسم چې واقع کې ډیر دی نو هغه نور یې ولې ذکر نه کړل؟

جواب: دا یې ذکر کړې دی د وجې د شهرت نه او هغه نور غیر مشهور وو نوځکه یې ترک کړي دي
والجر والتنوین: دا اللام چې مخکې ذکر شونو دا مجرور وو قطعا اویقینا ځکه چې مضاف الیه ددخول دی اومضاف الیه همیشه مجرور وي اودا الجر والتنوین په اعتبار داعراب سره محتمل داحتمالین دی مرفوع اومجرور دواړه ویل یې جائز دی ځکه چې د دې په سر کې واو عاطفه راغلی دی داتقاضه دمعطوف علیه کوی اوپه معطوف علیه د دې کې دوه احتماله دی (۱) بو دا چې عطف شی په دخول باندې نومرفوع به شی (۲) چې عطف شی په اللام باندې نومجرور به شی ځکه چې لاندې ددخول نه به راشي اوس که دا مرفوع شي نو معنی به یې داشي چې بل دخواص معظمه منکبره د اسم نه جر اوتنوین دی نو په دی څه اعتراض نشته او که مجرورشی او عطف شی په اللام باندې نو بیا به یې معنی داشي چې بعض دخواصو د اسم نه دخول دجر اوتنوین دی اوس اعتراض واردیږي چې دامعنی نده صحیح ځکه چې دخول خو اتصال قبلی ته وائی اوجر اوتنوین خو په اخر کې راځي نه په اول کې
جواب: دا جر او تنوین چې عطف شی په اللام باندې نو بیا په دې عبارت کې مجاز دی ذکر د خاص دی چې اتصال قبلی دی او مراد ترینه عام دی چې مطلق اتصال دی اوس اتصال دجر په اخر د کلمه پورې علامه د اسم ولې ده، نوځکه چې دا اثر د حرف جر دی او حرف جر عام دی که لفظا وی او که تقدیراً وي لفظا لکه مررت بزید او تقدیراً لکه غلام زید شو او دخول دحرف جر مختص وو په اسم پورې نو جر هم مختص شو په اسم پورې لپاره د دې چې لازم نه شي مخالفت په مابین داثر اومؤثر کسبی کې
سوال: دادخول دحرف جر ولې خاصه د اسم ده؟
جواب: ځکه چې داحرف جر واضع وضع کړی دی لپاره دا فضاء دمعنی دفعل مایلی ته اوس که ما یلي یې فعل شي نو افضاء الشيء الی نفسه لازمیږي او که ما یلي یې حرف شي نو افضاء د مستقل راځي غیر مستقل ته او دا نه ده جائز نو پس متعین شو مدخول د دې اسم
سوال: حرف جر دې مختص شی په اسم پورې او جر دې مختص نه شي ځکه چې اختلاف په مابین دا اثر او مؤثر کې راتلی شی لکه شمس مؤثردی او ضوء یې اثر دی اوپه دی کې مخالفت راغلی دی په دې شان سره چې شمس په فلك رابع کې دی او ضوء یې دلته ده په زمکه کې
جواب: مؤثردوه قسمه دی (۱) مؤثر کسبی (۲) مؤثر طبعي، نو مخالفت د اثر دمؤثر طبعي نه جائز دی لیکن مخالفت داثر دمؤثر کسبی نه ندی جائز نو داشمس مؤثر طبعي دی نوځکه مخالفت راغلی دی په مابین د مؤثر او د اثر کې او حرف جر مؤثر کسبی دی اومخالفت داثر ده مؤثر کسبی نه نه دی جائز
سوال: مؤثر کسبي څه ته وائی او طبعي څه ته وائی؟ **جواب:** دا مؤثر به خالي نوی یا به د دې نه دا اثر صادریږي بالاختیار او یا به صادریږي بلا اختیار که اول وو نو کسبی او که ثاني وو نوطبعي ورته وائی
سوال: دا تا چې کوم دلیل بیان کړو لپاره د اختصاص د جر په اسم پورې دا دلیل ستا مطابق نه دی د مدعی سره ځکه چې مدعی عامه ده چې مطلق جر خاصه د اسم ده، اودلیل خاص دی ځکه ته وائی چې د اثر دحرف جر دي اوحرف جر مختص وو په اسم پورې نو دا ورپورې هم مختص شو اوس په دی دلیل سره

اختصاص د هغه جر راغلو چې هغه اثر دحرف جر وی، اوکوم جر چې د وجې دحرف جر نه نوي راغلی نو هغه خاص نه شو په اسم پورې لکه زید حسن الوجه دلته دا جر په دی الوجه کې دحرف جر د وجې نه نه دی راغلی ځکه چې په اضافت لفظی کې حرف جر مقدر نه وی حالانکه دا جر هم خاص دی په اسم پورې

جواب: نه منم دا خبره چې په اضافت لفظی کې حرف جر تقدیراً نوی بلکه حرف جر چې ځنګه په اضافت معنوی کې تقدیرا وی نو دارنګې په اضافت لفظی کې هم مقدر وی، او که دا اومنم چې دلته دا جر بې د تقدیر دحرف جر نه راغلی دی نو بیا هم خاص دی په اسم پورې ځکه چې اضافت لفظی فرع د اضافت معنوي ده اوپه اضافت معنوی کې چې کوم جر راتلو هغه خو مختص وو په اسم پورې نو داهم مختص شو په اسم پورې لپاره ددې چې لازم نه شی مزیت دفرع په اصل باندې ځکه چې جر داضافت معنوی خاص شی په اسم پورې او جر داضافت لفظی خاص نه شی بلکه عام شی نو لازمیږي مزیت د فرع په اصل باندې

سوال: ته وائی چې جر مختص دی په اسم پورې دا قاعده ستا منقوضه شوه په يَوْمُ يَنفَعُ الصَّٰدِقِينَ صِدْقُهُمْ دلته یوم مضاف دی او ینفع مضاف الیه دی اومضاف الیه خومجرور وی اودا خو اسم ندی؟

جواب: جر راځي په اخیر د اسم کې اواسم عام دی که حقیقة وی او که تاویلا وی نو دا اګر چې حقیقة خو اسم نه دی لیکن تاویلا دی ای یوم نفع الصادقین (۲) یا دا چې جر لفظا اوتقدیرا خاص دی په اسم پورې اوجر محلا په اسم کې هم راځي اوپه غیر کې هم راځي چې جمله ده

والتنوین: بل د خواص معظمه ؤ مکبره ؤد اسم نه تنوینات اربعه دی، سوی دتنوین ترنم نه چې هغه (۱) تنوین تنکیر (۲) تنوین مقابله (۳) او تنوین تمکن (۴) او تنوین عوضی دی،

سوال: په دی ترجمی سره دفع د یو اعتراض وشو، اعتراض دا دې چې ته وائی چې بله خاصه دخواص د اسم نه تنوین دی نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د شاعر

اقلی اللوم عاذل والعتابن فقولی ان اصبت لقد اصابن

اوپه دی قول دشاعر افد الترحل غیر ان رکابنا لما تزل برحالنا وکان قد

دلته په دی اول شعر کې په فعل کې تنوین راغلی دی چې اصابن دی او په دی دویم شعر کې په حرف کې تنوین راغلی دی چې **قد** دی

جواب: دا اعتراض به تا هله کولو چې په التنوین کې الف لام استغراقي وی اومراد د دې نه مطلق تنوین وی لیکن دلته الف لام عهد خارجی دی مراد د دې نه تنوینات اربعه دی ماسوی دتنوین ترنم نه او په دی فعل اوحرف کې چې راغلی دی داتنوین ترنم دی اوس په دی مقام کې لابدی ده د معرفت د امور اربعه ؤ نه (۱) معنی لغوي دتنوین (۲) معنی اصطلاحی دتنوین (۳) اقسام د تنوین (۴) وجه د تخصیص دتنوینات اربعه ؤ په اسم پورې، نو تنوین مصدر دی دباب تفعیل نه په لغت کې ادخال النون الساکنة فی الکلمة ته وائی یا منون کردن ته وائی اوپه اصطلاح کې نون ساکنه تتبع حرکة اخرالکلمة ته وائی او دا په پنځه قسمه دی (۱) تمکن (۲) تنکیر (۳) مقابله (۴) عوضی (۵) ترنم،

تنوین تمکن: هغه تنوین ته وائی چې هغه دلالت کوی په امکنیت د کلمه باندې یعنې چې دلالت کوی په دی چې دی کلمه کې اعرابات ثلاثه راخي سره دتنوین نه. او بل داراخي دفرق د منصرف او غیر منصرف لپاره په دې شان سره چې په کوم اسم کې چې دا راتلو نو هغه به منصرف وی او په کوم اسم کې چې نه راتلو هغه به غیر منصرف وی،

تنوین تنکیر: دیته وائی چې دلالت کوی په نکارت د اسم باندې په دې شان سره چې که ته داتنوین ذکر کړی نو اسم نکره ګرځی او که داتنوین لرې کړی نو اسم معرفه ګرځی لکه صه اومه شو د دې معنی ده اسکت سکوتاً ما او انکفف انکفافا ما او که دا تنوین لری کړی اوصه اومه ووائي نو بیا معنی دا ده چې اسکت سکوت الان او انکفف انکفاف الان

تنوین عوضی: دیته وائی چې عوض دمضاف الیه نه راغلی وی لکه حینئذ او یومئذ شو چې دا په اصل کې اذ کان کذا وو. **تنوین مقابله:** هغه تنوین ته وائی چې هغه راخي په اخیر دجمع مؤنث سالمه کې په مقابله دنون د جمع مذکر سالمه کې لکه تنوین دمسلمات شو،

تنوین ترنم: هغه تنوین ته وائی چې هغه راخي په اخیر دا بیاتو کې لپاره دخوش اوازی. مثالونه د دې مخکې ذکر دی دا اول څلور قسمه خاص دی په اسم پورې او ترنم په اسم فعل حرف درې واړو کې راخي خو مطلقاً نه بلکه په اخیر د ابیاتو کې اوس د تنوینات اربعه خاصه د اسم ولې دی نو ځکه چې د دې هغه معانی او مدلولات ټول مختص دی په اسم پورې او اختصاص د مدلول مستلزم وی اختصاص د دال لره، او معانی د دې تنوینات ځکه خاص دی په اسم پورې چې تنوین تمکن دلالت کوی په امکنیت باندې او امکنیت په اسم کې راخي نه په فعل اوحرف کې

تنوین تنکیر: دلالت کوی په نکارت د اسم اوتنکیر تعریف هم خواص د اسم دی،

تنوین عوضی: خو عوض دمضاف الیه نه راغلی وی په مضاف کې اومضاف نه وی مګر اسم وی او تنوین مقابله راخي په جمع مؤنث سالمه کې اوجمع مؤنث سالمه اسم معرب کې راخي فقط او تنوین تنکیر راخي فقط په مبنی کې اوتنوین عوضی عام دی، په معرب او مبنی دواړو کې راخي

والاضافة: بل د خواص معظمه مکبره د اسم نه کون د اسم دی مضاف په تقدیر دحرف جر سره په دی ترجمی سره دفع د یو اعتراض وشوه اعتراض دا دی چې ته وائی چې بل دخواص د اسم نه اضافت دی نو اضافت خو یو نسبت دی طرفین غواړي (۱) مضاف (۲) مضاف الیه. او اختصاص د نسبت موقوف وی په اختصاص د طرفینو پورې، نو اضافت به مختص په اسم پورې هله وی چې طرفین یې مختص وی په اسم پورې، اوطرفین خو یې مختص نه دی په اسم پورې ځکه چې مضاف فعل هم راخي لکه مررت بزید دلته دا مررت مضاف دی زید ته په واسطه دحرف جر سره اومضاف الیه هم مختص نه دی په اسم پورې بلکه جمله هم مضاف الیه واقع کیږي لکه یوم ینفع الصادقین صدقهم نو هر کله چې دا طرفین مختص نه شو په اسم پورې نو اضافت هم مختص نه شو په اسم پورې

جواب: دلته ذکر دنسبت دی چې اضافت دی خو مراد ترینه طرف دی چې مضاف دی یعنې زه وایم چې مضاف خاصه د اسم ده خو مطلق مضاف نه بلکه مضاف په تقدیر د چرف جر سره، نو یو شی چې مضاف وی په تقدیر د حرف سره هغه به اسم وی ځکه چې حرف خو بالکل مضاف نه واقع کیږي او فعل مضاف واقع کیږي، خو په ذکر د حرف جر سره نه په تقدیر د حرف جر سره.

سوال: ته وائي چې ذکر دنسبت دی او مراد طرف دی چې مضاف دی نو شمارل د مضاف د خواص د اسم نه نه دی صحیح ځکه چې خواص دقبیلې د اوصافونه دی او مضاف ذات دی.

جواب: ما مضاف ته خاصه د اسم نه ده ویلی بلکه زه وایم چې کون د شي مضاف په تقدیر دحرف جو سره خاصه د اسم ده (۲) جواب د دغه اصل اعتراض نه دا دی چې الاضافت کې الف لام عهدی دی مراد د دې نه اضافت فی الاعراب دی، یعنې چې اضافت د معرب راغلی وی معرب ته اوپه مررت بزید او یوم ینفع الصادقین کې اضافت فی البناء دی نه فی الاعراب ځکه چې دلته مررت فعل دي اومبنی دی او یوم هم مبنی دی د وجې داضافت نه جملی ته. اوس دا اضافت فی الاعراب یا کون د شي مضاف په تقدیر دحرف جر سره ملزوم دی اود دې سره لازم دی.

(۱) تعریف نحو غلام زید (۲) تخصیص نحو غلام رجل (۳) تخفیف نحو ضارب رجل (۴) کسب تأنیث نحو قطعت بعض اصابعه (۵) کسب تذکیر نحو اِنَّ رَحۡمَتَ اللهِ قَرِیۡبٌ مِّنَ الۡمُحۡسِنِیۡنَ (۶) جمع فقط نحو وسورة ایام حزنن الی العظم (۷) جمع مع التأنیث نحو وماحب الدیار شغفن قلبی، او دا تعریف تخصیص الخ خاص دی په اسم پورې او اختصاص دلوازمو مستلزم دی اختصاص دملزوم لره.

والاسناد الیه: بل دخواص معظمه مکبره د اسم نه کون د شي دی مسند الیه دلته هم ذکر دنسبت دی او مراد ترینه طرف دی چې مسند الیه دی.

سوال: مسند الیه خو ذات دی او علامات د اسم د قبیلې د اوصافونه دی؟

جواب: د دې نه مراد ذات دمسند الیه نه دی بلکه مراد کون د شي دی مسند الیه

سوال: ته وائی چې کون د شي مسند الیه خاصه د اسم ده نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په دی ایت باندې چې ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا ﴾ دلته امنوا مسند الیه دی اواسم نه دی بلکه جمله ده.

جواب: کون د شي مسند الیه خاصه د اسم ده خو دیته خاصه اضافی وائی یعنې داخاصه د اسم په نسبت سره فعل اوحرف ته ده.نه جملی ته (۲) دا دی چې داخاصه اضافی نده بلکه حقیقي ده خود دې نه مستثنی دی نائب فاعل دما دی مجهولی دقال یقول، چې نائب فاعل د دې جمله راځي ځکه دا قال یقول فعل متعدی دی مفعول به غواړي اومفعول به د دې به جمله وی په دی شرط چې مراد اللفظ نوی، اوس هرکله چې د دې نه مجهول جوړشی نو هغه جمله به قائمه شی په مقام دفاعل کې اونائب فاعل به شی نوحاصل داشو چې دلته مراد دا دی چې بله خاصه د اسم کون د شي دی مسندالیه بالاصالة اودلته **امنوا** مسند الیه اصالة نه دی راغلی بلکه نیابة راغلی دی. خو غوره جواب دا دی چې دا اسم عام دی که حقیقتاً وی او که تاویلاً وی اودلته تاویلا دی یعنې مراد د امنوا نه لفظ د امنوا دی

اوس په دې سره يو بل اعتراض هم دفع شو، اعتراض دا دی چې ته وائی چې مسند الیه خاصه د اسم دی نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په زید قائم نقیضه زید لیس بقائم باندې دلته زید قائم مبتد دی او نقیضه زید لیس بقائم یې خبر دی او سره د دې نه چې دا خو اسم نه دی بلکه جمله ده نو جواب وشو چې دا اسم عام دی که حقیقة وی او که تاویلا وی دلته دا تاویلا اسم دی ای هذا نقیض ذاک.

سوال: مسند الیه خاصه د اسم ولې ده فعل او حرف ولې مسند الیه نه راځي؟

جواب: مسند الیه خاصه د اسم ځکه ده چې په مسند الیه کې لابدي ده داستقلال نه او حرف خو غیر مستقل دی او فعل اګر چې مستقل دی لیکن هغه واضع وضع کړی دی مسند او که مونږه یې مسند الیه واقع کړو نو لازمیږي خلاف د وضع د واضع نه او دا نه دی جائز لیکن دا جواب کمزوری دی ځکه چې په دې اعتراض راځي چې خلاف د وضع د واضع نه جائز دی یعنې تحلف د مدلولات وضعیه و د دوال نه جائز دی ځکه که دا جائز نه وی نو مجاز به بالکل موجود نه وو په استعمال د کلام د عربو کې حالانکه مجاز خو موجود دی په طریقه دکثرت سره (۲) اصل جواب دا دی چې کون د شي مسند الیه خاصه د اسم ځکه ده چې معتبر په اصل مسند الیه کې ذات دی او معتبر په مسند کې وصف دی او فعل دلالت کوی په وصف باندې نه په ذات، او معتبر په مسند الیه کې ذات ځکه دی چې وصف ثابتولی شی د ذات لپاره او نفی کولی شی د ذات نه او ذات وصف لره ثابتولی یا نفی کولی نه شی.

جواب (۳) کون د شي مسند الیه خاصه د اسم ده او فعل مسند الیه نه راځي ځکه چې د فعل په مفهوم کې معتبر دی نسبت فاعل ما ته نو هغه فاعل مسند الیه او فعل مسند شو، اوس که مسند الیه یې هم واقع کړو نو لازمیږي کون د شي واحد هم مسند او هم مسند الیه او دا باطل دی او غیر ممکن دی،

وهو معرب ومبني: هر کله چې فارغ شو مصنف دبیان دتعریف او علامات د اسم نحوی نه نو شروع یې وکړه په تقسیم د اسم نحوی کې قسمین ته په اعتبار داعراب او بناء سره نوعینو ته نو وې ویل چې وهو معرب ومبني دا اسم نحوی په اعتبار داعراب او بناء سره اسم معرب او اسم مبني دی دا منحصر په دی قسمینو کې ولې دی؟ ځکه چې دا اسم به خالي نوی یا به مرکب وی دغیر سره او یا به نوی که مرکب نه وو مبني لکه زید عمرو بکر وغیره، او که مرکب وو نو بیا به خالي نوی یا به ورسره عامل موجود وی لفظا یا معنا او یا به نوی که عامل ورسره موجود نه وو لفظا یا معنی نو مبني لکه اسماء معدوده مضافه غلام زید غلام عمرو غلام بکر وغیره. او که عامل ورسره وو نو بیا به خالي نوی یا به مشابه دمبني اصل سره وی او یا به نوی که وو نو مبني لکه هؤلاء شو په جاءنی هؤلاء کې او که مشابه نه وو د مبني اصل سره نو معرب لکه زید شو په جاءنی زید کې.

سوال: وهو معرب ومبني د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی؟ **جواب:** ربط د ماقبل سره دا دی چې مخکې یې تعریف او علامات د اسم بیان کړه نو اوس تقسیم د اسم نحوی کوی نوعینو ته.

سوال: تعریف د اسم چې یې وکړو نو په هغې سره مونږ ته معنی او مفهوم د اسم معلوم شو او په علاماتو سره وجود خارجي د اسم معلوم شو نو مصنف له پکار وه چې اوس یې شروع کړې وی په احکامو باندې نو تقسیم د اسم ولې کوی؟

جواب: مخکې يې تعريف وکړواوس تقسيم کوی ځکه چې تقسيم د متمماتو اومکملاتو دتعريف نه دی ځکه چې په تعريف سره معلوميږي مفهوم او معنی د شي اوپه تقسيم سره معلوميږي افراد او مصداق د شي نو پس دتقسيم نه به اسم مونږ ته معلوم شی مفهوماً او مصداقاً.

سوال: په تقسيم کې لابدی وی دجهت دتقسيم نه جهت دتقسيم دلته څه دی؟

جواب: جهت دتقسيم دلته اعراب او بنا دی.

سوال: دا اسم په اعتبار د اعراب سره ولې منحصر شو په دې قسمينو کې؟

جواب: وجه د حصريه دې قسمين کې دا ده چې دا اسم به خالي نوی يا به مرکب وی دغير سره يا به نوی لې نو حاصل دا شو چې کون د اسم معرب مشروط دی په شروط ثلاثه ؤ سره په نيز د مصنف او ابوحيان نحوی (۱) چې مرکب به وی دغير سره (۲) عامل به ورسره موجود وي لفظا يا معنی (۳) مشابه به نه وی د مبنی اصل سره، او که يو شرط منتفي وو نو مبنی به وی او د جار الله په نيز معرب هغه اسم ته وائی چې صلاحيات د اعراب په کې موجود وي پس زده کړه دا خبره چې زيد په زيد قائم کې يا په جاءنی زيد کې معرب دی بالاتفاق، او هؤلاء په جاءنی هؤلاء کې مبنی دی بالاتفاق اوپه اسماء معدوده مفرده اواسماء معدوده مضافو کې اختلاف دی، د ابن حاجب صاحب په نيز باندې مبنی دی او د جارالله زمخشري په نيز باندې معرب دی.

سوال: دا اختلاف ولې راغلو؟ **جواب:** دا اختلاف بنا دی په اختلاف د تعريف باندې په دی شان سره چې جار الله زمخشری معرب ما له صلاحية الاعراب ته وائی او ابن حاجب معرب ما له الاعراب بالفعل ته وائی، اوس تعريف د جار الله په دې صادق دی ځکه چې صلاحيت داعراب په کې شته نو ځکه معرب شو او تعريف د مصنف پرې نه دی صادق ځکه چې په دی کې اعراب بالفعل نشته نو ځکه ورته مبنی وائی.

سوال: هو مبتدأ ده او معرب ومبنی يې خبر دی او دا هوضمير راجع دی اسم ته هغه مقسم دی او معرب ومبنیٰ يې اقسام دی او قانون دا دی چې مقسم عام وی د اقسامونه او دلته تعميم دقسم راغلو د مقسم نه او دا ندی جائز ځکه چې ضرب مبنیٰ دی او اسم ندی او يضرب معرب دی او اسم ندی

جواب: دا مذکور فی المتن قيدين دی لپاره د قسمينو نه قسمين يعني دا معرب او مبنی قسمين د اسم نحوي نه دی بلکه دا د هغې د قسمينو قيدين دی نو معنی دا چې اسم په اعتبار د اعراب او د بناسره په دوه قسمه دی (۱) اسم معرب (۲) اسم مبنی

سوال: هو مبتدأ ده او معرب ومبنی يې خبر دی او قانون دا دی چې د مبتدأ واحدې لپاره چې اخبار کثيره راشی نو هلته يا عطف مقدم وی او يا ربط مقدم وی اوس دلته عطف مقدم دی که ربط مقدم دی که ربط مقدم شی نو معنی به يې داشی چې دا اسم معرب دی او مبنی دی او دا باطل دی ځکه چې حمل دخاص راځي په عام باندې او داندی جائز ځکه چې مبتداء منحصره وي په خبر کې نو بيا انحصار د عام لازميږی په خاص کې او دا نده جائز.

سوال: په دی معترض باندې اعتراض دی چې حمل دخاص په عام باندې نه دی جائز په قضيه موجبه کليه کې ځکه چې هلته انحصار دعام راځي په خاص کې لکه کل حيوان انسان ويل نه دی جائز او وهو

معرب ومبنی خو موجبه کلیه نه ده بلکه دا خو مهمله ده ځکه چې بیان د کمیت د افرادو کلاً یا بعضا په کې نه دی شوی. **جواب:** دا معترض جواب کوی چې که داومنم چې حمل دخاص په عام باندې په موجبه کلیه کې نه دی جائز او دامهمله ده نومهمله په دوه قسمه ده (۱) مهملة العلوم (۲) مهملة المحاورات. مهملة العلوم هغې ته وائی چې په کتابونو کې ذکرکیږي اومهملة المحاورات هغې ته وائی چې خلک يې په محاوراتو کې استعمالوی نومهملة العلوم په قوت دموجبه کلیه کې وی اومهملة المحاورات په قوت دموجبه جزئیه کې وی نو دلته دامهملة العلوم ده نه مهملة المحاورات ځکه په کتابونو کې قواعد کلیه ذکر کیږي نه جزئیات نوځکه حمل صحیح نه شو

دویم جواب: دا دی چې حمل دخاص په عام باندې ممتنع دی مطلقا ځکه دحمل معنی دا ده چې داخبر ثابت دی ټولو افرادو دانسان لره، نو دلته به معنی داشی چې دامعرب ثابت دی ټولو افرادو د اسم لره او دا نده صحیح، او که ته وائی چې عطف مقدم دی په ربط باندې نو بیا به معنی داشی چې اسم معرب اومبنی دی نو پدی ځلور اعتراضونه دي (۱) حمل دامرینو راغلو په شی واحد باندې.
(۲) دامجموعه یو خبر شو نو یو اعراب جاری کول پکار وو (۳) دامقام دحصر دی ادات د حصر پکار وو (۴) جمع په حرف جمع سره پشان دجمع ده په لفظ دجمع سره نو د دې معنی داشوه چې معرب او مبنی یواسم دی یعنې چې معرب اومبنی دواړه جمع شی نو اسم به وی او یواځې معرب او یواځې مبنی به اسم نوی حالانکه داسې خونده.

جواب: د دې اعتراض نه یو جواب شارح هندی کړی دی چې زه نه عطف مقدم وایم اونه ربط مقدم وایم، ځکه چې تقدیم دعطف یاتقدیم دربط په هغه ځای کې وی چې دمبتدأ واحدی لپاره اخبار متعدده راغلی وی اودلته تعدد دمبتدأ راغلی دی سره د تعدد دخبر نه ځکه چې هومبتدأ ده اوخبر يې محذوف وی چې قسمان دی اومعرب اومبنی هر یو خبر دمبتدأ محذوفی دی ای احدهما معرب وثانیهما مبنی، لیکن جامي صاحب وائی چې دا جواب کمزوری دی ځکه چې دی کې لازمیږي حذف دعمده او دا ندی جائز، نو جامی صاحب وائی چې هو مبتدأ ده اومعرب ومبنی خبر دی او زه عطف مقدم کوم په ربط باندې اوحمل د امورمتعدده په شی واحدباندې هله نه دی جائز چې هغه شی قابل دتعدد نوی اودلته دا اسم قابل دتعدد دې، او که ته وائی چې اعراب یو پکار وو نو جواب دا دی چې اعراب جاری شوي دي په هر واحد باندې د وجی د صلاحیت د هر واحد نه لپاره د دې چې لازم نه شی ترجیح بلا مرجح، او که ته وائی چې ادات د حصر پکار وو نو زه وایم چې ادات دحصر عام دی که لفظا وی او که معنی وی او دلته معنی شته چې تقدیم دعطف دی په ربط باندې نومعني دا ده چې اسم په اعتبار د اعراب او بناء سره دوه قسمه دی معرب اومبنی نه بل شی، او که ته وائی چې جمع په حرف جمع سره پشان دجمع ده په لفظ دجمع سره نو دا قاعده په هغه ځای کې ده چې تقسیم دکل راغلی وی اجزاوته او دلته تقسیم دکل اجزاوته ندي بلکه تقسیم دکلی دی جزئیاتو ته اوتقسیم دکلی چې جزئیات ته شوی وی نو هلته واوپه معنی دا سره وي نومعنی دا ده چې اسم په اعتبار داعراب اوبناسره اسم معرب یا اسم مبنی دی

فالمعرب المركب الذی لم یشبه مبني الاصل: هرکله چې فارغ شو مصنف دبیان دمعرب اومبنی نه اجمالاً نو شروع یې وکړه په بیان دتفصیل د اسم معرب کې نو وې ویل چې فالمعرب الخ نو دا فاء په فالمعرب کې تفصیلیه ده او الف لام په المعرب کې عهد خارجی ذکري صریحي دی ځکه مراد مطلق معرب نه دی بلکه هغه معرب مراد دی چې هغه قسم دی د اسم نحوی نه چې اسم معرب دی اوهر کله چې اسم معرب اصل وو د اسم مبنی نه (۱) ځکه چې الفاظ واضع وضع کړي دي لپاره داظهار د ما في الضمیر او اظهار ما في الضمیر په معرب کې اتم دی ځکه چې په دی کې اختلاف راځي لفظا اوپه مبني کې نه راځي نو مقدم یې کړو معرب هم په اجمال کې او هم په تفصیل کې (۲) یا اسم معرب اصل دی ځکه چې اصل په اسماء کې اعراب دی او بنا خلاف الاصل ده. او اصل په اسماء کې اعراب ځکه دی چې دا محل د معاني معتوره دی نومقدم یې کړو معرب هم په اجمال کې او هم په تفصیل کې معرب صیغه د اسم ظرف ده په لغت کې (۱) موضع الاظهار (۲) یا موضع د ازاله فساد ته وائی یا صیغه د اسم مفعول ده. (۱) مزال الفساد ته وائی (۲) یا ظاهر کرده شده ته وائي (۳) یا اعراب دا ده شده ته وائی.

او په اصطلاح د نحویانو کې **المرکب الذی لم یشبه مبنی الاصل:** ته وایي یعنې دا یواسم دی داسې اسم چې مرکب ذی او مضموم دی سره د غیر په داسې ترکیب سره چې عامل ورسره موجود وی لفظاً یا معنی او نه وی دغه اسم مناسب په مناسبات مؤثره سره په منع د اعراب کې په یو د مناسباتو سته ؤ سره چې هغه ذکر کړی دی جارالله زمخشري په مفصل کې د هغه شی سره چې هغه اصل دی په بناء کې مبنی اصل درې دي په نیز د جمهورو (۱) ماضی (۲) امر حاضر معلوم (۳) جمله حروف او څلور دی په نیز د جارالله زمخشري درې دا مذکور او څلورم جمله من حیث الجملة مثال: لکه زید شو په جاءنی زید کې دا معرب دی ځکه چې مرکب دی د غیر سره عامل ورسره موجود دی او مشابه دمبنی اصل سره ندی.

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې اجمال وو او دا یې تفصیل دی.

سوال: الف لام خو شپاړس قسمه دی په المعرب کې کوم الف لام دی؟

جواب: دا الف لام عهد خارجي ذکري صریحي دی ځکه چې په دې سره اشاره ده ماهیت دمدخول خپل ته په ضمن د یو فرد معین کې چې هغه مخکې ذکر دی صراحتاً چې هغه قسم دی د اسم نحوی نه چې اسم معرب دی نه مطلق معرب اوس په دې سره یو اعتراض دفع شو.

سوال: دا دی چې د تعریف د معرب مانع نه شو د دخول د غیرنه داخل شو په کې ضرب په ضرب زید کې دا مرکب دی د غیر سره او مشابه نه دی د مبنی اصل سره او دا خو معرب نه دی ځکه پخپله مبنی اصل دی؟

جواب: وشو چې دا اعتراض به تا هله کولی چې په المعرب کې الف لام جنسی وي او مراد د دې نه جنس معرب وی خو دلته د الف لام عهدي دي مراد اسم معرب دی نه مطلق معرب او ضرب فعل دی اسم ندی.

سوال: معرب او مبنی خو سواسي دي په قسمیت کې نو مصنف ولې دا معرب مقدم وکړو په مبنی باندې هم په اجمال کې او هم په تفصیل کې؟ **جواب:** هرکله چې معرب اصل وو د مبنی نه نو مقدم یې کړو هم په اجمال کې او هم په تفصیل کې ځکه اصل مقدم وي په غیر اصل باندې.

سوال: معرب اصل ولې دی دمبنی نه؟ **جواب:** معرب ځکه اصل دی چې الفاظ واضع وضع کړی دی لپاره د اظهار د ما في الضمير او اظهار ما في الضمير په معرب کې اتم او اکمل دی د مبنی نه
سوال: اظهار د ما في الضمير په معرب کې ولې اتم دی او په مبنی کې اتم ندی؟
جواب: ځکه چې په اسم معرب کې اختلاف لفظی راځي او په مبنی کې نه راځي او اظهار د ما في الضمير علی وجه الاکمل راځي په اختلاف لفظي سره. (۲) اسم معرب اصل دی د اسم مبنی نه ځکه اصل په اسماؤ کې اعراب دی بنا خلاف الاصل ده ځکه چې اسم معرب محل د معانيو معتوره ؤ دی او دا مقتضی د اعراب دی او مبنی محل نه دی د معانيو معتوره ؤ لپاره.
سوال: معرب په لغت کې څه ته وائی او په اصطلاح کې څه ته وائی؟
جواب: معرب په لغت کې اعراب داده شده را گويند يا دا صيغه د اسم ظرف ده موضع الاظهار ته وائی، يا موضع د ازاله فساد ته وائي، يا مزال الفساد ته وائی، يا اظهار کرده ته وائی اوپه اصطلاح کې **المركب الذي لم يشبه مبنى الاصل ته وائي.**
سوال: فالمعرب مبتدأ ده المرکب الذی الخ، موصوف سره د صفت نه خبر دي او مبتدأ او خبر چې دواړه معرفې وی نو هلته لابدی وی د ضمير فصل نه اودلته خو ضمير فصل نه دی راغلی.
جواب: بعض شارحين دا جواب کوي چې دا ضمير فصل هله راځي چې التباس وو بين الخبر والصفة او دلته احتمال د صفتيت نشته ځکه چې فالمعرب معرب دی او دا المرکب الخ يې تعريف دی او معرف مبتدأ وی او تعريف يې خبر وي علی التعيين. **دويم جواب:** چې ايراد د ضمير فصل مشروط دی او کون د مبتدأ او خبر معرفه ورله شرط دی او وجود د شرط مستلزم دی وجود د مشروط لره .
سوال: دا تعريف د معرب په المرکب الذی الخ سره نه دی صحيح ځکه چې دا تعريف بالمبائن دی ځکه تا وويل چې مراد د معرب نه اسم معرب دی نو معرب قسم د اسم د ی او اسم قسم د کلمې دی او کلمه لفظ وضع لمعنی مفرد ته وائی او تا يې تعريف وکړو په المرکب سره او مفرد او مرکب متبائنين دی؟
جواب: دا المرکب صيغه د اسم مفعول ده صفت دی دموصوف محذوف لپاره چې اسم دی يعني اسم معرب يو اسم دی داسې اسم چې مرکب وي د غير سره
سوال: توصيف د اسم په مرکب سره نه صحيح کيږي ځکه چې اسم قسم د کلمې دی او مرکب مبائن دی د کلمې نه؟ **جواب:** مراد د مرکب نه مرکب لغوی دی او مرکب لغوی مضموم مع الغير ته وائی نه غير او مرکب اصطلاحی دی مضمومين ته وائی نو منافی د اسم سره مرکب اصطلاحی دی نه لغوی.
سوال: دلته خو مطلق مرکب ذکر دی ته لغوی د کوم ځای نه اخلې؟
جواب: زه د دې نه مرکب لغو ی اخلم په قرينې د مقام سره چې دا مقام مقام د تعريف د اسم دی او د اسم سره مرکب اصطلاحی منافی دی.
سوال: دا تعريف جامع نه شو ځيلو افرادو لره خارج شو ترې بعلبك دا معرب دی په اعراب د غير منصرف سره په اعتبار دجزء ثاني سره او سره د دې نه چې دا خو مرکب اصطلاحی دی نه لغوی.

جواب: دا بعليك قبل العلمیت مرکب اصطلاحي وو ليكن بعد العلمیت دا مفرد او کلمه گرځيدلی ده عند المصنف نو اوس چې دا مرکب شی د غير سره په ترکيب لغوی سره نو دا به معرب وي.

سوال: دا تعريف ستا مانع نه شو د دخول د غيرنه داخل شو په کې اسماء معدوده مضافه لکه غلام زيد غلام عمرو وغيره دلته داغلام دا مرکب دی دغيرسره اومشابه نه دی دمبنی اصل سره نو پکار ده چې دا معرب شي او دا خو مبنی دی.

جواب: شارح هندی د دې نه جواب کړی دی چې معرب ديته وائي چې دا به مرکب وی د غير سره او هغه غير به عامل وی په دې کې اودلته غلام مرکب دی دزيد سره ليکن دا زيد عامل نه دی په دې غلام کې خو دا جواب کمزوری دی ځکه چې بياد دې نه خارج شو زيد په زيدقائم کې ځکه چې دامرکب مع الغير دی او دا غير په کې عامل نه دی چې قائم دی اوسره د دې نه چې دا خو معرب دی البته داجواب دشارح هندی که بنا شي په مذهب د هغه چا چې هغه مبتدأ عامل وائي په خبرکی او خبر عامل وايي په مبتدأ کې او جامي صاحب جواب کوی چې دا به مرکب وی د غيرسره په دې شان سره چې عامل به ورسره موجود وی لفظاً يا معنی نواسماء معدوده ترې خارج شو ځکه چې هلته عامل نه لفظاً شته او نه معنی شته او زيد په کې داخل شو په زيد قائم کې ځکه چې دلته عامل معناً شته.

سوال: دا تعريف مانع نه شو د دخول د غير نه ټول مبنيات په کې داخل شو علاوه دمضمراتو اسماء اشاراتو او موصولاتو نه ځکه چې تعريف د معرب صادقيږی په دغه مبنياتو باندې لکه مثلاً من شو په من زيد کې نو دامرکب مع الغير دی اوعامل په کې نشته او مشابهت يې هم نشته د مبنی اصل سره ځکه مشابهت ويلی کيږي اشتراك بين الشيئين ته په صفت خارجی کې او د دې من اشتراك د حروف استفهام سره په صفت خارجی کې نشته، دارنګې د دې نورو مبنياتو اشتراك ورسره هم نشته علاوه دمضمراتو اسماء اشاراتو اوموصولاتو نه چې دامشابه دی دمبنی اصل سره په صفت خارجی کې چې هغه احتياج دی.

جواب: دا اعتراض به تا هله کولو چې دا عبارت د مصنف بنا وي په حقيقت باندې ليکن دا عبارت بنا دی په مجاز باندې ځکه چې ذکر د خاص دی چې لم يشبه دی او مراد ترينه عام دی چې لم يناسب دی.

سوال: قرينه څه ده په دې باندې؟ **جواب:** قرينه په دې تعريف د مقابل د اسم معرب دی چې اسم مبنی دی ځکه چې مصنف په تعريف د اسم مبنی کې ما ناسب ويلی دی، او دا قاعده ده چې تقييد ديو د متقابلينو په يو قيد سره واجبوی تقييد دمتقابل اخر لره په ضد ددغه قيد سره او تقييد دمعرب به په ضد د تقييد د مبنی سره هله راشی چې لم يشبه په معنی دلم يناسب شی

سوال: مراد د مناسبت نه مطلق مناسبت وايي او که مناسبت خاصه که مطلق مناسبت وايي نو بيا خو ټول اسماء مبنی شو ځکه چې هر اسم څه نه څه مناسبت شته د مبنی اصل سره لکه زيد شو په جائی زيد کې نو ديته هم مبنی ويل پکارد ی ځکه چې دا مشابه دی د مبنی اصل سره لکه ضرب دی په ثلاثيت او لفظيت او افراد وغيره کې، او که د مناسبت نه مراد مناسبت خاصه وائی نو هغه خو مجهول دی نوتعريف بالمجهول راغلو او دا ندی صحيح

جواب: دلته مراد د مناسبت نه مناسبت خاصه دی چې هغه مناسبات سته دی چې جارالله زمخشري په مفصل کې ذکر کړي دي (۱) کون د اسم دی متضمن معنی د مبنی اصل لره لکه اسماء شرط او اسماء استفهام
(۲) کون د اسم دی مشابه دمبنی اصل سره لکه اسماء اشارات او موصولات
(۳) کون د اسم دی واقع په موضع دمبنی اصل کې لکه نزال
(۴) کون د اسم دی مشابه د هغه اسم سره چې واقع په موضع دمبنی اصل کې لکه فجار او فساق
(۵) کون د اسم دی واقع په موضع د هغه اسم کې چې هغه مشابه وی د مبنی اصل سره لکه منادی مفرده معرفه. (۶) کون د اسم دی مضاف مبنی اصل ته بالذات لکه یوم ینفع الصادقین صدقهم یا بالواسطه لکه یومئذ حینئذ **مبنی الاصل**

سوال: ته وایي چې دا به مشابه نوی د هغه شي سره چې اصل د هغې بناء وی نو دا تعریف ستا جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو ترې اسم فاعل ځکه چې دا مشابه دی د مضارع سره او د مضارع اصل ماضی ده او هغه مبنی ده نو پکار ده چې اسم فاعل مبنی شی

جواب: دا اعتراض به تا هله کولی چې دلته دا اضافت دمبنی الاصل ته اضافت لامی وي لیکن دا اضافت بیانی دی او معنی د دې دا ده چې دا به مشابه نوی د هغه شی سره چې هغه اصل دی په بنا کې

سوال: د اضافت بیانی علامه خو دا ده چې دا به متخذ وی د مضاف الیه نه، او بل دا چې د مضاف او مضاف الیه په مینځ کې نسبت د عموم خصوص من وجه وی، لکه خاتم فضة او دلته خو دا مضاف متخذ نه دی دمضاف الیه نه او د مضاف او مضاف الیه په مینځ کې عموم خصوص من وجه هم نه جوړیږی **جواب:** دا قاعده کلیه ده نه اکثریه

سوال: مصداقات دمبنی اصل څه دی؟ **جواب:** مصداقات د مبنی اصل دریږ دی عند الجمهور او څلور دی په نیز د جارالله زمخشري کما مر

پس زده کړه دا خبره چې مبنی اصل په اصطلاح کې ما لیس فیه علة الاعراب و لا موجب الاعراب ته وائي. او حکم یې دا دی چې لایقبل الاعراب اصلاً او په مصداقاتو کې یې اختلاف دی بیا په هرتعریف کې لابدي وي د جنس او فصل نه نو دا **المرکب** صفت دی د اسم هغه جنس دی او المرکب فصل اول دی په دې سره مفردات خارج شو او دا قید چې په کې مونږه ولګوو چې داسې ترکیب سره چې عامل ورسره موجود وي نو اسماء معدوده مضافه ترې خارج شو نو دا فصل ثاني شو **او لم یشبه مبنی الاصل** فصل ثالث دي خارج شو په دې سره هؤلاء په جاءنی هؤلاء کې

وحکمه ان یختلف اخره باختلاف العوامل: هرکله چې فارغ شومصنف دبیان دتعریف د اسم معرب نه نو شروع یې وکړه په بیان د یو اثر مرتبه د اثار مرتبه ؤ د اسم معرب کې لپاره دکمال وضاحت د اسم معرب نو وې ویل چې **و حکمه الخ** ترجمه بعض د هغه اثارو او فوائدو نه چې مرتب دی په اسم معرب چې دا معرب من حیث انه معرب واخلي اختلاف د حرف اخیر د اسم معرب دی او دا اختلاف دحرف اخیر د اسم عام د ی ذاتاً وی که صفتاً وی اودا اختلاف ذاتاً اوصفتاً عام دی که حقیقتاً و ی او که حکماً وی د وجې د دخول ده جنس عامل مختلف في العمل نه په ده باندې

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی؟

جواب: ربط دماقبل سره داد ی چې مخکې یې تعریف د اسم معرب وکړواو اوس یې حکم بیانوي لپاره د کمال وضاحت. (۲) یا ربط دا دی چې دا جمله مستانفه ده جواب د سوال دی څکه مصنف چې هر کله تعریف د اسم معرب وکړو چې المرکب الذی الخ نوسائل سوال وکړو چې په دې څه فائده مرتبه ده نو. مصنف جواب وکړو چې فائده پرې دا مرتبه ده چې ته پرې مختلف عوامل داخل کړې نواخیر مختلف کیږي څکه که دا اسم مرکب مع الغیر نوی یامرکب مع الغیر وي لیکن عامل ورسره موجود نوی او یا ورسره عامل هم موجود وي لیکن مشابه وی د مبنی اصل سره نو په هغې کې اختلاف نه راځي.

سوال: دا اضافت د حکم (ه) ضمیرته اضافت استغراقي یاجنسی دی نومعنی دا شوه چې هره فائده مرتبه په اسم معرب یا جنس فائدې مرتبه په ایسم معرب باندې اختلاف د اخیر د اسم معرب دی. نو لازم شو کذب څکه چې زید یا غلام زید چې دچا سره مرکب شی اولانو د دې ترکیب د وجې نه اختلاف نه راځي په حرف اخیر کې بلکه حدوث داعراب په کې راغلو نوته څنګه وائی چې هر اثر مرتب د اسم اختلاف دی؟ **جواب:** دا اعتراض به تا هله کولو چې دا اضافت دلته استغراقي یا جنسی وی لیکن دلته اضافت عهد خارجی دی یعنې اسم چې معرب شی نو حکم یې فقط اختلاف نه دی بلکه احکام او اثار پرې ډیر مرتب کیږي خو دلته یې معنی دا ده چې یو ه فائده د هغه فوائدو نه چې مرتب کیږي په اسم معرب باندې اختلاف داخیر د اسم معرب دی.

سوال: حکم خو د منطقیانو په اصطلاح کې نسبت امر الی امر اخر ایجابا او سلبا ته وائی یعنې نسبت دمدلول د یوې کلمې دی مدلول دکلمه اخری ته، نو دلته د وحکمه ان یختلف اخره معنی دا شو ه چې المعرب اختلاف. (۲) یا دا چې حکم عندالمناطقه نسبت تام خبري ته وائی او دا ضمیر راجع دی معرب ته هغه مفرد دی او نسبت تام خبري په جمله کې راځي. (۳) یا حکم عندالمناطقه محمول ته وائي نو معنی دا شوه چې محمول د معرب اختلاف دی نو دا خو نده صحیح څکه چې محمول حملیږی په موضوع باندې او حمل داختلاف په معرب باندې نه دی صحیح څکه چې دا حمل دصرف وصف راځي په ذات باندې؟ **جواب:** دا اعتراض به تا هله کولی چې مراد دحکم نه حکم منطقی وي لیکن دحکم نه مراد حکم لغوی اونحوی دی نه منطقي او په اصطلاح د نحاتو کې حکم اثر مرتب ته وائی.

سوال: حکم چې معنی د اثر سره شی نو د دې اضافت کیږي مؤثر ته اومؤثردلته اعراب دی نه معرب او دا معرب محل د اثر دی، نو دیته ولې اضافت شوی دی؟ **جواب:** دا حکم بمعنی الاثر اضافت غالباً مؤثر ته کیږي اوکله کله یې اضافت محل د مؤثرته کیږي.

سوال: نه منم دا خبره چې دا اختلاف دحرف اخیر حکم د اسم معرب دی، د وجې دعدم وجود داختلاف نه په اخیر د اسم معرب کې یعنې داسې یواسم معرب نشته چې په اخیر دهغې کې اختلاف راغلی وی څکه چې افراد دمعرب درې دی (۱) فاعل (۲) مفعول به (۳) مضاف الیه.

نو د فاعل حکم رفع ده نصب او جر په کې نه راځي، اودمفعول به حکم نصب دی رفع او جر په کې نه راځي او دمضاف الیه حکم جر دی رفع اونصب په کې نه راځي نو اختلاف په کې دکوم ځای نه راغلو؟

جواب: دا اعتراض به تا هله کولو چې ما دا حکم د اسم معرب ویلی وی. په مرتبه د نوع کې لیکن ما دا حکم د اسم معرب ویلی دی چې دا معرب په مرتبه دجنس کې واخلی. یعنې یو اثر داثارو مرتبه و نه په دې د دې حیثیت نه چې دا اسم اسم معرب واخلی قطع لحاظ د دې نه چې فاعل دی یامفعول دی نو مختلفیږي اخیر د دې په اختلاف د عواملو سره.

سوال: ته وائې چې حکم د اسمِ معرب اختلاف داخیر د اسم معرب دی نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په تثنیه او جمع مذکر سالمه باندې لکه رجلان، رجلین او مسلمون، مسلمین، دلته اخیر حرف د دې نون دی او دا په تثنیه کې مکسور دی په احوال ثلاثه ؤ کې اونون دجمع مفتوح دی په احوال ثلاثه ؤ کې؟

جواب: دلته مراد د اخیرنه حرف اخیر د اسم معرب دی، اوپه مثنی کې حرف اخیر نون نه دی بلکه الف او یاء دی اوپه جمع کې حرف اخیر واو او یاء دی او نون مستقله کلمه ده.

سوال: داخیر نه تا حرف اخیر واخستو نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په جاءنی زید رأیت زیداً مررت بزید دلته حرف اخیر دال دی او په دی کې خو څه تغیر نه دی راغلی بلکه په درې واړه حالاتو کې دال موجود دی؟ **جواب:** دا اختلاف عام دی که ذاتا وی او که صفتا وی اختلاف ذاتی عبارت دی دتبدل دیو حرف نه په بل حرف سره لکه مثنی اوجمع مذکرسالمه کې چې راځي اواختلاف صفتی عبارت دی د تبدل د یوحرکت نه په بل سره او دا راځي په مفردات کې لکه زید شو نو دلته اختلاف صفتی راغلی دی

سوال: دا حکم دمعرب جامع نه شو ځیلو افرادو لره خارج شو ترې غیر منصرف په حالت نصبی او جری کې ځکه چې هلته دا اختلاف نه ذاتاً راځي او نه صفتاً راځي دارنګې مثنی او جمع حالت نصبی کې او حالت جری کې ځکه هغې کې هم اختلاف نه راځي؟

جواب: دا اختلاف ذاتی اوصفتی عام د دې نه که حقیقتاً وی او که حکماً وی ذاتی حقیقتاً لکه جاءنی مسلمون، رایت مسلمین، مررت بمسلمین. کې او حکماً لکه حالت نصبی جری دتثنیه او جمع، او اختلاف صفتی حقیقة لکه زید، عمروبکر وغیره او اختلاف صفتی حکما لکه غیر منصرف شو په حالت نصبی جری کې دلته دا فتحه علامه دنصب ده چې اول ناصبه پرې داخل شی اوعلامه د جر ده چې عامل جاره پرې داخل شوی وی. اختلاف حقیقي دیته وائی چې اختلاف راغلی وی په احوال ثلاثه ؤ کې په دې شان سره چې بعض تابع دبعض نوی اواختلاف حکمی دیته وائی چې بعض تابع د بعضو وی

سوال: ته وائې چې حکم د اسم معرب دا دی چې مختلف کیږي په اخیر د دې نو دا قاعده دی منقوضه شوه په مَن الرجل مَن امراء مَن زید باندې دامَن اسم معرب نه دی او اخیر یې مختلف شوي دي

جواب: زه وایم چې اسم معرب هغې ته وائی چې اخیر دهغې به مختلف کیږي په اختلاف د عوامل سره او دلته اخیردمن په اختلاف دعواملو سره نه دی مختلف شوی، بلکه دلته په دی یو صورت کې دا کسره راغلی ده د وجې دالتقاء دساکنینو نه اوپه دی بل صورت کې ضمه راغلی ده د وجی د مناسبت دمیم نه اوپه دی یو صورت کې ساکن پاتې شوی دی په ځپل حال

سوال: دا قاعده دې منقوضه شوه په ضربت زیداً. ان زیداً قائم. انا ضارب زیداً. دلته مختلف عوامل راغلي دي اوپه اخیر د زید کې اختلاف نه دی راغلی؟

جواب: زه وايم چې اخير د دې به مختلف كيږي د وجې داختلاف ددخول دعوامل مختلفه في العمل نه اودلته دا عوامل مختلف في العمل ندى، بلكه مختلف في الذات دى، او دا دخول دعوامل ځكه وايو چې كه چرته نه هسې عوامل وي ليكن داخل شوى نوى نواختلاف نه راځي.

سوال: ستا دا عبارت نه معلومه شوه چې اختلاف به راځي د وجې د دخول دعواملو نه نو عوامل جمع ده او اقل د جمع ثلاثه وي نو معنى دا شوه چې كم ازكم درې عوامل به پرې داخل شوى وى او كه درې عوامل پرې نوو داخل شوى نو اختلاف به نه راځي په اخير كې او حال دا دى چې دوه عامله مختلف في العمل چې داخل شى په يو اسم معرب باندې نو هم اختلاف راځي په اخير كې.

جواب: دا اعتراض به تا هله كولو چې مراد د جمع نه جمع اصطلاحى وى چې مافوق الاثنين ته وائى ليكن دلته مراد دجمع نه جمع لغوى ده چې مافوق الواحدته وائى.

(٢) په العوامل كې الف لام جنسى دى او دا چې داخل شى په جمع باندې نو جمعيت باطلوي ځكه جنس دلالت كوي په ماهيت او جمع دلالت كوى په افراد باندې او په مابين د دې كې منافات دى.

سوال: ته چې الف لام ناسخ دجمع لپاره گرځوې نوجمع ولې ناسخ نه گرځوې دالف لام لپاره؟

جواب: ځكه چې جمع اول ده او الف لام ثانى دى اوثانى ناسخ داول لپاره وى نه اول دثانى لپاره.

سوال: عوامل جمع دعامل ده كه جمع دعاملة ده، كه جمع دعامل يې وائى نو مطابقت خو راغلو د موصوف سره چې لفظ دى يا اسم وغيره دى ليكن دا د قاعدې نه خلاف ده ځكه چې عامل فاعل وزن دى او فاعل په فواعل سره نه جمع كيږي بلكه فاعلة جمع كيږي په فواعل سره او كه ته وايې چې دا جمع دعاملة ده نو بيا جمع صحيح ده ليكن مطابقت نه راځي په موصوف صفت كې ځكه چې موصوف مذكر دى چې اسم يا فعل يا حرف يا لفظ دى او عاملة مؤنث دى.

جواب: (١) عوامل جمع دعاملة ده او مطابقت يې دموصوف سره شته ځكه چې موصوف دلته كلمة دى.

(٢) او يا داجمع دعامل ده او فاعل په فواعل سره نه جمع كيږي خو هغه فاعل چې صفت دى او دلته دا عامل صفت نه دى بلكه د صفتيت نه نقل شوي دي او علم گرځيدلى دى د يو نوع لفظ لپاره نو اسم جامد دي اواسم جامد چې په وزن د فاعل وي هغه جمع كيږي په فواعل سره.

(٣) دا جمع دعامل ده اوفاعل نه جمع كيږي په فواعل سره هله چې صفت وى د مذكر عاقل لپاره او كه يو اسم د فاعل په وزن باندې صفت نه وو يا صفت وو خو صفت د مذكر عاقل نه وو نو هغه جمع كيږي په فواعل سره ده اودلته عامل صفت دمذكر لايعقل دى نوځكه جمع شوي دي په عوامل سره.

لفظاً او تقديراً: غرض د ماتن د دې عبارت نه دفع د اعتراض ده اعتراض دا دى چې ته وايې چې حكم د اسم معرب دا دى چې مختلف كيږي به اخير د دې د وجې داختلاف دعوامل نه نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په موسى باندې ځكه چې دا اسم معرب دى او كه مختلف عوامل پرې داخل شى نو اختلاف په كې نه راځي دارنگې په عصا قاضى او غلامى باندې هم كه مختلف عوامل داخل شى نو اخير كى يې اختلاف نه راځي.

جواب: اختلاف عام دی که لفظا وی او که تقدیراً وی لفظا لکه جاءنی زید او تقدیراً لکه جاءنی موسی، رأیت موسی الخ پس اختلاف اولا دوه قسمه دی (۱) ذاتی (۲) صفتی ذاتی عام دی که حقیقتا وی او که حکماً او صفتی هم دوه قسمه دی (۱) حقیقتا (۲) حکما بیا هر واحد د دې اقسام اربعه ؤ نه دوه دوه قسمه دي (۱) لفظی (۲) تقدیری. نو مجموعه اقسام داعراب اته شو، پس لابدي شوه د دې اختلاف لپاره د اته مثالونه څلور د اختلاف ذاتی لپاره اوڅلور داختلاف وصفی لپاره. نو مثال د اختلاف ذاتی حقیقي لفظی لکه جاءنی ابوك، رأیت اباك، مررت بأبیك او مثال داختلاف ذاتی حقیقي تقدیری نحو جاء نی اب القوم رأیت اب القوم مررت باب القوم. اومثال داختلاف ذاتی حکمی لفظی لکه اعراب د مثنی او جمع مذکر سالم شو په حالت نصبی اوجری کې بدون الاضافت نحو رأیت مسلمین ومررت بمسلمین او مثال لپاره داختلاف ذاتی حکمی تقدیری لکه اعراب دجمع مذکرسالم شو په حالت نصبی اوجری کې سره داضافت نه اسم متلبس باللام ته لکه رأیت مسلم القوم مررت بمسلم القوم دلته هغه حذف شوې ده د وجې دالتقاء دساکنین نه نواعراب بالیاء تقدیری دی، او مثال د اختلاف صفتی حقیقي لفظی نحو جاءنی زید رأیت زیداً مررت بزید، اومثال داختلاف صفتی حقیقي تقدیری نحو هذه عصی ورایت عصی ومررت بعصی، اومثال داختلاف صفتی حکمی لفظی لکه اعراب دغیر منصرف شو په حالت نصبی جری کې نحو رأیت احمدمررت باحمد، اومثال د اختلاف صفتی حکمی تقدیری لکه اعراب د موسی په حالت نصبی جری کې نحو رأیت وموسی ومررت بموسی.

سوال: لفظاً اوتقدیرا منصوب د ی نومنصوبات خو دوولس دي دا د هغې نه کوم قسم دی؟

جواب: دا منصوب دی بنا بر تمیز دی څکه چې مخکې د دې یختلف فعل نسبت شوی دی اخر ته په هغه نسبت کې ابهام وو نو په دې لفظا او تقدیراً سره رفع د ابهام وشوه، یعنې اخیر د دې به مختلف کیږي د جهت دتقدیر او د لفظ نه (۲) یا دا منصوب دی بنا بر حالیت او دا حال دی دفاعل دان یختلف نه چې اخره دی او که ته وائې چې حمل نه دی صحیح څکه چې اخیر د معرب خو لفظ او تقدیر ندی، نو جواب دا دی دا مصدر په خپله معنی نه دی بلکه دا مبنی للمفعول دی نو معنی یې دا شوه چې دا اختلاف د اخیر د اسم معرب عام دی که ملفوظ وی او که مقدر وي (۳) یادمنصوب بنا بر مفعول مطلق

سوال: مفعول مطلق خومصدر دفعل مذکور ته وایي او دا لفظا او تقدیراً خو مصدرین دیختلف ندی؟

جواب: زه دیته مفعول مطلق وایم په اعتبار دموصوف محذوف سره ای اختلافا لفظیاً واختلافاً تقدیریاً بیا هغه موصوف حذف شو او داصفت قائم شو په مقام د هغې نو دا مفعول مطلق نیابة دی (۴) دا مفعول مطلق دی په اعتبار د حذف دمضاف سره ای اختلاف لفظ واختلاف تقدیر (۵) داخبر دکان محذوف دی یعنې لفظاکان اوتقدیراً اوحذف کان سره د اسم نه اوبقاء د خبر شائع دی په کلام دعربو کې.

الاعراب ما اختلف اخره به لیدل علی المعانی المعتورة علیه: ربط: هرکله چې معرب مأخوذ وو داعراب نه او قاعده دا ده چې وضاحت او خفاء دمشتقاتو په اعتبار د مصدر او مبدا سره وی پس لابدي شوه دمعرفت د اعراب نه لپاره د کمال وضاحت د اسم معرب نو مصنف وویل چې **الاعراب الخ** اعراب په لغت کې اظهار ته وائي یا ازالې د فساد ته وایي اوپه اصطلاح د نحاتو کې هغه حرکت او حرف علت

ساکنه ته وايي داسې حرکت ياحرف علت ساکنه چې مختلف کيږي حرف اخير د اسم معرب د دې جهت نه چې معرب يې واخلي او دا اختلاف عام دی که ذاتاً وی او که صفتاً وی اودا اختلاف ذاتي عام دی چې حقيقتاً وی او که حکماً وی او دا اختلاف صفتي هم عام دی که حقيقتاً وی او که حکماً وی او هر واحد د دې اقسامو نه عام دی که لفظاً و ی او که تقديراً وی، **(به)** په سبب د دې حرکت او حرف علت ساکنه سره په دې شان سره چې دا سبب قرينه دی د دې اختلاف لپاره، يا اعراب په اصطلاح د نحاتو کې دا يو شئ دی هسې شئ چې مختلف کيږي اخير د معرب د دې حيثيت نه چې معرب يې واخلي دا اختلاف عام دی که ذاتاً وی او که صفتاً وی الخ **به** په سبب د دې شی سره په دې شان چې دغه شی سبب قرينه دی لپاره د اختلاف، نو تعريف د اعراب صادق شو په معاني معتوره او عامل باندې ځکه چې هغه اسباب بعيده دی او اعراب اصطلاحی ته اعراب ځکه وايي چې اعراب په لغت کې اظهارته وايي اوپه دی حرکت اوحرف علت ساکنه سره هم اظهار د معانيو معتوره ؤ کيږي چې فاعليت او مفعوليت او اضافت دی يا اعراب په لغت کې ازالې د فساد ته وايي او په دې سره ازاله د فساد کيږي چې هغه التباس دی په مابين د معانيو معتوره ؤ کې.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی موضوع بالبحث خو دلته اسم معرب دی د هغه تعريف او حکم بيان شو نو پکار وه چې اوس مصنف شروع کړی وی په تفصيل د اسم معرب کې نو د اعراب تعريف ولې کوی؟ **جواب:** هرکله چې معرب مأخوذ وو د اعراب نه او قاعده دا ده چې وضاحت د مشتقاتو بنا وی په وضاحت د مبدا او مصدر سره نو لابدی شوه د تعريف د اعراب نه نو مصنف ځکه تعريف د اعراب وکړو. اوس په دې اعراب کې لابدی ده د معرفت د امور خمسه ؤ نه.

(۱) معنی لغوی داعراب (۲) معنی اصطلاحی د اعراب (۳) وجه دتسميه (۴) انواع الاعراب.

(۵) غرض د وضع داعراب نه. نو اعراب په لغت کې اظهار يا ازالې د فسادته وايي ځکه دا مأخوذ دی د عربت المعدة نه او دا عرب په هغه وخت کې وايي چې معده خرابه شی نو دا مجرد دی په معنی د فساد سره دی نوهرکله چې باب افعال ته وخيژولی شي نو بيا په معنی دازالة الفساد سره شو، ځکه چې همزه لپاره دسلب د ماخذ ده.

سوال: ته ما ته بل ځای مثال وښايه چې همزه باب د افعال راغلي وی لپاره دسلب دماخذ؟ **جواب:** (۱) نحو شکی زيد فاشکيته ای ازلت عنه الشکاية (۲) قوله من احبنی فهو کافر و من ابغضنی فهو مؤمن ای عنی المحبة فهو کافر ومن ازال عنی البغض فهو مؤمن او په اصطلاح کې ما اختلف اخره به ته وايي.

سوال: معترض ما عبارت اخستی دی د شي نه نو اعتراض کوی چې دا تعريف اصطلاحی د اعراب مانع نه شو د دخول د غيرنه داخل شو په کې معانی معتوره او عامل ځکه دا هم يو شی دی چې مختلف کيږي د دې وجی نه اخير د اسم معرب د دې اعتراض درې جوابونه دی.

جواب: (۱) نه منم دا خبره چې ما عبارت دی د شي نه بلکه دا عبارت دی دحرکت اوحرف علت ساکنه نه نو تعريف صادق نه شو په عامل او معاني معتوره باندې ځکه چې عامل نه حرکت وی او نه حرف علت ساکنه وی يعنې حرف عامل وی لکه بالله اوحرف علت متحرکه هم عامل راځي لکه والله خو حرف

علت ساكنه جرته عامل نه دی موجود شوی. او حرف علت ساكنه او حركة نكره سره تعبير كولو كي اشاره ده دیته چي دا ما موصوفه دی لوقوعه فی جانب الخبر (۲) دا ما عبارت دی د شي نه خو دا باء لپاره دسببيت ده او مراد د سبب نه سبب قريبه اوسبب بالذات دی اوسبب بالذات د اختلاف لپاره اعراب دی نه عامل اونه معانی معتوره نو هغه ترينه خارج شو. او دا جواب غوره دی څکه چي په تعريف كي لابدی وی دجنس اوفصل نه نو چي ما عبارت شی د شي نه نو ټول به په كي داخل شي

سوال: سبب قريب او بالذات څه ته وايي اوسبب بعيد او بالواسطه څه ته وايي اواعراب سبب بالذات ولي دی اوعوامل اومعانی معتوره اسباب بالواسطه ولي دی؟

جواب: دا سبب اومسبب به خالي نوی يا به په مابين د دي كي بل سبب او واسطه وی او يا به نوی كه نه وو نو سبب قريب او سبب بالذات ورته وايي او كه وو نو سبب بعيد او سبب بالواسطه ورته وايي او معانی معتوره او عامل ته اسباب بالواسطه او اسباب بعيده څكه وايي چي د دي او د اختلاف په مينځ كي بله واسطه شته چي اعراب دی او اعراب ته سبب قريب وايي څكه چي د اعراب او د اختلاف په مينځ كي بله واسطه نشته

سوال: په **به** كي دا باء لپاره د سببيت ده اودا دلالت كو ی په مطلق سبب باندي نوته سبب قريب دكوم خای نه اخلی؟ **جواب:** دا قاعده ده چي شی چي كله مطلق ذكر شی نو رجع يې كيږي فرد كامل ته او فرد كامل په سبب كي سبب قريبه او سبب بالذات دی. (۳) **ما** عبارت دی د شي نه او سبب نه مراد مطلق سبب د ی او دا عوامل او معانی معتوره خارج شوي دي د تعريف داعراب نه په ليدل علی المعانی المعتوره سره څكه چي په عامل او معانی معتورو سره خو اختلاف راځي په اخر د اسم معرب كي ليكن دا دلالت نكوی په معانی معتوره ۆ باندي، اوس دي اعراب اصطلاحی ته اعراب ولي وايي؟ يا دي حرف علت ساكنه او حركت ته اعراب ولي وايي؟ نوديته څكه وايي چي اعراب په لغت كي اظهار ته وائی اوپه دی سره هم اظهار دمعانيو معتوره ۆ راځي، يا اعراب په لغت كي ازالة الفساد ته وايي او په دي سره هم ازاله دفساد راځي چي هغه التباس دی په مابين دمعانی معتوره ۆ كي

سوال: ته وايې چي اعراب ديته وايي چي په هغي سره مختلف كيږي اخير د اسم معر ب نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په جائی رجلان، رأيت رجلين، مررت برجلين، باندي دلته خو په اخير د اسم معرب كي اختلاف نه دی راغلی بلكه په ټولو كي نون راغلی دی په اخير كي؟ **جواب:** زه وايم چي مختلف كيږي حرف اخيرد اسم معرب او حرف اخير دلته واو او يا دی او نون ځان له مستقله كلمه ده.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په جائی زيد، رأيت زيداً، مررت بزيد، دلته حرف اخير دال دی او دي كي خو تغير نه دی راغلی؟ **جواب:** اختلاف عام دی كه ذاتاً و ی او كه وصفاً وی ذاتاً لكه جائنی ابوك الخ او وصفاً لكه جائنی زيد الخ

سوال: دا اختلاف ذاتی دي منقوض شو په حالت نصبی او جري د تثنيه او جمع مذكر سالمه باندي او اختلاف وصفی دی منقوض شو په حالت نصبی او جری د غير منصرف باندي

جواب: دا اختلاف ذاتي او وصفي عام دی که حقيقتاً وی او که حکماً وی نو په تثنيه او جمع مذکر سالم او غير منصرف کې اګر چې حقيقتاً نشته ليکن حکماً شته
سوال: په جاءني موسی، رأيت موسی، مررت بموسی، کې خواختلاف نه دی راغلی په اخير د اسم معرب کې چې موسی دی؟ **جواب:** دا اختلاف عام دی که لفظاً وی او که تقديراً وی دلته اګر چې لفظاً نشته ليکن تقديراً شته
سوال: دا ليدل علی المعاني المعتورة جزء دتعريف نه دی اوکنه دی؟
جواب: دې کې دوه مذهبه دي (۱) يو مذهب دشارح هندی دی (۲) او بل مذهب دشارح جامي دی. هندی صاحب وايي چې دا جز د تعريف نه نه دی بلکه جمله مستانفه ده دا جار مجرور متعلق دی په وضع مقدر پورې او دا يې ذکر کړی دی لپاره د بيان د فائدې د وضع د اعراب تقدير د عبارت دارنګې دی **انما وضع الاعراب ليدل الخ ترجمه:** دا اعراب وضع کړي شوي دي لپاره د دې چې دلالت وکړی په هغه معنی باندې چې وارديږی او موجوديږی په معرب کې پی در پی په طريقه د بدليت او مناوبت سره نه په طريقه د اجتماع سر چې هغه فاعليت او مفعوليت او اضافت دی، په دې شان سره چې دا اسم معرب خالي کيږي هم نه د دې معاني معتوره ؤ نه او په کې جمع کيږي هم نه، او دلائل دهندی صاحب دوه دی.
(۱) يو دليل يې دا دی چې قانون دا دی چې کوم يو قيد چې ذکر شی په تعريف کې نو هغه يا قيد جامعه وی او يا قيد مانعه وی او دا نه جامع دی او نه مانع دی، نو معلومه شوه چې خارج دی د تعريف نه.
(۲) دويم دا چې مصنف وېلي دی په امالی دکافيه کې چې (ليس هذا من تمام الحد) او جامي صاحب وايي چې دا جز دی تعريف نه او د ده دلائل هم دوه دی (۱) اصل په ظرف کې لغوه دی اومستقر خلاف الاصل دی نو دا متعلق دی په اختلف پورې (۲) يو شی چې ذکرشی وروسته د تعريف نه اولی او راجح دا ده چې هغه دی جز وګرځولی شی د تعريف نه او هندی صاحب جواب کوی چې دا لازمه نده چې خامخا هر قيد دتعريف دې جامع وي يا مانع وي بلکه کله کله قيد منبهه هم ذکرکيږي په تعريف کې نو داهم قيد منبهه دی ځکه چې دې مونږ ته تنبيه راکړه په فائده د وضع د اعراب باندې او که دا خبره دې ومنو چې هر قيد خامخا يا جامع وي او يا مانع وی نو بيا زه وايم چې دا مانع دی ځکه چې په دې سره خارج شو د تعريف د اعراب نه معاني معتوره او عوامل
سوال: په المعتورة کې واو متحرك ماقبل مفتوح دی نو واو ولې نه دی بدل شوی په الف باندې؟
جواب: دا محمول دی په متعاورة باندې او هلته نه وو بدل شوی نو دلته هم بدل نه شو او دغه قاعده د ابدال هله ده چې په بل چا حمل نوی
سوال: مناسبت څه دی په مابين دمحمول اومحمول عليه کې؟ **جواب:** لاتحادالمعنی
سوال: معتور صيغه د اسم فاعل ده مأخوذ دی د اعتور نه او اعتور فعل متعدی دی بالذات نو تا ولې متعدی کړو په واسطې د علی سره؟ **جواب:** هندي صاحب دا جواب کړی دی. چې معتورة صيغه د اسم مفعول ده او قانون دا دی چې د فعل متعدی مفعول واحد نه اسم مفعول جوړ شی نو هغه لازم ګرځي،

نو دا لازم وو ځکه متعدی شو په واسطه د حرف جر باندې لیکن جامي صاحب وایي چې دا جواب کمزوری دی ځکه چې اصل په فعل کې او په شبه فعل کې نسبت دی فاعل ته او دا به هله راشي چې صیغه د اسم فاعل شي نو مطلب دا شو چې دا صیغه د اسم فاعل ده، لیکن دا متضمن دی معنی د وارده لره او هغه لازم دی نوځکه متعدی شو په واسطې د حرف جر سره یعنې په دې متضمن باندې جاري کړی دی حکم دمتضمن

سوال: محله د اسم درې دی: (۱) اول (۲) وسط (۳) اخیر، نو دا اعراب په اخیر کې ولې راځي؟

جواب: ځکه چې دا اسم دلالت کوی په مسمی او اعرا ب دلالت کوی په وصف د مسمی باندې چې فاعلیت مفعولیت اضافت دی، او وصف وروسته د موصوف نه نو ځکه به دا په اخیر د اسم کې وی

وانواعه رفع، نصب، وجر: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف دبیان د تعریف د اعراب نه نو شروع یې وکړه په تقسیم داعراب کې ځکه چې تقسیم د متمماتو اومکملاتو د تعریف نه دی، ځکه چې په تعریف سره معلومیږي معنی او مفهوم د شي اوپه تقسیم سره معلومیږي افراد او مصداق د شي نوپس دتقسیم نه به اعراب مونږ ته معلوم شی مفهوماً او مصداقاً نو وې ویل چې وانواعه الخ

ترجمه: انواع او اقسام د اعراب د اسم معرب رفع او نصب او جر دی او د رفع نصب جر اطلاق چې څنګه کیږي په حرکات اعرابیو نو دارنګې اطلاق کیږي په حروف اعرابیو باندې چې واو الف او یاء دی، او وجه دحصر په دې انواع ثلاثهٔ داعراب د اسم معرب کې دا ده چې دا اعراب به خالي نوی یا به دلالت کوی په عمده او یا به دلالت کو ی په فضله او یا به دلالت کو ی په بین بین که اول وو نو رفع که ثاني وو نو نصب او که ثالث وو نو جر

تشریح: سوال: ربط د ما قبل سره څه دی؟ **جواب:** ربط دا دی چې مخکې مصنف تعریف د اعراب وکړه او اوس انواع د اعراب بیانه وي **سوال:** نواع داعراب خو فقط رفع نصب او جر ندی، بلکه انواع داعراب خو څلور دی درې دا مذکور او یو جزم دی نو مصنف هغه ولې ذکر نه کړو؟

جواب: دا اعتراض به تا هله کولو چې په انواعه کې اضافت جنسي وی لیکن دلته اضافت عهدی دی مراد ترې انواع داعراب د اسم دی او انواع داعراب د اسم فقط دا درې دي او هر چې جزم دی نو دا علامه د اعراب دفعل ده، پس زده کړه دا خبره چې علامات دمطلق داعراب څلور دی

(۱) رفع (۲) نصب (۳) جر (۴) جزم، او علامات د اعراب د اسم درې دی: (۱) رفع (۲) نصب (۳) جر

(۳) اوعلامات د اعراب دفعل هم درې دی: (۱) رفع (۲) نصب (۳) جزم. نو جر خاص دی په اسم پورې او جزم خاص دی په فعل پورې

سوال: وانواعه رفع الخ، څه ترکیب دی؟ **جواب:** انواعه مضاف مضاف الیه مبتدأ ده او رفع معطوف علیه سره دمعطوفین نه یې خبر دی مبتدأ سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه ده

سوال: انواع داعراب دا درې ولې دی کم یا زیات ولې ندی؟ **جواب:** ځکه چې مدلولات درې دی

(۱) فاعلیت (۲) مفعولیت (۳) اضافت. نو دوال هم درې قسمه شو

سوال: نکه څنګه چې رفع او نصب او جر علامات د اعراب د اسم دی نو دارنګې واو الف او یاء هم علامات داعراب د اسم دی نو مصنف هغه ولې ذکر نکړه؟

جواب: دغه یې ذکر نکړه ځکه چې درفع نصب جر اطلاق چې څنګه په حرکات اعرابیو باندې کیږي نو دارنګې په حروفو باندې هم کیږي نو د دې ذکر کولو ته مستقلاً ضرورت نه وو.

سوال: مصنف دلته تعبیر په انواعه سره وکړو او وروسته په مبنی کې یې تعبیر په القابه سره کړی دی دا ولې؟ **جواب:** ځکه چې دا مدلولات دحرکات اعرابیه متنوع وو دی اقسام ثلاثه ؤ ته نو انواعه سره یې تعبیر وکړو او هلته مدلولات متنوع نه وو، نو دال هم متنوع نه شو نو ځکه یې تعبیر وکړو په القابه سره.

سوال: کوم شی چې دلالت کوی په فاعل هغې ته رفع ولې وایي او کوم شی چې دلالت کوی په مفعول هغې ته نصب ولې وایي، او کوم شی چې دلالت کوی په مضاف الیه هغې ته جر ولې وایي؟ **جواب:** دیته رفع وایي د وجې دارتفاع د شفت سفلی نه عند تلفظه. (۲) یا د وجې د رفعت د مرتبې د دې نه په خپلو اخواتو باندې د وجې د کیدو د دې نه علامه د عمده د کلام لپاره چې فاعل دی او نصب ته نصب وائی د وجې د انتصاب د شفتینو نه عند تلفظه (۳) یا د دې وجی نه چې دا ودروی فضله لره په کلام کې بې د احتیاج د کلام نه هغې ته لکه رأیت زیدا یا ضرب زیدعمراً شو دلته دی نصب دا زید یا دا عمرو دلته قائم کړو، با وجود د دې نه چې احتیاج ورته نشته په مضمون او افاده داصل کلام کې، او جر ته جر وایي د وجې د انجرار د شفت سفلی نه عند تلفظه.

(۲) یا جر ته جر ځکه وایي چې جر په لغت کې رابنکلو ته وایي. او دا جر چې دکوم شی اثر دی نو هغه هم راکاړي معنی دفعل دمدخول خپل ته چې اسم دی نو شوه دا تسمیه د اثر په اسم د مؤثر سره.

مسئله: مسمیات دوه قسمه دی. (۱) حرکات اعرابیه. (۲) حرکات بنائیه. او نومونه یې درې دی:

(۱) رفع نصب جر (۲) ضم فتح کسر (مجرد عن التاء). (۳) ضمة فتحة کسرة (مع التاء).

اوس په دې نومونو کې څه نسبت دی نو په دې کې دوه مذهبه دی (۱) کوفین (۲) بصریان.

نو په نیز دکوفیانو باندې په دې کې نسبت د مساوات دی یعني دا درې واړه نومونه دحرکات اعرابیو هم دی او دا درې واړه نومونه دحرکات بنائیو هم دی، اوپه نیز د بصرینو باندې په مابین درفع نصب جر او ضم فتح کسر کې نسبت دتباین دی په دی شان سره چې درفع نصب جر اطلاق کیږي په حرکات اعرابیه وو باندې او د ضم فتح کسر اطلاق نه کیږي په حرکات اعرابیو باندې، او د ضم فتح کسر اطلاق کیږي په حرکات بنائیو باندې، او د رفع نصب جر اطلاق نه کیږي په حرکات بنائیو باندې، او په مابین دضمة فتحة کسرة او رفع نصب جر کې نسبت د عموم خصوص من وجه دی درې مادې غواړي (۱) ماده اجتماعی لکه حرکات اعرابیه شو. (۲) او ماده افتراقی از جانب رفع نصب جر لکه واو الف او یاء شو.

(۳) ماده افتراقی ازجانب ضمة فتحة کسرة لکه حرکات بنائیه شو نحو این، امس، حیث، او په مابین د ضم فتح کسر اوضمة فتحة کسرة، کې عموم خصوص مطلق دی. ضمة، فتحة، کسرة، اعم مطلق اوضم فتح کسر اخص مطلق ماده اجتماعی لکه حرکات بنائیه او ماده افتراقی لکه حرکات اعرابیه شو.

فالرفع علم الفاعلية الخ: ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف دبيان دانواع داعراب د اسم نه اجمالاً نو شروع يې وكړه په تفصيل د انواع د اعراب د اسم كې نو وې ويل چې فالرفع الخ نومعلومه شوه چې دا فاء په دې مقام كې تفصيليه ده.

ترجمه: پس رفع دانواع داعراب د اسم نه برابره خبره ده كه حركت وي او كه حرف علت وي دا علامه دكون د شي دې فاعل، فاعل عام دى كه حقيقتاً وى او كه حكما وى فاعل حقيقي هغې ته وايي چې تعريف دفاعل حقيقي پرې صادقيږي اوفاعل حكمى هغې ته وايي چې په هغې كې موجود وې نو صفت د صفتينو دفاعل حقيقي نه چې هغه كون د دې دى مسنداليه او جز ثاني دجملة او مصداق د فاعل حكمي لكه دفاعل حقيقي نه علاوه دا نور مرفوعات شو.

سوال: ته وايي چې رفع دانواع داعراب د اسم نه علامه دكون د شي دى فاعل نو متبادر درفع نه حركت دى نو خارج شو د دې نه جاءنى ابوك ځكه دلته علامه دفاعليت واو دى نه حركت نو پكار وه چې مصنف داسې ويلى وى چې فالرفع والواو علم الفاعلية **جواب:** رفع عامه ده كه حركت وى او كه واو وي نو د رفع اطلاق كيدو په واو باندې نو مستقل ذكر كولو ته ضرورت پاتې نه شو.

سوال: علم په استعمال د كلام دعربو كې په دريو معانيو سره راځي (۱) اسم د شي ته علم وايي لكه زيد شو چې دا يوه نوع دمعرفى ده. (۲) علم بمعنى غر كما في قوله تعالى فى البحر كالاعلام (۳) بمعنى علامه نو دلته د دې نه كومه معنى مراد ده، كه په معنى د اسم سره يې واخلي نو نده صحيح ځكه چې علم د شي محمول وى په هغه شي باندې، او دلته حمل د دې په فاعل نه دى صحيح ځكه چې الفاعل رفع نه ويلى كيږي او كه په معنى د غر سره يې اخلى نو هم نده صحيح ځكه چې څه مناسبت نشته په مابين د مضاف اومضاف اليه كې، او كه په معنى دعلامې سره يې اخلى نو معنى خو صحيح ده ليكن ترجيح بلامرجح راځي

جواب: علم بمعنى علامه دى او ترجيح بلا مرجح نه راځي ځكه چې عدم صحت د دې نورو معانيو مرجح ده د دې چې دلته علم په معنى د علامې سره دى

اوس په دې يو اعتراض واردېږى معترض اول ترجمه غلطه كوى بيا اعتراض كوى د معترض خيال دا دى چې په فاعليت كې دا يا او تا نسبتي دى نو ترجمه دا ده چې رفع علامه د يو شي ده هغه منسوب دى فاعل ته او منسوب الى الفاعل خو فعل او شبه فعل وى او رفع خو علامه د فعل او شبه فعل نده بلكه دا خو علامه دفاعل ده

جواب: دا اعتراض به تا هله كولى چې دا يا او تا نسبتي وى ليكن دا يا او تاء دلته نسبتي نه دى بلكه مصدرى دى او ياء او تاء مصدريه ديته وائى چې كرخوى متصل خپل خبر لپاره دكون محذوفه نو معنى دا شوه چې رفع علامه دكون د شي دى فاعل

پس زده كړه داخبره چې ياء اوتاء دوه قسمه دى (۱) يو ياء او تاء مصدريه دى (۲) او دويم ياء او تاء نسبتيه دى يا او تاء نسبتيه ديته وايي چې كرخوى متصل به خپل منسوب اليه لپاره دغير، او ياء او تاء مصدريه

دیته وایي چې کرخوی متصل به خپل خبر لپاره دکون محذوفه
سوال: فرض منصبی د مصنف خو اختصار بما هو اختصار دی نو فالرفع علم الفاعل یې ولې ونه ویل؟
جواب: فالرفع علم الفاعل یې ونه ویل ځکه که داسې یې ویلی وی نو متوهم به داوهم کولو چې دا رفع علامه د ذات د فاعل ده نو بیا اعتراض واردیږی چې په جاءنی زید کې خو زید مرفوع شو، نو په رأیت زیداً او مررت بزیدٍ کې خو ذات د فاعل شته چې زید دی او رفع خونشته نو هر کله چې ورسره یاء او تاء مصدري یوځای شو نو معنی دا چې دا علامه د ذات د فاعل د زید نه ده، بلکه علامه د صفت د فاعل دزید ده چې فاعلیت دی نو په جاءنی زید کې صفت دفاعلیت شته نو رفع راغله او په رأیت زیداً کې په دې زید کې صفت دفاعلیت نشته نو رفع هم رانغله.
سوال: ستا د عبارت نه معلومه شوه چې مرفوعات چې څومره وي نو هغه به فاعل وی نو مبتدأ او خبر خو د مرفوعات نه دی او دا خو یو هم فاعل ندی. **جواب**: فاعل عام دی که حقیقتاً وی او که حکماً وي فاعل حقیقي هغې ته وایي چې صادقیږی پرې تعریف د فاعل حقیقي چې دا هغه اسم ته وایي چې نسبت د فعل یا شبه فعل ورته شوی وی په طریقه دقیام سره او دا فعل او شبه فعل مقدم شوی وی په هغې باندې په تقدیم وجوبی نوعی سره او فاعل حکمی عند النحات هغه اسم ته وایي چې موجود وی په کې یو صفت د صفتینو دفاعل حقیقي نه (۱) یو صفت یې کون د دې دی مسندالیه (۲) او بل صفت یې کون د دې دی جزء ثانی دجمله نو په زید قائم کې زید فاعل حکمی دی ځکه یوصفت په کې شته چې کون د دې دی مسندالیه او په قائم کې هم یو صفت شته چې جز ثانی د جملې دی نو دا هم فاعل حکمي شو.
والنصب علم المفعولية: نصب علامه دکون د شي دی مفعول ځکه چې علم په معنی د علامې سره دی د وجې د تعذر د معنیینو اخرینو نه او یاء او تاء په کې مصدری دی نه نسبتي نو معنی دا شوه چې نصب علامه د کون د شي دی مفعول مفعول عام دی که حقیقتاً وی او که حکماً وی مفعول حقیقتاً په اصطلاح د نحاتو کې مفاعیل خمسه ؤ ته وایي چې مفعول مطلق مفعول فیه مفعول له مفعول معه دی، او مفعول حکمي هغې ته وایي چې موجود وي په کې یوصفت د صفتینو د مفعول حقیقي چې کون د دې دی فضله او کون د دې دی واقع په مرتبه ثالثه کې نو په دې سره دفع د یو اعتراض وشوه اعتراض دا دی چې ان زیداً قائم کې زید منصوب دی او سره د دې نه چې دا خو مفعول نه دی دارنګې دا نور منصوبات شو علاوه د مفاعیل خمسه ؤ نه. **جواب**: وشو چې مفعول عام دی که حقیقتاً وی او که حکماً وی او دلته دا زید مفعول حکمی دی ځکه چې دا واقع دی په صورت د فضله کې او هر چې هغه نور منصوبات دی نو هغه واقع دی په مرتبه ثالثه کی. **والجر علم الاضافة**: او جر علامه دکون د شي ده مضاف الیه.
سوال: ته وایي چې جر علامه د اضافت ده نو اضافت خو امر معنوی دی، ځکه چې دا نسبت دی په مابین د مضاف او مضاف الیه کې او جر امر لفظی دی نو امر لفظی څنګه علامه د امر معنوی شوه؟
جواب: دلته ذکر دنسبت دی او مراد ترینه طرف دی چې مضاف الیه دی او هغه امر لفظی دی نه معنوی

سوال: ستا سره څه قرینه ده په دې خبره چې ذکر د نسبت دی او مراد ترینه مضاف الیه دی مضاف ترې ولې نه مراد کوی؟ **جواب:** ذکر د طرف نسبت دی او مراد ترینه طرف دی چې مضاف الیه دی ځکه چې مضاف الیه همیشه مجرور وي او مضاف کله مرفوع وی لکه جاءنی غلام زید او کله منصوب وی لکه رأیت غلام زید او کله مجرور وي لکه مررت بغلام زید.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په جاءنی غلام موسی سره ځکه دا موسی مضاف الیه دی او مجرور نه دی. **جواب:** مجرور عام دی که لفظاً وي او که تقدیراً وی دا مجرور تقدیراً دی

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په جاءنی غلام هذا سره یا په جاءنی غلامك سره دلته مضاف الیه نه لفظاً مجرور دی او نه تقدیراً

جواب: دا جر د مضاف الیه عام دی که لفظاً وي که تقدیراً وی او که محلاً وي دا محلاً مجرور دی.

سوال: ته وایې چې جر علامه د مضاف الیه ده نو په غلام زید کې خو زید مجرور دی لیکن په رأیت زیداً کې خو نه دی مجرور دمعترض خیال دا دی چې دا جر به علامه د ذات د مضاف الیه وي.

جواب: دا اعتراض به تا هله کولی چې دا علامه د ذات دمضاف الیه وی لیکن دا علامه دذات دمضاف الیه نده بلکه علامه دوصف دمضاف الیه ده اوس هغه وصف په غلام زید کې شته نو مجرور شو او په رأیت زیداً کې نشته نوځکه مجرورنه شو.

سوال: اصل په عبارت کې دی په نمط واحده سره نو مصنف لره پکاروه چې والجر علم للاضافیة یې ویلی وی، دا نمط یې ولې بدل کړو؟ **جواب:** هرکله چې فاعل او مفعول بذات خود صیغې دمصدر نه وی بلکه صفت وو نو متصل کړی شوه په اخیر د هغې پورې یاء او تاء مصدري لپاره د دې چې دلالت وکړی په معنی مصدري باندې ځکه دا یوه قاعده کلیه ده چې په مشتقی پورې چې الحاق دیاء اوتاء مصدري وکړی شی نو د هغې نه مصدر جوړیږی او چې په مصدر پورې الحاق دیاء او تاء نسبتی وکړی شی نو د هغې نه مشتقی جوړیږی، نو دلته فاعل او مفعول مشتقی وو، دلالت یې کولو په ذات باندې او مراد زمونږه معنی وصفی وه نو الحاق دیاء او تاء ورپورې وشو او اضافت په خپله مصدر وو نو ضرورت پاتې نه شو الحاق دیاء او تاء ته په دې پورې.

سوال: رفع علامه د فاعل ولې شوه، نصب علامه دمفعول ولې شوه، او جر علامه دمضاف الیه ولې شوه؟

جواب: هرکله چې رفع ثقیله وه په نسبت سره نصب او جر ته او فاعل خفیف وو ځکه چې دا یوه نوعه ده، او نصب خفیف وو او مفعول ثقیل وو، ځکه چې انواع خمسه دی نو ورکړی شو ثقیل خفیف ته او خفیف ثقیل ته لپاره درعایت دتعادل او انصاف نو جر پاتې شو او مضاف الیه پاتې شو نو مضاف الیه علامه د جر وګرځیدو. **والعامل ما به یتقوم المعنی المقتضی للاعراب: ربط:** هرکله چې مذکور وو په بیان دحکم دمعرب کې لفظ دعوامل او دا جمع دعامل ده او قانون دا دی چې وضاحت او خفاء دتثنیو او جموعو په اعتبار دمفرد سره وی نو پس لابدی شوه دتعریف دعامل نه نو مصنف ځکه تعریف دعامل وکړو، او هر کله چې معرفت د عامل موقوف وو په معرفت د معانیو معتوره ؤ پورې نو ذکر یې کړو عامل وروسته داعراب نه.

عامل: په لغت کې کارکننده ته وايي او په اصطلاح د نحاتو کې والعامل عامل د اسم برابره خبره ده که لفظي وي او که معنوي وي **ما** هغه شی دی **به** چې خاص په سبب د دغه شی سره **يتقوم** موجوديږی دی حاصليږی المعنی) يو معنی د معانيو ثلاثه ۇ معتوره ۇ نه لا على التعين په اسم معربه کې **المقتضی للاعراب** هسې معنی چې تقاضه کوونکی داعراب ده مثال لکه ضرب شو په ضرب زيدکی ضربت شو په ضربت زيدا کې او باء شوه په مررت بزيد کې:

تشريح: سوال: موضوع بالبحث خو دلته معرب دی نو اول يې د هغه تعريف وکړو بيا يې داعراب تعريف او تقسيم وکړو نو پکار وه چې اوس يې تقسيم دمعرب کړی وی نوتعريف دعامل ولې کوی؟ **جواب:** دا تعريف دعامل په بحث د اسم معرب کې ځکه کوی چې په بيان دحکم د اسم معرب کې لفظ دعوامل ذکر شوی ووالخ

سوال: بيا خو مصنف لپاره پکار وه چې دا تعريف دعامل يې کړی وی، په حکم د اسم معرب پسې متصل بلا فصل؟ **جواب:** دا تعريف دعامل يې دهغې سره متصل ذکر نه کړو او وروسته يې ذکر کړوځکه چې معرفت دعامل موقوف وو په معرفت د معانيو معتوره ۇ پورې

سوال: ستا د دې عبارت معنی دا ده چې جنس عامل يو شی دی الخ. دا معنی ځکه اخلو چې دا مقام د تعريف دی او تعريف دجنس کيږي او په جنس سره کيږي، نو ستا دا تعريف جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو د دې نه. لم. لما. او ان. په لم يضرب. لما يضرب. او ان تضرب اضرب. کې ځکه چې د دې سبب سره خو يوه معنی مقتضی د اعراب نه ده موجوده شوی د دغه معانيو ثلاثه ۇ نه.

جواب: دا اعتراض به تا هله کولو چې دا الف لام دلته په العوامل کې جنسي وي بلکه دلته الف لام عهد خارجي دی او مراد په دې سره عامل د اسم دی نه مطلق عامل او دغه عوامل دفعل دی.

سوال: مطلق عامل څه ته وايي؟ **جواب:** عامل په لغت کې مؤثر ته وائی او په اصطلاح کې
(۱) کون اخر الکلمة علی وجه مخصوص من الاعراب (۲) ما به يتقوم الاعراب فی اخر الکلمة.
نو دا تعريف اوس په لم او لما باندې هم صادق شو عامل بيا په دوه قسمه دی (۱) يولفظی دی (۲) او بل معنوی دی (معنوی) ما يعرف بالقلب ولا يتلفظ به ته وايي دا په دوه ځايونو کی راځي:
(۱) په مضارع کې (۲) په مبتدأ او خبرکی. او (لفظی) ما يعرف بالقلب ويتلفظ به) ته وايي دا بيا درې قسمه دی. (۱) فعل (۲) اسم (۳) حرف. فعل مطلقاً عامل راځي ما سوئ د کان زائده او طالما او قلما نه او حرف په اعتبار د عمل سره دوه قسمه دی. (۱) عامله (۲) غير عامله.

حروف عامله اووه قسمه دی او اسماء هم دوه قسمه دی (۱) عامله (۲) غير عامله. اسماء عامله يوولس دي او نور ټول غيرعامل دی.

سوال: ستا تعريف جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه عامل معنوی، دمعترض خيال دا دی چې دا ما عبارت دی دلفظ نه نو عامل معنوی خو لفظ نه دی نو ځکه خارج شو لکه عامل د مبتدأ شو؟ **جواب:** دا اعتراض به ته هله کولی چې دا ما عبارت وی دلفظ نه ليکن دا عبارت دی د شي نه او په مبتدأ کې هم يوشی عامل دی.

سوال: مصنف په تعریف داعراب کې دا «به» جارمجرور وروسته ذکر کړي وو اودلته يې مخکې ذکر کړو دا ولې؟ **جواب:** دلته په تعریف دعامل کې يې دا ظرف مقدم کړو په خپل عامل باندې لپاره د دې چې دلالت وکړي په حصر او اختصاص باندې ځکه چې دغه معنى مقتضى للاعراب ده د دې دحصول لپاره سبب صرف عامل دی نه بل شی. او په تعریف داعراب کې يې (به) مقدم نه کړو ځکه که مقدم کړې يې وی نو فساد دمعنى لازميدو. ځکه چې اختلاف د اخير فقط د اعراب د وجې نه نه راځي بلکه د عامل او معانى معتوره ؤ د وجې نه هم راځي

سوال: (يتقوم) مأخوذ دی دقيام نه اوقيام وايي مكث على القدمين ته او د دې نسبت ذوى الارواحو او ذوى الاجسامو ته كيږي نو نسبت د دې معنى ته نه دی صحیح؟ **جواب:** دلته ذکر د ملزوم دی چې تقوم دی او مراد ترينه لازم دی چې حصول او وجود دې معنى دا چې حاصليږي

سوال: معترض اول ترجمه غلطه کوی بیا اعتراض کوی نو ترجمه داسې کوی. چې عامل هغه شی ته وايي چې موجوديږی او نخلی معنى مقتضى د اعراب په هغه پوري نو دا تعریف جامع نه شو خارج شو د دې نه ضربت او ضرب زيد دلته معنى دفاعليت په ضرب پورې نده نختى بلكه په زيد پورې نختی ده؟ **جواب:** د دې معنى دا نه ده چې عامل هغه شی ته وايي چې موجوديږی په سبب دهغې سره معنى مقتضى داعراب په هغه کې بلکه د دې معنى دا ده چې خاص په سبب د دې سره موجوديږی معنى مقتضى داعراب په اسم معرب کې.

سوال: ته وايي چې عامل په اصطلاح کې هغه شی ته وايي، چې په سبب ددغه شی سره موجوديږی يو معنى داسې معنى چې مقتضى داعراب وي نو دا تعریف دعامل مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو په کې علامات دمضارع ځکه دا غلامه د مضارع هم يو شی دی چې د دې د وجې نه موجود شوې ده يو معنى په مضارع کې چې هغه مشابهت دمضارع دی د اسم فاعل سره او دا معنى مقتضى د اعراب ده نو ځکه مضارع معرب ده

جواب: دلته په المعنى کې الف لام عهد ذهنى دی مراد د دې نه يوه معنى ده د دغه معانيو ثلاثه ؤ نه په ضمن د فرد مبهم کې اي معنى کان او په مضارع کې د دغه معانيو نه يوه معنى نده راغلى.

فالمفرد المنصرف الخ: ربط. هر کله چې فارغ شو مصنف دبيان دانواع داعراب نه اجمالاً نوشروع يې وکړه په بيان دا محلہ د انواع د اعراب کې تفصيلاً (۲) هر كله فارغ شو دبيان د انواع داعراب د اسم نه نو شروع يې وکړه په بيان د علاماتو داعراب د اسم کې تفصيلاً (۳) هر کله فارغ شو د بيان داعراب مطلق نه نو شروع يې وکړه په بيان داعراب مقيد کې نو وې ويل چې فالمفرد المنصرف الخ اوس په دې سره ربط هم بيان شو د ماقبل سره او تعيين د دې فاء هم وشو چې دا فاء په دی مقام کې تفصيليه او تفسيريه ده.

سوال: په دې سره دامصنف د څه شی تفصیل کوی؟

جواب: مخکې بيان د انواعو داعراب وو نو اوس تفصيل دهغې کوی په اعتبار دمحل سره يا دا تفصيل د علامات دانواع د اعراب کوی، يا تفصيل کوی داعراب مقيد.

ترجمه: پس اسم داسې اسم چې مفرد دی په دې شان سره چې مثنی او مجموع نه دی او مراد د مفرد نه مفرد کامل دی یعنې چې مفرد وی لفظاً اومعناً نو اسماء ستة ترینه خارج شو ځکه چې هغه مفرد کامل نه دی ځکه هغه لفظا مفرد دی اومعنی تثنیه ده. یا اسماء ستة خارج دی د دې نه په قرینه د ذکر د اسماء ستة ؤ سره وروسته د دې نه داسې مفرد چې منصرف دی په مفردسره یې احتراز وکړو د تثنیه او جمع نه او په منصرف سره یې احتراز وکړو د غیر منصرف نه.

والجمع: او جمع داسې جمع چې ما ته شوې ده بنا د مفرد د دې (دا المکسرصفت بحال متعلقه دی د دې جمع لپاره نه صفت بحاله) ای الجمع المکسر مفرده او واحده چې مفرد وران شوي دي او جمع جوړه شوې ده. المنصرف: او داسې جمع چې منصرفه وي مکسر سره (یی احتراز وکړو د جمع سالمې نه او منصرفې سره یې احتراز وکړو دغیر منصرفې نه ځکه چې دهغې حکم اعراب وروسته راروان دی.

بالضمة رفعاً: دا دوه قسمه اسم معرب کولی شی په استعمال د کلام د عربو کې په ضمې سره په حالت رفعي کې یا په اعراب رفعي سره یا په حال کون د دې دواړو کې چې مرفوع یې واخلی. **والفتحة نصباً**: او معرب کولی شی دا دواړه په فتحې سره په حالت نصبي کې یا په اعراب نصبي سره یا په حال کون د هر واحد کې چې منصوب یې واخلی. **والکسرة جراً**: او دا دواړه معرب کولی شی په کسرې سره په حالت جرې کې یا په اعراب جري سره یا په حال کون د هر واحد کې چې مجروري یې واخلي.

تشریح: **سوال**: مفرد خو په اصطلاح د نحاتو کې مشترك لفظی دی په مابین د معانیو اربعه ؤ کې: (۱) مقابل د مطلق مرکب (۲) مقابل د مرکب تام (۳) مقابل دمثنی او مجموع (۴) مقابل دمضاف او شبه مضاف اوس دا مقابل دچا دی. مقابل دمرکب خو نه شي کیدی ځکه چې په مرکب کې اعراب نه راځي. خو یا به یې مقابل دمثنی او مجموع وایي، او یا به یې مقابل دمضاف او شبه مضاف وایي، که مقابل دمضاف او شبه مضاف یې وایي نو دا خبره ستا غلطه ده ځکه چې مضاف هم معرب دی په اعراب کذائی سره. لکه جاءنی عبدالله الخ. او که مقابل دمثنی اومجموع یې وایي نو دا قاعده د ی منقوضه شوه په اسماء ستة ؤ مکبره ؤ هغه مفرد دی په دې شان سره چې نه مثنی دی او نه مجموع دی او معرب نه دی په اعراب کذائی سره

جواب: مفرد دلته مقابل دمثنی او مجموع دی خو مراد د مفرد نه مفرد کامل دی یعني چې لفظاً او معنی دواړه مفرد وي او اسماء ستة معنی تثنیه دی نو ځکه ترینه خارج شول (۲) یا مطلق مراد دی مقابل دمثنی اومجموع او اسماء ستة خارج دی د دې حکم نه په قرینه د ذکر د اسماء ستة ؤ سره وروسته د دې نه نو معنی دا شوه چې مفرد معرب دی په اعراب کذائی سره سوی د اسماء ستة او نورو نه ځکه چې قانون دی چې مخکې یو حکم کلي ... او د هغې نه بعد یو جزئی ذکر شي نو هغه په منزله د مستثنی وي، د دې نظیر لکه دا یوه قاعده ده چې منادی مفرد معرفه مبنی علی ما یرفع وی ماسوی د هغه منادی مفرد معرفی نه چې هغه موصوف وي په ابن سره داسې ابن چې مضاف وي علم اخو ته لکه یا زید بن عمرو ځکه چې دا ترینه وروسته ذکر دی نو بمنزله مستثنی شو

سوال: تا الجمع المكسر وويل نو طلبة او رجال خو جمع دي او دغه قسم د اعراب به كي راځي ... ما ته شوي نه ده بلكه ماتوالى خو په مفرد د دې كي راغلى دى نو ته دينه څنګه جمع مكسر وايې؟

جواب: دا اعتراض به تا هله كولى چې دا صفت بحاله وى ليكن دا صفت بحاله نه دى بلكه متعلقه دى (بالفاظ ديګر) دا اعتراض به تا هله كولى چې دا وصف فعلى وى ليكن دا وصف فعلى نه دى بلكه وصف سببى دى

سوال: ته وايې چې جمع مكسره دينته وايې چې بنا د مفرد يې ماته شوى وى نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په مصطفون او په بنون باندې دى كې بنا د مفرد ماته شوې ده او دا خو جمع مكسره نده بلكه جمع سالمه ده؟ **جواب:** جمع مكسره هغې ته وايې چې ما ته شوى وى بنا د مفرد د هغې لپاره د حصول د جمعيت او دلته دا بناء د مفرد لپاره د حصول د جمعيت نده ماته شوى، بلكه جمع اول جوړه شوې ده او دا تغير په كې بيا وروسته راغلى دى د وجې د قواعد صرفيه نه.

سوال: توصيف د جمع يې په مكسر او منصرف سره ولې وكړو؟

جواب: المكسر سره يې احتراز وكړو د جمع سالمې نه برابره خبره ده كه مذكر وى او كه مؤنث وي څكه د هغې اعراب دارنګې نه دي او المنصرف سره يې احتراز وكړو د غير منصرف نه څكه د هغې اعراب همدارنګې ندى بلكه وروسته راروان دى

سوال: فرض منصبى د مصنف خو اختصار بما هو اختصار دى نو داسې يې ولې ونه ويل چې **فالمفرد والجمع المكسر المنصرف:** دا منصرف يې جدا جدا د هر يو لپاره ولې صفت واقع كړو؟

جواب: كه داسې يې ويلې وى چې فالمفرد والجمع المكسر المنصرف. نو بيا فصل راتلو په مابين د موصوف كې چې المفرد دى او په مابين د صفت كې چې المنصرف دى و دا لايجوز

سوال: فرض منصبى د مصنف خو اختصار بما هو اختصار دى نو بالضمة والفتحة والكسرة يې ولې ونه ويل چې دا دومره اوږد عبارت يې ذكر كړو؟ **جواب:** فقط بالضمة والفتحة والكسرة يې ونه ويل بلكه دا قيد د رفعاً نصباً جراً يې ورسره ذكر كړو لپاره د دفع د توهم. څكه كه دا رفعاً نصباً جراً يې ورسره نه وى ذكر كړى نو متوهم به دا وهم كولو چې دا دوه قسمه اسم به مبنى وى په فتحى ضمى او كسرى سره څكه چې د ضمى فتحى كسرى اطلاق غالباً كيږي په حركات بنائيو باندې

سوال: بالرفع والنصب والجرىي ولې ونه ويل؟ **جواب:** بالرفع الخ يې ونه ويل څكه چې بيا به متوهم دا توهم كولو چې دا معرب دى په اعراب بالحرف سره څكه چې رفع نصب جر عام دى اطلاق يې په اعراب بالحركة هم كيږي او په اعراب بالحرف يې هم اطلاق كيږي (۲) يا دا چې د بالضمة سره يې رفعاً قيد ولګولو او د الفتحة سره يې نصبا قيد ولګولو او د الكسرة سره يې جراً قيد ولګولو څكه چې علامات د رفع په اسم كې درې دى (۱) ضمه (۲) واو (۳) الف. نو رفعا سره يې بالضمة ذكر كړو لپاره د تعيين د نوع چې دا به مرفوع بالضمة وى نه بالواو والالف دارنګې د نصب علامات څلور دي (۱) فتحه (۲) كسره (۳) الف (۴) ياء نو د نصب سره يې تعيين د نوع وكړو چې دا به منصوب بالفتحه

وي نه بالالف والياء والكسرة او د جر لپاره علامات په اسم کې درې دی: (۱) کسره (۲) فتحه (۳) یاء نو بالکسرة سره یې تعیین د نوع وکړو

سوال: رفعا نصبا جرا منصوب دی اومنصوبات دوولس دی نو دا کوم قسم دی؟

جواب: دا منصوب بنا بر مفعول فیه لپاره دفعل محذوف ای یعربان بالضمة رفعاً الخ

سوال: مفعول فیه خو یا زمان وی او یا مکان وی او دا خو یو هم نه دی؟

جواب: دا مفعول فیه دی په اعتبار د مضاف محذوف سره ای حالة الرفع الخ

(۲) یا دا منصوب دی بنا بر مفعول مطلق دمتعلق د بالضمة لپاره چې یعربان دی

سوال: مفعول مطلق خو مصدر دفعل مذکور ته وایي او دا خو مصدر د یعربان ندی؟

جواب: دا مفعول مطلق دی په اعتبار دحذف دمضاف سره ای یعربان بالضمة اعراب رفع

(۳) یا دا منصوب دی بنا بر حالیت دضمیر مستتر نه په بالضمّة کې چې راجع دی مفرد منصرف ته

سوال: دا چې منصوب شی بنا بر حالیت نو په دې کې دوه نقصانه دی: (۱) یو دا چې حمل د صرف وصف راغلو په ذات باندې او دا نه دی صحیح ځکه چې دا مفرد منصرف خو رفع نصب جر نه دی بلکه مرفوع منصوب مجرور دی. او بل دا چې مطابقت نه راځي په مابین دحال او ذو الحال تثنیه ده ځکه چې یو مفرد منصرف دی او بله جمع مکسره منصرفه ده او حال مفرد دی چې رفعاً الخ دی

جواب: دا مصدر مبني للمفعول دی نو حمل صحیح شو او د هغه مفعول نه بیا تعبیر په تثنیه سره کیږي ای حال کونهما مرفوعین الخ بیا دا الفتحة مجرور دی عطف دی بالضمة او نصباً منصوب دی عطف دی په رفعاً باندې نو عطف د اسمینو راغلو په معمولینو دعاملینو مختلفینو باندې سره د تقدیم دمجرور نه هم په جانب دمعطوف کې او هم په جانب دمعطوف علیه کې او دا جائز دی په نیز دمصنف باندې

سوال: دا قسم اعراب ولې خاص شو په مفرد منصرف او جمع مکسره منصرفه پورې؟

جواب: ځکه چې دانوع دمعرب اصل ده دباقی انواع د اسم معرب نه او دا نوع داعراب اصل ده دباقی انواع داعراب نه نو ورکړی شو اصل اصل ته لپاره د رعایت دتعادل او انصاف.

سوال: دا نوع دمعرب ولې اصل ده د نورو انواعو نه او دا نوع د اعراب ولې اصل ده دنورو انواعو د اعراب نه؟ **جواب:** مفرد اصل دی د تثنیه او جمع نه ځکه هغه د دې نه جوړیږي او منصرف اصل دی د غیر منصرف نه ځکه اصل په اسماؤ کې اینصراف دی. او جمع مکسره اصل ده دجمع سالمې نه د وجې د موافقت دلفظ نه دمعنی سره په تغیر کې او منصرفه اصل ده د غیر منصرف نه او دا قسم اعراب اصل دی، ځکه چې اعراب بالحرکة اصل دی د اعراب بالحرف نه ځکه چې اعراب علامه ده دفاعلیت مفعولیت اضافت او اصل په علامه کې دا ده چې دا به خارج وي د هغه شی نه او دا حرکت خارج وي او اعراب بالحرف نه وی خارج. (۲) اعراب بالحرکت اصل دی د اعراب بالحرف نه ځکه چې اعراب بالحرکت مشتق منه دی د اعراب بالحرف لپاره. ځکه چې واو د دوه ضمو نه جوړیږي الف د دوه فتحو نه جوړیږي او یاء د دوه کسرو نه جوړیږي. او مشتق منه اصل وی دمشتق نه، او اعراب په احوال ثلاثه ؤ کې اصل دی د هغې نه چې بعض احوال تابع د بعضو وي

جمع المؤنث السالم: ربط: هركله چې فارغ شو مصنف دبيان داعراب دمفرد منصرف او جمع مکسر منصرفې نه نو شروع يې وکړه په بيان د اعراب دجمع مؤنث سالمه کې (۲) هر کله چې فارغ شو د بيان د اعراب بالحرکة اصالة نه نوشروع يې وکړه په بيان داعراب بالحرکت نيابه کې نو ويې ويل چې **جمع المؤنث السالم: ترجمه:** جمع مؤنث حقيقي اصطلاحی داسې جمع مؤنث حقيقي اصطلاحی السالم چې روغه پاتې شوی ده بنا د مفرد د دې په دې شان سره چې په بنا د مفرد د دې کې تغير نه دی راغلی لپاره ده حصول دجمعيت نو جمع مؤنث سالم حقيقي اصطلاحی عندالنحات هغه جمع ته وايي چې په اخير کې يې الف اوتاء زائدتان راغلې وی برابره خبره ده چې مفرد يې مذکر وي او که مؤنث وي او جمع مؤنث سالمه په لغت کې هغه جمع ته وايي چې د هغې مفرد مؤنث وي او دلته مراد د جمع مؤنث سالم نه حقيقي اصطلاحی ده نه لغوی ځکه هر متکلم بحث کوی په خپله اصطلاح باندې **بالضمة** معرب کولی شی په ضمی سره په حالت رفعی کې. **والكسرة** او معرب کولی شی په کسرې سره په حالت نصبي او جري کې په دې شان سره چې عامل ناصبه پرې داخل شی نو منصوب راځي په فتحې سره. او چې عامل جاره پرې داخل شي نو مجرور وي په کسرې سره نو دلته نصب تابع د جر دی ځکه چې دا جمع مؤنث سالمه فرع دجمع مذکر سالمي ده، او هلته خو نصب تابع د جر وو نو دلته هم نصب تابع د جر شو لپاره د دې چې لازم نه شی مزيت د فرع په اصل باندې

تشريح: په دې مقام کې چې اضافت دجمع المؤنث ته وشو نو په دې سره احتراز راغلو د جمع مذکر نه ځکه جمع مذکر به خالي نه وی يا به سالمه وی او يا به مکسره وی، که مکسره وي نو د هغې اعراب مخکې بيان شوي دي، او که سالمه وي نو هغې اعراب وروسته راروان دی، او توصيف د جمع چې يې وکړو السالم سره نو په دې سره يې احتراز وکړو د جمع مؤنث مکسرى نه ځکه د هغې اعراب مخکې بيان شوی دی

سوال: السالم په ترکيب کې څه واقع شوي دي؟ **جواب:** دا صفت د جمع المؤنث دی

سوال: صفت خو دوه قسمه دی (۱) بحاله (۲) بحال متعلقه دا کوم يو دی؟ **جواب:** دا صفت بحال متعلقه دی نو معنی يې دا ده چې روغه پاتې شوي وي بنا د مفرد د دې

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په مرفوعات منصوبات مجرورات باندې دا جمع مذکر ده ځکه مفرد د دې مذکر دی او دا خو معرب ده په اعرا ب د جمع مؤنث سالمې سره او سنون او ارضون جمع مؤنث سالمه ده ځکه مفرد د دې مؤنث دی چې ارض او سنة دی او دا خو معرب نه دی په دې قسم اعراب سره منشأ د اعتراض دا ده چې معترض د جمع مؤنث سالم نه مراد لغوی اخستی ده؟ **جواب:** دا اعتراض به تا هله کولی چې مراد د جمع نه په دې مقام کې جمع لغوی وی ليکن دلته مراد جمع حقيقي اصطلاحی ده نه لغوی

سوال: جمع مؤنث سالم دنحويانو په اصطلاح کې څه ته وايي؟

جواب: دا هغه جمع ته وايي چې د هغې د مفرد په اخير کې الف او تاء زائدتان راغلی وی او مفرد يې عام دی، که مذکر وي او که مؤنث وی

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول دالله تعالى سره چې ﴿ وَكُنتُمْ أَمْوَٰتًا ﴾ دلته د اموات په اخير کې الف او تاء راغلی دی او سره د دې نه چې دا قسم اعراب خو په کې نشته بلکه دلته خو حالت

نصبي په فتحي سره راغلی دی؟ **جواب:** جمع مؤنث سالم هغې ته وايي چې په اخير کې يې الف او تاء زائدتان راغلی وی نه مطلق الف او تاء او دلته په امواتاً کې دا تاء زائده نده بلکه اصلی ده. نو دا جمع مؤنث سالمه نده بلکه جمع مذکر مکسره ده.

سوال: په دې باندې قرينه څه ده چې دلته مراد د جمع اصطلاحی ده نه لغوي؟

جواب: قرينه په دې دا ده چې هرمتکلم خبرې کوي په خپله اصطلاح باندې.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول دالله تعالی سره چې ﴿ وَإِن كُنَّ أُولَٰتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ ﴾ دلته او لات جمع مؤنث سالم حقيقي نه ده، ځکه چې مفرد من لفظه ورله نشته او حالانکه دا خو معرب ده په اعراب دجمع مؤنث سالمې سره؟ **جواب:** او لات ملحق دی په جمع مؤنث سالم حقيقي اصطلاحی پورې او دا اعراب مذکور چې څه رنګې په جمع مؤنث سالمه کې راځي. نو دا رنګې په ملحق د جمع مؤنث سالمه کې راځي، نو سيد سند صاحب خو په نحومير کې وايي چې اسم متمکن په اعتبار د اعراب سره شپاړس قسمه دی ليکن يو قسم په کې ملحق د جمع مؤنث سالمې هم دی، نو مجموعه اوولس اقسام شو، اوس دا جمع مؤنث سالمه به په حالت رفعي کې په ضمې سره وی او په حالت نصبی او جری کې به په فتحی سره وی، مثال لکه هن مسلمات، رأيت مسلمات مررت بمسلمات ونحوقوله تعالی ﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ وقولك جاء البرد والجبات

سوال: په دې جمع مؤنث سالمه کې نصب تابع د جر ولې دی؟

جواب: ځکه چې دا فرع د جمع مذکر سالمې ده او په جمع مذکرسالم کې خو نصب تابع د جر وو نو دلته هم نصب تابع د جر شو لپاره د دې چې لازم نه شي مزيت دفرع په اصل باندې.

سوال: مزيت دفرع په اصل باندې خو اوس هم راغلی دی ځکه چې دا معرب ده په اعراب بالحرکة سره او هغه معرب ده په اعراب بالحرف سره او اعراب بالحرکت اصل دی د اعراب بالحرف نه؟

جواب: (۱) نه منم دا خبره چې مزيت د فرع راغلی دی په اصل باندې ځکه چې اعراب بالحرکت مطلقاً اصل نه دی د اعراب بالحرف نه، بلکه اعراب بالحرکت اصل دی په مفردات کې او اعراب بالحرف اصل دی په تثنيو او جموعو کې. (۲) او که ومنم چې اعراب بالحرکت اصل دی مطلقاً نو بيا دا مزيت د فرع راغلی دی په اصل باندې د ناچارۍ او مجبورۍ د وجې نه ځکه چې دجمع مؤنث سالم په اخير کې حرف صالح لپاره د اعراب نشته چې دا معرب بالحرف شي.

سوال: په دې جمع مؤنث سالم کې چې کسره علامه د جر او نصب به دواړو شوه نو دا خو التباس راغلو په ما بين د حالت نصبی او جري کې. **جواب:** التباس دحالت نصبی او جري مدفوع دی په ماقبل سره چې عامل دی په دې شان سره که عامل ناصب پرې داخل شوی وو نو کسره علامه دنصب ده لکه رأيت مسلمات، او که عامل جاره پرې داخل شوی وو نوکسره علامه د جر ده لکه مررت بمسلمات

سوال: مخکې مصنف رفعاً نصباً جراً قيد لګولی وو نو دلته يې ولې ونه لګولو سره د دې نه چې دغه قيد ورسره مراد دی.

جواب: فرض منصبی دمصنف اختصار بما هو اختصار دی او عادت دمصنف دا دی چې قاعده ثاني چې په کومو قیوداتو کې مختلف مخالف وي د قاعدې اولی نه نو هغه ذکر کوی او کومو کې چې ورسره موافق وی هغه ترک کوی نو دا یې ترک کړی دی مقایسه.

غير المنصرف: هر کله چې فارغ شو د بیان د اعراب دجمع مؤنث سالم نه نو شروع یې وکړه په اعراب دغیر منصرف باندې او دا غیر منصرف یې وروسته د جمع مونث سالمی نه ذکر کړو. ځکه چې دا دواړه معرب دی په اعراب بالحرکت سره په حالتینو کې

ترجمه: غیر منصرف برابره خبره ده که مفرد وي او که جمع وی **بالضمة** معرب کولی شی په ضمې سره په حالت رفعی کې **والفتحة** او په فتحې سره په حالت نصبی جری کې په دې شان سره چې دلته جر تابع د نصب دی، ځکه دا مشابه د ی دفعل سره په وجود د فرعتینو کې. او مشبه کله کله حکم د مشبه به اخلی او په فعل کې خو جر نه راتلو نو دلته به هم نه راځي. او دا غیر منصرف معرب کولی شی په ضمی سره په حالت رفعی کې او په فتحی سره په حالت نصبی جری کې په دې شرط سره چې دا به نه وی په صورة د جمع مؤنث سالمه کی (۲) او نه به وي په صورت دجمع مذکر سالمه کې

(۳) او په وخت دعدم د وجود د مانع کې مثال لکه جاءني احمد رأيت احمد مررت بأحمد، ونحو قوله تعالى ﴿ فَحَيُّوا۟ بِأَحْسَنَ مِنْهَآ ﴾ وقوله تعالى ﴿ يَعْمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ وَتَمَٰثِيلَ ﴾ وقوله تعالى ﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ ﴾

تشریح: سوال: دا قسم اعراب ولې خاص شو په غیر منصرف پورې یعنې په غیر منصرف کې جر تابع د نصب ولې شو؟ **جواب:** ځکه چې دا غیر منصرف مشابه دی د فعل سره په وجود د فرعتین کې په فعل کې دوه فرعتیه دی: (۱) فعل په افاده د فائده تامه کې فرع د اسم ده (۲) دا مشتق دی د اسم نه یعنې د مصدر نه نو په اشتقاق کې هم فرع د اسم ده او په غیر منصرف کې دوه سببه وي. او دا هم فرعتین دی، او مشبه کله کله حکم د مشبه به اخلی نو په فعل کې خو کسره نه راځي. نو دلته هم نه راځي اوپه فعل کې ځکه نه راځي چې دا جر اثر د حرف جر دي او حرف جر خو خاص دی په اسم پورې نو جر هم خاص شو په اسم پورې لپاره د دې چې لازم نه شی اختلاف په مابین د اثر او موثر کسبي کې

سوال: هر کله چې حالت نصبی او جري دواړه فتحې سره شو نو دا خو التباس راغلو په مابین د حالت نصبي او جري کې **جواب:** دا التباس دحالت نصبی او جری مدفوع دی په ما قبل عامل سره په دې شان سره چې که عامل ناصبه پرې داخل شوی وو نو دا فتحه به علامه د نصب وی نحو رأيت احمد. او که عامل جاره پرې داخل شوی وو نو دا فتحه به علامه د جر وي نحو مررت بأحمد.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په عرفات سره چې راغلی دی په دې قول دالله کی ﴿ فَإِذَآ أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَٰتٍ ﴾ دا عرفت غیر منصرف دی د وجې د علمیت اوتأنیث نه او دلته خو په دې باندې کسره راغلې ده؟ **جواب:** مونږ وایو چې دا غیرمنصرف به مجرور بالفتحه هله وی چې په صورت دجمع مؤنث

سالمه کې نوی او که په صورت دجمع مؤنث سالمه کې راشي لکه عرفات او اذرعات نو په دې کې درې لغته دي (۱) مشهورلغت په کې دا دی چې دا معرب کولی شی په اعراب د جمع مؤنث سالمه سره مع التنوین (۲) دویم لغت دا دی چې دا معرب کولی شي په اعراب دجمع مؤنث سالمه سره بدون التنوین (۳) معرب کولی شی په اعراب د غیر منصرف سره

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په ایامنون سره دا جمع دا یامن ده غیر منصرف دی حالانکه په دی کې خو دا قسم اعراب نشته؟ **جواب:** مونږ وایو چې دا غیر منصرف به معرب کولی شی په دې قسم اعراب سره په دې شرط سره چې په صورت دجمع مذکرسالمه کې نوی او دا په صورت د جمع مذکرسالمه کې دی نو معرب دی په اعراب دجمع مذکر سالمي سره

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د شاعرسره شعر

اعد ذکر نعمان لنا ان ذکره   هو المسك ما كررته يتضوع

دارنګې دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله جل جلاله ﴿وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ﴾ او بل په دې قول دالله تعالی کې ﴿إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَائِرِ اللَّهِ﴾ چې دلته نعمان او مساجد او شعائر غیر منصرف دی او سره د دې چې کسره پرې راغلی ده؟ **جواب:** زه وایم چې غیرمنصرف باندې به دا قسم اعراب جاري کیږي په وخت د عدم وجود د ضرورت شعري کې او په وخت د عدم اضافت د غیر منصرف کې غیر ته او بل په وخت دعدم دخول دالف لام کې په دې باندې، او دلته په دې اول مثال کې ضرورت شعري دی او په دې دریم مثال کې په دې باندې الف لام داخل شوی دی او په دې دویم مثال کې اضافت د غیر منصرف شوي دي غیرته (۲) دویم جواب دا دی چې دا مثالونه دغیرمنصرف نه دی بلکه دا مثالونه د منصرف جعلي دی **ابوك واخوك وحموك وهنوك وفوك وذو مال مضافة الى غير ياء المتكلم، الخ** هرکله چې مصنف فارغ شو د بیان د اعراب بالحرکت حقیقي او حکمي نه نو شروع یې وکړه په بیان د اعراب بالحرف کې او هرکله چې اسماء سته مکبره معرب وو په اعراب بالحرف سره په احوال ثلاثه ؤ کې حقیقتاً په دې شان سره چې بعض احوال په کې تابع د بعضو نو وو، نو مقدم کړه مصنف اسماء سته مکبره په مثني او جمع مذکر سالمه باندې نو وې ویل چې (ابوك واخوك، وحموك، الخ حمو ویلی کیږي قریب المرأة من جانب الزوج ته او د دې اضافت نه کیږي مګر مؤنث ته نو ځکه مصنف مضاف کړو ضمیر د مؤنث ته او دا نورې مضاف کړه ضمیر مذکر ته او د ذواضافت اسم ظاهر ته کیږي نه ضمیر ته نو ځکه مصنف ذو مضاف کړو اسم ظاهر ته او دا نورې مضاف کړه ضمیر ته دا شپږ واړه اسماء په حال کون د دې کې چې مضاف یې واخلي غیر د یاء متکلم ته او په حال کون د دې کې چې مکبر او موحد یې واخلی دا کون د دې اسماء ومضاف الی غیر یاء المتکلم او موحد او مکبر شرط دی لپاره دکون د دې اسماء معرب په اعراب کذائی سره لیکن مصنف نه دی ذکر کړی اکتفاء یې کړیده په مثال باندې **بالواو** دا معرب کولی شي په واو سره په حالت رفعي کې یا په اعراب رفعي سره یا په حال

کون د دې کې چې مرفوع يې واخلي **والالف** اومعرب کولی شي په الف سره په حالت نصبي کې يا په اعراب نصبي سره یا په حال کون د دې کې چې منصوب يې واخلي **والیاء** او معرب کولی شي په یاء سره په حالت جري کې یا په اعراب جري سره یا په حال کون د دې کې چې مجرور يې واخلي ځکه هر کله چې ورکړی شو مفرداتو لره اعراب بالحرکة او تثنیو او جموعو لره اعراب بالحرف پس لازم شو کمال منافات او وحشت تامه بین المفردات والتثنيه والجموع سره دمناسبت اشتقاقي نه په مابین د دوی کې پس ورکړی شو بعض مفردات لره اعراب بالحرف لپاره دحصول دمناسبت بین المفردات والتثنیه والجموع او مختار شو شپږ اسماء نه کم او نه زیات. ځکه د تثنیه او جمع هر واحد لپاره احوال ثلاثه دی نو وګرځولی شو په مقابله د هر حال کې اسم علیحده او مختار کړی شو دا شپږ نه نور ځکه حرف اخیر د دې صالح مسموع الاعراب دی په وخت داضافت کې مثال لکه دا قول دالله شو ﴿ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ﴾ دلته اب مرفوع بالواو دی ځکه مبتدأ ده. وقوله تعالی ﴿إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴾ او دلته منصوب بالالف دی ځکه اسم د ان دی وقوله تعالی ﴿ ارْجِعُوا إِلَىٰ أَبِيكُمْ ﴾ دلته مجرور بالیاء دی ځکه حرف جر پرې داخل شوی دی او مثال د ذو کما في قوله تعالی﴿ لَذُو مَغْفِرَةٍ ﴾ دا مرفوع بالواو دی ځکه خبر د ان دی وان کان ذا مال دلته منصوب بالالف دی ځکه خبر د کان دی وقوله تعالی الی ﴿إِلَىٰ ظِلٍّ ذِي ثَلَاثِ شُعَبٍ﴾ دلته شعب مجرور بالیاء دی ځکه صفت د ظل دی.

تشریح: ابوك معطوف علیه سره د معطوفات نه مبتدأ ده او بالواو جار مجرور ورله خبر دی باعتبار المتعلق. **سوال:** دا مضافت ولې منصوب دی؟ **جواب:** دا منصوب دی بنا بر حالیت.

سوال: حال خو دوه څیزونه غواړي (۱) ذوالحال (۲) عامل نو دا د چا نه حال واقع شوی دی؟

جواب: دا حال واقع شوی دی د ابوك الخ نه.

سوال: حال خو یا د فاعل نه وی او یا د مفعول به نه وی او ابوك الخ خو مبتدأ ده.

جواب: دا د دې ابوك الخ اسم ظاهر نه حال نه دې واقع شوی بلکه حال دی د هغه ضمیر نه چې مستتر دی په دې ظرف کې چې بالواو الخ دی او راجع دی ابوك الخ ته.

سوال: دا خو تقدیم دحال راغلو په عامل معنوی باندې او دا خو ندی جائز

جواب: تقدیم دحال جائز ندی په عامل معنوی باندې خوبخلاف الظرف په ظرف کې تقدیم دحال جائز په دې شرط سره چې تقدیم دمبتدأ راغلی وو په حال باندې (دا مذهب داخفش دی).

سوال: اصل په عبارت کې عبارت دی په نمط واحد باندې نو څه وجه ده چې مصنف د دې پنځه اسماؤ اضافت ضمیر ته وکړو او د ذو اضافت يې اسم ظاهر ته وکړو؟

جواب: ځکه چې د ذو اضافت اسم ظاهر ته کیږي نه ضمیر ته او اسم ظاهر عام دی که معرفه وی او که نکره وی ځکه ذو واضع وضع کړی دی لپاره دتوصیف د یو شي په اسم جنس سره لکه جاءني رجل ذو مال نو دلته دا مال اسم جنس صفت واقع شو د رجل لپاره په واسطې د ذو سره او بغیر د ذو نه ورله

صفت نه شي واقع کيدی او اسم جنس اسم ظاهر وی نه ضمير او بل دا چي ضمير د چا لپاره صفت نه سي واقع کيدی نو ځکه مصنف د دې اضافت وکړو اسم ظاهر ته نه ضمير ته

سوال: ته وايې چې د دې اضافت اسم ظاهر ته کيږي او ضمير ته نه کيږي دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د شاعر انما يعرف ذا الفضل من الناس ذووه

او بل دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول سره چې اللهم صل على محمد وذويه - دلته خو اضافت د ذو راغلی دی ضمير ته؟ **جواب:** دا شاذ دی او په شاذ سره نه قاعده جوړيږي او نه ورانيږي ذو بيا دوه قسمه دی (۱) صاحبی (۲) موصولی، په مابين د دې دواړو کې څلور فرقونه دی (۱) ذوصاحبی په معنی د صاحب سره راځي او موصولی په معنی د الذی سره راځي

(۲) د ذوصاحبی مدخول مفرد وی لکه ذو مال او ذو موصولی مدخول جمله وی نحو جاءنی ذو ضربك، ای الذی ضربك يا لکه په دې قول دشاعر کې

فان الماء ماء ابی وجدی　　　وبيری ذوحفرت و ذو طويت

(۳) ذو صاحبی مختلف کيږي په اختلاف د عواملو سره او ذو موصولی نه مختلف کيږي په اختلاف د عوامل سره (۴) ذو موصولی مبنی علی السکون دی او ذو صاحبی معرب دی په اعراب بالحرف سره په احوال ثلاثه ؤ کې حقيقتاً

سوال: مصنف د دې نورو اسماؤ اضافت وکړو ضمير مذکر ته او د حمو اضافت يې وکړو ضمير د مؤنث ته دا ولې؟ **جواب:** ځکه چې د حمو اضافت مؤنث ته کيږي نه مذکر ته ځکه حمو ويلی کيږي قريب المرأة من جانب الزوج ته، لکه ليور او ليور د ښځې لپاره وی نه سړي لپاره، بيا دا څلور اسماء چې، اب، اخ حم، هن، دی داپنځه هفت اقسام کې ناقص واوی دی په اصل کې، ابو، اخو الخ وو په دليل دتثنيه سره چې ابوان، اخوان، الخ دی، بيا هغه واو حذف شوي دي تخفيفا نو په صورت د عدم داضافة کې اعراب جاری کيږي په دغه حرف چې ماقبل د واو نه دی، او فوك اجوف واوي دی اصل کې فوه وو په دليل د تصغير او جمع تکسيری سره چې فويه او افواه دی بيا هغه يا حذف شوي دي خلاف القياس نسياً منسياً گرځيدلی ده بيا دا واو بدل شو په ميم باندې د وجې دمناسبت د واو نه د ميم سره په شفويت کې ځکه که دا واو بدل شوی نه وی په ميم باندې نو بيا به دا بدليدو په الف سره لتحرکها وانفتاح ماقبلها او بيا به حذف کيدو د وجې د التقاء دساکنين نه په مابين ده الف او د تنوين کې نو ابقاء د کلمې راتله په حرف واحد سره او دا نه ده جائز اوس هر کله چې يې اضافت وشو ضمير دمخاطب ته نو واو واپس راغلو، ځکه هغه خوف دابدال د دې په الف باندې نشته نو دا واو اعراب د دې وګرځيدو او ماقبل د دې واو نه مضموم کړی شو، د وجې دمناسبت د واو نه، او ذو لفيف مقرون دی په اصل کې ذَوُوٌ وو په وزن د فرس باندې بيا دا اخيرنی واو حذف کړی شو تخفيفاً نو ذوٌ ترينه جوړشو. بيا دا واو ساکن شو لپاره د خفت د وجې دکثرت استعمال د دې نه بيا دې فاء کلمه لره حرکت قويه ورکړی شو چې ضمه ده لپاره د دې چې دا جبيره شی د دې تغيرات کثيره ؤ نه نو ذو ترې جوړشو. بيا دا اسماء سته چې معرب کيږي په اعراب کذائی سره نو دا

مشروط دي په شرط اربعه ؤ سره. (۱) مضاف به وی (۲) مضاف به وی غیر د یاء متکلم ته (۳) مکبر به وی (۴) موحد به وی. ځکه که مضاف نه وو نو بیا دامعرب کولی شی په اعراب بالحرکت سره لکه جاءنی اب. رأیت اباً. مررت باب. او که اضافت یې شوی وو یا ضمیر د متکلم ته علاوه دجمع مذکرسالمی نه نو هغه معرب کولی شې په اعراب بالحرکت سره تقدیراً په احوال ثلاثه و کې. او که مصغر وو نو بیا هم معرب وي په اعراب بالحرکت سره لفظاً لکه جاءنی اخیك الخ. او که موحد نه وو بلکه مثنی او مجموع وو نو بیا معرب کولی شی په اعراب د تثنیه او جمع سره

سوال: هر کله چې اعراب کذائی د دې اسماء مشروط وه په شروط اربعه ؤ سره نو دا دوه شرطونه مصنف ولې ذکر نه کړل؟ **جواب:** (۱) هغه یې ترک کړی دی د وجې دشهرت نه (۲) یا یې ترک کړی دی ځکه چې اکتفاء یې کړیده په مثال باندې

سوال: بیا خو یې کړ وه چې دا دوه شرطونه یې هم نه وی ذکر کړی او اکتفاء یې کړی وی په مثال باندې؟ **جواب:** دا دوه شرطونه یې ذکر کړه لپاره د دفع د توهم د تخصیص ځکه که دا یې نه وی ذکر کړی نو متوهم به دا وهم کولو چې دا اسماء به معرب وی په اعراب کذائی سره هله چې مضاف وی ضمیر ته فقط حالانکه د دې اضافت چې اسم ظاهرته وشی نو بیا هم معرب دی په اعراب کذائی سره او بل به متوهم دا توهم کولو چې دا ذو به هله معرب وی په دی قسم اعراب سره چې د دې اضافت شوی وی اسم جنس نکرې ته او که معرفی ته یې اضافت شوی وو نو بیا به معرب نه وی په اعراب کذائی سره او دا توهم غلط وو. ځکه چې داپه دواړو صورتونو کې معرب دی په اعراب کذائی سره. اوس چې دا شرطونه یې ذکر کړل نو دغه توهم یې دفع کړو

سوال: دا ترکیب چې ابوك الخ متبدا ده او بالواو الخ یې خبر دی نه دی صحیح ځکه چې دا مستلزم دی لغویت او استحالې لره او کوم ترکیب چې مستلزم وی لغویت او استحالې لره هغه باطل وی نو ستا دا تعریف باطل شو کبری مسلمه ده او دلیل د صغری دا دی چې ابوك په واو سره دی ظاهره خبره ده نو ته چې وروستیه وویل چې بالواو نو دا لغوه دی او مستلزم استحالې لره ځکه دی چې هر کله چې تا ابوك اووی په واو سره نو پدې کې الف او یاء راتلل محال دی نو تا چې اووې چې والالف والیاء نو دا مستلزم شو استحالې لره؟ **جواب:** د دې مطلب دا دی چې دا نوع د اسماء سته چې متحقق ده ضمن د دې جزئیات کې دا معرب کولی شی ځکه کله کله حکم وشی په یو فرد باندې خو دا حکم ثابتولی شی د نوع لپاره نو دلته هم دا حکم ثابت شوی دی د دې نوع لپاره

سوال: نوع خو په خارج کې وجود نه لري؟ **جواب:** دا نوع موجود ده په ضمن د دې جزیاتو کې د دې نظیر لکه سړي ووائي چې زید ضاحك بالطبع دی نو دا ضاحك بالطبع خاصه د دې زید ده اوس اعتراض دا راځي چې خاصه خو ما یوجد فیه ولا یوجد في غیره ته وایي نو دا خو په عمرو کې هم ده.

جواب: (۲) دا ضحك بالطبع خاصه د زید ده د دې حیثیت نه چې دا زید انسان واخلې

سوال: دا شپږ اسماء ولې معرب شو په اعراب کذائي سره؟ **جواب:** السند علیه التتبع والاستقراء

۲، دویم دلیل دا دی چې هر کله چې ورکړی شو مفردات ته اعراب بالحرکت او تثنیواو جموعو لره ورکړی شو اعراب بالحرف نو کمال وحشت او منافرت راغلو په مابین دمفردات او تثنیو او جموعو کې سره د مناسبت اشتقاقي نه په مینځ د دوی کې په دې شان سره چې تثنیې او جموع مشتق دی د مفرداتو نه نو ورکړی شو بعض مفردات لره اعراب بالحرف لپاره دحصول د مناسبت

سوال: شپږ مفردات ولې خاص شو په اعراب بالحرف سره کم یا زیات یې ولې معرب نه کړه په اعراب بالحرف سره؟ **جواب:** مختارکړی شو شپږ اسماء، نه کم او نه زیات څکه چې د تثنیه او جمع هر واحد لپاره درې احوال دي نو وګرځولی شو په مقابله د هر حال کې مستقل اسم

سوال: خاص دا شپږ اسماء ولې متعین شو په اعراب بالحرف سره نورو شپږو لره به یې دا اعراب ورکړی وی؟ **جواب:** متعین کړی شو دا شپږ نه نور څکه حرف اخیر د دې صالح د اعراب دی او نورو مفرداتو حرف اخیر صالح د اعراب نه دی.

سوال: یدٌ اودمٌ اصل کې یدوٌ او دموٌ وو نو د دې حرف اخیر خو صالح د اعراب دی.

جواب: صحیح ده چې په اخیر د دې کې واو شته لیکن دا مسموع الاعراب بالحرف ندی.

سوال: ته وایې چې دا شپږ اسماء به معرب کولی شی په اعراب کذائی سره چې کله په کې هغه څلور شرطونه موجود وو نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې حدیث د نبی صلی الله علیه وسلم سره چې من تعزی بعزاء الجاهلیة فاعضوا بهن ابیه ولا تکنوا دلته د هن اضافت شوي دې غیر د یاء المتکلم ته او مکبر او موحد دی او حالانکه حالت جری په کسرې سره راغلی دی نه په یاء سره. (۲) دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول دشاعر سره شعر

بابه اقتدی عدی فی الکرم　　ومن یشابه ابه فماظلم

دلته اب معرب دی په اعراب بالحرکت سره بل دا قاعده منقوضه شوه په دې قول دشاعر:

ان اباها وابا اباها　　قدبلغا فی المجد غایتاها

دلته دا یو ابا مضاف دی د بل ابا ته او حالت جری د دې په الف سره دی او بل دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول دامام ابو حنیفة سره چې ولو بابا قبیس دلته قاعده ستامنقوضه شوه په دې اب باندې باء داخله شوې ده او حالت جري یې په الف سره راغلی دی

جواب:

اب اخ حم کذاک وهن　　والنقص فی هذا الاخیر احسن

وفی اب وتالییه یندر　　وقصرها من نقصهن اشهر

د جواب مطلب دا دی چې په هن کې دوه لغته دی یو احسن دی او بل حسن دی احسن لغت په کې دا دی چې دا واو ترې حذف شي او اعراب بالحرکت په کې جاری شی او حسن لغت په کې دا دی چې اعراب بالحرف په کې راشي نو دا حدیث د نبی صلی الله علیه وسلم بنا دی په دغه لغت احسن باندې، او په اب اخ او حم کې درې لغته دی. (۱، یولغت پکې دا دی چې اعراب د دې په واو او الف او یاء سره راشی (۲) کیدل د دوی دی په الف مقصوره سره په احوال ثلاثه ؤ کې او اعراب به پکې تقدیري شی

نحو جاءني اباك رأيت اباك مررت باباك. (۳) لغت يكې دا دی چې لام كلمه يې حذف شي او اعراب بالحركت يكې راشي لكه جاءني ابك. رأيت ابك. مررت بابك. نو دلته دا اول شعر بنا دی په دې دريم لغت باندې او دا دويم شعر چې ان اباها الخ او دا قول دامام ابو حنيفة بنادی په دې دويم لغت باندې ليكن د اب او طريقه دمصنف دا ده چې دی قواعد جوړوی داستعمال شايع نه نوځكه يې دغه دوه لغتونه ذكر نه كړل

المثنى وكلا مضافا الى مضمر واثنان واثنتان الخ: هركله چې مصنف فارغه شو د بيان د هغه اسماء نه چې معرب وو په حروف ثلاثه ؤ سره نو شروع يې وكړه په بيان د هغه اسماؤ كې چې معرب دی په حرفين سره چې هغه مثنى او جمع مذكر سالمه دی.

(۲) هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د هغه اسماؤ نه چې هغه معرب وو په اعراب بالحرف سره په احوال ثلاثه ؤ كې حقيقتاً په دې شان سره چې بعض احوال تابع دبعض نه وو نوشروع يې وكړه په هغه اسماء كې چې معرب دی په اعراب بالحرف سره حكما په دې شان سره چې بعض احوال تابع دبعض دی نو وې ويل چې المثنى وكلا الخ **(ترجمه)** مثنى حقيقي اصطلاحي هغه اسم ته وايي چې متصل شوی وی په اخير دمفرد د دې پورې الف او نون مكسوره، يا ياء او نون مكسوره او ماقبل دياء نه فتحه وی او مفرد ورله من لفظه وی، **وكلا** او ملحقات د مثنى: ملحقات دمثنى هغه ته وايي چې دلالت كوی په دوه باندې خو په اخير كې يې الف او نون مكسوره نه وی راغلی، او يا يې په اخير كې الف او نون او يا ء نون راغلی وی، ليكن مفردمن لفظه ورله نه وی، لكه كلا اوكلتا شو كلا مذكر دی او كلتا مؤنث دی مذكر يې ذكر كړو او مؤنث يې نه دی ذكر كړی، ځكه هغه د دې فرع ده او ذكر داصل مستغني دی د ذكر د فرع نه. **مضافا الى مضمر** په حال كون د دې كلا كې چې مضاف يې واخلې مضمر ته په دې سره احتراز راغلو د هغه نه چې مضاف وی اسم ظاهر ته ځكه هغه معرب دی په اعراب بالحركت سره تقديراً په احوال ثلاثه ؤ كې لكه جاءني كلا الرجلين، رأيت كلا الرجلين الخ **واثنان واثنتان** بل د محلقات د مثنى حقيقي نه اثنان او اثنتان دی مطلقاً برابره خبره ده كه مضاف وي او كه نه وي **بالالف** دا درې واړه يعني مثنى حقيقي اوكلا اواثنان اواثنتان معر ب كولی شوی په الف سره په حالت رفعي كې او په ياء سره په حالت نصبی جری كې، په دې شان سره چې دلته نصب تابع د جر دی اوالتباس دحالت نصبی جری دتثنيه اوجمع مدفوع دی په حركت دماقبل سره په دې شان سره چې په جمع كې ماقبل دياء نه فتحه وی اويه تثنيه كې ماقبل دياء نه كسره وی. او التباس دحالت نصبی او جری د تثنيې مدفوع دی په ماقبل عامل سره.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی؟

جواب: ربط دمخكې سره.دا دی چې مخكې مصنف بيان د هغه اسماؤ وكړو چې هغه معرب وو په حروف ثلاثه ؤ سره اوس هغه اسماء بيانوی چې معرب دي په حرفينو سره

سوال: المثنى به خالي نوی يا به د دې نه لفظ د مثنى اخلي او يا به مصداق دمثنى اخلی. كه لفظ دمثنى اخلی نو د بالالف والياء حمل نه صحيح كيږي ځكه چې لفظ د المثنى معرب نه دی په اعراب بالحرف

سره بلکه دا معرب دی په اعراب بالحرکت سره تقدیراً په احوال ثلاثه ؤ کې ځکه چې دا اسم مقصور دی. او که مصداق دمثنی اخلی نو ذکر کول دکلا او اثنان اثنتان وروسته د دې نه لغوه او مستدرك دی ځکه مثنی دیته وایي چې دلالت کوی په دوه باندې او کلا او اثنان هم دلالت کوی په دوه باندې

جواب: دالمثنی نه مراد لفظ د مثنی نه دی بلکه مراد مصداق دمثنی دی خومطلق مصداق ندي مراد د دې نه مثنی حقیقي اصطلاحي ده ځکه مثنی دوه قسمه ده (۱) مثنی حقیقي اصطلاحی دویم ملحقات د مثنی، مثنی حقیقي اصطلاحی دیته وایي چې د مفرد د هغې په اخیر کې الف او نون مکسوره یا یاء او نون مکسوره راغلی وی او مفرد من لفظه ورله وی، اوملحقات دمثنی حقیقي دیته وایي چې دلالت په دوه باندې کوی خو په اخیر کې یې واو نون او یا نون نه وی راغلی لکه کلا او کلتا شو یا یې په اخیرکی الف او نون هم راغلی وی لیکن مفرد من لفظه ورله نوی لکه اثنان اواثنتان شو نو ملحقات د مثنی پنځه دی (۱) کلا (۲) کلتا (۳) اثنان (۴) اثنتان (۵) ثنتان نو دیته ملحقات ځکه وایي چې لکه څنګه مثنی دلالت کوی په دوه نو دا هم دلالت کوي په دوه باندې، او عین مثنی ورته ځکه نه وایي د دې لپاره مفرد من لفظه نشته

سوال: کلا چې څنګه ملحق دمثنی دی نو دارنګې کلتا هم ملحق د مثنی دی نو هغه یې ولې ذکر نه کړو (بالفاظ دیګر) لکه څنګه چې کلامضاف شی مضمر ته او دا قسم اعراب راځي نو دارنګه کلتاچې مضاف شي مضمرته نو په هغې کې هم دا قسم اعراب راځي نو هغه یې ولې ذکر نه کړو

جواب: کلتایی ذکر نه کړو ځکه چې کلا اصل دی اوذکر داصل مستغنی دی د ذکر د فرع نه مقایسة د وجې د اشتراك د فرع نه داصل سره دیته په اصطلاح دبلاغت کې صنعة اکتفاء وایي

سوال: مضافا حال دی او حال چې واقع شی وروسته دمعطوف نه نو دا حال وی دمعطوف او معطوف علیه دواړو نه نو دا مضافا به حال وی دمثنی او کلا دواړو نه نو معنی به دا وی چې مثنی او کلا دواړه به په دې قسم اعراب سره هله معرب وی چې اضافت یې شوی وی مضمر ته نو پدې کې دوه نقصانه راغله، یو خو مطابقت رانغلو په مابین دحال او ذو الحال کې ځکه ذو الحال تثنیه ده او حال مفرد دی، او بل دا چې کون د کلا معرب په اعراب کذائی سره مشروط دی په اضافت الی مضمر سره لیکن کون د مثنی معرب په اعراب کذائی مشروط نه دی په اضافت الی مضمر سره؟

جواب: دا مضافا فقط د کلا نه حال دی نه د دواړو نه.

سوال: حال خو یا د فاعل نه وی او یا دمفعول نه وی، او کلا خو دلته نه فاعل دی او نه مفعول دی بلکه مبتدأ ده. **جواب:** دا کلا پدی مقام کې مبتدأ نه ده بلکه دانائب فاعل دی د هغه فعل معنوی لپاره چې مستفاد دی دفحوی د کلام نه اي یعرب المثنی. وکلا او یا دا حال دی د ضمیر نه چې مستتر دی په دې ظرف کې چې بالالف دی او تقدیم د حال په ظرف باندې جائز دی په نیز د اخفش باندې، به دې شرط چې مبتدأ مخکې ذکر شوي وي او الی مضمر چې یې وویل نو پدی سره یې احتراز وکړو دمظهر نه ځکه که چرته دامضاف وو مظهر ته نو بیا معرب نه دی په اعراب کذائی سره بلکه معرب دي په اعراب بالحرکت.

سوال: په دې صورت کې معرب په اعراب بالحرف سره ولې دی او کله چې یې اضافت وشی اسم ظاهر ته نو بیا معرب په اعراب بالحرکت سره ولې دی؟

جواب: ځکه چې دا کلا ذوجهتين دی په اعتبار دلفظ سره مفرد دی او په اعتبار د معنی سره تثنیه ده او لفظ یې تقاضا د دې کوی چې دا دې معرب شی په اعراب بالحرکت سره او معنی یې تقاضا د دې کوی چې دا دې معرب شی په اعراب بالحرف سره او اعمال اولی دي د اهمال نه نو دی نحاتو چې تتبع وکړه نو کلا دوه قسمه وو یو قسم هغه دی چې مضاف وي مضمر ته او بل هغه دی چې مضاف وي اسم ظاهر ته چې مضاف وی مضمر ته نو معرب شو په اعراب بالحرف سره نو تقاضا د معنی یې پوره شوه او چې مضاف وي مظهر ته نو بیا معرب شو په اعراب بالحرکت سره نو تقاضا د لفظ یې پوره شوه

سوال: عکس یې ولې ونه کړو؟ **جواب:** ځکه چې اعراب بالحرکت اصل دی د اعراب بالحرف نه نو ورکړی شو اصل اصل ته لپاره درعایت دتعادل اوانصاف. **کلا اوکلتا** د اسماء لازمة الاضافة نه دی (۱) نو مستعمليږي به په اضافت سره (۲) او اضافت یې معرفی ته کیږي نه نکرې ته. ځکه چې د دې کلا او کلتا په معنیٰ کې ابهام دی نو اضافت ورسره لازم شو لپاره درفع دا بهام او رفع د ابهام هله راځي چې مضاف شی معرفی ته نه په اضافت سره نکرې ته ځکه په نکره کې په خپله ابهام دی نو د دې نه به رفع د ابهام څنګه وکړې (۳) او د دې اضافت کیږي تثنیه ته نه مفرد ته او نه جمع ته. اثنان مذکر دی او اثنتان مؤنث دی

سوال: مخکې یې فقط کلا ذکر کړو نو دلته به یې هم فقط اثنان ذکر کړی وی نو دواړه یې ولې ذکر کړل؟ **جواب:** اول **النكتة للفار لاللقار**. دویم د دې وجې نه چې په اسماء عدد په وقوع دتمییز کی حکم د مؤنث مخالف وو د مذکر نه نو که دا یې ذکرکړی نه وی نو متوهم به دا توهم کولو چې دلته به هم د مؤنث حکم جدا وی د مذکر نه او دا توهم غلط وو، نو مصنف دا توهم دفع کړو په ذکر د دې سره.

سوال: هر کله چې په مثنی کې حالت رفعی په الف سره دی او حالت نصبی او جری په یاء سره دی نو دا خو التباس راغلو په مابین د حالت نصبی او جري کې

جواب: دا مدفوع دی په ماقبل عامل سره که عامل ناصبه وو نو دا یا به علامه د نصب وي، لکه رأيت رجلين. او که عامل جاره وو نو دا به علامه د جر وی لکه مررت برجلين.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې ایت سره چې ﴿إِنْ هَذَانِ لَسَٰحِرَٰنِ﴾ دلته هذان تثنیه ده او حالت نصبی یې په الف سره دی دارنګې منقوضه شوه په دې حدیث سره (من احب كريمتاه فلا يكتب بين العصر والمغرب) دلته کریمتا مفعول به ده د احب لپاره او مفعول به منصوبه وی او د دې حالت نصبی په الف سره دی او بل دا قاعده منقوضه شوه په دې قول د شاعر سره:

ان اباها وابا اباها قد بلغا فی المجد غايتاها

دلته غایتاها تثنیه ده حالت نصبی یې په الف سره راغلی دی.

جواب: دا مثنی او ملحقات د مثنی معرب دی په اعراب کذائی سره په عام لغت د عربو کې ما سوا د لغت د بنوکنانة او بنوحارثه نه د هغو په نیز باندې دا په احوال ثلاثه و کې په الف سره راځي او اعراب به یکې

بالحركت وي اوتقديري به وي. نو دا مثالونه هم بنا دي په دې لغت باندې او صاحب الكافيه قواعد جوړ كړي دي د استعمال شائع او كثير نه. مثال د كلا لكه ﴿إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا﴾ د مشهور قرات دي دلته احدهما معطوف عليه دي او كلاهما پرې عطف دي معطوف عليه سره معطوف نه فاعل د ي ديبلغن لپاره نوحالت رفعي يې په الف سره راغلى دى، او يو قرآت داسې د چې امايبلغان عندك الكبر نو بيا په دې كې درې تركيبونه دي (۱) يو دا دى چې دا فاعل دفعل مقدر دى اي ان يبلغه احدهما اوكلاهما (۲) په يبلغان كې ضمير مبدل منه او دا ترينه بدل

(۳) دا الف محض علامه د تثنيه ده نه دفاعل او كلاهما فاعل دى نو دا د قبيلې د اكلوني البراغيث ﴿وَأَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ﴾ نه شو اومثال دكلتا لكه داقول دالله تعالى ﴿كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ آتَتْ أُكُلَهَا﴾ خو دا مثال دهغې دى چې كلتا مضاف دى اسم ظاهر ته نواعراب په كې تقديري دى. اومثال داثنان كما فى قوله تعالى ﴿فَانفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا﴾ دلته مرفوع بالالف دى ﴿إِذْ أَرْسَلْنَا إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ﴾ دلته منصوب بالياء دى ﴿وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا﴾ دا هم منصوب بالياء دى. بل مثال نحو قوله تعالى ﴿رَبَّنَا أَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ﴾ دا منصوب دى بنا بر مفعول مطلق اى امتنا اماتتين واحييتنا احياتتين. بل مثال نحو قوله تعالى ﴿شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِينَ الْوَصِيَّةِ اثْنَانِ ذَوَا عَدْلٍ﴾ دلته اثنان مرفوع بالالف دى

(۱) خكه دا خبر دى دمبتدأ لپاره بحذف المضاف نو كيږي تقدير دعبارت دارنګې شهاده اثنين نو شهادة بينكم مضاف مضاف اليه مبتدأ ده او شهادة اثنين مضاف مضاف اليه يې خبر دى

(۲) يا دافاعل دى دمصدر لپاره چې شهادة دى اى ان يشهد بينكم اثنان

جمع المذكر السالم والو وعشرون الخ: هركله چې فارغ شومصنف دبيان داعراب دمثنى اوملحقات دمثنى نه چې معرب وو په حرفين سره اونصب تابع دجر وونوشروع يې وكړه په بيان داعراب دجمع مذكر سالم كې اوپه اعراب دملحقات د دې كې چې دامعرب دى په حرفين سره نو وي ويل چې جمع المذكر السالم.

ترجمه: جمع مذكر حقيقي اصطلاحى داسې جمع مذكر حقيقي اصطلاحى چې روغه پاتې شوې ده بناد مفرد د دې په دې شان سره چې تغير نه وي راغلى په اخير د مفرد د دې كې لپاره د حصول د جمعيت نو جمع مذكرسالم حقيقي اصطلاحى په نيز د نحاتو باندې، هغه جمع ته وايي چې په اخير دمفرد د دې كې واو نون او ياء نون مفتوحه راغلى وى، اوماقبل دياء نه مكسور وي او مفرد ورله من لفظه وى بيا برابره خبره ده كه مفرديې مذكر وي او كه مؤنث وي، او ملحقات د جمع مذكر سالم هغه ته وايي (۱) چې دلالت كوى په ثلاثه ؤ اومافوق د ثلاثه ؤ باندې او په اخير كې يې واونون او يا نون نوى راغلى او مفرد من لفظه ورله موجود نه وى، لكه الويا په اخير د دې كې واو نون او ياء نون وى، خو مفرد ورله اصلاً نوى لكه عشرون واخواته **بالواو** دامعرب كولى شى په واو سره په حالت رفعى كې **والياء** اومعرب كولى شى په ياء سره په حالت نصبى جرى كې نونصب تابع دجر شوځكه هر واحد دمثنى او جمع مذكر

سالم لره احوال ثلاثه دی، حالت رفعي نصبي جري. او حروف د اعراب درې دی واو، الف، یاء، الف ورکړی شو تثنيه لره په حالت رفعي کې ځکه الف ضمير دفاعل واقع کیږي په تثنيه دافعالو کې او واو ورکړی شو جمع ته په حالت رفعي کې ځکه دا ضمير دفاعل واقع شوی وو په جمع دافعالو کې نو حالت رفعي دتثنيه اوجمع اسماؤقياس دی په تثنيه او جمع د افعالو باندې، نو حالت نصبي او جري دتثنيه او جمع پاتې شو او حرف د اعراب یو دی چې یاء ده، نو دا یاء علامه وګرځیده دحالت نصبي او جري د تثنيه او جمع دواړو لپاره ذ وجې دضرورت نه اوالتباس دحالت نصبي او جري په مابين دمثنی او مجموع کې مدفوع دی په حرکت دماقبل دیاء سره په دې شان سره چې په تثنيه کې به مخکې دیاء نه مفتوح وی اوپه جمع کې به مخکې دیاء نه مکسور وی. او التباس دحالت نصبي او جري دجمع مدفوع دی په ماقبل عامل سره.

تشریح: اضافت د جمع چې یې وکړو المذکر ته نو په دې سره یې احتراز وکړو د جمع مؤنث نه برابره خبره ده که سالمه وی او که مکسره وی ځکه د هغې اعراب مخکې بیان شوي دي او السالم صفت چې یې ذکر کړو نو په دې سره یې احتراز وکړو د جمع مذکر مکسر نه، ځکه جمع مذکر مکسر ه به یامنصرفه وی یا به غير منصرفه وی او د هرې یوې حکم مخکې بیان شوي دي

سوال: معترض دجمع نه مراد جمع مذکر لغوي اخستی ده، جمع لغوی دیته وایي: چې مفرد یې مذکر وي، نواعتراض کوی چې دا قاعده ستا منقوضه شوه په مرفوعات منصوبات مجزورات باندې دا جمع مذکرسالمه ده ځکه چې مفرد ددې مذکردی اوحالانکه معرب نده په اعراب کذائی سره اودارنګې دا قاعده ستامنقوضه شوه په ارضون اوسنون باندې، داجمع مؤنث ده ځکه چې مفردیې مؤنث دي او دا معرب ده په اعراب کذائی سره؟ **جواب:** دا اعتراض به تا هله کولی چې مراد دجمع نه جمع لغوی وی، لیکن دلته مراد دجمع نه جمع مذکر سالم حقيقي اصطلاحي ده. اوجمع مذکر سالم حقيقي اصطلاحي په نیز د نحاتوباندې هغې ته وایي چې دلالت کوی په ثلاثه ؤ اومافوق دثلاثه ؤ باندې او مفرد ورله من لفظه وی اوپه اخير دمفرد د دې کې واواونون او یاء اونون راغلی وی. اوماقبل د یاء نه به مکسور وي برابره خبره ده که مفرد یې مذکر وی او که مؤنث وی. نومرفوعات ترینه خارج شو، ځکه چې د دې د مفرد په اخير کې الف نون او یاء نون نه دی راغلی. او ارضون او سنون داخل شوي دي حکم کې ځکه چې د دې دمفرد په اخير کې واو نون او یاء نون راغلی دی

سوال: توصیف دجمع المذکر په السالم سره نه دی صحیح، ځکه چې دا جمع خو روغه نده پاتې شوی بلکه روغ خود دې هغه مفرد پاتې شوي دي؟ **جواب:** دا اعتراض به تا هله کولی چې دا السالم صفت بحاله وی د دې جمع المذکر لپاره لیکن دا صفت بحال متعلقه د ی یعني چې روغه پاتې شوې ده بنا دمفرد د دې په دې شان سره چې تغير په کې نه دی راغلی لپاره دحصول دجمعيت، په دې سره دفع د بل اعتراض وشوه، اعتراض دا دی چې ته وایي: چې جمع مذکر سالمه هغې ته وایي چې تغير نوی راغلی په بنا دمفرد دهغې

کې نو دا قاعده ستامنقوضه شوه په مصطفون او بنون سره دا جمع مذکرسالمه ده اود دې په مفردکې خوتغیر راغلی دی ځکه چې واو په کې حذف شوي دي **جواب:** تغیر نه مرادمطلق تغیر نه دی بلکه معنی دا ده: چې تغیر به نوی راغلی لپاره دحصول دجمعیت اودلته داتغیر دحصول د جمعیت لپاره نه دی راغلی، بلکه جمع جوړه شوې وه او بیا دا واو حذف شوی دی د وجې د قانون صرفي نه.

سوال: جمع المذکر به خالي نوی یا به د دې نه مراد لفظ د جمع المذکر اخلی او یا به مصداق د جمع المذکر اخلی، که لفظ اخلی نو حمل د بالواو والیاء نه دی صحیح په دې باندې ځکه دا لفظ معرب نه دی په واو او یاء سره، او که مصداق اخلی نو ذکر کول دا لو او عشرون وروسته د دې نه مستدرك دی ځکه دغه هم په مصداق دجمع کې داخل دی؟

جواب: زه د دې نه مراد مصداق اخلم لیکن مطلق مصداق نه بلکه مصداق دجمع مذکر سالم حقیقي اصطلاحی نو ذکر د الواو عشرون مستدرک نه دی بلکه ملحقات دجمع مذکرسالم دی، جمع مذکر سالم حقیقي اصطلاحی دیته وایي چې دلالت کو ی په ثلاثه ؤ او مافوق دثلاثه ؤ خو اخیر کې یې واو نون او یاء نون نوی راغلی الخ کما مر مثال یې عشرون الخ شو

سوال: دی عشرون ته جمع ووایه ځکه د دې مفرد من لفظه خوشته چې عشرة دی، دارنګې د ثلاثون مفرد ثلاثه دی الخ؟ **جواب:** داجمع نده (۱) ځکه دجمع په دلالت کې تعین نوی یعنې په مرتبه معینه باندې دلالت نکوی اود دې په دلالت کې تعین دی.

(۲) او بل د دې وجی نه چې عشرة مفرد ندی دعشرون لپاره ځکه که عشرة مفرد وی دعشرون لپاره نو بیا پکار وه چې درې ځله عشرة نه عشرون جوړیدی حالانکه درې خله عشرة چې جمع شی نو ثلاثون ترینه جوړیږی نه عشرون او درې ځله ثلاثه چې جمع شی نوتسعة ترینه جوړیږی الخ

سوال: دا قاعده ده دعلم الصرف چې **ولایوجد فی اخر الاسم المتمکن** احتراز عن ضربواو**وماقبلها** احترازعن هو **مضموم** نو دا قاعده منقوضه شوه په الواو ذو سره ځکه دا اسم متمکن دی اوپه اخیر د دې کې واو ماقبل نه ضمیر راغلی ده؟ **جواب:** مراد د واو نه واو لازم دی اودلته دا واو لازم ندی، ځکه په حالة رفعی کې شته لیکن نصبی کې نشته.

سوال: دا قاعده منقوضه شوه په کفوا اوهنوا سره دلته واو لازم دی، ځکه تیولو حالاتو کې شته او ماقبل ترینه ضمه راغلی ده؟ **جواب:** مراد د واو نه واو اصلی دی او دلته دا واو اصلی نه دی بلکه بدل راغلی دی د همزې نه په قاعدې دجون او یواخذسره اصل کې کفأ او هزأ وو.

سوال: مثنی حقیقي او ملحقات د دې او جمع مذکر سالمه او ملحقات د دې ولې معرب شو په اعراب بالحرف سره؟ **جواب:** (۱) ځکه چې مفردات اصل وو او اعراب بالحرکت هم اصل وو او مثنی او جمع فرع وه او اعراب بالحرف هم فرع وه، نو ورکړی شو اصل ته اصل او فرع فرع ته لپاره د رعایت د تعادل او د انصاف (۲) په اخیر د دې کې حرف صالح داعراب بالحرف وو او په اخیر د مفرداتو کې حرف صالح د اعراب لپاره نه وو.

سوال: اسماء ستة معرب دي په اعراب بالحرف سره اوپه حروف ثلاثه و سره نو داشتني اومجموع ولې معرب په حروف ثلاثه سره نه شو او معرب شو په حرفينو سره. يعني دلته نصب تابع د جر ولې شو؟

جواب: ځکه چې دمثنی او مجموع هر واحد لپاره احوال ثلاثه و اوحروف داعراب دري وو، نو ورکړی شو الف تثنيه لره په حالتِ رفعی کې ځکه الف ضمير دفاعل وو په تثنيه دافعال کې او ورکړی شو واو جمع ته په حالت رفعی کې ځکه چې واو ضمير دفاعل وو په جمع دافعال کې نو پاتې شوحالت نصبی جری دمثنی اومجموع نو دضرورت د وجې نه يا علامه وګرځولی شوه دحالت نصبی جری دمثنی او مجموع دواړو لپاره.

سوال: دا خو بيا التباس راغلو په حالت نصبی جری دتثنيه اوجمع کې؟

جواب: دا مدفوع دی په ما قبل عامل سره په دې شان سره که عامل ناصبه پرې داخل شوی وو نو دا به علامه د نصب وی او که عامل جاره پرې داخل شوی وو نو دا به علامه دجر وی

التقدير فيما تعذر كعصا وغلامي: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان دا محله داعراب بالحرکت او اعراب بالحرف نه نو شروع يې وکړه په بيان دا محله داعراب لفظی او اعراب تقديری کې.

(۲) هر کله چې فارغ شو دتقسيم داعراب نه بالحرکت او بالحرف ته نو شروع يې وکړه په تقسيم د اعراب کې لفظی او تقديری ته. نو وې ويل التقدير فيما تعذرالخ

ترجمه: اعراب تقديری کائن دی په وخت دتعذر دظهور داعراب کې

(۲) اعراب تقديری کائن دی په هغه اسم معرب کې چې متعذردی اوممتنع د ی ظهور داعراب په دغه اسم معرب کې لکه عصاً شو مراد دعصا نه هرهغه اسم معرب دی چې په اخير دهغې کې الف مقصوره راغلی وی، بيا برابره خبره ده که ذکر وی او که حذف وی. خوېدی کې به اعراب تقديری و ی، ځکه الف ساکن وضعی دی قابل دحرکت نه دی مطلقاً يعنې نه قابل د حرکت قويه دی اونه قابل دحرکت ضعيفه دی **وغلامي** مراد د غلامي نه هر هغه اسم دی چې مضاف شی ياء دمتکلم ته ماسوی دجمع مذکر سالم نه مطلقاً په احوال ثلاثه ؤ کې. ځکه هر کله چې مشغول شو حرف اخير د دې اسم معرب په کسری سره د وجې دمناسبت دياء نه نو بس ممتنع شو په دې کې دخول د حرکة اخر لپاره د دې چې لازم نه شی اجتماع دحرکتينو متباينينو ذاتاً په حالت نصبی او رفعی کې ياصفةً په حالت جری کې

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې هر کله چې فارغ شو د بيان د امحله داعراب بالحرف اوبالحرکت نه الخ

سوال: معترض په التقدير کې الف لام جنسی اخستی دی نوواېی چه جنس تقدير به په وخت د تعذر کې وي. نو واسئل القريه - کې تقدير راغلی دی ای واسئل اهل القريه. اودلته خو تعذر نشته او بل دا چې دا خو خروج من البحث راغلو ځکه چې بحث شروع وو په اعراب کې او تا شروع وکړه په تقدير کې

جواب: دا اعتراض به تا هله کولی چې دلته الف لام جنسی وی ليکن دلته الف لام عوضی دی ای تقدير الاعراب فيما تعذر

سوال: د دې معنى خو دا شوه چې تقدير کائن دی په ماتعذر کې نه اعراب ځکه مقصور بالحکم په مرکب اضافي کې مضاف وی نه مضاف اليه **جواب:** د دې معنى دا ده اعراب تقديری کائن دی په وخت د تعذر دظهور داعراب کې، ځکه دا په اصل کې مرکب توصيفي وو. ليکن دمرکب توصيفي نه کله کله مرکب اضافي جوړولی شي په هغه وخت کې چې دا موصوف مقصود بالذات نه وی بلکه مقصود وی په اعتبار دصفت سره نو دلته هم مقصود وو په اعتبار دصفت سره نو ځکه د دې نه مرکب اضافي جوړ شو (۲) يا دلته الف لام عهد خارجي دی مراد اعراب تقديری دی

سوال: په تعذر کې دا ضمير به خالي نوی يا به يې راجع کوی اعراب ته او يا به يې راجع کوی کلمې د ما ته که اعراب ته راجع شي نو معنى خو صحيح شوه ليکن موصوف بلا عائده پاتې شو، او که کلمې د ما ته يې راجع کړی نو فساد دمعنى راځي ځکه معنى به داشي چې متعذر دی اسم معرب

جواب: په تعذر کې ضمير راجع دی اعراب ته او دا ما دلته موصول اسمي نه دی بلکه داموصول حرفي دی يعنې ظرفيه مصدريه د ی نومعنى دا شوه چې اعراب تقديری کائن دی په وخت د تعذر او امتناع د ظهور د اعراب کې او کلمه د ما کله فقط دمصدريت لپاره راځي نحوقوله تعالى ﴿وَضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ﴾ ای برحبتها او کله فقط دظرفيت لپاره راځي نحو يحضر ما لا يحضرون او کله د دواړو لپاره راځي لکه اجلس ما جلس الامير دلته هم د دواړو لپاره ده

(۲) او که ومنم چې د ما موصوله دی نو بيا هم ضمير د تعذر راجع دی اعراب ته او عائد د موصول حذف دی ای التقدير فيما تعذر فيه. بيا جمله چې صله واقع شي نو هلته لابدی وی د عائد نه دا به فقط ضمير وي نه بل شی او دا ضمير به کله مرفوع وی کله به منصوب وی اوکله به مجرور وی، چې مجرورو ی نوحذف يې جائز دی چې په کې درې شرطونه موجودوی (۱) چې متحد وي دموصول سره په عامل کې (۲) چې متحد وي ورسره په متعلق کې (۳) او بل عائد نه وی موجود نحو قوله تعالى ﴿وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ﴾ يا لکه مر بالذی مررت اوس دلته **سوال** واردېږی چې دلته خو داشروط ثلاثه موجود نه دی، اتحادپه عامل کې شته او بل عائد هم نشته ليکن اتحاد په متعلق کې نشته ځکه چې دغه فيه متعلق دی په تعذر پورې اوفيما متعلق دی په کائن مقدر پورې نو دا ولې حذف شوی دی؟ **جواب:** دا حذف شوي دي خلاف القياس

سوال: تعذر ويلی کيږي تعسر ته لکه په کتابونو داصولوکی راځي چې کله حقيقت متعذروی نو صيرورت کيږی مجازته نوهلته تعذر په معنى د تعسر سره دی. نو دلته به هم په معنى دتعسر سره وی او تعسر خو وئيلی کيږی حصول ديوشی ته په طريقه دکلفت اومشقت سره نو دلته دا مثال موافق نه شو دممثل سره ځکه چې په دې عصا اوغلامی کې اعراب نه شی ظاهريدی اصلاً اګر که سړی ډير کلفت او مشقت برداشت کړی او بل دا چې ذکر د استثقل وروسته د دې به مستدرك دی ځکه دهغې معنى هم دغه ده. **جواب:** دلته تعذر په معنى دتعسر سره نه دی بلکه په معنى دامتناع سره دی

سوال: چې تعذر په معنی دامتناع سره شو نود دې معنی داشوه چې ممتنع وی اعراب په اسم معرب کې نو هر کله چې اعراب ممتنع شو نو دا خو اسم معرب نه شو نو بیا څنګه وایي چې دی کې به اعراب تقدیری راځي **جواب:** د دې دامعنی نده چې داعراب ممتنع دی بلکه معنی دا ده چې ممتنع دی ظهور داعراب په دی کې نواعراب به په کې ظاهر نه راځي بلکه مقدر به په کې راځي. څکه اعراب په درې قسمه دی (۱) لفظی (۲) تقدیری (۳) محلی، لفظی او تقدیری راځي په اسم معرب کې او محلی راځي په اسم مبنی کې او هر چې مبنی اصل دی نو په هغې کې اعراب نه راځي اصلاً اعراب تقدیري راځي په اسم معرب کې د وجې دنقصان دلام کلمې نه اواعراب محلاً راځي په اسم مبنی کې د وجې دنقصان نه په ټوله کلمه کې مثال لکه **عصا** شو مراد د دې نه هر هغه اسم دی چې په اخیر کې یې الف مقصوره راغلی وی بیا که ذکر وی او که حذف شوی وی، مثال دمذکور لکه عصا شو او چې حذف شوی وی د هغې مثال لکه فتی شو او په دې کې اعراب تقدیراً ځکه راځي چې د دې په اخیر کې الف دی او الف ساکن وضعي دی قابل دحرکت ندی. نوځکه به تقدیراً وی او **غلامی** بل مثال د دې لکه غلامی شو مراد د دې نه هرهغه اسم معرب دی چې اضافت یې وشی یا د متکلم نه علاوه دجمع مذکرسالم نه پس د دخول دعامل نه په دې باندې ځکه قبل العامل دا دقبیلې دمبنیاتو نه دی اوس دا اعراب به په کې تقدیراً څنګه وی په ټولو احوالو کې به وی که په بعض کې به وی نو دی وایي **مطلقا** یعنې دا اعراب به په کې مقدروی په احوال ثلاثه ؤ کې او دامطلقاً یې ځکه ذکر کړو چې په دی کې اختلاف دی) درې مذاهب دی په کې: (۱) بعض وایي چې دا مبنی دی (۲) بعض وایي چې دی کې به اعراب تقدیری وی په حالت رفعی او نصبی کې او لفظی به وی په حالت جری کې. (۳) دریم مذهب دا دی چې اعراب به په کې تقدیری وی په احوال ثلاثه ؤ کې، او مختار په نیز د مصنف باندې دا مذهب وو نوځکه یې مطلقاً اوی اوس دا اعراب په کې تقدیرا ولې شو په احوال ثلاثه ؤ کې. نوځکه چې هرکله چې مشغول شو حرف اخیر د دې په کسری د وجې د مناسبات دیاء نه نو ممتنع شو دخول دحرکت اخر په دی کې لپاره د دې چې لازم نه شی اجتماع د حرکتینو متبائنینو ذاتاً په حالت رفعی او نصبی کې یا صفتا په حالت جری کې.

او استثقل کقاض رفعا وجرا: استثقل صیغه دماضی مجهول ده، ضمیر په کې مستتر دی. چې تعبیر ترینه کولی شی په هو سره راجع دی اعراب ته او د دې په اول سر کې کلمه د او راغلی ده او راځي د عطف لپاره د اتقاضه دمعطوف علیه کوی، اوس دا په چا عطف دی؟

جواب: دا عطف دی په تعذر باندې نو عطف د جملې فعلي راغلو په فعلی باندې داپه کې یو استحباب شو او بیا عطف دفعلی ماضویه راغلو په ماضویه باندې دا په کې بل استحباب شو. او قانون دی چې ماقبل دمعطوف علیه معاد وی دمعطوف سره نوکیږي تقدیر دعبارت دارنګې التقدیر فیما استثقل، اعراب تقدیری کائن دی په وخت دثقل دظهور داعراب کې. (۲) اعراب تقدیري کائن دی په هغه اسم معرب کې چې ثقیل وي ظهور د اعراب په هغې کې لکه قاض شو

سوال: اعراب تقديرى خو په داعِ اورامِ كې هم راځي، نو ته څنګه وايي چې دا په قاض كې راځي دا نور دى ولې ذكر نكړه؟ **جواب:** دا ذكر د قاض بطور مثال دى، او په دې كاف سره يې اشاره وكړه تعميم ته چې مراد هر هغه اسم معرب دى چې په اخير كې يې ياء وي او ماقبل ترې كسره وي چې اسم منقوص ورته وايي برابره خبره ده كه قاض وي كه داعِ وى او كه بل وى.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول دالله جل جلاله چې ﴿ أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ ﴾ دى كې خو اعراب تقديرى نه دى بلكه لفظا دى.

جواب: دا اعراب په دې اسم منقوص كې مطلقاً نه مقدر كيږي، بلكه رفعاً وجراً صرف په حالت رفعي او جري كې. اوپه حالت نصبي كې لفظاً راځي. نحو جاءني القاضى، رأيت القاضىَ، مررت بالقاضى

سوال: دلته دا اعراب په ټولو حالاتو كې ولې مقدر نه شو؟

جواب: د دې په اخير كې حرف علت ضعيف راغلى دى تحمل دحركت ثقيل نه شي كولى چې ضمه او كسره دى اوتحمل دحركت خفيف كولى شي چې فتحه ده، نو ځكه ضمه اوكسره تقديراً شو او فتحه لفظاً شوه **نحو مسلمى** دا لفظ د نحو پدى مقام كې مثلث الاعراب دى يامرفوع دى بنا په دې چې عطف دى په كقاض باندې اوهغه خو خبر دمبتدأ محذوفى وو نو دا هم خبر د مبتدأ محذوفى دى. (۲) او يا منصوب دى بنا په دې چې دامفعول مطلق دى.

سوال: مفعول مطلق خو مصدر دفعل مذكورته وايي او دا خومصدر دفعل مذكورندى.

جواب: دا مفعول مطلق دى په اعتبار دموصوف محذوفى سره اى استثقالاً نحو مسلمى نو دا مفعول مطلق نيابتى دى (۲) يا مجرور دى بنا په دې چې عطف دى په قاض باندې نو لاندې دكاف نه راغلو.

سوال: كاف هم دتشبيه لپاره راځي او نحو هم راځي نو دا خو تكرار راغلو او دا مستلزم دى لغويت د احدهما لره. **جواب:** د دې مرجع او مآل جدا جدا دى كاف اشاره ده اشتراک د مسلمي ته په تقرير د اعراب كې د قاضي سره په استثقال كې، او نحو كې اشاره ده تعميم د ما بعد ته يعني چې دا اعراب مستثقل وى پشان د استثقال دمثل د مسلمى كې، او مراد د دې نه هر هغه جمع مذكرسالمه ده چې مضاف شي ياء د متكلم ته.

سوال: رأيت مسلمى مررت بمسلمى كې خو اعراب لفظاً دى مقدر خو ندى؟

جواب: رفعاً دا اعراب به مقدر وى په حالت رفعي كې فقط نه په حالت نصبى او جرى كې نو حالت رفعى د دې به راځي په واو سره تقديراً او حالت نصبى جرى به يې په ياء سره وى لفظاً.

سوال: دا اعراب په حالت رفعي كې تقديراً ولې شو اونصبى جرى كې لفظا ولې شو؟

جواب: ځكه چې په حالت رفعي كې واو بدل شوي دي په ياء سره اوابدال شي اوباسى دحقيقت خپل نه او په حالت نصبى جرى كې ادغام د يو حرف شوي دي په بل كې او ادغام ديوحرف په بل كې شي نه اوباسي دحقيقت خپل نه، نو ځكه په حالت رفعي كې واو مقدر شو اوپه نصبى او جرى كې يا لفظا ده ځكه دا مسلمى اصل كې مسلمون وو هركله چې يې اضافت وشو ياء د متكلم ته نو نون وغورځيدو نو

مسلموي شو. بيا واو او ياء يوځای راغلل او اول په کې ساکن وو نو واو بدل شو په ياء سره او ياء په ياء کې مدغمه شوه او ضمه دماقبل بدله شوه په کسرې سره د وجې دمناسبت دياء نه

سوال: فرض منصبي دمصنف اختصار بما هو اختصار دی نو پکار وه چې داسې يې ويلی وی چې ومسلمی رفعا يې د زيادت د نحو نه او تعميم په حاصل شوی وی مخکې په هغه کاف سره حکه دا عطف دی په قاض؟ **جواب:** مصنف و نحو مسلمی وويل. او مسلمی يې ونه ويل په دې تعدد د عامل کې يې اشاره وکړه استقلال دنوعيت ته او که مسلمی يې ويلی وی نو متوهم به دا وهم کړو چې دا به پشان دقاض وي حالانکه دايشان دقاض ندی حکه هلته اعراب مقدر دی په دوه حالته کې اودلته مقدر دی په يو کې او بل دا چې په قاض کې اعراب بالحرکت دی او دلته کې بالحرف دی

سوال: په مسلمی کې خو اعراب مقدر دی صرف په حالت رفعی کې او کله کله مقدر وی اعراب رفعی په احوال ثلاثه و کې لکه جاءني اب القوم رأيت اب القوم مررت باب القوم. نو مصنف د دې مثال ولې ذکر نه کړو؟ **جواب:** داب او طريقه د مصنف دا ده چې دی شائع او کثير ذکر کوی او کون دجمع مذکر سالم په حالت رفعی کې په اعراب تقديری سره شائع او کثير وو نو دا يې ذکر کړو. او کون د اعراب بالحرف مقدر په احوال ثلاثه و کې قليل وو نو دا يې ذکر نه کړو

(۲) په جاءني اب القوم الخ کې دا ضمه فتحه او کسره قائمه شوې ده په ځای د واو الف ياء باندې نو دا اعراب بالحرکت نيابة شو او مصنف هغه اعراب تقديری بيانوی چې بدون النيابة وي

واللفظی فيما عداه: هر کله چې فارغ شو مصنف دبيان داعراب تقديری نه نو شروع يې وکړه په بيان د اعراب لفظی کې نو وې ويل چې واللفظی فيما عداه اعراب لفظی برابره خبره ده که بالحرف وی او که بالحرکت وي، کائن دی په هغه اسم معرب کې چې علاوه وی دماتعذر نه او استثقل نه حکه اصل په اعراب کې اعراب لفظی دی، او مانع نشته د ظهور داعراب نه

سوال: اعراب دوه قسمه دی (۱) لفظی (۲) تقديری، او اعراب لفظی اصل دی د اعراب تقديری نه نو څه وجه ده چې مصنف اعراب تقديری مقدم کړو په لفظی باندې

جواب: هر کله چې اعراب تقديری اقل وو په اعتبار د انواعو يا په اعتبار د افرادو سره په نسبت سره اعراب لفظی ته نو مقدم يې کړو په اعراب لفظی باندې لپاره داختصار في البيان

سوال: اعراب تقديری قليل او لفظی کثير ولې دی؟ **جواب:** يا په اعتبار د انواع سره چې نوع ده تقديري دوه دي (۱) ما تعذر (۲) ما استثقل. او انواع دلفظی ډير دی

(۲) يا اقل دی په اعتبار د افرادو سره چې يو فرد يې اسم مقصور دی بل فرد يې غلامی دی، بل اسم منقوص دی، او بل جمع مذکر سالمه ده په حالت رفعی کې د دې نه علاوه ټوله دنياده

سوال: عداه کې ضمير چا ته راجع دی. يا به راجع وی نوعينو ته او يا به راجع وی افرادو ته او دا يو هم نه دی صحيح حکه نوعين دوه دی نو عداهما ويل پکار وو. او افراد خو ډير دی نو عدا هم ويل پکار وو. **جواب:** دا راجع دی نوعينو ته په تا ويل دکل واحد سره، يعني علاوه دهر واحد د دې نوعينو نه

سوال: عصا او غلامی کې هم دا اعراب لفظی دی. حکه مقدر کالملفوظ وی

جواب: اللنظی کې الف لام عهدی دی مراد لفظی حقیقي دی اوپه عصا او غلامی کې لفظا حقیقتا نه دی بلکه حکما دی

غير المنصرف: ربط: هر کله چې ذکر کړی شو منصرف اوغیرمنصرف په بیان دانواع داعراب کې په اعتبار دامحله سره نو لاندی شوه دمعرفت دمنصرف اوغیر منصرف نه اوهر کله چې معرفت د احدهما مستلزم وو معرفت داخر لره. لان الاشياء تعرف باضدادها، نو اکتفاء وکړه مصنف په ذکر داحدهما سره او بل یې ترک کړو مقایسة اوهرکله چې غیرمنصرف اقل وو په نسبت سره منصرف ته نو دا یې ذکرکړو او هغه یې ترک کړو لپاره داختصار نو وی ویل چې غیر المنصرف الخ

ترجمه: غیر منصرف لاینصرف منع صرف **اومتمکن** په اصطلاح د نحاتو کې **ما** هغه اسم معرب دی داسې اسم معرب چې کائن وی په دی کې علتان مؤثرتان په استجماع دجمیع شرائطو سره **من تسع** دعلل تسعونه **او واحدة منها تقوم مقامهما**، یاغیرمنصرف په اصطلاح د نحاتو کې هغه اسم معرب ته وایې چې کائن وی په هغې کې علت واحده ددغه علل تسعونه داسې علت واحد چې هغه تاثیر کوی پشان دتاثیر دعلتین په سببیت دمنع صرف کې

تشريح: سوال: مقصودبالبحث په فن دعلم نحوه کې معرفت داحوال دا اواخر دکلمه دی. نو په دی مصنف باندې څه باعث وو چې بیان دغیر منصرف یې وکړو (بالفاظ دیګر) هرکله چې مصنف امحله د اعراب اوانواع داعرا ب ذکر کړه نوپکاروه چې اوس یې شروع کړی وې په مقصود باندې چې مرفوعات منصوبات الخ دی نو دا غیر منصرف ولې ذکر کوی

جواب: هرکله چې ذکر کړی شو منصرف او غیر منصرف په امحله داعراب کې نو لابدی شوه دمعرفت د منصرف اوغیرمنصرف نه ځکه معرفت د اعراب دمنصرف اوغیر منصرف موقوف دی په معرفت د ذات د منصرف او غیر منصرف پورې

سوال: په بیان دانواع داعرا ب کې خو یواځې غیرمنصرف نه دی ذکر بلکه منصرف هم ذکر دی نو هغه یې ولې ذکرنه کړو پکاروه چې دواړه یې ذکر کړی وی. **جواب:** هر کله چې په معرفت داحدهما سره معرفت د اخر راتلو ځکه چې الاشياء تعرف باضدادها نو یو یې ذکرکړو او بل یې ترک کړو مقايسة

سوال: بیا خو پکاروه چې منصرف یې ذکر کړی وی او دا یې پرې قیاس کړی وی ځکه اصل په اسماؤ کې انصراف دی نوغیر منصرف یې ولې ذکر کړو؟ **جواب:** هرکله چې غیرمنصرف قلیل وو په نسبت سره منصرف ته په استعمال د کلام دعرب کې نو دا یې ذکر کړو او هغه یې ترک کړو لپاره د اختصار ځکه دا د مصنف داب اوطریقه ده چې قلیل ذکر کوی اوکثیر ترک کوی مقايسة

سوال: د غیر المنصرف مافيه علتان الخ څه ترکیب دی؟

جواب: غیر المنصرف مضاف سره دمضاف الیه نه مبتدأ **ما** موصوله یاموصوفه **فيه** خبرمقدم **علتان** مبین **من تسع** صفت دی دموصوف محذوف لپاره چې علل د ی موصوف سره دصفت نه معطوف علیه اوحرف عاطف **واحدة** موصوف **منها** یې صفت اول **تقوم فعل** ضمیرپه کې مستتر دی. هغه فاعل **مقامهما**

ورله مفعول مطلق د ی فعل سره دفاعل اوسره دمفعول مطلق نه صفت ثانی شو د واحدة. موصوف سره د صفتینو نه معطوف معطوف علیه سره دمعطوف نه بیان، مبین سره د بیان نه مبتدأ مؤخر د خبر مقدم سره دمبتدأ مؤخری نه جمله اسمیه خبریه صفت شو د موصوف یا صله شوه د موصول موصوف سره دصفت نه یاموصول سره د صلې نه خبر شو د مبتدأ، مبتدأ سره د خبرنه جمله اسمیه خبریه.

سوال: ته وایې چې غیرالمنصرف مبتدأ ده نو دا خو نکره ده او نکره مبتدأ نه واقع کیږي

سوال: بیا په دې معترض باندې اعتراض دی چې ته دیته څنګه نکره وایې د دې غیرخواضافت شوی دی معرفې ته اونکره چې مضاف شی معرفی ته په اضافت معنوی سره نو هغه معرفه کیږي

جواب: معترض جواب کوی چې دا قاعده صحیح ده لیکن د دې نه نحوشبه مثل شان غیرسوی وغیره مستثنی دی څکه دا اسماء د وجې دشدت توغل نه په ابهام کې نه معرفه کیږي په اضافت سره معرفی ته

جواب: (۱) نکره محضه مبتدأ نه واقع کیږي اونکره مخصصه مبتدأ واقع کیږي او دا هم نکره مخصصه ده، څکه دلته دااضافت د وجې نه اګر چې تعریف نه دی راغلی لیکن تخصیص پکې راغلی دی

جواب: (۲) دا معرفه ده څکه چې غیر مثل شبه وغیره د وجې د کمال توغل نه نه معرفه کیږي په اضافت سره معرفی ته لیکن په دې شرط چې دمضاف الیه لپاره یې ضد واحد نه وو او که د مضاف الیه لپاره یې ضد واحدوو نو معرفه کیږي د وجې دااضافت نه معرفی ته اودلته یې د مضاف الیه لپاره ضد واحد دی نوڅکه معرفه ده.

سوال: ما ته بل ځای کې مثال وښایه چې دمضاف الیه د دې لپاره ضد واحد وي او دا معرفه شوی وی د وجې دااضافت نه؟ **جواب:** مثال د دې لکه علیك بالحرکت غیرالسکون دلته دا غیرالسکون صفت واقع شوي دي د الحرکة لپاره نو دادلیل د دې خبری د ی چې دامعرفه شوی دی، څکه چې دمضاف الیه لپاره یې ضد واحد دې، چې حرکت دی، بل مثال لکه داقول دالله (ج) ﴿ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴾ دلته هم معرفه شوی دی څکه چې دا صفت دی دالذین انعمت علیهم لپاره او که معرفه نه شی نو صفت د هغې لپاره نه شی واقع کیدی، دلته هم د مضاف الیه د دې لپاره ضدواحد دی چې منعم علیهم دی

جواب: (۳) دامعرفه بالعلم ده، څکه چې دا مرکب اضافی علم دی دیوه نوع اسم معرب لپاره چې سببین یا یو سبب قائم مقام دسببینو په کې موجود وي، پس زده کره دا خبره چې په غیر منصرف کې لابدي ده دمعرفت داامورخمسه ؤ نه (۱) معرفة د مفهوم لغوی (۲) معرفت د مفهوم اصطلاحی (۳) معرفت د اسامی دغیر منصرف (۴) وجه دتسمیه د هر واحد (۵) معرفت دحکم دغیرمنصرف

نو غیر منصرف په لغت کې نه ګرځیدونکی ته وایې اوپه اصطلاح کې مافیه علتان من تسع او واحدة تقوم مقامهما، اودیته غیر منصرف لاینصرف منع صرف او متقي وایي، غیر منصرف ورته څکه وایي چې دا نه ګرځیدونکی دی دمشابهت دفعل نه بلکه مشابه دی دفعل سره په وجود د فرعتینو کی، او لا ینصرف ورته هم څکه وایي چې دا نه ګرځي دمشابهت دفعل نه، او منع صرف ورته څکه وایي چې

ورله مفعول مطلق د ی فعل سره دفاعل اوسره دمفعول مطلق نه صفت ثاني شو د واحدة. موصوف سره د صفتینو نه معطوف معطوف علیه سره دمعطوف نه بیان، مبین سره د بیان نه مبتدأ مؤخر، خبر مقدم سره دمبتدأ مؤخري نه جمله اسمیه خبریه صفت شو د موصوف یا صله شوه د موصول موصوف سره دصفت نه یاموصول سره د صلې نه خبر شو د مبتدأ، مبتدأ سره د خبرنه جمله اسمیه خبریه

سوال: ته وایې چې غیرالمنصرف مبتدأ ده نو دا خو نکره ده او نکره مبتدأ نه واقع کیږي

سوال: بیا په دې معترض باندې اعتراض دی چې ته دیته څنګه نکره وایي د دې غیرخو اضافت شوې دی معرفي ته او نکره چې مضاف شي معرفی ته په اضافت معنوی سره نو هغه معرفه کیږي

جواب: معترض جواب کوی چې دا قاعده صحیح ده لیکن د دې نه نحوشبه مثل شان غیرسوی وغیره مستثنی دی ځکه دا اسماء د وجې دشدت توغل نه په ابهام کې نه معرفه کیږي په اضافت سره معرفي نه

جواب: (۱) نکره محضه مبتدأ نه واقع کیږي اونکره مخصصه مبتدأ واقع کیږي او دا هم نکره مخصصه ده، ځکه دلته داضافت د وجې نه اګر چې تعریف نه دی راغلی لیکن تخصیص پکې راغلی دی.

جواب: (۲) دا معرفه ده ځکه چې غیر مثل شبه وغیره د وجې د کمال توغل نه نه معرفه کیږي په اضافت سره معرفي ته لیکن په دې شرط چې دمضاف الیه لپاره یې ضد واحد نه وو او که د مضاف الیه لپاره یې ضد واحدوو نو معرفه کیږي د وجې داضافت نه معرفي ته اودلته یې د مضاف الیه لپاره ضد واحد دی نوځکه معرفه ده.

سوال: ما ته بل ځای کې مثال وښایه چې دمضاف الیه د دې لپاره ضد واحد وي او دا معرفه شوی وی د وجې داضافت نه؟ **جواب:** مثال د دې لکه علیك بالحرکت غیرالسکون دلته دا غیرالسکون صفت واقع شوي دي د الحرکة لپاره نو دادلیل د دې خبری د ی چې دامعرفه شوی دی، ځکه چې دمضاف الیه لپاره یې ضد واحد دې، چې حرکت دی، بل مثال لکه داقول دالله (ج) ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾ دلته هم معرفه شوی دی ځکه چې دا صفت دی دالذين انعمت عليهم لپاره او که معرفه نه شي نو صفت د هغې لپاره نه شي واقع کیدی، دلته هم د مضاف الیه د دې لپاره ضدواحد دی چې منعم علیهم دی.

جواب: (۳) دامعرفه بالعلم ده، ځکه چې دا مرکب اضافي علم دی دیوه نوع اسم معرب لپاره چې سببین یا یو سبب قائم مقام دسببینو په کې موجود وي، پس زده کړه دا خبره چې په غیر منصرف کې لابدي ده دمعرفت دامورخمسه ؤ نه: (۱) معرفة د مفهوم لغوی (۲) معرفت د مفهوم اصطلاحی (۳) معرفت د اسامی دغیر منصرف (۴) وجه دتسمیه د هر واحد (۵) معرفت دحکم دغیر منصرف

نو غیر منصرف په لغت کې نه ګرځیدونکی ته وایي اوپه اصطلاح کې مافيه علتان من تسع او واحدة تقوم مقامهما، اودیته غیر منصرف لا ینصرف منع صرف او متقي وایي، غیر منصرف ورته ځکه وایي چې دا نه ګرځیدونکی دی دمشابهت دفعل نه بلکه مشابه دی دفعل سره په وجود د فرعتینو کی، او لا ینصرف ورته هم ځکه وایي چې دا نه ګرځي دمشابهت دفعل نه. او منع صرف ورته ځکه وایي چې

صرف په کې منع شوي دي. او منقی ورته ځکه وايي چې منقی خان ساتونکی نه وايي. او دا هم خان ساتي د کسرې اوتنوين نه. او حکم يې مصنف په خپله بيانوي چې **ان لا كسرة ولا تنوين.**

سوال: ستا دا تعريف نه دی صحيح ځکه دا مانع نه دی ددخول د غير نه دا صادق شو په ضربت باندې ځکه دا يو لفظ دی چې په کې دوه سببه موجود دی د اسباب تسعه ؤ نه چې يو وصفيت دی او بل تأنيث دی. او سره د دې نه چې دا خو غير منصرف نه دی منشأ د اعتراض دا ده چې معترض دا ما عبارت اخستی دی دلفظ نه؟

جواب: دا اعتراض به تا هله کولی چې دا کلمه د ما عبارت وی دلفظ نه ليکن دا عبارت دلفظ نه ندی بلکه عبارت دی د اسم نه او ضربت اسم نه دی بلکه فعل دی نو دا نه منصرف دی اونه غير منصرف دی.

سوال: چې ما عبارت شو د اسم نه نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په حضار باندې ځکه چې په دی کې علّميت اوتأنيث موجود دی حالانکه دا خو غير منصرف ندی

جواب: دا کلمه دما عبارت دمطلق اسم نه نه دی بلکه دا عبارت دی د اسم معرب نه اوحضار اسم مبنی دی، بيا جامی صاحب هغه اسم نکره ذکر کړی دی نو په تنکير د اسم کې يې اشاره وکړه دی خبر ی ته چې دا ما موصوفه اخستل اولی دي. ځکه چې دا په جانب د خبر کې واقع شوي دي اوموصوله اخستل په کې جائز دي ليکن خلاف اولی دی

سوال: دا تعريف مانع نه دی ددخول د غيرنه داخل شو پکې ضاربة ځکه چې په دی کې يو تأنيث دی او بل وصفيت دی او سره د دې نه چې غير منصرف ندی **جواب:** په دې مقام کې مراد د علتان نه مطلق علتان نه دی بلکه علتان مؤثرتان مراد دی او دلته په ضاربة کې علتان مؤثرتان نشته، ځکه چې تأنيث مؤثر هله واقع کيږي چې يو ځای شي د علّميت سره او د وصفيت سره مؤثر نه واقع کيږي

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په نوح اولوط باندې په دی کې علتان راغلی دی چې يوه عجمه ده او بل علّميت دی اوسره د دې نه دا خومنصرف دی. **جواب:** مونږه وايو چې په دې کې به علتان مؤثرتان راغلی وی په استجماع دشرائطو سره اودامستجمع نه دی شرائطو لره ځکه چې دعجمي لپاره شرط زيادت علی الثلاثه دی، او ياکون دی د دې دی متحرك الاوسط اوپه لوط اونوح کې يوهم نه دی موجود

سوال: من تسع په ترکيب کې څه واقع شوي دي؟

جواب: په دی کې د شارجينو اختلاف دی. شيخ رضی وائی ای من تسع علل يعني اضاف دی او مضاف اليه يې حذف دی چې علل دی اوجامی صاحب وايي ای من علل تسع يعني دا صفت دی د موصوف محذوف لپاره، نو جامي صاحب رد وکړو په شيخ رضی باندې ځکه جامی صاحب وايي چې دا صفت شی دموصوف محذوف لپاره نو د دې موافقت به راشي د دې وروسته عبارت سره چې واحدة دی، ځکه هغه صفت دموصوف دی چې علة دی او که مرکب اضافی شی لکه چې دا خيال دشيخ رضی صاحب دی نو بيا موافقت نه راځي په مابين د عبارتينو کی

سوال: دا تعريف د غيرمنصرف باطل دی ځکه چې دا بنا دی په شك او تردد باندې اوکوم تعريف چې بنا وي په شك او تردد باندې هغه باطل وی، نو دا باطل شواوس داخبره خو ظاهره ده چې کوم تعريف بنا

دی په شك نو هغه باطل وي ليکن دا تعريف څنګه بنا دی په شك باندې نو دا څکه بنادی په شك باندې چې په دی کې کلمه داو راغلی ده، او دا او راځي لپاره دشك او تردد، نو چې هرکله مصنف په خپله مکي شو نو موږ ته به څه وضاحت وکړی؟

جواب: دا تعريف نه دی په يقين باندې نه په شك باندې او که ته وايي چې او په کې راغلی دی دا دشك لپاره راځي نو جواب دا دی: چې او هرځای کې دشك لپاره نه راځي بلکه د او ډيری معانی دی دلته لپاره دتنويع اوتقسيم دی. نومطلب داشو چې غير منصرف دوه قسمه دی يو قسم هغه دی چې علتان په کې موجود وی. اودويم قسم هغه دی چې علت واحده يکې موجود وی.

سوال: د او خو ډيری معانی دی او قانون دا دی چې دلفظ مشترك نه چې سړی يوه معنی اراده کوی نو دهغې لپاره لابدی وی دقرينې نه دلته څه ده چې او لپاره دتنويع دی؟ **جواب:** قرينه په دې باندې دامقام دی څکه دامقام دتعريف دی. اوپه تعريف کې او راځي لپاره د تنويع او تقسيم کمافی قول المصنف المبنی ما ناسب مبنی الاصل او وقع غير مرکب = دلته او لپاره د تنويع دی **تقوم مقامهما**

سوال: تقوم مشتق دی دقيام نه اوقيام مکث علی القدمين ته وايي اود دې نسبت کيږي ذوی الاجسام اوذوی الارواح ته اوعلت خوددو ی الاجسامو نه نه دی نو د دې وجې نه نسبت د دې علت نه نه دی صحيح؟ **جواب:** دا اعتراض به ناهله کولی چې دا عبارت دمصنف بنا وی په حقيقت باندې ليکن دا بنا دی په مجاز باندې ذکر دملزوم دی چې قيام دی او مراد ترينه لازم دی چې تأثير کول دی

سوال: مقامهما په ترکيب کې څه واقع شوي دي؟ **جواب:** دامنصوب دی.

سوال: منصوبات خو دوولس دی دا کوم يو دی؟ **جواب:** دامفعول مطلق دی.

سوال: مفعول مطلق خو مصدر وی اودا خوصيغه دمصدر نده بلکه صيغه دظرف ده.

جواب: داصيغه دظرف نده بلکه دا مصدرميمی دی.

سوال: مفعول مطلق درې قسمه دی (۱) تاکيدی (۲) عد دي (۳) نوعی، دا کوم قسم دی؟

جواب: دا مفعول مطلق نوعی دی نو معنی د دې داشوه چې تأثيرکوی دايو سبب پشان دتأثير د علتينو او سببينو باندې. وهي شعر

عدل ووصف وتانيث ومعرفة — وعجمة ثم جمع ثم ترکيب

والنون زائدة من قبلها الف — ووزن فعل وهذا القول تقريب

(ربط) هرکله چې فارغ شو مصنف دبيان دتعريف دغيرمنصرف نه نوشروع يې وکړه په بيان دعلل تسعه ؤ کې څکه هرکله چې مذکور وو په تعريف دغير منصرف کې من تسع او قانون دا دی: چې معرفت دمعرف موقوف وی په معرفت دجميع اجزاؤ دتعريف پورې نو پس لابدی شوه دبيان دعلل تسعه ؤنه نو ووېل مصنف چې وهی شعرالخ، داعلل تسعه مجموعه هغه دی چې راغلی دی په دې قول دشاعرکی

تشريح سوال: ربط د ماقبل سره څه دی؟

جواب: مخکې تعريف دغير منصرف وو اواوس بيان دعلل تسعو کوی

سوال: هرکله چې یې تعریف دغیرمنصرف وکړو نوغیرمنصرف موږته معلوم شو نو پکاروه چې اوس یې حکم دغیر منصرف بیان کړی وی نو اسباب یې ولې بیانوی؟!

جواب: هرکله چې مذکوروو په تعریف دغیر منصرف کې من تسع اووضاحت دمعرف موقوف دی په معرفت دجمیع اجزاؤ د تعریف پورې. نوغیر منصرف به موږه هله وپیژنو چې علل تسعه وپیژنو نو ځکه مصنف دا ذکر کوي اوس په دې مقام کې لاندی ده دمعرفت دامور اربعهٔ نه: (۱) اسم دشاعر (۲) دا اسباب دمنع صرف مصنف په نظم کې ولې بیان کړه (۳) ترکیب د دې شعر (۴) ترجمه د دې شعر (۱) نو شاعر د دې شعر ابوسعید انباری نحوی الکوفی دی. اومصنف داعلل تسعه په نظم سره ځکه ذکر کړه چې معرفت دنظم اسان دی دمعرفت د نثر نه (۲) لپاره دترغیب دطالبانو

ترجمه: وهی داعلل تسعه. عدل، وصفیت دوصف تأنیث، تعریف دمعرفه، عجمه جمعیت د جمع اوترکیب الخ. دی په دې سره دفع داعتراض وشوه اعتراض دا دی چې عدل تأنیث عجمه او ترکیب خو اسباب دی لیکن وصف معرفه اوجمع خواسباب دمنع صرف ندی، ځکه چې اسباب دمنع صرف دقبیلې د اوصافو نه دی اووصف اومعرفه اوجمع دقبیلې داوصافو نه ندی بلکه دا خو ذوات دی.

جواب: دلته مراد ددې نه وصفیت دوصف اوتعریف دمعرفه اوجمعیت دجمع دی

سوال: ثم یوحرف دی دحروف عاطفو نه دا راخې لپاره د تراخی نو ستا د کلام نه خو دامعلومه شوه چې دوصف عجمه تأنیث اومعرفی دتأثیر نه وروسته جمع تأثیر کوی اودهغې نه وروسته ترکیب تأثیر کوی، حالانکه تاخیر دجمعیت اوترکیب خو مؤخر نه دی دتأثیر د دې نورونه.

جواب: داثم دلته دتراخی فی الرتبة لپاره نه دی راغلی بلکه دا په معنی د واوسره د ی اوذکر شوی دی محض دمحافظت دوزن شعری لپاره

سوال: دازائدة په **والنون زائدة** کې څه واقع شوی دی په ترکیب کې مرفوع دی که منصوب دی؟

جواب: په دی کې اختلاف دی شارح هندی وایي چې دامرفوع دی ځکه چې صفت دی دالنون لپاره، نو معنی یې دا ده چې داسې نون چې زائد دی. یعنې دحروف زیادت نه دی چې سالتمونیها دی یا په مقابله دفاء عین لام کې نه دی راغلی.

سوال: النون خو معرف باللام دی او زائدة خونکره دی نومطابقت رانغلو په مابین دموصوف او د صفت کې؟ **جواب:** په النون کې الف لام زائد دی په قرینې دتنکیر دا خوات سره چې عدل الخ دی، اوجامی صاحب وایي چې زائدة منصوب دی بنابر حالیت دالنون نه نو رد یې وکړو په هندي باندې چې دامرفوع نه دی بنا په دې چې صفت شی دالنون لپاره ځکه چې داصفت شی نو الف لام ته به زائدوایی او دا خلاف ده دظاهر نه اوخلاف ده دوضع دواضع نه.

سوال: بیاپه جامی صاحب باندې اعتراض دی چې حال خومابیین هئیت الفاعل اوالمفعول به الخ ته وایي، اوالنون خونه فاعل دی اونه مفعول دی بلکه دا خوخبر دی دمبتدأ لپاره.

جواب: فاعل عام دی که دفعل لفظی لپاره فاعل وی او که دفعل معنوی لپاره وی دلته النون فاعل دفعل معنوی دی چې هغه مستفاد دی دمخکې شعرنه چې موانع الصرف تسع الخ ای تمنع النون، منع

کوی نون صرف لره په حال کون د دې کې چې زائدي واخلي او که اصلي وونو بیا مانع د صرف نه دي
سوال: من قبلها الف په ترکیب کې څه واقع شوي دي؟
جواب: صاحب دغاية التحقيق وايي چې من قبلها خبر مقدم الف مبتدأ مؤخره ده یا من قبلها ظرف دی او الف فاعل دظرف د ی دا جمله بیا صفت دی دالنون لپاره یعنې داسې نون چې کائن وی مخکې د دې نه الف او یا داجمله حال واقع شوي دي یعنې په حال کون د دې نون کې چې مخکې د دې نه الف وی. بیا حال مترادفه دی یعنې زائدة یوحال دی دالنون نه اوداجمله بل حال دی دالنون نه. او یا حال متداخله دی یعنې زائدة حال دی دالنون نه او داجمله حال دی د هغه ضمير دزائدة نه چې راجع دی النون ته او جامي صاحب وایي چې الف فاعل دزائدة دی اومن قبلها متعلق دی په زائدة پورې نو رد یې وکړو په صاحب د غاية التحقيق باندې چې هغه خطا شوی دی ځکه چې داجمله حال شی دالنون نه یا صفت شی دالنون لپاره نو بنا په دې صرف زیادت دنون معلومیږي نه زیادت دالف حالانکه زائد په دواړه وی.
سوال: په جامي صاحب باندې دا اعتراض دی چې ستا په تعریف باندې خو صرف زیادت دالف معلوم شو او زیادت دنون خومعلوم نه شو ځکه معنی داشوه چې په حال کون د دې نون کې چې زائد وي مخکې د دې نون نه الف؟ **جواب:** زما په ترکیب باندې زیادت دالف اونون دواړو معلومیږي بنا په یوه قاعده باندې هغه قاعده دا ده چې په ترکیب کې یو مشتقي راشي اوهغه جاري وی په ماقبل باندې او د هغې نه وروسته جارمجرورظرف لغوه وی او وروسته دهغې نه یو اسم واقع شوی وی چې هغه فاعل وی او مسنداليه وی ددغه مشتقي لپاره، نو دا دلالت کوی په دوه خبرو باندې یو دلالت کوی په دې چې دا ماقبل ما جری علیه او دا وروسته فاعل د دې مشتقي مشترك دی په معنی مصدری د دې مشتقي کې، او بل دلالت کوی پدې چې دا مسنداليه د دې مشتقي مخکې دی د ماجری علیه نه مثال د دې لپاره لکه جاءني زيد راكباً من قبله اخوه دلته راكباً يو مشتقي دی جاری دی په ماقبل باندې چې زيد دې اوروسته تری جارمجرور ظرف لغوه راغلی دی چې من قبله دی، اواخوه فاعل دی اومسنداليه دی د دې راكباً لپاره نود دې معنی دا ده چې زید او ورور دزید شریك وو په رکوب کې اوداوروريې مخکې وو د زيد نه، نو دلته هم زائدة مشتقي دی او جاري دی په ماقبل باندې ځکه چې هغه موصوف دی او دا یې صفت دی یا هغه ذوالحال دی اودایی حال دی، او وروسته من قبلها ظرف لغوه متعلق دی په دې زائدة پورې **او الف** فاعل دزائدة لپاره دی نود دې معنی داشوه چې دا الف او نون په شریك وی په معنی مصدری کې چې زيادت د ی اودا الف به مخکې وی د دې نون نه **وهذا القول تقريب سوال:** د دې جملې ترکیب څه دی؟
جواب: کله چې اسم اشاره سره دمشاراليه نه راشي نوهلته ځلور ترکیبونه جائز وی په طریقی دجزئیت سره یعنې په بعض ماده کې کولی شی بعض کې نه شي کولی مثال نحو قوله تعالى ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ
(۱) ذلک مبدل منه الکتاب ترینه بدل مبدل منه سره دبدل نه مبتدأ اولاريب فيه يې خبر دی.
(۲) ذلک موصوف الكتاب یې صفت موصوف سره دصفت نه مبتدأ لاريب فيه خبر دی

(۳) ذلک مبين الكتاب ورله عطف بيان مبين سره دعطف بيان نه مبتدأ اولاريب فيه يې خبر دی
(۴) ذلک مبتدأ ده اوالكتاب يې خبر دی بناپدی اولنودری ترکيبونو د دې ترجمه دا ده دا کتاب چې وی جنس شك نشته په دی کې، او بنا په څلورم ترکيب د دې ترجمه دا ده چې ذلک دا څه چې نازل شوی دی په تاباندې اوڅه چې نازليږی ای محمد (ص) دايو مکتوب کامل دی. او دری ترکيبونه جائز وی په طريقه دکليت سره يعنې هر ځای يې کولی شی لکه دلته
(۱) هذا موصوف القول صفت موصوف سره دصفت نه مبتدأ تقريب يې خبر دی (۲) هذامبدل منه القول ترينه بدل (۳) يا هذامبين القول ورله عطف بيان مبدل منه سره دبدل نه يامبين سره دعطف بيان نه مبتدأ او تقريب يې خبر دی اوداترکيب نه دی جائز چې هذا مبتدأ شی اوالقول ورله خبر شی ځکه چې خبر د هذا لپاره وروسته ذکر دی علی التعين چې تقريب دی.
سوال: وهذا القول کې چې دا واو راغلی دی نومتبادره دا ده چې دا به واو عاطفه وی ځکه چې اصل په واؤ کې واو عاطفه دی نو داجمله به عطف وی په وزن الفعل باندې نو دا خو عطف د جملې راغلو په مفرد محضه باندې او عطف د جملې په مفردمحض باندې جائز نه دی او عطف د جملې په هغه مفرد باندې جائزد ی چې بمعنی فعل وی کمافی قوله تعالی صافات ويقبضن.
جواب: دا اعتراض به تاهله کولی چې داواو په دې مقام کې عاطفه وی ليکن داواو دلته عاطفه نه دی بلکه استئنافيه دی، يا اعتراضيه دی
سوال: غرض اومقصد دشاعر د دې جملی نه څه دی دايې په اخير د دې شعر کې ذکرکړيده (بالفاظ ديگر) د دې جملی څه معنی ده؟ **جواب:** غرض دشاعر د دې جملی نه څلور خبری دی اود دې جملی څلور ترجمې دی: (۱) داجمله مستانفه ده يعنې استيناف بيانی دی اواستيناف بيانی هغه ته وايي چې دا جمله واقع شوی وی جواب دسوال نو دلته هم داجمله جواب دسوال واقع شوي دي
سوال: دا دی چې دا کوم اشياء تسعه چې ذکرشوي دي نظم کې نوزه ستا نه تپوس کوم ايا ته يو يو ته علت اوسبب وايي که دوه دوه ؤ ته علت اوسبب وائی، او که دوه دوه ؤ هغه ته علت تام دمنع صرف وايي نو داعلت ويل ورته صحيح دی ليکن بيا داتسعه نه شو بلکه تقريبا څلور شو او که ته وايي چې يو يو ته سبب وايم نو بيا نهه شو ليکن يو يو ته سبب ويل نه دی صحيح ځکه که يو يوسبب اوعلت تام شی نو بيا خوپکارده چې ديو يو د وجې نه دی کلمه غيرمنصرف شی نو بيا پکارده چې زيد عمروبکر وغيره دی هم غير منصرف شی حالانکه دا خوغيرمنصرف ندی
جواب: نوشاعرجواب وکړيدی جملې سره چې **وهذا القول** داقول د دې نحاتو چې اطلاق دسبب کوی په هر واحدباندې **تقريب** مجازاً دی، خلاصه دجواب دا ده چې زه هر يوته سبب وايم ليکن ستا اعتراض به هله راتلو چې داسبب ويل ورته حقيقتاً وی ليکن داسبب ويل ورته مجازاً دی نه حقيقتاً
سوال: مجاز خو دوه قسمه دی: (۱) مرسل (۲) مستعار دا کوم يو دی؟
جواب: دامجاز مرسل دی ځکه داتسميه دجزده په اسم دکل باندې ځکه په کلمه کې چې دوه اشياء راشی

نو دادوه من حيث المجموعه سبب اوعلة دى نو د نوم د كل اطلاق يې وكړو په جزء باندې
(۲) دويم غرض داجمله معترضه ده.
سوال: جمله معترضه خوپه مینځ د كلام كې راځي او دا خواځيز د كلام دى؟
جواب: جمله معترضه غالباپه مینځ كې راځي خو كله كله په اخير كې هم راځي
سوال: دا خوديو غرض لپاره راځي دلته غرض څه دى؟
جواب: غرض اومقصد د دې نه ترغيب وركول دي طالبانو ته په حفظ د اسبابو دمنع صرف كې. نو معنى د دې دا ده چې ذكر كول داسبابو دمنع صرف په نظم كې نژدې كونكي دي د اسبابو دمنع صرف لره ذهن د طالب ته (۳) يا غرض په دې جملې سره رد دي په بعضى نحاتو چې هغه وايي چې اسباب د منع صرف دوه دي (۱) يو حكايت دى په وزن فعل كې. (۲) او بل تركيب دى او دارنګې رد دى په هغه نحاتو باندې چې هغه وايي چې اسباب دمنع صرف يوولس دى. نهه دغه مذكور دى اويوهغه الفين دى چې مشابه دى دالفين دتأنيث سره په امتدادالصوت كې لكه الف داشياء چې مشابه دى دالف د حمراء سره امتدادكى او الف دارطى چې دامشابه دى دالف دحبلى سره په قصركى اويوولسم اعتبار د وصفيت اصلى دى په اسود او ارقم كې، نو مصنف پرې رد وكړو چې دا قول د نحاتو چې اسباب دمنع صرف نهه دى داقريب الى الصواب دى، اودغه نور دوه قولونه بعيد من الصواب دى، اوداقريب الى الصواب ځكه دى چې په دى كې افراط اوتفريط نشته، اوڅوك چې وايي اسباب دمنع صرف دوه دى نو په دى كې تفريط دى اوڅوك چې وايي يوولس دى نو په دى كې افراط دى. او بله خبره دا ده چې څوك وايي اسباب دمنع صرف دوه دى نو په هغوى باندې دا الزام دى چې حكايت په وزن فعل كې بې د تركيب نه نه شي راتلى نولهذابيادى سبب صرف يو شي چې تركيب دى. اوڅوك چې وائي يوولس دى نو هغوى ته جواب دا دى چې اسباب يوولس ندى. ځكه چې دغه الفين داخل دى په الفين دتأنيث كې او اعتبار دوصفيت اصلى داخل دى په وصفيت اصلى كې (۴) ځلورم مقصد اوغرض په دې جمله كې تبريك اومباركى وركول دى دى شاعر ته نومعنى د دې داشوه چې هذا القول داذكر كول د دې شاعر دى اسباب دمنع صرف لره په شعر كې واجبوى په مونږ باندې داخبره چې مونږه ووايو په حق د دې شاعر كې چې حياك الله ځكه قاموس وايي چې التقريب ان يقال حياك الله = اوس كه ته وايي چې ماته مثال وښايه نو دى وايي چې زه به درته نهه مثالونه وخايم مثل عمر واحمر الخ.
سوال: مثال خوراځي لپاره دوضاحت دممثل اووضاحت دممثل خوراځي په يو مثال باندې نو دا ډير يې ولې ذكر كړه؟ **جواب:** تعدد دمثال بنادى په تعدد دممثل باندې عمر مثال دعدل دى احمر مثال دوصف وى طلحة. مثال دتأنيث دى زينب، مثال دتعريف دى ابراهيم، مثال دعجمه دى مساجد، مثال دجمع دى (يعني منتهى الجموع) معديكرب. مثال دتركيب دى عمران، مثال دالف نون مزيدتان دى احمد. مثال دوزن فعل دى.

سوال: ته وايي چې تعدد دمثال بنا دی په تعدد دممثل باندې نو عمر کې خويواځې عدل نه دی بلکه علميت يکې هم شته، اواحمرکی يواځې وصفيت نه دی بلکه وزن فعل ورسره هم شته دی

جواب: دا تعدد دمثال بنا دی په تعدد دممثل باندې په اعتبار دمقصود سره نه په اعتبار د ذکر سره يعني په عمر کې عدل مقصود من الشئ دی اوعلميت حاصل من الشئ دی الخ

سوال: ذکر دزينب وروسته د طلحة نه مستدرك دی ځکه چې په دې دواړو کې تانيث دی

جواب: تانيث دوه قسمه دی (۱) لفظی (۲) معنوی اول مثال دلفظی دی اودويم مثال دمعنوی دی بيا د مساجدنه علاوه داټول قسم اول دغير منصرف نه دی، اومساجدقسم ثانی دغير منصرف دی او دا عمر احمر الخ ټول مجرور بالفتحه دی په دې مقام کې ځکه چې مضاف اليه واقع شوي دي دمثل لپاره.

وحکمه ان لاکسرة ولاتنوين: هرکله فارغ شو مصنف دبيان دتعريف دغيرمنصرف نه اودبيان د اسبابو د منع صرف نه نو شروع يې وکړه په بيان داثر مرتبه دغيرمنصرف کې لپاره دکمال وضاحت او انکشاف دغير منصرف نو وې ويل چې وحکمه ان لاکسرة ولاتنوين

ترجمه: اثر مرتبه او فائده مرتبه په غير منصرف باندې د وجې داشتمال د دې نه په سببينو يا په سبب واحدباندې چې قائم وی په مقام دسببينو باندې عدم وجود دکسره اودتنوين تمکن دی په غير منصرف کې ځکه چې دا مشابه دی دفعل سره په وجود دفرعتينو کې په دې شان سره چې په فعل کې دوه فرعتين دی (۱) يو دافرع د اسم ده په افاده کې (۲) او دويم دا فعل فرع د اسم ده په اشتقاق کې اوپه غيرمنصرف کې چې دوه سببه راشی نو دوه فرعتين يکې راغلل، ځکه چې دا اسباب دغير منصرف ټول فروع دی لپارد دغيراومشبه کله کله حکم دمشبه به اخلی اوپه فعل کې خوکسره اوتنوين نه راتلل، نو په غير منصرف کې به هم کسره اوتنوين نه راځي

تشريح: سوال: ربط دماقبل سره څه دی؟ **جواب:** مخکې مصنف تعريف د غير منصرف اواسباب دمنع صرف بيان کړه اوس حکم دغير منصرف بيانوی

سوال: په تعريف سره مونږه غير منصرف وپيژندونوحکم يې ولې بيانوی؟

جواب: لپاره دکمال وضاحت اوانکشاف (۲) ياربط دماقبل سره دا دی چې داجمله مستانفه دی يعني استيناف بيانی دی، داواقع شوې ده جواب دسوال مصنف چې دا تعريف دغير منصرف اواسباب د منع صرف بيان کړل، نومعترض اعتراض وکړو چې په اسم کې چې دوه سببه راشی يا يو سبب چې قائم وي په مقام دسببين باندې نو په دې باندې اثر اوفائده څه مرتبه ده نو مصنف

جواب: وکړو چې اثر مرتب په دې باندې عدم وجود د کسره او تنوين تمکن دی په غير منصرف کې

سوال: حکم خو په اصطلاح د مناطقو کې ويلی کيږي نسبت دمدلول ديو کلمې دی مدلول دبلی کلمې ته ايجاباً يا سلباً يعني په معنی دنسبت تام خبری سره راځي اونسبت تام خبری په جمله کې راځي نو غير منصرف خوجمله نده بلکه مفرد دې (۲) ياحکم محکوم به ته وايي اومحمول ته وايي نو معنی دا چې ان لاکسرة ولاتنوين محمول اوخبر دی دغيرالمنصرف لپاره او دا نده صحيح ځکه چې دا خو حمل

د صرف وصف راځي په ذات باندې اوداباطله ده **جواب:** دا اعتراض به تاهله كولى چې دلته حكم نه مراد حكم منطقي وي ليكن حكم دلته په معنى داثر مرتب سره دى

سوال: حكم چې په معنى داثر مرتب سره وي نو دهغې اضافت كيږي مؤثر ته اوغيرمنصرف خو مؤثر ندى بلكه دا خومحل داثر دى اومؤثر علتين ياعلت واحده دى

جواب: د دې اضافت اكثر مؤثر ته كيږي خوكله كله يې اضافت محل د مؤثر ته هم كيږي يعنې دا اضافت لامي دى ادنى ملابست غواړي

سوال: په غير منصرف كې داكسره اوتنوين ولې نه راځي؟ **جواب:** ځكه چې دامشابه دى دفعل سره په وجود دفرعتين كې په فعل كې دوه فرعتين دى يو فرع د اسم ده په افاده كې او بل فرع د اسم ده په اشتقاق كې اوپه غيرمنصرف كې دوه قسمه سببه وى نو دوه فرعتين پكې راغلل ځكه چې هر سبب فرع دغير ده اوپه فعل كې خو كسره او تنوين نه راتلل نو پدې كې به هم نه راځي اوس په فعل كې كسره اوتنوين ولې نه راتلل نود هغې وجه مخكې تيره شوې ده.

سوال: دا اسباب دغيرمنصرف څنګه فروع دى دغير لپاره؟

جواب: عدل فرع دمعدول عنه ده او وصف فرع دموصوف ده تأنيث فرع دتذكير ده معرفه فرع د تنكير ده، عجمه فرع دعربيت ده، جمع فرع دمفرد ده او تركيب هم فرع د مفرد ده الف نون زائدتان فرع د مزيد عليه ده. يافرع دالف نون اصليتان ده او وزن فعل فرع ده وزن اسم ده.

سوال: مشابهت دغيرمنصرف دفعل سره په وجود دفرعتينو كې په نيز دبصرينو باندې صحيح دى ليكن په نيز دكوفينو باندې نه دى صحيح ځكه دكوفينو په نيز باندې فعل فرع د اسم ده په افاده كې او فرع يې نده په اشتقاق كې بلكه په اشتقاق كې اسم فرع دفعل ده عندهم نو د دوى په نيز باندې په غير منصرف كې كسره او تنوين ولې نه راځي؟

جواب: دا مذهب دكوفيانو هم دى چې فعل فرع د اسم ده په اشتقاق كې

سوال: هركله چې مذهب د دوى دا دى چې داپه اشتقاق كې فرع د اسم ده نو بيا دبصريانوسره جګړه ولې كوى؟ **جواب:** مجادله كوى دبصرينوسره لپاره داظهار دقوت علمي خپل مقابل خپل ته. او كه ومنم دا خبره چې مذهب دكوفيانو دا دى چې اسم فرع دفعل ده په اشتقاق كې نو بيا هم غيرمنصرف مشابه د فعل سره په وجود د فرعتينو كې عندالكوفيين

(۱) يو په افاده دفائدى تامه كې (۲) دويم فرعيت پكې دا دى چې دا فعل اصل دى په اعلال كې په دې شان سره چې كه په فعل كې اعلال شوى وو نو په اسم كې به كيږي والا فلا او اعلال فرع دصحت ده نوځكه مشابه شوغير منصرف دفعل سره په وجود دفرعتينو كې نو كسره او تنوين به پرې نه راځي

سوال: ته وايې چې حكم دغيرمنصرف دا دى چې ان لاكسرة ولاتنوين نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول دالله (ج) سره فَإِذَآ أَفَضۡتُم مِّنۡ عَرَفَٰتٖ دلته عرفت غير منصرف دى د وجې د علميت او تأنيث نه او سره د دې نه چې كسره پرې راغلى ده.

جواب: دا حکم دغیر منصرف لپاره دی لیکن په دې شرط سره چې داغیر منصرف په صورت د جمع مؤنث سالمه کې نه وي راغلی او که په صورت دجمع مؤنث سالمه کې راغلی وو نو بیا په دې کې درې لغته دی (۱) لغت افصح پکې دا دی چې دا به معرب کیږي په اعراب دجمع مؤنث سالمی سره.
(۲) دویم لغت پکې دا دی چې دا به معرب کیږي په اعراب دجمع مؤنث سالم سره بدون التنوین.
(۳) دریم لغت پکې دا دی چې دا به معرب وی په اعراب دغیر منصرف سره. (۲) او د تنوین نه بل **جواب** دا دی چې په غیر منصرف کې چې منفی دی نو دا مطلق تنوین نه دی بلکه تنوین تمکن دی یعني تنوین تمکن به نه راځي په غیر منصرف کې.

ویجوز صرفه للضرورة اوللتناسب: ربط: دا جمله مستانفه جواب دسوال مقدر دی ځکه هرکله چې مصنف بیان کړو حکم دغیر منصرف مونږ ته نومعترض نقض دحکم دغیرمنصرف وکړو په مواد ثلاثه ؤ سره (۱) ته وایي چې حکم دغیرمنصرف دا دی چې کسره به پرې نه راځي نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د شاعر سره: شعر:

سلام علی خیر الانام وسید حبیب اله العالمین محمد
بشیرنذیرهاشمی مکرم عطوف رؤف من یسمی باحمد

دلته احمد غیرمنصرف دی د وجې د علمیت او وزن فعل نه اوکسره پرې راغلی ده. (۲) دویم دا چې ته وایي چې په غیر منصرف باندې به تنوین نه راځي نو دا قاعده منقوضه شوه په دې قول د فاطمې رضی الله عنها سره چې دا یې ویلی دی په مرثیه د نبي (صلی الله علیه وسلم) کې:

صبت علی مصائبٌ لوانها صبت علی الایام صرن لیالیا

دلته مصائب غیرمنصرف ده ځکه چې صیغه دمنتهی الجموع ده، اوسره د دې نه چې تنوین پرې راغلی دی، او بل دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول دالله ج باندې ﴿ سَلَٰسِلَاْ وَأَغۡلَٰلٗا ﴾ دلته سلاسلا غیرمنصرف دی ځکه صیغه دمنتهیٰ الجموع ده اوتنوین پرې راغلی دی، داهغه مادی دنقض دی چې صرف په کسره باندې یاصرف په تنوین باندې وی. (۳) دریمه ماده دنقض په کسره اوتنوین دواړو ده یعني ته وایي چې غیر منصرف حکم دا دی اوهغې ته وایي چې کسره او تنوین به پکې نه راځي نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول دامام شافعی رحمه الله باندې

اعد ذکر نعمان لنا ان ذکره هوالمسك ماکررته یتضوع

او بل دی دا قاعده منقوضه شوه په دې قول دشاعر باندې شعر:

لهاحکم لقمانِ ونغمةِ داود وصورةِ یوسفِ وعفةِ مریمِ

دلته نعمان غیر منصرف دی په دې اول شعر کې اولقمان داود یوسف مریم غیرمنصرف دی په دې دویم شعرکی اوسره د دې نه چې کسره اوتنوین دواړه پکې راغلی دی، نو مصنف جواب وکړو چې دلته په دې څلورو ځایونو کې دا کسره اوتنوین راغلی دی نو دا د وجې دضرورت شعری نه راغلی دی، اوپه سلاسلا واغلالاً کې چې تنوین راغلی دی په سلاسلا کې نو دا د وجې د تناسب بین الکلمتین نه دی.

(۱) دویم ربط دماقبل سره دا دی چې هر کله چې فارغ شو مصنف دبیان داسباب دغیرمنصرف نه نوشروع یې وکړه په بیان داسبابو د منصرف جعلي کې چې هغه پنځه دی. (۱) ضرورت شعری (۲) تناسب بین الکلمتین (۳) تنکیر بعدالعلّمیت. (۴) دخول دالف لام په غیر منصرف باندې (۵) اضافت د غیرمنصرف غیر ته) پس زده کړه دا خبره چې منصرف دوه قسمه د ی. (۱) اصلی. (۲) جعلی. سوال: د منصرف اصلي اوجعلي مینځ کې څه فرق دی؟

جواب: منصرفَ اصلي د سره سبب نه غواړي د انصراف لپاره بلکه دا منصرف وی د وجې دوضع د واضع نه او منصرف جعلي سبب غواړي.

سوال: د غیر منصرف او منصرف جعلي مینځ کې څه فرق دی؟

جواب: د دې په مینځ کې درې فرقونه دی. (۱) اسباب د غیر منصرف نهه دی اواسباب دمنصرف جعلي پنځه دي. (۲) غیر منصرف جوړیږی دمنصرف اصلی نه اومنصرف جعلی جوړیږی دغیر منصرف نه. (۳) غیر منصرف جوړیږی په وجود دسببین سره حقیقتاً یا حکماً او منصرف جعلی د یو سبب د وجې نه هم جوړیږي.

سوال: منصرف جعلي په یوسبب سره ولې جوړیږی او غیرمتصرف دوه سببه حقیقتاً یاحکماً ولې غواړي؟ **جواب:** ځکه چې اصل په اسماؤکې انصراف دی او عدم انصراف خلاف الاصل دی او یو شي چې ته داصل نه خلاف الاصل ته اوباسي نو د هغې لپاره سبب قوی پکاردې اوشی چې خلاف الاصل نه اصل ته اوباسي نو هغه ایله بهانه قدرې غواړي نو ځکه په غیرمنصرف کې لابدي شوه د سببینو نه حقیقتاً یا حکماً او منصرف جعلي کې یو سبب ته ضرورت دی، ویجوزصرفه الخ

ترجمه: (۱) **ویجوز** ممتنع نه دی **صرفه.** (۱): ګرځول دغیر منصرف بعینه منصرف لکه دا مذهب د جمهورو دی (۲): ګرځول د غیر منصرف په حکم دمنصرف کې لکه دا مذهب د مصنف دی.

(۳): تغیر کول په حکم دغیر منصرف کې لکه دا مذهب دبعضو دی، بلکه دا واجب دی د وجې د ضرورت شعري نه یا صرف جائز قدر دی د وجې دتناسب نه په مابین دکلمتینو کې.

(۲): **ویجوز** ممکن دی په امکان عام سره چې هغه سلب دضرورت راغلی دی دجانب دعدم نه یعني سلب دجواز د صرف د ضرورت او تناسب د وجې نه ضروری ندي نو یا به واجب وی او یا به جائز وي.

تشریح: سوال: صرفه کې ضمیر چا ته راجع دی؟

جواب: غیرمنصرف ته یعنې ګرځول د غیر منصرف منصرف د وجې دضرورت اوتناسب نه.

سوال: تا دروغ ووېل ځکه چې غیر منصرف خو دیته وایې چې دوه سببه وی په کې یا یو سبب نو مصائب خو د ضرورت شعري د وجې نه منصرف شوی نه دی منصرف شوی به هله وی چې هغه علت زائل شوی وی د دې نه حالانکه هغه علت چې صیغه دمنتهی الجموع ده هغه خو اوس هم موجود دې نو ته څنګه وایې چې دا منصرف کیږي دارنګې په دې نورو مثالونو کې هم هغه علتونه شته نو منصرف شوی خو نه دی؟

جواب: (۱) ديته منصرف ويل بنا دی په مذهب د جمهورو متقدمينو باندې ځکه د هغوی تعريف د منصرف صادق دی په دې باندې ځکه چې هغه منصرف ديته وايي چې کسره او تنوين پکې راځي او دلته هم په مصائب او سلاسلا او نعمان وغيره کې کسره او تنوين راغلی دی، نو دا منصرف شو.

جواب: (۲) د دې معنی دا ده چې ګرځول دغيرمنصرف په حکم دمنصرف کې ممتنع نه دی نو د دې مطلب دا شو چې دا مصائب نعمان وغيره منصرف نه دی ګرځيدلی ليکن په حکم د منصرف کې ګرځيدلی دی او حکم دمنصرف خو دا دی چې کسره او تنوين پرې راځي نو په دې باندې هم کسره او تنوين راځي. **جواب:** (۳) دا اعتراض به هله راتلو چې مراد دلته د صرف نه صرف اصطلاحي وی چې منصرف کيدل دی او ضمير راجع وی غير منصرف ته ليکن دلته مراد د صرف نه صرف لغوی دی او ضمير غير منصرف ته نه دی راجع بلکه حکم ته راجع دی نو معنی دا شوه چې ممتنع نه دی تغير راوستل په حکم د غيرمنصرف کې د وجې دضرورت شعری نه يا د وجې دتناسب بين الکلمتين نه ليکن داجواب کمزوری دی ځکه چې بحث زمونږه په غير منصرف کې دی نه په حکم کې او بل دا چې بحث زمونږه په صرف اصطلاحی کې دی نه په صرف لغوی کې نو ځکه جامی صاحب دا جواب په اخير کې ذکر کړی دی اويه قيل سره يې ذکر کړی دی اشاره يې کړې ده ضعف د دې ته.

سوال: جواز امکان او صحت درې واړه عبارت دی د شي واحدنه داسې شی چې هغه نه واجب وي او نه ممتنع وی نو ويجوز صرفه مدعی ده او للضرورة او للتناسب ورله دليل دی، نو دا يو دليل مطابق د مدعی سره چې للتناسب دی ليکن دا بل دليل چې للضرورة دی دا مطابق د مدعی سره نه دی ځکه چې ګرځول دغير منصرف بعينه منصرف يا په حکم دمنصرف کې نفس جائز نه دی بلکه واجب دی.

جواب: (۱) دا اعتراض به تا هله کولی چې جواز دلته مقابل د وجوب کې وی ليکن دلته دا جواز مقابل د وجوب نه دی بلکه مقابل دامتناع دی، نوديجوزمعنی دا ده چې ممتنع نه دی ګرځول د غير منصرف په حکم د منصرف کې نويا به واجب وی د وجې دضرورت شعري نه او يا به جائز وی د وجې دتناسب نه **جواب:** (۲) دا دی چې جواز په معنی د امکان سره دی ليکن مراد د امکان نه امکان عام دی چې مقيد دی په جانب دوجود سره اوسلب دضرورت راغلی دی دجانب دعدم نه نوکيږي ترجمه دارنګې ويجوز صرفه منع کول دغيرمنصرف دصرف نه ضروری نه دی او هر چې دی صرف نو دا به يا ضروری وی د وجې د ضرورت شعری نه يا به جائز وی د وجې دتناسب نه پس زده کړه دا خبره چې امکان دوه قسمه دی (۱) امکان خاص (۲) امکان عام، امکان خاص هغې ته وايي چې سلب ضرورت راغلی وی د طرفينو نه په دې شان سره چې نه وجود د هغه شی ضروری وی او نه يې عدم ضروری وی مثال لکه الانسان موجود بالامکان الخاص نو دلته نه وجود د انسان ضروری دی او نه عدم دانسان ضروری دی ځکه که وجود دانسان ضروری وی نو بيا به عدم نه راتلو په انسان باندې لکه وجود د باري تعالی چې واجب دی نوعدم پرې نه راځي، او که عدم يې ضروري وي نو بيا به موجود شوی نوی لکه شريك الباری چې ممتنع دی يعني عدم يې ضروری دی نو ځکه موجود شوی نه دی اوامکان عام ديته وايي چې سلب دضرورت پکې دجانب واحد نه وی دا بيا دوه قسمه دی (۱) يو هغه دی چې مقيد وی په

جانب دوجود سره اوسلب دضرورت راغلی وی دجانب دعدم نه لکه الله موجود بالامکان العام، او الانسان موجود بالامکان العام، یعنې عدم به ضروری نه وی او هر چې وجود دی نو دا به ضروری وی لکه وجود د الله شواو یا به ضروری نه وی لکه وجود د انسان یا وجود دنورو ممکناتو شو. (۲) دویم قسم امکان عام مقید بجانب العدم دی چې سلب دضرورت پکې راغلی وی دجانب د وجود نه بیا دا نفي د وجود د دې عامه ده که ضروری وې لکه په ممتنع کې شوه لکه شریك الباری، او یا به نفی د وجود ضروزي نه وي لکه په ممکناتو کې شوه اوس امکان حام ته امکان عام ولې وایي نو دا ورته ځکه وایي چې دا شامل دی د وجوب او عدم وجوب دواړو لره او امکان خاص ته امکان خاص ځکه وایي چې دا شامل دی فقط عدم وجوب لره نه وجوب لره.

سوال: دلته امکان خاص دی که امکان عام د ی؟ **جواب:** دلته امکان عام دی.

سوال: امکان عام خو دوه قسمه دی (۱) مقیدبجانب الوجود. (۲) مقید بجانب العدم دلته کوم یو دی؟

جواب: دلته مقید بجانب الوجوذ دی اوسلب د ضرورت پکې راغلی دی دجانب دعدم نه نو معنی دا شوه چې ګرځول د غیرمنصرف په حکم د منصرف کې د وجې دضرورت شعری نه واجب دی او د وجې دتناسب نه جائز دی، پس زده کړه دا خبره چې ضرورت شعري دوه قسمه دی.

(۱) غیرمنصرف بعینه منصرف ګرځولی شی یاپه حکم دمنصرف کې ګرځولی شی د وجې د ضرورت شعری نه چې هغه موافقت د یو د بیتینو دی دبل سره په عدد د حروفو کې. (۲) غیر منصرف ګرځولی شی بعینه منصرف یاپه حکم دمنصرف کې د وجې دضرورت د رعایت د قافیې نه چې هغه موافقت د حرف اخیر د اول نیم بیتی دی د حرف اخیر دنیم بیتی ثانی سره په حرکت کې دا ګرځول دغیرمنصرف منصرف د وجې دضرورت دوزن شعری نه بیا په دوه قسمه دی (۱) لپاره احتراز د انکسار نه.

(۲) احتراز د زحاف نه مثال داول لکه مصائب شوچی راغلی دی په هغه قول دفاطمه کې نو دلته دا تنوین ویلی شوي دي لپاره داحتراز دانکسار نه او مثال د ثاني لکه نعمان شو چې راغلی دی په هغه شعر دامام شافعی کې، پس زده کړه دا خبره چې انکسار عبارت دی دتغیر نه په سبب کې اوسبب عبارت دی دقطعه ثلاثی نه له نبّ شو په مصائبّ کې نوکه دلته تنوین نه وی ویلی شوی نوتغیر راتلو په سبب کې اوزحاف عبارت دی د تغیر نه په وتد کې او وتد عبارت دی د قطعه ثنائی نه لکه (ن) شو په نعمان کې اومثال دهغې چې ګرځیدلی وی غیر منصرف په حکم د منصرف کې د وجې د ضرورت د قافیه نه لکه احمد شو په من یسمی باحمد کې دلته که احمد ویلی وی نو فوت دقافیه راتلو.

او للتناسب: سوال: مصنف داعطف ولې نه کړو په ماقبل باندې چې اوالتناسب یې ویلی وی؟

جواب: اوالتناسب یې ونه وی په اعاده دعامل کې یې اشاره وکړه استقلال دنوعیت ته چې ضرورت جدا سبب دی اوتناسب جدا سبب دی. (۲) او بل یې په تعدد دعامل کې اشاره وکړه تغیر ته په مابین د نوعینو کې چې دا صرف د ضرورت د وجې نه واجب دی او د تناسب د وجې نه جائز دی.

سوال: د تناسب د وجې نه دغیر منصرف نه منصرف ولې جوړیږي؟

جواب: ځکه چې تناسب بين الکلمتين امراهم دی مثال دتناسب لکه سلاسلا واغلالاً شو دلته په سلاسلا باندې تنوين راغلی دی د وجې دمناسب داغلالاً نه بل مثال نحوقول تعالی مِن سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ دلته سباء غير منصرف دی د وجې دتأنيث اوعلميت نه يا د وجې دتأنيث اوعجمی نه ليکن تنوين او کسره پرې راغلی دی د وجې د مناسبت د نباء نه دا کلمتين بيا عام دی که يوځای يې راغلی وی لکه دا مذکور شو او که جدا جدا راغلی وی لکه قواريراً شو علی قراءة نو په دې چې دا تنوين راغلی دی نو د وجې د مناسبت د هغه کلمات نه چې د نورو ايتونو په اخير کې راغلی دی.

سوال: سلاسلا واغلالاً ترکيب کې څه شی واقع شويدي؟ **جواب:** دامضاف اليه دی دمثل لپاره.

سوال: مضاف اليه خومجروروی اودامنصوب ولې دی؟ **جواب:** دا اعراب حکائی دی.

ومايقوم مقامهما الجمع والفا التانيث: په دې مقام کې لابدي ده دمعرفت داموراربعه ؤ نه (۱) ربط د ما قبل سره (۲) معرفت دغرض دمصنف د دې عبارت نه (۳) معرفت دترکيب د دې عبارت.

(۴) معرفت د وجې دقيام دسبب واحدمقام السببين. نو ربط خو د ماقبل سره دا دی چې مخکې بحث د غير منصرف وو او غيرمنصرف دوه قسمه وو (۱) قسم اول چې دوه سببه پکې راغلی وی.

(۲) قسم ثانی چې سبب واحد پکې موجود وی چې قائم وی مقام السببين اواسباب دمنع صرف مصنف بيان کړه. نهه ليکن دا بيان يې نه دی کړی چې هغه کوم سبب دی چې قائم کيږي په مقام د سببينو باندې نو په هغې کې ابهام راغلو نواوس په دې عبارت سره دفع ددغه ابهام کوی. (۲) دويم ربط دا دی چې د اجمله مستانفه جواب دسوال واقع شوي دي ځکه مصنف چې هر کله تعريف دغير منصرف اواسباب دمنع صرف اوحکم دغيرمنصرف بيان کړه نومعترض اعتراض وکړو چې هغه کوم سبب دی چې قائم کيږي په مقام دسببينو باندې نو مصنف جواب وکړو چې دا دوه دی يو جمع ده (۲) او بل الفين د تأنيث دی او غرض دمصنف هم معلوم شو چې بيان د مصداق د هغه علت واحده دی چې قائم کيږي په مقام د سببينو باندې

سوال: د دې عبارت ترکيب څه دی؟ **جواب:** (**ما**) موصوله دی بمعنی التی يا موصوفه دی بمعنی شئ ليکن موصوله ګرځول يې اولی دی دموصوفه نه ځکه چې دا واقع دی په جانب د مبتدأ کې اواصل په مبتدأ کې تعريف دی نو چې موصوله شی نواتيان بالاصل به راشی، **يقوم** فعل دی ضمير پکې مستتر دی راجع دی ما ته هغه ورله فاعل دی او تذکير د ضمير په اعتبار د لفظ د ما سره دی، **اومقامهما** مفعول فيه جمله صفت شو د موصوف يا صله شوه د موصول موصول سره د صلې نه يا موصوف سره د صفت نه مبتدأ ده او خبر يې حذف دی چې سببان دی، او**الجمع** خبر دمبتدأ محذوفی دی ای احدهما الجمع، او الف **التانيث** هم خبر د مبتدأ محذوفی دی چې وثانيهما دی.

سوال: ته وايې چې يقوم کې ضمير راجع دی کلمه دماته نو دا ارجاع دضمير ديقوم کلمه د ما ته نه ده صحيح ځکه کلمه دماعبارت دی دعلة نه اوعلة مؤنث دی اوضمير مذکردی نو مطابقت نشته؟

جواب: تذکير د ضمير په اعتبار د لفظ د ما سره دی.

سوال: ته وايې چې مقامهما مفعول مطلق دى نو مفعول مطلق خو مصدر د فعل مذكور وي او مقام خو مصدر نه دى بلكه ظرف دى. **جواب:** دا ظرف نه دى بلكه مصدر ميمى دى بمعنى قيام

سوال: يقوم مشتق دى دقيام نه اوقيام مكث على القدمين ته وايي اود دې نسبت كيږي ذوى الاجسام ته او علة خو ذو جسم نه دى نو نسبت يې علت ته صحيح نه شو

جواب: دا اعتراض به تا هله كولى چې دا عبارت بنا وي په حقيقت باندې ليكن دلته مجاز دى ذكر د ملزوم دى چې قيام دى او مراد ترينه لازم دى چې تأثير دى.

سوال: **والفا التانيث** په تركيب كې څه واقع شوي دي؟

جواب: دا مضاف سره د مضاف اليه نه خبر دمبتدأمحذوفى دى.

سوال: خبر خو مرفوع وى اودا خو منصوب دى ځكه په دې فاء باندې فتحه راغلى ده؟

جواب: دا منصوب نه دى بلكه مرفوع بالالف دى تقديراً ځكه دا تثنيه ده اوتثنيه مرفوع بالالف وى او تقديراً ځكه دى چې هركله چې د دې اضافت وشو التأنيث ته نو دا التقاء دساكنين د وجې نه الف ساقط شو د لفظ نه.

سوال: د التقاء دساكنين نه اول مده حذف كولى شى خو هله چې التقاء دساكنين على غيرحده وى او دلته خو على حده ده نوالف ولې حذف شو؟

جواب: (١) دا التقاء دساكنين على حده نده بلكه على غيرحده ځكه دعلى حده لپاره كلمه واحده شرط ده اودا كلمتين دى.

(٢) او كه ومنم چې على حده ده.نو على حده جائز ده په كلمه واحده كې اودا په كلمتينو كې راغلى ده

سوال: دالفين اضافت يې التأنيث ته ولې وكړو؟

جواب: ځكه چې الف په كلام دعربو كې راځي ديارلس قسمه: (١) الف التثنية نحوضاربان (٢) الف الضمير نحو ضربا (٣) الف علامه د اسم فاعل نحوضارب (۴) الف علامه دجمع تكسير نحومساجد (۵) الف فاصله بين النونات نحواضربنان (٦) الف فاصله بين واوعاطفه وواو ضمير نحونصروا (٧) الف لپاره دفصل دنصب درفع اوجر نه نحورايت زيداً (٨) الف الاشباع نحو انا. (٩) الف الاطلاق چې دا پيدا كيږي د فتحه اشباعى د وجه نه ديته الف الاطلاق ځكه وائى لاطلاق الصوت بالامتداد (١٠) الف عوضى نحو يا ابتاه يا امتاه. (١١) الف الاستغاثة نحويازيداه. (١٢) الف مقصوره نحو حبلى (١٣) الف ممدوده نحوحمراء. نو كه مصنف مطلق الفان ذكركړى وى نوا التباس راتلو په مخاطب باندې چې ايا كوم الف به مراد وي، نو مصنف اضافت د الفا وكړو تأنيث ته لپاره دتعين د نوع

سوال: ته وايي چې جمع قائمه كيږي په مقام دسببينو باندې نو رجال خو جمع ده حالانكه دا خو غير منصرف ندى؟ **جواب:** دجمع نه مرادمطلق جمع نده بلكه صيغه دمنتهى الجموع مراد ده، اوصيغه دمنتهى الجموع ديته وايي چې يوه جمع راشى په وزن دمفاعل باندې يا په وزن دمفاعيل باندې، اوس دا صيغه دمنتهى الجموع ولې قائميږى په مقام دسببينو باندې نود دې لپاره درې وجې دى

(۱) يوه وجه دا ده چې په دې کې هم جمع ده او هم پکې لزوم دجمع دی. په دې شان سره چې دانه جمع کیږي ثانياً په جمع تکسیرسره لکه اناعم جمع دانعام ده اوانعام جمع دنعم ده. او اکالب جمع داكلب ده اواكلب جمع دکلب ده اوس اناعم اواكالب بيا نه شی جمع کیدی په جمع تکسیر سره.

(۲) دویمه وجه دا ده چې په دی کې یوجمع ده او بل په کې تکرار دجمع دی او دا تکرار دجمع عام دی که حقیقتا وی لکه په اناعم اواكالب کې او که حکماً (اوحملاً) وی لکه په مساجد او مصابیح کې شو چې محمول دی په اکالب اواناعم باندې

(۳) يو په دی کې جمع ده او بل په کې عدم وجود د نظیر د دې وزن دی په مفرد اتو کې يعني په وزن د دې جمع باندې چرته مفردات نشته په کلام دعربو کې. او نورو جموعوبه وزن مفردات وی لکه مثلا رجال جمع ده د دې په وزن باندې مفردات شته چې کتا ب حمار وغیره دی هم دغه وجه ده چې وروسته مصنف وايي چې شرط د دې لپاره دا دی چې دا به مجرد وی دتاء التأنيث نه ځکه که تاء التأنيث پکې راشي نو بيا د دې لپاره نظائر پیدا کیږي په مفرداتو کې نو بيا اثر نه کوی په اسباب دمنع صرف کې

الفا التانيث چې يې وويل نو په دی سره يې احتراز وکړو د تاء التأنيث نه ځکه چې هغه یواځې قائم مقام دسببينو نه ګرځي، او الفين د تأنيث قائم دی په مقام د سببينو باندې ځکه چې په دې کې يو تأنيث دی. او بل لزوم د تأنيث دی ځکه دا چې په کوم اسم کې راشی نو هغه نه مستعمليږي بغير د دې نه په مذکر کې او نه په مؤنث کې لکه حبلی کې الف مقصوره راغلی دی نو دا لفظ بدون الالف نه دی مستعمل، دارنګې حمراء هم دی په خلاف د تاءالتأنيث نه لکه ضاربة شو دا مستعمل شوي دي بغير التاء په مذکر کې چې ضارب دی.

سوال: کله چې دا ضاربة علم وګرځي د يو مؤنث لپاره نو بيا خو په دی کې دا تا لازمه ده نو پکار ده چې بيا دی دا قائم شی په مقام دسببينو باندې؟ **جواب:** که علم وګرځي خو بيا هم قائم مقام د سببينو نه دی ځکه فرق دی په مابين دلزوم د دې اولزوم دالفينو کې په دې شان سره چې دلته لزوم علميت د وجې نه راغلواوپه الفينو کې لزوم وضعی دی او لزوم وضعی قوی د ی اولزوم د وجې د علميت نه ضعيف دی او د غير منصرف لپاره قوی سبب پکار وی نه ضعيف. **فالعدل:** هرکله چې فارغ شومصنف دبيان داسباب دمنع صرف نه اجمالاً نوشروع يې وکړه په بيان د اسباب دمنع صرف کې نووی ويل چې فالعدل الخ - دافاء په دی فالعدل کې تفصيليه ده او الف لام په کې حرفی غيرزائدغير عوضی عهد خارجي ذکر ی صريحی دی حرفی خوځکه دی چې مدخول يې اسم فاعل يا اسم مفعول نه دی او غير زائدځکه دی چې که الف لام لرې کړې نو نقصان راځي په اصل معنی د کلام کې يعني نکارت د مبتدأ لازميږي او غير عوضی ځکه دی چې عوض د چا نه ندی راغلی او عهد خارجي ذکری صريحی ځکه دی چې په دی سره مصنف اشاره کړې ده ماهيت دمدخول ته چې دا ماهيت يې اخستی دی په ضمن د يو فرد کې چې هغه معلوم دی متکلم او مخاطب دواړو ته اوذکر شوی دی مخکې صراحتاً اوهرکله

چې عدل مطلق وو په دې شان سره چې تأثير د دې مقيد نه وو په منع دصرف کې په يوشرط سره په خلاف د نورو نه چې هغه مقيد وو يدی شان سره چې تأثير دهغې مشروط دی په منع دصرف کې په يو شرط سره او مطلق مقدم وی په مقيد باندې نو عدل يې مقدم کړو په باقی اسباب دمنع صرف باندې او هر کله چې عدل ظاهر بنفسه نه وو ځکه دا يو داسې مسئله ده چې کتابونو کې وجودنه لرى. بلکه د ځان نه جوړ کړی شوی دی او نه معرف وو په مقام اخر کې يعنې په دې کتاب کې يې بل ځای تعريف نه دی شوی په خلاف دباقی نه چې هغه بعض ظاهر بنفسه وو لکه الف نون مزيدتان اوبعض معرف وو په مقام اخرکی نوځکه مصنف دعدل تعريف وکړو نه د دې نورو اسبابو.

سوال: ربط دماقبل سره څه دی؟

جواب: مخکې اسباب دمنع صرف اجمالاً بيان شو اوس تفصيل دهغې کوی.

سوال: اسباب دمنع صرف نهه دی نو مصنف عدل ولې مقدم کړو پدی نورو باندې هم په اجمال کې او هم په تفصيل کې.

جواب: عدل مطلق وو او دا نوراسباب مقيدوو او مطلق مقدم وی په مقيد نو ځکه يې عدل مقدم کړو.

سوال: عدل څنګه مطلق دی او دا نور څنګه مقيد دی حالانکه دا خو هر يوبل ملګری غواړي په تأثير د منع صرف کې لکه عدل هم وصفيت يا علَميت غواړي نو هله تأثير کوی.

جواب: د دې مطلب دا دی چې عدل مطلق وويعنې تأثير د دې په منع صرف کې مشروط نه دی په يو شرط سره په خلاف د دې باقی اسبابو نه چې تأثير دهغې مشروط دی په يو شرط سره لکه وصفيت لپاره شرط اصالت د دې وصفيت دی اوتأنيث تأثيرکوی بشرط العلَميت وغيره.

سوال: څه وجه ده چې مصنف د دې نورواسبابو تعريفونه ونه کړل اوفقط دعدل تعريف يې وکړو؟

جواب: ځکه چې عدل ظاهر بنفسه هم نه وو اومعرف هم نه وو په مقام اخر کې په دې کتاب کې نوځکه يې د دې تعريف وکړو او هر چې دانور دی نو هغه بعض ظاهر بنفسه دی اوبعض معرف دی په مقام اخر کې نوځکه يې دلته دهغې تعريف ونه کړو، پس زده کړه دا خبره چې په لفظ د عدل کې لابدی ده د معرفت د امورخمسه ؤ نه: (۱) معرفت د مفهوم لغوی (۲) معرفت د مفهوم اصطلاحی

(۳) معرفت دمناسبت په مفهوم لغوی اوپه مفهوم اصطلاحی کې (۴) معرفت داقسام دعدل

(۵) معرفت د مثال دعدل تحقيقي اوتقديری.

نو عدل په لغت کې په پنځه معانيو سره راځي په اعتبار د اختلاف د صلې سره

(۱) بمعنی ميلان که صله کې يې الی راشی لکه وايي عرب: فلان عدل اليه ای مال اليه.

(۲) بمعنی الاعراض که صله کې يې عن راشی لکه وايي عرب: فلان عدل عنه ای اعرض عنه.

(۳) بمعنی بعد که په صله کې يې من راشی لکه وايي عرب: عدل الجمل من البعير ای بعد.

(۴) بمعنی استواء که چرته صله کې يې بين راشی نحو: عدل زيد بين عمرو وبکر.

۵) بمعنی تغیروتصرف که چرته صله یې فی واشي نحو: زید عدل فیه ای تغیر فیه وتصرف فیه اواصطلاحی تعریف مصنف کړی دی چې خروجه الخ. او وجه دمناسبت پکښې دا ده چې عدل په لغت کښې تغیر او تصرف ته وایي او دلته هم تغیر راغلی دی د یوصورة او هیئت نه بل صورت ته.

فالعدل خروجه الخ: د دې عبارت دوه ترجمې دی. (۱) پس کون د اسم معدول یعنې خارج کړی شوی اووران کړی شوی **خروجه** کون د اسم مخرج په اعتبار د مادې سره هیئت او صورة اصلی خپل نه صورة اخری ته (۱) په دې شان سره چې صورة اولی موافق دی دقاعدی سره چې یعنې کثیرالاستعمال دی او صورة ثانی مخالف دی د قاعدې نه یعنې قلیل الاستعمال دی. (۲) سره د اتحاد د معدول اومعدو ل عنه نه په معنی کښې. (۳) سره د ابقاء دحروف اصلیو د معدول عنه نه. (۴) بې د حکم دشذوذنه په دې باندې. **دویمه ترجمه:** فالعدل پس معدولیت د اسم په اصطلاح د نحاتو کی مخرجیت د اسم دی په اعتبار د مادې سره دصورة اصلی نه صورة اخری ته بې دقانون صرفي نه.

بیان د فوائد د قیو داتو

سوال: شمیرل دعدل داسبابو دمنع صرف نه ندی صحیح ځکه چې اسباب دمنع صرف دقبیلې د اوصافو نه د ی اوعدل دلالت کوی په ذات مع الوصف باندې ځکه عدل فَعْلٌ وزن دی او پدې وزن صفت مشبه راځي نحوصَعْبٌ او بل دا چې حمل دخروج هم صحیح نه دی په عدل باندې.

جواب: دا عدل وزن صرف صفت مشبه لپاره نه دی بلکه دا مشترك دی په مابین دصفت مشبه او مصدر کښې، بلکه مصدر غالباً راځي په دې وزن باندې نحو: قتل، ضرب، سمع، نصر، وغیره او صفت مشبه کله کله راځي لکه صعب شو اودلته عدل صیغه دصفت مشبه نده بلکه صیغه دمصدر ده.

سوال: عدل چې صیغه دمصدر شوه نو بیا یې هم شمیرل نه دی صحیح داسبابو دمنع صرف نه ځکه دا صفت دمتکلم دی او اسباب دمنع صرف اوصاف دلفظ دی او حمل هم نه دی صحیح ځکه چې حمل د صفت د لفظ راغلو چې خروج دی په صفت دمتکلم باندې چې عدل دی.

جواب: دا اعتراض به تا هله کولو چې دا مصدر مبنی للفاعل وي لیکن دلته دا مصدر مبنی للمفعول دی په معنی د معدول سره دی نو دا صفت د لفظ شو، ځکه چې معدول لفظ وی متکلم نه وی.

سوال: د کومې کندې نه چې تختیدی په هغې کښې بیا پریوتی تا خو فرار وکړو د صفت مشبه نه مصدر ته ځکه چې حمل نه صحیح کیدو او شمیرل یې نه ووصحیح د اسبابو نه اوس هرکله چې دا مصدر مبنی للمفعول شو او په معنی دمعدول سره شو نو بیا هم شمیرل د دې نه دی صحیح د اسبابو دمنع صرف نه ځکه اسباب دقبیلې داوصافو نه دی او معدول ذات دی اوحمل دخروج پرې هم نه دی صحیح ځکه چې خروج مصدر دی اومعدول ذات دی نوحمل دصرف وصف راځي په ذات مع الوصف باندې او دا ندی جائز.

جواب: دلته دا مصدرمبنی للمفعول دی لیکن مراد پدې سره حاصل بالمصدر مجهول دی چې هغه کون د اسم

دى معدول، اوس په دې سره دفع د یو بل اعتراض هم وشوه اعتراض دا دی چې عمرته تاسو غیر منصرف وایي د وجې د علمیت اوعدل نه نوعدل خوپه دی کې نشته ځکه عدل خو مصدر دی.

سوال: هر کله چې دعدل نه مراد کون د اسم دی معدول چې داحاصل بالمصدر مجهول دی نو صحیح نه شو حمل دخروج په دې پاندی، ځکه چې خروج مصدر معلوم دی اوحمل دمصدر معلوم په حاصل بالمصدر مجهول باندې نه دی صحیح د وجې دتبائن نه او د وجې دعدم اتحاد فی المصداق نه

جواب: د خروج نه مرادمصدر په خپله معنی ندی بلکه مراد د دې نه هم حاصل بالمصدر مجهول دی چې هغه کون د اسم دی مخرج.

سوال: عدل په معنی دحاصل بالمصدر د جهول سره ګرځول صحیح دی ځکه دا مصدر متعدی دی لیکن خروج په معنی دحاصل بالمصدر مجهول سره نه دی صحیح ځکه دا مصدرلازم دې او حاصل بالمصدر مجهول په متعدی کې راځي نه په مصدر لازم کې (۲) او بل دا چې خروج مصدر دی د ثلاثی مجردو نه نو ترجمه د دې په کون د اسم مخرج سره نده صحیح ځکه مخرج صیغه د اسم مفعول ده د ثلاثی مزید نه دا متعدی دی اوخروج لازم دی.

جواب: خروج دوه قسمه دی (۱) یو خروج بنفسه دی چې خروج مستقله ورته وایي دامرتب نه وی په اخراج باندې او بل هغه خروج دی چې مرتب دی په اخراج باندې، نو خروج بنفسه لازم دی او خروج مرتب علی الاخراج متعدی دی، او دلته مراد هغه خروج دی چې مرتب دی په اخراج باندې، ځکه چې په عدل کې لازم دی په متکلم باندې اعتبار د اخراج یعنې دا سبب هله ګرځی چې متکلم په کې اعتبار د اخراج وکړی او خروج اګر چې مصدر دثلاثی مجردو نه دی خو داپه معنی داباب افعال سره دی چې اخراج دی ځکه بابونه په استعمال د کلام دعربو کې احدهما په معنی داخر سره راځي.

پس زده کړه دا خبره چې مصدر اولاً دوه قسمه دی (۱) لازم (۲) متعدی. مصدر لازم هغه ته وایي چې دا معنی مصدری دفاعل نه صادره شوې ده یا یې قیام راغلی دی په فاعل پورې اوپه مفعول به باندې نده واقع شوی، لکه قیام شو په قام زید کې اومصدرمتعدی هغې ته وایي چې دامعنی مصدری د فاعل نه صادره شوې ده یاقائمه شوې ده په فاعل پورې اوپه مفعول باندې واقع شوې ده لکه ضرب شو.

او مصدر متعدی شپږ قسمه دی (۱) مصدرمعلوم (۲) مصدر مجهول (۳) مصدر مبنی للفاعل (۴) مصدر مبنی للمفعول (۵) حاصل بالمصدرمعلوم (۶) حاصل بالمصدرمجهول او مصدرلازم درې قسمه دی (۱) مصدر معلوم (۲) مصدر مبنی للفاعل (۳) حاصل بالمصدر المعلوم.

او دا نور درې قسمونه په مصدر کې نه راځي. تعریف د هر واحد دمعنی مصدری چې صادره شی د فاعل نه اوواقع شی په مفعول باندې، نو که د دغه مصدر نسبت فاعل ته وشی نومصدر معلوم ورته وایي او که نسبت یې مفعول ته وشي نو مصدر مجهول ورته وایي اودمصدرمعلوم علامه دا ده چې اضافت یې کیږي فاعل ته لکه ضرب زید وهل کول دزید او د مصدر مجهول علامه دا ده چې اضافت یې مفعول ته کیږي لکه ضرب عمرو وهلی کیدل دعمرو. دویمه علامه دمصدر معلوم دا ده چې د دې نه

صیغه د اسم فاعل جوړه کړی او الحاق د یاء او تاء نسبتیه پورې وکړی نحوضاربیت زیداوعلامه دمصدر مجهول دا ده چې د دې نه تعبیر کولی شی په اسم مفعول سره چې یا اوتاء مصدریه ورپورې تل کړې لکه مضربیت د عمرو او که تعبیر وکړی شی د دې مصدر نه په اسم فاعل سره بې د الحاق د یاء اوتاء نومصدر مبنی للفاعل ورته وایي. لکه زید عدل ای زید عادل او که تعبیر ترې وکړی شی په اسم مفعول سره بې دالحاق دیاء اوتاء مصدریة نه نومصدر مبنی للمفعول ورته وایي لکه هذا ضرب الامیر ای مضروب الامیر او دا صفت دمعنی مصدری چې ثابت شی فاعل لره نو دیته حاصل بالمصدرمعلوم وایي. لکه کون دزید ضارباً اوداصفت دمعنی مصدر ی چې ثابت شی مفعول لره نو حاصل بالمصدر مجهول ورته وایي، لکه کون دزیدمضروباً، اوس دلته هم په دی عدل اوخروج دواړو کی نسبت دصفت دمعنی مصدری شوي دي مفعول ته یعنې صفت دمعنی مصدری ثابت شوي دي مفعول لره نو دا حاصل بالمصدر مجهول شو په دواړو کې نو معنی یې دا شوه چې کون د اسم معدول کون د اسم دی مخرج الخ

سوال: په خروجه کې ضمیر چا ته راجع د ی یا به یې راجع کوی عدل ته او یا به یې راجع کوی اسم ته که عدل ته راجع شی نه نو فساد د معنی راځي ځکه معنی به داشی چې عدل خروج دعدل دی او بل اخذ د محدود راغلو په حد کې او که اسم ته یې راجع کوی نو اضمار قبل الذکر راځي ځکه چې اسم خو په کې نه دی ذکر. **جواب:** دا راجع دی اسم ته اواسم اګر چې لفظاً نشته مخکې لیکن معناً شته ځکه چې بحث زمونږ په اسم کې دی.

سوال: اسم خو عبارت دی د مادې او هیئت نه اوصیغه هم عبارت دی د مادې او د هیئت نه نو خروج د اسم د صیغې نه خروج د شي دی دخپل نفس نه او دا باطل دی.

جواب: د اسم نه مراد صرف ماده ده نه ماده او هیئت دواړه نو معنی دا شوه چې کون د اسم دی مخرج په اعتبار د مادې سره د صیغې اصلی نه.

سوال: دا خو خروج دجزء راغلو دکل نه اوداباطل دی

جواب: مراد د صیغې نه صرف هیئت دی نه ماده اوهیئت دواړه نو خروج دمادی راغلو دهیئت نه

سوال: دا خو خروج د جزء راغلو دجزء نه او دا هم باطل دی. **جواب:** خروج دجزء د جزء نه هله نه دی جائز چې احدهما مشتمل نوی په اخر باندې په واقع او نفس الامر کې او چې احدهما مشتمل وی په اخر باندې نو هلته خروج جائز دی، ځکه چې دا مشتمل په منزله د مرکب دی او مشتمل په منزله د مفرد دی او دلته هم هیئت مشتمل دی په ماده باندې نو خروج صحیح شو.

عن صیغته الاصلیة: سوال: تعریف د عدل صحیح نه شو ځکه چې داخل شو په کې اشتقاقات صرفیه لکه ضارب مضروب وغیره داضارب یو اسم دی او ماده د دې اسم وېستلی شوې ده د صورت اصلی نه چې ضرب دی صورت اخری ته چې ضارب دی اوحال دا دی چې دیته خو معدول اومعدول عنه نه ویلی کیږي ځکه که دیته معدول ویلی کیدی نو بیا پکاروه چې دا ضارب غیر منصرف وی د وجې دعدل او وصفیت نه؟ **جواب:** مونږ وایو چې خروج د اسم دی په اعتبار دمادی سره دصورت اصلی نه صورت

اخرى ته سره د اتحاد د معنى نه په مابين دمعدول او معدول عنه كې او دلته اتحادفی المعنى نشته بلكه تغير راغلى دى هم په لفظ كې اوهم په معنى كې ځكه معنى دضرب اوضارب جداجدا دى.
سوال: تعريف دعدل مانع نه شو د دخول دغيرنه داخل شو په كې اسماء محذوفة الاعجاز لكه يد او دم شو دې خروج راغلى دصورت اصلي نه چې يدو او دمو دې صورت اخرى ته چې يداودم دې سره د اتحاد نه په معنى كې او ديته خو عدل نه ويلى كيږي. **جواب:** مونږه وايو چې خروج د اسم به راغلى وى د صورت اصلي نه صورت اخرى ته خو سره د بقاء د مادې نه او دلته بقاء د مادې نشته ځكه چې لام كلمه حذف شوې ده
سوال: بيا خو تعريف دعدل جامع نه شو افرادو خپلو لره خارج شو د دې نه ثلث او مثلث ځكه دا معدول دى د ثلاثة ثلاثة نه او هغه متلبس بالتاء دى او دا مجردعن التاء دى نو بقاء د مادې خو رانغله؟
جواب: مراد د بقاء دمادى نه بقاء دمادى اصلى ده، او تا دلته حرف زائد دې، د دې نظير لكه سحر معدول دى د السحر نه نو الف لام زائد دې اود دې نه علاوه حروف په دواړو كې شته.
سوال: دا تعريف دعدل مانع نه شو ددخول دغيرنه داخل شو په كې مغائرت قياسى لكه مختار مدعو مرمى مختار اصل كې مختير وو يا مختير وو او مرمي اصل كې مرموي وو مدعو اصل كې مدعوو وو نو دلته خروج د مادى راغلى دى د يو صورت نه صورت اخرى ته سره د بقاء د مادې اصلي نه او سره د اتحاد معنى نه حالانكه ديته خو عدل نه ويلى كيږي.
جواب: مونږ وايو چې خروج د اسم به راغلى وى د يو صورت نه صورت اخرى ته په دې شان سره چې صورت اول به موافق وى د قاعدې سره او صورت ثانى به مخالف وي د قاعدې نه او دلته دواړه صورتونه موافق دى قاعدې سره.
سوال: دا تعريف د عدل مانع نه شو د دخول د غيرنه داخل شو پكې جموع شاذه لكه اقوس جمع د قوس ده او انيب جمع دنوب ده داپه اصل كې اقواس اوانياب وو، ځكه قوس اونوب اجوف واوى دى د دې جمع قياساً راځي په وزن دافعال باندې نو بيا د اقواس نه اقوس جوړ شوي دي او د انياب نه انيب جوړ شوى دى، نو خروج د صورت اصلي نه راغلو صورت اخرى ته سره د اتحاد د معنى نه اوسره دبقاء د مادى اصلى نه او د صورت اولى موافق دى د قاعدې سره او صورت ثانى مخالف دى دقاعدى نه او ديته خو څوك عدل نه وايي؟ **جواب:** مونږه وايو چې خروج د يو صورت نه به راغلى وى بل ته خو بې د حكم د شذوذ نه او دلته په دې باندې حكم د شذوذ كيږي، ځكه چې ديته جموع شاذه وايي، دا خو قيودات د هغه اولى ترجمې دي او په دويمه ترجمه باندې هم داټول اعتراضونه دفع كيږي ځكه چې عدل په صرف كې د سره وجود نه لرې لهذا خروج د اسم د صورت اصلى نه صورت اخرى ته به راغلى وي بې د قانون صرفى نه نو حكم په دې باندې نه شي كولى په شذوذ سره ځكه چې حكم كول په يو شي باندې په شذوذ سره فرع د قانون ده، او دلته د دې لپاره قانون نشته نو حكم بالشذوذ پرې هم نه كيږي، پس زده كړه داخبره چې په لفظ دصيغة كې لابدى ده دمعرفت دامور سبعه ؤ نه: (۱) مفهوم لغوى. (۲) مفهوم اصطلاحى. (۳) مناسبت په مابين د مفهوم لغوى اواصطلاحى كې. (۴) معرفت د

صيغي. (۵) معرفت دباب. (۶) معرفت داصل (۷) معرفت د وزن نو صيغه په لغت کې ويلی کيږي زردربوته انداختن ته. (۲) او ياراخي په معنی دخلقت سره لکه عرب وايي اصاغ الله صيغة حسنة اي خلقة حسنة اوپه اصطلاح کې ماده مع الهيئت ته وايي، يا ماده بشرط الهيئت ته وايي مناسبت دمعنی لغوی اواصطلاحی دا دی چې صيغه په لغت کې خلقة ته وايي او ماده اوهيئت چې کله جمع شی نو صارت کلمة مخلوقة، يعني معنی اصطلاحی ملزوم دی او معنی لغوی ورسره لازم ده، داصيغه اصل کې صوغة وو بروزن فعلة واوبدل شو په يا باندې د وجې دکسری دماقبل نه نوصيغة شو **الاصلية** کې ياءاوتاء نسبتی دی منسوب دی اصل ته.

سوال: اصل خو راځي په پنځه معنو سره: (۱) مايبتنی عليه غيره. (۲) قاعده. (۳) دليل. (۴) بمعنی اولی اوراجح (۵) بمعنی مقيس عليه او استصحاب الحال، دلته کومه معنی مراد ده؟

جواب: دلته اصل په معنی دقاعدې سره دی نومعنی د دې دا شوه چې خارجه شوی به وی دا ماده د داسې صورت نه چې منسوب دی قاعدې ته يعني چې موافق وی د قاعدې سره او دغه صورت ثانی به مخالف وی د قاعدې نه نو دغه اول به کثير الاستعمال وی او ثاني به قليل الاستعمال وی.

تحقيقاً اوتقديراً: په دې مقام کې لابدی ده دمعرفت ددوه خبرو نه: (۱) معرفت د اعراب تحقيقاً او تقديراً چې دا منصوب ولې دی؟ (۲) غرض د مصنف د دې جملی نه څه دی نو تحقيقاً او تقديراً منصوب دی بنا بر مفعول مطلق. **سوال:** دا مفعول مطلق د چا نه واقع شوي دي؟

جواب: دا مفعول مطلق دی خروجه لپاره څکه مفعول مطلق چې څنګه دفعل اوشبه فعل لپاره راځي نو دارنګې د مصدرنه هم مفعول مطلق واقع کيدی شي.

سوال: مفعول مطلق خو هغه مصدر ته وايي چې متحدوی دعامل خپل سره په معنی کې اودلته خو تحقيقاً او تقديراً متحد نه دی دخروج سره په معنی کې بلکه معنی د دواړو جداجدا ده.

جواب: تحقيقاً او تقديراً مفعول مطلق دی د خروج لپاره په اعتبار د موصوف محذوف سره تقدير د عبارت دارنګې دی چې خروجاً تحقيقاً وخروجاً تقديراً نوموصوف حذف شوی دی او صفت قائم شوی دی په مقام د موصوف نو نيابة او مجازاً ورته مفعول مطلق ويلی کيږي.

سوال: دا تحقيقاً اوتقديراً صفت نه صحيح کيږي دخروج لپاره څکه چې صفت محمول وی په موصوف باندې او دلته حمل نه دی صحيح، څکه حمل عبارت دی د تغير مفهومی او اتحاد مصداقی نه اودلته اتحاد مصداقي نشته؟ **جواب:** دا چې صفت شی د خروجاً لپاره نو دا بيا حمل دی په هغې باندې په الحاق دياء نسبتيه سره ای خروجاً تحقيقياً او تقديرياً او هر کله چې هغه موصوف حذف شو نو بيا حمل نه وو نو څکه هغه ياحذف شوه نو تحقيقاً اوتقديراً شو.

سوال: دا حمل په الحاق دياء نسبتی سره ولې وشو؟ **جواب:** څکه دا قاعده ده چې چرته حمل د وصف راغلی وو په ذات باندې يا حمل د وصف راغلی وو په وصف باندې او متحد مصداقاً نه وو نو هلته حمل د دې ثاني کولی شوی په اول باندې په يو د طرق خمسه ؤ سره. (۱) حمل د ثاني په اول کولی شی

مبالغة نحو زيد عدل (۲) يا دا ثاني مصدرمبنى للفاعل کرځولی شی لکه زيدعدل کې چې عدل بمعنی عادل (۳) يا دا مصدرمبنی للمفعول گرځولی شی لکه هذاخلق الله (مخلوق الله) (۴) په حذف دمضاف سره لکه زيدعدل ای ذوعدول (۵) په الحاق ديا ء نسبتی سره لکه دلته

سوال: تحقيقاً او تقديراً مفعول مطلق واقع کيدل دخروج لپاره ندی صحيح ځکه مفعول مطلق په اصطلاح کې ديته وايي چې عامل د دې به مشتمل وی په دې باندې دقبيلې داشتمال دکل نه په جزء باندې لکه ضربت ضربا، اودلته خروج نه دی مشتمل په تحقيقا اوتقديرا باندې ځکه هغه هم مصدر دی او دا هم مصدر دی نودواړه جزئين دی کل پکې نشته؟ **جواب:** دا تحقيقاً او تقديراً مفعول مطلق واقع کول دخروج نه صحيح دی، ځکه چې مصدرپه حين دعمل کې په معنی ان مع الفعل سره وی نو تقدير د عبارت دا شو چې فالعدل ان يخرج عن صيغة الاصلية خروجاً تحقيقا او تقديراً

سوال: غرض د مصنف د دې تحقيقاً او تقديراً نه څه دی؟

جواب: غرض د مصنف د دې نه تقسيم دعدل دی نوعينو ته (۱) عدل تحقيقي (۲) عدل تقديري

سوال: دا د څه نه معلوموي؟ **جواب:** دا معلوميږي د کلمې د او نه ځکه کلمه د او چې راشی په تعريف کې نو هغه لپاره د تنويع او تقسيم وی، اوس په دې سره دفع دبل اعتراض هم وشوه چې دا تعريف بنا دی په شك، ځکه چې کلمه او پکې راغلی ده، بيا په تعريف دعدل تحقيقي او تقديری کې مذهبين دی (۱) يو مذهب د عامودی (۲) دويم مذهب دمحققينو دی. مذهب د عامو دا دی چې عدل تحقيقي عبارت دی دخروج حقيقي داصل حقيقي نه اوعدل تقديری عبارت دی دخروج اعتباری داصل اعتباری نه، يعنې په نيز دعامو نحاتو باندې په عدل تحقيقي او تقديری کې فرق دی په وجهينو سره پدی شان سره چې په عدل تحقيقي کې خروج هم حقيقي دی اواصل هم حقيقي دی، اوپه عدل تقديری کې خروج هم اعتباری دی او اصل هم اعتباری دی، اودلائل د دوی درې دی (۱) که خروج په دواړو کې اعتباری اوفرضی شی لکه چې محققين وايي نو تقسيم دعدل به صحيح نه شی تحقيقي او تقديري ته ځکه چې دا تقسيم يې تحقيقي ته الی نفسه شو او تقديري ته الی غيره شو، اوحال دا دی چې دا تقسيم جائز دی بالاتفاق (۲) که خروج په دواړو کی اعتباری شی نوتوصيف دخروجاً به صحيح نه شی په تحقيقاً او تقديراً سره او داترکيب توصيفی هم بالاتفاق جائز دی.

(۳) عدل تحقيقی ديته وائي چې دليل موجود وی په وجود د اصل باندې بې دمنع صرف نه دا مسئله اتفاقی ده (۲) او دليل داصل بعينه دليل دفرع دی (۳) اودليل دفرع بعينه دليل د خروج دی نوخروج فرع چې داصل نه معلوم شو په دليل سره نومعلوم شوه چې خروج په عدل تحقيقي کې حقيقي دی، ځکه ثابت دی په دليل سره اوپه عدل تقديری کې خروج فرضی دی، ځکه ثابت بالدليل نه دی، او مذهب دمحققينو دا دی چې عدل تحقيقي عبارت دی دخروج اعتباری داصل محقق نه اوعدل تقديری عبارت دی دخروج اعتباری داصل اعتباری نه حاصل دا دی چې خروج په دواړو کی اعتباری دی اوفرق په اعتبار داصل سره دی، که اصل تحقيقي وو نوعدل تحقيقي او که اصل اعتباری وو

نو عدل تقديري نود دوی په نيز باندې خروج په دوارو کې اعتباري دی ځکه چې عدل د اسباب ضرور يو اعتباري يو نه دی، ځکه چې علم په حکم باندې چې منع صرف دی مقدم دی د علم نه په سبب باندې چې عدل دی او دا به د اسباب اعتبار يو نه هله شي چې خروج په دوارو کی اعتباري شي او که خروج په عدل تحقيقي کې نفس الامري شي نو بيا به صرف عدل تقديري د اسباب اعتباريو نه شي نه تحقيقي او دا باطله ده، ځکه چې عدل مطلقاً د اسباب اعتبار يو نه دی.

سوال: عدل د اسباب اعتباريو نه ولې دی او باقي اسباب نفس الامر ولې دی؟

جواب: سبب دوه قسمه دی (۱) نفس الامري (۲) اعتباري. نفس الامري ديته وايي چې علم په سبب باندې مقدم وی د علم نه په حکم باندې او اسباب اعتباريه ديته وايي چې علم په حکم مقدم وی د علم نه په سبب باندې نو په عدل کې هم علم په حکم مقدم وي د سبب نه او باقي اسبابو کې علم په سبب مقدم وی د حکم نه نو ځکه هغه نفس الامري شو او دا اعتباري او فرضي شو.

جواب د طرفه د محققينو نه عوامو ته دا دی چې تاسو وايي چې که په عدل تحقيقي کې خروج فرضي شي نو توصيف د خروج په تحقيقاً او تقديراً سره نه صحيح کيږي، او تقسيم د عدل تحقيقي او تقديري ته نه صحيح کيږي، نو دا توصيف به هله نه صحيح کيدو چه دا صفت بحاله وی ليکن دا صفت بحال متعلقه دی او دا تقسيم هم بحال متعلقه دی نه بحاله تقدير د عبارت دا رنګی دی چې خروجاً تحقيقياً اصله وتقديرياً اصله، او دريم دليل نه جواب دا دی چې دا منم چې عدل تحقيقي ديته وايي چې دليل موجود وی په وجود د اصل باندې بې د منع صرف نه او دا هم منم چې دليل په وجود د اصل باندې بعينه دليل دی په وجود د فرع باندې ځکه اصل او فرع د امور اضافيو نه دی، ليکن دا نه منم چې دليل په وجود د فرع باندې بعينه دليل دی په خروج د فرع د اصل نه بلکه فرع به موجود وی او خروج به نوی راغلی ځکه خروج فعل اختياري د متکلم دی باعث غواړي او باعث به کله وی او کله به نوی په غير منصرف کې به باعث موجود وي او په نورو کې به نوی لکه مثلاً مونږ ته د قواعد و د علم صرف نه دا خبره معلومه شوې ده چې اقوس فرع ده او اقواس اصل دی او چا دا ندی ويلی چې اقوس جوړ شوي دي د اقواس نه

ثلث ومثلث: دا مثال دی د عدل تحقيقي لپاره کاف جاره ثلث معطوف عليه واو حرف عاطف مثلث معطوف معطوف عليه سره د معطوف نه مجرور شو د جار او جار سره د مجرور نه خبر د مبتدأ محذوفی دی تقدير د اسې دی چې مثاله کثلث ومثلث.

سوال: په ثلث باندې خو کاف حرف جر داخل شوي دي او دا خو مجرور ندی؟

جواب: دا غير منصرف دی جر پکې تابع د نصب دی نو مجرور بالفتحة دی.

سوال: ثلث ومثلث ولې غير منصرف دی؟

جواب: ځکه چې په دی کې دوه سببه دی يو يکی وصف دی چې تکرار دی او بل پکې عدل تحقيقي دی.

سوال: عدل تحقيقي په دی کې ولې دی؟

جواب: هر کله چې وموندی شو ثلث او مثلث په کلام د عربو کې غير منصرف په دې شان سره چې هغوی په دی کې کسره او تنوين نه ويلو او هغوی کسره او تنوين نه وايي په غير منصرف کې او غير منصرف

هغې ته وايي چې دوه سببه وی پکې او په دی کې صرف وصف وو او بل سبب پکې نه وو دغه یوسبب نو کافي کيدو لپاره دمنع صرف پس لابدي شوه د اعتبار د سبب اخر نه په دې کې لپاره د منع صرف نو معتبر کړي شو په دې کې عدل نه بل سبب ځکه چې باقي اسباب د منع صرف نفس الامری دی اوعدل داسباب اعتبار يو نه دی، او دا عدل تحقيقي دی نه تقديري، ځکه عدل تحقيقي ديته وايي چې دليل موجود وي په وجود د اصل باندې بې د منع صرف نه. او دلته هم دليل شته چې هغه تکرار د معنی دثلث او مثلث دی، او تکرار د معنی مستلزم دی تکرار د لفظ لره ځکه الفاظ قوالب د معانيو دی. او دلته خو لفظ کې تکرار نشته نو معلومه شوه چې دا معدول دی د ثلثة ثلثة نه.

سوال: ته وايې چې د اوموندی شو په کلام د عرب کې غير منصرف نوعرب غير منصرف څه پيژني دا خو نحاتو جوړ کړی دی؟ **جواب:** ددې مطلب دا نه دی چې عربو ورته غير منصرف ويلو بلکه مطلب دا دی چې عرب استعمالوو په داسې استعمال سره چې نحاتو پرې حکم د غيرمنصرف کولو يعنې کسره او تنوين يې پکې نه ويل کما في قوله تعالى فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ بيا په دی کې اتفاق دی چې دا احاد نه تر ربع پورې دی کې عدل صحيح دی ځکه چې دا مسموع من العرب دی اود دې نه پورته تر عشرو پورې په دې کې اختلاف دی. نو مذهب د جمهورو دا دی چې دی کې هم عدل کولی شی لکه خماس مخمس سداس مسدس، سباع مسبع. ثمان مثمن تساع متسع عشار معشر طرداً او مذهب د بعض دا دی چې د ربع نه پورته په دی نورو کې نه شي کولی ځکه چې مسموع من العرب نه دی بيا دا ثلث او مثلث په ترکيب کې کله خبر واقع کيږي کما في الحديث (**صلوة الليل مثنى مثنى**) کله حال واقع کيږي کما في قول تعالى (فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ) کله صفت واقع کيږي نحو قوله تعالى أُولِي أَجْنِحَةٍ مَّثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ

سوال: دا ثلث مثنى او ربع معدول نه دی د ثلثة ثلثة اثنين اثنين. اربعة اربعة نه بلکه دا معدول دی د ثلثة اثنين اربعة نه ځکه که دا معدول شی د لفظ مکرر نه نو بيا روا کيږي نکاح د اتلسو ښځو سره او دا خو نه دی جائز **جواب:** دا معدول دی د ثلثة ثلثة الخ نه خو تکرار د لفظ دلالت نکوی تعدد باندې او دا لفظ ثانی يا تاکيد د اول دی په شان دجاءني زيد زيد زيداً او يا بدل دی د اول نه.

سوال: چې دلالت يې په تعددو نه کړو نو د اتلس ښځو سره خو نکاح جائز نه شوه ليکن د نهه سره خو بيا هم جائز شوه ځکه چې جمع په حرف جمع سره پشان د جمع ده په لفظ د جمع سره.

جواب: دلته دا عدد ذکر شوي دي وروسته د مقسوم نه او عدد چې وروسته د مقسوم نه راشی نو هلته مقصود بيان د تعين د مقدار د مقسوم وی په طريقه د اختيار سره لکه چې داسې وويلې شی چې خذوا من تلك الدراهم اثنين اثنين نو معنى دا ده چې هر يو کس دوه دوه روپۍ واخلی، او که داسې وويلی شو چې خذوا منها اثنين نو بيا به هر يو دوه دوه نه اخلی بلکه ټول به صرف دوه اخلی اواسان جواب دا دی چې دا واو دلته په معنی د او سره دی.

سوال: ته وايي چې ثلث اومثلث غير منصرف دی د وجې د عدل او وصفيت نه نو وصفيت خو دوه قسمه دی (۱) اصلي (۲) عارضي معتبر په اسباب د منع صرف کې وصفيت اصلي دی نه عارضي او دلته خو په ثلث اومثلث کې دا وصفيت عارضي دی، ځکه په دی کې دا وصفيت راغلی دی په اعتبار د موصوف سره. **جواب:** دا وصفيت عارضي دی په معدول عنه کې چې ثلثة ثلثة دی ليکن هر کله چې دا ثلثة وران شو او ثلث مثلث ترې جوړ شو نو په دې معدول کې دا وصفيت اصلي دی ځکه چې داعدل په منزله دوضع ثاني دی.

سوال: عدل کې خو اتحاد في المعنی شرط دی په مابين دمعدو ل اومعدول عنه کې نو چې په هغه معدول عنه کې وصف اصلي نوواو په معدول کې اصلي دی نو دا خو اتحاد رانغلو

جواب: اتحاد شرط دی په اصل معنی کې قطع لحاظ د اصالت او د عروض نه.

واخر: دا عطف دی په ثلث باندې نو دکاف لاندې راغلو اوثلث مجرور بالفتحه وو او دا هم مجرور بالفتحه دی ځکه چې دا غير منصرف دی د وجې د وجود د سببينو نه په دې کې چې يو وصفيت دی او بل عدل تحقيقي دی نو حاصل دا شوچې دا بل مثال دی د عدل تحقيقي لپاره

سوال: دا مثال دعدل څنګه دی؟

جواب: ځکه هرکله چې دا لفظ د اخر وموندی شو په کلام د عربو کې غيرمنصرف په دې شان سره چې عربو به په دې کې کسره او تنوين نه ويل كما في قول تعالی فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ اوپه غيرمنصرف کې لابدی وی دسببين نه او مونږه چې وکتل نو دې کې صرف يو سبب موجود وو چې وصفيت دی او بل سبب پکې نوو، او يواځې وصفيت نه کافي کيدو د منع صرف لپاره پس لابدي شوه په دې کې داعتبار دسبب اخر نه لپاره د دې چې تعريف دغيرمنصرف د نحاتو کاذب نه شي، نو پس معتبر کړو نحاتو په دی کې عدل نه بل سبب ځکه عدل داسباب ضروريه ؤ اعتباريه ؤ نه دی ځکه چې علم په حکم مقدم وی دعلم نه په سبب باندې په خلاف دباقي اسباب نه چې هغه نفس الامري دی

سوال: بيا عدل تحقيقي ولې معتبر شو؟

جواب: ځکه عدل تحقيقي هغې ته وايي چې دليل موجود وی په وجود د اصل باندې بې د منع صرف نه او دلته هم دليل موجود دی په وجود داصل باندې بې د منع صرف نه هغه دا دی چې اخر جمع داخری ده اواخری مؤنث داخر دی، اواخر واحدمذکر اسم تفضيل دی نواُخَر صيغه جمع مؤنث اسم تفضيل شواواسم تفضيل مستعمل کيږي په يو د طرق ثلاثه ؤ سره (۱) په الف لام سره (۲) په اضافت سره او په عدة من ايام اخر کې دا يو د دغه طرق ثلاثه ؤ سره نه وو مستعمل شوی نوپس معلومه شوه چې دامعدول دی دالاخر نه يا داخر من نه

سوال: داولی معدول نه وايي د هغه اخر نه چې مستعمل شوی وی په اضافت سره.

جواب: ځکه چې داقانون دی چې يو اسم مستعمل شي په اضافت سره نو هرکله چې دهغې نه مضاف اليه حذف شي نو لازم دی يو د امور اربعه ؤ نه.

(۱) اضافت ثانی په شان د اضافت اولی لکه یاتیم تیم عدی کې. (۲) تنوین راوړل په مضاف کې نحو حینئذ. (۳) الف لام راوړل په مضاف کې نحو التقدیر فیما تعذر ای تقدیر الاعراب.
(۴) بناء علی الضمه د مضاف نحو قبل وبعد، اوپه اخر کې یو هم نشته نو معلومه شوه چې معدول نه دی د هغه اسم تفضیل نه یعنې د هغه اخر نه چې مستعمل وي په اضافت سره.

سوال: ته وایي چې اخر غیر منصرف دی د وجې دعد ل اووصفیت نه نو په دې کې خو وصفیت نشته ځکه چې دا په معنی د غیر سره راځي نحو جاءني اخر زید ای غیر زید.

جواب: دا په اصلی کې اسم تفضیل دی په معنی د اشد تاخیراً سره، اوپه معنی د غیرسره راځي د عارض استعمال د وجې نه او استعمال عارض لره څه اعتبار نشته بلکه په وصف کې معتبر وصفیت اصلی دی نه عارضي. **وجمع:** داعطف دی په ثلث باندې او هغه مجرور بالفتحه وو نو دا هم مجرور بالفتحه دی ځکه چې غیر منصرف دی د وجې دوصفیت او د عدل.

سوال: دا مثال د عدل څنګه دی؟ **جواب:** هر کله چې دا وموندی شو په کلام د عرب کې غیر منصرف الخ

سوال: عدل تحقیقي په کې ولې دی؟ **جواب:** ځکه چې دلیل موجود دی په وجود داصل باندې بې د منع صرف نه ځکه جُمَع جمع د جمعاء ده او جمعاء مؤنث دی په وزن دفعلاء اوفعلاء کله اسمی وی اوکله صفتی وی، که صفتی وو نو جمع یې راځي په وزن دفُعَلْ باندې لکه حمراء جمع راځي حمر او که اسمی وو نو د هغې جمع راځي په وزن دفعالی اوفعلاوات لکه صحراء جمع کیږي په صحاری اوصحراوات باندې اوس دلته که صفتی شي نودهی جمع جُمَع راځي او که اسمی شی نوجمع یې جماعی یا جمعاوات راځي، اودلته دغه یووزن باندې هم جمع نده راغلی نوپته ولګیده چې دامعدول دجُمْع نه که باقی پاتې شی په صفتیت باندې او یا معدول د ی دجماعی یا جمعاوات نه که اسمی شي.

سوال: جمع کې خواوس وصفیت نشته بلکه دا استعمالیږی په تاکید کې؟ **جواب:** دا په اعتبار داصل وضع سره اسم تفضیل ووبیا دهغې نه نقل شوي دي تاکید ته اوس په تاکید کې مستعملیږی لیکن وصفیت اصلی پکې شته. پس زده کړه داخبره چې لفظ بروزن افعل راځي داپنځه قسمه دی:

(۱) افعل صفتی نحو اسود ابیض (۲) تفضیلی لکه اعلم (۳) تاکیدی نحو اجمع
(۴) اسمی نحو اسحر (۵) فعلی لکه اعلم (چې صیغه واحد متکلم شي)

اوتقدیراً کعمرو باب قطام فی تمیم: داتقدیراً عطف دی په تحقیقا اوهغه صفت وو لپاره د خروجاً نو دا هم صفت د خروجاً دی، نو معنی دا شوه چې یا به دا خروج فرضی او تقدیري وي د اصل فرضی نه، او دیته عدل تقدیري وای مثال لکه عمر شو دا غیر منصرف دی د وجې د علَمیت او عدل تقدیري نه علَمیت خو پکې ظاهر دی خو اوس عدل پکې څنګه دی اوتقدیري ولې دی، نو ځکه چې هر کله چې موجود شو لفظ دعمر په کلام د عربو کې غیر منصرف په دې شان سره چې هغوی به په دې کې کسره او تنوین نه ویل او په غیر منصرف کې خو لابدی وي سببینو نه او مونږه چې وکتل نو په عمر کې صرف علَمیت موجود وو او دا کافی نه وو د منع صرف لپاره نو لابدی شوه په دې کې د بل سبب نه نو پس

معتبر کړو نحاتو په دې کې عدل نه بل سبب ځکه عدل د اسباب اعتباریه ؤ فرضیه ؤ نه دی او باقي اسباب نفس الامری دي.
سوال: داعدل په دی کې تقدیری ولې دی؟
جواب: ځکه عدل تقدیری دیته وایي: چې دلیل موجودنوی په وجود داصل باندې بې دمنع صرف نه او دلته هم دلیل موجودندی په وجود داصل باندې بې دمنع صرف نه.

اللطائف فی لفظ عمر

سوال: نه وایې چې عمر غیر منصرف دی د وجې د علمیت اوعدل نه نو غیر منصرف کې خو دوه سببه وي نو په دی کې خو علمیت شته لیکن عدل خو نشته ځکه عدل مصدر دی او حکم د مصدر دا دی چې اذا وجد فتلاشی. **جواب:** مونږه وایو چې عمر غیرمنصرف دی د وجې دسببینو نه چې یوعلمیت دی او بل کون د عمر دی معدول د عامر نه.
سوال: علمیت خو سبب نه دی داسبابو دمنع صرف نه ځکه مصنف دا د اسباب دمنع صرف نه دی شمیر کړی؟
جواب: مصنف اګر چې علمیت په اسبابو د منع صرف کې نه دی شمیر کړی لیکن مصنف معرفه ذکر کړې ده په اسبابو دمنع صرف کې او معرفه سبب هله ګرځي چې موجوده شي په ضمن د علمیت کې.
سوال: نه وایې چې عمر غیرمنصرف دی یو پکې علمیت دی او بل عدل تقدیری دی ځکه دا معدول دی د عامر نه نو بیا خوزید ته هم غیرمنصرف ووایه ځکه یو پکې علمیت دی او بل دی پکې عدل تقدیری شي معدول دی شي د زائد نه او عمرو ته هم غیرمنصرف ووایه ځکه دا دی هم معدول شي دعامر نه
جواب: عمر غیر منصرف دی د وجې د علمیت اوعدل نه اوپه زید اوعمرو کې عدل نشته، ځکه عدل د اسبابو ضروریه ؤ اعتباریه ؤ نه دی یعنې دا به معتبر کولی شي په وخت د ضرورت کې لکه د خنزیر غوښه خوړل چې جائز دی په حالت دمخمصه کې، نوپه عمروکی باعث اوضرورت وو نو عدل پکې معتبر شو او په زید عمرو کې باعث نشته نوعدل پکې معتبر نه شو.
وباب قطام: او بل مثال دعدل تقدیری چې معتبر وی په منع صرف کې اګر چې سبب دمنع صرف نه دی په باب دقطام کې دی په دې کې عدل معتبر دی د وجې دحمل نه په فعال علمی ذوات الراء باندې او دا غیر منصرف دی په لغت د بني تمیمو کې د وجې د علمیت او د تأنیث معنوی نه اوعدل پکې معتبر دی خو د منع صرف لپاره سبب ندی.
سوال: دا عدل چې معتبر دی په باب دقطام کې داسبب دمنع صرف پاره وایي اوکنه، که سبب یې وایي د منع صرف لپاره نو بیا دد ی فرق څه دی دعمر سره او که سبب یې وایي دمنع صرف لپاره نو بیا چې عدل ځنګه په باب دقطام کې دی نو دارنګې په باب دحضار کې هم دی هغه دی ولې ذکر نه کړو؟
جواب: دا مثال د هغه عدل تقدیری دی چې معتبر دی په منع صرف کې یعنې په غیر منصرف کې راغلی دی، نوحضار ترې خارج شو ځکه هغه معتبر دی په بناء کې اودعمرسره یې فرق دا دی چې دا سبب دمنع صرف ندی، ځکه چې دد ی نه علاوه دوه سببه پکې نور شته چې یو علمیت دی او بل تأنیث معنوی دی.

سوال: چې سببين پکې شته نوعدل پکې ولې معتبر دی؟
جواب: داعدل معتبر شوي دي د وجې دحمل دفعال علمي دغير ذوات الراء نه په فعال علمي ذوات الراء باندې لکه حضار اوتمار شود دې مشابهت دی دهغې سره عدلا وزنةً اوهغې کې خو عدل معتبر وو د وجې دبناء نه نو دلته معتبر شو د وجې دحمل نه په هغې باندې، پس زده کړه دا خبره چې عمر کې عدل تقديری معتبر دی اوسبب دی دمنع صرف لپاره او په حضار او تمار کې سبب د بنا دی او په باب دقطام کې معتبر دی په منع صرف کې حملاً علی ذوات الراء
سوال: څه وجه ده مصنف لره چې عطف يې کړو قطام په عمر باندې په زيادت دباب سره، سره د دې نه چې فرض منصبی دمصنف اختصار دی؟
جواب: په زيادت دباب کې اشاره ده تعميم ته چې مراد د قطام نه هر هغه اسم دی چې راغلی وی په وزن دفعال باندې اوعلم وی دغير ذوات الراء، په علم سره احتراز راغلو دفعال امری او صفتي نه او دا چې موا وی چې علم به وی د يو عين لپاره نو په دې سره يې احتراز وکړو دفجار نه، ځکه داعلم دی ليکن دعين لپاره نه دی بلکه دمعنی لپاره علم دی يې اوپه غير ذوات الراء سره احتراز راغلو د حضار او تمار نه ځکه دغه ټول مبنی دی عندالجمهور، اوپه دی کې اختلاف دی معرب دی په اعراب دغير منصرف سره په لغت دبنی تميم کې اوعندالحجازين دا هم د قبيلې دمبنيات نه دی، پس زده کړه دا خبره چې فعال علمي دوه قسمه دی يو د ذوات الراء نه دی او بل دغير ذوات الراء نه دی، هر چې دی فعال علمي د ذوات الراء نه نو په هغې کې اکثر بنی تميم ملګری دی د حجازينو سره په بناء کې اوبعض بنی تميم وايي چې معرب دی په اعراب دغيرمنصرف سره او هر چې دی فعال علمي د غير د ذوات الراء نه نو دی کې دوه ډلی دی حجازين وايي مبنی دی او بنی تميم وايي چې معرب دی په اعراب د غير منصرف سره.
الوصف شرطه ان يکون فی الاصل: هرکله چې چې فارغ شو مصنف دبيان دعدل نه تفصيلاً نوشروع يې وکړه په تفصيل دوصف کې چې دادويم سبب دی.
سوال: داوصف يې عدل پسی ولې ذکرکړو؟
جواب: ځکه چې په بيان دعدل کې ويلی شوی وو چې ثلث مثلث الخ غير منصرف دی د وجې د عدل اووصفيت نه نو معترض تپوس وکړو چې وصف څه ته وايي نو مصنف وويل چې الوصف الخ
ترجمه: دويم سبب داسباب دمنع صرف نه وصفيت دوصف دی وصف دنحويانو په اصطلاح کې هغه اسم ته وايي چې دلالت کوی په ذات مبهمه اومعتبر وی ورسره يوصفت دصفاتو نه لکه اسم فاعل اسم مفعول، صفت مشبه اواسم تفضيل شو داوصف بيا دوه قسمه دی (۱) وصفيت اصلی (۲) وصفيت عارضی وصفيت اصلی هغې ته وايي چې دا اسم واضع وضع کړي وی دمعنی وصفی لپاره لکه اسود اوارقم شو اوعارضی ديته وايي چې دا اسم واضع وضع کړيوی دمعنی اسمی لپاره اووصفيت پکې راغلی وی دعارض استعمال د وجې نه لکه اربع شو په مررت بنسوةٍ اربعٍ کې اومعتبر په منع صرف کې وصفيت اصلی دی نه عارضی نو ځکه مصنف وويل چې **الوصف شرطه ان يکون فی الاصل** شرط لپاره

دوصف په تأثير دمنع صرف کې په اعتبار دوصفيت سره کيدل دوصف دی په نيز دوضع دواضع کې **في الاصل** کې دافي په معنی د عند سره ده نه ظرفيت لپاره اواصل په معنی دوضع سره دی ځکه اصل په لغت کې ما يبتنی عليه غيره ته وايي او وضع هم مبنی عليه ددلالت ثلاثه ؤ ده چې دلالت مطابقي او دلالت تضمني او دلالت التزامی دی

بيان د فواندو د قيو داتو

سوال: شميرل دوصف داسباب دمنع صرف نه نه دی صحيح ځکه اسباب دمنع صرف دقبيلې د اوصافونه دي او وصف هغه اسم ته وايي چې دلالت کوی په ذات مبهمه باندې او معتبر وی ورسره يو صفت دصفاتو نه نو داذات مع الوصف شو

جواب: د دې الوصف معنی دا ده چې بل سبب داسباب دمنع صرف نه وصفيت دوصف دی

سوال: وصف څه ته وايي؟ **جواب:** هغه اسم ته وايي چې دلالت کوی په ذات احترازعن المصدر مبهمه احتراز عن زيد عمرو وبکر) او معتبر وي ورسره يو صفت د صفاتونه احتراز عن النکرة واسم جنس

سوال: تعريف دوصف مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پکې رجل، او امرأة، ځکه داهم يو اسم دی چې دلالت کوی په ذات مبهمه باندې اومعتبر دی ورسره يوصفت دصفاتو نه چې تذکير او تأنيث دی

جواب: تعريف دوصف په رجل باندې نه صادقيږی ځکه چې وصف ديته وايي چې دلالت کو ی په ذات مبهمه باندې اومعتبر وی ورسره يو صفت دصفاتو نه اوتذکيرصفت درجل ندی، بلکه علامه درجل ده اوتأنيث علامه دامراة دی او بل دا چې صفت هغې ته وايي معتبر کړی شوی وی ورسره اولازم ورسره نوی، اودلته درجل سره تذکير اودامرأة سره تأنيث لازم دی

سوال: دا تعريف جامع نه شو خپلو افرادو لره خاج شو ترې رحمن اورحيم ځکه چې هغه خو دلالت کوی په ذات معين باندې حالانکه هغې ته خو وصف ويلی کيږي

جواب: داهم دلالت کوی په ذات مبهمه باندې په اعتبار داصل وضع اواوس دلالت کوئ په ذات معينه باندې کوی داستعمال د وجې نه يعنې واضع وضع کړی دی د مفهوم کلي لپاره او مستعملين يې مستعملوی په فرد معين کې

سوال: څه وجه ده مصنف لره چې دعدل تعريف يې وکړو او د وصف تعريف يې ونه کړو؟

جواب: دعدل تعريف يې ځکه وکړوچې هغه نه ظاهر بنفسه وو او نه معرف وو په مقام اخر کې او وصف يا ظاهر بنفسه دی او يا معرف دی په مقام اخر کې

سوال: ځنګه چې وصف سبب د منع صرف دی دارنګې عدل هم سبب دی دمنع صرف نو څه وجه ده چې دعدل لپاره يې شرط ذکرنه کړو اودوصف لپاره يې شرط ذکر کړو؟

جواب: هر کله چې عدل دوه قسمه وو (۱) تحقيقي (۲) تقديری اومطلقاسبب وو دمنع صرف لپاره نو د هغې لپاره يې شرط بيان نه کړو اورهر کله چې وصف دوه قسمه وو (۱) اصلی (۲) عارضی او مطلقاً سبب نه وو نو شرط يې ورله بيان کړو چې شرط دسببيت د وصف دمنع صرف لپاره دا دی چې دا به معتبر وی په اصل وضع کې

سوال: ته وايي چې شرط دوصف لپاره دا دی چې دا به اصلي وی يعنې په وضع کې به معتبر وی نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په اربع، په مررت بنسوة اربع کې دلته اربع کې وصفيت راغلی دی حالانکه دا خو د وضع د وجې نه نه دی راغلی بلکه داستعمال د وجې نه راغلی دی.

جواب: دا اعتراض به تاهله کولو چې داشرط دوجود دوصف وی ليکن داشرط دوجوددوصف نه دی بلکه شرط دسببيت دوصف دی په منع صرف کې.

سوال: اصل چې مقابل د وصف راشي نو مراد د اصل نه موصوف وی نومعنی دا ده چې شرط لپاره دوصف کون دوصف دی په موصوف کې يعنې که دا معنی وصفی په موصوف کې وه نوسبب به وی والافلا، نووصف خو نه وي مگر موصوف کې وی نو دا شرط لګول ستا لغوه دی.

جواب: دلته اصل په معنی دموصوف سره نه دی بلکه په معنی دوضع سره دی ځکه اصل په لغت کې مايبتنی عليه غيره، ته وايي او وضع هم مبنی عليه د دلالت ثلاثهٔ ده.

سوال: فی راځي لپاره دظرفيت يعنې ګرځوی مدخول خيل ظرف لپاره دغير نو دلته د دې مدخول وضع ده او دا خو وصف لپاره ظرف نه دی ځکه ظرف دوه قسمه دی: (۱) زمان (۲) مکان او دا يو هم نه دی. جواب: فی دلته دظرفيت لپاره نه دی بلکه بمعنی عند دې.

سوال: في چرته بمعنی عند راغلی دی؟ **جواب:** فی راځي په معنی دعند سره کما فی قول الشاعر

جاء شقيق عارضارمحه ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ان بنی عمك فيهم رماح، فيهم (ای عندهم)

فلا تضره الغلبة: هرکله چې شرط لپاره دتأثير د وصف اصل دی نو فلا تضره ضرر نه رسوی دی وصف ته په سببيت دمنع صرف کې يعنې داوصف دسببيت نه نهٔ اوباسي غلبه د اسميت په وصفيت باندې چې هغه اختصاص د دې اسم دی په بعض افرادو نوعيو خپلو پورې دا فاء په دې مقام کې فصيحيه ده اوفاء فصيحيه هغه فاء جزائيه ته وايي: چې راغلی وی په جزاء دشرط مقدر کې نوتقديردعبارت دارنګې دی (اذاکان الامر کذلك فلا تضره الغلبة) اوالغلبة کې الف لام عوضی دی يا الف لام عهدی دی مراد غلبی نه غلبه د اسميت ده، نو معنی دا شوه چې هغه اسميت چې غالب شوي دي په وصفيت اصلی باندې نو دا ضرر نه رسوی سببيت ددغه وصفيت ته ځکه چې اسميت عارضی دی او وصفيت اصلی دی او قانون دا دی چې (والعارض لايعارض الاصل)

سوال: رجل اسود يا رجل ابيض چې مسمی شی په اسود يا ابيض سره نو دلته خودی غلبی د اسميت ضرر ورسوو وصفيت ته ځکه دلته دا ابيض يا اسود بيا غير منصرف دی د وجې د علميت او وزن فعل نه د وجې د وصفيت نه نوته څنګه وايي چې فلا تضره الغلبة؟ **جواب:** مراد دغلبې د اسميت نه اختصاص د دې اسم دی په بعض افراد نوعيو پورې اودلته اسم مختص شوي دي په فرد شخصی پورې نو دلته غلبه د اسميت په وصفيت نده راغلی بلکه ازاله دوصفيت راغلې ده. والله اعلم.

فلذلك صرف اربع فی مررت بنسوة اربع: د وجې داشتراط دکون دوصف نه فی الاصل اود وجې دعدم مضرت دغلبې د اسميت نه وصفيت ته منصرف ګرځولی شوي دي لفظ داربع داسې لفظ داربع چې کائن دی په

دی ترکیب کې چې مررت بنسوة اربع دی. ځکه اګر چې په دی کې یووزن فعل دی او بل وصفیت دی لیکن وصفیت پکې عارضی دی اومعتبر په منع صرف کې وصفیت اصلی دی نه عارضي، او دلته عارضی ځکه دی چې دا راغلی دی په دی اربع کې معدود د وجې نه چې نسوة دی **(وامتنع)** اوممتنع دی صرف د اسود او ارقم په حال کون ددې دواړو کې چې علم دی د مار لپاره اوممتنع دی صرف د **ادهم** په حال کون د دې چې نوم دی دزنځير لپاره، ځکه په دې کې یوصفیت دی او بل پکې وزن فعل دی اوداغلبه د اسمیت په وصفیت ضرر نه رسوی وصفیت اصلی ته ځکه د علمیت د وجې نه ازاله د وصفیت بالکلیه نه ده راغلی دافاء په دې فلذلك کې تفریعیه ده ځکه دا مابعد د دې متفرع دی په ماقبل باندې اولام په دې مقام کې تعلیلی دی چې دا ګرځوی مدخول خپل علت لپاره دغیر اوداذلك اسم اشاره ده اومشارالیه د دې امرین دی. (۱) اشتراط داصلیت. (۲) عدم ضرر دغلبی د علمیت. او اشاره ورته شوې ده په تاویل د مذکور سره دا جارمجرور متعلق دی په صرف پورې اوضرف صیغه فعل ماضی مجهول ده اربع موصوف في جاره مررت فعل فاعل باجاره نسوة موصوف اربع یې صفت موصوف سره دصفت نه مجرور دجار، جارسره مجرورنه متعلق شو په مررت پورې فعل سره دفاعل او متعلق نه مجرور د جار، جار سره دمجرور نه صفت داربع شو موصوف سره دصفت نه نائب فاعل د صرف شو.

سوال: ته وایې چې دا فاء تفریعیه ده نو فاء تفریعیه خو دیته وایي چې مابعد د هغې متفرع وی په ماقبل باندې اوماقبل علت وی ددغه مابعد لپاره او په دغه معنی باندې لام تعلیلی هم دلالت کوی نو ذکر د احدهما مستدرك اولغوه دی؟ **جواب:** فاء هم دلالت کوی په تعلیل باندې اولام هم دلالت کوی په تعلیل باندې لیکن په تعلیل کې فرق دی لام فائده کوی تعلیل په مغلولینو کې چې هغه دوه خبری علت د مابعد دی، برابره خبره ده که زما اوستاعلم وی او که نوی، او فا دلالت کوی په تعلیل باندې په مینځ د علمینو کې. (۲) فاء دلالت کوی په تفریع باندې اوپه تفریع کې مقصود تعقیب وی چې **هغه** خبرې مخکې وی او دا خبرې وروسته دې او لام دلالت کوی په مطلق علتیت باندې.

سوال: ذلك سره خو اشاره کیږي بعید ته دلته ولې قریب ته وشوه؟

جواب: دا فرق اکثری دی نه کلی، نوکله کله دقریب لپاره هم راځي، او که اومنم چې دافرق کلی دی نو بیا مصنف په دې کې اشاره وکړه عظمت د مشارالیه ته، چې کون دوصف فی الاصل او عدم مضرت د غلبه د اسمیت په وصفیت باندې په باب دوصف کې عظیم الشانه خبره ده.

سوال: په دې سره خو اشاره واحد مذکر ته کیږي او دلته خو واحد نه دی بلکه امرین دی.

جواب: دلته اشاره ده امرینو ته په تاویل د مذکور سره.

سوال: دا فلذلك جار مجرور په چا پورې متعلق دی؟ **جواب:** دا متعلق دی په صُرِفَ پورې.

سوال: اصل په عامل کې تقدیم دعامل دی په معمول باندې نو دلته معمول ولې مقدم شوی دی؟ **جواب:** دامقدم شوې دې لپاره دحصر اواختصاص نومعنی داشوه چې خاص د وجې د اشتراط دکون د وصف فی الاصل نه اوخاص د وجې دعدم مضرت دغلبی نه صُرِفَ الخ.

سوال: اربع په ترکیب کې څه واقع شوي دي؟ **جواب:** دا نائب فاعل دی.
سوال: نائب فاعل خو مرفوع وی او دا خو مجرور دی؟
جواب: دا اعراب حکائی دی ځکه دا حکایت دی د هغه اربع نه چې واقع شوي دي په مررت بنسوة اربع کې او هغه مجرور وو نو دا هم مجرور شو
سوال: فی خو دلته داخلیږي په اسم باندې دلته په فعل باندې ځنګه داخله شوې ده؟
جواب: دا في داخلیږي په اسم باندې خو اسم عام دی که حقیقتاً وی او که تاویلاً وی، دلته تاویلاً دی ځکه چې دا مؤل دی په تاویل دترکیب سره یعني هغه اربع چې واقع شوی دی په دې ترکیب کې چې مررت الخ
سوال: نسوة موصوف دی او اربع یې صفت دی او مطابقت نشته په مابین دموصوف او صفت کې په تذکیر او تأنیث کې؟ **جواب:** موصوف د عدد اقل په حکم دتمییز د عدد اقل کې دی او تمییز د دې خو خلاف القیاس راځي نو دا موصوف به یې هم خلاف القیاس راځي **اسود و ارقم** دا اسود او ارقم چې علم دحیة نه وو او ادهم چې علم د قید نه وو نو دا غیرمنصرف وو د وجې دوزن فعل او وصفیت اوبعد العلّمیت پکې هم یو وزن فعل دی، او بل وصفیت دی.
سوال: چې وصفیت او علمیت خو متنافیین دی نو بعدالعلّمیت پکښې ځنګه وصفیت نه معتبر کوي؟
جواب: داعلم نوع ده اوعلم نوع کې غلبه د اسمیت ضرر نه رسوی وصفیت دوصف ته نو منافی دوصف سره مطلق علم ندی، بلکه علم شخص ورسره منافی دی.
پس زده کړه دا خبره چې علم په درې قسمه دی: (۱) علم جنس (۲) علم نوع (۳) علم شخص. علم شخص بالاتفاق سبب دمنع صرف دي اوعلم نوع بالاتفاق سبب دمنع صرف نه دی او هر چې علم جنس دی نوپه هغې کې خلاف دی بعض وایي چې دا سبب دمنع صرف دی نو داسامة ته غیر منصرف وایي، او بعض وایي سبب نه دی نو هغه اسامة ته منصرف وایي.
سوال: ته وایي چې دعدم غلبه د اسمیت د وجې نه ممتنع دی اسود ارقم او ادهم نوممتنع خو هغه شی ته وایي چې په خارج کښې وجودنه لری لکه شریك الباری او دا اسودالخ خو موجود دی په خارج کې نوته ورته ځنګه ممتنع وایي؟
جواب: د دې مطلب دا دی چې ممتنع وی انصراف د دې نه وجودد دې **وضعف منع افعی** الخ. او ضعیف دی منع کول دانصراف نه دامعنی په حال کون د.دې کې چې علم یې واخلی د مار لپاره او اجدل په حال کون د دې کې چې علم یې واخلی دشاهین لپاره **او اخیل** په حال کون د دې کې چې علم یې واخلی دطائر لپاره د دې توهم د وجې نه چې افعی کې یووزن فعل دی او بل پکې وصفیت دی ځکه چې دا مشتق دی د فعوة نه خبث ته وایي، نو افعی ذات من له الخبث ته وایي او اجدل مشتق دی دجدل نه قوت ته وایي، او اخیل کې هم یووزن فعل دی او بل پکې وصفیت دی ځکه چې دامشتق دی دخال نه تورو ټکو ته وایي
سوال: داغیرمنصرف کول د دې ولې ضعیف دی؟ **جواب:** د وجې دعدم یقین نه په اشتقاق ددې باندې
سوال: لکه ځنګه چې یقین نشته په کون ددې اسماء باندې مشتق دفعوة الخ نه نو دارنګې یقین خو په عدم

اشتقاق باندې هم نشته نو غیرمنصرف ورته ولې نه وايي اومنصرف ورته ولې وايي؟ **جواب:** ځکه چې اصل په اسماء کې انصراف دی اوشئ خلاف الاصل ته هله ویستلی شی چې یقین او قطع وی.

سوال: افعی ته غیرمنصرف ووایه ځکه چې اخیر کې یې الف مقصوره دی اودا قائم مقام دسببینو دی

جواب: دا الف د افعی نه دی پشان دالف دحبلی باندې ځکه چې هلته الف علامه دمؤنث ده او دلته علامه دمؤنث نده، او الف علامه دمؤنث هله وی چې دا الف زائد وی لیکن زائد دالحاق اودتکسیر د بنا لپاره نوی اودلته الف مقصوره زائد نه دی بلکه بدل راغلی دی د واو نه اصل کې اَفعَو وو ماخوذ دی دفعونه بیا واو په اخیرکی واقع شو بدل شو په یاء سره افعَی شو بیا یاء بدله شوه په الف نو افعی شو، اوس که داغیر منصرف ولوستی شوی نو افعی به ویلی کیږي په الف سره او که منصرف ولوستی شی نو افعی به ویلی کیږي په تنوین سره.

التانیث بالتاء شرطه العلمیت الخ التأنیث موصوف **بالتاء** جارمجرور په اعتبار دمتعلق سره چې الحاصل دی صفت دی موصوف سره دصفت نه مبتدأ اوله. شرطه مضاف مضاف الیه مبتدأ ثانی اوالعلَمیت یې خبر دی داجمله اسمیه خبر د مبتدأ اولی دی، مبتدأسره دخبرنه جمله اسمیه معطوف علیه **والمعنوی** مبتدأ ده **اوکذلك** یې خبر دی داجمله اسمیه عطف ده په دې مخکې جمله باندې **ربط:** هرکله چې فارغ شو مصنف دبیان دتفصیل دسبب ثانی د اسباب دمنع صرف نه چې وصف وو نوشروع یې وکړه په تفصیل دسبب ثالث داسباب دمنع صرف کې چې تأنیث دی نو وې ویل چې التأنیث بالتاء.

ترجمه: تانیث هسې تأنیث چې حاصل دی په تاء ملفوظه سره چې هغه تاء متحرکه مدوره ده چې بدلیږی په حالت دوقف کې په هاء سره **شرطه** شرط لپاره دتأثیر تأنیث په سببیت دمنع صرف کې **العلمیت** علَمیت دمافیه التأنیث دی یعني علَمیت د هغه اسم دی چې په هغه کې تای تأنیث راغلی وی لپاره د دې چې داتاء لازم ه وګرځی د دې کلمې سره ځکه چې اعلام محفوظ وی د تغییر او د تبدیل نه بقدرالامکان ځکه داپه منزله دوضع ثانی وی.

بیان دفوائدو د قیو داتو

توصیف دتأنیث چې یې په التاء سره وکړو نو په دی سره یې احتراز وکړو دتأنیث بالالف نه ځکه هغه نه دی مشروط په علَمیت سره اوپه التاء کې الف لام عهدی دی مرادپدی سره تاء لفظی ده نو احتراز راغلو دتأنیث معنوی نه ځکه دهغې حکم وروسته راروان دی اوپدی سره دفع داعتراض هم وشوه، چې ذکر کول دالمعنوی وروسته د دینه مستدرك دی ځکه تأنیث معنوی هم تأنیث بالتاء دی اومراد دتاء التأنیث نه تاء متحرکه مدوره ده چې بدلیږی په حالت دوقف کې په هاء سره لکه قدقامت الصلوة متحرکه چې مو وویل نو په دې سره احتراز راغلو دساکنی نه ځکه هغه په فعل کې هم راځي او دلته مراد هغه تاء ده چې علامه دتأنیث وي په اسم کې، اومدوره سره احتراز راغلو د مطولې نه کما فی اخت بنت، اوس دلته داتاء دتأنیث لپاره نده بلکه دتأنیث لپاره خو دا صیغه راغلې ده بیا په دې کې دا مسئله ده چې که چرته داعلم وګرځولی شی دمذکر لپاره نو دا به منصرف وی ځکه چې دی کې صرف

علمیت راغلو اوتأنیث پکې نشته او که چرته علم وګرځی دمؤنث لپاره بیا پشان د هند دی جواز د وجهینو دی پکې که دیته ګوری چې دوه سببه دی پکې نوغیر منصرف یې کړه او که دیته ګوری چې دا سببین مستجمع دشرائط نه دی نو ځکه چې ساکن الاوسط دی نو بیا دې منصرف شي.

سوال: ته وایي چې شرط لپاره دتأنیث علمیت دی دا خبره ستا نه ده صحیح ځکه چې ضاربة او عالمة کې تانیث شته اوعلمیت نشته. **جواب:** زه داعلمیت شرط لپاره دوجود دتأنیث نه وایم بلکه شرط لپاره دتأثیر دتأنیث دی په منع صرف کې.

سوال: ته وایي چې شرط لپاره دتأثیر دتأنیث په سببیت دمنع صرف کې علمیت دتأنیث دی نو علم خوصفت دلفظ دی اوتأنیث صفت دمعنی دی.

جواب: مراد دلته علمیت دتأنیث نه دی بلکه مراد علمیت دمافیه التأنیث دی.

سوال: دا علمیت پکې ولې شرط شو؟

جواب: د دې لپاره چې دا تاء ورسره لازمه وګرځي ځکه چې اعلام محفوظ وی دتغیر اوتبدیل نه.

سوال: ته وایې چې اعلام محفوظ وی دتغیر او تبدیل نه نو په یاحارث کې خو حار ویل جائز دی نو دی کې خو تغیر راغلو؟ **جواب:** مونږه وایو چې اعلام محفوظ دی دتغیر اودتبدیل نه بقدر الامکان اوپه وخت ضرورت کې پکې تغیر جائز دی.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په جبرئیل اومکائیل باندې ځکه په دې کې جبریل اومکایل او میکال ویل جائز دی حالانکه دلته خوضرورت نشته.

جواب: مراد د اعلامو نه عربیه دی او دا اعلام عربیه ندی، بلکه عجمیه دی.

والمعنوي كذلك اوتأنیث معنوی پشان د تأنیث لفظی دی په نفس اشتراط د علمیت کې، دلته مصنف تشبیه ورکړه د تأنیث معنوی دتأنیث لفظی سره، نوالمعنوی مشبه دی اوذلك اسم اشاره ده مشارالیه یې تأنیث لفظی دی هغه مُشبه به، اوکاف ادات دتشبیه اووجه دشبه نده ذکر نو دا تشبیه مجمله شوه.

سوال: تشبیه ورکول دتأنیث معنوی دتأنیث لفظی سره نه دی صحیح ځکه چې هلته علامه د تأنیث ظاهر ده اودلته ظاهره نده.

جواب: زه تشبیه په علامه د تأنیث کې نه ورکوم بلکه تشبیه ورکوم په اشتراط د علمیت کې.

سوال: تشبیه ورکول دتأنیث معنوی دلفظی سره په اشتراط د علمیت کې هم نده صحیح ځکه چې په تأنیث لفظی کې علمیت شرط دوجوب دی اوپه معنوی کې علمیت شرط د جواز دی.

جواب: دا تشبیه ما ورکړیده په نفس اشتراط د علمیت کې قطع لحاظ دوجوب او د جوازنه، او بیا پکې فرق شته چې لفظی کې شرط دوجوب دی ځکه هلته علامه په لفظ کې شته نوقوت پکې راغلو نو وجوباً تأثیر کوی اوپه معنوی کې علامه په لفظ کې نشته، نوضعف پکې راغلو وجوباً تأثیرنه کوی بلکه جوازاً تأثیر کوی مطلب د دې داشتراط چې که علمیت پکې نه وو نو منصرف به وی او که علمیت پکې وونو جواز د وجهینو دی.

وشرطا تحتم تاثیره: او شرط لپاره د وجوب د تأثیر د تأنیث معنوی یو دامورثلاثه ؤ دی **الزیادة علی الثلاثة** یا زیادت دحروفو دی په حروف ثلاثه ؤ باندې

اوتحرك الاوسط: او که بالفرض کلمه کې حروف درې وو نو بیا به پکې تحرك الاوسط وی.

اوالعجمة: او که بالفرض کلمه ثلاثی هم وی اوساکن الاوسط هم وی نو بیاعجمی وی، او پدې او کې اشاره ده دیته چې جمعیت د دې امورثلاثه ؤ شرط نه دی بلکه یو یو هم تأثیر کولی شی، اوس دا امور ثلاثه پکې ولې شرط شونوځکه که چرته یود دې امور ثلاثه ؤ پکې رانه شی نوشي به دا کلمه ثلاثی ساکن الاوسط عربی نو کامل خفت به پکې حاصل شی اودا به مقابل شی د ثقل د سببینو سره نو سببین بیا وجوباً تأثیر نه کوي ځکه مانع موجود شو.

سوال: ستا د دې دلیل نه خومعلومه شوه چې ثقل سبب د منع صرف دی دا خو تا مخکې نه وو ویلی؟

جواب: سبب اصل کې داثقل دی او دا اګر چې ما مخکې صراحتاً نه دی بیان کړی لیکن ضمناً ذکر شوی دي، ځکه د سببینو سره ثقل لازم دی او وجود د ملزوم مستلزم وی وجود دلازم لره نو ما په ملزوم باندې تصریح کړې ده او لازم ورسره مراد دی.

سوال: دارنګې د دې نه معلومه شوه چې علت دمشابهت دغیرمنصرف دفعل سره هم داثقل دی حالانکه دا خو هم تامخکې نه وو ذکر کړی بلکه هلته خو تا ویلې وو چې علت دمشابهت دفعل سره وجود د فرعیتینو دی؟ **جواب:** دا هم مخکې صراحتاً نه دی ذکرشوی لیکن ضمناً بیان شوی وو ځکه چې داثقل لازم دی د هغه سببینو سره او اصل کې دامشابه دی دفعل سره ثقل کې ځکه فعل کې ثقل دی ځکه چې معنی مطابقی د دې مرکب ده دامورثلاثه ؤ نه.

فهند یجوزصرفه سره تفریع ذکرکوی په ماقبل باندې یوه تفریع ده په عدم وجود دشرط وجوبی.

(۲) دویمه تفریع ده په وجود دشرط باندې، یعنې هرکله چې علمیت شرط جوازي وو دتأنیث معنوی لپاره او شرط وجوبی ورله یود دې امورثلاثه ؤ وو نوهند منصرف کول هم جائز دی او غیر منصرف کول یې هم جائز دی، ځکه که دیته وګوری چې اصل په اسماؤ کې انصراف دی او شرط وجوبي پکې نشته نو منصرف یې ووایه او که دیته ګوری چې نفس سببین خو پکې موجود دې نو غیر منصرف یې ووایه، بیا چا ویلې دی چې دا مذهب د بعضو دی چې جواز د وجهینو دی اومذهب د بعضو دا دی چې دا وجوباً منصرف دی ځکه مونږه مخکې ویلې وو چې غیر المنصرف ما فیه علتان مؤثرتان، چې مستجمع وی جمیع شرائط لره نه مطلق علتان.

وزینب الخ ممتنع ممتنع دی صرف د دوی د وجې د وجود د سببینو نه سره دشرائطو نه چې زینب کې زیادة علی الثلاثة دی اوسقرکی تحرك الاوسط دی او ماه او جور کې عجمه ده او دادواړه نومونه د کلو دی او سقرنوم دجهنم دی.

سوال: ته وایې چې زینب الخ، ممتنع دی نو دا خبره ستا غلطه ده ځکه چې دا خو موجود دی په خارج کې او ممتنع خو هغه ته وایي چې موجود فی الخارج نوی؟

جواب: د دې دامعنی نده چې ممتنع دی وجود د دې بلکه معنی دا ده چې ممتنع د ی صرف د دې
سوال: زینب الخ مبتدأ ده اوممتنع یې خبر دی او قانون دا دی چې خبر چې مشتقی وی نو هلته مطابقت واجب وی نو ممتنعة ویل پکاروو؟ **جواب:** مطابقت په مابین دمبتدأ او د خبر کې مشروط دی په شروطو سره یو شرط پکې دا دی چې دا خبر به حامل وی ضمیر دمبتدأ لره او دلته دا ممتنع حامل نه دی ضمیر د مبتدأ لره بلکه دی کې ضمیر راجع دی صرف ته.
سوال: صرف خو مخکې نه دی ذکر؟ **جواب:** صرف اگر چې لفظاً مخکې نه دی ذکرلیکن معنی ذکر دی ځکه دا معلومیږي دسیاق او دسباق نه.

فان سمی به مذکر فشرطه الزیادة علی الثلاثة: غرض او مقصد دمصنف د دې عبارت نه.
(۱) بیان د یو قاعدې کلیه دی. (۲) دفع دتوهم ده چې مخکې داخبره ذکر شوه چې هندچی علم دمؤنث شی نوجواز دوجهینو دی پکې اوزینب علم دمؤنث شی نوغیرمنصرف دی وجوباً اوس دا اشتباه پیداشوه چې ایا دا چې علم دمذکر لپاره شی نو دا به منصرف وی او که غیر منصرف وی نو مصنف یو قاعده کلیه بیان کړه اورفع ددغه اشتباه یې وکړه.
(۳) یا داجمله مستانفه جواب دسوال د ی، کله چې مصنف ویل چې هند کې جواز دوجهینو دی او زینب غیرمنصرف دی چې کله علم دمؤنث وی اوس سایل سوال وکړو چې دا چې کله علم دمذکر شی نو بیا به منصرف وی او که غیرمنصرف به وی نو مصنف جواب وکړو بما تری، خلاصه د جواب دا ده چې کوم اسم چې مؤنث وو په په تأنیث معنوی سره دا به خالي توی یا به زائد علی ثلاثه احرف وی او یا به نوی که چرته زائد علی ثلاثة احرف وو نوکله چې داعلم شی د مذکر لپاره نو دا به غیر منصرف وی د وجې د علمیت اودتأنیث معنو ی حکمی نه. او که زائد علی الثلاثة نه وونو بیا به دا منصرف وی د وجې دانتفاء دتأنیث معنوی نه (ترکیب) فاء استنافیه **ان** حرف شرط دی **سمی** فعل ماضی مجهوله **مذکر** ورله نائب فاعل دی **اوبه** مفعول به غیرصریحی دی دسمی لپاره فعل سره د نائب فاعل اوسره دمفعول به غیر صریحی نه جمله فعلیه فعل شرط **فاء** جزائیه **شرطه** مبتدأ ده، الزیادة مصدر متلبس باللام دی علی الثلاثة متعلق دی په دې الزیادة پورې ځکه مصدر معرف باللام ضعیف العمل وی عمل کوی په ظرف او جار مجرور کې کمافی قول تعالی ﴿لَا يُحِبُّ اللَّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ مِنَ الْقَوْلِ﴾ دا مصدر سره دمتعلق نه خبر د مبتدأ شو مبتدأ سره د خبر نه جزاء دشرط شوه شرط سره د جزاء نه جمله شرطیه مستانفه ده.
سوال: مسمی یسمی تسمیة چې په معنی دنام نهادن سره راشی نو متعدی وی مفعولینو ته او کله چې د هغې نه مجهول جوړ شي نو بیا متعدی مفعول واحدته پاتې کیږي نو دلته دا مجهول دی نومفعول اول خو د دې لپاره نائب فاعل شوچی مذکردی نو مفعول ثانی یې څه شو؟
جواب: دا چې په معنی دنام نهادن سره راشی نومتعدی کیږي مفعولینو ته اول ته بالذات اوثانی ته کله بالذات او کله په واسطه دباء سره دلته متعدی دی ثانی ته په واسطه دباء سره نو دا به د دې لپاره مفعول ثانی غیرصریحی وی.

ترجمه: که چرې مسمی کړی شی په مؤنث معنوی سره مذکر په دې شرط سره چې دا تأنیث معنوی به تانیث تاویلی او تأنیث منقولی نه وی نوشرط د دې لپاره زیادت ددغه کلمې دی په حروف ثلاثه ؤ سره ددې لپاره چې شی دا حرف رابع په حکم د تاء د تأنیث کې نو موجود به شی په دې کې سببین: (۱) علمیت. (۲) تأنیث معنوی حکماً.

فقدم منصرف وعقرب ممتنع: قدم مبتدأ ده منصرف یې خبر دی مبتدأ سره دخبرنه جمله اسمیه معطوف علیه واو حرف عاطف عقرب مبتدا ممتنع یې خبر دی مبتدأسره دخبر نه جمله اسمیه خبر یه عطف ده په دې مخکې جمله باندې، او دا فاء پکې فاء فصیحیه ده، فاء فصیحیه هغه فاء ته وایي چې راغلی وی په جزاء دشرط مقدر کې نو دا جمله جزاء د شرط مقدرشوه، نوتقدیر د عبارت دا شوچی اذا عرفت هذا، یا اذا کان الامر کذلك فقدم منصرف الخ قدم منصرف دی د وجې دانتفاء دشرط وجوبی دمؤنث معنوی نه چې زیادت علی الثلاثه وو نو دا چې کله علم دمذکر شی نو بیا پکې صرف علمیت موجود دې، اوتأنیث معنوی پکې نشته ځکه هغه زایل شوي دي د وجې د علمیت دمذکرنه، اوعقرب چې دی ممنتع دی صرف د دې د وجې د وجود دشرط وجوبی نه چې زیادت علی الثلاثه دی نوپه دی کې یو علمیت دی او بل پکې تأنیث معنوی حکمی دی ځکه دا حرف رابع قائم مقام دتاء تأنیث دی اوحرف ثالث قائم مقام د تاء تأنیث نه دی.

سوال: په دې څه دلیل دی چې حرف رابع قائم مقام دتأنیث دی اوحرف ثالث قائم مقام دتاء التأنیث نه دی؟ **جواب:** دلیل په دې باندې تصغیر دی ځکه دقدم نه چې تصغیر جوړکړی شی نوتاء پکې ظاهرېږی لکه قدیمة ویلی شي نومعلومه شوه چې داحرف ثالث قائم مقام دتاء تأنیث نه دی او عقرب نه چې تصغیر جوړشی نو هلته تاء نه راځي، بلکه عقیرب ویلی شی نومعلومه شوه چې دا حرف رابع قائم مقام د تاء تأنیث دی نودې کې تأنیث معنوی حکمی راغلو

سوال: نه وایې چې قدم مبتدأ ده اومنصرف یې خبر دی اوعقرب مبتدأ ده اوممتنع یې خبر دی نو قدم خونکره محضه ده ځکه چې اسم جنس دی دارنګې عقرب هم نکره ده ځکه چې اسم جنس دی نو نکره خو مبتدأ نه واقع کیږي؟ **جواب:** دا قدم نکره محضه نده، ځکه چې دلته مراد دا لفظ د قدم دی چې علم وی د یو شخص لپاره دارنګې دعقرب نه هم مراد دا دی چې داعلم شی دیو شخص لپاره نو بیا معرفه شوه، بله مسئله په دې مقام کې دا ده چې داقدم اوعقرب کې درې صورتونه دی.

(۱) یوصورت دا دی چې قبل العلمیت دا قدم او عقرب منصرف دی بالاتفاق ځکه صرف تأنیث معنوی پکې شته او بل سبب پکې نشته. (۲) کله چې علم شی دمؤنث لپاره نو بیا داغیر منصرف دی بالاتفاق ځکه یو پکې علمیت دی او بل پکې تأنیث معنوی دی اوشرط وجوبی دتأنیث معنوی پکې شته چې قدم کې تحرك د اوسط دی او په عقرب کې زیادة علی الثلاثة دی. (۳) که علم شی د مذکر لپاره نو بیا قدم منصرف دی د وجې دعدم وجود دسببینو نه په دې کې ځکه صرف علمیت شته اوتأنیث پکې نشته او عقرب غیرمنصرف دی ځکه سببین پکې شته چې علمیت دی او بل تأنیث معنوی دی حکمی دی اودا

دري صورتونه په هند اوزينب كې هم دی هند پشان دقدم دی اوزينب پشان دعقرب دی صرف دومره د
چې هند چې علم دمؤنث شي نو عدم انصراف يې جائز دی اوقدم كې واجب دی.
سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په رجال باندې دامؤنث معنوی دی په تاويل دجماعة سره او سره د
دې نه دا چې علم شي دمذكر لپاره نو بيا هم منصرف دی او حروف پكې څلور دي.
جواب: مراد د تأنيث نه غيرتاويلی دی او دې كې تأنيث تاويلی دی.
سوال: دا قاعده ستامنقوضه شوه په رباب باندې دا چې علم د ښځې شي نوتأنيث اوعلميت پكې شته
او بيا هم منصرف دی. **جواب:** مونږه وايو چې تأنيث پكې منقولی نوی اوديكی تأنيث منقولی دی خكه
داصل كې نوم د سحاب وو اوبيا نقل شوی دی علم د ښځې گرځيدلی دی.
المعرفة: بل سبب داسبابو دمنع صرف نه معرفه ده معرفه په لغت كې پيژندلوته وايي، او په اصطلاح كې
هغه اسم ته وايي چې وضع شوی وي ديو شي معين لپاره اومعرفه اووه قسمه ده.
(۱) مضمرات (۲) اسماء اشارات (۳) موصولات (۴) اعلام (۵) معرف باللام (۲) معرف بالنداء (۷)
هر هغه اسم نكره چې مضاف شي معرفی ته په اضافت معنوی سره.
المعرفة **ترجمه:** تعريف د معرفه يا كون د اسم معرفه **شرطها** شرط لپاره د معرفه په تأثير د منع صرف
كې **ان تكون علمية**، كون د معرفه دی منسوب علم ته په دې شان سره چې علم يو فرد دی د افرادو د
معرفې نه او معرفه عامه ده نو دا معرفه به موجود وي په ضمن دعلم كې د قبيلې د وجود دعام نه په
ضمن دخاص كې (۲) شرط لپاره دمعرفه په تأثير دمنع صرف كې كون دنوع دی چې علم دی دجنس
دتعريف نه نوپه عبارت دمصنف كې قلب دی.

بيان د فوائد د قيودات.

سوال: شميرل د معرفې داسباب دمنع صرف نه ندی صحيح ځكه اسباب دمنع صرف دقبيلې د اوصافو
نه دی او معرفه ذات دی؟ **جواب:** معرفه سبب دمنع صرف نه دی بلكه سبب دمنع صرف تعريف دمعرفی
دی د دې جواب كيفيتونه دوه دی. (۱) يا داجواب بنا دی په حقيقت باندې نو بيا معنی د دې دا ده چې
دلته مراد د معرفې نه معرفه اصطلاحی نده بلكه معرفة مصدر ميمي دی په معنی دتعريف سره.
(۲) يا دا جواب بنا دی په مجاز باندې نو بيا دا معرفه مصدر ميمي ندی، بلكه ذكر د معرفه
اصطلاحی دی ليكن مراد ترينه تعريف دی نو مجاز مرسل شو ځكه چې ذكر د محل دی چې معرفه ده
او مراد د دېنه نه حال دی چې تعريف دی.
سوال: ته وايي چې ذكر دمعرفه دی او مراد ترينه تعريف دی نو مطلب دا شو چې تعريف سبب دمنع
صرف دی نوتعريف خومصدر دی اوحكم دمصدر دادی چې اذا وجد فتلاشی نو دا څنگه سبب
گرځوي دمنع صرف لپاره. **جواب:** دلته مراد حاصل بالمصدر معلوم دی چې كون د اسم دی معرفه.
سوال: ته وايې چې شرط دمعرفی لپاره علميت دی نوالرجل، الذی، هو، معرفه ده اوحالانكه دا خو علم
نه دی؟

جواب: دا اعتراض به هله واردیدو چې دا علمیت شرط د وجود د معرفه وی لیکن دا شرط د وجود د معرفه نه دی بلکه شرط د سببیت دمعرفه دی په تأثیر دمنع صرف کې

سوال: دا علمیت ولې شرط شو په معرفه کې؟ **جواب:** معرفه اووه قسمه ده نو په هغه اووه اقسامو کې مضمرات، اسماء اشارات، او موصولات دقبیلې دمبنیاتو نه دی او غیر منصرف قسم دی د معرب نه او هر چې د معرفه بالنداء نو هغه به یا مفرد وي او یا به مضافه وی که مفرده وه نو هغه بیا د قبیلې د مبنیاتو نه ده او که مضافه وه نو بیا منصرفه ده، د وجې داضافت نه او هر چې دی معرف باللام او معرفه بالاضافة نو هغه ځکه غیر منصرف نده چې د وجې ددخول دالف لام ئه او د وجې داضافت دغیر منصرف نه غیرته غیرمنصرف نه منصرف جوړیږی نوځکه دا سبب د غیرمنصرف لپاره نه شی ګرځیدلی نو صرف علم پاتې شو.

سوال: عمر منصرف دی که غیر منصرف دی؟

جواب: غیر منصرف دی ځکه چې عدل دی او بل پکې علمیت دی.

سوال: په نهه اسبابو دمنع صرف کې خو علمیت نشته؟ **جواب:** داکتاب دمصنف خو مختصر دی او مأخوذ دی د مفصل د جار الله نه او هغه خو علم سبب ګرځولی دی او معرفه یې شرط ګرځولی دی او تا عکس وکړو نو دا خو مخالفت راغلو په مابین د مأخوذ او مأخوذ منه کې

جواب: مصنف دا مخالفت کړی دی قصداً د وجې دیونکتې نه هغه دا ده چې هرکله دارمدار د اسبابو په فرعیت باندې وو اومعرفه ظاهره وه په فرعیت کې دنکرې لپاره دعلم نه، ځکه چې معرفه فرع بالذات ده دنکرې لپاره اوعلم فرع دنکرې ده په واسطه دمعرفی سره اوفرع بالذات د شي ظاهره وی دفرع بالواسطه نه نوځکه مصنف معرفه د اسبابو نه وګرځوله اوعلمیت یې ورله شرط وګرځوو.

سوال: دلته مصنف وویل چې سبب دمنع صرف معرفه ده اوعلمیت ورله شرط دی اوروسته وایي چې ومافیه علمیت مؤثرة اذانکرصرف، نوهلته یې علمیت ته مؤثر وویل او دلته یې معرفی ته مؤثر وایي.

جواب: مصنف دا خبره بنا کړې ده په خپل مذهب باندې اوهغه وروسته خبره یې بنا کړیده په مذهب د جار الله باندې ځکه دمصنفینو د اب او عادت دی چې کله کله یو ځای کې مسئله بنا کړی په خپل مذهب باندې او په بل ځای کې بناکړی په مذهب دغیر باندې (۲) یا دا چې هلته یې علمیت ته مؤثر ویلې دی مجازاً ځکه داشرط دی دمعرفی لپاره، المعرفه مبتدأ ده شرطها مبتدأ ثانی ده ان تکون علمیت خبر د مبتدأ ثاني دی مبتدأسره دخبرنه خبر دمبتدأ اولی دی مبتدأ سره د خبر نه جمله خبریهاسمیه ده.

سوال: ان تکون علمیت دا عبارت باطل دی ځکه چې دا مستلزم دی تکرار د کونینو لره بلاباعثه او هر عبارت چې مستلزم وی تکرار دکونینو لره بلاباعثه هغه باطل وی نو داباطل شو کبری خو مسلمه ده ځکه چې تکرار تشنیع دی اودلیل دصغری دا دی چې یوکون جوړیږی دتکون نه ځکه ان پرې داخل شوي دي او بل په علمیت کې یاء اوتاء مصدریه راغلی دی دا ګرځوی متصل به خپل خبر لپاره دکون محذوف نوتقدیر دعبارت داشو چې المعرفة کونها کونها علماً

جواب: (١) دلته تکرار دکونینو نشته خکه چې په علمیت کې دا یاء او تاء نسبتي دی مصدری نه دی یعني دا معرفه به منسوبه وي علم ته په دې شان سره چې معرفه عامه ده او علم خاص دی نو دا معرفه به تأثیر هله کوی چې داعام موجود شي په ضمن دخاص کې

(٢) **دویم جواب:** دا دی که امنم داخبره چې په علمیت کې یاء تاء مصدري دی نو بیا هم عبارت دمصنف باطل نه دی خکه چې فرق دی په مابین د شي اومؤل بالشئ کې یعني باطل به هله وی چې بالفعل کون دوه خله ذکر وي اودلته بالفعل ندی ذکر (٣) **جواب:** که ومنم چې یاء اوتاء مصدری دی نو بیا هم تکرار دکونینو نشته خکه چې دا اول نه مراد کون جنسي دی او د ثاني نه مراد کون نوعي دی (٤) **جواب:** په دی عبارت دمصنف کې قلب دی یعني کون دعلم دی دجنس دتعریف نه نو اصل کې دا علمیت اسم دتکون دی اومعرفة یې خبر دی ای **شرطها ان تکون العلم** معرفة دا خو د عامو نظر دی، لیکن اصل کې دلته اعتراض داسې دی چې علمیت خبر دی دتکون او ضمیر مستتر یې اسم دی اوخبر دتکون محمول وی په اسم دتکون اودلته حمل نه صحیح کیږي خکه حمل دخاص راځي په عام باندې اودا ناروا دی، نو جواب دا دی چې دلته په دې عبارت کې قلب دی

العجمة بل سبب داسبابو دمنع صرف نه کون دلفظ د اسم دی چې وضع کړی وی دی لره غیر دعربو نه فقط، نو احتراز راغلو د تنور او د صابون نه خکه دا عربو هم وضع کړی دی اوغیر دعربو هم وضع کړی دی نو الفاظ مشترکه ورته وایي، او تأثیر کول د دې په منع صرف کې مشروط دی په شرطینو سره

شرطها شرط اول لپاره د تأثیر د عجمه په اسباب دمنع صرف کې کون دعجمه دی منسوب علم ته په دې شان سره چې عجمه به موجود وي په ضمن دعلم کې دقبیلې دوجود دعام نه په ضمن دخاص کې **فی العجمة** دا به موجود وي په لغت دعجمو کی عام دی که حقیقتاً وی لکه ابراهیم یاحکماً لکه قالون د اصل کې اسم جُنس وو په لغت درومیانو کی جنس جید قارئ ته ویلی کیدو، بیا علم گرځیدلی دی د یو قارئ لپاره د وجې دجدت دقرات د هغه نه خوعلم گرځیدلی دی بې دتصرف نه اوداعلمیت پکې شرط شو لپاره د دې چې دا عجمه محفوظه پاتې شی دتغیر او تبدیل نه په نقل کې خکه چې اعلام محفوظ وی دتغیر اوتبدیل نه بقدرالامکان

وتحرك الاوسط الخ او شرط ثاني لپاره دتأثیر کولو د عجمي تحرك د منځنی حرف د دې کلمې دی او یا زیادت په درې حروف باندې خکه دا چې زائده علی الثلاثه یامتحرك الاوسط نه شی نوشی به داثلاثی ساکن الاوسط نو خفت به پکې راشی او دا خفت به یې معارض شی دثقل د سببینو سره نو بیا دا سببین عمل نه شی کولی **فنوح منصرف** دا تفریع ده په انتفاء دشرط ثاني باندې، نوح منصرف دی د وجې د انتفاء د شرط ثاني نه چې تحرك الاوسط دی او زیادت علی الثلاثه دی

وشتر وابراهیم ممتنع او شتر چې دا نوم دی دیو قلعه لپاره په دیار بکر کې اولفظ دابراهیم چې دا نوم دی د پیغمبر لپاره ممتنع دی صرف د دې دواړو د وجې دوجود دشرط ثاني نه په دی کې او هر کله چې لفظ د نوح کې دوه مذهبه وو یو مذهب دا دی چې دامنصرف دی او بل مذهب دا دی چې دی کې جواز د وجهینو دی اومختار په نیز دمصنف باندې اول وو نوتفریع یې وکړه په انتفاء دشرط ثاني باندې لپاره

داظهار دماهو المختار اوتفريع يې ونه کړه په انتفاء دشرط اول باندې ځکه چې هغه اتفاقي وو او هر کله چې په دې تفريع کې غرض دمصنف اظهار د ما هو المختار وو نو ځکه يې تفريع دانتفاء مقدم کړه په تفريع دوجودباندې اوهر کله چې تأنيث معنوي يو امر معنوي وو ليکن کله کله ظاهرېږي علامه دهغې نوحاصل شو پکې يو نوع قوت نو حکم وشو په جواز د وجهينو اوعجمه امرمعنوي وو ظاهر يږي نه اصلاً نو دلته حکم وشو قطعاً چې فنوح منصرف.

تشريح: عجمه په لغت کې تت والی ته وايي اوپه اصطلاح کې کون دلفظ دی چې وضع کړی وی غير د عربو نه. **سوال:** صابون او تنور خو هم داسې لفظين دی چې وضع کړی دی دی لره غير دعربو نه اوديته خو عجمه نه ويلی کيږي؟

جواب: عجمه ديته وايي: چې وضع کړی وی غير د عربو نه فقط او دا لفظين غيردعرب نه هم وضع کړی دی ليکن عربو هم وضع کړی دی نودوی ته الفاظ مشترك ورته وايي.

سوال: شميرل دعجمه داسباب دمنع صرف نه ندی صحيح ځکه اسباب دمنع صرف دقبيلې د اوصافو نه دي اوعجمه ذات دی؟ **جواب:** مونږه عجمي ته سبب نه وايوبلکه مونږه وايو چې بل سبب داسباب د منع صرف نه کون دلفظ دی موضوع في غير کلام العرب او دا معنی وصفي ده.

سوال: وصف تأنيث معرفه خومشروط وو په يو شرط سره نوايا داعجمه مطلقاً سبب دی او که مشروط دی په څه شرط سره او که مشروط وي نو بيا مشروط په يو شرط سره دی او که په زياتو شرطونو سره مشروط دی؟ **جواب:** عجمه مطلقاً سبب دمنع صرف نه دی بلکه سبب د دې مشروط دی په شرطينو سره، شرطها الخ شرط اول يې دا دی چې دا به علم وی په لغت دعجموکی.

سوال: کون د دې لفظ په لغت دغير عرب کې علم ولې شرط شو؟

جواب: ځکه که داپه لغت دعجمو کې علم نه وي نو بيا چې يې عرب نقل کوی نو د نقل د وجې نه عجمه ختميږی د وجې دتصرفات اوتغيزات نه په هغې کې او که علم وو نو بيا عجمه نه زائله کيږي ځکه چې اعلام محفوظ وی دتغير اوتبديل نه.

سوال: دا شرط ستا منقوض شو په قالون سره ځکه داغير منصرف دي د علميت اوعجمه د وجې نه او شرط د عجمه پکې نشته چې کون دعجمه دی علم قبل النقل، ځکه داپه عجمي کې اسم جنس وو مطلق جيد قاری ته ويلی کيدواواوس پس دنقل نه نوم ګرځيدلي دی ديو قاری لپاره د وجې دجدت د قرأت د هغه نه؟ **جواب:** داعلميت په دې عجمه کې عام دی که حقيقتاً وی او که حکماً وی حقيقتاً خو ظاهر دی او حکماً ديته وايي چې په نقل کولو د هغه لفظ کې دعجمي نه عربي ته تغير رانه شی لکه څنګه چې اعلاموکی تغير نه راځي، **وتحرك الاوسط الخ**

سوال: دا اول ذکر شو په واو سره او دا ثاني په اوسره دا ولې؟

جواب: ځکه چې تحرك الاوسط او زيادت على الثلاثة معاً شرط نه دی نو دا يې او سره ذکر کړو او کون د يو د دوی نه د علميت في العجمه سره معاً شرط دی نو دا يې واو سره ذکر کړو.

سوال: دا تحرك يا زيادت پکې ولې شرط دی؟ **جواب:** ځکه که متحرك الاوسط يا زائدعلى الثلاثة نه شي نو شي به دا ساكن الاوسط ثلاثي نو خفت به پکې راشي او دا به معارض شي د ثقل سره.
سوال: ماته مثال وخايه چې يو اسم منصرف وی د انتفاء د شرط ثاني د وجې نه؟
جواب: مثال د دې لکه نوح شودامنصرف دی د وجې دانتفاء دشرط ثانی نه اوچې دواړه شرطونه پکې موجود وي دهغې مثال لکه ابراهيم اوشترشوداغير منصرف دی.
سوال: ته وايې چې **وابراهيم وشترممتنع** نوممتنع خوهغه ته وايي چې خارج کې وجود نه لری او دا خو موجود دې په خارج کې؟
جواب: د دې دا معنى نده چې د دې وجود ممتنع دی بلکه معنى يې دا ده چې ممتنع دی صرف د دې دواړو
سوال: شتر او ابراهيم مبتدأ ده اوممتنع يې خبر دی اومطابقت نشته په مابين دمبتدأ او خبر کې؟
جواب: مطابقت هله ضروری دی چې دا خبر حامل وی ضمير د مبتدأ لره اودلته خبر حامل نه دی ضمير د مبتدأ لره ځکه چې ضمير د مبتدأممتنع شتر اوابراهيم ته نه دی راجع بلکه صرف ته راجع دی يعنې ممتنع دی صرف د دې دواړو
سوال: صرف خومخکې نه دی ذکر نو دا خواضمارقبل الذكر لازم شو؟
جواب: دا اګر چې لفظاً نه دی ذکر ليکن معنى ذکر دی په قرينې دمقام سره ځکه چې بحث د منصرف او غير منصرف شروع دی.
سوال: تا نوح ته منصرف وويل قطعاً او يقيناً او هند کې دی يجوزصرفه اوی سره د دې نه چې هلته هم سببين شته تأنيث اوعلميت، او دلته هم شته چې عجمه اوعلميت دی.
جواب: په نوح کې دوه مذهبه دی او مختار په نيز د مصنف باندې دا دی چې دامنصرف دی نو وې ويل چې فنوح منصرف لپاره د اظهار د ما هو المختار عنده.
سوال: څه وجه ده مصنف لره چې تفريع يې وکړه په انتفاء دشرط ثانی اوتفريع يې ونه کړه په انتفاء د شرط اول باندې پکار وه چې په انتفاء دشرط اول يې هم تفريع کړې وی اوداسې يې ويلی وی چې فلجام منصرف؟ **جواب:** هرکله چې په انتفاء دشرط اول سره اسم منصرف کيدو بالاتفاق نو تفريع ونه کړه مصنف په انتفاء دشرط اول اوپه انتفاء دشرط ثانی کې اختلاف وو نو هغې يې تفريع وکړه لپاره د اظهار د ما هو المختارعنده.
سوال: نوح تفريع ده په انتفاء دشرط ثانی او شتر او ابراهيم تفريع ده په وجود د شرط ثانی نو څه وجه ده چې مصنف تفريع په انتفاء باندې مقدمه کړه؟ **جواب:** د دې لپاره هم وجه دغه ده چې غرض دمصنف تنبيه وركول دی په ماهوالحق عنده باندې نو ځکه يې دا مقدمه کړه.
سوال: تأنيث يو امر معنوی دی دا چې ته معتبر وی نوعجمه هم يو امرمعنوی دی دا هم معتبر کړه په نوح کې او غيرمنصرف ورته ووايه؟ **جواب:** ديکې فرق دی ځکه دتأنيث لپاره علامه کله کله ظاهرېږی

نو حاصل شو دهغې لپاره يو نوع قوت په خلاف د عجمي نه دا داسې امر معنوي دی چې علامه يې نه ظاهريږي اصلاً نو حاصل نه شو دی لره قوت نو معتبر نه شوه د اعجمه بې دشرط نه.

سوال: مخکې په ماه او جور کې خو تا عجمه معتبر کړې وه نو دلته يې هم ولې نه معتبر وی؟

جواب: هلته عجمه معتبر شوی وه شرطاً لپاره د تقويت د سببين اخريينو او دلته په خپله سبب دی يعنې هلته دوه سببه نور موجود وو (١) تأنيث (٢) علميت نو دا معتبر شوی وه شرطاً او دلته نور نشته نو نسبياً نه شي معتبر كيدی بې د وجود دشرطينو نه.

سوال: نوح ديو پيغمبر نوم دی تا ديته منصرف وويل او ابراهيم دبل پيغمبر نوم دی تا ورته غير منصرف وويل نو ايا دكومو انبياؤ نومونه منصرف دی او دكومو انبياء نومونه غير منصرف دی؟

گر همی خواهی که يابی نام هر پيغمبری   تا کدام است نزد نحوی منصرف لا ينصرف

صالح هود محمد با شيب و نوح ولوط   واين همه دان منصرف ديگر همه لا ينصرف.

فائده: شاعر د عزير او شيث عليه السلام نومونه نه دی ذكر دا هم منصرف دی. ﴿ وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ ﴾ **الجمع شرطه الخ** بل سبب دا سبابو دمنع صرف نه جمعيت دجمع دی. (٢) بل سبب دا سبابو دمنع صرف نه كون د اسم دی مجموع **شرطه** (١) شرط لپاره دا قامت دجمع په مقام دسببينو كې (٢) شرط لپاره د تأثير دجمع په منع صرف كې صيغة **منتهى الجموع** يو هيئت او شكل او وزن دی (دا شكل او وزن د نه شي دی) دغايه دجمع كيدلو دجمع تكسيری **الجموع** جمع دجمع ده او الف لام پكې عهدی دی او مراد د جموع نه جمع تكسيری ده، او يا الف لام عوضی دی اصل كې صيغة منتهى جموع جمع التكسير وو او منتهى مصدر ميمی دی بمعنی انتهاء الجموع يې فاعل دی يعنې منتهى كيږي او رسيږي دا جموع دغې ته په دې شان سره چې دغې ته كله ورسيږي نو بيا نه جمع كيږي په جمع تكسير سره.

سوال: شميرل دجمع د اسبابو دمنع صرف نه نه دی صحيح ځكه اسباب دمنع صرف د قبيلې د اوصافو نه دی او جمع ذات دی ځكه جمع عند النحات هغه اسم ته وايي چې دلالت كوی په ثلاثه او يا مافوق د ثلاثه او مفرد ورله من لفظه وی؟

جواب: مراد دلته جمعيت د جمع دی دي چې مصدر دي او دغه معنی مصدري او معنی لغوي مراد ده (٢) يا دا چې د جواب دوه كيفيتونه دي ياخو دا بنا دي په حقيقت باندي او مطلب دا ذكر جمع اصطلاحی ده خو مراد تري جمع لغوی ده نو ذكر د محل او مراد ترينه حال دی نو مجاز مرسل شو.

سوال: نه وايې چې بل سبب جمعيت د جمع دی نو جمعيت خو مصدر دی په خارج كې وجود نه لری ځكه مصدر خو اذا وجد فتلاشی دی؟ **جواب:** مراد د دې نه حاصل بالمصدر مجهول دی ای كون الاسم مجموعاً.

سوال: نه وايې چې شرط لپاره دجمع صيغة منتهى الجموع ده نو رجال جمع ده حالانكه منتهى الجموع خو نده نو دا خو وجود دمشروط راغلو بې دشرط نه او دا خو محال دی.

جواب: دا اعتراض به تا هله کولو چې داشرط د وجود دجمع لپاره وی لیکن داشرط لپاره دتأثیر د دې جمع دی په منع صرف کې نه لپاره د وجود د دې په خارج کې (۲) یاشرط لپاره دقیام د دې جمع دی په مقام دسببینو باندې صیغة دمنتهی الجموع ده.

سوال: شرط لپاره داقامت دجمع مقام السببین صیغه دمنتهی الجموع ولې ده؟

جواب: ځکه چې په دی کې یو جمعیت دی او بل پکې عدم د نظیر دی یعنې په دې وزن باندې مفردات نشته په کلام دعربو کې نو په دې جمع کې یو قسم تقویت حاصلیږی (۲) ځکه چې په دی کې یوه جمع ده او بل پکې لزوم دجمع دی ځکه دا چې یوځل جمع شی نو ثانیاً نه جمع کیږې په جمع تکسیری سره. (۳) په دې کې یوه جمع ده او بل پکې تکرار دجمع دی اوداتکرارعام دی که حقیقتا وی لکه په اناعم او اکالب کې او که حکماً وی لکه په مساجداومصابیح کې نواعتراض واردنه شو چې مصابیح او مساجد کی تکرار نشته په صیغه دمنتهی الجموع کې لابدی ده دمعرفت دامور خمسه ؤ نه.

(۱) تعریف بالمفهوم (۲) تعریف بالعلامة (۳) وجه دتسمیه (۴) اقسام (۵) اوزان

تعریف بالمفهوم: صیغه دمنتهی الجموع په اصطلاح د نحاتو کې هغه هیئت اووزن ته وایي چې جمع کیدل د جمع تکسیری نهایت اوانتهاء ته رسیدلی وی په دغه وزن اوبیا نه جمع کیږې په جمع تکسیرې سره

تعریف بالعلامه: صیغه دمنتهی الجموع علامه دا ده چې حرف اول اوثانی به یې متحرك وی او دریم ځای کې به الف وی اوداالف نه بعدبه حرفان متحرکان اولها مکسوروی په اعتبارداصل سره نو داخل شو پکې دواب اوخارج شوتری صحاری (۲) یا اول اوثانی متحرك وی دریم ځای کې الف وی اوروسته د الف نه درې حروف وی اولها مکسور واوسطها ساکن فخرج عنه کمالات.

وجه د تسمیه: دیته صیغه دمنتهی الجموع وایي ځکه چې منتهی الجموع انتهاء دجموع ته وایي او دا هم انتهاء دجموع ده ځکه چې جمع تکسیره چې یو ځل جمع شی په دې وزن باندې نو بیا نه جمع کیږې په بلی جمع سره.

اقسام: داپه دوه قسمه ده لکه چې داقسمین یې معلوم شو دتعریف بالعلامه نه. یو ته قسم اول دصیغه دمنتهی الجموع وایي نحومساجد، او بل ته قسم ثانی وایي نحومصابیح

اوزان د صیغه دمنتهی الجموع: اوزان دقسم اول دصیغه دمنتهی الجموع څلوردی. (۱) افاعل (۲) مفاعل (۳) فواعل (۴) فعالل اوزان دقسم ثانی دصیغه دمنتهی الجموع هم څلوردی: (۱) افاعیل (۲) مفاعیل (۳) فواعیل (۴) فعالیل

سوال: جموع جمع دجمع ده او ادنی مرتبه دجمع ثلاثه وی نو د دې نه معلومه شوه چې دا به درې ځله جمع شوی وی نواکالب اواناعم خودری ځله نه دی جمع شوی بلکه دوه ځله جمع شوي دي.

جواب: مراد دجمع نه جمع لغوی ده چې مافوق الواحدته ویلي کیږي

سوال: مصابیح او مساجد خو دوه ځله هم نه دی جمع شوی بلکه صرف یوځل جمع شوي دي.

جواب: دا جمع کیدل دوه ځله عام دی که حقیقتا وی او که حکماً وی دا اګر چې حقیقتاً نه دی خو حکماً دی ځکه چې دا حمل دی په اناعم اواکالب باندې **بغیرهاء**

حقيقي ترجمه: داسې صيغه دمنتهى الجموع چې متلبس به وي بغير د هاء نه هغه هاء چې بدل راځي د تاء تأنيث نه په حالت دوقف کې.

مجازي ترجمه: داسې صيغه دمنتهى الجموع چې متلبس ده اوثابته ده بې دتاء تأنيث نه داسې تاء چې په حالت د وقف کې بدليږي په هاء سره.

سوال: دا حکم ستامانع نه شو ددخول دغيرنه داخل شو پکې فرازنة اوجامع نه شو خپلو افرادو ته خارج شو ترې فواره ځکه فواره سره دهاء نه دی اوغير منصرف دی اوفرازنة بغير دهاء نه ندی او منصرف دی.

جواب: دلته مراد دهاء نه هغه هاء ده چې راځي بدل دتاء متحرکه مدورې نه په حالت دوقف کې نو فرازنة خارج شو ځکه د دې دا تاء بدليږي په حالت د وقف کې په هاء سره اوفواره پکې داخل پاتې شو ځکه چې په دی کې داهاء بدل دتاء نه نده راغلی. (۲) او يا معنى د دې دا ده چې بغير د تاء نه به وي داسې تاء چې بدليږي په حالت دوقف کې په هاء سره.

سوال: بيا يې بغير تاء ولې ونه ويل؟ **جواب:** ديته يې هاء ويلې ده مجازاً په اعتبار د مايؤل اليه سره نو شو دا عبارت دمصنف دقبيلې دمن قتل قتيلاً فله سلبه نه ديته مجاز بالمشارفة وايي.

سوال: دا بغير هاء شرط دمنتهى الجموع لپاره ولې شو؟

جواب: ځکه دا چې سره د هاء نه راشي نو کيږي دا په وزن د مفرداتو باندې نو په هغه جمعيت د دې کې فتور او نقصان راځي ځکه چې دا جمع خو قائم مقام ځکه واقع کيده چې په دې وزن مفرد نه وو موجود او چې سره د هاء نه راشي نوبيا دې وزن مفرد موجود وي نو بيا تأثير نکوي.

سوال: مصنف له پکاروو چې بغير هاء وياء يې ويلی وی د دې لپاره چې مدائنی ترې خارج شوی وی.

جواب: مدائنی صيغه د مفرد ده نه صيغه دجمع نو پس حاجت رانغلو اشتراط دبغير ياء ته لپاره د اخراج د دې ځکه اخراج سبق دخول غواړي اودا داخل نده نوځنګه يې خارج کوی.

سوال: ستا سره څه دليل دی په دې خبره چې دا مفرد دی؟

جواب: دليل دا اتصال د يا نسبتيه دی ځکه قانون دا دی چې اتصال دياء اوتاء نسبتی چې ته کوی په تثنيه يا جمع پورې نو هغه به ردکوی مفرد ته او په هغه مفرد پورې به اتصال دياء اوتاء نسبتی کوی او دلته په دې پورې ياء نسبتی متصله شوې ده نومعلومه شوه چې مدائنی مفرد دې نه جمع.

سوال: بغير هاء جار مجرور دی د دې اعراب محلی څه دی؟

جواب: دا مرفوع دی محلاً ځکه صفت دمنتهى الجموع دی.

سوال: جار مجرورچی په ترکيب کې څه واقع کيږي نو په اعتبار دمتعلق سره واقع کيږي نو داپه چا پورې متعلق دی؟ **جواب:** دامتعلق دی په الثابتة پورې. (۲) يا اعراب محلی د دې نصب دی بنابر حاليت دا حال واقع شوي دي دمنتهى الجموع نه چې مضاف اليه دصيغه دی دا باء دتلبس دپارده ای حال کونه متلبساً بغير هاء مثال لکه: مساجد او مصابيح شو دا صيغه د منتهى الجموع ده او بغير هاء ده نو قائم شوې ده په مقام د سببينو باندې.

سوال: مثال خو لپاره د وضاحت دممثل وی نو وضاحت دممثل خو راځي په مثال واحد سره نو دوه مثالونه ولي ذکر کړه؟

جواب: تعدد د مثال بنا دی په تعدد د ممثل باندې ځکه دا منتهی الجموع دوه قسمه ده. (۱) یو ته قسم اول وایي او بل ته قسم ثاني وایي. مساجد مثال دقسم اول دی او مصابیح مثال دقسم ثاني دی

واما فرازنة فمنصرف: هر کله چې معلومه شوه د دې عبارت د مصنف نه چې وشرطه صیغة منتهی الجموع بغیر هاء داخبره چې صیغه دمنتهی الجموع دوه قسمه ده. (۱) بغیر هاء (۲) مع الهاء. نو لازم بدي شوه د تفصیل د هر واحد نه نو تفصیل د بغیر هاء یې وکړه په مساجد او مصابیح سره او تفصیل د متلبس بالتاء کوی په فرازنة سره.

ترجمه: هر چې دی لفظ دفرازنة چې داعلم دی د هغه فرازنة لپاره چې ترکیب کې واقع کیږي دا منصرف دی د وجې د انتفاء دشرط دجمع نه چې کون دصیغه دمنتهی الجموع دی بغیر هاء ځکه انتفاء د شرط مستلزم ده دانتفاء دمشروط لره، زده کړه دا خبره چې یو اما دی بکسر الهمزة او دویم اما دی بفتح الهمزة په دې دواړو کې جناس محرف دی اما د حروف عاطفه ؤ نه دی راځي د شك لپاره او اما د حروف شرط نه دی دا اما شرطیه بیا دوه قسمه دی.

(۱) شرطیه تفصیلیه (۲) شرطیه استنافیه. استنافیه هغې ته وایي چې مابعددهغې تفصیل د ما قبل لپاره نوی او دا راځي په سر د کلام کې لکه امابعد وغیره او شرطیه تفصیلیه هغې ته وایي چې دا مابعد د دې تفصیل د ماقبل وی کما فی قوله تعالی ﴿فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ﴾

سوال: دلته دا اما کوم یو دی دلته خو یو هم نه صحیح کیږي ځکه استنافیه راځي په سر د کلام کې او دا مینځ د کلام دی او تفصیلیه سره تفصیل دماقبل کیږي او دا خو تفصیل دماقبل ندی.

جواب: دلته دا اما استنافیه دی او دا راځي په سر د کلام کې لیکن دا قاعده کلیه نده بلکه اکثریه ده او کله کله په مینځ د کلام کې هم راځي او که ومنم چې دا قاعده کلیه ده نو بیا دا شرطیه تفصیلیه دی اواجمال شته هغه دا دی چې دبغیر هاء نه معلومه شوه چې صیغه د منتهی الجموع دوه قسمه ده. (۱) بغیر هاء (۲) بالهاء. نو د بغیر هاء تفصیل یې وکړو په مساجد الخ سره او د بالهاء تفصیل یې وکړو په فرازنة سره.

ترکیب: اما حرف شرط دی فرازنة مبتدأ ده او منصرف یې خبر دی اودافاء جزائیه راغلی ده په جواب د اما کې او دا راغلې ده په خبر کې نه په مبتدأ کې لپاره دد ی چې لازم نه شي توالی په مابین دحرف شرط اوحرف جزاء کې، دا جمله جواب داما دی اواصل کې ترکیب داسې وو چې مهما یکن من شئ ففرازنة منصرف. بیا مهما یکن من شئ حذف شو دهغې په عوض کې اما راغلو او فاء داخله شوه په منصرف باندې نواما فرازنة فمنصرف شو

سوال: ته وایې چې فرازنة مبتدأ ده اومنصرف یې خبر دی نوخبر دمبتدأ چې کله مشتقی وی او حامل وی ضمیر دمبتدأ لره نوهلته خوموافقت واجب دی اودلته خوموافقت نشته پکاروه چې فمنصرفة یې ویلی وی؟ **جواب:** دلته په فرازنة کې دا تاء دتأنیث لپاره نده بلکه داتاء منقولی ده فرازنة یې نقل کړي دي علمیت ته او تاء منقولی چې کومه مبتدأ کې راشي نو هغه تقاضه دتأنیث دخبر نکوی.

سوال: په فرازنۃ کې داتاء منقولی ولې ده؟

جواب: ځکه چې دا لفظ دفرازنۃ دلته راغلی دی دا علم دی د هغه فرازنۃ لپاره چې واقع کیږي په تراکیبو کې.

سوال: هر کله چې دا علم شو نو په دی کې خویو علمیت راغلو او بل پکې تأنیث دی نو پکار ده چې دا دی غیر منصرف شی نو دا تنوین پکې ولې راغلی دی؟

جواب: په غیر منصرف کې تنوین تمکن منع دی اودلته داتنوین مشاکلۃ راغلی دی یعنې دا د تناسب بین الکلمتین د وجې نه راغلی دی ځکه چې د دې مناسبت دی دمنصرف سره.

سوال: هر کله چې دا لفظ د فرازنۃ علم شو د هغه الفاظ لپاره چې واقع کیږي تراکیبو کې او غیر منصرف شو نو بیا خو حمل د منصرف نه دی صحیح په دې باندې ځکه دا خو حمل دمبائن راځي په مبائن باندې

جواب: (۱) د دې معنی دا ده چې منصرف دی مسمی دلفظ دفرازنۃ جواب (۲) د هغه اصل اعتراض نه دا دی چې مطابقت هله واجب دی چې خبر مشتقی وی او دلته منصرف اسم جامد دې ځکه داعلم دی د یو نوع اسم معرب لپاره چې سببین یا سبب واحد قائم مقام دسببین پکې نوی، یا کسره او تنوین پرې راځي

وحضا جر علماً للضبع غیرمنصرف دا جمله مستانفه جواب د سوال دی سوال دا دی چې تا مخکې وویل چې بل سبب د اسبابو دمنع صرف نه جمع ده اوشرط د دې کون د دې جمع وو په وزن او صیغه دمنتهی الجموع نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په حضاجر باندې داغیر منصرف دی ځکه چې عرب پکې کسره او تنوین نه وایي او دلته شرط شته چې منتهی الجموع قسم اول ده او سبب نشته چې جمع ده ځکه دا علم جنس دی د ضبع لپاره اطلاق یې کیږي په قلیل اوکثیر باندې اوشرط بدون السبب تأثیر نکوی په منع صرف کې نو دلته یې څنګه عمل کړی دی.

جواب: دا لفظ د حضاجر په حال کون د دې کې چې علم یې واخلې دضبع لپاره دامؤنث دضبعان دی غیرمنصرف دی **لانه منقول عن الجمع** ځکه دا لفظ د حضاجر نقل شوي دي دجمع نه ځکه دا جمع د حضجر ده اصل کې عظیم البطن ته ویلی کیدو، یعنې واحد ته حضجر ویلی کیدو تثنیه ته حضجران او جمع ته حضاجر، بیا دا علم ګرځیدلی دی د ضبع لپاره د وجې د لوی والی د خیټې د هغې نه نو معتبر په منع صرف کې جمعیت اصلی دی او هغه دلته شته.

سوال: ستا د کلام نه معلومه شوه چې معتبر په منع صرف کې جمعیت اصلی دی نو بیا پکاروه چې داسې یې ویلی وی چې الجمع شرطه أن یکون فی الاصل

جواب: داسې یې ونه ویل ځکه که داسې یې ویلی وی نو بیا به متوهم توهم کړی وی دعروض د جمعیت یعنې متوهم به توهم کړی وو چې جمعیت دوه قسمه دی: (۱) اصلی (۲) عارضی. او عروض په جمع کې بالکل متصور نه دی

سوال: په حضاجر کې د علمیت نه علاوه نور دوه سببونه شته دي (۱) علمیت (۲) تأنیث معنوی نو جمعیت پکې څه له معتبر وی؟ **جواب:** داحضاجر زه غیرمنصرف وایم دجمعیت د وجې نه نه د علمیت د وجې نه ځکه علمیت په جمع کې غیر مؤثر دی ځکه علمیت دوصفیت سره اصلاً نه جمع کیږي او د الفین او منتهی الجموع سره جمع کیږي لیکن اثر نه کوی.

سوال: دا علمیت مؤثر ولې نه دی په دې څه دلیل دی؟ **جواب:** که دا مؤثر وی نو حضاجر به پس د تنکیر نه منصرف وی حالانکه دا که نکره شی یعني علمیت ترې لرې شی نو بیا هم غیرمنصرف دی. (۲) یا دا علم مؤثر ځکه نه دی چې داعلم جنس دی اوعلم جنس کې اختلاف دی بعض وايي سبب دی او بعض وايي ندی (۳) علمیت شته لیکن تأنیث معنوی پکې نشته ځکه چې دا یواځې دمؤنث لپاره علم نه دی بلکه علم دی دجنس لپاره خوا که مذکر وی او که مؤنث وی.

سوال: علماً په ترکیب کې څه واقع شوي دي؟ **جواب:** دا یا مرفوع دی ځکه حضاجر مبتدأ ده او علم للضبع يې خبر اول دی اوغیرمنصرف يې خبر ثاني دی، مبتدأسره د خبر ینو نه جمله اسمیه خبریه ده. (۲) یا منصوب دی ځکه خبر دی دکان محذوفه لپاره ای وحضاجر یکون علماً للضبع غیر منصرف، یا کان علما للضبع غیرمنصرف او دا جمله معترضه واقع شوې ده په مینځ د مبتدأ او خبر کې. (۳) دامنصوب دی بناپدی چې دامفعول فیه لپاره د منصرف مضاف الیه.

سوال: مفعول فیه خودلالت کوی په زمان یا مکان باندې اودا خودلالت نکوی؟

جواب: دا مفعول فیه دی په اعتبار دحذف دمضاف سره ای حضاجر غیر منصرف حالة العلمیت للضبع (۴) منصوب دی بنا برحالیت.

سوال: حال خو دوه څیزونه غواړي: (۱) عامل (۲) ذوالحال. داد چا نه حال دی؟

جواب: داحال دی دضمیرمستتر دمنصرف نه اوتقدیم دحال راغلی دی په عامل لفظی او دا جائز دی.

سوال: دا خوتقدیم دمعمول دمضاف الیه راغلوپه مضاف باندې او دا نه دی جائز ځکه چې تقدیم د مضاف الیه په مضاف باندې نه دی جائز نوتقدیم دمعمول دمضاف الیه په مضاف خو په طریق اولی سره نه دی جائز.

جواب: دا غیر منصرف صورتاً مضاف اومضاف الیه دی لیکن حقیقت کې دا مضاف او مضاف الیه نه دی بلکه دا غیر په معنی د لاسره دی لهذا انا زیداً غیر ضارب جائز دی په انا غیر ضارب زیداً کې ځکه چې دا غیر په معنی د لاسره دی او انا زیداً مثل ضارب ند ی جائز په انا مثل ضارب زیداً کې ځکه چې مثل لفظاً اومعنی دواړه مضاف دی. (۲) یا داعلما حال دی دحضاجر نه بنا په مذهب دابن مالك باندې (۳) یا حال دی دفاعل دفعل معنوی نه هغه فعل معنوی چې مستفاد دی دنسبت بین المبتدأ والخبر نه.

سوال: ته وایې چې علماً حال دی دحضاجر نه نود دې معنی خوداشوه چې حضاجر علم وی نو غیر منصرف به وی او که علم نه وی نوغیر منصرف به نوی حالانکه داسې خونده ځکه دا چې علم نوی نوبه طریق اولی سره غیرمنصرف دی.

جواب: حال دوه قسمه دی: (۱) منتقله (۲) مؤکده. منتقله هغه ته وايي چې غالباً جداکیږي د ذوالحال نه او مؤکده هغې ته وايي چې نه جدا کیږي د ذوالحال نه اوحال منتقله قیدوی دعامل د ذوالحال لپاره نه حال مؤکده او دا حال مؤکده دی نوقیدنه شو عامل دذوالحال لپاره، (۲) او که ومنم چې داحال منتقله دی نو انتفاء دقید دلالت په نفی دحکم باندې هله کوی چې داحکم ثابت نوی په غیر کې په

طریق اولی سره او دلته ثابت دی په غیر کې په طریق اولی سره. (۳) دا اعتراض به تا هله کولو چې دا قید احترازی وی لیکن داقیداحترازی نه دی بلکه قید اتفاقی دی د دې نظیر لکه داقول دالله تعالی ﴿وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِي فِي حُجُورِكُم﴾ نو دلته دا في حجورکم قید اتفاقی دی نه احترازی.

وسراویل اذالم یصرف الخ: ترکیب: واو استنافیه سراویل مبتدأ **اذا** شرطیه **لم یصرف** فعل جحد مجهول ضمیر پکې مستتر دی چې تعبیر ترې کولی شی په هوسره راجع دی مبتدأته هغه نائب فاعل فعل سره د نائب فاعل نه جمله فعلیه فعل شرط فاء جزائیه **قد** حرف تحقیق **قیل** ماضی مجهوله ده **اعجمی** موصوف **حمل** فعل مجهول ضمیر پکې مستتر دی چې راجع دی سراویل ته هغه ورله نائب فاعل **علی موازنه** جارمجرور متعلق دی په حمل پورې، فعل سره دنائب فاعل او سره د متعلق نه جمله صفت شو د موصوف موصوف سره دصفت نه خبر دمبتدأمحذوفی دی چې هو دی مبتدأسره دخبر نه جمله نائب فاعل شو لپاره دقیل فعل سره دنائب فاعل نه جزاء شوه لپاره د شرط، شرط سره د جزاء نه جمله شرطیه خبر د مبتدأ، مبتدأ سره د خبر نه جمله خبریه اسمیه **وهو الاکثر** واو اعتراضیه هومبتدأ ده الاکثر یې خبر دی مبتدأسره دخبر نه جمله معترضه واقع شوې ده په مینځ دشرط اودجزاء کې لپاره د دې غرض چې جواب دسوال دی، اوسراویل الخ. مبتدأسره دخبر نه جمله اسمیه هم جمله مستانفه ده واقع شوې ده په جواب دسوال مقدر کې سوال دا دی: چې مخکې په حضاجر باندې اعتراض واردشو په قاعدی د جمع سره چې شرط پکې شته اوسبب پکې نشته نوتاهلته ځان خلاص کړو په تعمیم د جمع سره نو دا قاعده دجمع ستا منقوضه شوه په سراویل باندې دلته هم شرط شته اوسبب نشته ځکه ا اسم جنس دی جمع پکې نه اصالةً شته او نه پکې حالاً شته، مصنف جواب وکړو چې دا لفظ دسراویل چې واقع کیږي په تراکیبوکی د دې په انصراف او عدم انصراف کې د نحاتو اختلاف دی بعض ورته منصرف وایي او بعض ورته غیر منصرف وایي.

اذالم یصرف الخ په دې شرط سره چې منصرف نه شی بلکه غیر منصرف استعمال کړی شی.

سوال: اصل خو په اسماء کې انصراف دی تا عدم انصراف ولې مقدم کړو؟

جواب: وهوالاکثر یعنې څوک چې ورته غیرمنصرف وایي دا اکثر دی او څوک چې ورته منصرف وایي هغه اقل دی او العزة للتکاثر دی نوځکه می مقدم کړومثال دسراویل چې مستعمل کړی شی وی غیر منصرف کما فی قول الشاعر:

تمشی بهاذب الریاد کانه فتی فارسیٌ فی سراویل رامح

دلته سراویل مجرور بالفتحه راغلی دی اوس داڅوک چې ورته غیرمنصرف وایي نو هغه جواب کوی په دوه طریقوسره. (۱) فقد قیل په تحقیق سره ویلی شوي دي په جواب د دې اعتراض کې چې دا عجمی لفظ دی اوحمل کړی شوي دي په هغه اسماؤ چې هغه راځي په وزن دسراویل باندې لکه مصابیح او اناعیم شو خلاصه دجواب دا ده چې جمعیت عام دی که حقیقتاً وی او که حملاً وی دلته اگر چې حقیقتاً نشته لیکن حملاً شته.

سوال: تا سروویل ته غیر منصرف وویل د وجې دحمل نه په مصابیح اواناعیم باندې نو حصر د اسبابو د منع صرف په تسعو کی باطل شو ځکه چې یو سبب پکې حمل علی النظائر شو.

جواب: حصر داسبابو به هله وران شوی وی په تسعو کی چې حمل علی النظائر مستقل سبب ګرځولی وی لیکن زه خو وایم چې سبب د دې لپاره جمعیت دی خودجمعیت عام دی که حقیقتاً وی او که حملاً وی

سوال: ته وایې چې سروویل مبتدأ ده او اذا لم یصرف یې خبر دی نو سروویل خونکره ده نونکره څنګه مبتدأ واقع شوه؟ **جواب:** دا سروویل اصل کې اسم جنس دی خودلته معرفه بالعلم ده ځکه داعلم دی د هغه سروویل لپاره چې مستعملیږي په تراکیبو اوپه کلام دعربو کې.

سوال: نائب فاعل دقیل جمله وی اودلته اعجمی مفرد دی؟

جواب: نائب فاعل یواځې دا اعجمي نه دی بلکه دا خبردی لپاره د مبتدأ محذوفې مبتدأ سره د خبر نه جمله نائب فاعل واقع شوي دي دقیل لپاره.

وقیل عربی: اوچا ویلي دي چې دا عجمی نه دی بلکه عربی دی خوغیرمنصرف دی **جمع سراولة** ځکه چې داجمع دسراولة ده.

سوال: تاخومخکې وویل چې دا اسم جنس دی نوجمع ورته څنګه وایې؟

جواب: **تقدیراً** یعنې حقیقتاً جمع نده لیکن فرضاً اوتقدیراً جمع ده، اوداتقدیراً منصوب دی بنا بر مفعول مطلق دفعل مقدر ای قدرتقدیراً.

سوال: دی لفظ دسروویل ته چې تاسو عجمی وویل نو بیا مو حمل کړو په جموعو عربیوباندې نو چې عربي شې نو هم یې حمل کړي په جموعو عربیه ؤ باندې کنه اوس یې ولې نه حملوی؟

جواب: دا چې کله عجمی شی نو بیا دجموع عربیو متوطن اوعزیز نه دی او چې عربی شی نو بیا د جموع عربیومتوطن اوعزیز د ی او قانون دا دی چې عزیزدعزیز نه تابع کیږي اومتوطن دمتوطن نه تابع کیږي او غیر متوطن دمتوطن تابع کیږي **واذا صرف فلا اشکال:** او که چرته منصرف وګرځولی شی لفظ دسروویل نونشته جنس اعتراض وارده په دې باندې په قاعده دجمع باندې په واقع کې په دې ترجمی سره دفع داعتراض وشوه اعتراض دا دی چې ته وایې چې لفظ د سروویل چې منصرف شی نو بیا اشکال او اعتراض نشته دا خبره ستا صحیح نده ځکه چې داکله منصرف شی نو بیا خوپدی باندې یو عظیم الشان اعتراض واردیږی هغه دا دی چې هرکله سروویل منصرف شو نو بیا مصابیح او اناعیم ته هم منصرف ووایه ځکه چې صیغه منتهی الجموع خو سبب دمنع صرف هله وو چې نظیر یې نه وو په مفرداتو کې او اوس خو یې نظیر پیدا شو چې سروویل دی.

جواب: د دې لااشکال معنی دا ده چې اشکال نه واردیږی په قاعده دجمع باندې او چې کله غیرمنصرف شی نو بیا هغه اشکال واردیږی چې شرط شته اوسبب نشته او د دغه بل اعتراض نه جواب دا دی چې صیغه د منتهی الجموع سبب هله نه واقع کیږي چې مفرد عربي راشی په دغه وزن باندې او سروویل عجمی دی، او که عربی شی نو بیا دا صیغه دمنتهی الجموع تأثیر هله نه کوی چې نظائر یې پیدا شي مفرداتو کې چې هغه مستعمل وی په طریقه دکثرت سره او دا په طریقه دقلت سره دی، اوقلیل کالمعدوم وی.

سوال: دا صرف شرط دی اوفلا اشکال جزاء ده اوجزاء جمله وی او دا مفرد دې (بالفاظ دیگر) لااسم او خبر غواړي، نواشکال خواسم د لا دی نو خبر یې څه شو؟

جواب: خبرد دې حذف دی چې موجود دې او دا جمله جزاء واقع شوې ده.

سوال: دلته دا لفظ داذا راغلی دی د اداتو شرط نه او ادات دشرط کې یو **اذا** دی او بل **ان** دی خو فرق یې دا دی چې اذا مستعمليږي په کثیرکی او ان مستعمليږي په قلیل کې او دارنګې اذا مستعمليږی په قطع اویقین کې او ان مستعمليږي په شك او تردد کې، هم دغه وجه ده اذا راځي په کلام الله کې په طریقې دکثرت سره او ان په طریقه د قلت سره او په کلام د عبادو کې بالعکس دی.

دلته مصنف لره پکار وه چې په دې کې یې ان ذکر کړی وی ځکه دامقام مقام دشك او تردد دی.

جواب: دلته دا اول اذا په خپله معنی سره د ی او دا دویم په معنی دان سره دی اودا اذا یې ذکر کړی دی محض لپاره د دې چې موافقت یې راشی دماقبل اذاسره اود دې اذا اود هغه په مینځ کې تقابل دی باعتبار المعنی اودا اذاصرف اولم یصرف مینځ کې تقابل دی په اصطلاح دعلم بدیع کې

ونحو جوار رفعاً وجراً کقاض: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف دبیان دحکم دوجود دشرط بدون السبب نه نو شروع یې وکړه په بیان دحکم دوجوددسبب بدون الشرط کې. (۲) دا جمله مستانفه جواب دسوال دی سوال دا دی چې په جوارِ کې سبب شته چې جمعیت دی اوشرط نشته چې منتهی الجموع ده نو وجود د سبب راغلو بدون الشرط نو ایا دا منصرف دی که غیرمنصرف دی نو مصنف جواب وکړو چې **ونحو جوار** الخ مراد د دې نه هر هغه اسم دی چې جمع شوی وی په وزن د فواعل سره برابره خبره ده که واوی وی او که یائی وی مثال دواوی لکه دواعی اومثال د یائی لکه جواری شو دا پشان د قاضِ دی په حکم صوری کې چې حذف دیاء اواتصال دتنوین دی په عین کلمه کې په حالت جزی اورفعی کې اوپه حالت نصبی کې پشان دقاضِ نه دی ځکه په حالت نصبی کې جوار غیرمنصرف دی بالاتفاق د وجې د وجود د سبب او شرط نه نو منصوب بالفتحه راځي بدون التنوین او قاض منصرف دی نومنصوب بالفتحه راځي مع التنوین اوحکم نفس الامری د جوار پشان د قاض باندې نه دی ځکه چې قاض منصرف دی، اوجوار کې درې مذهبه دی. (۱) بعض وایي غیرمنصرف دی مطلقا. (۲) بعض وایي منصرف دی مطلقا.

(۳) بعض وایي غیرمنصرف دی بعدالاعلال اومنصرف دی قبل الاعلال لیکن هرکله چې په ذکر کولو د دغه مذاهب ثلاثه و سره لازمیدو طول په کلام کې اوفرض منصبی دمصنف اختصاردی او په ذکر کولو د یو سره لازمیدو ترجیح بلامرجح نوځکه مصنف دغه مذاهب ذکر نکړه او دا حکم اتفاقی یې بیان کړو.

بیان دفوائد د قیوداتو

سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی؟ **جواب:** ربط په دوه طریقوسره دی.

(۱) یو دا دی چې مخکې مصنف بیان کړو حکم د وجود دشرط بدون السبب اوس بیانوی حکم د وجود سبب بدون الشرط. (۲) دا جمله مستانفه واقع شوې ده جواب دسوال پشان د دغه مخکې جملې باندې، کیفیت دسوال دا دی چې مخکې دی معترض اعتراض کړی وو چې حضاجر او سروویل کې

شرط شته او سبب نشته خو هلته مصنف جواب وکړو چې جمعيت عام دی که اصالة وی او که حالاً وی او که حقيقتاً وی او که تقديراً وی، اوس دا معترض وايي چې جوار کې سبب شته اوشرط پکې نشته نو د دې څه حکم دی يعنې منصرف دی که غير منصرف دی؟

نو مصنف جواب وکړو چې دلته دوه حکمونه دی: (۱) يو اتفاقی دی. (۲) او بل اختلافی دی زه دلته اتفاقی بيانوم او اختلافی دلته نه بيانوم لما مر، **نحوجوار** مضاف مضاف اليه مبتدأ ده او **كقاض** خبر دی او **رفعاوجرا** منصوب دی بنا بر مفعول فيه دفعل معنوی لپاره چې يشبه دی چې مستفاد دی دکاف دکقاض نه.

سوال: مفعول فيه خو دلالت کوی په زمان يا مکان باندې او رفعاً او جراً خو دلالت نکوی په زمان او مکان باندې. **جواب:** دامفعول فيه واقع شوي دي په اعتبار دحذف دمضاف سره ای حالة الرفع وحالة الجر.

سوال: مصنف دا نحو ولې ذکر کړو خو داسې به يې ويلی وی جوار رفعاوجراكقاض.

جواب: په زيادت دنحو سره مصنف اشاره وکړه تعميم ته او که د اور سره نه وی ذکر شوی نو توهم داختصاص راتلو. **سوال:** هرکله چې نحوکی اشاره ده تعميم ته نومراد د دې نه څه شی دی؟

جواب: مراد د دې نه هر هغه اسم منقوص دی چې جمع شوی وی په وزن دفواعل باندې بيا که واوي وی او که يائی وی، مثال: د واوی نحو دواعي او يائي لکه جوار شو.

سوال: هرکله چې دا عام دی واوی او يائي ته نو مصنف مثال دواوی ولې ذکر نه کړو؟

جواب: ځکه چې اسم منقوص چې واوي وی اوجمع شی په وزن دفواعل باندې نو دهغې نه يائی جوړيږی نو ځکه يې هغه جدا ذکر نه کړو.

سوال: ته وايي چې مثل د جوار پشان دقاض دی دا تشبيه ستا نده صحيح ځکه چې قاض صيغه دمفرد ده او جوار صيغه دجمع ده، او بل دا تشبيه ستا ځکه نده صحيح چې قاض فاع وزن دی او جوار فواع وزن دی. **جواب:** دا تشبيه مصنف ورکړيده په حکم کې نه په وزن اوصيغه کې.

سوال: دا تشبيه په حکم کې هم نده صحيح ځکه چې حکم دقاض انصراف دی اوحکم دجوار کې اختلاف دی. **جواب:** حکم دوه قسمه دی: (۱) يو حکم صوری دی. (۲) حکم نفس الامری دی. داتشبيه په حکم صوری کې ده چې حذف د يا او اتصال دتنوين دی په عين کلمه کې اوتشبيه په حکم نفس الامری کې نده چې انصراف اوعدم انصراف دی.

سوال: داتشبيه دجوار دقاض سره په حکم صوری کې هم نده صحيح ځکه رأيت جواری کې داجواری غيرمنصرف دی او رأيت قاضيا دا قاضيا منصرف دی اوتنوين راغلی دی په لام کلمه د دې کې.

جواب: داتشبيه مطلقا نده بلکه صرف په حالت رفعی اوجری کې ده اوحالت نصبی کې قاضيا منون راځي اوجواری غير منون راځي.

سوال: حکم صوری دجوار خومونږه وپيژندو ليکن حکم اصلی د دې څه دی؟

جواب: هر چې دی حکم اصلی د دې چې انصراف وعدم انصراف دی نوپه هغې کې مذاهب ثلاثه دی.

(۱) يو مذهب دا دی چې دامنصرف دی قبل الاعلال وبعدالاعلال هر چې دی قبل الاعلال نود وجې

دعدم وجود د شرط نه اوبعد الاعلال ځکه چې اعلال متعلقه په جوهر دکلمه پورې مقدم دی په منع صرف باندې ځکه چې اعلال تعلق د ذات سره لری اومنع صرف تعلق دصفت سره لری، ځکه داعارض کیږي کلمې ته پس د اتمام د ذات د کلمې نه، حاصل دا دی چې جوار اصل کې جواری وو نو دیته بوطرفته اعلال متوجه وو او بل طرف ته ورته منع صرف متوجه وو لیکن اعلال متوجه وو ذات د دې ته اومنع ضرف متوجه و وصف ته اوذات مقدم وی په وصف باندې اوس هرکله چې په دی کې اعلال وشو نو شرط د جمعیت پکې ختم شونوځکه منصرف پاتې شو

سوال: داعلال نه مخکې دی ولې انصراف غوره کړو؟

جواب: ځکه چې اصل په اسماؤ کې انصراف دی. (۲) دویم مذهب دا دی چې داغیرمنصرف دی قبل الاعلال وبعدالاعلال، هر چې دی قبل الاعلال نود وجې دوجوددشرط نه سره دسبب نه او هر چې دی بعدالاعلال نوځکه چې محذوف کالمذکورروی.

سوال: هرکله چې داغیرمنصرف شو نو بیا پکې دا تنوین ولې راغلی دی؟

جواب: په غیرمنصرف کې ممتنع تنوین مطلقاً نه دی بلکه تنوین تمکن ممتنع دی داتنوین عوضی دی ځکه عوض راغلی دی دیاء محذوفه نه یاعوض راغلی دی دحرکت دیاء نه اوهم دغه وجه ده چې جاری کیږي په عین کلمه کې. (۳) اودریم مذهب دای چې دا قبل الاعلال منصرف دی او بعد الاعلال غیرمنصرف دی قبل الاعلال ځکه منصرف دی چې اصل په اسماؤکی انصراف دی او بعدالاعلال غیر منصرف دی د وجې د وجود د سبب نه سره دشرط نه ځکه چې مقدر او محذوف کالمذکورروی.

سوال: بیا په دې مذهب باندې اعتراض دی چې ستا دا خبره کمزورې ده ځکه قبل الاعلال صیغه د منتهی الجموع موجود ده حقیقتاً او ته یې نه معتبر کوی اوبعدالاعلال صیغه دمنتهی الجموع موجود ده حکما اوته ورله اعتبار ورکوی

جواب: دا دی ضعیف بې د وجود د مانع نه اقوی دی په تأثیر کې ددلیل قوی نه سره د وجود د مانع نه.

التركيب شرطه العلمية الخ بل سبب داسبابو دمنع صرف نه صیرورت د کلمتینو یا اکثر د کلمتینو دی کلمه واحده په سبب د علمیت سره بې د جزئیت ده حرف نه او ترکیب په خپله وصف دی نوصحیح دی شمیرل د دې د اسبابو د منع صرف نه بلا تاویله اوس په دې سره تعین دمصداق وشوچی سبب دمنع صرف مطلق ترکیب نه دی بلکه سبب دمنع صرف یوخاص ترکیب دی چې هغه یوقسم دی دترکیب امتزاجی نه چې دوه کلمې یوشوی وی د وجې د علمیت نه بې دجزئیت دحرف نه نوالرجل اوبصری ترې خارج شوځکه چې دلته یو جز حرف دی او دا حرف د وجې د شدت اتصال نه کالجزء گرځیدلی دی، نو دا کلمه واحده ده نو دا تأثیر نکوی په منع صرف کې او دا اطلاق د ترکیب په دې باندې په اعتبار ماکان اویه اعتبار د اصل سره دی اواطلاق د اسم او اطلاق دمفرد پدې باندې پس د علمیت نه دی نو لازم نه شو اجتماع د نقیضینو او متنافیینو او کله چې دا ترکیب عام وو په اعتبار د لفظ سره او شامل وو هر مرکب لره او مطلق مرکب سبب دمنع صرف ندی، نو وویل مصنف چې وشرطه العلمیت. شرط

لپاره د تأثير د تركيب په منع صرف كې: (۱) علميت د ما فيه التركيب دی (۲) علميت د مركب دی لپاره د دې چې داتركيب وګرځی لازم د دې كلمې سره ځكه اعلام محفوظ دی د تغير او د تبديل نه بقدرالامكان نو هر كله چې داتركيب لازم شی د كلمې سره نوقوت به پكې پيداشی، اوشی چې قوی شی نو بيا اوباسي شي لره داصل نه خلاف الاصل ته وجوبا

تشريح: سوال: معرفه اوجمع تاداسبابو دمنع صرف نه ګرځولی وو په تاويل سره نوپه دی تركيب كې تاويل ولې نكوی؟

جواب: تركيب په خپله وصف دی نوصحيح دی شميرل د دې داسبابو دمنع صرف نه بلا تاويله په خلاف دجمع اومعرفی نه هغه په خپله وصف نه وو بلكه ذات وونوځكه ماسبب واقع كړل په تاويل سره

سوال: په التركيب كې دا الف لام جنسی دی كه استغراقي دی كه عهدی دی يوهم نه صحيح كيږي كه جنسی يا استغراقي يې اخلی نوكذب لازميږي ځكه جنس تركيب يا هر فرد د افرادو دتركيب سبب د منع صرف ندی، ځكه كه جنس تركيب يا هر فرد د افراد دتركيب سبب دمنع صرف وی نو بيا پكاروه چې غلام زيد سيبويه نفطويه احد عشر غير منصرف وی، حالانكه دا خو غيرمنصرف ندی او كه الف لام عهدی اخلی نو بياد دې نه كوم تركيب مراد دې دهغې بيان پكار دی.

جواب: الف لام په التركيب كې عهدی دی اومراد د دې نه يوه نوع دتركيب امتزاجی ده چې صيرورت دكلمتينو دی يا اكثر د كلمتينو كلمه واحده په سبب د علميت سره

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په الرجل او بصری سره بعد العلميت ځكه چې دلته دكلمتينو نه كلمه واحده جوړه شوې ده په سبب د علميت سره حالانكه دا خو غيرمنصرف ندی.

جواب: مطلق صيرورت دكلمتينو نه دی مراد بلكه بې دجزئيت د حرف نه او دلته پكې يو جزء حرف دی بيا احتمالات عقليه پكې درې دی: (۱) يو دا چې دواړه اسمين وی (۲) چې دواړه فعلين وی (۳) چې يو جزء اسم وی او بل فعل وی. ليكن احدهما به پكې حرف نوی ځكه چې احدهما پكې حرف وی نو دا حرف د وجې دشدت اتصال نه ګرځی په منزلهٔ دجزء د دې كلمې باندې نوبعدالعلميت پكې دسره تركيب نشته (۲) يا مراد يوه نوع د تركيب امتزاجی ده چې صيرورت دكلمتينو مستقلتينو يا اكثر د كلمتينو دی كلمه واحده اوالرجل اوبصری كې كلمتين مستقلتين نشته

سوال: شميرل دتركيب داسباب دمنع صرف نه ندی صحيح ځكه دا تركيب يو وصف دی چې موجوديږی په مركب كې اومنع صرف يو وصف دی چې موجوديږی په مفرد كې.

جواب: ديته زه تركيب وايم په اعتبار د ماكان سره اوسبب دمنع صرف دی بعد العلميت او بعد العلميت دا مفرد دې نه مركب نو سببيت يې صحيح شو.

سوال: هر كله چې په التركيب كې الف لام عهدی شو او مراد پدې سره خاص تركيب دی چې نوع ده د تركيب امتزاجی نه نودد دې نه مونږ ته د دې علميت معلوم شو نو شرطه العلميت ذكر كول لغوه دی.

جواب: هر كله چې داتركيب په اعتبار دلفظ سره عام وو نو وويل مصنف چې وشرطه العلميت لپاره دتخصيص

سوال: ته وايې چې شرط لپاره دترکيب دی يعنې داترکيب به ضمن دعلم کې موجود يږی او بغير د علم نه نشی موجوديدلی نو غلام زيد کې خو ترکيب شته او علميت خو نشته.

جواب: دا اعتراض به تا هله کولی چې دا علميت ما شرط د وجود د ترکيب لپاره ويلی ليکن دا علميت شرط دی لپاره د تأثير د ترکيب په اسبابو د منع صرف کې ځکه چې علميت پکې راشی نو دا به قوی سبب شی.

وان لايکون باضافة: او بل شرط دا دی چې مشتمل به نوی داترکيب په علامه داضافت باندې چې جر د مضاف اليه دی پس د علميت نه ځکه اضافت تأثير کوی په مضاف کې دصرف نو څه رنګې به تأثير وکړي په مضاف اليه کې دعدم صرف ځکه مضاف اومضاف اليه د وجې دشدت اتصال نه دواړه ګرځيدلی دی کلمه واحده او په نفی دترکيب اضافی سره نفی دترکيب توصيفی هم راغله د وجې د اشتراک د دې نه دهغې سره په تقييديت کې ځکه په دې دواړو کی جز ثاني قيد دې د جزء اول لپاره.

ولا اسناد: او نه به وی دا ترکيب مشتمل په علامه داسنادباندې پس د علميت نه چې رفع ده بنابر فاعليت او نصب دی بنا برمفعوليت ځکه اعلام مشتمله په اسنادباندې دقبيلې دمبنياتو نه دی، او منصرف او غير منصرف اقسام دمعرب دی په مابين د دې کې منافات دی. او هر چې دی ترکيب تعدادی اوصوتی نو هغه خارج دی د دې نه په قرينې د ذکر کولو د هغې سره په بحث دمبنی کې نو حاجت نشته نفی کولو دهغې ته دلته کې.

تشريح: سوال: ته وايې چې **وشرطه ان لايکون باضافة** نو ته نفی داضافة قبل العلميت کوی که بعد العلميت يې کوی که قبل العلميت يې وايې نو هغه خو هسې هم خارج دی او که بعدالعلميت وايې نو بيا خو دې کې اضافت نشته. **جواب:** مراد دا دی چې نه به وی دا ترکيب مشتمل په علامه داضافت چې جردی که قبل العلميت وی او که بعد العلميت وی نوعبدالله ترينه خارج شو ځکه چې دامشتمل دی په علامه داضافت باندې چې جر دی.

سوال: دا ولې شرط شو چې دا به ترکيب اضافی نوی؟ **جواب:** ځکه اضافت تأثيرکوی په مضاف کې د انصراف نو څنګه به تأثير وکړی په مضاف اليه کې دعدم انصراف؟

سوال: داترکيب اضافی دی سبب شی د انصراف لپاره په مضاف کې اوسبب دمنع صرف دی شی په مضاف اليه کې څه نقصان به راشي؟ **جواب:** مضاف اومضاف اليه د وجې د شدت اتصال نه ګرځيدلی دی پشان دکلمه واحده باندې نو چې دا ترکيب تأثير وکړی په مضاف کې دانصراف او په مضاف اليه کې دعدم انصراف نو لازم به شی اجتماع د متنافيينو په کلمه واحده کې، **ولا اسناد:** ځکه اعلام مشتمله په علامه د اسناد باندې بعدالعلميت مبنی دی حکاية لکه تابط شرا دا استعاره اوضرب المثل دی او ديکې تغير نه دی جائز لپاره د دې چې دلالت وکړی په قصه غريبه باندې او که تغير پکې وشي نو بيا دلالت نه کوی په قصه غريبه باندې.

سوال: ته وايې چې **ولا اسناد** نو داته قبل العلميت وايې که بعدالعلميت يې وايې نو بيا ديکې اسناد نشته بلکه تابط شرا په معنی دحيوان ناطق مع هذا التشخص سره دی.

جواب: زه وایم چې مشتمل به نوی په علامه د اسناد باندې بعد العلمیت چې هغه رفع ده بنا بر فاعلیت او نصب دی بنا بر مفعولیت.

سوال: څنګه چې ترکیب کې شرط عدم د ترکیب اضافی دی نو عدم د ترکیب توصیفی هم شرط دی مګر دی ولې ذکر نه کړو؟ **جواب:** په نفی د ترکیب اضافی سره نفی د ترکیب توصیفی هم راغله ځکه د دې معنی دا ده چې نه به وي ترکیب تقیدی او تقیدی کې دا دواړه شریک دي ځکه لکه څنګه چې مضاف الیه قید وي لپاره د مضاف نو دارنګه صفت هم قید وي لپاره د موصوف.

سوال: دی کې خو عدم د ترکیب صوتی او تعدادی هم شرط دی هغه دی ولې نفی نکړه؟

جواب: هر کله چې ترکیب صوتی او تعدادي خارج وو د دې نه په قرینه د ذکر د هغې سره په بحث د مبنیاتو کې نو د هغې خارج کولو ته ضرورت پاتې نه شو یعنې په هغه ذکر باندې اکتفاء وکړی شوه.

سوال: اکتفاء په سابق سره کولی شی په لاحق کې او اکتفاء په لاحق سره په سابق کې نه شی کولی نو تا څنګه اکتفاء وکړه په لاحق سره په سابق کې؟

جواب: یو متن دی او یوه شرح ده په شرح کې اکتفاء په سابق سره کولی شی په لاحق کې او اکتفاء په لاحق سره نه شی کولی په سابق کې او متن کې اکتفاء په دواړو سره کولی شی ځکه مبنی د متونو په اختصار ده.

سوال: لکه څنګه چې ترکیب اسنادی تقییدی صوتی بنائی منفی دی دارنګې ترکیب عطفی هم منفی دی هغې دی ولې نفی نه کړو؟

جواب: هغه خارج دی د دې نه په قرینې دمقام سره ځکه دلته مراد د ترکیب نه ترکیب امتزاجی دی او د ترکیب عطفی نه امتزاجی نه جوړیږي، مثال لکه بعلبك شو دا مثال دهغې دی چې دواړه کلمې اسمین وی او چې یو اسم او بل فعل وی لکه معدیکرب او حضرموت شو او هر چې دی مرکب دفعلین نه دا مجرد احتمال عقلی دی په خارج کې وجود نه لري، نو د بعلبك او معدیکرب او حضرموت ټول غیر منصرف دی د وجې د علمیت او د ترکیب نه په بعلبك کې دا ترکیب سبب دمنع صرف دی په جزء ثانی کې او سبب دبنادی په جزء اول کې بنا په مذهب مختار باندې، پس زده کړه دا خبره چې په بعلبك کې درې مذهبونه دی افصح او اصح مذهب پکې دا دی چې جزء ثانی غیرمنصرف دی او جزء اول مبنی علی الفتحه دی. (۲) دویم مذهب پکې دا دی: چې جزء ثانی معرب غیرمنصرف دی او جزء اول معرب دی په اعراب دمنصرف سره. (۳) جزء اول معرب دی په اعراب دمنصرف سره او جزء ثانی مضاف الیه مجرور دی.

الالف والنون: بل سبب دا سبابو دمنع صرف نه الف دی سره د نون نه دلته دا واو بمعنی مع دی ځکه دالف سره دنون نه سبب دمنع صرف ګرځی او الالف والنون کې الف لام عهدی دی مراد د دې نه الف او نون زائدتان یاشبیهتان دی ځکه مزید فرع د مزید علیه وی او مشبه فرع دمشبه به وی دی ترجمی سره دوه خبرې وشوې یو اظهار داختلاف، او بل دفع داعتراض وشوه اعتراض دا دی: چې شمیرل دالف او نون دا سباب دمنع صرف نه صحیح نه دی ځکه اسباب دقبیلې دا وصافونه وی او دا ذوات دی نو جواب وشو چې دا په حقیقت کې ترکیب توصیفی وو لیکن هغه صفت مصنف پریخودی اختصاراد وجې دشهرت

نه، دا مشهور دی چې دا الف او نون زائدتان دی یاشبیهتان دی، اوترکیب توصیفی کې صفت مقصودوی نو دا الف او نون داسباب دمنع صرف نه دی په اعتبار د وصف سره نه په اعتبار د ذات سره. (۲) دویم په دی کې د نحاتو خلاف دی چې هغه صفت یې څه شی دی نوبعض وایي چې هغه زیادت دی ځکه چې مزیدفرع د مزید علیه وی او بعض وایي چې مشابهت دی ځکه چې مشبه فرع دمشبه به وی، اوس دا د چا سره مشابه دی نو دا مشابه دی دالفی التأنیث سره په عدم قبول دتاء کې صرف دومره فرق دی چې دا الفی التأنیث نه وروسته تاء ممتنع ده بالکل راتلی نشی اودلته تاء ممتنع نده ځکه د دې په مؤنث کې تا رانغله نو دا به تأثیرکوی، او که تاء پکی راغله نو بیا به تأثیرنه کوی اود زیادت معنې دا ده چې دا مقابله دفاء عین لام کلمه کې نوی راغلی، یا دا معنی ده چې دادحروف زوائدو نه دی چې حروف د سألتمونیها. هویت السمانا، الیوم تنسها دی، بیا شارحینو دی اول مذهب لره ترجیح ورکړیده چې دا الف او نون سبب دمنع صرف دی په اعتبار دمشابهت سره ځکه په دې توجیه چې علت موجود وي نو معلول هم موجود وي او چې علت نه وی موجود نو معلول هم نوی موجود، اوپدی بل مذهب باندې اعتراض دی چې زه به درته وښائم چې ستاسوعلت به موجود وي چې زیادت دی اومعلول به نوی موجود چې منع صرف دی لکه ندمان کې شو اګر چې هغه جواب کو ی چې د دې حروفویه اخیر کې چې تاراغله نو هغه زیادت ختم شو دا حکماً پښان دحروف اصلیه ؤشوځکه مراد په زیادت سره زیادت کامله دی چې وروسته ورسره بل حرف نوی راغلی بیا دا الف اونون کله راځي په اسم جامدکی او کله راځي په مشتقی کې.

ان کانتا فی اسم الخ: پس شرط لپاره دتأثیر دالف اونون د دې جهت نه چې سبب واحده دی یا شرط لپاره د هغه اسم چې مشتمل دی په الف او نون باندې علَمیت د اسم دی لپاره د دې چې الف او نون وګرځی لازم د کلمې سره ځکه اعلام محفوظ دی دتغیر اوتبدیل نه بقدرالامکان نو هر کله چې پکې قوت راغلو نو تأثیر به وکړی وجوبا.

سوال: دا شرطه ضمیر چا ته راجع دی یا به دا راجع وی الف اونون ته او یا به راجع وی اسم ته که الف اونون ته راجع شی نومطابقت نشته په مابین دمرجع اودضمیر کې او که راجع وی اسم ته نو ځکه نه دی صحیح چې شرط داسبابولپاره وی نه د اسم لپاره.

جواب: دا راجع دی الف او نون ته د دې جهت نه چې داسبب واحد دې.

سوال: ان کانتا کې ورته ضمیر دتثنیه ولې راجع شوي دي؟ **جواب:** د دې الف اونون لپاره دوه اعتباره دی یواعتبار دذات دی او بل اعتباردسببیت دی په اعتبار د ذات سره تثنیه ده اوپه اعتباردسببیت سره مفرد دې نوضمیر دان کانتا ورته راجع دی په اعتبار د ذات سره اوضمیر د شرطه ورته راجع دی په اعتبار دسببیت سره. (۲) یاشرطه کې ضمیر راجع دی اسم ته اودا اضافت لامی دی ادنی مناسبت غواړي اودلته مناسبت شته هغه دا دی چې دا اسم مشتمل دی په دې الف او نون باندې.

سوال: داعلَمیت ورله ولې شرط شو؟

جواب: د دې لپاره چې دالف اونون لازم وګرځی د دې کلمې سره ځکه چې اعلام محفوظ وی د تغیراو تبدیل نه بقدرالامکان نو هر کله چې دالازم وګرځیدل د کلمې سره نو بیا به تأثیر کوی وجوبا مثال لکه عمران شو نو دی کې یوعلمیت دی او بل پکې الف اونون مزیدتان دی اوسعدان منصرف دی ځکه الف او نون پکې راغلی دی لیکن شرط نشته چې علمیت دی.

سوال: حسان اوعفان منصرف دی که غیرمنصرف دی؟ **جواب:** داحسان به خالي نوی یا به مشتق وی د حس نه او یا به مشتق وی دحسن نه که اول وو نو غیرمنصرف دی ځکه الف اونون پکې مزیدتان دی او که ثانی شی نو بیا منصرف دی اوعفان که دعفت نه شی نوغیرمنصرف ده‌ی او که دعفونت اوتعفن نه مشتق شی نومنصرف دی ځکه چې نون پکې اصلی دی

او صفة فانتفاء فعلانة: دا صفة مجرور دی عطف دی په اسم باندې اوماقبل دمعطوف علیه معاد وي د معطوف سره نوتقدیردعبارت دارنګې شو چې ان کانتا فی صفة فشرطه انتفاء فعلانة

سوال: عطف دصفة په اسم باندې نه دی صحیح، ځکه چې صفة هم اسم دی نوعطف د شي علی نفسه راغلو او عطف خو تقاضه دمغائرت کوی (بالفاظ دیګر) یا اعتراض داسې دی چې ستاپه کلام کې تناقض دی ځکه کله وایې دا چې په اسم کې راشی نوشرط د دې لپاره علمیت دی او کله وایې چې شرط د دې لپاره انتفاء دفعلانة دی چې کله راشی په اسم کې ځکه چې صفت هم اسم دی .

جواب: دا دی چې اسم په ډیرو معنوسره راځي. (۱) کله مقابل دفعل اوحرف راځي. (۲) کله مقابل دلقب او کنیه راځي. (۳) او کله مقابل دصفت راځي نو دلته اسم مقابل دصفت دی نوعطف دصفت په اسم باندې صحیح شو اوپه کلام کې تناقض هم رانغلو.

ترجمه: که چرته دا الف او نون موجود وو په مشتقی کې نوشرط لپاره دتأثیر د دې په اسبابو د منع صرف کې انتفاء د فعلانة دی په دې شان سره چې په کوم مشتقی کې چې دا الف اونون راغلی وو د دغه مشتقی مؤنث به په تاء سره نوی راغلی بیا برابره خبره ده که په وزن دفَعلانة وی که په وزن فعلانة وی که فُعلانة وی، لپاره دبقاء دمشابهت دالفي التأنیث سره چې هغه علت دی لپاره دتأثیر.

سوال: ته وایې چې شرط د دې انتفاء د فعلانة دی نو زه ستا نه تپوس کوم چې ته فعلانة وایې په فتحی د فاء سره که فعلانة وایې په ضمی دفاء سره که فِعلانة وایې نو بیا عریان ته غیرمنصرف ووایه، ځکه مؤنث د دې په وزن دفَعلانة باندې نده راغلی بلکه په وزن دفِعلانة راغلی ده، او که فُعلانة وایې نو بیا ندمان ته غیر منصرف ووایه ځکه د دې مؤنث په وزن د فُعلانة نده راغلی بلکه په وزن د فَعلانة راغلي ده.

جواب: مراد د دې نه دا دی چې مؤنث د دې به متلبس بالتاء نوی بیا برابره خبره ده که فُعلانة په وزن او که فَعلانة په وزن وی او که فعلانة په وزن وی.

وقیل وُجود فعلی: او چا ویلې دي دی چې شرط د دې وجود دفعلی دی په دې شان سره چې مؤنث د دې به بالالف وی لپاره دتیقن په مشابهت باندې ځکه داتأنیث لفظی اوتأنیث بالالف دلیل لفظی اوقطعی دی لپاره دانتفاء دمؤنث بالتاء، اوس دایقین څنګه راځي نوحقیقت کې د دې دواړو قولینو مدعی یوه ده

چې هغه عدم دتاء دی اوس دغه قیل اول وایي چې نفس وجود دمدعی راغلونودومره کافی ده بیاکه یقین وی او که نوی اوداقیل ثانی وایي چې په هغه مدعی باندې ستایقین راشی چې عدم دتاء دی ځکه تأنیث بالالف دلیل قطعی دی په عدم دتاء باندې اوپه کومه مدعی باندې چې دلیل موجودوی هغه یقینی وی، نو د دې اول قیل په نیز دا شرط عدمی دی اوددویم قیل په نیزداشرط وجودي دی.

سوال: په دې خلاف باندې څه ثمره مرتب ده؟

جواب: ومن ثم د وجې د اختلاف نه په دې شرط کې چې دقیلْ اول شرط عدمی دی اودقیل ثانی شرط وجودی دی **اختلف** اختلاف کړی شوي دي په صرف اوعدم صرف درحمن کې قیل اول ورته غیرمنصرف وایي ځکه د هغه شرط موجود دی او قیل ثانی ورته منصرف وایي ځکه د هغه شرط نه دی موجود ځکه چې مؤنث د دې نده راغلی په وزن دفعلی باندې ځکه چې مؤنث یې بالکل شته نه.

سوال: نه وایې چې ومن ثم **اختلف فی رحمن** نوپه رحمن کې خواختلاف کفردی؟

جواب: اختلاف په مسمی درحمن کې نه دی بلکه په لفظ درحمن کې دی.

سوال: لفظ کې خوهم اختلاف نشته بلکه اتفاق دی په دې چې د دې اطلاق دالله نه علاوه په بل چاباندې نه کیږي ځکه عبدالرحمن ته رحمان ویل جائز نه دی.

جواب: اختلاف په اطلاق د دې لفظ کې نه دی بلکه په صرف اوعدم دصرف کې یې اختلاف دی.

سوال: دا اختلاف هم نه دی صحیح ځکه چې استعمال دعربو ته به گوروکه هغوی پدی باندې کسره اوتنوین ویل نو دا به منصرف وی او که نه یې ویل نوغیرمنصرف به وی. نواختلاف دکوم ځای نه راغلو؟ **جواب:** داستعمال نه د دې انصراف اوعدم انصراف نه معلومیږي ځکه چې عربو دامستعمل کړی دی په طرق ثلاثه ؤ سره. (۱) معرف باللام نحو ﴿ ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَّمَ ٱلْقُرْءَانَ ﴾ منادی نحویارحمن. (۳) مضاف نحو یارحمن الدنیاوالاخرة او په دې کې دانصراف اوعدم انصراف پته نه لگی ځکه چې منادی خو دقبیلې دمبنیاتو نه ده اودالف لام او اضافت د وجې نه خو د غیرمنصرف نه منصرف جوړیږی نوپته نه لگی چې دا غیرمنصرف وو اوس منصرف شواو که وضعا منصرف وو.

سوال: اختلاف په داسې خبره کې پکار وي چې په هغې باندې څه فائده مرتبه وی نوپدی څه فائده مرتب ده؟ **جواب:** په دې فائده مرتبه ده هغه دا چې مثلا یوسړی قسم وخوری چې زه به په غیرمنصرف باندې تلفظ نه کوم او تلفظ یې وکړو په رحمن باندې نوآیا داسړی حانث دی او که ندی، نوموږبه وگوروکه داپه مذهب د هغه چا باندې وو چې دهغوی په نیز باندې داغیرمنصرف دی نو بیا حانث دی او که په دې بل مذهب وو نو بیا حانث ندی.

دون سکران اواختلاف نه دی کړی شوی په سکران کې بلکه داغیرمنصرف دی بالاتفاق د وجې د وجود دشرطینو نه **وندمان** او اختلاف ندی کړی شوی په ندمان کې په دې شان سره چې دا منصرف دی بالاتفاق د وجې دانتفاء دشرطینو نه لکن ندمان په دوه معنوکی مستعمل کیږي ځکه د دې هغه

مصدراو مبدا دوه قسم دی، دا هله منصرف دی بالاتفاق چې په معنی دندیم سره شی او مشتق شی
دمنادمت نه په معنی دمصاحبت سره او که ندمان په معنی دنادم سره شی او مشتق شی د ندم نه په
معنی دپښیمانتیا نو بیا غیرمنصرف دی بالاتفاق پشان دسکران او مؤنث یې ندمی راځي
وزن الفعل: بل سبب داسبابو دمنع صرف نه کون د اسم دی موزون په داسې وزن سره چې هغه شمیرلی
شی د اوزان دفعل نه **شرطه** شرط لپاره دتأثیر دوزن فعل په سببیت دمنع صرف کی.
ان یختص به: اختصاص د دې وزن د ی په فعل پورې په دې شان سره چې داوزن نه موجودیږی په اسم کښې
وضعا او اصالة مگر موجودیږی پس د نقل د فعلیت نه اسمیت ته چې واضع فعل وضع کړی دی او
مستعمل کړي یې دي په اسم کې مثال لکه **شمر** شوداغیرمنصرف دی د وجې د علمیت او وزن فعل نه او
شرطه چې دا وزن مختص دی په فعل پورې څکه په دې وزن اولا دوضع دواضع نه اسم نه دی موندلی
شوی، یا لکه ضرب شو چې د چا لپاره یې علم واخلی نو یو پکې علمیت دی او بل پکې وزن فعل دی.
سوال: وزن فعل خو موجود دی په فعل کې او منع صرف راځي په اسم کې نو داځنګه سبب دمنع صرف
ګرځی؟ **جواب:** مراد هغه وزن فعل نه دی چې فعل کې موجود دې بلکه مراد هغه اسم دی چې راغلی وی
په وزن دفعل باندې یعنې اصل وضع کې فعل وو خو بیا نقل کړی شواسم ته یعنې اسم وګرځولی شو.
سوال: شمیرل د دې نه دی صحیح داسباب دمنع صرف نه څکه اسباب دقبیلې داوصافونه دی او وزن
فعل هغه اسم ته وایي چې راغلی وی په وزن دفعل نو دا خوذات شو.
جواب: مرادکون د اسم دی په یو وزن داسې وزن یعد من اوزان الفعل اودا په دې معنی سره دلالت کوی
په صرف وصف باندې.
سوال: ته وایي چې شرط لپاره د دې وزن فعل اختصاص د دې وزن دی په فعل پورې دا خبره نده صحیح
څکه چې ضرب دحرج وزن فعل دي حالانکه دا خو خاص نه دی په فعل پورې بلکه په دې وزن باندې
خو اسم هم راځي.
جواب: دا اعتراض به تا هله کولی چې ما داشرط لپاره دوجوددوزن فعل ویلی حالانکه داشرط د وجود
د وزن فعل نه دی بلکه داشرط لپاره دتأثیر د دې په منع صرف کې.
سوال: زه ستا نه تپوس کوم چې داوزن فعل په اسم کې موجود وایي اوکنه که موجود نه وایي نو بیا دا
سبب نه شواو که موجودیی وایي نو بیا دامختص نه شو په فعل پورې.
جواب: زه یې موجود وایم په اسم کې خو اولا او بالذات نه بلکه پس دنقل نه نواختصاص یې په اعتبار د
ابتداء سره دی او وجود د دې په اسم کې بعدالنقل دی.
سوال: وزن مختصه څه ته وایي؟ **جواب:** وزن دفعل دوه قسمه دی. (۱) وزن مختصه. (۲) وزن مشترکه.
وزن مختصه هغې ته وایي چې اولا پدې صرف فعل راغلی وی نه اسم، اووزن مشترکه دیته وایي چې
اولا پدې فعل اواسم دواړو راغلی وی، پس زده کړه داخبره چې ټول اوزان دفعل اته دی

(۱) ماضی معلوم د ثلاثی مجردو. (۲) ماضی مجهول دثلاثی مجردو. (۳) ماضی معلوم د ثلاثی مزیدو. (۴) ماضی مجهول دثلاثی مزیدو. (۵) ماضی معلوم درباعی مجردو. (۶) ماضی مجهول د رباعی مجردو (۷) ماضی معلوم درباعی مزیدو. (۸) ماضی مجهول درباعی مزیدو

پدی اته اوزانو کې ماضی معلوم دثلاثی مجردو او ماضی معلوم درباعی مجردو اوزان مشترکه دی او د دې نه علاوه دا نور ټول اوزان مختصه دی. اوس که چرته د ماضی معلوم د ثلاثی مجردو یا ماضي معلوم د رباعی مجردو په وزن باندې یو اسم راشی نو دا به غیرمنصرف نوي لهذا اصنعوا لآل جعفر طعاما کې دا جعفر منصرف دی نو لال جعفرٍ ویل صحیح دي نه جعفرَ ځکه چې دا په وزن دفعلل باندې او دا وزن دماضی معلوم درباعی مجردو دی نو اګرچې وزن دفعل پکې شته لیکن شرط په وزن فعل کې اختصاص دی او دا وزن مشترکه دی نه مختص البته دبعض نحات په نیز باندې لکه یونس او عیسیٰ بن عمرو النحوی وزن فعل مطلقاسبب دمنع صرف دی نودهغوپه نیز باندې غیرمنصرف دی.

کشمر وضرب دوه مثالونه یې ذکر کړه دوزن فعل قسم اول لپاره ځکه تعدد دمثال بنا دی په تعددد ممثل باندې، شمر مثال دمعلوم دی اوضرب مثال دمجهول دی. (۲) شمر مثال دثلاثی مزید دې او ضرب مثال دثلاثی مجردو دی. (۳) شمر مثال د هغې دی چې غیر منصرف دی بالفعل ځکه دا علم دی او ضرب مثال د هغې دی چې غیرمنصرف دی بالقوة یعنې دا به غیرمنصرف هله ګرځی چې علم شی د چا لپاره، شمر نوم دی د اس د حجاج بن یوسف لپاره او تشمیر اصل کې ویلی شی بدو وهلو ته دا کنایه ده د منډو نه او دغه اس ته هم شمر ځکه وایي چې دا تیز رفتاري وو.

سوال: دا ضرب ثلاثی مجرد دی او شمر ثلاثی مزید دی نو دا مزید یې ولې مقدم کړو په مجرد باندې؟

جواب: شمر اګر چې مزید دی لیکن دا معلوم دی او معلوم اصل دی دمجهول نه. (۲) اودویمه وجه د تقدیم هم دغه ده چې شمرغیر منصرف بالفعل دی او ضرب غیر منصرف بالقوه دی.

سوال: څه وجه ده مصنف لره چې د ثلاثي مجردونه یې ماضی مجهوله ذکر کړه او ماضي معلومه یې ذکر نه کړه؟ **جواب:** ځکه ماضی معلوم دثلاثی مجردو اګر چې علم شی د چا لپاره نو سبب د عدم انصراف نه دی بلکه بیا هم منصرف دی ځکه د وجې د انتفاء د شرط نه چې اختصاص دی.

سوال: ته وایې چې ماضی معلوم د ثلاثي مزیدو مختصه دهٔ په فعل پورې او د اوزن په اسم کې نه دی موجود شوی نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په بقم اوسلم باندې، بقم نوم د یو رنګ دی او سلم نوم د یو خای دی دا اسمین دی او موجود شوی دی اولاً د وضع د واضع نه په دې وزن باندې.

جواب: مونږه وایو چې ماضی معلوم د ثلاثی مزیدو او ماضي مجهول دثلاثی مجردو د اوزان مختصه د فعل نه دی خوپه کلام دعربو کې اوبقم اوسلم الفاظ عجمیه دی نه الفاظ عربیه.

او یکون فی اوله زیادة کزیادته غیرقابل للتاء: یاشرط لپاره دتأثیر دوزن فعل په سببیت دمنع صرف کې دا دی چې وي به په جانب اول د هغه اسم کې چې په وزن دفعل سره دی.

زیادة حرف زائد کزیادته: پشان د حرف زائده دفعل چې هغه یو د حروف اتین نه دی په حال کون د دې اسم کې چې دی به قابل نه وي لپاره دتاء تأنیثی قیاسی د هغه جهت نه چې دکوم جهت نه غیرمنصرف

دی، دلیل د دې شرط لپاره دا دی چې دا تاء د خواص معظمه ؤ مکبره ؤ د اسم نه ده نو پدې سره قوی کیږي جهت د اسمیت او ضعیف کیږي جهت د مشابهت بیا د اوزن فعل قسم ثاني وجوبا تأثیرنه شي کولی او کلمه د او پدې مقام کې د مانعة الخلو لپاره ده نه د انفصال حقیقي لپاره نو اسم غیرمنصرف کیږي د یو د وجې نه او چې یو اسم کې دواړه موجود شي نوپه طریق اولی سره غیرمنصرف دی، دا یکون عطف دی په یختص باندې نوځکه منصوب دی، ځکه ماقبل د معطوف علیه معاد وی د معطوف سره نو تقدیر د عبارت دا شو چې

وشرطه ان یکون فی اوله الخ فی اوله جار مجرور په اعتبار دمتعلق سره خبرمقدم دیکون لپاره اوزیادة مصدر دی کاف بمعنی مثل مضاف زیادة مضاف الیه مضاف ه مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو دمضاف مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول مطلق دی دزیادة لپاره.

سوال: اوله کې ضمیر راجع دی وزن فعل ته دانده صحیح ځکه چې وزن فعل امر معنوی دی او اول ورله نشته بلکه اول ثابت دی دلفظ لپاره. **جواب:** د دې دا معنی نده چې وی به په اول دوزن فعل کې بلکه معنی د دې دا ده چې وی به په اول د هغه اسم کې چې هغه راغلی وی په وزن دفعل باندې، نو پدیکې صنعة استخدام دی ځکه چې وزن الفعل نه مرادکون د اسم دی علی وزن الفعل او دا ضمیر دغه کون ته نه دی راجع بلکه دا راجع دی هغه اسم ته.

سوال: زیادت خو مصدر دی په خارج کې وجودنه لری؟ **جواب:** زیادت مصدر مبنی للفاعل دی اوصفت دی دموصوف محذوف لپاره نوتقدیر دعبارت دارنګې دی حرف زائد.

سوال: اول د اسم ندی مګر دغه حرف زائد دې نو دا خو لازم شوظرفیت د شي لنفسه.

جواب: دا عبارت په حذف دمضاف سره دی یعني او یکون فی جانب اوله زیادة الخ.

سوال: ته وایي چې بل سبب داسبابو د منع صرف نه وزن فعل دی اود دې دوه شرطونه دی اودا دی ذکر کړه په کلمه د او سره اوکله دا او راځي داحدالامرین لپاره نو دا قاعده ستامنقوضه شوه په اکرم باندې چې دچا لپاره علم شی ځکه چې په دې کې دواړه موجود دي

جواب: دا کلمه د او په دې مقام کې دمانعة الخلو لپاره دی نه دانفصال حقیقي لپاره.

سوال: ته وایي چې **اویکون فی اوله زیادة کزیادته غیر قابل للتاء** دا قاعده ستامنقوضه شوه په اربع باندې ځکه چې دا بعدالعلمیت غیرمنصرف دی د وجې د علمیت اووزن فعل قسم ثاني نه حالانکه دا خوقابل د تاء دی لکه اربعة رجال کې تاراغلی ده.

جواب: مراد د تاءنه په دې مقام کې تاء قیاسی ده اودغه تاء خلاف القیاس ده.

سوال: دا قاعده ستامنقوضه شوه په اسودباندې ځکه په دې کې یووزن فعل دی او بل پکې علمیت دی او دا قابل داتاء دی قیاسی ځکه مؤنث یې اسودة راځي.

جواب: د دې مطلب دا دی چې دا به قابل دتاء قیاسی نوی په دغه اعتبار سره په کوم اعتبار سره چې غیر منصرف وی او دا غیرمنصرف دی د وجې د وصفیت اصلی نه او وصفیت اصلی چې ترې مراد شي نو بیا پدی کې تاء نه راځي یعني مؤنث یې بیا اسودة نه راځي بلکه سوداء راځي اومؤنث د دې

اسودة راځي دعلم نوع د وجې نه **ومن ثم** او د وجې داشتراط دعدم قبول دتاء تأنيث نه ممتنع شو احمر
ځکه د دې مؤنث راځي حمراء منصرف شو يعمل د وجې دانتفاء دشرط نه چې عدم قبول دتاء تأنيث
قياسي وو ځکه دا په مذکر کې جمل يعمل ويلی کيږي اوپه مؤنث کې ناقة يعملة ويلی کيږي نو دا
منصرف دی، ليکن قبل العلميت او که دا د چا لپاره علم شي نو بيا غيرمنصرف دی د وجې د علميت
اووزن فعل نه قسم ثاني نه نو بيا دا قابل د تاء ندی.

وماليه علميت مؤثرة الخ: غرض دمصنف د دې عبارت نه دوه خبرې دی (۱) يو خو بيان د دويم سبب دی
لپاره د منصرف جعلی چې تنکيربعدالعلميت دی (۲) او دويم غرض د مصنف بيان د يو قاعده کليه
او حکم کلي دی هغه دا دی چې يواسم معرب دی او غيرمنصرف دی د علميت اودبل سبب د وجې نه
اوس د دې نه چې ته نکره جوړه کړی نوعلميت ترې لاړو دتنکير په وجه باندې نودغه اسم به منصرف
ګرځي ځکه چې دا يا خو بلاسببه پاتې شو او يا بسبب واحد پاتې شو.

ترجمه: وما هر هغه غيرمنصرف **فيه** چې کائن وی په دی غيرمنصرف کې علميت داسې علميت چې
مؤثر دی په منع صرف کې يا په طريقه دشرطيت سره يعني سبب هم وی او شرط هم وی او دا په **څلورو**
ځايونوکی راځي (۱) تأنيث لفظي ومعنوی (۲) عجمه (۳) ترکيب (۴) الف نون مزيدتان او يا په
طريقه دسببيت محضه سره وی او دا په دوه ځايونو کې راځي (۱) په عدل کې (۲) په وزن فعل کې
اوعلميت سره يې احتراز وکړو د هغه غيرمنصرف نه چې علميت پکې نوی لکه ثلث مثلث احمر وغيره
شو **او مؤثره** سره يې احتراز وکړو د هغې نه چې علميت پکې موجود دی ليکن مؤثر نه وی لکه حبلی او
مساجد چې د چا لپاره علم شي.

اذانکر: کله چې نکره وګرځولی شي دغه غيرمنصرف په ازالې د علميت سره په يو د طرق ثلاثه ؤ سره.

(۱) چې د دې غيرمنصرف نه فرد مبهم د مفهوم کلي واخستی شي که چرته وو داعلم جنس.

(۲) ياد دې نه مسمی بالعلم اراده کړی شي که وو دا علم شخص مشترک.

(۳) يا اراده کړی شي د دې نه وصف مشهور که چرته وو دا علم شخص **صرف** نو دا منصرف کيږي.

تشريح: دا ما په دې عبارت دمصنف کې موصوله دی ځکه دا واقع دی په جانب د مبتدأ کې او قاعده
داده چې ما چې واقع شي په جانب د مبتدأ کې نو موصوليت پکې اولی وی د موصوفيت نه، **فيه** خبر
مقدم **علميت** موصوف **مؤثرة** يې صفت دی موصوف سره دصفت نه مبتدأ مؤخره ده مبتدأسره دخبره نه
جمله اسميه صله دموصول سره دصلی نه نه مبتدأ ده، **اذا** شرطيه دی **نکر** شرط، او صرف يې جزا ده دا
جمله شرطيه خبر د مبتدأشو، يا اذا ظرفيه دی، نو صرف فعل ماضی مجهول ضمير مستتر يې نائب
فاعل او **اذا نکر** مفعول فيه ظرف زمان دی دا مجموعه بيا خبر د مبتدأشو، او دا کلمه د ما عبارت دی
د غيرمنصرف نه او دليل او قرينه په دې باندې دا مقام دی ځکه چې بحث مونږه په انصراف اوعدم
انصراف کې شروع دی.

سوال: ومافيه علميت دا قضيه موجبه ده او سور د موجبې کليې پکې نشته چې الف لام استغراقي يا کل دی نو ته ترجمه داستغراق دکوم ځای نه کوی؟

جواب: دا قضيه موجبه مهمله ده او په قوت د موجبه کليه کې ده نو ځکه ما ترجمه د موجبې کليې وکړه، پس زده کړه دا خبره چې قضيه په اعتبار د موضوع سره څلور قسمه ده

(۱) شخصيه (۲) طبعيه (۳) محصوره (۴) مهمله

وجه د حصر: پکې دا ده چې دا موضوع د دې قضيه به خالي نه وي يا به جزئي وی او يا به کلي وي که جزئي وو نو شخصيه نحو زيدقائم او که کلي وو نو بيا به خالي نه وي يا به محمول ثابت وي طبيعت د موضوع لره يا افرادو د موضوع لره، که طبيعت لره ثابت وو نو طبعيه نحو الانسان نوع، الحيوان جنس وغيره، او که دا محمول ثابت وو افرادو د موضوع لره نو بيا به خالي نوی يا به کميت د افرادو بيان شوی وی کلاً يا بعضاً او يا به نوی بيان شوی که نه وو بيان شوی نو مهمله ورته وايي، او که بيان شوی وو نو بيا به خالي نوی يا به کلاً وي يا بعضاً، که کلاً وو نو بيا به خالي نوی يا به اثباتا وی او يا به نفياً وی که اثباتاً وو نو قضيه محصوره موجبه کليه او که نفياً وو نو محصوره سالبه کليه. او که بعضاً وو نو بيا به خالي نوی يا به اثباتاً وی او يا به نفياً وی که اثباتا وو نو قضيه محصوره موجبه جزيه ورته وايي، او که نفيا وو نو قضيه محصوره سالبه جزيه ورته وايي، اوس چې دا کميت د افرادو پکې نه وو بيان شوی نو ديته مهمله ولې وايي؟ نو ځکه چې مهمله داهمال نه ده اهمال ترک ته وايي اودلته هم ترك دبيان دکميت شوي دي. اوس دا ما فيه الخ قضيه مهمله ده ځکه چې موضوع د دې دغيرمنصرف نه عبارت دی اوهغه کلي دی او دا محمول ثابت شوی دی افرادو لره اوکميت د افرادو نه دی بيان شوی

سوال: قضيه مهمله خوپه قوت دجزئيه کې وی نومعنی د دې داشوه چې بعض غيرمنصرف چې علميت مؤثره پکې وی هغه چې نکره شي نومنصرف کيږي اوبعض نه منصرف کيږي، حالانکه داسې خو نه ده بلکه هر هغه غيرمنصرف چې علميت پکې مؤثر وی اوهغه نکره شی نو منصرف کيږي.

جواب: قضيه مهمله دوه قسمه ده. (۱) يوه مهملة العلوم ده او بله مهملة المحاورات ده، مهملة المحاورات په قوت دموجبه جزئيه کې وی، اومهملة العلوم په قوت دموجبه کليه کې وی، او دلته دا مهملة العلوم ده نوپه قوت دموجبه کليه کې ده ځکه چې په علوموکی کليات بيانولی شی نه جزئيات نو ځکه مونږه ترجمه دموجبی کليی وکړه.

سوال: اذا نکرشرط دی او**صرف** جزاء ده او دا شرط چې نکر دی داماضی مجهول ده دباب تفعيل نه او دا جزاء چې صرف ده دا يې ذکر کړه ماضی مجهول دمجردونه په دی کې څه نکته ده.

جواب: په دی کې اشاره ده دی خبری ته چې اسم نه نکره جوړول زما اوستاکاردی اوچې يوځل ترې نکره جوړه شوه نو بيا منصرف کيدل زما اوستا کار نه دی بلکه دغه اسم خود بخود منصرف کيږي.

سوال: د دې اسم نه به نکره څنګه جوړيږی **جواب:** داجوړيږی په ازالی د علميت سره اوازاله د علميت کولی شی په يو دطرق ثلاثه ؤ نه يوه. (۱) چې اراده کړی شی د دې اسم نه فردمبهم د مفهوم کلی که چرته

وو دغه اسم علم جنس لکه داسامه نه چې ته مفهوم کلی اراده کړی نو غیرمنصرف دی او که فرد مبهم د مفهوم کلی ترې اراده کړی بیا منصرف دی، ځکه چې نکره شوه پشان د اسد باندې
(۲) دویمه طریقه دا ده چې اراده کړی شی ددغه علم نه مسمی بالعلم لکه جاءنی زید، وزید آخر، یا جاءنی عمر وعمر آخر اوس په دې مقام کې د دې زیدثانی نه مراد مسمی بزید دې او د عمر ثانی نه مراد مسمی بعمر دی، نونکره شوه نومنصرف شو اوتوصیف یې هم په اخر سره صحیح شو. (۳) دریمه طریقه دا ده چې اراده کړی شی د دې علم نه وصف مشهور مثال لکه لکل فرعون موسی دلته مراد اسم علمی دفرعون نه دی بلکهٔ ذکرٌ د اسم علمی دی اومرادترینه وصْف مشهور دی اودغه رنګی دموسی نه هم مراد وصف مشهور دی ای لکل مبطل محق، اوس په دې سره دوه اعتراضونه دفع شویو دا چې فرعون غیرمنصرف دی دعجمی اوعلمیت د وجې نه نوکسره اوتنوین پرې ولې راغلل. (۲) کل داخلیږي په متعدد باندې او فرعون خو علم دی متعدد نه دی لکه کل زیدجاءنی نه دی صحیح
جواب: وشو چې دلته دفرعون نه مراد علم شخص نه دی بلکه مراد دفرعون نه وصف مشهوردی.
سوال: کوم اسم چې غیرمنصرف وی نوپس دازالی د علمیت نه ولې منصرف کیږي؟
جواب: **لماتبین** د وجې د هغه دلیل نه چې معلوم شوي دي اوظاهرشوي دي په بیان داسبابو دمنع صرف کې تبین صیغه دماضی معلوم ده دباب تفعل نه اوداباب تفعل دډیرومعنولپاره راځي دلته په معنی د مجردو سره دی، ځکه ناکت لاتدې لیکلی دی ای ظهر، یعنې دلیل صراحتا بیان شوي نه دی لیکن مخکې دا اسباب دمنع صرف اوشرائط د دې بیان شوي دي نو د هغې نه دا دلیل ظاهر شوی دی.
من انها: دا من په دې مقام کې بیانیه دی دا بیان د دغه ماکوی ځکه دا قاعده ده چې من چې چرته راشی وروسته د ما او مهما نه نو هغه من بیانیه وی، **انها** په تحقیق سره د اعلمیت نه جمع کیږي دیو علت او سبب سره په حال کون د دې علمیت کې چې مؤثری واخلی د دې اسباب دمنع صرف نه چې اته دی. **الا** مګر جمع کیږي **ما هی شرط** فیه د هغه سره چې داشرط وی دهغې لپاره چې هغه څلور دی اونه جمع کیږي دباقی سره چې دهغې لپاره داشرط نه دی چې **هغه** هم څلور دی.
الا العدل ووزن الفعل: مګرجمع کیږي دعدل سره او د وزن فعل سره، او هرچې وصف دی نودهغې سره نه جمع کیږي اصلا ځکه وصف دلالت کوی په عموم اوعلمیت دلالت کوی په خصوص باندې، اوپه مابین دعموم وخصوص کې منافات دی اودجمع سره جمع کیږي لیکن تأثیر نکوی نوحاصل داشوچې داجمع کیږي دڅلوروسره په طریقه دشرطیت سره اودددوه سره جمع کیږي بغیر دشرطیت نه اوددوه سره نه جمع کیږي مؤثرانو داخبره مصنف بیان کړی نده، لیکن پخپله معلومه شوی ده او واضحه شوې ده د ماقبل نه.
الا ما هی شرط فیه: دامستثنی مفرغه ده اومستثنی منه ترې حذف شوې ده ای لاتجامع مؤثرة سببا الاما هی شرط نو داسببا مفعول به وو، اوس دامستثنی مفعول به واقع شوې ده، اوالعدل لپاره هم مستثنی منه حذف ده چې باقی الاسباب دی اوس په دې سره دفع دیواعتراض هم وشوه، اعتراض دا دی چې دلته دمصنف په عبارت دی کې مستثنی راغلی ده دوه ځله بدون العطف او دانه دی صحیح دې کې درې صورتونه دی. (۱) تعدد دمستثنی سره دتعدددمستثنی منه نه جائزدی.

(۲) تعدد دمستثنی سره دوحدت دمستثنی منه نه مع العطف هم جائز دی.
(۳) تعدد دمستثنی سره دوحدت دمستثنی منه نه بدون العطف دی کې اختلاف دی عند الجمهور دا ندی جائز او دلته راغلی دی.
جواب: دا بنا دی په مذهب د هغه چا باندې چې هغه ورته جائزوایی. (۲) یاتعدددمستثنی راغلی دی سره دتعدد دمستثنی منه نه کماذکرناه.
سوال: فرض منصبی دمصنف خواختصار بماهو اختصاردی نو داسې یې ولې ونه ویل چې الاما هی شرط فیه والعدل ووزن الفعل دا الآیې ولې ذکرکړو؟
جواب: مصنف په دې مقام کې الاذکرکړواو عطف یې ونه وکړوپه ماقبل باندې په دی ترک دعطف کې اشاره ده دی ته چې دا مخکې مستقله نوعه ده او دامستقله نوعه ده ځکه چې په هغې کې د سببیت لپاره علمیت شرط وو او د دې سره علمیت جمع کیږي مؤثرلیکن شرط ورله ندی.
وهما متضادان: دا واو استنافیه دی هما مبتدأ ده متضادان یې خبر دی مبتدأسره دخبرنه جمله خبریه اسمیه جمله مستانفه ده واقع شوې ده په جواب دسوال کې سوال دا دی: چې ته وایې چې ومافیه علمیت مؤثرة اذانکرصرف نو دا قاعده زه نهمنم ځکه چې یواسم دی داسې وی چې په هغې کې جمع شوی وی دري اسباب داسبابودمنع صرف نه. (۱) علمیت (۲) وزن فعل (۳) عدل نو د دې نه چې نکره جوړه کړی شی نوازاله د علمیت راغله لیکن دا بیا هم غیر منصرف دی ځکه چې د علمیت نه علاوه نور دوه سببه پکې شته چې یوعدل دی او بل وزن فعل دی نو مصنف جواب وکړو چې داسې اسم په کلام د عربو کې وجود نه لری ځکه **وهما** داعدل اووزن فعل **متضادان** متضادین اومتقابلان دی اوضدین دیته وایي: چې لا یجتمعان وقد یرتفعان یعنې دا دواړه یوځای نه شی جمع کیدی په یواسم کی، اوس دا عدل اووزن فعل متضادان ولې دی نود وجې داختلاف د اوزانو د دې دواړو نه ځکه اوزان دعدل سماعی دی اواوزان دفعل قیاسی دی. اوزان دعدل شپږ دی: (۱) فُعال (۲) مَفعَلَ (۳) وفُعَلَ (۴) فَعَلِ (۵) فَعَلْ (۶) وفَعَالِ موزونات ثلث مثلث وعمر امس سحر وقطام. او وزن فعل چې معتبر وی په منع صرف کې په یووزن د دې اوزان په دې وزن سره نه دی راغلی، نواعتراض واردنه شو په سحر.
سوال: ته وایې چې عدل اووزن فعل متضادان دی په یوه کلمه کې نه جمع کیږي دا قاعده ستا منقوضه شوه په اصمت سره چې دانوم د یو بیابان دی اوپه دی کې یوعدل دی او بل پکې وزن فعل دی وزن فعل خو ظاهر دی ځکه چې افعل وزن دی اوعدل پکې ځکه دی چې دا امردی دصمت یصمت نه او د دې نه امر راځي په وزن دأفعل باندې او دا خوافعل وزن دی نومعلومه شوه چې دا معدول دی د أُصْمُتْ نه.
جواب: نه منم دا خبره چې دامعدول دی د اصمت نه بلکه دا اولا وبالذات راغلی دی دوضع د واضع نه په وزن داصمت باندې ځکه دنصرنه کله کله امرانصر په وزن باندې راځي اګر چې غیر مشهور دی.
(۲) دویم جواب دا دی چې نفس وجوداصل دلیل دعدل نه دی بلکه داعدل معتبر کولی شی د وجې د ضرورت نه لکه عمراوثلث اومثلث کې چې معتبر شوی وودضرورت د وجې نه او دلته ضرورت نشته

ځکه دعدل نه علاوه نور دوه سببه پکښې شته چې یوعلمیت دی او بل تأنیث دی نو غیرمنصرف شو نو عدل معتبر کولوته پکښې ضرورت نشته.

فلا یکون معها الا احدهما: دا فاء په دې مقام کښې فصیحیه ده لاناهیه دی یکون کښې ضمیر مستتر دی هغه فاعل دی دیکون لپاره **اومعها** حال دی دفاعل دیکون نه باعتبارالمتعلق الا احدهما بدل دی د ضمیر دیکون نه وهٰذا الترکیب من قبیل مافعلوه الاقلیل.

ترجمه: پس هر کله چې امر دارنګې شو یعنې دا دواړه ضدین شو پس نه موجودیږي امر عامه د مجموعې او احدهما نه **معها** سره د علمیت نه الا احدهما مګر یود دې دواړو نه فقط یاعدل یا وزن فعل. (۲) نه موجودیږی احدهما مبهم معها په حال کون د دې کښې چې معی یې واخلی د علمیت سره **الا احدهما** مګر موجودیږی یود دې دواړو نه معین فقط.

سوال: یکون کښې ضمیر مستتر دی دا ضمیر دغائب دی تقدم دمرجع غواړي اوپه مرجع کښې یې درې احتماله دی اودرې واړه باطل دی. (۱) که راجع شی مطلق سبب ته نو دانده صحیح ځکه چې اګر چې مطابقت راغلو په مابین د راجع او مرجع کښې لیکن کلام کاذبیږی. (۲) او که عدل او وزن فعل ته یې راجع وایې نو بیا مطابقت نه راځي. (۳) او که یوته (یعنې احدهما) یې راجع ګوی نو مطابقت خو راغلولکن لازمیږي استثناء د شي دنفس خپل نه معنی دا چې نه موجودیږی احدهما د احدهمانه.

جواب: دا دی چې دازه یوته هم نه راجع کوم بلکه داراجع دی امر اخر ته چې امر عامه دی یعنې هغه امر عام دی او دائر دی په مابین دمجموعه اواحدهما کښې نومطابقت هم راغلو اواستثناء هم صحیح شوه ځکه چې استثناء دخاص راغله دعام نه او کلی چې خارج کښې موجودیږی نو بالذات نه موجودیږی بلکه په ضمن د افرادو کی موجودیږی بیاپه دی عدل اووزن فعل کښې درې مرتبې دی: (۱) چې عدل او وزن فعل مجموعه واخلی. (۲) چې عدل ځان له واخلی. (۳) چې وزن فعل ځان له واخلی. اوس د دې درې واړو لپاره یو مفهوم کلی دی چې ضد دې نو دې مفهوم کلی کښې دغه درې احتمالات دی. (۲) یکون کښې ضمیر راجع دی احدهما ته اومستثنی هم احدهما دی او استثناء صحیح ده استثناء د شي د نفس نه نده ځکه دغه مستثنی منه نه مراد مبهم احدهما دی او د مستثنی نه مراد احدهما معین دی نو استثناء دخاص راغله د عام نه پس زده کړه دا خبره چې استثناء د شي دنفس خپل نه باطله ده بالاتفاق نحوجاءنی القوم الاالقوم. (۲) استثناء دعام د خاص نه هم باطله ده نحوجاءنی زیدالا القوم.

(۳) اوصحیح استثناء دا ده چې استثناء دخاص راشی دعام نه خوداعموم دمستثنی منه عام دی که لفظا او معنی دواړه وی، او که فقط لفظاوی لکه: فقهاء وایي چې یوسړی ووایي چې نسائی طوالق الا هند و زینب وفاطمة او بنځې یې دغه درې دي او نورې نشته نو یوه هم طلاقه نه شوه، او دا استثناء صحیح ده ځکه چې دانسائی په اعتبار دلفظ سره عام دی اوزینب الخ په اعتبار د لفظ سره خاص دی نو استثناء دخاص راغله دعام نه دارنګې استثناء صحیح ده په کلمه توحید کی، په دی لااله الاالله باندې، دا اعتراض واردیږی چې دلته داله نه به مرادیا اله حقه وی او یا به باطله وی، که باطله اخلی

نو لازمیږي کذب ځکه دالهه باطله نه خو دنیا ډکه ده، او که اله حقه داخلي نو لازمیږي استثناء د شي د نفس خپل نه، او که دواړه ترې اخلي نو هم لازمیږي کذب نو د دې د وجې نه خلق وايي چې دا الا د
استثنائیه نه دی بلکه دا صفتی دی په معنی دغیرسره دی نومعنی داشوه چې نشته اله حقه داسې اله حقه چې غیر وی دالله نه، لیکن ذلته الااستثنائیه هم جوړیږی ځکه چې الااستثنائیه شی او د اله نه مراد اله حقه شی نو استثناء د شي د نفس خپل نه نۀ لازمیږي ځکه چې اله عام دی په اعتبار د لفظ سره او د مستثنی منه لپاره عموم لفظی کافی دی، نوپدی ترکیب مستثنی منه سره دمستثنی نه اسم د لاشو او خبر د لامحذوف دی چې موجود دی.
(۳) اودریم ترکیب پکې دا دی چې دامرکب تام دی الله مبتدأ ده اواله یې خبر دی اصل کې الله اله ور لیکن بیا داخبرمقدم شوي دي سره دنفی نه اومبتدأوروسته شوې ده سره دالانه لپاره د حصر.
فاذ انکر بقی بلاسبب اوعلی سبب واحد: نوهر کله چې نکره کړی شی دغه غیرمنصرف په یو دطرق ثلاثه نو مذکورو سره نو باقی پاتې کیږي بې دسبب نه من حیث انه سبب او دا هغه څلورصورتونه دی چې علمیت پکې مؤثر وو په طریقه دشرطیت سره نوهر کله چې علمیت لاړو نو هغه بل سبب ورسره هم ختم شو ځکه چې انتفاء دشرط مستلزم دی انتفاء دمشروط لره، یاپاتې کیږي په یو سبب سره داپه هغه دوه صورتونو کې چې علمیت مؤثر وی بغیر دشرطیت نه.
سوال: ته وایې چې علمیت لاړشی نواسم بلا سبب پاتې کیږي نو د طلحة نه چې نکره جوړه شوی نو په ازالی د علمیت سره خو دا تاء تأنیث د دې نه زائله شوی نه دی نو تأنیث خو پکې باقی دی دارنګې د ابراهیم نه چې نکره جوړه شی نوعجمه خو ختمه نه شوه په علمیت ختمیدوسره نو بلا سببه څنګه پاتې شو؟ **جواب:** د دې مطلب دا دی چې دا پاتې کیږي بلا سببه من حیث انه سبب یعنې اګر چې دغه یو سبب پکې شته لیکن من حیث انه سبب نه دی ځکه چې دابدون العلمیت اثرنه کوی.
وخالف سیبویه الاخفش: (۱) غرض د مصنف د دې عبارت نه استثناء د یو جزي ده د قاعدي کلیې نه چې **ومافیه علمیت الخ** ده بنا په مذهب دسیبویه باندې (۲) یاغرض دمصنف د دې عبارت نه اظهار داختلاف دی په مینځ دسیبویه اواخفش کې په ابتثناء دیو جز کی د دې قاعدی کلی مذکوری نه. (۳) یاغرض دمصنف جواب دسوال دی یعنې دا جمله مستانفه واقع شوې ده جواب دسوال، ځکه هر کله چې مصنف دا قاعده کلیه بیان کړه چې **ومافیه** علمیت الخ نو معترض اعتراض وکړو چې دا قاعده ستا منقوضه شوه په مثل داحمرسره چې دچا لپاره علم وګرځی، نو دا غیر منصرف دی د وجې د علمیت او وزن فعل نه نوچی د دې نه علمیت زایل شی نو بیا هم غیرمنصرف دی، ځکه چې بقی بلاسبب یابسبب واحد نه دی بلکه هغه وصفیت مزاله د وجې د علمیت نه هغه پکې بیرته معتبر دی، نو مصنف جواب وکړو چې **وخالف سیبویه الاخفش** یعنې دا په نیزدسیبویه باندې دی لیکن دا مذهب د هغه کمزوری دی.
ترجمه: خلاف کړی دی سیبویه چې دا استاذ دی دخپل شاګردنه چې اخفش دی چې ابوالحسن سعید بن سعدة (داخلاف یې کوم ځای کړی دی) **فی مثل احمر** اومراد داحمرنه هرهغه اسم مشتقی دی چې

معنی وصفی پکښې ظاهره وی قبل العلمیت نه چې اظهره وی او نه چې ضعیفه وی بیا برابراه خبره ده که احمر دی که سکران وی او که بل وی (اوس داخلاف یې ورسره کله کړی دی) **علما** په حال کون د دې کې چې علم یې واخلی **اذ انکر**: کله چې نکره کړی شی دا احمر چې علم دی په اراده کولو د متکلم سره د احمر نه مسمی بالعلم لره نو اخفش بعدالتنکیر دیته منصرف وایي، ځکه چې بقی بسبب واحد دې او سیبویه وایي: چې دا غیر منصرف دی د وجې د وزن فعل او وصفیت نه.

سوال: وصفیت خو زایل شوي دي؟ **جواب: اعتبارا للصفة الاصلية بعدالتنكير**: د وجې د معتبر کولو د دې سیبویه نه وصفیت اصلی لره پس د تنکیر نه یعنې وصفیت زایل شوي دي د وجې د علمیت نه چې دا مانع وو د وصفیت سره اوس چې علمیت لاړو نو سیبویه وایي: چې زه یې بیرته معتبر کوم د وجې د عدم د مانع نه او بل د وجې د قیاس نه په اسود او ارقم باندې.

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی؟

جواب: د دې عبارت ربط د ماقبل سره په وجوه ثلاثه ؤ سره دی، اول دا چې مخکې مصنف یو ه قاعده کلیه بیان کړې وه، اوس استثناء کوی د هغې نه عند السیبویه نو معنی داشوه چې ومافیه علمیت مؤثرة الا انکر صرف الااحمر علما عند سیبویه. (۲) دویم ربط دا دی چې غرض او مقصد د مصنف د دې عبارت نه اظهار د اختلاف دی په مابین د استاذ او د شاگرد کی په یوه مسئله جزئی د دغه قاعده کلیه کې چې احمر دی شاگرد وایي چې دا بعد العلمیت بقی بسبب واحد دې او استاذ وایي: چې بقی بسبب واحد نه دی بلکه سببین پکې موجود دی. (۳) یا دا جواب د سوال مقدر دی.

سوال: دا دی چې تا مخکې اوی چې **اذا نکر صرف** او احمر خو منصرف نه دی پس د تنکیر نه نو مصنف **جواب**: وکړو چې دی کې خلاف دی او اشاره یې وکړه ضعف د مذهب د سیبویه ته ځکه چې دا مخالف دی د دغه قانون مذکور نه نو ځکه یې سیبویه فاعل د خالف وگرځوو.

سوال: نه دی سیبویه ته مفعول ووایه او اخفش ته فاعل ووایه ځکه چې نسبت د خلاف شاگرد ته پکار دی.

جواب: مصنف چې نسبت د خلاف استاذ ته کړی دی نو په دی کې اشاره ده ضعف د مذهب، او بعض وایي چې نسبت یې استاذ ته وکړو نه شاگرد ته ځکه خلاف کول د شاگرد د استاذ نه سبب د عاق کیدو دی لیکن دا خبره کمزوری ده ځکه مخالفت د شاگرد د استاذ نه هله سبب د عقوق دی چې معاندا وی او که دا د اظهار د حق لپاره وونو بیا سبب د عقوق ندی.

سوال: دا سې ترکیب ولې نکوی چې سیبویه مفعول به مقدم دی او اخفش فاعل دی خو دا سیبویه مقدم شوي دي تادبا لکه ابو حنیفة ابو یوسف؟ **جواب**: د غه ترکیب زه نه شوم کولی ځکه چې وروسته مصنف وایي چې **اعتبارا للصفة الاصلية** نو دا اعتبارا مفعول له دی، او قاعده په مفعول له کې دا ده چې دا چې منصوب راځي بتقدیر اللام نو مشروط دی په شروط ثلاثه ؤ سره.

(۱) یو دا چې مصدر به وی. (۲) متحد به وی د فعل سره زمانه کې. (۳) متحد به وی د فعل سره په فاعل کې او دلته فاعل د اعتبار سیبویه دی نو که فاعل د خلاف اخفش شی نو اتحاد فی الفاعل نه راځي،

بيا طريقه د مصنف دا ده چې په يو ه مسئله کې اختلاف وى او فريقين باعتبار الدلائل يو شان وى نو
هغې ته تعبير کوى په اختلاف سره او که يوه ډله کمزورى وى په اعتبار د دلائل سره نو بيا تعبير کوى په
خلاف سره او نسبت دخلاف کوى هغه کمزورى فريقى ته.

سوال: ته وايې چې سيبويه فاعل دى نوفاعل خومرفوع وى اودا خومجروردى؟ **جواب:** دا رفع دفاعل
عامه ده که لفظاوى او که تقديراوى او که محلاوي دلته دامرفوع محلادى ځکه اسم مبنى دى جزاول
مبنى على الفتحه دى لاته وقع فى الوسط اوجزثانى مبنى على الکسره دى لاته صوت.

سوال: ته وايې چې سيبويه خلاف کړى دى داخفش نه نواخفش خودرى دى. (۱) يو د سيبويه استاذ دى
ابوالخطاب. (۲) دويم دسيبويه شاګرد دې ابوالحسن سعيدبن سعدة.
(۳) بل دسيبويه ملګرى دى ابوالحسن على بن سليمان. نود دې نه کوم يومراد دې؟

جواب: دلته مراد دغه مشهور اخفش دى چې دسيبويه شاګرد دى.

سوال: دا اختلاف يې ورسره په څه کې کړى دى؟ **جواب: فى مثل احمر.**

سوال: دا اختلاف يې ترې په کوم حالت کې کړى دى؟

جواب: علماپه حال کون د دې احمر کې چې علم يې واخلى د چا لپاره.

سوال: هر کله چې داعلم شى د چا لپاره نو دا خوبالاتفاق غير منصرف دى اختلاف خوپکې نشته

جواب: اذانکر: يعنې دا اختلاف په حالت د علميت کې نه دى بلکه پس د علميت نه دى نوحاصل دا شو
چې په احمر کې درې حالات دى په دوه حالته کې غير منصرف دى بالاتفاق. (۱) قبل العلميت. (۲) چې
کله علم وګرځى اوعلميت پکې باقى وى اوچې علميت ترې زايل شى په تنکير سره نو بيا پکې
اختلاف دى داخفش اوسيبويه، اخفش ورته منصرف وايي ځکه چې وصفيت زايل شوي دي د علميت
د وجې نه نوفقط وزن فعل پاتې دى اوسيبويه وايي چې وصفيت اګر چې بالفعل نشته ليکن زه يې
معتبر وم د وجې دعدم وجود دمانع نه اود وجې دقياس نه په اسود او ارقم باندې، اخفش اعتراض
کوى چې داقياس په هغې قياس مع الفارق دى ځکه چې هلته وصفيت من کل الوجوه نه دى زايل
شوى اودلته زايل شويدي من کل الوجوه، او دويم اعتراض پرې دا کوى چې څنګه مانع داعتبار نشته
نو دارنګې باعث په اعتبار هم نشته اواصل په اسماؤکې انصراف دى، پس زده کړه داخبره چې مذهب
داخفش موافق دى د قاعدى سره اومذهب دسيبويه موافق دى داستعمال دعربو سره ځکه چې عرب دا
مستعملوى بدون الکسرة والتنوين بعدزوال العلميت.

سوال: دا اختلاف دسيبويه خو صرف په احمر کې نه دى بلکه دا خوپه سکران کې هم دى چې کله د چا
لپاره علم شى اوبيا نکره شى پس د علميت نه.

جواب: دا اعتراض به تا هله کولى چې مراد د مثل داحمر نه مشتقى بروزن افعل وى ليکن دعدې نه مراد
هر هغه مشتقى دى چې دامعنى وصفى پکې ظاهره وى نه چې اظهره وى اونه چې ضعيفه وى، بيا عام
دى که په وزن دافعل وى او که په وزن دفعلان وى او که په بل وزن وى نوسکران پکې داخل شو، او

اجمع ترې خارج شو اواسم تفضيل مستعمل بدون من ترې خارج شو ځکه چې په افعل تاکيدی اواسم تفضيل مستعمل بدون من کې معنی وصفی ضعيفه ده نو دا چې علم شی اوبيا نکره شی نو دابالا تفاق منصرف دی اواسم تفضيل مستعمل بمن ترې هم خارج شو ځکه چې هغه کې وصفيت اظهر وی نو د علميت د وجې نه بالکلية ختميږی نه نوپس دازالی د علميت نه معاد کيږي، نو هغه بعدالتنکير غير منصرف دی بالاتفاق، نوپه احمر کې درې صورتونه وو دوه اتفاقی اويواختلافی، اوپه افعل تفضيلی بغير من اوافعل تاکيدي کې هم درې صورتونه دی ليکن درې واړه اتفاقی دی.

(۱) قبل العلميت غيرمنصرف دی بالاتفاق. (۲) بعدالعلميت هم غيرمنصرف دی بالاتفاق.

(۳) او پس دازالی د علميت نه منصرف دی بالاتفاق. اوافعل تفضيلی مستعمل بمن په درې واړو صورتونو کې غيرمنصرف دی بالاتفاق.

ولايلزمه باب حاتم: غرض دمصنف د دې عبارت نه دفع داعتراض ده چې دا اعتراض واردشوی دی دطرفه داخفش نه په سيبويه باندې، نو مصنف په دې مقام کې دسيبويه ملګرتيا کړيده ځکه چې دا اعتراض داخفش په سيبويه باندې بې ځايه دی اوغلط دی منشأ اوعلت داعتراض داخفش لپاره اعتبارا للصفة الاصلية بعد التنکير دی، او کيفيت داعتراض دا دی چې اخفش وايي چې سيبويه چې احمر ته غيرمنصرف وايي د وجې داعتبار دوصفيت اصلی نه داملزوم او حاتم ته په حالت د علميت کې غيرمنصرف ويل د وجې داعتباروصفيت نه ورسره لا زم دی واللازم باطل فالملزوم مثله، نو مصنف جواب وکړوچی ولايلزمه الخ.

ترجمه: نه لازميږي په سيبويه باندې باب حاتم مراد د باب دحاتم نه هر هغه صفت دی چې علم ګرځيدلی وی د يو شخص لپاره اووصفيت ترې زايل شوی وی دعلم د وجې نه اوعلميت پکې باقی وی **لما** د وجې د هغه دليل نه يا د وجې د هغه علت نه يا د وجې د هغه نقصان نه يلزم چې لازميږي دغه نقصان په دې سيبويه باندې **من اعتبار المتضادين** چې هغه معتبر کول دسيبويه دی په حاتم کې متضادين لره چې يو علميت دی او بل وصفيت دی **فی حکم واحد** په حکم واحد کې چې عدم انصراف دي اواعتبار دمتضادين په محل واحد کې لپاره دحکم واحد ممتنع دی **من اعتبار** کې دامن بيانيه دی دا بيان دی دمالپاره په ما يلزم کې اودمتضادين نه مرادوصف او علميت دی، ځکه وصف تقاضه دعموم کوی اوعلميت تقاضه د خصوص کوی نوځکه وصف د علميت سره نه جمع کيږي اصلا **فی حکم واحد** جارمجرورظرف لغوه دی او دا متعلق دی يلزم پورې او يامتعلق دی په اعتبار مصدرپورې اوداقيديي ځکه ولګووچی اعتبار د متضادين په يو حکم کې يعنې ديوحکم لپاره ممتنع دی او که ديوحکم لپاره نه وونو بيا ممتنع نه دی لکه اسود او ارقم کې معتبر دی ځکه چې دا حکم واحد لپاره ندی، پس زده کړه دا خبره چې يو اجتماع د متضادينو ده حقيقتا او يو اعتبار د متضادينو دی نو اجتماع د متضادينو حقيقتا ممتنع ده بالاتفاق او اعتبار د متضادينو دوه قسمه دی. (۱) په محل واحد کې لپاره د ترتيب د حکم واحد دا هم ممتنع دی. (۲) اعتبار د متضادينو په محل واحد کې چې مرتب عليه د حکم واحد نه وی جائز دی په اسود او ارقم

کې، بل جواب دطرفه دسیبویه نه دا دی چې سیبویه احمر ته غیر منصرف وایي نو د دې سره دا لازمه ده
چې حاتم دی هم غیر منصرف شی، ځکه چې سیبویه احمر ته غیرمنصرف وایي ځکه احمر کې وصفیت
معتبر کوی د وجې دعدم وجود دمانع نه اوپه حاتم کې مانع موجود دی چې علمیت دی **متضادین** اصل کې
متضاددین وو بیا اجتماع د حرفین متجانسینو راغله نو ادغام وشو متضادین شو دا تثنیه د متضاد
ده، دا ماخوذ دی د تضاد نه او تضاد عبارت دی د یو نوع دتقابل نه عندالمناطقه، اوعنداهل اللغة
عبارت دی د مطلق تقابل نه او دلته هم دا ثاني مراد دی، او تقابل څلورقسمه دی (۱) تقابل تضاد (۲)
تقابل تضایف (۳) تقابل تبائن (۴) تقابل عدم والملکه.

وجه د حصر: یکې دا ده چې دا مفهوم دمتقابلین به خالي نوی یا به مفهوم د دواړو وجودی وی او یا به مفهوم د احدهما وجودی وی او مفهوم د اخر به عدمی وی که مفهوم د دواړو وجودی وو نو بیا به خالي نه وي یا به تصور داحدهما مستلزم وی تصور داخر لره او یا به نوی که وو نوتقابل تضایف لکه ابوت او بنوت او که نه وو نو تقابل تضاد لکه تقابل د سواد او بیاض شو د دې دواړو مفهومین وجودی دی ځکه چې سوادلون قابض البصر ته وایي، اوبیاض لون مفرق البصر ته وایي، نو دا دواړه وجودی دی لیکن تصور داحدهما مستلزم نه دی تصورداخرلره او که یو عدمی او بل وجودی وو نو بیا به خالي نه وی یا به محل دعدمی صالح لپاره دوجودی وی او یا به نوی که وو نوتقابل دعدم والملکة ورته وایي، لکه عمی او بصر شو او که محل دعدمی صالح لپاره د وجودی نوو نوتقابل تبائن ورته وایي، لکه تقابل دانسان اولاانسان شو. (والله اعلم بالصواب)

وجمیع الباب باللام او بالاضافة ینجر بالکسر: هرکله چې فارغ شو مصنف دبیان د انصراف د بعض اسماء غیر منصرفو نه نو شروع یې وکړه په بیان دانصراف د ټولو اسماء غیرمنصرفو کې نو وې ویل (وجمیع الباب الخ) ټول باب دغیرمنصرف بلا تخصیص وتعین **باللام** د وجې د دخول د لام التعریف نه په دغه غیرمنصرف **او بالاضافة** یا د وجې د اضافت د غیر منصرف نه غیر ته **ینجر بالکسر** ګرځی دا غیر منصرف مجرور په صورت د کسرې سره ځکه الف لام اواضافت د خواص معظمه ؤمکبره ؤ د اسم نه دی، نو دې سره قوی کیږي جهت د اسمیت او ضعیف کیږي جهت دمشابهت دفعل سره او جر ممنوع ګرځیدلی وو په تبع دتنوین اوممنوع بالذات تنوین وو د وُجې دمشابهت نه اوهر کله چې مشابهت کمزوری شو نو هغه ممتنع بالذات خونه راځي د اضافت او الف لام د وجې نه اوهغه ممتنع بالتبع راځي چې کسره ده.

تشریح: ربط دماقبل سردا دی چې مخکې مصنف بیان کړی وو دانصراف دبعض اسماء غیر منصرفو اوس بیانوی انصراف دټولواسماء غیرمنصرفواوغرض دمصنف د دې عبارت نه دوه خبری دی. (۱) یو غرض دمصنف خوبیان ددوه سببو نودی دمنصرف جعلی لپاره چې یودخول د الف لام دی په غیر منصرف باندې او بل اضافت دغیرمنصرف دی غیرته (۲) اودویم غرض د مصنف بیان د یو قاعدی کلیی دی هغه دا چې یو اسم دی غیرمنصرف د وجې دوجود د سببین نه یا سبب واحدنه چې قائم وی په مقام دسببینو باندې، نوپه دغه اسم باندې چې الف لام داخل شی یا یې اضافت وشی غیر ته نو مجرور بالکسره ګرځی بالاتفاق.

سوال: ته وایې وجمیع الباب تو بابونه خوبدی کتاب کې ډیردی. (۱) باب دغیرمنصرف. (۲) باب د مرفوعات. (۳) باب دمنصوبات الخ نود دې نه کوم باب مراد دې الف لام عوضی دی اصل کې وجمیع باب غیر المنصرف وو، **باللام** کې دا باء سببیه ده او باء سببیه دیته وایې چې ګرځوی مدخول خپل سبب لپاره دغیرنو**سوال:** واردیږی چې اسباب خو د قبیلې د اوصافونه دی او لام خو ذات دی دا خو سبب نه شي کیدی. **جواب:** دا عبارت په حذف دمضاف سره دی ای بدخول اللام.

سوال: دا قاعده ستامنقوضه شوه په المال لاحمد، اوپه لعمر قائم لاحمدقائم باندې دلته لام راغلی دی اوکسره نشته. **جواب:** په اللام کې الف لام عهدی دی مراد د دې نه لام التعریف دی اوالمال لاحمدکی لام جاره دی او لعمرقائم لاحمدقائم کې لام ابتدائیه تاکیدیه دی نه لام التعریف. (۲) یا په اللام کې الف لام عوضی دی ای بدخول لام التعریف مثال د هغې چې مجرور ګرځیدلی وی په کسری سره پس د دخول د لام التعریف نه لکه المساجد شو په دې قول دالله (ج) کې ﴿وَأَنتُمْ عَٰكِفُونَ فِى ٱلْمَسَٰجِدِ﴾

سوال: جاءنی غلام احمدکی خواضافت راغلی دی او دا احمد خو مجرور بالکسره ندی بلکه مجرور بالفتحه دی. **جواب:** مراد د اضافت نه اضافت دغیر منصرف دی غیر ته نه اضافت د غیر غیر منصرف ته مثال لکه لفظ دشعائرشویدی قول دالله (ج) کې ﴿إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ﴾

سوال: ته وایې چې ینجر بالکسر نو جر نوم دی د کسری اعرابی لپاره اوکسر نوم دی دکسره بنائي لپاره نو یو شي خو هم کسره اعرابی او هم کسره بنائی نه شي کیدی.

جواب: دلته مرادکسره بنائی نده بلکه مراد صورت دکسری دی اوکسره اعرابی مراد ده.

سوال: فرض منصبی دمصنف خو اختصار بما هو اختصار دی نو پکار وه چې فقط ینجر یې ویلی وی نو دا بالکسر یې ورسره څه له ذکر کوو؟ **جواب:** یواځې ینجر یې ونه وی بلکه بالکسر یې ورسره ذکر کړو څکه مجرور عام دی کله بالکسره وی او کله بالفتحه وی کما في مررت باحمد، او دلته مراد مجرور بالکسرة دی نه مطلقاً نو دا بالکسر وویل لپاره دتعین دمقصد.

سوال: بیا پکار وه چې داسې یې ویلی وی چې وجمیع الباب باللام والاضافة ینکسرنودلالت علی المقصود به راغلی وی سره داختصارنه؟ **جواب:** یواځې ینکسر یې ونه ویل څکه کسره عامه ده اطلاق یې په حرکات اعرابیو اوبنائیو دواړو باندې کیږي او دلته مراد کسره اعرابی ده نه بنائی نو یواځې ینکسرهم دلالت نه کولو په مقصود باندې.

سوال: ینصرف یې ولې ونه وی؟ **جواب:** ینصرف یې ونه ویل څکه الف لام چې داخل شی په غیر منصرف یا یې اضافت وشی غیر ته نوهلته یوحکم اتفاقی دی اویو حکم اختلافی دی نو دلته مصنف حکم اتفاقی ذکر کړی دی او اختلافی یې ترک کړی دی. څکه دا اتفاقی خبره ده چې په غیرمنصرف چې الف لام داخل شي یا یې اضافت وشي غیرته نو کسره پرې راځي، اوس ایا دا اسم منصرف کیږي اوکنه نوپدی کې درې یې مذهبه دی. (۱) بعض وایې: چې منصرف دی مطلقا او بعض وایې غیرمنصرف دی

مطلقا او بعض وايي: چې مونږ به وګورو كه چرته سببين پكې وو نوغيرمنصرف به وی او كه نه وو نو منصرف به وی، اوس كه ينصرف يې ويلی وی نومتوهم به داوهم كولو چې دا به منصرف وی بالاتفاق حالانكه داسې خو نده او كه دا مذهبونه يې تول ذكر كولی نو طول راتلو او كه بعض يې ذكر كولی او بعض يې نه ذكر كولی نو ترجيح بلا مرجح راتله، ځكه دا تول مساوی دی او يو شان دی په نيز د مصنف باندې اوس ځوك چې وايي چې دا منصرف دی نو هغه وايي ځكه چې الف لام اواضافت د خواص معظمه ؤمكبره ؤ د اسم نه دی دی سره قوی كيږي جهت د اسميت او مشابهت كمزوری كيږي

سوال: په منصرف كې خو كسره اوتنوين دواړه راځي نو دا چې منصرف دی نوتنوين پكې ولې نه راځي؟

جواب: ځكه چې تنوين منافي دی دالف لام اواضافت سره اوځوك چې وايي: داغيرمنصرف دی نو هغه وايي ځكه چې تعريف دغير منصرف پرې صادق دی،چې سببين ياسبب واحدقائم مقام د سببينو پكې موجود دی، او كه زائله شوی وی نو دا د عارض د وجې نه دی او والعوارض لاتعتبراو بعض وايي: چې كه سببين پكې موجود وو نو غيرمنصرف به وی او كه موجود نه وو نو منصرف به وی.

سوال: دا به مونږه ځنګه معلوموو چې دې كې سببين ياسبب واحد شته كنه؟

جواب: مونږه به ديته وګوروكه چرته يوسبب پكې علم وو اوداعلم مؤثر وونوپس ددخول دالف لام نه يا پس داضافت نه به دامنصرف وی ځكه چې سببين په كې نشته او دا په شپږو ځايونو كې راځي كما مر او كه يو سبب پكې علميت نه ووېدی شان سره چې دا اسم غيرمنصرف وو د وجې دعدل اووصف نه يا د وجې دوصف اووزن فعل نه يا دالفين دتأنيث د وجې نه او يا د وجې دمنتهی الجموع نه نو بيا پكې دوه سببه موجود دي لكه عمر ثلث، مثلث، اوالمساجدشو.

سوال: ځوك چې ورته غير منصرف وايي نوكسره پرې ولې راغله؟ **جواب:** ممتنع بالذات تنوين وو او كسره ممتنع بالتبع وه اوس مشابهت كمزوری شونوبالتبع ممتنع راتلی شي.

المرفوعات

هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د مقدمې نه نو شروع یې وکړه په بیان د مقاصدو کې چې مرفوعات منصوبات مجرورات دی، او هر کله چې مرفوعات اصل وو په عنوان عامه سره د منصوباتو او مجروراتو نه نو مقدم یې کړه مرفوعات په منصوباتو او مجروراتو باندې، او مرفوعات جمع د مرفوع ده نه د مرفوعة ځکه مرفوع صفت د مذکر لایعقل دی او دا جمع کیږي په الف او تاء سره قیاساً او اطراداً.

زده کړه دا خبره چې په دې عنوان دالمرفوعات کې لابدي ده د معرفت د امور خمسه ؤ نه.

(۱) ربط د ماقبل سره. (۲) وجه دتقدیم دمرفوعاتو. (۳) معرفت داقساموددمرفوعاتو اجمالاً او وجه دحصر په هغه اقسامو کې. (۴) ترکیب د دې عنوان. (۵) معرفت داصل دمرفوعاتو. نو ربط خو د ماقبل سره دا دی: چې تر دې ځای پورې مقدمه دکتاب وه اوس مصنف شروع وکړه په مقاصدو کې چې مرفوعات منصوبات مجرورات دی.

سوال: مرفوعات منصوبات مجرورات درې واړه سواسي دی په مقصودیت کې نو مرفوعات یې ولې مقدم کړل په منصوباتو باندې با وجود د دې نه چې منصوبات ډیر دی او العزة للتکاثر.

جواب: هرکله چې مرفوعات اصل وو په عنوان عامه سره دمنصوباتو او مجروراتو نه نو مقدم یې کړه مرفوعات په منصوباتو باندې. مرفوعات ټول اته دی: (۱) فاعل. (۲) نائب فاعل. (۳) مبتدأ. (۴) خبر. (۵) اسم دافعال ناقصو. (۶) اسم دحروف مشبه بلیس. (۷) خبر دحروف مشبه بالفعل. (۸) خبر دلا النفی الجنس. او مصنف دلته اووه ذکر کړي دی او اسم دافعال ناقصه پکې نه دی ذکر کړی یا خو د دې وجې نه چې دا داخل دی په نیز د ده باندې په فاعل کې نو بیا مرفوعات دده په نیز اوه شو. (۲) او یا د دې وجې نه چې اکتفاء یې کړیده په ذکر د دې اسم دافعال ناقصو سره په بحث دافعال ناقصو کې.

وجه د حصر: په دې اقسام ثمانیه ؤ د دې مرفوعاتو کې دا ده چې دا عامل د دې اسم مرفوع به خالي نوی یا به لفظي وی او یا به معنوی وی که عامل یې معنوی وو نو دا اسم به خالي نوی یا به مسند الیه وی او یا به مسند وی که مسند الیه وو نو قسم اول دمبتدأ او که مسند وو نو بیا خالي نوی یا به رافع وی اسم ظاهر لره او یا به نوی که رافع وو اسم ظاهر لره نو قسم ثاني دمبتدأ او که رافع اسم ظاهر لره نه وو نو خبر د مبتدأ او که عامل یې لفظي وو نو بیا به خالي نوی یا به فعل یا شبه فعل وی او یا به حرف وی که فعل او شبه فعل وو نو بیا به خالي نوی یا به نسبت د دې فعل شبه فعل شوي وي دغه اسم ته په طریقه د قیام سره او یا به یې ورته نسبت شوی وی په طریقه د وقوع سره که نسبت یې ورته شوی وو په طریقه د قیام سره نو فاعل او که نسبت یې ورته شوی وو په طریقه د وقوع سره نو نائب فاعل شو او که عامل د دې حرف وو نو بیا به خالي نوی یا به په کلام موجب کې وی او یا به په کلام غیر موجب کې وی، که په کلام موجب کې وو نو بیا به خالي نوی یا به مسند الیه وی او یا به مسند وی، که مسند الیه وو نو اسم د افعال ناقصو او که مسند وو نو خبر د حروف مشبه بالفعل او که په کلام غیر موجب کې وو نو بیا به خالي نوی یا به مسند الیه وی او یا به مسند وی که مسند الیه وو نو اسم دحروف مشبه بلیس او که مسند وو نو خبر د لا لنفی الجنس.

سوال: تا اسم دافعال ناقصه ؤ د هغه قبیلی نه وګرځوو چې عامل یکې حرف وی حالانکه دلته خو عامل حرف نه دی بلکه فعل دی؟ **جواب:** دنحویانو اومناطقو په اصطلاح کې دیته فعل نه ویلی کیږي ځکه کړ دافعل وی نوزیدبه ورله فاعل وی اوقائمابه ورله مفعول وی، لیکن داحرف دی ځکه لکه څنګه چې په حرف سره ربط راځي بین الاسمین لکه زیدفی الدارکی نو دارنګې کان هم رابط دی په مینځ د اسم او خبر خپل کې نو دیته ادات د ربط وایي.

ترکیب: (۱) دا المرفوعات مبنی علی السکون دی ځکه واقع دی غیرمرکب پشان د اسماء معدوده مفرده باندې اومعرب هغه ته وایي: چې واقع شوی وی په ترکیب کې عامل ورسره موجود وی لفظا یا معنی اومشابه دمبنی اصل سره نوی. (۲) یا دا المرفوعات منصوب بالکسره دی ځکه دامفعول به دی د فعل مقدر لپاره ای اعنی المرفوعات یا دوه مرفوعاتو لره د وعی یعی د امر صیغه ده.
(۳) یا دا مرفوع دی بنا بر خبریت لپاره دمبتدأ محذوفی په اعتبار د حذف دمضاف سره ای هذا بحث المرفوعات یاهذا باب المرفوعات بیا مبتدأ حذف شوه نو بحث المرفوعات پاتې شو بیا هغه مضاف هم حذف شو نوالمرفوعات پاتې شو (لپاره داختصارفی العنوان)

سوال: دا المرفوعات مخکې مجرور وو اوس مرفوع ولې شو؟

جواب: دا مخکې مجرورووځکه چې مضاف الیه وو لپاره دبحث یا د باب او اوس دامرفوع ځکه شو چې قائم شو په مقام دمضاف کې نوحکم د هغه یې واخستوځکه کل شئ وقع فی محل غیره فله حکم الغیر او حکم دمضاف خورفع وه نوحکم د دې هم رفع شوه، او مرکب اضافي چې کله قطع کړی شی د اضافت نه په حذف دمضاف سره نومضاف الیه اعراب دهغې اخلی کمافی قوله تعالی (**واسئل القرية**) ای اهل القرية (۴) یا دا المرفوعات مبتدأ ده او خبر یې حذف دی چې اذکرها دی یاهذه دی، یا هو ما اشتمل علی علم الفاعلية دی، یعنې المرفوعات مبتدأ اول هو مبتدأ ثانی ماموصوله یاموصوفه اشتمل فعل ضمیر یکې مستتر دی هغه ورله فاعل علی علم الفاعلية، جار مجرورمتعلق دی په اشتمل پورې فعل سره دفاعل نه اوسره دمتعلق نه جمله صله دموصول یا صفت د موصوف، موصول سره د صلی نه یا موصوف سره د صفت نه خبر د مبتدأ، مبتدأء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه خبر شو د مبتدأ اولی چې المرفوعات دی مبتدأ سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

سوال: مرفوعات جمع دمرفوع ده او که دمرفوعة یوه هم نه صحیح کیږي که جمع دمرفوع یې وایي نو بیا مطابقت په مابین دموصوف صفت کې راځي ځکه داصفت د اسم واقع کیږي لیکن جمع یې په مرفوعات سره نه صحیح کیږي او که جمع دمرفوعة وائی نو بیا مطابقت په مابین د مفرد او جمع کې راغلو لیکن مطابقت نشته په مابین دموصوف صفت کې.

جواب: مرفوعات جمع د مرفوع ده نه دمرفوعة او دا مرفوع صفت دمذکر لایعقل دی چې اسم دی او دا جمع کولی شی په جمع مؤنث سره لکه الایام الخالیات جمالات سجلات، الصافنات الجیاد.

(۲) دا جمع دمرفوع ده نه دمرفوعة ځکه مرفوعة صفت دې او مفرد چې صفت وي نو دا به جمع کيږي په جمع مؤنث سالم سره هله چې مذکر يې جمع شوی وي په واو او نون سره او که مذکر يې نه وو جمع شوی په واو اونون سره نو دانه شي جمع کيدی په الف اوتاء سره لپاره ددې چې زيادت دفرع رانه شي په اصل باندې.
سوال: دا مرفوع خو هم صفت دی او د دې مذکر خو نه دی جمع شوی په جمع مذکر سالم سره (يعني واو اونون سره) ځکه چې د دې مذکرنشته بلکه داپخپله مذکر دی نو داولې جمع شو په الف او تاء سره؟
جواب: دا قاعده په صفت دمؤنث کې ده نه په صفت دمذکر کې، **هو** دا جنس مرفوع چې دال دی په دې باندې لفظ د مرفوعات د قبيلې د دلالت دجمع نه په جنس باندې نه دقبيلې دلالت دجمع نه په فرد باندې (۲) دا جنس مرفوع چې دال دی په دې باندې لفظ دمرفوعات ځکه دا الف لام په المرفوعات کې جنسي دی او الف لام جنسي جمعيت باطلوي اوپه عنوان دجمع کې اشاره ده کثرت دانواع ته يا په عنوان دجمع کې دفع د توهم د انحصار ده **ما** هغه اسم دی حقيقتا وي او که حکما وي هسې اسم **اشتمل** چې دا اسم مشتمل وي دقبيلې داشتمال دکالموصوف نه په صفت باندې په تابعيت کې اواشتمال عام دی که لفظا وي او که تقديرا وي او که محلا وي.
على علم الفاعلية: په علامه دکيدود شي باندې فاعل او فاعل عام دی که حقيقتا وي او که حکما وي فاعل حقيقي خو ظاهر دی چې تعريف يې را روان دی او فاعل حکمي ديته وايي: چې په هغه کې موجود وي يوصفت دصفتينو دفاعل حقيقي نه چې هغه کون د دې دی مسند اليه ياجزء ثاني د جملې.
سوال: عام شارحين په دې مقام کې داسې اعتراض کوي چې دا هو ضمير چا ته راجع دی يا به يې راجع وايي مرفوعاتو ته او يا به يې راجع وايي مرفوع ته او دادواړه نه صحيح کيږي ځکه که مرفوعاتو ته راجع شي نو مطابقت نه راځي بين المرجع والضمير او که مرفوع ته راجع شي نو اضمار قبل الذکر راځي او دا باطل دی؟ **جواب:** بيا جواب کوي چې داهو ضمير راجع دی مرفوع ته او پدې باندې دلالت کوي مرفوعات الخ ليکن دا سوال او جواب کمزوري دی ځکه زه وايم چې دامرفوعات ته راجع دی او که ته وايي چې مطابقت رانغی نو زه وايم چې دلته مخالفت اولی دی، ځکه ضميرچې دائر شي بين المرجع والخبر نو رعايت دخبر اولی دی ياراجع دی مرفوع ته او که ته وايي چې اضمار قبل الذکر راځي نو زه وايم چې مرفوع مخکې ذکر دی معنی نواصل سوال داسې دی چې داضمير به راجع وايي مرفوعاتو ته او يا به يې راجع وايي مرفوع ته او دواړه باطل دی ځکه که مرفوعات ته يې راجع وايي نو تعريف د افرادو لازم شو، او که مرفوع ته يې راجع وايي نو لازم شو تعريف د فرد، حالانکه تعريف د جنس کيږي اوپه جنس سره کيږي.
جواب: دا دی چې دا ضمير راجع دی جنس مرفوع ته چې دال دی پدې باندې المرفوعات الخ، بيا پدی دواړو جوابونو باندې اعتراض دی چې هر کله مقصود جنس دی نو داجمع يې ولې ذکر کړه؟
جواب: په عنوان د جمع کې اشاره ده کثرت دانواع ته ياپه عنوان دجمع کې دفع دتوهم د انحصار ده چې هغه انحصار دمرفوع دی په فاعليت کې اومنشأ د توهم دوه خبری دی يو دا چې مخکې يې ويلي وو

فالرفع علم الفاعلية. (۲) دلته يې وويل هو ما اشتمل على علم الفاعلية.
سوال: ما دالفاظ عامونه دی دادلته دځه نه عبارت دی؟ **جواب:** دا عبارت دی د اسم نه.
سوال: دليل څه دی په دې خبره چې دا عبارت دی د اسم نه؟
جواب: دليل په دې باندې دامقام دی ځکه دا تعريف دمرفوعاتو دی اومرفوعاتو منصوبات الخ دا اقسام د اسم دی او مقسم معتبر وی په خپلو اقسامو کې. (۲) معتبر په تعريفاتو کې جنس قريب وی او جنس قريب د دې لپاره اسم دی اواسم نکره مراد ده نو په دې تنکير د اسم کې اشاره ده ديته چې موصوفيت دما اولی دی دموصوليت نه، اوس په دې سره يواعتراض دفع شو منشأ د اعتراض دا ده چې معترض دا ما عبارت اخستی دی د شي يا لفظ نه نو وايی چې دا تعريف ستا مانع نه شو د دخول د غيرنه داخل شو پکې دال د زيد په ځای زيد کې دايو شی دی اومشتمل دی په علامه د فاعل باندې چې رفع ده حالانکه دا خو فاعل ندی، او دارنګې دا تعريف صادق شو په فعل مضارع باندې دا هم يو لفظ دی او مشتمل دی په علامه دفاعل چې رفع ده حالانکه دا خو فاعل نه دی.
جواب: دا اعتراض به تا هله کولی چې دا ما په دې مقام کې عبارت وی دلفظ يا د شئ نه ليکن دا عبارت دی د اسم نه او دغه دال او فعل مضارع اسم نه دی نو لهذا دغه خارج شو د دې تعريف نه.
سوال: اشتمال پنځه قسمه دی. (۱) اشتمال د ظرف په مظروف. (۲) اشتمال د کل په جزء باندې (۳) اشتمال د حال په ذوالحال. (۴) اشتمال دموصوف په صفت. (۵) اشتمال د دال په مدلول، او دلته خو يو هم نه صحيح کيږي اشتمال د کل په جز خو ځکه نه صحيح کيږي چې دا علامه جز نه ده د فاعل نه او موصوف صفت ځانله نه صحيح کيږي چې هلته صفت حمل وی په موصوف باندې او دلته حمل نه دی صحيح يعنې الفاعل رفع ويل نه دی صحيح دارنګې دا نور هم نه صحيح کيږي کما هو الظاهر.
جواب: زه وايم چې مشتمل به وی دقبيلې داشتمال دکالموصوف نه په صفت باندې لکه څنګه چې صفت بدون الموصوف نه موجوديږی نو دارنګې دا رفع بدون الاسم نه موجوديږی.
سوال: دا تعريف ستا جامع نه شو افرادو خپلو لره خارج شو ترې بلغنی انك قائم ځکه دا اسم نه دی.
جواب: دا اسم عام دی که حقيقتا وی او که تاويلاوی.
سوال: علم په درې معانيوسره راځي. (۱) بمعنی غر. (۲) بمعنی اسم. (۳) بمعنی علامه دلته کومه مراد ده که غر يا اسم ترې اخلی نومعنی نه صحيح کيږي او که علامه ترې اخلی نوترجيح بلامرجح راځي؟
جواب: داپه معنی دعلامې سره دی اوترجيح بلامرجح نه راځي، ځکه قرينه او مرجح د دې لپاره عدم صحت دمعنيينواخرينودی. **الفاعلية** کې داياء اوتاء مصدری دی يعنې علامه د کون د شي فاعل.
سوال: زيد قائم ترې ووتلو ځکه دلته علامه شته چې رفع ده حالانکه دا خوبوهم فاعل نه دی بلکه زيد مبتدأ ده اوقائم خبردی.
جواب: فاعل عام دی که حقيقتاوی او که حکما وی حقيقتا خوظاهر دی اوفاعل حکما ديته وايي چې مشتمل وی په يو صفت دصفتينو دفاعل چې کون د دې دی مسند اليه، ياوقوع په مرتبه ثانی د جملې

کې نو زید دلته مسندالیه دی او قائم واقع دی په مرتبه ثانی کې او علامی دفاعلیت درې دی. (۱) ضمه نحو جاءنی زید (۲) الف نحو جاءنی رجلان. (۳) واو نحو جاءنی اخوك.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په جاءنی موسی سره دې کې خو یوه علامه هم نشته؟

جواب: دا علامه عامه ده که لفظاوی او که تقدیرا وی دلته تقدیرا ده.

سوال: ضرب هؤلاء ترې خارج شو دلته خو نه لفظا شته او نه تقدیرا شته؟

جواب: دا عامه ده که لفظا وی او که تقدیراً وی او که محلاً وی دلته محلا ده.

سوال: مصنف دا سې ولې و نه ویلې چې ما اشتمل علی الرفع چې اختصار راغلی وی په کلام کې.

جواب: که دا سې یې ویلې وې نو اخذ د محدود راتلو په حد کې ځکه د مرفوعاتو په خیته کې رفع پرته ده او اخذ د محدود په حد کې باطل دی. **فمنه الفاعل:** هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د مرفوعات نه اجمالا نو شروع یې وکړه په بیان د مرفوعات کې تفصیلا نو وې ویل. فمنه الفاعل نو دا فاء په دې مقام کې تفصیله ده په دې سره تفصیل د مرفوعات کوی.

ترجمه: (۱) بعض د افرادو د جنس مرفوع نه یا بعض د افرادو د ما اشتمل نه فاعل دی.

(۲) یو جزئی د جنس مرفوع نه یا یو جزئی د جنس ما اشتمل نه فاعل دی، او هر کله چې په اصل د مرفوعاتو کې دوه مذهبه وو. (۱) یو مذهب د جمهورو دی. (۲) او بل مذهب د سیبویه او جارالله دی، او عند الجمهور اصل په مرفوعاتو کې فاعل دی او عند سیبویه وجارالله اصل په مرفوعاتو کې مبتدأ ده او مختار عند المصنف مذهب د جمهورو دی نو ځکه یې فاعل مقدم کړو.

تشریح: سوال: فاء راځي په استعمال د کلام د عربو کې په ګڼو معانیو سره دلته په کومه معنی سره ده یعنې دا کوم قسم ده؟ **جواب:** فاء په دې مقام کې تفصیلیه ده یعنې مخکې اجمال وو اوس تفصیل کوی.

سوال: من په استعمال د کلام د عربو کې په ګڼو معانیو سره راځي او دلته د دې نه متبادر څلور معانی دی. (۱) تبعیضیه. (۲) بیانیه. (۳) ابتدائیه. (۴) قسمیه. او دا یو هم نه صحیح کیږي تبعیضیه خو ځکه نه دی صحیح چې د هغې علامه دا ده چې داخلیږي په تثنیه او جمع باندې او د دې مدخول ضمیر د مفرد دی او بیانیه ځکه نه دی صحیح چې هغه بیان وی د ما قبل لپاره او دا بیان نه دی د ما قبل لپاره او من ابتدائیه هم نه دی صحیح ځکه چې هغه ګرځوی مدخول خپل مبتدأ منه لپاره د غیر او په مقابل کې یې الی راځي او دلته الی نشته او من قسمیه هم نه دی صحیح ځکه مصنف څوڅه قسم نه خوری مثال د من قسمیه لکه النار في الشتاء خیر من الله ورسوله، دلته په دی مقوله کې دا من ظاهرا تفضیلی معلومیږي نو ظاهرا دا ترکیب نه دی صحیح نو جواب دا دی چې دا من تفضیلی نه دی بلکه من قسمیه دی.

سوال: چې من قسمیه شی بیا هم نه صحیح کیږي ځکه چې دا خو بیا قسم راغلو په غیر الله او حدیث کې راځي چې من حلف بغیر الله فقد اشرك.

جواب: نو جواب دا دی. چې د دې سره زمونږه کار نشته چې سړی پرې کافر کیږي او که نه لیکن مثال صحیح دی ځکه د مثال لپاره فرض هم کافی کیږي.

سوال: دامن چې قسميه راځي نوهغې کې خوشرط دا دی چې مقسم به دهغې به اسم ظاهر وی او بيا خاصکر لفظ درب به وی لکه من رب لا فعلن کذلك څنګه چې تا راځي دقسم لپاره او مدخول به يې اسم ظاهر وی اولفظ دالله به وی، نو دلته خو مدخول د دې رب ندی.
جواب: مقسم به د دې به رب وی قياسا اواطرادا اودلته لفظ الله دی شاذا.
جواب: (۲) د هغه اصل اعتراض نه دا دی چې دامن تبعيضيه دی اوپه مدخول د دې کې تثنيث او جمعيت شرط نه دی بلکه شرط دا دی چې مدخول د دې به متعدد وی اودلته ذاضمير راجع دی جنس مرفوع ته ياجنس ما اشتمل ته اوهغه متعدد دی. (۳) او که ومنم چې مدخول يې تثنيه اوجمع وی نو دلته يې هم مدخول جمع ده څکه دا عبارت دمصنف په حذف دمضاف سره دی ای فمن افراده.
(۴) يامن ابتدائيه دی، ليکن دا دوه قسمه دی. (۱) اتصاليه. (۲) غير اتصاليه.
اتصاليه ديته وايي: چې مدخول دهغې يو کلی وی لاندې ترې جزئيات وی، اوددغه من نه وروسته يو جزئی ذکر وی، اوغير اتصاليه ديته وايي: چې مدخول د دې مکان يازمان مبتدأ به دفعل وی او مقابل کې يې الی راځي، اودلته من اتصاليه دی څکه مدخول کلی دی چې جنس مرفوع دی او وروستو ترې جزئی ذکر دی چې فاعل دی او د دې مقابل کې الی نه راځي. **فمنه** کې داضمير دغائب دی دامرجع غواړي اوپه مرجع د دې کې دوه احتماله دی هريو ته چې راجع شی نودوه پکې حسنه دی اودوه پکې قبحه دی که مرفوع ته راجع شی نوحسن پکې دا دی چې ضمير راجع شو مقصودته. (۲) انضباط د ضميرينو راغلو اوقبحي پکې دا دی چې يو ضمير راجع شو بعيدته، او بل ضمنی ته راجع شو او که راجع شی ما اشتمل ته نويو حسن پکې دا دی چې ضمير راجع شو قريب ته او بل راجع شوصريحي ته، او قبحي پکې دا دی چې يو خو ضمير راجع شو غيرمقصود ته اودويم انتشار دضميرين راغلو.
سوال: مرفوعات اته دی او دا ټول سواسی دی په قسميت کې نوفاعل دی ولې مقدم کړو؟
(بالفاظ ديگر) صاحب د الفيه مبتدأ مقدم کړيده په نورو مرفوعاتوباندې نو تا فاعل ولې مقدم کړو؟
جواب: هر کله چې په اصل دمرفوعات کې اختلاف وو په نيز د جمهورو باندې اصل په مرفوعاتو کې فاعل دی او په نيز د سيبويه او جارالله باندې اصل په مرفوعاتو کې مبتدأ ده، دلائل د جمهورو دوه دی (۱) فاعل څکه اصل دی چې دا جز د جمله فعليه دی، او مبتدأ جزء د جمله اسميه دی او جمله فعليه اصل ده د اسميه نه څکه داموافق ده دغرض دمتکلم سره چې هغه اخبار دي لکه قام زيد او استخبار دی لکه هل قام زيدپه يو دازمنو ثلاثه ؤ کې يعنې دادال ده په غرض دمتکلم باندې تفصيلا او اصالت د کل دلالت کوی په اصالت دجزباندې.
(۲) فاعل اصل دی څکه عامل د دې لفظی د ی اوعامل دمبتدأ معنوی دی اوعامل لفظی قوی دی په نسبت سره عامل معنوی ته اوقوت دعامل دلالت کوی په قوت دمعمول باندې،
او د سيبويه او جارالله لپاره هم دلائل دوه دی: (۱) دا مبتدأ باقی ده په صفت اصلی په مسند اليه کې چې هغه تقديم دی. (۲) او دويم دليل دا دی چې مبتدأ محکوم عليه دی په حکم عامه سره څکه حکم د

کله جامد راځي نحو هذا زيد او کله مشتقي راځي نحو هذا قائم په خلاف د فاعل نه چې دا باقي دي لپاره په صفت اصلي د مسند اليه چې تقديم د ی او بل دا چې دا محکوم عليه هم نه دی په حکم هم نه دی په عامه سره بلکه محکوم عليه دی په حکم خاصه سره ځکه چې د دي لپاره محکوم به فعل اوشبه فعل راځي نه جامد. جواب د طرفه د جمهورو نه سيبويه اوجار الله زمخشري ته دا دی. چې دا تاخير په فاعل کې راغلی دی د وجې د عارض نه چې التباس دی د مبتدأ سره والعوارض لاتعتبر يعني دا تاخير مضر نه دی بلکه فاعل سره د تاخير نه هم اصل دی اولکه څنګه چې مبتدأ محکوم عليه دی په حکم داصالة د عامه سره دارنګې فاعل هم محکوم عليه دی په حکم عامه سره ځکه د دي لپاره فعل کله متصرف وی لکه ضرب زيد او کله جامد وی لکه نعم الرجل او بئس الرجل شو (ځکه نعم بئس ته افعال جامده وايي) او هر کله چې مختار عند المصنف مذهب د جمهورو وو نوده مقدم کړو فاعل، اوعند ابن مالك مختار مذهب د سيبويه او جار الله وو نو هغه متبدا مقدم کړه (لكل وجهة هو موليها)

سوال: فمنه الفاعل څه ترکيب دی؟ **جواب:** دی کې تراکيب خمسه دی ځکه دا قاعده ده چې اسم مرفوع چې وروسته د جار مجرور يا ظرف نه او واقع شي نو په هغې کې تراکيب اربعه جائز وی په طريقې د کليت سره يعني هر ځای او تراکيب خمسه پکې کيږي په طريقه د جزئيت سره، يعني په بعضی تراکيب کې کيږي نه هر ځای، اوس دلته تراکيب خمسه جائز دی.

(۱) منه جار مجرور په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم دی او الفاعل مبتدأ موخره ده.

(۲) منه ظرف دی او الفاعل فاعل د ظرف دي. (۳) منه جار مجرور متعلق دی ثابت مقدر پورې او الفاعل فاعل د ثابت دی نو شبه جمله ده او دا ترکيب بنا دی په مذهب د اخفش باندې ځکه د هغه په نيز باندې د عمل د صفت يا ظرف لپاره اعتماد شرط نه دی نو شو دا ترکيب د قبيلې د فائز اولوا لرشدنه.

(۴) منه متعلق دی په ثبت پورې او الفاعل فاعل د ثبت دی نو جمله فعليه شوه.

(۵) من بمعنی بعض مضاف (ه) مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه متبدا او الفاعل خبر د مبتدأ دی فاعل په لغت کې کارکننده ته وايي، او په اصطلاح د نحويانو کې **و هو ما اسند اليه الفعل او شبهه.** دا فاعل هغه اسم دی حقيقتا وی او که تاويلا وی چې نسبت کړی شوي دي دی اسم ته، او دا نسبت عام دی که تام وی او که ناقص وی نو دی کې مجاز مرسل دی ذکر د خاص دی او مراد ترينه عام دی اوقرينه پرې دا معطوف دی، اودا نسبت به ورته شوی وی بالذات نه بالواسطه، اودا نسبت عام دی که نفيا وی او که اثباتا وی او که خبر اوی او که انشاء وی.

الفعل: د فعل اصطلاحي صورتا **او شبهه** يا هغه اسم چې هغه مشابه دې د فعل اصطلاحی سره چې اسم فاعل اسم مفعول صفت مشبه او مصدر دی، او کلمه د او لپاره د تقسيم ده نه لپاره د شك او تردد نو دا منافي نه شوه د تعريف سره.

سوال: ما د الفاظو عامو نه دی دا عبارت د څه نه دی، د اسم نه يې عبارت وايي، او که د لفظ نه او که د شي نه **جواب:** دا عبارت دی د اسم نه.

سوال: داماعبارت د اسم نه ولې دی؟

جواب: ځکه چې دا اقسام د اسم دی اومقسم معتبر وی په تعریفاتو داقسام کې. (۲) معتبر په تعریفاتو کې جنس قریب وی اوجنس قریب دلته اسم دی، اود اسم نه به تعبیر په اسم نکره سره کیږي لپاره د دې چې اشاره راشی موصوفیت دماته ځکه داواقع دی په جانب دخبر کې.

سوال: تعریف دفاعل جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو ترې بلغنی انك قائم دلته جمله فاعل واقع شوی دی نه اسم؟ **جواب:** اسم عام دی که حقیقتا وی او که تاویلاً وی مثال داول لکه جاءنی زید اومثال د ثانی لکه بلغنی انك قائم ای قیامك.

سوال: اسند مشتق دی داسناد نه نو د دې نسبت دی فعل ته صحیح دی لیکن شبه فعل ته یې نسبت نه دی صحیح ځکه اسناددشبه فعل فاعل ته نه کیږي ماسوی ددوه ځایونونه ځکه اسناد ویلی کیږي نسبت احدی الکلمتین الی الاخری بحیث تفید المخاطب فائدة تامة اونسبت دشبه فعل فاعل ته نسبت تام نه وي؟ **جواب:** دا اعتراض به تا هله کولي چې دا کلام د مصنف بنا وي په حقیقت باندې لیکن دا بنا دی په مجاز باندې ځکه چې ذکر دخاص دي چې اسناد دي او مراد ترې عام دي چې نسبت دي نو د فعل او شبه فعل دواړو سره ولګیدو.

سوال: دا تعریف دفاعل جامع نه شو افرادو خپلوله خارج شو ترې ماجاءنی زیددلته نسبت نه دی شوی ځکه دافعل مثبت نه دی بلکه منفی دی؟

جواب: دانسبت عام دی که ایجابا وی او که سلبا وی او که خبرًا وی او که انشاء وی.

سوال: تعریف دفاعل مانع نه شو ددخول دغیر نه داخل شو پکې عمرو په جاءنی زیدوعمرو کې دلته عمروته اسناد د فعل شوي دي او دا خوفاعل نه دی بلکه معطوف دی.

جواب: مرادنسبت بالذات دی نه بالواسطه نو داترې خارج شو.

سوال: مصنف خواسنادمطلقا ذکرکړی دی نوته بالذات دکوم ځای نه اخلې.

جواب: مراد د نسبت نه نسبت بالذات دی په قرینه د ذکر د توابعوسره وروسته مستقلا.

سوال: دفعل نه مرادفعل لغوی دی که اصطلاحی ترې اخلې نو **او شبهه** ورسره لګی لیکن اسند ورسره نه لګی ځکه چې فاعل ته اسناد دفعل اصطلاحی نه کیږي بلکه اسناددفعل لغوی ورته کیږي چې حدث دی، او که دفعل نه مرادفعل لغوی شی نو بیاورسره اسند لګي لیکن اوشبهه ذکر کول بیا ندی صحیح ځکه چې دا مشابه دفعل لغوی سره نه دی بلکه په خپله فعل لغوی دی ځکه دلالت کوی په حدث باندې بلکه دامشابه دفعل اصطلاحی سره دی.

جواب: په دی عبارت دمصنف کې صنعة استخدام مشهور دی صنعة استخدام مشهور دیته وایي: چې د یو لفظ لپاره دوه معانی وی اوپه ذکر د اسم ظاهر سره ترې یوه معنی مراد شي اوپه ذکر د ضمیر سره ترې بله معنی مراد شي، نو دلته دالفعل اسم ظاهر نه مراد فعل لغوی دی او ضمیر چې ورته راجع دی نو د دې نه مرادفعل اصطلاحی دی اومثال دصنعة استخدام لکه په دې قول دشاعر کې.شعر:

اذانزل السماء بارض قوم رعیناه وان کانواغضابا

دلته د السماء لپاره دوه معانی دی مجازی په اسم ظاهر سره تړي يوه معنی مراد ده چې باران دی او په ضمير سره تړي بله معنی مراد ده چې ګياه ده.

سوال: دا تعريف دفاعل ستا باطل دی ځکه دا بنا دی په شك باندې او کوم تعريف چې بناوی په شك هغه صحيح نوي نو دا صحيح نه شو، اوس دا بنا په شك ولې دی نو ځکه چې مصنف دلته په دې تعريف کې کلمه د او ذکر کړې ده او کلمه د او راځي لپاره دشك.

جواب: دا تعريف بنادی په قطع باندې نه په شك ځکه کلمه داو هرځاى کې دشك لپاره نوی بلکه په مقام د تعريف کې چې راشي نو دا لپاره دتنويع اودتقسيم وی، نو دلته په دې کلمې د او سره اشاره وشوه تقسيم دفاعل ته چې فاعل دوه قسمه دی يوفاعل دفعل دی او بل فاعل دشبه فعل دی، اوس شبه فعل ځه ته وايي؟ نويوشبه فعل دی اويو معنی دفعل ده **شبه فعل** هغه اسم ته وايي چې متحد وی دفعل سره هم په دلالت دمعنی لغوی کې اوهم ورسره شريك وی په ماده کې لکه اسم فاعل اسم مفعول، صفت مشبه، اسم تفضيل، اومصدرشو، **اومعنی دفعل** هغه ته وايي چې اسم شريك وی دفعل سره په دلالت د معنی مصدری کې اوپه حروف اصليو اوماده کې ورسره شريك وی او كه نوی نوشبه فعل خاص او معنی دفعل عامه ده (دي کې اسم فعل هم داخل دی)

وقدم عليه على جهة قيامه به: په حال کون د دې فعل اوشبه فعل کې چې مقدم شوی وی هر واحدد دې فعل اوشبه فعل نه عليه په دې اسم باندې په تقديم وجوبی نوعی سره يعنې چرته چې فعل وی هغه به مقدم وی اوچرته چې فاعل وی هغه موخر وی، هسې اسنادچې واقع شوي دي على جهة قيامه په طريقې دقيام دفعل اوشبه فعل **به** په دې اسم پورې چې هغه اسناد د صيغې معلومی دی دی اسم ته) يعنې ماضی معلوم مضارع معلوم مشتقی معلوم) هر كله چې نائب فاعل داخل وو په عين فاعل کې په نيز د جارالله کې اوهر كله چې نائب فاعل خارج وو د فاعل نه په نيز د مصنف باندې نوده دا قيد ذکر کړو په تعريف دفاعل کې لپاره داخراج دنائب فاعل دعين فاعل نه فلا مناقشة في الاصطلاح

تشريح: سوال: قدم صيغه د واحد مذكر فعل ماضي مجهول ده ضمير پکې مستتردی هغه چا ته راجع دی؟ **جواب:** داراجع دی فعل اوشبه فعل ته.

سوال: په مابين دراجع اومرجع کې مطابقت شرط دی اودلته خومطابقت رانغلو؟

جواب: کله چې امرين ذکر شی په جانب دمرجع کې په کلمه داو سره نوضمير دمفردورته راجع کيږي قياسا اواطرادا ځکه چې هغه عبارت وی داحد الامرين نه.

سوال: دا قدم فعل مجهول سره دنائب فاعل اومتعلق نه ترکيب کې څه واقع شوي دي؟

جواب: داحال دی دنائب فاعل دا سندنه.

سوال: جمله فعليه چې حال واقع شی اوفعل پکې ماضی مثبت وی نو هلته لابدی وی د قد نه او دلته خو قد نشته نوته څنګه وايي چې داحال دی

جواب: د قد نه لابدی وی ليکن دا قد عام دی لفظا وی او كه تقديرا وی دلته اګر چې لفظا نشته ليکن

تقديرا شته اصل کې وقدقدم وو اود دې قبيلې نه دی داقول دالله (ج) ﴿أَوْ جَآءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ﴾ ای قد حصرت صدورهم.

سوال: دا قد غالبا ظاهر راځي نو دلته ولې ظاهر نه شوچې مقدرشو؟ **جواب:** ځکه چې د قد او د قدم په مينځ کې شبه دتجنيس خطی وه نو که ذکر شوی وی نوتکرار لازميدو.

سوال: دا تعريف دفاعل مانع نه شو ددخول دغيرنه داخل شوېکی مبتدألکه کريم من يکرمك، دلته دا کريم شبه فعل دی نسبت يې شوي دي من ته اومقدم شوي دي په هغه باندې حالانکه دا من خوفاعل نه دی بلکه دا خومبتدأ ده اوداکريم ورله خبر مقدم دی.

جواب: مونږ وايو چې دافعل اوشبه فعل به مقدم شوی وی په دغه اسم باندې په تقديم وجوبی سره او دغه تقديم وجوبي نه دی بلکه جوازی دی اصل ترکيب داسې دی چې من يکرمك کريم من يکرمك موصول مع صله مبتدأ اوکريم خبر دی بيا کريم مقدم شوي دي.

سوال: داسې ترکيب ولې نکوی چې من يکرمك فاعل دکريم دی. **جواب:** داسې ترکيب زه نه شم کولی ځکه چې صفت مشبه عمل کوی بشرط الاعتماد اودلته د دې کريم اعتماد په چا باندې نه دی راغلی

سوال: داسې ترکيب ولې نکوی چې کريم مبتدأ ده اومن يکرمك يې خبر دی؟

جواب: دغه ترکيب زه نه شم کولی ځکه دا قاعده ده چې دوه اسمين راشی او يو معرفه وی او بل نکره وی نودمعرفې نه به ته مبتدأجوړه وی اګرکه وروسته وی او د نکرې نه به خبر جوړه وی.

سوال: دا ترکيب مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو پکې فی الدار رجل ځکه دا رجل يواسم دی نسبت د شبه فعل ورته شوي دي چې فی الدار دی اودامقدم شوي دي په دې اسم باندې په تقديم وجوبي سره؟ **جواب:** مراد تقديم وجوبی نوعی دی اودلته تقديم وجوبی نوعی نشته بلکه تقديم وجوبی شخصی دی، ځکه که داتقديم وجوبی نوعی وی نو بيا به دنوع دخبر تقديم په نوع د مبتدأ باندې واجب وی حالانکه تقديم دنوع دخبرپه نوع دمبتدأباندې واجب ندی.

سوال: **علی جهة قيامه به** جارمجروردی او ده جار مجرور لپاره لابدي وي د اعراب محلی نه نو د دې اعراب محلی څه شی دی؟ **جواب:** دا منصوب دی محلا.

سوال: منصوبات خو دوولس دی دا کوم قسم دی؟ **جواب:** دامنصوب دی بنابر مفعول مطلق.

سوال: مفعول مطلق خو مصدر د فعل مذکورته وايي او دا خو مصدر نه دی؟

جواب: دا مفعول مطلق دی په اعتبار د موصوف محذوف سره ای اسناداً **علی جهة قيامه به.**

سوال: جارمجرور چې په ترکيب کې څه واقع کيږي نوپه اعتباردمتعلق سره واقع کيږي نو دا به يا متعلق وائی په دې اسناداً پورې او يا به يې متعلق وايي په اسندپورې اودواړه نه دی صحيح ځکه که دا متعلق کوی په اسند پورې نو لازميږي تقديم د صفت په موصوف باندې او دا ناجائز دی او که متعلق کوی په اسناداً پورې نو لازميږي کون دشئ واحدهم موصوف اوهم صفت او دا باطل دی.

جواب: دامتعلق په دغه يو پورې هم نه دی بلکه متعلق دی په مقدرپورې چې واقعا دی، جهة اصل کې وجه وو اودا مصدر بروزن فعل وو اوپه مضارع کې يې اعلال شوی وو نو داواوحذف شو په عوض کې يې

تا راغله په اخیر کی بیا جیم ساکن وو او ابتداء په ساکن باندې محال وه نو هغې لره کسره ور کړی شوه لان الساکن اذاحرك حرك بالکسر، اوقیام اصل کې قوام وو بیا واو واقع شو په مصدر کې وروسته د کسری او مخکې د الف نه او په صیغه د ماضی کې یې اعلال شوی وو نو دا بدل شو په یاء سره نو قیام شو.

سوال: متبادر د قیام نه دا دی چې دامعنی مصدری به صادره شوی وی د دې فاعل نه نو مرض زید مات زید وغیره ترې خارج شول؟ **جواب:** د قیام معنی دا ده چې د فعل ماضی معلوم مضارع معلوم مشتقی معلوم نسبت وشی اسم ته بیا عام دی که دامعنی مصدری صادره شوی وی د هغه نه او که صادره شوی نوی لیکن نفس قیام یې راغلی وی په هغه پورې.

سوال: دا کتاب مأخوذ دی د کتاب د جار الله نه او هغه خو علی جهة قیامه به قید ندی ذکر کړی نو مصنف ولې ذکر کړو؟ **جواب:** د هغه په نیز باندې نائب فاعل داخل وو په فاعل کې نو دا قید یې ځکه نه دی ذکر کړی او عند المصنف نائب فاعل داخل نه دی په فاعل کې نو داقیدی ولګوو لپاره د دې چې دانائب فاعل خارج شی دتعریف دفاعل نه، په هر تعریف کې لابدی وی دجنس اودفصل نه ماعبارت دی د اسم نه داجنس دی اسندالیه کې نسبت بالذات مراد شو نو توابع ترې خارج شول اوقدم علیه سره احتراز راغلو د کریم من یکرمك نه او د فی الدار رجل نه اوعلی جهة قیامه به سره نائب فاعل خارج شو، مثال د فاعل لکه زید شو په قام زید کی نو دلته دازید اسم دی نسبت دفعل ورته شوي دي او دا فعل مقدم شوي دي په دې باندې په تقدیم وجوبی نوعی سره او دا نسبت ورته په طریقه دقیام سره شوي دي، او بل مثال لکه زیدقائم ابوه شو، دلته ابوه فاعل دی ځکه چې دایو اسم دی اونسبت دشبه فعل ورته شوي دي په طریقه دقیام سره اودغه شبه فعل مقدم شوي دي په دې په تقدیم وجوبی نوعی سره.

سوال: مثال ذکر کولی شی لپاره دوضاحت دممثل او د وضاحت دممثل لباره یو مثال کافی وو نو دوه یې ولې ذکر کړه؟ **جواب:** تعدد دمثال بنا دی په تعدد دممثل باندې ځکه فاعل دوه قسمه دی (۱) فاعل دفعل (۲) فاعل دشبه فعل اول مثال دفاعل دفعل دی اودویم مثال دفاعل دشبه فعل دی.

سوال: مطابقت نشته په مابین دمثال اوممثل کې ځکه داقام زید خو فاعل نه دی بلکه دا خو جمله ده دارنګې زید قائم ابوه خو فاعل نه دی بلکه دا خو جمله ده.

جواب: دا إعتراض به تاهله کولی که دا عبارت بناوی په حقیقت باندې لیکن دا عبارت بنادی په مجاز باندې ذکر دکل دی اومرادترینه جزء دی نو دامجازمرسل شو.

سوال: صرف قائم ابوه یې ولې ذکر نه کړو دازید یې ورسره ولې ذکر کړو؟

جواب: اسم فاعل بدون الاعتماد عمل نه شی کولی نو دایی ورسره ذکر کړو لپاره اعتماد.

والاصل ان یلی الفعل: هر کله چې فارغ شو مصنف دبیان دتعریف دفاعل نه نوشروع یې وکړه په بیان د حکم دفاعل کې اوحکم دفاعل دوه قسمه دی (۱) ذاتی (۲) عارضی.

ذاتی یې مقدم کړو په عارضی باندې د وجې داصالت نه نووي ویل چې والاصل ان یلی الفعل.

ترجمه: اولی راجح مستحب اوماینبغی په فاعل کې په وخت دعدم دوجود دمقتضی دتقدیم وجوبی کې اوپه وخت دعدم دوجود دمانع کې **ان یلی الفعل** واقع کیدل دفاعل دی وروسته دعامل رافع دفاعل

نه متصل بلافصل په دې شان سره چې دفعل او دفاعل په مینځ کې به جدائی نوی راغلی په يومعمول
سره د معمولاتو د فعل نه ځکه دا فاعل جزء دی دفعل نه لفظا او معنی هر چې دی لفظا نوپه دلیل د
اسکان دلام کلمې سره په وخت داتصال دضمیر بارز مرفوع کې لکه ضرب متحرك دی نو هر کله چې
ورسره ذا (ت) متصل شو نو دا باء دضرب ساکنه شوه لپاره د دې چې لازم نه شی توالی داربع حرکات
فیما هو کالکلمة الواحدة اوهر چې دی معنی نو ځکه چې دافعل نه موجودیږی په وجودلفظی او ذهنی
او خارجی کې بې دفاعل نه، اواولی او راجح په جزکی اتصال دی دکل سره.

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی اوغرض ذمصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: ربط دا دی چې مخکې مصنف بیان دتعریف دفاعل وکړو اوس حکم دفاعل بیانوی، او غرض د
مصنف د دې عبارت نه بیان دحکم دفاعل دی چې وقوع دفاعل ده بعدالفعل متصل بلا فصل.
سوال: حکم دفاعل دوه قسمه دی. (۱) ذاتی. (۲) عارضی داحکم ذاتی دی که عارضی دی؟
جواب: دا حکم ذاتی دی.
سوال: دا حکم ذاتی یې ولې مقدم کړو په حکم عارضی باندې؟ **جواب:** دایې مقدم کړود وجې داصالت نه
ځکه داثابت دی فاعل لره باعتبارالذات اوحکم عارضی ورله ثابت دی د وجې دامر عارض نه.
سوال: اصل په استعمال د کلام دعربو کې په پنځه معانیو سره راځي.
(۱) بمعنی مایبتنی علیه غیره. (۲) بمعنی دلیل. (۳) بمعنی اولی اوراجح. (۴) بمعنی استصحاب الحال
(۵) بمعنی قاعده کلیه لکه صاحب دفصول اکبری وایي: والاصل الخ، نو بنا پدې قاعده ضابطه اصل
او قانون الفاظ مترادفه دی وضع کړی شوی دیو معنی لپاره چې حکمٌ کلیٌ منطبقٌ علی جزئیاته، اوس
معترض داصل نه قاعده کلیه اخستی ده نو اعتراض کوي چې هر کله قاعده کلیه په فاعل کې دا شوه
چې دا به ذکر کیږي وروسته د فعل نه متصل بلافصل نو بیا پکارده چې ضرب عمرازید دې جائز نه
شی حالانکه دا خوجائز دی؟ **جواب:** دا اعتراض به تا هله کولی چې اصل په معنی دقاعدی کلی سره وی
لیکن دلته اصل په معنی د اولی راجح اوماینبغی اومستحب سره دی نو ضرب زید بکرا مستحب دی
اوضرب بکرا زید مباح دی په شریعت نحوی کې.
سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په ضربتك سره دلته یلی کیدل دفاعل فعل ته فرض دي او دارنګې
دا قاعده ستا منقوضه شوه په ضربك زید سره دلته واقع کیدل دفاعل پس دفعل نه متصل ممتنع دی.
جواب: اصل په فاعل کې دا دی چې ذکر کیږي به وروسته دفعل نه متصل بلافصل لیکن په وخت دعدم
د وجود دمقتضی دتقدیم وجوبی کې اوپه وخت دعدم دمانع کې اودلته په ضربتك کې تقدیم دفاعل
واجب دی د وجې دمقتضی دتقدیم وجوبی نه چې کون دفاعل دی ضمیر متصل اوپه ضربك زید کې
فاعل موخر کول واجب دی ځکه دلته مانع موجود دې دتقدیم نه چې کون دمفعول دی ضمیر متصل.
سوال: ته وایي چې اصل په فاعل کې یلی دفاعل ده فعل ته نو یلی مشتقی دی دولی نه اتصال ته وایي
او اتصال دوه قسمه دی. (۱) قبلی. (۲) بعدی دلته کومه مراد ده؟ **جواب:** دلته مراداتصال بعدی دی.

سوال: مصنف خویلی مطلق ذکر کړی دی نوته بعدی دکوم ځای نه معلوموی؟

جواب: دا زه معلوموم په قرینی د دې قول دمصنف سره چې وقدم علیه دهغې نه معلومه شوه چې تقدیم د فاعل ممتنع دی اوتقدیم دفعل واجب دی نوځکه دیلی نه مراداتصال بعدی دی.

سوال: ضرب عمرازیدکی خو هم زید وروسته دفعل نه دی نوپکار ده چې دا دی هم اصل شی حالانکه دیته خو څوك اصل نه وایي؟

جواب: مرادمطلق بعدالفعل نده بلکه چې واقع شی بعدالفعل متصل بلافصل نوهله به اصل وی

سوال: بیا خو پکارده چې ضرب الرجل دی اصل نه شی ځکه چې دلته فصل راغلی دی بین الفعل والفاعل په الف لام سره حالانکه دا خواصل دی. **جواب:** دا اصل دی ځکه معنی دیلی دا ده چې فصل به نوی راغلی په مابین دفاعل اوفعل کې په یو معمول سره دمعمولاتو دفعل نه اودلته فصل راغلی دی الف لام سره اودادمعمولاتو دفعل نه ندی نوځکه داترکیب اصل شو یلی، اصل کې یولِّیُ وو نو بیا دا واو تری حذف شو په قاعده دیعد سر اوضمه دیاء نه وغورځیده په قاعده دیرمی باندې نو یلی شو، ځکه دا لفیف مفروق دی اودلفیف مفروق دفاء سره معامله کولی شی معامله دمثال اودلام سره یې معامله کولی شی معامله دناقص لیکن بیاچی ان پرې داخل شو نو یلی شوځکه دامضارع مفردمعتل یائی ده او دا منصوب راځي په فتح سره لفظا.

سوال: لکه څنګه چې اصل په فاعل کې واقع کیدل دفاعل دی وروسته دفعل نه متصل بلافصل نو دارنګې اصل په فاعل کې واقع کیدل دفاعل وروسته دشبه فعل نه هم دی نو هغه دی ولې ذکر نه کړو؟ **جواب:** دا اعتراض به تا هله کولی که چرته دا عبارت دمصنف بنا وی په حقیقت باندې لیکن دا عبارت دمصنف بنا دی په مجاز باندې ذکر د خاص دی او مراد ترې عام دی چې عامل رافع دفاعل دی بیا عام دی که فعل وی او که شبه فعل وی.

سوال: اصل په کلام کې حقیقت دی اومجاز خلاف الاصل دی نوان یلی الرافع یې ولې ونه ویل؟

جواب: په دې مجازکی اشاره ده اصالت ددغه خاص ته چې فعل دی.

سوال: اولی اوراجح په فاعل کې **یلی الی الفعل** ولې ده؟

جواب: ځکه چې فاعل جز دی دفعل نه لفظا اومعنا الخ، اوس د دې نه مقایسة داخبره معلومه شوه چې اصل په مفعول کې تاخیر دمفعول دی دفاعل نه اوداحکم بیان کړی صاحب دالفیه صراحتا پدی شعر کې:

والاصل فی الفاعل ان یتصلا والاصل فی المفعول ان ینفصلا

ځکه چې دا جزء ندی د فعل نه، نه لفظا اونه معنی هرچی دی عدم جزئیت د دې لفظا نوپه دلیل دعدم اسکان د لام کلمې د فعل سره په وخت داتصال دضمیر منصوب کې نحوضربك زید او هر چې دی معنی نو ځکه چې دا محتاج الیه دفعل نه دی پشان دفاعل ځکه چې فاعل محتاج الیه د هر فعل وو او دا محتاج الیه دفعل لازم نه دی فقط محتاج الیه دی دفعل متعدی لپاره اوبیا فعل متعدی محتاج وو فاعل ته په وجودات ثلاثه کې اومفعول ته محتاج وی په وجودین کې چې وجود ذهنی او وجود خارجی دی نه په وجود لفظی کې ځکه په لفظ کې حذف دمفعول جائز دی

فلذلك: پس د وجې د دې اصالت مذکوره نه لازم شو دفاعل لپاره تقدم رتبي اودمفعول لپاره تأخر رتبي او د وجې دتقدم نه **جاز** جائز دی داترکیب **ضرب غلامه زید** مرادپدی سره هر هغه ترکیب دی چې ضمیر متصل شوی وی په مفعول مقدم سره یعنې مضاف الیه دمفعول وی او راجع وی فاعل موخر ته ځکه په دې کې اضمار قبل الذکر ذی لفظافقط نه رتبتا ، اود وجې د تأخر رتبي دمفعول نه.

وامتنع: ممتنع دی داترکیب **ضرب غلامه زیدا** ، مرادپدی سره هرهغه ترکیب دی چې ضمیر متصل شوی وی د فاعل مقدم سره اوراجع وی مفعول موخرته او دا فاعل اومفعول دیوفعل لپاره وی ځکه په دی کې اضمار قبل الذکر راځي لفظا او رتبتا عندالجمهور، او دا ناجائز دی اواخفش او ابن جنی وایي: دا جائز دی.

تشریح: دافاء چې په دې مقام کې راغلی ده دیته فاء دنتیجه وایي، یعنې د دې حکم ذاتی د فاعل نتیجه دا ده چې ضرب غلامه زیدجائز دی، اوضرب غلامه زیدا نه دی جائز اودالام تعلیلی دی او ذلك کې ذا اسم اشاره ده اودی سره یې اشاره وکړه دغه حکم دفاعل ته اولام پکې لپاره د بعد دی اوکاف حرف خطاب دی، نواوس معنی د دې داشوه چې **فلذلك**، پس نتیجه د وجې د دې حکم ذاتی فاعل نه تا ته وایم ای مخاطبه دا ده چې جائز دی ضرب غلامه زیدالخ

سوال: داتفریع باطله ده ځکه دا خو تفریع د میائن ده په مبائن باندې د دې خو دا معنی شوه چې د وجې د اتصال دفاعل نه جائزشو داترکیب چې ضرب غلامه زید نو دلته خوفاعل متصل د فعل سره نه دی ذکر شوی بلکه وروسته دی اوپدی بل مثال کې متصل دی نوهغې ته ځنګه ممتنع وایي؟

جواب: دا اعتراض به تاهله کولی چې داتفریع په دې مذکور باندې وی لیکن داتفریع په دې مذکور نده بلکه داتفریع ده په مقدر باندې اوهغه مقدر تفریع ده په ماقبل باندې، نومعنی دا شوه چې د وجې د دې حکم ذاتی دفاعل نه ثابت شو دفاعل لپاره تقدم رتبي اومفعول لپاره تأخر رتبي او د وجې دتقدم رتبي دفاعل نه جائزدی ضرب غلامه زیدځکه دلته اضمار قبل الذکر لفظاراځي نه رتبتا او دا جائزدی او د وجې د تأخر رتبي دمفعول نه ممتنع دی دا ترکیب چې ضرب غلامه زید ځکه چې په دې کې لازمیږي اضمارقبل الذکرلفظا اورتبتا او دا جائز ندی، هرچې دی لفظانو دا خوظاهر دی اوهر چې دی رتبتانو ځکه چې مرتبه دمفعول وروسته وی د مرتبي دفاعل نه، لیکن داضرب غلامه زیداممتنع مطلقا نه دی بلکه په دی کې مذهبین دی یو مذهب د جمهورو دی او بل مذهب داخفش اوابن جنی دی دا جائزدی په نیز-د اخفش اوابن جنی، اوممتنع دی په نیز دجمهورو اومصنف دلته داخپل عبارت بنا کړی دی په مذهب د جمهورو باندې

پس زده کړه داخبره چې اضمارقبل الذکرلفظا اورتبتا درې قسمه ده. (۱) یوقسم هغه دی چې ناجائزدی بالاتفاق لکه صاحبها فی الدار. (۲) جائزدی بالاتفاق په مواضع خمسه ؤ کې. (۱) په ضمیر شان کې نحو ﴿ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴾ (۲) په ضمیر دنعم کې نحونعم رجلازید. (۳) په ضمیر درب کې نحوربه رجلا. (۴) په باب دتنازع کې. (۵) چې اسم ظاهر بدل واقع شی دضمیر نه نحوضربته زیدا، یا لکه ﴿ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ ﴾ او دریم قسم مختلف فیه دی لکه ضرب غلامه زیداکې داپه نیز د جمهورو ناجائز دی اوپه

نیز داخفش اوابن جنی جائزدی نواضمارقبل الذکر لفظا او رتبتا عند الجمهور جائز دی په پنځه ځایونو کی او په نیز داخفش اوابن جنی جائزدی په شپږوځایونوکی لیکن دا خبره بناده په ظاهرباندې اواصل خبره دا ده چې اخفش اوابن جنی وائی اضمارقبل الذکر فقط لفظا راغلی دی نه رتبتا ځکه که هغو اضمار قبل الذکر لفظا اورتبتا هر ځای جائز منلی ددغه پنځه ځایونو نه علاوه نو بیا پکاروه چې صاحبها فی الدارته یې هم جائز ویلی وی حالانکه هغې ته خو دوی جائز نه وایي بلکه هغه وایي چې ضرب غلامه زیدا کې اضمارقبل الذکر فقط لفظا دی، نه رتبتا ځکه چې رتبتا دامفعول مقدم دی ځکه لکه څنګه چې اصل په فاعل کې دا ده چې متصل دی ذکر شی فعل ته نو اصل په مفعول کې هم دا ده چې متصل ذکر شی فعل سره، او دلائل دهغوی دوه دی: (۱) یو دلیل عقلی دی او بل دلیل نقلی دی، دلیل عقلی دا دی چې لکه څنګه چې فاعل محتاج الیه دفعل دی نو دارنګې مفعول هم محتاج الیه دفعل دی ځکه فعل چې څنګه محتاج دی په صدورکی فاعل ته نو دارنګې محتاج دی په وقوع کې مفعول ته، اودلیل نقلی یې یو دا شعر دی:

جزی ربه عنی عدی بن حاتم جزاء الکلاب العاویات وقدفعل

دلته ضمیر متصل شوي دي په فاعل مقدم پورې اوراجع دی مفعول متأخرته نومعلومه شوه چې دا جائز دی ځکه شعر په شریعت عربی کې پشان دنص دی په شریعت محمدی کې، اودویم دلیل نقلی یې دا قول د شاعردی:

لماعصی اصحابه مصعبا ادی الیه الکیل صاعابصاع

دلته هم ضمیر متصل شوي دي دفاعل متقدم سره چې اصحاب دی اوراجع دی مفعول متأخر ته چې مصعبا دی، اودریم دلیل داقول دشاعردی: شعر

جزی بنوه ابا الغیلان عن کبر وحسن فعال کما یجزی سنمار

دلته هم ضمیر متصل شوي دي دفاعل متقدم سره چې بنودی اوراجع دی مفعول متأخر ته چې ابا الغیلان دی، او څلورم دلیل داقول دشاعردی:

الالیت شعری هل یلومن قومه زهیراعلی ماجرمن کل جانب

دلته هم ضمیر متصل شوي دي دفاعل متقدم سره چې قوم دی اوراجع دی مفعول متأخر ته چې زهیر دی، نو که دا جائز نه وی نو پدی دومره اشعارو کې به نه راتله، لیکن مذهب د اخفش او د ابن جنی کمزوری دی، ځکه چې یوځوېدی عمل ممکن نه دی ځکه که فاعل مخکې ذکر کوی نو مفعول وروسته کیږي او که مفعول مخکې کوی نوفاعل وروسته کیږي، او بل دا چې جمهور جوابونه کوي د دوی د دلائلونه، هرچی دی جواب ددلیل عقلی نه دا دی: چی قیاس دمفعول په فاعل باندې قیاس مع الفارق دی ځکه چې یوخوفاعل محتاج الیه دهر فعل دی اومفعول به محتاج الیه دفعل متعدی دی فقط نه دفعل لازم، اودویم دا چې فاعل محتاج الیه دفعل دی په وجودات ثلاثه ؤ کې او مفعول محتاج الیه دفعل دی په وجودینو کې چې وجودذهنی او وجود خارجی دی اومحتاج الیه دفعل نه دی په وجود لفظی کې ځکه په لفظ کې حذف دمفعول جائز دی

مسئله: که چرته سړی په مانځه کې تلفظ ونه کړی په فاعل باندې اوهغه ذکر وي په قران کې نومونځ فاسدیږی او که مفعول په قران کې ذکر وي اوسړی پرې تلفظ ونه کړی نومونځ نه فاسدیږی ځکه حذف د مفعول جائزدی، اوجواب ددلیل نقلی نه یعنې ددغه اشعارونه دا دی چې په دې شعر اول اوثانی کې دا ضمیر راجع دی مصدردفعل مذکورته ای جزئی رب الجزاء، وعصی اصحاب العصیان، اودادریم او ځلورم شاذ دی. (۲) اودویم جواب د دې تولو نه دا دی چې دا راغلی دی د وجې دضرورت شعری نه یجوز في الشعر ما لایجوز فی غیره.

سوال: **جاز** فعل دی او **ضرب غلامه زید** یې فاعل دی دارنګې وامتنع فعل دی او **ضرب غلامه زیدا** یې فاعل دی، او فاعل کې لابدی وی د اسمیت نه اودا خواسم نه دی بلکه جمله ده.

جواب: فاعل کې لابدی وی د اسمیت نه لیکن اسمیت عام دی که حقیقتاوی او که تاویلاوی دا اګرچې حقیقتا اسم نه دی لیکن تاویلا اسم دی ځکه معنی د دې دا ده چې جائزدی ترکیب دضرب غلامه زید او ممتنع دی ترکیب دضرب غلامه زیدا.

سوال: ته وایې چې ضرب غلامه زید ممتنع دی نوممتنع خوهغه ته وایې چې په خارج کې وجودنه لری او دا خو موجود دې په خارج کې لکه دلته مصنف په خپله ذکر کړی دی.

جواب: د دې معنی دانده چې داپه خارج کې وجودنه لری بلکه معنی د دې دا ده چې ممتنع دی استعمال د دې په کلام دعربو کی اوپه شریعت دنحوه کې.

واذا انتفى الاعراب فيهما لفظا والقرينة: هر کله چې فارغ شو مصنف دبیان دحکم ذاتی دفاعل نه چې تقدیم او لوی دفاعل وو په مفعول باندې نوشروع یې وکړه په حکم عارضی دفاعل باندې چې تقدیم وجوبی د فاعل دی په مفعول باندې د وجې دعارض نه نووی ویل **واذا انتفى** الخ بیا داواذانتفی الاعراب جمله شرطیه ده یعنې داشرط دی او **وجب تقديمه** یې جزاده اوغرض دمصنف په دې جمله شرطیه کې دبیان دمواضع اربعه دتقدیم وجوبی دفاعل دی په مفعول باندې.

پس زده کړه داخبره چې فاعل په اعتباردتقدیم سره په مفعول به باندې درې قسمه دی. (۱) واجب التقدیم (۲) ممتنع التقدیم (۳) اولی بالتقدیم. نو مصنف دلته اول مواضع دتقدیم دفاعل په مفعول باندې بیانوي اوبیا مواضع اربعه دامتناع دتقدیم دفاعل په مفعول باندې بیانوی، نومطلب داشو چې فاعل واجب التقدیم دی په مفعول باندې په مواضع اربعه ؤ کې اوممتنع التقدیم دی په مواضع اربعه ؤ کې او اولی بالتقدیم دی د دې اته مواضع نه علاوه په هر ځای کې.

ترجمه: کله چې منتفی شی. (۲) که چیری منتفی شی **الاعراب** امر داله په فاعلیت دفاعل اوپه مفعولیت د مفعول باندې بالوضع **فيهما** په فاعل اومفعول دواړو کی چې فاعل مخکې مذکور دی صراحتا او قصدا اوپه ضمن د امثله ؤ کی اومفعول مخکې مذکوردی په ضمن دامثله ؤ کې تبعا، لفظا د جهة د لفظ نه لا من حیث التقدیر والمحل والقرینة، اومنتفی شی امر د اله په فاعلیت د فاعل او مفعولیت باندې لابالوضع.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی اوغرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط خودماقبل سره دا دی چې مخکې مصنف حکم ذاتی دفاعل بيان کړو چې تقديم اولوی د فاعل وو په مفعول باندې نو اوس حکم عارضی دفاعل بيانوی چې تقديم وجوبی دفاعل دی په مفعول باندې د وجې دعارض نه اوغرض دمصنف بيان دمواضع اربعه ؤ دی. چې په هغې کې فاعل مقدم کولی شی په مفعول باندې په تقديم وجوبی سره د وجې دامر عارض نه.

سوال: دلته کلمه داذاراغلی اودا په استعمال د کلام دعرب کې درې قسمه راځي: (۱) ظرفی (۲) شرطی (۳) مفاجاتی. دلته دا کوم قسم دی؟ **جواب:** داشرطيه دی بمعنی ان ای ان انتفی الاعراب.

سوال: هر کله چې کلمه داذاشرطيه شوه نو انتفی الاعراب الخ، شرط شو نو دا خو تقاضه د جزاء کوی جزاء بې کومه ده؟ **جواب:** جزاء د دې وروسته ذکر ده چې **وجب تقديمه**.

سوال: په جزاء کې لابدې وی دفاء نه اودلته فاء نشته؟

جواب: جزاء دشرط په اعتبار د دخول دفاء سره درې قسمه ده: (۱) واجب الفاء (۲) ممتنع الفاء (۳) جائز الفاء. دلته ممتنع الفاء ده ځکه جزاء شرط چې جمله فعليه وی اوفعل يکې ماضی متصرف او خالي وی د قد نه لفظا او تقديرا او په مقام د دعا کې نه وی مستعمل شوی نو هغه ممتنع الفاء وی.

سوال: دلته معترض اعتراض کړی دی په دې مصنف باندې منشأ داعتراض دوه خبری دی.

(۱) دمعترض خيال دا دی چې قرينه عامه ده اواعراب خاص دی.

(۲) فرض منصبی د کافيه ملا اختصار دی اوس داسې ويل پکار وو چې واذا انتفی القرينة فيهما نو په نفی د قرينی سره نفی داعراب راتله، ځکه نفی دعام مستلزم ده نفی دخاص لره.

جواب: دا دی چې دا اعراب او قرينه ضدين دی عام اوخاص ندی، ځکه اعراب هغه امرته وايي چې دلالت کوی په فاعليت دفاعل او مفعوليت دمفعول باندې بالوضع اوقرينه دلالت کوی په فاعليت الخ ليکن دی لابالوضع او په نفی د يو ضد سره نفی دضد اخر نه راځي، نو ځکه يې دواړه ذکر کړي دي.

(۲) يا جواب دا دی چې د اوالقرينة چې کافيه ملا ذکر کړی دی دا بنا دی په يوه قاعده باندې قاعده دا ده چې عام چې ذکر شی پس دخاص نه نومراد پدی عام سره باقی افراد وی، د دغه خاص نه نو دلته په قرينی سره باقی افراد مراد دی.

سوال: فيهما کې دا ضمير چا ته راجع دی؟ **جواب:** دا راجع دی فاعل اومفعول ته.

سوال: ارجاع دضمير فاعل ته صحيح ده ليکن مفعول ته نده صحيح ځکه چې مفعول مخکې نه دی ذکر شوی، نواضمارقبل الذکر راځي؟ **جواب:** ارجاع دضمير مفعول ته صحيح ده اواضمارقبل الذکر نه راځي ځکه فاعل خومخکې ذکر دی صراحتا او هم په ضمن دامثلوکی اومفعول اګر چې صراحتاندی ذکرليکن په ضمن د امثلو کی ذکر شوي دي.

سوال: لفظا ولې منصوب دی؟ **جواب:** دا منصوب دی بنابر تميزدنسبت دانتفی نه الاعراب اوالقرينة ته

سوال: تمیز چې واقع شی د نسبت نه نود هغې دوه قسمه دی (۱) محول عن الفاعل (۲) محول عن المفعول، دا کوم قسم دی؟ **جواب:** دامحول عن الفاعل دی اصل کې داسې وو چې اذا انتفی لفظ الاعراب ولفظ القرینة، نو دا لفظ اصل کې فاعل وو لیکن بیا د دې فعل نسبت د دې فاعل نه کټ شو او نسبت یې وشو الاعراب او القرینة ته نوپه دغه نسبت کې ابهام وو نو دا لفظا ترې نه تمیز واقع شو ځکه که دا یې تمیز نوي واقع کړی نومعنی به یې دا وی چې اعراب پکې منتفی شی مطلقا یعني لفظا او تقدیرا أو محلا، نوپه فاعل اومفعول کې اعراب لفظا تقدیرا اومحلادری واړه نه شی منتفی کیدی ځکه که اعراب پکې منتفی شی مطلقا نو دا خوبیا فاعل اومفعول نه شو بلکه مبنی اصل شو، حالانکه فاعل اومفعول خواسمین دی اواسم کې لابدی وی داعراب نه، په دې مقام کې مختلف صورتونه دی (۱) چې اعراب او قرینه منتفی شی لفظا اواعراب په دواړو کی تقدیراوی لکه ضرب موسی عیسی یا لکه ضرب غلامی غلامی. (۲) چې اعراب په دواړو کی محلا وی نحوضرب هؤلاء هؤلاء. (۳) یا په فاعل کې محلا وی اوپه مفعول کې تقدیرا وی نحوضرب هؤلاء موسی. (۴) یا په فاعل کې تقدیرا وی اوپه مفعول کې محلا وي نحوضرب موسی هؤلاء. (۵) چې اعراب موجود وی لفظا په دواړو کی او قرینه نوی لکه ضرب زیدعمرا. (۶) اعراب موجود وی په فاعل کې لفظا اوپه مفعول کې تقدیرانحوضرب زید موسی. (۷) چې فاعل کې تقدیرا وی اوپه مفعول کې لفظاوی نحوضرب موسی زیدا.
(۸) چې فاعل کې لفظاوی اوپه مفعول کې محلا وي نحوضرب زید هؤلاء. (۹) چې فاعل کې محلاوي اومفعول کې لفظاوی نحوضرب هؤلاء زیدا. (۱۰) چې اعراب هم وی لفظا په دواړو کې اوقرینه هم وی نحوضربت هندعمرا. (۱۱) چې اعراب منتفی وی په دواړو کې اوقرینه موجودوی معنی نحواکل الکمثری یحی. یالکه ارضعت الصغری الکبری. (۱۲) چې اعراب منتفی وی دواړو کی اوقرینه موجودوی لفظا، پس زده کړه داخبره چې قرینه لفظیه په څلورقسمه ده. (۱) تاء تأنیث نحوضربت موسی حبلی، ضربت موسی سلمی. (۲) اتصال دضمیر په احدهما پورې چې راجع وی مابعد ته لکه ضرب فتاه موسی دلته فتاه مفعول مقدم دی اوموسی فاعل مؤخر دی اوموسی مفعول نه شی ګیدی ځکه بیا لازمیږي اضمارقبل الذکر لفظا او رتبتا. (۳) تقدیم داحدهما په فعل باندې نحو عیسی ضرب موسی دلته عیسی علی التعین مفعول به دی اوموسی فاعل دی ځکه تقدیم دفاعل په فعل باندې نه دی جائزاوتقدیم دمفعول به جائز دی اوموسی فاعل دی ځکه تقدیم دفاعل په فعل باندې نه دی جائز اوتقدیم دمفعول به په فعل باندې جائز دی. (۴) ذکر دتابع داحدهما چې ظاهر الاعراب وی نحوضرب موسی الظریفُ عیسی نو دلته موسی فاعل دی او چې ضرب موسی الظریفَ عیسی شی نوموسی مفعول به ده، نو شو پدی مقام کې ټول صورتونه دولس او په دې اولنو څلورو صورتونو کی فاعل مقدم کولی شی په مفعول باندې په تقدیم وجوبی سره للالتباس، اوپه باقی اته صورتونو کی فاعل مقدم کولی شی په مفعول باندې په طریقه داولویت سره لعدم الالتباس.

سوال: ته وايي چې قرينه ديته وايي چې دلالت کوي په فاعليت دفاعل اومفعوليت دمفعول باندې لا بالوضع نو تا تأنيث خودلالت کوي په تأنيث دفاعل باندې وضعا نو ديته څنګه قرينه وايي؟

جواب: دا تا چې دکوم شي لپاره وضع شوې ده هغې ته زه قرينه نه وايم. اوزه چې کوم ته قرينه وايم د هغې لپاره دانده وضع شوي څکه داتاء په ضربت کې وضع شوې ده دتأنيث مطلق لپاره او قرينه ده په تعين دفاعل باندې اودتعين دفاعل لپاره نده وضع شوې

اوکان مضمرامتصلا: داعطف دی په انتفی باندې ای اذاکان الخ. يا وو دا فاعل دفعل ضمير داسې ضمير چې متصل وي اومفعول بياعام دی که اسم ظاهر وي نحوضربت زيدايا ضمير منفصل وي نحو ماضربت الاایاك. ياضمير متصل وي نحوضربتك. نوتقديم دفاعل واجب دی په مفعول باندې په دې شرط چې دا مفعول مقدم شوی نه وو په فعل باندې اندفع ماقيل چې دا قاعده ستا منقوضه شوه په زيدا ضربت سره. **او وقع مفعولا بعد الا** ياواقع شوی وي او ذکر شوی وي مفعول د دې فاعل پس دالانه په شرط د توسط دالاسره په مابين د دې دواړو کې نحوماضرب زيد الاعمرا

سوال: مفعول له کې ضمير چا ته راجع دی يا به راجع کوي فعل ته او يا به يې راجع کوي فاعل ته. که فعل ته يې راجع کوي نو اضمار قبل الذکر راځي، او که فاعل ته يې راجع کوي نو اضافت ورته نه صحيح کيږي څکه دا خو مفعول د فاعل نوی بلکه مفعول د فعل وي

جواب: دا ضمير راجع دی فاعل ته او اضافت ورته صحيح دی، څکه چې دا اضافت لامی دی ادنی ملابست او مناسبت غواړي، او هغه دلته شته چې دا دواړه معمولين د يو فعل دی

اومعناها او يا واقع شوی وي مفعول دفاعل وروسته د معنی دالاته چې انما دی نحوانماضرب زيد عمرا، او انما ته معنی دالاوايي څکه الاچې څنګه دلالت کوي په حصر اواختصاص باندې چې کله وروسته د نفی نه راشي نو دارنګې انما هم دلالت کوي په حصر اواختصاص باندې

وجب تقديمه: واجب دی تقديم دفاعل په مفعول باندې په دې څلورو مواضعو کې، هر چې دی په صورت اول نو لپاره د دې چې لازم نه شي التباس دمقصد دمتکلم په سامع اومخاطب باندې، اوهر چې دی په صورت ثاني نولپاره د دې چې لازم نه شي انفصال داتصال څکه داباطل دی څکه ولايسوغ المنفصل الالتعذرالمتصل اودلته تعذر رداتصال نشته، اوهر چې دی په صورت ثالث او رابع کې نو لپاره د دې چې لازم نه شي انقلاب دحصر مطلوب دمتکلم په سامع او مخاطب باندې

سوال: انقلاب دحصر مطلوب څنګه راځي؟

جواب: الاچې راشي وروسته د نفی نه نو دافائده کوي حصر اواختصاص او دا حصر دوه څيزونه غواړي (۱) مقصور (۲) مقصورعليه. اوقاعده په الاکې دا ده چې ماقبل د الانه بندوی په مابعد کې نوماقبل ته مقصورمخصوص وايي، اومابعدته مقصورعليه مخصوص عليه وايي، اومقصور خاص وي او مقصورعليه عام وي نو دلته مقصور دمتکلم انحصار ۱ ضاربيت دزيد دې په عمروکې او که ما ضرب عمرا الازيدوويلی شي نو بيا انحصار دمضروبيت دعمرو راغلويه زيدپورې، اوهر چې انما دی

نو دا هم په کلام کې حصر پیدا کوی او حصر کې لابدی وی د مقصور او مقصور علیه نه او قاعده په انما
کې دا ده چې کوم شی چې دیته قریب وی هغه بند وی په بعید کی نو انما ضرب زید عمرا کی مقصد د
متکلم انحصار د ضاربیت د زید دې په عمرو کی او که مفعول مقدم شی نو لازمیږي انحصار د
مضروبیت د عمرو په زید کی او دا جائز ندی

سوال: ته وایې چې الاما قبل خپل بندوی په مابعد کې نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې مقولی سره
چې ماخلق الله فی احسن صورة الا یوسف علیه السلام د دلالت په دې خبره چې خلقت د الله (ج) احسن
صورة لره منحصر دې په یوسف علیه السلام پورې او مجاوز ندی غیرته نو یو خو په دی کې کذب لازم
شو چې یوسف علیه السلام دنبی علیه السلام نه زیات ښایسته وو، او بل د دې معنی داشوه چې
خالقیت دالله باحسن صورة خاص دی په یوسف پورې مجاوز ندی غیر ته او مخلوقیت دیوسف فی
احسن صورة مخلوق دغیرهم کیدی شی او دا خو نده صحیح

جواب: دا ترکیب جعلی دی داسره وجودنه لری په کلام د عربو کې، او قواعد دنحوه جوړشوی دی اولا
دقران لپاره او ثانیا د کلام دعرب قح لپاره او دا ترکیب په کلام دعرب دعرباء کې نه دی مستعمل.

(۲) او که ومنم چې دا ترکیب موجود دی نو بیا داحصر په دې کې حقیقي نه دی بلکه ادعائی دی او
مبالغة دی، او دلته دی الاحصر دماقبل په ما بعد پورې نه دی راوستی بلکه حصر د ما بعد یې
راوستی دی په ماقبل پورې او دا معلومیږي دقرائن خارجیونه یعنې الا واضع وضع کړی دی د دې
لپاره چې د ما قبل خاص کوی ما بعد پورې او مابعدنه خاص کوی ماقبل پورې اوس دامنافات نشته
چې دا ما بعد خاص وی ماقبل پورې په دلائل خارجیه ؤ سره.

سوال: ته وایې چې کله مفعول واقع شوی وی وروسته د الانه نو تقدیم دفاعل واجب دی په مفعول باندې
نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په ماضرب الا عمرا زید سره دا جائز دی او دلته خو تقدیم دمفعول په
فاعل راغلی دی؟ **جواب:** مونږه وایو چې مفعول به واقع وی پس دالانه خو په شرط د توسط د الا سره بین
الفاعل والمفعول، او چې مفعو ل مقدم شی سره د الانه نو داجائز دی ځکه انقلاب دحصر مطلوب د
متکلم نه راځي په نسبت سره سامع او مخاطب ته، البته ماضرب زید الا عمرا احسن دی او ما ضرب الا
عمرا زید غیرمستحسن دی ځکه په دې کې انحصار دصفت راځي په موصوف پورې قبل التمام

واذا اتصل به ضمیر مفعول: هرکله چې فارغ شو مصنف دبیان دمواضع اربعه دتقدیم دفاعل نه په مفعول
باندې وجوباً نو شروع یې وکړه په بیان دمواضعو اربعه دتقدیم دمفعول کې په فاعل باندې وجوباً چې
په دی مواضعو کې تاخیر دفاعل واجب دی.

ترجمه: که چرې متصل شی په دې فاعل پورې ضمیر دمفعول او راجع وو مفعول ته او صورة د اتصال دا
دی چې دافاعل به مضاف وی دغه ضمیر ته مثال لکه ضرب زیدا غلامه دلته غلام فاعل دی او ضمیر
ورسره متصل شوي دي او راجع دی مفعول ته چې زیدا دی، بل مثال لکه ﴿وَإِذِ ابْتَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ﴾، بل
مثال لکه یوم ﴿يَنفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ﴾

او وقع بعد الا: یاواقع شی فاعل پس دالانه خو په شرط دتوسط دالاسره یعني دا الا به واقع وی په مینځ دفاعل اودمفعول کې مثال لکه ماضرب عمرا الا زید. **او معناها** یا واقع شی فاعل پس دمعنی د الانه چې انما دی یعني لری واقع شی دانما نه نحو انما ضرب عمرازید.

او اتصل به مفعوله وهوغیرمتصل: یا متصل شی په فعل پورې مفعول د دې فعل په دې شان سره چې هغه مفعول ضمیر متصل وی او حال دا دی چې فاعل غیرمتصل دی بیا برابره خبره ده که اسم ظاهر وی لکه ضربك زید او که ضمیر منفصل وی نحو ماضربك الاانا.

وجب تاخیره: واجب دی تاخیردفاعل دمفعول نه په دې صورار بعه مذکوره کې د وجې د امر عارض نه، هرچې دی په صورت اول کې نولپاره د دې چې لازم نه شي اضمارقبل الذکرلفظا او رتبتا، اوهر چې دی په صورة ثاني اوثالث کې نولپاره د دې چې لازم نه شي انفصال دمتصل.

سوال: نه وایې چې کله دافاعل واقع ووروسته د الانه نوتاخیرېې واجب دی نوپه ماضرب عمرا الا زید کې خو ما ضرب الا زیدعمرو ویل جائز دي؟ **جواب:** مونږ وایو چې تقدیم یې نه دی جائز کله چې واقع شی پس دالانه لیکن په شرط د توسط د الاسره او دلته په الاکې توسط نشته، بلکه تقدیم راغلی دی سره دفاعل نه نو دا جائز دی ځکه چې انقلاب د حصر مطلوب نه راځي.

سوال: اصل په عبارت کې عبارت دی په نمط واحدۀ سره نو پکار وه چې مصنف وجب تقدیمه ویلی وی اوضمیر به راجع وی مفعول ته ځکه په دې صور اربعه ؤ کې تقدیم دمفعول په فاعل باندې واجب دی.

جواب: مقصدبالذات په دې مقام کې بیان داحکامودفاعل دی او احکام دمفعول بیانیږی تبعا نو په هغه تراکیب اربعه ؤ کې مقصود بالذات تقدیم وجوبی دفاعل وو نوځکه یې وجب تقدیمه وویل او دلته حکم بالذات تاخیر وجوبی دفاعل دی، نوځکه یې وجب تاخیره وویل، حاصل دا شو چې تقدیم د فاعل په عامل باندې ممتنع دی بالاتفاق خلافا لبعض، اوفاعل په اعتبار د تقدیم سره په مفعول باندې درې قسمه دی، په څلورو مواضعو کې واجب التقدیم دی، اوپه څلورو کې ممتنع التقدیم دی، اود دې نه علاوه اولی بالتقدیم دی.

وقد یحذف الفعل لقیام قرینة جوازا: هر کله چې فارغ شومصنف دبیان دحکم ذاتی اوعارضی د فاعل نه نو شروع یې وکړه په بیان داحکامودمتعلقات دفاعل کې نو وې ویل: وقدیحذف الخ

ترجمه: کله کله حذف کولی شی په استعمال د کلام دعرب کې الفعل رافع للفاعل برابره خبره ده که فعل وی او که شبه فعل وی **لقیام قرینة** (۱) د وجې د وجود دقرینی دالی نه په تعیین دمحذوف باندې (۲) وخت د وجود دقرینه داله کې په تعیین دمحذوف باندې جوازاپه حذف جائزه سره نه وجوبا د وجې دعدم وجود د سد مسد نه

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط څه ی دماقبل سره اوغرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط خودا دی چې هرکله چې فارغ شو مصنف دبیان داحکاموذاتی اوعارضی دفاعل نه نو اوس احکام دمتعلقات دفاعل بیانوی نوغرض دمصنف بیان داحکامودمتعلقاتو دفاعل دی چې هغه فعل دی نوپه دې سره دفع دسوال وشوه.

سوال: دا دی چې دا حذف دفعل نه دی مګرحکم دفعل دی، نو مصنف لره پکاروه چې دایې په بحث فعل کې ذکر کړی وی اودلته یې ذکرکول نه وو پکارځکه دابحث دفاعل دی نو بحث کول د فعل نه خروج عن البحث دی؟ **جواب:** دا اعتراض به تا هله کوی چې دلته مونږه بحث کولی دحذف دمطلق فعل نه لیکن دلته مونږه بحث دحذف د فعل دفاعل نه کوو نو دا فعل دمتعلقاتو دفاعل نه دی او بحث کول د متعلقاتو د شئ نه بعینه بحث کول دی د هغه شئ نه نوخروج دبحث نه رانغلو.

سوال: لکه څنګه چې په وخت دوجوددقرینه داله کې په تعین دمحذوف باندې فعل حذف کولی شی نو دارنګې شبه فعل هم حذف کولی شی، نو تا خبره په فعل پورې ولې خاصه کړه؟

جواب: دا اعتراض به ستاهله وارد کیدو چې دا خبره د مصنف بنا وې په حقیقت باندې لیکن خبره د مصنف په حقیقت نده بنا بلکه بناده په مجازباندې په دې شان سره چې ذکر د خاص دی چې فعل دی او مراد ترینه عام دی چې رافع للفاعل دی او دا رافع للفاعل بیا عام دی که فعل وی او که شبه فعل وی.

سوال: بیا خو پکار وه چې وقدیحذف الرافع للفاعل یې ویلی وی نووقدیحذف الفعل یې ولې وویل یعنې په کلام کې حقیقت دی اومجازخلاف الاصل دی اوداصل نه عدول کولی شی خلاف الاصل ته لپاره د یو نکته نواوس دلته نکته څه ده په دې مجازکی؟ **جواب:** الفعل یې ذکرکړی دی د وجې داصالت نه یعنې په دې کلام کې چې یې مجاز وکړو نو دې کې یې اشاره وکړه اصالت دخاص ته چې فعل دی په دې شان سره چې فعل اصل دی په عمل کې اوشبه فعل فرع ده په عمل کې.

سوال: څه وجه ده چې مصنف قد یحذف وویل او ویحذف یې ونه ویل سره د دې نه چې فرض منصبی د مصنف اختصار بما هو اختصار دی؟ **جواب:** په دې قدکی یې اشاره وکړه تقلیل دحذف دفعل ته ځکه غالب اوشائع په کلام دعربوکی ذکر د فعل دی اوحذف یې په طریقی دقلت سره راځي.

سوال: لقیام قرینة کې لام تعلیلی دی اولام تعلیلی ګرځوی مدخول خپل علت لپاره دماقبل نود دې ستا د عبارت نه معلومه شوه چې قرینه کله موجوده وه نو دافعل به حذف کولی شی وجوبا ځکه چې وجود د علت مستلزم وی وجود د معلول لره لکه طلوع دشمس علت دی د وجود نهار لپاره نو د طلوع د شمس سره وجودد نهارلازم دی اوحال دا دی چې وجود د قرینې مرجح دحذف دی یعنې مقتضی د حذف دفعل وجوبا نه دی بلکه مقتضی د جواز د حذف فعل دی. (اعتراض بالفاظ دیګر) ستا په کلام کې تناقض دی ځکه دلام نه معلومه شوه چې داحذف واجب دی او د جوازاً نه معلومه شوه چې داحذف جائز دی.

جواب: دا اعتراض به تاهله کولی چې دالام دلته تعلیلی وی لیکن دالام دلته تعلیلی نه دی بلکه دا وختیه دی نومعنی داشوه چې فعل حذف کولی شی په وخت دوجوددقرینه داله کې په تعیین د محذوف باندې اولام وختیه راځي په کلام دعربو کې کمافی قوله تعالی ﴿ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ ﴾ ای وخت دلوك الشمس، وقوله علیه السلام (**المستحاضة تتوضاء لکل صلوة**) ای وخت کل صلوة او دلیل په دې باندې هغه بل حدیث دی چې المستحاضة تتوضاء وخت کل صلوة یعنې دا حدیث تفسیر دی د دغه مخکې حدیث

لپاره (۲) او که اومنو چې دا لام په دې مقام کې تعلیلی دی نوعلت دوه قسمه دی: علت مجوزه مصححه دی او بل علت موجبه دی، او دلته مراد علت مجوزه مصححه دی نه علت موجبه.

سوال: اضافت د قیام قرینې ته نه دی صحیح ځکه چې قیام ویلی کیږي مکث علی القدمین ته دی اضافت کیږي ذوی الاجسامو ته او قرینه خو د قبیلې د اعراضو نه ده جسم نه لري؟

جواب: دا اعتراض به تا هله کولی چې دا عبارت بنا وي په حقیقت باندې لیکن دا عبارت د مصنف بنا دی په مجاز باندې ذکر د ملزوم دی چې مکث علی القدمین دی او مراد ترینه لازم دی چې وجود او حصول دی.

سوال: نه وایې چې فعل حذف کولی شي په وخت د وجود دقرینه کې اوادارفع دفاعل خو هم قرینه ده ځکه رااثر دی او د اثرلپاره لابدی وی دمؤثر نه اومؤثر د دې نوی مګر فعل یا شبه فعل (یعنې عامل رافع) وی نو ېکار ده چې حذف دفعل جائزشي هر ځای کې (یعنې چې په کومو ځایونو کې رفع په فاعل کې موجوده وی لفظا) حالانکه داسې خو نه ده؟ **جواب:** مراد د قرینې نه په دې مقام کې قرینه داله ده په تعیین د محذوف باندې اورفع قرینه داله په تعیین دمحذوف نده بلکه دا قرینه داله ده په نفس حذف باندې.

سوال: جوازا منصوب دی اومنصوبات دولس دی داکوم قسم دی؟ **جواب:** دامفعول مطلق دی دیحذف لپاره.

سوال: مفعول مطلق خو مصدر د فعل مذکورته وایې اودا خومصدر دیحذف نه دی بلکه مصدر د جاز دی او مصدر د یحذف حذفا دی؟ **جواب:** دا مفعول مطلق واقع شوی دی په اعتبار ذحذف دموصوف سره چې حذفا دی بیا په دې باندې اعتراض واردیږی لیکن داعتراض طریقې دوه دی: (۱) لازمیږي حمل دصرف وصف په ذات باندې بیا پدی معترض باندې اعتراض دی چې حذف او جواز خو دواړه صرف وصف دی ځکه چې دواړه صیغې د مصدر دی نو دا خو حمل د وصف راغلو په وصف باندې؟

جواب: نو معترض جواب کوی کله چې یوشئ واقع شی په مقام دَ غیر باندې نو حکم دغیر اخلی نو دا حذفا اګر چې په خپله وصف دی لیکن موصوف واقع شوي دي اومعتبر په موصوف کې ذات دی نو دې حکم د ذات واخستلو نو ځکه حمل دصرف وصف راغلو په ذات باندې نوجواب دا دی: چې جوازاً په معنی دجائزا سره دی نوحمل دذات مع الوصف راغلو په ذات باندې: (۲) دویمه طریقه داعتراض دا دا چې صفت محمول وی په موصوف باندې اودلته حمل نه دی صحیح ځکه چې حمل عبارت دی د تغیر مفهومی او اتحاد مصداقی د شیئینو نه نو که اتحاد فی المصداق وونو حمل به صحیح وی لکه زید قائم او که اتحادفی المصداقی نه وونو بیاحمل نه صحیح کیږي نحو الانسان حمار دا مثال د ذاتینو دی، او مثال دوصفینو لکه الاکل ضرب شو نو دلته حمل نه دی صحیح ځکه اتحاد فی المصداق نشته نو دارنګې دلته حذف اوجوازادواړه مصدرین دی لیکن اتحاد پکې نشته مصداقا نوحمل نه صحیح کیږي ځکه حذف اسقاط عن اللفظ ته وایې او جواز استواء د امرینو ته وایې.

جواب: دلته جوازاً مصدر مبنی للفاعل دی یعنې په معنی د جائزاً سره دی.

سوال: هر کله چې د مصدرمبنی للفاعل شونوحمل بیا هم نه دی صحیح ځکه حمل دذات مع الوصف راغلو په صرف وصف باندې او دا نه دی جائز.

الله مرفوع دی خکه دا فاعل دی دفعل محذوف لپاره چې خلق دی اودافعل دلته حذف شوي دي جوازا د وجې د قرینی دالی نه په تعین دمحذوف باندې چې سوال دسائل دی خکه مذکور فی السوال کالمعاد فی الجواب وی، اوس هر کله چې فاعل دفعل شو نوپدی سره یو بل اعتراض هم دفع شو اعتراض دا دی چې مفعول دقال یعنې مقوله دقول نوی مگرجمله وی اودلته خو مفرد دی چې الله دی؟ **جواب:** دلته صرف دا الله مقوله قول نده بلکه دافاعل دی دفعل مقدرلپاره فعل سره د فاعل نه جمله مقوله دقول ده، لکه څنګه چې رافع دفاعل حذف کولی شی د وجې د وجود دقرینې دالي نه په تعین دمحذوف باندې چې هغه قرینه دسوال محقق وی نو دارنګې حذف کولی شی دا رافع د فاعل د وجې د وجود دقرینی دالی نه په تعیین دمحذوف باندې چې دا قرینه سوال مقدر وی مثال لکه داقول د شاعر شو شعر: ولیبك یزید ضارع لخصومة ومختبط مماتطیح الطوائح

ترجمه: ژړا دې وکړی شی په یزید باندې

سوال: څوك دی وژاړي؟

جواب: ضارع دی وژاړي خوار او ذلیل، دا خوار او ذلیل به ولې ژاړی، لخصومة د وجې د خصومة دغیر نه د ده سره ومختبط او ودې ژاړی سائل بلا واسطه د وجې د اهلاك ده مهلکات نه مال د ده لره.

ترکیب: په دې شعر کې شپږ ترکیبونه دی (۱) لام په لیبك کې لام امر دی یبك مضارع مجهولی یزید نائب فاعل دی او ضارع بدل غلط دی د یزید نه نو ترجمه دا شوه، چې ژړا دې وکړی شي په یزید باندې خطاء شوم بلکه ژړادی وکړی شی په خواراوذلیل باندې (۲) یبك مضارع مجهوله ده یزیدنائب فاعل دی اوضارع منادی مبنی علی مایرفع ده په حذف د حرف ندا سره ای یبك یزید یا ضارع.

سوال: حذف د حرف نداء خو مشروط دی په شرائط اربعه ؤ سره یو شرط پکې دا دی چې منادی به معرفه وی او دلته خو نکره ده نو دا څنګه حذف شوي دي؟

جواب: هذامن قبیل اصبح لیل وافتدامخنوق واطرق کرا. (۳) یبك مضارع مجهوله ده یزیدیی نائب فاعل دی اوضارع خبر مبتدأمحذوفی ده ای الباکی ضارع. (۴) یبك مضارع مجهوله ده ضارع نائب فاعل دی یزید منادی مفرده معرفه ده په حذف د حرف نداء سره ای یا یزید (۵) یبك مضارع معلومه ده ضارع یې فاعل دی اویزید منصوب دی مفعول به ده بنا پدې پنځه ترکیبونو دا مثال نه جوړیږی دما نحن فیه لپاره. (۶) او په دی شپږم ترکیب دا مثال جوړیږی هغه ترکیب دا دی چې یبك مضارع مجهوله ده یزید یې نائب فاعل دی او ضارع فاعل د فعل مقدر دی چې یبك دی او دا فعل حذف شوي دي د وجې د وجود د قرینې نه په تعیین دمحذوف باندې چې هغه سوال دسائل دی.

سوال: دلته سوال کوم دی؟

جواب: سوال دلته مقدردی خکه هر کله چې دی شاعر وویل چې لیبك یزید نو دې کې ابهام وو څکه چې باکی معلوم نه شو نوسائل سوال وکړوچې من یبکیه نوده جواب وکړوچې ضارع ای یبکیه ضارع

سوال: دایبك صیغه مجهوله ولې ذکر شوه باوجودد دې نه چې صیغه معلومه اصل ده د مجهولی نه او بل دا چې صیغه معلومه یې ویلی وی نو دا کلام او ترکیب به بېچ پاتې شوی وو د تقدیر نه

جواب: دا يبك صيغه معلومه ذكر نه شوه بلكه يبك صيغه مجهوله ذكر شوه ځكه چې داصيغه مجهوله لوستل په دې مقام كې غوره دى دمعلومى نه بالوجوه الثلاثه. (۱) يو د دې وجې نه چې داصيغه مجهوله شوه نويزيدمرفوع شو او كه چرته داصيغه معلومه وى نو يزيد به بيا منصوب وو نو چې مرفوع شو نو عمده شو او كه منصوب وى نو بيا به فضله وو او كون د لفظ عمده غوره دى دكون دلفظ نه فضله ځكه عمده والى دلفظ دلالت كوى په عمده والى د مسمى باندې.

(۲) دويمه وجه دا ده چې داصيغه معلومه شوه نو بيان نسبت راځي سامع ته يو ځل او كه مجهوله شى نو بيان نسبت راځي سامع ته دوه ځله نو تاكيد پكې راځي. (۳) چې يبك صيغه مجهوله شى نو كيږي معرفت دفاعل حصول دنعمت غيرمترقبه او كه دا صيغه معلومه شى نو كيږي معرفت دفاعل حصول د نعمت مترقبه اوحصول دنعمت غير مترقبه الذوى د حصول دنعمت مترقبه نه.

سوال: لخصومة چا پورې متعلق دى يا به يې متعلق وايي په ضارع پورې او يا به يې متعلق وايي په فعل مقدر پورې يوهم نه صحيح كيږي په ضارع پورې متعلق كول ځكه نه دى صحيح چې دا بى د اعتماد نه عمل نكوى اوپه فعل مقدرپورې هم متعلق كول نه دى صحيح چې ييكيه دى ځكه چې لخصومة كې دا لام تعليلى دى دا ګرځوى مدخول خپل علت لپاره د ما قبل او دلته دا خصومة علت د بكاء نه دى بلكه علت دبكاء موت ديزيد دى.

جواب: دا متعلق ده په ضارع پورې اود دې اعتماد راغلى دى په موصوف مقدرباندې اى شخص ضارع ځكه دا اعتماد د دې په موصوف باندې عام دى كه لفظا وى او كه تقديراً وى.

(۲) يا دى ضارع عمل كړى دى بې داعتمادنه ځكه چې داجارمجرور دى او په جارمجرور او ظرف كې اسم جامد هم عمل كولى شى داسې اسم جامد چى بوئى د فعل پكې موجود وى نحو اسد على وفى الحروب نعامة كې دا اګر چې اسم جامد دې ليكن رائحه دفعل پكې شته ځكه اسد بمعنى شجاع دى اونعامة بمعنى جبان دى، اوضارع خوصيغه د اسم فاعل ده دلالت كوى په معنى مصدرى باندې نو دا خو په طريق اولى سره عمل كولى شى په جار مجرور او ظرف كې او اعتماد شرط دى لپاره د عمل كولو د رفع بنا بر فاعليت يا د نصب بنا بر مفعوليت. (۳) يا دا متعلق دى په فعل پورې او كه ته وايي چې علتيت نه صحيح كيږي نو جواب دادى چې دا لام دلته تعليلى نه دى بلكه وختيه دى، اوخصومة كې دا تنوين عوض دمضاف اليه نه راغلى دى، اى لخصومته. اواضافت دمصدر راغلى دى فاعل ته.

(۱) يعنې د وجې دخصومة دضارع نه دغير سره. (۲) او لخصومة غيره معه يعنې د وجې دخصومت د بل چا نه د ضارع سره. ومختبط دامرفوع دى عطف دى په ضارع باندې اومما اصل كې من ما ومن اجليه دى اوماموصوف حرفى دى اى لاجل اهلاك المهلكات ما له. بيا نون بدل شو په ميم باندې قاعده د يرملون سره او ادغام پكې وشو نو مما شو او طوائح جمع دمطيحة ده خلاف القياس لكه لواقح چې جمع دملقحة ده او جمع قياسى مطيحات راځي.

سوال: دا مماتطيح چاپورې متعلق دى؟

جواب: دا يا متعلق دی په مختبط پورې يا په يېك فعل مقدر پورې، بل مثال لپاره دحذف دفعل د وجې وجود د قرينې دالی نه په تعيين دمحذوف باندې چې هغه سوال مقدردی نحو قول تعالی (يسبح له فيها بالغدووالاصال) (رجال لاتلهيهم تجارة) الاية. په دې کې مشهورقراءة يسبح دی په صيغې معلومې سره بيا مثال نه جوړېږی ځکه فاعل وروسته ذکردی چې رجال دی او بل قراءة يسبح دی په صيغه مجهوله سره دې کې ضمير مستتردی چې راجع دی الله ته هغه نائب فاعل دی.

سوال: دارجال په ترکيب کې څه واقع شوي دي؟

جواب: دافاعل واقع شوي دي دفعل محذوف لپاره چې هغه يسبح دی او دا فعل حذف شوي دي د وجې دوجود دقرينې دالی نه په تعين دمحذوف باندې چې هغه سوال دسائل دی.

سوال: دلته سوال کوم دی؟ **جواب:** سوال دلته مقدردی ځکه يسبح صيغه مجهوله چې ذکر شوه نو د دې فاعل معلوم نه شومخاطب ته، داصيغه دمجهول منشأ دا بهام ده، نوسائل سوال وکړو د وجې ابهام فی الفاعل نه چې من يسبح فيها بالغدووالاصال نو مجيب جواب ورکړو رجال سره ای يسبح رجال او دا فعل يې حذف کړی دی جوازاد وجې دوجود دقرينې دالی نه په تعيين د محذوف باندې چې سوال مقدر دی ځکه مذکورفی السوال کالمعادفی الجواب وی.

ووجوبا: دا منصوب دی ځکه عطف دی په جوازا باندې او هغه خو په اعتبار د موصوف محذوف سره مفعول مطلق وو ديحذف لپاره نو داهم مفعول مطلق ديحذف شو په تقديرد موصوف محذوف سره او قانون دا دی چې ماقبل دمعطوف عليه معاد وی د معطوف سره نو تقدير د عبارت دارنګې شو چې وقد يحذف الفعل لقيام قرينة وجوبا. کله حذف کولی شی عامل رافعه د فاعل په وخت د وجود د قرينه داله کې په تعيين دمحذوف باندې په حذف وجوبی سره اوحذف وجوبی کې لابدی وی داشياء اربعه ؤ نه: (۱) قرينه په نفس محذوف باندې (۲) قرينه په تعين دمحذوف باندې (۳) داعی دحذف (۴) سد مسد. دی کې دا سد مسد زيات شو د حذف جوازی نه، دا رافع د فاعل وجوبا په کوم ځای کې حذف کولی شی؟ **جواب:** فی مثل ﴿وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ﴾ يعنې دا رافع د فاعل حذف کولی شی وجوبا په مثل د دې ترکيب کې چې وان احد من المشرکين استجارك دی او مراد د دې نه هرهغه ترکيب دی چې متکلم دا فعل حذف کړی دی، اوحذف دفعل نه ابهام راغلی دی اودرفع ددغه ابهام لپاره يې وروسته مفسرذکر کړی وی نو دا مفسرحذف کولی شی د وجې دوجود دقرينې او سد مسد نه بيا کددا ترکيب وی او که بل وی مثال (۱) نحوقوله تعالی ﴿لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ﴾

(۲) ﴿إِذَا السَّمَاءُ انشَقَّتْ﴾ (۳) ﴿وَإِذَا الْكَوَاكِبُ انتَثَرَتْ﴾ کقول امرا القيس.

اذالمرء لم يخزن عليه لسانه فليس علی شئ سواه بخزان.

او بل مثال لکه داقول:

اذالمرء لم يد نس من اللوم عرضه فکل رداء يرتديه جميل

اوس دلته احد فاعل دی اوفعل يې حذف شوي دي وجوبا چې استجارك دی د وجې د وجود د سد مسد اوقرينې نه قرينه په نفس محذوف باندې رفع د احد ده اوقرينه په تعيين دمحذوف باندې دخول ان دی، او سدمسد اقامت دمفسر په مقام د مفسر کی او داعی دحذف تخفيف دی اصل کې ترکيب داسې ووچې ان استجارك احد من المشركين استجارک دارنګې لو انتم تملكون اصل کې لو تملكون وو، بيا دا فعل حذف شو اوهغه ضمير متصل نه منفصل جوړ شو او وروسته مفسر ذکر کړی شو نو لو انتم تملكون شو، نو دلته قرينه په نفس حذف باندې استعمال د مفرد دی، او قرينه په تعيين د محذوف باندې دخول دلو دی، او سد مسد اقامت د مفسر دی په مقام د مفسر کې او داعي د حذف تخفيف دی دارنګې و اذ السماء انشقت کې السماء فاعل د فعل مقدر دی چې انشقت دی قرينه په نفس حذف رفع دالسماء ده او قرينه په تعيين د محذوف باندې دخول د اذا دی او سدمسد اقامت د مفسر دی په مقام د مفسر کې او داعي د حذف تخفيف دی دارنګې دا نور ترکيب هم دی.

سوال: په ان احدمن المشركين الخ کې حذف درافع دفاعل ولې واجب دی؟

جواب: دا حذف دفعل ځکه واجب دی چې که چرته دا فعل ذکرشي نو لازميږي جمع بين المفسر والمفسر او دا نه ده جائز ځکه چې ديکې لازميږي لغويت دمفسر.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په جاءنی رجل ای زيدباندې دلته جمع راغلی ده بين المفسر والمفسر بلکه راتلل يې لازم دی. **جواب:** مفسر دوه قسمه دی (۱) يو هغه دی چې راغلی وی درفع د ابهام لپاره چې دا ابهام پيداشوی وی دنکارت د وجې نه. (۲) دويم هغه دی چې راغلی وی درفع د ابهام لپاره چې دا ابهام پيداشوی وی دحذف د وجې نه که دا ابهام پيداشوی وودنكارت د وجې نه نو جمع لازم ده او که دحذف د وجې نه وو نو جمع ممتنع ده.

سوال: ﴿إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ﴾ دلته خو دا ابهام د نکارت د وجې نه ندی راغلی او بيا هم جمع شوی دی؟

جواب: دا جمع هله نده جائز چې دامفسرذکرشوی وی فقط لپاره درفع دا بهام اوځه فائده جديده پکې نوی او که فائده جديده پکې وه نو بيا جمع جائزده اودلته فائده جديده شته کماهو الظ.

سوال: په وان احد من المشركين استجارك کې داسې ترکيب ولې نکوی چې احد مبتدأ ده او استجارك فعل فاعل اومن المشركين متعلق دی په استجارك پورې داخبر د مبتدأ، مبتدأسره د خبر نه جمله خبريه اسميه نو بچ به پاتې شي د تقديرنه؟

جواب: داسې ترکيب په ديکې نه دی جائز ځکه دا ان حرف شرط دی داواجب الدخول دی په فعل باندې او که دا احد مبتدأشی نو بيا لازميږي دخول د دې په اسم باندې اودا باطل دی.

پس زده کړه داخبره چې په ديکی درې مذهبه دی (۱) جمهور (۲) بعض کوفيان (۳) اخفش جمهور وايي چې احد فاعل دفعل دی چې حذف شوی دی وجوبا . اوبعض کوفيان وايي چې دا احد فاعل د ی د دې استجارك مذکور لپاره ځکه د دوی په نيز باندې تقديم دفاعل په فعل باندې جائز

دی، او اخفش وايي چې دا احد مبتدأ ده او دا مابعد خبر دی نو جمله اسمیه شوه نو دا مثال دی دحذف د فعل لپاره وجوبا صرف په نیز د جمهورو باندې او په نیز د بعض کوفیانو او په نیز د اخفش مثال نه جوړیږی او دا اختلاف د دوی بنادی په یو بل اختلاف باندې هغه دا دی چې عندالجمهور جمله شرطیه فقط فعلیه راځي نه اسمیه او عندالاخفش اسمیه هم راځي.

وقد یحذفان معا: کله کله حذف کولی شی دا فعل او فاعل په حال کون د دې دواړو کې چې مجتمعین فی الحذف وی **فی مثل نعم لمن قال اقام زید؟** په مثل د دې ترکیب کې مراد پدی سره هر هغه ترکیب دی چې جمله فعلیه جواب واقع شوی وی دسوال خود دې جملی فعلیه نه تعبیر شوی وی په حرف ایجاب سره **لمن** په جواب د هغه چا کې **قال** چې ووایي اقام زید، یعنې سائل ووائي چې اقام زید او ته ووائي چې نعم نو معنی دا ده چې قام زید، اوس دلته فعل او فاعل دواړه حذف شو د وجې دوجود دقرینی نه ځکه مذکور فی السوال کالمعادفی الجواب وی.

سوال: ته وایې چې دلته فعل فاعل حذف دی نو داسې ولې نه وایې چې مبتدأ او خبرحذف دی؟

جواب: جمله فعلیه حذف ده نه اسمیه ځکه سوال په جملی فعلیه سره شوي دي نو که جمله اسمیه حذف شی نو بیا مطابقت نه راځي په مابین دسوال اوجواب کې.

سوال: دلته دا فعل اوفاعل وجوبا ولې نه حذف کوی ځکه قرینه اوسدمسد دواړه موجود دي قرینه سوال دسائل دی اوسدمسد اقامت دنعم دی په مقام دفعل اوفاعل کې؟ **جواب:** دا حذف جوازاً دی نه وجوبا ځکه نعم حرف دی غیرمستقل دی نه شی قائم کیدی په مقام د فعل او فاعل باندې

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په یازید سره دله یاحرف دی اوقائم شوي دي په مقام دفعل او فاعل باندې چې ادعو دی. **جواب:** دا اقامت د یاقائمه شوې ده په مقام دفعل کې په معاونت دمنادی سره او دلته نعم نه شی قائم کیدی ځکه معاون نشته.

سوال: تا دلته دوه صورتونه ذکر کړل: (۱) حذف دفعل سره دبقاء دفاعل نه. (۲) حذف دفعل او فاعل دواړو نو داصورت دی ولې ذکرنه کړوچې حذف دفاعل راغلی وی سره دبقاء دفعل نه.

جواب: مصنف دغه صورت ذکر نه کړوځکه چې حذف دفاعل سره دبقاء دفعل نه مجرداحتمال عقلی دی په خارج کې وجود نه لری ځکه چې په مفهوم دفعل کې معتبر دی نسبت فاعل ما ته نو که فاعل حذف شی نو لازم به شی وجوددنسبت بدون الطرفین او دامحال دی، په خلاف د فاعل د مصدرنه دهغې حذف جائز دی ځکه هلته دا استحاله نه لازمیږي ځکه په مفهوم د مصدر کې نسبت نه دی معتبر.

سوال: ته وايي چې حذف دفاعل سره د بقاء دفعل نه ندی صحیح دا قاعده ستا منقوضه شوه په ضرب زید باندې دلته فاعل حذف شوي دي سره دبقاء دفعل نه؟ **جواب:** مونږ وایو چې حذف دفاعل سره دبقاء دفعل نه جائز ندی لیکن بغیرد سد مسدنه اودلته حذف د فاعل راغلی دی سره دسد مسدنه

سوال: دا قاعده ستامنقوضه شوه په اضربن سره دلته فاعل حذف شوي دي چې واودی بغیر د سد مسد

جواب: دلته هم سد مسد شته چې دا ضمه د ماقبل ده

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول دالله سره چې ﴿ أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ يَأْتُونَنَا ﴾ دفعل تعجب لپاره عندهم دوه صيغې راځي (۱) ما افعله نحوما احسن زيدا (۲) افعل به نحو احسن بزيد. او پدې فعل تعجب کې بالاتفاق دغه منصوب يامجرورفاعل وى او بل ضمير پکې مستتر نشته، نو دلته د ابصر لپاره فاعل حذف شوي دي چې بهم دى بې دسدمسد نه او ته وايي چې حذف دفاعل بې دسدمسد نه نه دى جائز، د دې جوابونه کړې دى (۱) يو جواب دا دى چې دافعل تعجب ندى (۲) او که ومنم چې دا فعل تعجب دى نو بيا دلته فاعل حذف شوي دي د وجې دقرينى نه چې دا مخکې مبهم دى او دا حذف د فاعل بغير دسدمسدنه هله نه دى جائز چې دافاعل په صورت د فضله کې نوى او که په صورت د فضله کې وو نو بيا يې حذف جائز دى، اودلته هم په صورت د فضله کې واقع شوى وو نو ځکه حذف شوي دي

اذا تنازع الفعلان: ربط هر کله چې فارغ شو مصنف دبيان داحکامود فاعل اتفاقى نه نوشروع يې وکړه په احکامو د فاعل اختلافى کې چې هغه تنازع دفعلانو فى الفاعل ده، اوهرچې ده تنازع د فعلانو فى المفعول ده نو هغه مذکورده طردا.

ترجمه: که چرې متوجه شي په مرتبه دتصور کې **الفعلان** عاملين يا اکثر د عاملينو او دا ذکر د تثنيه لپاره د بيان د ادنى مرتبه دى نه لپاره د حصر يا لپاره د حصر دى ليکن حصر مقصود دى په نسبت سره ماتحت ته نه په نسبت سره مافوق ته **ظاهرا** اسم ظاهرته داسې اسم ظاهر **بعدهما** چې واقع دى وروسته د دې عاملين نه، په داسې مقام کې چې صالح وى لپاره دمعموليت د هر واحد په سبيلى د بدليت سره او مراد په تنازع سره تنازع اصطلاحى ده نه لغوى، او په اسم ظاهر سره يې احتراز وکړو د ضمير نه مطلقا ځکه ضمير به يامتصل وى او يا به منفصل وى نوپه ضمير متصل کې خوتنازع بالکل متصوره نده ځکه ضمير متصل چې دکوم عامل سره متصل وو دا کالجزء دى د هغه نه اومعمول دى د هغه لپاره دابل پکې عمل نه شى کولى اوضمير منفصل کې اگر چې تنازع متصوره ده ليکن قطع يې ممکن نده په مذهب دجمهوروباندې، او کافيه ملا بيانوى هغه تنازع چې قطع يې ممکن وى په مذهب دجمهوروباندې، ياهرکله چې دا تنازع دعاملينو جائزنه شوه په ضمير متصل کې نوپه منفصل کې هم جائز نه شوه طردا، **او بعدهما** سره احترازوکړو د هغې نه چې دا اسم ظاهر مخکې وى لکه زيدا ضربت واکرمت ياپه مينځ کې وى لکه ضربت زيدا واکرمت ځکه چې په دغه صورتونو کې معمول دى د فعل اول لپاره على التعيين اودافعل ثانى جګړه نکوي د دې اول سره.

تشريح: اول اعتراض په دې باندې دا دى چې بحث مونږه په احکامودفاعل کې دى اوتاشروع وکړه په حکم دفعل کې ځکه تنازع دفعلان صفت دفعلان دى اوحکم دفعلان دى او دا ندى مګر خروج عن البحث دى اوخروج عن البحث باطل دى.

جواب: دا دى چې خروج دبحث نه ندى راغلى ځکه بحث مونږه په احکامودفاعل کې دى ليکن حکم د فاعل دوه قسمه دى: (۱) بالذات (۲) بالواسطه اوتنازع دعاملينو فى الفاعل حکم د فاعل دى مجازا او بالواسطه ليکن دومره فرق دى چې هغه حکم دفاعل غير اختلافى وو او دا حکم دفاعل اختلافى دى.

سوال: داتنازع دعاملينو فی المفعول خو حکم دفاعل نه دی نو دا ولې دلته بيانيږی؟
جواب: دا بيانيږی طرداً خکه مامن علم الاوقد يذکر فيه اشياء طرداً
سوال: دلته کلمه د اذا راغلی ده اواذادری قسمه دی (۱) ظرفی (۲) شرطی (۳) مفاجاتی دلته کوم قسم دی؟ **جواب:** داشرطيه دی ای وان تنازع الفعلان
سوال: هرکله چې اذاشرطيه شو نوتنازع الفعلان جمله شرطيه شوه د دې لپاره لابدی ده دجزاء نه جزاء د دې کومه ده؟ **جواب:** جزاء د دې مقدره ده ای فهو مختلف فيه، او فقد يکون جزاء نده بلکه دافاء دی کې تفصيليه ده دی سره بيان اوتفصيل داقساموتنازع دعاملينو کوی او فيختار کې فاء تفصيليه ده دلته مقصود بيان اوتفصيل د مذهبينو دی او**فان اعملت** الخ کې فاء تفصيليه ده غرض په هغې سره بيان دی او تفصيل دقطع تنازع دی په مذهبينو مشهورينو باندې
سوال: تنازع صيغه ماضی معلومی ده دتنازع نه يعنې دباب تفاعل نه دا ويلی شی د يو بل سره جګړی کولو ته د دې نسبت ذوی الارواح او ذوی الاجسام ته کيږي اوفعلان خو اعراض دی نو نسبت د دې فعلان ته صحيح نه شو. **جواب:** تنازع دوه قسمه ده (۱) لغوی (۲) اصطلاحی دا اعتراض به تاهله کولی چې دلته تنازع لغوی مراد وی ليکن دلته مراد د تنازع نه تنازع اصطلاحی ده چې هغه توجه دعاملينو ده اسم ظاهر ته په مرتبه دتصور کې لپاره دعمل کولو، بيا پدې عبارت دمصنف باندې اعتراضونه دی (۱) يواعتراض لفظی دی (۲) معنوی دی اعتراض لفظی دا دی چې داتنازع باب تفاعل دی او دا جوړيږی دباب مفاعلې نه اوباب مفاعله متعدی وی اوهر کله چې باب تفاعل ته وخيژولی شی نو لازم ګرځی نو دلته دا ظاهراً ولې منصوب دی؟
جواب: هذا الترکيب من قبيل تجازبنا الثوب، يعنې باب تفاعل دوه قسمه دی يوقسم هغه باب تفاعل دی چې جوړيږی د هغه باب مفاعلی نه چې متعدی وی مفعول واحدته هغه لازم دی.
(۲) اودويم باب تفاعل هغه دی چې جوړيږی دباب مفاعلی متعدی الی المفعولين نه داباب تفاعل متعدی مفعول واحدته پاتې کيږي نحوتجازبنا الثوب
سوال: تنازع چې څنګه دفعلين راځي نودشبه فعل راځي نحوزيدضارب ومکرم عمرا، يا لکه زيد کريم شريف ابوه، نو مصنف صرف فعلان ولې ذکرکړل؟ **جواب:** دلته مجازدی ذکر د فعلان دی او مراد ترينه عاملان دی نو فعلينو او شبه فعلينو تولو ته شامل شو
سوال: دامجاز يې ولې وکړو اصل خوعبارت کې حقيقت دی؟
جواب: په مجازکی يې اشاره وکړه اصالت دفعلان ته.
سوال: تنازع چې څنګه دعاملان راځي نو دارنګې د اکثر دعاملان هم راځي کمافی قوله عليه السلام (**تسبحون وتحمدون وتکبرون دبر کل صلوة ثلاثا وثلاثين مرة**) بل مثال لکه داقول د شاعر:

ارجوواخشی وادعوالله مبتغيا عفواوعافية فی الروح والجسد

دلته په دې اول مثال کې د دې درې افعالو تنازع راغلې ده په دبر کل صلوة کې او په ثلاثا وثلاثین کې، او په دې شعر کې هم دارجوا اخشی، او ادعو، تنازع راغلی ده په لفظ دالله کې، او چې تنازع راغلی وی دافعال کثیرو یعنې چې زائد وی علی الثلاثة نحو کما صلیت وسلمت وبارکت ورحمت وترحمت علی ابراهیم، نو مصنف دلته فعلان ولې ذکر کړل؟ **جواب:** ذکردتثنیه دلته لپاره دبیان د ادنی مرتبې دی نه لپاره د حصریعنې کم ازکم دوه به وی او په یو کې تنازع نه ده متصوره.

(۲) یا ذکر د تثنیه لپاره د حصردی خو حصر په نسبت سره ماتحت ته دی نه مافوق ته **ظاهرا** د دې دوه ترجمې دی: (۱) کله راځي مقابل دمستتر. (۲) کله راځي مقابل دضمیراوس دلته کومه مراد ده؟

جواب: اسم ظاهردلته مقابل د ضمیر دي اودیته اسم ظاهر ځکه وایي: چې ضمیر کله کله مستتر کیږي او پټیږي او دایوځای کې هم نه پټیږي نوځکه ورته ظاهر وایي.

سوال: بعدهما مضاف الیه ظرف دی اوظرف لپاره لابدی وی د اعراب محلی نه نو د دې اعراب محلی څه دی؟ **جواب:** دا منصوب دی محلا ځکه دا واقع شوي دي صفت لپاره د ظاهر.

سوال: ظرف او جارمجرور چې څه واقع کیږي نوپه اعتبار دمتعلق سره واقع کیږي نو دا په چا پورې متعلق دی یا به یې متعلق وایي په تنازع پورې او یا به یې متعلق وایي په ظاهراً پورې، که په تنازع پورې متعلق وایي نو بیا لازمیږي تقدیم دصفت په موصوف باندې، او که متعلق یې وایي په ظاهرا پورې نو لازمیږي توصیف د شئ علی نفسه (یعني لازمیږي کون د شئ واحد هم موصوف او هم صفت)

جواب: دا په دی مذکور پورې نه دی متعلق بلکه دامتعلق دی په واقعامقدرپورې.

سوال: ظاهراً قیدی ولې ولګولو؟ **جواب:** په دې سره یې احتراز وکړود ضمیرنه ځکه ضمیر دوه قسمه دی: (۱) متصل. (۲) منفصل. په متصل کې خو تنازع متصوره نده ځکه دا چې په چاپورې متصل شی نو د هغه معمول وی او هغه بل ورسره تنازع نه شی کولی او په منفصل کې اګر چې تنازع متصوره لکه ما ضرب واکرم الاانا، لیکن قطع دتنازع ممکن نده عندالجمهور ځکه دا انا چې فاعل د یو فعل لپاره شی نو د دې بل لپاره به ضمیر یا مستتر کوی بغیر د الاانه او یا سره د الانه که بغیر د الانه یې مستتر کوي نو فساد دمعنی راځي، او که سره د الانه یې مستترکوی نو لازمیږي استتاردحرف او دا نه دی جائز ځکه چې استتارخصوصیت دضمیر دی. (۲) هرکله چې ضمیر متصل کې تنازع نده متصوره نو په منفصل کې جائز نه شوه طردا.

فقد یکون الخ: دلته دا فاء تفصیلیه ده اوغرض دمصنف په دې سره بیان د صورو اولیه ؤ دتنازع دی، کله کله موجودیږی داتنازع د عاملینو.

فی الفاعلیة: په فاعلیت د اسم ظاهر کې په دې شان سره چې هرواحد دفعلینو تقاضه کوی درفع د اسم ظاهر بنا بر فاعلیت او دا دواړه متفق دی په اقتضاء اوپه عمل کې.

سوال: په یکون کې ضمیر چا ته راجع دی؟ **جواب:** ضمیر دیکون راجع دی تنازع دفعلینو ته.

سوال: تنازع دفعلانو خو مخکښې نده ذکر؟ **جواب:** ذکر د مرجع مخکښې عام دی که لفظاوی او که معنی وی دلته معنی شته ځکه داتنازع د فعلان مضمون د دې جملی دی چې **تنازع الفعلان:** نوشوداترکیب دمصنف دقبیلې د اعدلوا هو اقرب للتقوی نه

وفی المفعولية: اوکله موجودیږی تنازع دعاملینو په مفعولیت د اسم ظاهر کښې په دې شان سره چې دواړه تقاضه کوی دنصب د اسم ظاهر بنابرمفعولیت اوعلامه یې دا ده چې دهرفعل سره خپل خپل فاعل شته لیکن مفعول غواړي، مثال لکه ضربت واکرمت زیدا . شو دالفاعلية او المفعولية لاندې ناکت لیکلی دی کونه فاعلا وکونه مفعولا دی کښې اشاره ده دیته چې دایاء تاء مصدریه دی نه نسبتیه وتعریفها قد مر. **وفی الفاعلية والمفعولية مختلفين:** او کله کله تنازع دعاملینو واقع کیږي اوموجودیږی په استعمال د کلام دعربو کښې په فاعلیت د اسم ظاهر اومفعولیت د اسم ظاهر کښې.

(۱) په دې شرط سره چې وی به دافعلین مختلف په اقتضاء کښې په دې شان سره چې دافعل اول تقاضه دعمل د رفع کوله بنابر فاعلیت په دغه اسم ظاهر کښې او دی فعل ثانی تقاضه دعمل د نصب کوله بنابر مفعولیت په دغه اسم ظاهر کښې یا بالعکس اوعلامه یې دا ده: چې فعلین دوه دی اومعمول یې راغلی دی یواسم ظاهر. (۲) په حال کون د دې فعلینو کښې چې مختلف به وی په اقتضاء کښې.

تشریح: سوال: تنازع دفعلینو په فاعلیت او مفعولیت کښې مستلزم ده اختلاف لره نو مصنف ورسره دا مختلفین قید ولې ولګوو، خلاصه د اعتراض دا ده چې ذکر کول دمختلفين وروسته د فاعلیت او مفعولیت نه لغوه اومستدرک دی. **جواب:** دا دی چې تنازع دعاملینو چې راشی په فاعلیت او مفعولیت کښې دهغې صورتونه دوه دی: (۱) یو صورت یې دا دی چې تنازع راغلی ده په فاعلیت اومفعولیت کښې او عاملین مختلف وی باعتبار الذات او علامه یې دا ده چې عاملین دوه دی اواسمین هم دوه دی او هر یو فعل تقاضه دعمل درفع کوی په اول اسم کښې اوتقاضه دعمل دنصب کوی په اسم ثانی کښې نحو ضرب واهان زید عمرا، نو داضرب اواهان دواړه فعلین مختلف دی په ذات کښې اوندی مختلف په عمل کښې نو داتنازع مقابل دقسم اول اوثانی نده بلکه داجامع دقسم اول اوقسم ثانی ده.

(۲) او دویم صورت دا دی چې داعاملین مختلف وی په عمل کښې اوبیابرابره خبره ده که په ذات کښې مختلف وی او که نوی، اوعلامه د دې دا ده چې عاملین دوه دی اومعمولین یودی او دا یو عامل تقاضه دنصب کوی په دغه اسم کښې بنابر مفعولیت او دا بل تقاضه درفع کوی بنا بر فاعلیت نحو ضربني واکرمت زید او دا صورت قسم ثالث دی او مقابل د اول او د ثانی دی، نو ځکه مصنف **مختلفين** قید ولګوو یعني دا به مختلف فی العمل وی، اوس په دې سره دفع د یو بل اعتراض هم وشوه، اعتراض دا دی چې هرکله چې تنازع دفعلینو راشی فی الفاعلیت او المفعولیت نود دې صورتونه دوه دی نو تا دا یو ولې ترک کړو؟ **جواب:** وشو چې دا مستقل صورت نه دی بلکه جامع د اولین صورتین دی، یعني دلته مصنف بیانوی صورتونه اواقسام اولی دتنازع اواقسام اولی دتنازع دادری دی اودغه صورت داخل دی په قسم اول او ثانی کښې.

سوال: څه وجه ده چې مصنف قسمین اولین لپاره مثالونه ذکر کړه او د قسم ثالث مثال یې ذکر نه کړو؟
جواب: مصنف دا مثال د دې قسم ثالث ذکر نه کړو. بلکه دایی ترک کړو لپاره دامتحان په طالب باندې ځکه مثال د دې جوړیږی دقسم اول اودثانی نه یعنې یوفعل دقسم اول نه را واخله او بل د قسم ثانی نه نحو ضربني واکرمت زیدا. (۲) یایی مثال ترک کړی دی ځکه چې مثال د دې متصور دی په صور مختلفو سره نو مصنف ترک کړو لپاره د دې چې ذهاب وکړی ذهن د سامع هر مثال ته اویه ذکر کې توهم د اختصاص راتلو، اوس دامتصور څنګه دی په صور مختلفو سره نو صورتونه یې دا دی
(۱) اکرمني واکرمت زیدا (۲) اکرمت واکرمني زیدا (۳) ضربني واکرمت زیدا (۴) اکرمت وضربني زیدا نو څلور صورتونه دا شو او څلور صورتونه نور جوړیږی چې دا زید مرفوع ووایې. او دې کې دا بعض داسې صورتونه دی چې اختلاف دعاملینو راغلی دی هم په ذات کې او هم په تقاضه اوعمل کې او بعض هغه دی چې اختلاف راغلی دی عاملینو کې صرف په عمل کې

سوال: مختلفین منصوب دی او منصوبات دولس دی دا ولې منصوب دی؟
جواب: دامنصوب دی بنابر خبر کان چې محذوف دی سره د اسم نه او کان سره د اسم نه حذف کولی شی په استعمال د کلام دعربو کې نو تقدیر د عبارت دا شو (وفی الفاعلیة والمفعولیة ان کان فعلان مختلفین فی الاقتضاء والعمل) (۲) دامنصوب دی بنابر حالیت

سوال: حال خو ذوالحال او عامل غواړي اوس داد چا نه حال دی او عامل پکې کوم دی؟
جواب: دا دی چې داحال واقع شوي دي دفعلین نه داسې فعلین چې مضاف الیه واقع شوي دي د مصدر لپاره چې تنازع ده او دادواړه مقدر دي دلته او دلالت کوی په دې باندې ضمیر دیکون

سوال: داحال دضمیر دیکون نه ولې نه وایې؟ **جواب:** د دې حالیت دضمیر دیکون نه نه دی صحیح ځکه چې مطابقت نه راځي ځکه ضمیر مفرد دې او مختلفین تثنیه ده.

سوال: د دې الفعلان مذکور نه یې ولې حا ل نه واقع کوی چې فاعل دتنازع دی؟
جواب: د دې نه یې هم حالیت نه صحیح کیږي (۱) ځکه یوه وجه ده چې دی کې طول دمسافت لازم شوي دي په مینځ د حال او د عامل د ذوالحال کې نو په متعلم باندې اشتباه راځي چې ایا عامل د دې کوم دی او ذوالحال کوم دی لیکن داطول دلیل قطعی ندی. (۲) اصل وجه دا ده چې مراد په تنازع الفعلان کې مطلق تنازع ده او حال قید دعامل وی نو دا چې د هغه نه حال واقع شی نو مطلق تنازع به مقیده شی په مختلفین سره او دانده صحیح

سوال: دا حال د دې فاعلیت او مفعولیت نه ولې نه وایې؟
جواب: د دې نه هم حال واقع کیدل نه دی صحیح ځکه که د دې نه حال وی نو بیا مختلفتین پکار وو.

سوال: مصنف چې په دې مقام کې وفی الفاعلیة والمفعولیة وویل نو فی الفاعل والمفعول یې ولې ونه ویل؟ **جواب:** مصنف فی الفاعلیة والمفعولیة وویل او فی الفاعل والمفعول یې ونه ویل لپاره د دې چې دا تنازع د عاملینو شامله شی مفعول مالم یسم فاعله، او جار مجرور ته ځکه فاعلیت او مفعولیت عام دی که صراحتاوی او که غیرصریحی وی

فیختار البصریون: هر کله فارغ شو مصنف دبیان دصورتونو دتنازع نه نوشروع یې وکړه په بیان د مذهبینو کې چې کائن دی په تنازع دعاملان کې فیختارالبصریون غوره کړی دی علماؤ او نحاتو د بصری یا هغه خلك چې نسبت یې کیدی شی بصری ته.

اعمال الثانی: عمل ورکول فعل ثانی لره سره د جواز دعمل دفعل اول نه اودلائل د دوی دوه دی: (۱) یو دا دی چې دافعل ثانی قریب دی دی اسم ظاهر ته اوالحق للقریب (۲) دویم دلیل یې دا دی چې لپاره د دی چې لازم نه شی فصل په مابین دعامل اومعمول کې په اجنبی سره.

والکوفیون: او غوره کړی دی هغه علماؤ چې اوسیدنکی دی په کوفه کې یعنې نحاتو دکوفی عمل دفعل اول لره سره دجواز دعمل نه فعل ثانی لره، اودلائل د دوی هم دوه دی: (۱) یو دا چې د وجې دتقدم اوسبقیت نه څکه الفضل للمتقدم (۲) لپاره د دې چې لازم نه شی اضمارقبل الذکر لفظا اورتبتا څکه که ثانی لره یې ورکړونو لازمیږی اضمارقبل الذکر (۳) اودلیل د دوی دا قول د امرأ القیس دی: **کفانی ولم اطلب قلیل من المال**، دلته تنازع دکفانی اولم اطلب راغلی ده په قلیل کې په دې شان سره چې کفانی وایي چې زما سره مفعول شته اودا دی زما فاعل شی اولم اطلب وایي چې زما فاعل شته اودا دی زما مفعول شی، اوس دلته امرأ القیس عمل ورکړی دی فعل اول لره څکه مرفوع یې ویلی دی. او که فعل ثانی لره یې عمل ورکړیوی نو بیاقلیلا ویل پکاروو آوس امرأ القیس افصح دشعراؤ دی او افصح د شعراؤ خپل کلام نه بنا کوی مگرپه هغه خبره چې غوره اوافضله وی.

سوال: هر کله چې په دې تنازع دفعلینو کې مذهبونه دوه وواو دواړه سواسی وو په اعتبار د دلائلو سره بلکه مذهب دکوفیانو قوی دی څکه: چې دوی درې دلائل ذکرکړه نو مصنف ولې مذهب دبصرینو مقدم کړو؟ **جواب:** دا دی چې اعتبارقوت ددلیل لره دی نه کثرت ددلیل لره لکه: مثلایوسړی په یو مدعی باندې یوحدیث پیش کړی لیکن سند اقوی وی او بل سړی په خپله مدعی باندې پنځوس احادیث پیش کړی لیکن ضعیف وی نواعتباردغه یولره دی نه پنځوسو لره، او عندالمصنف مذهب د بصریانو مختار وو نو څکه یې مقدم کړوڅکه چې تنازع متحققه شوی ده په کلام فصیح کې اوقطع د تنازع شوې ده مطابق دمذهب د بصریانو پدې قول دالله (ج) کې (هاؤم اقرؤاکتابیه) دلته هاؤم اسم فعل دی او اقرؤا صیغه د امر ده دواړه مفعول غواړي نو دلته کتابیه مفعول به د اقرؤا دی او د هاؤم لپاره مفعول به کتابیه حذف دی، اوس دا د څه نه معلومیږي چې دا قطع د تنازع شوې ده په مذهب د بصرینو، نو دا معلومیږي د دې نه چې د کوفیانو مذهب خو دا دی چې کله تنازع د فعلینو راشی په مفعول کې اوته عمل ورکړی فعل اول ته بیا دا کوفیان دوه ډلی دی مختاره مذهب پکې دا دی چې ته به دفعل ثانی لپاره مفعول ضمیر ذکر کوي او حذف کوی به یې نه، او مذهب غیر مختار دا دی چې د فعل ثانی لپاره به ضمیر حذف کوي اوس که مونږه داسې ووایو چې دا کتابیه مفعول به دهاؤم دی او د اقرؤا لپاره مفعول به حذف شوي دي نوحمل دکتاب الله راځي په مذهب ضعیف باندې، او قرآن به

اعلی مرتبه دفصاحت کښ دی، او هر چښ دغه شعر دی نو د هغښ نه مصنف جواب کوی وروسته او اضمار قبل الذکر لفظاً او رتبتا جائز دی په باب دتنازع کښ

ترکیب: یختار فعل البصریون یښ فاعل دی **اعمال الثانی** یښ مفعول به ده **الکوفیون** عطف دی په البصریون باندښ او**الاول** عطف دی په الثانی باندښ نو عطف د اسمینو راغلو په معمولینو مختلفینو دعامل واحد باندښ او دا جائز دی بالاتفاق

فان اعملت الثانی: هرکله چښ فارغ شو مصنف دبیان دمذهبینو نه نوشروع یښ وکړه په بیان دقطع د تنازع کښ بنا برمذهبین اوهرکله چښ مختارعندالمصنف مذهب دبصریانوووپه نسبت سره مذهب د کوفیانو ته نو دایی مقدم کړونووی ویل چښ **فان اعملت الثانی** پس که چرته ته عمل ورکړی فعل ثانی لره بناپه مذهب دبصریانوباندښ **اضمرت الفاعل** گرځوی به ته ضمیر لره فاعل **فی الاول** په فعل اول کښ که فعل اول تقاضه دفاعل کوله **علی وفق الظاهر** چښ دغه ضمیر به موافق وی دغه اسم ظاهرسره چښ واقع شوی وی وروسته دفعلینو نه په افراد، تثنیه، جمعیت، تذکیر او تانیث کښ ځکه دا ضمیر راجع دی ما بعد دغه اسم ظاهر ته او مطابقت واجب دی په مابین د راجع او مرجع کښ ځکه دقطع دتنازع لپاره طرق ثلاثه دی (۱) حذف (۲) ذکر (۳) اضمار نو دلته که حذف کوو نو لازمیږي حذف دفاعل یښ د سدمسد نه او دا ندی جائز او که ذکر کوو یښ نو لازمیږي تکرار بلا باعثه او دا ندی جائز نومتعین شو اضمار ځکه چښ اضمار قبل الذکر راغلو نو دا جائزدی په عمده کښ په شرط دتفسیر سره په مابعد کښ چښ مرجع ورله وروستو بیان شوي وی، نحوضربنی واکرمت زیدا، ضربانی واکرمت الزیدین ضربونی و اکرمت الزیدین

سوال: ته وایي چښ **فان اعملت الثانی اضمرت الفاعل فی الاول** نو دا قاعده ستامنقوضه شوه په ضربت واکرمت زیدا، دلته دازیدامعمول دفعل ثانی دی اوپه فعل اول کښ فاعل ضمیرندی واقع شوی چښ راجع وی دغه زید ته ځکه دفعل اول فاعل شته؟ **جواب:** داضمیر فاعل واقع کول مطلقا نه دی بلکه دا په هغه صورت کښ چښ دی فعل اول تقاضه د فاعل کوله اودلته دافعل اول تقاضه نکوی

سوال: هرکله چښ تاعمل فعل ثانی لره ورکړونودفعل اول لپاره فاعل حذف کوي ولښ نه، یا یښ ذکر کوي ولښ نه؟ **جواب:** ځکه که ذکر یښ کړو نو بیا لازمیږي تکرار د فاعل او که حذف یښ کړونولازمیږي حذف د فاعل او دا دواړه نه دی جائز

سوال: هرکله چښ تادیته ضمیر راجع کړونو دا خو اضمارقبل الذکر راغلو لفظا او رتبتا او دا نه دی جائز؟ **جواب:** اضمارقبل الذکر جائز دی په مواضع خمسهؤ کښ کما مریوپه هغښ کښ تنازع هم ده.

سوال: حذف دفاعل ولښ نه دی جائز؟ **جواب:** ځکه چښ دفعل ا وشبه فعل په مفهوم کښ معتبر دی نسبت فاعل ما ته نوکه فاعل حذف شی نو لازمیږي وجود دنسبت بدون الطرفین او دا محال دی.

(۲) یا حذف دفاعل جائزندی د وجښ دتوقف دوجود دفعل نه په فاعل پوري.

(۳) یا حذف دفاعل جائز نه دی ځکه لازمیږي عدم استقلال دفعل نو بیا دا مسند نه واقع کیږي ځکه فعل بدون الفاعل غیرمستقل دی اومسند اومسند الیه کښ لابدی وی داستقلال نه.

سوال: ته وايې چې حذف دفاعل نه دی جائز دا قاعده ستا منقوضه شوه په ضُرب زيدٌ او ماجاءني الازيد او اضربُن اضربِن دی تولو کې فاعل حذف شوی دي

جواب: زه وايم چې حذف دفاعل جائز نه دی خو بې دسد مسد نه او دلته سدمسد شته چې ضرب زيد کې نائب فاعل دی اوماجاءني الازيد کې مستثنی ده او په اضربُن کې ضمه ده او اضربِن کې کسره ده.

سوال: داضمير به موافق ولې وی اسم ظاهر سره؟

جواب: ځکه چې داراجع دی مابعد اسم ته او په مابين دراجع اومرجع کې مطابقت ضروری دی. (۲) دا ضمير مفسردی اودغه مابعد اسم مفسردی او په مفسراومفسر کې مطابقت شرط دی.

سوال: ضربني واکرمت رجلا کې تنازع راغلی ده په رجلا کې اوس دلته چې عمل فعل ثانی لره ورکړی شي او فعل اول لپاره فاعل ضمير وګرځولی شي نو دا خوموافق نه دی د دې اسم ظاهر سره ځکه دا اسم ظاهر نکره ده اوضمير معرفه ده؟ **جواب:** مراد دلته موافقت دی په افراد، تثنيه، جمعيت، تذکير، تانيث کې او په تعريف او تنکير کې موافقت شرط ندی.

دون الحذف: سوال: دا ترکيب کې څه واقع شوي دي؟

جواب: دامنصوب دی بنابر حاليت ضمير داضمرت نه يعني په حال کون ستا کې چې ته به تجاوز کوونکی يې د حذف دفاعل نه يعنې حذف کوی به يې نه (**عندالجمهور**)

سوال: دا عدم حذفيت دفاعل خو معلوم شو د اضمرت الفاعل نه نودون الحذف ذکرکول لغو او مستدرك دی؟ **جواب:** عدم حذفيت دفاعل معلوميدو داضمرت نه ضمنا اومصنف ذکرکړو صراحتا داتصريح بما علم ضمنا ده اودا نه شی مسمی کولی په لغوه او استدراك سره.

سوال: تصريح بماعلم ضمنا کولی شی د يو نکتی لپاره دلته نکته څه ده؟

جواب: نکته پکې دا ده چې دا تمهيد دې لپاره د ترتب د مذهب کسائی خلافا للکسائی خلاف ثابت دی کسائی لره په دې شان سره چې هغه حذف د فاعل جائز وايي ځکه تنازع چې متصوره شي نو لپاره د قطع د تنازع طرق ثلاثه دی (۱) حذف (۲) اضمار (۳) ذکر که ذکر کوو يې نو لازميږي تکرار او دا باطل دی او که مضمر کووېې نو لازميږي اضمار قبل الذکر دا هم باطل دی نو متعين شو حذف.

(۱) اوحذف دفاعل د وجې دضرورت نه جائزدی

(۲) دويم دليل د هغه قياس دی هغه وايي بل ځای کې حذف شوي دي لکه اضرب القوم.

جواب د طرفه دجمهورونه دا دی چې ضرورت دی منم ليکن داضرورت مونږ په بلی طريقی سره دفع کوو چې اضمار دی ځکه اهون د بليتينو (اسان دمصيبتونو) به مختار کوو او د قياس نه جواب دا دی چې دا قياس مع الفارق دی هلته حذف دفاعل راغلی دی سره دسدمسدنه او دلته سدمسد نشته او دادون الحذف يې وويل لپاره دتعين دمحل د ما ذهب اليه الکسائی، چې هغه حذف دی ځکه که چری دون الحذف يې نه وېی ويلی اوخلافا للکسائی ويلی وی نو يته يې نه لګيده چې کسائی صاحب د دې جمهورو نه په دې طرق ثلاثه ؤ کې په کومه طريقه کې خلاف دی

وجازخلافا للفراء: جائز دی عمل د فعل ثانی په وخت دتقاضه د فعل اول کې فاعل لره په مذهب د جمهورو او نسبت دخلاف کړی شوی دی جمهورو ته داسې خلاف چې ثابت دي فراء لره په دې شان چې فراء وایي عمل د فعل اول متعین دی او عمل دفعل ثانی ممتنع دی

سوال: دا جواز د عمل ورکولو فعل ثانی لره خومخکې معلوم شونو بیا یې څه له ذکر کوی؟

جواب: دایې ذکر کړو لپاره د تمهید دمذهب د فراء، اوس مطلب دا دی چې دجمهورو مذهب خو دا وو چې که چرته فعل اول تقاضه فاعل کوله نو بیا هم عمل ورکول فعل ثانی لره جائز دی او اول لپاره به ضمیر ذکر کوی او فراء وایي چې عمل به ورکوی فعل اول لره علی التعیین او که فعل ثانی تقاضه د فاعل کوله نومضمربه یې کړی او که تقاضه دمفعول کوله نوحذف به یې کړی. او دا فراء وایي چې عمل فعل ثانی لره نه دی جائز هرکله چې ته عمل ورکړی فعل ثانی لره نو د اول لپاره به فاعل یاذکر کوی نو تکرار راځي او دا شنیع (قبیح) دی یا به ضمیر راجع کوی نو اضمارقبل الذکرلازمیږي او دا هم شنیع دی، او که حذف کوی یې نو داشنیع دی نودی وایي چې عمل به فعل اول لره ورکړی لپاره د دې چې احتراز راشی دشنیعینو اواشنع نه، لیکن جمهور ورته وایي چې اضمارقبل الذکر په شرط د تفسیر سره په مابعد کې جائز دی نوشناعت پکې نه راځي بیا دا مذهب دفراء منقول دی په طرق ثلاثه چې سره یو خوداسذکورشو (۲) او دویم قول د هغه نه دامنقول دی چې هغه تشریك درافعینو جائزوائی یعنې هغه وایي چې که دواړو تقاضه د فاعل کوله نو دا اسم مذکوربه فاعل د دواړو وی نحوضربنی واکرمنی زید، دلته دا زید فاعل د دواړو دی.

سوال: دا خو توارد دعاملینو راغلوبه معمول واحد او دا نه دی جائز؟

جواب: توارد نه راځي ځکه عامل حقیقت کې متکلم دی اوداعوامل نحویه امارات (علامات) دی او د یو شی لپاره که ګڼ علامات جمع شی نو څه نقصان پکې نشته. (۳) او دریم قول دفراء نه دامنقول دی چې عمل به ورکړی فعل ثانی لره اودفعل اول لپاره به معمول ضمیر راوړی پس د اسم ظاهر نه اویدی فعل اول کې به یې ضمیرنه مستترکوی داپه هغه ځای کې چې فعل اول فاعل غواړي اوفعل ثانی مفعول غواړي نحوضربني واکرمت زیدهو لپاره د دې چې لازم نه شی اضمارقبل الذکرلفظا اورتبتا

سوال: هر کله چې دفراء نه دادری اقوال منقول وو نو مصنف ولې فقط دا یو ذکر کړو دا نور یې ولې ذکر نه کړل؟ **جواب:** داقول غیرمشهور وو نو دایې ذکرکړو دپاره د دې چې مشهورشی اوهغه نور مشهور وو نو هغه یې ترك کړل

وحذفت المفعول ان استغنى عنه: تنازع دعاملینو چې راشی په یواسم ظاهر کې اوته عمل ورکړی فعل ثانی لره بنابه مذهب دبصریانویاندګې نوته حذف کوه مفعول دفعل اول لره که چری دافعل اول تقاضه د مفعول کوله مثال لکه ضربت واکرمت زیدایا لکه ضربت واکرمنی زید، دلته د ضربت او اکرمت تنازع راغلی ده په زید کی په مثال اول کې اودضربت اواکرمنی تنازع راغلی ده په زید کی په مثال ثانی

کې په دې شان سره چې فعل اول وايي چې دا دی زما معمول شی او فعل ثانی وايي چې دا دی زما معمول شی او س دا اسم ظاهر چې معمول دثانی لپاره وګرځولی شی نو فعل اول تقاضه دمفعول کوی دفعه به حذف کړی شی

سوال: هر کله چې عمل فعل ثانی ته ورکړی شی نو معمول دفعل اول ولې حذف کولی شی؟

جواب: ځکه تنازع چې متصوره شی نو لپاره دقطع دتنازع طرق ثلاثه دی (۱) حذف (۲) ذکر (۳) اضمار په ذکر کې لازمیږي تکرار بلا باعثه او دا شنیع دی، او که ضمیر ورله معمول وګرځوو نو لازمیږي اضمار قبل الذکر په فضله کې بې دتفسیر محضه نه په مابعد کې او دا نه دی جائز ځکه اضمار قبل الذکر په فضله کې جائز دی لیکن په شرط د تفسیر محضه سره په ما بعد کې نحو ربه رجلا، نعم رجلا، او دلته دا مابعد تفسیر محضه نه دی بلکه معمول دفعل اخر هم دی نو متعین شو حذف او حذف د مفعول به جائز دی، ځکه دا فضله دی خو دا حذف د مفعول مطلقاً نه دی جائز بلکه **ان استغنی عنه**، په دې شرط چې استغناء کړی شوی وه د ذکر د مفعول نه په دې شان سره چې دافعلان متنازعان دافعال قلوب نه نوی، **والا** او که دافعل اول مستغنی نوو د ذکر دمفعول نه په دې شان سره چې دافعلین دافعال قلوب نه وو **اظهرت** نو اسم ظاهر به مفعول ذکر کوی دفعل اول لپاره او حذف یې جائز ندی، ځکه دقطع دتنازع لپاره طرق ثلاثه دی (۱) حذف (۲) ذکر (۳) اضمار که دا مفعول دفعل اول حذف کوو نو لازمیږي اقتصار دافعال قلوب علی احد المفعولین او دا جائز ندی، او که مفعول ورله ضمیر وګرځوو نو لازمیږي اضمار قبل الذکر په فضله کې بې دتفسیر محضه نه په مابعد کې او دا هم جائز نه دی نو متعین شو ذکر او په ذکر کې اګر چې تکرار راځي لیکن دا د وجې دضرورت نه دی او دا جائز دی، مثال لکه حسبنی منطلقا وحسبت زیدا منطلقا شو، دا اصل کې حسبنی وحسبت زیدا منطلقا وو نو د حسبنی او حسبت تنازع راغلی ده په منطلقا کې حسبنی وايي چې دادي زما مفعول ثانی دی او حسبت وايي دا زما مفعول ثانی دی نو موږ دا مفعول وګرځوو د فعل ثانی لپاره چې حسبت دی بنا په مذهب د بصریانو او د حسبنی لپاره موږ مفعول ذکر کړو منطلقا نو حسبنی منطلقا وحسبت زیدا منطلقا شو.

سوال: تا وویل چې د دې حذف نه دی جائز ځکه چې لازمیږي اقتصار د افعال قلوب علی احد المفعولین او دا ندی جائز، نو دا اقتصار دافعال قلوب علی احد المفعولین ولې نه دی جائز؟

جواب: اقتصار د افعال قلوب علی احد المفعولین ځکه نه دی جائز چې دا افعال قلوب ظاهر کې متعدی کیږي مفعولینو ته لیکن حقیقت کې مفعول د دې لپاره مضمون د جملې دی لکه علمت زیدا فاضلا، ای علمت فضل زید او مضمون جوړیږي دمفعولینو نه نه دمفعول واحد نه نو که دا یو ذکر شی او بل حذف شی نو لازمیږي حذف دبعض اجزاؤ د کلمې او دا جائز نه دی لکه جعفر کې جع وائی او فر حذف کړی نو دا جائز ندی.

سوال: ته وايي چې اقتصار دافعال قلوب علی احد المفعولین جائز ندی نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په

دی قول دالله (ج) سره ﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُم ﴾ دلته خیرا مفعول ثانی دی یحسبن او مفعول اول حذف شوي دي چې بخلهم دی دا رنګې دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د شاعر

طالما قيوشى بنا الاعداء ولاتخلنا على غرآتك انا

دلته تخل فعل دی دافعال قلوب نه (نا) یې مفعول اول دی او مفعول ثانی یې حذف دی چې جازعین دی

جواب: دلته په دې ایت کې مفعول دیحسبن حذف شوی نه دی بلکه هو مفعول اول دی او خیرا مفعول ثانی دی، او هرچې داشعر دی نو دلته مفعول حذف شوي دي د وجې دضرورت شعري نه، ځکه یجوز في الشعر مالا یجوز في غیره.

سوال: ان استغنى عنه شرط دی د دې جزاء کوم ده؟

جواب: جزاء د دې داقول دمصنف دی چې **حذفت المفعول**. په نزد کوفیانو باندې چې هغه تقدیم دجزاء په شرط باندې جائزوايي (۲) یاجزاء د دې حذف شوې ده او داحذفت المفعول دال بالجزاء دی داپه مذهب د هغه چاچې تقدیم دجزاء په شرط باندې جائزنه وايي، یعنې عندالبصریین

وان اعملت الاول الخ: هرکله چې فارغ شو مصنف دبیان دقطع دتنازع نه عندالبصرین نوشروع یې وکړه په بیان دقطع دتنازع کې بنا په مذهب د کوفیانو باندې، چرې تاعمل ورکړو فعل اول لره بنابه مذهب د کوفیانو باندې نو ګرځوی به ته ضمیر فاعل په فعل ثانی کې

سوال: په ضربني واکرمت زید کې چې دازید فاعل شی دفعل اول لپاره بنا په مذهب د کوفیانو باندې نو د اکرمت لپاره خو فاعل شته نو ضمیر به ورله څنګه فاعل ګرځوی؟

جواب: ته به ضمیر فاعل ګرځوی دفعل ثانی لپاره په دې شرط چې فعل ثانی تقاضه دفاعل کوله او په دې مثال مذکور کې فعل ثانی تقاضه دفاعل نکوی بلکه داتقاضه دمفعول کوی، مثال لکه ضربني واکرمني زید شو دلته چې زید فاعل شی دفعل اول لپاره نو دفعل ثانی لپاره فاعل ضمیر مستتر دی او اضمار قبل الذکر لفظا راځي فقط نه رتبتا

والمفعول او ضمیر به مفعول ګرځوی که فعل ثانی تقاضه دمفعول کوله **على المختار**، بناپه مذهب مختار د کوفیانو باندې، لپاره د دې چې لازم نه شی مغائرت په مینځ دمذکور او مقدر کی لکه ضربني واکرمت زید دی نو دلته چې زید فاعل دفعل اول شی بناپه مذهب دکوفیانو باندې نو دفعل ثانی لپاره به مفعول ضمیر ذکر کړې او داسې به وايې چې ضربني واکرمته زید، ځکه د دفع دتنازع لپاره طرق ثلاثه دی (۱) حذف (۲) ذکر (۳) اضمار نو که دامفعول ورله ذکر کوو نو تکرار لازمیږي او که حذف کوویې نو لازمیږي توهم دمغائرت دمقدر دمذکور نه نو متعین شو اضمار، او بنا په مذهب غیرمختار د کوفیانو باندې مفعول به دفعل ثانی حذف کولی شی ځکه دافضله دی او حذف دفضله جائز دی، لهذا مونږه وايو چې مذهب دبصریانو غوره دی ځکه قرآن کې قطع دتنازع راغلی ده بناپه مذهب دبصریانو یعنې د دوی دا مذهب موافق دی دقرآن سره چې داقول دالله (ج) دی ﴿ هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ ﴾ وقوله تعالى ﴿ آتُونِي

أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴾ اوس دلته که قطع دتنازع بناپه مذهب مختار دکوفيانو نه ده شوی او که په مذهب غير مختاريی بناکوی نو لاژميږي حمل دکتاب الله په مذهب غير مختارباندې اوداننده جائز.

الا ان يمنع مانع فتظهر: يعني دامفعول دفعل ثاني به ته مضمر کوی په مذهب مختار اوحذف کوی به يې په مذهب غيرمختارباندې فی جميع الاوقات الاوخت منع المانع من الاضماروالحذف يعنې که مانع موجود وو د اضماراوحذف نه نو بيا به اسم ظاهر راوړی ځکه تنازع چې متصوره شی نولپاره دقطع د تنازع طرق ثلاثه دی. (۱) حذف (۲) اضمار (۳) ذکر. که حذف کوو يې نو لاژميږي اقتصاردافعال قلوب په احد المفعولين او دا ندی جائز، او که اضمارکوی نويا به ضميرد مفرد راوړی نو لاژميږي مخالفت په مابين دمفعولينو کی. او که ضمير دتثنيه راوړی نو بيا لازميږي مخالفت په مينځ دراجع اود مرجع کې او دا باطل دی، نومتعين شوذکراو که ته وايي چې تکرار لازم شو نوجواب دا دی چې دا تکرار راغلی دی د وجې دضرورت نه اوداجائز دی. مثال لکه حسبنی وحسبتهما منطلقين الذيدان منطلقا اصل ترکيب داسې ؤ حسبنی و حسبتهما الذيدان منطلقا نو د حسبنی اود حسبت تنازع راغلی وه په منطلقا کې په دې شان سره چې هرواحد د دې فعلينو تقاضه کوی چې دا دی زما مفعول ثاني شی نو مونږه عمل ورکړو فعل اول لره بناپه مذاهب دکوفيانوباندې نودثاني لپاره مومفعول به اسم ظاهر ذکر کړوچی منطلقين دی، اومراد په منطلقاسره ذات متصفه بالانطلاق دی، نوتنازع پکې متصوره شوه ځکه تنازع جوړيږی په مرتبه دتصورکی اوقطع دتنازع هم کيږي په مرتبه دتصور اواراده کې قبل التلفظ اوبيا په دی مقطوع باندې تلفظ کولی شی، اوس په دې سره دفع ديواعتراض وشوه.

سوال: قطع دتنازع فرع دوجوددتنازع ده اودلته دسره تنازع موجودنده نوته قطع څنګه کوی ځکه دلته دا منطلقا معمول دحسبی دی علی التعين اوحسبت ورسره پديکی جګړه نه کوی ځکه حسبتهما مفعول ثاني تثنيه غواړي او دا مفرد دی.

جواب: وشو چی دا تنازع راغلی ده په ذات متصفه بالانطلاق کې قطع لحاظ د افراد تثنيت جمعيت نه دا حسبنی هم مفعول ذات متصفه بالانطلاق غواړي او حسبت هم مفعول ذات متصفه بالانطلاق غواړي ځکه دا تنازع جوړيږی په مرتبه دتصور کی اوپه مرتبه دتصور کې په دی کې افراد تثنيت جمعيت نشته.

وقول امرا القيس كفانی ولم اطلب قليل من المال ليس منه لفسادالمعنی: هرکله چې دليل نيولی ووکوفيانو لپاره د اولويت دعمل دفعل اول په قول دامرأ القيس سره په دې شان سره چې تنازع راغلی ده په قول دامراء القيس کې په مابين دکفانی اولم اطلب کې په قليل کې فعل اول تقاضه کوی درفع بنابر فاعليت او فعل ثاني تقاضه کوی دنصب بنابرمفعوليت اودی شاعرعمل ورکړی دی فعل اول لره ځکه قليل يې مرفوع ويلی دی اوعمل يې فعل ثاني لره نه دی ورکړی ځکه که عمل يې ورکړی وی فعل ثاني لره نو پکار وه چې دايی منصوب ويلی وی. نومعلومه شوه چې عمل ورکول فعل اول لره اولی دی دثاني نه

ځکه امراء القیس افصح دشعراؤدی اوافصح شاعر نه غوره کوی په خپل کلام کې مګرغوره اوراجح خبره. او دا قول د امراء القیس سند دې په شریعت عربی کې نوځکه مصنف دده نوم اغستی دی

تشریح: ربط د دې عبارت خومعلوم شو دماقبل سره، چې دا واواستئنافیه دی. قول مضاف دی امرا القیس ته **من قبیل اضافة المصدرالی الفاعل** اوکفانی الخ مقوله ده اومفعول به ده نومصدرمضاف سره دفاعل مضاف الیه اوسره دمفعول به نه مبتدأ لیس فعل دی دافعال ناقصونه ضمیر پکې مستتر دی چې راجع دی قول ته هغه یې اسم اومنه جارمجروریی په اعتبار دمتعلق سره خبر دی اودالفسادالمعنی متعلق دی په دې پورې داجمله خبریه خبر دمبتدأشومبتدأسره دخبر نه جمله اسمیه خبریه مستانفه شوه، او غرض دمصنف په دې جملی سره ردکول دی په استدلال دکوفیانوباندې، ځکه کوفیان وایي چې هرکله تنازع د فعلینو راشی په یو معمول کې نوعمل ورکول فعل اول لره اولی دی سره د جواز د عمل د فعل ثانی نه اواستدلال یې نیولی ووپه دی قول دامراء القیس سره چې دلته ده عمل فعل اول لره ورکړی دی نومعلومه شوه چې عمل ورکول فعل اول لره غوره دی

سوال: اعمال دفعل اول اوثانی دی مساوی شی بې داولویت داحد هما نه په اخر باندې اوامرا القیس دی عمل کړی وی په یو د متساوییینو باندې نو دا خومستلزم نه دی اولویت داحد همالره

جواب: تنازع دعاملینو چې کله راشی په یو اسم ظاهرکی نوهغې کې مشهورمذهبونه دوه دی یومذهب دا دی چې عمل ورکول فعل ثانی لره اولی دی او بل وایي چې عمل ورکول فعل اول لره اولی دی او قائل بالفصل نشته نوتساوی دطرفینو نه لازمیږی، اوس مصنف دلته جواب وکړود دې استدلال د کوفیانونه چې داقول دامرأ القیس د باب تنازع نه نه دی (مدعی) ځکه که داقول دامرأ القیس دباب د تنازع نه شی (مقدم) نو لازمیږي فساددمعنی چې هغه اجتماع دنقیضینو ده (تالی) لکن التالی باطل فالمقدم مثله، یعنې اجتماع دنقضین خوباطل ده نوکون دقول دامرأ القیس من باب التنازع هم باطل دې، بطلان دتالی ظاهر دی اووجه دملا زمې دا ده چې د دې قول دامرأ القیس په اول سرکی کلمه د (لو) راغلی ده، اودالوشرطیه ذی اوفرق په مینځ دلوشرطیه اود (لولا) کې دا دی چې لولادلالت کوی په انتفاء د شي ثانی د وجې دوجود د شي اول نه لکه لولا علی لهلك عمر دلته هلاکت دعمر منتفی دی د وجې دوجوددعلی نه اولودلالت کوی په انتفاء د شي ثانی د وجې دانتفاء د شي اول نه، اوقاعده په دې لو کې دا ده چې داخل شی په مثبت باندې نودهغې نه منفی جوړوی لکه لوجئتنی لاکرمتك لفظی ترجمه دا ده چې که چری ته راغلی وی نوما به ستا اکرام کړی وی اومعنی مراده یې دا ده چې ماستا اکرام نه دی کړی ځکه ته راغلی نه یی، یا لکه ﴿لَوْكَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا﴾ د دې معنی مراده دا ده چې فساد نشته په عالم کې نظام یو شان چلیږی ځکه تعدد نشته، اوچی داخل شی په منفی باندې نو هغې نه مثبت جوړوی لکه لوماجئتنی لما اکرمتك **(لفظی ترجمه) دا ده** چې که چری ته راغلی نه وی نو ما به ستا اکرام نه وی کړی اومعنی مراده دا ده چې ته راغلی یې ځکه می ستا اکرام وکړو، اودالودمثبت

نه منفي او د منفي نه مثبت جوړوي په درې ځايونو کې: (۱) شرط (۲) جزاء (۳) معطوف په دې دواړو باندې او پدې قول دامرأ القيس کې هم دلونه بعددادرې اشياء موجوددي، **لوانما اسعى لادنى معيشة** شرط دى، او كفانى جزاء ده او ولم اطلب قليل من المال معطوف دى، او دا شرط او جزاء مثبت دى او معطوف منفي دى په لفظ کې نوپه اعتباردمعنى سره شرط اوجزاء منفي شواومعطوف مثبت شو، نو معنى داشوه چې زه سعى نه کومه دمعمولي ژوندلپاره، نه کافي کيږي مالره لږ دمال نه اوطلب کوومه لږ مال، نو دى کې اجتماع دنقيضينو اومتنافيينو راغله اوداباطله ده، نومعلومه شوه چې تنازع پکې نشته بلکه دا قليل فاعل دکفانى دى على التعيين اودلم اطلب لپاره مفعول حذف دى چې المجد المؤثل دى اوقرينه په دې دا شعر دى:

ولكنما اسعى لمجدمؤثل وقديدرك المجدالمؤثل امثالى

سوال: په ولم اطلب کې داواواعتراضيه يا استنافيه وګرځوه نوجمله معترضه يامستانفه به شي او فساد د معنى به رانه شي يابې واو حاليه وګرځوه نو داجمله به حال واقع شي دضميرمتكلم دكفانى نه، يا بې واو عاطفه وګرځوه ليكن دالم اطلب عطف کړه په مجموعه جمله شرطيه باندې نو بيا هم فساد د معنى نه راځي

جواب: كه حال يې واقع کړو دمفعول دكفانى نه نو بيالازميږي تقييددجزاء چې كفانى دى په نقيض د شرط سره صورتا ځكه حال قيد دعامل دذوالحال وى اوشرط هم قيد دجزاء دى او كه عطف په مجموعه جمله شرطيه باندې وکړونو بيا لازميږي تاكيد په كلام کې سره دامكان اوحصول دتاسيس نه يعنې ترجيح دتاكيد راځي په تاسيس باندې اوقاعده دعلم بلاغة داده: چې تاسيس اولى دى د تاكيد نه، اواستنافيه اواعتراضيه يې نه ګرځووځكه چې اصل په واو کې واو عاطفه دى اودانورخلاف الاصل دى اوتر څو پورې چې اصل ممكن وونوعدول خلاف الاصل ته نه دى جائز.

لطيفه: امرأ لفظ يواسم دى د اسماء عجيبونه ځكه عامه قاعده دا ده چې حركت دعين كلمه تابع دلام كلمه نوى او پدى لفظ دامرأ کې حركت دعين كلمه تابع دلام كلمه دى په دې شان سره چې كه لام كلمه يې منصوبه وه نوعين كلمه يې هم مفتوحه لوستى شى نحورايت امرا او كه لام كلمه يې مرفوعه وه نوعين كلمه يې مضمومه لوستى شى نحوقوله تعالى﴿إِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ﴾ او كه لام كلمه يې مجروره وه نوعين كلمه يې مكسوره لوستى شى نحوقوله تعالى (لكل امرء منهم) ، اودارنګې داقول دمصنف شو قول امرأ القيس او د امرأ پشان د لفظ دابنم دي چې دايولغت دى په ابن کې په دې کې هم حركت دعين كلمه تابع دى دحركت دلام كلمه.

مفعول مالم يسم فاعله: **تركيب**: مفعول مالم يسم فاعله مبتدأ**كل** مضاف **مفعول** موصوف **حذف** فعل مجهول **فاعله** يې نائب فاعل فعل سره دنائب فاعل نه جمله فعليه معطوف عليه واوحرف عاطف اقيم فعل ضمير مستتريې موكدهو تاكيدموكدسره تاكيدنه نائب فاعل مقامه مفعول فيه داقيم داجمله عطف ده په ماقبل دامجموعه صفت د مفعول موصوف، موصوف مع الصفة مضاف اليه دمضاف

مضاف مع المضاف الیه خبر دمبتدأ هرکله چې فارغ شو مصنف دبیان دنوع اول دمرفوعاتو نه چې فاعل وو نوشروع یې وکړه په بیان د نوع ثانی دمرفوعاتو کې چې نائب فاعل اومفعول مالم یسم فاعله دی، اوهر کله چې دامفعول مالم یسم فاعله مندرج نه.وو په فاعل کې په نزدمصنف باندې بلکه جداقسم وونو دایی مستقلاذکرکړواوداخل یې نه کړوپه بحث دفاعل کې اوهرکله چې د دې مفعول مالم یسم فاعله شدت اتصال اومناسبت وودفاعل سره حتی چې بعض نحاتو (جارالله اوشیخ عبد القاهر) ورته عین فاعل ویلی دی. نو جدائی یې رانه وستله په مینځ د دې اوپه مینځ دفاعل کې په منه یا منها سره نو وې ویل چې مفعول مالم یسم فاعله. مفعول د هغه فعل چې نه دی ذکرکړی شوی فاعل نحوی د دې فعل په اصطلاح دنحویانوکی کل مفعول جنس مفعول دی، دا کلمه دکل مقحم دی اوزائد دې په تعریف کې اوتعریف مدخول دکل دی نه کل اوداکل دلته ذکرشوي دي محض لپاره دتصریح دجامعیت دتعریف افرادو خپلولره. داسې مفعول حذف چې ترک کړی شوي دي فاعله فاعل نحوی د دې مفعول د وجې دیو نکتې د هغه نکتود فصاحت او بلاغت نه **واقیم** اوقائم کړی شوی دی دغه مفعول **هو** دغه مفعول، **مقامه** په ځای د دې فاعل نحوی باندې په حکم کې په دې شان سره چې کوم حکم ثابت وو فاعل لره هغه حکم به ثابت وی نائب فاعل لره.

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی اوغرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: د دې ځای پورې یوقسم داقسام ثمانیو دمرفوعات نه بیان شو اوس قسم ثانی بیانوی اوغرض د مصنف د دې عبارت نه بیان دنوع ثانی دمرفوعات دی چې نائب فاعل دی

سوال: مصنف دامفعول مالم یسم فاعله دفاعل سره یوځای دیو منه لاندې ولې ذکرنه کړولکه څنګه چې یې مبتدأ اوخبر دیومنه لاندې ذکرکړی دی؟ **جواب:** هرکله چې دانوع علیحده وه د اسماء مرفوعونه اونه وو مندرج په فاعل کې عندالمصنف نو جدا یې ذکر کړواو که یوځای یې ذکرکړی وی نوواهم به داوهم کولو چې دا به عندالمصنف داخل وی په فاعل کې.

سوال: هرکله چې یې داجداذکرکړود وجې داستقلال دنوعیت نه نومنه یامنها یې ورسره ولې ذکرنه کړو لکه څنګه چې یې ذکر کړی دی د مبتدأ سره؟ **جواب:** هرکله چې په مینځ دفاعل اونائب فاعل کې کمال اتصال اوشدت تعلق وو حتی چې بعض نحاتو ورته فاعل ویلی دي نوځکه مصنف فصل رانه وستوپه مینځ د دې اوپه مینځ دفاعل کې په منه یامنها سره. (۲) دویم جواب دا دی چې داب اوطریقه دمصنف دا ده چې کله د یو شی اقسام بیانوی نو داصل اقساموسره کلمه دمنه ذکر کوی اودباقی سره یې ترک کوی لکه وروسته مصنف دمطلق مفعول پنځه اقسام بیان کړی دی خواصل په هغې کې مفعول مطلق دی نو د هغې سره یې منه بیان کړی دی اودباقی سره یې ترک کړی دی اواصل په مرفوعات کې فاعل دی نو د فاعل سره یې منه ذکر کړی دی اودلته یې ترک کړو

سوال: بیا خو پکار وه چې دمبتدأسره یې هم منه نه وی ذکرکړی هلته یې ولې ذکرکړی دی؟

جواب: په اصل دمرفوعات کې اختلاف دی په نزد جمهورو باندې فاعل اصل دی اوپه نزدسیبویه او جار الله زمخشري باندې مبتدأ اصل ده. نو اګر چې مختار عندالمصنف مذهب د جمهورو دی لیکن په

اصالت د مبتدأ باندې هم بعض نحاتو قول کړی وو نو د هغو د رعایت او لحاظ په وجه باندې یې دا هم مصدر کړه په منه یا منها سره.

ترکیب د دې عنوان: مفعول مضاف ما مضاف الیه موصول، یسم فاعله مضارع مجهول فاعله مضاف مضاف الیه نائب فاعل، فعل سره د نائب فاعل نه جمله صله شوه د موصول موصول سره د صلې نه مضاف الیه د مضاف، بیا دا مرکب اضافی نوم ګرځېدلی دی ذیو نوع د اسماء مرفوعو لپاره. او دیته نائب فاعل هم وایي کماذکره ابن مالك، لیکن مسمی کول د دې په نائب فاعل سره غوره دی د مفعول مالم یسم فاعله نه، ځکه دا نوم د دې چې مفعول مالم یسم فاعله دی صادقیږی په یوشي باندې او تعریف یې پرې نه صادقیږی چې هغه مفعول ثانی د باب د اعطیت دی لکه اعطی زید درهما کې دا درهما مفعول د داسې فعل دی چې نه دی ذکرشوی فاعل د دې او مفعول مالم یسم فاعله اصطلاحی نه دی ځکه چې دا تعریف پرې نه صادقیږي.

سوال: (۱) د مفعول مالم یسم فاعله معنی خو دا ده چې مفعول د هغه فعل چې نه دی مسمی شوی فاعل د هغې نو عدم د تسمیه د شي په یو اسم سره دلالت کوی په عدم وجود د غه شی باندې نو معلومه شوه چې فاعل یې نه دی موجود نو لازم شو وجود د فعل بې د فاعل نه او دا محال دی.

سوال: (۲) دویم اعتراض دا دی چې سمی یسمی تسمیة متعدی کیږي مفعولینو ته او قاعده دا ده چې کوم فعل چې متعدی وی مفعول واحد ته او د هغې نه مجهول جوړشی نو هغه لازم ګرځي او کوم فعل چې متعدی وی مفعولین ته او مجهول ترې جوړشی نو متعدی مفعول واحد ته پاتې کیږي او کوم فعل چې متعدی وی مفاعیل ثلاثه ؤ ته او د هغې نه مجهول جوړشی نو متعدی مفعولینو ته پاتې کیږي، نو دلته دا یسم معلوم متعدی الی المفعولین وی او س یسم مجهول دی نو فاعله یې نائب فاعل شو نو مفعول ثانی یې څه شو؟

جواب: د دې دواړو اعتراضونو نه جواب دا دی چې سمی یسمی تسمیة په دوه معنو سره راځي په استعمال د کلام عربو کې: (۱) بمعنی نام نهادن (۲) بمعنی ذکر چې په معنی دا نام نهادن سره وی نو متعدی کیږي مفعولینو ته مفعول اول ته متعدی کیږي بالذات او مفعول ثانی ته.کله بالذات متعدی کیږي لکه (سمیته تلخیص المفتاح) او کله متعدی کیږي بالواسطه لکه وسمیته بهدایة النحو او چې په معنی د ذکر سره وی نو متعدی وی مفعول واحد ته او دلته په معنی د ذکر سره دی نو متعدی وو مفعول واحد ته او س هر کله چې د دې نه مجهول جوړشو نو هغه مفعول یې نائب فاعل شو او بل مفعول نه غواړي. او چې په معنی د ذکر سره شو نو هغه بل اعتراض هم دفع شو ځکه چې د دې معنی دا نده چې فاعل یې مسمی شوی نه دی بلکه معنی یې دا ده چې فاعل یې ذکر شوی ندی.

سوال: (۱) دا تعریف ستا جامع نه شو خپلو افرادو ولره خارج شو د دې نه ضُرِبَ زیدٌ ځکه دا کل مفعول حذف فاعله نه دی یعني داسې نه دی چې فاعل حذف شوي دي او هر مفعول قائم شوي دي په مقام د هغه ځکه دا زید خو هر مفعول ندی.

سوال: (۲) دویم اعتراض دا دی چې ستادا تعریف باطل دی ځکه چې تعریف دجنس کیږي په جنس سره اودلته تعریف دجنس راغلو په افرادو سره ځکه کل راځي داحاطی د افرادو لپاره اوتعریف دجنس به افرادو سره باطل وی نو داباطل شو. **جواب:** دادواړه اعتراضونه به ناهله کولی چې دا کلمه دکل جزوی دتعریف نه لیکن دا کلمه دکل مقحم او زائد دې او تعریف مدخول دکل دی نه کل

سوال: هر کل چې دا کلمه دکل زائده ده نو بیا یې ذکر کړی ولې ده؟

جواب: دایی ذکر کړیده محض تصریح دجامعیت اومانعیت دتعریف لپاره، پس زده کړه داخبره چې کلمه دکل څلور قسمه ده:

(۱) کل افرادی نحو قوله تعالی ﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ﴾ (۲) کل مجموعی نحو قولك کل النملة یرفع هذا الحجر (۳) کل کلی نحو کل انسان نوع وکل حیوان جنس یعني انسان کلی نوع ده اوحیوان کلی جنس دی. (۴) کل زائده چې داراځي په تعریفات کې اوعلامه دکل افرادی دا ده چې مدخول د دې به نکره وی اوعلامه دکل مجموعی دا ده چې مدخول به یې معرفه وی. لکه چې معلومه شوه دمثالونونه لهذاکل رمان ماکول ترکیب صحیح دی ځکه دلته کل افرادی دی نومعنی د دې داشوه چې هرفرد د افرادو د انار وخوړلی شی، اوکل الرمان ماکول ترکیب نه دی صحیح ځکه دلته کل مجموعی دی نومعنی د دې داشوه چې مجموعه انار خوړلی کیږي او دا نده صحیح ځکه پوستکی د انار خو څوك نه خوری

سوال: حذفَ مشتق دی دحذف نه اوحذف اسقاط عن اللفظ ته وایي نود دې معنی داشوه چې دافاعل به اول ذکر شوی وی بیا به غورځیدلی وی دلفظ نه اومفعول به قائم شوی وي په مقام د دې فاعل باندې نو دا تعریف ستاجامع نه شو خارج شو ترې ضرب زید دلته دافاعل دسره ذکرشوی ندی؟

جواب: داحذف په معنی دترك سره دی اوترك عام دی که اولاوی او که پس د ذکر نه وی.

سوال: دا تعریف دنائب فاعل نه شو ددخول دغیرنه داخل شو پکې فاعل چې الربیع دی په انبت الربیع البقل کې دلته الربیع فاعل دی اودا تعریف پرې صادق دی ځکه دا اصل کې مفعول وو اوفاعل د دې ترك کړی شوی دی چې الله دی اوداقائم شوی دی په مقام دفاعل کې اصل کې ترکیب داسې ووچې انبت الله البقل فی الربیع، اودا خونائب فاعل نه دی بلکه فاعل دی.

جواب: دلته په دې تعریف دمفعول مالم یسم فاعله کې دفاعل نه مراد فاعل نحوی دی او په انبت الربیع البقل کې دلته فاعل حقیقي ترك کړی شوی دی نه فاعل نحوی، پس زده کړه داخبره چې فاعل دوه قسمه دی: (۱) حقیقي. (۲) نحوی. فاعل حقیقي موجدته وایي چې مصداق دهغې فقط الله (ج) دی او فاعل نحوی هغه اسم ته وایي چې اسناد دفعل یاشبه فعل ورته شوی وی الخ.

سوال: په مینځ دفعل حقیقي اوفاعل نحوی کې څه نسبت دی؟ **جواب:** د دې په منیځ کې نسبت دعموم خصوص من وجه دی، ماده اجتماعی لکه خلق الله الافعال کلها ، ماده افترقی ازفاعل نحو لکه ضرب زید عمرا کی دازید فاعل نحوی دی اوفاعل حقیقي ندی، او ماده افتراقی ازجانب فاعل حقیقي لکه ددغه ضرب لپاره فاعل حقیقي بمعنی موجد الله دی او فاعل نحوي ندی.

سوال: **فاعله** کې داضمير چا ته راجع دی يا به راجع کوی فعل ته او يامفعول ته که فعل ته راجع شی نو اضافت خوصحيح دی لکن خلوه دجمله صفتی راغله دعائد دموصوف نه اوداباطله ده. او که ضمير راجع کوی مفعول ته نوخلوه خو رانغله ليکن دا اضافت باطل دی ځکه فاعل د فعل لپاره وی نه د مفعول لپاره؟ **جواب:** دا دی چې داضمير راجع دی مفعول ته اودا اضافت د وجې دادنی مناسبت نه دی چې دواړه متعلقين اومعمولين دفعل دی.

سوال: اقيم ماضی مجهوله ده اوهوورله نائب فاعل دی، نومسئله خوداده چې ولايسوغ المنفصل الا لتعذر المتصل اودلته خوتعذر داتصال نه دی راغلی نو داضمير منفصل ولې ذکرشو؟

جواب: دا اعتراض به تا هله کولو چې د هو نائب فاعل وی ليکن نائب فاعل دلته ضمير مستتر د اقيم دی او دا د هغې لپاره تاکيد دې اوانفصال راغلی دی د وجې دتعذرداتصال نه چې دامنفصل واقع شوی دی د يو غرض لپاره چې تاکيد دې.

سوال: دا تاکيد يې ولې وکړو؟

جواب: دا تاکيدیی وکړلپاره ددفع دتوهم ځکه که چرته تاکيد د هغه ضمير مستتريی نه وی کړی په دې ضمير منفصل سره نومتوهم به داوهم کولوچی دامقامه نائب فاعل داقيم لپاره دی اوس چې تاکيد يې وکړو نو معلومه شوه چې نائب فاعل ضمير مستتردی اومقامه ورله مفعول فيه دی

(۲) او دويمه وجه دا ده چې داتاکيدیی وکړولپاره ددفع دتوهم ځکه دا اقامت دمفعول مقام الفاعل خلاف وو د عقل نه نو متوهم به داهم کولو چې دانه شی قائم کيدی اودامصنف خطاشوي دي نو دا تاکيدچی يې وکړو نو دغه توهم يې دفع کړو.

سوال: مقامه ولې منصوب دی؟

جواب: دا ظرف مکان يعني منصوب دی بنابر مفعول فيه په تقدير د في سره.

سوال: ظرف مکان منصوب په تقديردفی سره بنابر مفعول فيه هله راځي چې مکان مبهم وی او که مکان محدود وی نو منصوب بتقديرفی نه شی راتلی نوايا دا مکان مبهم دی که محدود دی؟

جواب: دا صيغه د اسم ظرف ده او دا داخله ده په مکان مبهم کې کما اشاراليه ابن مالك فی قوله

صيغ من الفعل كمرمى من رمى   نحوالجهات والمقاديروما

نو دا صيغه د اسم ظرف منصوب بتقديرفی راځي ليکن په دې شرط سره چې دادکومی مادی نه جوړ شوی وی نووروسته د هغه مادی نه ذکر وي نحورميت مرمی زيد، اودلته خوذکردی ورروسته د هغه مادی نه چې دکومی نه جوړشوي دي چې اقيم دی، بيا دا لفظ يامقامه دی که دمجردونه شی او يا مُقامه دی که دباب افعال نه شی اواقيم اصل کې اقوم وو بيا کسره دواو نقل شوه ماقبل ته چې قاف دی نواقوم شو بياواوبدل شه ياء سره نواقيم شو. مقام اصل کې مقوم ووالخ.

سوال: فاعل ماصدرمنه الفعل ته وايي اومفعول ماوقع عليه الفعل ته وايي اودماصدرمنه نه ماوقع عليه نه جوړيږی نوته څنګه مفعول قائم کوی په مقام دفاعل کې؟

جواب: اقامت دمفعول په مقام دفاعل باندې په ماصدرمنه کې نه دی بلکه دامفعول قائم شوی دی په مقام دفعل باندې په حکم کې په دې شان سره چې کوم حکم ثابت ووفاعل لره هغه حکم ثابت دی مفعول مالم یسم فاعله لره. (۱) کونه مسندا الیه (۲) کونه مرفوعا (۳) کون الفعل موحدا اذا اسند الی الظاهر نحو ضرب زید ضرب الزیدان ضرب الزیدون (۴) او که اسناد د فعل وشی ضمیر د نائب فاعل ته نه وو حد للواحد وثنی للمثنی وجمع للجمع نحو زید ضرب الزیدان ضربا الزیدون ضربوا (۵) کون د فعل دی مؤنث وجوبا کله چې اسناد دفعل وشی نائب فاعل اسم ظاهر مؤنث حقیقي متصل بلا فصل ته یا ضمیر د مؤنث ته مطلقا والاجواز دوجهینو دی (۶) امتناع حذفه (۷) امتناع تقدیمه علی الفعل (۸) اولویت د وقوع د نائب فاعل وروسته د فعل نه متصل بلافصل (۹) فی الاقسام لکه څنګه چې فاعل څلورقسمه راځي (۱) اسم صریحی نحو ضرب زید (۲) اسم تاویلی نحو یُحمدأن تجتهدای اجتهادکم (۳) ضمیر بارزنحو ضُربتُ (۴) ضمیر مستترنحو زید ضُرب.

سوال: اصل په فاعل کې ذکر دی او حذف خلاف الاصل دی نومتکلم ولې دافاعل حذف کوی اومفعول به قائم کوی په مقام دفاعل باندې

جواب: داحذف دفاعل کولی شی د وجې دیونکتی دنکتودفصاحت او بلاغة نه اوهغه نکتی دفصاحت او بلاغة دا دی (۱) لشهرت الفاعل نحو قوله تعالی ﴿ وَخُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ ضَعِيفًا ﴾ (۲) تحقیراله نحو شتم الخلیفة فاعل یې ذکرنه کړود وجې دحقارت اوخساست دفاعل نه چې هغه شاتم دی (۳) تعظیما له نحو عُمل عمل المنکر (۴) لکون الفاعل مجهولا للمتکلم نحو سُرق المتاع (۵) خوفا علیه نحو قتل عمرو (۶) خوفامنه نحو شتم زید (۷) لعدم تعلق الفائدة فی ذکره نحو قوله تعالی ﴿ وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا۟ بِأَحْسَنَ مِنْهَآ أَوْ رُدُّوهَآ ﴾ (۸) لغرض لفظی کا الایجاز والسجع مثال الاول نحو قوله تعالی ﴿ فَعَاقِبُوا۟ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم ﴾ (۹) للتعمیم نحو قوله تعالی ﴿ وَإِذَا قُرِئَ ٱلْقُرْءَانُ فَٱسْتَمِعُوا۟ لَهُۥ ﴾ دلته فاعل دفعل چې قرء دی ترك کړی دی دی کې اشاره وکړه تعمیم دفاعل ته فاعل عام دی چې امام وی او که خطیب وی او که بل څوك وی خوچې قرآن لولی نوتاسوغوږ کیږدی او چپ شئ (۱۰) للاخفاء.

سوال: دا فاعل چې حذف شی نومفعول ولې قائم کولی شی په مقام دفاعل باندې؟

جواب: لپاره د دې چې لازم نه شی حذف دفاعل بې دسد مسد نه ځکه حذف دفاعل بې دسد مسد نه جائز نه دی کما مر.

وشرطه ان تغیر صیغة الفعل الی فُعل: ترکیب: شرطه مضاف مضاف الیه مبتدأ ان ناصبه مصدریه تغیر صیغة واحده مؤنث غائب مضارع مجهول صیغة الفعل مضاف مضاف الیه نائب فاعل الی جارفعل معطوف علیه اوعاطفه یفعل معطوف معطوف علیه سره دمعطوف نه مجرورشو دجارجارسره مجرور نه متعلق شو تغیرپورې فعل سره دنائب فاعل اوسره دمتعلق نه خبر دمبتدأ مبتدأ سره دخبر نه جمله خبریه اسمیه

ربط: هرکله فارغ شو مصنف دبیان دتعریف دمفعول مالم یسم فاعله اونائب فاعل نه نوشروع یې وکړه په بیان دشرط د وجود دنائب فاعل کې په استعمال د کلام دعرب کې نووې ویل وشرطه الخ.

اِن تغير صيغة الفعل

ترجمه: (۱) شرط لپاره دحذف دفاعل اواقامت دمفعول په مقام دفاعل باندې دا دی چې دفعل ته بدلیدل دصورت اوشکل دفعل دی الی فُعِلَ وزن دفعل ته اويُفعَلُ باوزن ديفعل ته باغيرد دې وزنونو ته (۲) شرط لپاره دحذف دفاعل او اقامت دمفعول په مقام دفاعل کې بدليدل دشکل دفعل دی ماضی مجهول يامضارع مجهول ته که چرې عامل فعل وی یاتغیرد مشتق معلوم دی مشتق مجهول ته که عامل شبه فعل وواوذکردفعل اصالة دی، ځکه دانسبت د فعل الی المفعول غریب دی غرابت بمعنی قلت یعني بعيدمن العقل دی، ځکه دعقل تقاضه دا ده چې نسبت دفعل فاعل ته کوه نه مفعول ته بود دې لپاره لاندي ده دوزن غريب نه لپاره د دې چې داغرابت دلفظ دلالت وکړي په غرابت دمعنی باندې اووزن غريبه نه دی مګر فعل اويفعل دی ځکه اولاوضع د واضع نه په دې وزن باندې اسم نه دی موجودشوی ماسوی دئل وعلُ وجندب برقع نه او دغه شاذ دی.

تشریح سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی اوغرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې ئې تعريف دنائب فاعل بيان کړواوس شرط د وجود د نائب فاعل بيانوی او د دې نه مقصد دمصنف هم معلوم شو چې بيان دشرط دوجود دنائب فاعل دی

سوال: شرطه کې داضمير دغائب دی د تقدم دمرجع غواړي اومتبادر دا ده چې دا به راجع وی اقامت د مفعول ته مقام الفاعل چې دا ذکردی معنی په ضمن داقيم کې نوارجاع دضمير هغه ته نه، صحيح ځکه چې اقامت مؤنث دی اوداضمير دمذکردی نومطابقت رانغلو.

جواب: دا ضمير اقامة ته نه دی راجع بلکه دا راجع دی حذف دفاعل ته

سوال: دوجود دنائب فاعل لپاره دا تغير فُعِلَ يايُفعَلُ ته ولې شرط شو؟

جواب: ځکه چې نسبت دفعل مفعول ته غريب دی نود دې لپاره وزن غريبه پکاردی لپاره د دې چې دلالت وکړي غرابت دلفظ په غرابت دمعنی باندې اووزن غريب نه دی مګر فعل اويفعل

سوال: فعل اويفعل وزن ولې غريب دی؟ **جواب:** د وزن غريب ځکه دی چې په دې وزن باندې اولا وضع د واضع نه اسم نه دی موجود شوی په کلام دعربو کې علاوه دوعل اودئل نه چې دا راغلی دی په وزن د فُعِلَ اوجندب اوبرقع راغلی دی په وزن ديفعل ليکن دا شاذ دی

سوال: ته وايې چې شرط لپاره دوجود دنائب فاعل تغيردفعل دی فُعِلَ يايُفعَلُ ته. دا قاعده ستا منقوضه شوه په اُستُخرِجَ زيدٌ، اُواُکرِمَ زيدٌ باندې ځکه دلته دا زيد نائب فاعل دی حالانکه فعل خو په وزن د فعل نه دی بلکه استفعل اوافعل په وزن باندې دی

جواب: دا عبارت د مصنف په حذف دمعطوف سره دی نوتقدیرد عبارت دا شو چې تغيرالی فعل اويفعل اوغيرهما نو اکرم زيد او استخرج زيد په غيرهما کې داخل دی نو نهذا وجود دمشروط بدون الشرط رانغلو (۲)، دا دی چې دا اعتراض په تامله کولو چې دا عبارت دمصنف بنوی په حقيقت باندې ليکن دی کې مجازدی ذکر دخاص دی چې فُعِلَ اويُفعَلُ دی اومرادترينه عام دی ماضی مجهول او مضارع مجهول دی

مضارع مجهول دی

سوال: ته وايي چې شرط لپاره دوجوددنائب فاعل تغیردفعل دی ماضی مجهول یامضارع مجهول ته نو دا قاعده ستامنقوضه شوه په زید مضروب غلامه سره دلته غلام نائب فاعل دی اوشرط نشته

جواب: داشرط مذکورشرط دوجوددنائب فاعل هله دی چې عامل په نائب فاعل کې فعل وی او که عامل پکې شبه فعل وو نو بیا شرط د وجود د نائب فاعل لپاره تغیر دمشتقی معلوم دی مشتقی مجهول ته

سوال: هرکله چې دوجوددنائب فاعل لپاره شرطونه دوه وو (۱) تغیردفعل معلوم مجهول ته. (۲) تغیر دمشتقی معلوم مشتقی مجهول ته نو دادویم شرط یې ولې ترک کړی دی؟

جواب: دایې ترک کړی دی د وجې دقلت اوندرت داستعمال نه ځکه داتغیر دماضی معلوم نه ماضی مجهول ته اودمضارع معلوم نه مضارع مجهول ته کثیر دی اودمشتقی معلوم نه مشتقی مجهول ته قلیل دی

ولايقع المفعول الثاني من باب علمت الخ: ربط: هرکله چې فارغ شو مصنف دبیان دشرط دوجودنائب فاعل نه نو شروع یې وکړه په بیان د هغه مفاعیل کې چې اقامت دهغومقام الفاعل نه دی جائز

(۲) داجمله مستانفه جواب دسوال دی هرکله چې مصنف دمفعول مالم یسم فاعله تعریف اوشرط بیان کړو نو معترض اعتراض وکړو چې مفاعیل خو کړې دی نو داټول قائم کیږي په مقام دفاعل کې که بعض که بعض قائم کیږي نو بیا کوم بعض قائم کیږي نو مصنف جواب وکړو چې **ولايقع** الخ نه واقع کیږي هغه مفعول چې واقع دی په مرتبه ثانی کې دباب دعلمت نه مراد د باب دعلمت نه هر هغه فعل دی چې متعدی وی مفعولینو ته اومفعول ثانی یې بعینه مفعول اول وی، **والثالث** اونه واقع کیږي هغه مفعول چې واقع دی په مرتبه ثالثه کې دباب داعلمت نه اومراد دباب داعلمت نه هرهغه فعل دی چې متعدی وی مفعولینو ته په مجردکی اوچی باب افعال ته وخیژی نو متعدی کیږي مفاعیل ثلاثه ؤ ته (۲) یا مراد ذ دې نه هرهغه فعل دی چې متعدی وی مفاعیل ثلاثه ؤ ته اومفعول ثالث یې بعینه مفعول ثانی وی ځکه مفعول ثانی دباب دعلمت مسندوی مفعول اول ته اومفعول ثالث دباب داعلمت مسند وی مفعول ثانی ته نو اوس که دانائب فاعل واقع شي نو لازمیږي کون د شي واحد مسند او مسند الیه په اسنادینو تامینو سره او دا ندی جائز ځکه د دې نظیر نشته په کلام دعرب کې

سوال: الثاني اسم فاعل دی جوړشوي دي داثنین نه اواسم فاعل چې جوړشی د اسم عدد نه هغه دوه قسمه دی (۱) اسم فاعل بیان الحال (۲) اسم فاعل بیان التصییر دا کوم یودی؟

جواب: د اسم فاعل بیان الحال دی ځکه دلالت کوی په یوباندې داسې یوچې واقع دی په مرتبه معینه کې نومعنی داشود چې داسې مفعول چې واقع دی په دویمه مرتبه کې اودی سره یې احتراز وکړو د مفعول اول نه ځکه هغه قائم کیږي په مقام دفاعل باندې د وجې دعدم دوجود داقامت نه. اوپه باب د علمت سره یې احتراز وکړودهرهغه فعل نه چې متعدی وی مفعولینو ته اومفعول ثانی یې غیر وی د مفعول اول نه چې هغه ته عند النحاة باب داعطیت وایي ځکه حکم دباب داعطیت وروسته راروان دی

سوال: دا مفعول ثانی دباب دعلمت اومفعول ثالث دباب داعلمت ولې نه قائم کیږي په مقام دفاعل باندې؟ **جواب:** ځکه چې دامفعول ثانی دباب دعلمت مسند دي مفعول اول ته اومفعول ثالث دباب دا

علمت مسند دی مفعول ثانی ته اوس که دانائب فاعل واقع شی نونائب فاعل خومسند الیه وی نو لازمیږي کون د شيء واحد هم مسند او هم مسندالیه اودانده جائز.

سوال: نه وایي چې کون د شي واحد هم مسند اوهم مسندالیه نه دی جائز نو دا قاعده ستامنقوضه شوه په اعجبني ضرب زید سره دلته ضرب مسندالیه دی دماقبل لپاره اومسند دې دمابعد لپاره

جواب: زه وایم چې یوشی مسنداومسندالیه نه شی کیدی په اسنادینو تامینو سره اودلته اسناددي ضرب ماقبل ته تام دی لیکن مابعد ته ناقص دی. (۲) دویم دلیل د دې لپاره دا دی چې دامفعول ثانی دباب د علمت او ثالث د باب د اعلمت نه قائم کیږي په مقام دفاعل باندې ځکه دامسند دې اونائب فاعل مسندالیه دی اومعتبرپه مسندالیه کې ذات دی اومعتبر په مسند کی وصف دی نوکه دانائب فاعل واقع شی نو لازمیږي کون د شي واحدهم ذات اوهم صفت اواندی جائز. البته بعض شرزمة قلیلة د نحاتو ذهاب کړی دی جوازداقامت دمفعول ثانی دباب دعلمت اومفعول ثالث دباب داعلمت مقام الفاعل ته ځکه هغوی وایي چې کون د شي واحد مسنداومسندالیه په جهت واحده سره ممتنع دی اودلته په جهتینو مختلفتینو سره دی مسنددي یوشی ته اومسندالیه دی دبل لپاره اوداصحیح دی، اود دې نظیر لکه یوشی په ترکیب کې هم مضاف واقع کیږي اوهم مضاف الیه واقع کیږي په جهتینو مختلفتینو سره نحو قوله تعالی ﴿ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ ﴾ دلته رحمت مضاف الیه دی دذکر لپاره او مضاف دی مابعد ته، او لکه ځنګه چې مفعول ثانی ذباب دعلمت اوثالث داعلمت نه قائم کیږي په مقام د فاعل باندې نو دارنګې مفعول ثانی دباب داعلمت هم نه قائم کیږي په مقام دفاعل باندې اګر چې مصنف نه دی ذکر کړی.

سوال: مفعول ثانی دباب داعلمت ولې نه قائم کیږي په مقام دفاعل کې. **جواب:** د دې لپاره چې لازم نه شي التباس د مفعول اول دباب داعلمت سره لکه اعلم زید عمرا بکرا فاضلا اوس دا چې مجهول شي نوأعلم عمروبکراً فاضلاً به وایي اواقامت دبکر مقام الفاعل جائز نه دی.

والمفعول له والمفعول معه كذالك: ترکیب: المفعول له معطوف علیه واو حرف عاطف، المفعول معه معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه مبتدأ كذلك جار مجرورپه اعتبار د متعلق سره خبر د مبتدأ مبتدأ سره د خبر نه جمله خبریه اسمیه.

ترجمه: مفعول له بلا لام یعنې مفعول له منصوب اومفعول معه پشان دمفعول ثانی دباب دعلمت او مفعول ثالث دباب داعلمت دی په عدم جوازداقامت د دې کې په مقام دفاعل باندې لکه ځنګه چې اقامت دمفعول ثانی دباب دعلمت اومفعول ثالث دباب داعلمت په مقام دفاعل باندې ممتنع دی نو دارنګې اقامت دمفعول له اودمفعول معه هم ممتنع دی په مقام دفاعل باندې

تشریح: كذلك کې دا اول کاف حرف تشبیه دی اودا اخیرنی کاف حرف خطاب دی دلالت کوی په احوال د مخاطب باندې، او ذا اسم اشاره ده او لام پکې لام البعد دې اوکاف تشبیه اشیاء ثلاثه غواړي: (۱) مشبه (۲) مشبه به (۳) وجه دشبه مشبه به دلته مدخول دکاف دی چې ذلك دی یعنې مشارالیه د ذلك

چې مفعول ثاني دباب دعلمت اومفعول ثالث دباب داعلمت دی اومشبه مفعول له اومفعول معه دی او وجه د شبه حذف شوې ده. چې عدم جواز داقامت د دې دی په مقام دفاعل باندې اوکله چې په جانب د مشبه کې هم دوه څیزونه ذکر شی اوپه جانب دمشبه به کې هم دوه څیزونه ذکر شی نودیته دعلم بیان په اصطلاح کې تشبیه ملفوفه وایي، نوشوه داتشبیه پشان د دې قول دشاعر

كان قلوب الطير رطبا ويابسا لدى وكرها العناب والحشف البالى

سوال: دا تشبیه نده صحیح څکه تشبیه خوپه اصطلاح دعلماؤدعلم بیان کې الحاق دادنی ته وایي د اعلی سره یعني داوجه دشبه به موجودوی په مشبه به کې په طریقه دکمال سره په نسبت سره مشبه ته او دلته خو دا عدم جواز د اقامت د دې په مقام دفاعل کې موجود دې په مفعول له اومفعول معه کې په طریقه د کمال سره او په مفعول ثاني دباب دعلمت اوثالث داعلمت کې موجودندی په طریقه دکمال سره څکه چې مفعول له اومفعول معه بالاتفاق نه قائم کیږي په مقام دفاعل باندې اوپه مفعول ثاني د باب د علمت او ثالث د باب د اعلمت کې اختلاف دی په نز د جمهورونه قائم کیږي په مقام دفاعل باندې اوپه نیز د بعضو باندې اقامت د دې په مقام دفاعل باندې صحیح دی.

جواب: مقصود د متکلم په دې مقام کې تشبیه نده بلکه تشابه ده چې هغه عبارت دی دنفس اشتراک د شیئین نه په یو وصف کې نو شو دا ترکیب د مصنف پشان د «**اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على ابراهيم**» (۲) او که اومنم چې غرض دمصنف دلته تشبیه ده نو داتشبیه مقلوبه ده یعني د مشبه نه یې مشبه به جوړه کړیده او د مشبه به نه یې مشبه جوړه کړې ده.

سوال: قلب په تشبیه کې کولی شی د وجې دیونکتې نه نو دلته نکته څه ده؟

جواب: نکته په دې کې دا ده چې په دې قلب دتشبیه کې مبالغه ده په امتناع داقامت دمفعول ثاني د باب د علمت اومفعول ثالث دباب داعلمت کې په مقام دفاعل باندې

سوال: ذلك اسم اشاره ده دا تقاضه دمشار الیه کوی نود دې لپاره مشار الیه کوم دی؟

جواب: مشار الیه د دې مفعول ثاني دباب دعلمت اومفعول ثالث دباب داعلمت دی

سوال: ذلك اشم اشاره راځي دمفرد لپاره اودا خودوه دی نومطابقت رانغلوپه مابین د اسم اشاره او مشار الیه کې؟ **جواب:** په دې ذلك سره اشاره شوې ده دغه دواړو ته په تاویل دکل واحد سره.

سوال: ته وایي چې مفعول له نه قائم کیږي په مقام دفاعل باندې دا قاعده ستامنقوضه شوه په ضُرب للتادیب سره؟ **جواب:** دلته مراد د مفعول له نه مطلق مفعول له نده بلکه مراد مفعول له بلالام دی یعني مفعول له منصوب اوللتادیب خو مفعول له باللام دی د دې اقامت صحیح دی په مقام دفاعل باندې.

سوال: دا مفعول له بلالام ولې نه قائم کیږي په مقام دفاعل باندې؟ **جواب:** په دې مفعول له بلالام کې دال په علتیت باندې نصب دمفعول له دی لکه قعدت عن الحرب جبنا. او که قائم شی په مقام دفاعل باندې نومرفوع به شی نوکوم شی چې دال وویه علتیت باندې هغه حذف کیږي

سوال: بیاخویکارده چي اقامت دمفعول فیه دی هم ممتنع شي په مقام دفاعل باندي ځکه په دی کي هم دال په ظرفیت باندي نصب دی اوچې نائب فاعل شي نومرفوع کرځي؟ **جواب:** په مفعول فیه کي دال ظرفیت باندي نصب نه دی بلکه دال په ظرفیت باندي خوداصیغه ذمفعول فیه ده

سوال: اقامت دمفعول به دی په مقام دفاعل باندي صحیح نه شي ځکه چي دال په وقوع دفعل په مفعول به باندي نصب دی نومفعول به چي قائم شي په مقام دفاعل باندي نو دال حذف کیږي

جواب: اقامت دمفعول به په مقام دفاعل کي صحیح دی ځکه دا چي نائب فاعل واقع شي نو خود دا صیغه د مجهول دلالت کوی په وقوع دفعل په مفعول به باندي

سوال: مفعول معه ولي نه قائم کیږي په مقام دفاعل باندي؟ **جواب:** ځکه مفعول معه هغه اسم ته وایي چي مذکوربعدالواووی، نواوس دا چي ته قائم کوی په مقام د فاعل باندي نویا به یي سره دواونه قائم کوی او یا به یي بغیر دواونه قائم کوی که بغیر دواونه یي قائم کوی نومفعول معه مفعول معه پاتي نه شو، او که سره دواونه یي قائم کوی نوفصل راځي په مینځ د فعل او د نائب فاعل کي په واوسره او دا نه دی جائز

المفاعیل التی لاتقوم مقام الفاعل عشرة: (۱) مفعول ثانی دباب دعلمت. (۲) مفعول ثالث دباب داعلمت (۳) مفعول ثانی دباب داعلمت. (۴) مفعول له منصوب. (۵) مفعول معه (۶) مفعول مطلق تاکیدی فلایقال ضُرِبَ ضربٌ وُقِفَ وَقفٌ (۷) مفعول مطلق غیرمتصرف فلایقال یعاذُ معاذُالله. (۸) ظرف غیر متصرف چي هغه قط، عوض، لدن، لدی، اذ، اذادی (۹) ظرف مبهم فلایقال وُقِفَ زمانٌ (۱۰) مذ ومنذ، تلك عشرة کاملة

واذا وجد المفعول به تعین له: ربط: هرکله چي فارغ شو مصنف دبیان د هغه مفاعیل نه چي اقامت دهغي ممتنع وو په مقام دفاعل باندي د وجي دمانع ذاتی نه نوشروع یي وکړه په بیان د هغه مفاعیل کي چي اقامت د دي ممتنع دی په مقام دفاعل باندي د وجي دامر عارض نه چي وجود دمفعول به دی نووی ویل واذاوجدالخ

ترجمه: کله چي موجود شي مفعول به په کلام کي سره د هغه مفاعیل نه چي صحیح دی اقامت دهغي په مقام دفاعل کي چي هغه مفعول مطلق تاکیدی، ظرف زمان، ظرف مکان، مفعول به، غیر صریحی دی **تعین** متعین دی دامفعول به **له** د دي اقامت لپاره په مقام دفاعل کي په نزد جمهورو باندي د وجي د شدت مشابهت اومناسبت دمفعول به نه دفاعل سره په دي شان سره چي لکه څنګه چي فاعل محتاج الیه د فعل دی په وجود ذهنی اوخارجی کي نو دارنګي مفعول به هم محتاج الیه د فعل دی په وجود ذهنی او خارجي کي په خلاف د باقي مفاعیل نه چي دا محتاج الیه دفعل دی په وجود خارجي کي نه په وجود ذهني کي، او په نیز د بعض باندي چي کله دامفعول به موجود شي د هغه مفاعیل سره چي اقامت دهغي جائز دی په مقام دفاعل کي نواقامت دمفعول به واجب نه دی بلکه اولی دی اواقامت د نورو جائز دی

تشریح: ربط دماقبل سره مخکي ذکر شو اوغرض دمصنف هم معلوم شوچي بیان د هغه مفاعیل دی چي اقامت دهغي ممتنع دی په مقام دفاعل د وجي دامرعارض نه.

سوال: ته وایې چې کله چې مفعول به موجود شي نو دامتعین دی لپاره داقامت په مقام دفاعل باندي نو په ضرب زید عمراکی چې زیدلری کړی اوضَرَبَ نه ضُرِبَ جوړکړی نو دلته خواقامت دمفعول به هسې هم متعین دی، ځکه چې بل مفعول نشته نو داتعین له مصنف دڅه لپاره ذکرکړو؟

جواب: د دې مطلب دا دی چې مفعول به موجود شي سره دنورومفاعیلونه نواقامت دمفعول به متعین دی

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په علمت زیدا فاضلا سره دلته زیدامفعول به دی اوداسره دبل مفعول نه راغلی دی چې فاضلا دی نواقامت د دې خومتعین دی په مقام دفاعل لکه دامعلوم شو د مخکې نه نو بیا داتعیین له دڅه لپاره وایې، دارنګې ضربت زیداتادیبا کې هم اقامت دزید متعین دی لکه چې دامعلومه شوه دماسبق نه نوتعیین له ویل لغوه دی.

جواب: د دې مطلب دا دی چې دامفعول به موجود شی سره د هغه مفاعیلو نه چې صحیح دی اقامت د هغې په مقام دفاعل باندې اودلته فاضلا مفعول ثانی دباب دعلمت دی اوتادیبا مفعول له دی اود دې اقامت په مقام دفاعل باندې نه دی جائز.

سوال: هرکله چې موجود شي مفعول به سره د هغه مفاعیل نه چې اقامت دهغوجائزدی په مقام دفاعل باندې نو دا اقامت دمفعول به ولې متعین دی؟

جواب: د وجې دشدت مناسبت دمفعول به نه دفاعل سره لکه څنګه چې فاعل محتاج الیه دفعل دی الخ. **پس زده کړه داخبره** چې مفعول به چې راشی سره د هغه مفاعیلو نه چې اقامت دهغې صحیح دی په مقام دفاعل باندې نوپه دی کې اختلاف دی په نزدجمهورو باندې اقامت دمفعول به واجب دی په مقام دفاعل باندې د وجې ددلیل مذکورنه اوپه نزدبعضو باندې اقامت دمفعول به اولی دی په مقام د فاعل باندې اواقامت دنورومفاعیلو هم جائز دی اودلیل دهغوا ایت دی (ولیجزي قوما بماکانوا یکسبون) علی قراءة، دلته مشهورقراءت خوداسې دی چې ولیجزقومٌ. بیا مثال نه جوړیږی ځکه چې مفعول به قائم شوي دي په مقام دفاعل باندې لیکن یوقراءت یکې راغلی دی په نصب دقوما سره نو بیا دا جار مجرور قائم شوي دي په مقام دفاعل باندې، او بل دلیل د هغو دا ایت دی (لولا نزل علیه القرانَ) بالنصب علی قراء ت اومشهورقراءت القرانُ په رفع سره دی، اودوی جمهورو ته وایې چې دا تاسو چې کوم دلیل ذکر کړو نو دادلیل ذکر داولیت دی اودلیل دوجوب ندی. اومختاریه نزدمصنف باندې مذهب دجمهورو وو نوځکه یې وویل چې تعین له، مثال لپاره داقامت دمفعول به مقام الفاعل سره د وجود د هغه مفاعیل نه چې صحیح وی اقامت دهغې په مقام دفاعل باندې، **نحوضرب زید یوم الجمعة امام الامیرضرباشدیدا فی داره** ضرب ماضی مجهول دی فاعل یې ترک کړی شوي دي زیدیی نائب فاعل دی یوم الجمعة مفعول فیه ظرف زمان، امام الامیرمفعول فیه ظرف مکان ضرباشدیدامو صوف صفت مفعول مطلق نوعی دی اوفی داره مفعول به غیرصریحی دی، اوس د دې نه داخبر معلومه شوه چې مفعول به چې کله قائمة شی په مقام دفاعل کې نو دا به مرفوع وی اوداباقی مفاعیل چې ورسره ذکر وي دا به منصوب وی

سوال: یوم الجمعة ظرف زمان محدود معرفه یې ولې ذکر کړه یومایی ولې ذکر نه کړو او امام الامیر ظرف مکان یې ولې معرفه ذکر کړه نفس امامایی ولې ذکر نه کړو، او ضربا شدیدا موصوف صفت یې ذکر کړو نو صرف ضربا یې ولې ذکر نه کړواوفی داره چې اویې نوفی دار یې ولې ذکر نه کړو؟

جواب: یوم الجمعة یې ځکه وویل چې اقامت دمفعول فیه په مقام دفاعل کې مشروط دی په شرطین سره (۱) یوشرط دا دی چې دا به متصرف وی او بل دا دی چې محدودبه وی اوظرف غیرمتصرف او ظرف مبهم نه قائم کیږي په مقام دفاعل باندې ځکه فاعل چې ترک کړی شی نو هغه شی قائم کولی شی په مقام د دې باندې چې مفید دفائده وی اوظرف مبهم اوغیرمتصرف مفیددفائده نوی اوضربا شدیداً یې وویل ځکه اقامت دمفعول مطلق هم مقام الفاعل مشروط دی په شرطین سره:

(۱) یو دا دی چې مفعول مطلق تاکیدی به نوی. (۲) غیرمتصرف به نوی فلایقال وُقفَ وقفٌ ویُعاذمعاذاوفی داره یې اوی نه فی دار ځکه چې اقامت دمفعول به غیرصریحی کې په مقام دفاعل باندې مشروط په شروط ثلاثه ؤ سره (۱) مجروربه معرفه وی. (۲) دجارلپاره به ثابته نوی طریقه واحده (۳) داحرف جر به دال نوی په تعلیل باندې، نومذاومنذنه شی قائم کولی په مقام دفاعل باندې ځکه چې د دې لپاره یوه طریقه ثابته ده چې جرورکوی زمان اومکان لره فقط **فتعین زید**، دافاء په دی مقام کې تعلیلی ده نومعنی یې داشوه چې ځکه متعین دی زیدلپاره داقامت په مقام دفاعل باندې.

فان لم یکن فالجمیع سواء: که چری نه ووَمفعول به سره د هغه مفاعیلو نه چې صحیح دی اقامت دهغې په مقام دفاعل باندې نو بیا اقامت دټولو په مقام دفاعل باندې علی سبیل البدلیت یوشان دی عند الجمهور لپاره د دې چې لازم نه شی ترجیح بلامرجح د وجې دعدم وجوددمرجح داحدهما نه په اخر باندې، اوبعض نحاتو ترجیح ورکړیده جارمجرورلره په باقی مفاعیل باندې ځکه دامفعول به غیر صریحی ده نود دې اقامت اولی دی، اوبعض نحاتو ترجیح ورکړیده ظرف زمان اومکان لره ځکه دا مفعول بلاواسطه دی، اوترجیح ورکړیده ابن عصفورمفعول مطلق نوعی لره په باقی مفاعیل بادی ځکه دلالت دفعل په مصدرباندې اکثردی د دلالت د فعل نه په دې نوروباندې، اوترجیح ورکړیده ابو حیان نحوی ظرف مکان لره په نورو باندې ځکه داقریب دی مفعول به ته ځکه فعل دلالت کوی په مکان باندې بالالتزام.

والاول من باب اعطیت اولی من الثانی: دا الاول صفت دی تقاضه دموصوف کوی نوموصوف د دې مقدردی چې المفعول دی اومن باب اعطیت کې مضاف مقدردی ای من مفعولی باب اعطیت، نومعنی داشوه چې مفعول اول دمفعولین دباب داعطیت نه اولی دی اقامت د دې په مقام دفاعل کې دمفعول ثانی د باب د اعطیت نه. او مراد باب د اعطیت هر هغه فعل دی چې هغه متعدی وی مفعولین ته اومفعول ثانی یې غیروی د اول نه یعنې مبتدأ اوخبرنوی اودا اقامت دمفعول او ل مقام الفاعل ځکه اولی دی چې دا مفعول اول مفعول به دی لفظا اوفاعل دی معنی، اودامفعول ثانی مفعول به دی لفظا اومعنی او اقامت د هغه مفعول چې هغه مفعول دی لفظا اوفاعل دی معنی اولی دی د هغه نه چې هغه مفعول

دی لفظا او معنی ځکه شی قائم کولی شی په مقام دغیر کی دمناسبت د وجې نه او مناسبت دمفعول اول د باب داعطیت دفاعل سره زیات دی دمناسبت دمفعول ثانی دباب داعطیت نه دفاعل سره

تشریح: سوال: فرض منصبی دمصنف داختصار بماهو اختصاردی نود دې اختصار تقاضه داوه چې والاول من اعطیت یې ویلی وی بې دزیادت دباب نه نو داباب لفظ یې ولې زیات کړو؟

جواب: په دې زیادت دباب سره مصنف اشاره وکړه تعمیم ته نومراد پدی سره هرهغه فعل دی چې متعدی وی مفعولین ته اومفعول ثانی یې غیر وی داول نه یعني مبتدأ اوخبرنوی نواقامت ددغه مفعول اول مقام الفاعل اولی دی دثانی نه بیا برابره خبره ده که اعطیت وی که کسوت وی لبست وی او که بل وی او که باب یې ورسره نه وی ذکر کړی نومتوهم به توهم دتخصیص دحکم کولو په اعطیت پورې، او پدی باب داعطیت سره احترازو کړو دباب دعلمت نه ځکه د هغه حکم مخکې معلوم شوي دي چې اقامت دمفعول اول متعین دی په مقام دفاعل کې او اقامت دثانی ممتنع دی او دارنګې په دې سره یې احتراز وکړو دباب داعلمت د هغه حکم هم مخکې تیر شوي دي چې اقامت دمفعول اول متعین دی او اقامت د مفعول ثانی او ثالث ممتنع دی، **پس زده کړه داخبره** چې مفعول اول دباب داعطیت په اعتبار د تقدیم سره په مفعول ثانی باندې درې قسمه دی: (۱) واجب التقدیم (۲) ممتنع التقدیم

(۳) اولی بالتقدیم. واجب التقدیم دی په مواضع ثلاثه ؤ کې: (۱) په وخت دخوف دالتباس کې چې کله دا دواړه صالح داخذیت وی نحو اعطیت زیدا عمرا (۲) چې حصر دمفعول اول راغلی وی په مفعول ثانی پورې نحو ما اعطیت زیدا الادرهما پاره د دې چې لازم نه شی انقلاب دحصر مطلوب دمتکلم په مخاطب باندې (۳) چې مفعول اول ضمیر متصل وی نحو اعطیتك درهما لپاره د دې چې لازم نه شی انفصال دمتصل، اوممتنع التقدیم هم په مواضع ثلاثه ؤ کې دی: (۱) چې حصر دمفعول ثانی راغلی وی په مفعول اول پورې نحوما اعطیت درهما الازیدا لپاره د دې چې لازم نه شی انقلاب د حصر مطلوب (۲) چې مفعول ثانی ضمیر متصل وی نحو الدرهم اعطیته زیدا لپاره د دې چې لازم نه شی انفصال د متصل (۳) چې ضمیر متصل شوی وی په مفعول اول پورې او راجع وی مفعول ثانی ته نحو اعطیت المال مالکه، او د دې مواضع ستونه علاوه په نوروځایونو کی اولی بالتقدیم دی لهذا اعطیت زیدا درهما ویل اولی دی او اعطیت درهما زیدا ویل جائز خلاف اولی دی

سوال: اقامت دمفعول اول په مقام دفاعل کې ولې اولی دی دثانی نه؟

جواب: ځکه چې شئ قائم کولی شی په مقام دغیر کی د وجې دمناسبت نه اومناسبت دمفعول اول د فاعل سره زیات دی دثانی نه ځکه دامفعول اول مفعول دی لفظا لیکن په معنی کې فاعل دی او دا ثانی مفعول دی لفظا او معنا د دې نظیر لکه مفعول به چې موجود شي سره د هغه مفاعیل نه چې اقامت د هغې جائزدی په مقام دفاعل کې نوهلته اقامت دمفعول به مقام الفاعل واجب عند البعض دی یا اولی عند البعض ځکه چې مناسبت یې زیات دی دفاعل سره کما مر، لهذا أعطی زیدٌ درهما اولی دی او أُعطی درهمٌ زیدا جائز خلاف اولی دی.

سوال: اعطيت زيدا عمرا کې خواقامت داول واجب دی دارنګې په ما اعطيت زيدا الادرهما کې هم اقامت د اول واجب دی، او ما اعطيت درهما الازيدا کې خو اقامت د ثانی واجب دی او اقامت د اول ممتنع دی، نوته څنګه وايې چې اقامت داول اولی دی؟

جواب: مونږه وايوچې اقامت داول اولی دی ليکن په وخت دعدم وجوددمانع کې اوپه وخت دعدم وجود د مقتضی دتقديم وجوبی کې اودلته په دې دوه صورتونوکې مقتضی دتقديم وجوبی موجوددی، نو تقديم يې واجب دی اوپدی يو صورت کې مانع موجود دې دتقديم نه نوتقديم يې مانع دی.

ومنها المبتدأ والخبر: هرکله چې فارغ شو مصنف دبيان دنوع ثانی دمرفوعات نه چې نائب فاعل وو نو شروع يې وکړه په نوع ثالثه اورابعه دمرفوعات کې چې مبتدأ اوخبر دی، اوهرکله چې په اصالت د مرفوعاتو کې خلاف وو په مينځ دجمهورو اوبعضو کې په دې شان سره چې په نزدجمهوروباندې فاعل اصل د مرفوعاتو دی اوپه نزدبعضو باندې مبتدأ اصل دمرفوعاتو ده اومختارپه نزدمصنف باندې مذهب د جمهورو وو نو فاعل يې مقدم کړو او مصدر يې کړو په منه سره او دا مذهب د بعضو اګر چې مختار نه دی په نيز د مصنف باندې نو د دې وجې نه يې وروسته کړو ليکن لحاظ يې وکړو د مذهب د بعض نو مصدر يې کړو په کلمه دمنه سره، اوهرکله چې مبتدأ اوخبر په مينځ کې تلازم وو په دې شان سره چې احدهما بې داخرنه نه راځي په استعمال د کلام د عربو کې په اعتبار د اصل د مبتدأ سره چې مبتدأ قسم اول دی (٢) اومشترك وو دامبتدأ او خبر په عامل معنوی کې پس جمع کړه مصنف مبتدأ اوخبرلره د يو منها لاندې او هر کله چې مبتدأ اصل وه دخبر نه څکه چې دارکن اعظم د کلام دی څکه خبر ثابتيږی مبتدألره اونفی کيږي دمبتدأنه نومقدم يې کړه په خبر باندې هم په اجمال کې اوهم په تفصيل کې اونسخی دکافيه دري قسمه دی په دې مقام کې: (١) مشهوره نسخه دا ده چې ومنها المبتدأ والخبر په دې نسخه کې اتيان کړی دی مصنف په ها ضمير دمؤنث باندې په دی کې اشاره ده دينه چې داراجع دی مرفوعات ته لپاره د دې چې په تشويش کې ونه غورځيږی متعلم په لټولودمرجع د دې ضمير کې د وجې د طول د مسافت نه په مينځ د راجع او د مرجع کې (٢) اوپه بعض نسخو کې ومنه المبتدأ والخبر دی د وجې دقياس کولو دمصنف نه مبتدأ اوخبر لره په فاعل باندې (٣) او بعض نسخو کې المبتدأ والخبر راغلی دی بغير دمنها اودمنه نه څکه د دې مصنف داب اوطريقه دا ده چې د اصل د اشياؤ سره منه ذکر کوی او د باقی سره يې ترك کوی مقايسة لکه مفاعيل پنځه دی اواصل يکې مفعول مطلق دی نو هغه يې مصدر کړی دی په منه سره او د باقی سره يې ترك کړی دی مقايسة نو دلته هم مصنف اقسام د مرفوعات ذکر کوی او ديکې اصل فاعل دی د هغه سره يې منه ذکر کړی دی، او د باقی سره يې ترك کړی دی.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی اوغرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې مصنف دويمه نوع دمرفوعاتو بيان کړه اوس بيان دنوع ثالث اورابع کوی، اوغرض دمصنف هم معلوم شوچی بيان دنوع ثالث اورابع دی.

سوال: مبتدأ خان له مستقله نوع ده او خبر خان له نوع ده نو دادواړه يې ديو منها لاندې ولې ذكر كړل جدا جدا يې ولې نه ذكر كول لكه باقي مرفوعات چې يې جداجدا ذكر كړي دي؟
جواب: هر كله چې مبتدأ او خبر مثلا زمين وو په دې شان سره چې احدهما بدون الاخرنه راځي. او بل دا شريك دي په عامل معنوى كې نو ځكه يې دواړه ديو منها لاندې ذكر كړل
سوال: دا تلازم في الوجود په مابين دمبتدأ او خبر كې نه منم ځكه چې اقائم زيد كى مبتدأشته اوخبر نشته ځكه دازيددلته فاعل سدمسد خبردى
جواب: زه وايم چې په مينځ دمبتدأ اوخبر كې تلازم في الوجود دې په اعتبارداصل دمبتدأسره چې هغه مبتدأ قسم اول دى اواقائم زيد كې مبتدأ قسم ثانى راغلى ده بغير دخبرنه نه مبتدأقسم اول
سوال: دا تلازم په مينځ دمبتدأ اوخبر كې په اعتبارداصل دمبتدأ سره هم نه منم دا قاعده ستا منقوضه شوه په خرجت فاذا زيد باندې دلته مبتدأشته اوخبرنشته دارنګې لولا علي لهلك عمر، دلته مبتدأ شته چې علي دى اوخبر نشته او دارنګې دا قاعده ستا منقوضه شوه په الهلال والله سره دلته خبر شته او مبتدأ نشته؟ **جواب:** داتلازم في الوجودپه مينځ دمبتدأ اوخبر كې عام دى كه لفظا وى او كه تقديرا وى نو خرجت فاذازيد اولولا على لهلك عمر كې خبر حذف دى چې واقف اوموجود دې اوالهلال خبر دى او مبتدأ يې حذف شوي دي چې هذا دى. (۲) يا تلازم په مينځ دمبتدأ اوخبر كې مطلقا وايم اوقسم ثانى د مبتدأ هم بغير دخبر نه ندى راغلى، ځكه د مبتدأ لپاره لابدى ده دخبر نه ياد قائم مقام د خبر نه نو دلته اګر چې عين خبر نشته ليكن قائم مقام دخبر شته
سوال: د مصنف داب او طريقه دا ده چې كله اقسام ديوشي بيانوى نوپه هغه اقسامو كې چې كوم قسم اصل وى هغه مقدم كوى اومصدر كوى يې په منه يامنها سره اوباقي اقسام بيانوى په ترك دمنه اومنها سره مقايسة نو دلته يې فاعل مصدركړو په منه سره نو دامبتدأ اوخبريې ولې مصدر كړه په منه سره يا په منها سره؟ **جواب:** مخكې شوي دي چې هركله چې په اصل دمرفوعات كې خلاف وو الخ (۲) دويم جواب دا دى چې النكتة للفارلاللقار
سوال: ومنها المبتدأوالخبرخه تركيب دى؟
جواب: دى كې تراكيب خمسه دى لكه چې تيرشوي دي په فمنه الفاعل كې
سوال: مبتدأ اوخبر دواړه سواسى دى په قسميت كې نومبتدأ يې ولې مقدم كړه په خبرباندې په اجمال او تفصيل كې؟ **جواب:** دا ځى هركله چې مبتدأ اصل وه اوركن اعظم وو په كلام كې ځكه چې خبر ثابتيږى د دې مبتدأ لپاره او نفي كيږي د مبتدأ نه نو ځكه يې دا مقدم كړه په خبر باندې
فالمبتدأ هو الاسم المجرد عن العوامل اللفظية مسندا اليه: هركله چې فارغ شومصنف دبيان دمبتدأ اودخبر نه اجمالاً نو شروع يې وكړه په تفصيل دمبتدأ اوخبركى نو دافاء په دې مقام كې تفصيليه ده، مبتدأپه لغت كې اول الشئ ته وايي اوپه اصطلاح د نحاتو كې **هو** دامبتدأ (۱) **الاسم** خاص اسم دى نه بل شى اسم عام دى كه حقيقتا وى او كه تاويلا وى. (۲) يا دامبتدأخاص اسم دى نه فعل اوحرف **المجرد** داسي

اسم چي خالي وی په دې شان سره چې ذکردملزوم اومرادترینه لا زم دی. (۲) یا مجاز في الباب دی
یعني ذکر دمجرد دې اومرادترینه متجرد دې. یعنې باب تفعیل په معنی دباب تفعل سره دی **عن**
العوامل اللفظية دجنس عامل نه داسې عامل چې موثروی لفظا اومعنی **مسندا الیه** په حال کون د دې اسم
کې چې اسنادکړې شوی وی دیوشئ دی اسم ته، **فالمبتدا** مبتدأ ده الاسم موصوف المجردصیغه د اسم
مفعول ده ضمیر پکې مستتردی هغه ورله نائب فاعل **عن** جار **العوامل** موصوف **اللفظية** صفت موصوف
سره دصفت نه مجرور دجار جارسره دمجرور نه متعلق دی په المجردپورې **مسندا** صیغه د اسم مفعول ده
الیه بې نائب فاعل دی. اسم مفعول سره دنائب فاعل نه شبه جمله حال واقع شوي دي دضمير د
المجردنه چې راجع دی اسم ته اسم مفعول سره دنائب فاعل اومتعلق اوحال نه شبه جمله صفت د
موصوف موصوف سره دصفت نه خبر د مبتدأ چې فالمبتدأ دی او دا هو ضمیر فصل دی واقع دی په
منځ د مبتدأ او د خبر کې څکه مبتدأ او خبر دواړه معرفی دی، او قاعده دا ده چې مبتدأ او خبر دواړه
معرفی راشي نو حصر پیدا کوی او چې ضمیر فصل پکې راشي نو دا بنه حصر پیدا کوی او د حصر
صورتونه دري دی: (۱) کله دا خبر بند وی په مبتدأ پورې اومبتدأعامه وی نحو قوله تعالی إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ
ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلْقُوَّةِ ٱلْمَتِينُ (۲) کله مبتدأ بند وی په خبرپورې اوخبر عام وی لکه په دې مقام کې
(۳) او کله مبتدأ بندوی په خبر پورې اوخبر بندوی په مبتدأ پورې او دا معلومیږي د مقام نه.او حصر
(قصر) په دوه قسمه دی: (۱) حقیقي (۲) اضافی. قصرحقیقي دینه وایي چې تخصیص دیوشی راغلی
دی په بل پورې په نسبت سره کل ماعدا ته نحوما الاله الاالله. اوحصراضافی دیته وایي چې تخصیص
د یو شی راغلی وی په بل پورې په نسبت سره بعض ماعداته نحوما الکاتب الازید، یعنې داکتابت
منحصر دی په زید پورې اومتجاوزندی بعض ماعداته چې عمرودی نه په نسبت سره کل ماعدا ته. او
دلته دواړه جوړیږی که قصرحقیقي شی نومعنی دا ده چې مبتدأ عندالنحاة خاص اسم دی نه بل شی.
سوال: دا قاعده ستامنقوضه شوه په دې قول دشاعرسره:

تسمع بالمعیدی خیرمن ان تراه   وستعرف قدره ان فتح فاه

دلته تسمع مبتدأ ده اوخیر یې خبر دی، اودامبتدأپدی مقام کې فعل دی دارنګې دا قاعده ستا
منقوضه شوه په زیدقائم نقیضه زید لیس بقائم دلته زید قائم مبتدأ ده اونقیضه زیدلیس بقائم خبر
دی، او دا مبتدأ خو اسم نه دی بلکه جمله ده.
جواب: اسم عام دی که حقیقتاً وی او که تاویلاً وی حقیقتاً لکه زید شو په زیدقائم کې او تاویلاً تسمع
شوچې دا په معنی دسمعك سره دی دارنګې زیدقائم اسم دی تاویلا ای هذانقیض ذاك. (۲) **یا جواب** دا
دی چې دلته حصراضافی دی نه حقیقي نو بیا ترجمه د دې دا ده چې مبتدأعندالنحاة خاص اسم دی نه
فعل اونه حرف بیا عامه ده که اسم وی او که جمله وی.
سوال: دالحمدلله څه ترکیب دی؟ **جواب:** الحمدمبتدأ ده اولله خبر دی په اعتبار دمتعلق سره.

سوال: دامبتدأ قسم اول دی که قسم ثانی دی که ته وایي چې دامبتدأ قسم او له دی نو نده صحیح ځکه چې د مبتدأ قسم اول تعریف دا دی چې **هو الاسم المجرد عن العوامل اللفظیة مسندا الیه** او دلته د اسم نه مراد اسم جامد دی ځکه دامقابل دصفت کې ذکرشوي دي او الحمد خو اسم جامد ندی بلکه مصدر دی او که ته وایي چې داقسم ثانی دمبتدأ دی نوهم نده صحیح ځکه هغه صفت وی اودا مصدر دی.

جواب: دا الحمد مبتدأ قسم اول دی او اسم اګرچې مقابل دصفت ذکرشوي دي لیکن مراد ترینه اسم جامد ندی بلکه مراد اسم دی مقابل دفعل اوحرف نومطلب داشو چې مبتدأ به اسم وی په دې شان سره چې فعل او حرف به نوی او دا اسم بیاعام دی که جامد وی لکه زید عالم شو یا مصدر وی لکه الحمد لله یا مشتقي وی لکه المنطلق زید.

سوال: مصنف په تعریف دمبتدأ کې المجرد ذکر کړی دی اومجرد صیغه د اسم مفعول ده دباب دتفعیل نه معنی یې دا ده چې داسې اسم چې خالي کړی شوی دی دعوامل لفظیونه نو دا تعریف دمبتدأ جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شود دې نه زید په زید قائم کې ځکه دلته دا زید مجرد کړی شوي نه دی د عوامل لفظیونه ځکه تجرید دعامل نه فرع دوجود دعامل ده او په دی کې عامل دسره شته دی نه.

جواب: په دی عبارت دمصنف کې مجاز دی (۱) په دې شان سره چې ذکر د ملزوم دی چې تجرید دی او مراد ترینه لازم دی چې تجرد دې یعنې دا اسم به خالي وی دعوامل لفظیونه بیاعام دی که ابتداء خالي وی او که دا خالي والی د تجرید د وجې نه راغلی وی (۲) یا پدیکې مجاز فی الباب دی مجرد په معنی د المتجرد سره دی.

سوال: دا تعریف دمبتدأ مانع نه شو ددخول دغیر نه داخل شو پکې زید په ان زیدا قائم کې ځکه چې دا زید دلته اسم دی او خالي دی دعوامل لفظیونه، ځکه چې درې عوامل خو پرې نه دی داخل شوی، او مسند الیه دی؟ **جواب:** په العوامل کې الف لام جنسی دی اودا چې داخل شی په جمع باندې نو جمعیت باطلوی او جنسیت فائده کوی نو د دې معنی داشوه چې خالي به وی دجنس عامل لفظی نه.

سوال: الف لام جنسی چې داخل شی په جمع باندې نو معنی دجمعیت ولې باطلوی؟.

جواب: ځکه چې په جمع کې لحاظ د افرادوی او په جنس کې لحاظ د مفهوم وی اودادواړه متنافیین دی نو دا الف لام معنی دجمعیت باطله وی لپاره د دې چې اجتماع دمتنافیینو رانه شی.

سوال: دا الف لام چې ته ناسخ ګرځوی دمعنی دجمعیت لپاره نو داجمع ناسخ د دې جنس لپاره ولې نه ګرځوی؟ **جواب:** الف لام ناسخ دجمعیت دی اوجمعیت ناسخ دجنسیت نه دی ځکه چې جمع اول ده او الف لام وروسته راغلی دی اوثانی ناسخ داول وی.

سوال: دا تعریف دمبتدأ جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو ترې بحسبك درهم ځکه دلته دا مجرد نه دی دعوامل لفظیونه بلکه عامل لفظی پکې شته چې باء ده. **جواب:** اللفظیة کې الف لام عهدی دی مراد د عوامل لفظیونه هغه دی چې مؤثر وی لفظا او معنی نو دا پکې داخل شو ځکه دلته دا باء مؤثره ده

لفظا فقط نه معنی، په هرتعریف کې لابدی وی دجنس اوفصل نه په الاسم سره احترازراغلو دفعل او حرف نه ځکه چې داپه ترکیب کې مبتدأنه واقع کیږي اود اسماؤلپاره جنس دی نواسماء ټول پکې داخل شو، اوپه المجردعن العوامل اللفظیة سره یې احترازوکړ د اسم دحروف مشبه بالفعل نه اودا اسم د افعال ناقصونه د اسم دماولا المشبهتین بلیس نه اودمفعول اول دباب دعلمت نه اودمفعول ثانی د باب داعلمت نه صرف باقی پکې پاتې شوخبر دمبتدأ اوقسم ثانی دمبتدأ نومسندا الیه سره یې احتراز وکړو د مبتدأ قسم ثانی نه او د خبرنه ځکه دامسندالیه نه دی بلکه مسندبه دی، نوتعریف د مبتدأ قسم اول جامع مانع شو.

اوالصفة الواقعة بعد حرف النفی او الف الاستفهام رافعة ظاهر: هرکله چې فارغ شومصنف دبیان دتعریف دقسم اول دمبتدأنه نوشروع یې وکړه په بیان دتعریف دقسم ثانی دمبتدأکی اودا کلمه داو په دې مقام کې لپاره دمانعة الخلوده نه لپاره دمانعة الجمع، اولپاره دتنویع اوتقسیم ده نه لپاره دشك اوتردد، اودا الصفة عطف دی په الاسم باندې اوقاعده دا ده چې ماقبل دمعطوف علیه معادوی دمعطوف سره نو تقدیر دا شو چې فالمبتدأهی الصفة الواقعة الخ، یامبتدأپه اصطلاح دنحویانوکی یواسم دی چې دلالت کوی په ذات مبهم باندې اومعتبر وی ورسره یوصفت دصفاتونه، اوداصفت عام دی که حقیقتا وی لکه اسم فاعل اسم مفعول اوصفت مشبه. (اوهرچی اسم تفضیل دی نو هغه مبتدأ قسم ثانی نه واقع کیږي) او که تاویلا وی لکه منسوب شو، **الواقعة** داسې صفت چې واقع وی پس دحرف نفی نه چې ما اولادی او یا پس د حرف استفهام نه چې همزه اوهل دی اوذکر دالف د وجې دشهرت نه دی لپاره د دې چې اعتماد یې راشی ځکه چې اعتمادشرط دی لپاره دعمل دمشتقی **رافعة لظاهر،** په حال کون د دغه صفت کې چې واقع دی پس دحرف نفی اوحرف استفهام نه چې دا به رفع ورکوونکی وی اسم ظاهر لره اواسم ظاهر عام دی که حقیقتا وی او که حکما وی مثال د اسم ظاهر حکما لکه ضمیرمرفوع منفصل شو ځکه دامشابه دی د اسم ظاهر سره په استقلال فی التلفظ کې

تشریح: ربط دماقبل سره ذکرشو اوغرض دمصنف هم معلوم شو چې بیان دقسم ثانی دمبتدأ دی.

سوال: دا تعریف مبتدأ باطل دی (مدعی) ځکه دا بنا دی په شك اوترددباندې (صغری) اوکوم تعریف چې بنا وي په شك او تردد نو هغه باطل وی (کبری) نو دا تعریف باطل شو.

نتیجه: دلیل دصغری دا تعریف ځکه بنادی په شك چې په دې کې کلمه داو راغلی ده او کلمه داو راځي د شك او تردد لپاره، اودلیل دکبری دا دی چې کوم تعریف بناوی په شك اوترددباندې هغه ځکه باطل وی مقصودپه تعریف کې وضاحت دمعرف وی اووضاحت راځي په قطع اویقین سر نه په شك او تردد سره.

جواب: دا دی چې دلیل دصغری دی نه منم ځکه کلمه داوهر ځای لپاره دشك نوی بلکه دلته لپاره د تنویع اوتقسیم ده نو مصنف په دی کلمې داوسره مبتدأ منقسم کړوقسمینو ته.

سوال: کلمه داو راځي داحدالامرین لپاره نود دې معنی داشوه چې مبتدأ چې راځي نویا به قسم اول وی فقط او یا به قسم ثانی وی فقط اودواړه یوځای نه شی راتلی نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په اقائم

زيګ سره دلته خودواړه جوړيږي.

جواب: دا كلمه داو دمانعة الخلوه لپاره ده نه دمانعة الجمع لپاره يعنې د دې قسمين نه مبتدأ خالي كيدى نه شي اوجمع كيدى شي دادواړه په يوترکيب کې.

سوال: ته وايي چې دا مبتدأ به ياصفت وى نوصفت څه ته وايي؟ **جواب:** صفت په اصطلاح د نحاتو کې هغه اسم ته وايي چې دلالت كوى په ذات مبهمه باندې او معتبروى ورسره يوصفت دصفاتونه.

سوال: مصداقوونه دصفت خوڅلوردى عندالنحاة اسم فاعل، اسم مفعول، صفت مشبه، اسم تفضيل، نواسم تفضيل خومبتدأ قسم ثانى نه واقع كيږي؟ **جواب:** دلته مراد د صفت نه اسم فاعل اسم مفعول او صفت مشبه دى نه اسم تفضيل ځكه دلته په دې صفت کې شرط دي چې دا به رافع وى اسم ظاهرلره او اسم تفضيل چې عمل درفع كوى په اسم ظاهر کې نو هغه مشروط دى په شروط ثلاثه ؤ سره.

سوال: ته وايي چې دامبتدأ قسم ثانى به صفت وى نو دا قاعده ستامنقوضه شوه په اقريشى زيدباندې دا صفت نه دى اوقسم ثانى دمبتدأ دى؟

جواب: صفت عام دى كه حقيقتا وى او كه تاويلا وى دا اګر چې حقيقتا صفت نه دى ليكن صفت دى تاويلاً ځكه دا اسم منسوب دى ديته جارمجرى دصفت اوجارمجرى دمشتقى وايي ځكه د دې نه تاويل كيږي په مشتقى سره نحواقريشى زيد اى امنسوب زيد الى القريش.

سوال: ته وايي چې داصفت به واقع وى پس دالف داستفهام نه نوصفت چې پس دهل نه واقع شى هغه هم قسم ثانى دمبتداكيدى شى نوتاصرف الف ولې ذكر كړى دى؟ **جواب:** دا عبارت دمصنف بنادى په مجاز باندې ذكر د خاص دى چې الف دى اومرادترينه عام دى چې حرف دى او الف يې ذكر كړى دى د وجې د شهرت نه.

سوال: صفت خو وروسته دالف الاستفهام نه نه راځي بلكه وروسته دهمزه داستفهام نه راځي او الف خود سره داستفهام لپاره نه راځي ځكه دحرف استفهام لپاره صدرات شرط دى او الف په ابتداء د كلام کې نه شي راتلى ځكه چې داساكن وضعى دى كه په اول کې راشى نو لازميږي ابتداء بالساكن اودامحال ده.

جواب: دلته ذكرد الف دى اومرادترينه همزه ده اواطلاق دالف يې كړى دى په همزه باندې مجازا ځكه همزه چې په اول د كلام کې راشى نوليكلى شى په صورت دالف باندې.

سوال: وقوع دصفت وروسته د حرف نفى ياحرف استفهام نه ولې شرط شوه؟

جواب: ځكه داصفت ضعيف العمل دى بدون الاعتمادعمل نه شى كولى، نو دا به وروسته د حرف نفى يا حرف استفهام نه ځكه وى چې اعتمادراشى اوعمل درفع وكړى په دى مابعد اسم کې.

سوال: اعتماددصفت خوصرف په همزه ياحرف نفى باندې نه راځي بلكه دا اعتمادخوراځي په يو د اشياؤ سته ؤباندې نو دلته يې فقط دادوه ولې ذكر كړه هغه نوريى ولې ذكرنكړه؟

جواب: هغه نوريى ذكر نكړل ځكه اعتماددصفت چې راشى په مبتدأنو بيا داخبر دمبتدأ دى نه قسم ثانى دمبتدأ، او كه اعتمادىى راشى په موصول باندې نو هغه صله وى دموصول او كه اعتمادىى

راغلی وو په موصوف باندې نو هغه صفت وی دموصوف او که اعتمادیی راغلی ووپه ذوالحال باندې نو هغه حال وی مبتدأ قسم ثانی نوی.

سوال: شرط د اعتماد د صفت په حرف نفی یاحرف استفهام باندې لپاره د جواز دی که لپاره د اولویت دی؟ **جواب:** پدیکې دوه مذهبه دی: (١) په نزدجمهورواوسیبویه باندې داشرط لپاره دجواز دی اوپه نیز داخفش باندې لپاره داولویت دی، نوعمل دصفت بغیر داعتمادنه جائزدی عندالجمهوروالسیبویه مع القبح اوعندالاخفش جائزدی بلاقبح لکه فائز اولوالرشدشو نوجمهورواودسیبویه په نیز باندې داترکیب په کلام بلیغ کې نشی راتلی اوداخفش په نیزراتلی شی اودلیل داخفش داقول دشاعردی، خبیر نحن عندالناس منکم) دلته خیر قسم ثانی دمبتدأ دی اونحن ورله فاعل سدمسد خبردی اودی خیرعمل کړی دی بغیرداعتمادنه.

جواب: دطرفه دجمهورونه دا دی چې په دې کې تراکیب اربعه دی: (١) یو ترکیب داخفش دی کمامر.
(٢) دویم ترکیب دا دی چې خیر خبرمقدم دی اونحن مبتدأموخره ده خوداترکیب نه دی صحیح ځکه چې فصل راځي په مینځ د اسم تفضیل اومعمول د دې کې په اجنبی سره اوداباطل دی.
(٣) خیر خبردی دمبتدأ محذوف لپاره چې نحن دی اوپه خیر کې ضمیر مستتر دی هغه ورله فاعل دی اودانحن مؤکد دې د هغه ضمیر مستترلپاره ای نحن خیر نحن عند الناس منکم
(٤) خیر خبر مقدم دی اونحن مبتدأ مؤخره ده اومعمول اومفضل علیه مقدر دی چې منکم دی اودا وروسته منکم د هغې بیان دی، **اورافعة** منصوب دی بنا بر حالیت دضمیرالواقعة نه **لظاهر** ای لاسم ظاهر.

سوال: دا قاعده ستامنقوضه شوه په دې قول دالله (ج) سره قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ ءَالِهَتِي يَٰإِبْرَٰهِيمُ (دلته راغب قسم ثانی دمبتدأ دی اورافع اسم ظاهر لره ندي بلکه رافع دی ضمیر لره، دارنګې دا قاعده ستا منقوضه شوه بقول الشاعر:

خلیلی ما واف اذالم　　　تکونا لي الی من اقاتل

دلته واف صفت دی قسم ثانی دمبتدأ دی اورافع اسم ظاهرلره نه دی بلکه ضمیر لره دی.

جواب: اسم ظاهر عام دی که حقیقتا وی او که حکما وی اوضمیر مرفوع منفصل حکما اسم ظاهر دی ځکه دامشابه دی د اسم ظاهر سره په استقلال فی التلفظ کې اودا به صفت وی د دې لپاره چې عمل وکړی په مابعد کې اوواقع به وی وروسته دحرف نفی یاحرف استفهام نه د دې لپاره چې اعتمادیی راشی، **الصفة** سره احترازوکړه دزیدقائم اوالحمدالله اوالضرب واقع نه ځکه دلته مبتدأصفت نه دی **الواقعة بعدحرف النفی او الف الاستفهام** سره یې احتراز وکړو دالمنطلق زید اوقائم زیدنه، **او رافعة لظاهر**سره یې احتراز وکړو د اقائمان الزیدان او اقائمون الزیدون نه لانهمارافعة لضمیر لالظاهرځکه که دارافع د اسم ظاهروی نومفردبه وی ځکه دفعل یاصفت اسنادچې اسم ظاهر ته وشی نووحدابدا وی نوتعریف د مبتدأ قسم ثانی جامع شو مثل زیدقائم دا مثال دمبتدأ قسم اول دی ځکه زید اسم مجرد دې دعوامل

لفظيه نه او مسند اليه دی اوماقائم الزيدان کې قائم مبتدأ قسم ثاني دی ځکه داصفت واقع دی پس د
حرف نفي نه او رافعة لظاهر دی.
سوال: مثال ذکر کولی شی لپاره د وضاحت دممثل او وضاحت د ممثل راخي په مثال واحد سره نو دري
مثالونه یې ولې ذکر کړل؟ **جواب:** تعدد د مثال بنادی په تعدد دممثل باندې اول مثال دمبتدأ قسم اول
دی اودادوه مثالونه دمبتدأ ثاني دی.
سوال: دقسم ثاني لپاره دی دوه مثالونه ولې ذکر کړل؟
جواب: ځکه دادوه قسمه ده: (١) واقع پس دحرف نفي نه (٢) واقع پس داستفهام نه.
سوال: اقائم الزيدان څه ترکيب دی؟
جواب: همزه استفهاميه قائم مبتدأ مسندبه الزيدان فاعل سدمسد خبر داجمله اسميه خبريه شوه
سوال: دی الزيدان ته فاعل یاعين خبر ولې نه وايي چې فاعل سدمسد خبر ورته وايي؟
جواب: الزيدان ته زه عين فاعل نه شم ويلی ځکه صفت سره دفاعل نه مرکب ناقص وی اودامفيدفائده
تامي دی، اوعين خبرورته هم نه شم ويلی ځکه خبر مسندوی اودامسند اليه دی لهذا دافاعل دی ځکه
مسند اليه دی اوسدمسد دخبر دی په افاده دفائده تامه کې سامع اومخاطب ته، پس زده کړه داخبره
چې صفت سره دفاعل نه چرته چې راشي نومرکب ناقص وی الاهي موضعين چې هغې کې مرکب تام
وی: (١) په مبتدأقسم ثاني کې. (٢) چې صله دالف لام موصولي واقع شی ځکه د دې الف لام نه تعبير
کولی شی الذی التی سره او د دې ما بعد نه تعبير کولی شی په فعل ماضي یامضارع سره اوماضي او
مضارع سره دفاعل نه مرکب تام وی.
فان طابقت مفرداجاز الامران: غرض دمصنف د دې عبارت نه صراحتا بيان دجوازدامرينو دی په يو
ترکيب کې او ضمنا او اشارة بيانوی احتمالات عقليه په مبتدأ قسم ثاني کې درې موجود دې او يو
مجرد احتمال عقلي دی درخارج وجود ندارد.
ترجمه: که چرته مطابق وو داصفت واقعه بعدحرف النفي اوالاستفهام قطع نظرد دې نه چې رافعة
لظاهر دی، اوکنه **مفردا**، دا اسم مفردسره چې ذکردی وروسته دصفت نه په افراد کی په دې شان سره
چې داصفت هم مفرد دې، اومابعد اسم هم مفرد دې، **جازالامران:** نوجائزدی دوه ترکيبونه:
(١) چې کون دصفت مبتدأ مسندبه اومابعد اسم فاعل سدمسد خبر. (٢) یاصفت خبر مقدم اومابعد
مبتدأ مؤخره د وجې دعدم وجوددمانع دامرينو نه اورفع داقائم زيدموقوف ده په اختيار دمتکلم پورې
تشريح: سوال: غرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی؟
جواب: غرض دمصنف د دې عبارت نه دوه خبری دی: (١) صريحی (٢) او بل ضمني دی صريحی بيان
د وجهينو دی په اقائم زيد کی اومقصدضمني اشاره کول دی احتمالات اربعه دمبتدأ قسم ثاني ته
سوال: په طابقت کې ضميرچا ته راجع دی يا به راجع وی صفت مذکوره ته چې مقيد دی اومشروط دی
په دې شرطينو سره او يا به مطلق صفت ته راجع وی که صفت مذکوره ته راجع شی نوجازالامران ورسره

نه لګی ځکه دی صفت ته چې تارافعة لظاهر وويل نو بياقسم ثانی متعين دی.
راجع شی نو بيا خوپکاردی چې په قائم زيدکی هم دوه ترکيبونه جائزشی حالانکه په دې کې خوقسم اول متعين دی ثانی پکې نه جوړيږی؟ **جواب:** نه صفت مذکوره ته راجع دی اونه مطلق صفت ته دی بلکه داراجع هغه صفت ته چې واقع وی پس دحرف نفی اواستفهام نه قطع لحاظ د دې نه چې رافعة لظاهردی اوکنه اوس هغه دوه ترکيبونه کوم کوم دی نو هغه دا دی: (۱) قائم مبتدأمسندبه اوزيد فاعل سدمسد خبر. (۲) قائم خبر مقدم زيد مبتدأ مؤخره.
سوال: دادوه ترکيبونه ولې جائزدی؟ **جواب:** د وجې دعدم وجود د مانع د امرينو نه.
سوال: اقائم زيدکی دارفع دزيديو اثردی داراځي دمؤثرد وجې نه نودي کې عامل څوك دی که داصفت پکې عامل وايې نو بياقسم ثانی متعين دی او که عامل پکې معنوی وايې نو بيا قسم اول متعين دی.
جواب: رافع د قائم زيدموقوفه ده په اختياردمتکلم پورې يعنې دادوه ترکيبونه جائزدی قبل التلفظ په مرتبه دتصورکی نوکه متکلم وايي چې عامل داصفت دی نوقسم ثانی شو او که وايي چې عامل معنوی دی نوقسم اول شوصاحب دتحريرسنبټ ويلی دی چې رفع د دې په وقف سره ده نوقاضی شعيب وايي چې په وقف سره خواعراب نه زائله کيږي بيا هم دغه اعتراض واردیږی يعنې د هغه مطلب دا دی چې داجواب داستاذکلا جواب دی.
جواب: دا دی چې ته د هغه په مطلب باندې نه يې پوه شو ی دوقف نه مراد وقف دقاريانو نه دی بلکه معنی دا ده چې داموقوف ده په اختياردمتکلم پورې **فان طابقت** سره يې احتراز وکړوداقائم الزيدان او اقائم الزيدون نه هلته قسم ثانی متعين دی او**مفردا** سره يې احتراز وکړ د اقائمان الزيدان اقائمون الزيدون نه هلته قسم اول متعين دی، پس زده کړه داخبره چې احتمالات عقليه په دې قسم ثانی د مبتدأ کې څلوردی ځکه داصفت به خالي نوی يا به مطابق وی د مابعد سره او يا به نوی که وو نو بيا به خالي نوی يا به مطابق په افراد کې وي او ياپه تثنيت اوجمعيت کې که تثنيت جمعيت کې وو نو قسم اول متعين دی ځکه چې رافعة لظاهر ندی، او که مطابقت افراد کی وونودوه ترکيبه جائزدی، او که مطابق نه وونو بيا به خالي نوی يا به صفت مفردوی اومابعدبه تثنيه او ياجمع وی لکه اقائم الزيدان و اقائم الزيدون نوقسم ثانی متعين دی ځکه که ضميرراجع کو ی مابعد ته اوقسم اول يې ګرځوی نو مطابقت نه راځي. (۴) چې صفت تثنيه ياجمع وی اومابعد اسم مفردوی دامجرداحتمال عقلی دی
والخبر: هر کله چې فارغ شومصنف دبيان دمبتدأ نه نوشروع يې وکړه په بيان دخبر کې خبر په لغت کې بيان ته وايي، اوپه اصطلاح کې هوالمجرددايو اسم دی عام د دې نه که حقيقتا وی او که حکما وی داسې اسم چې خالي وی دجنس عامل لفظی نه داسې اسم چې اسنادواقع کړی شوی دې په دی سره په دې اسم مبتدأته.
غير باندې يا داسې اسم چې اسناد کړی شوي دي د دې اسم مبتدأته.
المغايرللصفة المذكورة: اوداسې اسم چې مغائر دی دصفت نه هغه صفت چې مخکې ذکرشوي دي په دې شان سره چې دادسره صفت نه دی لکه هذازيدهذاضرب ياصفت دی خوبعدالنفی يابعدالاستفهام نه

دی نحو زید قائم یارافعة لظاهرندی نحواقائمان الزیدان اوقائمون الزیدون، **المجود** صفت دی تقاضه د
موصوف کوي موصوف مونږه راویستو الاسم په قرینی دمقام سره ځکه بحث په اسماء مرفوعات کې
دی، اوس یو اعتراض دفع شو.
سوال: دا تعریف ستا صادق شو په فعل مضارع لکه یضرب شو په یضرب زید کی دا یضرب مجرد دې د
عوامل لفظیونه اومسندبه دی اومغائر دی دصفت مذکورنه
جواب: المجرد صفت د اسم دی نویضرب خارج شوځکه یضرب فعل دی.
سوال: دالمجرد دلپاره چې تاموصوف الاسم راویستونو دا تعریف جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو
ترې ابوه قائم په زید ابوه قائم کې داخیر دی اواسم نه دی بلکه جمله ده.
جواب: (۱) اسم عام دی که حقیقتا وی او که تاویلا وی داتاویلا دی ای زید قائم الاب (۲) دلته دا تعریف
د یو نوع د خبر دی نه دمطلق خبر یعني دا تعریف دخبر مفرد دې (۳) دا تعریف دمطلق خبر دې اوجمله
چې خبر راشي دا یو جزئی د دې نه مستثنی دی ځکه هغه یې وروسته ذکر کړی دی او قانون دمصنف
دا دی چې کله یو عام حکم ذکر کړی او وروسته خاص ذکر کړی نو داپه منزله داستثناء وی ددغه عام
نه، اوس د دې نه معلومه شوه چې مبتدأ کې اسمیت شرط دی حقیقتا یاتاویلا اوپه خبر کې شرط نه
دی نو خبر چې جمله راشي نو هلته به تاویل نکوی.
سوال: دا تعریف جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو ترې قائم په زیدقائم کې ځکه دا خوندی خالي
شوی ځکه عامل لفظی پکې موجودندی.
جواب: دلته ذکر دملزوم اومرادترینه لازم دی چې خلوه ده، یعنې خالي به وی بیا که تاخالي کړی وی او
که په خپله خالي وی (۲) یامجرد بمعنی متجرد دې مجازفی الباب دی پکې **المسندبه.**
سوال: المسند صیغه د اسم مفعول ده د اسند یسند اسنادا نه دامتعدی دی مفعول واحد ته او د فعل
متعدی نه مفعول بالذات راځي نو تا ولې دا متعدی کړی دی بالواسطه؟
جواب: دامتضمن دی معنی دوقوع لره اوهغه لازم د ی نوځکه متعدی شوي دي په واسطی دحرف جر
سره ځکه په متضمن باندې حکم دمتضمن جاری کولی شی (۲) یا دا به نائب فاعل نه دی بلکه نائب
فاعل ضمیر مستتر دی اوبابمعنی الی دی، او ضمیر راجع دی مبتدأ ته.
سوال: تامبتدأ ته هم اوی چې دا به خالي وی دعوامل لفظیونه اوخبر ته دی هم اوی چې دامجردوی نوپه
زید قائم کې خودازیدعامل دی په قائم کې اوقائم عامل دی په زید کې یامبتداکې عامل ابتداء ده او
خبر کې مبتدأ ده سره دعامل معنوی نه **جواب:** په عامل دمبتدأ اوخبر کې مذهب ثلاثه دی
(۱) جمهوروایی چې دواړو کی عامل معنوی دی اودا تعریف بنادی په مذهب دجمهورو باندې؟
سوال: لفظ دابتداء ته عامل وایي که معنی ته که لفظ ته وایي نو دا خونه په مبتدأ کې شته اونه په خبر
کې شته او که معنی ته یې وایي نو دا خومبتداکی شته اوخبر کې نشته.

جواب: زه معنی دابتداء ته عامل وایم خوابتداء بمعنی اول الشئ نده بلکه په معنی دخلوه سره ده د عوامل لفظیونه.
سوال: دا خلوه او تجرد د عوامل لفظی نه دا خو یوامر معنوی دی نوته داځنګه مؤثرګرځوی په دې امر لفظی کې؟ **جواب:** عامل اصل کې متکلم دی اوداعوامل لفظیه هسې امارات اوعلامات دی نوعدمی هم عامل کیدی شی په وجودی کې لکه خلوه دبلد دبادشاه نه قرینه ده په دې خبره باندې چې دی ښکار له تلی دی. (۲) دویم مذهب دسیبویه دی چې ابتداء عامل ده په مبتدأکی اوابتداء اومبتدأعامل دی په خبر کې دلیل یې دا دی چې داعامل معنوی مونږه مقدرکوود وجې دضرورت نه د وجې دعدم وجود د عامل لفظي نه او دلته عامل لفظی مخکې موجود دې چې مبتدأ ده نومعنوی ته ضرورت پاتې نه شو.
سوال: بیا دا خبر ولې عامل نه وایې په مبتدأ کې؟ **جواب:** خبر ځکه عامل نه وایم په مبتدأکی چې بیا دور لازمیږي
(۳) دریم مذهب دبعض کوفیانودی چې مبتدأعامل دی په خبر کې اوخبر عامل دی په مبتدأ کې.
سوال: دا خودورراغلو؟ **جواب:** عامل اصل کې متکلم دی اوداعوامل نحویه هسې علامات دی نو دور نشته، مخکې داخبره ذکرشوه چې خبریه اسم وی فعل اوحرف خبرنه راځي نواعتراض راځي چې په زید ضرب کې خو ضرب خبر دی او دا خو فعل دی.
جواب: دا ضرب یواځې خبر نه دی بلکه دافعل سره دفاعل نه جمله خبرواقع شوي دي، هرتعریف کې جنس او فصل وی الاسم جنس دی المجردسره یې احتراز وکړودخبردحروف مشبه بالفعل او خبر د افعال ناقصه د خبر د ما ولا مشبهتین بلیس وغیره نه، اوالمسندبه سره احترازراغلو دقسم اول د مبتدأ نه او المغایرللصفة المذکورة سره یې احتراز وکړو دقسم ثانی دمبتدأنه او که المسندالی المبتدأ شی نو بیاپه دغه قیدسره قسم ثانی دمبتدأ هم خارج شو نو بیا المغایر الخ قیدهسی دتاکید لپاره ذکر شوي دي، او که المجرد صفت داللفظ شی نو بیا داعام دی خبر مفرداوجمله ټولو ته شامل دی، اوس دی خبر ته خبر ولې وایې؟ نو ځکه چې خبر په لغت کې بیان ته وایې اوپدې خبر اصطلاحی سره هم بیان د مبتدأ کیږي.
واصل المبتدأ التقدیم: هر کله چې فارغ شو دتعریف دمبتدأ اوخبر نه نوشروع یې وکړه په احکامودمبتدأ او خبر کې او هرکله چې مبتدأ اصل وه په خبرباندې نومقدم یې کړل احکام دمبتدأ په خبر باندې، نو یو حکم د احکامو د مبتدأ نه دا دی چې اولی په مبتدأ کې تقدیم دی په خبر باندې په وخت دعدم دمانع کې ځکه مبتدأ په منزله د موصوف وی اوخبر په منزله دصفت وی اوموصوف مقدم وی په صفت باندې. (۲) مبتدأ غالبا ذات وی اوخبروصف وی اوذات مقدم وی په وصف باندې په وخت دعدم دمانع کې او مانع عام دی چې دجواز دتقدیم نه وی او که د اولویت د تقدیم نه وي **ومن ثم** اود وجې داولویت د تقدیم د مبتدأ نه په خبر باندې لازم شو د مبتدأ لپاره تقدم رتبی اودخبرلپاره تأخر رتبې اود وجې دتقدم رتبی دمبتدأ نه جائز شوداترکیب چې **فی داره زید**، مراد پدې سره هر هغه ترکیب دی چې ضمیر متصل شوی وی په خبر متقدم پورې اوراجع وی مبتدأ مؤخری ته داجائزدی، ځکه چې اضمارقبل الذکر پکې

لفظا دی فقط او د وجې د تأخر رتبې د خبر نه ممتنع دی **صاحبها فی الدار**، مراد پدی سره هر هغه ترکیب دی چې ضمیر متصل شوی وی په مبتدأ پورې او راجع وی خبر متأخرته ځکه دی کې اضمار قبل الذکر دی لفظا او رتبتا اودا ممتنع دی بالاتفاق

تشریح: غرض دماتن د دې عبارت بیان داحکام دمبتدأ اوخبر دی

سوال: احکام دمبتدأ اوخبر سواسی دی اوبوشان دی په نسبت سره نحوی ته نو مصنف احکام دمبتدأ ولې مقدم کړل په احکامو دخبر باندې؟ **جواب:** ځکه چې مبتدأ اصل دی په نسبت سره خبر ته

سوال: ته وایې چې قاعده کلیه په مبتدأ کې تقدیم دمبتدأ دی په خبر نوپکارده چې زید فی الدار کی دی فی الدار زید ممتنع شی حالانکه تاسو خو دیته جائز وایې؟ **جواب:** دا اعتراض به تاهله کولی چې اصل دلته په معنی دقاعده کلیه وی لیکن اصل دلته بمعنی اولی او راجح دی

سوال: داخبره ستا منقوضه شوه په فی داره زید سره ځکه دلته خوتقدیم دمبتدأ په خبر باندې ممتنع دی؟ **جواب:** مونږه وایو چې اولی او راجح په مبتدأ کې تقدیم دی په وخت د عدم وجود دمانع کې اودلته مانع شته اضمار قبل الذکر دی لفظا او رتبتا

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په زید قام، المنطلق زید، افضل منك افضل منی دلته خوتقدیم د مبتدأ واجب دی؟

جواب: مونږ وایو چې تقدیم دمبتدأ اولی دی په وخت دعدم وجود دمقتضی دتقدیم وجوبی کې اودلته مقتضی دتقدیم وجوبی موجود دی، یعنې دلته تقدیم واجب ګرځیدلی دی د وجې دامر خارج نه. اوس د دې عبارت نه صراحتا تقدیم دمبتدأ په خبر باندې معلوم شواوضمنا دامعلومه شوه چې اولی اوراجح په خبر کې تاخیردی په مبتدأ باندې **ومن ثم** سره دوه مثالونه تفریع کوی

سوال: دا تفریع ندہ صحیح ځکه دمخکې نه خومعلومه شوه چې تقدیم دمبتدأ اولی دی په خبر باندې او في داره زید کی خوتقدیم دمبتدأ نه دی راغلی په خبرباندې، اوصاحبها فی الدار کی خوتقدیم د مبتدأ راغلی دی په خبر باندې نوممتنع ورته څنګه وایې دا خو تفریع دمبائن شوه په مبائن باندې

جواب: دا جواز د في داره زید اوامتناع دصاحبها فی الداریدی مذکورباندې نه دی تفریع بلکه داتفریع ده په ضمنی او لازم باندې چې هغه لازم دی د دې مذکورسره یعنې د وجې داولویت دمبتدأنه لازم شو د مبتدأ لپاره تقدم رتبی اودخبر لپاره تأخر رتبی اود وجې دتقدم رتبّی دمبتدأ نه جائزدی داترکیب چې في داره زید، مراد په دې سره هر هغه ترکیب دی چې ضمیر متصل شوی وی په خبر مقدم پورې اوراجع وی مبتدأ متاخر ته ځکه اضمار قبل الذکر لفظا راځي فقط نه رتبتا ځکه مرتبه دمبتدأ مقدمه وی دخبر نه او د وجې د تأخر رتبې د خبر نه ممتنع دی صاحبها فی الدار مراد پدې سره هر هغه ترکیب دی چې ضمیر متصل شوی وی په مبتدأ پورې اوراجع وی خبر متاخر ته ځکه اضمار قبل الذکر راځي لفظا او رتبتا لهذا فی الدارصاحبها به وایې بل مثال د دې لکه علی التمرة مثلها زبدا او أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا شو

سوال: جاز فعل دی فاعل ورله کوم دی؟

جواب: فاعل د دې في داره زيد دی او فاعل دامتنع صاحبها في الداردی.

سوال: فاعل کې خو اسميت شرط دی او دا خوجملی دی؟

جواب: اسم عام دی که حقيقتا وی او که تاويلا وی دا تاويلاً اسم دی ای هذا الترکيب اوس معلومه شوه چې اضمارقبل الذکرلفظا اورتبتا ممتنع دی بالاتفاق په خلاف دضرب غلامه زيدانه هلته اخفش اوابن جنی جائز ويلوڅکه هغه وايي دلته اضمارقبل الذکرلفظا دی فقط نه رتبتا او که مطلقاپې جائز ويلی نو پکاروه چې دلته يې هم جائز ويلی وی.

ولذ يکون المبتدانکرة: غرض دماتن د دې عبارت نه بيان دحکمينو دمبتدأ دی يوصراحتا او بل ضمنا صراحتا دا دی چې کله کله کيږې مبتدأنکره **اذا تخصصت** کله چې وګرځی د انکر مخصصه. باب تفعل لپاره د صيرورت دی.

ای اذاصارت مخصصة بوجه ما: په يوه وجه دتخصيص سره تخصيص عام دی که په معنی درفع دا بهام سره وی او که په معنی دقلت دشرکاؤسره وی اوداتخصيص عام دی که په قيد لفظی سره وی او که په قيد معنوی سره وی، اوس صراحتا حکم خوداشوچې نکره مخصصه مبتدأواقع کيږې په طريقه دقلت سره اودال په دې باندې داقد دی چې داخل دی په مضارع باندې اودوه حکمونه ضمنا معلوم شو.

(۱) مبتدأمعرفه واقع کيږې په طريقه دکثرت سره لهذا اصل په مبتداکې تعريف دی.

(۲) اودويم دا چې نکره غيرمخصصه يعنې نکره محضه مبتدأنه واقع کيږې اوتعريف ځکه اولی او راجح دی چې غالب اوکثيرپه کلام دعرب کې دا ده چې هغه حکم کوی په معين باندې اوحکم په نکره محضه باندې مفيد دفائده تامی نه دی مخاطب ته اومقصود دمتکلم افاده ده سامع اومخاطب ته او نکره مخصصه مبتدأ واقع کيږې ځکه دامشابه ده دمعرفی سره په معرفه کې عدم داشتراك وی او په دې کې قلت د اشتراك وی او مشبه کله کله حکم دمشبه به اخلی (۲) يا دا چې نکره مخصصه قريب ده معرفی ته اوقريب لره حکم دعين وی ليکن يواسم چې ترکيب کې مبتدأ واقع کيږې نودهغې صورتونه څلوردی. درې جائزدی او يو ممتنع (۱) مبتدأغالبا معرفه راځي نحوزيدقائم (۲) کله کله نکره مخصصه راځي نحو وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ (۳) نکره محضه مبتدأنه واقع کيږې فلايقال رجل قائم (۴) او که حکم په دې نکره محضه باندې مفيد د فائدې وو نو بيا دا هم مبتدأ واقع کيږې نحو کوکب انقض الساعة **اذاتخصصت** بوجه ما، وجه موصوف دی او ما زائده صفت د دې وجی نه ديته ما زائده صفتی وايي داصفت د نکرې واقع کيږې نکره کې هسې هم عموم وی اودا چې يې صفت واقع شی نو عموم پکې نور هم زيات شی، او دا وجه د تخصيص بياعامه ده که په قيد لفظی سره وی او که معنوی سره وی اوقيد لفظی عام دی که وقوع دنکره پس دحرف استفهام نه وی او که پس دلام ابتدائيه تاکيديه نه وی، ياپه بلی طريقی سره وی مثال لکه وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ عبد موصوف مومن صفت موصوف مع الصفة مبتدأ ده خير صيغه د اسم تفضيل ده ضمير مستتر يې فاعل دی او من مشرك

متعلق دی په خير پورې دا خبر د مبتدأ دی اودلته تخصيص راغلی دی په امرلفظی سره چې صفت دی
او تخصيص په معنی د قلت د شركاؤ سره دی ځكه عبد كافر ترې خارج شو.
وارجل فی الدارام امرأة: دويم مثال د هغه نكره مخصصی چې مبتدأ واقع شوې ده لكه ارجل فی الدارام
امرأة شو **تركيب:** همزه استفهاميه **رجل** معطوف عليه **ام** عاطف متصله **امرأة** معطوف دامبتدأ **او فی**
الدار ورله خبر دی په اعتبار دمتعلق سره مبتدامع الخبرجمله اسميه خبريه شوه. تطبيق رجل اوامرأة
نكره ده اومبتدأ دی ځكه دانكره مخصصه ده اوتخصيص پكې راغلی دی په نسبت سره علم دمتكلم
ته ځكه متكلم عالم دی په كون داحدهما كائن فی الدارليكن سوال كوی په همزه استفهاميه اوام
متصله سره دسامع نه لپاره دتعيين داحدالامرين اوداعلم دمتكلم اگر كه امر معنوی دی ليكن تعبير
ترې كولی شی په امرلفظی سره نوكيږي تقديردعبارت دارنگې ای الامرين المعلومين كون احدهما
كائن فی الداركائن فيها د دې همزه استفهاميه اوام متصله نه تعبير كولی شی په ای سره او د رجل او
امرأة نه تعبير كولی شی په امرين سره اودعلم دمتكلم نه په المعلوم سره
سوال: تخصيص پكې ځنگه راغلی دی؟ **جواب:** تخصيص راغلی دی په نسبت سره علم دمتكلم ته ځكه
متكلم عالم دی په احدهما كائن فی الدار خو سوال كوی لپاره دتعين داحدالامرين.
سوال: دامبتدأ امرلفظی دی اوعلم دمتكلم امر معنوی دی نوته ځنگه تخصيص راولی په امر معنوی
سره په امر لفظی كې؟ **جواب:** دا اگر چې امر معنوی دی خو تعبير ترې كيدی شی په امرلفظی سره وما
احد خير منك، دادريم مثال دی مانافيه احدمبتدأ اوخيرمنك يې خبر دي اودا بنا دی په مذهب د بنو
تميم باندې ځكه عندهم ما دحروف غير عاملونه دی نو دامابعد مبتدأ اوخبردي، اوس دا احدنكره
مبتدأ واقع شوې ده ځكه چې تخصيص پكې راغلی دی په عموم سره اوتخصيص دلته په معنی درفع
د ابهام سره دی نه په معنی د قلت د شركاؤ سره ځكه نكره چې واقع شی وروسته د نفی نه نوعموم او
استغراق فائده كوی نو معنی دا شوه چې نشته يو احد داحادونه غوره ستانه اوس نكره چې واقع شی
پس د نفی نه نوعموم ا استغراق ولې فائده كوی نوځكه چې دايا وضع شوې ده دماهيت كلی لپاره او يا
وضع شوې ده فرد منتشر لپاره اونفی دماهيت كلی اودفرد منتشر مستلزم ده نفی دجميع افرادو لره.
سوال: ته وايې چې تخصيص راغلی دی په عموم سره نوپه تخصيص اوعموم كې خومنافات دی ځكه
تخصيص قلت د شركاؤ ته وايي اوعموم خو شمول اواستغراق ته وايي.
جواب: تخصيص دلته په معنی درفع دا بهام سره دی نو دانكره چې وروسته دحرف نفی نه نوه واقع.
شوی نورفع دا بهام نه وه راغلی اوچی واقع شوه نورفع دا بهام راغله.
سوال: ته وايي چې نكره واقع شی پس دنفی نه دافائده كوی عموم اواستغراق دا قاعده ستامنقوضه
شوه په دې قول دعمررضی الله عنه باندې (تمرة خير من جرادة) دلته تمرة نكره ده اوتخصيص پكې
راغلی دی په عموم سره اودانكره خوپس دنفی نه نده راغلی؟

جواب: دا نکره پس د نفی نه عموم او استغراق فائده کوی او کله کله پس د اثبات نه هم عموم او استغراق فائده کوی لکه دغه قول د عمر (رضی الله عنه) شو یا لکه دا قول د شاعر شو. شعر

قد اصبحت ام الخیار تدعی
علی ذنبا کله لم اصنع

سوال: وما احد خیر منك مثال مطابق نه دی د ممثل سره ځکه احد اسم د ما دی او خیر منك یې خبر دی دا خو مبتدأ نده ځکه مبتدأ هغې ته وایې چې خالي وی د عوامل لفظیو نه او دا خو نده خالي

جواب: دا مثال بنا دی په مذهب د بنی تمیم باندې (**وشر اهر ذا ناب**) دا څلورم مثال د نکرې دی.

پس زده کړه دا خبره چې په دې کې مذهبین دی. (۱) جمهور (۲) سکاکی د جمهور مذهب دا دی چې دا شر مبتدأ ده نکره ده تخصیص پکې راغلی دی په تقدیم د هغه شی سره چې تخصیص راخي په هغې سره په فاعل کې چې هغه تقدیم د فعل دی.

سوال: دلته خو تقدیم د فعل نه دی راغلی؟ **جواب:** دا په اصل کې اهر ذاناب شر وو په اهر کې ضمیر مستتر فاعل وو او ذا ناب مفعول به وو او شر بدل وو د هغه ضمیر مستتر نه او دا په حکم د فاعل کې وو نو دلته تخصیص راغلو په دې کې په دغه فعل سره بیا دا بدل د بدلیت نه او یستلی شو او مقدم شو لپاره د دې چې تخصیص پکې راشي ځکه چې تقدیم د ما حقه التاخیر فائده کوی حصر او اختصاص نو ترجمه د دې په نیز د جمهور باندې دا ده چې خاص شر دی نه خیر چې غپولی یې دی ذاناب دا علم جنس دی کلب لپاره.

سوال: دلیل څه دی په دې خبره چې دا اصل کې اهر ذاناب شر وو؟ **جواب:** دلیل په دې باندې ترجمه د ائمه وو د علم نحو ده چې هغه د دې ترجمه کوی په ما اهر ذاناب الاشر سره په دې کې حصر دی او دا حصر راغلی دی په ما او الا سره او ما او الا خو دلته نشته نو معلومه شوه چې دلته حصر راغلی دی په تقدیم سره ځکه که دلته تقدیم نه وی راغلی او حصر نه وی راغلی نو ترجمه یې په ما اهر ذا ناب الاشر سره نه وه صحیح نو معلومه شوه چې دا اصل کې وروسته وو او بیا مقدم شوی دی؟

سوال: دا چې اصل کې اهر ذاناب شر وو نو دیته فاعل ولې نه وایې چې بدل ورته وایې؟

جواب: دا فاعل نه دی بلکه بدل دی ځکه چې تقدیم د فاعل په فعل باندې نه دی صحیح

سوال: لکه څنګه تقدیم د فاعل په فعل باندې ممتنع دی نو دارنګې تقدیم د بدل په مبدل منه باندې هم ممتنع دی؟ **جواب:** دا تقدیم د بدل په مبدل منه باندې ممتنع دی هله چې دا بدل په خپل حال وی او دلته د بدلیت نه ویستلی شوي دي.

سوال: فاعل چې د فاعلیت نه او باسي نو هم یې تقدیم جائز دی؟

جواب: که فاعل د فاعلیت نه اباسو او مقدم یې کړو نو لازمیږي کون د فعل بلا فاعل او واندی صحیح او بدل چې مقدم شي نو کون د مبدل منه بلا بدل به راشي او دا جائز دی لیکن دا جواب کمزوری دی ځکه فعل بلا فاعل نه پاتې کیږي بلکه فاعل ورله شته چې ضمیر دی لهذا اصلی جواب دا دی چې فاعل مسند الیه دی او مسند الیه رکن اعظم د کلام وی د دې ویستل د فاعلیت نه دا د عمده سره منافی دی، او بل مذهب د سکاکي دی چې په دې کې تخصیص راغلی دی په صفت مقدره سره ای شر عظیم لاحقیر اهر ذا ناب نو عند الجمهور تخصیص جنسی دی او عند السکاکی تخصیص نوعی دی.

سوال: ته وايې چې شرنكره ده اومبتدأ ده اوتخصيص پكښ راغلى دى په صفت مقدره سره نوقرينه په تعيين د صفت مقدر باندې څه ده؟ **جواب:** قرينه داله داتنوين دشردى څكه داللتعظيم دى.

سوال: ته وايې چې نكره مبتداواقع شوى ده اوتخصيص پكښ راغلى دى په صفت مقدره سره ماته بل مثال وښايه؟

جواب: مثال لكه وَطَآئِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ اى وطائفة من غيركم اوقرينهورباندې مخكې ايت دى.

سوال: سكاكى په دې كې تخصيص جنسى ولې نه جوړه وى چې تخصيص نوعى جوړه وى؟

جواب: څكه چې تقديم دمسنداليه چې راشى په مسندفعلى باندې وويلى دحرف نفى نوى نوكله تخصيص فائده كوى اوكله تقوى فائده كوى عندالجمهور، اوعندالسكاكى داتخصيص مشروط دى په شروط ثلاثه ؤ سره. (۱) جواز دتقدير دكون دمسنداليه مؤخر (۲) داكون دمسنداليه مؤخر به يې بالفعل فرض كړى وى. (۳) مانع دتخصيص نه به نوى لكه رجل جاءنى شو خاص سړى راغلى دى ماته نه بنځه (تخصيص جنسى) يا خاص يوسړى راغلى دى نه دوه اونه زيات **تخصيص فردى** دلته اگر چې جواز د تقدير دكون دمسنداليه مؤخر دى اوبالفعل هم معتبر كولى شى خومانع موجود دې دتخصيص نه څكه د دې سره منافى دى موضع داستعمال د ذې تركيب څكه دامستعمل كيږي په مقام دصعوبت كښ نه په مقام دسهولت كې اوتخصيص جنسى هم نه جوړيږى څكه معنى به داشى چې خاص شردى نه خير چې غيبولى يې دى سپى لره دا تخصيص به هله راتلو چې مُهر شرا اوخيردواړه وى ليكن مهرفقط شر دى نه خير نوتخصيص نه صحيح كيږي ليكن جمهوروايى چې مهر شرهم دى اوخير هم دى نولهذا دا تخصيص جنسى شو، **وفى الدار رجل** دا بل مثال دى دنكره مخصصه لپاره دلته رجل نكره ده او مبتدأ واقع شوې ده څكه تخصيص پكښ راغلى دى په تقديم دجارمجرورخبر سره چې فى الدارى څكه كله چې متكلم فى الدار وويل نوسامع ته پته ولگيده چې دامتكلم به د هغه شى ذكر كوى چې صالح د استقرار في الدار وى او غير ترې خارج شو لكه گيدړان شرمخان وغيره اوبعض وايي چې په دې عوج بن عنق خارج شو نو دا تخصيص په معنى دقلت دشركاؤ سره دى

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په قائم رجل سره دلته رجل ته مبتداووايه اوقائم ته خبر ووايه څكه هر كله چې متكلم قائم وويل نوسامع ته پته ولگيده چې وروسته به هغه شى ذكركوى چې صالح لپاره د قيام وى حالانكه دا خو نه دى صحيح

جواب: دا تخصيص په تقديم د خبر سره راځي خوهله چې خبر ظرف وى ياجارمجرورزوى اوكه تقديم د يو اسم راغلى ووبه نكره چې دا خبر ظرف يا جار مجرور نه وو نو په دى سره تخصيص نه راځي څكه دا قائم دلته واقع دى په موضع دغير كې نوتخصيص نه فايده كوى اوظرف اوجارمجرورچى كوم ځاى وى نو هغه د دې ځاى وى. (۲) او قائم رجل كې دا احتمال هم شته چې قائم اسم فاعل اورجل ورله فاعل شى لكه دا مذهب د اخفش دى په خلاف دفى الداررجل نه چې هلته دا احتمال نشته چې فى الدار مبتدأ شى څكه داظرف دى اوپه ظرف اوجارمجرورمبتدأ نه واقع كيږي څكه مبتدأ اوخبر هغې ته وايي چې خالي وى د عامل لفظى نه او دا د عامل لفظى نه نه خالي كيږي په هيڅ حا ل كې.

سوال: لکه څنګه چې مبتدأخالي وي دعامل لفظي نه نو دارنګې خبرهم خالي وي نو بيا ېکارده چې هم واقع نه شي اصلي جواب دا دی چې ظرف مبتدأنه واقع کيږي څکه ظرف اوجارمجرورچې څه کيږي نو په اعتبار د متعلق سره واقع کيږي اوس متعلق به ورله يافعل را اوباسي او يا به ورله اسم را اوباسي، که فعل را اوباسي نوفعل خومبتدأنه واقع کيږي، او که اسم وی نو هغه به مشتقی وی معتبر په مبتدأ کې ذات دی اومشتقی وصف دی. يا دا چې ثابت کائن به را اوباسي نو هغه نکره ده نکره مبتدأنه واقع کيږي، پس زده کړه داخبره چې په فی الدار رجل کې جائزدی تراکيب اربعه اودلته صف دا مثال بناکړی دی په يو ترکيب باندې کمامر (۲) يا داجمله ظرفيه د فی الدارظرف اورجل فاعل دظرف (عندالاخفش) اودوه ترکيبونه غير مشهور دی (۱) دامتعلق دی په ثبت پورې اورجل فاعل دثبت دی (۲) يا دا متعلق دی په ثابت پورې او رجل فاعل دثابت دی (داهم عندالاخفش دی)

وسلام عليك دابل مثال دی دنکره مخصصه لپاره يا لکه وَيۡلٌ لِّلۡمُطَفِّفِينَ وقوله سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِلۡ يَاسِينَ سلام نکره مبتدأ واقع شوې ده څکه تخصيص پکې راغلی دی په نسبت سره متکلم ته څکه مراد د سلام نه سلام د متکلم دی دا اصل کې سلمت سلاما عليك وو، بيا عدول وشو جمله اسميه ته نو سلاما عليك شو بيا عدول وشو د نصب نه رفع ته نوسلام عليك شو ای سلامی عليك يا سلام من قبلی عليك

سوال: عدول يې اسميت ته ولې وکړو؟

جواب: لپاره دقصد د دوام اواستمرارڅکه جمله اسميه دلالت کوی په دوام اواستمرارباندې نه فعليه

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په زيد قائم باندې داجمله اسميه ده اودا خودلالت په دوام او استمرار باندې نکوی **جواب:** جمله اسميه دوه قسمه ده (۱) معدوله (۲) غيرمعدوله. معدوله هغې ته وايي چې د فعل نه جوړه وي هغه دلالت کوي په دوام او استمرارباندې او غير معدوله هغې ته وايې چې ابتداء اسميه وی نو دا به خالي نوی يا به متکلم د دې نه قصد د دوام او استمرار کړی وی او يا به يې نوی کړی که قصديې کړی وو نودلالت به کوی والافلا.

سوال: جمله فعليه دلالت په دوام اواستمرارباندې ولې نکوی؟

جواب: د وجې د وجود د مانع نه چې زما نه ده څکه زمانه جزده د مفهوم دفعل نه اودامانع ده ددوام او استمرار نه او جمله اسميه دلالت کوی په دوام اواستمرارباندې د وجې دعدم وجوددمانع نه چې جزئيت د زمانې دی څکه زمانه جز نه ده د مفهوم د اسم نه.

سوال: په بعض مواضع کې خوويلی کيږي چې دلته عدول شوي دي دماضي نه مضارع ته لپاره ددلالت په دوام اواستمرارباندې **جواب:** استمراردوه قسمه دی (۱) استمرار تجد دې (۲) استمرار دائمی او ثبوتی نو جمله اسميه دلالت کوی په استمراردائمی اوثبوتی باندې اوجمله فعليه مضارعيه دلالت کوی په استمرار تجددي باندې اوجمله فعليه ماضويه دسره دلالت نکوی په استمرار باندې

والخبر قديکون جملة: غرض اومقصد دمصنف د دې عبارت نه تقسيم دخبر دمبتدأ دی نوعيت ته، چې خبر د مبتدأدوه قسمه دی (۱) مفرد (۲) جمله اوقديکون جملة سره يې اشاره وکړه ديته چې کون د

خبر د مفرد اصل دی اوجمله خلاف الاصل دی، الخبر کې الف لام عهدی دی مرادخبر دمبتدأ دی نو
خبر د مبتدأ کله کله جمله راځي عام دی که خبریه وی او که انشائیه وی ځکه مقصوددخبرنه بیان د
مبتدأ دی او بیان د مبتدأ لکه څنګه چې په مفرد سره راځي نو دارنګې په جمله سره هم راځي لیکن
کون د خبر د مبتدأ مفرد اولی دی اوجمله خلاف الاولی ده ځکه خبر دمبتدأ چې مفردراشی نو
(۱) توافق راځي په رکنین د کلام کې اوچې جمله راشی نومخالفت راځي اوتوافق اولی دی دمخالفت
نه (۲) خبر د مبتدأ چې مفرد راشي نو دا مربوط لذاته وی اوجمله مربوطه وی په واسطی دغیرسره او
مربوط لذاته غوره وی دمربوط لغیره نه.

سوال: تا مخکې په تعریف د خبر کې وَیلی ووچې هو المجرد المسندبه الخ، اومراد د مجردنه اسم
مجرد وو نو د هغې نه معلومه شوه چې خبر د مبتدأ به اسم راځي جمله به نه راځي اودلته وایي چې
جمله هم راځي نو دا خوستاپه کلام کې تناقض راغی؟

جواب: دا یو جزئی دی اومستثنی دی ددغه حکم کلی نه ځکه دمصنف دا قانون دی چې یوحکم کلي
بیان کړي او بیا دهغې نه بعد یو جزئی د ذکر کړی نو دا د هغې نه مستثنی وی نو دلته هم داسې دی،
حاصل دا شو چې خبر دمبتدأ اسم راځي نه بل شی مګرجمله راځي په طریقی دقلت سره.

سوال: جمله خبر دمبتدأ ولې واقع کیږي؟

جواب: مقصود د خبر نه بیان دمبتدأوی او دا چې څنګه په مفردسره کیږي نوپه جملی سره هم کیږي

سوال: دا جمله چې خبردمبتدأواقع شی نوپدی کې تاویل نه کوواومبتدأ چې جمله واقع شی په هغې کې
تاویل کوو د اولی؟ **جواب:** بعض داوجه بیان کړیده چې جمله چې مبتدأواقع شی نو تاویلا ترې اسم جوړوو
ځکه مبتدأکی استقلالیت معتبر دی اوجمله غیرمستقله وی ځکه مشتمله وی په نسبت باندې نو اسم
ترې جوړوو چې مستقله شی لیکن داوجه کمزوری ده ځکه څنګه چې مبتدأکی لابدی ده د استقلال نه نو
دارنګې په خبرکی هم لابدی ده داستقلال نه نو بیا پکارده چې جمله خبرواقع شی نوهم دی تاویل وکړی
شی په اسم سره، او بله وجه دا ده چې مسنداومسندالیه کې لابدی ده داستقلال نه لیکن مراد د استقلال
نه استقلال بالمفهومیت دی اوجمله من حیث الجمله مستقله بالمفهومیت ده نو اصل وجه دا ده چې
معتبرپه مبتدأکی ذات دی اومعتبرپه خبر کې وصف دی اوجمله من حیث الجمله مشتمله ده په نسبت
باندې نو داوصف دی نه ذات، بیا مصنف مطلقا ذکرکړه اشاره یې دیته وکړه چې مطلق جمله خبر واقع
کیږي برابره خبره ده که خبریه وی او که انشائیه وی لیکن ابن الانباری او بعض کوفیان وایي چې جمله
خبریه خبر واقع کیږي اوجمله انشائیه خبرنه واقع کیږي ځکه چې مقصود د خبر نه بیان دمبتدأ وی
اوانشائیه د چا لپاره بیان نه واقع کیږي البته خبر واقع کیږي بالتاویل، **مثل زید ابوه قائم**. زیدمبتدأ اول
ابوه مبتدأثانی قائم ورله خبر دی مبتدأ سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه خبر د مبتدأ سره د خبر نه جمله
اسمیه خبریه، او **زیدقام** ابوه مثال د جملې فعلیه دی نو اعتراض دفع شو.

سوال: چې مثال ذکرکولی شی لپاره دوضاحت دممثل او وضاحت د ممثل په مثال واحدسره راځي نو دوه یې ولې ذکر کړل؟

جواب: تعدد د مثال بنادی په تعدد د ممثل باندې جمله خبریه دوه قسمه ده: (۱) اسمیه (۲) فعلیه

سوال: نه وایي چې تعدد د مثال بنا دی په تعدد د ممثل باندې نو ممثل خو څلور قسمه دی: (۱) اسمیه (۲) فعلیه (۳) ظرفیه (۴) شرطیه نو هغه نوردوه یې ولې ذکر نکړل؟

جواب: هر چې جمله ظرفیه نود دې متعلق که فعل را اوباسي نو داخل ده په فعلیه کې او که اسم را اوباسي نو داخل ده په مفردکی اوهر چې ده جمله شرطیه نوپه هغې کې دوه مذهبه دی:

(۱) عندالمناطقه داحکم بین المقدم والتالی دی اوعندالنحاة حکم فقط په جزاء کې دی اوشرط ورله قید دی نو دا جزاء به یاجمله اسمیه وی او یا به فعلیه وی فلایردمایرد.

سوال: دا د نحویانومسئله ده چې تعدد دمبتدأسره دوحدت دخبرنه دی جائزنوزید ابوه قائم کې خو راغلی دی مبتدأ ګانې دوه دی او خبر یودی اوداجائز نه دی بالاتفاق

جواب: په زیدابوه قائم کې تعدد د مبتدأسره دوحدت دخبر نه نه دی راغلی بلکه تعدددمبتدأسره د تعدد د خبر نه راغلی دی څکه زید مبتدأ اوله ده اوابوه مبتدأثاني ده اوقائم خبردمبتدأثاني دی او دا جمله خبر دمبتدأ اولی دی اوستا اعتراض به هله راتلو چې قائم خبر د دواړو وی، هرکله چې جمله خبر د مبتدأ واقع شی اوجمله من حیث الجمله مستقله ده په دې شان سره چې مفیده دفائده تامی ده مخاطب ته او په دی کې محتاج نه ده امراخر ته نو داربط نه غواړي دغیر سره نولابدی ده دیو رابط نه چې د هغې په سبب سره د دې جملی ربط اوتعلق راشی د دې مبتدأسره نووی ویل چې **فلابدمن عائد**. او لفظ د عائد یې ذکر کړو نه ضمیر اشاره یې وکړه تعمیم ته برابره خبره ده که ضمیر وی لکه په دې مثالونو مذکورو کی شو. (۲) او که الف لام وی نحونعم الرجل زید. (۳) او که وضع الظاهر موضع المضمر وی نحو﴿ اَلْحَاقَّةُ مَا الْحَاقَّةُ ﴾ ﴿ اَلْقَارِعَةُ مَا الْقَارِعَةُ ﴾ (۴) او که کون دخبر مفسر لپاره دمبتدأ وی لکه ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾

فاذكان الخبر جملة فلابدمن عائد.سوال: خبردمبتدأ چې جمله وی نو ولې لابدی ده د عائد نه؟

جواب: څکه داجمله من حیث الجمله مستقله ده بنفسها په دې شان سره چې دلالت کوی په معنی خپله باندې بالذات اومحتاج نده امرخارج ته نودچاسره ربط نه غواړي نولابدی ده درابط نه چې ربط یې پیدا کړی د مبتدأ سره.

سوال: جمله خو غیر مستقله ده څکه دامشتمله ده په نسبت باندې اونسبت غیرمستقل دی او شی چې مرکب شی دمستقل اوغیرمستقل نه نو هغه غیر مستقل وی نو ته څنګه وایي چې دامستقله ده؟

جواب: په دې جمله کې جهتین دی د دې جهت نه چې مشتمله ده په نسبت نوغیرمستقله ده اود دې جهت نه چې دلالت کوی په معنی خپله اومحتاج نده غیرته نومستقله ده.

سوال: ته وايي جمله چې خبر واقع شي لابدی ده درابط نه اورابط څلور قسمه دی، دا قاعده دی منقوضه شوه په دې قول دالله (ج) ﴿وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ﴾ دلته ذالك خير جمله اسميه خبريه دی اورابط نشته

جواب: هذه من قبيل قوله تعالى ﴿الْحَاقَّةُ مَا الْحَاقَّةُ﴾ يعني دلته وضع الظاهر موضع المضمر ده څکه داموضع د ضمير وو اودلته یې اسم ظاهر ذکر کړی دی چې اسم اشاره ده. (۲) يا جواب دا دی چې رابط پنځه قسمه دی څلوردغه مذکوراو پنځم اسم اشاره ده.

پس زده کړه دا خبره چې جمله چې خبر دمبتدأ واقع شي نورابط پکې څلوريا پنځه قسمه راځي. اوجمله چې حال واقع شي نولابدی وی درابط نه اورابط درې قسمه وی (۱) بالضميروحده (۲) بالواوحده (۳) بالضميروالواو معا اوجمله چې صله ياصفت واقع شي نوهم لابدی وی درابط نه اورابط به فقط ضمير وی نه بل شی.

سوال: جمله چې خبر د مبتدأ وی نو رابط پنځه قسمه ولې شو اوچې حال وی درې قسمه ولې شو اوچې صله ياصفت وی نو يو قسم ولې شو؟

جواب: السند عليه التتبع والاستقراء (۲) جمله چې خبردمبتدأ واقع شي نورابط څلوريا پنځه قسمه څکه دی چې خبر د ضروریاتو د مبتدأ نه دی نولابدی ده دمطلق رابط نه، اوجمله چې حال وی نو حال فضله دی نو لابدی ده د رابط قويه نه چې واو يا ضمير يادواړه دی، په خلاف دصفت نه دادضروریاتو دموصوف نه نه دی نو لهذا لابدی ده درابط مشهوراو قوی نه او دا ندی مگر ضمير دی

سوال: لکه څنگه چې خبر دضروریاتو دمبتدأ نه دی نو دارنگې صله هم دضروریاتو دموصول نه ده نو پکار ده چې هلته هم رابط څلورقسمه راشي.

جواب: صله اگر چې دضروریاتو دموصول نه ده ليکن رابط یې فقط ضمير راځي نه غيرد وجې د اشتراك د صلې نه دصفت سره په تقييد کې.

سوال: ته وايي چې جمله خبر دمبتدأ واقع شي نوېدی کې لابدی ده درابط نه نو دا قاعده ستامنقوضه شوه په زيدضربت سره دلته رابط نشته دارنگې منقوضه شوه په البرالكر بستين درهما سره دلته البر مبتدأ اول الكر مبتدأ ثاني ستين مبهم مميز اودرهما ورله تميز دی مميز سره دتمييزنه خبر د مبتدأ ثاني مبتدأ مع الخبر جمله خبر دمبتدأ اولی. دارنگې السمن منوان بدرهم السمن مبتدأ اوله منوان مبتدأ ثاني بدرهم ورله خبر دی داجمله خبر دی دمبتدأ اولی لپاره اورابط پکې نشته

جواب: وقديحذف کله کله حذف کولی شي عائددجمله دخبر دمبتدأ په وخت دوجوددقرينې دالې کې په تعين د محذوف باندې که ضمير ووته نورڅکه ضمير مشهوردی نو که حذف شي نوذهن دمخاطب ورته سبقيت کوی د وجې دشهرت نه او که نورحذف شي نوذهن دسامع ورته سبقيت نکوی، نو زيد ضربت اصل کې ضربته وواوالبرالكرمنه بستين درهما وو اوالسمن منوان منه بدرهم وو او قرينه داله په دې باندې حال دی څکه بائع دسمن قيمت نکوی مگر د هغه خپل سمن نه او بائع دبر قيمت نکوی

مګر د هغه خپل برنه، اوس کله چې مونږه دمنوان نه وروسته منه مقدرراوپستونویدی سره بل اعتراض دفع شو اعتراض دا دی چې منوان خو نکره محضه ده نو دا څنګه مبتدأ واقع شوی ده؟

جواب: دانکره محضه نده بلکه نکره مخصصه ده تخصیص پکې راغلی دی په صفت مقدره سره چې منه دی. **وماوقع ظرفا فالاکثر علی انه مقدر بجملة:** په دې مقام کې لابدی ده دمعرفت د اموراربعه ؤ نه (۱) ربط. (۲) غرض دماتن. (۳) ترکیب. (۴) دفع داعتراضاتو. نوربط خودا دی چې هرکله چې ماتن فارغ شو د یوې نوع دخبر نه چې جمله وه نوشروع یې وکړه په بله نوع دخبر کې چې ظرف دی، اوغرض دماتن د دې بیان دنوع دخبرنه اود دې عبارت نه اختلاف دفریقینو دی په تعیین دمصداق دنوع د خبر کې چې **هغه** ظرف دی، **وما** اوهغه خبر **وقع** چې واقع شي داخبر **ظرفا** محتاج متعلق ته بیا عام دی که ظرف زمان وی اومکان وی او که جارمجروروی، **فالاکثر** پس اکثردنحویانونه چې بصریان دی هغو ذهاب کړی دې چې **انه** په تحقیق سره داخبر ظرف **مقدر** مؤل دی **بجملة** په تقدیر دفعل سره څکه هر متعلق عامل وی په متعلق خپل کې اواصل په عمل کې فعل دی لهذا دلته فعل مقدردی اواقل د نحاتو نه چې کوفیان دی هغوی ذهاب کړی دی دی خبری نه چې د دې ظرف اوجارمجرورمتعلق اسم مقدر دی څکه داظرف اوجارمجرورخبردی اواصل په خبر کې افراد دې لپاره د دې چې موافقت راشي په رکنین د کلام کې او دا به مفرد هله شي چې متعلق یې اسم را اوباسي او که متعلق یې فعل را اوباسي نوتوافق نه راځي په رکنین د کلام کې اوتوافق اولی دی دمخالفت نه

ترکیب: ماموصوله وقع صیغه واحدمذکرفعل ماضی ضمیر پکې مستتر دی چې راجع دی ماته هغه ورله فاعل ظرفا ورله مفعول به فعل سره دفاعل اومفعول به جمله صله شوه دموصول اوموصول مع الصلة مبتدأفاء جزائیه الاکثرصیغه واحدمذکر اسم تفضیل علی جارانه مقدربجمله مجرور دامتعلق دی اکثرپورې اسم تفضیل سره دمتعلق نه خبر دمبتدأمبتدأسره دخبر نه جمله اسمیه خبریه.

سوال: ته وایې چې **ظرفا** منصوب دی بنابر مفعول به دوقع لپاره نووقع خوفعل لازم دی اوفعل لازم عمل د نصب بنابرمفعول به نکوی. **جواب:** (۱) داظرفامنصوب بنابرمفعول به نه دی بلکه داحال دی دضمیر دوقع نه. (۲) یا دامنصوب دی بنا برخبریت دوقع لپاره څکه داوقع فعل دی دافعال ناقصه غیر مشهورو نه. (۳) یا دامنصوب دی بنابرمفعول به خووقع مطلقا لازم نه دی بلکه داوقع دوه قسمه دی یو مشتق دی د وقوعا نه او بل مشتق دی د وقعا نه قسم اول لازم دی اوقسم ثانی متعدی دی او دا مشتق دی د وقعا نه

سوال: وما وقع ظرفا مبتدأ ده او فالاکثر الخ خبردی اوپه خبر د مبتدأ کې خو فاء عاطفه نه راځي څکه عطف د خبر خوپه مبتدأ باندې نه دی جائز نو دلته ولې راغلی ده. **جواب:** دافاء عاطفه نده بلکه فاء جزائیه ده څکه مبتدأمتضمن ده معنی دشرط لره څکه مبتدأ واقع شوې ده موصول اوصله یې فعل دی.

سوال: ظرف دوه قسمه دی: (۱) ظرف حقيقي (۲) ظرف مجازی ظرف حقيقي هغې ته وايي چې دلالت کوی په زمان اومکان باندې اومجازی جارمجرورته وايي نو دلته دظرف نه حقيقي اخلی که مجازی که دواړه، که دواړه اخلی نوجمع راغله بين الحقيقة والمجازاوداده جائز او که يو اخلی نوتخصيص د حکم په احدهما پورې باطل دی؟ **جواب:** زه دواړه اخلم اودا عبارت دمصنف بنادی په مذهب د هغه چا باندې چې داجائزوايي. (۲) يا دلته عموم مجازاخلم يعني هغه خبر چې محتاج وی متعلق ته بياعام دی زمان وی او که مکان وی او که جارمجرور وی

سوال: ته وايي چې علی انه مقدر بجملة داخبرظرف مقدردی نوزيدفی الداراوزيدعندك کې خوظرف مقدر نه دی بلکه مذکوردی او بل تاوويل چې مقدربه وی په جملی سره اودلته خوجمله نده مقدره؟

جواب: مقدرپه دوه معانيو سره راځي: (۱) بمعنی مؤول چې مقابل دظاهردی (۲) مقابل دمذکور په معنی دمحذوف سره نو دا اعتراض به هله راتلوچې دابمعنی محذوف وی مقابل دمذکورليکن دا بمعنی مؤول دی مقابل دظاهراوقرينه ورباندې دا ده چې دا دې په صله کې باء راغلی ده اوچې بمعنی حذف وی نوبه صله کې يې فی راځي اومقدردی په تقديردفعل سره. پس زده کړه داخبره چې ظرف په دوه قسمه دی: (۱) ظرف لغوه (۲) ظرف مستقر.

وجه دحصر: پکې دا ده چې عامل د دې به خالي نوی يا به مذکور وی او يا به محذوف وی که مذکور وو نو ظرف لغوه او که محذوف وونوظرف مستقر

سوال: چې عامل يې مذکوروی نوظرف لغوه ورته وايي، اوچې محذوف وی نوظرف مستقرورته ولې وايي؟ **جواب:** ظرف مستقرته مستقرځکه وايي چې عامل يې حذف شوی وی اوداقائم شوي دي په مقام د هغې نوقراريې نيولی دی.(۲) د دې عامل حذف شوی دی اودهغې فاعل راغلی دی اومستترشوي دي په دې کې اوقراری يې پکې نيولی دی اوظرف لغوی ته لغوه وايي د وجې دلغويت دنيابت د دې نه په مقام دعامل باندې (۳) د وجې دلغويت داستتاردضمير دعامل نه پديکې، اوظرف مستقرپه متعلق کې دوه مذهبه دی: (۱) بصريان (۲) کوفيان بصريان فعل را اوباسي ځکه هغه وايي چې متعلق عامل وی په متعلق خپل کې اواصل په عمل کې فعل دی نوعامل قويه راويستل پکاردی او کوفيان اسم راواوباسي ځکه هغه وايي دا ياخبر وی ياصفت وی ياحال وی اواصل په خبراوصفة اوحال کې افراد دي اوداخلاف د دې فريقينو جاری دی هرځای کې مګر دوه ځايونوکی اختلاف نشته (۱) چې ظرف اوجارمجرورصله دموصول واقع شي نودی کې کوفيان تابع دبصريين ګرځيدلی دی متعلق فعل را اوباسي ځه صله دموصول نه وی مګر جمله وئ اوجمله به هله شي چې فعل مقدرشي مثال لکه الذی فی الدارفله درهم ای ثبت فی الدار (۲) چې ظرف ياجارمجرورصفت واقع شي دمعرفه لپاره نو بصريان تابع دکوفيانو ګرځيدلی دی اومتعلق اسم راواوباسي ځکه صفت دمعرفه نوی مګرمفردوی مثال لکه البر الکرمنه بستين درهما ای ثابت منه اود دې ځای نه معلومه شوه چې خبر د مبتدأ څلور

قسمه دی: (۱) مفرد نحو هذا زید. (۲) جمله نحوزیدابوه قائم. (۳) ظرف نحو زید عندك. (۴) جار مجرور نحو زید فی الدار، نوخبر دمبتدأ چې ظرف او جار مجرور راشی نودی کې خومذهبین دی کما مر، او خبر چې جمله راشی نودی کې لابدی وی دعائدنه کمامر، او خبر چې مفرد وی نو دا به خالي نوی یا به جامدوی او یا به مشتقی وی که مشتقی وونویا به رافع وی اسم ظاهرلره او یا به نوی که رافع دو اسم ظاهر لره نوخالي به وی دضمیر نه نحوزیدقائم ابوه، او که رافع اسم ظاهر لره نه وونومشتمل به وی په ضمیر باندې لکه زیدقائم، او که اسم جامدوونو بیا به خالي نوی یا به مؤل بالمشتقی وی او یا به نوی که وو نومشتمل به وی په ضمیر باندې نحوزیداسد، ای شجاع او که نه وونوخالي به وی د ضمیر نه نحو هذا زید.

واذا کان المبتدأ مشتملا علی ماله صدرالکلام: هرکل چې فارغ شو دحکم اصلی اوذاتی مبتدأنه چې تقدیم د مبتدأ وو په خبرباندې په طریقه داولویت سره نوشروع یې وکړه په حکم عارضی دمبتدأ کې چې تقدیم د مبتدأ دی په خبر باندې وجوبا د وجې دامرعارض نه، اودامبتدأمقدم کیږي په خبر باندې وجوبا د وجې د امر عارض نه په پنځه ځایونوکی اومصنف څلورذکر کړی دی: (۱) **اذاکان المبتدأ الخ**، کله چې دا مبتدأ مشتمله وه په هغه معنی باندې چې ثابت دی ددال د دې معنی لپاره **صدر الکلام** اولیت د کلام، او دا اشتمال عام دی که دقبیلې داشتمال ددال نه وی په مدلول باندې او که په طریقه دمجاورت سره وی بیا تقدیم دمبتدأ په خبر باندې واجب دی لپاره د دې چې لازم نه شی فوت د صدارت د ما له صدر الکلام.

سوال: ما له صدر الکلام کې به ماعبارت دمعنی نه وایي یا به یې دلفظ نه وایي که دمعنی نه یې وایي نو ماقبل ورسره ولګیدو لیکن له صدرالکلام ورسره نه لګی ځکه چې صدرات صفت دلفظ دی نه د معنی او که عبارت یې دلفظ نه وایي نومابعد ورسره لګی خوماقبل ورسره نه لګی ځکه دامبتدأ په معنی باندې مشتمله ده په لفظ نده مشتمله؟ **جواب:** زه دا عبارت دمعنی نه وایم او که ته وایي چې مابعد ورسره نه لګی نوزه وایم چې صدرات د کلام صفت دلفظ دی حقیقتا خودایی ثابت کړی دی معنی لره مجازاځکه صفات دلفظ ثابتیږی معنی لره اوصفات دمعنی جاری کیږي په لفظ باندې. (۲) یا دا عبارت د مصنف بنا دی په حذف دمضاف سره د لام جاره او د ضمیر مجروریه مینځ کې مضاف مقدر دی ای لداله صدر الکلام.

سوال: ماله صدرالکلام څه شی دی ماته مثال وبنایه؟ **جواب:** لکه استفهام شونحومن ابوك. (۲) شرط نحو من یکرمنی اکرمه. (۳) ضمیر شان نحوهوزیدمنطلق. (۴) دخول دلام الابتداء تاکیدیه نحو لزید منطلق. (۵) تعجب نحو ما احسن زید. (۲) چې مبتدأ متضمن وی معنی دحرف شرط لره نحو الذی یاتینی فله درهم.

سوال: دا استفهام وغیره تقاضه دصدرات د کلام ولي کوی د دې لپاره صدارت ولې ثابت دی؟

جواب: لپاره د دې چې دلالت وکړی په نوعیت د کلام داول وهلت نه.

سوال: ته وایې چې مبتدأ مشتمله وی علی ماله صدر الکلام نو تقدیم یې واجب دی نو غلام من جائك کې تقدیم واجب دی او مبتدأ متضمن نده ماله صدر الکلام بلکه متضمن ماله صدر الکلام لره خو مضاف الیه دی چې من دی؟

جواب: دا اشتمال عام دی که دقبیلې داشتمال ددال نه وی په مدلول باندې او که په طریقه دمجاورت سره وی مثال لکه **من ابوك** من مبتدأ او ابوك یې خبر دی داجمله انشائیه اسمیه استفهامیه نو دلته ابوك من نه دی جائز بل مثال لکه ما اسمك، کم رجلا اخوتك.

سوال: دا مثال مطابق نه دی دممثل سره ځکه من ابوك کې ابوك مبتدأ ده او من خبر مقدم دی او خبر مقدم شوی دی وجوبا ځکه متضمن دی ماله صدر الکلام لره ځکه ابوك معرفه ده او من نکره ده او قانون دا دی چې دوه اسمونه راشي یو معرفه وی او بل نکره وی نو معرفه به مبتدأ وی او نکره به خبر وی.

جواب: دی کې دوه مذهبه دی: (۱) جمهور (۲) سیبویه عند السیبویه من مبتدأ او ابوك یې خبر دی او عند الجمهور من خبر مقدم دی او ابوك مبتدأ مؤخره ده او مختار عند المصنف مذهب دسیبویه دی نو ځکه یې ذکر کړی دی دا په مثال کې.

سوال: دا اختلاف ولې راغلو؟ **جواب:** جمهور ابوك ته مبتدو وایي او من ته خبر وایي ځکه هغوی دی قاعدې ته ګوری چې دوه اسمونه وموندی شي په کلام دعرب کې او یو معرفه او بل نکره وی نو د معرفې نه به مبتدأ جوړوی او دنکرې نه به خبر جوړوی اګرچې معرفه وروسته وی او نکره مخکې وی او دلته هم ابوك معرفه ده او من نکره ده، او په سیبویه باندې باعث دابله قاعده دنحویانو ده چې اصل په مبتدأ کې تقدیم دی په خبر باندې لهذا تر څو چې دمقدم نه مبتدأ جوړیده نو مبتدأ به جوړه وی لپاره د دې چې مقدم شی مبتدأ په خبر باندې په طریقه داولویت سره نو من اګرچې لفظا نکره ده خو معنا معرفه ده ځکه دا اصل کې داسې وو چې ازید ابوك ام عمرو ام بکر الخ، بیایې د هغه جزیات دمسئول عنه نه تعبیر کړی دی په من سره او جمهور د دلیل د سیبویه نه جواب کوی چې اولی او راجح په مبتدأ کې تقدیم دی خو په وخت دعدم وجود دمانع کې او دلته مانع موجود دې پس زده کړه داخبره چې سیبویه په دوه ځایونو کې د نکرې نه مبتدأ جوړه وی او د معرفې نه خبر جوړه وی یو دلته او بل چې صیغه د اسم تفضیل صفت واقع شوی وی د نکرې لپاره او مستعمل شوی وی په من سر نحو مررت برجل افضل منه ابوه، عند الجمهور افضل منه خبر مقدم او ابوه مبتدأ مؤخره او عند السیبویه افضل منه مبتدأ او ابوه یې خبر دی ځکه صیغه د اسم تفضیل چې مستعمل شی په من سره دا معرفه ده حکما ځکه په معرفه باندې دخول دالف لام ممتنع دی په دې هم ممتنع دی. (۲) اضافت د معرفه ممتنع دی د دې اضافت هم ممتنع دی.

سوال: مررت برجل افضل منه ابوه کې داسې ترکیب ولې نکوی چې افضل اسم تفضیل ابوه یې فاعل دی او شبه جمله صفت دموصوف دی. **جواب:** داسې ترکیب زه نه شم کولی ځکه چې عمل د اسم تفضیل د رفع بنا بر فاعلیت په اسم ظاهر کې مشروط دی په شروط ثلاثه ؤ سره: (۱) لفظ کې به ثابت وی

ماقبل لره اوپه معنی کې به ثابت وی مابعدلره. (۲) مفضل اومفضل علیه به متحدوی بالذات او متغائر به وی بالاعتبار. (۳) پس دحرف نفی نه به وی اودلته دایو شرط هم نشته.

او کانا معرفتین: دویم تقدیم دمبتدأواجب دی په خبر باندې چې کله دواړه معرفی وی په دې شان سره چې دا دواړه برابروی په اصل تعریف کې بیاعام دی که تعریف داحدهما زیات وی په اخرباندې او که مساوی وی نوتقدیم دمبتدأپه خبر باندې واجب دی په وخت دعدم وجود دقرینه داله کې په تعیین د احدهما باندې مبتدأ اواخرباندې خبرنحوزیدابوك، زید مبتدأ او ابوك خبر دی محمد رسول الله، الله الهنا، الله ربنا، په دې تولو مثالونوکی تقدیم دمبتدأواجب دی په خبر باندې په دې شان سره چې متکلم په عقیده کې کومه مبتدأ وی هغه به ذکرکوی اولااوخبربه ذکرکوی ثانیا اوس یواعتراض دفع شو.

سوال: ته وایې چې دوه اسمونه یو ځای راشی اودواړه معرفی وی نوتقدیم دمبتدأواجب دی اوهدایة النحو کې دا قاعده ذکرده چې کله دوه اسمونه معرفی راشی نودکوم نه چې مبتدأجوړوی ستاخوښه ده نو د دې اودهغې منافات دی ځکه دهغې نه معلومه شوه چې تقدیم یې واجب ندی.

جواب: د دې او د هغې په مینځ کې منافات نشته ځکه دهغې مقصددا دی چې کوم یودې خوښه وی د هغې نه مبتدأ جوړوه بیا به هغه مقدم کرځوی بل مثال لکه زیدالمنطلق تقدیم دمبتدأ چې زید دی واجب دی په خبر چې المنطلق دی عندالجمهورخلاف ثابت دی امام رازی لره ځکه د هغه په نزباندې تقدیم نه دی واجب د وجی د وجود د قرینې دالی نه په کون داحدهما مبتدأ اوپه کون داخرباندې خبر ځکه هغه وایي چې زیدمبتدأ ده اومنطلق خبر دی بیاکه مخکې وی او که وروسته وی ځکه یوځای چې اسم جامد او مشتقی راشی نود اسم جامدنه به مبتدأجوړه وی او د مشتقی نه به خبر جوړوی ځکه مشتقی دلالت کوی په وصف باندې اومبتداکی معتبر ذات دی.

سوال: دا قاعده ستامنقوضه شوه په ابوحنیفة ابویوسف باندې اوپدی قول دشاعرباندې شعر:

بنونا بنوابنائنا وبناتنا   بنوهن ابناء الرجال الاباعد

دلته ابوحنیفة خبر مقدم دی اوابویوسف مبتدأمؤخره ده اوتقدیم دخبر راغلی په مبتدأ اودواړه معرفی دی دارنګې بنونا خبر مقدم دی اوبنوابنائنا مبتدأ مؤخره ده دواړه معرفی دی اوتقدیم دخبر راغلی په مبتدأ باندې. **جواب:** مونږه وایوچې دا دواړه معرفی وی نوتقدیم واجب دی خوهله چې قرینه موجود نه وی په کون د احدهما باندې خبر او اخر مبتدأ او که قرینه موجودوه نو بیاتقدیم واجب ندی، اودلته په ابوحنیفة او ابویوسف کې قرینه موجود ده چې ابویوسف مبتدأ ده اوابوحنیفة خبر دی ځکه دا اصل کې کلام تشبیهی ووای (ابویوسف کابی حنیفة) ووبیا ادات حذف شو اوترکیب اسنادی ترې جوړشو او قانون دا دی چې د کلام تشبیهی نه ته مبتدأ اوخبر جوړوی نودمشبه به نه خبر جوړوی اومشبه نه مبتدأ اومشبه به هغه وی چې وجه دشبه پکې زیاته وی اومشبه کې کمه وی اوس ابوحنیفة مشبه به دی ځکه دلته تشبیه په فقه اواجتهادکی ده اودازیاته ده په ابوحنیفة کې نومعلومه شوه چې ابویوسف مبتدأ ده اوابوحنیفة یې خبر دی نوکه مقدم یې وایي او که مؤخر یې وایي دواړه جائز دی اودلته مقدم شوی دی دوجې داحترام نه ځکه دا استاذدابویوسف دی اود دې معنی دا ده چې ابوحنیفة دی ابویوسف.

او بنونا بنوابنائنا الخ، کې هم قرينه موجوده په کون واحد هما مبتدأوالاخر خبر چې هغه تشبيه ده څکه مقصود د شاعر په دې شعر کې تشبيه د اولاد د ابناؤ ده د بناء خپلوسره نه تشبيه د ابناؤ خپلو دا بناء الابناء سره څکه تشبيه دضعيف ورکول کيږي دقوي سره نه بالعکس اوابناء قوي دي دا بناء الابناء نه او دا قاعده ده چې مشبه په ترکيب کې مبتدأوي اومشبه به خبر وي که مخکې وي او که وروسته وي (۲) او بل دا که داول نه مبتدأجوړه کړو اودثاني نه خبر جوړ کړونولازميږي فسادد معنى **اومتساوين** يادواړه مساوي وي په مرتبه دتخصيص کې نحوافضل منك افضل مني، اسن منك، اسن مني نو دلته هم تقديم دمبتدأواجب دي په خبر باندې څکه که واجب نه شي نوالتباس دخبرراځي دمبتدأسره په نسبت سره مخاطب ته څکه داخبر د وجې د تخصيص نه صالح لپاره دابتدائيت دی.

اوكان الخبرفعلا له: ياوي داخبر فعل داسې فعل چې ثابت دی مبتدألره يعنې خبر دمبتدأجمله فعليه راغلې وه. (۲) اوفاعل د دې فعل ضمير ووضمير عام دی که بارزوي او که مستتروي نوتقديم دمبتدأ واجب دی په خبر باندې مثال لکه زيدقام، زيدمبتدأقام فعل ضمير پکې مستتر دی هغه ورله فاعل فعل سره دفاعل نه خبر دمبتدأمبتدأسره دخبرنه جمله اسميه ده اوس دلته تقديم دزيدپه قام باندې واجب دی او که خبر دمبتدأ جمله اسميه وه نو بياتقديم دمبتدأپه خبر باندې واجب نه دی مثال لکه زيد ابوه قائم شو ستا خوښه ده که زيدابوه قائم وايي او که ابوه قائم زيدوايي د وجې دعدم وجود د التباس دمبتدأ نه د غير سره. (۲) اوخبر جمله فعليه وه خوفاعل دفعل اسم ظاهر وونوهم تقديم دمبتدأ نه دی واجب نحوزيدقام ابوه نوقام ابوه زيدهم جائز دی د وجې دعدم التباس نه دغيرسره. (۳) او که خبر د مبتدأ جمله فعليه وه اوفاعل دفعل ضميروو بياعام دی که مستتروي لکه زيد قام او که بارزوي لکه الزيدان قاما، الزيدون قاموانوتقديم واجب دی هر چې دی په صورت دمفرد کې نولپاره د دې چې لازم نشي التباس د مبتدأ د فاعل سره اوهر چې دی په صورت دتثنيه اوجمع کې نولپاره د دې چې لازم نشي التباس د مبتدأ دبدل سره يا التباس راځي دمبتدأ اودفاعل په مينځ کې که واو او الف محض علامه دتثنيه يا جمع شي پس زده کړه دا خبره چې دفعل اسناد شوي وو ضمير بارز ته او د هغې نه وروسته اسم ظاهر راشي مثال لکه قاما الزيدان قاموالزيدون نوديته د دوي په اصطلاح کې باب د ﴿وَأَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ اوباب داکلوني البراغيث وايي، د دې وجې نه سيبويه کتاب ليکلی دی په نحوه کې مسمی دی په الکتاب سره په هغې کې يې يوباب ايخودی دی باب ﴿وَأَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ او په دې کې تراکيب اربعه دي:

(۱) اسرواکې واو ضمير بارزمبدل منه الذين ظلموابدل دی دامجموعه فاعل دی داسرلپاره.

(۲) داضميرفاعل دی داسروالپاره داجمله فعليه خبر مقدم اوالذين ظلموامبتدأمؤخره.

(۳) داواو محض علامه دجمع او الف علامه دتثنيه ده ضميرندي اومابعد اسم ظاهرفاعل دی فقط اوداواو او الف ذکر شوي دي لپاره د دې چې دلالت وکړي په تثنيت دفاعل ياجمعيت دفاعل باندې

داول وهلت نه. (۴) څلورم ترکیب دا دی چې داواو او الف ضمیر فاعل دی د دې فعل اوفعل سره دفاعل نه جمله فعلیه اومابعد اسم ظاهر فاعل دفعل مقدردی اوهغه فعل حذف شوي دي جوازا د دقرینې دالی نه په تعیین دمحذوف باندې چې هغه سوال مقدردی ځکه هرکله چې داسې وویلی شوچې اسروا النجوی نوسائل سوال وکړو چې من اسرها نوجواب وشو چې الذین ظلموا ای اسرالذین ظلموا (۵) پنځم موضع د هغه مواضعو نه چې تقدیم دمبتدأ پکی واجب دی هغه دا دی چې حصر د مبتدأ راغلی وی په خبر پورې لکه وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ دلته تقدیم دمحمدواجب دی

وجب تقدیمه هر چې دی په صورت اولی کې نو لپاره د دې چې لازم نه شی فوت دصدرات دماله صدر الکلام او هر چې دی په صورت ثانی اوثالث کې لپاره د دې چې لازم نه شی التباس دمبتدأدفاعل سره یادبدل سره، اوهرچې دی په صورت خامس کې نولپاره د دې چې لازم نه شی انقلاب دحصر مطلوب پنسبت سره سامع اومخاطب ته.

واذاتضمن الخبر المفردماله صدر الکلام: هر کله چې فارغ شو مصنف دبیان دمواضع اوتراکیب دتقدیم وجوبی د مبتدأنه په خبر باندې نوشروع وکړه په بیان دمواضع دتقدیم وجوبی دخبرکی په مبتدأباندې (۲) یا هرکله چې فارغ شو دبیان د هغه اسباب نه چې هغه مقتضي وو وجوباد تقدیم د مبتداء په خبر باندې نو شروع یې وکړه په هغه اسباب کې چې مقتضی دتقدیم دخبردی په مبتدأ باندې وجوبا اذاتضمن الخبر که متضمن شی خبر دمبتدأداسې خبر المفرد چې مفرد دی صورتاً په دې شان سره چې جمله نه وي ما هغه معنی لره له چې ثابت دی د دې معنی لپاره یاددال د دې معنی لپاره، صدرالکلام او لیت د کلام، مثال لکه این شو په این زید کې چې این خبر مقدم دی اوزید مبتدأمؤخره ده نوتقدیم داین واجب دی ځکه دامتضمن دی ما له صدر الکلام لره چې استفهام دی کمافی الحدیث (متی الساعة یارسول الله) متی خبر مقدم دی متضمن دی ما له صدر الکلام لره، اوالساعة مبتدأمؤخره ده اوتقدیم د متی واجب دی لپاره د دې چې لازم نه شی فوت د صدرات د ما له صدر الکلام.

سوال: مصنف مخکې ویلي وو چې واذا کان المبتدأمشتملا اودلته یې واذا تضمن وویل دا ولې؟

جواب: دتضمن او د اشتمال مقصدپودی خوداهسی تفنن فی العبارت دی حسن عارضي پیداکوی؟

سوال: نه وایې چې واذا تضمن الخبر المفرد نو مفرد خو د نحویانو په اصطلاح کې په څلورو معنو سره راځي (۱): مقابل دمرکب لکه الکلمة لفظ الخ. (۲): مقابل دمثنی اومجموع نحو فالمفرد المنصرف. (۳): مقابل دمضاف شبه مضاف لکه منادی مفرده معرفه. (۴): مقابل د جمله نو دلته مفرد په کومه معنی سره دی؟ جواب: دلته مفرد مقابل د جمله دی نو پدې سره یې احتراز وکړو د هغه خبر نه چې جمله دی او متضمن وي ما له صدر الکلام لره هلته تقدیم د خبر واجب نه دی نحو زید من ابوه تقدیم د من ابوه په زید باندې واجب نه دي ځکه چې دا خبر جمله ده او من تقاضه د صدرات کوی په خپله جمله کې اوبه خپله جمله کې دامقدم دی.

سوال: ته وايې چې مفرد مقابل د جمله دى نو اين زيددا مثال مطابق نه دى د ممثل سره ځكه اين خو مفردندى بلكه جمله ده ځكه اين ظرف دى اوظرف چې خبروى نو دامؤول بجملة وى نوته ورته مفرد ځنګه وايې؟ جواب: مراد د مفرد نه مفرد صورتا دى او اين هم صورتا مفرد دى.

سوال: ته وايې چې اين خبر مقدم دى اوزيد مبتدأ ده نوخبر مرفوع وى اواين منصوب دى؟

جواب: خبر مرفوع وي خو دارفع عامه ده كه لفظاوى او كه تقديرا وى او كه محلا وي دامبنى على الفتحة دى اومرفوع محلا دى.

سوال: داولى مبنى شو؟ جواب: ځكه چې دامتضمن دى معنى دحرف استفهام لره

سوال: مبنى على الفتحه ولې شو؟ جواب: ځكه چې فتحه اخف الحركات دى

اوكان مصححا: يا وو دا خبر په اعتبار د تقديم سره مصحح لپاره دابتدائيت مبتدأنو تقديم دخبر واجب دى مثال لكه فى الداررجل شو دلته تقديم دفى الدارواجب دى په رجل باندې ځكه دارجل مبتدأواقع شوى ده د وجې دتقديم دفى الدارنه والادانكره محضه ده مبتدأنشى واقع كيدى

سوال: ته وايې چې خبر مصحح وولپاره دمبتدأنوتقديم يې واجب دى دا قاعده ستا منقوضه شوه په زيد قام سره ځكه دلته قام مصحح لپاره دابتدائيت دمبتدأ دى ځكه چې داقام چې د دې نه وروسته نه وى بلكه مخكې وى نو بيا خودازيد مبتدأنه واقع كيږي بلكه دا به بيا فاعل وى

جواب: داخبر چې مصحح وى دمبتدأ لپاره دادوه قسمه دى (١) يومصحح باعتبار التقديم دى (٢) او بل مصحح باعتبار التاخيردى. نوزه وايم چې داخبر چې مصحح وو په اعتبار تقديم سره نوتقديم يې واجب دى اوقام مصحح باعتبار التاخيردى نه باعتبار التقديم.

سوال: داخبرچې مصحح شو دمبتدألپاره نوتقديم يې ولې واجب دى؟

جواب: ځكه چې دمصحح دى دابتدائيت دمبتدألپاره باعتبار التقديم

سوال: ته وايې چې دامصحح دى يعنې مخكې داصيغه دمبتدأغلطه وه اودتقديم د وجې نه صحيح شوه نوفى الدار رجل كې خورجل صيغه صحيح ده كه فى الدارمخكې وى او كه نوى.

جواب: زه دامصحح دذات دمبتدألپاره نه وايم بلكه دابتدائيت دمبتدألپاره يې وايم

او لمتعلقه ضمير فى المبتدأ: ياوى لپاره دمتعلق دخبرپه داسې تعلق سره چې تقديم دمتعلق په خبرباندې ممتنع وى **ضمير فى المبتدا**ضمير په جانب دمبتداكې اوصورتونه يې دوه دى:

(١) كل اوجزء نحوعلى التمرة مثلها زبدا

(٢) مضاف اومضاف اليه نحوفى الدارصاحبها لپاره د دې چې لازم نشى اضمارقبل الذكر.

سوال: په فى المبتداكې فى راغلى دى اوفى راځي لپاره دظرفيت نومعنى داشوه چې داضمير به مستتر وى په مبتداكې نوعلى التمرة مثلها زبداكې خوضمير مستترندى.

جواب: دا عبارت په حذف دمضاف سره دى اى فى جانب المبتدأ.

سوال: على الله عبده متوكل كې متوكل خبردى دعبده لپاره اوعلى الله جارمجرورمتعلق دى په متوكل پورې اوعبده مبتداكې ضمير دى چې راجع دى متعلق دخبر ته اودلته خوتقديم واجب ندى.

جواب: مونږه وايو چې وی به د متعلق دخبر لپاره په داسې تعلق سره چې تقديم دمتعلق به په خبر ممتنع وی اودلته تقديم دمتعلق په عامل (خبر) باندې جائز دی مثل على التمرة مثلها زبدا ، على التمرة خبر مقدم دی اومثلها زبدا مبتدأمؤخره ده اوتقديم دخبرواجب دی په مبتدأباندې ځکه دلته په جانب د مبتدأ کی ضمير دی چې هادی اوراجع دی جزدخبرته چې تمرة دی دمجموعه خبر نه يوجزدی او دا متعلق دخبر ځکه دی چې خبر اصل کې حاصل يايحصل دی اودامتعلق دی په هغې پورې اوداتقديم واجب دی لپاره د دې چې لازم نه شی اضمارقبل الذکر لفظا اورتبتا ، بل مثال لکه في الدار صاحبها او قوله تعالى **أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا او كان خبرا عن ان، ياوی** دا خبر د مبتدأ **خبرا** چې واقع شوی وودان نه په دې شان سره چې ان سره د اسم اوخبرنه مبتدأواقع شوی وی او دا هغې نه خبر وی.

سوال: نه وايې چې داخبروو دان نه يعنې ان به مبتدأوی اودا به ورله خبر وی نو دامعنی خو مقصود نه ده داعتراض اصل کې بنادی په يوه قاعده باندې هغه قاعده دا ده چې دخبرپه صله کې چې عن راشی نو مدخول دعن مبتدأوی اومدخول دعن دلته ان دی؟

جواب: مونږوايو چې د دې مطلب دا دی چې ان سره د اسم اوخبر نه مبتدأوی اوداځکه چې لازم نشی التباس په مينځ دان مفتوحة الهمزه اومکسورة الهمزة کې مثال لکه عندی انك قائم عندی خبرمقدم او انك قائم مبتدأمؤخره داوتقديم دعندی واجب دی ځکه که دامبتدأمقدمه شی نو بيابه ان ويلی کيږي ځکه ان مفتوحة الهمزه په اول د کلام کې نه راځي؛

سوال: ان دی مکسورة الهمزه شی اودا دی مبتدأشی اوعندی دی ورله خبرشی.

جواب: داسې ترکيب نه دی صحيح ځکه مبتدأ کې لابدی وی د اسميت نه اومدخول دان جمله وی نه مفرد ځکه داراخي لپاره دتاکيد دنسبت اونسبت په جمله کې وی نه په مفرد کی.

پينځم موضع د هغه مواضع نه چې تقديم دخبرپکی واجب دی په مبتدأباندې هغه ځای دی چې حصر د خبراغلی وی په مبتدأباندې لکه مالنا الاالاتباع احمد يالکه انمامحمودمن يجتهدلپاره د دې چې لازم نشی انقلاب دحصرمطلوب دمتکلم په سامع اومخاطب باندې او که ته وايې چې خبر سره دادات د استثناء نه مقدم کړه نو داهم نده صحيح ځکه لازميږي تقديم دادات مستثنی په حکم باندې په مستثنی مفرغه کې اوداندی جائز

يجب تقديمه: واجب دی تقديم دخبر په مبتدأ باندې په دې مواضع خمسه ؤ کې هرچې صورت اول کې لپاره د دې چې فوت نشی صدارت دماله صدرالکلام اوپه صورت ثانی کې لپاره د دې چې لازم نشی نکارت دمبتدأ اوثالث کې لپاره د دې چې لازم نشی اضمارقبل الذکر لفظا اورتبتا اورابع کې لپاره د دې چې التباس رانشی ان اوان کې اوخامس کې لپاره د دې چې انقلاب دحصرمطلوب رانشی.

وقديتعدد الخبر: هر کله فارغ شو دبيان دتقديم وجوبی دخبر نه په مبتدأباندې د وجې دامرعارض نه نو شروع وکړه په بيان دبل حکم دخبر کې چې تعدددخبر دی سره دوحدت دمخبر عنه نه.

(ترجمه) وقديتعدد کله کله متعدد کیږي **الخبر** خبر دمبتدأ بې دتعدد دخبر څکه خبر په منزله دوصف دی او مبتدأ په منزله دموصوف دی اودموصوف واحدلپاره صفات کثیره راځي

(۲) اوتعدددخبر سره دتعدددمبتدأنه شائع اوکثیردی په استعمال د کلام دعربو کې

(۳) اوتعدددمبتدأ سره دوحدت دخبرنه مجرداحتمال عقلي دی او دا تعدد د خبر سره د وحدت د مخبر عنه نه عام دی که دوه وی نحوزيدعالم عاقل او که زيات وی نحو قوله تعالى وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلْوَدُودُ ذُو ٱلْعَرْشِ ٱلْمَجِيدُ او دا عام دی که لفظاوی او که معنی وی نحوزيدعالم عاقل، او که فقط لفظاوی نحوهذاحلوحامض، او دا تعدد خبر لفظا اومعنا عام دی که په طريقه دعطف سره وی نحوزيد عالم وعاقل، او که بدون العطف وی نحوزيدعالم عاقل اوداتعددعام دی که جائزوی نحو زيدعالم عاقل، او که واجب وی نحو الابلق اسود ابيض څکه معنی د دې مبتدأ به خالي نوی يا به فهم دسامع ته راځي بې دتعددنه او يا به نه راځي که معنی دمبتدأ بې دتعددنه فهم ته راتله نوتعددجائز دی او که نه راتله نوواجب دی، او دا تعدد عام دی که تول مفردات وی لکه زيدعالم عاقل فاضل او که تولی جملی وی بياعام دی که تولی جملی فعلی وی نحوزيدقام وضحك او که تولی جملی اسمی وی نحو قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ او که بعض جملي او بعض مفرد وی نحو قوله تعالى فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعَىٰ اوبعض نحويانوويلی دی چې تعدد د خبر سره د وحدت د مخبر عنه نه چې بعض جمله اوبعض مفردوی دانه راځي اوحية تسعى موصوف صفت دی او ياحال او ذوالحال دی ليکن داخبره د دوی کمزوری ده څکه تعدددخبر چې بعض مفرد او بعض جملي وی د ﴿ فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعَىٰ ﴾ نه علاوه بل ځای هم راغلی دی په کلام بليغ کې.

سوال: مصنف تعدد د خبر ذکر کړو نو تعدد د مبتدأ يې ولې ذکر نه کړو؟

جواب: تعدد د مبتدأ سره د تعدد د خبر نه شائع او کثير دی په استعمال د کلام دعربو کې او تعدد د مبتدأ سره د وحدت د خبر نه مجرداحتمال عقلي دی په خارج کې وجودنه لري نوځکه يې ذکرنه کړو او تعدد د خبر سره دوحدت دمخبر عنه نه داقليل دی څکه ماتن قدداخل کړی دی په مضارع باندې چې دلالت وکړی په تقليل باندې، اوتعددمبتدأسره دتعدددخبرنه خوهسی هم شائع اوکثير وومعلوم وو نو ذکر يې نه کړوخو دا يې ذکرکړو د دې لپاره چې داطالبانو ته معلوم شي.

سوال: ته وايې چې تعدد دمبتدأسره دوحدت دخبرنه نه دی جائز دا قاعده ستا منقوضه شوه په زيدابوه قائم باندې څکه دلته تعدد دمبتدأ راغلی دی سر دوحدت دخبرنه په دې شان سره چې زيد مبتدأ اول ابوه مبتدأ ثانی او قائم يې خبر دی نو مبتدأ ګانې دوه دی اوخبر يودی.

جواب: دلته تعدد د مبتدأ راغلی دی سره د تعدد د خبر نه څکه زيد مبتدأ اول ابوه مبتدأ ثانی او قائم خبر دی د مبتدأ ثانی او دا جمله بياخبر د مبتدأ اول دی.

وقديتضمن المبتدأ معنى الشرط: هر کله فارغ شو مصنف دبيان دحکم د خبرنه چې هغه تعدد دخبروسره د وحدت د مخبرعنه نه نوشروع يې وکړه په بيان دحکم دمبتدأ کې.

ترجمه: **وقديتضمن** كله كله مشتمل كيږي مبتدأقسم اول **معنى الشرط** معنى دحرف شرط لره يا مشتمل كيږي هغه معنى لره چې هغه تعلق دوجود دخبر دى په وجود دمبتدأپورې **فيصح** بياصحيح دى او جائز دى **دخول الفاء** دخول دفاء جزائيه **فى الخبر** په خبردمبتداكى په نظر سره نفس تضمن دمبتدأته معنى د شرط لره، او كه دامتكلم قصد وكړى ددلالت د دې مبتدأپدى معنى دشرط باندې بيادخول دفاء په دې خبر كې واجب دى، او كه قصدونه كړى نو بيا دخول دفاء ممتنع دى، ياجوازمقابل دامتناع دى معنى دا ده چې صحيح دى يعنې ممتنع نه دى دخول دفاء په خبر دمبتدأكى بياعام دى كه جائز وى او كه واجب وى، ځكه دامبتدأ چې متضمن شوه معنى دشرط لره نو دامشابه شوه دشرط سره اوخبر مشابه شو د جزاء سره اوپه جزاء دشرط كې خوفاء جزائيه راځي نوپه خبر دمبتدأ كى به هم راځي ځكه مشبه حكم د مشبه به اخلى.

تشريح: **سوال:** مصنف ويتضمن المبتدأ ولې ونه ويل چې وقديتضمن يې وويل؟

جواب: قديتضمن يې وويل نه ويتضمن ځكه دى كې يې اشاره وكړه تقليل ته ځكه قدچې داخل شى په فعل مضارع باندې نو تقليل فائده كوى نو كون د مبتدأ غير متضمن معنى دشرط لره كثيرا وشائع ده اومتضمن معنى دشرط لره راځي په طريقه دقلت او ندرت سره.

سوال: ته وايي چې مبتدأ مشتمل گرځى معنى دشرط لره نو داشتمال څو ډيرصورتونه دى:

(۱) كل جزء (۲) موصوف صفت (۳) ظرف مظروف (۴) دال مدلول (۵) حال ذوالحال. دلته كوم يو مراد دى؟ **جواب:** داد قبيلې داشتمال دال نه دى په مدلول باندې اودشرط درې اطلاقه دى:

(۱) فعل شرط (۲) حرف شرط (۳) بمعنى تعليق. او دلته مراد د شرط نه حرف شرط دى او ياشرط بمعنى تعليق دى كه حرف شرط مراد شي نو اضافت دمعنى شرط ته اضافت لامى دى او كه شرط بمعنى تعليق شى نو بيا اضافت دمعنى شرط ته اضافت بيانى دى.

سوال: ته وايي چې مبتدأمشتمل كيږي معنى دشرط لره نومعنى دشرط څه شى دى؟

جواب: معنى دشرط سببيت داول دى دثانى نوكون دمبتدأمتضمن معنى دشرط لره دامعنى چې وجود دمبتدأ سبب دى لپاره دوجود دخبر.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول دالله (ج) ﴿وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ﴾ ماموصوله سره د صلى نه مبتدأمتضمن ده معنى دشرط لره اوفمن الله ورله خبر دى اوپدى كې فاء جزائيه راغلى ده او سببيت د اول لپاره دثانى نه جوړيږي بلكه بالعكس دى چې من الله سبب دى لپاره دالصاق دنعمت په مخاطبينو پورې نه بالعكس؟ **جواب:** معنى دشرط سببيت داول لپاره دثانى نه دى بلكه ملزوميت داول لپاره د ثانى دى چې مبتدأ متضمن شى معنى دشرط لره نومبتدأملزوم گرځى اوخبرورسره لازم وى نوكون د نعمت ملصق په مخاطبين پورې ملزوم اوفمن الله ورله لازم، او كه اومنم چې معنى د دې سببيت داول دى لپاره دثانى نو بيا د دې صورتونه دوه دى: (۱) يوسببيت داول لپاره د جودد ثاني.

لپاره دحکم په ثاني نو دلته سببيت داول دی لپاره دحکم په ثاني باندې ځکه
(۲) اودويم سببيت داول لپاره دحکم په ثاني نو دلته سببيت داول دی لپاره دحکم کولو په من الله سره دا الصاق دنعمت په مخاطبينو پورې سبب دی لپاره دحکم کولو په من الله سره
دا الصاق دنعمت په مخاطبينو پورې سبب دی لپاره دحکم کولو په من الله سره

سوال: چې مبتدأ متضمن شی معنی دشرط لره نوپه خبرکی یې فاء ولې راځي؟

جواب: ځکه چې دامبتدأ مشابه شوه دشرط سره په سببيت د دې کې لپاره دخبر پشان دسببيت دشرط لپاره دجزاء اوپه جزاء دشرط کې فاء جزائيه راځي نوپدی کې هم راځي ځکه مشبه حکم دمشبه به اخلی

سوال: فيصح دخول الفاء کې کومه فاء ده؟

جواب: دافاء فصيحيه ده اوفاء فصيحيه ديته وايي چې راځي په جزاء دشرط مقدر کی فيکون التقدير و اذا تضمن المبتدأ معنی الشرط فيصح دخول الفاء فی الخبر.

سوال: دامبتدأ به خالي نوی يا به يې متضمن وايي معنی دشرط لره يا به نه وايي که وايي نودخول دفاء واجب دی په خبر کې نويصح ځنګه وايي او که متضمن معنی دشرط لره نه وی نودخول دفاء په خبر کې ممتنع دی نو بيا فيصح ځنګه وايي؟

جواب: فيصح دخول الفاء مصنف ويلی دی په نظرسره نفس تضمن دمبتدأته معنی دشرط لره په واقع او نفس الامر کې قطع نظرد قصد د متکلم نه معنی دشرط لره دمبتدأ نه لهذا خبر دمبتدأ په اعتبار د دخول د فاء سره درې قسمه دی: (۱) واجب الفاء. (۲) جائز الفاء. (۳) ممتنع الفاء.

وجه دحصر پکې دا ده چې دامتکلم به خالي نوی يا به يې قصد کړی وی دلالت دمبتدأپه معنی دشرط په لفظ کې يا نه، که قصد کړی وو نو دخول دفاء واجب دی، او که عدم دلالت يې قصد کړی وونودخول د فاء ممتنع دی، او که مبتدأمتضمن وو معنی دشرط لره قطع نظرد قصد دمتکلم اوعدم قصدنه نو بيا جائز دی.

وذلك الاسم الموصول الخ: هر کله فارغ شو مصنف دبيان دتضمن دمبتدأنه معنی دشرط لره نو شروع يې وکړه په صورتونو د تضمن د مبتدأ کې معنی د شرط لره، **وذلك** اودغه تضمن د مبتدأ معنی د شرط لره. **الاسم الموصول** ياراځي اسم موصول **بفعل** چې صله دهغې ګرځولی شوی ده جمله فعليه، ذکر د جزء او مراد ترينه کل دی، **اوظرف** ياجمله ظرفيه چې هغه مؤول ده په جملی سره بالاتفاق.

سوال: داکون دمبتدأ موصول اوصله دهغې لپاره فعل ياظرف ولې شرط شو؟

جواب: دايی شرط کړولپاره دکمال مشابهت دمبتدأدشرط سره ځکه شرط نه راځي مګر فعل راځي بيا عام دی که حقيقتاوی او که حکماوی.

او النكرة الموصوفة: يا دامبتدأمتضمن معنی دشرط لره اسم نکره وی داسې نکره چې توصيف يې کړی شوی وی د دې نکرې (**بهما**) په جمله فعليه اوظرفيی سره علی سبيل البدليت، يا مبتدأ واقع شوی دی هغه اسم چې مضاف دی نکرې موصوفی بهماته، مثال دمبتدأمتضمن معنی دشرط لره اسم موصول چې صله يې جمله فعليه وی لکه **الذی ياتينی فله درهم**، اومثال دمبتدأمتضمن معنی دشرط لره چې اسم موصول وی او صله ورله ظرف وی لکه **الذی فی الدارفله درهم** شو، اومثال دمبتدأمتضمن معنی دشرط

لره چې په حکم د اسم موصول کې وی نحو قوله تعالى ﴿ قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ ﴾ چې الموت موصوف د ی اوالذی موصول مع الصله صفت دی دموصوف اوموصوف مع الصفة اسم دان دی اوفانه ملاقیکم ورله خبر دی اوفاء جزائیه پکې راغلی ده، اومثال دمبتدأمتضمن معنی دشرط لره چې نکره موصوفه ده په فعل سره لکه کل رجل یاتینی فله درهم، اومثال دمبتدأمتضمن معنی دشرط لره نکره موصوفه بظرف لکه کل رجل فی الدارفله درهم، اومثال دمبتدأ چې متضمن وی معنی دحرف شرط لره اومضاف وی نکره موصوف بهما ته لکه کل غلام رجل یاتینی اوفی الدارفله درهم، فاندفع ماقیل.

سوال: مبتدأمتضمن معنی دحرف شرط لره تا منحصره وګرځوله په دې صوراربعه ؤ کې (۱) اسم موصول بفعل (۲) موصول بظرف (۳) نکره موصوفه بالفعل (۴) نکره موصوفه بالظرف دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول دالله (ج) سره قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ دلته په خبرکی فاء راغلی ده اویود دې صورمذکورونه نه دی دارنګې په دې ترکیب سره چې ان العبد الذی فی الدارفله درهم دلته هم فاء راغلی اویودصورمذکورونه ندی، دارنګې کل غلام رجل یاتینی فله درهم، کل غلام رجل فی الدارفله درهم، سره چې دلته هم مبتدأمتضمن دی معنی دشرط لره اوخبرکی یې فاء راغلی ده او یو د صور مذکورو نه ندی.

جواب: مبتدأ متضمن معنی د حرف شرط لره عام دی چې په خپله اسم موصول بفعل اوبظرف وی یا موصوف وی په موصول بفعل اوظرف سره اوکوم اسم چې موصوف وی په موصول بفعل اوظرف سره دا په حکم دموصول مذکورکی دی، اودارنګې حکم چې مضاف شی نکره موصوفه بهما ته داپه حکم د نکره موصوفه بهما کې دی، اوشیخ رضی رحمه الله په دې مقام کې یوقاعده بیان کړی ده چې داکل مضاف شی نکرې ته نونکره موصوفه بهما وی اوکنه وی خوپه خبر کې به یې فاء جزائیه راځي د دې ټول صورتونه نهه دی: (۱) موصول بفعل نحوالذی یاتینی فله درهم (۲) موصول بظرف نحوالذی فی الدار فله درهم. (۳) موصوف بالموصول بفعل نحوقوله تعالى قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ (۴) موصوف بالموصول بظرف نحو ان العبدالذی فی الدارفله درهم. (۵) نکره موصوفه بفعل نحوکل رجل یاتینی فله درهم. (۶) نکره موصوف بظرف کل رجل فی الدارفله درهم

(۷) مضاف نکره موصوفه بفعل ته نحو کل غلام رجل یاتینی فله ردهم

(۸) نکره مضافه موصوف بظرف ته نحو کل غلام رجل فی الدارفله درهم

(۹) چې کل مضاف شی نکرې ته اودا نکره موصوفه بفعل یابظرف نوی نحوکل تقی نقی فهوالی.

ولیت ولعل مانعان بالا تفاق: هر کله چې فارغ شومصنف دبیان دصورتونودمبتدأمتضمن معنی الشرط نه نوشروع یې وکړه په بیان د هغه مبتدأکی چې دخول دفاء جزائیه په خبر دهغې کې ممتنع دي د وجې د امرعارض نه (۲) یا دالیت ولعل جمله مستانفه ده جواب دسوال دی اومنشأ داعتراض دغه عبارت د

مصنف دی چې وقد یتضمن المبتدأنومعترض اعتراض وکړو چې ته وایي چې مبتدأ چې متضمن شی معنی دحرف شرط لره نوپه خبر کې بې فاء جزائیه راځي اودا اسم موصول بفعل الخ دی، داخبره ستا منقوضه شوه په لیت الذی یاتینی له درهم، لیت الذی فی الدارله درهم سره چې دلته مبتدأ اسم موصول دی صله ورله راغلی ده جمله فعلیه او ظرفیه اوپه خبر کې فاء جزائیه نده راغلی نو مصنف جواب وکړو چې ولیت ولعل الخ، کلمه دلیت اولعل دحروف مشبه بالفعل نه کله چې داخل شی په مبتدأ باندې چې صحیح وی دخول دفاء په خبر دهغې کې **مانعان** دادد واړه منع کوی دخول دفاء لره په خبر د مبتدأباندې **بالا تفاق**، په دټولو نحویانوسره په نسبت سره باقی حروف مشبه بالفعل ته ځکه دخول د فاء صحیح ووپه خبر کې د وجې دمشابهت دمبتدأ اوخبرنه دشرط اودجزاء سره اولیت اولعل چې داخل شی په دغه مبتدأ او خبرکذائی باندې نو مشابهت د مبتدأ او خبر د شرط او جزاء سره زائل کوی ځکه دالیت اولعل کلام خارجه وی دخبریت نه انشائیت ته اوشرط اوجزاءدقبیلې داخبارنه دی، نو مشابهت دخبر او مبتدأ د شرط اودجزاء سره ختم شو، اود وجې دانتفاء دمشابهت نه ممتنع شو دخول د فاء په دې خبر کې فلا یقال لیت الذی یاتیني یالیت الذی فی الدارفله درهم اولعل الذی او لعلنی فی الدار فله درهم.

سوال: لکه څنګه چې لیت اولعل داخل شی نو په خبر د مبتدأ کذائی کې فاء راوړل ممتنع دی نودغسی کان او فعل قلب چې داخل شی نو داهم مانع دی دفاء نه په خبر دمبتداکې بالا تفاق نوتاڅنګه دا بالاتفاق قید ذکر کړو دلیت اولعل سره، د دې نه خو دا معلومه شوه چې دادخول دفاء په خبر د مبتدأ کذائی کې ممتنع دی چې فقط لیت او لعل داخل شی او که د دې نه علاوه نورکلمات داخل شی نو دخول دفاء ممتنع نه دی بالاتفاق او دا معنی باطله ده.

جواب: دا اعتراض په هله وارد یدوچې مادا بالاتفاق قیدویلی وی په نسبت سره کل ماعداءته بلکه دلته دا بالاتفاق مو ویلې دی په نسبت سره باقی حروف مشبه بالفعل ته نه په نسبت سره کل مادعداء ته په دې شان سره چې په دې کې اتفاق دی اوپه باقی حروف مشبه بالفعل کې اختلاف دی

سوال: لکه څنګه چې دالیت اولعل مانع ددخول دفاء دی په خبر کې دارنګې فعل ناقص اوفعل قلب هم مانع د دخول دفاء دی په خبر کې نو هغه دی ولې ذکر نکړل؟

جواب: منم فعل ناقص اوفعل قلب پشان دلیت اولعل دی په منع ددخول دفاء فی الخبر کې بالاتفاق خو ما دا ذکرکړه لپاره دبیان داختلاف دحروف مشبه بالفعل نه چې په دې کې اتفاق نشته.

سوال: په دې باقی حروف مشبه بالفعل کې اتفاق څنګه نشته؟

جواب: **والحق بعضهم**) مشابه کړی دی بعض نحویانو چې سیبویه دی (ان) مکسورة الهمزة **بهما**، په لیت او لعل پورې په منع د دخول د فاء کې په خبر باندې په دې شان سره چې سیبویه وایي لکه لیت اولعل چې داخل شی نو مانع د دخول د فاء دی نو دارنګې ان چې داخل شی هم مانع ددخول دفاء دی ځکه ان راځي د تحقیق لپاره اوشرط اوجزاء راځي دشك اوترددلپاره اود دې په مابین کې منافات دی، او

بعض نحویانو ملحق کړی دی په دې لیت اولعل پورې ان مفتوحة الهمزه او لکن په منع د دخول دفاء فی الخبر کې دلیل دبعض دا دی چې په دخول د (ان) سره مشابهت دمبتدأ او د خبر د شرط او جزاء سره زائله کیږي ځکه ان راځي للتحقیق اولکن راځي للاستدراك اوشرط اوجزاء دقبیلې دشك اوترددنه دی او دا دلالت نکوی په شك او تردد باندې نو په مابین د دې کې منافات دی، اومذهب اصح دا دی چې ان، ان، اوکان، مانع نه دی ددخول دفاء نه په خبر دمبتدأکی په دلیل عقلی اونقلی سره، دلیل نقلی دان لپاره داقول دالله (ج) دی إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَن يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِم دلته ان داخل دی په خبر د مبتدأ کذائی باندې او خبر کې یې فاء راغلی ده، اودلیل نقلی د (ان) لپاره داقول دالله (ج) دی وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَىْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ دلته انما غنمتم کې ما یا موصوله یا موصوفه غنمتم جمله ورله صله یاصفت دی دا موصول سره د صلی یاموصوف سره د صفت نه اسم دان اوفَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ یې خبر دی اوفاء جزائیه پکې راغلی ده اودلیل نقلی دلکن لپاره داقول دشاعردی

فوالله مافارقتکم قالیا لکم ولکن مایقضی فسوف یکون

چې دلته لکن مایقضی کې ماموصوله اویقضی ورله صله ده دا اسم دلکن اوپه خبر کې یې فاء راغلی ده چې فسوف یکون دی نومعلومه شوه چې دامانع نه دی د دخول د فاء نه ځکه که مانع وی نو په دی امثله ثلاثه ؤ کې به فاءنه وه راغلی اولکن مایقضی کې ما موصوله دی نه کافه ځکه ما کافه لیکلی کیږي متصل دلکن سره او دا جدا لیکلی کیږي

سوال: دا قاعده ستامنقوضه شوه په وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا غَنِمْتُم سره ځکه چې دلته ماموصوله یاموصوفه دی او یوځای لیکلی شوي دي. **جواب:** خطان لایقاسان خط العروض وخط المصحف، اودلیل عقلی دا دی چې ان ان اولکن چې داخل شی په مبتدأ کذائی باندې نو دا نه خارجوی کلام لره دخبریت نه انشائیت ته اود اسمیت نه فعلیت ته بخلاف لیت ولعل والافعال الناقصه وافعال القلوب په دې شان سره چې لیت او لعل جملی خبری نه انشائیه جوړه وی، اوفعل ناقص اوفعل قلب د اسمی نه فعلیه جوړه وی نو دا څلور واړه مغائر د ذات د جملې دی په خلاف دانِ اوان لکن نه چې دا مغائر د وصف دی نه د ذات مغائر د ذات مانع وی د دخول د فاء نه نه مغائر د وصف.

سوال: دافعل ناقص اوفعل قلب چې داخل شی په مبتدأ کذائی باندې دامانع ددخول دفاء په خبر کې بالاتفاق ولې دی؟ **جواب:** ځکه په دخول دفعل ناقص اوفعل قلب سره باطل شو صدارت دمبتدأ نوکم شو مشابهت د دې دکلمة الشرط سره ځکه دهغې لپاره ثابت دی صدرات د کلام ځکه دامانع ددخول د فاء دی په خبر کې.

سوال: لکه څنګه چې ملحق کړی دی بعضو ان مکسورة الهمزة په لیت اولعل پورې نو دارنګې بعضو ان مفتوحة الهمزه او لکن او کأن هم ملحق کړی دی نو هغه یې ولې ذکرنه کړو؟

جواب: الحاق دا ن سیبویه کړی دی اوهغه امام دی په نحوه کې نود هغه دامام والی د وجې نه مصنف اعتبار ورکړو قول د هغه لره په خلاف دقول دنورونه چې هغې لره یې اعتبار ورنه کړو نو هغه یې ذکر نه کړل اګر چې مذهب د دواړه مخالف دی د قرآن او د کلام د فصحاؤ نه

سوال: ولیث ولعل مبتدأ ده اومانعان ورلره خبر دی او په مبتدأ کې لابدی ده د اسمیت نه یعنې مبتدأ اسم واقع کیږي نه فعل اوحرف اولیت اولعل حروف دی.

جواب: دالیت اولعل په دې مقام کې مراداللفظ علم دی د هغه لیت اولعل لپاره چې واقع کیږي په تراکیب کې نو داعلم شونواسمیت پکې راغی د علمیت د وجې نه ځکه مبتدأواقع شوې ده.

سوال: **ولیت ولعل** مبتدأ ده او**مانعان** ورله خبر دی او خبر د مبتدأ چې مشتقی وی او حامل وی ضمیر د مبتدأ لره هلته مطابقت واجب دی او لیت او لعل مؤنث دی په تاویل د کلمة سره نو مانعتان ویل پکار وو؟

جواب: دلیت اولعل سره معامله دمذکراومؤنث دواړو کولی شی که تاویل ترې په کلمة سره وکړی نو مؤنث دی او که تاویل ترې په لفظ سره وکړی نو مذکر دی، او پدی مقام کې دا لیت او لعل مؤول دی په تاویل د لفظ سره نو ځکه یې مانعان وویل نه مانعتان، **الحق** فعل دی او**بعضهم** ورله فاعل دی ان مفعول به دی او **بهما** متعلق دی په الحق پورې نوفعل مع الفاعل والمفعول جمله فعلیه خبریه ده.

سوال: مفعول به کې لابدی ده د اسمیت نه یعنې مفعول به اسم راځي فعل حرف وغیره مفعول به نه راځي او دلته ان مفعول به واقع شوي دي اودا خوحرف دی؟ **جواب:** دا ان په دې مقام کې مرادا للفظ علم دی د هغه ان لپاره چې واقع کیږي په تراکیبو کې نو دامعرفه بالعلم دی اواسم دی نوځکه مفعول به واقع شوي دي

سوال: مراد د بعضو نه په دې مقام کې سیبویه دی نو مصنف دابعضهم ولې وویل والحق سیبویه یې ولې ونه ویل؟ **جواب:** کون دسیبویه مصداق دبعض احتمالی دی یقینی نه دی ځکه یې بعضهم وویل (۲) او که امنم چې مصداق یې سیبویه دی علی الیقین نه بل څوك نو بیایی بعضهم ویلی دی لپاره دتعظیم دمسمی دسیبویه ځکه دا قاعده ده دعلم بلاغة چې یومتکلم تعبیروکړی دیومسمی معین نه په داسې لفظ سره چې هغه غیرصریح الدلالة وی په دغه مسمی معین باندې نو دادالالت کوی په تعظیم دهغې باندې نحو قوله تعالی تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ او دغسې امام بخاری په خپل کتاب کې دامام ابوحنیفة نه تعبیرکړی دی په بعض سره لپاره دتعظیم دامام ابوحنیفة چې امام بخاری فرمایلی دی قال بعض الناس.

وقد یحذف المبتدأ لقیام قرینة جوازا: هر کله چې فارغ شو مصنف دیوحکم دمبتدأنه چې هغه تضمن د مبتدأ وو معنی د شرط لره نو شروع یې وکړه په بل حکم کې چې حذف دمبتدأ دی.

ترجمه: **وقد یحذف** کله کله حذف کولی شی **المبتدا** مبتدأ قسم اول د وجې د وجود د قرینې دالی نه په تعین د محذوف باندې (۲) په وخت د وجود د قرینه داله کې په تعیین د محذوف باندې قرینه عامه ده که لفظیه وی او که معنویه وی، **جوازا** په حذف جائزه سره جوازا مفعول مطلق دی په حذف دموصوف

سره چې حذفا دی او دا په معنی د جائز دی لپاره د صحت د حمل او که په خپله معنی سره شی نوحمل به صحیح کیږي د وجې د عدم اتحاد فی المصداق نه مثال دمبتدأ چې حذف شوي دي په حذف جائزه سره د وجې دوجود دقرینی دالی نه په تعیین دمحذوف باندې لکه مبتدأمحذوفه شوه په مقوله درائی دهلال کې چې الهلال والله چې الهلال مرفوع دی بنابر خبریت اومبتدأ د دې حذف ده چې هذادی جوازاً د وجې دوجود دقرینی دالی نه په تعین دمحذوف باندې چې هغه حال دی اوعادت دمستهلین دی ځکه مستهلین چې میاشت اوینی نواول تعیین کوی په اسم اشاره سره اوبیاحکم کوی په الهلال سره، نو قرینه په نفس حذف استعمال دمفرديارفع دالهلال ده اوقرینه په تعین دمحذوف باندې حال د مستهلین دی او داعی د حذف تخفیف دی اووالله یې ذکرکړوروسته دالهلال نه (۲) لپاره دموافقت د عادت دمستهلینو (۳) یا لپاره د دفع د توهم د نصب د الهلال په حین د وقف کې ځکه کله چې والله ذکر شو نو الهلال په وسط کې راغلو نو وقف ورباندې نه شی کولی ځکه وقف په اخیر کې راځي، اوکله حذف کولی شی مبتدأپه استعمال د کلام د عربو کې په حذف وجوبی سره په پنځه ځایونوکې:

(۱) نعم الرجل زید بناپه یوترکیب باندې چې زیدخبردی دمبتدأمحذوف لپاره چې هوزید دې او مبتدأ حذف شوي دي په حذف وجوبی سره ځکه خبرسره دمبتدأنه مستعمل نه دی موندلي شوی په کلام د عربو کې (۲) چې متکلم عدول وکړی دنعت مجروره نه په رفع سره نحو ﴿ الحمد لله ربُ العلمین ﴾ ﴿ بسم الله الرحمنُ الرحیمُ ﴾ مررت بزید المسکین، اعوذ بالله من الشیطن الرجیمُ، ای هو رب العلمین، هو الرحمن الرحیم، هو المسکین، هو الرجیم، او دا مبتدأحذف کولی شی وجوبا لپاره د دې چې دلالت وکړی په کمال مدح اوذم اوترحم باندې (۳) چې خبر نص وی په قسم کې نحو فی ذمتی لافعلن کذا (۴) چې مصدرقائم شی په مقام دفعل باندې دا به خبردمبتدأوی چې هغه به محذوف وی وجوبا نحو ﴿ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ﴾ (علی ترکیب) (۵) چې جمله فعلیه حال واقع شی اوفعل پکې مضارع مثبت وی اوواوحالیه پکې راغلی وی نحوقوله تعالی ﴿ أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ ﴾ ای وانتم تنسون انفسکم

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی اوغرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی

جواب: ربط دا دی چې مخکې بیان دیوحکم دمبتدأوو اودا اوس بل حکم دمبتدأ بیانوی چې حذف د مبتدأ دی اوغرض هم معلوم شو چې بیان دحذف دمبتدأ دی.

سوال: ویحذف المبتدأیی ولې ونه ویل چې وقدیحذف یې وویل؟

جواب: وقدیحذف یې وویل ځکه قدچې داخل شی په مضارع باندې نوتقلیل فائده کوی اومبتدأغالبا مذکور وی په کلام کې اوحذف دمبتدأقلیل دی.

سوال: ته وایې قدچې داخل شی په مضارع باندې تقلیل فائده کوی داخبره ستا منقوضه شوه په ﴿ قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ ﴾ سره. **جواب:** زه وایم چې قدچې داخل شی په مضارع باندې نوغالبا تقلیل فائده کوی اوکله

کله دتکثیر لپاره هم راځي، مبتدأپه اعتبار دحذف سره درې قسمه ده (۱) جائزالحذف (۲) واجب الحذف (۳) ممتنع الحذف.

وجه دحصر: دامبتدأ به خالي نوی یا به قرینه داله په تعیین دمحذوف باندې موجودوی او یا به نوی که وه نوممتنع نحوزیدقائم په وخت دعدم وجودقرینې دالې کې په تعیین دمحذوف باندې، او که قرینه داله وه نو بیا به خالي نوی یا به ورسره سدمسد موجودوی او یا به نوی که وونوحذف واجب دی او که نه وو نو جائز دی.

سوال: د مصنف په کلام کې تناقض دی ځکه دلقیام قرینة نه معلومیږي حذف دمبتدأوجوبا ځکه دالام لام تعلیلي دی ګرځوی مدخول خپل علة دماقبل لپاره نوقیام دقرینه علة لپاره دحذف دمبتدأ شو او وجود دعلت مستلزم وی وجود دمعلول لره لکه چې طلوع د شمس علت دی وجود د نهارلره نو وجود د طلوع الشمس مستلزم دی وجود د نهار لره او د جوازا نه معلومه شوه چې حذف جائزدی.

جواب: لقیام قرینة کې لام وختیه دی نه تعلیلي او که اومنم چې تعلیلي دی نو علة دوه قسمه دی (۱) یو علة موجبه مستلزمه دی (۲) او بل مجوزه مصححه دی، دلته مجوزه مصححه دی نه موجبه مستلزمه یعني که قرینه موجوده وی نوحذف صحیح دی والافلا.

سوال: اضافت دقیام قرینة ته نه دی صحیح ځکه قیام مکث علی القدمین ته وایي اودقرینې قدمین نشته. **جواب:** دلته ذکردملزوم دی چې مکث علی القدمین دی اومرادترینه لازم دی چې حصول دی.

سوال: ته وایي چې مبتدأحذف کولی شي لقیام قرینة نوپه زیدقائم کې صرف قائم وایه ځکه قرینه شته چې استعمال دمفرد دې اورفع دقائم ده. **جواب:** مراد د قرینې نه قرینه دالې ده په تعیین دمحذوف باندې نه نفس قرینه اودلته قرینه داله په تعیین دمحذوف باندې نشته، اودأقرینه عامه ده که لفظیه وی که عقلیه وی او که حالیه وی او که مقالیه وی.

سوال: جوازا ولې منصوب دی؟ **جواب:** دامنصوب دی بنابرمفعول مطلق.

سوال: د چا لپاره مفعول مطلق دی؟ **جواب:** دیحذف لپاره.

سوال: مفعول مطلق خومصدردفعل مذکور وی اودا خومصدردفعل مذکورندی؟

جواب: دامفعول مطلق دی په اعتباردموصوف محذوف سره چې حذفا دی.

سوال: توصیف دحذفا په جوازا سره نه دی صحیح د وجې دعدم اتحادفي المصداق نه بین الموصوف والصفة ځکه حذف عبارت دی داسقاط عن اللفظ نه اوجوازاعبارت دی داستواء دامرینو نه اودادواړه غیر غیر دی. **جواب:** داحمل دی په حذفا باندې ځکه دامبني للفاعل دی په معنی دجائزسره دی اوس بې حمل صحیح دی د وجې داتحادمصداقي نه ځکه حذف یو فرد دی د افرادو د جائزا نه.

سوال: مصنف ویلي دی کقول المستهل دا کاف تشبیهي دی او قانون دا دی چې مدخول دکاف تشبیهي مثال وی دممثل لپاره نومعنی داشوه چې مثال دمبتدأمحذوف لکه قول دمستهل شو حالانکه دا قول د مستهل خو مبتدأ نه ده نو مثال مطابق نه شودممثل سره.

جواب: د دې معنی دا ده چې مثال د هغه مبتدأ چې حذف شوې ده جوازا د وجې دوجود دقرینی دالی نه په تعیین دمحذوف باندې لکه مبتدأ محذوفه شوه په قول دمستهل کې چې هغه الهلال والله دی
سوال: دا الهلال والله قول دمستهل نه دی ځکه قول خوګفتن ته وایي اودا خوګفتن نه دی بلکه دا خو ګفته شده دی. **جواب:** دلته مصدر مبني للمفعول دی قول بمعنی مقول دی.
سوال: الهلال والله کې الهلال په ترکیب کې څه شی دی؟
جواب: دا خبر دی د مبتدأ محذوف لپاره چې هذا دی او مبتدأ محذوفه ده جوازا د وجې د وجود د قرینی دالی نه په تعیین دمحذوف چې حال اوعادت دمستهلینو دی چې هغه کله میاشت اوینی نواول تعیین کوی په اسم اشاره سره اوبیاحکم کوی په الهلال سره نو قرینه په نفس حذف استعمال د مفرد او رفع دالهلال ده اوقرینه داله په تعیین دمحذوف باندې عادت دمستهلینو دی او داعی دحذف تخفیف دی او دا خذف وجوبی نه دی د وجې دعدم وجود د سد مسد نه.
سوال: داسې ترکیب ولې نکوی چې الهلال مبتدأ اوخبر یې محذوف دی چې هذا دی.
جواب: داندې صحیح ځکه دا مخالف دی دعادت دمستهلینو نه ځکه هغوی اول تعیین کوی په اسم اشاره سره او بیا حکم کوی په الهلال سره.
سوال: مقصود بالحکم دلته الهلال دی دا والله یې ولې ذکر کړی دی باوجودد دې نه چې فرض منصبی د مصنف اختصار دی؟ **جواب:** والله یې ذکر کړی دی اګرکه په مثال کې ورله دخل نشته
(۱) لپاره دموافقت دعادت دمستهلینو ځکه عادت دهغوی دا دی چې میاشت. اوینی نواول تعیین کوی په اسم اشاری سره اوبیاحکم کوی په الهلال سره سره دقسم نه.
(۲) یالپاره ددفع دتوهم دنصب دالهلال بنابرمفعول به په حالت دوقف کې ځکه اوس داپه وسط کې راغی وقف نه کیږي په وسط کې نو توهم نه راځي
سوال: لکه څنګه چې خبر حذف کیږي جوازا اووجوبا نو دارنګې مبتدأهم حذف کیږي جوازا اووجوبا نو نا د خبر لپاره حذف جوازی اووجوبی دواړه ذکرکړه اودمبتدألپاره دی فقط حذف جوازی ذکرکړو نه حذف وجوبی دا ولې؟ **جواب:** هرکله چې خبر حذف کیدو په حذف وجوبی په استعمال د کلام دعربو کې په حذف کثیره سره نو هغه یې ذکرکړو په خلاف دمبتدأ نه چې داپه حذف وجوبی سره حذف کیږي قلیلا نوترک کړی یې ده د وجې دقلت نه.
سوال: خبر دمبتدأحذف کیږي وجوباپه مواضع اربعه ؤ کې اومبتدأحذف کیږي وجوباپه مواضع خمسه ؤ کې چې مخکې ذکر شو په اجمال کې نو ته څنګه وایي چې حذف وجوبي د مبتدأ قلیل دی د خبر نه.
جواب: خبرچې حذف کیږي په حذف وجوبی سره په کوم ځای کې دانص اوصریح دی په دی خبره باندې چې دا مبتدأ محذوف الخبر ده او بل احتمال پکې نوی او مبتدأ چې حذف کیږي په حذف وجوبی سره په مواضع خمسه ؤ کې دا نص اوصریح نه دی په حذف دمبتدأباندې بلکه نوراحتمالات پکې هم شته

لکه نعم الرجل زیدشوچی دی کې تراکیب خمسه دی، فصبر جمیل کې تراکیب ثلاثه دی، اوفعل مضارع مثبته چې حال واقع شی سره دواونه نو داخبر. دی دمبتدأمحذوفی لپاره عندالجمهوراوبعض وایي چې داجمله فعلیه حال دی خبر دمبتدأمحذوف ندی.

والخبر جوازا: هر کله چې فارغ شومصنف دبیان دحذف جوازی دمبتدأنه نوشروع یې وکړه په بیان دحذف جوازی دخبرکی نووي ویل چی والخبرالخ، یعنې کله کله حذف کولی شی خبردمبتدأپه حذف جائزه سره په وخت دوجوددقرینی دالی کېږه په تعین دمحذوف باندې مثال لکه خرجت فاذا السبع، شو په دې کې تراکیب اربعه اومذاهب اربعه دی، دوه ترکیبونه صحیح دی اودوه غلط دی.

(۱) یو مذهب د صاحب داللباب دی هغه وایي چې السبع مبتدأ ده اوخبریې حذف دی چې واقف دی یا حاضر دی او اذا ظرف دی اومفعول فیه دی ددغه خبر محذوف لپاره اومضاف نه دی مابعدته ځکه بیا لازمیږي اضافت دشئ الی نفسه بلکه په اعتباردمعنی سره مضاف دی مضمون د جملې اولی ته. فیکون المعنی السبع واقف وخت خروجی، قرینه په نفس حذف باندې رفع دسبع ده یا استعمال دمفرد دې اوقرینه داله په تعین دمحذوف باندې تعریف دالسبع دی چې دامعرفه باللام ده، نومعلومه شوه چې دامبتدأ ده ځکه که خبر وی نومجردعن اللام به وی، اوداعی دحذف تخفیف دی اوخبر د دې حذف شوی دی جوازا نه وجوبا د وجې دعدم وجوددسد مسدنه. (۲) دویم مذهب دجارالله زمخشري او د مصنف دی چې السبع مبتدأ ده اوخبر یې محذوف دی چې واقف یا حاضر یا لدی الباب دی او اذا ظرف دی اومفعول فیه دی دفعل معنوی لپاره چې مستفاد دې د اذا نه او مضاف دی مابعد جملې ته او فاء عاطفه ده، فیکون التقدیرخرجت ففاجاءت وخت وقوف السبع. (۳) دریم مذهب د زجاج دی هغه وایي چې اذا ظرف زمان بمعنی وخت خبر مقدم اوالسبع مبتدأ مؤخره ده خو دا ترکیب صحیح ندی. ځکه خبر محمول وی په مبتدأباندې اودلته حمل نه دی صحیح ځکه سبع وخت ندی.

(۲) بل دا چې ظرف زمان خبرواقع کیږي داحداثو لپاره نه داعیانو لپاره کماقال ابن مالك

ولایکون اسم زمان خبرا عن جثة وان یفدفاخبرا

او دلته السبع عین دی ذات دی اوجوسه ده، نواذاظرف زمان بمعنی وخت د دې نه خبرنه شی واقع کیدی. (۳) داخبرندی دالسبع لپاره ځکه عرب کله کله داخبرذکرکوی چې واقف یالدی الباب وغیره نو که اذابمعنی وخت خبر وی دالسبع لپاره نوعربود دې نه وروسته بل خبرنه ذکرکولی.

(۴) څلورم مذهب دمبرد دې چې اذاظرف مکان بمعنی مکان خبر مقدم اوالسبع مبتدأمؤخره ده دا ترکیب هم نه دی صحیح. (۱) د وجې دعدم صحت دحمل نه. (۲) دویم د دې وجی نه چې عرب کله کله د دې لپاره خبر ذکرکوی.

ووجوبافیما التزم فی موضعه غیره: هرکله چې فارغ شو مصنف دبیان دحذف جوازی دخبر نه نوشروع یې وکړه په بیان حذف وجوبی دخبرکی داوجوبا عطف دی په جوازا باندې او قانون دا دی چې ماقبل د

معطوف عليه معادوى دمعطوف سره فيكون التقدير ويحذف الخبر لقيام قرينة وجوبا اوداوجوبا منصوب دى بنا برمفعول مطلق ديحذف لپاره په اعتباردموصوف محذوف سره چې حذفا دى او دا محمول دى په هغه موصوف مقدرباندې د وجې دكيدود دې نه مبنى للفاعل فيكون التقدير حذفا واجبا، بيا كله چې موصوف حذف شونوصفت قائم شو په مقام دموصوف باندې اودواجبا نه وجوبا جوړشو نو دا مفعول مطلق مجازى اونيابتى دى.

ترجمه: (۱) **ووجوبا** خبر دمبتدأحذف كولى شى په حذف وجوبى سره د وجې د وجود د سد مسد او قرينې نه **فيما** په هغه تركيب كې **التزم** چې لازم كړى شوى دى **فيه** په دغه تركيب كې په موضع د خبر كې غيره غير د خبر نه. (۲) خبر د مبتدأ حذف كولى شى په حذف وجوبى سره په وخت دالتزام د غير د خبر نه په موضع دخبر كې.

تشريح: سوال: فيما التزم كې دا كلمه د مابه خالي نوى يا به يې عبارت وايي دتركيب نه او يا به يې عبارت وايي دخبرنه اودواړه نه دى صحيح كه عبارت شى دخبرنه نوموصوف ياموصول خو بلاعائده پاتې نه شو ليكن لازميږي ظرفيت دشئ لنفسه ځكه د دې معنى دا ده چې خبر حذف كولى شى وجوبا فيما په هغه خبركى، او كه ماعبارت شى دتركيب نه نوظرفيت د شي لنفسه خو نه لا زميږي خو موصوف ياموصول بلاعائده پاتې شوځكه فى موضعه اوغيره كې ضمير راجع دى خبر ته نه ماته چې عبارت دى د تركيب نه اوپه التزم كې هم ضمير نشته چې راجع شى ماته ځكه غيره نائب فاعل دى د التزم لپاره اوضمير مستترهله راځي په فعل كې چې اسناد اسم ظاهرته نوى شوى او كه اسناديى اسم ظاهر ته شوى وونو بيا هم استتار ممتنع دى.

جواب: (۱) دا ما نه عبارت دى د خبر نه او نه عبارت دى دتركيب نه ځكه دا ما موصوله يا موصوفه نه دى بلكه دا ما مصدريه حينيه او ظرفيه مصدريه دى او ما مصدريه رابط نه غواړي فيكون المعنى ووجوبا فى وخت التزام غيرالخبرفى موضع الخبر.

(۲) كه اومنم داخبره چې داماموصوله ياموصوفه دى نو بيا دا عبارت دتركيب نه وايم نه دخبرنه او كه نه وايي چې موصوف ياموصول بلاعائده پاتې شو نوجواب دا دى چې جمله چې صفت دموصوف يا صله دموصول واقع شى نولابدى وى دضميررابط نه خوداضميرعام دى كه لفظا وى او كه تقديراوى دلته تقديرا اومحذوف دى فيكون المعنى ووجوبافى تركيب التزم فيه فى موضعه غيره.

سوال: جمله چې صفت دموصوف لپاره واقع شى وى اورابط ضمير مجروريى حذف شوى وى ماته بل ځاى مثال وخايه چې زمايقين راشى.

جواب: نحوقوله تعالى وَاتَّقُوا يَوْمًا لَا تَجْزِي نَفْسٌ عَنْ نَفْسٍ شَيْئًا دلته يوما موصوف دى اومابعد جمله ورله صفت دى اورابط يې محذوف دى چې فيه دى، بل مثال قوله تعالى فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا يوما موصوف دى او مابعد جمله ورله صفت دى اوفاعل ديجعل ضمير دى چې مستتردى په دې كې كه دا

ضمير راجع کړی يوماته بيا مثال نه جوړيږی، او که داضمير راجع شی الله (ج) ته بيا رابط ضمير مجرور محذوف دی ای يوما يجعل الولدان شيبافيه او که ضمير راجع شی الله ته نو داحقيقت عقلی دی او که يوما ته راجع شی نومجازعقلی دی، زده کړه داخبره چې خبر دمبتدأپه اعتبار دحذف سره دری قسمه دی: (۱) واجب الحذف. (۲) جائزالحذف. (۳) ممتنع الحذف.

وجه دحصر: داخبر به خالي نوی يا به قرينه داله په تعيين دمحذوف باندې موجوده وی يا به نوی که نه وه نوممتنع الحذف لکه قائم شو په زيدقائم کی، او که قرينه داله په تعيين دمحذوف باندې موجوده وه نو بيا به خالي نوی يا به سدمسد موجودوی يانه که نه وونو جائز الحذف او که وونوواجب الحذف په مواضع اربعه کې کماذکره المصنف اول د هغه مواضع اربعه ؤ نه چې خبر دمبتدأپکی حذف کولی شی په حذف وجوبی سره د وجې د وجود د قرينی اوسدمسدنه.

مثل لولا زيد لکان کذا: يعنې دخبر دمبتدأحذف کولی شی وجوبا په لولا زيدلکان کذاکی ياپشان د هغه ترکيبونو چې پشان دلولا زيدلکان کذا دی مراد د دې نه هرهغه ترکيب دی چې مبتدأواقع شوی وی وروسته دلولا امتناعيه نه اوخبريی راغلی وی دافعال عامونه نوخبر ددغه مبتدأ حذف کولی شی وجوبا د وجې دسدمسداوقرينی نه بياعام دی که لولا زيدلکان کذاوی او که د دې پشان بل تراکيب وی نحو قوله تعالی لَوْلَآ أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ وجود د مخاطبينو مانع دايمان دی وقوله عليه السلام (لولا الله ماصدقنا ولا صلينا) وقول الشاعر:

فوالله لولا الله تخشی عواقبه لزعزع من هذا السرير جوانبه. تخشی: حال اوجمله معترضة

وقوله لولاك لکنت حزينا اوس په دې ټولومثالونو کې دلولا نه وروسته مبتدأواقع شوی ده اوخبريی حذف دی وجوباچی موجود دې د وجې دقرينی اوسدمسد نه قرينه په نفس حذف باندې استعمال د مفرد يا رفع د مبتدأ ده او قرينه په تعيين دمحذوف باندې خودا لولا امتناعيه دی ځکه لولا امتناعيه دلالت کوی په انتفاء د شي ثانی د وجې دوجودد شي اول نه اوسدمسد اقامت دجواب دلولا دی په مقام د خبر باندې اوداعی دحذف تخفيف دی.

سوال: ته وايي چې مبتدأ چې واقع شی وروسته د لولا امتناعيه نه دهغې خبر حذف کولی شی وجوبا د وجې د قرينی او سدمسدنه دا خبره ستا منقوضه شوه په دې قول دشاعرباندې، شعر:

ولولا الشعربالعلماء يزری لكنت اليوم اشعرمن لبيد

دا لولاامتناعيه دی او وروسته د دې نه الشعر مبتدأذکرده او وروسته ورله يزری خبرذکردی

جواب: مبتدأ چې واقع شی وروسته دلولانه نوخبر يې حذف کولی شی د وجې دسدمسد اوقرينی نه په دې شرط سره چې خبريی دافعال عامونه وی ځکه لولا قرينه دافعال عاموده نه دافعال خاصو، او که خبر د دې دافعال خاصه وونو هغه به خالي نوی يا به په وخت دحذف دهغې کې قرينه داله په تعيين د محذوف باندې موجوده وی او يا به نوی که موجوده وه نوحذف يې جائز دی نحولولا زيدلهلکت فی

جواب من قال هل زيد محسن اليك، دلته خبر دمبتدأ دافعال خاصونه دی چې محسن دی اوحذف شوي دي جوازاد وجې دوجوددقرينی دالی نه په تعيين دمحذوف باندې چې هغه سوال دسائل دی ځکه مذکور فی السوال کالمعاد فی الجواب وی، او که قرينه داله په تعين دمحذوف باندې نوه نو بيا حذف دخبر نه دی جائز کقولك ابتداء لولا زيد محسن الی لهلكت، بل مثال لکه دغه شعر مذکورشو بل مثال لکه دا جديث د نبی شو لولا قومك حديث عهدبالاسلام لهدمت الكعبة دلته مبتدأ واقع شوی په وروسته د لولا نه اوخبربی زاغلی دی دافعال خاصونه اومذکوردی د وجې دوجوددقرينی دالی نه.

سوال: کسائی ويلی دی چې لولا زيدکی دازيدفاعل دی دفعل مقدرلپاره ای لولا وجدزيدبيا دا مثال مطابق نه شو دممثل سره؟

جواب: په لولا زيدلکان کذاکی مذاهب اربعه اوتراکيب اربعه دی.

(۱) کسائی وايي چې اسم واقع بعدلولا فاعل دفعل مقدردی ای لولا وجدزيد.

(۲) فراء وايي چې دالوشرطيه دی اولا اسم فعل دی بمعنی انتفی اوزيدفاعل دی دلالپاره ای لوانتفی زيدلکان کذا. (۳) اوابن طراوه وايي چې اسم واقع بعدلولا مبتدأ ده اوجواب دلولا ورله خبردی

(۴) او بصريان وايي چې د اسم واقع بعدلولا مبتدأ محذوف الخبردی اومختارعندالمصنف مذهب د بصريان دی ځکه يې دا مثال بناکړی دی په مذهب دبصرينوباندې، ځکه هغه باقی مذاهب په نسبت سره مذهب دبصرينوته کمزوری دی، هرچی دی ضعف دمذهب کسائی نوځکه چې حذف دفعل وجوبا مفسر غواړي اودلته نشته، اومذهب دفراء ځکه کمزوری دی چې اسماء دفعل دوه قسمه دی: (۱) قياسی (۲) سماعی. قياسی راځي په وزن دفعّال باندې اودا په وزن دفعّال ندی، اوسماعی راځي په معنی دماضی او امر حاضرباندې اولا نه چا اسم فعل نه دی ويلی اومذهب دابن طراوه کمزوری دی لعدم الربط بين المبتدأ والخبر.

ومثل ضربی زيداقائما: موضع ثانی دمواضع اربعه ؤ نه چې واجب دی پکې حذف دخبردمبتدأ په حذف وجوبی قياسی سره د وجې دوجوددقرينی اوسدمسدنه ضربی زيداقائما يامثل د دې دی، مراد د دې نه هر هغه ترکيب دی چې مبتدأ واقع شوی وی مصدرصريحی، يامصدرتاويلی اونسبت يې شوی وی فاعل ته يامفعول ته يا دواړو ته د دې لپاره چې دا مصدرقرينه وګرځی دخبرمقدره لپاره ځکه چې اخبار د حدث مقيده دلالت کوی په وجوددهغې باندې اودهغې نه وروسته حال واقع شوی وی دفاعل نه يادمفعول نه يا دواړو نه، اومصدر صريحی صيغه دمصدرته وايي اومصدرتاويلی هغه فعل ماضی او مضارع ته وايي چې په هغې باندې موصول حرفی داخل شوي وی، يامبتدأ اسم تفضيل وی چې مضاف وی مصدرصريحی کذائی ته يامصدرتاويلی کذائی ته اوخبر د دې مبتدأ دافعال عامونه زاغلی وی بيا خبر د دې مبتدأ حذف کولی شی په حذف وجوبی قياسی سره د وجې دقرينی او سدمسد نه مثال د مصدرصريحی لکه ضربی زيداقائما مثال دمصدرتاويلی ان ضربت زيداقائما اومثال د

اسم تفضيل مضاف مصدرصريحى ته لكه اكثرشربى السويق ملتوتا اومثال د اسم تفضيل مضاف مصدر تاويلى ته لكه اخطب مايكون الامير قائما.

تشريح: خبر دمبتدأحذف كيږي په حذف وجوبى قياسى سره بناپه ماذكردمصنف باندې، هركله چې فارغ مصنف دموضع اول دحذف وجوبى دخبر دمبتدأنه نوشروع يې وكړه په موضع ثانى دحذف وجوبى د خبر د مبتدأ كى نو وى ويل چې ضربى زيداقائما، يعني ضربى زيداقائما ياهغه تركيب چې د دې پشان وى په هغې كې به مبتدأ مذكوره وى اوخبربه يې حذف شوى وى په حذف وجوبى قياسى سره د وجې دقرينى اوسدمسدنه.

سوال: د ضربى زيداقائمانه مرادكوم تركيب دى؟

جواب: مراد د دې نه هرهغه تركيب دى چې مبتدأ واقع شوى وى مصدرصريحى ياتاويلى يا صيغه د اسم تفضيل چې مضاف وى مصدرصريحى يا تاويلى ته او د هغې نسبت شوى وى فاعل يامفعول يا دواړو ته او وروسته حال واقع شوى وى دفاعل يا د مفعول يا دواړو نه اوخبرىي د افعال عامونه وى نو خبر يې حذف كولى شى وجوباد وجې دقرينى اوسدمسدنه قرينه داله په تعيين دمحذوف باندې خو دا مبتدأ ده ځكه چې اخبار دحدث مقيده نه دلالت كوى په وجودد هغه باندې اوسدمسدا اقامت دحال دى په مقام د خبر كې ليكن صورتونه دمبتدأمحذوف الخبرپدى مقام كې جوړيږى شل پنځه په مصدر صريحى كې پنځه په مصدرتاويلى كې پنځه په اسم تفضيل مضافه الى مصدرصريحى كې اوپنځه په اسم تفضيل مضاف الى مصدرتاويلى كى، تفصيل يې دا دى: (۱) چې مبتدأ مصدرصريحى وى او نسبت يې شوى وى فاعل ته فقط اودهغې نه وروسته حال واقع شوى وى نحوذهابى راجلا.

(۲) مبتدأ مصدرصريحى وى نسبت يې شوى وى مفعول ته فقط او وروسته ترې حال واقع شوى وى نحو ضرب زيدقائما، دا مثال جوړيږى په دې شرط چې زيد مفعول به شى دضرب لپاره اواضافت د مصدر مفعول به ته راغلى دى او كه دا زيد فاعل شى بيا مثال نه جوړيږى ځكه بيا اضافت د مصدر راغلى فاعل ته نو كيږي دقسم اول نه. (۳) چې دمبتدأ مصدرصريحى نسبت شوى وى فاعل اومفعول به دواړو ته او وروسته حال واقع شوى وى دفاعل نه فقط نحوضربى زيداقائما، (اى حال كونه قائما)

(۴) مبتدأواقع شوى ده مصدرصريحى اونسبت يې فاعل اومفعول به دواړو ته شوي دي اوحال واقع شوى وى دمفعول نه فقط نحوضربى زيدا قائما (اى حال كونه قائما)

(۵) چې مبتدأ مصدرصريحى وى اونسبت يې شوى وى فاعل اومفعول به دواړو ته او وروسته حال واقع شوى وى دفاعل اومفعول به دواړو نه نحوضربى زيدا قائمين. (۶) مبتدأ مصدرتاويلى نسبت يې فقط فاعل ته شوى وى او وروسته ترې حال واقع شوى وى نحوان ذهبت راجلا. (۷) مبتدأ مصدرتاويلى نسبت يې شوى وى مفعول به ته فقط او وروسته ترې حال واقع شوى وى نحوان ضُرِب زيدقائما. (۸) مبتدأ مصدرتاويلى نسبت يې شوى وى فاعل اومفعول به دواړو ته او وروسته حال

دفاعل نه وی فقط نحوان ضربت زیداقائما (ای حال کونی قائما) (۹) مبتدأ مصدرتاویلی نسبت یې شوي دي فاعل اومفعول به ته او وروسته حال فقط دمفعول نه واقع شوی وی نحوان ضربت زیداقائما (ای حال کونه قائما) (۱۰) مبتدأ مصدرتاویلی نسبت یې شوی وی فاعل اومفعول به ته اوحال واقع شوی وی د دواړو نه نحوان ضربت زیداقائمین (۱۱) مبتدأ اسم تفضیل مضاف شوي دي مصدرصریحی ته چې دهغې نسبت شوي دي فاعل ته فقط اودهغې نه وروسته حال واقع شوی وی نحو اکثر ذهابی راجلا (۱۲) مبتدأ اسم تفضیل مضاف مصدرصریحی منسوب الی المفعول فقط او وروسته حال واقع شوی وی نحو اکثر ضرب زید قائما (۱۳) مبتدأ اسم تفضیل مضاف مصدر صریحی منسوب الی الفاعل والمفعول او وروسته حال واقع وی فقط دفاعل نه نحو اکثرضربی زیدا قائما (۱۴) مبتدأ اسم تفضیل مضاف مصدر صریحی منسوب الی الفاعل والمفعول اوحال فقط د مفعول نه واقع وی نحواکثر ضربی زیدا قائما حال ازمفعول (۱۵) مبتدأ اسم تفضیل مضاف مصدر صریحی منسوب الی الفاعل والمفعول ته او وروسته حال وی ددواړونه نحو اکثرضربی زیدا قائمین (۱۶) مبتدأ اسم تفضیل مضاف مصدرتاویلی منسوب الی الفاعل ته فقط او وروسته حال واقع شوی وی نحواکثران ذهبت راجلا (۱۷) مبتدأ اسم تفضیل مضاف مصدرتاویلی منسوب الی المفعول فقط ته او وروسته ترې حال وی نحواکثران ضُرِب زیدقائما (۱۸) مبتدأ اسم تفضیل مضاف مصدرتاویلی منسوب الی الفاعل والمفعول ته او وروسته حال فقط دفاعل نه وی نحواکثران ضربت زیداقائما (۱۹) مبتدأ اسم تفضیل مضاف مصدرتاویلی منسوب الی الفاعل والمفعول ته او وروسته حال فقط د مفعول نه وی نحو اکثر ان ضربت زیداقائما (۲۰) مبتدأ اسم تفضیل مضاف مصدرتاویلی منسوب الی الفاعل والمفعول ته او وروسته حال وی دفاعل اومفعول دواړو ونه نحو اکثران ضربت زیدا قائمین، په دې شلو ځایونو کی مبتدأمحذوف الخبر دی اوخبرد دې مبتدأحذف شوی دی وجوبا د وجې د وجود دسدمسد او قرینی نه.

سوال: دا قاعده ستامنقوضه شوه ستاپدی قول سره چې وحذفه منصوبا ضعیف چې دلته مبتدأ مصدر صریحی دی اونسبت یې شوي دي مفعول ته اودهغې ته وروسته حال واقع شوي دي پشان دضرب زیدا قائما اوخبرد دې نه دی حذف شوی بلکه ذکر دی چې ضعیف دی.

جواب: خبرد دې مبتدأ کذائی حذف کولی شی په حذف وجوبی قیاسی سره په دې شرط سره چې خبرد دې دافعال عامونه وو او که خبریې دافعال خاصونه وونو بیا یې حذف نه دی جائز د وجې دعدم وجود دقرینی دالی نه په تعیین دمحذوف باندې، ځکه دامبتدأکذائی قرینه ده دخبرعام لپاره نه د خبر خاص لپاره اومصنف دمبتدأمحذوف الخبر وجوبالپاره د دې شل صورتونه صرف یوصورت ذکر کړی دی چې ضربی زیداقائما دی ضرب مصدر مضاف ي ضمیرد متکلم مضاف الیه فاعل زیدامفعول به او قائما حال دی دفاعل نه یادمفعول به نه، مصدرمضاف سره دمضاف الیه مفعول به اوحال نه مبتدأ او خبر د دې حذف دی وجوبا د وجې دقرینی اوسدمسدنه، قرینه په نفس محذوف باندې استعمال د

مفرد دی اوقرینه په تعیین دمحذوف باندې خودمصدردی ځکه اخباردحدث مقید نه دلالت کوی په وجود د هغې باندې اوسدمسدا اقامت دحال دی په مقام دخبرباندې اوداعی دحذف تخفیف دی. اوپه تقدیر د ضربی زیدا قائماکی مذاهب اربعه دی. (۱) بصریان وایي دا اصل کې ضربی زیداحاصل اذا کان قائما وو بیا حاصل حذف شو د وجې د سدمسد او قرینې نه اذاظرف قائم شو په مقام دخبرضربی زیدا اذا کان قائما شو بیا دا ظرف حذف شو او حال قائم شو په مقام دظرف باندې ځکه دحال په معنی کې ظرفیت دی، اودحال قائم شو په مقام دظرف باندې اوظرف قائم وو په مقام دخبرباندې نوحال قائم شو په مقام دخبرباندې نوضربی زیدا قائما شو.

سوال: حاصل خویی خبرراویستواوقائما سدمسدشود هغه خبرمحذوفه نواذاکان دځه لپاره را اوباسې؟

جواب: قائما حال دی اوحال اوذوالحال عامل غواړي نوکان یې راویستو لپاره دعمل اوداکان تامه دی ضمیر مستتره یې فاعل ذوالحال دی اوقائما حال دی دهغې نه اواذایی راویستلی دی لپاره د دې چې د خلیفه اوداصل په مینځ کې مناسبت راشی ځکه حال کې معنی دظرفیت ده نحو جاءنی زیدراکبا. ای وخت الرکوب.

سوال: عامل دقائما لپاره دی حاصل شی یادی ضربی شی کان مقدرولی را اوباسې؟

جواب: که عامل ضربی شی نو بیا قائما معمول د مبتدأ شو او معمول دمبتدأنه قائمیږی په مقام د خبر باندې نوحذف دخبرراځي بدون سدمسد، او که عامل حاصل شو بیالازمیږي فساددمعنی ځکه ذوالحال به ضمیر مستتر دحاصل شی چې راجع دی مصدرمذکورته نومعنی دا چې ضرب زمازیدلره حاصل دی په حال کون د دې ضرب کې چې ولاړوو اودامعنی باطله ده ځکه ضرب قائم ندی. (۲) او شیخ رضی اعتراض کړی دی په تقدیردبصریانوباندې چې وفیه تکلفات کثیرة: (۱) یوحذف داذاراغی سره دجمله مضاف الیه نه اودابل ځای کې نه دی ثابت (۲) عدول راغی دکان ناقصه نه چې اصل دی او ظاهر دی په دې مقام کې تامه ته چې خلاف الظاهر دی ځکه متبادردداده چې داکان ناقصه دی ضمیر مستتر یی اسم دی اوقائما ورله خبردی. (۳) قیام دحال راغی په مقام دظرف کې نوشیخ رضی وایي چې تقدیر دارنګې دی ضربی زیدایلابسه قائما، که چری داقائماحال واقع شی دمفعول نه یا ضربی زیدا یلابسنی قائما که قائما حال دفاعل نه شی بیامفعول دیلابس حذف شو نوضربی زیدا یلابس قائما شو ځکه چې حذف دذوالحال په وخت دوجوددقرینه داله کې په تعین دمحذوف باندې سره د بقاء دحال نه جائزدی نحوالذی ضربت قائما زید بیا دایلابس خبردمبتدأ چې عامل دی په دې حال کې حذف شواوحال قائم شو په مقام د هغه باندې نوضربی زیداقائما شو ځکه حذف دعامل سره د بقاء د حال نه جائز دی نحو راشدا مهدیا ای سر راشدامهدیا.

جواب: دطرفه دجمهورونه شیخ رضی ته دا دی چې کم من فاسد واحد اعظم من مفاسد لقوته، یعنې تا چې کوم تقدیر راویستو په دې کې یونقصان دی خو دا لوی دی د هغه درې نقصاناتو نه چې لازمیده په

خبرد بصريانوباندې ځكه تاخبرفعل خاص راويستو نو لازم شو حذف دخبردمبتدأبي دوجوددقريني دالي نه په تعيين دمحذوف باندې ځكه دا مبتدأ كذائي قرينه دفعل عام ده نه دخاص اوحذف د خبر د مبتدأ بدون القرينه نه دي جائزاوحذف د اذا سره د مضاف اليه نه كثيراوشائع دي په استعمال د كلام د عرب كې كمافي قول المصنف فلا بد من عائد دا فاء فصيحيه ده دلته شرط مقدردي اى واذاكان الامر كذلك اوكان دوه قسمه دي (۱) كله تامه راځي اوكله ناقصه دلته مونږ حمل كړى دي په يوقسم باندې چې تامه دي په قرينې د مقام سره اواقامت دحال راغلي دي په مقام دظرف كې د وجي دمناسبت په مابين د دې دواړو كې (۳) دريم مذهب دكوفيين دى هغه وايي چې ضربى زيداقائما مبتدأ ده اوخبرد دې حذف شوي دي وجوبا چې حاصل دى اصل كې ضربى زيداقائماحاصل ووبيا داخبرحذف شوجوبانوضربى زيدا قائما پاتې شو، اوس كوفيان فقط حاصل ولې مقدررا اوباسي بې داذاكان نه وجه لقلةالحذف ځكه تقليل فى الحذف اولى دى دتكثيرفي الحذف نه (۲) او دا قائما يى معمول د مذكور وګرځوونه دمقدرځكه معمول دمذكورګرځول اولى دى دمقدرنه ليكن دكوفيانومذهب هم كمزورى دى (۱) ځكه حذف د خبر راځي بې دسدمسد نه ځكه كوفيانوقائمامعمول دمصدرلپاره وګرځوو او قاعده دا ده چې متعلقات دماقبل نه قائم كيږي په موضع دمابعدكي (۲) مقصود د متكلم د مبتدأ نه عموم دى ځكه شيخ رضى دا قاعده بيان كړى ده چې اسم جنس چې مستعمل شي معرفه باللام يا معرفه بالاضافت او قرينه دعهد نوى نو داصريح وى په عموم اواستغراق كې لپاره د دې چې لازم نشي ترجيح بلامرجح كقول المصلى فى التشهد السلام علينا وعلى عبادالله الصالحين، (قال ابن سعودرضى الله عنه اصاب كل عبد صالح فى السماء اوفى الارض) اودلته ضربى مستعمل شوي دي معرفه بالاضافت اوقرينه د عهد نشته نو مقصود عموم او استغراق دى او دا قائما چې حال وګرځوو د فاعل يا مفعول به نه نو تقييد د ضرب راغى په قيام باندې ځكه عامل قيد د ذوالحال دى (۴) او اخفش وايي چې خبر محذوف په دې مقام كې مصدرمضاف الى صاحب الحال دى نوكيږي تقدير داسې ضربى زيداضربه قائما، اودلائل داخفش دوه دي (۱) قلة الحذف (۲) مقدر د جنس د مذكور نه وګرځولى شو او دا اولى دى ليكن دده مذهب هم كمزورى دى ځكه ده هم خبر مقدم فعل خاص راويستو نو حذف دخبر راغى بې دقرينى دالي نه په تعيين دمحذوف باندې ځكه دغه مبتدأ كذائى قرينه داله ده د خبر عام لپاره نه دخبرخاص لپاره او كه ته وايي چې خبردمبتدأكذائى حذف كولى شى مطلقا كه ذافعال عامونه وى او كه دخاصونه وى نو دا عبارت دمصنف صحيح نه شو چې وحذفه منصوبا ضعيف (۲) مصدرضعيف العمل دى په تقديرسره په مذكوركى عمل نشى كولى
(۳) مصدرپه حين دعمل كې په تاويل ان مع الفعل سره وى اوان موصول حرفى دى نولازم شو حذف د بعض اجزاء دصلى اوبقاء دبعضو اوداباطله ده (۵) ابن درستويه وايي چې دا مبتدأ ده داسې مبتدأ چې لاخبرله دلائل دده دوه دي (۱) دا ضربى زيدا قائما قياس كوى په مبتدأقسم ثانى چې هغه مبتدأ

دی او خبر ورله نشته نود دې لپاره هم نشته. (۲) داپه معنی دفعل سره دی ضربی زیدا قائما معنی دا ده چې ما اضربُ زیدا الاقائما ، هرکله چې دابمعنی فعل شو نوتقدیر دخبرته ضرورت نشته اودا مذهب هم کمزوری دی ځکه قیاس د دې په قسم ثانی قیاس مع الفارق دی ځکه هغه مرکب تام دی اودامرکب ناقص دی ځکه هلته دمبتدأمسندبه لپاره فاعل سدمسدشته اودلته مسندالیه شته مسندنشته اودا مفید د فائدی تامی نه دی سامع اومخاطب ته، اود دې بل دلیل نه جواب دا دی چې منم چې ضربی زیدا قائما بمعنی ما اضرب الازیداقائما سره دی ځکه چې ضربی زیداقائما کې عموم اوستغراق دی. او ما اضرب زیدا الاقائما کې هم عموم دی خوفرق دا دی چې ضربی زیداقائما کې ادات دحصر لفظا نشته بلکه حصر معنوی موجود دې چې اضافت داستغراق لپاره اوما اضرب زیدا الاقائما کې ادات د حصر لفظا شته دی. (۲) دویم فرق دی په مابین دشئ او مؤل بالشئ کې. (۳) تاویل دیوی نوع په بلی سره نه اوباسي شی دخپل حقیقت نه لکه جاءنی زید راکبا کې دحال نه مفعول فیه جوړیږی په تاویل سره اي وخت الرکوب ترخو پورې چې د دې حال نه تاویل په مفعول به سره نوی شوی نودیته حال وایي نه مفعول فیه. (۴) ته وایي چې ضربی زیدامبتدأ ده اود دې لپاره خبر نشته نو زه درنه تپوس کوم چې مبتدأ دوه قسمه ده: (۱) قسم اول (۲) قسم ثاني نوته ورته کوم قسم وایې اول که که ثاني که قسم ثاني ورته وایی نو هغه خو مشروط ده په شروط ثلاثه ؤ سره اودلته یوهم نشته او که قسم اول یې وایي نو هغه خو اسم ته وایي چې مجردوی دعوامل لفظیونه اومسندالیه وی اودمسندالیه لپاره لابدی وی د مسند نه نو ته ورته څنګه مبتدا وایي بدون الخبر؟ (۵) مبتدأ ته عندالنحات ذو خبر هم وایي ځکه چې دا بدون الخبرنه راځي.

وكل رجل وضيعته: دریم موضع د هغه مواضع اربعه ؤ نه چې واجب دی پکې حذف دخبر دمبتدأپه حذف وجوبی قیاسی سره د وجې دوجوددقرینی اوسدمسدنه کل رجل وضیعته دی اوهغه ترکیبونه چې پشان د دې وی لکه کل صانع وماصنع شو مراد د دې نه هرهغه ترکیب دی چې دمبتدألپاره خبر راغلی وی داسې یواسم چې هغه دلالت کوی په مقارنت اواقتران باندې اودهغې نه وروسته یواسم راغلی وی چې هغه عطف کړی شوی دی په خبر باندې په واو بمعنی مع سره واو بمعنی مع دیته وایي چې دلالت کوی په دې چې داحکم ثابت دی معطوف علیه او معطوف دواړو لره سره داتحاددزمان او مکان نه، بیا خبر د مبتدأ حذف کولی شی د وجې د سدمسد او قرینی نه، **كل رجل** مضاف مضاف الیه مبتدأ ده او خبر یې حذف دی چې مقرون دی فیکون التقدیر کل رجل مقرون مع وضیعته قرینه په نفس حذف باندې استعمال د مفرد یا رفع د کل رجل ده او قرینه داله په تعیین دمحذوف باندې دا واو دی ځکه دا بمعنی مع دی دلالت کوی په مقارنت باندې او سدمسد اقامت د معطوف دی په مقام د خبر کی او داعی د حذف تخفیف دی.

سوال: وضیعته به خالي نوی یا به یې عطف وایي په مبتدأباندې چې کل رجل دی او یا به یې عطف وایي ضمیرمستتردخبرمحذوف باندې که عطف یې وایي په مبتدأباندې بیا دادخبرنه مخکې شو او

متعلقاتو دمبتدأنه شو او قانون دا دی چې ماقبل دخبرنه نه قائم کیږي په مقام دخبر کې نوحذف د خبر راغی بې دسدمسد نه او دا باطل دی او که عطف یې وایې په ضمیر دمقرون باندې نوعطف د اسم راغی په ضمیر مرفوع متصل باندې بې دتاکیدنه په منفصل سره اوداندی جائز.

جواب: (۱) وضیعته عطف دی په ضمیر مستتردمقرون باندې بنا په مذهب دکوفیانو باندې ځکه کوفیان عطف د اسم په ضمیرموفوع متصل باندې بدون التاکید بالمنفصل جائز وایی نحوجئت و زید. (۲) او که اومنم چې داترکیب بنادی په مذهب دبصرینو باندې نو بیاعطف دوضیعته راغلی دی په ضمیر مرفوع متصل پس دتاکیدنه په منفصل سره اصل کې کل رجل مقرون هو وضیعته وو بیاکله چې خبر حذف شو دسدمسداوقرینی د وجې نه نوضمیرمرفوع منفصل هم حذف شو نوکل رجل وضیعته پاتې شو. (۳) یا داوضیعته عطف دی په مبتدأباندې چې کل رجل دی اودا اګر چې رتبتا وکې دی دخبر نه ځکه دادمتعلقاتو دمبتدأنه دی لیکن لفظا وروسته دی دخبرنه او دا ما بعد د خبر قائم کیږي په مقام دخبر باندې ځکه دامعطوف دمبتدأقائم شو په مقام دخبر باندې.

ولعمرك لافعلن كذا: موضع رابع دمواضع اربعه ؤ نه چې واجب دی پکې حذف دخبردمبتدأپه حذف وجوبی قیاسی سره د وجې دوجوددسدمسد اوقرینی نه لعمرك لافعلن کذادی مراد د دې نه هرهغه ترکیب دی چې مبتدأواقع شوی دی مقسم به اومشهوروی په قسم کې.

ترکیب: لام ابتدائیه تاکیدیه عمرك مضاف مضاف الیه مبتدأ اوخبریې محذوف دی چې قسمی دی د وجې د وجود د قرینی اوسدمسد نه قرینه په نفس محذوف باندې استعمال دمفردیارفع دعمرك ده او قرینه په تعین دمحذوف باندې خودمبتدأ ده ځکه دامبتدأمقسم به دی د دې لپاره لابدی ده دقسم نه اوسدمسد اقامت دجواب قسم دی په مقام دخبر باندې اوداعی دحذف تخفیف دی او که مبتدأواقع شوی وو مقسم به او مشهور نه وو په قسم کې بیاحذف دخبرددغه مبتدأواجب نه دی بلکه جائز دی نحو لعهدالله لافعلن كذا ای لعهدالله قسمی لافعلن كذا، دلته مبتدأواقع شوي دي مقسم به چې عهد الله دی خو دا مشهور نه دی په قسم کې اود دې عدم شهرت د وجې نه حذف دخبرد دې واجب ندی.

سوال: عمرو یواسم دی راغي مقابل دزیدیامقابل دبکرخالدوغیره اوداعمروعلمی خومقسم به نه واقع کیږي او دارنګې دهغې اضافت هم نه دی جائزځکه معرفه بالعلم دی نو دا مثال مطابق نه شو دممثل سره. **جواب:** دلته عمروعلمی نه دی مرادبلکه مرادعمرونه مرادف دعمردی.

سوال: هغه خو په ضمی دعین سره راغي نه په فتحی دعین سره نو بیا پکاروو چې لعمرك یې ویلی وی؟

جواب: عمر په ضمی دعین سره راغي اوعمرپه فتحی دعین سره دادواړه مرادفین دی په یوه معنی راغي لیکن د لام ابتدائی تاکیدی سره نه مستعملیږی مګرعمرد وجې دکثرت استعمال دقسم نه لپاره دتخفیف ځکه یې لعَمرك ویلی دی نه لعُمرك.

سوال: په حدیث کې خوراغي چې (من حلف بغیرالله فقداشرك) نوحلف په عمر د مخاطب خو شرك دی.

جواب: دا عبارت په حذف دمضاف سره دی ای لواهب عمرك لافعلن كذا
سوال: چې عمرك مبتدأ ده اوخبرد دې حذف شوي دي وجوبا چې قسمي دی اوخبر محمول وی په مبتدأ باندې اودلته حمل نه دی صحيح څکه داعمرصفت دمخاطب دی اوقسم صفت دمتکلم دی نوحمل د صفت دمتکلم راغی په صفت دمخاطب باندې اودا ندی صحيح
جواب: قسمي په معنی دما اقسم به سره دی نوحمل د دې خبر صحيح شويدی مبتدأباندې، پس زده کړه دا خبره چې يو عُمردی او بل عَمردی: عَمردوه قسمه دی: (۱) يوعمرعلمی د ی لکه عمرو بن العاص (۲) عمر اسمی مرادف دعُمرنحولعمرك لافعلن كذا. اوعُمرهم دوه قسمه دی: (۱) عمرعلمی نحو عمر بن الخطاب. (۲) او بل عمراسمی دی چې جمع دعمرة راځي
كما فی الحديث (اعتمرالنبی صلی الله عليه وسلم ثلاث عمر) درې عمری، مبتدأ اوخبرکی صورتونه په اعتبار د استعمال سره شپږ دی: (۱) چې مبتدأ اوخبردواړه مذکوروی نحوزيدقائم
(۲) چې مبتدأ اوخبردواړه محذوف وی نحوقول تعالی ﴿وَالَّئِي لَمْ يَحِضْنَ﴾ د دې نه وروسته تتمه د دې كلام مبتدأ اوخبر دواړه محذوف دی ای ﴿فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشْهُرٍ﴾. (۳) چې مبتدأمذکوروی اوخبر حذف شوی وی نحوخرجت فاذا السبع. (۴) بالعکس چې خبرمذکوراومبتدأمحذوف وی نحوالهلال والله.
(۵) ما يحتمل المبتدأوالخبر يعنې داترکيب محتمل داحتمالين دی دا احتمال هم لری چې مبتدأ مذکوردی اوخبر محذوف دی اوداهم احتمال لری چې خبرمذکوردی اومبتدأحذف شوي دي نحو قوله تعالی ﴿طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَّعْرُوفٌ﴾ (۱) دامبتدأ اوخبريې حذف دی چې امثل دی. (۲) بالعکس چې داخبردی اومبتدأيې حذف شوی ده ای امرنا طاعة وقول معروف، بل مثال نحوقوله تعالی (فعدة من ايام اخر) فما استيسر من الهدی، فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ دا دری واړه ايتونه محتمل داحتمالين دی: (۱) مبتدأ مذکور دی اوخبريې حذف شوي دي ای فعليه اوفعليکم. (۲) بالعکس چې دادری واړه ايتونه خبردی او مبتدأ يې محذوفه ده ای فالواجب بل مثال لکه داقول دالله (ج) شو﴿هَٰذَا ۚ وَإِنَّ لِلطَّاغِينَ لَشَرَّ مَآبٍ﴾ دامحتمل د احتمالين دی. (۱) هذامبتدأ ده اوخبريې حذف دی ای هذاكماذکر. (۲) بالعکس ای الامرهذا.
(۶) ما يحتمل الامور الثلاثة نحوقوله تعالی ﴿فَصَبْرٌ جَمِيلٌ﴾ (۱) داخبردی اومبتدأيې حذف شوي دي ای فامری صبرجميل. (۲) بالعکس ای فصبرجميل امثل. (۳) مبتدأ اوخبردواړه حذف شوی دی په دې شان سره چې فصبرمبتدأ ده اوخبريې حذف شوی دی اوجميل خبر د مبتدأمحذوفی دی فيكون التقدير فلی صبر وهو جميل
خبر ان واخواتها: ربط: هرکله چې فارغ شو مصنف دبيان د نوع ثالث او رابع د اقسامو د مرفوعات نه يا اقسامو د جنس مرفوع نه نوشروع يې وکړه په نوع خامسه داقسامودجنس مرفوع کې فقال خبران واخواتها.
(ترجمه) بعض دجنس مرفوع نه خبردان دی اوخبرد هغه حروفودی چې مشابه دی دان سره چې ان کان ليت لکن اولعل دی.

تشریح: په دې مقام کې لابدي ده دمعرفت دامورخمسه ؤ نه: (۱) معرفت دربط. (۲) معرفت دغرض د مصنف (۳) معرفت دترکیب (۴) معرفت دتعریف دخبر دان. (۵) معرفت دمذاهب په خبردان کې (۱) معرفت داحکامودخبردان، نوربط دا دی چې مخکې بیان دنوع ثالثې اورابعې داقسامودجنس مرفوع وو اودا بیان دنوع خامسې دی اوپدې سره غرض دمصنف هم معلوم شو چې بیان دنوع خامسې دی چې هغه خبر دحروف مشبه بالفعل دی.

ترکیب: **خبر** مضاف **ان** مضاف الیه علیه او**اخواتها** عطف دی په ان معطوف علیه سره د معطوف نه مضاف الیه مضاف سره دمضاف الیه نه مبتدأ اوخبریې حذف دی چې منه دی.

سوال: منه خبریې ولې حذف کړی دی؟

جواب: دایې حذف کړی دی مقایسة ځکه دادمصنف قاعده ده چې کله اقسام دیوشي بیانوي نوکوم چې اصل وو دهغې سره منه ذکرکوي اودباقي سره یې ترك کوي لکه مفاعیل خمسه ؤ کې مفعول مطلق اصل دی نودهغې معطوف سره یې منه ذکر کړی دی اودنوروسره یې ترك کړی دی مقایسة نو دلته فاعل اصل وو د هغې سره یې ذکر کړی وواودلته یې ترك کړو.

سوال: ته وایې چې خبرمضاف اوان مضاف الیه دی نومضاف الیه خواسم وي اوان خوحرف دی اوحرف خو په ترکیب کې نه مضاف واقع کیږي اونه مضاف الیه واقع کیږي ځکه مضاف الیه مجروروي لفظا یا تقدیرا یا محلا اوپه حرف کې اعراب نه لفظا راځي نه تقدیرا اونه محلا ځکه دامبنی اصل دی.

جواب: ان په دې مقام کې مرادااللفظ علم دی د هغه ان لپاره چې واقع کیږي په تراکیبو کې نود علمیت د وجې نه پکې اسمیت راغی نومضاف الیه واقع شو.

سوال: مضاف الیه مجرور وي اوان خومجرورندی؟ **جواب:** مضاف الیه مجرور راځي لیکن مجرور عام دی که لفظا وي که تقدیرا وي او که محلا وي دامجرورمحلادی.

سوال: مضاف الیه مجرورمحلاخواسم مبنی راځي اواسم مبنی (۱) (۲) قسمه دی اوان خو دهغې نه یوهم ندی؟ **جواب:** دا ان اسمي مبنی دی ځکه دامشابه دی دان حرفي سره نوپدې کې اعراب محلا راځي

سوال: اخواتها کې ها ضمیرچا ته راجع دی؟ **جواب:** داراجع دی ان ته

سوال: هاضمیر دمؤنث دی اوان خو مذکردی ځکه په دې کې علامه دتأنیث نشته چې تامتحرکه یا الف مقصوره یا الف ممدوده دی نومطابقت رانغلو

جواب: دا ان په تاویل دکلمة سره مؤنث دی نوځکه یې ورته ضمیر دمؤنث راجع کړی دی.

سوال: اخوات جمع داخت ده اواخت خورته وایې اود دې اضافت کیږي هغه چا ته چې د هغه لپاره خور وي اواضافت داخوات ان ته نه دی صحیح ځکه د دې لپاره خویندی نشته ځکه خویندی دذوي الارواح لپاره وي اوان دقبیلې داعراضو نه دی؟ **جواب:** اخوات دلته بمعنی الامثال والاشباه دی اواسم دان منصوب دی اوناصب د دې لپاره داحروف مشبه بالفعل دی بالاتفاق اوخبر دان مرفوع راځي اود دې

په عامل کې دوه مذهبه دی (۱) بصریان (۲) کوفیان کوفیان وايي چې رافع د دې خبرعامل معنوی دی چې ابتداء دی نه حروف مشبه بالفعل ځکه حروف مشبه بالفعل ضعیف العمل دی عمل کولی شی مع الوصل اومع الفصل عمل نشی کولی اودلته فصل راغلی دی په اسم دحروف مشبه بالفعل سره، او بصریان وايي چې رافع د دې حروف مشبه بالفعل دی ځکه چې حروف مشبه بالفعل عمل کوی د وجې دمشابهت نه دفعل سره لفظا اومعناهرچی دی لفظانوپه ثلاثیت رباعیت خماسیت اوفتحه د حرف اخیر او الحاق دنون وقایه وغیره کې اوهرچی دی معنا نومعنی دحروف مشبه بالفعل ملزوم او معنی د فعل ورسره لازم ده اومشبه حکم دمشبه به اخلی اودفعل لپاره دوه عمله دی (۱) اصلی (۲) فرعی عمل اصلی دفعل تقدیم دمرفوع د ی په منصوب باندې نحوضرب زید عمرا، اوعمل فرعی تقدیم د منصوب د ی په مرفوع باندې نحوضرب عمرازیدنوموږه دی حروف مشبه بالفعل ته د دې مشابهت د وجې نه عمل فرعی دفعل متعدی ورکړوچی تقدیم د منصوب دی په مرفوع باندې، ا وجواب د دلیل د کوفیانو نه دا دی چې تاسووایی چې داحروف مشبه بالفعل ضعیف العمل دی عمل کوی مع الوصل او مع الفصل عمل نشی کولی، نوان شرطیه هم حرف د ی اودا خوعمل دجزم کوی په شرط اوجزاء دواړو کی کله چې شرط او جزاء مضارع راشی نو دارنګې داهم دی، او هر کله چې مختار عند المصنف مذهب د بصریانو وو نو ویې ویل چې بل د مرفوعاتونه خبر د ان او خبر د اخواتو د ان دی او ثمره د خلاف د کوفیانو او بصریانو ظاهریږی په ان زیداوعمروذاهبان کې په دې شان سره چې داترکیب ممتنع دی عندالبصریین ځکه لا زمیږي تواردد عاملینو مختلفینو چې ان اوعامل معنوی دی په معمول واحدباندې چې ذاهبان دی ځکه که دخبردان شی نوعامل پکې لفظی دی او که خبردعمرشی نو عامل پکې معنوی دی اوکوفیانوپه نیز باندې جائز دی ځکه داخبر دان شی او که خبردعمروشی نو عامل پکې معنوی دی.

سوال: خبر د حروف مشبه بالفعل عندالنحاة څه ته وايي؟

جواب: هو المسندبعد دخول هذه الحروف. ترجمه: هوخبردان اودا خوات دان په اصطلاح دنحویانو کې **المسند** هغه شئ ته وايي چې مسندوی شی اخر ته بعددخول هذه الحروف پس ددخول دیوحرف د دې حروف مشبه بالفعل نه په دې اسم اوخبرباندې لپاره دایراث داثر پده کې لفظا اومعنا مثال لکه قائم شو په ان زیدا قائم کې چې داخبر ان دی ځکه چې داقائم یوشی دی مسند دې شی اخرته چې زید دې پس ددخول د ان نه په دې زیدا اوقائم باندې، اودی ان تأثیرکړی دی په زیدا اوقائم کې لفظا اومعنا هر چې دی لفظا نو زیدا لره یې نصب ورکړی دی اوقائم لره رفع ورکړی دی اوهر چې دی اثرمعنوی نو د زید نه یې مسند الیه جوړ کړی دی او د قائم نه یې مسند جوړ کړی دی.

سوال: تا چې کوم تعریف دخبردان وکړودامانع نه شو ددخول دغیرنه داخل شو پکې فعل مضارع لکه یقوم شو په دې ترکیب کې چې ان زیدا یقوم ابوه ځکه یقوم یو شی دی مسند دې شی اخر ته چې ابوه دی پس د دخول د ان نه نو تعریف د خبر وربانډې صادقیږی حالانکه دا خو خبر د ان نه دی بلکه خبر د

ان خو دا يقوم ابوه ټوله جمله ده نه يواځې فعل اوتعريف دخبرخويواځې په دې فعل هم صادقيږي او تعريف کې لابدي وي دجامعيت اومانعيت نه کوم تعريف کې چې جامعيت اومانعيت نوي هغه تعريف باطل وي لهذااستادا تعريف باطل دى د دې اعتراض نه شارحينو مختلف جوابونه کړي دي.

(۱) بعض وايي چې مراد د مسندنه اسم مسند دې نوتعريف صادق نه شو په يقوم ځکه دافعل مسند دې نه اسم مسند خوداجواب کمزوری دی ځکه مراد د مسندنه چې اسم مسند شي نو بياتعريف دخبر دان جامع نه شو ځېلو افرادو لره خارج شو د دې نه هغه جمله چې خبر واقع شوي وي دان لپاره لکه دغه يقوم ابوه شو او که ته تاويل کوې نوتاويل خلاف الاصل دی، او بل دا چې خبردان پشان دخبر دمبتدأ دی لکه څنګه چې خبردمبتدأکله مفردراځي اوکله جمله راځي نو دارنګې خبر دان به هم کله مفردوی او کله به جمله وی نومعلومه شوه چې مراد اسم مسندندی. (۲) اوبعض وايي چې مراد د مسندنه مسند دې اسم دحروف مشبه بالفعل ته نوتعريف په يقوم باندې صادق نه شوځکه چې دامسند اسم ته نه دی بلکه فاعل ته مسند دې خوداجواب هم کمزوری دی ځکه که مراد د مسندنه مسند شي اسم دان ته نو بيا ذکر د بعد دخول هذه الحروف لغوه کيږي ځکه داقيد يې ذکرکړی دی لپاره داخراج ديقوم په ان زيدا يقوم ابوه کې نوهرکله چې مرادمسندشواسم دان ته نويقوم خارج شو په المسند سره نو بعد دخول هذه الحروف لغوه شو. (۳) لهذا اصلي جواب هغه دی چې شارح جامي کړی دی چې مراد د مسند نه مطلق مسند دې الى شئ اخر نو داجنس شو اوبعددخول هذه الحروف فعل دی په دې سره خارج شو خبر د مبتدأ او خبر د لالنفي الجنس اويقوم په ان زيدا يقوم ابوه کې ځکه مراد د دخول نه دخول د دې حروفودی لپاره دايراث داثر په دې کې لفظا اومعنی اويقوم يو شی دی چې مسند دې شئ اخر ته پس ددخول د دې حروفونه خودی حروفوپکې اثرندی کړی نه لفظا اونه معنی، بلکه دی عمل کړی دی په دې مجموعه يقوم ابوه کې.

وامره کامرخبرالمبتدأ: ربط: هرکله چې فارغ شو مصنف دبيان دتعريف اومثال دخبردان اودا خوات دان نه پس شروع وکړه په بيان داقساموواحکامودخبردان اودا خوات کې په طريقې دحوالې سره په خبر د مبتدأ باندې نو وې ويل **وامره کامرخبرالمبتدأ**

ترجمه: شان او حکم د خبر دان اودا خوات دان په مثل دشان اوحکم دخبر دمبتدأ په اقساموکی چې هغه کون د خبر دی مفرداوجمله اوکون دخبردی نکره اومعرفه. (۲) په احکاموکی چې هغه کون دخبر دی واحدا اومتعددا اومثبت اومحذوف. (۳) په شرائطو کې په دې شان سره چې جمله چې خبر واقع شی د مبتدأ لپاره نولابدی ده درابط نه اورابط خلوريا پنځه قسمه راځي، او که رابط ضميروونوحذف يې جائز دی په وخت دقرينه داله کې په تعيين دمحذوف باندې دغه شان چې خبرواقع شی دان لپاره نو لابدی ده درابط نه اوزابط خلوريا پنځه قسمه راځي، او که رابط ضميروو نوحذف کولی شی جوازا په وخت دقرينه داله کې په تعيين دمحذوف باندې اوحکم دخبر دان پشان دحکم دخبر دمبتدأ دی په هغه لفظ کې چې هغه صالح دی لپاره دوقوع دخبر دان او که صالح لپاره دوقوع دخبر د ان نه وو لکه اسم

متضمن ماله صدرالكلام لره نو بيا خبردمبتدأواقع كيږي اوخبر دان نه واقع كيږي نحواين زيد من ابوك، فلايقال ان اين زيد، ان من اباك، ځكه لازميږي فوت دماله صدرالكلام

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دى اوغرض دمصنف د دې عبارت نه څه دى

جواب: ربط يې دا دى چې دامخكې تعريف دخبر دان وو اودا بيان دحكم دخبران دى. اوغرض دمصنف هم معلوم شو چې بيان داقساماواحكامودخبر دان دى په طريقى دحوالى سره په خبر دمبتدأباندې

سوال: ته وايي چې شان دخبر دان پشان دخبر دمبتدأ دى نو داپشان دخبردمبتدأپه څه کې دى؟

جواب: امر د خبر د ان پشان د امر د خبر د مبتدأ دى په اقساموكى اوپه احكاموكى اوپه شرائطوكى په دې شان سره چې خبر دمبتدأدوه قسمه دى: (۱) معرفه (۲) نكره. نو خبر د ان هم دوه قسمه دى معرفه, او نكره، اوبياخبردمبتدأڅلورقسمه دى: (۱) مفرد (۲) جمله (۳) ظرف (۴) جار مجرور. نو خبر د ان هم دغسې څلور قسمه راځي اوهرچى دى په احكاموكى نوخبر دمبتدأكله واحد راځي اوكله متعددكله مذكورا و كله محذوف د وجې دقرينى دالى نه په تعيين دمحذوف باندې دارنګې خبر دان هم دى، او هر چې دى په شرائطو كې چې جمله خبر د مبتدأ واقع شى نو لابدى وى د عائد او د رابط نه او دا خبر حذف كولى شى په وخت دوجود دقرينى دالى كې په تعيين دمحذوف باندې اوخبر دان حذف كولى شى جوازا په وخت د وجود د قرينې دالى كې په تعين دمحذوف باندې

سوال: چې تامفرداوجمله اونكره اومعرفه ته اقسام وويل اوواحد متعدداومثبت اومحذوف دى احكام دخبر دمبتدأوګرځول اولى؟ **جواب:** (۱) دا فرق اصطلاحى د ى دنحويانو عرف اواصطلاح په دې قائمه ده او پدى بنا ده چې دې اولنو ته اقسا م وايي اودى وروسته ته احكام وايي فلامناقشة فى الاصطلاح (۲) دى اولنوته اقسام وايي ځكه د دې په مينځ كې تغيرذاتى دى اواقسام هم دغسى وى اود دې باقى مينځ كې تغيرذاتى نشته دى نوځكه يې ورته احكام وويل

سوال: ته وايي وامره كامر خبر المبتدأداخبره ستامنقوضه شوه په اين زيدسره چې اين متضمن دى ماله صدرالكلام لره خبر دى دمبتدألپاره چې زيد دې اوداخبر دان لپاره نه واقع كيږي ځكه لازميږي فوت د ما له صدرالكلام نوته څنګه وايي چې وامره كامرخبر المبتدأ؟

جواب: زه چې وايم وامره كامر خبرالمبتدأداپه هغه خبركى چې هغه صالح وى لپاره دوقوع دخبر دان او په اين زيدكى اين صالح نه دى لپاره دوقوع دخبر دان ځكه دا اسم متضمن دى ماله صدرالكلام لره او كوم اسم چې متضمن وى ماله صدرالكلام لره هغه خبر دان نه واقع كيږي لپاره د دې چې لازم نشى فوت دصدارت دماله صدرالكلام په دې شان سره چې اين خبر دان واقع شى نو دا اين به خالي نه وايي يا به يې ذكر كوى مخكې دان نه ياوروسته دان نه كه مخكې يې ذكر كوى نو دان صدارت فوت كيږي او كه وروسته يې ذكر كوى نو داين صدرات فوت كيږي

سوال: ته وايي چې كوم اسم متضمن وى ماله صدرالكلام لره هغه خبردان نه واقع كيږي دا قاعده دى منقوضه شوه په دې قول دشاعر باندې شعر:

ان من يدخل الكنيسة يوما
يلق فيها جازرا وظباء

پدی شان سره چې دلته دامن متضمن دی ماله صدرالکلام لره چې شرط دی دامبتدأ ده او دا ما بعد ورله خبر دی داجمله خبردان او اسم دان ضمیر شان محذوف دی

جواب: خبر مفرد چې متضمن وی ماله صدرالکلام لره هغه خبردان نه واقع کیږي ځکه لازمیږي فوت د صدارت د ما له صدرالکلام او که خبر جمله متضمن وو ما له صدرالکلام لره هغه خبر واقع کیږي دان ځکه چې فوت د صدارت د ما له صدرالکلام نه راځي

سوال: ته وایي چې امر دخبر دان پشان دامر دخبر دمبتدأ دی دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې حدیث سره چې (ان حقاعليه ان لاينصرف الابيمينه) دا خبره شیطان مصلی (مونځ کوونکی) ته کوی راوی د حدیث وایي چې ما نبی علیه السلام په کثرت لیدوچی کس طرف ته به ګرځیدو (۱) دا قاعده ده چې معرفه اونکره دواړه یوځای راشي په یوکلام کې نودمعرفی نه به مبتدأجوړه وی اودنکرې نه به خبر جوړه وی اګر که معرفه وروسته وی (۲) مصدر مؤول بان معرفه وی (۳) اوته وایي چې وامره کامر خبر المبتدأ نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په دی حدیث مذکورسره ځکه دلته حقا نکره ده اسم دان دی اوان لاینصرف معرفه ده او خبر د ان دی نو امره کامر خبر المبتدأ نه شو

جواب: علیه خبر مقدم دی اوان لاینصرف اسم مؤخر دی اوحقا حال دی دضمیر دعلیه نه

سوال: ولاعلی المجرور علی الاصح؟

جواب: دا بنا دی په مذهب صحیح باندې چې هغه تقدیم دحال په ذوالحال مجرور باندې جائزوایی کما في قوله تعالی وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا رسولا حال دی دالناس نه اودا مقدم شوي دي.

الا فی تقدیمه: دا مستثنی مفرغه د مستثنی منه د دې محذوف ده فیکون التقدیر وامره کامرخبر المبتدأ فی جمیع الاحکام الافی تقدیمه ای الافی هذا الحکم په دې شان سره چې خبر د ان پشان د خبر دمبتدأ نه دی په تقدیم د خبر کې ځکه تقدیم دخبر د مبتدأ په مبتدأ باندې جائز دی او تقدیم د خبر د ان په ان باندې نه دی جائز ځکه عمل د حروف مشبه بالفعل مشروط دی په شرطین سره: (۱) یو شرط دا دی چې دان نه وروسته به ماکافه نوی راغلی (۲) او دویم شرط دا دی چې په معمولینو کې به یې ترتیب وی اوس داخبر چې مقدم شی په اسم باندې نو ترتیب وران شونوان عمل نکوی ځکه انتفاء د شرط مستلزم ده انتفاء دمشروط لره.

سوال: دعمل دحروف مشبه بالفعل لپاره ترتیب ولې شرط دی؟ **جواب:** ځکه داعمل کوی د وجې د مشابهت نه دفعل سره لفظا اومعنا اودفعل لپاره دوه عمله دی (۱) عمل اصلی چې تقدیم دمرفوع دی په منصوب باندې (۲) عمل فرعی چې تقدیم دمنصوب دی په مرفوع باندې اودیته دمشابهت د وجې نه عمل فرعی ورکړی شوي دي لپاره دانحطاط دفرع داصل نه اوانحطاط دفرع په اصل باندې هله راځي چې اسم او خبر په ترتیب سره ذکر شی اوتقدیم د خبر په اسم باندې چې راشی بیا انحطاط دفرع د

اصل نه راتغلو بلکه لازمیږي مساوات بین الاصل والفرع لهذا په زید قائم کښې جائز دی قائم زید او په ان زیدا قائم ان قائم زیدا نه دی جائز.

الا ان یکون ظرفا: او تقدیم دخبر دان په اسم دان باندې ممتنع دی فی جمیع الاوقات الامکر ممتنع نه دی که چرې وو دا خبر دان ظرف او ظرف عام دی که حقیقي وی لکه زمان مکان، او که مجازی وی لکه جار مجرور او جمع راغلی ده په حقیقت او مجاز کی بنا په مذهب د هغه چا باندې چې جمع جائز وایی او یا په دې کې عموم دمجاز دی چې دظرف نه دلته عامه معنی اخلو چې وی داخبر دان محتاج متعلق ته بیا عام دی که ظرف زمان او مکان وی او که جار مجرور وی، زده کړه داخبره چې خبر دان چې ظرف راشي نو اسم دان به خالي نو یا به نکره وی او یا به معرفه وی که اسم دان نکره وه نو تقدیم دخبر په اسم دان باندې واجب دی لپاره د دې چې لازم نه شی وقوع دمسند الیه نکر محضه نحو قوله تعالی فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا، إِنَّ لَدَيْنَا أَنكَالًا وَجَحِيمًا ان فی ذلك لعبرة لمن یخشی) وقوله علیه السلام (ان من البیان لسحرا وان من الشعر لحکمة) ان فی الصلوة لشغلا) او که اسم دان نکره وه نو بیا به خالي نوی یا به متلبس وی په لام التاکید سره او یا به نوی که وو نو تقدیم د خبر واجب دی په اسم باندې لپاره د دې چې لازم نشی اجتماع د التی د تاکید نحو قوله تعالی وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِ لَإِبْرَاهِيمَ او که متلبس بلام التاکید نوی نو بیا تقدیم د خبر واجب دی په اسم دان باندې نحو ان فی الدار صاحبها لپاره د دې چې لازم نشی اضمار قبل الذکر لفظا او رتبتا او که متلبس نو وبه ضمیر چې راجع وی جزد خبر ته نو تقدیم یې جائز دی نحو قوله تعالی إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ ځکه په ظروفو کې توسع ده ځکه دا چې کوم ځای واقع شی هغه د دوی ځای دی لهذا نحات جائز کوی په دوی کې هغه څه چې نوی جائز په نورو کی.

خلاصه دماسبق: د دې ماسبق نه معلومه شوه چې خبر دان په اعتبار دتقدیم سره په اسم باندې درې قسم دی: (۱) واجب التقدیم فی ثلاثة مواضع. (۲) ممتنع التقدیم نحو ان زیدا قائم (۳) جائز التقدیم نحو إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ شو

خبر لا التی لنفی الجنس: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف دنوع خامس دجنس مرفوع نه چې خبر د حروف مشبه بالفعل وو نو شروع یې وکړه په نوع سادس دجنس مرفوع کې چې خبر دلا لنفی الجنس دی، او هر کله چې خبر دلا لنفی الجنس شریك وو د خبر دحروف مشبه بالفعل سره په رفع کې نو ذکر یې کړو خبر د لا لنفی الجنس وروسته د خبر دحروف مشبه بالفعل نه او هر کله چې لا لنفی الجنس عمل د رفع کوو یه خبر کې د وجې دمشابهت د ده نه دان سره په تاکید کې پس مقدم کړو مصنف خبر د حروف مشبه بالفعل په خبر د لا لنفی الجنس باندې ځکه مشبه به اصل وی او مشبه فرع وی او اصل مقدم وی په فرع باندې.

ترجمه: بعض دمرفوعاتو نه یا بعض دجنس مرفوع نه خبر دلا دی هسې لاچې دوی مستعملوی هغې لره په خپلو محاوراتو کې او هسې لاچې کائن دی لنفی الجنس لپاره دنفی دصفت دجنس او خبر دلا لنفی

الجنس غالبا دافعال عامونه راځي اوخبر د دې چې دافعال عامونه راشي نونفی دصفت مستلزم ده نفی دجنس لره ځکه ماتن لنفی الجنس وویل نه لنفی صفة الجنس.

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی اوغرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې بیان دنوع خامسی دجنس مرفوع ووچی خبر دحروف مشبه بالفعل وو او دا بیان دنوع سادسی دجنس مرفوع دی چې خبر دلالنفی الجنس دی اوغرض دمصنف هم معلوم شو چې بیان دنوع سادس ده مرفوع دی.

سوال: خبر د لنفی الجنس یې د خبر د حروف مشبه بالفعل نه وروسته ولې ذکر کړو د ما ولامشبهتین نه وروسته یې ولې نه ذکر کولو؟ **جواب:** لاشتراکهما فی الخبر په دې شان سره چې خبر د لالنفی الجنس اوخبر د جروف مشبه بالفعل مرفوع راځي ځکه یې هغې پسی متصل ذکر کړو.

سوال: بیاي ی عکس ولې ونه کړویعنې خبر دحروف مشبه بالفعل یې ولې مقدم کړوخبردلا لنفی الجنس یې ولې نه مقدم کولو؟ **جواب:** عکس یې ونه کړوځکه چې لا لنفی الجنس اسم منصوب خبر مرفوع غواړي د وجې دمشابهت د ده نه دان سره په تاکیدکې په دې شان سره چې ان راځي د تاکید لپاره او لا لنفی الجنس هم راځي د تاکید لپاره، اوان اسم منصوب خبرمرفوع غواړي د وجې د مشابهت نه د فعل سره او لا لنفی الجنس اسم منصوب خبرمرفوع غواړي د وجې دمشابهت نه دان سره حمل الضد علی الضد ځکه ان د تاکید د اثبات لپاره راځي اولاد تاکید د نفی لپاره راځي. (۲) ان د تاکید د نسبت لپاره راځي اولادتاکیددطرف لپاره راځي اود دې سره بل اعتراض هم دفع شو.

سوال: چې لالنفی الجنس اسم منصوب اوخبرمرفوع ولې غواړي؟

جواب: السندعلیه التتبع والاستقراء یعنې نحاتو چې څومره تتبع کړیده نوخبردلا یې مرفوع موندی دی اواسم د لامنصوب وو وجه دعمل چې دوی بیانوی دیته نکات بعدالوقوع وایي هغه دا ده چې دامشابه دی دان سره په تاکید کی اوان خواسم منصوب خبرمرفوع غواړي نو داهم اسم منصوب اوخبرمرفوع غواړي د دې نظیر: لکه اسم فاعل عمل کوی پشان دعمل دفعل خپل د وجې دمشابهت نه دمضارع سره اوصفت مشبه عمل کوی د وجې دمشابهت نه د اسم فاعل سره.

سوال: دخبرلا التی لنفی الجنس څه ترکیب دی؟

جواب: خبرلا الخ مضاف مضاف الیه مبتدأموخره ده اوخبری حذف دی چې منه دی.

سوال: لاحرف دی اوحرف په ترکیب کې نه مضاف الیه واقع کیږي اونه موصوف واقع کیږي نولاځنګه مضاف الیه واقع شوي دي دخبر لپاره اوموصوف واقع شوي دي دالتی الخ، لپاره.

(۳) او **لا** مذکر دی ځکه علامه دتأنیث پکې نشته نوځنګه یې توصیف شوي دي په مؤنث سره چې التی دی (۴) **لا** نکره ده نه معرفه ځکه اقسام دمعرفی اووه دی او دا د هغو نه ندی نو ځنګه یې د لا توصیف کړی دی په معرفی سره.

جواب: لامراداللفظ علم دی د هغه لالپاره چې واقع کیږي په تراکیبوکی نومعرفه بالعلم شوه نومعرفت پکې راغلو نو ځکه مضاف الیه واقع شوي دي اوموصوف واقع شوي دي اوتوصیف یې شوي دی په معرفی سره او دا په تاویل د کلمة سره مؤنث دی نوځکه التی مؤنث ورله صفت واقع شوي دي

سوال: لنفی الجنس دا جار مجرور دی او جار مجرور ته عندالنحات ظرف وایي اوظرف دوه قسمه وی (۱) ظرف لغوه (۲) ظرف مستقردا کوم قسم دی؟

جواب: داظرف مستقر دی ځکه متعلق د دې محذوف دی چې الکائنة دی.

سوال: الکائنة چې یې مقدرراویستونولازم شو حذف دموصول سر دبعض اجزاؤدصلی نه دانده جائز (۲) تأخرق داجماع وکړوځکه دبصریانواوکوفیانو اتفاق دی په دې خبره چې ظرف اوجارمجرور چې صله دموصول واقع شی نومتعلق به فعل را اوباسي بالاتفاق ځکه صله دموصول نوی مګر جمله وی او تا دلته الکائنة اسم مقدرراویستو نومخالفت راغی داجماع نه

دریم سوال: دا قاعده ده دنحویانوچی جارمجرور چې واقع شی وروسته دنکرې نه نو دا به په اعتبار د متعلق سر صفت واقع کوی نه حال د وجې دجزالت دمعنی نعتی نه او که جارمجرورواقع شی وروسته د معرفی نه نو دا به حال وی نه صفت ځکه په حال کې تقلیل فی الحذف راځي اوپه صفت کې تکثیرفی الحذف راځي اوتقلیل فی الحذف اولی دی دتکثیر فی الحذف نه اودلته لنفی الجنس واقع شوي دي وروسته دلاته چې معرفه ده اوتاپه اعتبار دمتعلق سره صفت وګرځوودلالپاره نه حال نومخالفت راغی د قاعدی نحوی نه؟ **جواب:** د اول اعتراض نه دا دی چې الف لام په الکائنة کې حرفی دی نه موصولی ځکه الف لام موصولی هغې ته وایي چې داخلیږي په اسم فاعل اواسم مفعول باندې چې دلالت کوی په معنی مصدری باندې په طریقه دتجدداوحدوث سره اوداکائنة دلالت کوی په معنی مصدری باندې په طریقه ددوام اواستمرارسره. (۲) او که اومنم چې دادلالت کوی په معنی مصدری په طریقه د تجدد او حدوث سره بیا هم الف لام حرفی دی نه موصولی ځکه اختصاص دجانب واحدنه دی نه د جانبینو نه په دې شان سره چې دخول دالف لام مختص دی په اسم فاعل اواسم مفعول پورې اواسم فاعل اواسم مفعول مختص په الف لام موصولی پورې نه دی بلکه دامدخول دالف لام حرفی هم واقع کیږي (۳) او که اومنم چې اختصاص دجانبینو نه دی بیاحذف دموصول سره دبعض اجزاء دصلی او سره د بقاء دبعضو نه جائز دی عندالبعض اوندې جائز عندالجمهوراودلته عبارت بنادی په مذهب د بعضو باندې، او **جواب** د دویم اعتراض نه دا دی چې دا اعتراض به هله راتلو چې نفی الجنس په اعتبار د متعلق محذوف سره صله وی دالتی لپاره اوداصله دالتی نده بلکه دا خوصفت ثانی دی دلالپاره او دی د لالپاره، او **جواب** د اعتراض ثالث نه دا دی چې جارمجرور چې واقع شی وروسته دمعرفی نه نو دا به په اعتبار دمتعلق سره حال واقع کیږي نه صفت دا قاعده په هغه ځای کې ده چې دامعرفه په ترکیب کې فاعل یامفعول به وی او دلته دا جارمجرور وروسته د لا نه دی او لا نه فاعل او نه مفعول به دی،

ځکه داجار مجرور صفت واقع شویدي د لا لپاره (۲) داصفت ثاني دی نه حال ځکه چې تطابق بين النظيرين اولی وی دمخالفت نه چې **التی** سره دصلی نه صفت اولی دی د کلمې د لا لپاره **او لنفی الجنس** صفت ثاني شو د لا لپاره نوتطابق بين النظيرين راغی او که داحال واقع کړی وی نو بيامخالفت بين النظيرين راتلو اوداخلاف الاصل دی

سوال: توصيف دلايی په التی لنفی الجنس سره ولې وکړو؟

جواب: په دې سره يې احتراز وکړو د لامشابه بليس نه ځکه خبر د هغې دقبيلې د مرفوعاتو نه ندی بلکه دقبيلې دمنصوباتونه دی.

سوال: نه وايي چې لادنفی جنس لپاره راځي داخبره ستا منقوضه شوه په لارجل قائم سره ځکه دلته يې نفی دصفت کړيده نه دجنس.

جواب: دا عبارت دمصنف په حذف دمضاف سره دی ای لنفی صفة الجنس

سوال: هرکله چې عبارت دمصنف په حذف دمضاف سره دی نو بيامصنف لنفی صفة الجنس ولې ونه ويل چې لنفی الجنس يې وويل؟

جواب: غالبا خبردلالنفی الجنس عام راځي نه خاص اوخبردلالنفی الجنس چې عام راشي نو بيا نفی د خبر صفت مستلزم ده نفی دجنس لره چې هغه اسم دلا دی مثال لکه لارجل فی الدارکی دی لانفی د موجود کړيده چې خبر محذوف دی دلالپاره اونفی دموجودمستلزم ده نفی درجل لره ځکه مصنف لنفی الجنس ووېل نه لنفی صفة الجنس

وهو المسند بعد دخولها: ترجمه: هو داخبر دلالنفی الجنس په اصطلاح کې دايوشی دی داسې شی المسند چې اسناد يې کړی شوی دی شی اخرته **بعد دخولها** پس ددخول دلالنفی الجنس نه لپاره دايراث اثر په ده کې لفظا اومعنی هرچی دی اثر لفظی هغه رفع ورکول دی لفظاتقديرايامحلا، اوتأثير معنوی ګرځول د دې دی مسند شي اخرته.

مثل لاغلام رجل ظريف فيها: مثال دخبردلالنفی الجنس لکه ظريف اوفيهاشو په لاغلام رجل ظريف فيها کې اوعدول وکړومصنف دمثال مشهوردخبردلا لنفی الجنس نه چې لارجل فی الداردی مثال غير مشهورته چې لاغلام رجل ظريف فيهادی (۱) ځکه دانص د ی اوصريح دی په مثال کې په خلاف د لا رجل فی الدارنه ځکه هغه محتمل داحتمالين دی دا احتمال هم شته چې داخبر دی اودا احتمال هم شته چې داصفت دی درجل لپاره اوکوم شی چې صريح دی دهغې ذکرکول په مثال کې اولی وی د ذکر کولو د مثال احتمالی نه، اودافيها يې ذکرکړی دی وروسته دظريف نه لپاره ددفع دکذب په کلام کې او په ذکر د فيها سره يې اشاره وکړه تعدددخبر دلالنفی الجنس ته چې دادوه قسمه دی (۱) ظرف لکه فيها شو (۲) غيرظرف لکه ظريف شو.

تشریح: سوال: ته وایي چې خبردلالنفی الجنس المسندبعددخولها ته وایي دا تعریف دی مانع نه شو د دخول د غیر نه داخل شوېکی یقوم په لارجل یقوم ابوه کې ځکه یقوم مسند دې غیرته چې ابوه دی پس د دخول د لا لنفی الجنس نه نو دا تعریف ورباندې صادقیږی حالانکه داخبر دلالنفی الجنس نه دی بلکه خبر د دې دامجموعه یقوم ابوه دی نه یواځې یقوم د دې اعتراض نه شارحینومختلف جوابونه کړی دی (۱) بعض شارحین وایي چې مراد د مسندنه اسم مسند دې نویقوم باندې تعریف صادق نه شو ځکه دا فعل مسند دې، لیکن داجواب کمزوری دی ځکه دمسندنه چې مراد د اسم مسند شي نو دا تعریف دخبر د لالنفی الجنس جامع نه شوخپلو افرادو لره خارج شو د دې نه هغه جمله چې خبر واقع شوي وي د لالپاره، او که ته تاویل کوی نوتاویل خلاف الاصل دی (۲) اوبعض شارحین وایي چې مراد دمسندنه مسند دې اسم دلالنفی الجنس ته اودایقوم مسند دې فاعل ته چې ابوه دی نه اسم دلالنفی الجنس ته، خو دا جواب هم کمزوری دی ځکه چې مراد مسندالی الاسم شی نو بیا خو ذکر کول د بعد دخولها لغوه دی ځکه ده خو دا دی لپاره ذکرکړی وو چې په دې سره دایقوم خارج شی په لارجل یقوم ابوه کې او دا په المسندسره خارج شو نوبعددخولها لغوه شو، د دې وجی نه شارح جامی وایي چې مراد د مسند نه مطلق مسندالی شئ اخردی اویقوم په لارجل یقوم ابوه کې خارج دی په بعددخولها سره ځکه مراد د دخول نه دخول دی لپاره دایراث داثرپیدی کې لفظایامعناً اودا تعریف په دې نه صادقیږی ځکه دا یقوم مسند دې غیرته اولاپدی یقوم کې نه اثرلفظا کړی دی اونه یې معنی کړی دی بلکه اثریې کړی دی په یقوم ابوه جمله کې اثرلفظی یې دا دی چې دایې مرفوع محلاً کرځولی دی اواثرمعنوی یې دا دی چې داجمله یې مسند کړی دی اسم خپل ته.

سوال: دا تا چې کوم مثال ذکر کړودخبردلالنفی الجنس لپاره داموافق نه شو دممثل سره ځکه مثال چې ذکر کړی شی په کاف سره یانحواومثل وغیره سره نومدخول دکاف یا نحو مثل وغیره مثال وی او لا غلام رجل ظریف فیها مدخول دکاف دی اودا خومثال نه دی دخبر د لالپاره بلکه دا خو جمله ده او مرکب تام دی؟ **جواب:** دا اعتراض به تاهله کولی چې دا عبارت بناوی په حقیقت باندې لیکن دا بنا دی په مجاز باندې ذکردکل دی اومرادترینه جزء دی معنی یې دا ده چې مثال دخبردلالنفی الجنس لکه ظریف او فیها شو په لاغلام رجل ظریف فیها کې دلته ظریف اوفیها دواړه مسند دې اسم دلالنفی الجنس ته پس ددخول دلاته اولاعمل کړی دی لفظا اومعناً په ظریف اوفیها کې لفظایی رفع ورکړېده یو ته لفظا او بل ته محلا اومعناً یې اسناد دې کړی دی اسم ته.

سوال: مثال ذکرکول شی لپاره دوضاحت دممثل اووضاحت دممثل په مثال واحدسره راځي نودوه مثالونه یې ولې ذکرکړل؟

جواب: (۱) فیهاخبرثانی یې دلالپاره ذکر کړو پس دخبراول نه چې ظریف دی لپاره ددفع دتوهم دکذب ځکه که فیها یې نوی ذکرکړی اولاغلام رجل ظریف یې ویلی وی نونفی دظرافت راتله دجنس غلام

رجل نه اودا مستلزم ده كذب لره اوچې فيها يې ووېل نو دا كلام صادق شو (۲) په ذكركولو دفيها كې وروسته د ظريف نه يې اشاره وكړه تعدد د خبرته چې خبر دلادوه قسمه دی (۱) يو هغه دی چې ظرف وی (۲) چې غير ظرف وی.

سوال: نه وابې چې فيها خبردی دلالنفي الجنس دی نو داسې تركيب ولې نكوی چې فيها جار مجرور متعلق دی په ظريف پورې اوپدی كې ضمير مستترراجع دی غلام ته هغه فاعل دی. (۲) يا داسې تركيب وكړه چې فيها حال واقع شوي دي دضمير دظريف نه په اعتبار دمتعلق سره

جواب: فيها خبر دی دلالپاره اومتعلق نه دی په ظريف پورې اونه حال دی دضمير دظريف نه ځكه كه متعلق شی ياحال شی نو بياتقييد دظرافت راځي په ظرف سره اوظرافت نه دی مقيدپه ظرف سره

سوال: د خبر د لالنفی الجنس لپاره مشهور مثال لارجل فی الداردی اولا غلام رجل ظريف فيها غير مشهور دی نو مصنف ولې عدول وكړو د مشهور نه غير مشهور ته؟

جواب: د مثال مشهور نه يې عدول وكړوغيرمشهورته ځكه چې دالاغلام رجل ظريف فيها نص دی او صريح دی په مثال كې اوپه هغې كې احتمال دصفتيت اوخبريت دواړو شته دی.

سوال: لاغلام رجل ظريف فيها دی نص اوصريح ولې دی په مثال كې؟ **جواب:** دا نص او صريح ځكه دی چې ظريف خبر واقع شوي دي دلالنفی الجنس لپاره اوصفت نه دی واقع شوی دغلام رجل لپاره ځكه كه صفت وی دغلام رجل نو دا به منصوب وونه مرفوع ځكه تابع د معرب تابع دلفظ وی اودلته ظريف مرفوع دی نه منصوب نو دارفع دظريف دليل دی په دې چې دا خبر دی اوصفت ندی.

ويحذف كثيرا: ربط: هر كله چې فارغ شو د بيان د تعريف د لالنفی الجنس نه نوشروع يې وكړه په بيان د حكم د خبردلالنفی الجنس كې فقال ويحذف الخ.

ترجمه: حذف كولی شی خبر دلالنفی الجنس په حذف كثيره سره ياپه زمانه كثيره كې په دې شرط سره چې خبر د دې لالنفی الجنس دافعال عامونه وود وجې دوجوددقرينې دالی نه په تعيين دمحذوف باندې چې هغه پخپله دالا دی ځكه دالادلالت كوی په نفی باندې او نفی تقاضه د منفی كوی او هر كله چې دا منفی په لفظ كې نه دی موجودنومعلومه شوه چې محذوف دی، مثال د لالنفی الجنس چې خبر فعل عام د هغې حذف شوي دي لكه كلمه د توحيد شو (لا اله الا الله) دلته تراكيب ثلاثه دی په دوه تركيبونو باندې مثال جوړيږی اوپه يوتركيب باندې مثال نه جوړيږی. (۱) لالنفی الجنس اله اسم د لا نكره يلی غيرمضاف مبنی علی الفتحه موصوف **الا** صفتی بمعنی غيرمضاف **الله** مضاف اليه مضاف سره دمضاف اليه نه صفت داله موصوف سره دصفت نه اسم دلا وغيرمرفوع دی ځكه داتابع دی د اسم دلالنفی الجنس اوتابع دمبنی تابع دمحل وی اواله مرفوع محلا دی اوموصوف سره دصفت نه اسم دلا اوخبر يې حذف شوي دي چې موجود دی. (۲) لالنفی الجنس اله اسم دلانكره يلی غيرمضاف مبنی علی الفتحه مستثنی منه الا استثنائيه الله مستثنی، مستثنی منه سره دمستثنی نه اسم دلا وخبر د

دې حذف شوي دي چې موجود دي اومراد د اله نه اله حقه دی اودا استثناء صحيح ده ځکه شرط لپاره دصحت داستثناء عموم دمستثنی منه دی دمستثنی نه په اعتبار دلفظ سره بیاکه په اعتبار دمعنی سره عام وی او که نوی مثال لکه یوسړی ووائي چې نسائی طوالق الاهندوزینب وفاطمة ورقیة دلته استثناء راغلی ده دهندزینب فاطمة اورقیة د دې مستثنی منه نه چې نسائی دی اودا نسائی عام دی په اعتبار دلفظ سره نه په اعتبار دمصداق سره

(۳) دریم ترکیب جارالله زمخشري کړی دی چې هغه وايي کلمه د توحید جمله ده او مرکب تام دی بې د تقدیر د خبر نه اوبدی باندې هغه یوه رساله لیکلی ده هغه وايي چې (لا اله الا الله) اصل کې الله ورو جمله اسمیه خبریه وه بیا داخبر مقدم شو په مبتدأ باندې او نفی او استثناء ورباندې داخل شول نو دالله اله نه لااله الاالله جوړشو قصر دصفت راغلی دی چې اله دی په موصوف پورې اومجاوزندی کل ماعداء ته په واقع اونفس الامر کې اوماعداء عام دی که ملائکی وی که انبیاء وی که جنات وی اوکه عام انسانان وي او که نور مخلوقات وی بناپدی معنی دکلمه توحید داشوه چې نشته دی مددګار کارساز مشکل کشا نفع اونقصان رسونکی مافوق الاسباب الاالله مګریوالله دی نه بل څوک

سوال: کثیرا منصوب دی اومنصوبات (۱۲) دی دا کوم یوقسم دی په هغه (۱۲) اقساموکی؟

جواب: دامنصوب دی بنا برمفعول مطلق لپاره دیحذف یامنصوب بنابرمفعول فیه لپاره دیحذف

سوال: دیته منصوب بنابرمفعول مطلق ویل نه دی صحیح ځکه مفعول مطلق مصدر دفعل مذکورته وايي او دا مصدر د فعل مذکورنه دی اومفعول فیه ویل ورته هم نه دی صحیح ځکه مفعول فیه یازمان وی او یامکان وی اودایوهم ندی

جواب: کثیرا ته زه منصوب وایم بنابرمفعول مطلق یابنابرمفعول فیه په اعتبار دحذف دموصوف سره که مفعول مطلق شي نوموصوف یې محذوف دی حذفا او که مفعول فیه شي نوموصوف یې محذوف دی زمانا یاحینا اووختا، بیا هغه موصوف حذف شوي دي اودی اعراب دهغې اخستی دی نودیته مفعول مطلق یامفعول فیه مجازا ویل کیږي، لان کل شئ وقع فی محل غیره فله حکم الغیر

وبنو تمیم لایثبتونه: د دې عبارت دوه ترجمی دی (۱) یوه ترجمه دا ده چې بنی تمیم نه ظاهروی اونه ښکاره کوی خبردلا لنفی الجنس په لفظ کې بلکه خبردلا لنفی الجنس هغوی حذف کوی په حذف واجبه سره. (۲) بنی تمیم نه ثابتوی خبرلپاره دلا لنفی الجنس اصلا یعني لالفظا ولاتقدیرا، ځکه دبنی تمیم په نیز باندې لالنفی الجنس خبرنه غواړي ځکه دا اسم فعل دی په معنی دانتفی سره اودا کوم اسم چې د دې نه وروسته وی هغه ورله فاعل دی، نودلا اهل ولامال معنی په نزدبنوتمیم باندې دا ده چې انتفی الاهل والمال داتقدیردخبرته نه دی محتاج

سوال: بنی تمیم چې لالنفی الجنس په معنی دانتفی سره فعل وايي اومابعد اسم ورله فاعل وايي نو بنا پدی په مذهب دبنی تمیم لارجل قائم کې لابمعنی انتفی اسم فعل شو رجل ورله فاعل شونوقائم په

ترکیب کې څه شی دی؟ **جواب:** رجل موصوف دی اوقائم ورله صفت دی موصوف مع الصفة فاعل دی د لپاره ځکه دا بمعنی انتفی دی اوداقائم صفت مرفوع دی ځکه داتابع دمحل درجل دی ځکه تابع د مبنی تابع د محل وی اورجل مبنی علی الفتحه دی اومرفوع محلا دی بنا برفاعلیت اوقائم مرفوع شو د وجې دعطف ددد نه په محل درجل باندې عمل دلالنفی الجنس مشروط دی په شروط اربعه و سره:
(۱) اسم دلالنفی الجنس به نکره. (۲) مضافه وی. (۳) اومتصل بلافصل به وی
(۴) اوحرف جربه نوی داخل شوی په لاباندې ځکه که اسم دلالنفی الجنس نکره نوه معرفه وه یانکره وه خو مضافه نوه بلکه مفرده وه یامضافه هم وه خومتصله نوه بیا دالاملغات العمل وی او که په لاباندې حرف جر داخل شوی وونوهم به ملغات العمل وی نحو سافرت بلازیداذیتنی بلاجرم

اسم ما ولا المشبهتین بلیس: ربط: هر کله چې فارغ شو مصنف دبیان دنوع سادس دجنس مرفوع نه نوشروع بې وکړه په نوع سابع دجنس مرفوع کې چې اسم دماولا المشبهتین بلیس دی اواسم دافعال ناقصواتم قسم دجنس مرفوع نه خومصنف نه دی ذکر کړي ځکه هغه عند المصنف داخل دی په فاعل کې، پس په دې مقام کې لابدی ده دمعرفت دامورثلاثة عشرنه: (۱) معرفت دترکیب. (۲) اسم. (۳) تعریف د اسم دماولا المشبهتین بلیس. (۴) معرفت دوجه دتسمیه. (۵) مدخول. (۶) عمل. (۷) مذاهب. (۸) وجه دعمل. (۹) شروط دعمل. (۱۰) اقسام دلا. (۱۱) اقسام دما. (۱۲) الفرق بین ما ولا المشبهتین بلیس. (۱۳) الفرق بین لامشبه بلیس ولالنفی الجنس.

ترکیب: اسم مضاف **ما** معطوف علیه **واو** عاطفه **لا** موصوف **المشبهتین** صیغه دتثنیه مؤنث اسم مفعول ضمیر پکی مستتر دی چې معبردي په هما سره راجع دی ما اولاته هغه نائب فاعل **بلیس** متعلق دی په المشبهتین پوري دامجموعه صفت دما اولا، موصوف سره دصفت نه مضاف الیه دمضاف مضاف سره د مضاف الیه نه مبتدأ اوخبریې حذف دی چې منه دی.

سوال: ما او الاحرفین دی اوحرف په ترکیب کې مضاف الیه اوموصوف نه واقع کیږي نو دا څنګه مضاف الیه دی د اسم لپاره اوموصوف دی په المشبهتین سره، او دا نکره ده نو توصیف یې په معرفی سره ولې شوي دي اوما اولامذکردی اوتوصیف یې مؤنث سره ولې وشو؟

جواب: ما ولا پدی مقام کې مراداللفظ علمین دی د هغه ماواولالپاره چې واقع کیږي په تراکیبوکی نو دا معرفه بالعلم ده نوځکه مضاف الیه اوموصوف واقع شوي دي اوصفت یې معرفه ده، اوبه تاویل د الکلمة سره مؤنث ده نو ځکه ورله صفت مؤنث واقع شوي دي، او دا ما او لا مجرور محلا دی او المشبهتین مجرور بالیاء دی.

سوال: بلیس کې باجاره داخله شوی ده په فعل حالانکه دا خوداخلیږي په اسم باندې.

جواب: اسم عام دی چې حقیقتا وی او که تاویلا وی دلته لیس اسم دی په تاویل دلفظ سره، اونوم د دې حروف مشبه بلیس دی او دا حروف مشبه بلیس څلوردی: ما، لا، ان، لات، مصنف دادوه ذکرکړل د

وجې دکثرت استعمال نه ما اوان اولات يې ترک کړی دی د وجې دقلت دعمل نه ځکه دان نافيه نه وروسته غالبا الاراخي اوان دهغې نه وروسته عمل نشي کولی د وجې داتنفاض دنفی نه اودلات په عمل کې اختلاف دی دنحويانو: (۱) بعض وايي دادحروف غيرعاملونه د ی (۲) بعض وايي دادحروف جارونه د ی (۳) بعض وايي دحروف مشبه بليس نه دی. اووايی چې داعمل کوی فقط په لفظ دحين کې يا په هغه لفظ کې چې مرادف وی دحين سره لکه وخت اوساعة شو اوخبرد دې به غالبا مذکورد محذوف الاسم وی لکه﴿ وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ ﴾ شواوپه طريقه دقلت سره بالعکس هم راځي. اودی حروف ته حروف مشبه بليس وايي ځکه دامشابه دی دليس سره په نفی کې اوپه دخول علی المبتدأ والخبر کې

هو المسند بعد دخولها: يعني اسم دماولامشبهتين په اصطلاح کې يو اسم دی **المسند** چې اسنادکړی شوی دی **اليه** دی اسم ته **بعد دخولها** پس ددخول دماولاته لپاره دايراث داثرپيدي کې لفظا اومعنا هرچی دی اثر لفظی نو دارفع ورکوی اسم ته. اواثرمعنوی دا دی چې داګرځوی اسم لره مسنداليه لپاره دخبرپس نقض دخبر د دې رانغی په ابوه سره په مازيدا ابوه قائم ځکه دا ابوه اګرچی اسم دی اومسنداليه دی بعد دخول ما. ليکن دی ماپدی ابوه کې اثر عمل نه دی کړی نه لفظا اونه معنا بلکه دی ماعمل کړی دی په ابوه قائم کې اثرمعنوی دا دی چې داجمله يې مسندکړی ده زيداته اواثرلفظی دا دی چې دا منصوب محلا دی. مثال د اسم دمالکه زيدشو په مازيدقائم کې اومثال د اسم دلالکه رجل شو په لا رجل افضل منك، کې ځکه دازيداورجل مسنداليه دی للغير پس ددخول دما اولاته.

سوال: اسم دمايی معرفه ذکرکړه اواسم دلايی نکره ذکرکړه داولی؟

جواب: **وهو** داعمل دليس **فی لا** په کلمه دلاکې **شاذ قليل** دی په دې شان سره چې داعمل کوی په نکره کې نه په معرفه کې ځکه داما اولاعمل کوی د وجې دمشابهت دليس نه اومشابهت دمادليس سره زيات دی ځکه ليس نفی دمضمون د جملې کوی فی الحال، اوماهم نفی دمضمون د جملې کوی فی الحال بخلاف لاچې دانفی مطلقاکوی نوهر کله چې مشابهت دمازيات وو د ليس سره نو هغه عمل په معرفه او نکره دواړو کې کوی اودلامشابهت ورسره کم دی نو داعمل صرف په نکره کې کوی مثال دلاکقول الشاعر:

من صدعن نيرانها　　　فانا ابن قيس لابراح

دا لامشبه بليس دی براح اسم دلادی اوخبرد دې حذف شوي دي چې لی دی اودالالنفی الجنس نه دی ځکه که لالنفی الجنس وی نودهغې نه وروسته په براح کې رفع لوستل نه دی جائز ځکه اسم دهغې چې نکره يلی غيرمضاف وی نومبنی علی الفتحه وی بل مثال نحوقوله تعالی ﴿أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ﴾ واماقول الشاعر:

وحلت سوادالقلب لا اناباغيا　　　سواها ولاعن حبها متراخيا

وقول المتنبی:

اذالجودلم يرزق خلاصامن الاذی　　　فلا الحمدمکسوبا ولا المال باقيا فشاذ

حروف مشبه بليس داخليږي په مبتدأ اوخبر باندې نواسم لره رفع وركوي اوخبرلره نصب وركوي بنا په مذهب دحجازينوباندې، ځكه په عمل د ما ولاكې دوه مذهبه دي (١) بنوتميم (٢) حجازين. بنو تميم وايي چې ما اولا دحروف غير عاملو نه دي دا عمل نكوي پشان د ليس نحوما احد خير منك، دلائل د دوى دوه دي (١) عقلي (٢) نقلي. دليل عقلي يې دا دي چې شرط لپاره دعمل دعامل اختصاص دعامل دي په نوع واحده پورې لكه حروف جاره عمل دجركوي ځكه دخول يې مختص دى په اسم پورې، او دخول د ما ولا مختص نه دي په اسم پورې بلكه په فعل باندې هم داخليږي نوشرط منتفي شو نو انتفاء دمشروط راغله ځكه انتفاء دشرط مستلزم وى انتفاء دمشروط لره، اودليل نقلي دا قول د شاعر دى، شعر:

ومهفهف كالغصن قلت له انتسب فاجاب ماقتل المحب حرام

په دې شاعر حرام مرفوع ويلى دى نه منصوب نود دې نه معلومه شوه چې داعمل نكوي پشان دعمل دليس ځكه كه عمل يې كولى نوحراما ويل پكاروو، اوحجازين وايي چې دادحروف عاملونه دي اسم لره رفع وركوي او خبرلره نصب وركوي دلائل د دوى هم دوه دي (١) عقلي (٢) نقلي. دليل عقلي يې دا دي چې ما عمل كوي د وجې دمشابهت نه دليس سره په نفي اومدخول كې اومشبه حكم دمشبه به اخلي اوليس خوعمل كوي نو دا به هم عمل كوي، اودليل نقلي مَا هَٰذَا بَشَرًا ، مَّا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ ۖ إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ معلومه شوه چې داعمل كوي او كه نه يې كولى نو بشرا او امهاتهم ويل پكاروو په رفع سره اوجواب د طرفه دحجازين نه بني تميم ته دا دي چې هرچې دى دليل عقلي ستاسونو دامنم چې شرط لپاره د عامل اختصاص دى خوعدم اختصاص دما اولا المشبهتين بليس په نوع واحده پورې نه منم، ځكه ما ولا دوه قسمه دي (١) يوهغه دي چې مشابه وى دليس سره دهغې دخول مختص دي په اسم پورې په فعل نه داخليږي اوكوم ما اولاچې داخليږي په فعل هغه جداما اولادى مشبه بليس ندى، اوجواب د دليل نقلي دا دي چې داشعرتميمي ويلى دى او ستاسو لپاره دليل نه ګرځي په مونږه باندې دثالث قول پيش كړى بې مونږه يې او منو نو بني تميم وايي چې د ثالث قول هم پيش كولى شو كما في قول جرير:

اتيماً تجعلون الى ندا وماتيم لذى حسب نديد.

په دې شعر كې نديدمرفوع دى خبردى دما اوماعمل نه دى كړى اوذى حسب متعلق دى په نديد پورې، جواب دطرفه دحجازينونه دا دي چې تيم اسم دمادى اوذى حسب جارمجرورخبرمقدم نديد مبتدأ مؤخره داجمله خبردمادي (١) ذى حسب ظرف او نديد يې فاعل جمله ظرفيه خبردمادي اومختار عند المصنف مذهب د حجازينو وو نو ځكه يې اسم د ما ولا مشبهتين دمرفوعات نه وګرځوو، او دا عند الحجازين مطلقا دحروف عاملونه دي بلكه عمل يې مشروط دى په شروط اربعه ؤ سره:

(١) د مانه بعد به ان زائده نوى (٢) بقاء د ترتيب (٣) بقاء د نفي (۴) تقديم دمعمول دخبر به نوى راغلى په خبر باندې اوعمل دلا مشروط دى په شروط اربعه ؤ سره: (١) كون د اسم اوخبر نكرتين

(۲) بقاء دنفي (۳) بقاء دترتيب (۴) تقديم دمعمول دخبر به نوی راغلی په خبر باندې او ما په استعمال د
كلام دعرب كې اتلس قسمه دی كما سيجئ في بحث الاسم المبني اولا پنځه قسمه دی (۱) لا يی نفی
نحو لا يضرب (۲) لا يی نهی نحو لاتضرب (۳) تحضيضيه نحو ﴿ فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴾ ای هلا اقتحم العقبة
(۴) زائده (۵) موكده نحو قوله تعالى ﴿ لَآ أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ ﴾ لا يی نفی بيا پنځه قسمه دی (۱) لنفی الفعل
(۲) لا عاطفه (۳) لا حرف ايجاب (۴) لا لنفی الجنس (۵) لا مشبه بليس

الفرق بين ماولا المشبهتين بليس

ما عمل كوی معرفه نكره دواړو كی او لا فقط په نكره كې (۲) عمل دما كثير دی او د لا قليل دی (۳) ما
نفی دمضمون دجمله فی الحال كوی او لا يی مطلقا كوی (۴) ان زائده راځي وروسته د ما نه بخلاف لا
(۵) با زائده راځي بعد ما بخلاف لا

الفرق بين لا لنفی الجنس ولامشبه بليس

اما **لفظا** فظاهر، چې لا لنفی الجنس اسم منصوب خبر مرفوع غواړي او لا مشبه بليس بالعكس دی او
معنا دا دی چې لا لنفی الجنس نص دی په نفی دجنس كې بخلاف لا المشبهة بليس، لهذا لا رجل چې
ووېل شی فلا يقال بل رجلان او رجال ځكه لا نفی دجنس كړی ده هغه نفی د رجلان رجال ته شامله ده او
كه لا رجل فی الدار ووائي نو بل رجلان يا رجال ويل صحيح دی ځكه لا نفی د رجل كړې ده او دا شامل نده
نفی د رجلان او د رجال لره

المنصوبات

هركله چې فارغ شو مصنف دبحث دمرفوعاتو نه نوشروع يې وكړه په بيان د اسماء منصوبو كی
اوهركله چې د ازيات وود اسماء مجرورنه او نصب خفيف وود جرنه پس مقدم يې كړه منصوبات په
مجروراتو باندې د وجې دكثرت دمنصوباتو نه، ځكه چې العزة للتكاثر نو وی ويل چې **المنصوبات**
دا ما سيا ئتی تر يو حده پورې بحث د اسماء منصوبو دی او اسماء منصوبه عند الجمهور په دليل د استقراء
سره دولس دی. مفعول مطلق مفعول به الخ،

وجه دحصر يكې دا ده چې عامل د دې اسم منصوب به خالي نه وی يا به فعل شبه فعل وی او يا به حرف
وی كه فعل شبه فعل وو نو دا اسم منصوب به خالي نوی يا به دقبيلې دمفاعيلو نه وي او يا به نوی كه
دقبيلې دمفاعيل نه وونو بيا به خالي نوی يا به دجزءوی دفعل نه او يا به نوی كه جزء وود فعل نه
نومفعول مطلق او كه جزنه وود فعل نه نو بيا به خالي نوی (۱) يا به دا فعل په دې باندې واقع شوي وی
(۲) او يا به په دی كې واقع شوی وی (۳) او يا به د دې لپاره واقع شوي وی (۴) او يا به د دې سره واقع
شوی وی، كه اول وونومفعول به كه ثاني وو نومفعول فيه كه ثالث وونومفعول له او كه رابع وونومفعول
معه او كه دقبيلې دمفاعيلو نه نووونو بيا به خالي نوی يا به مبين دذات وی او يا به مبين دصفت وی
كه مبين دذات وونوتمييز او كه مبين دصفت وو نوحال او كه عامل يكې حرف وونو بيا دا اسم به خالي

دی یا به مسندالیه وی او یا به مسندوی که مسندالیه وونو بیا به خالي نوی یا به په کلام موجب کې دی او یا به په کلام غیرموجب کې وی، که په کلام موجب کې وونواسم دحروف مشبه بالفعل او که په کلام غیرموجب کې وونواسم دلالنفی الجنس او که مسندوونو بیا به خالي نوي یا به په کلام موجب کې وی او یا به په کلام غیر موجب کې وی که په کلام موجب کې وونوخبر دافعال ناقصوعلاوه دلیس به او که په کلام غیرموجب کې وونوخبردلیس اوخبردماولا المشبهتین بلیس، اومنصوبات جمع دمنصوب ده نه دمنصوبة ځکه داصفت دمذکرغیرعاقل دی اوصفت دمذکرغیرعاقل جمع کیږي په الف اوتاء سره قیاسا اواطراداهو داجنس منصوب چې دال دی پده باندې لفظ دمنصوبات دقبیلې دلالت دجمع نه په جنس باندې نه دقبیلې ددلالت دجمع نه په فردباندې (۲) یا داجنس منصوب چې دال دی پده باندې لفظ دالمنصوبات ځکه چې الف لام پکې جنسی دی او الف لام جنسی باطلوی معنی دجمع لره بناپه تقدیرین باندې مرجع دضمیرچې هودی جنس منصوب دی ځکه چې مقام دتعریف دی او تعریف کیږي دجنس په جنس سره په مقام دعموم کې **ما** اسم دی حقیقتا وی او که تاویلا وی هسې اسم **اشتمل** چې مشتمل وی دا اسم دقبیلې داشتمال دکالموصوف نه په صفت باندې په تابعیت کې **علی علم المفعولیة**. په علامه دکیدودشئ باندې مفعول اومفعول عام دی که حقیقتا وی او که حکماوی او مفعول حقیقي ظاهردی چې مفاعیل خمسه دی اومفعول حکمی دیته وایي چې موجودوی په دی کې علامه دمفعول حقیقي چې هغه وقوع دده ده په مرتبه ثالثه کې یاپه صورت دفضله کې اګرکه په مرتبه اولی کې وی لکه اسم دان شواوعلامی دمفعولیت څلوردی (۱) فتحه نحورایت زیدا (۲) الف نحو رأیت اباك (۳) یاء نحورایت مسلمین (۴) کسره نحو رأیت مسلمات.

تشریح: هوما اشتمل الخ، داجمله مستانفه ده واقع شوې ده په جواب دسوال مقدرکی ځکه هرکله چې مصنف وویل چې المنصوبات نوسائل سوال وکړوچې مالمنصوبات نو مصنف جواب وکړچې هوما اشتمل علی علم المفعولیة، او دا ما مونږ عبارت واخستو د اسم نه په دې سره دفع دیواعتراض وشوه منشأ داعتراض دا ده چې معترض ما عبارت اخلی د شي نه نووایي چې دا تعریف ستا مانع نه شو د دخول دغیر نه داخل شوېکی دال د زیدا په رأیت زیدا کی ځکه دا دال یو شی دې چې مشتمل دی په علامه دکون د شي باندې مفعول حالانکه دا خو مفعول نه دی یعنې دقبیلې د منصوباتو نه ندی نو هر کله چې ماعبارت شود اسم نه نو دا اعتراض دفع شو.

سوال: داشتمال خوګڼ صرتونه دی (۱) اشتمال دکل په جزء باندې (۲) اشتمال ددال په مدلول باندې (۳) اشتمال دموصوف په صفت باندې (۴) اشتمال دذوالحال په حال باندې نو دلته کوم یومراد دی؟

جواب: دلته مراداشتمال دکالموصوف دی په صفت باندې.

سوال: ماچی هر کله عبارت شو د اسم نه دال دزیدا خوتری خارج شو لیکن یوبل نقصان پیداشوهغه دا تعریف جامع نه شو افرادو خپلولره خارج شوتری اریدان تقوم دلته دا ان تقوم مفعول به دی داریدلپاره حالانکه دخواسم نه دی بلکه فعل دی.

جواب: دا اسم عام دی که حقیقتا وی او که تاویلا وی حقیقتا ظاهر دی او تاویلا لکه ان تقوم شو (ماسوی د مفعول به د قال یقول نه هغه جمله وی)

سوال: دا تعریف ستا جامع نه شو افرادو خپلولره خارج شو ترې رأیت موسی ځکه دلته موسی مفعول دی او مشتمل نه دی په علامه د کون د شي باندې مفعول.

جواب: دا اشتمال عام دی که لفظاوی او که تقدیرا وی دلته اګرچې لفظانشته لیکن تقدیرا شته

سوال: دا تعریف جامع نه شو افرادو خپلولره خارج شوترې هذا په رأیت هذا کې

جواب: دا اشتمال عام دی که لفظا وی او که تقدیراوی او که محلا وی نو دا محلا دی

فمنه المفعول المطلق: هر کله چې فارغ شو د تعریف د منصوباتو نه نو شروع یې وکړه په بیان د اقسامو د منصوباتو کې نوی ویل چې فمنه المفعول المطلق الخ، نو دلته دا فاء تفصیلیه ده او دا من تبعیضی دی

ترجمه: پس بعض د جنس منصوب نه یا بعض د ما اشتمل نه مفعول مطلق دی یا عبارت په حذف د مضاف سره دی نو معنی دا ده چې بعض د افرادو د جنس منصوب نه یا بعض د افرادو د جنس ما اشتمل نه مفعول مطلق دی یا من تبعیضی نه دی بلکه ابتدائیه غیر اتصالیه دی نو ترجمه دا شوه چې یو جزئی د جنس منصوب نه یا یو جزئی د ما اشتمل نه مفعول مطلق دی (او ضمیر د منه یا راجع دی منصوبات ته یا ما اشتمل ته او هر یو کې حسن دی او قبح ده کما مر فی المرفوعات) (۱) او هر کله چې د مفعول مطلق اصل وو په نسبت سره باقی مفاعیل ته ځکه چې دا مصدر دی او مصدر چې نوی موجود شوي نو باقی مفاعیل نه شی موجود یدی او فاعل چې فاعل ګرځی نو د وجې د ایجاد د مصدر نه ګرځی (۲) او هر کله چې دی مطلق وو او نور مقید وو نو دی یې مقدم کړو په نورو مفاعیلو باندې، او د وجې د اصالت نه یې مصدر کړو په منه سره ځکه قانون د مصنف دا د ی چې اصل د اقسامو مصدر کوی په منه یا منها سره او باقی پرې قیاس کوی اختصارا او مسمی کړی شو دی په مفعول مطلق سره د وجې د صحت د اطلاق د مفعول لغوی نه په دې باندې بلا قید چې هغه کرده شده دی او په نورو باندې مع القید او مطلق صفت کاشفه دی ذکر شوي دي لپاره د اطلاق او د عموم او مقسم لپاره د مفاعیل خمسه ؤ مفعول اصطلاحي دی نه لغوی چې تعبیر کولی شی د هغې نه په مطلق مفعول سره او تعریف د مفعول اصطلاحي دا دی چې دا یو اسم دی چې ذکر شوی وی وروسته د فعل نه یا د شبه فعل نه، او نسبت د فعل شبه فعل ورته شوي وی بغیر د اسناد نه چې ذکر وي وروسته د فعل نه او مسند الیه د فعل نوی او تعلق یې راغلی وی د فعل سر: تعلق خاصه چې یو د تعلقات خمسه ؤ نه دی.

تشریح: سوال: مفاعیل پنځه دی: مفعول مطلق یې ولې مقدم کړو؟ **جواب:** دا اصل دی د هغو نه ځکه هغه هله موجود یږی چې دا موجود شي (۲) دا مطلق دی او هغه مقید دي او مطلق مقدم وی په مقید باندې

سوال: دا ولی مطلق دی؟ **جواب:** د وجې د صحت د اطلاق د مفعول لغوی نه چې کرده شده دی په دې باندې بلا قید او په نورو باندې اطلاق کیږي مع القید.

سوال: لکه څنګه چې باقی مفاعیل مقید دی نو دا هم مقید دې په قید د مطلق سره.

جواب: داصفت کاشفه دی لپاره دبیان دعموم او اطلاق په دې مفعول کې او قید نه دی؟

سوال: دامفاعیل خمسه اقسام دی اومفعول مقسم دی اودمقسم اطلاق په ټولو اقسامو باندې کیږي نو څنګه وایي چې اطلاق دمفعول په دې باندې بلاقید کیږي اوپه نورو باندې مع القید کیږي

جواب: د دې مفاعیل خمسه ؤ لپاره مقسم مفعول اصطلاحی دی چې مطلق مفعول ورته وایي دهغې اطلاق په ټولو باندې کیږي بلاقید اوفرق دلته ثابت دی په اعتبار دمفعول لغوی سره چې کرده شده دی نو د هغې اطلاق په دې باندې کیږي بلاقیداوپه نورو باندې نه کیږي، اوس یومطلق مفعول دی او بل مفعول مطلق دی فرق دا دی چې مطلق مفعول عام دی اومفعول مطلق خاص دی، (۲) مطلق مفعول مقسم دی اومفعول مطلق یې قسم دی.

وهواسم مافعله فاعل فعل مذکورالخ: ترجمه: دامفعول مطلق په اصطلاح د نحاتو کی **اسم** نوم دی **ما** لپاره دهغه معنی مصدری اولپاره د هغه حدث **فعله** چې کړی.وی دی معنی حدثی لره **فاعل فعل** فاعل د فعل، په دې شان سره چې دافاعل به متصف وی په دې معنی مصدری سره برابره خبره ده چې دا معنی مصدری صادره وی دفاعل نه بالاختیارلکه ضرب ضرباشو یاصادره با الاختیارنوی لکه مات موتا وسم جسامة شرف شرفا طال طولا، اومراد د قیام دمعنی مصدری نه په فاعل پورې اسناددمعنی مصدری دی فاعل ته دا اسنادبیاعام دی که په طریقه دقیام سره وی لکه ضربت ضربا او که په طریقه دوقوع سره وی لکه ضرب ضربا اودا اسنادعام دی که اثباتا وی لکه قمت قیاما او که نفیا وی لکه ما ضربت ضربا اوتصریح یې وکړه په اسم باندې په تعریف دمفعول مطلق کې څکه چې مفعول مطلق په اصطلاح د نحاتو کی اسم ته وایي چې دلالت کوی په معنی حدثی باندې نه معنی حدثی ته څکه چې موضوع بالذات د نحو الفاظ دی، اواضافت دفاعل فعل ته وشو په دې کې اشاره ده دی خبری ته چې دمفعول مطلق او د فعل فاعل به یو وی اومراد د فعل نه فعل لغوی دی بیاعام دی که فعل اصطلاحی وی او که صفت وی **مذکور** هسې فعل چې مذکوربه وی **مذکور** عام دی که حقیقتا وی او که حکما وی او که مطابقتا وی او که تضمنا وی **بمعناه** هسې فعل چې مشتمل وی دافعل په معنی دمفعول مطلق باندې دقبیلې داشتمال دکل نه په جزء باندې په دې شان سره چې معنی دفعل کل دی اومعنی دمفعول مطلق جزء دی اودا اشتمال دکل په جزء باندې عام دی که حقیقتا وی لکه ضربت ضربا او که تاویلا وی لکه ضربی ضربا قائما شو.

تشریح: سوال: فرض منصبی دمصنف اختصاریماهواختصاردی نودهغې تقاضه دا ده چې په دې تعریف دمفعول مطلق کې یې اسم لفظ نه وی ذکر کړی بلکه داسې یې ویلی وی چې هومافعله الخ نو دا اسم یې ولې ذکر کړو؟ **جواب:** اسم لفظ یې ذکر کړوصراحتا څکه که دایې نه وی ذکر کړی نو داماخوعبارت دی دحدث نه نو دا تعریف جامع نه ګرځیدوځپلو افرادو لره خارج کیدوتری ضربا په ضربت ضربا کې څکه چې دا لفظ د ضربا خو ما فعل دفاعل مذکورندی بلکه مافعل دفاعل مذکورخومعنی حدثی ده او دا تعریف مانع نه ګرځیدودخول دغیرنه داخلیدله پکې معنی مصدری څکه هغه مافعله فاعل

فعل مذکور ده لیکن مفعول مطلق نه دی بلکه مفعول مطلق دی لفظ اودی اسم ته وايي اوس چې هر
کله مصنف اسم ذکر کړونو تعریف جامع مانع شو.
سوال: دا تعریف دمفعول مطلق جامع نه شو افرادو خپلولره خارج شوتری خیر مقدم په قدمت خیر مقدم
کې ځکه دامفعول مطلق دی اومافعل دفاعل نه دی دارنګې تربا وجندلا مفعول مطلق دی او اسم مافعله
فاعل فعل ندی؟
جواب: په خیر مقدم کې داخیر مفعول مطلق واقع شوي دي په اعتبار دمضاف الیه سره چې مقدم دی
او تربا وجندلا مفعول مطلق دی په اعتبار دموصوف محذوف سره ای هلکت هلاکا بالتراب والحجر
سوال: دا تعریف جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو ترې موتا په مات موتا کې دارنګې جسم جسامة
الخ ځکه مفعول مطلق اسم دمعنی مصدری ته وايي چې کړی وی دغه معنی مصدری لره فاعل دفعل
مذکورنو په مات موتا کې داموتا اګرچې اسم دمعنی مصدری دی لیکن دامعنی مصدری مافعل د
فاعل دفعل مذکورندی دارنګې جسم جسامة الخ کې ځکه دا افعال د دې فاعل نه نه دی صادر بلکه دا
ما فعله دالله (ج) دی؟ **جواب:** مراد مافعله فاعل فعل نه قیام دمعنی مصدری دی په فاعل پورې یعنې دا
معنی مصدری به قائمه شوی وی په دی فاعل پورې بیا برابره خبره ده که صادره بالاختیار وی دفاعل
نه لکه مشیت مشیا او که نوی لکه مات موتا شو.
سوال: دا تعریف جامع نه شو افرادو خپلولره خارج شو ترې ضرب ضربا دلته دامعنی مصدری په دې
فاعل پورې قائمه نده بلکه واقع ده په فاعل باندې، دارنګې خارج شو د دې نه ماضربت ضربا دلته
قیام دمعنی مصدری په فاعل پورې نه دی راغلی بلکه دامعنی مصدری نفی شوې ده د دې فاعل نه.
جواب: (۱) مراد د قیام دمعنی دمصدری نه اسناد دمعنی مصدری دی فاعل ته دا اسناد بیا عام دی که
په طریقه دقیام سره وی او که په طریقه دوقوع سره وی او که ایجابا وی او که سلبا وی.
(۲) یاجواب دا دی چې مراد د مافعله فاعل فعل نه اتصاف دفاعل دی په معنی مصدری باندې
دامعنی مصدری عامه ده که صادره بالاختیار وی او که نوی اوا اتصاف عام دی که په طریقه دقیام سره
وی او که په طریقه دوقوع سره وی او که ایجابا وی او که سلبا وی.
سوال: دا تعریف دمفعول مطلق جامع نه شو خارج شو ترې ضربا په زید ضارب ضربا کې ځکه دلته دا
ضربا اسم دمافعله فاعل فعل نه دی بلکه اسم دمافعله فاعل صفة دی.
جواب: (۱) مراد د فعل نه فعل لغوی دی بیا عام دی که فعل اصطلاحی وی او که صفت وی.
(۲) یاذکر دخاص دی چې فعل دی اومراد ترینه عام دی چې عامل ناصب دمفعول مطلق دی.
سوال: دا تعریف ستا جامع نه شو افرادو خپلولره خارج شو ترې فَضَرْبَ الرِّقَابِ او دارنګې حمد اله شکر اله
ځکه دا اګر چې اسم دمافعله فاعل فعل دی لیکن هغه فعل مذکورندی.
جواب: دا مذکور عام دی که لفظاً وی لکه ضربت ضربا او که تقدیراوی لکه دغه مثالونه شو.

بمعناه: په دې باندې يو اعتراض واردېږي اصل کې منشأ داعتراض دا ده چې معترض د دې لپاره متعلق دافعال عامو نه را اوباسي چې کائن دی نومعنی داشوه چې داسې فعل چې کائن دی په معنی دمفعول مطلق سره نو دا تعريف جامع نه شوځيلو افرادو لره خارج شو ترې ضربا په ضربت ضربا کې ځکه چې دلته ضربا په معنی د ضربت سره نه دی بلکه معنی د ضربا جزده د معنی د ضربت نه

جواب: دا اعتراض به هله راتلو چې د دې جار مجرور لپاره متعلق مقدر فعل عام وی کما زعمه المعترض ليکن متعلق مقدرد دې لپاره فعل خاص دی نومعنی داشوه چې دافعل به مشتمل وی په معنی د دې مصدری باندې دقبيلې داشتمال دکل نه په جزء باندې

سوال: دا تعريف دمفعول مطلق خو ديته وايي چې داعامل د دې به مشتمل وی په دې باندې دقبيلې داشتمال دکل نه په جزء باندې اودلته کليت جزئيت نشته بلکه د دواړو مينځ کې عينيت دی.

جواب: دا اشتمال عام دی که حقيقتاوی او که تاويلا وی نو دلته اگر چې حقيقتا نشته ليکن تاويلا دی ځکه مصدرپه حين دعمل کې مؤول وی ان مع الفعل سره يامامع الفعل سر ای ان ضربت ضربا

سوال: دا تعريف مانع نه شو ددخول دغيرنه داخل شو پکې مفعول به په مثل دکرهت کراهتی کې لانه مما فعله فاعل فعل مذکورومعنی الفعل المذکورمشتمل عليه من قبيل اشتمال الکل علی الجزء او سره د دې نه چې دامفعول مطلق نه دی بلکه مفعول به ده

جواب: د دې کراهت لپاره دوه اعتبارة دی: (۱) يو اعتبار دا دی چې دا اسم دی دمافعله الخ لپاره او دا فعل مشتمل دی په دې باندې دقبيلې داشتمال دکل نه په جزء باندې (۲) او دويم اعتبار دا دی چې دا اسم شی د هغه مسمی لپاره او فعل دفاعل واقع شی په دې باندې نو کله چې داذکر شی پس دفعل نه په اعتباراول سره لکه کراهت کراهة نو دامفعول مطلق دی اوکله چې ذکر شی پس دفعل نه په اعتبار ثانی سره نو بيا مفعول به ده لکه کرهت کراهتی نوکوم چې مفعول مطلق دی هغه خارج نه دی اوکوم چې مفعول به دی هغه داخل ندی، په هرتعريف کې لابدی وې دجنس اوفصل نه نواسم جنس دی **او ما فعله فاعل فعل** فصل اول دی په دې سره خارج شود دې نه مفعول به مفعول فيه اومفعول معه، اوپه **مذکور** سره يې احتراز وکړود الضرب واقع نه ځکه دا اگر چې مافعله فاعل فعل دی خوهغه فعل مخکې مذکور ندی **او بمعناه** سره خارج شود دې تعريف نه مفعول له لکه ضربته تديبا.

سوال: دمصدراومفعول مطلق په مينځ کې څه نسبت دی؟

جواب: په دې کې دوه نسبتونه دی: (۱) يونسبت دی په اعتباردصلاحيت سره (۲) اودويم په اعتبار دفعليت سره نوپه اعتبار دفعليت سره په دې کې نسبت دعموم خصوص من وجه دی درې مادی غواړي ماده اجتماعی لکه ضربت ضربا اوماده افتراقی ازجانب مفعول مطلق لکه هلکت ويلا اوماده افتراقی ازجانب مصدرلکه الضرب واقع شو، اوپه اعتباردصلاحيت سره پکې نسبت دعموم خصوص مطلق دی نوهر مصدرصالح دمفعول مطلق دی اوهرمفعول مطلق صالح دمصدريت نه دی لکه هلکت ويلا کې ويلا مفعول مطلق دی اومصدرندی بلکه اسم مصدردی.

سوال: دمصدر او اسم مصدر مينځ کې څه فرق دی؟
جواب: مصدر هغه اسم ته وايي چې دلالت کوی په معنی حدثی باندې او مشتق منه دمشتقاتو لپاره واقع کيږي او اسم مصدر هغه اسم ته وايي چې دلالت کوی په معنی حدثی باندې ليکن مشتق منه نه واقع کيږي د مشتقاتو لپاره لکه سلام، صلوة وغيره.
وقد يكون للتاكيد والنوع والعدد: هر کله چې فارغ شو مصنف دبيان دتعريف دمفعول مطلق نه نوشروع يې وکړه په تقسيم دمفعول مطلق کې ځکه چې تقسيم دمتمماتو اومکملاتو دتعريف نه دی نووي ويل چې وقديكون الخ، اوپه تحقيق سره کيږي مفعول مطلق په استعمال د کلام دعربو کې دتاکيدلپاره نوديته مفعول مطلق تاکيدی وايي **والنوع** او کله کيږي دنوع لپاره ديته مفعول مطلق نوعی وايي **والعدد** او کله راځي د عدد لپاره اوديته مفعول مطلق عد دي وايي
وجه دحصر: په دې اقسام ثلاثه ؤ کې دا ده چې دامفعول مطلق به خالي نوی يا به زيادت شوي وی په مفهوم د دې کې د مفهوم دفعل مذكورنه او يا به نوی که زيادت نه وونوديته مفعول مطلق تاکيدی وايي، اوعلامه يې دا ده چې دامفعول مطلق به ذکر شوی وی مصدر مشتق منه لکه ضربت ضربا شواو که په مفهوم د دې کې زيادت راغلی وودهغې معنی مصدری نه چې معلوميږي دفعل نه نو دازيادت به خالي نوی، يا به دلالت کوی په نوع باندې په دې شان سره چې دامفعول مطلق نوع ده دجنس معنی مصدری نه نوديته مفعول مطلق نوعی وايي، اوعلامه يې دا ده چې دده نه به تعبير کړی شوی وی په وزن دفعلة سره لکه ضربت ضربة. (۲) يا به مستعمل وی مضاف وی لکه ضربت ضرب الجلاد (۳) يا به مستعمل وی موصوف لکه ضربت ضربا شديدا، او يا به دازيادت دلالت کوی په عدد باندې په دې شان سره چې دامفعول مطلق به فردوی دجنس معنی مصدری نه نوديته مفعول مطلق عددي وايي اوعلامه يې دا ده چې (۱) تعبير ترينه کولی شی په وزن دفعلة سره لکه ضربت ضربة. (۲) يا به ترې تعبيرشوی وی په تثنيه سره لکه ضربت ضربتين (۳) او يا به ترې تعبيرشوی وی په جمع سره لکه ضربت ضربات شو. (۴) يا به ترې تعبيرشوی وی په الی سره، او کلمه دقد يالپاره دتحقيق ده او يالپاره د تقليل ده ليکن تقليل دهرواحد دی په نسبت سره اخوينو ته نه دمجموع شيءِ ثالث ته.
نحو جلست جلوسا وجلسة وجلسة: سوال: مثال خوذکر کولی شی لپاره دوضاحت دممثل اووضاحت دممثل راځي په مثال واحد سره نو درې مثالونه يې ولې ذکر کړه؟ **جواب:** تعدد د مثال بنا دی په تعدد د ممثل باندې جلوسا مثال دتاکيد دې جلسة مثال نوع دی او جلسة مثال د عدد دې.
سوال: جلسة دنوع لپاره اوجلسة دعددلپاره ولې راځي؟ **جواب:** ځکه چې مصدر په وزن دفَعلة باندې راځي د مرة لپاره اومصدرپه وزن دفِعلة باندې راځي د حالة لپاره لکه ويلی دی صرفيانو المفعل للموضع والمفعل للالة، والفَعلة للمرة والفِعلة للحالة.

سوال: يکون صيغة دمضارع ده اومصنف پر ی قد داخل کړی دی اوقد چې داخل شی په مضارع باندې نو تقليل فائده کوئ نود دې معنی داشوه چې دامفعول مطلق کله کله راځي دتاکيدلپاره او د نوع او د عدد لپاره او اکثر د بل شی لپاره راځي حالانکه د بل څه لپاره خو دا نه راځي

جواب: دا دی چې (هر سور ډيری شاګل نه وی) يعنې هرځای کې قد لپاره د تقليل نوی بلکه دلته قد لپاره د تحقيق دی او قد چی داخل شی په مضارع نوکله کله تحقيق لپاره راځي کمافی قوله تعالی (قد يعلم الله) (٢) او که اومنم چې داقدلپاره دتقليل دی نو داتقليل د دې انواع ثلاثة ؤ راجع دی يوبل ته نه په نسبت سره شی اخرته يعنې تاکيدی قليل دی په نسبت سره نوعی اوعد دې ته اونوعی قليل دی په نسبت سره تاکيدی اوعد دې ته اوعددی په نسبت سره تاکيدی اونوعی ته

فالاول لايثنى ولايجمع بخلاف اخويه: هرکله چې فارغ شو مصنف دبيان دانواع ثلاثة دمفعول مطلق نه نو شروع يې وکړه په احکامود دې کی

ترجمه: پس قسم اول چې مفعول مطلق تاکيدی دی نه تثنيه کيږي اونه جمع کيږي. (١) ځکه مفهوم د دې بعينه مفهوم دفعل مذکوردی او فعل خو، تثنيه کيږي او، جمع کيږي نه نو داهم نه تثنيه کيږي او نه جمع کيږي. (٢) يا د دې وجی نه چې دا دلالت کوی په ماهيت معری باندې دتعددنه اوپه جمع او تثنيه کې تعدد دې اوپه مينځ د دوی کې منافات دی.(٣) يا د دې وجی نه چې دادلالت کوی په جنس باندې او د جنس اطلاق کيږي په قليل اوکثيرباندې په اعتباردلفظ مفرد سره نوحاجت نشته تثنيه او جمع ته.

بخلاف اخويه: دامخالف دی دا خوينو خپلونه چې مفعول مطلق نوعی اوعد دې دی په دې شان سره چې هغه دواړه تثنيه کيږي اوجمع کيږي ځکه چې مقصودپه هغه دواړو کی تعدد دې اوتثنيه اوجمع هم دلالت کوی په تعدد باندې. (٢) اوهغه دلالت نکوی په ماهيت معری عن التعدد باندې د دې وجی نه مشهوره ده چې المصدرلايثنى ولايجمع.

سوال: الصرف ام العلوم و النحوابوها، دلته خوعلوم جمع دعلم ده اوعلم مصدر دی دارنګې کتاب البيوع کې البيوع دبيع ده اوبيع مصدردی.

جواب: واذاکان الانواع مختلفة فيثنى ويجمع **وقديکون بغير لفظه**، اوکله راځي مفعول مطلق مغائردلفظ دعامل خپل نه دامغائرت عام دی کله به په اعتباردمادی سره وی لکه قعدت جلوسا، اوکله به په اعتبارباب سره وی لکه انبت الله نباتا، په دې شان سره چې عامل دمزيدونه باب افعال دی اومفعول مطلق دمجردونه دی، د دې عبارت نه غرض دمصنف دوه خبری دی: (١) دفع دتوهم ده هغه توهم دا دی چې هرکله چې په مابين دمفعول مطلق اوعامل کې اتحادذاتی شرط ووچی معلوميږي د دې قول د مصنف نه چې بمعناه نوچابه توهم کولو چې اتحادلفظی به هم شرط وی نو مصنف دفع دتوهم وکړه چې اتحاد لفظی شرط نه دی بلکه غالب دی.(٢) او دويم غرض دمصنف د دې عبارت نه رد دې په سيبويه باندې ځکه هغه ځکه هغه اتحاد لفظی شرط وايي او په کومو ترکيبونو کې چې اتحاد لفظی نشته نو هغه پکې

تاویل کوی نو تقدیر دقعدت جلوسا داشو چې قعدت فجلست جلوسا، اوتقدیر دانبت الله نباتا دا شوانبت الله فنبت نباتا لیکن وجی د رد دوه دی: (۱) یو دا چې تاویل په هرمثال کې خلاف الاصل او باطل دی (۲) ڈویم دا چې بعض مثالونو کې تاویل نه دی صحیح لکه لَن یَضُرُّوا اللّٰہَ شَیْئًا سیبویه جواب کوی چې دلته شیئا بمعنی قلیلا دی او دا مفعول مطلق دی په اعتبار د موصوف مقدر سره ای لن یضرونه ضررا قلیلا

سوال: حلفت یمینا کې تاویل دسره ممکن نه دی ځکه دیمینا فعل دسره مستعمل ندی، نو سیبویه وایی چې کوم ځای کې فعل مستعمل وی نوهلته زه تاویل کوم اوکوم ځای چې نوی مستعمل نوهلته سیبویه هم قائل دی په مغائرت لفظي باندې، لیکن مذهب دسیبویه ضعیف دی ځکه تاویل خلاف الاصل دی نوځکه مصنف عدول وکړود دې مذهب نه **بغیرلفظه** باندې اعتراض دی منشأ د دې اعتراض اصل کې دا ده چې معترض غیر په معنی د دون سره اخستی دی نووایی چې ضمیر دلفظه به یا مفعول مطلق ته راجع وی او یا به عامل دمفعول مطلق ته راجع وی که مفعول مطلق ته راجع شی نو معنی دا شوه چې کله کله کیږي مفعول مطلق بدون لفظه اوداندہ ممکن او که عامل اوناصب ته راجع شی نو معنی داشوه چې کیږي مفعول مطلق بدون ناصبه اوداهم محال ده د وجې داشتراط د ذکر د ناصب نه په تعریف دمفعول مطلق کې؟ **جواب:** داضمیر راجع دی عامل ته خوغیر دنفی لپاره نه دی بلکه داغیر صفتی دی په معنی د مغائر سره یعنې کله کله کیږي مفعول مطلق مغائر دلفظ دفعل خپل نه ځکه چې دی کې اتحاد معنوی شرط دی نه لفظی.

وقد يحذف الفعل لقيام قرينة جوازا كقولك لمن قدم خيرمقدم: هرکله چې فارغ شومصنف دبیان دتقسیم د مفعول مطلق نه چې اول یې تقسیم دمفعول مطلق وکړو انواع ثلاثه ؤ ته اوبیا یې تقسیم وکړونوعین ته (۱) من لفظه (۲) من غیر لفظه نوشروع یې وکړه په بیان داحکامودمفعول مطلق کې نووی ویل چې وقد یحذف الخ،

ترجمه: کله کله حذف کولی شی عامل ناصبه دمفعول مطلق په وخت دوجود دقرینی دالی کې په تعیین د محذوف باندې قرینه عامه ده که لفظیه وی که معنویه وی که حالیه وی که مقالیه وی **جوازا**، په حذف جائزه سره لکه دامقوله ستاشوه هغه چا ته چې ستامخی ته راغلی وی دسفرنه خیرمقدم **خیرمضاف مقدم** یې مضاف الیه دی مضاف سره دمضاف الیه نه مفعول مطلق دی اوناصب یې حذف شوي دي په حذف جائزه سره چې قدمت دی د وجې دقرینی دالی نه په تعیین دمحذوف باندې چې حال دمخاطب دی چې مجیئت دی دسفرنه اوخیرمقدم مفعول مطلق دی په اعتبار دموصوف محذوف سره یا په اعتبار د مضاف الیه سره چې مقدم دی ځکه د اسم تفضیل لپاره ثابت وی حکم دمضاف الیه ځکه چې دا اسم تفضیل یوفردوی د افرادو دمضاف الیه نه.

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی اوغرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی

جواب: ربط دماقبل سره دا دی چې مخکې مصنف تقسیم دمفعول مطلق وکړ اواوس یې احکام بیانوی نو غرض دمصنف بیان داحکامودمفعول مطلق دی.

سوال: قدچې داخل شي په مضارع باندې نوتقليل فائده كوي نو دلته يې ولې حذف دناصب دمفعول مطلق په قدسره ذكركړو؟ **جواب:** دايې ذكركړوپه قدسره څكه اصل په كلام كې ذكردى اوحذف خلاف الاصل دى نو دا غالبا مذكور وى اوكله كله حذف كيږي.

سوال: حذف د فعل حكم دفعل دى نوذكركول دحكم دفعل خو په دې مقام كې خروج عن البحث دى نو مصنف دبحث نه خروج ولې وكړو؟ **جواب:** دا اعتراض په هله وارديدوچې دابحث دحذف دمطلق فعل وى ليكن دلته مرادحذف دمطلق فعل نه دى بلكه حذف د هغه فعل مراد دې چې هغه ناصب دمفعول مطلق وى نو دا بحث دى دمتعلق دمفعول مطلق نه اوبحث دمتعلقاتو د شي نه بحث وى دعين شي نه نو خروج عن البحث رانغلو.

سوال: لكه څنګه چې حذف دفعل كولى شي نو دارنګې حذف دشبه فعل هم كولى شي نوتاهغه ولې ذكر نه كړو او دا حكم دى فعل پورې ولې خاص كړو؟

جواب: دلته مجازمرسل دى ذكرخاص دى چې فعل دى اومرادترينه عام دى چې عامل ناصب دمفعول مطلق دى بياعام دى كه فعل وى او كه شبه فعل وى.

سوال: اصل په كلام كې حقيقت دى اومجازخلاف الاصل دى نو مصنف دا عبارت په مجاز باندې ولې بنا كړويدى مجازكى نكته څه ده؟

جواب: نكته په دى مجاز كې دا ده چې په دې ذكردفعل كې يې اشاره وكړه اصالت دفعل ته.

سوال: **لقيام قرينة** كې لام تعليلى دى داګرخوى مدخول خپل علت لپاره دماقبل نود دې نه معلومهٔ شوه چې دافعل حذف كولى شي د وجې دقيام دقرينې نه نوحذف دفعل معلول دى اوقيام دقرينې علت دى او وجود د علت مستلزم وى وجود دمعلول لره نود دې نه معلومه شوه چې كله قرينه موجوده شوه نو فعل به خامخا حذف كوى، او جوازاً نه معلومه شوه چې كله قرينه موجوده شوه نو بيا هم حذف دفعل لا زم نه دى بلكه ستاخوښه ده كه حذف كوى يې او كه نه يې حذف كوى.

جواب: (١) دا اعتراض به تاهله كولى چې دا لام دلته تعليلى وى ليكن دالام تعليلى نه دى بلكه لام وقتيه دى او لام وختيه راځي لكه په دې حديث دنبى (ص) كې چې (المستحاضة تتوضاء لكل صلوة) اى لوقت كل صلوة. (٢) او كه اومنم چې لام تعليلى دى نوعلت دوه قسمه دى: (١) مجوزه مصححه (٢) موجبه مستلزمه دلته علت مجوزه دى نه موجبه.

سوال: اضافة دقيام دقرينې ته نه دى صحيح حكه قيام ويلى شي مكث على القدمين ته د دې اضافت او نسبت ذوى الاجسامو ته كيږي او قرينه خو د ذوى الاجسامو نه ده.

جواب: په دې عبارت دمصنف كې مجازدى ذكردقيام دى اومرادترينه وجود دې.

سوال: ما ته مثال وښايه چې عامل دمفعول مطلق حذف شوى وى په وخت دوجوددقرينه داله كې

جواب: مثال د دې لكه دا قول ستا شو چې خير مقدم.

سوال: دا مثال مطابق نه دی د ممثل سره ځکه چې خیر مقدم خو قول د مخاطب نه دی ځکه قول په لغت کې گفتن ته وایي او دا خو گفتن ندی؟ **جواب:** دلته مصدر په خپله معنی نه دی بلکه مصدر مبنی للمفعول دی په معنی دمقولی سره نو خیر مقدم منصوب دی بنا بر مفعول مطلق او عامل یې حذف دی

سوال: خیر مقدم ته مفعول مطلق ویل نه دی صحیح ځکه مفعول مطلق مصدر دفعل مذکوروی او دا خیر مصدر نه دی بلکه اسم تفضیل دی.

جواب: دا مفعول مطلق دی په اعتبار دموصوف محذوف سره ای قدمت قدوما خیر مقدم. بیا دغه موصوف حذف شو او دا قائم شو په مقام د هغې باندې نو دیته مفعول مطلق ویلی شی مجازا (۲) یا دا مفعول مطلق دی په اعتبار د مضاف الیه سره چې مقدم دی ځکه دا مصدر میمی دی ځکه چې اسم تفضیل مستعمل دی په طریقه داضافت سره اواسم تفضیل چې مستعمل شی په طریقه د اضافت سره نو حکم دمضاف الیه ورله ثابت وی ه وجې د کیدو د اسم تفضیل نه یو فرد د افرادو د مضاف الیه نه

سوال: جوازاً ولی منصوب دی؟ **جواب:** دامفعول مطلق دی

سوال: مفعول مطلق خو مصدر دفعل مذکوروی اودا خو مصدر دیحذف ندی؟

جواب: دا هم په اعتبار دموصوف محذوفه سره دی ای حذفا جوازا.

سوال: دا خو حمل نه دی صحیح؟ **جواب:** جوازا په معنی دجائزا دی.

ووجوبا: دا عطف دی په جوازا باندې نو معنی داشوه چې کله کله حذف کولی شی ناصب دمفعول مطلق په وخت د وجود د قرینه داله کې په تعیین دمحذوف باندې په حذف وجوبی سره چې دامسموع دی د عرب نه په دې شان سره چې دامفعول مطلق سره دعامل ناصب نه مستعمل په استعمال د کلام د عرب کې نه دی موندی شوی او د یو قاعدی لاندې هم نه دی داخل چې مونږه پرې نور قیاس کړو دیته حذف وجوبی سماعی وایي.

سوال: **وجوبا** عطف دی په جوازا باندې اوهغه خو منصوب وو بنا بر مفعول مطلق نو دا به هم منصوب وی بنا بر مفعول مطلق نو دا خو مصدر د فعل مذکور نه دی.

جواب: دا هم مفعول مطلق دی په اعتبار دموصوف محذوف سره ای حذفا واجبا.

سوال: حمل د **سماعا** په حذفا باندې نه دی صحیح

جواب: دا بمعنی مسموع یابمعنی سماعیا دی **مثل سقیا** ورعیا الخ. سقیا منصوب دی عامل یې حذف دی په حذف وجوبی سماعی سره ای سقاك الله دارنگې دا نورهم دی ای رعاك الله رعیاخاب خیبة، جدع جدعا، دامثلی ته ویلی شی چې عبارت دی، دقطع دانف یا اذن یاشفت یایدنه، حمدت الله حمدا، شکرت شکرا، عجبت عجبا. دا اووه مصادر دمنصوب راځي په استعمال د کلام دعربو کې بنا بر مفعول مطلق اوعامل یې حذف وی په حذف سماعی سره.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه په حمدت حمدا، اوشکرت شکرا، باندې چې دا خو مستعمل دی سره دعامل ناصب نه؟ **جواب:** داسره دعامل نه مستعمل شوي دي په کلام دمولدینو کې نه په کلام د

فصحاؤ کی اومولدین هغې ته وايي چې پلارېې عربي وی اومورېې عجمي وی او یابالعکس وی، او مونږه وایوچې په کلام دفصحاؤکې سماعا نه راځي. (۲) یا مراد د دې نه هغه مصادر دی چې مستعمل وی په لام سره لکه حمداله شکراله، اوبغیردلام نه ورسره عامل ذکرکیږي.

سوال: بیاخوپکاروه چې بدون اللام یې نه وی ذکر کړی بلکه مع اللام یې ذکرکړی وی.

جواب: مراد مصادرمستعمله مع اللام دی خومصنف لام ترك کړی دی نفس لپاره داختصارفي المتن، او شیخ رضی صاحب په دې مقام کې یوه قاعده بیان کړی ده اوداحذف دناصب د دې مصادر ولې کړځولی دی د قبیلې دحذف وجوبي قیاسی نه قاعده دا ده چې نسبت د مصدر وشی فاعل یامفعول به ته په واسطی دلام سره لام عام دی که لفظاوی او که تقدیرا وی او په دی سره بیان د نوعی نوي قصد کړي شوي، نوعامل د دې حذف کولی شی په حذف وجوبي قیاسی سره د وجې د وجود د سدمسد او قرینې نه قرینه په نفس حذف استعمال دمفردیانصب د دې مصادردی او قرینه په تعیین دمحذوف باندې پخپله دا مصدردی، اوسد مسد اقامت دمصدردی مقام العامل.

سوال: دا خو بیا تعارض راغلی په مینځ د قول د مصنف او قول د شیخ رضی کې ځکه مصنف ورته سماعي وویل اوهغه ورته قیاسي ووېل؟

جواب: مصنف ته دا قاعده نه وه معلومه نوځکه یې ورته سماعی اویې اوشیخ رضی ته دا قاعده معلومه وه نوځکه یې قیاسي وګرځوو.

وقیاسا في مواضع منها ما وقع مثبتا الخ: هرکله فارغ شومصنف دبیان د هغه مفعول مطلق نه چې عامل د هغې حذف کولی شي په حذف وجوبي سماعي سره نوشروع یې وکړه په هغه مواضعو کې چې په هغې کې حذف دعامل دمفعول مطلق کولی شي په حذف وجوبي قیاسي سره نووي ویل **وقیاسا** کله کله حذف کولی شي ناصب دمفعول مطلق په حذف وجوبي قیاسي سره د وجې دوجوددقرینې اوسد مسدنه په یو څو ځایونو کې دوجوبي معنی دا ده چې هغه عامل بالکل نشي ذکرکولی د دې سره اودقیاسي معنی دا ده چې نورو وریاندې قیاس کولی شي ځکه چې دا داخل وی لاندې دیوقاعدې نه.

سوال: مواضع صیغه دجمع ده اوجمع باعتبار المعنی دوه قسمه ده: (۱) جمع قلته. (۲) جمع کثرته. نو مواضع جمع کثرته ده اطلاق یې کیږي په مافوق داحدعشرباندې اودلته خومصنف اوه ځایونه ذکر کړی دی نو دا خومقام دجمع قلتي دی نوده جمع کثرته ولې ذکرکړیده؟

جواب: مصنف چې جمع کثرته ذکر کړیده په دې کې یې اشاره دیته کړیده چې ناصب دمفعول مطلق حذف کولی شي په حذف وجوبي قیاسي سره په ډیرځایو کې او منحصرندی په دې مواضعو مذکورو کې دا حذف کولی شي تقریبا په یولس ځایونو کې اودلته صرف اووه ذکر دی **منها** بعض ددغه مواضعو نه چې ناصب دمفعول مطلق پکې حذف کولی شي په حذف وجوبي قیاسي سره موضع د هغه مفعول مطلق دی چې واقع شوی وی دامفعول مطلق مرادالاثبات وروسته دحرف نفی نه یاوروسته دمعنی دنفی نه چې انما دی **داخل علی اسم**، داسې حرف نفی اوداسې معنی دنفي چې داخل وی په اسم باندې داسې اسم

لایکون خبراعنه: چې نه کیږي دغه مفعول مطلق خبر ددغه اسم نه بلاتجاوزځکه اسم دلالت کوی په ذات او مفعول مطلق دلالت کوی په وصف باندې نوحمل دوصف راځي په ذات باندې اوداندی صحیح

تشریح: سوال: منها ماوقع کې دامابه خالي نوی یا به عبارت وی دمفعول مطلق نه او یا به عبارت وی د موضع نه که عبارت شی دمفعول مطلق نه نوحمل دغیرموضع راځي په موضع باندې او که عبارت شی د موضع نه نوحمل دموضع په موضع باندې راځي لیکن موصول بلاعائده پاتې شو

جواب: دا عبارت دی دمفعول مطلق نه اوعبارت په حذف دمضاف سره دی ای موضع المفعول المطلق

سوال: نه وایي چې دامفعول مطلق به واقع شوی وی مثبت نومثال مطابق نه شو دممثل سره ځکه مثال کې مفعول مطلق منفی دی ځکه واقع دی وروسته د حرف نفی نه

جواب: مراد د مثبت نه مرادالاثبات دی ځکه مثبت دوه قسمه دی: (۱) مثبت بنفسه (۲) چې اثبات اراده کړی شوی وی دنفی نه وروسته په کلمه دالاسره دلته قسم ثاني مراد دې **او مثبتا** قید سره یې احترازوکړو دمازیدسیرانه، ځکه دلته دامنفی واقع شوي دي نو دلته ناصب نشي حذف کولی په حذف وجوبی قیاسی سره ځکه دا مصدر مونږ مفعول مطلق دفعل محذوف ګرځوو ځکه هسې حمل نه صحیح کیږي او کلام منفی کې حمل نوی **او بعد نفی او معنی نفی** سره یې احتراز وکړو د زید سیرا نه دا وروسته دنفی یا معنی د نفی نه ندی نوناصب یې نشی حذف کولی په حذف وجوبی قیاسی سره د وجې دعدم وجود د سد مسد نه نوحذف کولی شی په حذف جوازی سره زید سیرا او زید یسیرسیرا، دواړه جائز دی **اوداخل علی اسم** سره احترازوکړوماسرت الاسیرانه اوانما سرت سیرا نه ځکه په دې کې مفعول مطلق اګرچې مراد الاثبات دی لیکن داخل علی اسم نه دی بلکه داخل علی فعل دی، **اولایکون خبراعنه** سره یې احتراز وکړو د ما سیری الاسیر شدید نه، دلته سیر مصدر مرادالاثبات دی پس دنفی نه داخل علی اسم دی خو لا یکون خبراندی بلکه خبرواقع کیدی شی ځکه دلته مبتدأ اوخبر دواړه دلالت کوی په وصف باندې نوحمل صحیح دی.

سوال: نه وایي چې حرف نفی اومعنی دنفی به داخل وی په اسم چې داخبر نه واقع کیږي ددغه اسم نه د قاعده ستامنقوضه شوه په زیدعدل باندې زیدذات دی اوعدل وصف دی اوحمل راغلی دی

جواب: زه وایم چې خبرنه واقع کیږي بلاتجاوزاودلته خبرواقع شوي دي سره دمجازنه ځکه دلته مجازعقلی دی او که عدل بمعنی عادل شی نو بیامجازلغوی دی.

او وقع مکررا: او دا ناصب دمفعول مطلق حذف کولی شی په حذف وجوبی قیاسی سره د وجې د وجود د قرینې او سد مسد نه چې دامفعول مطلق واقع شوی وی مکرر وروسته د هغه اسم نه لایکون خبرا عنه چې دامفعول مطلق د هغه نه خبر نه واقع کیږي اوجمع کړی دی مصنف داضابطه اولی اوضابطه ثانی په یو منها کې د وجې داشتراك د دې دواړو نه په داخل الخ کې نو داقید یې ترك کړو.

سوال: نه وایي چې مفعول مطلق مکرروی نوعامل یې حذف کولی شی په حذف وجوبی قیاسی سره د قاعده ستامنقوضه شوه په دې قول دالله ﷻ سره کَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا

جواب: دلته مراد دا دی چې دا واقع شی مکرر لیکن وروسته د هغه اسم نه وی چې لا یکون خبرا عنه او دلته اګرچې مکرردی لیکن وروسته د داسې اسم نه نه دی چې لایکون خبراعنه

سوال: هر کله چې دا قاعده ثانی عبارت وو دمجموعه قیدین نه نو داقیدیې ورسره ولې ذکرنه کړو؟

جواب: ځکه چې فرض منصبی دمصنف اختصاربماهو اختصاردی اودمصنف داب اوطریقه دا ده چې کومه قاعده شریکه وی په یو قید کی دماقبل سره نو هغه قیدترک کوی مقائیسة.

سوال: د دې نه خودامعلومه شوه چې هغه ځان له قاعده اوداځان له قاعده ده نو دادواړه یې په یو منها کې ولې ذکر کړل؟ **جواب:** جمع کړی دی مصنف دادوه قاعدی دیومنها لاندې د وجې داشتراك د دې قاعدتینو نه په دې قیدکی چې داخل علی اسم الخ مثال د هغه مفعول مطلق چې مرادالاثبات وی اوداخل علی اسم الخ وی، اوعامل یې حذف شوی وی په حذف وجوبی قیاسی سر لکه ما انت الاسیرادلته سیرا مفعول مطلق دی اوناصب یې حذف شوي دي په حذف وجوبی قیاسی سره نوکیږي تقدیر د عبارت دارنګې ما انت تسیرسیرا قرینه په نفس حذف استعمال دمفرد دې اوقرینه په تعیین دمحذوف باندې پخپله دا مصدردی اوسدمسد اقامت دمفعول مطلق دی په مقام دعامل کې په معاونت دما اوالا سره بل مثال لکه ما انت الاسیرالبریدای تسیرسیر البرید قرینه په نفس حذف باندې نصب دی اوپه تعیین دمحذوف خودا مفعول مطلق دی اوسدمسد اقامت دمفعول مطلق دی په مقام دعامل کې او داعی دحذف تخفیف دی اومثال دمعنی دنفی لکه انما انت سیرا، ای انما انت تسیر سیرا، قرینه په نفس حذف استعمال دمفرد دې قرینه په تعیین دمحذوف پخپله دا مصدردی اوسدمسد اقامت د مفعول مطلق د ی په مقام دعامل باندې په معاونت دانماسره اومثال دمکرر بعدالاسم لکه زید سیرا سیرا ای یسیر سیرا سدمسد دلته اقامت دمفعول مطلق دی په مقام دعامل باندې په معاونت د تکرار سره او داعی د حذف تخفیف دی.

سوال: دانما اومکررلپاره یې یومثال ذکرکړواود دې اول لپاره یې دوه مثالونه ذکرکړل داولې.

جواب: داتعدددمثال بنادی په تعدددممثل باندې اول مثال دی د مفعول مطلق نکره اوثانی مثال د معرفی دی (۲) یا اول مثال دمفرد دې اوثانی مثال دمضاف دی (۳) یا اول مثال دهغې دی چې مفعول مطلق فعل دمبتدأ دی اوثانی مثال دهغې دی چې مفعول مطلق فعل دمشبه به دمبتدأ دی نه د مبتدأ.

ومنها ما وقع تفصیلا لاثر مضمون جملة الخ: بعض د هغه مواضعو نه چې واجب دی پکې حذف د ناصب د مفعول مطلق په حذف وجوبی قیاسی سر **ما** موضع د هغه مفعول مطلق دی داسې مفعول مطلق **وقع** چې واقع شوی وی دامفعول مطلق **تفصیلا** مبین چې مخکې ذکرشوې ده، دا قاعده مقیده ده او مشروطه ده په شروط اربعهؤ سره: (۱) یوشرط دا دی چې مخکې دمفعول مطلق نه به جمله وی (۲) او د هغه جملې لپاره به مضمون وی (۳) اوپه مضمون ددغه جمله متقدمه باندې به یوغرض اوفائده مرتب وی (۴) او د فائدې مرتبې لپاره به انواع محتمله وی نو دامفعول مطلق به دهغې بیان کوی مثل ﴿فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً﴾ دلته فداء عطف دی په منا باندې په کلمه داماسره اواماثانی عطف دی

په اما اول باندې په کلمه د واو سره اوپه سرد معطوف علیه کې کلمه داما ذکر ده ځکه دا قاعده ده چې کله چې متکلم اراده وکړی چې زه یو اسم عطف کوم په بل باندې په کلمه داما سره نوپه سرد معطوف علیه کې اما راوړل لازم دی لپاره د دې چې دلالت وکړی په شك اوترددباندې داول وهلته نه اومنا او فداء منصوب دی بنابرمفعول مطلق اوعامل یې حذف دی په حذف وجوب قیاسی سره تقدیرا دی فاما تمنون منا واماتفدون فداء، قرینه په نفس حذف استعمال دمفرد دې اوقرینه په تعیین دمحذوف صیغه د مصدر ده سره دنصب نه اوسد مسد اقامت دمفعول مطلق دی په مقام دعامل کې په معاونت د جملې متقدمی سره اوداعی دحذف تخفیف دی اود دې مفعول مطلق نه مخکې جمله راغلی ده چې فشدو الوثاق دی اومضمون د دې شدالوثاق دی اوپدی باندې یو غرض مرتب دی اوپه هغه غرض مرتبه کې دګنیو انواع احتمالات دی: (١) یواحتمال دا دی چې احسان پرې وکړی. (٢) چې فدیه ترې واخلی. (٣) قتل یې کړی. (۴) چې قیدیان یې کړی. (۵) چې غلامان یې کړی. نو دلته فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً سره په هغه انواع خمسه ؤ کې دوه احتماله بیان شو، اود دې بل مثال لکه دامقوله دعرب شوه کل الطعام فامانو ما بعد واما کسبا **لاثر مضمون**. دلته اضافت د اثر وشومضمون ته په دې سره یې احتراز وکړو د هغه مفعول مطلق نه چې واقع شوی وی تفصیل د جملې نه داثرلپاره لکه زید یسافر سفر القریب اوالبعید، نو دلته عامل دمفعول مطلق نشی حذف کولی ځکه دلته تفصیل دمضمون دی نه د اثر ځکه اثر نشته دی اوپه جمله سره یې احترازوکړود هغه نه چې واقع شوي وی تفصیل دمفردلپاره ځکه دا چې تفصیل دمفردواقع شی نوناصب یې نشی حذف کولی نحو لزید ضرب اما یتادب تادیبا او یهلك هلاکا، **اومتقدمة** سره یې حترازوکړودهغې نه چې داواقع شی تفصیل لپاره داثردمضمون د جملې چې متأخره ده هلته هم ناصب نشی حذف کولی په حذف وجوبی قیاسی سره.

سوال: مضمون د جملې څه ته وایي؟ **جواب:** مضمون د جملې دوه قسمه دی: (١) مضمون د جملې فعلی دیته وایي چې مصدردفعل مضاف کړی فاعل یامفعول ته لکه ضرب زید عمرا کی ضرب زیدایاضرب عمرو ووایي. (٢) اومضمون د جملې اسمی دیته وایي چې مصدردخبرمشتقی مضاف کړی غیر مشتقی ته لکه زیدقائم کې قیام زید المنطلق زیداکی انطلاق زید.

سوال: که مبتدأ اوخبردواړه اسمین جامدین وونو بیا به څنګه وی؟ **جواب:** بیا به مصدرجعلی ادعائی دخبرراواخلی اومضاف به یې کړی مبتدأته لکه په هذازیدا کی زیدیت هذا اوپه زید هذاکی هذیت زید.

ومنها ماوقع للتشبیه: اوبعض د هغه مواضعو نه چې واجب دی پکې حذف دعامل ناصب دمفعول مطلق په حذف وجوبی قیاسی سره موضع د هغه مفعول مطلق دی چې واقع شوی دی دامفعول مطلق **للتشبیه**، مشبه به ذکر دتشبیه دی چې نسبت دی اومرادترې طرف دی چې مشبه به دی **علاجا**، په حال کون دمفعول مطلق کې چې دا به دلالت کوی په یوفعل دافعال جوارحونه، ځکه فعل په اعتباردصدروسره دوه قسمه دی: (١) یوفعل علاج دی. (٢) اوفعل قلب دی.

وجه دحصر: دافعل به خالي نوي يا به په حين دصدورده کې د دې فاعل نه اعضاء اوجوارحود انسان نه دخل وی او يا به نوی که وونوافعال جوارح اوافعال علاج ورته وايي او که نه وونوافعال قلوب ورته وايي اوس که مفعول مطلق دلالت په هغه فعل باندې کووچې دافعال جوارح نه وی نو بيا حذف کولی شي او که دافعال قلوب نه وونو بيانشي حذف کولی

بعد جملة: وروسته د جملې نه داسې جمله مشتمله **علی اسم** چې مشتمله ده په يو اسم باندې

بمعناه: داسې اسم چې کائن دی په معنی دمفعول مطلق سره.

وصاحبه او دارنګې داجمله به مشتمله وی په صاحب ددغه اسم باندې چې دغه معنی دمفعول مطلق قائمه شوې ده په مسمی ددغه اسم پورې يعنې صاحب د اسم هغه دی چې معنی دمفعول مطلق قائمه شوی وی په خارج کې، **بمعناه** داجارمجرورظرف مستقردی په اعتباردمتعلق سره صفت د اسم دی، **اوعلی اسم** متعلق دی په مشتمله پورې داصفت دجملة دی چې هغه مضاف اليه دبعد دې دامفعول فيه دی دوقع لپاره اوعلاجامنصوب دی بنابر حاليت وصاحبه مجروردی عطف دی په اسم باندې

تشريح: سوال: ته وايې چې دامفعول مطلق چې واقع شی په ترکيب کې دتشبيه لپاره نوناصب يې حذف کولی شی په حذف وجوبی قياسی سره نو مفعول مطلق خوتشبيه نه واقع کيږي ځکه تشبيه امرمعنوی دی نسبت دی بين المشبه والمشبه به، اومفعول مطلق امر لفظی دی

وبعبارة اخری: ته وايې چې مفعول مطلق تشبيه واقع شی اوپه مثال کې خومشبه به دی تشبيه ندی.

جواب: دا اعتراض به هله راتلوچې مصدر په خپله معنی وی ليکن دلته ذکر دنسبت دی او مراد ترينه طرف دی چې مشبه به دی.

فوائد د قيوداتو

للتشبيه سره يې احترازوکړو دمررت بزيدفاذاله صوت صوت حسن نه ځکه په دې ترکيب کې داصوت ثانی مشبه به نه دی واقع شوی بلکه بدل واقع شوي دي دصوت اول نه نومرفوع به وی علاجا، سره يې احتراز وکړو د مررت بزيد فاذا له زهد زهد الصلحاء، يا فاذا له علم علم الفقهاء ځکه دا اګر چې مصدر دی اومشبه به دی خوزهداوعلم دافعال جوارحونه نه دی بلکه دافعال قلوب نه دی نو دا زهد الصلحاء اوعلم الفقهاء مرفوع دی بنابربدليت داول نه

اوبعد جملة: سره يې احترازوکړودصوت زيدصوت حمارنه ځکه دا اګر مصدردی مشبه به دی دافعال علاج نه دی خوروسته د جملې نه نه دی بلکه وروسته دمفردنه دی اوداصوت ثانی يامرفوع دی خبر دی دمبتدأ اولی لپاره او يامنصوب دی په نزع دخافض سره په اصل کې کصوت حماروو.

او مشتملة: سره يې احترازوکړودمررت بزيدفاذاله ضرب صوت حماردلته دانورشرطونه شته خو مشتمل علی اسم الخ نه دی **اوصاحبه** سره يې احترازوکړودمررت بالبلد فاذاله صوت صوت حمارځکه صوت حمار په دې ترکيب کې مصدر مشبه به فعل علاج بعدجملة مشتملة علی اسم بمعناه دی خو مشتمل نه دی په صاحب د دې اسم باندې چې دامعنی مصدری په هغه پورې قائمه شوې ده ځکه فاذا

نحو مررت به فاذاله صوت صوت حمار: دلته داصوت حمار منصوب دی بنا برمفعول مطلق اوناصب یې حذف دی ځکه چې جامع د دی شرطونو دی اومشتمل دی په صاحب چې ضمیر راجع دی هغه ته نوتقدیردارنګې دی مررت بزید فاذا له صوت یصوت صوت حمار، قرینه په نفس حذف استعمال دمفرد دې اوقرینه په تعیین دمحذوف دا صیغه د مصدر ده سره دنصب نه او سدمسد اقامت د مفعول مطلق دی په مقام دفعل باندې په معاونت د جملې متقدمی سره او داعی دحذف تخفیف دی.

سوال: مفعول مطلق خو مصدر وی اوصوت خواسم مصدردی نه مصدر؟ **جواب:** دابمعنی تصویت دی

سوال: صوت حمارمفعول مطلق د دې صوت مذکورلپاره ولې نه راځي؟

جواب: دا مفعول مطلق دفعل مقدر دی نه دمذکورځکه مفعول مطلق دمصدرلپاره هله راځي چې دا مصدر په معنی دان مع الفعل یاما مع الفعل سره وی او دا یو هم نه دی مثال دان مع الفعل کقوله تعالی وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ ای ولولاان یدافع الله الناس او مثال د ما مع الفعل قوله تعالی تَخَافُوْنَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ ای کما تخافون انفسکم

وصراخ صراخ الثکلی: دلته هم عامل ناصب دمفعول مطلق حذف دی په حذف وجوبی قیاسی سر قرینه په نفس حذف استعمال دمفرد دې قرینه په تعیین دمحذوف صیغه دمصدرده سره دنصب نه او سد مسد اقامت دمفعول مطلق دی په مقام دعامل باندې اوشرطونه ټول موجود دې اوصراخ صیغه د مصدر ده په وزن دفعال باندې ځکه فعل ماضی دثلاثی مجردونه چې راشی په وزن دفعل باندې نو مصدر یی راځي په وزن د فُعال باندې لکه بکاء.

سوال: مثال ذکر کولی شی لپاره دوضاحت دممثل اووضاحت دممثل په مثال واحدسره راځي نودوه مثالونه یې ولې ذکر کړل؟ **جواب:** تعدد دمثال بنادی په تعدد دممثل باندې (۱) نو اول مثال دنکرې دی او ثانی مثال د معرفی دی. (۲) یا اول مثال دهغې دی چې فعل دغیر ذوی العقول وی اودویم مثال د هغې دی چې فعل دذوی العقول دی. (۳) یا اول مثال د اسم مصدردی اوثانی مثال دمصدردی اوثکلی وېلی کیږي هغه ښځې ته چې مات ولدها (پښتوکی ورته بوره وایي).

ومنها ما وقع مضمون جملة لامحتمل لها غیره: اوبعض د هغه مواضعو نه چې حذف دناصب دمفعول مطلق پکې کولی شی په حذف وجوبی قیاسی سر **ماموضع** د هغه مفعول مطلق دی **وقع** چې واقع شویوی دا مفعول مطلق **مضمون جملة** مضمون اوخلاصه د جملې داسې جملة **لامحتمل لهاغیره** چې نشته احتمال د دې جملې لپاره غیرد مصدرنه، اومراد د مضمون نه مضمون التزامی د جملې دی چې **هغه** عبارت دی د حاصل اوخلاصی د جملې نه او مضمون اصطلاحی نه دی مراد کما مر، او بیا مصنف توصیف وکړو په لامحتمل لهاسره دی سره یې احتراز وکړو د هغه مفعول مطلق نه چې ذکردی په قاعده اتیه کی.

نحوله علی الف درهم اعترافا: په دې عبارت کې تراکیب ثلاثه دی: (۱) الف درهم مبتدأمؤخره اوله خبرمقدم اوعلی متعلق دی په له پورې (۲) الف درهم مبتدأمؤخره علی خبرمقدم اوله متعلق دی په علی پورې

(۳) الف درهم مبتدأمؤخره له خبرمقدم اوعلى حال واقع شوي دي د هغه ضمير نه چې په له کې دی
راجع دی مبتدأ ده، يعنې ثابت دی دفلانی لپاره الف درهم په حال کون د دې الف کې چې واجب
دی په ماباندې اواعترافا منصوب دی بنابرمفعول مطلق اوعامل يې حذف دی ای اعترفت اعترافا.
قرينه په نفس حذف باندې استعمال دمفرد دې اوقرينه په تعيين دمحذوف باندې صيغه دمصدر ده
سره دنصب نه اوسدمسد اقامت دمفعول مطلق دی په مقام دعامل باندې چې دا اعتراف مصدر دی
او مضمون د جملې دې اودانص دی اوصريح دی په لزوم کې
ويسمى تاكيدا لنفسه: او دا مسمى كولى شي په تاكيدلنفسه سره او دا ورته ځکه وايي چې مقصود پدی
ترکيب سره تکراردموکد دی په ذهن دسامع کې نه دفع دتوهم دغير (۲) يا د دې وجې نه چې په مابين د
مرکد او موکد کې عينيت اواتحاد کامل دی نه پکې تغيرذاتی شته اونه پکې تغيروصفی اواعتباري شته
ومنها ما وقع مضمون جملة لها محتمل غيره: بعض د هغه مواضعو نه چې ناصب دمفعول مطلق پکې حذف
کولی شي په حذف وجوبی قياسی سره موضع د هغه مفعول مطلق دی چې واقع شوی وی مضمون
التزامی اوخلاصه د جملې داسې جمله چې احتمال لری دغير د دې نه دلته هم دمضمون نه مراد
مضمون التزامی دی چې هغه عبارت دی دخلاصې اوحاصل د جملې نه نه مضمون اصطلاحی
نحو زيد قائم حقا: دلته حقا مفعول مطلق دی اوعامل يې حذف دی ای احقه حقاقرينه په نفس حذف
استعمال د مفرد دې الخ او دا حقا مضمون التزامی د جملې دی چې زيد قائم دی ځکه دا لازم دی د
زيد قائم سره خو دا داسې مضمون التزامی دی چې داجمله د دې نه غير دبل شی احتمال هم لری ځکه
دا جمله اسميه ده احتمال دصدق اوکذب دواړه لری، بيايوحق دی اويوصدق دی اويوباطل دی او بل
كذب دی حق په مقابله دباطل کې اوصدق په مقابله دکذب کې اوس دحق اوصدق اودباطل اوکذب
په مينځ کې فرق شته اوکنه، نوعندالجمهوردادواړه مرادفين دی چې مطابقت دنسبت کلامی دنفس
الامر سره راشي نوحق اوصدق ورته وائی وإلانوباطل اوکذب ورته وايي (۲) اوعندالبعض که مطابقت
دنسبت کلامی دنفس الامرسره راغلی وونوصدق او که نه وونوکذب او که مطابقت دنفس الامر د
نسبت کلامی سره راغلی وونوحق او که نه وونوباطل.
ويسمى تاكيدا لغيره: ځکه مقصوددې نه دفع دتوهم دغيرده ځکه هرکله چې په دې جمله کې احتمال د
صدق او کذب ، حق او باطل ټولو وو نو تصريح وکړه متکلم په حقا لپاره د دفع د احتمال د غير چې
باطل دی **ومنها ما وقع مثنى:** بعض د هغه مواضعو نه چې حذف دناصب دمفعول مطلق پکې كولی شی
په حذف وجوبی قياسی سره موضع د هغه مفعول مطلق دی چې واقع شوی وی دامفعول مطلق په
داسې حال کې چې دلالت کوی په تکثيرا وتکراراومبالغه باندې (۲) چې واقع شوی وی صورتا مثنی
اومراد ترينه تکراراومبالغه وی اومضاف وی فاعل يامفعول ته، داقيدمراد دې خومصنف ترک کړی
دی د وجی دشهرت نه لکه دارای د جامی صاحب ده يا د وجې داکتفاء بالمثال نه لکه دارای دشارح
هندی ده مثل لبيك وسعديك. ای الب لك البابين ولازيم ستاخدمت ته بيابيا وسعديک ای اسعدک

اسعادین اعانت کوم ستا د دین بیا بیا نو ناصب حذف شوي دی قرینه په نفس حذف استعمال د مفرد دی او قرینه په تعین د محذوف دا مصدر پخپله دی او سد مسد قیام د مصدر دی.

تشریح: سوال: دا مثال موافق نه شو دممثل سره ځکه **لبیك اوسعدیك** تثنیه ده دادلالت نه کوی په دوه باندې بلکه دلالت کوی په تکرار باندې.

جواب: مونږه وایو چې صورتا به تثنیه وي او مراد به تکثیر او تکرار او مبالغه وی نه دوه والی.

سوال: دا قاعده ستامنقوضه شوه په دې قول دالله (ج) باندې ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنقَلِبْ إِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا وَهُوَ حَسِيرٌ داکرتین مفعول مطلق من غیر لفظه دی مثنی صورتا دی او مرادتری تکرار دی او عامل یې نه دی حذف شوی؟ **جواب:** دلته بل قید مراد دې چې دا به مضاف وی فاعل یامفعول ته اودلته اضافت فاعل یا مفعول ته نه دی شوی.

سوال: داقید چې مراد دې نوذکرکړي یې ولې ندی؟ **جواب:** هندی صاحب وایي چې دایې ترك کړی دی د وجې د اکتفاء بالمثال نه اوشارح جامی وایي چې دا جواب کمزوری دی ځکه چې مثال ذکرکولی شی لپاره د وضاحت دممثل پس داتمام دممثل نه او که دلته مونږه اکتفاء بالمثال اوایو نولازمیږي ذکر د مثال مځکې دا تمام دممثل نه نو جامی صاحب وایي چې دایې ترك کړی دی د وجې دشهرت نه د هندی صاحب د طرفه اعتراض دی په جامی صاحب باندې چې تا چې ویلی دی په اسماء ستومکبره ؤ کی چې مصنف دادوه شرطونه ترك کړی دی د وجې داکتفاء بالمثال نه.

جواب: جامی صاحب وایي چې مثال چې ذکرکولی شی دهغې طریقی دوه دی (۱) چې دا مثال ته مضاف الیه واقع کړی دلفظ دمثل یانحولپاره (۲) چې بغیر د دې نه یې ذکر کړی، نوپه اول صورت کې مثال متم کرځول لپاره دقاعدی نه دی صحیح. اوپه دویم صورت کې متم لپاره د قاعدی جائزدی.

جواب: دطرفه دهندی نه دا دی چې دا مثال دلته هم په عنوان دمثل سره نه دی ذکرځکه چې دا به په عنوان دمثل سره هله وېی چې دامثل مرفوع وی لیکن دا مرفوع نه دی بلکه دامنصوب دی صفت د ماقبل دی نو داهم پشان دابوك اواخوك الخ شو.

سوال: **لبیك اوسعدیك** مصادرد مجردودی که دمزیدوکه دمجردونه یې وایي نووزن یې صحیح دی خو معنی یې نده صحیح ځکه مقصود دلته مبالغه ده اومجرد دمبالغی لپاره نه راځي او که دمزیدونه یې وایي نو معنی خو صحیح ده ځکه چې مزید دمبالغی لپاره راځي لیکن وزن یې ندي صحیح ځکه چې زوائد حروف پکې نشته؟ **جواب:** دا زه د مجردو نه وایم او که ته وایي چې معنی نه صحیح کیږي نو زه وایم چې داپه معنی دمزیدوسره دی (۲) یادمزیدونه دی اصل کې البابین اواسعادین ووباب افعال بیا د اضافت د وجې نه زوائدحذف شول، لبیك مفعول مطلق دی دالب اواسعادین مفعول مطلق د اسعد دي اوالب متعدی بواسطة اللام دی دلته حذف ایصال شوي دي اواسعدمتعدی بالذات دی.

المفعول به: هرکله چې فارغ شومصنف دنوع اولی دمفاعیلو نه چې مفعول مطلق وونوشروع یې وکړه په بیان دنوع ثانی دمفاعیلو کې چې مفعول به ده نووي ویل چې **المفعول به**

ترجمه: بعض دجنس منصوب نه يابعض دجنس ما اشتمل الخ نه هغه اسم منصوب دى چې مسمى كولى شي په اصطلاح د نحاتو كى په مفعول به سره اوس دا كوم اسم چې دوى مسمى كوى په مفعول به سره دا څه ته وايي

مفعول: دامفعول به په اصطلاح دنحويا نوكى ما اسم دى د هغه مسمى لپاره **وقع** چې متعلق شوى وى په مسمى د دې اسم پورې بالذات نه بالواسطه.

فعل الفاعل: فعل دفاعل داسې فعل چې معتبر دى اسناد د دې فعل اولافاعل ته اوبيا متعلق شوي دې په مسمى د دې اسم پورې اودا اسناد عام دى كه نفيا وى او كه اثباتا وى اوفاعل عام دى كه حقيقتا وى او كه حكما وى مثال لكه زيداشو **په ضربت زيدا** كې دازيدا مفعول به دى څكه دا اسم دى د هغه مسمى لپاره چې واقع شوي دي په دغه مسمى باندې فعل دفاعل چې ضرب دى اواسناد يې شوي دي اولا فاعل ته چې ضمير دى.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دى؟

جواب: ربط يې دا دى چې مخكې مصنف بيان دنوع اولى وكړواوس بيان دنوع ثانى دمفاعيلو كوى.

سوال: د دې عبارت تركيب څه دى؟ **جواب:** دامبتدأ ده اوخبريې حذف دى اى منه المفعول به يا المفعول به منه. **سوال:** داخبر يې ورله ولې نه دى ذكركړى؟

جواب: ترك كړى دى مقائسة څكه چې دمصنف طريقه دا ده چې دى كله ديوشي اقسام بيانوى نو داصل سره منه ذكر كوى اودانوروسره يې نه ذكركوى. (۲) يا دامبتدأ ده اوهوماوقع الخ ورله خبردى بياپه المفعول به كې الف لام په معنى دالذى سره دى اومفعول په معنى دفعل سر دى **اوبه** نائب فاعل دى اى الذى فعل به ليكن داپه اعتبار د مفهوم لغوى سره دى اواوس دا اوږدعبارت چې المفعول به دى دانقل شوي دي دمعنى لغوى نه اوعلم كرځيدلى دى ديونوع د اسم منصوب لپاره.

سوال: دا تعريف دمفعول به جامع نه شوځپلو افرادو لره خارج شود دې نه زيدا په ضربت زيدا كې څكه دانعل د فاعل چې ضرب دى داندى واقع په لفظ دزيدباندې بلكه په مسمى باندې واقع دى اومفعول به خو دى لفظ ته وايي نه مسمى ته، اودارنګې دا تعريف مانع نه شوددخول دغيرنه داخل شوېكى مسمى او مدلول دزيدڅكه دامفعول به عندالنحاة نه دى اوتعريف وربانډې صادق شو.

جواب: دا عبارت په حذف دمضاف سره دى اى المفعول به اسم ماوقع الخ نوتعريف جامع اومانع شو.

سوال: هر كله چې دمانه مخكې اسم مراد د دې په دې تعريف كې نو دايي ولې نه دى ذكركړى؟

جواب: دا يې ترك كړى دى اكتفاء بماسبق، يعنې په تعريف دمفعول مطلق كې يې ذكركړى وونو دلته يې ذكرنه كړو.

سوال: دا تعريف جامع نه شوځپلو افرادو لره خارج شود دې نه إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ څكه دلته عبارت زموږنه دى واقع شوى په مسمى داياك باندې چې الله دى.

جواب: دا اعتراض به هله راتلوچې وقع په خپله معنی وی لیکن وقع په په معنی دتعلق سره دی
سوال: وقع چې په معنی دتعلق سره شونو دا تعریف جامع شو خپلو افرادو لره لیکن مانع نه شو ددخول د غیر نه داخل شو پکې مررت بزید دلته تعلق دفعل راغلی دی چې مرور دی دزیدسره حالانکه دیته مفعول به نه وایي بلکه جار مجرورورته وایي.
جواب: مونږه وایو چې دافعل دفاعل به متعلق شوی وی په مسمی د دې اسم پورې بالذات نه بالواسطه او دلته بالواسطه دی نه بالذات.
سوال: دا تعریف دمفعول به مانع نه شو ددخول دغیرنه داخل شو پکې نائب فاعل لکه زید په ضرب زید کی شو دلته زید اسم دی دیومسمی لپاره چې فعل دفاعل واقع شوي دي په هغه باندې اودیته خو مفعول به نه وایي؟ **جواب:** مفعول به دنحویانو په اصطلاح کې هغه اسم ته وایي چې دافعل دفاعل واقع شوی وی په مسمی د دې اسم باندې پس داسناددې فعل نه فاعل ته لکه زیدا شو په ضربت زیدا کی نو نائب فاعل ترې خارج شو ځکه دلته اګر چې فعل دفاعل واقع شوي دي په زیدباندې لیکن اسناد یې اولانه دی شوي فاعل ته.
سوال: په دې قید سره نائب فاعل خوخارج شولیکن دا تعریف جامع نه شوخپلو افرادو لره خارج شود دې نه مفعول ثانی دباب داعطیت په اعطی زید درهما کې ځکه چې دلته د دې فعل اسناد اولا فاعل ته نه دی شوی؟ **جواب:** فاعل عام دی که حقیقتا وی او که حکماوی حقیقتا خوظاهر دی اوحکما لکه نائب فاعل شو نو دلته اسناد شوي دي فاعل حکمی ته اودی سره یوبل اعتراض هم دفع شو چې فرض منصبی د مصنف اختصار دی نوپکاروه چې ماوقع علیه الفعل یې ویلی وی نو اضافت دفعل یې الفاعل ته ولې وکړو؟ **جواب:** په دې کې اشاره ده دیته چې اول به اسناددفعل فاعل ته شوی وی کما ذکرنا.
سوال: دا تعریف جامع نه شو افرادو خپلو لره خارج شو ترې زیدا په ما ضربت زیدا کی دلته فعل دفاعل نه دی واقع شوی په زیدباندې
جواب: دانسبت دفعل دی فاعل ته عام دی که ثبوتی وی او که سلبی وی نحوضربت زیدا، مثال دمفعول به لکه زیدا شو په ضربت زیدا کی دامفعول به ده ځکه چې تعریف دمفعول به وریاندې صادق دی
سوال: ته وایي چې مثال دمفعول به لکه ضربت زیدا شو داخبره ستاغلطه ده ځکه چې ضربت زیدا خو مفعول به نده بلکه دا خوجمله ده کلام دی مرکب تام دی.
جواب: دا اعتراض به تاهله کولو چې دلته عبارت د مصنف بناوی په حقیقت باندې لیکن دا عبارت په حقیقت نه دی بنابلکه دا بنا دی په مجازباندې، ذکردکل اومرادترینه جزء دی.
وقد یقدم علی الفعل: هرکله فارغ شو دتعریف دمفعول به نه نوشروع یې وکړه په بیان داحکامو کی او یو حکم داحکامود مفعول به نه تقدیم دمفعول به دی اودامفعول به په اعتبار دتقدیم سره په دوه قسمه ده (۱) یوتقدیم دمفعول به دی په فعل باندې (۲) دویم تقدیم دمفعول به دی په فاعل باندې نو دامفعول

يه په اعتبار دتقديم سره په فاعل باندې درې قسمه ده: (۱) جائز التقديم (۲) واجب التقديم (۳) ممتنع التقديم. په ځلورو ځايونو کې تقديم دمفعول به واجب دی او په ځلورو کی ممتنع دی اود دې نه علاوه جائزدی خو هغه دلته نه بيانوی ځکه چې دهغې بيان په بحث دفاعل کې تيرشوي دي.

(۲) دويم حکم دتقديم دمفعول به دی په فعل باندې دلته دهغې بيان کوی، نوکله کله مقدم کيږي مفعول به هغه فعل باندې چې هغه ناصب دمفعول به وی اوناصب عام دی که فعل وی او که شبه فعل وی اوفعل ذکرشوي دي دوجه داصالت نه (۲) کله کله مقدم کيږي مفعول به په فعل باندې وغيره چې په فعل دی جوازاکه مقتضی دصدارت نه وولکه زيدا ضربت شو ځکه دافعل قوی دی په عمل کې عمل کوی په معمول مؤخر کې اومقدم دواړو کې يامقدم کولی شی وجوبا که مقتضی دصدارت وو لکه من ضربت په وخت دعدم وجود د مانع کی.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی اوغرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې تعريف دامفعول به وواوس يې احکام بيانوی اوغرض: (۱) د دې عبارت نه بيان داحکامو دمفعول به دی لکه دامعلوم شودربط نه. (۲) اودويم غرض دمصنف د دې عبارت نه دفع دتوهم ده ځکه تقديم دفاعل په فعل باندې ممتنع وو ومتوهم توهم وکړو چې تقديم د مفعول به به هم ممتنع وی په فعل باندې د وجې داشتراک د دې دواړو نه په کون د هر واحد کې موقوف عليه دفعل متعدی لپاره په دې شان سره چې څنګه فعل متعدی نه موجوديږی په خارج کې بې دفاعل نه دارنګې بې دمفعول به نه هم نه موجوديږی نوهلته خو تقديم دفاعل ممتنع وونو دلته به هم تقديم د مفعول به ممتنع وی نو مصنف داوهم دفع وکړوچې دلته تقديم دمفعول به راځي په فعل باندې ځکه هلته التباس د جملې فعليی راتلو د اسميی سره اودلته التباس نه راځي اوفعل قوی دی په مقدم کې هم عمل کولی شی اوپه قدکی يې اشاره وکړه تقليل ته يعنې غالبا دامفعول به وروسته ذکرکولی شی د فعل نه اوتقديم يې قليل دی ځکه دامعمول دی اوفعل عامل دی اواولی دا ده چې عامل مقدم وی په معمول باندې.

سوال: ته وايې چې دامفعول به مقدم کيږي په فعل نو دا خوپه شبه فعل باندې هم مقدم کيږي هغه دی ولې ذکر نه کړو؟ جواب: دا اعتراض به هلة راتلوچې دا عبارت دمصنف بناوی په حقيقت باندې ليکن په دې کې مجازدی ذکر دخاص دی چې فعل دی اومرادترينه عام دی چې عامل ناصب دی.

سوال: حقيقت اصل دی اومجازخلاف الاصل دی اوعدول چې داصل نه خلاف الاصل ته کيږي نوهلته لابدی وی ديونکتی نه دلته نکته څه ده؟ جواب: دی کې اشاره ده اصالت دفعل ته: (۲) او که اومنم چې عبارت بنادی په حقيقت نو بياپه حذف دمعطوف سره دی ای وقديتقدم علی الفعل وغيره، چې هغه شبه فعل دی اوحذف دمعطوف سره دواوعاطفه نه جائزدی په کلام عرب کې په طريقه دکثرت سره لکه راغلی دی په دې قول دالله (ج) کې بِيَدِكَ الْخَيْرُ اى والشر دارنګې سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ اى والبرد

والعاصين، اوداتقديم دمفعول به په فعل باندې راځي جوازا كه مقتضى دصدارت نه وونحوزيداضربت اووجوبا كه مقتضى دصدرات وولكه من ضربت يامن ضرب هؤلاء، په دې کې دوه ترکيبونه دی (١) من مبتدأضرب فعل فاعل هؤلاء مفعول به بيامثال نه جوړيږی (٢) من مفعول به مقدم اوضرب هؤلاء فعل فاعل دی نو داتقديم دمفعول به واجب دی.

سوال: ته وايې چې مفعول به مقدم کيږي په فعل باندې نو دا قاعده ستامنقوضه شوه په من البران تكف لسانك باندې دلته تقديم دمفعول به ممتنع دی دارنګې دا قاعده ستا منقوضه شوه په عَلِمَ أن لَنْ تُحْصُوْه باندې دارنګې په عرفت انك قائم باندې دلته هم تقديم دمفعول به نه دی جائز

جواب: سکاری ته لاړشه، مونږه وايوچې داتقديم جائزدی ياواجب دی خوپه وخت دعدم وجوددمانع کې او دلته مانع موجود دې پس زده کړه داخبره چې دی ماسبق تحقيق نه معلومه شوه چې مفعول به په اعتبار د تقديم سره په فعل باندې درې قسمه دی (١) واجب التقديم (٢) جائزالتقديم (٣) ممتنع التقديم نو تقديم دمفعول به په فعل باندې ممتنع دی په پنځه ځايونوکی (١) چې ان سره دمابعد نه مفعول به واقع شی ديو فعل مثال لكه عرفت انك قائم، ځکه ان په مينځ کې راځي نه په ابتدا ء کې ځکه كه ابتداء کې راشی نوالتباس يې راځي دان سره (٢) چې فعل مصدروی په موصول حرفی باندې لكه من البران تكف لسانك (٣) په هغه فعل چې منصوب وی په لن سره بالاتفاق اوپه اذن سره عند الجمهورخلاف للكسائی لكه لن يضرب زيدعمرا، اذن اكرم المجتهدنوعندالجمهوراذن المجتهد اكرم ممتنع دی اوعندالکسائی جائزدی (۴) چې فعل مجزوم ګرځيدلی وی په عامل جازم سره لكه لم يضرب زيداشو (۵) چې ناصب دمفعول به تعجب وولكه ما احسن زيدا، اودرې ځايونوکی واجب دی (١) چې مفعول به ضمير منفصل وی نحوقوله تعالی إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (٢) چې مفعول به فاصل واقع شوی وی په مابين داما اوجواب داماکی لفظا ياتقديرامثال دلفظالكه فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ او تقديرا لكه وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ای واماربك فكبر (٣) چې متضمن وی ماله صدرالكلام لره نحومن ضربت، من تضرب اضرب، اود دې مواضع ثمانيونه علاوه په نوروځايونوکی تقديم دمفعول به جائزدی په عامل خپل باندې دريم حكم داحكامودمفعول به نه حذف دمفعول به دی اوحذف دمفعول به هم په درې قسمه دی (١) جائز (٢) واجب (٣) ممتنع نوحذف دمفعول به واجب ده په استعمال دكلام د عربو کې په حذف وجوبی قياسی سره مفعول به د شاء يشاء په دې شرط سره چې داتعلق دفعل وريورې غريب نه وو او واقع شوی وو په جانب دشرط کې نحوقوله تعالی وَلَوْ شَآءَ لَهَدَٰكُمْ أَجْمَعِينَ ای ولوشاء الله هدايتكم لهداكم، اوداځکه چې وروسته د جواب نه معلوميږي نوکه ذکريې کړونولغويت لازميږي او كه تعلق دفعل مشيت غريب ووپدې پورې نو بيابې نشي حذف كولی كمافي قول الشاعر، شعر:

فلوشئت ان ابكی دمالبكيته ... عليه ولكن ساحة الصبر اوسع

(٢) په باب د تنازع کې چې تنازع د عاملينو راغلی وه په مفعول به کې او ته عمل ورکړی فعل ثاني لره عند البصريين نو مفعول به د فعل اول به حذف کوی په دې شرط چې دا فعل دافعال قلوب نه نه وو. او په دوه خايونوکی ممتنع دی: (١) چې په جواب د سوال کې راشي لکه ته ووايې چې من ضربت نو زه به ضربت زيدا، ياصرف زيدا وايم او حذف د زيد نه دی صحيح (٢) چې محصور عليه واقع شي نو حذف يې جائز نه دی نحو ماضربت الازيدا ځکه چې په حصر کې نقصان راځي، او د دې نه علاوه په نورو خايونوکی حذف د مفعول به جائز دی.

وقد يحذف الفعل لقيام قرينة: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د بعض احکامو د مفعول به نه چې هغه تقديم د مفعول به وو په عامل خپل باندې نو شروع يې وکړه په بيان د حکم اخرکی چې حذف د عامل ناصب د مفعول به دی په وخت د وجود د قرينه داله کې په تعيين د محذوف باندې، جوازا يا وجوبا نو وي يل چې کله کله حذف کولی شی عامل ناصب د مفعول به **جوازا** په حذف جائزه سره د وجې د وجود د قرينې دالی نه په تعين د محذوف باندې قرينه عامه ده که لفظي وی که معنوی وی که حالی وی که مقالی وی، مثال لکه زيدا شو په جواب د هغه چاکی چې هغه ووائي من اضرب ای اضرب زيدا نو دلته قرينه موجود ده په حذف د فعل باندې چې سوال د سائل دی ځکه چې مذکور في السوال کالمعاد في الجواب وی، بل مثال نحو قوله تعالی قَالُوا خَيْرًا دلته خيرا مفعول به د فعل محذوف دی ای انزل ربنا خيرا، د وجې د قرينې دالی نه چې سوال د سائل دی چې ما انزل ربکم او مثال د قرينې معنوی لکه ته مکة ووائي هغه چاته چې هغه متوجه وی مکی ته ای اتريد مکة.

تشريح: سوال: د دې عبارت ربط د ماقبل سره څه دی او غرض د مصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې مصنف يو حکم بيان کړو اوس بل حکم بيانوی او په دی سره غرض هم معلوم شو چې بيان د بل حکم د مفعول به دی، او بيا مصنف وقد يحذف وويل په دې سره يې اشاره وکړه ديته چې ناصب د مفعول به غالبا مذکوروی ځکه اصل په کلام کې ذکر دی خو کله کله حذف کيږي

سوال: ته وايې چې وقد يحذف الفعل نو دا خو خروج عن البحث لازم شو؟

جواب: دلته په الفعل کې الف لام عهدی دی مراد فعل ناصب د مفعول به دی. (نه مطلق فعل) نو دا بحث دی د متعلق د مفعول به نه او بحث د متعلق د شي نه بحث وی د عين شي نه

سوال: لکه څنګه چې فعل حذف کولی شی نو دارنګې شبه فعل هم حذف کولی شی نو مصنف صرف فعل ولې ذکر کړو؟ **جواب:** دا اعتراض به هله راتلو چې دا عبارت بناوی په حقيقت باندې ليکن دا عبارت بنا دی په مجاز باندې ذکر د خاص دی چې فعل دی او مراد تری عام دی چې ناصب دی.

سوال: اصل په کلام کې حقيقت دی او مجاز خلاف الاصل دی نو وقد يحذف الناصب يې ولې ونه ويل؟

جواب: مجاز کی يې اشاره وکړه اصالت د فعل ته (٢) ياعبارت بنادی په حقيقت باندې خودا عبارت په حذف د معطوف سره دی چې وقد يحذف الفعل وغيره. (٣) ياوقد يحذف الفعل وشبهه اوداجائز دی کما مر

لقيام قرينة: مراد قرينه داله ده په تعيين دمحذوف باندې نه نفس قرينه، اوجواز احذف کيږي د وجې دعدم وجود د سدمسد نه **كقولك زيدالمن قال من اضرب** اى اضرب زيدا بل مثال لکه خيرا شو په قالوا خيرا کی دامنصوب دی ځکه مفعول به دی د فعل محذوف لپاره چې هغه حذف شوي دي جوازا د وجې د وجود دقرينې دالی نه په تعيين دمحذوف باندې چې ما انزل ربکم دی اوس هرکله چې خيرا مفعول به شو د فعل محذوف نو دا جمله فعليه مقوله د قالوا شوه نو دی سره آعتراض دفعه شوچې مقوله د قول جمله وی اودلته مفرد دې او که ته وايې چې مراد اللفظ دی نو بيا مرفوع ويل پکار وو اودا خو منصوب دی، اومثال د هغه مفعول به چې عامل يې حذف شوی وی د وجې دوجود دقرينې معنوی نه لکه ته مكة ووائې هغه چا ته چې مکې ته روان وی ای اتريد مكة. **ووجوبا**: داعطف دی په جوازا باندې يعني حذف کولی شی ناصب دمفعول به په حذف وجوبی سر په وخت دوجود دقرينې دالی کې په تعيين د محذوف او سدمسد کی **فی اربعة مواضع** په مواضع اربعه کې اودا منحصر ندی په دې مواضع اربعه کې بلکه د دې نه علاوه په نورو ځايونو کی هم حذف کولی شی خودامذکوردی د وجې دشهرت نه، په دې سره دفع داعتراض وشوه، اعتراض دا دی چې داحصرفی اربعة مواضع نه دی صحيح ځکه دا خود دې نه علاوه په نوروځايونو کی هم حذف کيږي. (١) چې متکلم عدول وکړی دنعت مجروره نه په نصب سره لکه ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ يا اعنی رب العلمين. (٢) په اغراء کې کمافی قول الشاعر شعر:

اخاك اخاك فان من لا اخ له كساع الى الهيجاء بغير سلاح

نو دلته اخاك منصوب دی بنا مفعول به ای الزم اخاك يا انصر اخاك. (٣) په اختصاص کې نحو قوله عليه السلام (نحن معاشر الانبياء لانورث دينارا ولادرهما) ای نحن نخص معاشر الانبياء

جواب: داحصر پدی څلوروکی نشته خودامصنف ذکرکړی دی د وجې دشهرت نه اودغه مواضع ثلاثه قليل دی. موضع اول دمواضعو نه چې حذف دعامل دمفعول به پکې کولی شی په حذف وجوبی سره سماعی دامسموع دی عربونه اود دې لپاره يوه قاعده نشته چې نوروباندې قياس کړو، دحذف وجوبی معنی دا ده چې دامفعول به دعامل سره مستعمل نه دی ليدلی شوی اودسماعی دامعنی چې قاعده ورله نشته لکه **امراء** ونفسه شو ای اترك امراء ونفسه

سوال: دانفسه به خالي نوی يا به يې تاکيدمعنوی وائی او يا به يې عطف وائی په امراء باندې که تاکيدوائی نولازم شو فصل بين المؤکدوالتاکيداوداندی صحيح او که عطف يې وائی نولازم شو عطف د شی په خپل نفس باندې **جواب**: دا تاکيد دی او فصل په مؤکد او مؤکد کې په حرف سره جائزدی کمافی قوله تعالی﴿كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ﴾ ﴿ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ﴾ يا داعطف دی په امراء باندې او که ته وائی چې عطف تقاضه دمغائرت کوی نوزه وايم چې نفس دلته بمعنی المال دی ځکه مال ذريعه ده لپاره دحفاظت دنفس. خادميه، بل أستاذی جواب دی چې عطف تقاضه دمطلق مغائرت کوی برابره خبره ده که مفهوما وی او که مصداقا وی دلته اگر چې مصداقا نشته خومفهوما شته اودا کافی دی

لپاره دصحت دعطف، بل مثال د هغه مفعول به چې عامل يې حذف وی وجوبا سماعا لكه خيراشو په ﴿انتهوا خيرا لكم﴾ كې دامفعول به دی اوعامل يې حذف دی چې واقصدواخيرالكم، يعني منع شی دي قول نه چې ﴿ان الله ثالث ثلاثة﴾ اوقصد د خير وكړی د ځان لپاره چې توحيد دي

سوال: نه وايي چې په خيرالكم كې خيرامفعول به دی اوفعل يې حذف دی دمثال نه دی صحيح ځكه دلته خوناصب ذكردی چې وانتهوادی.

جواب: دا خيرا لكم منصوب دی اوناصب يې حذف دی اودافعل مذكورد دې عامل نه دی ځكه كه دا مفعول به دفعل مذكورشی نولازميږي فساددمعنی ځكه معنی به داشی چې تاسومنع شی دخپل خير نه او دا نه ده صحيح. (۲) يا دا خيرا مفعول مطلق د دې فعل مذكوردی په اعتباردموصوف محذوف سره ای وانتهوا عن التثليث انتهاء خيرالكم. (۳) خيرامنصوب دی بنابرخبريت دكان محذوف ای وانتهوا عن التثليث ليكن الانتهاء خيرالكم بل مثال دعامل دمفعول به چې حذف وی وجوبا سماعا لكه **اهلا وسهلا** تقديريې دا دې چې اتيت اهلا ای الاقارب لاالاجانب ووطيت سهلا.

سوال: اهلا مصدردی بمعنی عمارت كردن نو داګرخول مفعول به دفعل محذوف نه صحيح كيږي ځكه اتيان فعل حسی دی تقاضه دمفعول به حسی كوی او اهلا امرمعنوی دی بمعنی عمارت كردن.

جواب: اهلا دلته مصدرندی بلكه دابمعنی اقارب دی چې مقابل داجانب دی اواقارب حسی دی او كه مصدر شی نومصدرمبنی للمفعول دی اوموصوف يې حذف دی ای اتيت مكانامأهولا.

والثاني المنادى: هركله چې فارغ شو دبيان دموضع دحذف وجوبی سماعی دناصب دمفعول به نه نوشروع يې وكړه په بيان دمواضع دحذف وجوبی قياسی دناصب دمفعول به كې نوويې ويل چې الثانی المنادی.

ترجمه: موضع ثانی د هغه مواضع اربعه ؤ نه چې واجب دی پكې حذف دناصب دمفعول به په حذف وجوبی قياسی سره سره **المنادى** موضع د هغه مفعول به دی چې مسمی كولی شی په اصطلاح د نحاتو كی په منادی سره منادی صيغه د اسم مفعول ده په لغت كې اواز كرده شده راګويند (۱) **وهو** اودامنادی په اصطلاح د نحاتو كې **المطلوب اقباله** هغه اسم ته وايي چې طلب كړی شو ی وی توجه دمسمی دد ی اسم داتوجه عامه ده كه بوجهه وی كه بقلبه او كه بعلمه وی، اوداتوجه بوجهه عامه ده كه حقيقةً وی او كه حكما وی. (۲) **وهو** دامنادی په اصطلاح د نحاتو كی اسم ته وائی داسې اسم چې طلب كړی شوي دي اجابت د مسمی د دې اسم دا اجابت مسمی د اسم عام دی كه حقيقتاوی او كه حكما وی. **بحرف** په يو حرف سره داسې حرف **نائب** چې قائم شوی وی **مناب ادعوا** په ځای دادعوانشائی سره:

لفظا اوتقديرا: د دې څلورترجمې دی: (۱) داتفصيل دالمطلوب دی، يعنې طلب كړی شوي دي داجابت د مسمی د دې طلبا لفظيا التة اوتقديريا التة. (۲) يا دامنصوب دی بنابرمفعول مطلق دنائب نه نو معنی دا چې په يوحرف سره چې نائب وی مناب ادعوانيابة لفظيا التة اوتقديرا التة. (۳) يامنصوب دی بنابرحاليت دضمير مجرور داقباله نه يعنې په حال كون د دې منادی كې چې ملفوظ وی لكه

یازید کی یامقدروی لکه ﴿أَسْجُدُوا﴾ (۴) یا داحال دی دبحرف نه یعنې په حال کون د دې حرف کې چې مذکوروی لکه یازید کی یامقدروی لکه یُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا ار. عامل دمنادی کې مذاهب ثلاثه دی اومختارعندالمصنف مذهب دسیبویه دی نوذکریې کړه منادی دمواضع دحذف دناصب دمفعول به نه په حذف وجوبی قیاسی کې

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی اوغرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دا دی چې مخکې مصنف مواضع دحذف وجوبی سماعی دناصب دمفعول به بیان کړل او اوس مواضع دحذف وجوبی قیاسی بیانوی اودی سره غرض هم معلوم شوچی بیان دمواضعودحذف وجوبی قیاسی دعامل ناصب دمفعول به دی

سوال: دلته الثانی صفت دی تقاضه دموصوف کوی اوموصوف مقدرد دې لپاره چې الموضع دی نو حمل دالمنادی وریاندې نه دی صحیح ځکه حمل دغیر موضع راغی په موضع باندې

جواب: المنادی خبردی په اعتبار دحذف دمضاف سره ای الموضع الثانی موضع المنادی.

سوال: منادی په لغت کې څه ته وائی اوپه اصطلاح کې څه ته وائی؟

جواب: منادی صیغه د اسم مفعول ده په لغت کې اوازکرده شده ته وائی، اوپه اصطلاح کې تعریف یې مذکور فی الکتاب دی.

سوال: دا تعریف دمنادی مانع نه شو ددخول دغیر نه داخل شو پکې مدلول دزیدپه یازید کی ځکه ته وائی چې منادی هغه شي ته وایي چې طلب کړی شوی وی توجه د هغه شئ نو دلته خو مقصودتوجه د مدلول دزیدده اوهغې ته منادی نه وایي اودا تعریف جامع نه شو افرادو خپلولره خارج شو ترې لفظ زید ځکه دامطلوب اقباله ندی

جواب: دا عبارت په حذف موصوف سره دی ای هوالاسم المطلوب دایو اسم دی داسې اسم چې طلب کړی شوي دي توجه دمسمی د دې اسم

سوال: المطلوب چې صفت د اسم شو نواقباله کې ضمیرورته نه راجع کیږي یعني اضافت داقبال دی ضمیر ته نه دی صحیح ځکه اقبال خود اسم نه کیږي

جواب: عبارت په حذف دمضاف سره دی ای هوالاسم المطلوب اقبال مسماه.

سوال: دا تعریف دمنادی جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو ترې منادی مقبله ځکه ته وایي چې هو المطلوب اقباله نواقبال خوهله کولی شی چې د هغه مخ اخواته وی اودلته خودمخکې نه اقبال او توجه شته؟ **جواب:** مراد د اقبال نه توجه دمسمی ده نو دا تعریف صادق شو په منادی مقبله اومدبره دواړو باندې او دا توجه عامه ده که بوجهه وی او که بقلبه وی

سوال: دا تعریف جامع نه شوخپلو افرادو لره خارج شوترې یا الله ځکه چې دالله توجه خویل مخکې نه شته خویل طرفته نده؟ **جواب:** داتوجه عامه ده که بقلبه وی او که بعلمه وی.

سوال: خارج شو د دې نه یا ارض او یاسماء ځکه چې دلته توجه نه بوجهه شته نه بقلبه او نه بعلمه
جواب: دا توجه عامه ده که حقیقتا وی او که حکماوی دلته اګر چې حقیقتا نشته لیکن حکما شته (۲) یامنادی دیته وایي چې مقصودوی اجابت دمسمی دهغې نومنادی مدبره مقبله او یا الله وغیره ټول پکې داخل شو.
سوال: یاسماء او یا ارض خوترې خارج شول؟
جواب: دا اجابت عام دی که حقیقتا وی او که حکماوی ځکه دا اول نازل کړی شی منزلی د هغه چا ته چې صالح دنداء وی اوبیا دهغې بعدوربانديې حرف نداء داخليږي لپاره دقصد دنداء.
سوال: هر کله چې اجابت عام دی که حقیقي وی او که حکمی وی په دې تاویل سره چې څنګه یاسماء او یاارض داخليږي په تعریف دمنادی کې نومندوب هم داخليږي نولهذا په دې تعریف سره یاسماء او یا ارض داخلول اومندوب نه داخلول ترجیح بلامرجح ده اوتحکم دی اوسره د دې نه چې صاحب دمفصل اوسیبویه داخل کړی دی مندوب په منادی کې. **جواب:** صحت دتاویل نه کافی کیږي لپاره داندارج د یوشی په بل شی کې بلکه د دې لپاره لابدی ده د دوه شرطونو نه: (۱) صحت دتاویل (۲) قلت داستعمال نو دادواړه په یاسماء او یا ارض کې موجودوو او په مندوب کې اګر چې صحت دتاویل شته خو قلت استعمال نشته بلکه داکثیرالاستعمال دی نو د کثرت استعمال د وجې نه اود وجې دامتیازد دې نه په بعض احکاموکې دمنادی نه داخل نه کړی شو په منادی کې.
سوال: دا مناب ادعو ولې منصوب دی؟
جواب: دامنصوب دی بنابرمفعول فیه دنائب لپاره په تقدیردفی سره.
سوال: مفعول فیه خومنصوب بتقدیرفی راځي په دې شرط سره چې مکان مبهم وی اومکان مبهم خو جهات سته دی اومناب ادعو خودجهات ستونه نه دی نوځنګه منصوب شو په تقدیردفی سره.
جواب: دامناب ادعواګر چې دجهات ستو نه نه دی لیکن داجارمجری دمکان دی ځکه د دې مناسبت دی دمکان سره. (۱) د دواړو په اول کې میم دی. (۲) په دواړو کې معنی داستقلال موجودده اومکان خو منصوب راځي بتقدیر فی ځکه هغه محمول دی په جهات ستوباندې نو داهم منصوب بتقدیر فی راغی حملا علی المکان.
سوال: دا لفظا اوتقدیرا ولې منصوب دی؟
جواب: دامنصوب دی بنابر مفعول مطلق دالمطلوب لپاره.
سوال: مفعول مطلق خومصدر دفعل مذکوروی اودا خومصدر دفعل مذکورندی؟
جواب: دامفعول مطلق دی په اعتبار دموصوف محذوف سره چې طلبا دی بیا هغه حذف شوي دي او دا قائم شوي دي په مقام دهغې باندې نومجازا ورته مفعول مطلق وایي.
سوال: بیا حمل نه صحیح کیږي ځکه دا طلب خو لفظ یا تقدیر ندی.

طلبا لفظيا وطلبا تقديريا

جواب: دا حمل د دې په لحوق دياء سره اى طلبا لفظيا وطلبا تقديريا

سوال: توصيف د دې طلب په لفظي ياتقديري سره هم نه دى صحيح ځکه چې طلب خولفظي ياتقديري

نوى؟ **جواب:** داصفت بحال متعلقه دى اى طلبا لفظيا التنه وطلبا تقديريا التنه مثال داول لکه يازيد

مثال دثاني لکه ﴿ يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا ﴾ (٢) يا دامفعول مطلق دنائب دى

سوال: دا خومصدر دهغې ندى؟ **جواب:** داهم په اعتبار دموصوف محذوف سره دى چې نيابة د ى

سوال: د دې حمل هم نه دى صحيح **جواب:** دامحمول دى په لحوق دياء نسبتيه سره اى نيابة لفظية وتقديرية

سوال: نيابة خوامر معنوى دى لفظي اوتقديري پکښې نشته

جواب: دا هم صفت بحال متعلقه دى اى لفظية التنه وتقديرية التنه (٣) يا حال دى دضمير داقبال نه

سوال: حال خو دفاعل يادمفعول نه وى او د ضمير خو مضاف اليه دى نه فاعل دى اونه مفعول

جواب: حال دمضاف اليه نه هم واقع کيږي چې دامضاف اليه قائم کيدو په ځاى دهغې اومعنى کې

نقصان نه راتلونودهغې نه حال واقع کيږي او دلته هم دغسى دى

سوال: حال محمول وى په ذوالحال باندې او دلته حمل نه دى صحيح ځکه منادى خو لفظ ياتقدير ندى

جواب: دا مصدر مبنى للمفعول دى يعنې په حال کون د دې منادى کې چې ملفوظه وى يامقدره وى

(۴) يا دامنصوب دى برحاليت **دبحرف** نه ځکه حال دمفعول به غيرصريحى نه هم واقع کيږي نومعنى دا

ده چې په حال کون د دې حرف کې چې ملفوظ وى يامقدروى

سوال: ذکرکول دمنادى د هغه مواضع دحذف دناصب دمفعول به نه په حذف وجوبى قياسى سره نه دى

صحيح ځکه په ياعبدالله کې خوعامل شته دى چې يادى

جواب: په دې کې مذاهب ثلاثه دى: (١) مبردوايى عامل پکې داحرف نداء دى د وجې دنيابت نه پشان د

نيابت دمفعول مطلق دفعل نه په عمل کې لان کل شئ وقع فى محل غيره فله حکم الغير

(٢) او ابوعلى وايي چې عامل په منادى کې دا ياء دى ځکه دا اسم فعل دى په معنى دادعوا ضمير

مستتره يې فاعل دى اودايى مفعول به دى. (٣) اوسيبويه وايي چې عامل د دې فعل محذوف دى په

حذف وجوبى قياسى سره. (١) يوخود وجې د کثرت استعمال نه. (٢) داحرف نداء پرې دلالت کوى (٣)

که ذکر شى نوجمع راځي بين النائب والمنوب، اوعندالمصنف مختارمذهب دسيبويه دى ونوځکه يې د

پدى مواضع کې شمير کړل. يازيد جمله ده او مرکب تام دى په نيزددرى واړو باندې ليکن دسيبويه په

نيز باندې جزئين د جملې دواړه محذوف دى اودمبردپه نيز باندې حرف نداء يوجزد جملې دى داقائم

دى په مقام دفعل باندې او بل جزيى فاعل حذف دى، اودابوعلى په نيز باندې جزئين د کلام مذکور

دى، په هرتعريف کې لابدى وى دجنس اوفصل نه نو **هو**عبارت دى د اسم نه داجنس دى **او المطلوب اقباله**

سره احتراز وکړو دا دعوا زيدا نه ځکه دلته مطلوب په فعل سره دى نه په حرف سره اونائب سره يې

احتراز وکړودليقبل زيد نه ځکه دا اګر چې بحرف دى خونائب نه دى اودا لفظا اوتقديرا قيدمدخله دى

دا ځکه وايي چې اعتراض راتلو چې خارج شو د دې نه **يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا**

جواب: ده وکړو چې داحرف نائب عام دی که لفظا وی او که تقدیراوی.

ویبنی علی مایرفع به: هر کله چې فارغ شو دبیان دتعریف دمنادی نه نوشروع یې وکړه په بیان دحکم دمنادی کې اوهرکله چې منادی په اعتبار داعراب اوبنا سره څلورقسمه وه.

(۱) مبنی علی ما یرفع. (۲) مبنی علی الفتحة. (۳) معرب مجرور. (۴) معرب منصوب. اودامنادی معرب منصوب کثیره وه باعتبار الانواع اودانورد دې واړه قسمونه قلیل وونومقدم کړل مصنف دغه انواع ثلاثه ځکه قلیل بمنزلة المفرد وی اوکثیر بمنزلة المرکب وی اومفردمقدم وی په مرکب باندې.

(۲) او یایی داقلیل مقدم کړه لپاره دبیان دمنادی معرب منصوب بطریق الاختصارچی وینصب ماسواهما ویبنی الخ

ترجمه: مبنی کولی شی منادی پس ددخول دحرف نداء نه **علی ما** په هغه حرکت اوحرف علة باندې یرفع چې مرفوع کولی شی دامنادی به په دغه حرکة اوحرف علة سره مخکې ددخول دحرف نداء نه په دې شان سره چې که چرته وه دارفع دمنادی مخکې ددخول دحرف نداء نه په ضمی سره نو دا به مبنی علی الضمة وی، او که رفع یې مخکې په الف سره وه نو دا به مبنی علی الالف وی او که رفع یې مخکې په واو سره وه علی الواوبه وی. (۲) مبنی کولی شی دامنادی په هغه حرکت اوحرف علت چې مرفوع کولی شی اسم په دغه حرکت اوحرف علت سره. (۳) مبنی کولی شی دامنادی په هغه حرکت اوحرف علت باندې **یرفع** چې رفع واقع کولی شی په دغه حرف علت اوحرکت سره.

ان کان مفردامعرفة: په دې شرط سره چې وه دامنادی مفرده په دې شان سره چې مضاف اوشبه مضاف نه وه، اومعرفه وه دا معرفه عامه ده که مخکې ددخول دحرف نداء نه وی لکه یازید او که وروسته د دخول دحرف نداء نه وی لکه یارجل شومثال دمنادی مفردمعرفه چې مبنی علی مایرفع وی لکه **یا زیدا ویا رجل** شو دا مبنی علی الضمة دی **یا زیدان** مبنی علی الالف دی **او یا زیدون** مبنی علی الواودی او تعدد د مثال بنادی په تعدد ددممثل باندې ځکه دا اولاً درې قسمه ده: (۱) مفردواحد. (۲) تثنیه. (۳) جمع. او دا مفرد واحد بیادوه قسمه ده: (۱) چې معرفه وی مخکې ددخول دحرف نداء نه. (۲) چې معرفه وی وروسته ددخول دحرف نداء نه.

تشریح: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی اوغرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی؟

جواب: ربط دماقبل سره دا دی چې مخکې تعریف دمنادی وواوداحکم دمنادی دی نوغرض دمصنف هم معلوم شو چې بیان دحکم منادی دی.

سوال: منادی په اعتبار داعراب سره څلورقسمه ده کمامراومنادی معرب منصوب خویدی مقام کې موضوع بالبحث اومقصودبالبحث ده اودانوربیانیږی طردا للباب نو مصنف غیرمقصودولی مقدم کړو په مقصود باندې پکار وه چې هغه یې مقدم کړی وی. **جواب:** هر کله چې منادی معرب منصوب کثیره وه او دا نورقلیل وواوقلیل په منزله دمفرد وی اوکثیر بمنزلة المرکب وی نومقدم یې کړوقلیل په کثیر باندې.

سوال: ته وايي چې منادی معرب منصوب کثيره ده اودانورقليل دی نو هغه خويوه ده اودانوردری دی نو هغه څنګه کثيره شوه؟ **جواب:** ديته زه کثيره وايم په اعتباردانواع سره دهغې انواع څلوردی نوکثير شو. (۱) مضاف. (۲) شبه مضاف. (۳) نکره غيرمعين. (۴) چې منادی نه مفردوی اونه معرفه او دا نور يوه نوع هم نوی. (۲) يا دايی مقدم کړه معرب باندې لپاره داختصارفی البيان لکه اعراب تقديری مقدم کړی وو چی قليل وه داعراب لفظی نه لپاره داختصارفی البيان نو دلته يې هم قليل مقدم کړيده هغه کثير باندې يې حواله ورکړه چې وينصب ماسواهما او که هغه يې ذکرکړی وی نوطوالت لازميدو.

سوال: په يبنی اويرفع کې ضميرراجع دی منادی ته نومعنی داشوه چې مبنی کولی شی منادی په هغه حرکت او حرف علة چې مرفوع کولی شی په هغې سره نوستاپه کلام کې تناقض دی دیبنی نه معلومه شوه چې دا مبنی ده او د يرفع نه معلومه شوه چې دامعرب ده.

جواب: (۱) په يبنی کې ضميرراجع دی منادی ته اويرفع کې ضميرمطلق اسم ته راجع دی نومعنی داشوه چې مبنی کولی شی منادی په هغه حرکت اوحرف علة سره چې مرفوع کولی شی په هغې سره مطلق اسم ليکن داجواب ضعيف دی څکه بحث زمونږ په منادی کې دی نوچې مطلق اسم ته ضميرراجع شی نو خروج عن البحث لازميږي (۲) يبنی کې ضمير منادی ته راجع دی اويرفع کې ضميرنشته بلکه په ورله نائب فاعل دی نومعنی دا ده چې مبنی کولی شی دامنادی په هغه حرکت اوحرف علة سره چې رفع واقع کولی شی په هغې سره (۳) او که اومنم چې په يرفع کې هم ضميرمنادی ته راجع دی نو بيا ترجمه دا ده چې مبنی کولی شی منادی پس ددخول دحرف نداء نه په هغه حرکت اوحرف علة سره يرفع چې مرفوع کولی شی دامنادی مخکې ددخول دحرف نداء نه په هغه حرکت اوحرف علة سره په دې شان سره چې دا منادی به مبنی علی الضمة وی که مرفوع وه په ضمی سره مخکې ددخول دحرف نداء نه الخ.

ان کان مفردا معرفة: ترکيب: کان کې ضمير دی هغه اسم دکان دی اومفردا موصوف اومعرفه ورله صفت دی موصوف مع الصفت خبردکان دی.

سوال: مفردا موصوف دی اومعرفه يې صفت دی اومطابقت نشته بين الموصوف والصفة.

جواب: مطابقت شرط دی په امورعشروکی خوهله چې صفت د دې موصوف مصدرنه وواودلته صفت مصدر دی. (۲) ترکيب مفردا خبراول دی دکان لپاره اومعرفه خبرثانی دی اوتعددخبردکان راغلی دی سره د وحدت د اسم دکان نه اوداتعددخبرسره دوحدت دمخبرعنه نه دوه قسمه دی: (۱) جائز. (۲) واجب. دلته واجب اولازم دی څکه حکم د دې مخبرعنه چې منادی دی نه تاميږی بې دتعددنه، چې حکم د منادی بناعلی مايرفع به دی نو دادقبيلې دهذاحلوحامض اوالابلق اسودابيض نه.

سوال: ان کان الخ، شرط دی داتقاضه دجزاء کوی جزاء د دې کوم ده؟ **جواب:** دايبنی علی مايرفع به جزاء مقدم ده په مذهب د هغه چاباندې چې تقديم دجزاء جائزوايی لکه کوفيان. (۲) اوجزاء د دې حذف ده بناپه مذهب د هغه چاباندې چې تقديم دجزاء جائزنه وايي اودايبنی الخ دال بالجزاء دی.

سوال: نه وايي چې منادى مفرده معرفه وه نو مبني على مايرفع به به وى نو يا زيد مثال صحيح دى خو يا رجل نه دى صحيح ځکه چې دا خونکره ده.

جواب: معرفه عامه ده که مخکې د دخول دحرف نداء نه وى او که وروسته د دخول دحرف نداء نه وى دا اگر چې مخکې ددخول دحرف نداء نه نکره ده خو وروسته معرفه ده.

سوال: نه وايي چې منادى مفرده معرفه على مايرفع وى نو يا زيدان خو تثنيه ده او يازيدون خو جمع ده.

جواب: دلته مفرده مقابل دتثنيه اوجمع نه دى بلکه مفرد چې ذکرشي په باب دمنادى اوباب د اسم دلا نفي الجنس کې نومراد د دې نه مقابل دمضاف اوشبه مضاف وى نه مقابل دتثنيه اوجمع پس زده کړه او خبره چې مفردپه اصطلاح د ذوى کې په څلورمعانيوسره راځي (۱) مقابل دمطلق مرکب نحو الکلمة لفظ وضع لمعنى مفرد. (۲) مقابل دمثنى اومجموع لکه مفرد صحيح منصرف. (۳) مقابل دمرکب تام لکه په باب دتمييزکى. (۴) مقابل دمضاف شبه مضاف لکه دلته.

سوال: مثال ذکر کولى شي لپاره د وضاحت د ممثل او وضاحت د ممثل خو په مثال واحد سره راځي نو څلور مثالونه يې ولې ذکرکړل؟ جواب: دا تعدد د مثال بنادى په تعددممثل باندې ځکه دامنادى مفرده معرفه عامه ده که مخکې د دخول دحرف نداء نه معرفه وى لکه يازيدشو، يا وروسته ددخول د حرف نداء نه وى لکه يارجل شو او که مفرد واحد وى لکه دغه مثالونه شو او که تثنيه وى لکه يازيدان شو او که جمع وى لکه يا زيدون شو، مفرد سره يې احتراز وکړو د مضاف نه مطلقاً برابره خبره ده که اضافت لفظى وى او که اضافت معنوى وى او که شبه مضاف وى ځکه هغه معرب منصوب راځي کما سيأتى او معرفه سره احتراز وکړو د هغه منادى نه چې مفرد ده خومعرفه نه وى کقول الاعمى يا رجلاً خذ بيدى او چې منادى مفرده هم نوى اومعرفه هم نوى نوپه صيغې د اسم تفضيل سره مبنى على ما يرفع نه راځي لکه يا حسنا وجهه ظريفا دا منادى معرب منصوب ده ځکه دا مفرد نه دى بلکه شبه مضاف دى پشان د يا طالعا جبلا باندې اومعرفه هم نده بلکه نکره ده، ځکه که معرفه وى نوتوصيف يې په ظريفا سره نه وو صحيح.

سوال: منادى چې مفرد معرفه وى نومبنى ولې وى اوعلى مايرفع ولې وى؟

جواب: علت د بنا دوه دى: (۱) يو خو دا واقع شوى دى په موقع د کاف ضميري خطابى کې چې هغه مشابه دى د کاف حرفى خطابى سره لفظا او معنا او بل دامشابه دى د هغه سره په افراد اوتعريف کې هغه هم مفرد معرفه ده اوداهم مفردمعرفه ده اوبناد دې على مايرفع سماعى ده ځکه دا بناعارضى وه نومبنى على ما يرفع شوه لپاره د دې چې دا حرکت بنائى موافق شي د حرکت اعرابى سره.

سوال: ته وايي چې دا واقع ده په ځاى د کاف ضميرى اسمى خطابى کې نو معرب منصوب خو هم واقع ده په ځاى د کاف اسمى خطابى کې نو هغه ولې مبنى على مايرفع نه شوه.

جواب: هغه اګرچې واقع ده په ځاى : کاف اسمى خطابى باندې خومشابه ورسره نده په افراد اوتعريف دواړو کى بلکه فقط په تعريف کې ورسره مشابه ده.

ویخفض بلام الاستغاثة: هر کله چې فارغ شو دبیان دمنادی مبنی علی مایرفع نه نوشروع یې وکړه په بیان دمنادی معرب مجرور کی نوی وېل چې **ویخفض الخ.** معرب کولی شی دامنادی په جرسره اوداجرعام دی که بالحرکت وی او که بالیاء وی **بلام الاستغاثة.** د وجې ددخول لام جاره نه چې داخلیږي په منادی باندې په وخت داستغاثة کې اوداهغه لام جاره تخفیضی دی چې داخل کړی شوي دي په مستغاث باندې لپاره د دې چې دلالت وکړی په دې خبره باندې چې دا مستغاث مقصود دې په مینځ د دې امثالو کې په دعا اوفریادسره مثال دمنادی معرب مجرورلکه یالزیدشودلته منادی معرب مجروردی د وجې ددخول دلام جاره نه اگرکه دامنادی واقع شوي دي په موضع د کاف ضمیری خطابی کې او مشابه دی ورسره په افراد اوتعریف کې لیکن په دې باندې لام جاره داخل شوي دي اودخول دحرف جر د خواص معظمه مکبره د اسم نه دی نوقوی کیږي په دې سره جهت داعراب اوضعیف کیږي جهت د مشابهت او دا لام جاره چې داخل شی په ضمیر باندې نو داراځي په فتحی سره ماسوی دیاء ضمیر د متکلم نه، او د ضمیرنه علاوه په بل څه چې داخل شی نومجروراځي لپاره د دې چې اثرموافق شی د مؤثر سره او دلته مفتوح شو لپاره د دې چې التباس رانه شی دمستغاث دمستغاث له سره، او بالعکس یې ونه کړوځکه داواقع دی په ځای د کاف ضمیری کې اومستغاث نه دی واقع په ځای دکاف ضمیری کې نو هغه په خپل حال باندې پاتې شو اودالام مکسور کولی شی که چری عطف د دې اسم راغلی وو په منادی مستغاث بې داعادی دیانه لکه یالزیدولعمروځکه دلته التباس نه راځي د مستغاث له سره ځکه فرق ثابت دی په عطف سره ځکه معطوف په منادی مستغاثه باندې منادی مستغاثه وی نه مستغاث له او که سره داعادی دیانه وو، اولام التهدید اولام التعجب داخل دی په لام الاستغاثه کې ځکه چې مهددامدادغوغواړي دمهدَدنه اومتعجب امدادغواړي دمتعجَب منه نه.

تشریح: سوال: د دې عبارت ربط دماقبل سره څه دی اوغرض دمصنف د دې عبارت نه څه دی

جواب: ربط دا دی چې مخکې یې بیان دیوقسم دمنادی وکړو اوس بیان دقسم ثانی دمنادی کوی (۲) یا مخکې یې یو حکم د منادی بیان کړو اوس بیان ددویم حکم کوی اوغرض دمصنف هم معلوم شو چې بیان د قسم ثانی یا د حکم ثانی د منادی دی.

سوال: مصنف وایي چې **ویخفض** نوخفض خوعندالنحات انجراربالحرکت ته وایي نود دې نه معلومه شوه چې داصرف مجروربالحرکت راځي نو یالزیدَین او یالزیدِین ترې خارج شو.

جواب: دلته ذکر دخاص دی چې خفض دی اومرادترینه عام دی چې انجراردی اوجر بیا عام دی که بالحرکت وی او که بالحرف وی.

سوال: اضافت دلام استغاثی ته باطل دی ځکه اضافت دحروف کیږي معانی خپلوته اواستغاثه معنی د لام نده. **جواب:** اضافت دلام استغاثی ته اضافت لامی دی دادنی ملابست د وجې نه شوي دي چې دالام جاره داخلیږي په دې منادی په وخت داستغاثی کې.

سوال: د دې لام اصلی معنی څه ده؟ **جواب:** دا لام داختصاص لپاره دی اودلته داخل شوي دي په منادی باره د دې چې دلالت وکړی الخ بله مسئله لام اولا راځي يوولس قسمه يو قسمُ پکې لام جاره دی دا په (۲۸) معانيوسره راځي يوه معنی پکې استغاثه ده. (مجازا) اومثال لکه يالزيدشواوس دازيدمنادی مستغاث مجرور بالکسر دی د وجې د دخول دلام الاستغاثی نه.

سوال: په دې منادی مستغاثه کې علت دبناموجود دې چې کون د دې دی واقع په ځای دکاف ضمير کې او مشابه دی د هغې سره په افراد تعريف کې نومبنی ولې نه شو؟ **جواب:** اګر چې علت دبناپکی موجود دی ليکن هرکله چې داخل شوي دي په دې باندې لام جاره اودخول د دې د خواص معظمه مکبره ؤد اسم نه دی نوپدی سره جهت د اسميت قوی شو اوجهت دمشابهت ضعيف شو نو وګرځولی شوه معرب ځکه اصل په اسماؤ کې اعراب دی اومجروره شوه د وجې د دخول د حرف جرنه.

سوال: دالام جاره چې داخل شی په ضمير باندې نوپه فتحی سره راځي ځکه ضمائروضع شوي دي لپاره دايجازاواختصاراودايجازسره مناسب فتحه ده ماسوی دياء ضمير دمتکلم نه اوپه اسم ظاهر چې داخل شی نو مجرور راځي لپاره د دې چې موافقت راشی بين الاثر والمؤثر اودلته داخل دی په اسم ظاهر باندې نوپه فتحی سره ولې دی؟ **جواب:** دالام جاره چې په اسم ظاهر باندې داخل شی نومجروروی نو دلته مفتوح شولپاره د دې التباس رانشی دمنادی مستغاث دمستغاث له سره په وخت دحذف د منادی مستغاث اوبقاء دمستغاث له کې لکه يالزيدللمظلوم کې چې زيدحذف شی او ياللمظلوم ووېلی شی نوکه دا مجرور وی نو بيا التباس راتلو.

سوال: التباس خوپه عکس سره هم دفع کيدونوعکس يې ولې ونه کړو؟

جواب: عکس يې ونه کړوځکه چې منادی مستغاثه واقع شوې ده په مقام دکاف ضميري خطابی کې او لام چې داخل شی په کاف ضميری خطابی باندې نومفتوح وی نو دلته هم مفتوح شو اومستغاث له نه دی واقع په ځای دکاف ضميری باندې نو هغه په خپل حال باندې پاتې شو.

سوال: ته وايې چې دالام به مفتوح وی لپاره ددفع دالتباس نو دا قاعده ستامنقوضه شوه په يا لزيد ولعمرو للمظلوم باندې په عمرو باندې چې لام داخل دی دا خومجروردی.

جواب: مونږ وايوچې دا لام کله داخل وی په منادی بالذات باندې نومفتوح راځي او چې داخل شی په هغه منادی چې هغه معطوفه وی په منادی مستغاثه باندې بغير داعادی دياء نو هلته به مجرور وی ځکه هلته التباس مدفوع دی په عطف سره.

سوال: دا قاعده دی منقوضه شوه په يالزيدويالعمروللمظلوم باندې.

جواب: مونږه وايوچې عطف وشی بغيرداعادی دياء نه اودلته سره داعادی دياء نه شوي دي.

سوال: لکه څنګه چې منادی مستغاث مجرورراځي نومنادی متعجبه خوهم مجرورروی لکه يا للماء يا للدواهي دارنګې منادی د وجې ددخول دلام التهديد نه لکه يالزيدلا قتلنك نو دای ولې ذکرنکړل اوبنصب ماسواهما حکم هم صحيح نه شو ځکه چې ماسوی کې خومنادی متعجبه اومهدده هم داخله ده اوهغه خو منصوبه نده؟ **جواب:** لام التهديد اولام التعجب داخل دی په لام الاستغاثه کې ځکه ياللماء

او ياللدواهي کې متعجب امداد غواړي دمتعجب منه نه چې هغه راشي اودی خپل تعجب پوره کړي اودتعجب نه خلاص شي او منادی مهدده کې مهددامدادغواړي دمهددمنه نه چې هغه راشي اودی ترې انتقام واخلي اوخلاص شي (٢) دلته منادی حذف ده اصل عبارت داسې دی يا قوم للماء وللدواهي او دا قائم شوه په مقام د منادی کې نو د هغې حکم يې واخستو.

نحو يا لزيد: لام جاره چې داخل شي په ضمير باندې نو مفتوح وي ماسواء د يا د متکلم نه او لام جاره چې داخل شي په اسم ظاهر باندې نو مکسور وي ځکه چې دی د لام امر سره مشابه دی په تخصيص کې او هغه خو مکسور وي نو دی هم مکسور شو، لاکن هر کله چې دا لام جاره داخل شي په منادی باندې نو دی به هم مفتوح وي دپاره د دې چې فرق حاصل شي مابين د مستغاث او مستغاث له کې په وخت د حذف د مستغاث کې او اقامة د مستغاث له په مقام د مستغاث کې لکه يا لعمرو شو په دې شان سره چې په مستغاث کې به لام مفتوح وي او په مستغاث له کې به مکسور وي او عکس ونه کړی شو ځکه چې مستغاث منادی ده او واقع ده په مقام د ضمير باندې او په ضمير باندې چې لام داخل شي نو مفتوح وي نو دلته هم مفتوح شو چې عطف وکړی شي په منادی مستغاث باندې بې د حرف ندا نه نو په هغه معطوف کې به لام مکسور وي دپاره د عمل په قاعدې باندې او التباس مدفوع دی په سبب د عطف سره لکه يا لزيدٍ ولعمرٍو، او که عطف وکړی شي سره د حرف ندا نه نو بيا به په معطوف کې لام مفتوح وي ځکه التباس موجود دی ځکه چې منادی مستقله ده په سبب د اعادې د حرف ندا سره لکه يا لزيد و يا لعمرٍو، او لام تهديد او لام تعجب داخل دي په دې لام کې ځکه چې هغوی هم لام جاره دي او داخليږي په منادی باندې چې مقصود د ندا نه تهديد يا تعجب وي نو حاجت رانغلو ذکر کولو د هغوی دواړو ته استقلالاً، مثال د لام تهديد لکه يا لزيد لاقتلنك، مثال د لام تعجب لکه يا للماء يا للدواهي **ويفتح:** مبني کولی شي دا منادی په فتحې باندې **لالحاق الفها** په سبب د اتصال د الف سره دپاره د مد صوت په وخت د استغاثه کې علت د نفس بنا دپاره کيدل د منادی دی مفرد معرفه او بناء علی الفتحه دپاره علت الف دی ځکه چې الف تقاضا د فتحه د ماقبل کوي لالحاق الفها کې لام اجليه دی او يا (٢): لام وختيه دی.

ترجمه: مبني کولی شي منادی په فتحه باندې په وخت د اتصال د الف کې او اضافت د الف استغاثه ته د ادنی مناسبت د وجې نه دی ځکه چې الف داخلولی شي دپاره د مد صوت ليکن داخليږي په منادی باندې هله چې مقصود د ندا نه استغاثه وي.

ولا لام فيها: او حال دا دی چې نه وي لام په دې منادی کې ځکه چې اثر د لام جر بالکسره ده په آخر کې او اثر د الف بناء علی الفتحه ده او په مابين د دوی کې منافات دی نو که لام پکښې موجود وي او الف پکښې داخل کړې لازم به شي اجتماع د متنافيينو په محل واحد کې نو وارد نه شو اعتراض چې لام داخليږي په اول کې او الف داخليږي په اخر کې نو نشته منافات په مابين د دې دواړو کې؟

جواب: منافات په اعتبار د اثرينو سره دی او اثرين په محل واحد کې دي او تنافي د اثرينو مستلزم دی تنافي د مؤثرينو لره. **نحو يا زيداه. وينصب:** منصوب کولی شي هغه منادی **ماسواهما** چې ماسوا د نوعينو

مذکورینو نه وي په دې شرط سره چې مبني نه وي پر، خوا د دخول د حرف ندا نه نو خارج شو د دې نه دا ترکیب یا یوم ینفع الصادقین، ځکه چې اګر که ماسواء د نوعینو مذکورینو نه دی لاکن مخکې د دخول د حرف ندا نه مبني دی ځکه چې یوم مضاف دی جملې ته او جمله من حیث انها جمله مبني اصل دی په نیز د صاحب مفصل، او مضاف مبني اصل ته مبني وي، **هما** ضمیر راجع دی نوعینو ته چې هغه منادی مفرد معرفه او منادی مستغاث دی، مستغاث عام دی باللام وي که بالالف وي نو مطابقت د راجع راغی مرجع سره، او دا منادی ځکه منصوب ده ځکه چې مفعول به ده او اعراب د مفعول به نصب وي او مانع د نصب هم نشته ماسواء د منادی مفرد معرفه نه صورتونه څلور دي: (۱) افراد پکښې منتفي وي په دې شان سره چې منادی مضاف او شبه مضاف وي **یا طالعاً جبلاً** شبه مضاف دې ته وایي چې معنا د ماقبل نه تامیږي بې د مابعد نه او مابعد متمم د ماقبل وي لکه مضاف الیه متمم د مضاف دی په معنی مراد کې، او صورتونه د شبه مضاف غالباً درې دي: (۱) ماقبل عامل وي په مابعد کې او مابعد معمول وي لکه یا طالعاً جبلاً، (۲) صفة او موصوف وي لکه یا حلیماً لاتعجل شو (۳) معطوف او معطوف علیه وي او ګرځیدلي وي علم د چا دپاره لکه یا ثلاثة و ثلاثین شو، او جبلاً مفعول به دی طالعاً دپاره. ترجمه: ای ختونکیه په غر باندې، (۲) مفعول فیه دی طالعاً دپاره، **ترجمه**: ای ختونکیه په غر کې، او د طالعاً اعتماد راغلی دی په حرف ندا باندې. او دا مذهب د ابن مالك دی، او یا طالعاً معتمد دی په محذوف باندې په نیز د ابن حاجب نو تقدیر دا شو چې یا ایها الطالع جبلاً نو موصوف حذف شو تخفیفاً او الف لام حذف شو دپاره د دې خبرې چې جمع نه شي آلتی د تعریف لفظاً نو پس د حذف نه صورت د شبه مضاف شو او حکم یې د مضاف واخیستو چې نصب دی. او دریم صورت دا دی چې تعریف پکښې منتفي دی لکه **یا رجلاً لغیر معین** لکه رجلاً شو په حال کون د رجل کې چې مقول وی د غیر معین دپاره او لغیر معین په اعتبار د متعلق سره حال دی د رجل نه چې رجلاً مفعول به ده دا دعو مقدر دپاره او نعت دپاره د رجل نه دی ځکه چې نعت راشي روستو د نکرې نه نو واجب وی تقسیم په نکرې کې او رجل چې منصوب وی نو منقسم نه دی معین او غیر معین ته بلکه مختص دی غیر معین پورې نو نعتیت صحیح نه شو او لیت یې صحیح دی ځکه چې حال تقسیم نه راولی په ذوالحال کې بلکه حال تقسیم راولی په عامل کې نو ندا رجل ته په دوه قسمه شوه یو نداء رجل معین ته نو هلته کې به رجل مبنی علی الضمه وی او بله نداء ده رجل غیر معین ته نو هلته کې به رجل منصوب وی. او څلورم صورت دا دی چې پدې منادی کې افراد او تعریف دواړه منتفي وی پدې شان سره چې منادی مضاف وی په اضافة لفظی سره لکه یا حسن الوجه او دا مثال مصنف پریخي دې ځکه چې هر کله انتفاء د یو قید سره جوړیدو مثال د ما سواء نو په انتفاء دقیدین سره جوړیږي مثال د ماسواء چې منادی منصوب ده په طریق اولی سره نو ځکه مصنف دا مثال پریخیدی او یا دا مثال مصنف ځکه پریښي دی چې په یا طالعاً جبلاً کې احتمالین دې که مراد په یا طالعاً سره معین شي نو مثال د ثاني دی او که مراد په یاطالعاً سره غیر معین شي نو مثال د رابع دی نو دواړه مثالونه مذکور

شو احتمالاً نو شو مجموعه صورتونه د منادی اووه دی، دوه صورتونه د مبنی (۱) منادی مفرد معرفه مبنی علی الضمه نحو یا زید (۲) منادی مفرد معرفه مبنی علی الفتحه ان کانت فی آخره الف الاستغاثة او پنځه صورتونه د معرب (۱) صورت د معرب مجرور نحو یالزید او باقی ځلور صورتونه معرب منصوب دی (۱) منادی مضاف معرفه نحو یا عبدالله (۲) منادی مضاف نکره نحو یا حسن الوجه (۳) شبه مضاف نحو یا طالعاً جبلاً (۴) منادی نکره غیر معین نحو یا رجلاً خذ بیدی. هر کله چې د توابع د منادی مفرد معرف دپاره احکام خاصه وو چې هغه نه جاری کیده په مطلق توابع کې نو ذکر کړه مصنف توابع د منادی مفرد یې معرفی دپاره بیان د احکام مختصو اگر که د توابع دپاره باب علیحده دی. او هر کله چې دا احکام مختصه نه جاری کیده په کل توابع کې بلکه په بعض کې نو ذکر کړو مصنف رحمه الله هغه بعض چې هغه ځلور دی نه کل. او هر کله چې دا احکام جاری کیدو په بعض کې علی الاطلاق چې هغه درې دې نو ذکر یې کړو هغه درې واړه مطلقاً او په بعض کې جاری کیدو سره د قید نه نو ذکر یې کړو هغه بعض سره د قید نه چې معطوف بالحرف دي نو وویل مصنف چې

وتوابع المنادی: توابع د منادی هسې منادی **المبنی** چې مبنی ده علی مایرفع هسې توابع چې دا توابع **المفردة** مفرد دی پدې شان سره چې مضاف نه دی په اضافة حقیقي سره چې هغه اضافة معنوی دی. توابع یې مضاف کړو منادی ته پدې شان سره احتراز وکړه د توابع د غیر منادی نه ځکه چې د هغې حکم دارنګې نه دی او منادی یې مقید کړه په مبنی سره پدې شان سره یې احتراز وکړه د توابع د منادی معرب نه ځکه چې توابع د معرب تابع د لفظ وی فقط. او مراد په مبنی سره مبنی علی ما یرفع دی پدې سره یې احتراز وکړه د مبنی علی الفتحه نه ځکه چې توابع د هغه منادی چې منبی علی الفتح ده د هغې توابع منصوب وی فقط او توابع مقیدشو په افراد او مفرد دلته کې مقابل دی د مضاف په اضافة معنوی سره ځکه چې تابع مضاف وی په اضافة معنوی سره نو دهغې حکم را روان دی او تابع چې مضاف نه وی په اضافة سره نو د هغې صورتونه (۳) دی (۱) یا به مفرد وی حقیقتاً (۲) او یا به مضاف وی په اضافة لفظی سره (۳) او یا به شبه مضاف وی د دې دریواړو حکم یو دې چې ترفع او تنصب دی. او هر کله چې شبه مضاف او مضاف په اضافة لفظی سره دا دواړه ذو جهتین وو پدې شان سره چې من وجه مضاف دی او من وجه مضاف نه دی کله چې دوی منادی واقع شي حرف نداء پرې بالذات داخل شي نو دوی ورلره حکم د مضاف ورکوی چې نصب دی او کله چې تابع واقع شي او منادی بالذات نه وی نو دوی ورلره حکم د مفرد ورکوی چې رفع او نصب دی دپاره د عمل په شبیهین باندې

من التاکید والصفة الخ: لکه تاکید شو په تاکید کې دوه مذهب دی (۱) مذهب د بعض دا دی چې مراد په تاکید سره تاکید معنوی دی او په تاکید لفظی کې دا ترفع او تنصب نشته دی لکن مذهب د مصنف دا دی چې مراد په تاکید سره مطلق تاکید دی لفظی وی او که معنوی وی ځکه چې مصنف په متن کې تاکید مطلق ذکر کړی دی. او یا لکه صفت شو او یا لکه عطف بیان شو او هغه معطوف بالحرف چې ممتنع وی دخول د یا پده باندې په دې شان سره چې دی معرف باللام وی **ترفع** دا توابع مرفوع کولې

شي علی لفظه د وجې د حمل د دینه په لفظ منادی باندې او لفظ د منادی اګر که مبنی علی الضمه دی لکن دا ضمه بنائی عارضی ده په حکم د رفع کې ده نو حکماً منادی مرفوع شوه نو توابع ځکه مرفوع شو وتنصب او منصوب کوولیشي دا توابع علی محله د وجې د حمل د دوی نه په محمل د منادی باندې ځکه چې تابع د مبنی تابع د محل وی مثال **یا زیدُ العاقلُ والعاقلَ** ذکر کړو مصنف رحمه الله مثال د نعت فقط (۱) دوجې د شهرت نه (۲) یا دپاره دفع د تواهم په دې شان سره چې منادی مفرد معرفه واقع ده په مقام د ضمیر باندې او ضمیر خو موصوف نه واقع کیږي نو چا به توهم کولو چې منادی هم موصوف نه واقع کیږي نو پدې شان سره مصنف دا توهم دفع کړو چې منادی اګر که په مقام ضمیر کې واقع ده لکن دا منادی اسم ظاهر ده موصوف واقع کیږي

هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د وجهین نه چې توابع د منادی مفرد معرفه ده نو شروع ئې وکړه په بیان د اختلاف کې په اولویة او په عدم اولویة کې نو اوئیل مصنف رحمه الله چې **والخلیل فی المعطوف** خلیل صاحب په معطوف مذکوره کې چې هغه معرف باللام دی **یختار الرفع** مختار کړی ده رفع سره د جواز د نصب نه هر چې دی اختیار د رفع ځکه چې معطوف مقصود وی پشان د معطوف علیه نو پکار ده چې جاری شی پده باندې هغه حالت چې هغه جاری کیږي په منادی باندې چې هغه بنا علی الضمه ده لکن **هر کله چې** حرف نداء مباشر نه وو د معطوف سره نه او نو او ګرځولیشو دغه حالت رفع او هر چې دی جواز د نصب ځکه چې دی تابع دی او تابع د مبنی تابع د محل وی **وابو عمرو** او مختار کړی دی ابو عمرو صاحب په معطوف مذکوره کې **النصب** نصب سره د جواز د رفع نه هر چې دی اختیار د نصب ځکه چې هر کله ممتنع شو پدې معطوف باندې دخول د حرف نداء د وجې د الف لام نه نو نه شو دا معطوف منادی مستقله نو پاتې شو محض تابع او تابع د مبنی تابع د محل وی او هر چې دی جواز د رفع ځکه چې دی معطوف دی حاصل دا دی چې خلیل لحاظ کوی د معنی او د معنی په لحاظ سره د معطوف مقصود بالنداء دی او ابوعمرو صاحب لحاظ کوی د لفظ او لفظ په لحاظ سره منادی نه ده ځکه چې دخول د حرف نداء پرې ممتنع دی

وابو العباس: او ابو العباس چې مبرد صاحب دی دی وایې دغه معطوف مذکوره **إن کان کالحسن فکالخلیل:** که پشان د اسم د حسن وی په جواز د نزع د الف لام کې نو دا مبرد صاحب پشان د خلیل دی په حکم کې چې هغه اختیار د رفع دی ځکه چې د دې معطوف نه جوړیږي منادی مستقله په تقدیر د نزع د الف لام سره **والا** که د معطوف مذکوره پشان د اسم د حسن نه وو پدې شان سره چې نزع د الف لام ترینه جائز نه وه **فکابی عمرو** نو دی پشان د ابوعمرو دی په حکم کې چې هغه اختیار د نصب دی ځکه چې هر کله نزع د الف لام ترینه جائز نه وو نو نه جوړیږي د ده نه منادی مستقله

زده کړه دا خبره چې علم په اعتبار د الف لام سره په درې قسمه دی (۱) یو هغه دی چې الف لام لری کول ترینه جایز دی (۲) بل هغه دی چې الف لام ترینه لری کول ممتنع دی (۳) دریم هغه دی چې د الف لام دخول پرې ممتنع دی اول ته جائز الدخول وایې ثانی ته واجب الدخول وایې او ثالث ته ممتنع الدخول وایې

نه نو دخول د الف لام پس د
وجه د حصر: یې دا ده که چرې جامد علم گرځیدلی وو په غیر د الف لام نه نو دخول د الف لام پس د علمیت نه پده باندې ممتنع دی لکه زید عمرو شو: (۲) دویم هغه دی جامد علم گرځیدلی وی سره د الف لام نه نو لرې کول د الف لام د ده نه ممتنع دی بلکه الف لام لازم دی لکه النجم الصعق (۳) هغه دی چې مشتقی یا مصدر علم گرځیدلی وی سره د الف لام نه نو دلته کې الف لام لرې کول جائز دی پدې شان سره چې اصل وضع ته گوری نو الف لام پرې داخل کړه او که معنی علمی ته گوری نو الف لام پرې مه دخله وه نو مراد د مبرد صاحب د الانه قسم ثانی مراد دی.

والمضافه: توابع د منادی مفرد معرفی چې مضاف وی په اضافة معنوی سره **تنصب** نو هغه به منصوب وی وجوباً ځکه چې تابع په خپله منادی واقع شی نو منصوب به وی وجوباً نو مرتبه د تابع کې به هم منصوب وی په طریقه اولی سره لکه زید عبدالله

والبدل والمعطوف بدل او معطوف بالحرف په حال کون د معطوف کې **غیر ما ذکر** چې غیر ما ذکر نه دی **حکم المستقل** نو حکم یې د منادی مستقل دی پدې شان سره چې الف لام پرې نه دی داخل شوی حکم د هر واحد پشان د حکم د هغه منادی مستقل دی چې مباشر وی د حرف نداء سره بالفعل ځکه چې بدل او معطوف مقصود بالنداء وی نو جاری کیږي پدې دواړو باندې هغه حالة چې جاری کیږي په منادی مستقل باندې او مانع نشته دی چې هغه الف لام دی نو که چرې مفرد معرفه وی نو مبنی علی الضمه به وی لکه یا زید عمرو مثال د بدل غلط یا زید و عمرو مثال د معطوف او که مضاف او شبه مضاف وی نو منصوب به وی لکه یا زید عبدالله بدل کل او یا زید و رجلاً صالحاً او رجل مقید شو په صالح سره ځکه چې نکره محضه بدل نه واقع کیږي د معرفی نه بلکه لابدی ده د توصیف د نکری نه.

والعلم الموصوف بابن و ابنة: غرض د مصنف د دې عبارت نه دوه (۲) خبرې دی (۱) بیان د قاعده کلیه دی په نداء د دې موصوف مذکوره کې او (۲) دویم دفع د اعتراض ده هغه اعتراض دا دی چې منادی مفرد معرفه وی نو هغه به مبنی علی الضمه وی وجوباً نو دا قاعده ستا منقوضه شوه پدې ترکیب باندې یا زیدبن عمرو پدې شان سره چې پدې کې ضمه واجب نه ده بلکه فتحه په کې مختاره ده نو مصنف جواب وکړه حاصل د جواب دا دی چې دا جزئی مستثنی دی د دې قاعدی مذکوری نه ځکه چې دا نداء کثیر الاستعمال ده په کلام د عربو کې تقاضی کوی د تخفیف نو تخفیف وکړو دوی په اختیار د فتحی سره نو وویل مصنف چې هغه منادی چې منادی واقع وی علم سره یې احتراز وکړه د یا رجل بن زید ځکه چې دلته کې دا حکم نشته دی په حال کون د دې علم کې چې موصوف وی په ابنُ او ابنة سره په موصوف سره یې احتراز وکړو د یا زید بن عمرو فی الدار ځکه چې دلته کې دا حکم نشته دی او په ابن او ابنة سره یې احتراز وکړه د یا زید الظریف نه ځکه چې دلته کې هم ضمه واجب ده او اختیار د فتحی نشته دی په مضاف سره یې احتراز وکړه د یا زید بن نه ځکه چې دلته کې هم اختیار د فتحی نشته دی بلکه ضمه واجب ده په علم سره یې احتراز وکړه د دې ترکیب نه چې یا زید بنُ الرجل ځکه چې دلته کې هم ضمه واجب ده او فتحه پکښې جائز نه ده هر کله چې منادی جامع د دې شرائط وی نو فتحه په کې

مختاره ده دپاره د تخفیف او تخفیف وشو پدې کې په فتحې سره لفظاً او په حذف د الف سره کتابة او ضمه په کې هم جائز ده د وجې د قاعدې مذکورې نه. **واذا نودی المعرف باللام:** غرض د ما تن د دې عبارت نه دوه خبرې دی یو بیان د قاعده کلیه دی دپاره دخول د حرف نداء په معرف باللام باندې او دویم دفع د اعتراض ده هغه اعتراض دا دی چې دخول د حرف نداء په معرف باللام باندې ممتنع دی او سره د دینه په کلام د عرب کې دا ترکیب جائز دی چې **یا ایها الرجل** نو ماتن جواب وکړه حاصل د جواب دا دی چې دخول د حرف نداء په معرف باللام باندې ممتنع بالذات دی او نه دی ممتنع بالواسطه او په مادی د نقض کې بالواسطه دی او دا جائز دی.

ترجمه: د متن دا ده کله چې اراده اوکړی متکلم د نداء معرف باللام ته قبل نو وایې به یا ایها الرجل په توسط د ای سره و یا هذ الرجل په توسط د هذا سره **ویا ایهذا الرجل** په توسط د ای او د هذا سره دپاره د دې خبرې چې لازم نه شي جمع د آلتین د تعریف لفظاً بالذات او دا ممتنع ده او په جانب د شرط کې اراده مقدره ده ځکه چې ندا فعل اختیاری دی او هر فعل اختیاری مسبوق بالاراده وی نو وارد نه شو:

اعتراض: چې نداء مقدم شوه په واسطی باندې او دا جائز نه ده؟ نو **جواب** وشو چې نداء مقدم نه ده په واسطی باندې بلکه اراده مقدم ده په واسطی باندې او مختار شو د واسطی دپاره دا دوه الفاظ چې ای او هذا دی ځکه چې واسطی به هغه لفظ راوړی چې هغه صالح د نداء نه وی دپاره د دې خبرې چې لازم نه شي انقلاب د منادی او ای او هذا دوجې د ابهام نه صالح د نداء نه دی نو ځکه متعین شو دپاره د واسطی:

والتزموا رفع الرجل: دا جمله مستانفه جواب د سوال دی هغه اعتراض دا دی چې ای موصوف منادی مفرد معرفه مبنی علی الضمه او الرجل نعت دی او په توابع د منادی مفرد معرفه کې حکم ترفع او تنصب دی او دلته کې یواځې حکم د رفع دی وجوباً نو جواب وکړو مصنف چې التزام کړی دی عرب د رفع د رجل. **لانه مقصود بالنداء:** ځکه چې دا رجل مقصود بالنداء دی حاصل د جواب دا دی چې ای اګر که په لفظ کې منادی ده او رجل په لفظ کې تابع دی لکن په اعتبار د معنی او مقصود سره رجل منادی ده او ای واسطه ده نو پکار ده چې په رجل باندې جاری شي هغه حالت چې جاری کیږی په منادی باندې بالذات چې هغه بناء علی الضمه ده لکن هر کله چې حرف نداء داخل بالذات وو پدې باندې نو اوګرځولي شو دغه حالة بنائی رفع او دا عبارت د مصنف په منزله د مستثناء دی د هغه قاعدې مذکورې نه چې هغه ترفع او تنصب دی ځکه چې هغه قاعده په هغه منادی کې وی چې هغه منادی مبهم نه وی او دلته کې منادی مبهمه ده چې ای ده:

وتوابع: او دا هم جمله مستانفه جواب د سوال ده هغه سوال دا دی چې هر کله مقصود بالنداء رجل شو نو پکار ده چې د دې په توابعو کې دی هم ترفع او تنصب شي ځکه چې دا رجل منادی مفرد معرفه ده نو جواب وکړه ماتن چې التزام کړی دی عربو په رفع د توابعو د رجل کې **لانها توابع معرب** ځکه چې دا توابع تابع د منادی معرب دی حاصل د جواب دا دی چې حکم د توابع ترفع ا تنصب دی لکن هر کله چې

منادی مبنی علی الضمه وه او رجل اګر که مقصود بالنداء ده لکن معرب دی او تابع د معرب د لفظ دی فقط او په لفظ د رجل کې رفع ده نو په توابعو کې به هم رفع وی فقط غرض د ماتن د دې عبارت نه چې **وقالوا یا الله خاصة** دوه خبرې دی (۱) بیان د قاعده کلیه دپاره د دخول د حرف نداء په معرف باللام باندې بالذات او بل (۲) دفع د اعتراض ده هغه اعتراض دا دی چې تاسو وایئ چې دخول د حرف نداء په معرف باللام باندې ممتنع دی نو دا قاعده ستاسو منقوضه شوه په یا الله باندې ځکه چې دلته کې حرف نداء داخل شوه په معرف باللام باندې بالذات نو مصنف راغلو جواب یې وکړه چې وایې عرب وقالوا یا الله خاصةً مختص دی دا حکم چې دخول د حرف نداء دی په معرف باللام باندې بالذات په لفظ د الله پورې د وجې د یؤ قاعدې نه هغه قاعده دا ده چې کوم ځای کې چې الف لام زائد وی او لازم وی او عوض وی نو هلته کې دخول د حرف نداء پدې معرف باللام باندې بالذات جائز دی ځکه چې نه لازمیږي اجتماع د آلتیو د تعریف لفظاً ځکه چې الف لام تعریف دپاره نه دی او الف لام په الله کې دارنګې دی نو زائد ځکه دی چې تعریف حاصل دی پدې علمیت سره حاجت نشته دی الف لام ته او لازم دی د وجې د احاطی د علمیت نه پدې الف لام باندې پدې شان سره چې لفظ د الله سره د الف لام نه علم دی او اعلام محفوظ وی د تغیر تبدل نه بقدر الامکان، او عوض دی ځکه چې الله په اصل کې اله وو نو همزه حذف شوه او په عوض کې یې الف لام راوړیشو بیا ادغام اوشو نو الله شو او هر کله چې دا درې صفات په الف لام کې بل ځای کې نه وو نو خاص شو دا حکم په لفظ د الله پورې. یا دخول د حرف نداء په لفظ د الله باندې جائز دی بالذات د وجې د ضرورت نه هغه ضرورت دا دی چې د واسطې دپاره مقرر وی دوه کلمې چې هذا او ای دی او هذا مستلزم دی ابهام لره او ای مستلزم دی تعدد لره او الله منزه دی د ابهام او د تعدد نه نو د دې دوجې نه واسطه ممتنع شوه نو حرف نداء داخل شوه په معرف باللام باندې بالذات او دخول د حرف نداء په یا الناس باندې او په یا التی باندې او په یا الغلامان کې دا شاذ دی.

ولك في مثل یا تیم تیم عدی: غرض د ماتن د دې عبارت نه بیان د قاعده کلیه دی هغه قاعده کلیه دا ده چې منادی مفرده معرفه صورتاً واقع شی مکرر او ثانی یلی وی د مضاف الیه سره نو په اول کې جواز د وجهین دی. یا غرض د ماتن د دې عبارت نه دفع د توهم ده هغه توهم دا دی چې منادی مفرده معرفه مبنی علی الضمه وی نو دا قاعده ستا منقوضه شوه په یا تیم تیم عدی سره ځکه چې دلته بناء علی الضمه واجب نه ده بلکې نصب په کې هم جائز دی نو مصنف جواب وکړه چې کم ځای منادی مفرده معرفه مکرره وی نو دا ترکیب مستثنی دی د هغه قاعدې مذکورې نه نو وویل ماتن چې ولك یاتیم تیم عدی جائز دی ستا دپاره په مثل د دې ترکیب کې بناء **علی الضمه او نصب** په اول کې او هر چې دی بناء علی الضمه د وجې د قاعدې مذکورې نه او هر چې دی نصب ځکه چې مذهب د بعض دا دی چې تیم اول مضاف دی عدی مذکور ته او تیم ثانی تاکید دی دپاره د اول او فاصل دی په مابین د مضاف او مضاف الیه کې او دا جائز دی او مذهب د بعض دا دی چې تیم اول مضاف دی عدی محذوف ته په

قرينه د ثاني سره او تيم ثاني مضاف دى عدى مذكور ته او مجموعه تركيب اضافي عوض د مضاف اليه دى بنا په مذهبين باندې تيم اول مضاف شو په اعتبار د معنى سره او منادى مضاف منصوب وى لكن هر كله چې صورتاً مضاف نه وو بلكه مفرد معرفه وه نو بناء على الضمه په كې هم جائز شو او دريم مذهب دا دى چې بناء على الفتحه پكښې هم جائز ده د وجې د جواز نه هر چې دى تيم ثاني هغه منصوب دى وجوباً بالاتفاق ځکه چې يا تابع د مضاف دى په مذهب اول باندې او توابع د منادى مضاف منصوب وى وجوباً او يا تابع مضاف دى او تابع مضاف هم منصوب وى وجوباً:

والمضاف الى ياء المتكلم: هغه منادى چې مضاف وى ياء متكلم ته نو جائز دى پدې كې وجوه اربعه (١) فتحه د ياء لكه **يا غلامىَ**: (٢): سكون د ياء لكه **يا غلامىْ**: (٣): او حذف د ياء او اكتفاء په ماقبل باندې او دا حذف د يا هله دى چې ماقبل ترينه كسره وى لكه **يا غلامِ**، او كه ماقبل ترينه كسره نه وى نو بيا حذف د ياء جائز نه دى لكه يا فتىَ: (۴): وجه قلب د ياء په الف سره لكه **يا غلاما**، ځکه چې دا قسم منادى كثير الاستعمال ده په كلام د عربو كې نو تقاضا كوى د تخفيف نو تخفيف وكړه دوى په جريان د وجوه كثيرو سره لكن دا څلورم وجې په هغه منادى كې جائز دى چې مشهوره وى په اضافة سره ياء متكلم ته او كه مشهور نه وى په اضافة سره ياء متكلم ته لكه عدوى نو په هغه كې اولى دواړه وجې جائز دى په فتحى د ياء سر او سكون د ياء او اخرى دواړه وجې په كې جائز نه دى چې حذف د ياء او قلب د ياء په الف سره د وجې د عدم شهرت نه:

ويا الهاء وقفا: او مستعمليږي دغه منادى چې مضاف وى ياء د متكلم ته په وجوه اربعو سره سره د ها نه په حالت د وقف كې **وقالوا** او وايې عرب **يا ابى يا امى** په جريان د وجوه اربعو سره سره د وجوه اخرونه **ويا ابت يا امت** قلب د ياء په تا سره د وجې د مناسبة نه په مابين د دې دواړو كې لكه څرنګه چې تا علامه د تانيث راځي په ضريت كې نو يا هم علامه د تانيث راځي لكه ذى او تى شو **فتحا وكسرا** په حال كون د تاء كې چې مفتوح وى د وجو د موافقت د حركة د ياء نه ځکه چې كه په ياء باندې حركت وى نو فتحه به وى او په حال كون د تاء كې چې مكسور وى د وجې د مناسبت د ذات د ياء نه ځکه چې ياء مركب ده د كسرتينو نه او ضمه پكښې هم جائز ده شاذاً ځکه چې دا منادى مفرده معرفه صورةً نو ځکه مصنف دا وجه نه ده ذكر كړې د وجې د قلت نه **ويا الالف:** او وايې عرب په الف سره ياء ابتا يا امتا پدې شان سره چې الف او تاء دواړه عوض دياره دى او جمع په مابين د عوضين كې جائز ده **دون الياء** او نه وايې عرب په ياء سره يا ابتى يا امتى ځکه چې دلته كې لازميږي جمع په مابين د عوض او معوض عنه كې او دا جائز نه ده **ويا ابن ام ويا ابن عم خاصة** او وايې عرب دا دواړه تركيبونه **مثل باب يا غلامى** پشان د باب د غلامى په جريان د وجوه اربعو كې سره د جريان د وجه آخر نه چې هغه خاص دى پدې تركيبونو پورې چې هغه قلب د ياء دى په الف سره او بيا حذف د الف دى او اكتفاء كول دى په فتح د ماقبل باندې نو د دې وجې نه وويل ماتن چې خاصةً او مراد پدې سره هر هغه تركيب دى چې مضاف پكښې ابن يا ابنة وى او مضاف اليه عم او ام وى او هغه دواړه مضاف وى ياء متكلم ته او تخفيف په نسبت سره مضاف او مضاف اليه دواړو ته دى پدې شان

او د لفظ د ابن که بغیرد تاء نه وی او که سره د تاء نه وی او مضاف لفظ د ابن که بغیرد تاء نه وی او که سره د تاء
سره چې مضاف الیه پکښې لفظ د عم او ام وی او مضاف لفظ د ابن که بغیرد تاء نه وی او که سره د تاء
نه وی او دا وجه پنځم پدې پورې خکه خاص شوه چې پدې دوارو ترکیبونو کې کثرت استعمال او طول د
کلام په اضافتین سره او ثقل د تضغیف دی

وترخيم المنادى (١) هر کله چې بعض د احکام مختصه وو د منادی نه ترخیم وو په سعة د کلام کې او په
نثر کې پدې شان سره چې دا ترخیم په سعة د کلام کې نه جاری کیږي ماسوا د منادی نه پس ذکر کړو
مصنف ترخیم په بحث د منادی کې خکه باب منعقد دی دپاره د بیان د احکام مختصو د منادی
(٢) هر کله چې دلته مقصود حکم د ترخیم وو نه تعریف د ترخیم خکه دا ترخیم مذکور دی د دې وجې
نه چې دا یو حکم د منادی دی نه د دې جهت نه چې دا موضوع د باب ده نو حکم یې مقدم کړو په
تعریف باندې (٣) او هر کله چې حکم د شئ موقوف دی په تعریف او وضاحت د شئ پورې نو تعریف
یې ذکر کړو ثانیاً.

بیان د فوائد قیودات: ربط د ماقبل سره د ادی چې باب منعقد دی دپاره د بیان د احکام مختصه د منادی
او یو حکم د احکام مختصو د منادی نه ترخیم د منادی دی.

سوال: بیا اعتراض دی چې ترخیم خو غیر منادی کې هم راځي بیا حکم مختصه څنګه شو؟

جواب: دا دی چې ترخیم په سعة د کلام کې او په نثر کې حکم مختصه د منادی دی او غیر د منادی کې
نه راځي لهذا ربط د ماقبل سره هم راغی (٢) او دفع د اعتراض هم اوشو.

سوال: چې د نحو مسئله به د څه نه معلومه وی چې کومه مسئله کې موضوع بالبحث کلمه او کلام وی
هغه به مسئله د نحو وی او دلته ترخیم المنادی موضوع ده او دا صفت د متکلم دی نه د کلمه نه لهذا دا
مسئله د نحوی نشو (٢) دوی بحث کوی د کلمې نه من حیث الاعراب والبناء او جائز او واجب نه خو دوی
بحث نه کوی او ته وایې وترخیم المنادی جائز؟ **جواب:** دا دی چې دا ترخیم کافیه ملا ذکر کړی دی خکه دا
په خپله یو صفة دی او یو حکم دی د صفات او خصائص د منادی نه په سعة د کلام کې.

سوال: تعریف د شئ ذریعه وی دپاره د بیان د احکام د شئ نو دلته کې جائز حکم د ترخیم دی مخکښې
تعریف پکار وو او بیا وروسته حکم بیانول پکار وو او تا دلته حکم مخکښې بیان کړی دی او تعریف
دی وروسته کړی دی؟ **جواب:** دا دی چې تعریف هله مقدم یې په حکم باندې چې هغه معرف موضوع
بالبحث وی او دلته دا ترخیم موضوع بالبحث نه ده بلکه حکم مقصود دی.

سوال: هر کله چې مقصود حکم د ترخیم دی نه تعریف بیا وروسته تعریف څه له کوی؟

جواب: معرفة د حکم د شئ موقوف وي په معرفة د تعریف د شئ پورې خکه وروسته یې تعریف وکړو نو
تقدیم د حکم کې اشاره ده مقصودیة ته او تعریف کې اشاره ده موقوفیة ته

وترخيم المنادى حذف کول د متکلم جز اخیر لره په منادی کې جائز (١) واقع دی او موجود دی په کلام د
عربو کې (٢) ممتنع نه دی بیا عام دی چې جائز وی لکه نثر کې یا واجب وی لکه شعر کې.

سوال: ترخیم مصدر متعدی دی او مصدر متعدی مضاف کیږي کله فاعل ته او کله مفعول ته او دلته معترض اضافة مفعول ته کوی حذف کول د متکلم منادی لره او دا معنی باطل ده لهذا دلته اضافة نه فاعل ته صحیح دی او نه مفعول ته؟ **جواب:** اضافة د مصدر متعدی فاعل یا مفعول به ته حقیقةً دی او کله کله اضافة د مصدر کیږي مفعول فیه ته مجازاً او دلته اضافة شوی دی مفعول فیه ته

سوال: ترخیم د منادی دوه قسمه دی (۱) جائز (۲) واجب، او ته یواځې جائز وایې؟

جواب: دلته دا جائز په معنی د واقع سره دی (۲) یا جواز په مقابل د امتناع کې دی **وفی غیره** حذف کول د حرف اخیر په غیر د منادی کې واقع دی موجود دی **ضرورة** دوجې د ضرورت شعری نه که ضرورت شعری تقاضا اوه ترخیم به کوی او که ضرورت شعری تقاضا نه وو ترخیم به نکوی، ترخیم په منادی کې مطلقاً جائز دی یعنې په نثر کې هم جائز دی او شعر کې هم جائز دی ځکه مقصود په نداء کې جواب د نداء وی او منادی چې دا متکلم زر فارغ شی د غیر مقصود نه مقصود ته چې هغه جواب دی. مثال د ترخیم فی غیره لکه دا قول د شاعر شو:

دیارُمَیتَ اذمَیۃ تصاحبنا لا یری مثلها عرب ولا عجم

کلی د معشوقی نه دی لیدلی مثل د دی کلی نه عربو او نه عجمو ولې نشته دی اذمیه تصاحبنا ځکه چې میه مونث سره ملګرتیا کړی ده اذمیه اصل کې اذمیت پدې کې ترخیم شوی دی د وجې د ضرورت شعری نه وهو (۱) دا ترخیم د منادی چې مذکور د ی صراحة او مقصود بالبحث دی په اصطلاح د نحات کښې **حذف** حذف کول او اسقاط د متکلم دی یو جز لره **فی اخره** په اخر د منادی کې **تخفیفاً** دپاره د مجرد **تخفیف** بې د علته موجبه للحذف نه او بې د قانون صرفی نه او تعریف د مطلق ترخیم ترینه معلومیږي بالمقایسه. (۲): یا وهو دا مطلق ترخیم چې مذکور دی په ضمن د دې منادی کې او مبحوث دی په ضمن د منادی کې ځکه مطلق مذکور وی په ضمن د مقید کې حذف حذف کول د متکلم دی حرف اخیر د اسم تخفیفاً محض دپاره د تخفیف بې دقانون صرفی نه او تعریف د ترخیم د منادی معلوم شو بالمقایسه.

سوال: دا هو ضمیر چا ته راجع کوی مطلق ترخیم ته راجع کوی او که ترخیم د منادی ته دواړه باطل دی که ته وایې دا ضمیر راجع دی ترخیم د منادی ته او دا تعریف د ترخیم د منادی دی بیا اعتراض دا دی چې معرفة د خاص موقوف دی په معرفة د عام پورې د انسان معنی به مونږ هله اوپیژنو چې اول مونږ د حیوان معنی او پیژنو دارنګې ترخیم دمنادی تعریف به مونږ هله اوپیژنو چې اول مونږ د مطلق ترخیم تعریف اوپیژنو ځکه دا عام دی او معرفت د خاص موقوف وی په معرفت د عام پورې، او که ته وایې دا ضمیر راجع دی مطلق ترخیم ته او دا تعریف د مطلق ترخیم دی بیا اعتراض دا دی (۱) چې مطلق ترخیم مذکور نه دی اضمار قبل الذکر لازم شو او اضمار قبل الذکر جائز نه دی. (۲): دا مطلق غیر مقصود دی تعریف د غیر مقصود اوشو. (۳): د مطلق ترخیم چې تعریف دا شو د ترخیم د منادی تعریف څه دی؟ **جواب:** دا دی چې دا هو ضمیر راجع دی ترخیم د منادی ته دا تعریف دی د ترخیم د

منادى او كه ته وايې معرفة د خاص موقوف دى معرفة د عام پورې جواب دا دى چې معرفة د خاص هله موقوف دى معرفة د عام پورې چې دا عام نه معلوميده د خاص نه او كله چې د عام تعريف د دې خاص نه پخپله معلوميږي بيا تعريف د مطلق ذكر كولو ته ضرورت نشته دى (٢) يا هو ضمير راجع دى مطلق ترخيم ته دا تعريف د مطلق دى او كه ته وايې اضمار قبل الذكر لازم شو او تعريف د غير مقصود راغى جواب دا دى چې مطلق ترخيم مذكور دى په ضمن د منادى كې ځكه مطلق مذكوريږي په ضمن د مقيد كې بيا وايې چې دا خو تعريف د مطلق شو تعريف د ترخيم د منادى څه دى؟ **جواب**: تعريف د هغې معلوميږي مقايسة اى **وهو حذف فى اخره تخفيفاً**.

سوال: تعريف ستا صادق شو يد او دم باندې چې حرف اخير د اسم حذف شوى دى تخفيفاً او ديته ترخيم نه وايې؟ **جواب**: دا دى چې تخفيفاً معنى دا ده چې حرف اخير د دې اسم به حذف شوى يې دپاره د مجرد تخفيف بې دقانون صرفى نه او دلته حذف شوى دى قانون صرفى د وجې نه. هر كله چې فارغ شو مصنف رحمه الله د بيان د حكم او تعريف د ترخيم د منادى نه پس شروع يې وكړه په بيان د شرائط اربعه د ترخيم د منادى كې. او هر كله چې شروط عدمى ډير وو ځكه درې دى او وجودي يو وو پس دى شرائط عدمى مقدم كړو په وجودى باندې ځكه العزة للتكاثر دى.

وشرطه: (١) شرط دپاره ترخيم د منادى (٢) يا شرط دپاره د مطلق ترخيم چې په ضمن د منادى كې موجود دى امور اربعه دى عطف مقدم دى په ربط باندې نه لازميږي حمل د خاص په عام باندې او كه ربط مقدم شي په عطف باندې بيا خبر مقدر دى.

سوال: شرطه مبتدأ **ان لايكون الخ** دا خبر دى دا خو حمل د خاص لازميږي په عام باندې او حمل د خاص په عام باندې بالاتفاق باطل دى؟ **جواب**: د دې دوه جوابونه دى (١) عطف مقدم دى په ربط باندې نه لازميږي حمل د خاص په عام باندې (٢) او كه اومنم چې ربط مقدم دى په عطف باندې بيا شرطه مبتدأ خبر د دې مقدر دې امور اربعة او دا ان لايكون الخ د هر واحد بيان دى.

سوال: شرطه كې كه ضيمر راجع شي ترخيم المنادى ته بيا پدې باندې اعتراض نشتى ځكه دا شرائط د ترخيم قياسى د منادى دى او كه د شرطه ضمير راجع شي مطلق ترخيم ته نو مطلق ترخيم د اشرطونه نه غواړي ځكه وفى غيره ضرورة دى بيا اضافة نه صحيح كيږي؟

جواب: دا دى چې شرطه ضمير راجع دى مطلق ترخيم ته چې هغه موجود دى په ضمن د ترخيم د منادى كې اضافة صحيح شو او اضمار قبل الذكر رانغى.

سوال: بيا پدې باندې اعتراض دى چې ان لا يكون الخ دا ترتيب د عقل نه خلاف دى ځكه دا عدم كون د منادى مضاف وغيره عدمى دى او كون د منادى علم دا وجودى دى او وجودى مقدم وي په عدمى باندې ځكه وجودى اشرف دى د عدمى نه او تا عدمى مقدم كړو په وجودى باندې دا تا د عقل نه خلاف وكړه؟ **جواب**: د ادى چې دى د بل لحاظ كړى دى هغه دا چې شرائط ټول څلور دى دري عدمى يو وجودى، او عدمى او عدمى مقدم كړو په وجود باندې ځكه العزة للتكاثر دى. **ان لايكون الخ**: نه به يې

يا منادى مضافة مضاف نه حقيقةً لكه اضافة معنوى او لفظى شو يا عبدالله يا حسن الوجه او نه حكماً لكه شبه مضاف شو يا طالعاً جبلاً (ولى) ځكه كه منادى مضاف وى حقيقةً يا حكماً متكلم پكښي ترخيم كوى يا به ترخيم كوى په مضاف كښ يا به ترخيم كوى په مضاف اليه كښ كه ترخيم كوى په مضاف كښ نو لازميږي ترخيم په وسط د كلمه كښ په نسبت سره معنى او مصداق ته ځكه د مضاف او مضاف اليه مصداق يو دى پس د علميت نه او كه ترخيم كوى په مضاف اليه كښ بيا لازميږي ترخيم په كلمه اخرى كښ نه منادى كښ په نسبت سره لفظ ته او قواعد د كافيه ملا مستنبط دى د استعمال اكثرى د عربو نه او كه شاذاً چرته ترخيم شوى وى په منادى مضاف كښ په حذف د مضاف اليه سره هغه دى سره منافى نه دى، او تعبير ونه كړو كافيه ملا پدې شان سره چې ويلى وى شرطه ان يكون مفرداً چې تعبير موافق شي معبر عنه سره په عدم كښ ځكه په ترخيم كښ عدم مضاف شرط دى دا تعبير هم ده عدمى وكړو ان لايكون مضافة چې دا تعبير موافق شي معبر عنه سره.

سوال: ته مضاف كښ تعميم كوى چې نه به مضاف وى په اضافة حقيقي سره او نه به مضاف يې په اضافة حكمى سره لنډه غوندى داسى به دى ويلى وى وشرطه ان يكون مفرداً بس خبره خلاصه وه؟

جواب: دا دى چې دا تعبير هم جائز دى او هغه هم جائز ده لكن دى دا تعبير اونكړو دپاره د دې چې تعبير موافق شي دمعبر عنه سره. **ولا مستغاثا:** دويم شرط د عدمى دا دى چې دا منادى به مستغاث نه وى باللام او نه بالالف دواړو دپاره دليل جامعه دا دى منادى مستغاث كښ مطلقاً مقصود زيات والى دى دپاره د مد صوت او حذف منافى دى د زيات والى او مقصد سره او مستقل دليل مستغاث باللام دپاره دا دى هر كله چې اثر د حرف نداء پكښي ظاهر نه شو چې هغه بنا على الفتحه يا بنا على الضمه دى حكماً دا منادى نه شوه دا حكم مختصه د منادى پكښي هم جارى نه شو چې هغه ترخيم دى په آخر دمنادى كښ. او هر كله چې مندوب داخل نه وو په منادى كښ په نيز د مصنف حاجت رانغى اخراج او نفى د مندوب ته او په نيز د بعض چې مندوب داخل دى په منادى كښ هغه خارج دى په نفى د مستغاث سره د وجې د اتحاد دليل نه چې مقصود په مندوب كښ زيات والى دى دپاره د مد صوت او حذف ورسره منافى دى.

سوال: ترخيم لكه څنګه چې په مستغاث كښ جائز نه دى دارنګې ترخيم په مندوب كښ هم جائز نه دى هغه به دى هم نفى كړى وى؟ د دې دوه جوابونه دى (۱) دا دى چې دا سره داخل نه دى په منادى كښ لهذا اخراج ته ضرورت نشته ځكه اخراج فرع د دخول ده (۲) او كه اومنم چې دا داخل دى بيا په نفى د مستغاث سره نفى د مندوب هم راغى د وجې د اتحاد د دليل خروج نه

ولاجملة: دريم شرط عدمى دا دى نه به يې دا منادى جمله پس د علميت نه ځكه جمله چې اوګرځى مقصود پكښي دلالة وى په مضمون خپل او معنى لغوى خپل او شان ورود خپل باندې او حذف مغير او مبطل د مقصود دى چې هغه دلالة دى په مضمون خپل باندې. **ويكون:** شرط رابع يو د امرين وجودين نه دى **اما علما** يا به وى منادى علم يا رجل ووته ځكه علم نه دى اوس علم به ولې وى د دې باعث دوه

دی (١) ځکه نداء علم ته په کلام د عربو کې کثیره دی تقاضا د تخفیف کوی (٢) بل علم د وجې د شهرت نه کیږي مابقي دلیل په ما القی باندې. **زائدة على ثلثة احرف:** او زائد به یې د دریو حرفونو نه کم از کم څلور حرف نه به مرکب وی یا زید او وته ځکه دا اګر که علم دی لکن ذائد علی ثلثة احرف نه دی اوس زائد علی ثلثة احرف به ولې وی چې نقصان لازم نه شي قدر صالحه د اسم معرب یې د علة موجبه نه قدر صالحه یعني ادنی بناء د اسم معرب ثلاثیة ده اوس که مونږ یو حذف کړو ترخیم دوجې نه دوه به پاتې شي دا باطل دی. معرب ځکه وایو چې د مبنی د امرتبه نه ده چې هغه به ثلاثی وی مبنی ثنائی هم راځي او ثلاثي هم راځي

سوال: ید او دم کې خو نقصان راغلی دی قدر صالحه د اسم معرب نه؟

جواب: دا دی چې نقصان د قدر صالح د کلمې نه جائز نه دی یې د علة موجبه نه او دلته نقصان راغلی دی د وجې د علة موجبه نه چې هغه قانون صرفی دی او دا استعمال اغلب د عربو دی کله دینه خلاف راغلی وي هغه شاذ او قلیل وی. **واما بتاء التانیث:** یا به دا منادي متلبس وی په تانیث باندې ځکه تاء وضع شوی ده عارضی نو کافی کیږي دپاره د حذف او سقوط د دې ادنی مقتضی د سقوط او حذف چې هغه تخفیف دی او بقاء د ثبة او شاة په اثنینیة باندې د پخوانه ده نه د وجې د ترخیم نه.

سوال: یا ثبة یا شاة دا متلبس دی په تای تانیث سره پدې کې چې ترخیم اوکړی یاثب یا شا به وایې بیا نقصان راغی د قدر صالح د کلمې نه؟ **جواب:** واضع دا کلمه ثنائی وضع کړی ده دا نقصان د قدر صالحه نه ترخیم د وجې نه ندی راغلی.

سوال: یا صاحبُ دا نه علم دی او نه متلبس دی په تای تانیث سره او دوی ترخیم کوی؟

جواب: دا دی چې ترخیم پدې کې شاذ دی او شاذ سره نه قاعده نه ورانیږي او نه جوړیږي.

فان كان: (١): هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د شرائط د ترخیم نه پس شروع یې وکړه په بیان د کمیة او مقدار د مرخم کې چې هغه درې (٣) دی (١) یا به یو حذف کوی (٢) یا دوه (٣) یا دغه کلمه. (٢): یا هر کله چې فارغ شو مصنف د ترخیم مطلق نه اوس یې شروع وکړه په ترخیم مقید کې **فی اخره** کچرې وي په جانب آخر د هغه منادی کې چې اراده کړی شوی دی ترخیم د دی زیادتان حرفان زائدتان فی حکم الواحد هسې حرفان **زائدتان** چې دا دواړه په حکم د حرف واحد کې وی پدې شان سره چې زائد وی معا علامه دمعیة دا ده چې دا کلمه په حذف د واحد باندې نه یې مستعمل بل ځای کې **کاسماء** لکه اسماء په وزن د فعلاء باندې چې مشتق دی د وسامة حسن ته وایې **مروان** لکه مروان چې په وزن د فعلان دی.

سوال: فی آخره ظرف زیادتان مظروف دلته اتحاد لازم شو په مابین د ظرف او مظروف کې دا باطل دی ځکه ته وایې فان کان فی آخره کچری وی په آخر دمنادی کې حرفان زائدتان آخر خو بعینه دغه حرفان دی لازم شو ظرفیة د شي لنفسه؟ **جواب:** وشو فی جانب آخره په حذف د مضاف سره.

سوال: ته وایې که چرته وی په آخر د دیکښې زیات والی دا زیات والی صالح د مظروفیة نه دی ځکه خارج کې نشته په آخر کې څنګه زیادتان شو؟ **جواب:** دا مصدر مبنی للفاعل عبارت په حذف د

موصوف سره دی، زائد به نې معا پدې سره دوه کلمې اووتی مرجانة او ثمانية دا چا دپاره علم کړی
دې کې دوه حرف زائد دی لکن ترخیم چې کوی یواځې تاء به حذف کوی ځکه دا دواړه په حکم د واحد
په دی ځکه دلته زیات والی ترتیباً دی معاً نه دی
سوال: دا به د څه نه معلومه وی چې زیات والی معاً دی یا ترتیباً دی؟ **جواب:** دا کلمه چې ته مستعمله یې
په دواړه حرفه مستعمله بې یا به دواړه نه مستعملوی که داړه مستعمله وې دا علامه د معیة ده او که
دی کلمه سره یو مستعمل وه او بل ورسره نه وو دا علامة د ترتیب ده اوس والمرجان بې د تی نه مستعمل
او ثمانی حجج کې ثمانیه بې د تی نه مستعمل دی معلومه شوه چې دا زاندتان معاً نه دی.
سوال: اسماء کې دا همزه خو لام کلمه ده بروزن افعال جمع د اسم ده ته څنګه وایې په آخر کې حرفان
زائدتان دی؟ **جواب:** دا دی یو اسماء جمع د اسم ده مشتق دی د سمونه ناقص واوی دی په اصل کې اسماو
وو اُعل بقاعدة دعاء او دا منصرف دی. دویم اسماء دی چې نوم د ښځې دی بروزن فعلاء مثال واوی دی
په اصل کې وسماء وو واو مفتوحه بدل شو په همزه خلاف القیاس دا مشتق دی د وسامة نه حسن الوجه
ته وایې او دا غیر منصرف دی لوجود السببین چې تانیث معنوی او علمیت دی دلته دا بر وزن فعلاء
مونږ صیغه ده صفة مشبه د وسامة نه دی نه جمع د اسم او حرف صحیح یا وی په جانب آخر د منادی کې
چې اراده کړی شوی دی ترخیم د هغه حرف صحیح اخلی بیا عام دی حقیقتا وی او که حکماً وی لکه
مدعو او مرمی شو ځکه د واو او یا نه مخکښې حرف ساکن وی دا په حکم د صحیح کې دی **قبله مدة**
مخکښې ترینه مده زائده وی **وهو اکثر الخ** او حال دا دی دا اسم به زیات وی د څلورو حروفو نه.
سوال: سعلاة یو کلمه ده آخر تاء ده هغه حرف صحیح دی او ماقبل مده دی ستا د قاعده تقاضا دا ده
دواړه به حذف کوی هلته خو یواځې تاء حذف کیږي؟
جواب: دا دی چې مراد د حرف صحیح نه حرف اصلی دی او دلته دا حرف صحیح زائد دی
سوال: په مدعو کې ستا حکم موجود دی چې دواړه به حذف کوی اواخر کې حرف صحیح نه دی موجود
ځکه په آخر کې حرف علة دی؟ جواب: حرف صحیح عام دی حقیقة وی او که حکماً وی او دا حکماً
صحیح دی ځکه لام کلمه په ځای چې حرف علة راشي او مخکښې ترینه ساکن وی هغې ته جار مجری
الصحیح وایې قبله مد مطلق حرف علة ساکنه ته لین وایې بیا مخکښې حرکت ورسره موافق وی هغې
ته مده وایې بیا مده په دوه قسم دی اول اصلی که حروف اصلیه وو په ځای راغلی وی.
(۲) زائده که حروف اصلیو په ځای نه وی راغلی **وهو اکثر الخ** او حال دا دی چې دا منادی یا دا اسم
زیات وی د څلورو حروفو نه چې لازم نه شي نقصان د قدر صالحه د کلمه بې د علة موجبه نه او کلمه
رباعی وی بیا به یو حذف کوی احتراز یې وکړه ثمود نه چې پدې کې به یا ثمو وایې **حذفتا** هر چې دی
صورت اول کې چې رافع موافق شي وضع سره ځکه په زیادت کې هم معی دی نو په حذف کې به هم
معی شی صورت ثانی کې ولې دواړه حذف کوی چې وارد نه شي پدې متکلم باندې مثل مشهور ثلث
علی الاسد بلت عن النقد چې حرف صحیح حذف کوی چې دا قوی دی مخکښې حرف علة نه حذف
کوی چې دا ضعیف دی یا منصور کې به یا منصُ وایې یا ادریس کې به یا ادر وایې دا مثال دی د مده

وان كان مركبا كچرې وې دغه منادې چې اراده كړې شوې دې ترخيم د هغې مركب غير د تركيب اسنادي او اضافي نه ځكه دا خارج دې په قرينې د شرائطو مذكوره وو سره صورتونه د دې دوه دې مركب تعدا دې او مركب امتزاجي **حذف الاسم الاخير** ځكه دا اسم اخير پشان د تاى تانيث دې په عروض كې د ماقبل نه ځكه دا ماقبل كلمې سره عارض لګيدلې دې لكه تا تانيث حذف كولې شي په ترخيم كې دارنګې دا حرف اخير حذف كولې شي په ترخيم كې لك يا بعلبك كې به يابعل وائې په يا خمسة عشر كې به يا خسمة وايې په حال كون د دوارو كې چې علم واخلې **وان كان** كه وې دا منادې چې اراده كړې شوې دې ترخيم د هغه **غير ذالك** غير د مذكور، نه چې امور او صور ثلاثه دې فحرف واحد اى فيحذف حرف واحد بيا حذف كولې شي د دې اخير د منادې نه حرف واحد ځكه مقصود حاصليږي په حذف د حرف واحد سره چې تخفيف دې علة موجبه دپاره د اكثر نشته دې **فحرف واحد:** موصوف صفت دا نائب فاعل دې دې دفعل مقدره دپاره اى فيحذف حرف واحد جمله اسميه نه ده چې خبر د مبتدأ محذوف شي دپاره د مطابقة د ما قبل جزا سره.

او فعل محذوف ماضي نه ده ځكه فعل ماضي مثبت چې جزا واقع شي فا پكښې ممتنع ده.

سوال: وان كان غير ذلك شرط فحرف واحد دا جزا او جزا جمله وې او دا مفرد دې؟

جواب: دا نائب فاعل دې دپاره دفعل محذوف.

سوال: خبر د مبتدأ محذوف ولې نه ګرځوې؟ **جواب:** دپاره د موافقة په مابين د جزائين كې مخكښې حذفتا جزا جمله فعليه ده دلته كې دا فحرف واحد يې نائب فاعل لپاره د فعل محذوف وګرځوه دې لپاره چې دا د هغې سره موافق شي.

سوال: دا چې هغې سره موافق كوې بيا فعل مقدر ماضي ولې نه را اوباسى؟

جواب: دا جمله فعليه مضارعه جزا ده نه جملة فعليه ماضيه ځكه ماضي مثبت چې جزاء واقع شي په هغې كې فا ممتنع وې او دلته فا راغلې ده معلومه شوه چې دا جملة فعليه مضارعه ده نه ماضيه.

سوال: ذلك سره اشاره كيږي مفرد مذكر ته او دلته خو درې دې؟

جواب: دا دې ذلك سره اشاره شوې ده په تاويل د مذكور سره.

هر كله چې فارغ شو مصنف د بيان د مرخم نه اوس بيانوې استعمالين د منادې مرخم چې (۱) يو استعمال اكثرې دې (۲) استعمال قليل دې **وهو** دغه منادې چې جزا اخر محذوف دې د وجې د ترخيم نه **فى حكم الثابت** په حكم د هغه منادې كې دې چې مذكور او ملفوظ وې بجميع اجزائه پدې شان سره چې دا مقدر كالمذكور دې ګڼې لام كلمه نه ده حذف شوې **على الاكثر** په استعمال اكثر د عربو، پدې باندې بالاتفاق تفريع دا دې ماقبل محذوف نه به باقي يې په حالة اصلي وضعي باندې او پدې تفريع باندې د تفريع دې **فيقال** پس ويلې شي يا حارِ په كسرې د را سره **يا حارث** كې پس د ترخيم نه ځكه داد لام كلمه نده په وسط كې ده دا باقي دې په خپل حالة اصلي باندې **يا ثمو** به وايې په يا ثمود كې په واو سره پس د ضمې نه د وجې د عدم وقوع د واو نه په طرف كې پس د ضمې نه ځكه دلته هغه لام كلمه محذوف په

حکم د مذکور کې ده نو دا باقي پاتې شو په خپل حالة اصلي باندې یاکرو به وایې په فتح د واو سره بې د ابدال د الف نه په **یا کرا** کې لوجود مانع الاعلال وهو وقوع الساكن بعدها وهو الالف المحذوفة التي هي في حکم الثابتة

سوال: نه وایې وهو دا منادی مرخم فی حکم الثابت په حکم د منادی موجود کې ده دا منادی مرخم هم موجود ده دا تشبیه به ستا هله صحیح وی چې دا منادی مرخم موجود نه وی دلته تشبیه د موجود موجود سره راغی د دې څه مطلب دی؟ **جواب:** دا دی فی حکم الثابت معنی دا ده چې په حکم د هغه الخ

سوال: بیا د استعمال کافیه ملا ولې مقدم کړه؟ **جواب:** علی الاکثر دا علة د تقدیم وقد یجعل کلمة براسه کله کله گرځولی شي دا منادی مرخم اسم مرفوع براسه په جعل د محذوف سره نسیاً منسیاً جاري کیږي ماقبل باندې حکم دلام کلمه دا پکښې تفریع فیقال وایې عرب یا حار مبنی علی الضمه په یا حارث کې پس د ترخیم نه څکه دا را لام کلمه ده څکه روستو حرف حذف شوی دی نسیاً منسیاً لکه دا مستقل لفظ موضوعه براسه شو او منادی مفرد معرفه مبنی علی الضمه یې **یا ثمی** په ابدال د وا و په یا سره څکه واو واقع شوی دی په آخر د اسم معرب کې پس د ضمه نه او لام کلمه د دې حذف شوی ده نسیاً منسیاً پس واو بدل شو یاء سره او ماقبل ضمه بدل کړه کسری سره په قاعدی د تبن باندې **ویا کرا** به وایې په ابدال د واو الف سره څکه واو متحرك ماقبلش مفتوح دی او مانع د اعلال نشته دی څکه روستو الف حذف شوی دی نسیا منسیاً هر کله چې مندوب شریك وو په اکثر احکامو کې د منادی سره نو باطل نه شو حصر د حذف په مواضع اربعو کې څکه دا د اخل دی په منادی کې او هر کله چې تعریف او بعض احکام کې ممتاز وو د منادی نه او کثیر وو په استعمال د کلام د عربو کې داخل یې نکړو په افرادو د منادی کې ذکریې کړه استقلالاً

سوال: مندوب د افراد دمنادی نه وایې او که داخل وایې او که افراد د منادی نه وایې حصر وران شو او که داخل وایې بیا مستقل ولې ذکر کوی؟ **جواب:** دا دی چې دا ذوجهتین دی (۱) که دیته گورو چې مندوب اکثر احکام کې شریك دی منادی سره اکثر لره حکم د کل دی داخل دی په منادی کې حصر وران نه شو (۲) او که دیته گورو چې بعض احکام کې جدا دی د منادی نه او کثیر دي په استعمال د کلام د عربو کې داخل نه دی په منادی کې څکه جدایې مستقل ذکر کړو.

سوال: یا ماءُ یا ارضُ خو حقیقةً او حکماً قید سره په منادی کې داخلوی مندوب ولې نه داخلوی؟

جواب: یو شي چې داخل کوي په بل شئ کې دوه شیان غواړي (۱) صحت د تعریف تاویلا (۲) قلة استعمال هغه دواړه پکښې نشته دی **وقد استعملوا** بې شك مستعمله وی عرب **صیغة النداء هغه** صیغه چې وضع شوی ده نداء دپاره حقیقةً او مستعمله یې په مندوب کې مجازاً (۲) هغه صیغه چې مستعمل شوی ده په منادی کې کثیراً او دوي مستعمله یې په مندوب کې قایلاً په نسبت سره نداء ته چې هغه یا ده خاصةً څکه یا دوچې د شهرت نه او کثرت نه اولی ده په تعمیم سره.

سوال: صیغة النداء باندې اعتراض دی چې صیغه مضاف ده ندا ته مطلق حرف نداء مستعملیږي په مندوب کې ستا عبارت نه دا معلومه شوه او حال دا دی تتبع د استعمال د عربو دوي کړی دی یواځې

دپاره دي مراد ترينه يا ده فقط
يا يې مندلی دی؟ **جواب:** دا دی چې اضافة عهد دپاره دی مراد ترینه یا ده فقط خاص دی په منادی کې؟
سوال: بیا دا یا ولي عامه شوه او نور خاص دی په منادی کې؟
جواب: دا دی خکه یا مشهور ده او شهرت د وجې نه دا اولی ده په تعمیم سره.
سوال: بیا اعتراض دی چې صیغة النداء نه یا مراد دی او فرض منصبی اختصار وی بیا داسی ولې نه ویل واستعملوا یا فی المندوب؟ **جواب:** پدې تعبیر عامه کې دوه (۲) نکتې دی (۱) دی صیغة النداء کې اشاره شوه چې استعمال د یا په منادی کې حقیقة دی او مندوب کې مستعملیږي مجازاً او که دی داسی ویلی وي یا فی المندوب دیکښې دا توهم وو چې دواړه استعمالین حقیقة دی.
(۲): بعض حضرات وایې دواړه استعمال حقیقة دی بیا اضافة کې نکته څه ده.
جواب: پدې اضافة کې اشاره ده چې دا استعمالین کثیر دی او هغه استعمال قلیل دی اود مندوب دا مفهوم لغوی دوه دی (۱) مفهوم لغوی اجمالی ند به کرده شده (۲) مفهوم لغوی تفصیلي د مندوب دا دی چې میت یبکی علیه احد ویعد محاسنه څه دپاره اغراض یې (۲) دی (۱) لیشارکه الناس (۲) ویعذره چې معذور وګنی ده لره په ند به کې غالباً قانون دا دی چې معنی لغوی لنده وی او معنی اصطلاحی اوګده وی او دلته مسئله بالعکس ده چې معنی لغوی اوګده ده او معنی اصطلاحی لنډه ده **وهو** دا مندوب په اصطلاح د نحو کې **المتفجع** اسم صفتی دی موصوف به را اویاسی په قرینی د مقام سره اسم خکه موضوع د دوي الفاظ دی اسم دی چې غم خوری کولی شي **علیه** په مسمی د ده باندې (۱) دوجې د عدم د مسمی نه (۲) یا دوجې د وجود د مسمی نه آله او صیغه د توجع بیا په کلمې د یا سره چې دا مشترکه ده **اووا** یا کلمې د واو سره چې خاص ده.
سوال: بیا پدې علیه باندې اعتراض دی چې تعریف ستا جامع نه شو خکه مندوب په دوه قسمه دی (۱) یو له ورځی چې مندوب عدمی دی (۲) دویم له نه ورځی چې مندوب وجودی دی معترض صاحب وایې علیه دا صله د تفجع ده زید مړ شوی دی پدې باندې تفجع کولی شي او یو سړی باندې مصیبة راشي مال هلاکیږي هغه اوایې وامصیبتا دی مصیبة ته هم مندوب وایې او دلته دا ستا تعریف نه صادقیږي؟
جواب: دا دی چې د اعلی اجلیه دی دا وجود د مسمی علة باعثه دی چې دی جاړی لکه یا زید اه شو اوس هر ما به الاشتراک ما به الامتیاز غواړي دا یا مابه الاشتراک دی په مابین د منادی او مندوب کې اوس مابه الامتیاز څه شي دی ورلره مابه الامتیاز بیانوی **واختص** ممتاز دی دا مندوب د منادی نه لفظاً او علامة په وجود خارجی کې **بواو** په کلمه د واو سره «دا واو مراد اللفظ دی خکه حرف جر داخل شوی دی» پدې شان سره چې دا مندوب کې مستعملیږي منادی کې نه مستعملیږي.
سوال: ته وایې مختص دی دا مندوب په کلمې د واو پورې دا مدخول د باء په لغة کې مقصور علیه وی بل شی به مختص یې دا مدخول به مختص نه یې نو د دې ترجمه داشوه چې دا مندوب مختص دی واو پورې او دا واو عام دی نه دی مختص مندوب پورې دیکښې دوه نقصانه دی (۱) مقصور علیه عام وی دینه معلومه شوه چې دا واو عام دی مندوب کې مستعملیږي او منادی کې هم مستعملیږي واو خو

مختص دی مندوب پورې (۲) مقصور خاص وی او بند وی مقصور علیه پورې دینه معلومه شوه چې مندوب بند دی واو پورې او دا معنی باطله ده ځکه مندوب لکه ځنګه چې واو سره راځي دارنګې یا سره هم راځي د دې دوه جوابونه دی. **جواب:** (۱) یو دا جواب کوی چې دلته واختص په معنی د وامتاز سره دی دا باچې صله د امتیاز راشي هلته مسئله بالعکس ده لکه مونږ وایو وامتاز الانسان بالضاحك دا ضحك مختص دی انسان پورې نه انسان (۲) د هغوی جوابونه دا دی چې با باب د اختصاص نه روستو او تخصیص د باب تفعیل نه روستو راشي هلته بالعکس وی یعنې مدخول د با مقصور او ماقبل مقصور علیه **وحکمه** اثر مرتبه مندوب باندې چې اعراب او بنا دی **حکم المنادی** پشان د اعراب او بنا دمنادی دی پدې شان سره چې دا مندوب واقع دی یو قسم د اقسام د منادی نه.

سوال: ته وایې حکم د مندوب حکم د منادی دی د یو حکم **بل ته نقل** کیږې نو د منادی حکم خو نه دی نقل شوی مندوب ته چې ته وایې حکم دمندوب حکم د منادی دی؟ **جواب:** دا دې چې پدې کې تشبیه ده ای حکم فی الاعراب والبناء کحکم المنادی دی ماتن چې کوم ذکر کړی دی دیته تشبیه بلیغ وایې.

سوال: د منادی نکره حکم نصب دی او دلته دا حکم نشته دی ځکه نکره مندوب نه واقع کیږې لهذا دا تشبیه دی **غلط** ده؟ **جواب:** دا دی چې حکم د مندوب پشان د حکم د منادی دی پدې شرط سره چې دا مندوب واقع وی یو صورت د صورت د منادی نه نه مطلقاً هله به د هغې حکم اخلی او کمه نوع دمنادی چې دا مندوب نه راځي د هغې حکم به اوس مفرد معرفه یې مبنی علی الضمه به یې وازید او که منادی مضاف یې منصوب به یې لکه واعبدالله او نکره مفرده مندوب نه واقع کیږې د هغې حکم نه اخلی. ولك سره غرض د مصنف بیان د تغیرات دی په آخر د مندوب کې **ولك** ای جاز لكُ جائز دی ستا دپاره **زیادة الالف** زیادت د الف فی آخره په آخر د مندوب کې

سوال: دا زیات والی د الف په آخر د مندوب کې ولې جائز دی په شریعت د نحو کې؟

جواب: دپاره د مدد صوت چې مقصود دی په ند به کې؟

جواب: مد صوت خو حاصلیږی مطلق زیات والی د حرف علت سره بیا دا الف ولې مختار کړه

جواب: او الف مختاره شو د وجې د خفت نه په نسبت سره اخرین ته.

لان خفت اللبس: که ته یریږی د التباس نه په نسبت سره مخاطب ته په وخت د زیات والی د الف کې نو عدول به کوی د دې الف نه هغه حرف علت ته چې موافق وی حرکت د ماقبل سره پدې شان سره که ماقبل کې کسره وه یاء به زیاتی کوی او که ماقبل کې فتحه وه الف به زیاتی کوی او که ماقبل کې ضمه وه واو به زیاتی کوی. نفس زیاتی والی د حرف علت دپاره د مد صوت چې مقصود دی په ندب کې، او عدول د الف نه واو یاء ته دپاره د دفع د التباس. کله چې ته اراده وکړی د ندبی د غلام د مخاطب نه **قلت** وایې به ته **واغلامکیه واغلامکاه** به نه وایې دپاره د دې چې لازم نه شي التباس په مابین د مذکر مخاطب او مؤنث مخاطبی کې. او کله چې ته اراده وکړی د ندبی د غلام مخاطبین ته به وایې واغلامکموه په زیادت د واو سره واغلامکما به نه وایې دپاره د دې چې لازم نه شي التباس د تثنیه مذکر سره.

سوال: فَان خفت اللبس دا شرط قلت او دا جزا دی او قانون دا دی چې جزا لازم وی شرط سره اوس ته چې ویریدلی د التباس نه دا لازمه خو نه دی چې ته به واغلامکیه وایې یا غلامکمو به وایې نه د واو لازم دی او نه دا یا لازم ده بلکه کله به واوئی او کله به یاوی نو دلته لزوم نشته دی او قانون دا دی جزا لازم وی شرط سره؟ **جواب:** دا دی چې خفت اللبس دا شرط دی جزا مقدره ده عدلت او قلت جزا ده د شرط مقدر، اذا اردت الندبة.

سوال: ته وایې که التباس نه ویریدلی عدول به کوی د دې الف نه هغه حرف علت ته چې موافق وی حرکة د ماقبل سره اوس واغلامکیه کې خو منم اصل ك.ې واغلامك وو بیا دا یا زیات شوې ده موافق د حرکة د ماقبل چې **هغه** کسره ده او دا واغلامکموه خو اصل کې واغلامکم دی دلته خو مخکښې ضمه نشته نو د لته دا واو څنګه راوړی؟ **جواب:** دا دی چې دا میم اصل کې مضموم وو نو حکماً په میم باندې ضمه ده، دا هاء خو پدې مثالونو کې راغلی ده د هغې دپاره باعث بیانوی **ولك** ستا دپاره جائز دی **الهاء** الحاق او زیات والی د هاء په آخر د مندوب کې **فی الوقف** په حالت د وقف کې (۱) دپاره د اظهار او حفظ د مداتو چې مقصود دی (۲) دپاره د دې چې فوت نه شي مقصد چې هغه مدد صوت دی (۳) دپاره دفع د التباس په مابین د وقف او وصل کې **ولایندب** ندبه نه شي کولی تفجع نه شي کولی په متفجع علیه عدمی باندې په مطلق اسم سره **الالمعروف** مګر نه به کولی شي په هغه اسم سره (۱) چې اطلاق دهغې معروف او مشهور دی عرف عام کې پدې مسمی باندې (۲) یا دا مسمی معروف وی پدې اسم سره په عرف عام کې بیا برابره خبره ده چې علم وی او که نه وی دا علمیت شرط نه دی

فلا یرد بوامن حفر بیر زامزماه وامن قلع باب خیبراه

دپاره د دې چې دا نادب معذوره او ګڼلې شي په ندبه کې او خلق شریك شي ده سره په ندبه کې مقصد به حاصل شي او که غیر مشهور یې بیا د امقصد نه حاصلیږی.

سوال: دا مصیبتاه هلته خو ندبه شویدې او دا مصیبة مشهور نه دی؟

جواب: دا دی چې متفجع علیه وجودی کې دا شهرت شرط نه دی متفجع علیه عدمی کې دا شهرت شرط دی دا پکښې تفریع شوه، **فلایقال** نه شي ویلی **وارجلاه** څکه دا رجل لفظ نکره ده وضع شوې ده مسمی غیر معین دپاره ذهن د مخاطب ذهاب نکوی د دې اسم نه یو مسمی معین ته **وامتنع وازید الطویلاه** سره عرض د ماتن بیان اختلاف دی په مابین د مذهبین کې چې یو مذهب د جمهور دی او بل مذهب د یونس نحوی دی (۲) او اظهار د ماهو المختار چې هغه مذهب د جمهور دی، ممتنع دی زیات والی د حرف علت مده دپاره د مد صوت په آخر د صفت د مندوب کې لکه وازید الطویلاه شو په مذهب د جمهور باندې څکه دا حرف مده به زیاتی ګوي دپاره د مدد صوت په آخر د مندوب کې مخکښې ویلی شوی وو او ولك زیادة الالف فی آخره او صفت کلمه اخری ده نه دی آخر د مندوب، لفظا **خلافا** او نسبت د خلاف کړی شوي دی جمهورو ته داسی خلاف چې هغه ثابت دی **لیونس** یونس نحوی لره هغه وایې زیات والی د حرف مده الف دپاره د مد صوت په آخر د صفت د مندوب کې جائز دی

دلائل د هغې دوه دی (۱) دلیل عقلی (۲) دلیل نقلی، دلیل عقلی چې قیاس دی دا ترکیب توصیفی په ترکیب اضافی باندې په ترکیب اضافی کې خو د مضاف الیه په آخر کښې زیات والی جائز دی سره د دینه چې د مصاف او مضاف الیه په مینځ کې تغیر مصداقی دی نو زیات والی په آخر د صفت کې دا هم جائز دی سره د اتحادی مصداقی نه په مابین د موصوف او صفت کې.

او دلیل نقلی: اوله دا ترکیب دی چې منقول دی د عربو نه واجمجتی الشامیتناه ای ځما دوه کاسو هسې دوه کاسو چې هغه منسوب دی شام ته، چې جمجمتی مندوب دا موصوف شامیتیناه ورلره صفت او دا الف زیاتی شوی دی په آخر د صفت د مندوب کې چې شامیتیناه دی پس معلومه شوه چې زیات والی د الف جائز دی په آخر د صفت د مندوب کې؟

جواب: د طرف د جمهورو د دلیل عقلی نه دا دی چې موضوع بالذات د نحویانو الفاظ دی او مضاف او مضاف الیه د وجې د شدت اتصال نه په اعتبار د لفظ سره کلمه واحده ده د دې د وجې نه چې مضاف او مضاف الیه د وجې د شدت د اتصال نه په منزله د کلمه واحد دی په اعتبار د لفظ سره حذف کیږی د مضاف نه متم د کلمه چې هغه تنوین یا نون د تثنیه او جمع دی د وجې د اضافة نه نو زیات والی د حرف مده په اخر دمضاف الیه کې دا لکه زیات والی دی په آخر د مندوب کې او صفت او موصوف کلمتین مستقلین دی لفظاً د دې وجې نه حذف کیږی د موصوف نه تنوین یا نون تثنیه معلومه شوه چې دا کلمتین مستقلین دی نو زیات والی د حرف مده په آخر د صفت د دی مندوب کې دا زیات والی کلمه اخری کې دی نه دی په آخر د مندوب کې لهذا قیاس ستا قیاس مع الفارق دی. او جواب د دلیل نقلی نه دا دی چې دا ترکیب شاذ دی او شاذ باندې نه قاعده ورانیگی او نه جوړیږی.

خلاصه د ماسبق دا ده چې پدې مقام کې (۳) مادی دی دوه اتفاقی یوه اختلافی (۱) د مضاف الیه په آخر کې حرف مده زیاتی کول اتفاقی دی (۲) د موصوف په آخر کې حرف مده زیاتی کول داهم اتفاقی دی وازیداه الطویل (۳) خو د صفت په آخر کې حرف مده زیاتی کول دپاره د مد صوت دا ماده اختلافی ده جمهور په نیز باندې دا ممتنع ده په شریعت عربی کې او یونس نحوی په نیز باندې دا جائز ده دلائل د هغې دوه دی (۱) دلیل د ده دپاره قیاس دی چې دا ترکیب توصیفی قیاس کوی په ترکیب اضافی باندې او هغه خو تاسو هم منی او علة مشترکه اتحاد دی بلکه اتحاد پدیکښې زیات دی لاتحادهما فی المصداق بخلاف المضاف والمضاف الیه.

(۲): دلیل نقلی واجمجتی الشامیتیناه جمهور جواب کوی دا قیاس مع الفارق دی ځکه موضوع بالذات د نحویانو الفاظ دی او مضاف او مضاف الیه کې شدت اتصال دی په اعتبار د لفظ سره او موصوف او صفت کې انفصال دی په اعتبار د لفظ سره حرف فاصل بین الموصوف والصفة واقع کیږی لکه تنوین او نون د تثنیه او جمع شو بخلاف المضاف و المضاف الیه واما قولهم واجمجمتی الشامیتیناه فشاذ. اوس ثمره د خلاف څه راووته ثمره د خلاف دا راووته چې جمهور وایې وازیداه الطویل به وایې وازید الطویلاه به نه وایې او یونس نحوی وایې د دې متکلم خوښه ده چې وازیداه

الطويل وابې او که وازید الطویلاه وابې دواړه جائز دی. بیا پدې وامتنع باندې دوه اعتراضونه دی (۱) امتناع او وجوب جواز او حرمت دا صفات د فعل اختیاری د مکلف نه دی دا ترکیب خو فعل د متکلم نه دی دا ترکیب څنګه ممتنع دی؟ **جواب:** دا زیات والی قید څکه راوباسو په ترجمه کې چې ممتنع دی زیات والی د حرف مده دپاره مدد صوت په آخر دصفت د مندوب کې او دا زیات والی فعل د متکلم دی (۲): **جواب:** دا ترکیب خو ممتنع نه دی، دا ترکیب خو موجود دی؟ **جواب:** دا دی نسبت د امتناع دی کل ته په اعتبار د جز سره دی چې هغه زیات والی د الف دی په آخر د صفت د مندوب کې

هر کله چې فارغ شو مصنف د تفصیل د احکامو د مندوب نه په ضمن د احکامو د منادی کې اوس یې بیا شروع وکړه په بعض احکام د منادی کې **ویجوز** جائز دی **حذف** د حرف نداء سره د بقاء دمنادی نه په وخت د وجود دقرینې د الی کې په تعین د محذوف باندې په هر وخت کې یا د هر اسم سره **الا** مګر جائز نه دی حذف د حرف نداء قیاساً او اطراداً فلا یرد بانتم هاؤلاء تقتلون (۱) ترکیب دا دی انتم مبتدأ تقتلون خبر دی هاؤلاء منداء ده اصل کې یا هاؤلاء او جمله معترضه ده بین المبتدأ والخبر (۲) او که انتم مبدل منه ها،لاء بدل شي بیا اعتراض نه وارد یږی **مع اسم الجنس** په وخت د معیة د حرف نداء د اسم جنس سره برابره خبره ده چې پس د حرف نداء نه معرفه وی لکه یا رجل او که نکره وی لکه یا رجلاً خذ بیدي والاشارة دارنګې جائز نه دی په وخت د معیة او دخول د حرف ندا په اسم اشاری باندې قیاسا او اطراد څکه ندا اسم جنس او اسم اشاری ته قلیله ده په نسبت سره معرفی ته تقاضا نه کوی دخفت او حذف د حرف نداء باندې باعث تخفیف دی (۳) او ذهن د مخاطب ذهاب نه کوی کون د دیو منادی ته سره د تقدیر د حرف نداء نه. **والمستغاث والمندوب:** دارنګې جائز نه دی حذف د حرف نداء د مستغاث او د مندوب نه څکه مقصود پدې دواړو کې زیات والی دی دپاره د مد صوت او حذف د حرف نداء منافی دی د دې مقصد سره باقی پاتې نه شو مګر معرفه معرفه چې منادی واقع شي حذف د حرف نداء د هغې نه جائز دی په وخت د وجود د قرینې د الی کې په تعین د محذوف باندې د هغې غالباً مواضع (۴) دی (۱) علم منادی واقع شي د هغې حرف نداء حذف جائز دي بیا سره د عوض نه وي لکه اللهم (۲) یا بې دعوض نه وي لکه **یوسف اعرض عن هذا** (۲) د هغوی نه ای موصوفه چې منادی واقع شي **ایها الرجل** ای یا ایها الرجل (۳) د هغوی نه موصول چې منادی واقع شي من لایزال محسناً احسن الی ای یا من لایزال (۴) نکره چې مضاف شي معرفی ته او منادی واقع شي غلام زیدافعل ای یا غلام زید. دې دریو کې قرینه د تعین توجه د خطاب دی اسم ظاهر ته او خطاب په عربی کې دوه طریقې سره کیږی (۱) ضمیر خطاب سره (۲) حرف نداء سره او اسم ظاهر دقبیلې د غیوبات نه دی اما ایها الرجل کې دا ترکیب کذائی کثیر دی په نداء کې دا اکثریة قرینه ده چې دا منادی ده او حرف نداء حذف شوی دی **وشذ** دا جمله مستانفه جواب د سوال دی.

سوال: کافیه ملا ویلی دی ویجوز حذف حرف النداء الامع اسم الجنس دا قاعده ستا منقوضه شوه پدې ترکیب سره؟ **ماتن جواب:** وکړه چې شاذ دی حذف د حرف ندا د اسم جنس نه نسبت د شذوذ کل ته په

اعتبار د جز سره دی اصبح ليل اى صر صباحاً يا ليل سبا كه اى شپې وافتد مخنوق فديه راكه اى خفى كړى
شوي واطرق كرا فان النعامة فى القرى دلته كې حرف ندا حذف شوى ده او منادى اسم جنس دى دا شاذ
دى او شاذ باندې نه قاعده جوړيږي او نه ورانيږي، ليكن پدې كرا كې درې شذوذه دي (١) حذف د حرف
ندا، د اسم جنس نه (٢) ترخيم غير منادى كې (٣) جعل د محذوف نسياً منسياً او جعل د منادى اسما
برأسه وقد يحذف المنادى او كله حذف كولى شي منادى سره د بقاء د حرف ندا نه لقيام قرينة په وخت د وجود د
قرينه داله كې په تعين د محذوف باندې جوازا چې سد مسد نشته دى مثال لكه الا فاسجدوا شو قرينه د
تعين د محذوف دخول د حرف نداء دى ځكه دخول د حرف نداء په فعل باندې بالذات ممتنع دى معلومه
شوه چې دلته كې منادى مقدره دى خو مثال كې فرض هم كافى كيږي دلته كې قراتونه صحيحه دوه دى
(١) الاحرف مشدد واخلى بيا يسجد مضارع ده او دا ياء حرف مضارعة دى او مضارع منصوب ده
بحذف النون اصل كې يسجدون وو په حرف ناصب سره چې ان دى ځكه اصل كې ان لا وو بيا دا نون بدل
شوى دى لام سره لا په لام كې مدغم شوى دى بيا مثال نه جوړيږي. (٢) او كه الاحرف تنبيه شي او يا حرف
نداء اسجد واجواب نداء شي بيا مثال جوړيږى اى الاقومي اسجدوا او دا مثال بنا دى په يو قرأة باندې
والثالث: موضع ثالث دا موضع اربعه وونه چې واجب دى پكښې حذف د عامل ناصبه د مفعول به په حذف
وجوبى قياسى سره ما موضع د هغه مفعول به دى په قرينې د مقام سره او د روستو كل اسم په تعريف كې
ذكر د عام دى مراد ترينه خاص مجاز مرسل دى (٣) يا ما موضع د هغه مفعول دى مطلقاً او دا مطلق
موضوع او مبحوث دى په ضمن د مفعول به كې هسې مفعول به اضمر چې مقدر كړى شوى دى عامله
عامل ناصبه د ده على شريطة التفسير او دا تقدير د عامل بنا دى په يو شرط باندې چې هغه تفسير د دې
عامل دى په مابعد كې او دلته كې حذف د عامل واجب دى دپاره د دې چې لازم نه شي جمع په مابين د
مفسر او مفسر كې چې دا جمع باطله ده ځكه دى سره لازميږي لغويت د مفسر هغه ځاى كې چې دا ابهام
ناشي دى د حذف نه او فائده جديده مفسر كې نه وى ماسوا د بيان نه او مقصد د متكلم پدېكښې
تفصيل بعد الاجمال دى چې اوقع دى په ذهن كې (٢) يا موضع د هغه مفعول به دى چې مسمى كولى
شي په اصطلاح د نحو كې په ما اضمر عامله على شريطة التفسير سره

سوال: الثالث اسم صفتى موصوف غواړي اى الموضع الثالث ما عبارت د موضع نه وايې او كه د
مفعول به نه وايې دواړه باطل دى ځكه كه مفعول به نه وايې حمل نه صحيح كيږي او كه ما عبارت د
موضع نه وايې حمل خو صحيح كيږي ليكن وروسته اضافة د عامل دى ضمير ته نه صحيح كيږي؟

جواب: دا دى چې ما عبارت دي مفعول به نه او دا عبارت په حذف د مضاف سره دى.

سوال: دا كلمه د ما كې ابهام دى په اعتبار د مصداق سره لهذا ما عبارت د مفعول به نه وايې او كه د
مطلق مفعول نه وايې او كه د اسم نه وايې ټول باطل دى ځكه كه ما عبارت د مفعول به نه وايې وروسته
تعريف نه صحيح كيږي ځكه ما اسم عام دى تعريف د خاص راغى په عام سره او تعريف د خاص په
عام سره باطل دى ځكه تعريف كې مساوات شرط دى او كه ما عبارت د اسم نه وايې يا د مطلق
مفعول نه نو خروج د بحث نه راغى؟ **جواب:** دا دى چې دواړه ټيك دى (١) عبارت د مفعول به نه دى او

وروسته کل اسم کي مجاز مرسل دی ذکر د عام دی او مراد ترينه خاص تعريف د مساوي دی مساوي
سره (۲) يا ماعبارت دی د مطلق مفعول نه بيا وروسته کل اسم نه هم مطلق اسم مراد دی بيا تعريف د
مساوي مساوي سره راغی او که نه وايي خروج د بحث نه راغي؟

جواب: دا مطلق مفعول مبحوث دي په ضمن د مفعول به کي

سوال: ته وايي اضمر عامله يعني ګرځولی شوی دی عامل د ده ضمير او ضمير عامل نه دی او دا معنی
باطل ده منشا د اعتراض د اده چي هغي اضمار معنی اصطلاحی سره اخيستی دی؟

جواب: دا دی اضمار معنی لغوی سره دی ای قدر عامله نه عامل ناصبه مرادی دی.

سوال: بيا دا تقدير د عامل جوازی دی او که وجوبی؟ **جواب:** دا وجوبی دی د هغي دپاره شرط بيانوی.

سوال: شريطة وزن فعلية دی او وزن فعيل په عربی کي کله په معنی د فاعل سره يي او کله په معنی د
مفعول سره وی دا منشاء د اعتراض ده چي دا حذف د عامل ناصبه بناء ده په شارط باندي شارط خو
متکلم دي يا دا حذف د عامل ناصبه بنا دی په مشروط باندي مشروط خو دا تقدير په خپله دی دواړه
معنی نه صحيح کيږي؟ **جواب:** دا دی هله به تا اعتراض کولي چي دا د صفت صيغه وی اودا مصدر
صيغه ده نه په معنی د فاعل سره ده او نه په معنی د مفعول سره ده.

اعتراض دی چي شريطة مضاف دی التفسير ته لهذا د دي معنی داشوه چي دا تفسير موقوف عليه نه دی
بلکه ددي تفسير يو شرط دی هغه موقوف عليه دی او مسئله خو دا ده چي دا تفسير په خپله شرط دی؟

جواب: دا دی هله به تا اعتراض کولي چي دا اضافة لامي وی او دا لامی نه دی بلکه دا اضافة بيانی دی.

سوال: په شرط د تفسير د مابعد سره دا حذف د عامل ولي واجب دی؟ **جواب:** دپاره د دي چي لازم نه شي
لغوية د مفسر. بيا پدي هغه اعتراض دی جاءنی رجل ای زيد کي خو جمع راغلی دی؟

جواب: هغه ځای کي دا جمع باطل ده چي ابهام ناشي وی د حذف نه او که ابهام ناشي د ذکر نه وی بيا
پدي جمع کي فائده شته.

بيا اعتراض دی پدي آية سره **انی رايت احد عشر کوکبا والشمس والقمر رايتهم لی ساجدين** چي دلته
خو جمع راغلی ده په مابين د مفسر او مفسر کي او ابهام ناشي د ذکر نه نه دی بلکه د حذف نه دی؟

جواب: دا جمع باطل ده چي ابهام ناشي وی د حذف نه هغه چي فائده جديده مفسر کي نه وی ماسوا
دبيان نه او دلته بيان نه علاوه فائده جديده موجود دی چي هغه تقيد دی

سوال: متکلم دا عامل حذف کوي په حذف وجوبی سره وروسته مفسر ذکر کوی ورسره دا مخکښي
فعل د نه حذف کوی تفسير ته به ضرورت پاتي نه شي او کلام به د حذف نه بچ پاتي شي؟ **جواب:** دا دی
چي مقصود د متکلم پدي کي تفصيل بعد الاجمال دی او تفصيل بعد الاجمال اوقع فی الذهن دی خو
دا ترجمه هله ده چي ما اضمر الخ دينه واخلی معنی لغوی او که معنی اسمی علمی اصطلاحي واخلی،
د دي سلسله نه به خلاص يي، چي د مفعول به يو نوع ده دي نوع د مفعول به د نحويه اصطلاح کي
اورد نوم دی چي هغي ته ما اضمر عامله علی شريطة التفسير وايي د نور انواع نه امتياز دپاره. اوس

تعریف د دي ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر **وهو** دغه نوع د مفعول به چې مسمی کولی شي د نحو په اصطلاح کې په ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر سره **کل اسم** هر هغه مفعول به دی او کلمه د کل مقحم او زائد ده تعریف مدخول د کل دی نه کل او کل یې ذکر کړی دی لپاره دتصریح په جامعیت او مانعیت باندې (۲) هرهغه مفعول او هر هغه اسم دی **بعده** پس د دی اسم نه فعل یا شبه فعل وی په یو ترکیب کې پدې شان سره دواړه جزوی د یو ترکیب نه برابره خبره ده چې بعدیة بالاتصال وی لکه زید ضربته شو یا سره دفصل نه وی لکه زید انا ضربته شو هسې فعل یا شبه فعل **مشتغل** چې فارغ وی هر واحد **عنه** د عمل کوولو نه پدې اسم کې **بضمیره** په سبب د عمل کولو د هر واحد په ضمیر کې چې راجع دی اسم ته **او متعلقه** یا په سبب د عمل کولو د هر واحد په متعلق د ضمیر کې داسی اسم ظاهر کې کړې چې هغه د متعلقاتو د ضمیر نه وی مشتغل کې ضمیر راجع دی فعل او شبه فعل ته په تاویل د کل واحد سره او عنه متعلق دی مشتغل مذکور پورې په معنی د فراغ سره او بضمیره جار مجرور متعلق دی مشتغل مقدر پورې په معنی د تسلیط سره یا بضمیره جار مجرور متعلق دی دغه مشتغل مذکور پورې نه لازمیږي جمع مابین د حقیقة او مجاز کې په جهة واحده سره بلکه جمع کیږي په اعتبار د جهتین سره.

سوال: کل راخي احاطی د افرادو دپاره تعریف بال افراد راغی او دا باطل دی څکه تعریف کیږی دجنس په جنس سره؟ **جواب:** تعریف مد خول د کل دی نه کل.

سوال: کل چې زائد دې نو ذکر کولو ته څه ضرورت دی؟

جواب: ذکر کړی یې دی دپاره د تصریح په جامعیة مانعیة باندې.

سوال: ته وایې وهو کل اسم بعده فعل او شبه فعل دا تعریف ستا صادق شو مفعول فیه باندې یوم الجمعة صمت فیه؟ **جواب:** دا دی چې اسم نه مراد مفعول به ده (۲) اسم عام دی او دا جنس دی او جنس کې پریدی خپل تول داخل یې او وروسته لنصبه کې به قید لګوو هغه سره به اوځی مفعول فیه د دې تعریف نه

سوال: بعده قید سره زیدا انا ضربته ترینه ووته څکه دلته بعدیت اتصالی نشته؟

جواب: دا دی بعدیة بالاتصال وی او که بعدیة بالانفصال وی بعدیة اتصالی نه دی مراد.

سوال: اشتغال باب دوه معنو کې مستعملیږي (۱) په معنی د فراغ سره عمل نه کول (۲) په معنی د تسلط سره عمل کول (۱) څوك وایې فراغ معنی حقیقي ده او تسلیط معنی مجازی ده (۲) تسلیط معنی حقیقي ده او فراغ معنی مجازی دی (۳) څوك وایې مشترك دی پدې دواړو معنی ګانو کې دلته لازم شو جمع مابین د حقیقت او مجاز کې یا عموم مشترك دا دواړه باطل دي؟ **جواب:** عنه صله د مشتغل مذکوره دی او بضمیره صله د مشتغل مقدره دی اول مشتغل متضمن دی معنی د فارغاً لره عنه متعلق دی متضمَن پورې او بضمیره متعلق دی متضمِن پورې اوله معنی په اعتبار د متضمِن سره ده او د دویم معنی په اعتبار د متضمَن سره ده (۳) جمع په مابین د حقیقة او مجاز یا عموم مشترك کوم چې باطل دی هغه لازم نه دی او کوم چې جائز دی هغه جمع شوی دی جمع مابین د

حقیقت او مجاز کې لفظ واحد نه په آن واحد کې په جهة واحده سره ناراوا ده او دلته په جهتین سره دی عنه صله چې لزوم په معنی د فارغ سره دی هسې فعل او شبه فعل چې فارغ به یې د دې اسم نه بیا بضمیره صله چې لگوم بیا معنی د تسلیط سره دی هسې فعل او شبه فعل چې عمل کړی وی په ضمیر د دې اسم کې سلط هسې فعل و شبه فعل چې دا فعل او شبه فعل داسی مرتبه کې وی **لوسلط** که عامل او گرخولی شي په مجرد رفع د اشتغال سره دا هر واحد **علیه** پدې اسم باندې **هو** دا فعل او شبه فعل مذکور بعینه او **مناسبه** یا عامل او گرخولی شي هغه فعل او شبه فعل چې مناسب دی ددې مذکور سره پدې شان سره چې یا لازم دی یا مراد دی او هو ضمیر متصل مؤکد ذکر کړه منصف دپاره د دې چې لازم نه شي عطف د اسم ظاهر په ضمیر مرفوعه متصله بلا تاکیده **لنصبه** نصب به ورکوی هر واحد فعل یا مناسب د دې فعل او شبه فعل چې هغه لازم یا مرادف دي ه دی اسم ظاهر ته بنا بر مفعول به دا فعل او شبه موصوف مشتغل الخ صفت اول لوسلط الخ شرط لنصبه دا جزا جملة شرطیه صفت ثاني او دا ضمیر مفرد راجع دی فعل او شبه فعل ته په تاویل د احد الامرین یا په تاویل د کل واحد سره.

سوال: لوسلط غائب صیغه ده او غائب صیغه دپاره د اسم ظاهر فاعل نه وی فاعل به ضمیر مستتر یې او تا دا هو ضمیر منفصل نائب ورلره ولې ذکر کړه او مسله دا ده چې لایسوغ المنفصل الا لتعذر المتصل؟

جواب: دا هو ضمیر منفصل ذکر کړی دی دپاره د دې چې لازم نه شي عطف د اسم ظاهر په ضمیر مرفوعه متصل بلا تاکید عطف د اسم ظاهر په ضمیر مرفوعه متصله باندې چې کوی د هغې طریقی (۳) دی (۱) تاکید په ضمیر مرفوع متصل سره کقوله تعالی **اسکن انت وزوجك الجنة** (۲) په فصل سره کقوله تعالی **ما اشرکنا ولا آباءنا** (۳) تاکید او فصل دواړو سره کقوله تعالی **فکبکبوا فیها هم والغاون**. او دلته هم دا کار شوی دی لهذا هله به تا اعتراض کولو چې هو دا ضمیر منفصل نائب فاعل وی دلته نائب فاعل ضمیر مستتر دی او دا ورلره مؤکد دی.

سوال: دا تاکید څه دپاره کوی؟ **جواب:** دپاره د دې چې لازم نه شي عطف د اسم ظاهر په ضمیر مرفوع متصل باندې بلا تاکید. بیان د فوائد د قیو داتو د تعریف کل اسم جنس دی پردي او خپل تول پکښې راغلی بعده فعل الخ سره زید اخوك اووته مشتغل عنه سره اووته زیدا ضربت څکه دا وروسته فعل فارغ نه دی د دینه بلکه عمل یې کړی دی **لوسلط الخ** دا مابعد ما قبل کې په مجرد رفع د اشتغال سره پدې قید سره دا ترکیب اووته زید ضربته زید مبتدا او ضربته ورلره جملة خبر دی دی زید ته ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر نه وایې دلته عمل نه دی کړی مانع درې دی (۱) مشتغل بالضمیر دی (۲) پدیکښې عامل عامل معنوی دی (۳) رفع د دی بنا بر ابتدائیة یواځې دا اشتغال بالضمیر مانع نه دی لنصبه دلته کې (۲) قیده دی (۱) نصب په ورکوی زید ذهب به ترینه اووته څکه دی ذهب نه دا ضمیر لری کړی دا ذهب دی زید له نصب نه شي ورکولی څکه دا مجهول دی (۲) بنابر مفعول به دی سره (۲) ترکیب اووته (۱) زیدا کنت ایاه دا ایاه چې لری کړی کنت نه ماقبل له نصب ورکوی لکن بنا بر خبریة نه بنابر مفعولیة (۲) یوم الجمعة صمت فیه اووته څکه دیته ما اضمر عامله مفعول فیه وایې ما اضمیر عامله مفعول به

درنه نه وايي ځکه که د صمت نه دا ضمير لرى کړو دى يوم الجمعة له نصب ورکوى لکن بنابر مفعول فيه بنابر مفعول به تعريف جامع مانع شو. هر کله چې مشتغل په څلور قسمه وو (۱) هغه دى چې دا فعل مشتغل بالضمير دى او دا فعل ممکن التسليط بعينه دى (۲) هغه دى چې فعل مشتغل بالضمير دى او ممکن التسليط دى په اعتبار د مرادف سره (۳) هغه دى چې دا فعل مشتغل بالضمير دى او ممکن التسليط دي په اعتبار د لازم سره (۴) هغه دى چې دا فعل مشتغل بالمتعلق دى او ممکن التسليط دي په اعتبار د لازم سره بعينه نه جوړيږي او بمرادفه نه جوړيږي. ځکه دا فعل به خالي نه وى يا به مشتغل بالضمير يې يا به مشتغل بالمتعلق يې که دا فعل مشتغل بالضمير وو دا په درې قسمه دى (۱) ممکن التسليط بعينه (۲) په اعتبار د لازم سره (۳) په اعتبار د مرادف سره وو که دا فعل مشتغل بالمتعلق او بعني معمول د ده اسم ظاهر دى هغه صرف يو قسم دى چې فعل ممکن التسليط دي په اعتبار د لازم سره نه بعينه او نه په اعتبار د مرادف سره پس ذکر کړه مصنف (۴) مثالونه مطابق د ممثل نو تعدد د مثال بناء دي په تعدد د ممثل باندې دي سره دفع د اعتراض وشوه.

سوال: مثال ذکر کولى شي توضيح د ممثل دپاره او وضاحت د ممثل يو سره راتله دا څلور مثالونه ولې ذکر کړه؟ **جواب:** دا دې چې تعدد د مثال بناء دى په تعدد د ممثل باندې.

مثل زيدا ضربته دا هغه مثال دى چې فعل مشتغل بالضمير دى او ممکن التسليط دى بعينه او بالذات دوجې د عدم دمانع نه لفظاً او معناً د دې ضربت عمل نه زيداً کې بعد التسليط مانع نه لفظاً شته او نه معنىً شته **وزيدا مررت به** دا هغه مثال دى چې فعل مشتغل بالضمير دي او ممکن دى او ممکن التسليط دى په اعتبار د مرادف سره چې هغه جاوزت دى ځکه مررت پس د تعدية نه باسره مرادف د جاوزت دى او ممکن التسليط نه دى بعينه او نه په اعتبار د لازم سره چې مشيت دې دوجې د مانع نه چې دا مشيت او مررت دواړه فعل لازم دى نصب نه شي ورکولى مفعول به ته بالذات او صراحةً **زيدا ضربت غلامه** دا هغه مثال دى چې فعل مشتغل بالمتعلق دى دا متعلق د ضمير وايي هم صحيح دى او متعلق د زيد هم صحيح دي ځکه د دې غلام ضمير سره علاقه ده لفظي چې مضاف او مضاف اليه دى او د دې زيد سره علاقه ده معنوى چې مالك او مملوك دى. او ممکن التسليط دي په اعتبار د لازم سره ځکه ضرب د غلام مستلزم دي اهانة د مولى لره ضرب د غلام ملزوم او اهانة د مولى لازم او ممکن التسليط بعينه نه دى او په اعتبار د مرادف سره هم نه دى چې وجعت دى د وجې د وجود د مانع معنوى نه چې عدم وقوع د مصدر ده په ماقبل باندې ځکه د ضربت او وجعت مصدر نه دې واقع زيد باندې او مفعول به ماوقع عليه فعل الفاعل ته وايي اوس که مونږ دا ضربت يا وجعت عامل وګرځوو بيا لازميږي فساد د معنى **زيدا حبست عليه** دا هغه مثال دى چې فعل مشتغل بالضمير دي په واسطى د على سره او ممکن التسليط دي په اعتبار د لازم سره چې لابست دي

وجه د ملازمه: لکه جنس حبس د شي چې متکلم دى د وجې د شي نه چې زيد دى مستلزم دي ملابسة لره په مابين د محبوس او محبوس عليه کې نو حبس ملزوم تلبس لازم حبست عليه معنى دا دى قيد کې

واچولی شومه د وجې د زید نه دا متکلم محبوس او دا زید محبوس علیه ځکه دا علی اجلیه دي دېته معلومه شوه چې د دیو په مینځ کې علاقه شته دي بالکل اجنبی نه دي او که بالکل اجنبی وی دا به جبل نه نه ورل کیده. او نه دی ممکن التسلیط بعینه او نه دی ممکن التسلیط په اعتبار د مرادف سره چې قید دي د وجې د مانع لفظی نه چې حبست او قَیدتُ دواړه نصب نه شي ورکولی زیداً له بالذات ځکه حبست مجهول دي نصب نه شي ورکولی بلکه رفع ورکوی نائب فاعل ته او قیدت نصب نه شي ورکولی ځکه فعل لازم دي. هر کله چې دا درې مثال د نوع واحد نه دی چې فعل معلوم دی او دا څلورم مثال د یو نوع دی چې فعل مجهول دی او معلوم اشرف وي مجهول نه ځکه یې دا درې مثالونه مقدم کړي دی په دی څلورم مثال باندې (۱) یا هغه نوع کثیري وی او دا څلورم نوع قلیله وه او العزة للتکاثر.

سوال: دي ترکیب د کافیه ملا باندې چا اعتراض کړی دی چې ترتیب لفظی ستا مخالف دی د ترتیب عقلی نه تاله ترتیب داسې پکار وو چې دا درې مثالونو کښې فعل مشتغل بالضمیر دي دا به دې ټول مخکښې ذکر کړي وي او دا دریم به دی څلورم ځای کې ذکر کړی وي دا ترتیب لفظی به برابر وو ترتیب عقلی سره؟ **جواب:** دا دی چې ما دا بل لحاظ کړي دي فعل معلوله لره مي مخکښې کړی دی او مجهول مي وروسته کړي دي (۲) ممکن التسلیط بعینه یو دي هغه یې مقدم کړي دي او ممکن التسلیط په اعتبار د مرادف سره هغه هم یو دي دا یې هم مقدم کړي دي او دوه ممکن التسلیط په اعتبار د لازم سره دي ځکه یې وروسته ذکر کړه **وینصب** دا زید پدي ترکیب اربعو کې منصوب کولي شي **بفعل مضمر** په فعل مقدر سره هغه فعل مقدر چې دهغې دلته کې حذف واجب دي **یفسره** چې بیانوي دي فعل مضمر لره **ما** هغه فعل **بعده** چې پس د اسم ظاهر نه دي **ای** اوس دا ای بیان د چا دی د. مفسر دي او که مفسر د ابیان د مفسر دي ځکه مفسر خو مذکور دي **ضربت** مثال اول کې **جاوزت** ثانی کې **واهنت** مثال ثالث کې **لابست** مثال رابع کې.

زده کړه دا خبره چې اسم واقع په مظان دما اضمر عامله علی شریطة التفسیر کې (۵) قسمه دي په اعتبار د اعراب سره (۱) اختیار د رفع (۲) اختیار د نصب (۳) استواء د امرین (۴) وجوب د رفع (۵) وجوب د نصب، نو غرض د ماتن بیان د اقسام او صور او احتمالات خمسو دي په اسم مظانی کې.

سوال: ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر خو مفعول به دي او اعراب د مفعول به نصب دي دا (۵) د کوم ځای نه جوړ شو؟ **جواب:** دا پنځه اقسام ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر علی الیقین کې نه جوړیږي دا اسم واقع په مضان د ما اضمر عامله کې جوړیږي ځکه ما اضمر عامله اوګد تعریف دي کل اسم الخ او متعلق دیته جز اول وایي لو سلط دا جز ثانی دي د دې تعریف جز اول چې صادقیږي هغې ته اسم مضانی وایي او پدې پنځه صورتونو باندې دا جز اول صادق دي. اوس که صدق د جز ثانی وجوباً وو بیا مفعول دي وجوباً او که صدق پکښې ممتنع وو بیا مرفوع دي وجوباً او که صدق پکښې جوازی وو بیا جواز د امرینو دی **ویختار** مختاره ده **رفع** په اسم مظانی کې سره د جواز د نصب نه نه به عین مبتدأ وائې او به عین مفعول به وایي.

بالابتداء په سبب د کیدو د اسم سره مبتدأ **عند عدم الخ** په وخت د نیشوالي او انتفاء د قريني مرجحي خلاف د رفع کې چې هغه نصب دي پدي شان سره چې قرينتين مجوزتين او مصححتين د جانبين نه موجود دي لکن د رفع قرينه مرجحه موجود ده او د نصب قرينه مرجحه نده موجود لکه زيد ضربته مختاره او زيدا ضربته پکښې جائز اوس زيد اسم دي تعريف د جز اول صادق دي کل اسم بعده الخ او لو سلط دا پکښې صادق جوازاً دي زيد کې چې د مانع لحاظ کوی بيا دا ضربت عمل نه شي کولي او بې دمانع لحاظ نکوی بيا دا ضربت عمل کولي شي لکن رفع مختاره او نصب جائز دي ځکه قرينه مجوزه او مصححه د جانبين نه موجوده ده (۱) تجرد د اسم عامل لفظی نه دا قرينه مجوزه د رفع ده (۲) او وجود ماله صلاحية التفسير دا قرينه مجوزه د نصب ده (۳) او سلامتيا عن الحذف دا قرينه مرجحه دپاره درفع دي او په نصب کې تقدير لازميږي او تقدير خلاف الاصل دي او سلامتيا عن الحذف دا هله قرينه مرجحه د رفع ده د دوي په شريعت کې چې نصب د پاره بله قرينه مرجحه موجوده نه وي او که نصب د پاره بل قرينه مرجحه موجوده وي بيا دي سلامتيا عن الحذف ته دوی اعتبار نه ورکوي.

سوال: معترض وايي دا با په بالابتداء کې دپاره د استعانت ده او با د استعانة مدخول کله معاون او عامل وي دلته کې معترض وايي مدخول د باء معاون دي نو ددې معنى دا شوه چې دي اسم کې رفع مختاره ده په عامل معنوی سره چې ابتداء ده بيا اعتراض کوي چې دا عبارت ستا مؤدى د مقصود نه دي ځکه مقصد ستا دا دی چې رفع مختاره ده بنا بر ابتدائية او ستا عبارت نه معلومه شوه چې رفع مختاره ده په عامل معنوي سره عامل معنوي خو رفع مبتدأ له هم ورکوی او خبر له هم ورکوي معلومه نه شوه چې دا رفع مختاره بنا بر ابتدائية ده او که بنا بر خبرية ده؟

جواب: دا دی چې دا با سببی ده او دا ابتدائية مصدر مبنی للمفعول دي عامل معنوی نه دي مراد لهذا عبارت مؤدی د معنى مراديې دي بيا پدې **خلافه** کې دا اضافة عهدی دي چې مراد قرينه منفيه سره قرينه مرجحه ده دي سره دفع د اعتراض وشوه چې قرينه د نصب چې نه وي بيا خو رفع واجب ده بيا يختار څه معنى ده؟ **جواب:** دا دې چې دلته مطلق قرينه نه ده منفي بلکه قرينه مرجحه منفي ده.

دا مذهب د بصريانو دي او كافيه ملا اكثر مسائلو کې مقلد د بصريانو دي (۲) او کوفيان وايي استواء د امرينو ده چې رفع او نصب دواړه برابر دي ځکه سلامتيا عن الحذف له هغوی اعتبار نه ورکوي، او قران پاك کې منصوب د دې مثال راغلي دي **والقمر قدرناه** که رفع مختاره وي بيا والقمر مرفوع به ويلي وي ځکه قرآن اعلى مرتبه د فصاحة کې دي اګر که بصريان جواب کوي چې لام کلمه راء ده او راء حرف ثقيل دي او که ضمه ويلی وي بيا ثقل د ر ثقل راتله نو ثقل ذاتی د وجې نه دا نصب مختاره شو نه د وجې د استواء د امرين نه، دا هسې تکلفات دي د دينه علاوه نور آيتونه هم راغلي دي منصوب، **وكل انسان الزمناه طائره والقران فرقناه** لهذا مختاره مذهب دا دی چې استواء د امرين دي **او عند وجود** يا رفع مختاره دي په اسم مظانی کې سره د جواز د نصب نه په وخت د وجود د قريني مرجحی د رفع کې هسې قرينه مرجحه د رفع **اقوی** چې هغه اقوی ده **منها** د قريني مرجحه د نصب نه لکه

ځکه چې قرينتين مجوزتين د جانبين نه موجود دي درانګې قرينتين مرجحتين هم د جانبين نه موجود دي خو قرينه مرجحه د رفع اقوى او کثير او قرينه مرجحه د نصب د هغې په مقابله کې قليل او مغلوب ده او مغلوب په مقابله د غالب کې کالعدم وي **کاما** اما تفصيلي چې واقع شي او داخل شي اسم مظانى باندې په حال کون د دې اما تفصيلي کې **مع غيرالطلب** چې معنى نه وي د فعل انشائي سره پدې شان سره روستو د دينه فعل طلبي نه وي مثال لکه جاءني القوم اما زيد فاکرمته دا مختاره او اما زيدا فاکرمته دا جائز دي دلته څلور قريني موجود دي (١) تجرد د اسم عامل لفظى نه دا قرينه مجوزه د رفع دي (٢) او وجود دماله صلاحية التفسير قرينه مجوزه د نصب ده (٣) عطف د فعليه په فعليه باندې دا قرينه مرجحه د نصب (۴) او دخول د اما مرجحه د رفع او دا دخول د اما قرينه مرجحه اقوى ده د قريني د عطف نه ځکه دخول د اما په جمله اسميه باندې کثير او غالب دي او په جملة فعليه باندې قليل او مغلوب دي او عطف د اسميه په فعليه او عطف د فعليه په فعليه باندې على السويد دي. لکن دي دا قيد ولي ولګول مع غير الطلب؟ **جواب:** ځکه که چرى د دې اما نه روستو فعل انشائى واقع وو بيا نصب مختاره دي لکه جاءني القوم اما زيد فاکرمه مختاره ځکه دا ترکيب تاويل ته محتاجه نه دي او اما زيد فاکرمه دا جائز دى ځکه دا ترکيب تاويل ته محتاج دي **واذا المفاجاتي** يا لکه اذا مفاجاتي شو اذا مفاجاتي چې داخل شي په اسم مظانى باندې هلته هم رفع مختاره ده ځکه قرينتين مرجحتين د جانبين نه موجود دي لکن قرينه د رفع اقوى ده د قرينه د نصب نه لکه خرجت فاذا زيد يضربه عمرو مختار او فاذا زيداً يضرب عمرو جائز (١): عطف د فعليه په فعليه باندې دا مرجحه د نصب (٢) او دخول د اذا مفاجاتي په اسميه باندې کثير شائع دي او په فعليه باندې قليل او شاذ دي او عطف د اسميه په فعليه باندې او فعليه په فعليه باندې دا دواړه على السويه دي. او لزوم چې مستعمل دي په بحث د ظروف کې هغه په معنى د غلبه سره دي نه لازميږي منافات د دې عبارت او دهغې په مينځ کې. اندفع ماقيل چې دلته تا وويل چې دخول د اذا مفاجاتى کثير دي په جمله اسميه باندې او وروسته بحث د ظروف کې ويلي دي فيلزم المبتدأ بعدها او د هغې نه معلومه شوه چې دخول په جمله اسميه باندې لازم دي لهذا ستا د دې عبارت او د هغې په مينځ کې تناقض راغي؟

جواب: دا دې چې هلته لزوم په معنى د غلبه سره دي لهذا د دې او د هغې په مينځ کې منافات نشته **ويختار** سره غرض د ماتن بيان د مواضع د اختيار او اولوية د نصب دي په اسم مظانى کې مختاره دي نصب بنا بر مفعول به سره د جواز د رفع نه بنا بر ابتدائية **بالعطف** په سبب د عطف د هغه جمله چې اسم مظانى واقعه پکښې جز دي **على جملة فعلية** هغه جمله فعليه باندې چې هغه معطوفة عليها دي، قرينه مرجحه د نصب **للتناسب** دپاره د حصول د مناسبة په مابين معطوف او معطوف عليه کې چې دا تناسب امراهم دي اګر که واجب نه دي او سلامتيا عن الحذف دا قرينه مرجحه د رفع ده هغه ځاى کې چې قرينه مرجحه د نصب نه وي موجود او دا تناسب قرينه مرجحه د نصب هله ده چې اما او اذا مفاجاتي نه وي قرينتين مجوزتين د دواړو د طرف نه موجود دي او قرينه مرجحه د نصب موجود ده او قرينه مرجحه د رفع نشته

دي مثال لكه خرجت فزيدا لقيته مختاره او خرجت فزيد لقيته جائز (١) تجرد د اسم عامل لفظي نه دا قرينه مجوزه د رفع (٢) او وجود ماله صلاحية التفسير دا قرينه مجوزه د نصب (٣) تناسب مابين د معطوف او معطوف عليه كې دا قرينه مرجحه د نصب او قرينه مرجحه د رفع نشته ده.

سوال: دلته خو قرينه مرجحه هم د جانبين نه موجود ده، تناسب مابين د معطوف اومعطوف عليه كې قرينه مرجحه د نصب، سلامتيا عند الحذف قرينه مرجحه د رفع ته څنګه وايې قرينه مرجحه د رفع نشته دي؟ **جواب:** دا دى چې دا قاعده مخكښې بيان شوي ده كله چې قرينه مرجحه د نصب موجود وي سلامتيا له اعتبار نه وركوي لاخارابا وغيره نور شارحين دليل دا ويلي دي چې دا عطف جمله اسميه په جمله فعليه باندې مكروه نحوى دي او كثير شائع نه دي ځكه نصب اولى دي د رفع نه، لكن دا خبره د نحوى كمزوري ده ځكه هلته مونږ ويلي وو عطف د اسميه په فعليه باندې كثير شائع دي لكه راغلي دي پدې قول د الله تعالى كې **والظالمون اعدلهم عذابا اليما** دا عطف دي په يدخل من يشاء في رحمته جمله فعليه باندې او دلته وايې كه رفع ووايو بيا عطف د اسميه په فعليه به راشي او دا مكروه دى

سوال: د لاخارابا مطلب دادې چې عطف د اسمي په فعلي باندې مكروه دى خو هله چې د اسمي په سر كې كلمه د اما او اذا مفاجاتي نوي راغلي كه راغلي وي نو بيا مكروه ندي؟ د اسمي په سركې كه اما او اذا مفاجاتي راشي بيا هم عطف جائز دي كما في قوله تعالى **والظالمون أعد لهم عذابا اليما** بلكه اصلى

جواب: دا دى چې سلامتيا لره بصريان هله اعتبار وركوي چې قرينه مرجحه نصب دپاره نه وي موجود دلته د دې د وجې نه ندي مختاره چې عطف د اسميه په فعليه باندې مكروه دي لكه لاخارابا وغيره چې وايي بلكه د دې د وجې نه مختاره دي چې قرينه مرجحه د نصب موجود ده او قرينه مرجحه د رفع نشته دي اودي سلامتيا ته دوي اعتبار نه وركوي كله چې قرينه مرجحه دپاره د نصب موجود وي.

سوال: خرجت فاذا زيد يضربه عمرو يا لقيت القوم واما زيد فاكرمته هلته خو تناسب قرينه مرجحه نه وايي دلته تناسب قرينه مرجحه وايې؟ **جواب:** دا مسئله هله ده چې معطوف سره اما مفاجاتي نه وي په قريني د مقام او مقابل سره **وبعد حرف النفي** نصب مختاره دي په اسم مظاني كې چې واقع وي پس د حرف نفي نه چې هغه (١) ما (٢) ولا (٣) ان نافيتان دي نه لن، او لما، ولم ځكه دا درې واړه عامل ضعيفه دي عمل كوي د وجې د غير نه او معمول مضارع به ملفوظ يې نه مقدر په حذف و جوبي قياسي سره يعني تقدير پكښې جائز نه دي قياساً مثال لكه ما زيدا ضربته مختاره او مازيد ضربته جائز لا زيدا اضربه مختاره لازيد اضربه ولا عمرو جائز ان زيداً ضربته الا تاديباً مختاره او ان زيد ضربته الا للتاديب جائز (١) وجو د ماله صلاحية التفسير قرينه مجوزه د نصب (٢) دا حرف نفي مرجحه د نصب دي او كله چې قرينه مرجحه د نصب موجود وي سلامتيا لره دوى اعتبار نه وركوي وبعد حرف النفي دا حرف ځكه ووېل چې دي سره احتراز وكړه د فعل نافيه نه ځكه كه فعل نفي نه وروسته واقع شي بيا هلته رفع واجب وي ليس زيد ضربته.

سوال: حرف نفي مشهور څلور دى ستا عبارت نه معلومه شوه چې د شپږو واړو دا حكم دي او حال دا دى چې مدخول دلن او لما اوده لم حذف جائز نه دي؟ **جواب:** حرف النفي كې دا ضافت عهد دپاره دي

استغراق دپاره نه دي مراد د حرف نفي نه دلته کې ما او لا او ان دي ديکښي دا حکم دي او لن لما او لم کې دا حکم نه دي. د دې ما ولا ان او د لن لما ولم په مينځ کې فرق دا دی ما ولا او ان دا دري واړه لفظی عمل نه کوي معنوی عمل کوي او لن لما او لم دا لفظی عمل هم کوي او معنوی عمل هم کوي (٢) عمل معنوی د دې ما ولا او ان وضعی دي ځکه عمل کوي وضع د وجې نه ديته عمل ذاتی وايي او عمل لفظی د لن او لما ولم عارضي دي وضعی نه دي ځکه عمل کوي د وجې د غير نه چې دا لم او لما مشابه دي ان سره په تقليب کې او لن اصل کې لا ان وو نو دا دريواړه عامل ضعيفه شو ځکه دا عمل کوي د وجې د غير نه او هغه دريواړه عامل قويه شو ملفوظ کې هم عمل کولی شي او مقدر کې هم عمل کولی شي او دا دري واړه عامل ضعيفه دي ملفوظ کې عمل کولي شي خو مقدر کې عمل نه شي کولي

سوال: دلته دامسئله ثابت شو چې دلم او لما مدخول نه حذف کيږي روستو بيا يو ځای کې دي فرق کوي په مابين د لم او لما کې چې مدخول د لما حذف جائز دي او دلم جائز ندي شارفت المدينة لما جائز دي او شارفت المدينة لم جائز نه دي لهذا د دې او د هغې تدافع په لما کې راغله؟

جواب: دا دی چې دلته مسئله مطلق حذف کې نه ده مسئله په ما اضمر عامله کې ده چې عامل د هغې حذف کيږي په حذف وجوبی قياسی سره او هلته چې هغه ويلي دي لما نه روستو مضارع حذف کيږي جوازا او شاذاً د هغې دا معنی ده او دلته دا مدخول نه حذف کيږي وجوباً او قياساً د دې دا معنی ده لهذا د دې او دهغې په مينځ کې منافات نشته **والاستفهام** او نصب مختاره دی اسم مضانی کې چې واقع شی پس د حرف استفهام نه حرف استفهام عام دي چې هل وي او که همزه وي ازيداً ضربته مختاره ازيد ضربته جائز هل زيد ضربته مختاره هل زيد ضربته جائز لکن دومره دي ازيدا ضربته دا قبيح نه دي په شريعت د بلاغت کې او هل زيدا يا هل زيد ضربته د اقبيح دي په شريعت د بلاغت کې چې مدخول کې فعل موجود وي بيا يې داخل کړي په اسم باندې دا قبيح دي **واذا الشرطية** مختاره دي نصب په اسم مظانی کې چې واقع وي پس د اذا نه هغه اذا چې منسوب دي شرط ته پدي شان سره چې اذا زمانی دلالة کوي مجازات باندې چې د يو جملي نه شرط جوړه يې او د بلی نه جزا جوړه يې، يا متضمن وی معنی د شرط سره. نسبت د دال دي مدلول ته، اذا زيداً ضربته اضربك مختاره اذا زيد ضربته اضربك جائز قرينه مجوزه د جانبين نه موجود ده ليکن دخول د اذا شرطيه، قرينه مرجحه د نصب ده **وحيث** او مختاره دي نصب په اسم مظانی کې چې واقع وي پس د حيث شرطيه نه پدي شان سره چې حيث مکانی دلالة کوي په مجازاة باندې او متضمن دي معنی د شرط لره حيث زيداً تجده اکرمه مختاره او حيث زيد تجده اکرمه جائز **وفی الامر والنهی** او مختاره دي نصب په اسم مظانی کې چې واقع وي دا اسم مظانی مخکې د امر او نهی نه.

سوال: دلته کې اعتراض دي چې مختاره دي نصب په امر او نهی کې دا معنی باطل ده ځکه نصب امر او نهی کې خو نشته دا خو پدي اسم کې دي (٢) يا مختاره نصب پدې اسم کې چې واقع وي روستو د امر او نهی نه دا معنی هم باطله ده ځکه بيا خو اسم مظانی نه شو؟ **جواب:** دا دی چې پدې عبارت کې تقدير دي ای وفی ماقبل الامر والنهی زيدا اضربه مختاره زيدا ضربه جائز زيداً لاتضربه مختاره زيد لاتضربه جائز

دي نو دليل دا دی اذا هی دا مواضع مذکوره او دا ترکیب مذکوره د حرف نفی نه وروسته **مواقع الفعل** ځایونه د وقوع د فعل دي پدې شان سره چې وقوع د فعل پدې کې غالب دي نصب پکښې ځکه مختاره دی ځکه حرف نفی او حرف استفهام او ادوات د شرط ما سوا د ان او لو نه غالب دي دخول د دوی په افعال باندې او قلیل دي دخول د دوی په ي اسامیو باندې ځکه حرف نفی او حرف استفهام او ادات د شرط دا مناسب دي احداث سره او حدث باندې بالذات دلالة فعل کوي او اسم دلالة بالذات په ذات باندې کوي او امر او نهی کې چې نصب اووایو ترکیب بلا تاویله پاتې شو او که مرفوع ووایو بیا لازمیږي تاویل په ترکیب کې ځکه دا اسم به مرفوع شي دا اسم به مبتدأ شي او دا مابعد امر او نهی به خبر واقع شي او امر او نهی بلا تاویله خبر نه واقع کیږي او عدم تاویل فی الترکیب دا قرینه مرجحه د نصب شوه.

سوال: ماتن حکم جزمی کړیدي چې دا ځایونه د فعل دي وجوباً نو دا ځایونه د فعل شو وجوباً نصب پکښې واجب شو رفع جائز نه ده او مدعی ستا دا ده چې نصب مختاره او رفع جائز ده نو دلیل دی مطابق نه شو مدعی سره؟ **جواب:** دا دی چې دا حکم غالبه دي معنی ددې دا ده چې دا هغه تراکیب دي چې وقوع د فعل پدې کې غالب دي نو دلیل مطابق شو مدعی سره **وعند خوف لبس المفسر** مختاره دي نصب په اسم مظانی کې سره د جواز د رفع نه په وخت د یری د التباس د خبر کې **بالصفة** نعت سره په یو ترکیب کې چې هغه ترکیب د رفع دي هغه خبر چې ګرځی مفسر په بل ترکیب کې چې هغه ترکیب د نصب دي او نکته او باعث په مجاز باندې مقصودیة دي چې دلته مقصود بالبحث مفسر دي.

سوال: ظاهر کې اعتراض دي پدې ماتن باندې معترض ظاهری د دې عبارت د ماتن ته ګوری چې ددې ترجمه دا ده په وخت د یری د التباس د مفسر کې د نعت سره بیا اعتراض کوي چې د مفسر او نعت خو التباس نشته دي ځکه التباس په یو ترکیب کې لازمیږي چې هغه ترکیب د رفع دي او مفسر هلته دي چې نصب ووایې التباس د کوم ځای نه راغی د مفسر سره؟ **جواب:** دا دی المفسر کې مجاز مرسل دي ذکر د مفسر دي او مراد ترینه خبر دي او خبر او نعت یو ترکیب کې جوړیږي نو ویره د التباس ده په مابین د خبر او نعت کې.

سوال: خبر نه کافیه ملا تعبیر کړي دي مفسر سره مجازاً علاقه څه ده او باعث په مجاز باندې څه شي دي؟ **جواب:** علاقه د مایکون دی او پدې مجاز کې اشاره ده مقصودیة ته چې دلته کې خبر مقصود بالبحث نه دي مقصود بالبحث مفسر دی ځکه بحث د ما اضمر عامله دي مثل مثال لکه د اقول د الله تعالی شو په مثل سره اشاره وکړه تعمیم ته چې مراد پدې سره هر هغه ترکیب دي (١) چې اسم مظانی پکښې منصوب شي بنابر مفعول به دپاره د فعل مقدر او مابعد جمیعا ورلره مفسر شي بیا دا ترکیب مفید د معنی صحیح دي هیڅ شبه د معنی فاسد پکښې نشته (٢) او که اسم مظانی مرفوع شي بیا دوه احتماله دي (١) ترکیب ظاهره چې مابعد جمیعا خبر شي بیا دا ترکیب مفید دمعنی مراد دی او دال دی معنی صحیح باندې (٢) مابعد قریبه نعت او بعیده یې خبر شي دا ترکیب غیر ظاهر او مفید د معنی فاسدی دي. **انا کل شي خلقنه بقدر** کې کل شي منصوب اولی کل شئ مرفوع جائز ځکه که دا کل شئ مرفوع شي بیا پدې کې خوف د التباس دي بین الخبر والصفة او که منصوب شي بیا سره خوف د

التباس نشته او كوم تركيب چې خالي وي د التباس نه هغه اولى دي د هغه تركيب نه چې په هغې كې
التباس دي پدې آية كې دړې تركيبونه دي دوه صحيح او يو غلط (١) انا اصل كې ان نا وو او ان
مخفف من المثقل دي چې دلته يې عمل كړيدي چې د انا ضمير منصوب متصل اسم د ان مخفف من
المثقل دي او كل شئ منصوب دي مفعول به دي دپاره د فعل محذوف او دا وروسته خلقنه سره د
متعلق نه چې بقدر دي جمله مفسر واقع شوې ده دپاره د هغه فعل محذوفه بيا مفسر سره د مفسر نه
جمله خبر دي دپاره د ان مخفف من المثقل بيا ان سره د اسم او سره د خبر نه جمله خبريه اسميه دا
تركيب مفيد د معنى مراد دي ځكه د دې آية معنى دوه دى (١) دي شئ نه مراد دي ممكن الله تعالى
وايې دا ټول اشياء ځمامخلوق دى او هر ممكن ځما مخلوق دي (٢) او هر ممكن ځما مقدور دي ځما د
اندازى نه بهار نه دي او كله چې منصوب شي دا جمله دال دي په دي معنى باندې (٢) او كه كل مرفوع
شي بنابر ابتدائية چې كل مضاف شي مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه مبتدأ خلقنه سره د
متعلق نه جمله خبريه خبر كيږي د مبتدأ چې كل شئ دي مبتدأ سره د خبر نه جمله اسميه خبريه خبر
كيږي د ان ا ان سره د اسم سره د خبر نه جمله خبريه اسميه دا تركيب هم مفيد د معنى مراد دي پشان د
جمله فعليه مذكوره (٣) كل مرفوع مضاف شئ موصوف خلقنه دا جمله صفت او جمله صفت د نكرى
دپاره واقع كيږي موصوف سره د صفت نه مضاف اليه دكل او مضاف سره د مضاف اليه نه مبتدأ
اوبقدر جارمجرور ظرف مستقريه اعتبار د متعلق سره خبر دي مبتدأ سره د خبر نه جمله اسميه خبريه
خبر د پاره د ان الخ دا تركيب دال دي معنى فاسد باندې او مفيد د معنى فاسد دې ځكه چې پدې
تركيب كې دوه نقصان دي (١) چې بعض ممكنات مخلوق دالله دي او بعض نه دي دينه مذهب د
معتزله ثابت شو (٢) او كوم چې مخلوق د الله نه دي هغه د الله د اندازى نه بهار دي دا دوه نقصان ولې
راځى ځكه خلقناه دا جمله صفت دي ديته نعت مخصصه وايې او نعت مخصصه منعوت دوه خاني
كوي او كوم تركيب چې خالي وي د احتمال د معنى فاسد نه هغه اولى دي د هغه تركيب نه چې هغې
كې احتمال د معنى فاسد دي

سوال: بيا دى دلته نصب واجب شي او رفع دى باطل شي ځكه دا مفيد د معنى فاسد دي او دا باطل
دي؟ **جواب:** دا دى چې كافيه ملا ويلي دي عند خوف الخ هله به باطل وو چې بالفعل التباس وي
بالفعل التباس نشته لكن خوف د التباس دي بالفعل التباس ولې نشته دي ځكه هغه دوه تركيبونه
ظاهر دي او متبادر الى الفهم دي او دا دريم تركيب خلاف الظاهر دي او متبادر الى الفهم نه دي او د
ظاهرچې خلاف الظاهر مقابله راشي دا خلاف الظاهر د هغې مقابله كې كالعدم دي

سوال: اوس دا ولې ظاهر دى؟

جواب: ځكه كه دا خبر شي ركن د كلام شو او كه نعت شي ركن د كلام نه كيږي (٢) او كه دا خلقنه خبر
شي دا بقدر به ظرف لغو شي او كه صفت شي بقدر ظرف مستقر دي او ظرف لغو اصل دي او ظرف
مستقر خلاف الاصل دي ځكه دا تركيب خلاف الظاهر دي او متبادر الى الفهم نه دي

ويستوى الامران: برابر دي امران چې رفع او نصب دي په اسم مظانی کې او مرجح ورلره اراده د متکلم ده.
سوال: نه وايې استواء د امرين دي قرينه مرجحه د جانبين نه موجوده ده بيا خارج کې خو دواړه نه موجود کيږي يو به موجود کيږي او يو چې موجود شي بيا ترجيح بلا مرجح راغله او ترجيح بلا مرجح باطل ده لهذا دا ترکيب باطل شو؟ **جواب:** ترجيح بلا مرجح نه راځي مرجح ورلره شته استواء د امرين ده په اعتبار د ذات د اسم مظانی سره او مرجح اوله اراده د متکلم ده **فی مثل الخ** په مثل د **زيدقام وعمرو اکرمته** کې او مراد پدې سره هر هغه ترکيب دي چې اسم مظانی واقع دي (١) په يوه جمله کی او داجمله معطوف وی په جملی متقدمی باندې (٢) اوهغه جمله متقدمه چې ذو وجهين ده (٣) اسميه وی په اعتبار دابتداء سره (۴) اوفعليه وی په اعتبار د انتهاء سره اول ته چی وګورو جمله اسميه ده اوکه اخرته وګورو نو جمله فعليه ده څلور قيدونو نه جمله جوړه ده اوس دلته قرينتين زائدتين مرجحتين دجانبينو نه موجود دی (١) تجرد د اسم دعامل لفظی نه دامجوز درفع (٢) وجود دماله صلاحيت التفسير قرينه مجوزه دنصب (٣) عطف په اسميه باندې قرينه مرجحه درفع (۴) او عطف په فعلی باندې قرينه مرجحه دنصب ده اوسلامتيا عن الحذف په جانب درفع کی ددی سره مقابل دی قرب دمعطوف عليه په جانب دنصب کی په اعتبار دابتداء سره نه په اعتبار دانتهاء سره ځکه انتهاء د دواړو يوه ده
سوال: دا اسم چی مرفوع شی دحذف نه به بچ پاتې شی دا قرينه مرجحه شوه زياتی په جانب د رفع کی لهذا رفع مختاره شوه نو استواء د امرينو دکوم ځایې نه راغله ددی جوابونه دوه دی (١) **جواب:** دا چې دی سلامتيا لهٔ دوی هله اعتبار ورکوی چی په جانب دنصب کی قرينه مرجحه دنصب نه وی
(٢) **جواب:** دا چې داسلامتيا عن الحذف معاون دقرينی مرجحی درفعی ده بيا قرينه مرجحه دنصب سره هم مُعاون موجود دی چی هغه قرب دمعطوف عليه دی نو معاونين هم ددواړوسره موجود دی نو استواء راغله سوال: ددی جملی اسمی انتهاء هم دغه ميم دقام دی او ددی جملی فعلي منتهی هم دغه دی نو داقرب اوبعد دځه نه معلومه وی
جواب: قرب اوبعد په اعتبار دانتهاء سره نه معلوميږ په اعتبار دابتداء سره معلوميږي
ويجب النصب غرض دماتن بيان د موضع رابع دی چی هغه وجوب دنصب دی په اسم مظانی کی واجب دی نصب په اسم مظانی بنابر مفعول به **بعد حرف الشرط** چی واقع شی دا اسم مظانی پس دحرف شرط نه چی هغه انْ او لَوْ دی حرف الشرط کی دا اضافت عهدی دی ان او لو مراد دی ځکه حکم د اما شرطی مخکی بيان شوی دی **وحرف التحضيض** دارنګې واجب دی نصب چی واقع وی دا اسم مظانی پس دحرف تحضيض نه چی هغه کلا والا ولولا ولوما دی ځکه داحرف شرط چی انْ او لو دی اوحرف تحضيض چی داخلور دی دا واجب الدخول دی په فعل باندې وضعاً اوممتنع الدخولَ دی په اسم باندې هرکله چی فعل لفظاً نه وو نو معلومه شوه چی فعل تقديراً دی مثال دحرف شرط لکه انْ زيداً ضربته (١) تجرد د اسم دعامل لفظی نه دا قرينه مجوزه د رفع (٢) وجود دماله صلاحيت التفسير دا قرينه مجوزه دنصب (٣) دخولَ دحرف شرط اود حرف تحضيض دا قرينه موجبه دنصب ده مرجحه نه

ده چی رفع هم جائز شی ولیس الخ غرض دماتن ددینه (۱) بیان دموضع خامس دی چی رفع واجب ده (۲) دفع د اعتراض چی مخکی تا ویلی ووچی اسم مظانی پس د حرف استفهام نه واقع وی هلته نصب مختار او رفع جائز ده دا قاعده ستا منقوضه شوه په دی ترکیب سره چی ازیدٌ ذُهب به دی دا زید پس دحرف استفهام نه دی او رفع په دی کی واجب ده اونصب دسره نه دی جائز نو ماتن جواب وکړه **ولیس الخ** سره دا **ازید ذهب به** په تاویل دترکیب سره اسم دلیس او منه په اعتبار دمتعلق سره خبر دلیس دی، نه دی دا ترکیب چی ازیدٌ ذُهب به دی (۲) یانه دی دا زید چی په دی ترکیب کی واقع دی منه دباب د ما اضمر عامله نه حقیقةً اګر که مظان دما اضمر عمله کی دی ځکه تعریف دجز اول صادق دی او نفس الامر کی ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر نه دی ځکه تعریف دجزثانی نه دی صادق ځکه شرط په ما اضمر عامله کی دا دی چی دا به ممکن التسلیط وی بعینه یا په اعتبار د مناسب سره چی هغه مرادف او لازم دی او دا ممکن التسلیط نه دی نه بیعینه او نه په اعتبار دمرادف سره او نه په اعتبار د لازم سره ځکه د ذُهِبَ نه چی دا با لری کړی نو نصب دی زید لره نشتی ورکولی ځکه داصیغه د مجهول ده نو ممکن التسلیط نه شو او دا ذُهب دماضی مجهول د مجرد و پس د تعدیت نه په با سره مرادف دی د اُذهب ماضی مجهول د باب افعال هغه هم ممکن التسلیط نه دی ځکه هغه هم رفع ورکوی دی زید لره پشان د ذُهب او نصب نشی ورکولی او ممکن التسلیط په اعتبار د لازم سره هم نه دی چی هغه دوه دی (۱) اذهبَ ماضی معلوم د باب افعال نه (۲) یلابس دا دواړه اګر که نصب ورکولی شی لکن شرط نه دی موجود ځکه شرط په مفسَر او مفسر کی اتحاد د مسندالیه دی او دلته اتحاد نه راځي أذهَب زیداً أحد یلابِس زیداً أحد دا اذهب او یلا بس مفسر نه دی او دا ذُهب به ورلره مفسر نه دی ځکه شرط مابین د مفسَر او مفسر کی اتحاد دمسندالیه دی او دلته اتحاد دمسندالیه نشته. ځکه د دی ذُهب لپاره مسندالیه به دیَ او د هغه اذهبِاو یلا بس لپاره مسندالیه احد دی نو اتحاد رانغی مفسَر د مفسر سره په مسندالیه کی نه ممکن التسلیط بعینه شو او نه ممکن التسلیط په اعتبار دمرادف سره شو او نه ممکن التسلیط شو په اعتبار دلازم سره. اوهر کله چی نصب باطل شو بنا بر مفعول به او اسم مظانی کی احتمالین معینین دی نو **فالرفع** پس رفع لازم ده او رفع متعین ده بنا بر ابتدائیت زید مبتدا ذُهب به جمله ورلره خبر شو **وکذلك** همدارنګ رفع واجب ده په دی ترکیب کی چی کل شي فعلوه في الزبر دی دا **کذالك** د تشبیه د پاره دی دا **کل شیء فعلوه فی الزبر** مشابه دی د هغه ترکیب سره چی ازید ذهب به دی په دې شان سره چې هلته هم رفع واجب دی او دلته هم رفع واجب دی.

نو غرض د مصنف دلته هم درې دي (۱): بیان د موضع خامس چې رفع واجب ده. (۲) دفع د اعتراض کوي لکن دلته منشا د اعتراض قاعده اوله ده چې دا ترکیب د زید ضربته د قبیلې نه دی د هغې تقاضا دا ده چې په دې کې رفع مختاره او نصب جائز دی او حال دا دی چې دلته کې رفع واجب او نصب ممتنع دی. د دې جواب کوي چې دا نه دی د قبیلې د ما اضمر عامله نه حقیقةً اګر که په مظان د ما اضمر عامله کې دی ځکه جز اول د تعریف صادقیږي لکن نفس الامر کې ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر نه دی ځکه جز ثاني د تعریف نه صادقیږي چې لو سلط دی ځکه شرط په ما اضمر

عامله کې دا دی چې دا به ممکن التسليط يې او دا ممکن التسليط نه دی ځکه مانع معنوي موجود دی چې معنی کې فساد راځي لفظي مانع نشته ځکه فعلوه متعدي دی دېنه چې ضمير لرې کړې بيا دا نصب کل شيء له ورکولی شي. (١): اوس دا کل شيء منصوب کړی او وروستو فعلوه في الزبر ورله مفسر کړې معنی کې فساد دی ځکه د دې معنی به دا شي فعلوا کل شيء في الزبر دا في الزبر ظرف لغو متعلق دی په دې فعلوا پورې او دا معنی باطله ده ځکه لازميږي کون د زبر محل دپاره فعل د عباد او دا معنی باطله ده بلکه زبر محل دپاره د فعل د کرام الکاتبين دی چې واقع کوي په دې کې افعال د دې عبادو. (٢): اوس که رفع شي بيا ترکيب داشو کل مضاف شيءِ موصوف فعلوه جمله فعليه ورله صفت موصوف سره د صفت نه مضاف اليه دپاره د کل مضاف سره د مضاف اليه نه مبتدأ في الزبر په اعتبار د متعلق سره خبر، هر کار هسې کار چې دې خلقو کړی دی په دنيا کې هغه کائن دی په صحائفو د اعمالو کې دا کل مرفوع شي په دې ترکيب سره مفيد د معنی صحيح دی او دال دی په معنی مراده باندې او کل منصوب شي بيا دا مفيد د معنی فاسدې دی لهذا نصب باطل رفع واجب. (٣): يو بل ترکيب دی خلاف الظاهر هغه فاسد دی چې دا کل مضاف شي شيء موصوف في الزبر په اعتبار د متعلق سره نعت د شيء کړې بيا دا مجموعه مبتدأ فعلوه دا جمله خبر، د دې معنی دا ده هر شی چې کائن دی په زبر کې هغه د دې خلقو مفعول دی، کوم حصر چې مطلوب دی هغه راځلی او کوم چې راغلی هغه مطلوب نه دی ځکه دا لازمه نه ده کوم شی چې مکتوب وي هغه د دې خلقو مفعول وي مثلاً: هلته کې ملائك تبركاً بسم الله وليکي لکه مونږ چې ليکو د مکتوب اول سر کې هغه بسم الله مفعول د دې خلقو نه دی بلکه آيت مقصد حصر د مفعول دی په مکتوب کې نه حصر د مکتوب په مفعول کې. (۴): ترکيب: کل مضاف شيء مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه مبتدأ، فعلوه في الزبر مجموعه ورله خبر، مبتدأ سره د خبر نه جمله خبريه اسميه، دا ترکيب هم مفيد د معنی فاسدې دی. څلور ترکيبونه شو د دې ايت. (١) ترکيب مفيد د معنی صحيح او (٣) ترکيبونه مفيد د معنی فاسدې.

ونحو الزانية والزاني بيا غرض د کافيې مُلا: (١) بيان د موضع خامس چې رفع پکښې واجب ده. (٢): او د دفع د اعتراض ده منشا د اعتراض دا ده چې اسم مظاني مخکې د امر نه راشي نصب پکښې اولی او رفع جائز ده، تا مخکې ويلې وو دا قاعده ستا منقوضه شوه په الزانية والزاني الخ سره، ځکه دلته رفع واجب ده او نصب ممتنع دی او اسم مظاني واقع دی قبل الامر چې **فاجلدوا** دی، دی جواب کوي دا قاعده خای کې ده چې دا فعل ممکن التسليط وي او دلته دا فعل ممکن التسليط نه دی مانع پکښې معنوي موجود دی هغه مانع دی بيانوي، الفاء په فاجلدوا کې. (٢): يا دغه **فاء** په دغه ترکيب کې مرتبطه ده يعني ربط راوستونکې ده د مدخول خپل ماقبل سره. **بمعنی الشرط** په سبب د يو معنی سره چې هغه معنی شرط دی چې هغه سببيت د اول دی لپاره د ثاني يا ملزوميت د اول دی دپاره دثاني، **عند المبرد** يعني دا فا جزائيه ده په نيز د مبرد او مابعد د فاء جزائيه نه عمل نه شي کولی په ماقبل کې، ځکه که عمل وکړي په ماقبل کې بيا جز د جزاء مقدم شوی دی په فاء باندې فوت کېږي صدارت د فا او فا واجب الصدارت ده

په جزا کې بالاتفاق، مابعد د فا نه عمل نه شي کولی ماقبل کې (۱)، هله چې فا زائده نه وي (۲) او تقديم د معمول نه وي راغلی دپاره د يو غرض چې هغه غرض نه حاصليږي بې د تقديم نه

سوال: نحو مضاف الزانية والزاني الخ مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه مبتدأ الفاء مبتدأ ثاني بمعنى الشرط جار مجرور په اعتبار د متعلق سره خبر، مبتدأ سره د خبر نه جمله معطوفة عليها وجملتان الخ معطوفه، معطوفة عليها سره د معطوفه نه خبر د مبتدأ چې نحو الزانية الخ دی. مبتدأ سره د خبر خپل نه جمله خبريه اسميه او په دې باندې دا اعتراض دی الفاء بمعنى الشرط جمله خبر واقع شوی دی او جمله چې خبر واقع شي فلابد من عائد نو دلته عائد نشته؟

جواب: عائد پکښې مقدر دی ای الفاء فيه.

سوال: ته وايې الفاء فيه بمعنى الشرط. فاء په معنى د شرط سره ده او فاء شرطيه خو چرته نه ده راغلې په کلام د عربو کې؟ **جواب:** دا چې الفاء فيه مرتبطة مدخولها بما قبلها بمعنى الشرط چې فا مرتبطه ده ربط راوستونکې ده د مابعد ماقبل سره سبب د ربط څه شی دی په سبب د يو معنى سره چې هغه شرط دی

سوال: بيا په دې معنى الشرط باندې اعتراض دی دا فا په دې ترکيب کې مرتبطه ده په سبب د معنى د شرط سره دې نه خو معلومه شوه چې دا شرط سبب د ربط نه دی بلکه د دې شرط يوه معنى ده هغه سبب د ربط دی او دلته خو دا شرط سبب د ربط دی؟

جواب: دا چې هله به تا اعتراض کولی چې دا اضافة لامي وی او دا اضافة بياني دی

سوال: تا دا قاعده بيان کړه چې مبتدأ متضمن شي معنى شرط لره په خبر د هغه کې فا جزائيه راځي ليکن د هغې مصداقونه تا دوه بيان کړي دي (۱) وذلك الاسم الموصول (۲) او النكرة الموصوفة بهما او دا خو يو د هغوی نه نه دی بيا مثال نه جوړيږي؟ **جواب:** دا چې دا قسم اول دی موصول ځکه الزانية والزاني کې الف لام موصولي دي ای التي زنت والذي زنا

سوال: بيا په دې مبرد باندې اعتراض دی چې ته وايې مابعد د فا جزائيه نه عمل نه شي کولی په ماقبل کې دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې قول د الله تعالی سره (۱) وربك فكبر (۲) وثيابك فطهر (۳) اما اليتيم فلا تقهر (۴) واما السائل فلا تنهر (۵) اذا جاء نصر الله الخ فسبح عمل کړی دی په اذا باندې، چې په دې ځايونو کې مابعد د فا جزائيه عمل په ماقبل کې کړی دی؟

جواب: دا چې دا مسئله اختلافي ده ځکه عند المبرد ويلې دي (۱) څوك وائي مابعد د فا جزائيه نه ماقبل کې عمل کولی شي دليل د هغوی دپاره سمع د عربو ده (۲) بعضې وائي عمل نه شي کولی د هغوی دليل دا دی چې صدارت فوت کيږي، اوس څوك چې وائي عمل کولی شي لکه کوفيان شو په هغوی باندې اعتراض نشته او څوك چې وائي عمل نشي کولی لکه بصريان شو په هغوی باندې اعتراض دی، هغوی د دې قاعدې دپاره څه قيدونه لګوي (۱) چې مابعد د فا نه عمل ماقبل کې هله نه شي کولی چې دا فاء زائده نه وي او فسبح کې فا زائده ده يعني جزائيه نه ده او که ومنم چې دا فا جزائيه ده بيا جواب دا دی اذا ظرف دی او ظروف کالمحارزم وي او ظروفو کې هغه کار جائز دی چې

هغه نورو خايونو كې ناروا وي، او اما اليتيم فلا تقهر او اما السائل فلا تنهر كې ضرورت دا دى چې لا
زم نشي اجتماع او تقارن مابين د التي د شرط او جزا كې، او وربك فكبر، وثيابك فطهر كې معمول
مقدم شوى دى دپاره د حصر او اختصاص او دا غرض بې د تقديم نه نۀ پوره كيږي.

وجملتان يا آيت كريمه دوه جملې مستقلې دي، **عند السيبويه** په نيز د سيبويه باندې او جز د يوې جملې
عمل نه شي كولى په جز د جمله اخرى باندې او عامل د يوې جملې عمل نه شي كولى معمول د بلې
جملې كې مثال لكه اكرم زيد عمراً وضرب بكراً، دا ضرب عمل نه شي كولى په عمراً كې چې معمول
د اكرم دى دارنگې دلته كې دا فاجلدوا عمل نشي كولى په الزانية باندې د نصب څكه هغه جز د جمله
اخرى دى، اوس دوه جملې څنگه دي د سيبويه په نيز باندې، دا الزانية والزاني مبتدأ دى په حذف د
مضاف سره او خبر د دې محذوف دى اى حكم الزانية والزاني فيما يتلى عليكم مبتدأ سره د خبر نه
جمله خبريه اسميه، فاجلدوا الخ دا د هغې بيان (۲) يا دا الزانية والزاني خبر دى دپاره دمبتدأ
محذوف اى هذا بيان حكم الزانية والزاني فاجلدوا كې دا فا تفسيريه دا جمله د هغې بيان واقع شوى
دى بيا دې جملتان سره مستقلتان قيد ولې لگوو څكه په دې باندې اعتراض دى.

سوال: چې مبرد هم دوه جملې جوړې كړي دي چې مبتدأ متضمن دى معنى د شرط لره او شرط هم جمله
دى ته څنگه وائې وجملتان عند السيبويه؟ **جواب:** دا دى چې دلته جملتان نه مراد دى مستقلتان او
شرط او جزا دوه جملې مستقلې نه دي دا دوه مجموعه يو جمله ده اوس اثبات د مدعى كوي په ابطال
د نقيض سره، **والا** كه فا جزائيه نه شي لكه څنگه چې مبرد وائې او آيت دوه جلمې نه شي لكه څنگه چې
سيبويه وائې **فالمختار النصب** پس مختاره نصب دى د وجې د قاعدې نه د قاعدې مطابق چې دا د باب ما
اضمر عامله على شريطة التفسير نه دى او قرينه مرجحه د نصب موجود ده چې هغه وقوع د دې نهى
قبل الامر فافهم. لكه چې راغلې دى په قراءة شاذه كې ليكن نصب باطل دى په اتفاق د قراء سبعه ؤ
سره. فالمقدم مثله چې ان لم يكن دى نو مدعى زما ثابته شوه چې رفع معين او واجب دى او رفع دپاره
سبب ظاهر كې د غه دوه دي.

الرابع التحذير: موضع رابع د مواضع اربعه ؤ نه چې واجب دى په دې كې حذف د عامل ناصبه د مفعول
به په حذف وجوبي قياسي التحذير موضع او تركيب د هغه مفعول به دى چې مسمى كولى شي دغه
مفعول به په اصطلاح د نحو كې په تحذير سره. دوه اعتراضونه دفع شو الرابع ته موصوف راوباسو
موضع په قرينې د مقام سره الموضع الرابع دا مبتدأ التحذير خبر دى حمل نه صحيح كيږي او خبر
محمول يې په مبتدأ باندې نو دلته عبارت په حذف د مضاف سره دى اى موضع التحذير نو حمل د
موضع په موضع باندې راغلى. (۲) تحذير د مصدر صيغه ده تخويف ته وائې او دا صفت د متكلم دى
بيا حمل نه صحيح كيږي. **جواب:** تا به هله اعتراض كولى چې دلته معنى مصدري مراد وى بلكه دا
لفظ منقولي دى د هغه معنى لغوي نه نقل شوى دى علم گرځيدلى دى په اصطلاح د نحو كې د يو نوع
د مفعول به دپاره. تحذير په لغت كې تخفيف شيء عن شيء، او تبعيد شيء عن شيء، ته وائې او په

اصطلاح د نحو کي **وهو** (۱) دغه مفعول به چې نوم يې تحذير دی (۲) يا دا تحذير اصطلاحي **معمول** بتقدير
اسم دی چې عمل کړی شوی وي او تاثير کړی شوی دی په دې کې نصب بنا بر مفعول به
(اوس بيان د عامل) **بتقدير اتق** په اتق مقدره يا په مثل د اتق مقدره سره چې بعد دی په دې شان سره چې
عامل ناصبه دغه اسم کې اتق مقدره يا مثل د اتق مقدره دی، بتقدير اتق اصل کې باتق المقدرة وو
مرکب توصيفي دی او عبارت په حذف د معطوف سره دې ای ونحوه تحذيراً (۱)، او ذکر کړی شوی
دی دا مفعول به دپاره د ويره ولو د مفعول به مما د مسمی د هغه اسم نه بعده چې مذکور دی پس د دې
اسم نه (۲) يره ولې شوی دی دغه مفعول به په يره ولو سره مما د مسمی د هغه اسم نه بعده چې مذکور
دی وروستو د دې نه **اوذکر الخ** يا تحذير اصطلاحي هغه اسم دی چې عمل کړی شوی وي په هغې کې
نصب نه مفعول به په اتق مقدره سره او ذکر کړی شوی وي **محذر منه** چې دغه مفعول به ده **مکررا** په حال
کون د دې مفعول به چې دی مکرر وي او کلمه د واو دپاره د تنويع او تقسيم ده نه دپاره د شك او تردد
چې دغه مفعول به په اصطلاح د نحو کې مسمی کولی شي تحذير سره. په دوه قسمه دی (۱) محذر دی
(۲) محذر منه دی، او ذکر عطف دی په هغه حذر مقدر باندې عطف د فعليه دې په فعليه باندې، او
دلته وضع د اسم ظاهر ده په مقام د ضمير باندې حکماً دا اسم ظاهر رابط شو او نکته په اقامت د اسم
ظاهر په مقام د ضمير کې اشاره ده تغير د نوعين ته چې نوع اول محذر او نوع ثاني محذر منه او دا
تغير نه معلوميدو د ضمير نه.

بيان د فوائد د قيو داتو

سوال: هو دا ضمير راجع دی تحذير ته مبتدأ معمول ورلره خبر او خبر محمول يې په مبتدأ باندې دلته
حمل نه صحيح کيږي ځکه تحذير خو مصدر صيغه ده تخويف ته وائي او دا يره ول خو اسم معمول نه
دی؟ **جواب:** دلته کې شارحين صنعة الاستخدام مشهوره جوړ کړی دی صنعة الاستخدام مشهوره دې ته
وائي چې يو شي دپاره دوه معنې وي په ذکر د لفظ صريحي سره يو معنی اراده وکړي او په ارجاع د
ضمير سره بله معنی ارده وکړي دلته هم دې لفظ د تحذير دپاره دوه معنې دي يو معنی لغوي بله
معنی اصطلاحي په ذکر د تحذير سره معنی لغوي اخلوا او په ارجاع د ضمير سره معنی اصطلاحي
اخلوا چې هغه مفعول به دی نو حمل صحيح شو.

سوال: په شارحينو دې صنعة الاستخدام ته څه ضرورت دی ځکه دلته تحذير دی معنی مصدري ته نه
وائي بلکه تحذير مفعول به ته وائي وهو دغه تحذير چې نوم د مفعول به دی په اصطلاح د نحو کې اسم
معمول الخ (۲). صنعة الاستخدام صحيح کيږي هم نه ځکه صنعة الاستخدام به هله صحيح کيږي چې
اول لفظ صريحي نه هغه مراد کړي او په ارجاع د ضمير سره مفعول به اراده کړي او دلته لفظ صريحي
نه معنی مصدري نه ده مراد بلکه تحذير نه هم معنی اصطلاحي مراد ده او په ارجاع د ضمير سره هم
دغه مراد دی والا بيا حمل د التحذير په الرابع باندې نه صحيح کيږي کما مر لهذا دينه معلومه شوه
چې لفظ صريحي نه هم دغه معنی اصطلاحي مراد دی.

سوال: بیا په دې معمول باندې اعتراض دی منشاء د اعتراض دا ده چې معمول په لغت کې اعراب ته وائي دا اسم مفعول به خو اعراب نه دی لهذا حمل بیا نه صحیح کیږي؟

جواب: دلته صله مقدره ده فیه. (۲) او که معمول معنی اصطلاحي سره واخلې بیا اعتراض نشته ځکه معمول د نحو په اصطلاح کې دې اسم ته وائي اعراب ته نه وائي.

سوال: ته وایې دغه اسم معمول د اتق مقدره دی په دې اتق کې ضمیر مستتر دی انت هغه اسم دی او اتق مقدره عمل کړی دی او هغه خو مفعول به نه دی او ستا تعریف پرې صادقیږي؟

جواب: عمل به په کې کړی شوی وی د نصب دې سره هغه ووتلو.

سوال: بنا بر مفعول به دا قید ولې لګوو ځکه الطریق الطریق اذیاً دا ترکیب مستعمل دی په استعمال د کلام د عربو کې دا الطریق خو مفعول به دی او تحذیر دی او دا اذیاً مفعول به نه دی او تحذیر نه دی بلکه تمیز دی او ستا دا تعریف صادق دی په دې باندې؟

جواب: مطلق نصب نه وایم بلکه نصب بنا بر مفعول به وایم په دې قید سره دا ووتلو.

سوال: په اتق مقدره سره دا ترجمه کې قلب ولې کړو ځکه په دې باندې اعتراض دی چې دا قانون دی مضاف مراد وی او مضاف الیه قید خارج وی لهذا ستا عبارت نه معلومه شوه چې تقدیر عامل دی تقدیر خو عامل نه دی؟ **جواب:** دا دی ستا دا اعتراض به هله وارد کیدو چې دلته معنی د ترکیب اضافي مراد وی بلکه لفظ کې ترکیب اضافي دی لکن مراد معنی د ترکیب توصیفي دی.

سوال: مراد که ستا معنی د ترکیب توصیفي وي نو بیا هغه ترکیب توصیفي ولې نه ذکر کوې؟

جواب: ترکیب توصیفي کې دا صفت مقصود دی دا موصوف بماهو موصوف مقصود نه وی اوس د دې ترکیب توصیفي نه ترکیب اضافي جوړ کړې اشاره کوي مقصودیة ته چې دا صفت مقصود دی دا موصوف بما هو موصوف مقصود نه دی. کوم اسم کې چې اتق مقدر عمل وکړي هغې ته تحذیر وائي او کوم اسم کې چې اتق مذکور عمل کړی وي هغې ته دوی تحذیر نه وائي وهکذ احترز به عن قولك ایاك لمن قال من ضربته لانه منصوب بتقدیر اضرب لابتقدیر اتق لانه لیس من هذا الباب.

تحذیرا دا منصوب دی او منصوبات کافیه کې دولس دي دا کومه نوعه ده؟

جواب: دلته دوه نوعې جوړیږي (۱) منصوب بنا بر مفعول مطلق چې عامل ورته را اوباسې حذر ای حذر تحذیراً. (۲) یا منصوب بنا بر مفعول له که عامل ورته را اوباسې ذکر ای ذکر تحذیراً لپاره د یره ولو د مسمی د دې مفعول به د مسمیٰ د مابعد نه، دا مسمی ځکه را اوباسو چې دوی مفعول به دې لفظ ته وائي دا لفظ د ایاك خو نه دی یره ولې شوی د اسد نه؟

جواب: دا چې دلته مسمی د دې مفعول به مراد دی تحذیراً سره یو مفعول به را اوباسي چې د دوی په اصطلاح کې یو مفعول به دی په اتق مقدر سره هغې ته دوی تحذیراً نه وائي لکه یو سړی تا ته وایي من تتق ته په جواب کې ایاك ای اتق ایاك دا ایاك مفعول به د اتق مقدر دی دې ته دوی تحذیر نه وائي ځکه دا چې متکلم ذکر کړی دی د دې لپاره نه دی ذکر کړی چې دا مابعد نه یې ویروه وي.

او که معمول باندې عطف کړي معطوف علیه ځوك دی او حرف عطف دی معطوف علیه غوارې

سوال: بیا لازمیږي عطف د جملې په مفرد باندې دا باطل دی (۲): معطوف مباین وی د معطوف علیه نه په کلمه د او سره دلته دا ذکر مباین د معمول نه دی ځکه دا هم معمول په اتق مقدر سره دی؟

جواب: دا دي چې دا عطف دي په تحذیراً باندې چې هغه مفعول مطلق دي دپاره د حذر مقدر، یا مفعول له دي دپاره د ذکر مقدر عطف د جمله فعلیه په جمله فعلیه باندې راغي. او بیا قانون دا دي چې ما قبل د معطوف علیه نه معاد وي په معطوف کي، و هو معمول بتقدیر اتق دا به دلته را اوباسي

سوال: دا ذکر ته عطف کوي په هغه ذکر یا حُذر مقدر باندې بیا عطف صحیح نه دي د بلې قاعدې د وجې نه چې معطوف علیه کي ضمیر وي چا ته چې راجع وي معطوف کي به هم ضمیر ني هغې ته په راجع وي اوس دلته کي د ذُکر او حذر ضمیر راجع دي هغه تحذیر ته او په دي ذکر کي ضمیر نشته ځکه المحذر منه اوله نائب فاعل دي نو خلو د معطوف راغله د ضمیر د معطوف علیه نه دا باطل دي؟

جواب: دلته وضع د اسم ظاهر دي چې المحذر منه دي دي په مقام د ضمیر باندې، حکماً دا رابط شو ځکه شئ قائم شي په مقام د غیر کي حکم د غیر اخلي نو خلو د معطوف د عائد نه راغله

سوال: په دي باندې باعث څه دي چې وضع د اسم ظاهر کوي په موضع د ضمیر باندې، هغه ضمیر ولي نه ذکر کوي په دي وضع د اسم ظاهر کي نکته څه ده؟ **جواب:** دا دي نکته او باعث په وضع د اسم ظاهر په موضع د مضمر باندې دا دي چې اشاره ده تغیر د نوعینو ته چې قسم اول محذر دي او قسم ثاني محذر منه او دا تغیر د دي ضمیر نه نه معلومیدُه. لهذا دا کلمه د او تقسیم دپاره دي چې کوم یو مفعول به دپاره چې د دوئې په اصطلاح کي تحذیر وائې هغه (۲) قسم دي که دي دا مفعول به دي دپاره ذکر کړي او چې دي د بل نه هیروم دیته مفعول به محذر وائي لکه ایاك و الاسدَ شو (۲) او که دي دا مفعول به دي دپاره ذکر کړي وو چې دینه به بل ځوك ویروم هغې ته مفعول به محذر منه وائي لکه الاسدَ الاسدَ او الطریقَ الطریقَ شو دا محذر منه دي ځکه د دي اسد او طریق نه یره وي د بل چانه بلکې بل ځوك یره وی د دی اسد او طریقه مثل بیا په دي باندې اعتراض دي چې دا مثالونه کافیه ملا ولي ذکر کوي دوه مثالونه کافي ؤ یو د محذر دپاره او بل د محذر منه دپاره؟

جواب: تعداد د مثال بنا دي په تعداد د ممثل باندې چې ممثل شپږ او مثالونه ئي ځکه شپږ ذکر کړه ځکه تحذیر دوه قسمه دي دا کله محذر وي (۲) او کله محذر منه وي، تحذیر چې کله محذر وي علامه او شرط اوله ذکر د محذر منه دي او تحذیر چې محذر منه وي علامه او شرط پکي تکراد دي بیا محذر منه (۴) قسم دي (۱) کله اسم صریحي وي (۲) او اسم تاویلي وي کله چې محذر منه اسم تاویلي او بیا د هغې ذکر (۳) طریقي دي (۱) کله مذکور ني په واو سره (۲) کله مذکور وي په من سره (۳) او کله مذکور ني په تقدیر د من سره. او کله چې محذر منه اسم صریحي وي او د هغې ذکر طریقي (۲) دي (۱) کله به مذکور وي په واو سره (۲) او کله به مذکور ني په من سره، تقدیر د من په دي کي جائز نه دي، قسم اول چې محذر وي د هغې صورتونه پنځه دي اویو دا قسم ثاني چې تکرار دي نو

مجموعه صورتونه د تحذير شپږ شو. **اياك و الاسد و اياك ان تحذف** دا دواړه مثالونه د قسم اول دي چې تحذير محذر وي او محذر منه مثال اول کي اسم صريحي دي او مثال ثاني کي اسم تاويلي اياك و الاسد دا اصل کي اتق نفسك من الاسد و الاسد من نفسك. وفي الحديث ابن آدم لك اول نظرة و اياك و الثانية يعني اي بني آدم ستا اول نظر معاف دي خبردار دويم نظر اونه کړي، او بيا من نفسك د جانب د معطوف نه حذف شو اکتفاء اوشوه په معطوف عليه باندې، بيا من الاسد د معطوف عليه نه حذف شو اکتفاء وشوه په معطوف باندې، بيا اتق حذف شو د وجي د استغناء نه ضميرين متصلين چې مرجع د دواړو يو وي فعل واحد پورې نه متصل کيږي بې د افعال قلوب نه اتقك نه ويلي کيږي د دې وجي نه اتق نفسك ويلي او کله چې فعل حذف شو نفسك هم حذف شو د وجي د استغناء نه چې اجتماع په ما بين د فاعل او مفعول کي نه راځي او کاف ضمير متصل بدل شو په منفصل سره د وجي د عدم د ما يتصل نه، اياك و الاسد پاتې شو، او اتقاء د اسد تعبير دي د اتقاء د نفس نه، او والاسد معطوف دي تابع دي نه قسم اول دي او نه قسم ثاني دي، او بعد مقدر دي په امثله د نوع اول کي چې تحذير محذر دي او اتق مقدر دي په دې نوعي ثاني کي په طريقې د حذف ايصال سره او حذف ايصال سماعي دي قياس دنورو په دې باندې باطل دي.

سوال: دلته اتق مقدر وائي او که بعد وائي دواړه نه صحيح کيږي ځکه اتق لازم دي نصب نه شي ورکولي او که بعد مقدر کوي دي مخکښي مثالونو کي خو صحيح دي لکن الطريق الطريق نوع ثاني کي نه مقدر کيږي ځکه معنى غلط دي؟ **جواب:** وشو چې بعد مقدر دي په امثلوو د نوع اول کي او اتق مقدر دي په دې نوع ثاني کي په طريقې د حذف ايصال سره حذف ايصال ديته وائي: د دوی په اصطلاح کي چې فعل لازم سره سره حرف جر ولګوي په واسطې د حرف جر سره عمل وکړي بيا حرف جر حذف کړي.

سوال: بيا خو حذف ايصال تولو مثالونو کي جواز لري؟ **جواب:** دا حذف ايصال سماعي دي ولايقاس عليه غيره لهذا دې مثالونو کي اتق مقدر دي او نورو کي بعد مقدر دي، د دينه بنه جواب دا دي دا لازمه نه ده باب افتعال چې چيرته راشي لازمي به ئي بلکه دا لزوم خاصه غالبه دي او کله کله متعدي هم راځي، کما في قوله تعالى (و اتقين الله) لهذا دلته دا باب تفعيل متعدي دي ټول مثالونو کي اتق مقدر دي **وتقول** وائي به ته **اياك و الاسد** تحذير پکي محذر دي او محذر منه اسم صريحي دي مذکور دي په من سره لفظاً **و من ان تحذف** تحذير پکي محذر دي محذر منه اسم تاويلي دي مذکور دي په من سره و اياك ان تحذف تحذير پکي محذر دي محذر منه اسم تاويلي دي بتقدير من مذکور دي په تقدير د من سره او تقدير د حرف جرسره د آن او آن نه کثير او قياسي دي **لا تقول** نه به وائي **اياك الاسد** په تقدير د من سره چې تحذير محذر دي او محذر منه اسم صريحي دي په تقدير د من سره لامتناع تقدير من د وجي د امتناع د تقدير د من نه په طريقې د قياس او اطراد سره بې د آن او آن نه دارنګي واو پکي هم نه مقدر کيږي ځکه تقدير د من چې پکي ممتنع شو تقدير د واو په طريقه اولى سره ممتنع دي.

المفعول فيه: بل د منصوباتو نه هغه منصوب دي، يا بل د مفاعلو نه هغه مفعول دي چې مسمى كولي شي په اصطلاح د نحو كي په المفعول فيه سره هو دغه نوع منصوب چې نوم د هغې مفعول فيه دي يا دا مفعول فيه په اصطلاح د نحو كي **ما** اسم دپاره د هغه مسمى دي **فعل** چې كړي شوي وي فيه په دي مسمى د دي اسم كي **فعل** مصدر هسې مصدر مذكور چې دا مصدر به مذكور وي، مذكور عام دي لفظاً وي او كه تقديراً وي مطابقتاً وي او كه تضمناً په دي لحاظ سره چې مصدر واقع شوي دي په دي مسمى كې نه په دي لحاظ سره چې واقع شوي وي په مسمى باندي (۲) يا دا مفعول فيه په اصطلاح د نحو كي **ما** اسم دپاره د هغه مسمى دي (فعل) چې متعلق وي فيه په دي مسمى پوري (فعل) مصدر په واسطي د في سره **هغه** في عام دي چې لفظاً وي او كه تقديراً وي هسې مصدر مذ كور چې دا مصدر به مذكور وي لفظاً يا تقديراً مطابقتاً يا تضمناً من زمان او مكان چې هغه به ظرف زمان وي يا ظرف مكان وي حقيقة يا حكماً. غرض د مصنف د دي عبارت نه درې خبري دي: (۱) بيان د مبهم چې كلمه د ما دي (۲) تقسيم د مفعول فيه چې (۱) زمان دي (۲) او بل مكان دي (۳) تمهيد احكامو مختصه وو د هر واحد ته.

سوال: ما فُعلَ فيه فعل د دي معنى او المفعول فيه معنى يو دي او د دواړو يو مطلب دي ځكه المفعول كې الف لام موصولي دي او مفعول په معنى د فُعلَ سره دي د دي معنى دا ده الذي فعل فيه نو د هغه معرَف او د دي معرِف په مينځ كي اتحاد دي دا تعريف د شي بنفسه شو او تعريف بنفسه باطل دي لكه د دي داسې مثال دي چې زه اووايم: ما الانسانُ؟ نه په جواب كي وائي: انسان؟ **جواب**: دوى دا جواب كوي چې دا تعريف بنفسه نه دي ځكه دي تعريف كي يو قيد دي مذكور وو هغه قيد د دي معرَف نه نه معلوميږي لهذا تعريف بنفسه نه شو لكن بنه جواب دا دي چې المفعول فيه مجموعه د نحو په اصطلاح كي علم دي او مفرد د دي تركيبو نه پكي نشته دي او دا مركب د هغې دپاره تعريف دي.

سوال: بيا اعتراض دي په دي كلمي د ما باندي چې دا ما عبارت د اسم نه وائي او كه د مسمى نه وائي دواړه باطل دي ځكه كه ما عبارت د اسم نه وائي شميرل يې ماقبل نه صحيح شو لكن فعل فيه ورسره نه لګي او كه عبارت د مسمى نه وائي فعلَ فيه ورسره اولګيده لكن ما قبل ورسره نه لګي ځكه مفعول فيه د دوى په اصطلاح كي اسم ته وائي مسمى ته نه وائي؟

جواب: ما عبارت د مسمى نه دي په حذف د مضاف سره.

سوال: نه وائي مفعول فيه ما فعلَ فيه فعل ته وائي صمتُ يومَ الجمعة دلته خو دا معنى اصطلاحي نه ده واقع بلكه معنى مصدري واقع ده چې صوم دي؟ **جواب**: دلته فَعل نه مصدر مراد دي نه معنى اصطلاحي **مذكور** مذكور عام دي لفظاً وي لكه صمتُ يومَ الجمعة شي او كه تقديراً وي لكه يوم الجمعة شو په جواب د متى صمتَ كي، مطابقةً وي لكه صومي يومَ الجمعة شو او كه تضمناً وي لكه صمتُ يومَ الجمعة او انا صائم يومَ الجمعة شو او په دي **مذكور** سره احتراز وكړه يومُ الجمعة يوم طيب نه ځكه فعل ورسره مذكور نه دي نه لفظاً او نه تقديراً او نه حقيقةً او نه مطابقةً او نه تضمناً.

سوال: تعريف ستاً مانع نه شو يو ځاى كې مفعول به دي ستا تعريف صادق دي شهدت يوم الجمعة ځكه ما فعلَ فيه فعل مذكور دي؟ **جواب**: اول دا حدث به مذكور وي د دي ذكر كي (۲) حيثيته دي (۱) دا

مذکور دي د دي حیثیت نه چې دا فعل واقع دي په دي مسمی کي (۲) دا فعل مذکور دي د دي حیثیت نه چې دا فعل واقع شوي دي په دي مسمی باندې ترجمي د دي دوه دي (۱) حاضر شوي اوم ورځ د جمعي کي مفعول فیه (۲) حاضر شوي وم ورځ د جمعي ته مفعول به شو یعنې مذکور فیه مراد دي مذکور علیه نه دي مراد. **دویم جواب:** ځوك د دي متن داسې ترجمه کوي بیا اعتراض نه واردیږي و هو ما فعل چې متعلق وي په دي مسمی پورې مصدر لکن د دي مصدر تعلق د دي مسمی سره بالذات نه وي بلکه د دي مصدر تعلق د دي مسمی سره په واسطه د في سره دي، شهدتُ یومَ الجمعة مفعول به واخلي دا وو ته ځکه د دي مصدر تعلق د دي مسمی سره په واسطي د علی سره دي مفعول فیه نه دي.

سوال: نو په دي جواب باندې دا اعتراض دي په دي معنی سره دغه ترکیب خواووته او یومُ الجمعة یوم طیب دا هم ووته لکن دا مذکور فیه لغوه شو په دي تعریف کي ځکه دا قید خو یې دي دپاره لګوو چې یومَ الجمعةِ یوم طیب اوځي د تعریف نه او هغه د دي تعلق سره ووته؟ **جواب:** دا دي چې فوائد د قیوداتو تابع د قصد وي دي تعلق سره او باسمه شهدت یومَ الجمعة او مذکور سره او باسمه یومَ الجمعة یوم طیب.

سوال: تعریف د مفعول فیه ما فعلَ فیه فعل مذکور سره تام شو من مکانٍ او زمانٍ دا قید لغوه دي ځکه دا نه قید مانعه دي او نه قید جامعه دي؟ **جواب:** دا دي چې په دي کي درې فائدي دي غتي غتي.

سوال: جلستُ قدمَ زیدٍ جئت طلوعَ الشمسِ دا مفعول فیه دي او نه زمان دي او نه مکان دي؟ **جواب:** دا دي دا مکان او زمان عام دي چې حقیقةً وي او که حکماً وي جلستُ الخ معنی دا وي وخت قدوم زید وخت طلوع الشمس. دا خبره زده کړئ چې دا تعریف یو د مفعول حقیقةً دي چې مفعول فیه حقیقةً یا زمان وي یا مکان وي، او یا مفعول فیه تشبیهاً دي هغه منحصر په زمان یا مکان کي نه وي نو النجاةُ في الصدقِ الهلاك في الکذبِ دیته مفعول فیه تشبیهاً وائي دا نه زمان دي او نه مکان دي، هر کله چې مصنف مخالف وو د جمهورو نه په دي شان سره چې د ده اصطلاح دا ده چې في پکي مذکور دي هم مفعول فیه دا او که مقدر ئي هم مفعول فیه دي ځکه تعریف صادقیږي دواړو باندې او فلا مُناقشةَ في الاصطلاح نو دئي ویل و شرط نصبه شرط دپاره د نصب قبلولو د مفعول فیه د عامل نه تقدیر في تقدیر د في دي ځکه په وخت د تلفظ کي په في باندې مفعول فیه مجرور ئي ځکه حرف جر واجبه ئي جر په مدخول کي.

سوال: جمهور داسې وائي و شرطه تقدیر في شرط دپاره د مفعول فیه په خارج کي تقدیر د في دي که في مقدر وي مفعول فیه وائي او که في مذکور وي هغې ته هغوی مفعول فیه نه وائي نو تا د جمهورو نه ولي خلاف وکړه؟ **جواب:** دا دي دا اختلاف في العبارة بنا دي په اختلاف في الاصطلاح باندې چې دواړه د ده په نیزد باندې مفعول فیه دي ځکه تعریف صادقیږي دواړو باندې (۲) د دي دا اصطلاح وي چې دواړو ته مفعول فیه وائي او د هغوی اصطلاح قائم وي په دي چې یواځي منصوب بتقدیر في ته مفعول فیه وائي فلّا مناقشه في الاصطلاح.

سوال: مصدر کله مضاف کیږي فاعل ته او کله مضاف کیږي مفعول ته او دلته دا معترض یې مضاف کوي فاعل ته بیا اعتراض کوي چې شرط دپاره د نصب ورکول د مفعول فیه بل چا ته مفعول فیه خو

بل چا ته نصب نه ورکوي؟ **جواب:** دا دي چې دلته مصدر مضاف دي مفعول ته يعني شرط دپاره د نصب تیلول د مفعول فيه د عامل نه تقدير د في دي خکه في حرف جر دي كه مذكور شي اثر ئي جر دي په مدخول کي بيا نه منصوب کيږي و ظروف الزمان سره (۱) دي بيان د احکام مختلفوو کوي د مفعول فيه ظرف زمان خانله احکام دي او مفعول فيه ظرف مكان خانله احکام دي (۲) يا بيان دا محله د تقدير د فا کوي و ظروف الزمان يعني مفعول فيه چې ظرف زمان وي كلها ټول برابره خبره ده چې مبهم وي په دي شان سره چې انتهاء معين ورلره په عرف کي نه وي لکه دهر شو، يا معين وي په دي شان سره چې انتهاء معين ورلره په عرف کي وي لکه يوم شهر شو **تقبل ذلك** يعني جائز ده چې في مقدر کړي دا مفعول فيه منصوب اولولي لکه صمت دهراً او سافرت شهراً شو هر چې دي ظرف زمان مبهم دا مشابه دي مفعول مطلق سره په جزئيت کي مفعول مطلق مصدر ته وائي دا جز د فعل نه دي ظرف زمان مبهم هم جز دي د مفهوم مطابقي د فعل نه او مصدر ته خو فعل موصل بالذات دي ضربت ضرباً او دلته هم فعل موصل بالذات دي صمتُ يوماً، او ظرف زمان محدود اگر كه جز د مفهوم د فعل نه ندي لکن هغه محمول دي او قياس دي په ظرف زمان مبهم باندې د وجي د اشتراك او د اتحاد د دوی نه په ذات کي چې هغه زمانه دي و ظروف المكان مفعول فيه ظرف مکان **ان كان مبهما** کچيري مبهم وو په دي شان سره عرف کي ورلره اندازه او انتهاء معين نه وي بيا معرفه وي او که نکره وي **قبل** قبلوي دا مكان مبهم **ذلك** دا تقدير د في په دي شان سره چې متكلم منصوب ووائي او في پکي مقدر کړي جائز ده **والا** كه دا مفعول فيه ظرف مکان مبهم نه ؤ بلکه محدو وو په دي شان سره عرف کي ورله اندازه او انتهاء معين وي بيا نكره وي او که معرفه وي **فلا** بيا جائز نه دي تقدير د في بلکه واجب ده تلفظ په في باندې هر چې دي ظرف مكان مبهم هغه محمول دي په ظرف زمان مبهم باندې د وجي د اشتراك د دوی نه په وصف کي چې هغه ابهام دي او هر چې دي ظرف مكان محدود دا نه دي محمول په ظرف زمان مبهم باندې د وجي د عدم اشتراك نه په ذات او په وصف کي او دارنګي نه دي محمول په ظرف زمان محدود او ظرف مكان مبهم باندې خکه لازميږي استعاره د مستعير نه.

سوال: دا مكان محدود قياس کړه په مکان مبهم باندې خکه دا دواړه شريك دي په ذات کي يا قياس کړه په زمان محدود باندې خکه دا دواړه شريك دي په وصف کي چې تعين دي؟ **جواب:** په هغوی باندې هم حمل نه شو کولي خکه بيا لازميږ استعاره د مستعير نه چې هغه دواړه قياس دي په غير باندې اوس دا مونږ په هغې باندې قياس وکړو بيا استعاره د مستعير نه راځي او استعاره د مستعير نه باطل ده **وفسر** بيان او تعين کړي شوي دي **المبهم** مصداق د مکان مبهم **بالجهات الست** په جهات سته وو سره چې هغه (۱) خلف (۲) قدام (۳) يمين (۴) شمال (۵) فوق (۶) تحت دي، دا شپږ واړه مکان مبهم دي خکه عرف کي ورلره انتهاء او اندازه نه ده معلوم اما نفس الامر کي خو انتهاء شته لکن مونږ ته نه دي معلوم (او هر جسم) دپاره دا شپږ جهات وي، بيا دا جهات (۳) قسم دي: (۱) جهات عربيت و هو المراد ههُنا (۲) جهات حكميه چې طول عمق او عرض ته وائي (۳) جهات منطقيه چې قضيه سره وروستو کوم قيودات ذکر شي

هغه ته وائي جهات، او قضيه ته وائي قضيه موجهه بيا دلته تفسير نه مراد دي تعين د مصداق نه تعريف ځکه تعريف د مکان مبهم خو هغه دي چې د هغې اندازه او انتهاء په عرف کي معلومه نه وي و حمل الخ دا جمله مستانفه جواب سوال دي، سوال د دينه پيدا شو (۱) چې مکان مبهم کي تقدير د في جائز دي (۲) د دي مکان مبهم مصداق يې بيان کړه په جهات ستوو سره د دي معنى دا شوه چې په دي شپږو ځايونو کي في مقدر کيږي د دينه علاوه په نورو کي في نه مقدر کيږي، اوس معترض وائي د دي جهات سته وو نه ماسوا مکان غير محدود دي په هغې کي تقدير د في جائز دي لکه عند او لدى نو ادي جواب وکړه و حمل قياس کړي شوي دي **عليه** په دي مکان مبهم باندې چې مفسر دي په جهات ستوو سره **عند** او **لدى** چې دا دواړه ظرف مکان مبهم دي **وشبهها** او مشابه د دي دواړو چې هغه دون او سوى دي په تقدير د في کي، علت مشترکه **لابهامهما** (۱) د وجې د ابهام نه په عند او لدى کي لکه چې ابهام موجود دي په دي جهات ستوو کي (۲) د وجي د ابهام د مشبه نه چې دون او سوى دي او مشبه به نه چې عند او لدى دي او قياس څلور شيان غواړي: (۱) مقيس عليه جهات سته (۲) عندي نه دون سوى مقيس (۳) علت مشترکه ابهام دي (۴) حکم مشترك جواز د تقدير د في.

سوال: لابهامهما ضمير راجع دي عندي او لدى ته د دې دواړو علت د حمل خو معلوم شو او دون او سوى ولي محمول دي د دي علت معلوم نه شو؟ **جواب:** د هغې دوه دي: (۱) د دي عند او لدى حکم معلوم شو صراحةً او وجه د حمل د شبهها تبعاً ترينه معلوم شو يعنې د دون او سوى حکم په خپله معلوم شو (۲) يا دا ضمير راجع دي څلور واړو ته په تاويل د نوعينو سره، دا اعتراض هله وارديږي چې دا نسخه د کافيه ملا لابهامهما شي لکه دا نسخه شو (۲) نسخه د کافيه ملا کي لابهامها دي بيا اعتراض نه وارديږي ځکه ضمير راجع دي په تاويل د مذکور سره (**مفعول فيه**) چې ظرف مکان مبهم وي تقدير د في جائز دي مکان مبهم عام دي حقيقةً وي لکه جهات سته يا حملاً او قياساً وي لکه دا څلور و لفظ مکان .) دا هم جمله مستانفه جواب د سوال دي.

سوال: لفظ د مکان دا مکان معين دي او تقدير د في جائز دي او ته وائي مکان محدود کي تقدير د في جائز نه دي؟ **جواب:** محمول دي په مکان مبهم باندې لفظ د مکان اګر که دا مکان محدود دي په جواز د تقدير د في کي (لکثرته) لکه جهات سته کثير الاستعمال دي په کلام د عربو کي دا لفظ د مکان هم کثير الاستعمال دي په کلام د عربو کي (۱) مقيس عليه جهات سته (۲) مقيس لفظ د مکان (۳) حکم مشترکه جواز د تقدير د في (۴) علت مشترکه کثرة الاستعمال، نو دي لفظ د مکان حکم د مکان مبهم واخيست چې هغه جواز د تقدير د في دي د وجي د علت مشترکه نه چې هغه کثرت استعمال دي ومابعد دخلتُ الدارَ الخ دا هم جواب سوال دي

سوال: ته وائي تقدير د في جائز دي په مکان مبهم کي او مکان محدود کي تقدير د في نه دي جائز (۱) دخلتُ الدارَ (۲) نزلتُ المکانَ (۳) سکنتُ القريةَ کي دا تقدير د في راغلي دي او دا مکان محدود دي؟ **جواب:** او محمول دي په مکان مبهم باندې مقيس عليه. يا هغه ظرف مکان معين (بعد دخلت، چې

واقع وي پس د دخلتُ يا مرادف د دخلتُ نه چې هغه نزلتُ او سكنتُ دي په تقدير د في كې دا حكم مشترك دی **على الاصح** خو دي على الاصح قيد ولكوو دينه معلومه شوه چې دا مسئله اختلافي ده په مذهب اصح باندې چې مذهب د جمهورو دي په دي شان سره چې دا ما بعد د دخلتُ مفعول فيه ده او في پكې مقدره دي حملاً او قياساً د وجې د علت مشتركه د كثرت استعمال نه، په مذهب اصح سره احتراز وكړه د مذهب صحيح نه چې مذهب د بعضو دي هغوی وائي كوم ظرف مكان چې واقع شي پس د دخلتُ نه هغه مفعول به دي مفعول فيه نه دي دلائل د هغوی (۲) دي (۱) د مفعول فيه يو علامه دا ده چې دا ذكر كيږي فعل سره پس د اتمام د فعل نه په مفعول به سره دلته دخلتُ معنی نه تاميږي بې د دار نه دا دار متمم د دخول دي په اعتبار د معنی سره متمم نه ئي مگر مفعول به معلومه شوه چې دا مفعول به دي نه مفعول فيه څكه دلته علامه د مفعول به موجود ده او علامه د مفعول فيه نده موجود

(۲) دليل د بعضو دا دي چې د مفعول فيه علامه دا دي چې نسبت د فعل اوشي مكان جز ته د دي فعل نسبت كيږي دغه تركيب كي مكان كل ته لكه ته اووائي صليتُ في المسجد دا خاص دي دغه ځاى كې جائز دي صليتُ في البلدِ دا عام دي، او دلته دخلت الدار ويلي شي دخلتُ البلدَ دا نه شي ويلي څكه بيا كذب لازميږي معلومه شوه چې دا مفعول به دي مفعول فيه نه دي

او جمهور وائي كوم ظرف مكان واقع شي پس د دخلتُ نه هغه مفعول فيه دي نه مفعول به دي څكه تعريف د مفعول فيه صادقيږي ما فعلَ فيه فعل مذكور او تعريف د مفعول به نه صادقيږي چې ما وقع عليه فعل الفاعلِ دي او دخول في الدار را غلي دي دخول على الدار نه دي راغلي او شي معلوميږي د تصريف نه او هغوی چې كومه قاعده بيان كړي دي دا د هغې نه انكار نه شي كولي څكه هغه قاعدي مسلمي دي لكن دوی د هغې نه؟ **جواب:** كوي جواب د اول نه دا دي چې دا قاعده منم مفعول فيه ذكر كيږي فعل سره پس د اتمام د فعل نه په مفعول به سره لكن دا قاعده په فعل متعدي كي ده او دلته دخلتُ او نزلتُ او سكنتُ افعال لازمه دي او فعل لازم كي مفعول فيه متمم د فعل وي

او جواب د دويمي قاعدي نه دا دي: چې دا قاعده منم نسبت د فعل او مصدر اوشي مكان جز ته دي مصدر نسبت كيږي دغه تركيب كي مكان كل ته لكن دا قاعده مطلق مصدر كي نه ده بلكه دا قاعده هغه فعل او هغه مصدر كي ده چې د هغه فعل په مفهوم كي انتقال معتبر نه وي او د كوم فعل مفهوم كي چې انتقال وي هلته دا شرط نه دي او كه نه وي نقصان نشته دي و يُنصبُ منصوب كولي شي دا مفعول فيه چې زمان او مكان دي بعاملٍ مضمرٍ په عامل مقدره سره بې د شرط د تفسير نه ما بعد كې جوازاً لكه يوم الجمعة په جواب د هغه چا كې چې هغه ووائي متَى صمتَ **و على شريطة التفسير** او منصوب كولي شي دا مفعول فيه چې زمان او مكان دي په عامل مقدره سره وجوبًا او دا څكه دا عامل موقوف دي په يو شرط پورې چې هغه تفسير د عامل دي ما بعد كې لكه يومَ الجمعة صمتُ فيه شو، دلته تقدير د عامل واجب دي د وجې د سد مسد او قريني نه.

سوال: و علٰى شريطة التفسيرِ عطف دي بعاملٍ مضمرٍ باندې لكه څنگه چې دلته عامل مقدر دي په دي على شريطة التفسير كي هم عامل مقدر دي نو اتحاد راغي په ما بين د معطوف او معطوف عليه

کي او معطوف او معطوف علیه کي مغایرت شرط دي؟ **جواب:** دلته مغایرت په اعتبار د تقدیر د عامل سره نه دي تقدیر د عامل خو دواړو کي دي بلکه مقابله بین المعطوف و المعطوف علیه په اعتبار د قیدینو سره دي (۱) هلته تقدیر د عامل جوازاً دي او دلته وجوبًا دي (۲) هلته ما بعد کي تفسیر نشته دي او دلته ما بعد کي تفسیر دي، او هغه پنځه صورتونه په اعتبار د اعراب سره لکه څنګه چې ما اضمر عامله د مفعول به کي جوړیږي دارنګي ما اضمر عامله د مفعول فیه کي هم جوړیږي:

(۱) اختیار د رفع جواز د نصب (۲) بالعکس (۳) استواء د امرینو (۴) وجوب نصب (۵) وجوب د رفعي، مثال لکه یومَ الجمعة صمتُ فیه په دي کي رفع مختاره او نصب جائز، او یومَ الجمة لاتقمْ فیه کي نصب مختار او رفع جائز اوِ زیداً سارَ و یومَ الجمعة سرتُ فیه کي استواء د امرینوده، او ان یومَ الجمعة سرتُ فیه کي وجوب د نصبْ، او هذا یوم الجمعة صَمت فیه کي وجوب د رفعي.

مفعول له: (۱) بل د منصوباتو نه (۲) یا د مفاعلو نه هغه منصوب دي یا هغه مفعول دي چې مسمی کولي شي په اصطلاح د نحو کي مفعول له سره دا المفعول لهُ علم دي د دي نوع دپاره هو (۱) دغه نوع چي نوم ئي مفعول له دي (۲) یا مفعول له په اصطلاح د نحو کي **ما** اسم دپاره د **هغه** مسمی دي **فعل** چې کړي شوي وي **لاجله** د وجي د باعثیت د دي مسمی نه برابره خبره ده چې وجود خارجي کي مقدم وي او که مؤخر وي فعل حدث او مصدر هسې مصدر چې **مذکورچې** هغه مذکور دي د ده سره په یو ترکیب کي په لحاظ د عاملیت سره بیا مذکور عام دي لفظاً وي او که تقدیراً وي مطابقةً وي او که تصمناً وي **مثل** لکه تادیبًا شو په دي ترکیب کي چې **ضربت تادیبًا** دي یا لکه جبنًا شو په دي ترکیب کي چې **قعدتُ عن الحرب جبنًا** دي په تعدد د مثال کي اشاده دي تعدد د ممثل ته چې مفعول له (۲) قسم دي: (۱) هغه دي چې وجود ذهني او وجود خارجي دواړو کي مقدم دي دیته دو یې علت مؤثره وائي لکه جبن شو قعود لره (۲) هغه دي چې وجود ذهني کي یعنې په مرتبه د تصور کي مقدم دي لکن وجود خارجي کي مؤخر دي لکه تادیبًا شو ضرب دپاره دیته دوی علت غائي وائي او مراد په تادیب سره تادب دي مجازاً تغیر راغي ما بین د علت او معلول کي او صحیح شو ترتب د ادب په ضرب باندې (۲) یا تادیبا خپله معنی سره دي دلته ترتب عقلي کافي دي اګر که معیت زماني دي او دلته دا تغیر اعتباري کافي دی اګر که اتحاد ذاتي دي.

تفصیل قیودات: سوال: لاجله کي دا لام اجلیه دي او لام اجلیه دیته وائي چې مدخول د ده علت وي دپاره د غیر نو ته وائي مفعول له د دوی په اصطلاح کي اسم د هغه مسمی دي **فعل** چې کړي شوي وي مصدر **لاجله** د وجې د وجود د ده نه قعدتُ عن الحرب جبنًا خو داخل شو لکن ضربت تادیبًا ووته څکه دا ضرب چې دینه صادر دي علت ورلره تادیب نه دي څکه علت خو مقدم وي او دا نه دي مقدم د ضرب نه په وجود خارجي کي څکه د دي تادیب دپاره علت ضرب دې (۲) او که دا ترجمه کوي چې دا فعل د دي فاعل نه صادر شوي دي لاجله دپاره د تحصیل د ده ضربت تادیبًا پکي داخل شو لکن قعدتُ عن الحرب جبنًا ترینه اووته څکه هلته قعود دي دپاره نه دي راغلي چې جبن خارج کي موجود شي څکه جبن خو مخکي

موجود شوي دي او قعود وروسته راغلي دي؟ **جواب:** دا دي د دي ترجمه دا ده دوجي د باعثيت د مسمّی د ده نه اوس مرتبه د تصور كي مقدم دي او په وجود خارجي كي بيا عام دي مقدم وي او كه مؤخر وي بيا كوم مفعول له چې په خارج كي مقدم وي ديته دوی علت مؤثره وائي او كوم مفعول له چې په وجود كي مؤخر وي هغې ته دوی علت غائي وائي. د فرق دپاره **ما فعل** جنس **لاجله** سره مفاعل اربعه ووتل **مذكور** سره اعجبني التاديبُ اووته ځكه دا مصدر دي او د دي باعثيت د وجي نه فعل چې ضرب دي شوي دي خو دلته ورسره مذكور نه دي نو ديته مفعول له نه وائي بلكه دا فاعل دي

سوال: ته وائي دا التاديبُ ځكه مفعول نه دي چې فعل مذكور نه دي ضربتُ تاديبًا كي خو مذكور دي؟

جواب: مذكور وي د ده سره په يو تركيب كي په لحاظ د عامليت سره چې هغه فعل به په دي كي عمل كړي وي د نصب اندفعَ ما قيل

سوال: زه درته ښايم چې هغه ورسره مذكور دي په يو تركيب كي اعجبني التاديب الذي ضربتُه لاجله ديته مفعول له وايه؟ **جواب:** په لحاظ د عامليت سره دغه تركيب اووته ځكه اگر كه دا فعل ورسره مذكور دي په يو تركيب كي لكن هغه فعل عامل نه دي په دې كې

سوال: يو سړي اووائي لَم ضربتَ زيداً ته اوائي تاديبًا دا مفعول له دي او فعل خو نه دي مذكور؟

جواب: مذكور عام دي لفظاً وي او كه تقديراً وي دلته مذكور تقديراً دي

سوال: ضربي زيداً تاديبًا داخل شو ضربتَ زيداً تاديبا ترې خارج شو ځكه دا مصدر خو نه دي؟

جواب: دا مذكور عام دي حقيقةً مطابقةً وي او كه تضمنًا وي او دلته مذكور تضمنًا دي

سوال: يو مثال كافي وو توضيح د ممثل دپاره دوه مثالونه يې ولي ذكر كړه؟ **جواب:** تعدد د مثال بناء دي په تعدد د ممثل باندې ځكه مفعول له په اعتبار د وجود خارجي سره (٢) قسم دي (١) مقدم په وجود خارجي كي لكه مثال اول شو، (٢) مؤخر په وجود خارجي كي لكه مثال ثاني شو، اما مرتبه د تصور او وجود ذهني كي خو دائمًا مقدم دي او يو قسم دي

سوال: دا وروستي مثال خو صحيح دي چې مفعول له علت وي او فعل به معلول وي او په ما بين د علت او د معلول كي دوه والي وي او ترتب او تعقب او تاخر به ني دا قعدتُ عن الحرب جبنًا كي جوړيږي لكن ضربتُ تاديبًا كي نه جوړيږي ځكه ضرب او تاديب كي اتحاد دي علت معلول څنګه وائي؟

جواب: دا دی (١) دا تاديبًا مصدر د باب تفعيل (بل كي ادب پيدا كول) په معنی دا تادُب سره دي (بل نه ادب قبلوي) مجازا ديته مجاز بالباب وائي ضرب صفت د ضارب دی معلول دي او تادبا صفت د مضروب علت دي ضرب دپاره ترتب هم راغي او دوه والي هم راغي لكن دا جواب كمزوري دي ځكه په دي كي دوه نقصانه دي (١) يو مجاز دي او مجاز خلاف الاصل دي (٢) وروسته ماتن نصب د مفعول له دپاره دري شرطونه بيانوي يو شرط دا بيان كړي دي چې د دي مصدر او د فعل فاعل به يو وي او س تاديبًا خپل معنی سره شي اعتراض نه واردیږي او كه په معنی د تادب سره شي بيا **اعتراض** دی چې مخالفت راغي وروسته هغه قاعده د ماتن نه ښه

جواب: دا دي چې دا تاديب خپل معنی سره دي دوه والي عام دي حقيقةً وي اوك ده اعتبارا وي دلته دوه والي حقيقةً نشته اعتباراً دي دا حرکت باليد او حرکت بالعصى په دي کې (۲) اعتبار دي (۱) د دي جهت نه چې دي مولم دي ديته ضرب وائي او معلول دي (۲) او د دي جهت نه چې مرتب عليه اثار و د مفاتو حسنو دي ديته تاديب وائي علت دي، او ترتب عام دي عقلًا وي او که زمانا وي دلته عقلاً دي چې تاديب په مرتبه د تصور کي مقدم دي د ضرب نه **قائل** په کون د مفعول له باندي منصوب علاحده غیر مندرج په مفعول مطلق کي جمهور دي **يخالف** او نسبت د خلاف کولي شي جمهورو نه **خلافا للزجاج** داسې خلاف چې هغه صادر دي او ثابت دي زجاج لره د کافيه ملا دا داب او طريقه دي هر کله چې مسئله اختلافي وي کله چې فريقين برابر وي د ده په نيز په نسبت سره دلائلو ته يعني په اعتبار د دلائلو سره هلته دي تعبير کوي باب افتعال او تفاعل سره او کله چې يو ډله قوي وي په اعتبار د دلائلو د بلې ډلې نه هلته دي تعبير کوي په باب مفاعله سره دلته مذهب د جمهورو قوي دی په اعتبار د دلائلو سره د مذهب د زجاج نه د ده په نيز ځکه ده تعبير وکړه خلافًا سره اي يخالفُ اختلاف کړي شوي دي د جمهور نه **خلافا** خلاف داسې خلاف چې صادر دي د زجاج نه **فانه** دا مفعول له **عنده** په نيز د زجاج باندې **مصدر** مفعول مطلق دي من غير لفظه او اتحاد معناً په ما بين د عامل او معمول کي موجود دي تاويلا (۱) يا تاويل کوي په عامل کي اي ضَربتُ زيداً فادبتُه تاديبًا قعدتُ عن الحرب فجبنتُ جبنا (۲) يا تاويل کوي په معمول اي ضربتُه ضربًا تاديبًا قعدتُ عن الحرب قعودَ جبنٍ **لكن** جواب د طرف د جمهورو نه دا دي چې اصل په افرادو او انواعو کي استقلال دي (۲) او تعريف د مفعول له په د باندې صادقيږي (۳) او احکام د دی متباين دي د مفعول مطلق نه (۴) او کثير الاستعمال دي دا خلور خبري تقاضا کوي د استقلال د نوعي

دليل تحقيقي: او صحت او امکان او جواز د تاويل د يوي بلی نوعی باندې يعني بالفعل تاويل نه وي شوي نه خارجه وي نوعي لره د حقيقت خپل نه قبل التاويل لکه تاويل او صحت د تاويل د حال نه په مفعول فيه سره دادليل الزامي شو زجاج باندې چې حال يو نوع د منصوباتو نه ده او مفعول فيه هم يو نوع د منصوباتو نه ده او حال نه تاويل کولي شي مفعول فيه سره او نوع يې د حقيقت خپل نه نده اوځکلي ته هم مني **و شرط نصبه** هر کله چې دا مصنف مخالف وو د جمهور نه په دي شان سره چې مفعول له سره حرف جر مذکور وي او که مقدر وي دواړه قسم مفعول له دي د وجي د صدق د تعريف نه په دي دواړو باندې ځکه يې وويل و شرطهٔ نصبه او و ه يې نه ويل و شرطه لکه جمهور چې وائي فلا مناقشةَ في الاصطلاح شرط دپاره د نصب قبلولو د مفعول له د عامل نه **تقدير اللام** ځکه ذکر د لام واجبوي جر د مدخول ځکه لام حرف جر دي او اثر د حرف جر، جردي په مدخول کي دپاره د دلالت په علت باندې، هر کله چې لام مشهور وو په تعليلاتو د افعالو کي پس خاص يې کړه دا لام په تقدير سره نه نور په تقدير سره چې ذهن د مخاطب ذهاب کوي کون د ده مقدر

سوال: جمهور وائي و شرطه تقدير اللام شرط دپاره د مفعول له په خارج کي تقدير د لام دي تاد دوی نه خلاف وکړه؟ **جواب:** دا دي خلاف يې کړي دي قصداً ځکه چې د دی په نيز باندې دواړه قسم مفعول له

دي لکن نصب د مفعول له دپاره شرط تقدير د لام دي او جمهور وائي مفعول له لره شرط تقدير د لام دي او که لام پکي مذکور وي هغې ته مفعول له نه وائي فلا مناقشة في الاصطلاح
سوال: تعليل دپاره چې ته حرف جر مقدر کوي تعليل دپاره خو نور حروف جاره هم راځي لکه با شو في قوله تعالى (فبظلم من الذين هادوا حرمنا) (٢) لکه في شو کما في قوله عليه السلام (ان امراةً دخلت النار في هرة) هغه ولي نه مقدر کوي چې دا لام مقدر کوي؟ **جواب:** دا دي چې دا لام ځکه مقدر کوم چې دي مشهور دي په معنى د تعليل کي او نور غير مشهور دي، اوس دا لام چې مقدر شي ذهن مخاطب ذهاب کوي کون د ده ته مقدر د وجي د شهرت نه په خلاف د باقي صيغو د تعليل نه چې هغه د وجي د عدم شهرت نه ذهاب نه کوي ذهن د مخاطب کون د ده ته مقدر نو دا د وجي د شهرت نه اولى شو په تقدير سره هر کله چې تقدير مرکب وو د جزئينو نه (١) اسقاط عن اللفظ دا جزء سلبي او ابقاء په نيت کي دا جزء ايجابي او دا جزء ايجابي کي متکلم قادر دي علت نه غواړي او جزء سلبي کي متکلم قادر دی علت غواړي ځکه مصنف د يجوزُ فاعل حذفُها اسم ظاهر وګرځول نه ضمير چې دواړه جزئين محتاج دي علت ته
سوال: فرض منصبي ستا اختصار دي دي يجوز کي به دی ضمير مستتر کړي وي راجع کړي به دي وي تقدير ته اختصار به دي راغلي وو په کلام کي ستا فرض منصبي به ادا شوي وي نو دا حذفُها اسم ظاهر د ي فاعل ولي وګرځولو يجوز دپاره دويم دا قاعده دي چې شي ذکر شي صراحةً ثانيًا ذکر کولي شي په ضمير سره تا دلته اسم ظاهر ولي ذکر کړه؟ **جواب:** دا دی چې دلته دا اسم ظاهر ذکر کړی دی په مقام د ضمير کي دپاره د دفع د توهم چې اسقاط عن اللفظ موقوف دي دري شرطونوپورې او ابقاء په نيت کي دا نه دي موقوف دري شرطونو ته او که ضمير ذکر کړي وي بيا په هغې کي دا توهم وو چې دا دواړه جزئين موقوف دي دې دري شرطونو ته او دا باطل دي **وانما يجوز** بي شک جائز دي **حذفه** اسقاط د لام تعليلي د لفظ نه او معنى يې مراد ده، شرطونه درې دی: چې دا درې شرطونه موجود وي هله حذف جائز دي و الافك (١) اذا کان کله چې وي دا مفعول له فعلاً مصدر ولي که معنى حد يې نوی عين وی بيا تلفظ په لام باندې واجب دي حذف جائز نه دي لکه جئتُك للسمن به وائي جئتُك سمنًا به نه وائي (٢) اوس هر کله چې مصدر وي مصدر فاعل غواړي د دي مصدر دپاره فاعل څوک وي **لفاعل الفعل** دا مصدر به فعل وي صادر به وي د هغه فاعل نه چې هغه فاعل د فعل دي يعنې د فعل او د دي مصدر فاعل به يو وي اتحاد في الفاعل شرط دي بيا کوم فعل مطلق فعل نه دي مراد (**المعلل**) هغه فعل چې هغه معلل وي (**به**) په دي مفعول له سره، اوس فرض کړو دا مفعول له مصدر دي لکن فاعل ځانله ځانله دي، بيا تلفظ لازم دي نحو جئتُك لمجيئك اياي د فعل فاعل متکلم دي او د مصدر فاعل مخاطب دي اتحاد في الفاعل نشته (٣) (**و مقارنا**) دا مفعول له به مقارن وي (**له**) دي فعل سره (**في الوجود**) په وجود کي دواړه به زمانه کي معي وي د هغې صورتونه درې دی (١) په دې شان سره زمانه د احدهما عين زمانه د آخر وي يعني زمانه د دواړو به يوه وي لکه ضربت تاديبًا شو (٢) د فعل زمانه به جزئي د زماني د مفعول له نه او زمانه د مفعول له به کل وي نحو قعدتُ عن الحرب جبنًا (٣) د دي عکس چې زمانه د فعل به کل وي او

زمانه د مفعول له جز وي نحو شهدتُ الحربَ اصلاحًا لهم د شهود زمانه كل ده مثلاً دوه كنټه به ني او زمانه د اصلاح جز دي يو كنټه به ني اوس مقارن چې نه وي هلته كي تلفظ په لام باندې واجب دي نحو جئتك اليوم لمجيئك امسِ يا اكرمتُك اليومَ لوعدي بذلك امسِ.

سوال: دا دري شرطونه چې موجود شي دا تقدير ولي جائز دي؟ **جواب:** په وخت د وجود د دي شروط ثلاثو كې دا مفعول له مشابه شو د مصدر سره ځكه هلته هم دا دري شرطونه موجود دي هلته خو فعل موصل بالذات دي دلته هم فعل موصل بالذات شو لكن فرق دا دي (۱) چې هغه منصوب دي وجوبًا (۲) لام پكي مقدر نه دي او دا منصوب دي جوازًا لام پكي مقدر دي، دا د بصريانو مذهب دي او كافيه ملا اكثر ځايونو كي مقلد د بصريانو دي او دي دا قواعد جوړ كړي دي د استعمال اغلب د عربو نه (۲) كوفيانو مذهب دا دي چې هغوی وائي اتحاد فی الفاعل شرط نه دي ځكه هغوی د استعمال تابع دي دليل هغوی دپاره دا آيت كريمه دي خلق الخ (و الخيلَ و البغالَ و الحميرَ لتركبوها و زينةً) دا زينةً مفعول له دي هغه مخكي خلق دپاره او د خلق فاعل الله دي او زينة فاعل عباد دي نو اتحاد في الفاعل رانغي او دا مفعول له منصوب دي معلومه شوه چې د نصب دپاره اتحاد في الفاعل شرط نه دي؟

جواب: (۱) دا اتحاد في الفاعل شرط دي په استعمال اغلب كي او ديته استعمال اقل وائي منافات نشته دي د ده هغه سره (۲) هلته كي اراده مضاف مقدر دي اي **(و ارادة زينة)** دا اراده مفعول له دي د دي فاعل هم الله دي او د خلق فاعل هم الله دي اتحاد في الفاعل راغي.

المفعول معه: (۱) بل د مفاعلو نه (۲) يا د منصوباتو نه هغه اسم دي چې مسمى كولي شي په اصطلاح د نحو كي په مفعول معه سره، دلته دري خبرو نه لابدي ده: (۱) معنى لغوي چې مفعول معه په لغت كي څه ته وائي (۲) معنى اصطلاحي چې مفعول معه په اصطلاح د نحو كي څه ته وائي (۳) حل تركيب چې د دي مفعول معه تركيب څه دي. معنى اصطلاحي خو د دي ماتن بيان كړي ده. او په لغت كي مطلق مصاحب د فعل ته وائي. **حل تركيب:** (۱) دا الف لام په معنى د الذي موصول دي او **(مفعول)** اسم مفعول دي نائب فاعل غواړي دا **(معه)** ورله نائب فاعل دي منصوب دي په يو قاعدي باندې كومه كلمه چې غالب النصب وي اوس كه دا په مقام د رفع كي واقع شي هم لفظاً به منصوب وي او معنى به مرفوع وي نظير د دي (لقد تقطعَ بينكم) او ضمير راجع دي الف لام ته، (۲) تركيب دا دي: **(الف لام)** په معنى د الذي موصول دي او **(مفعول)** دپاره نائب فاعل ضمير دي مستتر په دي مفعول كي او **(معه)** په خپل حال باندې منصوب دي بنا بر مفعول فيه، او دا تركيب هم بنا دي په يوه قاعده باندې چې فعل او شبه فعل دپاره فاعل اسم ظاهر نه مندلی كيږي ضمير به پكي مستتر وي بيا ضمير مرجع غواړي او مرجع نه موندي كيږي راجع كوي يې مصدر ته، بيا اتحاد راغي په ما بين د راجع او مرجع كي د دي فعل نه به تعبير كوي بل فعل سره اي يو زمانه كي او يو مكان كي بيا مفعول معه دي **(مفعول فعل)** سره احتراز وكړه زيد و عمرو قائمان نه تعريف جامع مانع شو.

(عامل ناصبه) د مفعول معه كي دري مذهبونه دي (۱) جمهور وائي عاملُ ناصبه د مفعول معه فعل دي لفظاً يا معنًى او واو پكي واسطه دي ځكه فعل اصل دي په عمل كي فعل چې موجود وي بيا

نسبت د عمل غیر ته دا جائز نه دي (۲) شیخ عبد القاهر وائي عاملُ ناصبه پکي دا واو دي ځکه دا قریب دي او الحقُ للقریب ثم للبعید نژدي چې عامل موندي کیږي بعید ته به نه ځي (۳) اخفش وائي حقیقت کې معمول د فعل مع وو بالذات دي فعل نصب ورکولو هغه لفظ د مع لره بیا واو قائم شي په مقام د مع باندې او دا قاعده دي شي چې قائم شي په مقام د غیر کې حکم د غیر اخلي پکار دا وه چې د دي مع اعراب واو اخستي وي لکن دا واو حرف دي قابل د اعراب نه دي نه لفظاً او نه تقدیراً او نه محلاً د دي مع هغه اعراب نقل شو مدخول د واو ته چې هغه مفعول معه دي، او مختار د کافیه ملا مذهب د جمهورو دي ځکه دي تعمیم وکړه په عامل د مفعول معه کې لفظاً او معنیً سره **فان کان الفعل** سره غرض د مصنف دوه خبري دي: (۱) احکام د مفعول معه بیانوي (۲) فرق بیانوي ما بین د معطوف او مفعول معه کې. بالفاظ دیگر: یا غرض د کافیه ملا (۱) تفصیل او بیان د عامل لفظي او عامل معنوي دي (۲) غرض بیان د صور ثلاثو دي: (۱) یو ځای کې تعین د نصب (۲) تعین د عطف (۳) جواز د وجهینو **فان کان الفعل** (۱) که عامل ناصبه د مفعول معه موجود ؤ **(لفظاً)** د جهته د لفظ نه (۲) او که فعل ملفوظ وو په کلام کې کان به تامه شي لفظاً تمیز دي، او که ناقصه شي بیا دا خبر دي په معنی د ملفوظ سره **(و جاز العطف)** او حال دا دي عطف جائز ؤ په دي شان سره چې عطف ممتنع نه وو او واجب نه وو **فالوجهان** بیا په دی اسم کې دوه وجي جائز دي: (۱) کون د اسم منصوب بنا بر مفعول معه (۲) کون د ده معطوف په ما قبل باندې د وجي د عدم وجود د مانع نه.

سوال: ته وائي عطف چې جائز وي فالوجهان دي ما لزیدٍ و عمروٍ کې عطف جائز دي هلته خو فالوجهان نه دي بلکه عطف متعین دي؟ **جواب:** دلته دا جواز په مقابل د وجوب کې دي **(و جاز العطف)** جائز وي عطف په دي شان سره واجب نه دي ما لزیدٍ و عمروٍ اووته ځکه هلته عطف واجب دي.

سوال: جئتُ و زیداً کې عطف واجب نه دي بیا هلته فالوجهان اووایه او حال دا دي هلته نصب متعین دي فقط بنا بر مفعول معه؟ **جواب:** دا دې چې دلته دا جواز په مقابله د امتناع کې دي. **(و جاز العطف)** جائز دي عطف په دي شان سه ممتنع نه دي جئتُ و زیداً اووته ځکه دلته عطف ممتنع دي.

خلاصه د جواب دا ده: (۱) چې دلته جواز په معنی د امکان سره دي (۲) جواز په مقابل د وجوب او امتناع کې دي **جئت انا و زید** ووائي معطوف شو او عطف په ضمیر مرفوع متصل باندې سره د تاکید نه په ضمیر منفصل سره بالاتفاق جائز دي **وزیدا** و وائي مفعول معه شو مرجح ورلره اراده د متکلم ده.

لفظي فرق خو ظاهر دي او معنوي فرق دا دي: و زید مرفوع شي معنی دا دي راغلي وم زه سره د زید نه، زیداً منصوب شي معنی دا ده راغلي وم زه سره د زید نه په یو مکان کې او په یو زمان کې **(والا)** که عطف جائز نه ؤ بلکه ممتنع ؤ **(ففیه النصب)** بیا متعین دې نصب بنا بر مفعول معه د وجي د عدم صحت د ترکیب آخر نه مثال لکه **(جئت و زیدا)** شو، او جئتُ و زید نه شي ویلي ځکه عطف په ضمیر مرفوع متصل بلا تاکید او بلا فصله جائز نه دي په مذهب د بصریانو باندې ځکه لازمیږي عطف د مستقل کلمي په جز د کلمي باندې دا باطل دي، او د کوفیانو په نیزد باندې دا عطف جائز دي ځکه دا

ضمير مرفوع متصل فاعل دی مستقله کلمه ده او کافیه ملا مقلد د بصریانو دي **(و ان کان معنیٰ)** که عامل ناصبه معنوي وو یعني مستفاد وو د فحوی د کلام نه **(و جاز العطف)** او حال دا دي عطف جائز دي په دي شان سره چې ممتنع نه دي بلکه واجب دي (۱) دلته جواز په معنی د امکان عام سره دي (۲) جواز په مقابله د امتناع کي دي فقط **(تعین العطف)** بیا متعین دي عطف او نصب بنا بر مفعول معه جائز نه دي دپاره د دي خبري چې لازم نه شي عمل د عامل معنوي اګر که فعل دي سره د وجود د عامل لفظي نه اګر که حرف دي ځکه عامل معنوي معتبر وي ضرورة د وجي د عدم وجود د عامل لفظي نه عامل لفظي چې موجود وي بیا عامل معنوي له اعتبار نشته.

سوال: نه وائي و جاز العطف عطف جائز دي کوي ئي او که نه ئي کوي بیا تعین ځنګه شو؟ **جواب:** دا دي چې دلته جواز په معنی د امکان عام سره دي او په مقابله د امتناع کي دي، مثال لکه **ما لزید و عمرو** شو دا عمرو چې عطف شي زید باندي لام لاندي به داخل شي، او که دا عمراً منصوب شي بیا معمول د فعل معنوي دي چې هغه یصنع دي **سوال:** دا عمرو چې مجرور شي عامل دا لام دي او که منصوب شي عامل فعل دي او فعل اصل دي په عمل کي لهذا دلته منصوب لوستل اولی دي؟

جواب: دا دي: عامل لفظي قوي دي اګر که دا حرف دي د عامل معنوي نه اګر که دا فعل دي ځکه دي عامل نفس الامري دي او هغه فرعی او اعتباري دي او عمل ورکول عامل ضعیفه ته سره د وجود د عامل قویه نه دا ممتنع دي **و الا** که عطف جائز نه ؤ بلکه ممتنع او **(تعین النصب)** بیا متعین دي نصب بنا بر مفعول معه د وجي د عدم جواز د ترکیب آخر نه او عامل معنوي له عمل ورکړي شو سره د وجود د عامل لفظي نه د وجي د ضرورت نه مثال لکه **(ما لك و زیداً و ما شانك و عمراً)** شو زیداً به وائي او دا به نه وائي مالك و زید عمراً به وائي او دا به نه ائي ماشانك و عمرو دپاره د دي چې لازم نه شي عطف د مستقل کلمي په ضمیر مجروره متصله باندې بې د اعادي د جار نه دا جائز نه دي.... دارنګه جائز نه دي رفع د عمرو چې عطف شي په شان باندې ځکه لازمیږي فسادد معنی ځکه مقصود د سائل سوال دی د شان د مخاطب او شان د عمرو نه او نه دي مقصود د سائل سوال د شان د مخاطب او ذات د عمرو نه.

سوال: په دي دویم ترکیب باندې دا اعتراض دي چې دا عمرو مرفوع ووایه په شان باندې ئي عطف کړه عطف د اسم په ضمیر مجروره باندې بې د اعادي د جار نه نه راځي؟ **جواب:** دا دي عطف د دي په شان باندې هم نه دي جائز ځکه که عطف په شان باندې وکړه بیا لازمیږي فساد د معنی چې هغه سوال د شان د مخاطب او ذات د عمرو دي **لان المعنی** دا علت دي د فعل مقدر انا حکمنا بمعنویة الفعل في هذه الامثلة الثلاثة. حکم وکړه مونږ په معنویت د فعل باندې په دي امثلو ثلاثو کي **(لان المعنی)** معنی مراد د متکلم **(ما تصنع)** یا یصنع دي ځکه لام جاره چې واقع شي پس د ما استفهامیه نه هغه په معنی د یصنع یا تصنع سره وي او مالك و عمرًا کي دا مثال متضمن دي معنی دصنعت لره.

سوال: تصنع خو په دي دوه مثالونو کي جوړیږي لکن ما لزید کي خو نه جوړیږي؟ جواب: دا دي: عبارت په حذف د معطوف سره دي لانّ المعنی ما تصنع او یصنع

الحال: هر كله چې فارغ شو مصنف (رح) د مفاعل خمسوو نه پس شروع ئي وكړه په ملحقاتو د مفاعلو
خمسو كي چې هغه حال او تميز او مستثنى دي، او هر كله چې حال كل د منصوباتو نه ؤ نو دې كامل
شو په الحاق كي پس مقدم ئي كړه په تميز او مستثنى باندې او وي ويل (الحال) او حال په لغت كي
وصف د شي ته وائي لكه وائي عرب كيفَ حالك د دي معنى دا ده كيفَ وصفك.
او په اصطلاح د صرفيانو كي حال هغه فعل ته وائي چې هغه دلالت كوي په زمانه موجوده باندې او
حال په اصطلاح د نحويانو كي (ما) لفظ دي هسي لفظ (يبين) چې دي بيانوي يعني دلالت كوي (هيئة
الفاعل او المفعول به) په صفت د فاعل يا د مفعول به يا د دواړو (١) د دي جهت نه چې فاعل او مفعول به
واخلي (٢) فاعل او مفعول عام دي حقيقةً وي او كه تاويلا وي (٣) مراد په فاعل سره دلته كي فاعل
حقيقي دي نه مطلق مرفوع په قرينې د تقيد د معطوف سره په قيد د به سره او دا فاعليت د فاعل او
مفعوليت د مفعول عام دي لفظاً وي او كه معنىً وي (١) په دي شان سره عامل د دي فاعل او مفعول
په منطوق وي په كلام كي (٢) يا مقدر وي ديته لفظاً وائي، او كه عامل نه منطوق وي په كلام كي او نه
مقدر وي، بلكه مستفاد وي د فحوى د كلام نه ديته معنى وائي. لكه دا مذهب د سيبويه دي (٢) يا په
دي شان سره عامل منطوق وي په كلام كي يعني ملفوظ وي ديته لفظاً وائي، او كه عامل (١) مقدر
وي (٢) يا مستفاد وي د فحوى د كلام نه ديته معنى وائي لكه دا مذهب د مصنف دي او د سيبويه په
نزد باندې د عامل لفظي مصداق دوه (٢) دي: (١) منطوق او (٢) مقدر، او د عامل معنوي مصداق يو
دي چې هغه مستفاد دي د فحوى د كلام نه او د مصنف په نزد باندې د عامل لفظي مصداق يو دي
منطوق او د عامل معنوي مصداقونه دوه (٢) دي: (١) مقدر او (٢) مستفاد د فحوى د كلام نه
(بيان د فوائد د قيو دات) ربط د ما قبل سره دا دي: هر كله چې دا اوزګار شو د بيان د مفاعلو خمسو نه
اوس بيانوي ملحقات د مفاعلو چې هغه حال او تميز او مستثنى دي.

سوال: بيا په دي باندې اعتراض دي چې دا دري واړه سواسي دي په قسمت كي تا دا حال ولي مقدم
كړه په نورو باندې؟ **جواب:** دا دي چې حال كل د منصوباتو نه دي په خلاف د تميز او د مستثنى نه چې
هغه كل د منصوبات نه ندي ځكه تميز (٢) قسم دي: (١) منصوب (٢) او مجرور، او مستثنى په اعتبار
د اعراب سره څلور قسمه دي: (١) منصوب وجوباً (٢) مجرور وجوباً (٣) اختيار د بدل او جواز د نصب
(۴) معرب على حسب العوامل او حال چې دي هغه به نه وي مګر منصوب نو د دي مشابهت مفعول
سره زيات شو د نورو نه ځكه يې مقدم كړي دي مصنف په نورو باندې. كلمه د (ما) عبارت دي لفظ نه
ځكه حال كله مفرد راځي اوكله جمله راځي چې دا تعريف شامل شي دواړه نوعينو د حال لره لفظ
جنس **هيئة** سره ئي احتراز وكړه د تميز نه. او په اضافت د هيئة سره احتراز وكړه د صفت د غير الفاعل
او د مفعول به نه نحو زيد العالم قائم. د دي حيثيت نه چې فاعل او مفعول به واخلي دي قيد د حيث
سره احتراز وكړه د نعت د فاعل او د مفعول به نه نحو جاءني زيد العالم و رأيت زيد العالم ځكه نعت
بيانه وي هيئت د فاعل او د مفعول به مطلقاً نه د دي حيثيت نه چې دا فاعل او مفعول به دي ځكه

لفظ مبین د دوی په اصطلاح کي (۲) قسم دي: (۱) مبین د ذات دي (۲) مبین د وصف دي، کوم لفظ چې مبین د ذات وي هغې ته دوی تمیز وائي او کوم لفظ چې مبین د وصف دي هغه بیا (۲) قسم دي: (۱) مبین د هیئة د غیر فاعل او د مفعول به دي (۲) مبین د هیئة د فاعل او د مفعول به دي کوم لفظ چې مبین د هیئت د غیر فاعل او د مفعول به دي هغې ته دوی نعت وائي مثال لکه زید العالم قائم او کوم لفظ چې مبین د هیئت د فاعل او د مفعول به دي دا په دوه قسمه دی (۱) مبین د هیئت د فاعل او مفعول من حیثُ انه فاعل او مفعُول بهٖ (۲) مبین د هیئت د فاعل او د مفعول به دي مطلقاً لامن حیثُ انه فاعل او مفعول به کوم لفظ چې مبین د هیئت د فاعل او مفعول به دي هغې ته دوی حال وائي او کوم لفظ چې مبین د هیئت د فاعل او د مفعول به دي مطلقاً لامن حیثُ انه فاعل او مفعول به هغې ته دوی نعت د فاعل او د مفعول به وائي لکه جاءني زید العالم و رأیت زید العالمَ شو.

سوال: کلمه د او راځي دپاره د شك او تردد دا منافي دي د تعریف سره؟ **جواب:** کلمه د او دپاره د تقسیم دهچې حال (۲) قسم دي (۱) بیانوي حال د فاعل دیته وائي حال من الفاعل نحو جاءني زید راکبًا (۲) بیانوي هیئة د مفعول دیته وائي حال عن المفعول نحو ضربتُ زیداً مشدوداً.

سوال: ته وائي حال ما یُبین هیئة الفاعلِ او المفعول به زه درته ښایم چې حال هیئت د فاعل او د مفعول به دواړه بیانوي نحو لقیتُ زیداً راکبینِ. **جواب:** دا دي چې کلمه د او دپاره د مانعة الخلو دي هله به تا اعتراض کول چې مانعة الجمع د پاره وي.

سوال: ته وائي حال لفظ دي بیانوي هیئة د فاعل یا د مفعول به تعریف دي جامع نه شو (۱) حال واقع شوي دي د مفعول مطلق نه نحو ضربتُ الضربَ شدیداً (۲) حال واقع شوي دي د مفعول معه نه نحو جئتُ انا و زیداً راکبًا (۳) حال واقع شوي دي د مضاف الیه نه نحو (بل نتبعُ ملة ابراهیمَ حنیفًا. ایُحب احدکم ان یاکل لحم اخیه میتًا) ؟ **جواب:** دا دي: فاعل او مفعول به عام دي حقیقةً وي او که حکمًا وي کله چې حال د مفعول مطلق نه وي حکمًا دا د مفعول به نه دي ضربت الضربَ شدیداً اي احدثت الضربَ شدیداً، او حال چې د مضاف الیه نه واقع شي حکمادا حال د فاعل نه یا د مفعول به نه دی ځکه حال د مضاف الیه نه هله واقع کیږي چې دا مضاف حذف کړي او اقامت د مضاف الیه په مقام د مضاف کي صحي وی او دارنګي حال واقع شي د مفعول معه نه هغه هم حال دي د فاعل یا د مفعول به نه حکما ځکه که دا مفعول معه مصاحب وو د فاعل سره دا حکما فاعل دي او که دا مفعول معه مصاحب وو مفعول به سره دا حکمًا مفعول به دي، نو دا دري قیدونه مانعیت دپاره دي او حقیقةً وي او که حکمًا وي قید مدخله او جامعه دی داخل شو پکي ضربتُ الضربَ شدیداً او یا حال واقع شي د مفعول معه نه یا د مضاف الیه نه ځکه دا حکمًا مفعول به دي.

سوال: الفاعل نه مطلق مرفوع اراده کړه او وقوع د حال د دولسو مرفوعات نه جائز وروایه لکه ابن مالك چې ویلي دي؟ **جواب:** دا دي الفاعل کي الف لام عهدي دي مراد په فاعل سره دلته کي فاعل حقیقي دي نه مطلق مرفوع قرینه دي دپاره تقید د مفعول دي په به سره لکه څنګه چې دي مفعول نه مطلق

مفعول نه دي مراد بلكه مفعول به مراد دي درانګي د دي فاعل نه مطلق فاعل نه دي مراد بلكه فاعل حقيقي مراد دي **لفظا او معنا** دا تعميم په فاعل او مفعول به كي دي په اعتبار د عامل سره كه عامل پكي لفظي او دا هم لفظي دي او كه عامل پكي معنوي وو دا هم معنوي دي اوس په تعريف د عامل لفظي او معنوي كي (۲) مذهب دي (۱) مذهب د جامي صاحب دي (۲) مذهب د مصنف دي جامي صاحب وائي العاملُ المعنويُ ما لا يكونُ مذكوراً و لا يكونُ مقدراً و لكن يفهمُ من فحوى الكلام، او مصنف وائي ما لا يكونُ حصة في اللفظ بل يكونُ مقدراً او مستفاداً من الغير (**ضربت زيدا قائما**) دا مثال د هغه دي چې حال واقع شوي دي د فاعل لفظي نه يا د مفعول به لفظي نه بالاتفاق فاعليت د تُ او مفعوليت د زيداً لفظي دي ځكه عامل پكي لفظي دي بالاتفاق (**وزيد في الدار قائما**) دا هغه مثال دي چې حال واقع شوي دي د فاعل لفظي نه په نزد د شارح ځكه عامل ئي مقدر دي په كلام كي او مقدر كالملفوظ وي او حال واقع شوي دي د فاعل معنوي نه په نزد د مصنف ځكه عامل عامل معنوي نه دي په كلام كي ځكه دي لفظي ديته وائي چې عامل منطوق وي لفظاً (**وهذا زيد قائما**) دا مثال د هغه دي چې حال واقع شوي دي د مفعول به معنى نه بالاتفاق دا قائماً حال دي د زيد نه او زيد مفعول به دي د فعل معنوي دپاره چې هغه أشيرُ او أنبهُ دي چې مستفاد دي د هذا نه، نو تعدد د مثال بنا شو په تعدد د ممثل باندي دوه مثاله اتفاقي وو يو مثال اختلافي ضربتُ زيداً قائماً. و هذا زيد قائماً اتفاقي چې بالاتفاق اول مثال د لفظي او دويم مثال د معنوي او زيد في الدار قائماً كي خلاف دي لفظي دي په نزد د جامي صاحب او معنوي دي په نزد د مصنف. اوس زيد في الدار قائماً كي عامل را اوباسي استقر ديته وائي مقدر بالاتفاق هذا زيد قائماً كي دي زيد له عامل را اوباسي أشيرُ او أنبهُ ديته مستفاد وائي بالاتفاق، صرف دي كي خلاف دي چې مقدر لفظاً كي داخل دي او كه معنًى كي داخل دي شارح وائي لفظاً كي داخل دي او مصنف وائي معنًى كي داخل دي.

سوال: بيا د دي دواړو مينځ كي فرق څه دي چې دواړه منطوق په كلام كي نه دي او يو ته مقدر وائي او يو ته مستفاد وائي د دي فرق څه دي؟ **جواب:** دا دي چې مقدر ديته وائي چې هغه (۱) ركن وي په كلام كي (۲) او كلام مذكو ورته محتاج وي بذاته. او مستفاد ديته وائي (۱) چې هغه ركن د كلام نه وي (۲) او كلام مذكور په اعتبار د ذات سره محتاج نه وي مستفاد ته قطع لحاظ د حال نه لكه هذا زيد قائماً دا كلام په اعتبار د ذات سره محتاج نه دي أشيرُ او انبهُ ته او دا اشير او انبهُ ركن د كلام نه دي ځكه ركن د كلام شته دي چې هغه هذا زيد دي بخلاف زيد في الدار قائماً دا كلام په اعتبار د ذات سره محتاج دي استقرّ يا مستقرّ ته ځكه في الدار جار مجرور دي متعلق غواړي او دا استقرّ يا مستقر ركن د كلام دي ځكه جار مجرور بي د متعلق نه په تركيب كي چا دپاره څه نه واقع كيږي.

(**و عاملها**) غرض د ماتن تقسيم د عامل د حال دي چې عامل ناصبه د حال (۳) دي فعل، او شبه فعل، او معنى د فعل، او بحث د متعلقاتو د شي نه بحث دي په شي كي خروج عن البحث رانغلو، (۲) دا عبارت تمهيد دي وروسته و لا يتقدمُ دپاره (**و عاملها**) عامل ناصبه په حال كي (**الفعل**) يا به فعل وي،

فعل عام دي ملفوظ وي لکه ضربتُ زيداً قائمًا او که مقدر وي لکه زيد في الدار قائمًا **(او شبهه)** يا عامل به شبه فعل وي هر هغه لفظ چې دلالت کوي (١) معنی مصدري باندې (٢) او عمل کوي په شان د فعل (٣) او شريك وي فعل سره په حروف اصليو کې هغه پنځه دي: (١) اسم فاعل (٢) اسم مفعول (٣) صفت مشبه (۴) اسم تفضيل (۵) مصدر، بيا دا شبه فعل هم عام دي مذکور لفظاً وي لکه زيد ذاهب راکبًا يا مقدر وي لکه زيد في الدار قائمًا کې عامل په نزد د کوفيانو هغه شبه فعل مقدر دي **(او معناه)** يا به عامل ناصبه د حال معنی د فعل وي هر هغه لفظ دي (١) چې دلالت کوي په معنی مصدري باندې (٢) او عمل کوي پشان د عمل د فعل (٣) لکن دا شريك نه دي فعل سره په حروف اصليو کې لکه دا هذا شو ديته عامل معنوي وائي حقيقت کې عامل جر هغه اشير او انبه دي ځکه دا هذا دلالت کوي په هغه اشيرُ او انبهُ باندې او عمل کوي پشان د اشيرُ او انبهُ لکن دا هذا شريك نه دي اشيرُ او انبهُ سره په حروف اصليو کې، درانګي ظرف مستقر او اسم فعل او حرف ندا تمنی ترجي تنبيه دا ټول معنی د فعل دي **(و شرطها)** شرط دائمه په حال کې په نزد د بصريانو او موقوف عليه دپاره د وجود د حال په خارج کې دائمًا **(ان تكون نكرة)** کيدل د حال دي نکره يعنې حال به په خارج کې هله موجود کيږي چې نکره وي په نزد د بصريانو ځکه (١) مقصود د حال نه بيان د هيئت د فاعل يا د مفعول به دي (٢) يا مقصود د حال نه تقيد د حدث منسوبه دي ذو الحال ته او دا دواړه مقاصد حاصليږي په نکرې سره او معرفې ته حاجت نشته، ځکه تعريف امر زائد دي او زائد د قدر ضرورت نه دا ممتنع دي په شريعت د بلاغت کې، او خبر چونکي رکن د کلام دي تعريف د هغه سره مناسب دي بې فائده نه دي په خلاف د حال نه چې هغه فضله دي په کلام کې تعريف ورسره مناسب نه دي هسې بلا فائده دي.

سوال: دا مقصد په تعريف سره هم حاصليږي دا تنکير دوی ولې مختاره کړه؟

جواب: اصل په اسماؤ کې تنکير دي دا مرجح دي.

سوال: بيا په دي باندې اعتراض دي چې ديته وائي نقض اجمالي ستا دا دليل جاري کيږي په خبر کې او مدعی متخلف ده چې مقصود د خبر نه بيان د حال د مبتدأ دي او دا راځي په نکره سره بيا خبر دي معرفه واقع نه شي او خبر معرفه هم راځي؟ **جواب:** دا دي چې د دي او د هغه فرق دي دا منم چې لکه څنګه چې دلته مقصد حاصليږي په تنکير سره دارنګي هلته هم مقصد حاصل کيږي په تنکير سره لکن فرق بل دي چې هغه رکن د کلام دي په هغې کې توسع پکار ده ضيقت نه دي پکار او حال خو بلکل فضله دي دي سره ضيقت پکار دي او تعريف بلا فائدي دي **وصاحبها معرفة** شرط دپاره د وجود د حال او موقوف عليه دپاره د وجود د حال په خارج کې کون د ذو الحال دي معرفه **(غالبا)** په غالب تراکيبو کې ځکه تراکيب د وجود د حال دوه قسم دي: (١) ځنې هغه تراکيب دي چې ذو الحال معرفه دي (٢) او ځنې هغه تراکيب دي چې ذو الحال نکره دي کوم تراکيبو کې چې ذو الحال معرفه دي هغه کثير او غالب دي او کوم تراکيبو کې چې ذو الحال نکره وي هغه قليل او نادر دي ځکه شرط غالبه شرط اکثري په حال کې کون د ذو الحال دي معرفه اوس په دي ذو الحال کې تعريف ولې شرط دي؟ اګر که غالب دي ځکه ذو الحال په معنی کې محکوم عليه او

مبتدأ دي او مبتدأ کي کثير او شائع تعريف دي کله کله نکره مخصصه راځي دلته هم ذو الحال کي کثير او غالب تعريف دي کله کله به ذو الحال نکره مخصصه راځي

سوال: په دې کافيه ملا عبارت باندې اعتراض دې لکن منشا د اعتراض دا ده چې صاحبها معطوف دي په ضمير مرفوع متصل مستتر د تکون باندې مع الفصل او دا جائز دي او معرفةً معطوف دې په نکرةً باندې او عطف د اسمينو په معولينو د عامل واحده باندې راغله دا جائز دي بالاتفاق تکون سره د اسم او سره د خبر نه مجموعه خبر د شرطها دي نو معرفه شرط شو دپاره د وجود د حال د وجود د حال دپاره دوه (۲) شرطونه شو (۱) نکره (۲) معرفه دا شرطيه تقاضا کوي عدم تخلف چې حال به بې د تعريف نه نه راځي او ته وائي غالباً او دا غالباً تقاضا د تخلف کوي چې د دي تقاضا دا ده حال بې د دي نه هم راځي منشا د اعتراض د ادي چې غالباً صفت د معرفةً ګرځوي معترض صاحب؟ **جواب** (۱) دا دي چې دا غالباً صفت د معرفةً نه دي دا منصوب دي مفعول فيه دي صفت د تراکيب دي په دي شان سره غالب تراکيبو کي حال نه موجوديږي بې د تعريف د ذو الحال نه او بعضي تراکيب کي حال موجوديږي بې د تعريف د ذو الحال نه ځکه تراکيب د حال (۲) قسم دي الخ (۳) دا غالباً هغه شرطها سره اولګوه شرط غالبه په حال کي کون د ذو الحال دي معرفه تخلف جائز دي او کون د حال نکره دا شرط دائمه دي وجود د حال دپاره په خارج کي تخلف جائز نه دي لکه صلاة دپاره طهارت مطلقه شرط غالبه دي تخلف جائز دي نو جاءني زيد راکبا دا ترکيب کثير او شائع دي او جاءني راکبًا رجل، دا ترکيب قليل او نادر دي په استعمال د کلام د عربو کي (**و ارسلها**) سره غرض د ماتن (۲) خبري دي (۱) جواب دی د طرف د بصريانو نه بصريان په حال کي تنکير شرط وائي دائماً په هغوی اعتراض دي چې دي تراکيبو کي حال راغلي دي هغه معرفه دي (۲) غرض د ماتن رد دي په کوفيانو باندې چې هغوی وائي حال تنکير شرط نه دي بلکه غالب دي په دي شان سره غالباً په کلام د عربو کي حال نکره وي او کله کله معرفه هم راځي دليل نيولي دي هغوی په دي تراکيبو سره دي جواب کوي د طرف د بصريانو نه چې هغوی باندې نقض دي په دی تراکيبو کي (**العراك**) شاعر صاحب د عراك حمار وحشي صفتونه کوي مذکر خر هغه لاره کي ولاړ ؤ نور خره يې اوبو ته نه پريخودل کله چې دي د هغه لاري نه لري شو هغه مؤنث خري لاړي په تيل وهلو سره اوبو ئي ځکلي د دي حادثي نه شاعر دا شعر جوړ کړه (**و ارسلها**) خالي کړه حمار وحشي لار د اتن. دلته ارسل په معنى د خلو سره دي ځکه ارسال سره خلو لازم دي (**العراك**) په حال کون د دي اتن کي چې دوی تيل وهل يو بل له د وجي د تزاحم نه (**و لم يزدها**) او دي حمار وحشي نه منع کول دي اتن لره د تيل وهلو نه (**و لم يشفق**) ځکه دي نه ويريده (**على نقض الدخال**) په نا تمام د شرب باندې دا خو د دي شعر مطلب دي. او زمونږ مطلب دلته په دي کي دي (ارسل) فعل ضمير په دي کي مستتر دي راجع دي حمار وحشي ته هغه فاعل دي او دا (ها) ضمير منصوب متصل راجع دي اتن ته مفعول به (**العراك**) معرفه باللام حال معرفه حال واقع شوي دي د مفعول به نه (۲) (**ومررت**) تير شوم زه (**به**) په دي زيد باندې (**وحده**) په حال کون د زيد کي چې دي يواځي او دلته وحدهٔ معرفه دي بالاضافة

حال واقع شوي دي (**به**) د جار مجرورنه چې دا مفعول به غير صريحي دي (**و نحوه**) يا مثل د دي تركيب لكه فعلت جهدك شو چې دا جهدك معرفه دي په اضافت سره او حال دي د ت نه (۲) لكه دا قول د الله تعالى شو (لئن رجعنا الى المدينة ليخرجن الاعز منها الاذل) په دي قراءت باندې چې ليَخرُجن الاعز منها الاذل شي په فتحى د يا او په ضمې د را سره من المجرد د الاذل په دي قراءت باندې حال واقع شوي دي د الاعز نه او معرفه باللام دي مراد په دې نحو سره هرهغه تركيب دي چې حال معرفه وي په الف لام سره يا په اضافت سره دا څلور واړه مادې د نقض دي په بصريانو باندې او مادې د استدلال دي كوفيانو دپاره او ماتن جواب كوي د طرف د بصريانو نه كوفيانو ته (**بتاول**) سره چې د دې تركيبونو تاويل كړي شوي دي لكن تاويلو نه (۲) دي يا تاويل دي په عامل كي يا تاويل دي په معمول كي؟

جواب: منم چې دا معرفه دي لكن دا حال نه دي واقع شوي بلكه مفعول مطلق دي د فعل مقدر دپاره اي تعترك الاعراك و ينفردُ وحده و اجتهدُ جهدك او دا الاذل په دې آيت كي مفعول مطلق دي دغه ليخرجن دپاره په حذف د مضاف سره اي خروجَ الاذل بيا هغه مضاف حذف شوي دي دا مضاف اليه قائم شوي دي په مقام د هغه كي نصب د هغه يې اخستې دي (۲) يا حال دي لكن معرفه نه دي الف لام او اضافت پكي زائد دي اي و ارسلها معتركةً، و مررت به منفرداً، فعلتُ مجتهداً، ليخرجن الاعزُ منها، ذليلاً، دا نكره حال واقع شو، شرط غالبه دا دي چې ذو الحال به معرفه وي د هغې نه معلومه شوه چې ذو الحال نكره هم راځي، اوس ذو الحال چې نكره راشي د هغې حكم څه دي د ځنو حكم دلته اوس ماتن بيانوي (**فان كان صاحبه**) كچيرې وو ذو الحال (**نكرة**) نكره (۱) محضه په دې شان سره چې نه وه په دي نكري كي سبب د تخصيص ماسوا د تقديم نه (۲) او دا حال مشترك نه وو ما بين د معرفه او نكره كي (**وجب تقديمها**) واجب دي تقديم د حال په ذو الحال باندې (۱) ځكه دا ذو الحال په معنى كي مبتدأ دي او حال په معنى كي خبر دي، او مبتدأ چې نكره محضه وي تقديم د خبر واجب دي په مبتدأ باندې. دارنګى دلته هم تقديم د حال واجب دي په ذو الحال باندې (۲) دپاره د دي چې لازم نه شي التباس د حال د نعت سره په حالت د نصب كي او حالت رفعي او جري محمول دي په حالت نصبي باندې طرداً للباب، لكن دا اول دليل كمزوري دي ځكه مخكي ئي ويلي وو چې مبتدأ نكره وي تقديم د خبر واجب دي بخلاف الفاعل ځكه هغه كي تخصيص راځي په تقديم د فعل سره.

سوال: جاءني رجل من بني تميم فارساً كي ذو الحال نكره دي تقديم واجب نه دي حال وروسته دي؟

جواب: دا حكم هغه ځاى كي دي چې ذو الحال نكره محضه وي او دلته ذو الحال نكره مخصصه ده او نكره مخصصه په حكم د معرفه كي دي

سوال: نكرةً خو مطلق ذكر دي چې دا محضه د څه نه معلوموي؟ **جواب**: شي چې ذكر شي مطلق صيرورت فرد كامل ته كيږي (۲) التنكير للتنويع

سوال: ته وائي دا حكم هله دي چې ذو الحال نكره محضه وي حال چې مقدم شي بيا خو نكره مخصصه شوه محضه كوم دي؟ **جواب**: په دې شان سره بله وجه د تخصيص پكي نه وي ماسوا د تقديم نه.

سوال: بيا اعتراض دي جاءني زيد و رجل راكبين كي ذو الحال نكره محضه دي بيا هم تقديم د حال نه دي واجب؟ **جواب:** دا دي چې دا مسئله هغه ځاى كي دي چې دا حال مشترك نه وو ما بين د معرفه او نكره كي **سوال:** ذو الحال چې نكره وي بيا تقديم د حال په ذو الحال باندې ولي واجب دي؟ **جواب:** دپاره د دي چې لازم نه شي التباس د نعت او حال كي په حالت د نصب كي.

سوال: بيا اعتراض دي چې حالت نصبي او جري كي خو التباس نشته هلته تقديم ولي واجب دي؟ **جواب:** حالت رفعي او جري محمول دي په حالت نصبي باندې طرداً للباب **(و لا تتقدم)** نه مقدم كيږي حال **(على العامل المعنوي)** په عامل معنوي باندې چې هغه عامل معنوي مستفاد دي بالاتفاق ځكه عامل معنوي ضعيف العمل دي معتبر دي د وجي د ضرورت نه عمل كوي په معمول متاخر كي نه په متقدم كي، لكن كله حال په عامل معنوي مقدم كيږي د وجي د ضرورت نه او ضروريات مستثنى دي د قواعدو نه لكه يو د هغه مقاماتو ضروريو نه دا تركيب دي زيد قائماً كعمرو قاعداً دا كاف كعر كي ذو جهتين دي (۱) د دي جهت نه چې جار مجرور دي متعلق دي مقدر پورې دا عامل لفظي دي په نزد د شارح (۲) او د دي جهت نه چې دا جار مجرور عامل نه دي په دي حال كي بلكه شبهت عامل دي چې هغه مستفاد دي د دي كاف نه او هغه عامل معنوي دي بالاتفاق او حال مقدم شوي دي په دي عامل معنوي باندې چې هغه قائماً دي د وجي د ضرورت نه چې حالين واقع شي مثلاً قائماً او قاعداً دي د ذو الحالينو مختلفينو نه چې زيد او عمرو دي په جهتينو مختلفتينو سره واجب ده يلي د هر واحد د حال او د ذو الحال خپل سره دپاره د تعين د جهت په نسبت سره مخاطب ته چې لازم نه شي التباس په مخاطب باندې په تعين د جهت كي قائماً حال دي دي زيد نه د دي جهت نه چې مشبه ده او مشبه معلوميږي قبل الكاف او قاعداً حال دي د عمرو نه د دي جهت نه چې دي مشبه به دي او مشبه به معلوميږي بعد الكاف تعين د جهت راغي او كه دي داسي اووائي زيد كعمرو قائماً قاعداً بيا التباس وو په مخاطب باندې پته نه لګي چې دا قائماً د دي عمرو نه حال دي چې مشبه به دي او كه د زيد نه حال دي چې مشبه دي.

سوال: ته وائي چې حال نه مقدم كيږي په عامل معنوي باندې يو ځاى درته ښايم چې حال مقدم شوي دي په عامل معنوي باندې چې هغه مستفاد دي لكه زيد قائماً كعمرو قاعداً شو چې قائماً حال واقع شوي دي د زيد نه او عامل يكي معنوي دي چې هغه شبهتُ دي مستفاد دي د كاف تشبيهي نه؟

جواب: دي دپاره يوه قاعده بيان كړه چې حالين واقع د ذو الحالينو مختلفينو نه په جهتينو مختلفتينو سره واجب دي يلي د هر حال د ذو الحال خپل سره دپاره د تعين د جهت يو د هغه ضرورياتو نه دا دي.

سوال: دا مثال عامل معنوي دپاره نه جوړيږي ځكه كعمرو كي عامل دا كاف دي او جار مجرور عامل لفظي دي په نزد د شارح باندې؟ جواب: دا دي چې دلته دوه عامله دي (۱) دا جار مجرور چې دا عامل دي د دي جهت نه چې هغه متعلق مقدر را اوباسي (۲) عامل دي شبهتُ چې هغه مستفاد دي د دي كاف نه دلته په دي حال كي دا عامل دي نه جار مجرور پس مثال جوړشو عامل معنوي دپاره، **(بخلاف الظروف)** (۱) معنى په حال كون د دي حال كي چې دا حال مخالف دي د ظرف نه په دي شان سره حال په

عامل معنوي نه مقدم کیږي او ظرف مقدم کیږي په عامل معنوي باندې نحوُ هذا زید قائماً في الدار
یجوز في الدارِ هذا زید قائماً و لا یجوز قائماً هذا زید في الدارِ، او ظرف عامل لفظي دي په مذهب د
شارح باندې او دلته کې تخصیص شوي دي دپاره د دفع د توهم چې حال او ظرف شبیهین دي تاویل د
یو نه په بل سره کیږي کافیه ملا چې وویل و لا تتقدمُ علی العامل المعنوي متوهم دا توهم وکړه چې
ظرف به هم نه مقدم کیږي په عامل معنوي باندې ځکه دا دواړه شبیهین دي، کافیه ملا دفع د توهم
وکړه بخلاف الظرفِ سره، او ظرف عامل معنوي مقدر دي په نزد د مصنف او دي مقدم کیږي په عامل
باندې او نه لازمیږي تقدیم د شي په خپل نفس باندې بلکه لازمیږي تقدیم د یوې نوعې بلې نوعې
باندې (٢) معنی نه مقدم کیږي حال په عامل معنوي باندې په حال کون د عامل معنوي کې چې دي
مخالف دي د ظرف نه په دي شان سره حال نه مقدم کیږي په عامل معنوي باندې او حال مقدم کیږي په
ظرف باندې، او ظرف عامل لفظي دي په مذهب د شارح او تخصیص شوي دي د وجې د اختلاف نه،
او ظرف عامل معنوي دي په مذهب د مصنف او نه لازمیږي تدافع او تناقض په عبارت د مصنف کې
ځکه د دي معنی دا ده چې حال نه مقدم کیږي په عامل معنوي باندې چې مستفاد دي بالاتفاق او حال
مقدم کیږي په ظرف باندې چې دا عامل معنوي مقدر دي

تفصیل مما سبق: (١) بخلاف الظرف جار مجرور ظرف مستقر دي (٢) متعلق دي متلبساً پورې ځکه دا
با تلبس دپاره ده (٣) او حال واقع شوي د چا نه حال واقع شوي دي ذو الحال کې (٢) احتمال دي: (١)
تقدم کې ضمیر راجع دي حال ته هغه فاعل دي د هغې نه حال واقع شوي دي اوس حال څنګه مخالف
دي د ظرف نه په حکم کې چې حال په عامل معنوي نه مقدم کیږي او ظرف مقدم کیږي دواړه معمول
واخلي نحو هذا زید قائماً في الدار قائماً هذا دا ترکیب باطل دي او في الدار هذا زید جائز دي

سوال: ظرف او جار مجرور کافیه ملا په نزد عامل معنوي دي او د شارح په نزد باندې عامل لفظي دي
اوس د دي ظرف نه عامل لفظي اخلي او که عامل معنوي اخلي دواړه باطل دي ځکه که عامل لفظي
وائي بیا ذکر ته ضرورت نشته دي ځکه دلته مسئله په حال او عامل معنوي کې دي او که دیته عامل
معنوي وائي بیا لازمیږي تقدیم د شي علی نفسه دا باطل دي؟ **جواب:** دا دي چې دواړه صحیح دي (١)
چې دیته عامل لفظي وایم او که ته وائي ذکر کولو ته ضرورت نشته **جواب:** دا ذکر کړي دي دپاره دفع د
توهم چې حال او ظرف شبیهین دي په دي کې دا توهم او حال چې نه مقدم کیږي په عامل معنوي باندې
نو ظرف به هم نه مقدم کیږي په عامل معنوي باندې ده دا توهم دفع کړه بخلاف الظرف سره (٢) یا دي
ظرف ته عامل معنوي وایم مذهب د شارح اخلم او که ته وائي لازمیږي تقدیم د شي علی نفسه؟

جواب: نه لازمیږي تقدیم د شي علی نفسه بلکه تقدیم د یوې نوعې راځي بلې نوعې باندې هذا ته عامل
معنوي مستفاد وائي او دي في الدر ته عامل معنوي مقدر وائي (٢) یا حال واقع شوي دي علی
العامل المعنوي مفعول به غیر صریحي نه په حال کون د دي عامل معنوي کې چې دي مخالف د ظرف
نه دي حال په عامل معنوي نه مقدم کیږي او حال په ظرف مقدم کیږي چې دا عامل معنوي وو ظرف په

مرتبه د عامل کي واخلي او دا حال په مرتبه د معمول کي واخلي هذا زيد قائماً کي قائماً کي هذا زيد نه دي جائز او زيد في الدار قائماً کي زيد قائماً في الدار جائز دي.

سوال: يا په دي اعتراض دي چې دي ظرف ته عامل لفظي وائي او که عامل معنوي دواړه باطل دي ځکه هر معمول لفظي په عامل لفظي باندې مقدم کيږي که مانع موجود نه وي بيا د دي تخصيص ته څه ضرورت دي او که عامل معنوي اخلي په مذهب د مصنف باندې بيا خو تناقض لازم شو، چې حال نه مقدم کيږي په عامل معنوي باندې او حال مقدم کيږي په عامل معنوي؟ **جواب:** دا دي چې دواړه صحيح دي (۱) زه ديته عامل لفظي وايم او که ته وائي هر معمول په عامل لفظي باندې مقدم کيږي بيا ذکر کولو ته څه ضرورت دي؟ جواب: دلته ذکر کړي د وجي د اختلاف نه او د کافيه ملا مذهب غوره دي (۲) يا ديته عامل معنوي وايم په مذهب د مصنف باندې او که ته وائي تناقض لازم شو؟ **جواب:** دا دي چې تناقض نشته دي ځکه حال نه مقدم کيږي په عامل معنوي چې مستفاد دي بالاتفاق او حال مقدم کيږي په ظرف باندې چې دا عامل معنوي مقدر دي. اوس مادي درې شوي (۱) کوم عامل معنوي چې مستفاد دي په هغې باندې نه مقدم کيږي بالاتفاق (۲) کوم عامل چې لفظي دي بيا فعل دي او که شبه فعل دي (۳) کوم عامل چې معنوي مقدر دي په هغې باندې مقدم کيږي بالاتفاق **(ولا على المجرور)** او حال نه مقدم کيږي په ذو الحال مجروره باندې مجرور عام دي په اضافت سره وي (۲) او که حرف جر سره وي **(على الاصح)** په مذهب اصح باندې چې هغه مذهب د بصريانو دي دا ترکيب ممتنع دي په نزد د بصريانو مررتُ راکبةً بهند ځکه حال توابع او متعلقات د ذو الحال نه دي او دلته کي ذو الحال نه مقدم کيږي په جار باندې چې هغه حرف جر يا مضاف دي او حال چې توابع د ذو الحال نه دي په طريقه اولى سره نه مقدم کيږي په هغه جار باندې چې حرف جر يا مضاف دي. دارنګه ما بين د جار او مجرور کي ذکر کول هم باطل دي ځکه لازميږي فصل په ما بين د جار او مجرور کي دا باطل دي لکن دا عدم تقديم د ذو الحال په حال مجروره اضافت کي اتفاقي دي او ذو الحال چې مجرور وي په حرف جر سره په هغې کي خلاف دي هلته هم حال نه مقدم کيږي **(على الاصح)** په مذهب اصح باندې چې هغه مذهب د بصريانو دي دليل هغه دي چې مجرور نه مقدم کيږي په جار باندې او حال د متعلقاتو د ذو الحال نه دي دا نه مقدم کيږي په طريقه اولى سره، په اصح سره ئي احتراز وکړه د مذهب صحيح نه چې مذهب د کوفيانو دي هغوى وائي چې حال مقدم کيږي په ذو الحال مجروره په حرف جر سره، دلائل د هغوى (۲) دي. (۱) دليل عقلي چې قياس ورته وائي دا فعل متعدي شو حرف جر سره دينه وروسته حال راغي نحو مررتُ بهند راکبةً دا قياس کوو مونږ په هغه فعل چې هغه متعدي شي په باب افعال سره يعني همزه سره اذهَب زيداً راکباً هلته خو تقديم جائز دي دلته هم جائز دي. (۲) دليل نقلي هغوى دپاره دا قول د الله تعالى دي (و ما ارسلناك الا كافةً للناس) دا کافةً منصوب دي حال واقع شوي دي دغه الناس مجرور د لام نه او مقدم شوي دي معلومه شوه چې تقديم د حال په ذو الحال مجروره په حرف جر باندې جائز دي؟ **جواب:** د طرف د اصح نه دا دي **جواب:** د اول دليل عقلي نه چې دا قياس مع الفارق دي ځکه تعديت په همزه سره راځي هغه جز دي د فعل نه (۲) هلته تقديم دپاره استحاله او مانع نشته دي او

تعديت په حرف جر سره راشي دا جز نه دي او دلته کي مانع او استحاله شته چې دا مجرور په دي باندي نه مقدم کيږي دا حال څنګه په دي مقدم کيږي چې دا تابع دي. او دليل نقلي نه جواب: دا دي: (۱) چې نه منم دا کافة حال دي د دي الناس مجرور نه بلکه دا کافةً حال دي د ارسلناك ضمير د مخاطب نه.

سوال: بيا په دي اعتراض دي چې دا کاف ضمير د مذکر دي او کافةً مؤنث دي دا څنګه حال واقع کوي د کاف ضمير د مذکر مخاطب نه؟ **جواب:** دا دي: چې کافةً کي دا تاء د مبالغه دپاره دي تانيث دپاره نه دي **جواب** (۲) دا دي: چې دا کافةً مفعول مطلق دي د فعل مقدر دپاره چې د دي مقام نه معلوميږي اي وما ارسلناك الا ان تكون كافةً للناس **جواب** (۳) يا دا کافةً مفعول مطلق دي د دي ارسلناك دپاره په اعتبار د موصوف محذوف سره، لکن هر کله چې دي جوابونو کي تکلفات ؤ او د ظاهر نه خلاف ؤ ځکه کافيه ملا حکم وکړه چې دا مذهب اصح دي او مقابل کي هغه بل مذهب صحيح دي او حکم ئي په بطلان اونه کړه، دي کافيه ملا خو مسئله مطلق ذکر کړي ده اي ولا على المجرور على الاصح، او جامي صاحب دي مجرور نه اخستي دي مجرور په حرف جر سره په دي کي خلاف دي اما مجرور په اضافت سره هلته تقديم بالاتفاق جائز نه دي لکن بعضي خلقو په دي کي هم خلاف کړي دي (۱) ذو الحال مضاف اليه وي په اضافت لفظي سره دي مضاف اليه نه حال واقع شي هلته تقديم جائز دي مثال جاءني ضاربةَ زيداً مجرداً عن الثياب، يا لکه بل مثال جاءني شارب السويق ملتوتاً اضافت د اسم فاعل دي مفعول به ته په اضافت لفظيَ سره او مجردا حال واقع شو د دي زيد مضاف اليه نه، جمهور وائي: دا حال نه مقدم کيږي، بعضي وائي دغه ځاى کي مقدم کيږي ځکه دا اضافت لفظي په حکم د انفصال کي دي که دي داسې ويلي وي جاءني ضاربةَ زيد مجرداعن الثياب ځکه دا اضافت لفظي په حکم د انفصال کي دي (۲) هغه ځاى کي چې حال د مضاف اليه نه واقع شي او مضاف جز وي د مضاف اليه نه او دا مضاف اليه په ترکيب کي فاعل يا مفعول وي مثال لکه تتحرك يدُ زيد ماشياً خوځيږي لاس د زيد په حال کون د زيد کي چې دي روان وي دا يد مضاف دي او زيد مضاف اليهٔ دي او دا يد جز دي د زيد نه او زيد فاعل دي معنى او دا ماشياً حال دي د زيد مضاف اليه نه تقديم د ماشياً جائز دي په دي مضاف اليه باندي ځکه حال د مضاف اليه نه بعينه حال د مضاف نه دي ځکه دا مضاف جز د مضاف اليه نه دي دا زيد کل دي او يد جز دي او حال چې د مضاف نه واقع شي تقديم جائز دي دارنګي حال چې د مضاف اليه نه واقع شي هم تقديم جائز دي، (۳) صورت اضافت معنوي دي کل او جز هم نه دي لکن مضاف اليه به په ترکيب کي فاعل يا مفعول به وي او حذف د مضاف اقامت د مضاف اليه په مقام د هغه کي جائز دي دغلته کي هم تقديم د حال ذو الحال مضاف اليه نه جائز دي مثال لکه (بل نتبع ملة ابراهيم حنيفاً) تقديم د دي حنيفاً په دي ابراهيم مضاف اليه باندي جائز دي او شرائط ټول موجود دي **(و كل ما دل)** سره غرض د ماتن (۲) خبري دي: (۱) بيان د قاعده کليه چې هر هغه لفظ چې دلالت يې په هيئت کوه د هغې نه حال نحوي صحيح دي بلا تاويله (۲) اظهار ما هو الاختيار رد کوي په جمهورو چې هغوى په حال نحوي کي اشتقاق شرط وائي په دي شان سره کوم ځاى کي چې حال غير مشتقي دي وجوباً تاويل کوي مشتقي سره دليل د هغوى کثرت استعمال

دي په کلام د عربو کي چې مطلقاً په کلام د عربو کي حال مشتقي وي (و كل ما) هر هغه لفظ (دل) دلالت کوي (على هيئة) په صفت د فاعل يا د مفعول په باندې (صح) صحيح دي (ان يقع حالا) چې واقع شي حال بې د تاويل نه په مشتقي سره دا محل د نزاع دی اما نفس وقوع نه خو هغوی هم انکار نه کوي، ځکه شي معلوميږي د صدق د تعريف ته اوتعريف د حال په دي باندې صادقيږي بې د تاويل نه او کثرت اشتقاق په حال کي په کلام د عربو کي دا دليل د اولويت دي نه د وجوب او اولويت نه زه هم انکار نه کوم چې اولى په حال کښې مشتقي دي لکن مسئله په جواز او عدم جواز کي دي زه وايم چې غير مشتقي هم حال واقع کيږي بلا تاويله بيا عام دي چې مشتقي دي او که مصدر دي او که جامد دي دريواړه مادو له شامل دي، مثال د جامد (۱) بعت مداً دا مداً په معنى د مکيلاً سره جامد دي حال واقع شوي دي (۲) لکه دا متن مثال شو (هذا) دغه مشار اليه کجوري په حال کون د دي کي (بسرا) چې دا نيم پخته دي زيږي (اطيب) ډيري خوږي دي (منه) دغه مشار اليه کجوري نه په حال کون د دوی کي (رطبا) چې دا پخي دي په دي کجورو کي دری مرتبي دي (۱) نيم پخته ته بسر وائي (۲) بيا پخه شي او چې شي هغې ته تمر وائي (۳) او که لمده وي هغې ته رطب وائي دا سړي د خپل کجورو صفت کوي چې پخه شي خو هر شي خوږ وي لکن ځما دا کجوري نيم پخته ئي هم ډيري خوږي دي

اوس دلته کي دا بسراً او رطباً حال واقع شوي دي او مشتقي نه دي بلکه اسم جامد دي جمهور وائي مع التاويل حال دي او مصنف وائي بلا تاويل حال دي مسئله د متن ختم شوه، اوس بسراً او رطباً حالين دي منصوبين دي عامل پکي څوك دي په دي کي خلاف دي حال ثاني متاخر کي عامل اطيب دي په اتفاق د نحاتو سره ځکه عامل لفظي چې موجود وي او مانع نه وي عمل د عامل لفظي واجب دي بالاتفاق، او بسراً حال اول متقدم کي عامل عامل معنوي دي چې مستفاد دي د اسم اشاري نه په مذهب د عامو باندې ځکه اسم تفضيل ضعيف العمل دي عمل کوي معمول متاخر کي نه معمول متقدم کي نو دوه حالين شو او دوه عاملين شو رطباً حال دي عامل اطيب دي او بسراً حال دي عامل هذا دي (۲) لکن محققين وائي دواړو کي عامل اطيب دي ځکه دپاره د دي چې لازم نه شي عمل د عامل معنوي سره د وجود د عامل لفظي نه کما مر في ما لزيد و عمرو ځکه عامل لفظي ممکن العمل دي عمل د عامل لفظي واجب دي او عمل د عامل معنوي د دي مقابله کي ممتنع دي ځکه عامل معنوي عامل دي د وجي د ضرورت نه دلته ضرورت نشته او دا منم چې اسم تفضيل ضعيف العمل دي عمل کوي په معمول متاخر کي معمول متقدم کي عمل نه شي کولي لکن دلته کي يې عمل کړي دي په دي بسراً باندې او دا بسراً مقدم شوي دي د وجي د يو قاعدي نه هغه قاعده دا ده: حالين چې واقع شي د ذو الحال واحده نه په جهتينو مختلفتينو سره بيا واجب دي يلي د هر حال د جهت خپل سره دپاره د تعين د جهت مخاطب ته چې لازم نه شي التباس مخاطب باندې رطباً حال دي مشار اليه نه د دي د جهت نه چې مفضل عليه دي او دا معلوميږي د منه نه دال په دي باندې من دي ځکه مدخول د من مفضل عليه دي ذکر شو منه سره او بسراً حال دي د دغه مشار اليه نه د دي جهت نه چې مفضل دي دال په دي باندې هذا

دی ځکه مفضل فاعل د اسم تفضیل وی او دا معلومیږي د هذا نه متصل ذکر شو هذا سره. او ضمیر په مقابله د اسم ظاهر کي کالعدم دي ځکه بسراً ذکر شو وروستو د هذا نه نه وروستو د اطیبُ نه. او مذهب د عامو کمزوري دي د بل د وجي نه دا ترکیب چي منقول من العرب دي دا واجب نه دي چي مبتدأ به هذا وي د هغې نه مستفاد اشیرُ او انبهُ دي بلکه دا ترکیب منقول من العرب دي او مبتدأ هذا نه دي لکه تمرة النخل بسراً اطیبُ منه رطبًا، تمرةُ النخل اسم جامد دي د هغې نه بسراً حال واقع شوي دي دغلته عامل څوک دي دا اعتراض شو په هغه عامو باندې چې نه عامل معنوي جوړیږي او نه عامل لفظي جوړیږي دلته کي عامل اطیبُ دي تاسو هم منئ هلته هم عامل اطیبُ دي.

سوال: بیا خو دا بسراً هذا پسي ذکر کول نه ؤ پکار اطیب پسي ذکر کول پکار ؤ ځکه کون د مفضل دا معلومیږي فاعل د اسم تفضیل نه دا مخکي ولي ذکر وکړه؟ **جواب:** هذا اسم ظاهر دي قوي دي او ضمیر مقابله کي ضعیف دي یعنې مدلول او معني او معبر عنه یو دي او دي متکلم تعبیر اسم ظاهر سره هم کړي دي او ضمیر سره هم کړي دي او ضمیر د اسم ظاهر مقابله کي کمزوري دي لهذا دي مفضل دي لکه تعبیریې ضمیر سره نه دي کړي ځکه هذا سره بسراً ذکر کړه.

(وقد تکون) سره غرض د ماتن (١) اولاً تقسیم د حال نحوي دي مفرد او جملي ته چې حال نحوي کله مفرد وي او کله جمله وي (٢) اشاره کوي چې حال مفرد اولی کثیر دي او جمله قلیل ده (٣) اشاره کوي چې حال جمله واقع شي لابدي ده د رابط خارجي نه (۴) تقسیم د رابط او بیان د مصداق د رابط کوي چې جمله کي د رابط مصداقونه دري دي کله کله حال راځي **(جملة خبرية)** جمله خبریه څلور مسئله بیان کړه دوه ضمنًا او یو صراحةً قد راځي دپاره د تقلیل (١) تقسیم ته هم اشاره شوه چې حال دوه قسم دي مفرد او جمله (٢) او دیته هم اشاره شوه چې اصل په حال کي افراد دي ځکه حال مربوط وي ذو الحال سره، ربط په مفرد کي اسهل دی ځکه مفرد مربوط او محتاج لذاته دي نه لغیره او جمله کي ربط اصعب دي ځکه مربوط لغیره دي نه لذاته (٢) حال معنًی خبر دي او اصل په خبر کي افراد دي (٣) مسئله صراحةً او جمله هم حال واقع کیږي اوس جمله حال جائز ولي دي ځکه (١) مقصود په حال کي بیان د هیئت د فاعل او مفعول به دي دا مقصد لکه څنګه چې مفرد سره حاصلیږي جملي سره هم حاصلیږي (٢) یا مقصود په حال کي تقید د حدث منسوبه دي دا لکه څنګه چې مفرد سره راځي دارنګي جملي سره هم راځي (۴) **(خبرية)** سره اشاره وکړه چې جمله انشائیه حال نه واقع کیږي بلا تاویله (١) ځکه حال مبین دي هیئت د ذو الحال او انشا چا دپاره بیان نه واقع کیږي (٢) حال مربوط وي ذو الحال سره او انشاء چاسره تعلق نه ساتي (٣) حال په معنی کي خبر وي او ذو الحال په معنی کي مبتدأ وي او انشاء چا دپاره حکم نه واقع کیږي **(فالاسمية)** (١) فا تفصیلیه دي تفصیل د جمله خبریه کوي چې حال واقع شي (٢) یا فا جزائیه دي جزا مقدر ده اي اذا وقعت الجملةُ حالا دا اجمال ذي او دا شرط دي فالاسمیة دا تفصیل دي او جزا ده دواړه جائز دي.

جمله چې حال واقع شي شپږ قسمه دي دوه قسمه جمله اسميه دي (١) مثبته (٢) منفيه د دې دواړو حکم څانله دي څلور قسمه جمله فعليه (١) جمله فعليه ماضي مثبته (٢) جمله فعليه ماضي منفيه (٣) جمله فعليه مضارع مثبته (۴) جمله فعليه مضارع منفي د دي شپږو حکمونه بيانوي **(فالاسمية)** کې الف لام عهدي مطلق جمله اسميه نه هغه جمله اسميه چې حال واقع شي **(بالواو و الضمير)** مطلق رابط نه خو څکه ضروري دي چې جمله من حيث جمله مستقل ده ما قبل سره ربط نه غواړي او دا حرف رابط ربط راوړي ما قبل سره، دا به مشتمل وي په واو او ضمير دواړو باندې څکه دا جمله اسميه قوي ده په استقلال کي نو رابط قويه غواړي او هغه رابط قويه واو او ضمير دي دواړه او **(بالواو)** يا په واو سره فقط بلا ضعفه نحو جئتك و الشمر صالحة څکه واو دلالت کوي ربط باندې د اول وهلت نه دا هم رابط قويه دي څکه واو واقع کيږي په سر د جمله کي وجوباً **(او بالضمير على ضعفه)** يا به دا جمله اسميه مشتمله وي په ضمير باندې يواځي نحو کلمتُه فوه الى في خو دا ترکيب ضعيف دي، ضعيف دا معنى چې عوام به يې مستعمله وي فصيح به يې نه مستعمله وي څکه ضمير رابط دي لکن دي دلالت نه کوي په ربط باندې د اول وهلت نه کله راځي په اول کي او کله راځي په اخير کي او کله راځي په وسط کي.

سوال: جمله اسميه ولي قوي دي په استقلال؟ **جواب:** څکه جمله اسميه ديته وائي چې جز اول پکي اسم وي او جمله فعليه ديته وائي چې جز اول پکي اسم نه وي بلکه فعل وي او فعل محتاج دي غير ته دائماً او اسم محتاج الى الغير نه دي په دي کي استغناء ده دائماً څکه قوي دي.

سوال: تلخيص کي خو ويلي دي رابط قويه ضمير دي او دي وويل على ضعف چې دا رابط ضعيفه دي؟

جواب: په دي کي جهتين دي تلخيص ملا رابط قويه ويلي دي په اعتبار د کثرت استعمال سره چې ضمير رابط هر ځاى کي راځي او کافيه ملا ديته رابط ضعيفه ويلي دي په دي اعتبار سره چې دا دلالت نه کوي په ربط باندې د اول وهلت نه لهذا د دوى په ما بين کي منافات نشته **(و المضارع المثبت)** جمله فعليه چې حال واقع شي فعل پکي مضارع مثبت وي، رابط څوك دي **(بالضمير)** دا به مشتمل وي په ضمير باندې **(وحده)** په حال کون د دي ضمير کي چې يواځي به وي واو پکي ممتنع دي څکه دا مضارع مثبت مشابه ده اسم فاعل سره په مشابهت تامه سره او په دي اسم فاعل کي خو واو ممتنع دي کله چې حال واقع شي په دي مضارع مثبت کي هم واو ممتنع شي څکه کله کله مشبه حکم د مشبه به اخلي.

سوال: ته وائي مضارع مثبت حال واقع شي بالضمير وحده دي دا قاعده ستا منقوضه شوه په دي قول د الله تعالى سره (**أ تامرون الناس بالبر و تنسون انفسكم**) چې تنسونَ مضارع مثبت حال واقع شوي دي او بالضمير وحده نه دي بلکه واو ورسره راغلي دي (٢) دا قاعده ستا منقوض شوه په دي قول د شاعر سره فلما خشيتُ اظافيرهم نجوتُ وار هنهم مالكا (٣) ستا دا قاعده منقوضه شوه په دي قول د عربو سره قمتُ و اصك (اي اضرب) وجهه چې دا ارهنُ او اصك مضارع مثبت حال واقع شوي واو پکي راغلي دي؟ **جواب:** دلته دا مضارع مثبت حال نه دي واقع شوي بلکه دا خبر دى دپاره د مبتدأ محذوف

و انتم تنسونَ انفسكم و انا ارهنهم و انا اصك، او جمله اسميه چې حال واقع شي واو او ضمير دواړو سره دي، ابن مالك دا كليه بيان كړې ده الفيه كي

وذاتُ واو بعدها انو مبتدأ له المضارعُ اجعلنَ مسندا

(وما سواهما) هغه جمله چې حالً واقع شي ماسوا د جمله اسميه او مضارع مثبت نه د ما سوا مصداقونه دري دي: (۱) ماضي مثبت (۲) ماضي منفي (۳) مضارع منفي د هغو رابط مصداقونه (۳) دي: **(بالواو والضمير)** په واو او ضمير دواړو سره (۲) **(او باحدهما)** يا په واو سره فقط (۳) يا په ضمير سره فقط بلا ضعف ځكه جمله من حيث جمله مطلق رابط غواړي او مطلق رابط دري واړه دي او هر كله چې قوي نه وي په استقلال كي پشان د جمله اسميه رابط قوي نه غواړي بلكه رابط ما غواړي او رابط ما دا دري واړه دي، او دري په دريو كي ۹ وهه نهه صورتونه جوړيږي دري مضارع منفي كي: (۱) جاءني زيد و ما يركب غلامُه واو او ضمير دواړه راغله (۲) جاءني زيد و ما يركبُ عمرو يواځي واو راغي (۳) جاءني زيد ما يركبُ غلامه يواځي ضمير راغي واو نشته (۳) ماضي منفي كي: (۱) جاءني زيد و ما ركبَ غلامُه واو او ضمير دواړه (۲) جاءني زيد و ما ركبَ عمرو يواځي واو (۳) جاءني زيد ما ركب غلامه يواځي ضمير، (۳) ماضي مثبت كي: (۱) جاءني زيد و قد ركبَ غلامه واو ضمير دواړه (۲) جاءني زيد و قد ركبَ عمرو يواځي واو (۳) جاءني زيد قد ركبَ غلامه يواځي ضمير مجموعه ۹ صورتونه شو، جمله چې حال واقع شي مصداقونه شپږ شي او د رابط مصداقونه (۳) شو (۱) واو ضمير دواړه (۲) يواځي واو (۳) يواځي ضمير.

(ولابد) ربط: هر كله چې فارغ شو مصنف د تفصيل د روابط د هغه جملي نه چې حال واقع شي اوس بيانه وي شرط د يوى جملى خاصى معينى چې حال واقع شي چې هغه ماضي مثبت دي، مطلق جمله چې حال واقع شي شپږ صورتونه وو د هغې تفصيل وشو په دي شپږو كي يو جمله ده چې هغه حال واقع شي په هغې كي يو شرط دي چې هغه نور جملو كي نشته دي **(في الماضي المثبت)** لابدي دي په هغه جمله فعليه كي چې حال واقع شي او فعل پكې ماضي مثبت دي د څه نه لابدي ده **(من قد)** د دخول د لفظ او كلمې د قد نه (۱) په حال كون د دي قد كي **(ظاهرة او مقدرة)** چې ملفوظ وي يا مقدر وي (۲) يا هغه قد چې ملفوظ وي يا مقدر وي (۳) چې، هغه ملفوظ دي يا مقدر دي چې دلالت وكړي په مقارنت د حال عامل سره مجازاً ځكه قد وضع شوي دي دپاره د تقريب د زماني ماضي زماني حال ته وضعًا او حقيقةً دلته دلالت كوي په مقارنةً او تقريب د حال نحوي عامل نحوي ته مجازاً علاقه پكې تقريب دي **(او ما هو ماضيت)** د حال په نسبت سره فاعل ته وي او ظاهرةً او مقدرةً سره اشاره ده تعميم ته (۲) او ما هو المختار ته، (۳) او رد دی په بعضو باندې چې سيبويه او مبرد دي چې د هغوى په نزد باندې قد كي تلفظ واجب دي او تقدير ئي ممتنع دي.

بيان د قيوداتو: سوال: ته وائي و لابُد في الماضي الخ، مسئله زمونږ هغه جمله کي دي چې حال واقع شي مطلق ماضي مثبت سره زمونږ سره څه کار دي؟ جواب: دا دي الماضي المثبت کي الف لام عهدي دي مراد د دينه هغه ماضي مثبت دي چې هغه په ترکيب کي حال واقع شي نه مطلق ماضي مثبت

سوال: بيا په دي اعتراض دي چې من حرف جر دي داخليږي په اسم باندي دلته په دي حرف باندي ولي داخل شوي دي؟ **جواب:** دلته دا قد مراد اللفظ علم دي نو دخول د حرف جر په اسم باندي راغي

سوال: شروط د قبيلي د اوصاف نه وي دا قد خو ذات دي دا څنګه شرط دي؟

جواب: دا دخول څکه راوباسو په ترجمه کي چې دا دخول د قد نه لابدي ده نه د ذات د قد نه

سوال: دا قد ولي ضروري دي؟ **جواب:** دي قد نه څکه لابدي ده چې دا قد اولګي حال نحوي مقارن کړي عامل خپل سره. **سوال:** دا مقارنت د حال ولي شرط دي؟ **جواب:** څکه حال قيد د عامل وي او قيد او مقيد يو زمانه کي وي مقارنت پکي څکه شرط دي. هر کله چې ماضي حال واقع شي دينه هغه مقارنت لاړه د قد نه لابدي دي چې دا قد اولګي هغه مقارن کړي عامل سره نحو جاءني زيد رکبَ معنی راغلی وو ما ته زيد په حال کون د دی زيد کې چې سور شوي وو په زمانه ماضي کې قد رکبَ معنی دا شوه چې اوس سور شوی وو.

سوال: بيا په دي باندي اعتراض دي چې دي قد نه خو هله لابدي دي چې عامل مضارع وي او حال ماضي وي مقارنت نشته دي مقارنت ته ضرورت دي اوس چې دواړه ماضي وي بيا قد ته څه ضرورت دي؟ **جواب:** ماضيت د حال په نسبت سره عامل ته دي قيد سره جواب وشو چې ماضية او حاليت او استقباليت دا امور اضافيو نه دي ماضي چې حال واقع شي دا دلالت کوي په تقدم باندي د دي مصدر د عامل نه نو جاءني زيد رکبَ غلامهُ وائي او که يرکب غلامه وائي د دي رکوب به د دي مجيئت نه مخکي وي

سوال: قد وضع شوي دي دپاره د تقريب او مقارنت بين الزمانين چې زمانه د ماضي مقارن کوي زمانه حال سره د دي وجي نه ماضي مطلق باندي چې قد داخل شي صرفيان هغې ته ماضي قريب وائي څکه د قد زمانه د ماضي زمانه حالي سره يو ځاى کوي اوس دلته کي حال نحوي او عامل نحوي سره د قد څه کار دي؟ **جواب:** دپاره د دي خبري چې دا قد اولګي حال نحوي يوځاى کړي د عامل نحوي سره مجازاً څکه قد وضع شوي دي دپاره د مقارنت بين الزمانين حقيقةً او دلالت کوي په مقارنت د حال نحوي عامل خپل سره مجازاً هله به تا اعتراض کول چې دلته استعمال حقيقةً وي بلکه دا استعمال مجازاً دي او هغه استعمال حقيقةً دي (۱) ظاهرةً او مقدرةً وائي حال دي د قد نه چې مجرور دي او که ظاهرةً او مقدرةً وائي (۱) نعت دي د قد نه (۲) بدل دي (۳) عطف بيان دي، دي کي غرض د کافيه ملا (۳) خبري دي (۱) تعميم ته اشاره کوي (۲) ما هو المختار ته اشاره ده چې هغوى په دي قد کي تعميم مني (۳) رد دی په سيبويه او مبرد باندي چې هغوى وائي تلفظ په قد کي واجب دي څکه دا قد يو مقصد دپاره ذکر کيږي چې هغه تقريب او مقارنت دي دا به هله مقارنت او تقريب باندي دلالت کوي په ملفوظ وي او که مقدر وي بيا هغه مقصد فوت کيږي جمهور وائي دا قد عام دي لفظاً وي او که تقديراً وي څکه مقدر کالملفوظ دي مقصد نه فوت کيږي، ثمره د خلاف ظاهريږي په دي قول د الله تعالى کي (او جاؤکم

حصرت صدورهم) جمهور وائي: دا جمله فعليه حال دي د ضمير د جاؤا نه او قد پکې مقدر دي، سيبويه او مبرد وائي: دا حال نه دي په دي شان سره (١) چې دا نعت دي د موصوف مقدره دپاره او جاؤكم قوماً حصرت صدورهم، بيا هغه موصوف مقدره حال واقع شوي دي (٢) جاؤكم دا خانله جمله ده او حصرت صدورهم دا خانله جمله معترضه دعائيه ده خيري دي د هغوی دپاره چې خدای پاك دي د دوی سيني تنگي کړي (و يجوز) بحث د متعلقاتو د شي نه بحث د شي نه وي مجازاً بحث د حذف د عامل د حال نه بحث د حال نه دي نو خروج د بحث نه رانغي، جائز دي (حذف العوامل) حذف د متکلم عامل ناصبه د حال لره په وخت د وجود د قريني دالي کي په تعين د محذوف باندې بي د سد مسد نه قرينه عامه ده چې حالي وي او که مقالي وي مثال د عامل محذوف د حال د وجي د قريني حالي نه (کقولك) لکه دا مقوله ستا شوه (للمسافر) مريد السفر ته (راشداً مهدياً) دا دواړه حالين دي د عامل محذوف قرينه پکې معنوي ده چې حال د مخاطب دي اي اذهب راشداً مهدياً يا سر راشداً مهدياً زه ته په حال کون ستا کي چې خدای پاك دي تاته سمه لار ملاؤ کړي دا متن مثال دي د قرينه حاليه مثال د قرينه لفظي لکه (١) دا قول د الله تعالى شو (بلى قادرين: اي بلى نجمعهم د دي نه قرينه دا مخکني ايت دي (ايحسب الانسان ان لن نجمع عظامه) باي کيفية جئت يو سړي اووائي تاته په جواب کي ووائي راكباً اي جئتُ راكباً قرينه پکې سوال د سائل دي، بيا دا دوه حالين دي (١) حالين مترادفين جوړه وي هم صحيح دي (٢) او که حالين متداخلتين جوړوي هم صحيح دي، چې سر کي انتَ ضمير دي دواړه د هغې نه حال دي ديته وائي مترافه او که نه راشداً حال واقع کوي د ضمير د سر نه او مهدياً حال واقع کوي د ضمير د راشداً نه ديته وائي حال متداخله يعني تعدد د حال سره د وحدت د ذو الحال نه ديته وائي احوال مترادفه او تعدد د حال سره د تعدد د ذو الحال نه ديته وائي احوال متداخله دا به راشي وروسته په تقسيم د حال کي (و يجب) واجب دي حذف د عامل ناصبه د حال (في المؤكدة) په بعضي افرادو د حال مؤکده کي چې هغه جامع د شرائط ثلاثو يا اربعو وي د وجي د وجود د قريني او سدمسد نه (في المؤكدة) کي الف لام عهدي دي بعضي افراد مراد دي دي سره اعتراض دفع شو.

سوال: چې ته وائي حال مؤکده کي حذف د عامل واجب دي هو الحقُ لا شك فيه دا الحق صفت مشبه دي ضمير پکې مستتر دي هغه ذو الحال او دا لاشك فيه جمله حال مؤکده واقع شو دي او عامل محذوفه نه دي؟ **جواب:** وشو په بعضي افرادو سره، اوس هغه بعضي کوم دي، هغه به دا وروسته بيانوي چې هغه جامع د شروط اربعوو وي (مثل) مثال د عامل محذوفه د حال مؤکده لکه عامل محذوفه شو په دي مثال کي (زيد ابوك عطوفاً) دا عطوفاً حال مؤکده دي عامل محذوف دي (اي أحقه) قرينه نصب د معمول دی سد مسد اقامت د معمول دي په مقام د عامل باندې سره د معاونت د جملي متقدمي نه (احقه) متکلم صيغه ده د باب افعال نه په معني د باب تفعل سره (٢) يا متکلم صيغه ده د مجردو نه په معنى د مزيد سره، ضمير راغلي راجع دي چې زيد ته او اثبات په اعتبار د وصف سره دي نه په اعتبار د ذات سره، په دي تقدير باندې دا اعتراض دي:

اوكه حق نه مشتق شي ثبوت ته وائي دا دوا په مقصود
سوال: احقه د احقاق نه مشتق دي اثبات ته وائي او تحقق وائي علم يقين ته او دا صيغه دلالت په تحقق باندي نه
نه دي بلكه دلته مقصود تحقق دي اثبات ته وائي، يا دلالت كوي په حق چې ثبوت ته وائي د دي
كوي بلكه يا دلالت كوي په احقاق چې اثبات ته وائي. يا دلالت كوي په حق چې ثبوت ته وائي د دي
وجې نه سكاكي صاحب د دي مثال نه عدول كړي دي هغه عامل يَحْنِي را اوباسي اي يَحْنِي عطوفًا په
حال كون د دي زيد كي چې دا ميلان كوي مهرباني. ته او جمهور وائي تقدير د يَحْنِي ته ذهن د
مخاطب ميلان او ذهاب نه كوي (١) دا صيغه د متكلم د مجردو نه ده په معنى د مزيدو سره (٢) يا
متكلم صيغه د باب افعال ده په معنى د باب تفعل سره ده او مجاز بالباب كثير شائع دي په كلام د
عربو كي **سوال:** أحقه دا ضمير چا ته راجع دي كه زيد ته ئي راجع كوي مطابقت ما بين د راجع او مرجع
كي خو راغي لكن تعلق د تحقق نه صحيح كيږي او كه ضمير راجع كوي ابوة ته تعلق د تحقق خو
صحيح شو لكن مطابقت رانغي مابين د راجع او مرجع كي ځكه ه ضمير مذكر دي او أُبوة مؤنث دي؟
جواب: (١) ضمير راجع دي زيد ته لكن مقصود بالاثبات و التحقق وصف دي ابوة د زيد نه ذات د زيد
(٢) ضمير راجع دي ابوة ته تعلق د تحقق خو صحيح شو او كه ته وائي مطابقت رانغي ما بين د راجع او
مرجع كي مصدر ذو التاء يذكر و يؤنث دا قاعده د نحوي ده. اوس د هغه بعضو افرادو تعين كوي په
بيان د شرائطو سره (**وشرطه**) شرط دپاره د حذف د عامل وجوبا د حال مؤكده كي
(**ان تكون مقررة**) (١) چي دا حال به مؤكد وي په دي سره احتراز وكړه د حال منتقله نه ځكه هلته حذف د
عامل جائز نه دي (٢) (**لمضمون جملة اسمية**) دا به مؤكد وي دپاره د مضمون د جمله اسميه (**جملة**) سره
احتراز وكړه د دي تركيب نه (انا ارسلناك للناس رسولًا) چي دا رسولًا حال مؤكده او مقرره دي د دي
كاف ضمير د مخاطب نه لكن مؤكد د مضمون د جملي نه دي كه رسول نه معنى لغوي واخلي مطلق
فرستاده شده د دي ارسل مصدر دپاره مؤكد دي هغه معنى لغوي معاد به شي او كه رسول نه معنى
اصطلاحي واخلي فرستاده شده من الله بيا مقرر دپاره مضمون د جملي دي بيا اسمية سره اووته ځكه
دا مقرر د مضمون د جمله فعليه دي او دلته شرط دا دي چي مقرر د مضمون د جمله اسميه به وي
بعضي حضرات څلورم (۴) شرط بيانوي چي دا جمله اسميه به مركب وي د داسي اجزاؤ نه چي هغه
صالح دپاره د عمل نه وي او كه دا جمله اسميه مركب وي د داسي اجزاؤ نه چي هغه صالح دپاره د عمل
وي بيا حذف د عامل جائز نه دي، لكه دا قول شو (الله شاهد قائمًا بالقسط) دا قائمًا حال مؤكده دي د
ضمير د شاهد نه او مقرر د مضمون د جمله اسميه دي لكن دا جمله اسميه داسي اجزاء نه مركب ده
چي هغه صالح دپاره د عمل دي لكه شاهد شو ځكه دا عامل نه دي حذف شوي
سوال: دا څلورم شرط كافيه ولي نه دي ذكر كړي؟ **جواب:** هغه دا اسمية كي مندرج كړي دي ځكه ذكر د
مطلق اوشي صيرورت فرد كامل ته كيږي، او كامل جمله اسميه كي هغه دي چي اجزا ئي صالح د عمل
نه وي اجمالًا دي كافيه ملا اشاره وكړه يو بل تقسيم ته په حال كي (في المؤكدة) سره چي تقسيم اولي په

حال کې ثاني دي (١) مفرد (٢) او جمله، بيا حال چې مفرد وي مقابل د جمله هغه اووه قسمه دي: (١) مؤكده (٢) منتقله: که دا معنی حالي نه جدا کيده د ذو الحال نه غالباً ديته وائې حال مؤکده او حال لازمه او حال دائمه او حال مقرره دا ئې نومونه دي دي حال، او که معنی حالي جدا کيده غالباً د ذو الحال نه دېته حال منقله وائي چې دا معنی حالي منتقل کيږي د دي ذو الحال نه غالباً او حال مؤسسه وائي ځکه په دي کې نوي فائده ده، دا رنګه ديته حال منفکه او حال غير لازمه وائي (٣) حال محققه (٤) حال مقدره: دا معنی حالي په حين د صدور د مصدر من الفاعل او په حين د وقوع د مصدر على المفعول کې موجود وي ديته حال محققه وائي او که معنی حالي په حين د صدور من الفاعل او په حين د وقوع د مصدر على المفعول کې نه ؤ موجود بلکه دي وخت کې فرض کړي شوي وو وجود د معنی حالي او وروسته به موجود کيږي ديته وائي حال مقدره او حال مفروضه کما في قوله تعالى (فادخلوها خالدين) په حين د دخول کې خلود نشته دي دا خلود به پس د دخول نه راځي لکن اوس دا خلود مفروضه دي (٥) متداخله (٦) مترادفه: تعدد د حال سره د تعدد د ذو الحال نه ديته احوال متداخله وائي او که تعدد د حال وو سره د وحدت د ذو الحال نه ديته احوال مترادفه وائي مترادفه د ترادف نه دي او ترادف رکوب خلف آخر ته وائي، او دا دواړه حالين په يو ذو الحال باندې سواره شوي دي يو بل پسې اووه دي حال موطئه چې هغه تمهيد وي دپاره د صحت د ما بعد مثال (١) لکه قوله تعالى (انا انزلناه قرآناً عربياً) دا قرآناً حال دي د ضمير دانزلناه نه او عربياً صفت دي قرآناً دپاره مقصد دا ؤ چې دا ضمير موصوف کوم په دي عربياً سره او دا مقصد خارج کې نه موجود کيده ځکه د الضمير لا يوصف و لا يوصف به لهذا مخکې قرآناً حال واقع کړه د ضمير د انزلناهُ نه بيا د دي قرآناً توصيف عربياً سره وشو هغه مقصداً دا شو ځکه نعت د نعت نعت وي مثال د حال موطئه کما في قول الشاعر:

اللهُ يُبقيك لنا سالمًا. برداك تبجيل و تعظيم

مسئله دا ده جمله اسميه بلا واو حال نه واقع کيږي او دلته جمله اسميه حال واقع شوي ده بلا واو ځکه دا سالمًا حال مفرده دي دا خوبي د واو نه حال واقع کيږي دا توطئه او تمهيد شو وروستو وقوع د جمله اسميه حال بلا واو دپاره نو سالمًا حال واقع شوي دي بلا واو دا برداك تبجيل و تعظيم جمله حال واقع شوه بلا واو.

التميز

هر کله چې فارغ شو مصنف د ملحق اول نه چې حال ؤ نو شروع ئې وکړه ملحق ثاني کې چې تميز دي او دا تميز ئې مقدم کړه په مستثنى باندې ځکه تميز په اعتبار د اعراب سره دوه قسم دي: او مستثنى په اعتبار د اعراب سره څلور قسمه ده، او قليل مقدم وي په کثير باندې

تميز په لغت کې افتراق او انفصال بين الشيئين ته وائي، او د دوی په اصطلاح کې (ما) اسم دي (يرفع) هغسې اسم چې پورته کوي (الابهام) ابهام د مبهم نه (المستقر) هغه ابهام چې ثابت دي په معنى موضوع له کې په اعتبار د ذات سره په دي شان سره چې دا ابهام کائن دي او موجود دي په ذات د معنى موضوع له کې حين الوضع، علامه ئې دا وي چې دا لفظ مبهم واضع وضع کړي دي په وضع واحدي سره دپاره

د اجناسو یعني کلیاتو مختلفو، هر جنس باندي اطلاق حقیقة دي نه مجازاً په دې تمیز سره تعین راځي د یو جنس چي دلته دي لفظ نه دا جنس معین مراد دي لکه عندي رطل زیتاً. رطل لفظ په وضع ثاني کي واضع وضع کړي دي وضع واحدي سره دپاره د اجناس مختلفو د موزونات زیتاً سره تعین وشو د یو جنس چي دلته قرینه دا مراد دي عندي عشرون درهماً لفظ د عشرون په وضع ثاني کي واضع وضع کړي دي په وضع واحدي سره دپاره د اجناس مختلفو د معدوداتو درهماً سره تعین وشو د یو جنس چي هغه درهم دي"

بیان د فوائدو د قیدونو کلمه د (ما) عبارت د اسم نه ده په قرینې د مقام سره دي سره احتراز وکړه د هغه فعل نه چي بیان د یل فعل واقع شي نحو قطع رزقه اي مات د بیان دي لکن د دوی په اصطلاح کي دیته تمیز نه وائي ځکه فعل دي **(یرفع الابهام)** سره اوونه بدل ځکه هغي کي رفع د ابهام نه وي بلکه رفع د مبهم او اراده د معین وي او تمیز کي رفع د ابهام او تعین د مبهم وي نو تمیز رفع د وصف کوي او بدل رفع د ذات کوي **(المستقر)** سره دري څیزونه ووتل (۱) خارج شوه قرینه د مشترك رأیت عیناً جاریة دي جاریة بیان او تعین د عین وکړه چي چینه مراد ده نکن دیته د دوی په اصطلاح کي تمیز نه وائي ځکه دي رفع د ابهام عارضي وکړه او تمیز رفع د ابهام وضعي کوي ځکه دا لفظ مشترك واضع نه دي وضع کړي دپاره د اجناس مختلفو په وضع واحدي سره بلکه لفظ مشترك واضع وضع کړي دي وضع واحد کي یو معنی معین دپاره (۲) دا لفظ مشترك واضع وضع کړي دي معانیو متعددو دپاره په اوضاع متعدده وو سره ابهام پکي پیدا شوی دی د وجي د تعدد د معنی موضوع له نه په تعدد د اوضاع سره دیته ابهام عارضي وائي نه ابهام ذاتي نو دا جریة رافع د ابهام عارضي شوه منشا د ابهام هغه وصف دي نه ذات د معنی موضوع له (۲) دارنګي خارج شو نعت د اسم اشاره نحو مررتُ بهذا الرجل ځکه تمیز رفع د ابهام ذاتي کوي او نعت د اسم اشاره رفع د ابهام عارضي او استعمالي کوي ځکه لفظ د اسم اشاره نه دي وضع شوي اجناس مختلفو دپاره په وضع واحدي سره بلکه په نزد د متقدمینو لفظ د اسم اشاره وضع شوي دي دپاره د مفهوم کلي او مستعملیږي په جزئیاتو کي مجازاً او ابهام راغلي دي په معنی مجزي کي د وجي د تعدد د معنی مستعمل فیه نه نه په معنی موضوع له کي چي هغه مفهوم کلي دي او په نزد د متاخرینو وضع شوي دي وضع واحدي کي دپاره د هر جزي جزي معین په واسطي د مفهوم کلي سره نشته دي ابهام په معنی موضوع له کي چي هغه جزي معین دي بلکه ابهام پیدا شوي دي د وجي د قصد د معنی موضوع له نه چي زید هم دي او عمرو هم دي او بکر هم دي او دا تعدد د معنی دا صفت خارجي دي نو دا ابهام عارضي شو او تمیز رفع د ابهام ذاتي او وضعي کوي (۳) احتراز ئي وکړه د عطف بیان نه **سوال:** په دي باندي اعتراض دي اقسم بالله ابو حفص عمر ابو حفص کي ابهام ؤ عمر هغه ابهام پورته کړه نو تعریف د تمیز صادق دي او د دوی په اصطلاح کي دیته تمیز نه وائي؟

جواب: عطف بیان رفع د ابهام کوي د ما قبل نه ابهام عارضي نه ابهام وضعي ځکه دي لفظ ابو حفص کي په اعتبار د معنی موضوع له سره ابهام نشته دي ځکه ابهام وضعي دیته وائي چي واضع دا لفظ وضع کړي وي په وضع واحدي کي اجناس مختلفو دپاره او دلته ابو حفص او عمر دواړه لفظین د علم دي

کړي وي په وضع واحدي کي اجناس مختلفو دپاره او دلته ابو حفص او عمر دواړه لفظین د علم دي

دي ذات معين دپاره ابهام ذاتي د كوم ځاى نه راغي لكن په استعمال كي يو قليل الاستعمال دي او بل كثير الاستعمال دي قلت استعمال ابهام پيدا كړه په دي ابو حفص كي د هغې بيان وشو په عمر سره او تميز رفع د ابهام وضعي كوي ځكه ديته تميز نه وائي، په اعتبار د وضع ثاني سره دا قيد ئي ولي كېښوده؟ ځكه په دي عندي رطل او عندي عشرون باندي اعتراض دي

سوال: چې د رطل معنى موضوع له نيم سير دي په هغې كي ابهام كوم دي او د عشرون معنى موضوع له شل دي (١٩) نه بره او (٢١) نه ښكته په هغې كي ابهام كوم دي؟ **جواب**: دا دي چې دلته دوه وضع دي (١) وضع اول كي دا رطل لفظ دي وزن دپاره وضع كړي دي كي ابهام نشته دي (٢) او وضع ثاني كي دي موزون دپاره وضع كړي دي او موزون د لاندي اجناس مختلفه دي او د هغې لاندي انواع مختلفه دي او د انواع مختلفو لاندي افراد مختلفه دي، ځكه ديته مبهم وايو، دارنگي عشرون لفظ وضع اول كي عدد دپاره وضع كړي دي ديكي ابهام نشته بيا وضع ثاني كي دي معدود دپاره وضع كړي دي او د معدود لاندي اجناس مختلفه دي ځكه ديته مبهم وايو **(عن ذات)** تميز رفع د ابهام كوي د ذات نه چې هغه معنى جنسي دي په دي شان سره چې هغه لفظ مبهم وضع شوي دي اجناس مختلفو دپاره او دي تميز سره تعين راځي د يو جنس د اجناسو مختلفو نه او **(ذات)** سره ئي احتراز وكړه د حال او د وصف نه ځكه هغه رفع د ابهام كوي د وصف نه او دا رفع د ابهام كوي د ذات نه.

اوس رطل لفظ كي دوه ابهامه دي: (١) ابهام وضعي (٢) ابهام جنسي هر كله چې متكلم اراده وكړه رفع د ابهام وضعي وائي به عندي رطل بغدادي (نعت) يا بغدادياً (حال) او هر كله چې متكلم اراده وكړي رفع د ابهام جنسي وائي به عندي رطل زيتاً ځكه رطل لاندي اجناس مختلفه او زيتاً سره تعين د يو جنس وشو **(مذكورة)** د ذات مذكوره نه په دي شان سره چې هغه دال په مبهم باندي به مذكور وي نحو عندي رطل زيتاً **(او مقدرة)** يا هسې ذات نه چې دا ذات به مقدره وي په دي شان سره چې هغه دال په مبهم باندې به مذكور نه وي نحو طاب زيد نفساً. په دې مذكورة او مقدرة سره اشاره وكړه تقسيم د تميز ته چې تميز په دوه قسم دي: (١) رفع د ابهام كوي ذات مذكوره نه (٢) رفع د ابهام كوي د ذات مقدره نه، او تميز رفع د ابهام كوي د ذات او معنى موضوع له نه او تميز رفع د ابهام كوي د مفرد نه يا د نسبت نه دا دوى په اصطلاح كي الفاظ مترادفه او معنى ئي واحده ده.

تشريح: **(عن ذات)** دا جار متعلق دي هغه يرفعُ پورې ظرف لغو دي او ذات نه هغه معنى جنسي مراد ده د ذات نه هغه جوهر نه دي مراد چې مقابل د عرض دي، په دي سره احتراز وكړه د حال او د نعت نه ځكه هغه رفع د ابهام د معنى موضوع له نه نه كوي بلكه رفع د ابهام وصفي كوي مثال لكه رطل لفظ شو چې په دي كي (١) ابهام وضعي دي صغر او كبر معلومول چې د دي رطل مقدار څومره دي دا رطل د هغه بل نه غټ دي او كه وړكوتي دي (٢) ابهام جنسي دي چې دا رطل د كوم قبيلي نه دي چې دا نيم سير تيل دي او كه غوړي دي او كه بل شي دي، اوس كله چې متكلم اراده وكړي رفع د ابهام د هغې د دي رطل نه د دينه وروسته به صفت ذكر كوي يا حال به ذكر كوي داسې به وائي عندي رطل بغدادي دا

نعت شو يا بغداديًا دا حال شو، او كه رفع د ابهام جنسي كوي تميز به ذكر كوي عندي رطل زيتاً څكه نعت او حال رفع د ابهام جنسي نه كوي (مذكورة) چې هغه مبهم مذكور وي په اعتبار د لفظ داله سره نحو عندي رطل زيتاً او (مقدرة) چې هغه مبهم مذكور نه وي په اعتبار د لفظ داله سره بلكه مستفاد وي ذ دي كلام نه لكه طابَ زيد نفساً شو شي مميز دي اوس د هغه شي لاندي اجناس مختلفه دي نفساً سره تعين وشو چې دلته كي د شي مصداق دا نفس دي كلام نه دي او جامي نه دي او علم نه دي اس طابَ زيد نفساً كي دا نفساً تميز د دي مذكور نه ولي نه دي څكه په دي مذكور الفاظ كي ابهام نشته دي چې هغه زيد او طابَ دي

سوال: مخكي يې ويلي ؤ چې دي رفع د ابهام كوي (۱) د معنى موضوع له نه (۲) بيا دويم نمبر كي وويل چې دي رفع د ابهام كوي د ذات نه (۳) بيا وائي چې دا رفع د ابهام كوي د مفرد نه (۴) بيا څلورم مرتبه كي وويل چې دا رفع د ابهام كوي د نسبت نه كله يو خبره كوي او كله بله خبره كوي لهذا دلته خو تعين رانغي چې دا تميز رفع د ابهام د چانه كوي؟ **جواب:** دا دي ديته ويلي شي صرف تعبيري اختلاف معنى د دي ټولو يوه ده چې د دوى په اصطلاح كي چې لفظ وضع شوي دي اجناس مختلفو دپاره او دا تميز لګي يو جنس معين كوي دغه معنى د تميز ده بيا د دينه تعبير كوي (۱) چې رفع د ابهام كوي د معنى موضوع له نه (۲) يا رفع د ابهام كوي د ذات نه (۲) يا رفع د ابهام كوي د مفرد نه (۴) يا رفع د ابهام كوي د نسبت نه د دي ټولو تعبيرونو معنى يو ده، صرف فرق تعبيري دي (فالاول) فا تفصيليه، پس قسم اول چې رفع د ابهام كوي د ذات مذكوره نه، بيا په دي كي اولاً تقسيم ثنائي دي چې ذات مذكوره به (۱) كله مفرد مقدار وي (۲) كله به مفرد غير مقدار وي، دويم تقسيمً بيا مفرد مقدار پنځه قسمه دي نو ټول صورتونه د تميز د قسم اول شپږ شو

(عن مفرد) قسم اول هسې قسم اول چې دي پورته كوي ابهام د مفرد نه نه د نسبت نه دلته مفرد مقابل د جمله او مركب تام دي مضاف جمع تثنيه ټكي داخل شو (مقدار) داسې مفرد چې وضع كړي شوي دي دپاره د معلومولو د كميت د اشياؤ وو اي ما يعلم به كمية الاشياء (غالباً) دا فرق بيانوي، دا رفع د ابهام د مفرد مقدار نه دا غالب دي په استعمال د كلام د عربو كي او رفع د ابهام د مفرد غير مقدار نه قليل دي څكه مفرد مقدار سره ابهام لازم دي نو تميز لازم دي ورسره، او مفرد غير مقدار سره ابهام لازم نه دي نو تميز لازم نه دي خو هلته كي تميز د مفرد غير مقدار نه قليل دي او تميز د مفرد مقدار نه د هغې په نسبت سره غالب دي (اما في عدد) يا دا مفرد مقدار به كائن وي په ضمن د عدد كي د قبيلي د وجود د عام نه په خاص كي يا د قبيلي د وجود د كلي نه په جزئي كي

سوال: دا عدد په خپله مفرد مقدار دي نو لازم شو ظرفيت د شي لنفسه؟ **جواب:** دا دي چې دلته ظرفيت د عام دي دپاره د خاص يا ظرفيت د كلي دي دپاره د جزئي، ظرفيت د شي لنفسه نه راځي (نحو) مثال لكه (عندي عشرون درهماً) شو چې عشرون لفظ په وضع ثاني كي وضع شوي دي دپاره د اجناس مختلفو د معدوداتو دي درهماً تعين وكړه د يو جنس چې دلته د دي عشره ؤن نه درهم مراد دي نه بل شي، بيا

اسم عدد په اعتبار د تميز سره دري قسمه دي څکه دا وائي (**و سياتي**) زر دي چې رابه شي تفصيل د تميز د اسم عدد وروسته په بحث د اسماء عدد کي.
سوال: تفصيل مخالف د اجمال نه دي اجمال دا دي عن ذات مذكورة او مقدرة دي اجمال نه معلومه شوه چې تميز دوه قسمه دي: (۱) رفع د ابهام كوي د ذات مذكوره نه (۲) او بل رفع د ابهام كوي د ذات مقدره نه وروستو تفصيل كې وائي (فالاول عن مفرد مقدار و الثاني عن نسبة في جملة) دينه معلومه شوه چې تميز دوه قسمه دي: (۱) رفع د ابهام كوي د مفرد نه (۲) او بل رفع د ابهام كوي د جملي نه نو اجمال نه دي معلومه شوه چې فرق په اعتبار د ذكر او تقدير سره دي او تفصيل نه دي معلومه شوه چې فرق په اعتبار د مفرد او نسبت سره دي؟ **جواب:** دا دي چې دا دوى په اصطلاح كي الفاظ مترادفه دي ذات مذكورة نه دغه مفرد مراد دي او نسبت نه دغه ذات مقدره مراد دي چې هغه مبهم په اعتبار د لفظ سره مذكور نه دي نو تفصيل موافق شو د اجمال سره.
(**واما في غيره**) يا به دا مفرد مقدار كائن وي په غير د عدد كي چې هغه (۴) دي: (۱) موزونات (۲) مقياس (۳) مكيلات (۴) مذروعات (**نحو رطل زيتا**) دا هغه مثال دي چې مفرد مقدار كائن دي په ضمن د وزن كي او تام شوي دي په تنوين سره (**و منوان سمنا**) دا هغه مثال دي چې مفرد مقدار كائن دي په ضمن د وزن كي لكن تام شوي دي په نون د تثنيه سره (**و قفيزان برا**) دا هغه مثال دي چې مفرد كائن دي په ضمن د كيل كي او تام شوي دي په نون د تثنيه سره (**و على التمرة مثلها زبدا**) او دا هغه مثال دي چې مفرد مقدار كائن دي په ضمن د مقياس كي. مماثلت ته مقياس وائي. اوتام شو په دي مضاف اليه سره، مراد په دي مقادرو سره مقدورات دي، او مقدور لاندي اجناس مختلفه دي او تميز تعين وكړه د يو جنس، او مقدر اگر كه معنى مجازي دي په نسبت سره وضعي اولي او وضع شخصي ته لكه دا معنى موضوع له دي په نسبت وضع ثاني او وضع نوعي ته نو امثله مطابق د ممثل سره شو.
او غرض د مصنف دلته كي بيان د انواع د متمم دي هغه متمم چې مشابه دي فاعل سره چې هغه واقع دي مرتبه ثاني كي څكه دا مقتضي د تميز دي او نه دي غرض د مصنف استيفاء د اقسامو د مفرد مقدار څكه ئي څلور نوعي ذكر كړي او څكه ئي يو نوع مكرر ذكر كړه چې وزن دي، او (**زبدا**) تميز دي د مضاف نه چې مثل دي نه د نسبت نه نو مثال د مفرد شو.
تشريح: ظاهر كي درې اعتراضونه په دي متن باندې وارديږي **سوال:** دا ټول مثالونه مطابق د ممثل سره نه دي څكه ممثل دا دي چې د دي لفظ معنى موضوع له كي ابهام وي تميز رفع د ابهام كوي او د دي الفاظو معنى موضوع له كي ابهام نشته دي تميز څه شي پورته كړه لهذا دا امثله ټول غلط دي؟
جواب: دا دي: هله به تا اعتراض كوه چې د دي الفاظ نه معنى لغوي او معنى حقيقي مراد وي بلكه د دي الفاظو نه هغه مقدورات مراد دي او د مقدور لاندي اجناس مختلفه دي دي تميز يو جنس معين كړه.
سوال: بيا دي مثال مطابق نه دي څكه تميز رفع د ابهام كوي د معنى موضوع له نه او مقدورات خو معنى موضوع له نه دي بلكه هغه معنى مجازي دي؟ **جواب:** دا دي: چې تميز رفع د ابهام كوي د معنى

موضوع له نه او دا معنی موضوع له عام دي اولي وي او که ثانوي وي او دا مقدور معنی موضوع له دي په وضع ثانوي او وضع نوعي سره چې هر هغه لفظ مقارن وي قريني صارفي سره دا وضع شوي دي هغه معنی دپاره چې مطابق وي معنی موضوع له سره نو امثله مطابق د ممثل سره شو

سوال: ته د مفرد مقدار في غير العدد مصادق بيانوي او د هغې مصداقونه خو پنځه دي تا څلور ولې ذکر کړه؟ **دويم اعتراض** رطل زيتاً قفيزان برا دا دوه د وزن مثال دي په دي وزن کې دوه مثاله ولې ذکر کړه؟ **جواب:** دا دي چې غرض د کافيه ملا دلته کي استيفاء د اقسامو د مفرد مقدار نه دي چې د مفرد مقدار ټول اقسام تاته بيان کړي بلکه غرض د کافيه ملا بيان د متمم دي او متمم د اسم څلور دي هغه د ذکر کړي دي **سوال:** متمم خو پنځه دي يو تا بيا پريخودي چې الف لام دي يعنې تا څلور بيان کړي دي پنځم دي بيا پرينبوده؟ **جواب:** دا دي غرض د مصنف بيان د متمم دي لکن مطلق متمم نه بلکه هغه متمم چې مشابه د فاعل سره دي او هغه دا څلور دي

سوال: بيا دا مشابه د فاعل ولې بيانوي؟ جواب: ځکه دا مقتضی د تميز دي او الف لام مقتضی د تميز نه دي (**رطل زيتا**) او (**قفيزان برا**) کي تکرار او تعدد په اعتبار د متمم سره دي اگر که دواړه مثالونه د وزن دي او منوان او قفيزان کي اگر که متمم يو دي چې هغه نون دي لکن لحاظ د دي کړي دي چې يو مثال د وزن دی او بل مثال د کيل دي

سوال: مثلها زيداً دا مثال دی غلط دي ځکه دا تميز واقع شوي دي د ذي مثلها نسبت نه؟ **جواب:** دا دي چې په دي کي اعتبارين دي که تميز د دي نسبت نه وائي قسم ثاني کي داخل دي او که تميز د دي مثل نه وائي قسم اول کي داخل دي لهذا مثال تيك دي (**فيفرد**) سره غرض د مصنف بيان د اقسام د تميز د مفرد مقدار دي بالذات تميز د مفرد مقدار نه وروستو راشي صورتونه (٣) دي (٢) صورتونو کي مطابقت واجب دي او (١) صورت کي مخالفت واجب دي، بالذات بيانوي حکم د تميز مفرد مقدار او ضمناً دا حکم د مطلق تميز دي چې تميز د مفرد مقدار نه وي او که د غير نه وي (**فيفرد**) (١) مفرد به ذکر کولي شي دا تميز وجوباً اگر که اسم تام جمع او تثنيه وی دا لفظي ترجمه ده (٢) معنی مراده دا ده غير مطابق به ذکر کولي شي دا تميز اسم تام سره او مخالفت واجب دي د تميز اسم تام سره (**ان کان جنسا**) که دا تميز جنس نحوي (٢) مقصود د متکلم معنی جنسي ؤ ځکه جنس دلالت کوي په قليل او کثير ټولو باندې اجتماعاً حاجت نشته دي جمعيت او تثنيت ته چې مقصود په هغې کي تعدد دي جنس په اصطلاح د نحو کي (١) هغه شي دي چې جز مطابق وي کل سره او کل متحد وي جز سره په اطلاق د اسم کي او په تعريف کي (٢) او اطلاق کيږي په قليل او کثير ټولو باندې اجتماعاً لکه ماء شو

تشريح: (**فيفرد**) کي دا فا تفصيليه ده تفصيل د چا کوي؟ **جواب:** ده اولا تميز منقسم کړه قسمينو ته (١) رفع د ابهام کوي د مفرد نه (٢) رفع د ابهام کوي د نسبت نه بيا مفرد (٢) دوه قسمه کړه: (١) مقدار (٢) غير مقدار، بيا دا مفرد مقدار (**٥**) قسمه وو اوس فيفرد سره دي بيانوي احکام د تميز د مفرد مقدار

سوال: يفرد باب افعال د تعديت دپاره دي او هر باب متعدي متضمن وي معنی د جعل لره معترض صاحب اعتراض کوي وائي فيفرد مفرد کولي شي دا تميز دا تثنيه او جمع کول دا خو د واضع کار دي

دا څنګه تثنیه او جمع کولي شي (٢) یا دا تمیز تثنیه او جمع وي ته به یې مفرد کوي په حذف د علاماتو سره دا معنی باطل دي؟ **جواب**: دا دي دا خبره منم چې هر باب متعدي متضمن دي معنی د جعل لره لکن جعل عام دي استعمالي وي او که وضعي وي او دلته استعمالي او ذکري مراد دي نه جعل وضعي **سوال**: عندي رطل زيتاً اسم تام چې مفرد وي تمیز به خامخا مفرد ذکر کولي شي ستا دي بیان ته څه ضرورت دي؟ **جواب**: دا دي چې مفرد به ذکر کولي شي اګر که اسم تام تثنیه او جمع ده فرق دغه ځای کي پته لګي او که اسم تام مفرد وو بیا خو په طریقه اولی سره مفرد به ذکر کوي.

ترکیب: (ان كان جنسا) دا شرط (فيفرد) جزا مقدم په نزد د کوفیانو څکه دوی تقدیم د جزا په شرط باندې جائز وائي، او په نزد د بصریانو جزا مقدر ده فيفردُ او دا مخکي فيفردُ دال بالجزاء دي څکه بصریان تقدیم د جزا جائز نه وائي. اوس دلیل د دي چې مفرد ولي واجب دي؟

جواب: څکه جنس دلالت کوي په کثرت باندې تثنیه او جمعیت ته حاجت نشته، فائده دا مرتب شوه چې عندي رطل زيتاً، عندي رطلان زيتاً، عندي ارطال زيتاً به وائي.

سوال: اوس جنس څه ته وائي؟ **جواب**: د نحو په اصطلاح کي (١) جنس دي (٢) اسم جنس دي، جنس کي دا حکم دي او اسم جنس یا جنس دي لکن مقصود معنی جنسي نه ده د هغوی حکم وروستو راروان دي، جنس دوی دیته وائي چې جز او کل متحد وي په اطلاق د اسم کي لکه ماء لفظ اطلاق په دي دریاب باندې وضعاً او حقیقةً دي او په دي یو څاڅکي باندې هم اطلاق د ماء حقیقةً او وضعاً دي، او اسم جنس دیته وائي چې جز متحد نه وي کل سره په اطلاق د اسم کي لکه رجل او انسان شو یو سړي ته به رجل وائي او دوه کسانو دپاره رجلان وائي او ډیرو کسانو دپاره به رجال وائي، ډیر کسانو دپاره رجل نه ویلي کیږي. (٢) فرق دا دي جنس اطلاق کیږي په قلیل او کثیر باندې اجتماعاً او اسم جنس اطلاق په قلیل او کثیرو باندې کیږي بدلاً. اوس هغه دویم صورت بیانوي چې تمیز جنس دي مګر مقصود معنی جنسي نه ده مخالفت نه دي واجب (الا) مګر مفرد به نه شي ذکر کولي بلکه مطابقةً واجب دي **ان يقصد الانواع** که اراده کړي شوي وي افراد جنسي بیا افراد عام دي افراد نوعیه وي او که شخصیه وي، بیا مطابقت واجب دي څکه جنس اګر که اطلاق کیږي قلیل او کثیر باندې لکن دلالت نه کوي په تعین د انواع د افرادو باندې او دلته کي تعین د افراد او انواع مقصود دي لهذا مطابقت واجب دي چې یو نوع مراد وي مفرد به ذکر کوي او که دوه نوعي مراد وي تثنیه به ذکر کوي او که زیات مراد وي جمع به ذکر کوي.

سوال: انواع جمع د نوعي ده او معترض صاحب د نوعي نه نوع منطقي اخستي ده بیا اعتراض کوي په ماتن باندې چې ستا د دي عبارت نه معلومه شوه چې دي جنس نه افراد نوعیه مراد دي بیا مطابقت واجب دي او که افراد شخصیه مراد دي بیا مطابقت نه دي واجب ګنی؟

جواب: دا دي دلته نوع نه نوع نحوي مراد دي، او د دوی په اصطلاح کي نوع مطلق فرد ته وائي، اوس دلته کي انواع نه مراد دي افراد بیا برابره خبره ده افراد نوعیه وي او که افراد شخصیه وي.

سوال: انواع جمع ذکر کړي دي او ادنی مرتبه د جمع دري دي دينه معلومه شوه کم از کم دري افراد مراد وي بيا مطابقت واجب دي او که دري مراد نه وي بيا مطابقت واجب نه دي؟ **جواب:** دلته جمع نه ما فوق الواحد مراد دي (**و يجمع**) ذکر کولي به شي تميز ما فوق الواحد که اسم تام تثنيه او جمع ؤ (**في غيره**) په غير د جنس کي تميز جنس نه وو بلکه اسم جنس وو.

سوال: ظاهر کي اعتراض دي که اسم تام تثنيه وو تميز به تثنيه ذکر کوي او که اسم تام جمع وو تميز به جمع ذکر کوي او ته وائي فيجمع؟ **جواب** (١) د يجمع ترجمه دا ده: ذکر کولي به شي تميز ما فوق الواحد جمع ذکر کوي او ته وائي (٢) لازم ما فوق الواحد ته وائي دلته کي جمع نه جمع لغوي مراد ده چي ما فوق الواحد ته وائي (٢) لازم **في غيره** بغير د جنس نه، يعني دلته کي جمع نه جمع لغوي مراد ده چي ما فوق الواحد ته وائي (٢) لازم ترجمه دا ده مطابقت واجب دي تميز د اسم تام سره بيا اعتراض نه وارد يږي مخکي **فيفرد** عبارت وو د مخالفت نه او دلته کي **ويجمع** عبارت دي د مطابقت نه ځکه اسم دلالت نه کوي په قليل او کثير باندي اجتماعاً بلکه بدلاً کوي مقصود د متکلم نه اداء کيږي مخاطب ته بي د مطابقت نه بلکه مطابقت واجب دي نحو عندي عدلاً ثوباً عندي عدل ثوبين عندي عدل اثواباً. بالذات بيان کړه حکم د تميز مفرد مقدار دغه حکم د تميز نسبت هم دي طابَ زيد علماً طابَ الزيدانِ علماً طابَ الزيدُون علماً مخالفت واجب دي چي مقصود معنی جنسي دي او که هلته کي افراد مراد وي بيا مطابقت واجب دي طابَ زيد علماً طاب زيد علمين مثلا نحو او صرف طابَ زيد علوماً (**ثم ان كان**) سره غرض د مصنف بيان د استعمالينو د تميز مفرد مقدار دي چي دا ترکيب کله مستعمليږي په طريقي د اضافت سره او کله په طريقي د عدم اضافت سره. متمم د اسم تام خلور دي: دوه وو سره اضافت جائز دي او دوه وو سره اضافت جائز نه دي (**ثم ان كان**) پس کچيري وي دا تميز (**بتنوين**) متلبس په تنوين د مفرد مقدار سره (**او بنون التثنية**) يا متلبس وي په نون د تثنيه سره د قبيلي د تلبس د مقتضی نه مقتضي سره (٢) کچيري وي دا مفرد مقدار تام شوي په تنوين يا نون د تثنيه سره او انتشار باطل دي په جملي واحدي کي نه جملو کي او بحث د معلقاتو د شي نه بحث د شي نه وي حکماً (**جازت الاضافة**) جائز دي اضافت د مفرد مقدار تميز ته رد دي جواز دليل مرکب دي دري علتونو ته: (١) د وجي د حصول د مقصود نه چي رفع د ابهام دي (٢) او سره د حصول د فائدي جديدي نه چي هغه تخفيف دي په حذف د تنوين يا د نون د تثنيه سره (٣) او د وجي د عدم د مانع نه.

تشريح: ثم تراخي في الذكر دپاره دي يعني دويمه خبره دا واوره **سوال:** کانَ کي ضمير دي هوَ مرجع غواړي هغه ضمير چا ته راجع دي او په جانب د مرجع کي (٢) احتماله دي: (١) يا به ضمير راجع وائي تميز ته (٢) او يا به راجع وائي مفرد مقدار ته دواړه باطل دي ځکه کچيري ضمير راجع وائي تميز ته دا وروسته جار مجرور به متعلق وي په تاما مقدر پوري نو دا ترجمه به کوي کچيري وي تميز تام شوي په تنوين يا نون د تثنيه سره دا معنی باطل دي ځکه دا متممات مونږ بيانوو مفرد مقدار دپاره تميز دپاره نه بيانوو يعني دا خلور واړه متممات د مفرد مقدار دي نه د تميز نو دا ضمير چي راجع شي تميز ته دا وروستو خبر ورسره نه لګي تاماً بتنوينٍ او بنونِ التثنية. او که ضمير راجع وائي مفرد مقدار ته دا

عبارت خو ظاهر كي اولكيده لكن دي كي (٢) دوه نقصانه دي: (١) لازم شو انتشار په ما بين د ضميرينو كي، تعددد ضمير سره د تعدد د مرجع نه ديته انتشار وائي، اوس مخكي فيفردُ او و يجمعُ ضمير راجع دي تميز ته او دلته راجع شو مفرد مقدار ته انتشار راغي په ما بين د ضميرينو كي (٢) مناسبت نه خوري ځكه مخكي بيان كړه حكم د تميز او دلته بيانوي حكم د مفرد مقدار؟ **جواب**: دا دي چې دواړه شقه صحيح دي (١) ضمير راجع دي تميز ته لكن وروستو دا با دپاره د تلبس ده متعلق دي متلبساً پورې نه په تاما مقدر پورې

سوال: بيا تلبس علاقه غواړي دلته علاقه څه ده؟ **جواب**: علاقه د قبيلي د تلبس د مقتضٰى نه مقتضي سره هغه ئي علت دي او دا معلول دي، (٢) يا ضمير راجع دي مفرد مقدار ته بيا دا جار مجرور متعلق دي تاماً مقدر پورې اوس په دي (٢) اعتراض دي (١) انتشار لازم شو؟ **جواب**: انتشار جمله واحده كي باطل دي او دا خو جمل مختلفه دي (٢) مخكي بالذات حكم د تميز بيان كړه او دلته بيانوي حكم د مفرد مقدار **جواب** (١) بحث د متعلقاتو د شي نه بحث د شي نه وي دا مفرد مقدارد متعلقاتو د تميز نه دي ځكه دا مقتضي د تميز دي (٢) دلته مقصود بالذات دا وروسته حكم دي او هغه د دواړو حكم دي لهذا اعتراض نه وارديږي. **(والا)** كچيري مفرد مقدار تام شوي نه وي په تنوين يا نون د تثنيه سره بلكه تام شوي دي په نون د جمع يا په اضافت سره (٢) دا تميز متلبس نه دي تنوين او نون د تثنيه سره بلكه متلبس دي په اضافت او نون د جمع سره **(فلا)** جائز نه دي اضافت د مفرد مقدار دي تميز ته د وجې د وجود د مانع نه چې لازم نه شي اضافت د مضاف ثانياً په صورت د اضافت كي او دا باطل دي ځكه دا مستلزم دي لغويت لره، او لازم نه شي التباس د تميز د غير تميز سره مخاطب باندې په صورت د جمع كي بعضي صورتونو كي او نور محمول طرداً للباب، ځكه اضافت د جمع غير تميز ته كثير شائع دي مثال لكه عندي عشره ؤ زيد دا جائز دي ځكه اضافت د جمع غير تميز ته دي، اوس چې مونږ دا تميز ته مضاف كړو بيا مخاطب باندې التباس دي چې دا اضافت د جمع تميز ته شوي دي او كه نه دا اضافت د جمع شوي دي غير تميز ته نحو مضى عشره ؤن رمضاناً دا رمضاناً تميز دي تيري شوي شل ورځي د جهت د رمضان نه اوس دې عشره ؤن رمضاناً ته مضاف كړو عشره ؤ رمضانِ به شي بيا لازميږي التباس مخاطب باندې ځكه د دي (٢) ترجمي دي: (١) شل ورځي د جهت د رمضان نه دا رمضان تميز شو چې اضافت د مبهم دي تميز ته مصداقونه ئي شل ورځي دي (٢) او دا هم ترجمه ده شمله ورځ د رمضان او شلم تاريخ د رمضان چې يو ورځ مراد دي بيا رمضان تميز نه دي اضافت د دي كل ته مصداق هغه شلم تاريخ دي، عشره ؤ رمضانِ چې متكلم اووائي مخاطب ته دا پته نه لګي چې دا اضافت د جزدي كل ته او كه نه دا اضافت د مبهم دي تميز ته. مسئله دا را اووته دا رمضان د متكلم په عقيده كي تميز وي اضافت به نه كوي او كه تميز نه وي بيا اضافت سره به وائي **(وعن غير مقدار)** قسم اول د تميز (١) چې غالبا رفع د ابهام كوي د مفرد مقدار نه د هغې صورتونه بيان شو (٢) او كله كله

رفع د ابهام کوي د مفرد غیرمقدار نه یعني مفرد د ی نسبت نه دي بیا دا مفرد آله نه ده دپاره د معلوم‌ولو د مقدار د اشیاء مثال لکه (**خاتم حدیدا**) شو چې دا خاتم مفرد غیر مقدار دي او مبهم دي په اعتبار د جنس سره چې دا ګوته د اسپنې نه ده او که د فضو نه دي تام شوي دي په تنوین سره تقاضا کوي د تمیز حدیداً سره هغه ابهام جنسي پورته شو د مفرد غیر مقدار نه اوس دلته کي بیان د استعمالینو کوي چې دي کي دوه استعماله جائز دي (۲) او فرق بیانوي په ما بین د استعمالینو کي (و **الخفض**) جر د تمیز بنا بر اضافت (**اکثر**) اکثر دي د نصب نه د وجې د حصول د مقصود نه چې هغه رفع د ابهام ده سره د حصول د تخفیف نه په حذف د تنوین سره، هر کله چې مفرد مقدار سره ابهام لازم ؤ هغه تقاضا کوي تمیز په صورت خپل چې هغه نصب دي هر کله چې مفرد مقدار سره ابهام لازم نه وو دا تقاضا نه کوي تمیز په صورت خپل سره چې هغه نصب دي جر دلته کي اکثر ځکه دي

سوال: ته وائي جر دلته کي کثیر دي علت دا وائي د وجې د حصول د مقصود نه الخ دا علت خو هلته هم شته؟ **جواب:** دا دي دلته علت بل دي چې مفرد مقدار سره ابهام لازم دي تقاضا کوي د تمیز بصورته ځکه نصب اولی دي او مفرد غیر مقدار ابهام لازم نه دي هغه تقاضا نه کوي تمیز بصورته ځکه دي کي دا جر اولی دي (**والثاني**) قسم ثاني د تمیز نه چې رفع د ابهام کوي د ذات مقدره نه دي به رفع د ابهام کوي (**عن نسبة**) د نسبت نه، هر کله چې د فرق دار مدار په دي باندې ؤ چې قسم اول رافع د ابهام دي د مفرد نه او قسم ثاني رافع د ابهام دي د نسبت نه ځکه ئي دلته تعبیر وکړه په نسبت سره او د فرق دارو مدار په دي کي نه دي چې قسم اول کي به ذات مذکور وي وجوباً او قسم ثاني کي به ذات مقدر وي وجوباً کله قسم اول کي هغه ذات مذکور نه وي بلکه مقدر وي لکه نعم رجلاً زید شو.

سوال: دي تعبیري اختلاف کي نکته څه ده چې اول ئي ویلي ؤ او دا تمیز قسم ثاني رفع د ابهام کوي د ذات مقدره نه او دلته ئي وویل رفع د ابهام کوي د نسبت نه؟ **جواب:** دي اختلاف کي اشاره ده معیار د فرق ته چې قسم اول به رفع د ابهام کوي د مفرد نه بیا دا مفرد عام دي چې مذکور وي او که مقدر وي او قسم ثاني رفع د ابهام کوي د نسبت نه او فرق په دي کي نه دي چې قسم اول رفع د ابهام کوي د ذات مذکوره نه او قسم ثاني رفع د ابهام کوي د ذات مقدره نه ځکه قسم اول هم کله رفع د ابهام کوي د ذات مقدره نه د هغې دپاره د وی مثال پیش کوي ربه رجلاً لکن دا مثال خما په نزد باندې ټیک نه دي ځکه دا رجلاً تمیز دي د دي هٔ ضمیر مبهم نه او دا هٔ مفرد دي دا خو مذکور دي نو دي دپاره څنګه وائي چې دا رجلاً تمیز دي د ذات مقدره نه بلکه مثال دي دپاره نعم رجلاً زید دي چې دا رجلاً تمیز واقع شوي دي ضمیر د نعم نه چې په دي کي مستتر دي او هغه مفرد دي.

سوال: دي نسبت ته ذات مقدره ولي وائي؟ **جواب:** دي نسبت ته ذات مقدره ځکه وائي مخکي ویلي شوي وو چې دال د دي مذکور نه دي او دا نسبت علاقه ده ما بین د شیئینو کي دلته هغه یو طرف مذکور دي چې زید دي په دي کي ابهام نشته دي ځکه د دي طاب معنی مونږ ته معلومه ده او د دي زید معنی مونږ ته معلومه ده بلکه بل یو شي دي مقدر هغه منسوب دي دي زید ته هغه کي ابهام دي،

اوس د دي طابَ زيد معنی دا ده طابَ شئ منسوب الی زید چې هغه نفساً دي، اوس د دي نسبت وجودا محله دري دي: (۱) **(في جملة)** نسبت چې کائن دي په جمله کي ظرفیه دی کل دپاره د جز (۲) **(او ما ضاهاها)** یا به نسبت کائن وي هغه لفظ کي چې دا لفظ مشابه دي د جملي سره **(ضاهاها)** کي دوه ضمیره دي: (۱) ضمیر مستتر راجع دي دي لفظ د ما ته (۲) او دا ها ضمیر راجع دي دي جملي ته، او دا الف بدل راغلي دي (۱) د یاء نه اصل کي ضاهيَ ؤ (۲) یا بدل راغلي دي د همزه نه اصل کي ضاهأَ او بیا دا همزه مفتوحه الف سره بدله شوي ده د وجې د فتحي د ما قبل نه خلاف القیاس لکه سال کي سال جائز دي خلاف القیاس. نظیر د دي چې همزه مفتوحه بدل شوي ده د وجې د فتحي د ما قبل نه خلاف القیاس لکه دا قول د شاعر شو:

راحت بمسلمة البغال عشیةً فارعی نزارة لا هناك المرتع

دا هناك اصل کي هنأكَ ؤ بیا دا همزه بدل شوي ده الف سره خلاف القیاس (۲) لکه دا قول د معترض صاحب شو زید و جاریةً في بطن العصفور دا ترکیب جائز دي او که نه ظاهر ته چې اوګوري دا ترکیب نه جوړیږي نو کله چې د دي معنی او اصل معلوم کړي بیا ترکیب ظاهر دي دا **(وجا)** اصل کي وَجأَ وو بیا دا همزه الف سره بدل شوه په دي وجا ترینه جوړ شوي دي ضمیر په دي کي مستتر دي راجع دي زید ته او ریةً ورله مفعول به دي **(طاب زید نفسا)** دا مثال د هغه نسبت دي چې کائن دي په جمله کي رفع د ابهام شوي دي نفساً سره **(وزید طیب ابا)** دا مثال د هغه نسبت دي چې کائن دي په شبه جمله کي چې طیب دي او رفع د ابهام شوي ده ابًا سره او **ابوة الخ** سره، دلته کي دا تخصیص ذکري بطور مثال دي نه بطور نفس الامر.

سوال: نفساً دي جملي سره ذکر کړه او ابًا دي شبه جملي سره دا توهم دي چې دا نفساً ګني دي شبه جمله سره نه لګي او دا أبًا ګني دي جملي سره نه لګي چې شبه جملي سره دي ذکر کړه؟

جواب: دا دي چې دا بطور مثال ذکر کړي دي دا دري اي ابوةً داراً علماً هغه جملي سره لګي او دا دري دي شبه جملي سره هم لګي.

سوال: توضیح د ممثل دپاره مثال واحد کافي دي تا څلور مثالونه ولي ذکر کړه؟ **جواب:** تعدد د مثال بنا دي په تعدد د ممثل باندې تمیز چې نسبت نه راشي دا جمله کي وي او که شبه جمله کي وي دا تمیز متعدد دي او په دي کي نسبت (۲) تقسیم دي: (۱) رباعي (۲) ثلاثي دا تمیز اولا بالذات (۴) قسم دي په دي شان سره دا تمیز یا به (۱) عین وي یعنې ذات قائم بذاته (۲) یا به عرض وي یعني صفت قائم بالغیر دا تقسیم ثنائي بیا هر واحد (۲) قسمه دي: (۱) عین اضافي (۲) عین غیر اضافي که دي تصور کي محتاج غیر ته ؤ دیته وائي اضافي لکه ابًا شو چې تصور د ده موقوف دي ابن پورې او که دي تصور کي محتاج غیر ته نه وي هغي ته وائي عین غیر اضافي لکه داراً شو (۳) عرض اضافي لکه ابوةً شو چې وصف دي پلار پورې قائم دي لکن تصور کي محتاج دي بنوت ته (۴) عرض غیر اضافي لکه علماً شو چې وصف دي زید پورې قائم دي لکن تصور د دي موقوف نه دي د غیر پورې

سوال: بيا دا نفساً څه دپاره ذکر کوي دا خو د دې څلورو نه بهر دې؟ **جواب:** په دې تميز کې بل تقسيم دې چې ثانياً تميز په اعتبار د منتصب سره دا مميز او اسم تام ته وائي (٣) قسمه دي: (١) يا به دا تميز مختص وي په دې منتصب پورې په دې شان سره چې د دې تميز اطلاق د دې منتصب نه علاوه بل چا باندې نه کيږي (٢) يا به دا تميز مختص وي په متعلق د منتصب پورې (٣) يا به مشترك وي په ما بين د منتصب او متعلق د ده کې نفساً هغه مثال دې چې مختص دې منتصب پورې چې دغه زيد دې څکه دې نفس نه نفس د زيد مراد دې او ابًا هغه مثال دې چې مشترك دې چې دا زيد پخپله بنه پلار دې، او باقي دا درې واړه مثاله هغه دې چې مختص دې په متعلق پورې دا ابوة او علماً نوم د دې زيد نه دې بلکه د دې زيد دوه صفتونه دي چې د هغه يو نوم ابوة دې او د بل نوم علماً دې، دارنګې دا داراً نوم د دې زيد نه دې بلکه د دې زيد يو مملوك دې د هغې نوم داراً دې.

(**او في اضافة**) يا به دا نسبت کائن وي او موجود وي په اضافت کې د قبيلې د وجود د کلي نه په جزئي کې او د قبيلې د وجود د عام نه په خاص کې (٢) يا به دا نسبت کائن وي په ترکيب اضافي کې د قبيلې د وجود د عام نه په خاص کې او د قبيلې د وجود د کلي نه په جزئي کې.

سوال: ظاهر کې اعتراض دې په دې متن باندې چې (**او في اضافة**) دا عطف دې په في جملة باندې نو د دې معنى دا شوه، و الثاني عن نسبة في اضافة، قسم ثاني د تميز نه رفع د ابهام کوي د نسبت نه هغه نسبت چې کائن دې په اضافت کې. اضافت خو پخپله نسبت دې نو لازم شو ظرفيت د شي الى نفسه؟

جواب: د دې دوه جوابه دي: (١) اضافة په خپله معنى سره دې نه لازميږظرفيت د شي لنفسه څکه اضافت نسبت خاص دې او تميز رفع د ابهام کوي د نسبت عام نه هغه نسبت عام موجود دې په ضمن د دې خاص کې نو ظرفيت د خاص راغي دپاره د عام او دا جائز دې. (٢) يا اضافت کې مجاز دې چې دا نسبت به کائن وي په ترکيب اضافي کې بيا ظرفيت د خاص دې دپاره د عام او ظرفيت د جزئي دې دپاره د کلي (**مثل**) لکه تميز د نسبت نه په دې ترکيب کې (**يعجبني طيبه ابا**) تعجب کې غورځوي ما لره پاکوالي او بنه والي د زيد د جهت د پلار نه (**ابوة**) او د جهت د پلاروالي نه الخ (**طيب**) مضاف دې ه مضاف اليه دې او د دې مضاف او مضاف اليه په مينځ کې نسبت دې هغه نسبت کې ابهام دې څکه دې طرفينو کې ابهام نشته، د طيب معنى مونږ ته معلومه ده او د دې ضمير مصداق معلوم دې چې زيد دې لهذا په دې نسبت کې ابهام دې دا ابًا يا ابوةً الخ اولګيده د هغې نه يې رفع د ابهام وکړه.

او ترك کړه کافيه ملا لفظ د نفساً د وجې د شهرت نه. **سوال:** دا څلور تميزه تا ذکر کړه طيبه سره او هغه پنځم دې ذکر نه کړه نفساً ګني هغه د دينه تميز نه واقع کيږي؟ **جواب:** دا دې: چې دايې ترك کړيدې د وجې د شهرت نه نه د دې وجې نه چې دا نفساً تميز د دينه نه صحيح کيږي.

دويم مثال د تميز د نسبت نه چې کائن دې په اضافت کې (**لله دره فارسا**) دې، **ترجمه:** خاص د جانب د الله تعالى نه خير کثيره دې د زيد دې د جهت د پوهه والي د دينه په کار د اسونو او د نيزه بازئ کې

غرض د ماتن په دي مثال کي (۱) اول تقسيم ته اشاره ده چې تميز راشي د نسبت کائنه في الاضافة نه هغه دوه قسمه دي: (۱) کله دا تميز مشتق وي (۲) او کله غير مشتق وي (۲) د فع د توهم ده چې دي صاحب د مفصل دا مثال ذکر کړي دي وو په تميز عن المفرد کي په دي کي دا توهم وو چې دا مثال د تميز عن المفرد دي مثال د تميز عن النسبة نه جوړيږي پس ذکر کړه ماتن دا مثال دلته کي (۱) دپاره د دفع د توهم د اختصاص (۲) دپاره د اظهار د جواز د وجهينو چې په دي مثال کي دواړه قسمه تميز جوړيږي.

سوال: اوس دا جواز د وجهينو ولي دي په دي مثال کي؟ **جواب:** ځکه دا ضمير غائب دي او هر ضمير غائب کي (۲) احتماله وي: (۱) که دا ضمير غير معين ته راجع وي بيا په دي ضمير کي ابهام دي دا فارساً د هغې نه تميز واقع شوي دي جار الله الزمخشري په دي باندې دا مثال بنا کړي دي (۲) او که دا ضمير راجع وي معين ته بيا په دي ضمير کي ابهام نشته دي هغه نسبت کي ابهام دي فارساً د هغې نه تميز واقع شوي دي کافيه ملا دا مثال بنا کړي دي په دي باندې.

سوال: ظاهر کي اعتراض دي په دي ترکيب باندې چې (دره فارساً) متبدا (لله) خبر مقدم دي معنى دا ده خير کثيره د دي زيد د جهت د فارسيت نه دا ثابت دي الله لره خير کثيره ثابت الله لره څنګه دي؟ **جواب:** (۱) حرف جر په معنى د بل حرف جر سره راځي دلته دا لام په معنى د من سره دي اي دره فارساً کائن من الله (۲) جواب دا دي: چې دا ترکيب بنا دي په عرف او عادت د عربو باندې د هغوی دا عادت وو بول چال کي چې الله به يو صفت ورکړه دي بند: له غالباً به يې بل چالره نه ورکوو دا صفت عربو به تعجبا د دی ثبوت د صفت نسبت به الله ته کوه.

سوال: بيا درهُ په دي اضافت باندې اعتراض دي دُراصل کي واني پيئ ته اضافتهُ ته نه صحيح کيږي؟ **جواب:** دلته ذکر د ملزوم دي او مراد ترينه لازم دي چې پيئ سره خير کثيره لازم دي د هغې مصداق فارساً دي (ثم ان كان) سره غرض د کافيه ملا (۱) تقسيم د تميز دي په اعتبار د اطلاق سره (۳) قسمو ته، (۲) او بيان د حکم د اقسامو دي، (۱) چې د دي تميز اطلاق يواځي منتصب باندې کيده بل چا باندې نه کيده دا يو، (۲) اطلاق د دي تميز متعلق د منتصب باندې کيږي نه منتصب باندې دا دوه (۳) او د دي تميز اطلاق دواړو باندې کيده دا دري (ان كان) که وي دا تميز اسماً غير مشتقي دلته دا اسم مقابله د صفت کي راغلي دي د دينه مراد دي اسم غير مشتقي ولي که تميز مشتقي وي حکم ئي را روان دي (يصح) صحيح دي جعل د دي تميز (لما) د هغه مميز او اسم تام دپاره (انتصب) چې نصب قبول کړي دي دي تميز (عنه) د وجې د هغې نه په دي شان سره چې هغه تام شوي دي په يو متمم سره نو مقتضي د تميز دي، او مراد په صحت سره جواز دي په معنى د امکان سره (۱) نه مختص دي په منتصب پورې او نه مختص دي په متعلق پورې (۲) په دي شان سره نه واجب دي او نه ممتنع دي، او مراد د جعل نه تعبير دي نه حمل (جاز) جائز دي (ان يكون) چې شي دا تميز له د دي منتصب دپاره په دي شان سره چې دا تميز نوم شي د دي منتصب او بيان کوي د دي منتصب (و لمتعلقه) دارنګي جائز دي چې نوم شي متعلق د منتصب دپاره او بيان شي د متعلق (۱) د وجې د صحت د جواز د وجهينو نه (۲) او د وجې د

عدم د جواز د وجهینو نه، متعلق نه مراد دي ملحق او یو اجنبي شي چې د هغې او د دي منتصب په مینځ کي علاقه وي او دي منتصب ته متعلق وائي

سوال: ته وائي (۱) تمیز غیر مشتق دي (۲) او صحیح دي جعل د تمیز منتصب دپاره دا شرط جاز الخ دا جزا ده چې په دې کې جواز د وجهینو دی اوس طاب زید نفساً کي دا شرط موجود دي. ان کان الخ او جزا نه ده مرتب چې جواز د وجهینو دی بلکه نفساً د دي زید نه تعبیر دي فقط او د دي متعلق نه تعبیر نه دي؟ **جواب:** دلته صحت په معنی د امکان خاص سره دي او هلته طاب زید نفساً کي خو واجب دي تعبیر د نفساً د دي زید نه لهذا هلته کي سره دا شرط نه دي موجود

سوال: ته وائي صحیح وي جعل او صیرورت د دي جعل څه معنی ده؟ جواب: بعضي معترضین جعل ترجمه حمل سره کوي چې صحیح نه ده دارنګي طاب زید ابوۃ و علماً و داراً هلته هم حمل جائز دي بیا په هغې کي ولي جواز د وجهینو نه وائي؟ **جواب:** جعل په معنی د جمل سره نه دي بلکه جعل په معنی د تعبیر سره دي طاب زید ابًا داخل شو او دا نور ترینه اووتل (لما الخ) دي باندې ظاهر کي اعتراض دي

سوال: تمیز خو نصب قبول کړي دي عامل نه د دي زید نه خو یې نه دي قبول کړي منشا د اعتراض دا ده چې دي دا اسم عامل وګرځوه؟ **جواب** دا دي: (۱) چې دلته لمّا انتصب عنه دا ترجمه نه ده چې دا تمیز نصب قبول کړي دي د دي اسم تام نه بلکه د دي معنی دا ده چې دا اسم تام شوي دي په متمم سره بیا دا تمیز واقع شوي دي دي تمیز دا نصب قبول کړي دي د دي اسم تام د وجې نه او که دا تام شوي نه وي دا تمیز نه واقع کیده نو حکماً دي تمیز دا نصب قبول کړه د دي اسم تام نه (۲) کلمه د ما عبارت ده د اسم نه او عنهُ جار مجرور په حذف د مضاف سره دي. اي یصح جعله للاسم انتصبَ التمیزَ عن عامله (۳) یا دا عن په معنی د بعد سره دي چې نصب قبول کړي دي دي تمیز د عامل نه بعده وروسته د اسم تام نه (والا) که صحیح نه وو تعبیر د تمیز د منتصب عنه نه بلکه جعل او تعبیر د ده د منتصب نه ممتنع دي (فهو) دا تمیز (لمتعلقه) تعبیر دي د متعلق د منتصب عنه نه فقط د وجې د عدم صحت د تعبیر اخری نه د وجې د وجود د مانع د ترکیب اخری نه لکه طاب زید ابوۃً و علماً و داراً شو دا دري واړه مختص دي په متعلق د منتصب عنه پورې. دا دوه قسمه تمیز دي بیان کړه صراحةً او هغه یو قسم چې مختص دي په منصب عنه پورې نحو طاب زید نفساً بیان کړه ضمناً (فیطابق) د تمیز تقسیم وکړه دریو ته دوه صراحةً یو ضمناً اوس حکم بیانوي: دا تمیز به موافق وي (فیهما) په دې دواړو صورتونو او نوعینو کي (۱) چې تمیز تعبیر دي د منتصب عنه نه وجوباً یا جائزاً. یا تمیز تعبیر دي د منتصب عنه نه صراحةً یا احتمالاً (۲) دویم صورت چې تمیز تعبیر دي د دي متعلق نه فقط (ما) د هغه معنی سره (قصد) چې متکلم قصد کړي دي (۱) دپاره د اظهار د مقصود او معنی مراد د متکلم مخاطب ته (۲) دپاره د دي چې دا کلام دلالت وکړي په معنی مراد د متکلم باندې لفظاً برابره خبره ده چې مطابق د منتصب عنه سره وي او که نه وي

سوال: فیهما په دي ضمیر باندې اعتراض دي چې اقسام مخکې دري دي بیا فیهما پکار وو او تا ضمیر فیهما تثنیه وویل؟ **جواب:** دا دي چې دا ضمیر دي دریو ته راجع کړي دي ځکه د دي دریو نه یې دوه نوع جوړې کړي دي (۱) تمیز تعبیر دي د منتصب عنه نه (۲) تمیز تعبیر دي د متعلق نه بیا په دي نوع اول

کي صورتونه (۲) دي چې (۱) تمیز تعبیر دي د منتصب عنه نه وجوبًا لکه طابَ زید نفسًا شو (۲) یا تمیز تعبیر دي د منتصب عنه نه جوازًا لکه طابَ زید ابًا شو.

سوال: اوس دا تمیز به ما قصد سره په دي دوو صورتونو کي مطابق ولې وي؟ **جواب:** دپاره د اظهار د معنی مراد د متکلم کي مخاطب ته یا دپاره د دي چې دا کلام د متکلم دلالت وکړي په معنی مراد خپل باندي لفظًا او صراحةً که د متکلم وحدت مراد وي مفرد به ذکر کوي او که دوه والي مراد وي تثنیه به ذکر کوي او که زیات مراد وي جمع به ذکر کوي.

سوال: ما قصد وویل داسي ئي اونه ویل چې دا تمیز به مطابق وي منتصب عنه سره؟ **جواب:** ځکه دي کي تقسیم ته اشاره ده چې دا تمیز به مطابق وي معنی مراد د متکلم سره منتصب عنه سره مطابق وي او که نه وي لکه طابَ زید ابًا طابَ زید ابوین چې یو یې پلار دي او یو یې نیکه دي زید دپاره هغه پلار او نیکه دواړه ښه دي طابَ زید آباءً یو ئي پلار دي او دوه نیکونه دي هغه دري واړه ښه دي. اوس که منتصب سره مطابق وي لکه طابَ زید ابًا طابَ الزیدان ابوین طابَ الزیدون آباءً به وائي.

سوال: مطابقت په څه کي واجب دي؟

جواب: په افراد تثنیه جمعیت تذکیر او تانیث کي، دي سره دفع د اعتراض وشوه.

سوال: چې ته وائي مطابق به وي طابَ زید نفسًا کي خو مطابقت نشته دي ځکه زید معرفه دي او نفسًا نکره دي؟ **جواب:** دا دي چې مطابقت په افراد تثنیه جمعیت تذکیر او تانیث کي واجب دي نه تعریف او تنکیر کي ځکه تمیز کي خو نکارت واجب دي (الا) مګر مطابق به نه وي دا تمیز (اذا کان جنسا) کچیري دا تمیز جنس ؤ او مقصود د متکلم معنی جنسي وه بیا مخالفت واجب دي ځکه د جنس اطلاق کیږي په قلیل او کثیر باندي اجتماعًا په اعتبار د لفظ مفرد سره حاجت نشته تثنیه او جمعیت ته دا پته هله لګي چې دا تمیز او منتصب عنه مخالف شي نحو طابَ زید علمًا طابَ الزیدان علمًا طابَ الزیدونَ علمًا ځکه جنس علم مراد دي او جنس علم اطلاق په یو علم باندي هم کیږي او دوه علم باندي هم کیږي او دري علم باندي هم کیږي (الا) دا استثناء ده د مستثنی نه (مخالفت) واجب دي کچیري تمیز معنی جنسي وه په هر وخت کي (الا) مګر مخالفت واجب نه دي (ان یقصد الانواع) که قصد کړي وو متکلم د جنس نه افراد د جنس بیا مطابقت واجب دي ځکه جنس اګر که دلالت کوي په قلیل او کثیر باندي اجتماعًا لکن دلالت نه کوي په تعین د افراد نحو طابَ زید علمًا طابَ زید علمین (۱) یو علم نحو دي (۲) بل ورسره علم صرف دي، طابَ زید علومًا: (۱) چې یو علم نحو دي (۲) دویم علم صرف دي (۳) علم ادب دي، دا دري حکمه شو دوه وجوب المطابقة او یو وجوب المخالفة (وان کانت صفة) که تمیز مشتقي وو، مشتقي عام دي حقیقةً وي او که تاویلا وي حقیقةً لکه طابَ زید والدًا تاویلا لکه کفاك زید رجلاً دا رجلاً په معنی د کاملاً سره دي حکمونه ئي دوه دي: (۱) (کانت) دا صفت به وي (له) دي منتصب عنه دپاره نه دپاره د متعلق ځکه هر مشتقي موصوف غواړي او مذکور اولی دي په موصوفیت سره او عمل په اولی باندي ممکن وي عمل په اولی باندي واجب دي په شریعت د بلاغت

کي (۲) (وطبقه) سره د مطابقت د دي تميز منتصب عنه سره د وجې د وجوب د مطابقت نه په ما بين د موصوف او صفت کي طاب زيد والدًا والدًا تعبير دي د دي زيد نه يعنې دا زيد په خپله بنه پلار دي ځکه هر مشتقي موصوف غواړي او مذکور اولی دي په موصوفيت سره.
سوال: په دي اعتراض دي چې دا دليل دي مثبت د مدعیٰ نه ده مدعی ستا دا ده چې مطابقت واجب دي او دليل دی دا وويله چې هر مشتقي موصوف غواړي او مذکور اولی دي په موصوفيت سره ديته خو اولويت ثابت شو وجوب خو ثابت نه شو؟ **جواب:** دا دي چې عمل په اولی بادي ممکن وي هلته عمل په اولی باندې واجب دي په شريعت د بلاغت کي.
سوال: و طبقه باندې اعتراض دي چې دا طبقه په دي لهٔ باندې عطف دي په اعتبار د محل سره او لهٔ خبر دي او دا هم خبر شو ځکه معطوف په حکم د معطوف عليه کي وي او خبر محمول وي دلته حمل نه صحيح کيږي ځکه حمل د صرف وصف په ذات باندې راځي **جواب:** د دي دوه (۲) جوابه دي: (۱) منشا د اعتراض دا ده چې دا واو عاطفه دي عطف دي لهٔ باندې او معطوف په حکم د معطوف عليه کي وي حمل نه صحيح کيږي (جواب (۲) دا دي چې دا واو عاطفه نه دي بلکه دا واو په معنی د مع سره دي (۲) او که اومنم چې دا واو عاطفه دي بيا دا مصدر مبني للفاعل دي په معنی د طباق يا مطابق سره، اوس فرق ثابتوي ما بين د تميز مشتقي او غير مشتقي کي (واحتملت) دا تميز چې مشتقي دي احتمال لري (الحال) د حال د وجې د صحت د معنی او عدم د مانع نه نحو طاب زيد والدًا (۱) دا ترجمه وکړي پاک دي زيد من حيث انه والد يعنې د جهت د والديت نه تميز شو (۲) او که دا ترجمه وکړي پاک دي زيد حال کو نه والدًا يعنې په حال کون د زيد کي چې والد دي حال شو: (۱) زياتوالي د من بياني د دي مشتقي سره په کلام د عربو کي هغه مرجح د دي تميز دي (۲) مقصود د متکلم مدح د دي زيد ده په دي مشتقي مذکور سره دا تميز کي جوړيږي نده مقصود د متکلم مدح د منتصب عنه په صفت اخرى سره.
سوال: د دي مشتقی نه حال او تميز دواړه جوړيږي د وجې د صحت د معنی نه او عدم د مانع نه دا دليل تقاضا کوي دا استواء نو کافيه ملا و احتملت الحالَ ولي وويل يعنې دا دليل تقاضا د استواء د امرين کوي او دا عبارت د کافيه ملا تقاضا د مرجوحيت د حال کوي **جواب:** دا دي: او مسئله دا ده چې حاليت جائز او تميز جوړول اولی دي ځکه کله کله دي مشتقی سره عرب من زياتي کوي په استعمال د کلام د عربو کي لکه عرب داسې وائي عز قائلاً دغه ځای کي هغوی وائي عز من قائلٍ دا زيات والي د من قرينه مرجحه لفظيه ده دپاره د تميز (۲) قرينه مرجحه معنوي هم موجود ده چې تميز راجح دي او حال مرجوح دي ځکه تميز نص ذي په مقصود کي او حال نص نه دي مثلاً عز قائلاً (۱) د دي قائلاً نه حال جوړ کړي او حال نه تعبير کولي شي مفعول فيه سره د دي معنی به دا شي چې دي کي يو صفت دي بل د قول نه علاوه هغې سره دي عزت مند دي په حالت د قول کي (۲) او دلته مقصود د متکلم دا دي چې صفت مادحه دغه قول دي چې اوچت دي په دي قول سره يعنې د ده خبري بنی دي دا معنی په تميز کي جوړيږي اوس تميز چې جوړ کړو تصريح په مقصود باندې راځي او حال چې جوړ کړو تصريح په مقصود باندې نه راځي دا قرينه مرجحه معنوي شوه دپاره د اولويت د تميز او مرجوحيت د حال.

(ولا يتقدم) تقديم د تميز په عامل باندې دا يو حکم د تميز دې دې بيانوي جواز او عدم جواز، نه مقدم کيږي تميز (على عامله) په عامل جامده خپل باندې چې هغه اسم تام دې په يو د متمماتو اربعو سره بالاتفاق ځکه اسم تام ضعيف العمل دې عمل کوي معمول مؤخر باندې د وجې د ضرورت نه نو عمل نه شي کولې په معمول مقدم باندې (والاصح) مذهب اصح چې مذهب د جمهورو دې (ان لا يتقدم) چې دا تميز نه مقدم کيږي (على عامله) په عامل قويه خپل باندې چې هغه درې دي: فعل اصطلاحي او اسم فاعل او اسم مفعول (١) ځکه دا تميز په معنى کې فاعل دې حقيقةً يا تاويلا او فاعل نه مقدم کيږي په فعل باندې اګر که قوي العمل دې دلته هم تميز نه مقدم کيږي په دې عامل باندې اګر که قوي العمل دې (٢) يا دا تميز بيان دې او بيان مؤخر وي د مبهم نه (خلافا للمازني والمبرد) نسبت د خلاف کړې شوې دې جمهورو ته داسې خلاف چې ثابت دې مازني او مبرد لره په دې شان سره چې هغوی وائي تميز مقدم کيږي عامل قويه باندې چې دغه درې دي: (١) دليل عقلي د هغوی دپاره دا دې: چې دا عمل قويه دې عمل کولې شي په معمول موخر او مقدم دواړو کې (٢) دليل نقلي ورله دا قول د شاعر دې:

أتهجر سلمى بالفراق حبيبَها وما كادَ نفساً بالفراق تطيبُ

کادَ کې ضمير مستتر ضمير شان دې تطيبُ جمله ورله بيان واقع شوې دې او په دې تطيبُ کې ضمير مستتر دی هي سلمى ته راجع دې او د دې نسبت کې ابهام دې دا نفساً د هغې نه تميز واقع شوې دې او مقدم شوی دی په فعل باندې چې تطيبُ دې دينه معلومه شوه چې تقديم د تميز په فعل باندې جائز دې.

جواب د طرف د جمهورو نه دا دې: چې دليل زمونږ ذا نه دې چې دا فعل قوي العمل نه دې عمل نه شي کولې په معمول مقدم باندې بلکه دليل دا دې چې دا تميز فاعل دې په معنى کې حقيقةً يا تاويلا او تقديم د فاعل په عامل باندې ممتنع دې، او جواب دليل نقلي نه دا دې چې کادَ کې ضمير مستتر هو دا ضمير شان نه دې بلکه ذا هو ضمير راجع دې حبيب ته او دا نفساً تميز دې نسبت د کادَ نه.
(٢) جواب دا دې: په دې شعر کې (٢) روايته دي (١) تطيبُ (٢) يطيبُ او ستاسو دليل جوړيږي چې تطيبُ شي او دا تطيبُ واجب نه دې يطيبُ هم احتمال دې او اذا جاء الاحتمالُ بطلَ الاستدلالُ

تشريح: سوال: ستا په عبارت کې تناقض دې ولايتقدمُ على عامله دې ځای نه معلومه شوه چې تميز نه مقدم کيږي په مطلق عامل باندې دا سالبه کليه دې والاصحُ الخ، چې اصح مقابله کې صحيح دې دې ځای نه موجبه جزئيه معلومه شوه چې عامل قويه باندې تميز مقدم کيږي سالبه کليه او موجبه جزئيه نقيضين دې لهذا ستا عبارت کې تناقض دې؟ **جواب:** دا دې: منشا د اعتراض دا وه چې عاملهُ کې دا اضافت اضافت جنسي دې جواب دا دې چې دا اضافت عهدي دې مراد د عامل نه عامل جامده دې چې هغه اسم تام دې نو دا سالبه جزئيه شوه او سالبه جزئيه او موجبه جزئيه نقيضين نه دې لهذا عندي زيتاً رطل دا ترکيب په شريعت د نحو کې ناروا دې بالاتفاق.

سوال: ته وائي والاصحُ ان لايتقدمَ على الفعلِ دې فعل نه فقط فعل اصطلاحي اخلي او که عام اخلي دواړه شقه باطل دې ځکه که فقط فعل اصطلاحي اخلي دينه معلومه شوه چې يواځې فعل اصطلاحي

کي خلاف دي او خلاف دوی فقط فعل اصطلاحي کي نه دي بلکه دري ځايونو کي دي او که مطلق
اخلي بيا دينه معلومه شوه چې خلاف په مطلق مشتقي کي دي او خلاف د دوی په مطلق مشتقي کي
نه دي بلکه صرف اسم فاعل او اسم مفعول کي دي او باقي نور مشتقات کي اتفاق دي په عدم تقديم د
تميز باندې؟ **جواب:** دا دي چې الفعل کي الف لام عهدي دي عامل قويه مراد دي او عامل قويه د دوی
په اصطلاح کي دري دي فعل اصطلاحي اسم فاعل او اسم مفعول. جمهورو دپاره دلائل (۲) دي (۱) دا
تميز په معنی کې فاعل دي حقيقةً يا تاويلا او فاعل نه مقدم کيږي په عامل باندې دارنګې دا تميز هم
نه مقدم کيږي په عامل خپل باندې طاب زيد نفسا د دي معنی دا ده طاب نفس زيد تميز عن النسبة
محول عن الفاعل دي دا د دوی يو اصطلاح او اطلاق دي

سوال: په دي دليل باندې اعتراض دي چې طاب زيد نفسا کي خو منم چې دا تميز په معنی کي فاعل
دي (۱) لکن امتلأ الاناء ماءً دغلته تميز نه فاعل نه جوړيږي ځکه دا نه شي ويلي امتلأ ماءُ الاناء ځکه د
دي ډکوالي نسبت ظرف ته کيږي نه مظروف ته (۲) دارنګه کوم ځای کي چې د فعل نسبت الی
المفعول ته اوشي هلته ستا مسئله نه جوړيږي مثال لکه فجرنا الارض عيونا دلته (۳) نسبته دي (۱)
نسبت الی الفاعل دي په هغې کي ابهام نشته دي (۲) نسبت الی المفعول دي په هغې کي ابهام دي د
هغې نه دا عيونا تميز واقع شوي دي دا محول عن المفعول دي اي فجرنا عيون الارض؟ **جواب:** دا دي
فاعل عام دي حقيقةً وي او که تاويلا وي حقيقةً چې مذکور فعل دپاره جوړيږي او کوم ځای کي چې
مذکور فعل نه فاعل نه جوړيږي هلته به تعبير کوي بل فعل سره او فعل لازم نه به تعبير کوي فعل
متعدي سره نو فجرنا الارض عيونا د دي معنی دا ده انفجر عيون الارض او امتلأ الاناء ماءً دا باب
افتعال دي لازمي دينه به متعدي جوړ کړي د مجردو نه اي ملأ الماءُ الاناءَ (۲) دويم دليل جمهورو
دپاره دا دي چې دا تميز بيان دي او بيان وروسته وي د مبهم نه. او مازني او مبرد دپاره هم دلائل (۲)
دي (۱) دليل عقلي چې فعل قوي العمل دي عمل کوي په معمول مقدم او مؤخر دواړو کي (۲) دليل
نقلي ورله دا قول د شاعر دي: أتهجر سلمی بالفراق حبيبها

استفهام انکاري دي يعني لا تهجر **(و ما کاد)** قريب نه دي شان د ده **(بالفراق تطيب)** چې دا سلمی
خوشحاله شي د جهت د نفس نه په فراق د حبيب سره دا د دي شان نه دي دا معنی د شعر شوه، اوس دي
تطيبُ کي ضمير مستتر دي راجع دی سلمی ته د هغې نه دا نفسا تميز دي او دا مقدم شو.

سوال: د کادَ ضمير نه يې ولي تميز نه وائي؟ **جواب:** دي کادَ کي مقدر ضمير الشان دی او ضمير شان
لپاره مفسر جمله وي نه مفرد.

سوال: د کاد ضمير شان ولي مقدر کوي؟ جواب: ځکه دي ضمير مستتر دي هو هغه سلمی ته نه راجع
کيږي **جواب:** شارح هندي دا کړي دي چې دي کادَ کي ضمير دي چې راجع دی حبيب ته ضمير شان نه
دی او دا نفسا تميز دي د نسبت د کادَ نه او تطيب خبر دي د کادَ دپاره.

سوال: تطيبُ ضمير هي راجع دي بيا خو نه راجع کيږي حبيب ته؟ **جواب:** تطيبُ ضمير هي راجع دي
حبيب ته په تاويل د نفس سره، شارح جامي وائي کادَ کي ضمير خو راجع دي لکن په دي کي (۲)

نسخې دي (١) تطيبُ هم جائز دي (٢) او يطيبُ هم جائز دي او ستاسو دليل فقط په نسخه د تطيب كې جوړيږي او قاعده دا ده اذا جاء الاحتمالُ بطلَ الاستدلالُ هله به دا شعر ستاسو دپاره دليل وي چې دا نص وي ستاسو په دي مدعى كې.

سوال: بيا د هغوى مذهب صحيح ولې پاتې شو؟ جواب: ځكه دلائل د جانبينو نه ظني دي دلائل د جمهورو بلكل قطعي نه دي چې د دوى دا مذهب شي بلكه دلائل د هغوى ظني دي (١) ځكه هر ځاى كې تاويل خلاف الاصل دي (٢) فرق دي په ما بين د شي او مؤول بالشئ كې چې يو خل فاعل ترينه جوړ كړي بيا نه مقدم كيږي او فاعل ترينه جوړ نه كړي بالفعل بيا ترينه مقدم كيږي او كه نه مسئله په هغې كې دي او دا دليل چې بيان نه مقدم كيږي په مبهم باندې دا قاعده اكثري ده نه كليه.

المستثنى

هر كله چې فارغ شو مصنف (رح) ملحق ثاني نه چې تميز دي نوشروع ئې وكړه په تفصيل د ملحق ثالث كې چې مستثنى ده، هغه اسم چې اطلاق كولې شي په هغې باندې په اصطلاح د نحو كې لفظ د استثناء هغه دوه قسمه دي يو ته متصل وائي او بل ته منقطع وائي.

تقسيم فرع د تعريف د مقسم هله وي چې مقسم دپاره تعريف اصطلاحي جامعه مانعه مشهوره وي كله چې مقسم دپاره تعريف اصطلاحي جامعه مانعه مشهوره نه وي هلته تقسيم مقدم وي په تعريف باندې او دلته كې هم دارنګه دي. او شرط دپاره د تقسيم معرفت د مقسم دي بوجه ما برابره خبره ده چې دا معرفت حاصل وي په تعريف حقيقي سره يا تعريف اعتباري سره او دلته معرفت حاصل دي په تعريف اعتباري سره، او دا تعريف اصطلاحي اعتباري مشهور دي په اصطلاح د نحو كې كافيه ملا ذكر نه كړه د وجې د شهرت نه، او مقسم مستثنى اصطلاحي ده نه لغوي تقسسم شئ الى نفسه و الى غيره لازم نه شو، او صدق د مقسم دواړو باندې حقيقةً دي، او په جانب د خبر كې عطف مقدم دي په ربط باندې او حمل د متعدد په واحد باندې هله جائز نه دي چې واحد قابل د تعدد نه وي او دلته كې واحد قابل د تعدد دي ځكه تقسيم د كلي دي جزئياتو ته.

تشريح: سوال: تقسيم فرع د تعريف دي خلك اول د شي تعريف كوي بيا تقسيم كوي لكه د كلمي سې اول تعريف كړي دي لفظ الخ بيا ئې تقسيم كړي دي و هي اسم الخ او تا دلته كې تقسيم وكړه او تعريف دي و نه كړه دا د قانون نه خلاف دي؟ جواب: دا قانون هغه ځاى كې دي چې مقسم دپاره تعريف اصطلاحي جامعه مانعه مشهوره موجود وي او كله چې مقسم دپاره تعريف اصطلاحي جامعه مانعه مشهوره نه وي هلته تقسيم مقدم دي په تعريف باندې يعنې تقسيم به ګوي تعريف به نه كوي او دلته مستثنى دپاره تعريف اصطلاحي جامعه مانعه مشهوره نشته دي ځكه ده تقسيم وكړه د بې د تعريف نه سوال: بيا په دي باندې اعتراض دي چې ته وائي مستثنى دپاره تعريف نشته دي مستثنى مستخرج ته وائي كنه؟ جواب: دا دي چې زه نفي د مطلق تعريف نه كوم بلكه زه وايم تعريف جامعه مانعه نشته دي.

سوال: بیا اعتراض دي چې تقسیم موقوف دي په معرفت د مقسم پورې و الا تقسیم د مجهول راځي دا باطل دي؟ **جواب:** دا دي شرط دپاره د تقسیم معرفت د مقسم دي بوجه او دلته دا مقسم معلوم دي په تعریف اعتباري سره نو تقسیم د مجهول مطلق رانغي.

سوال: اوس هغه تعریف اعتباري کوم دي؟ **جواب:** هغه ما یطلقُ علیه لفظُ المستثنٰی دي (٢) یا هر هغه لفظ چې مذکور دي پس د الاو اخواتو د الانه برابره خبره ده چې خارج وي او که نه وي.

سوال: دغه تعریف اعتباري به دي ذکر کړي وي؟ **جواب:** دا دي چې اعتباري د نحو په اصطلاح کې مشهور دي شهرت د وجې نه یې پریخودي دي.

سوال: تقسیم د مستثنٰی متصل او منقطع ته باطل دي ځکه مستثنٰی په لغت کې مستخرَج ته وائي نو تقسیم د دي متصل ته الی نفسه دي او منقطع ته الی غیره دي او تقسیم د شي الی نفسه و الی غیره باطل دي؟ **جواب:** دا دي چې مقسم مستثنٰی اصطلاحي ده مَا یُطلق علیه لفظُ المستثنٰی نه معنی لغوي او ما یطلقُ علیه لفظُ المستثنٰی عام دي متصل هم دي او منقطع هم دي.

دا اعتراض هم دفع شو چې صدق د مقسم په اقسامو باندې ضروري دي او دلته مستثنٰی متصل باندې صادقیږي او منقطع باندې نه صادقیږي ځکه مستثنٰی په لغت کې مستخرَج ته وائي متصل کې استخراج شته او منقطع کې استخراج نشته دي؟ **جواب:** دا دي چې دلته مقسم مستثنٰی اصطلاحي ده نه لغوي او مستثنٰی اصطلاحي دواړو باندې صادقیږي.

سوال: **المستثنٰی** مبتدأ **متصل و منقطع** دا خبر دي اوس دلته ته ربط مقدم کوي او که عطف مقدم کوي دواړه نه صحیح کیږي ځکه که ربط مقدم کوي لازمیږي حمل د خاص په عام باندې دا باطلَ دي او که عطف مقدم کوي (یعني حکم کوي) لازمیږي حمل د متعدد په واحد باندې دا باطل دي؟ **جواب:** دا دي چې عطف مقدم دي په ربط باندې، ترجمه داسې کوم مطلق ما یطلقُ علیه لفظ المستثنٰی متصل او منقطع ده، او که ته وائي حمل د متعدد راغي په واحد باندې

جواب: دا دي حمل د متعدد په واحد باندې هله ناروا دي چې واحد قابل د تعدّد نه وي او دلته دا واحد قابل د تعدد دي ځکه تقسیم د کلي دي جزئیاتو ته عبارت د کافیه ملا ټیک شو.

د متصل او منقطع په تعریفینو کې مذهبین دي (١) یو مذهب د محققینو دي (٢) او بل مذهب د عامو دي، مذهب د محققینو دا دي چې مستثنٰی متصل هغه مستثنٰی ته وائي چې خارج کړي شوي وي د حکم د مستثنٰی منه نه او مستثنٰی منقطع دیته وائي چې دا مستثنٰی نه وي خارج کړي شوي د حکم د مستثنٰی منه نه برابره خبره ده چې جنس د مستثنٰی منه نه دي او که نه وي.

مذهب د عامو دا دي چې دا مستثنٰی د جنس او افرادو د مستثنٰی منه نه وي دیته متصل وائي او که دا مستثنٰی جنس او افرادو د مستثنٰی منه نه نوي هغې ته منقطع وائي، نو دار مدار د اتصال او انقطاع په نزد د محققینو په خروج او عدم خروج دي او دار مدار د اتصال او انقطاع په نزد د عامو په جنسیت او عدم جنسیت باندې دي، هر کله چې مختاره د کافیه ملا مذهب د محققینو ؤ ځکه ده

عدول وکړه د تعریف د عامو نه تعریف د محققینو ته د مطلق تعریف نه ځکه لابدي وه چې دا موقوف علیه دی دپاره د صحت د تقسیم لکن هر کله چې متصل او منقطع دپاره احکام مختصه وو پس لابدي شوه د تعریف د هر واحد نه دپاره د جریان د احکامو مختصو، هر کله چې متصل اشرف وو د منقطع نه مقدم یې کړه په اجمال او تفصیل کي وئي ویل **(فالمتصل)** فا تفصیلیه، پس مستثنی متصل په اصطلاح د محققینو کي **(هو)** دا متصل **(المخرج)** هغه اسم دي چې خارج کړي شوي دي مسمی د ده **(عن متعدد)** د حکم د شي متعدد نه تعدد عام دي په اعتبار د افرادو سره وي نحو جاءني القوم الازیداً ما جاءني احد الازیدا، یا تعدد په اعتبار د اجزاؤ سره وي نحو اشتریتُ العبدَ الانصفا **(لفظاً)** په حال کون د متعدد کي چې ملفوظ وي نحو ما جاءني الازید **(بالا)** په الااستثنائي سره **(واخواتها)** او په اخواتو د الاسره چې هغه نور آدات د استثناء دي **(والمنقطع)** او مستثنی منقطع په اصطلاح د محققینو کي **(المذکور)** هغه اسم دي چې مذکور دي **(بعدها)** وروستو د الااستثنائي او اخوات د الانه **(غیر مخرج)** په حال کون د دي اسم کي چې نه وي خارج کړي شوي د مستثنی منه د وجې د عدم دخول نه په مستثنی منه کي او دا الادلته کي په معنی د لکن سره دي او ما بعد مستقل جمله ده او مقصود د متکلم دفع د توهم دي نه اخراج.

تشریح: د مستثنی متصل او د منقطع په تعریف کي دوه مذهبه دي: (۱) مذهب د عامو دي (۲) مذهب د محققینو دي عام وائي مستثنی متصل دیته وائي چې مستثنی جنس او افراد د مستثنی منه نه وي نحو جاءني القومُ الازیداً دا مستثنی متصل ده ځکه دا زید یو فرد دي د افرادو د قوم نه او مستثنی منقطع دیته وائي چې مستثنی د جنس د مستثنی منه نه وي نحو جاءني القوم الاحماراً دا حمار افرادو د قوم نه نه دي، او محققین وائي: مستثنی متصل دیته وائي چې مستثنی خارج کړي شوي وي د حکم د مستثنی منه نه برابره خبره ده چې جنسیت پکې وي او که نه وي و الافهو منقطع، جاءني القومُ الازیداً کي دواړه جوړیږي (۱) او که دا قوم نه هغه قوم مراد وي چې زید لره شامل دي بیا دا مستثنی متصل ده (۲) او که د قوم هغه قوم مراد وي چې زید لره شامل نه دي بیا دغه مستثنی منقطع ده او جاءني القومُ الاحماراً کي هم دواړه قسمین جوړیږي په اعتبار د ارادي سره، او عامه وائي الخ، او د دي کافیه ملا مختاره مذهب د محققینو دي چې دار مدار د اتصال او انقطاع په اخراج او عدم اخراج دي په جنسیت او عدم جنسیت نه دي.

سوال: تا د مستثنی تعریف وکړه ما یطلق علیه لفظُ المستثنی سره دا دواړه قسمین چې متصل او منقطع دي دا هم مونږ ته معلوم شو په هغه تعریف سره بیا دا ځانله ځانله تعریف ذکر کولو باندې باعث څه دي؟ **جواب:** دا دي: هر کله چې منقطع او متصل دپاره احکام مختصه ؤ چې متصل احکام نه جاري کیږي په منقطع باندې او د منقطع احکام نه جاري کیږي په متصل باندې پس لابدي شوه د تعریف د هر واحد نه علاحده دپاره د جریان د احکامو مختصو.

سوال: دا متصل او منقطع دواړه سواسي دي په قسمیت کي نو تا دا متصل ولي مقا[illegible] کړه هم په اجمال او هم په تفصیل کي؟ **جواب:** دا مستثنی متصل اشرف دي د منقطع نه ځکه استعمال د [illegible]واتو د

استثناء په متصل کي حقيقةً دي ځکه دا ادوات د استثناء وضع شوي دي اخراج دپاره او په متصل کي اخراج شته دي او استعمال د ادواتو د استثناء په منقطع کي مجازاً دي او حقيقت اصل دي د مجاز نه ځکه مقدم کړي شو هم په اجمال او هم په تفصيل کي.

مستثنى متصل په اصطلاح د نحو کي: **(هو المخرج)** هغه دي چې خارج کړي شوي دي. **سوال:** دا اسم خو نه دي خارج کړي شوي او ته وائي هو المخرج؟ **جواب:** هغه اسم دي چې خارج کړي شوي دي مسمى د ده دي سره دفع د اعتراض وشوه **(عن متعدد)** اي عن حكم شئ متعدد، د دي عن او متعدد په مينځ کي به دوه مضافه را اوباسي ځکه متعدد د مشتقي صيغه ده موصوف غواړي شئ به را اوباسي.

سوال: بيا دا حکم ولي را اوباسي؟ **جواب:** ځکه دا زيد خو په دي الاسره د قوم نه نه دي خارج بلکه حکم د قوم نه خارج دي چې حکم د هغوى عدم مجيئت دي او حکم د دي مجيئت دي، بالا په الا استثنائي سره او که ما بعد خارج وي د حکم د ما قبل نه نه په الا او ادوات د استثناء سره هغې ته د دوى په اصطلاح کي مستثنى نه وائي، لکه جاءني القوم لا زيد دا زيد خارج دي د حکم د ما قبل نه الاسره ديته مستثنى نه وائي بلکه معطوف وائي، دارنګي ما بعد خارج دي د حکم د ما قبل نه په لا صفتي سره هغې ته د دوى په اصطلاح کي مستثنى نه وائي بلکه صفت وائي (١) مستثنى داخل دي مستثنى منه کي په اعتبار د مفهوم لغوي سره او خارج دي په اراده د ده سره (٢) يا دا مستثنى داخل دي په مستثنى منه کي مخکي د دخول د آداتو او استثناء نه او خارج دي پس د دخول د اداتو د استثناء نه.

سوال: دا مستثنى داخل وائي او که خارج وائي که داخل وائي بيا اخراج نه صحيح کيږي او که خارج وائي بيا اخراج د مخرج راځي؟ (٢) يا که داخل وائي ستا په خبرو کي تناقض دي چې خارج هم وائي او داخل هم وائي؟ **جواب:** د دي وشو په د دوه طريقو سره غير مخرج په حال کون د ده کي چې نه دي خارج شوي مسمى د دي د ما قبل متعدد نه ځکه داخل نه دي په عقيدې د متکلم کي.

سوال: مذکور پس د اداتو نه دي او مخرج نه دي بيا دا ادات څه له مستعملوي ادات خو وضع شوي دي اخراج دپاره؟ جواب: دا دي چې مستثنى منقطع کي ادات په معنى د لکن سره دي ما بعد ځانله جمله دي او ما قبل ځانله جمله ده او مقصود دفع د توهم ده نه اخراج.

و هو منصوب هر کله چې فارغ شو مصنف د تقسيم د مطلق مستثنى نه په اعتبار د اخراج او عدم اخراج سره قسمينو ته چې متصل او منقطع دي او تعريف د دواړو نه پس شروع ئي وکړه تقسيم د مستثنى کي په اعتبار د اعراب سره (۴) انواعو ته: (١) منصوب وجوباً (٢) مجرور وجوباً (٣) اختيار د بدل جواز د نصب (۴) معرب على حسب العوامل (و هو) دا مطلق مستثنى چې معلومه ده دوه طريقو سره (١) تعريف اعتباري سره چې ما يطلقُ عليه لفظُ المستثنى دي (٢) دويم په تعريف حقيقي سره چې مستفاد دي د تعريف د قسمينو نه چې مذکور وي بعد الادوات برابره خبره ده چې مخرج وي او که نه وي.

سوال: دي هو ضمير باندې اعتراض دي (١) يا به راجع وائي مطلق مستثنى ته (٢) يا به راجع وائي يو ته (٣) يا به راجع وائي دواړو ته دري واړه احتمالات باطل دي ځکه که راجع وائي مطلق ته تقسيم راغي

په مجهول كي مطلق مستثنى معلومه نه ده مونږ ته چې څه ته وائي او تقسيم په مجهول كي باطل دي، او كه راجع وائي يو ته دا تقسيم په يو پوري نه دي مختص چې مونږ اووايو دا فلاني قسم مستثنى (۴) قسمه ده په اعتبار د اعراب سره بلكه دا تقسيم دواړو كي راځي، او كه راجع وائي دواړو ته مطابقت رانغي ما بين د راجع او مرجع كي؟ **جواب:** دا راجع دي مطلق مستثنى ته مطابقت راغي ما بين د راجع او مرجع كي او كه ته وائي هغه معلوم نه دي جواب دا دي چې هغه معلوم دي دوه طريقو سره.

بعضي شارحين داسې اعتراض كوي كه دا ضمير راجع وائي مطلق ته لازميږي اضمار قبل الذكر ځكه هغه مطلق مذكور نه دي. بيا په هغوى باندې اعتراض دي چې مطلق خو مذكور دي چې المستثنى دي؟ **جواب:** دا دي. هلته مذكور نه معلوم مراد دي مذكور نه دي دا معنى چې هغه معلوم نه دي دا نوع بې مقدم كړه په باقي انواع ثلاثو باندې (۱) ځكه دي لاندې انواع كثيره دي و العزةُ للتكاثر (۲) يا دا نوع مناسب دې مقام سره ځكه بحث په منصوباتو كي دي (منصوب) دا مستثنى به منصوب وي وجوباً، دا وجوباً: قيد ځكه لګوو چې په دې اقسامو كي مقابله ده چې مستثنى بدل دي هلته هم منصوب وي او مستثنى چې معرب على حسب العوامل وي هلته هم منصوب وي مقابله صحيح نه شوه؟ **جواب:** وشو وجوباً سره يعني مقابله راغله د ده د هغوى سره چې هغوى منصوب وجوباً نه دي او دا منصوب دي وجوباً (**اذا كان**) كله چې واقع وي دا مستثنى (**بعد الا**) پس د الانه احتراز دي هغې نه چې نور اداتو نه وروسته واقع وي ځكه د هغې اعراب وروستو بيانوي (**غير الصفة**) هسې الا چې نه وي صفتي ځكه اسم چې واقع وي پس د الاصفتي نه هغه معرب دي په اعراب د موصوف سره او دا قيد دپاره د تعين د معنى حقيقي دي او دپاره د دفع د توهم دي (**في كلام موجب**) او دا مستثنى به واقع وي په كلام موجب كي، تعريف د موجب: هغه كلام چې خالي دي د حرف نفي او نهي او استفهام نه، په دې سره احتراز وكړه د مستثنى نه چې پس د الانه دي لكن په كلام غير موجب كي دي ځكه د هغې حكم وروستو راروان دي، او حاجت نشته قيد د تام ته په اتمام د قاعدي كي ځكه دا تركيب چې قرأتُ الا يومَ كذا دي دا داخل دي په منصوب كي ځكه مراد په نصب سره عام دي بنا بر استثنائيت وي او كه بنا بر ظرفيت وي په قرينې د تعميم د مصنف سره وروستو مثالونو كي، او قرئ الا يوم كذا دا خارج دي ځكه دا د افراد د مستثنى مفرغ نه دي او مستثنى مفرغ كافيه ملا وروسته ذكر كړي ده دلته اخراج ته ضرورت نشته، ځكه مخل دپاره د نصب د مستثنى بنا بر استثنائيت رفع او نصب او جر دي بنا بر بدليت او دلته كي بدل ممتنع دي ځكه بدل په حكم د تكرار د عامل كي دي، اوس كه ته عامل مكرر كوي لازميږي فساد د معنى او كه عامل نه مكرر كوي لازميږي مخالفت د قاعدي نه.

تشريح: سوال: الاوضع شوي دي استثناء دپاره دا معنى حقيقي ده او صفت كي مستعمل كول دا معنى مجازي ده او قاعده دا ده: لفظ چې مطلق ذكر شي معنى حقيقي مراد وي دي غير الصفة ته ضرورت نه وو دا يې ولي ذكر كړه؟ **جواب:** كله كله لفظ نه معنى حقيقي مراد وي لكن دا قيد لګوي دپاره تعين د معنى حقيقي او دفع د توهم د اراده د معنى مجازي او دلته يې هم دا قيد لګولي دي دپاره د تعين د معنى مراد چې هغه استثنائيت دي او دفع د توهم د اراده د معنى مجازي چې هغه صفتيت دي

سوال: څلورم قيد لګول پکار وو تام دپاره د اتمام د دي قاعدي، باب د استثناء کي تام او ناقص څه ته وائي؟ **جواب:** مستثنى منه مذکور دي ديته تام وائي او که مستثنى منه مذکور نه وي هغې ته ناقص وائي.

سوال: دا تام قيد ولي پکار دي؟ **جواب:** چې دوه ترکيبونه اوځي څکه هغه اوخکل پکار دي (۱) قرات الا يومَ كذاً مستثنى منه محذوف دي کل يومٍ څکه دا منصوب دي بنا بر ظرفيت او مفعول فيه او ته څو منصوب بنا بر استثنائيت بيانوي لهذا د دي اوخکل پکار دي؟ جواب: دا دي دا اوباسم نه دا پکې داخل دي څکه غرض د کافيه ملا د دينه دا نه دي چې مستثنى منصوب دي بنا بر استثنائيت على التعين بلکه غرض د کافيه ملا مطلق نصب وجوبي دي بنا بر استثنائيت وي او که بنا بر ظرفيت وي او که بنا بر مفعول به وي دليل په دي تعميم باندې دا دي (۱) چې مستثنى واقع شي پس د خلا او عدا نه هلته منصوب دي بنا بر مفعول به (۲) او مستثنى واقع شي پس د ليسَ او لايکونُ نه هلته منصوب دي بنا بر خبريت دينه معلومه شوه چې مراد د مصنف د نصب نه مطلق دي.

سوال: بيا مستثنى ورته څنګه وائي؟ **جواب:** دا دي چې مستثنى او مفعول فيه دواړه نومونه اطلاق صحيح دي څکه په دي کي جهتين دي: (۱) د دي جهت نه چې دا ما قبل مصدر واقع دي په دي کي مفعول فيه دي (۲) او د دي جهت نه چې ما بعد مغاير دی د ما قبل نه مستثنى ده.

سوال: تام قيد لګول په کار وو چې قُرِئَ الا يومَ كذاب ترينه وتلي وي څکه ستا قاعده صادقيږي دغلته کي او مستثنى منصوب نه دي تام سره به دی دا ترکيب اوخکلي وي څکه دا تام نه دي مستثنى منه د دي محذوف دي اي كلُ يومٍ؟ **جواب:** دا دي چې منم د دی ترکيب ويستل پکار دي مستثنى منصوب نه ده لکن دا ترکيب اوتي دي د دي قاعدي نه بيا قيد د تام سره چې اوباسم اخراج د مخرج راځي او دا باطل دي څکه دا د افراد د مستثنى مفرغ نه دي او مستثنى مفرغ کافيه ملا وروسته ذکر کړي ده حاجت نشته دلته قيد د تام ته دپاره د اخراج د دي ترکيب.

سوال: مستثنى چې واقع شي پس د الاغير صفتي نه په کلام موجب کي دا نصب ولي واجب دي؟

جواب: څکه مخل دپاره د نصب د مستثنى بنا بر استثنائيت رفع او نصب جر دي بنا بر بدليت بدل په اعراب د مبدل منه سره وی تعين نشته دي يعنې بل ترکيب نه دي مګر بدل به شي او بدل دلته کي ممتنع دي څکه دي دپاره چې بدل وائي بدل بعض به شي د دي قوم نه بيا دا بدل په حکم د تکرير د عامل کي وي اوس که هغه عامل مکرر کوي لازميږي فساد د معنى اي جاءني القومُ الاجاءني زيد او دا معنى باطل ده او که عامل نه مکرر کوي لازميږي مخالفت د قاعدي نه دا هم باطل دي پس متعين شو نصب بنا بر استثنائيت (**او مقدما**) يا مستثنى مقدم وي په مستثنى منه باندې دغلته کي نصب واجب دي بنا بر استثنائيت څکه مخل دپاره د نصب رفع او نصب جر دي بنا بر بدليت او دلته کي بدل ممتنع دي څکه تقديم د بدل په مبدل منه باندې ممتنع دي او تقديم د مستثنى په مستثنى منه باندې جائز دي کله چې دا مستثنى مقدم شوه معلومه شوه چې دا منصوب دي بنا بر استثنائيت څکه مقدم شوي ده (**او منقطعا**) يا دا مستثنى منقطع وي نحو جاءني القومُ الاحماراً دلته نصب واجب دي بنا بر

استثنائيت ځکه مخل دپاره د نصب بنا بر استثنائيت رفع نصب جر دي بنا بر بدليت او دلته بدل ممکن نه دي په اعتبار د اقسامو اربعهٔ سره: بدل کل، بدل بعض، او بدل اشتمال، امتناع خو ظاهره ده فرض کړو بدل ممکن وي بدل غلط به جوړيږي او بدل غلط هم دلته نه جوړيږي ځکه مدار د بدل غلط په سهو او نسيان باندې دي او مدار د استثناء په علم يقين باندې دي ما بين کي يې منافات دي **(في الاكثر)** په اکثر استعمالاتو کي چې استعمالات د حجازينو دي، په دي سره احتراز وکړه استعمال قليل نه چې هغه استعمال د بني تميم دي ځکه هغوی بدل هم جائز وائي لکن د هغوی دا مذهب بنا دي په تفصيل باندې چې هغوی وائي دا مستثنی منقطع (۲) قسمه ده: (۱) هغه دي چې حذف د مستثنی منه او اقامت د مستثنی په هغه باندې جائز دي، علامه دا ده چې کوم حکم نسبت شويوي مستثنی منه ته د هغې نسبت مستثنی ته صحيح دي، لکه جاءني القومُ الاحمارًا شو هلته مونږ بدل جوړو (۲) قسم هغه مستثنی منقطع ده چې حذف د مستثنی اقامت د مستثنی په هغې باندې جائز نه دي مانع موجود دي هلته بني تميم حجازيين سره شريك دي چې نصب واجب دي بنا بر استثنائيت بدل ممتنع دي مثال د دي لکه دا قول د الله تعالى شو (لاعاصمَ اليومَ من امر الله الامن رحمَ) منصوب دي بنا بر استثنائيت په دي کي بدل ممتنع دي ځکه که دا عاصم مستثنی منه حذف کړي او دا مَنْ رحمَ مستثنی قائم کړي دا ممتنع دي موانع (۳) دي: (۱) دا مستثنی به په مقام د مستثنی منه کي هله قائم کوي چې د دوی په مينځ کي مناسبت وي او دلته مناسبت نشته دي ځکه چې من رحمَ دي معصوم نه قائم کيږي په مقام د عاصم کي (۲) دي مَنْ رَحِمَ ته بدل اوائي او بدل کي عامل عامل د مبدل منه وي او دي عاصم دپاره عامل دا لا دي او دا لا او ليسَ پس د الانه عمل نه شي کولي (۳) لا دپاره خبر محذوف دي موجود اوس دلته عاصم حذف کړي دا مَنْ رَحِمَ قائم کړي بيا لازميږيا جحاف د کلام چې اسم او خبر دواړه حذف شي او دا باطل دي؟ **جواب:** دا دي: د جانب د حجازيينو نه چې دغلته يعني جاءني القومُ الاحمارًا مانع موجود دي هغه دا چې مدار د استثناء په علم يقين دي که د متکلم علم يقين په دخول وي متصل به ئي جوړوي او که د ده علم يقين وي په عدم دخول منقطع به ئي جوړوي او مدار د بدل غلط په سهو نسيان باندې دي ما بين کي منافات دي.

(اوكان بعد خلا و عدا) يا مستثنی واقع وي پس د خلا او عدا نه دا منصوب دي وجوبًا ځکه خلا او عدا افعال متعديه دي اسم چې واقع وي پس د دوی نه هغه مفعول به وی او اعراب د مفعول به نه دي مگر نصب او اطلاق د مستثنی او مفعول به دواړه جائز دي د دي جهت نه چې مصدر واقع دي په هغې اسم باندې مفعول به دي او د دي د جهت نه چې دا ما بعد مغاير دي د ما قبل نه مستثنی دي **(في الاكثر)** په استعمال اکثر د عربو کي ځکه استعمال اقل د عربو کي خلا او عدا د حروف جارو غير مشهورو نه دي نو اسم وروستو د دينه به مجرور وي (خلافًا لسيبويه) چې هغه عدا نه وروسته نصب بنا بر مفعول به واجب وائي، او تعديت د عدا بنفسه دي او تعديت د خلا په اعتبار د متضمن سره دي چې جاوز دي يا په اعتبار د حذف ايصال سره دي تضمين او حذف ايصال دلته کي واجب دي په مقام د استثناء کي،

او فاعل د خلا او عدا ضمير مستتر دي چې راجع دي (١) بعضي مطلق ته (٢) يا اسم فاعل ته چې مستفاد دي د ما قبل نه. او دا جمله بيا په محل د نصب کي ده حال واقع شوي دي د ما قبل نه په تقدير مقدره سره او تقدير د قد دلته کي واجب دي ځکه خلا او عدا په مقام د الاکي واقع دي.

تشريح القيودات: **سوال:** د خلا او عدا نه وروسته دا مستثنی منصوب وجوبًا ولي وي؟

جواب: ځکه دا افعال متعديه دي او کو اسم چې واقع وي د دوی نه وروسته هغه مفعول به وي او اعراب د مفعول به نه وي مګر نصب.

سوال: چې مفعول به شو بيا مستثنی ورته څنګه وائي؟ **جواب:** دواړه اطلاقه جائز دي ځکه په دي کي جهتين دي (١) د دي جهت نه چې دا مصدر په دي مدلول د اسم باندې واقع دي مفعول به دي ځکه مفعول به ما وقعَ عليه فعلُ الفاعلِ ته وائي او دا تعريف صادق دي (٢) او د دي جهت نه چې دا ما بعد مغاير دي د ما قبل نه مستثنی ده **سوال:** ته وائي چې دا فعل متعدي دي عدا خو منم چې دا فعل متعدي دي وضعًا يعني واضع متعدي وضع کړي دي او خلا خو لازم دي لکه عرب وائي خلت الديارُ من الانيسِ داسې نه وائي خلتِ الديارُ الانيس دا څنګه مفعول به غواړي؟ **جواب:** دا دي (١) دا متعدي دي په اعتبار د متضمن سره چې هغه جاوَزَ دي او کله متضمن باندې جاري کيږي حکم د متضمَن (٢) يا متعدي دي په حذف ايصال سره، حذف ايصال ديته وائي چې يو فعل عمل وکړي په يو معمول کي په واسطې د حرف جر سره او پس د عمل نه حرف جر حذف شي او هغه معمول منصوب پاتې شي، دلته اصل کي خلا من زيدٍ وو بيا هغه مِنْ حذف شوي دي دا زيد منصوب پاتې شوي دي.

سوال: بيا اعتراض دي دا منم چې فعل کله متعدي کيږي په تضمين سره او کله متعدي کيږي حذف ايصال سره، حذف ايصال او تضمين دا واجب نه دي جائز دي کوي ئي او که نه ئي کوي ستا خوښه وي او دلته ته بيانوي نصب وجوبي نو حکم قطعي څنګه مرتب کوي په دليل جوازي باندې؟ **جواب:** دا دي دلته کي تضمين او حذف ايصال واجب دي اګر که نور ځايونو کي جائز دي لهذا حکم وجوبي مرتب شو په دليل قطعي وجوبي باندې.

سوال: زه دا خو منصوب شو بنا بر مفعول به بيا د دي خلا او عدا دپاره فاعل څوک دي؟ **جواب:** فاعل دي دپاره ضمير دي چې مستتر دي په دي خلا اوعدا کي دا خلا او عدا چې باب د استثناء کي واقع شي فاعل دي دپاره اسم ظاهر نه راځي او ضمير بارز نه راځي بلکه فاعل ضمير مستتر دي وجوبًا.

سوال: بيا هغه ضمير چا ته راجع دي؟ (١) که قوم ته ئي راجع کوي مطابقت نه راځي ما بين د راجع او مرجع کي ځکه قوم اسم جمع دي او هو ضمير مفرد مذکر دي (٢) او که غير ته ئي راجع کوي هغه مذکور نه دي لازميږي اضمار قبل الذکر؟ **جواب:** هو ضمير راجع دي (١) غير ته چې هغه بعضي مطلق دي (٢) يا جاي ته چې دواړه مستفاد دي د دي مقام نه لهذا اضمار قبل الذکر رانغي.

سوال: بيا دا جمله په ترکيب کي څه واقع شوي دي؟ **جواب:** دا په ترکيب کي حال واقع شوي دي د جائي يا دبعض مطلق نه په حال کون د دي جائي يا بعض مطلق کي چې خالي دي او مجاوز دي د مجيئت د زيد نه

سوال: بيا ماضي مثبت چې حال واقع شي لابدي ده د قد نه دلته قد نشته؟

جواب: قد عام دي لفظاً وي او كه تقديراً وي دلته تقديراً دي وجوباً.

سوال: بيا اعتراض دي چې تقدير د قد خو واجب نه دي دلته ولي وجوباً مقدر دي؟ **جواب:** ځکه دا خلا او عدا واقع شوي دي په مقام د الاکي او الاسره خو قد نه راځي نو ضرورت د وجې نه دلته قد مقدر کوو وجوباً.

(وما خلا و ما عدا) مستثنى به منصوب وي وجوباً چې واقع شي پس د ما خلا او ما عدانه ځکه دا افعال متعديه دي او اسم چې واقع شي پس د دينه هغه مفعول به يې او اعراب د مفعول به نه وي مگر نصب، او دا قيد يې ونه لګوو چې في الاکثر ځکه دا ما مصدري دي واجب الدخول دي په فعل باندې دا احتمال نشته چې خلا او عدا د حروف جارو نه دي، او دا جمله ما قبل لپاره (١) حال دي مصدر مبين للفاعل (٢) يا ظرف دي په اعتبار د مضاف مقدر سره او تقدير د اوقاتو سره د مصادر نه کثير شائع دي سوال: هلته في الاکثر قيد ذکر کړي وو دلته يې ذکر نه کړه د دي څه وجه ده؟ جواب: دا دي چې خلا او عدا بې د ما نه واخلي هلته دوه احتماله دي د عربو دوه استعماله دي يو استعمال اکثر او استعمال قليل في الاکثر سره يې احتراز وکړه د استعمال قليل نه او دلته صرف يو احتمال دي چې دا افعال دي دا احتمال پکې نشته چې دا د حروف جاره غير مشهورو نه دي ځکه دا ما مصدري داخليږي په فعل باندې وجوباً، او که استعمال شاذه راغلي وي مدخول د دي مجرور بيا به دا ما زائده وي. فان زيادة ما مع حرف الجر ان لاتكون قبل الجار و المجرور بل بينهما كما في قوله تعالى (عما قليل ليصبحن نادمين) (فبما نقضهم ميثاقهم لعناهم) (مما خطيئاتهم اغرقوا).

سوال: چې خلا او عدا کې تا ترکيب کړي دي چې ضمير راجع دي جائي يا بعض مطلق ته او جمله حال دي او دلته دا نه صحيح کيږي ځکه دا ما مصدري دي مدخول نه مصدر جوړوي او حال محمول وي په ذو الحال باندې حمل د صرف وصف په ذات باندې راځي؟ **جواب:** دا دي (١) چې دا منصوب دي بنا بر حاليت او که ته وائي حمل نه صحيح کيږي دا مصدر مبني للفاعل دي په معنى د خالياً او مجاوزا سره (٢) يا منصوب دي بنا بر مفعول فيه او که ته وائي مفعول فيه خو زمان او مکان وي دا خو مصدر دي دېته مفعول فيه څنګه وائي؟ **جواب:** دا دي چې دا مفعول فيه دي په اعتبار د حذف د مضاف سره: اي وخت خلوهم وخت عدائهم دا جواب تسليمي چې منم دا حمل نه صحيح کيږي جوابونه دا دوه دي (٣) جواب منعی نه منم دا خبره چې حمل نه صحيح کيږي ځکه فرق دي ما بين د شي او مؤل بالشئ کې في الحال دا جمله حال دي بلا تاويله.

(وليس و لا يكون) مستثنى به منصوب وي وجوباً چې واقع شي پس د ليسَ او لا يكونُ نه ځکه ليسَ او لا يكونُ د افعال ناقصوو نه دي، او اسم چې واقع شي پس د دوی نه هغه به خبر وي او خبر د دي افعالو نه وي مگر منصوب ديته خبر او مستثنى ويل دواړه جائز دي ځکه په دي کې جهتين دي (١) د دي جهت نه چې متمم د کلام دي خبر دي (٢) د دي جهت نه چې حکم د ما بعد مغاير د ما قبل دي مستثنى ده، بيا دا افعال چې خلا عدا و ما خلا و ما عدا و ليسَ و لا يكونُ دي په مقام د استثناء کې چې واقع شي

غير متصرف فيها دي ځكه دا واقع دي په مقام د الاكي او الاحرف غير متصرف فيها دي دا هم غير متصرف فيها دي ځكه شي چې واقع شي په مقام د غير كي هغه حكم د غير اخلي لهذا تثنيه جمعيت تانيث ته ضرورت نشته دي او په مقام د استثناء كي چې نه وي بيا متصرف فيها دي (و اذا خلوا) هلته جمع شوي دي خلت الديار كي تانيث لګيدلي دي (۲) دا افعال چې واقع شي په مقام د استثناء كي استتار د ضمير فاعل واجب دي ځكه دا په مقام د الاكي دي او الاكي خو تصرف جائز نه دي دا هم حكمًا جامد دي (۳) دا افعال په مستثنى متصل كي مستعمليږي منقطع كي نه مستعمليږي ځكه په دي كي ضمير دي راجع دي ما قبل ته او په تركيب كي قيد د ما قبل دي ځانله مستقل كلام ندي دلالت كوي په دخول او خروج او مستثنى منقطع كي نه خروج وي او نه دخول (۴) دا افعال په مستثنى مفرغ كي نه مستعمليږي ځكه په دي افعالو كي ضمير دي ما قبل ته راجع دي تقاضا كوي ذكر د مستثنى منه او مستثنى منه چې حذف كړي بيا لازميږي اضمار قبل الذكر (۵) او يكونُ چې مستثنى مستعمليږي بي د الانه نه مستعمليږي دليل ورله سمع ده ځكه دي سره ولګوو لانافيه (و يجوز) سره غرض د ماتن بيان د قسم ثاني د مستثنى دي چې هغه اختيار د بدل او جواز د نصب دي (و يجوز) جائز دي (فيه) په دي مستثنى كي (النصب) نصب بنا بر استثنائيت (و يختار البدل) او مختاره دي بدل د بدل اعراب نه بيانوي ځكه اعراب د هغه په تبع د مبدل منه سره دي د مبدل منه چې څه اعراب وي هغه به په دې كې وي.

سوال: جواز د وجهينو ولې دي؟ **جواب:** ځكه مانع نشته د وجهينو نه.

سوال: بدل ولې مختار دي؟ **جواب:** ځكه بدل مستحق د اعراب بالاصالت دي ځكه په حكم د تكرير د عامل كي دي او مستثنى مستحق د اعراب دي بالتشبيه چې واقع دي په مرتبه دريمه كي مشابه دي مفعول به سره او اعراب بالاصالت اولى دي د اعراب بالتشبيه نه (۲) يا بدل معرب دي بي د واسطي نه ځكه په حكم د تكرير د عامل كي دي او مستثنى معرب ده په واسطي د الا سره او ارعراب بي د واسطي نه اولى دي د اعراب بالواسطه نه اوس د دي نوع محل كوم دي؟ په حال كون د دي مستثنى كي چې واقع وي (في ما) په هغه مقام كي او په هغه محل كي او په هغه ځاى كي (بعد الا) چې دا مستثنى واقع ده پس د الانه، چې دا مقام متاخر د الانه وي (في كلام غير موجب) او دا مستثنى به واقع وي په كلام غير موجب كي ځكه په كلام موجب كي بدل نه صحيح كيږي (و ذكر المستثنى منه) او حال دا دي چې مستثنى منه به ذكر شوي وي په لفظ كي او كه مستثنى منه محذوف وي بيا هغه نوع ثالث كي داخل دي چې معرب على حسب العوامل دي (فلا عمل فيه لالا و انما يكون العمل لها قبلها و من ثم سموه استثناءً مفرغًا لان ما قبلها قد تفرغ للعمل فيما بعدها و لم يشغله عنه شئ) نحو ما جاءني احد الا زيد مختاره ما جاءني احد الا زيدًا جائز، ما رأيت احدًا الا زيدًا منصوب اوائي بنا بر بدليت، مختاره او كه منصوب بي وائي بنا بر استثنائيت دا جائز، ما مررتُ باحدٍ الازيد مختار الازيداً جائز.

سوال: بيا په دي عبارت د ماتن باندي اعتراض دي په دي قاعده سره چې تعلق د جارينو د جنس واحد نه په يو عامل پوري دا په شريعت د نحو كي ممتنع دي ځكه دا مستلزم دي لغويت د احدهما لره

مررتُ بزيدٍ بعمروٍ دا ترکیب ناروا دي بلکه مررتُ بزیدٍ و عمروٍ به وائي اوس دلته دا دواړه في کاني ظرفیت دپاره دي او ظرف لغو دي متعلق دي یجوز پورې؟ **جواب**: دا دي هله به تا اعتراض کوه چې دا دواړه متعلق وي یجوزُ پورې بلکه هغه فیه ظرف لغو دي متعلق دي یجوزُ پورې او دا فیها ظرف مستقر دي متعلق دي واقعًا پورې.

سوال: بیا دا مَا عبارت د موضع نه وائي دا ما قبل ظرف صحیح شو لکن دا وروسته ظرفیت نه صحیح کیږي او که مَا عبارت د مستثنی نه وائي دا ما قبل ظرف نه صحیح کیږي؟ **جواب**: دا ما عبارت دی د موضع نه او دا هغه ظرف نه دي بلکه دا په معنی د متاخرًا سره دي په حال کون د دي مستثنی کي چې دا واقع وي (**في ما**) په هغه موضع کي چې دا موضع وروستي دي د الانه.

سوال: اوس کلام موجب کي بدل ولي نه جوړیږي؟ **جواب**: بدل په حکم د تکریر د عامل کي وي او په کلام موجب کي لازمیږي فساد د معنی په تکریر د عامل سره او کلام غیر موجب کي جوړیږي ځکه بدل په حکم د تکریر د اصل عامل کي دي اوس هغه اصل عامل را اوباسي بي د حرف نفي نه فساد د معنی نه راځي (**و ذکر المستثنی منه**) په حال کون د دي کلام کي چې مذکور وي مستثنی منه په دي کلام کي.

سوال: ماضي مثبت چې حال واقع شي لابدي ده د قد نه دلته قد نشته؟ **جواب**: دا منم چې لابدي ده د قد نه او دا قد عام دي لفظاً وي او که تقدیراً وي او دلته قد مقدر دي (**مثل**) مثال د دي نوعي لکه دا قول د الله تعالی شو (**ما فعلوه الا قلیل منهم**) مرفوع بنا بر بدلیت د ضمیر مرفوع د فعلوه نه مختار (**والا قلیلا**) منصوب بنا بر استثنائیت دا جائز دي، دا مثال ځکه کافیه ملا ذکر کړي دي چې په دي باندې ځه اعتراضونه دي او هغه مجاب دي، لکن جوابونو دپاره مخکي دا **قاعده** زده کړئ (۱) بدل په حکم د تکریر د اصل عامل کي دي (۲) بدل مقصود وي اصل نسبت سره قطع لحاظ د نفي نه (۳) بدل چې نکره واقع شي د معرفي نه نعت واجب دي په بدل کل کي او دا بدل بعض دي، اوس په دي سره اعتراضونه دفع شو.

سوال: نه وائي قلیل چې مرفوع شي دا بدل دی فعلوا د دي واو نه او بدل مقصود بالنسبة وي په دي شان سره کوم حکم چې نسبت یې مبدل منه ته شوي وي هغې سره دا بدل مقصود دي او دلته مبدل منه ته نسبت شوي دي عدم فعل لهذا دینه معلومه شوه چې عدم فعل سره مقصود قلیل دي نه ضمیر مرفوعه د فعلوا او دا بدل مقصود نه دي په عدم فعل سره بلکه مقصود دي په ثبوت د فعل سره. **جواب**: دا دي چې بدل مقصود وي په اصل نسبت سره او دلته دا مقصود دي په اصل فعل سره بي د نفي نه.

سوال: بدل په حکم د تکریر د عامل کي وي مبدل منه سره ما نافیه دي هغه به دلته هم را اوباسي نو شو عبارت دارنګه (ما فعلوه الا ما فعلوا قلیل) لازم شو فساد د معنی ځکه معنی د دي نفي د فعل ده د ضمیر د فعلوا نه او ثبوت د فعل دي قلیل دپاره او دلته نفي د فعل د دواړو نه راغله؟ جواب: بدل په حکم د تکریر د اصل عامل کي دي (اي ما فعلوه الا فعلوا قلیل).

سوال: دي کافیه ملا وروسته ویلي دي **و ان کان نکرةً من معرفةٍ فالنعت نحو بالناصیةِ ناصیةٍ کاذبةٍ** دلته واو ضمیر معرفه دي مبدل منه دي قلیل نکره بدل واقع شوي دي او نعت نشته دي؟

جواب: دا دی چې دا قاعده چې کافیه ملا ذکر کړي ده بدل کې دا هله چې نکره بدل کل واقع شي د مبدل منه معرفه نه نعت واجب دي او دا بدل بعضي دي نه بدل کل. قاضي شعیب صاحب تحریر د لاندي تحفه خادمیه کې د دي اعتراض نه جواب کړي دي معمی الفاظو سره (هذا في الکل من الکل لا الکلي و الکلُ ههنا في حیز المنع) یعنې تا چې کومه قاعده بیان کړي ده چې نکره بدل واقع شي د معرفي نه نعت واجب دي دا قاعده په بدل کل کې دي د کل مبدل منه نه په ټول بدل کې او بدل کل دلته ممتنع دي نه جوړیږي. (**و یعرب**) سره غرض د مصنف بیان د نوع ثالث د مطلق مستثنی دي، معرب کولي شي دا مستثنی (**علی حسب العوامل**) په تقاضا او په طلب د جنس عامل سره (۱) که جنس عامل تقاضا د رفع کوله مرفوع به وي (۲) او که تقاضا د نصب یې کوله منصوب به وي (۳) او که تقاضا د جر یې کوله مجرور به وي (**اذا کان الخ**) په هغه وخت کې چې مستثنی منه مذکور نه وي په کلام کې څکه مستثنی منه چې مذکور وي اعراب د هغې بیان شوي دي. هر کله چې مستثنی منه حذف شوه عامل فارغ شو مستثنی ته په تاثیر کې څکه دا معرب شوه په موافق د تقاضا د عامل سره دي متکلم ته مفرغ وائي او دي عامل ته مفرَغ وائي او دي مستثنی ته مفرغ له وائي دا لهُ دوئې خذف کوي تش مفرغ وائي د وجې د کثرت استعمال نه (**و هو غیر الموجب**) او حال دا دي مستثنی به واقع وي په کلام غیر موجب کې اوس دا وقوع د مستثنی په کلام غیر موجب کې ولې شرط دي (**لیفید**) دپاره د دي چې دا کلام مفید شي د معنی صحیح

سوال: ظاهر کې په دي عبارت د ماتن باندې اعتراض دي و یعرب کې دا واو عاطفه دي عطف دي په هغه منصوب باندې اي و هو منصوب و هو یعرب علی حسب العوامل عطف د جمله راغي په مفرد باندې دا باطل دي؟ **جواب** (۱) دي شارحینو خو دا جواب کړي دي چې هغه منصوب په معنی د ینصب سره دي عطف د جملي راغي په جملي باندې و مثلهُ قوله تعالی (صافات و یقبضن) (۲) لیکن اسان جواب دا دي چې دا واو عاطفه نه دي بلکه دا واو استنافیه دي دا ځائله جملهٔ مستانفه ده بیان کوي نوع ثالث د مطلق مستثنی.

سوال: حسب راغي په معنی د مقدار سره نو د دي معنی دا شوه معرب کولي شي دا مستثنی په مقدار او اندازهِ د عواملو باندې یعنې یو عامل وي یو اعراب وي او که دوه عامله وي دوه اعرابه به وي او که زیات عامل وي زیات اعرابه به وي بیا اعتراض دي چې آنِ واحده کې خو مستثنی باندې دوه یا دري اعرابه نه شي راتلي بیا د مقدار څه معنی؟

جواب: دا دي چې حَسب دلته په معنی د اقتضاء سره دي نه په معنی د مقدار سره؟.

سوال: بیا اعتراض دي چې عوامل جمع ده کم از کم دري عوامل به داخلوي بیا به یې معرب کوي موافق د تقاضا د عواملو و الا فلا؟ **جواب:** دا دي العوامل کې الف لام جنسي دي معنی د جمعیت باطلوي جنس عامل ترینه مراد دي (**لیفید**) دا جار مجرور متعلق دي مقدر پورې دلیل دي مدعی مقدري دپاره یعنې شرط کړه مونږ کون د کلام غیر موجب لیُفیدَ دي دپاره چې دا کلام مفید د معنی صحیح شي (**مثل**) مثال د دي لکه (**ما ضربني الا زید**) شو اي ما ضربني احد الازید مستثنی منه محذوف

دي چې احد دي او دا کلام غير موجب دي حقيقت کي ضربني لپاره فاعل احد او هغه حذف شو د هغې نه اوزګار شو دي زيد له يې رفع ورکړه او انتفاء د مصدر جميع افرادو نه ثبوت د مصدر فرد واحد لره دا کثير شائع دي په خارج کي نفي د ضرب راغي جميع افراد د احد نه او ثبوت د ضرب يو له راغي چې هغه زيد دي او دا معنی صادق وي، اوس که کلام موجب اوائي ضربني الا زيد دا کلام کاذب کيږي ځکه ثبوت د مصدر راغي جميع افرادو لره او نفي د مصدر راغي د يو فرد نه دا خارج کي نشته دي **(الا)** مګر شرط نه دي کلام غير موجب **(ان يستقيم المعنى)** که معنی د کلام موجب صحيح او صادقه وي يعنې مستثنی مفرغ په کلام موجب کي راځي که معنی يې صادق او صحيح وه اوس د دي صورتونه (٢) دي: (١) صورت دا دي چې دا مصدر به ثابت وي په خارج کي کل افراد د جنس لره او منفي به وي د يو فرد نه مثال د دي لکه کل حيوان يحرك فکه الاسفلُ الا التمساحُ چې هر حيوان خوزوي لاندېنی ژامه خوراك په وخت کي مګر يو ماهي دي په درياب کي چې د هغې نوم تمساح دي هغه دغه کار نه کوي، اوس ثبوت د مصدر راغي کل افرادو لره او نفي د مصدر راغله د يو فرد نه دا د مستثنی مفرغ مثال نه دي بلکه دا مثال دي د استقامت د معنی په کلام موجب کي او معنی صحيح دي دا نظير د مستثنی مفرغ دي. (٢) صورت د مستثنی مفرغ په کلام موجب کي چې حکم ثابت وي بعضو افرادو معين لره په قريني واضح سره لکه **(قرات الا يوم كذا)** اصلي ترکيب داسې ؤ قرات کلَ يومٍ الا يومَ کذاَ کله چې دا کلَ يومٍ مقدر شو دا عامل اوزګار شوي دي يوم کذا ته نصب يې ورله ورکړه، اوس دا ولي صحيح دي ځکه کلَ يومٍ نه ټول ايام د دنيا نه دي مراد بلکه په قريني د عرف سره ايام اسبوع يا ايام د شهر يا ايام د سنه مراد دي دا مثال د استقامت هم دي او مثال د مستثنی مفرغ هم دي، او دا فرق د کافيه ملا بنا دي په استعمال اغلب باندې ځکه قواعد د دوي جوړ دي د استعمال غالب د عربو نه غالباً په کلام موجب کي عدم استقامت دي ځکه دي حکم وکړه په غير موجب سره مطلقاً، او فرق په ما بين د مثالينو کي چې قراتُ الا يومَ کذاَ او ضربني الا زيد دي په اعتبار د وجود د قريني سره دي په دي مثالينو قرينه واضحه موجود دي چې هغه عرف عام دي او په هغه مثال کي قرينه واضحه نه ده موجود.

سوال: دلته تا په کلام غير موجب باندې حکم مطلقاً او په کلام موجب باندې تقيداً ولي وکړه او حال دا دي چې دواړه برابر دي د کلام موجب بعضي افراد کاذب دي لکه ضربني الا زيد شو او بعضي افراد صحيح دي لکه قراتُ الا يومَ کذا شو، دارنګه په کلام غير موجب کي بعضي افراد صادق دي لکه ما ضربني الا زيد شو، او بعضي افراد کاذب دي لکه ما ماتَ الا زيد شو؟ **جواب:** دا دي فرق او حکم چې ده کړي دي په کلام غير موجب کي مطلقاً او په موجب کي تقيداً دا په اعتبار د استعمال اغلب سره دي چې په کلام غير موجب کي غالباً استقامت دي او فساد د معنی مغلوب دی هغه يې دي کالعدم کړه ځکه يې هلته حکم مطلقاً وکړه يعنې استقامت د معنی يې شرط ونه لګوه او دلته غالباً عدم استقامت دي ځکه حکم يې تقيداً وکړه چې استقامت د معنی يې شرط ولګوه؟

سوال: دا ترکيب تا صحيح کړه او ضربني الازيددی کاذب کړه زه تانه تپوس کوم چې تاويل دواړو کې کوي او که نه که تاويل نه کوي دواړه کاذب دي او که تاويل کوي دواړه صادق دي ځکه ضربني کل احد الازيدا کې د دي کل احد نه بعضي معين واخله او يو جماعت واخله بيا دا هم صادق دي؟

جواب: دا دي چې دا فرق هم بنا دي په وجود د قرينې باندې چې قرات الايوم کذا دا ترکيب چې عرب مستعملوي عرف عام قرينه ده چې دينه ايام د اسبوع يا د شهر مراد دي او ضربني الازيد دلته قرينه نه ده موجود چې د دي کل احد نه بعضي معين مراد دي **(ومن ثم)** د دي وجې نه چې شرط دي دپاره د استقامت د معنی غير موجب **(لم يجز)** جائز نه دي يعني صادق نه دي دا ترکيب چې **(ما زال زيد الا عالما)** دي ځکه دا اګر که منفي دي لفظاً لکن موجب دي معنی او معنی يې مستقيمه نه ده کاذبه ده او قرينه په تعين نشته دي

سوال: نه وائي دا کلام موجب دي دا خو کلام غير موجب دي ځکه د کلام اول سر کې حرف نفي راغلي دي چې مَا دي؟ **جواب:** دا دي چې دا اګر که غير موجب دي په اعتبار د لفظ سره لکن موجب دي په اعتبار د معنی سره ځکه د دي معنی دا ده هميشه دي زيد متصف په کل صفاتو باندې الامګر متصف نه دي په علم سره يعني يو علم پکې نشته دي نور ټول صفات پکې موجود دي او دا معنی باطل ده او کاذب ده ځکه (١) اتصاف د زيد په کل صفات سره ماسوا د علم نه دا مستلزم دي اجتماع د نقيضينو لره ځکه کل صفات کې خو سخاوت او عدم سخاوت هم دي (٢) ثبوت دائماً دا هم ممتنع دي

سوال: بيا په دي باندې اعتراض دي هغه صفات چې ممکن الوجود دي په زيد کې هغه ټول موجود دي ماسوا د علم نه دا تاويل پکې وکړه بيا دا کلام صادق دي؟ **جواب:** دا دي تاويل هسې خيراتي نه کيږي بلکه دا تاويل بنا دي په قرينې واضحې او دلته قرينه واضحه دپاره د تاويل نشته دي

واذا تعذر البناء هر کله چې وارد ؤ اعتراض په متن باندې په دي شان سره چې قسم ثاني کې جواز د نصب او اختيار د بدل دي دا قاعده ستا منقوضه شوه په دي تراکيبو باندې چې دلته بدليت ممتنع دي مصنف راغی جواب يې وکړه د دي اعتراض نه، او هر کله چې دلته مستثنی معرب علی حسب العوامل وه په دي شان سره چې عامل لفظي پکې عمل نه شي کولي عامل معنوي پکې عمل کوي پس ذکر يې کړه وروستو د قسم ثالث نه اګر که افراد د قسم ثاني نه دي

سوال: دا جزئيات او افراد د قسم ثاني دي هغې پسې به يې ذکر کړي وي دي قسم ثالث پسې يې ولي ذکر کړه؟ **جواب:** دا دي چې د دي تراکيبو دواړو سره مناسبت دي من وجه مناسب دي د قسم ثاني سره چې دا د هغې د افرادو نه دي او من وجه مناسب دي د قسم ثالث سره چې معرب علی حسب العوامل دي په اعتبار د محل سره ځکه يې دا دي پسې ذکر وکړه. کله چې ممتنع وي بدليت د مستثنی د مستثنی منه **(علی اللفظ)** په اعتبار د حمل د مستثنی په لفظ د مستثنی منه باندې **(فعلی الموضع)** محمولولي به شي يعني بدل به ګرځولي شي دا مستثنی د محل د مستثنی منه نه په محل د مستثنی منه کې چې کوم عامل وي هغه به په دي کې عامل وي د وجې د حمل د ترکيب نه په وجه مختاري باندې بقدر الامکان

سوال: بدليت د لفظ نه چې ممکن نه دي بيا سره بدل مه وايه؟

جواب: بدل وايم د محل نه چې عمل راشي په وجه مختاري باندې بقدر الامكان (**مثل**) مثال لكه (**ما جاءني من احد الا زيد**) شو الازيداً بنا بر استثنائيت او الازيد بنا بر بدليت.
سوال: كه ته وائي بدل دی د احد نه دا نه دی صحيح ځكه كه د هغې نه بدل وي مجرور به وو؟
جواب: دا بدل دي د احد نه په اعتبار د محل سره چې محل د هغې رفع دي
(ولا احد فيها الا عمرو) نصب جائز دي بنا بر استثنائيت او رفع مختاره ده ځكه دا عمرو بدل دي د احد نه په اعتبار د محل بعيده سره ځكه دا عمرو په اعتبار د محل بعيده سره مبتدأ ؤ او دا عمرو بدل نه واقع كيږي د احد نه په اعتبار د لفظ سره هم او په اعتبار د محل قريبه سره هم د وجې د وجود د مانع نه **(وما زيد شيئا الا شئ لا يعبأ به)** زيد هيڅ شي نه دي مگر داسې شي دي چې خلق ورله اعتبار نه وركوي يعني سپك نظر سره گوري پوره انسانيت نظر سره نه گوري. دا شئ ثاني بدل دي د شئ اول نه په اعتبار د محل سره چې دا پخوا خبر د مبتدأ ؤ مرفوع ؤ، او ذكر كړه مصنف دا قيد چې لايعبأ به دي په بعضو نسخو كي لپاره دفع د توهم هغه توهم دا دي چې لازم نه شي استثناء د شئ د نفس خپل نه ځكه شئ ثاني او شئ اول كي عينيت دي په اعتبار د ظاهر سره لايعبأ به ذكر كړه استثناء د خاص راغله د عام نه، او كومو نسخو كي چې دا قيد نه دي ذكر هلته هم استثناء د خاص ده د عام نه، كوم شيئاً چې په جانب د مستثنى منه كي ذكر دي هغه عام دي ارادة چې متصف ماسوا د شيئيت سره وي او كه نه وي او كوم شيئاً چې په جانب د مستثنى كي ذكر دي هغه خاص دي چې متصف ماسوا د شيئيت نه نه دي، په دي نسخه كي لحاظ د مبتدي دي او هغه نسخه كي چې دا قيد نشته دي لحاظ دي د منتهي.
سوال: مثال دي الاشيئاً پورې پوره شو دي لايعبأ به ته څه ضرورت دي؟ **جواب:** نسخې د كافيه ملا دوه دي بعضو نسخو كي دا قيد نشته دي بعضو نسخو كي دا قيد دي كومو نسخو كي چې دا قيد نشته دي په هغوی باندې اعتراض نه دي وارد او كومو نسخو كي چې دا قيد دي په هغوی باندې دا اعتراض دي د هغې نه **جواب:** دا دي چې دا قيد ماتن ذكر كړي دي لپاره دفع د توهم د استثناء د شئ الى نفسه
سوال: دا نسخه خو تا ټيك كړه كومو نسخو كي چې دا قيد نشته هلته استثناء د شئ د نفس خپل نه راغله؟ **جواب:** كومو نسخو كي چې دا قيد نشته دي په هغې كي هم استثناء د خاص د عام نه ځكه اول شئ په مرتبه د لابشرط الشئ كي دي دا عام دي دويم شئ په مرتبه بشرط لاكي دا خاص دي استثناء د شئ من نفسه رانغله.
سوال: بيا دي قيد ته څه ضرورت دي بې د دي قيد نه عبارت ټيك دي؟ **جواب:** دا دي چې دا نسخه په نسبت سره مبتدي ته ده چې اعتبار عقلي باندې نه پوهيږي چې په جانب د مستثنى منه كي عموم ارادةً دي او په جانب د مستثنى كي خصوص ارادةً دي او هغه نسخه په نسبت سره منتهي ته دي چې هغه په اعتبار عقلي باندې پوهيږي اوس هغه مانع بيانوي چې دا مستثنى د لفظ د مستثنى نه بدل ولي ناروا دي اول مثال كي مانع دا من دي دي وائي (**لان الخ**) لكن جواب دپاره مخكي (٣) خبري زده كول ضروري دي (١) بدل په حكم د تكرير د عامل كي دي (٢) من زائد بعد النفي راځي (٣) ما ولاس

د الانه نه راځي (لان من) کلمه د من استغراقي (لا تزاد) نه شي زياتي کولي (بعد الاثبات) پس د اثبات نه
څکه دا وضع شوي دي چې دي به زائد کيږي پس د نفي نه دپاره د استغراق او تاکيد د نفي لهذا پس د
اثبات نه نه شي زياتي کولي اوس که دا بدل شي لفظ د احد نه دا من به مقدر کوي او زياتي کوي دي
زيد سره او دلته تقدير د دي ممتنع دي څکه الاناقض د نفي دي او من په اثبات کي نه زياتي کيږي
څکه من استغراقي واضع وضع کړي دي چې دا به زياتي کوي پس د نفي نه دپاره د تاکيد او استغراق
د نفي او الانه وروستو اثبات دي، من استغراقي قيد ولګوو دپاره د دفع د اعتراض
سوال: چې ته وائي من زائده په اثبات کي نه راځي؟ دا ترکيب جائز دي قد کان من مطر او دا من زائد دي او ته وائي من زائد په کلام مثبت کي نه راځي په کلام منفي کي راځي قد کان مطر په دي کي
جواب: دا دی چې دلته مطلق من زائد نه دي مراد من زائده استغراقي مراد دي او مطلق من زائده کي
اختلاف دي بصريان وائي په موجب کي زائد راځي
(و ما و لا) کلمه د ما ولا په دي دوه مثالونو کي **(لا تقدران)** نه شي مقدر کولي په حال کون د دوی کي
(عاملتين) چې دوی مؤثر واخلي **(بعده)** پس د الانه څکه بدل په حکم د تکرير د عامل کي دي دا عمرو
بدل د احد نه وائي او دا شيئا بدل د شيئا نه وائي دا ما او لا به وروستو د الانه را اوباسي مؤثرتين قيد
يې څکه ولګولو که عمل ورله نه ورکوي ما او لا زائد را اوباسي پس د الانه بيا منافات نشته لکن بدل
نه جوړيږي، علت دپاره د تاثير نفي ده بالذات عامل نه دي څکه الاناقض د ما قبل دی ماقبل کي نفي
وی دی به اثبات فائده کوی او که ماقبل کي اثبات وی دی به نفي فائده کوی
سوال: علت د عمل دپاره نفي ولي دي؟ **جواب:** دا ما ولا څکه عمل کوي چې دا مشابه دي ليس سره په
نفي کي او دخول د جمله اسميه کي کله چې د الانه وروسته واقع شي بيا دا نفي لاړه هر کله چې نفي
لاړه مشابهت هم لاړه، او لالنفي الجنس څکه عمل کوي چې دا مشابه دي آن سره لفظاً په فتحي د
اول کي او معناً په تاکيد کي هغه تاکيد د اثبات کوي او دي تاکيد د نفي کوي کله چې نفي لاړه د
وجې د وقوع نه بعد الاهغه تاکيد لاړه نو عمل نه شي کولي د وجې د انتفاء د علت د تاثير نه چې هغه
مشابهت دي آن سره او بدليت محمول نه شو د محل قريبه د لانه چې هغه نصب دي بلکه بدل دي د
محل بعيده نه څکه محل قريبه کي هم عامل لا دي او پس د الانه لا عمل نه شي کولي. اندفع ما
قيل، لما احد فيها الاعمرو کي دا عمرو بدل دي د محل بعيده د احد نه چې هغه رفع ده بنا بر
ابتدائيت بدل د محل قريبه نه يې ولي نه جوړوي
سوال: ليس کي هم نفي ده او ما و لا کي هم نفي ده او ليس پس د الانه عمل کولی شي او دا نه شي
کولي دلته بدل د لفظ نه جائز دي او هلته بدل د لفظ نه جائز نه دي د دي څه وجه ده؟ **جواب:** **(بخلاف)** دا
دواړه متلبس دي په مخالفت د **(ليس زيد شيئا الا شيئا)** کي په دي شان سره هلته بدل د لفظ نه جائز نه دي
او دلته جائز دي دا شي ثاني بدل دي د لفظ د شي اول نه
سوال: دلته لازم شو استثناء د شي د ځان نه؟ **جواب:** دا دي چې دي شيئا سره يو قيد دي لا يعبأ به استثناء
د خاص ده د عام نه يا استثناء د مقيد ده د مطلق نه **(لانها)** دا کلمه د ليس عمل کوي **(للفعلية)** فعليت د

وجې نه، نه د وجې د نفي نه، خلاصه د جواب دا ده چې دلته علت د عمل باقي دي او هلته علت د عمل باقي نه دي (فلا اثر) نشته دي تاثير (فيها) په انتقاض د عمل د ليس کي ځکه الانا قض د نفي دي ناقض د فعليت نه دي (لنقض معنى النفي) لپاره د ماتيدو د معنى د نفي دا نقض د معنى د نفي او انتفاء د معنى د نفي دا مانع د عمل نه دي ولي ځکه علت د عمل باقي دي (لبقاء الامر) د وجې د بقاء د علت نه مسې علت (العاملة) چې دا عامل دي او مؤثر دي (لاجله) د وجې د هغه علت نه چې هغه فعليت دي نو بدل په حکم د تکرار د عامل کي شو

سوال: د ليس نه چې نفي لاړه پس د الانه دا عامل بيا څنګه شي پاتې شو دا نفي لازم ده او ليس ملزوم دي او انتفاء د لازم سره انتفاء د ملزوم راځي دا ترکيب خو نه شي ويلي ليس زيد شيئًا الاليس شيئًا؟ **جواب:** دا دي چې دا ليس د دوی په اصطلاح کي په حين د عمل کي په معنى د ما کان سره دي، ما چې لاړه الاسره کان پاتې شو ليس زيد شيئًا الاشيئًا د دي معنى دا ده ما کان زيد شيئًا الاکان شيئًا تکرير د عامل ممکن شو.

سوال: د کافيه ملا عبارت ته ګوري (الامر) دا موصوف دي او (العاملة) ورله صفت دي مطابقت را نغي مابين د موصوف او صفت کي؟ **جواب:** دا دي چې نعت (٢) قسمه دي: (١) نعت بحاله (٢) بحال متعلقه او دا العاملة نعت بحال متعلقه دي او نعت بحال متعلقه پنځه امورو کي د ما قبل تابع دي اعراب او تعريف تنکير کي او په افراد تثنيت او جمعيت او تذکير او تانيث کي د ما بعد تابع وي.

سوال: دا هي ضمير فاعل دي او مسئله دا ده ولايسوغ المنفصل الالتعذر المتصل او دلته اتصال متعذر نه دي دا انفصال ولي راغي؟ **جواب:** دا دي چې فعل او مستثنى جاري شي په غير من هي له باندې او مين هي له دوی فاعل ته وائي، هلته کي د دي فعل او مستثنى لپاره فاعل ضمير منفصل راځي لکه هند زيد ضاربة هي دا د هغې قاعدې لاندې داخل دي، اوس التباس وي او که نه وي (و من ثم) د دي وجې نه چې ما و لاعمل کوي د نفي د وجې نه او ليس عمل کوي فعليت د وجې نه نه د وجې د نفي نه (جاز) جائز دي دا ترکيب چې (ليس زيد الا قائما) دي چې دا قائما منصوب دي خبر د ليس دي ځکه ليس پس د الانه هم عمل کولي شي (و امتنع) او ممتنع دي دا ترکيب چې (ما زيد الا قائما) دي چې دا قائما منصوب دي خبر د ما دي ځکه ما پس د الانه عمل نه شي کولي

سوال: د دې مسئلې او ما قبل مسئلې فرق څه دی؟ **جواب:** هلته فرق ثابت کړه په تابع کي او معرب بالتبع کي او دلته فرق ثابتوي په معرب بالاصالت کي (و مخفوض) سره غرض د مصنف بيان د قسم رابع د مستثنى دي دا مستثنى به مجروره وي وجوبًا، هغه منصوب باندې عطف کوي او که ځانله جمله مستانفه وائي دواړه جائز دي، برابر خبره ده چې جر بالحرکة وي او که بالحرف وي (بعد غير) پس د کلمي د غير نه چې واقع شي (و سوى) او پس د کلمي د سوى نه واقع شي (و سواء) او پس د کلمي د سواء نه واقع شي ځکه دا کلمات به مضاف وي او مستثنى به مضاف اليه وي او اعراب د مضاف اليه نه وي مګر جر نحو جاءني القومُ غيرَ زيدٍ جاءني القوم سوى زيدٍ جاءني القوم سواءَ زيدٍ او اطلاق د مستثنى کيږي ځکه حکم د ما بعد حکم مغاير دي د ما قبل نه او مضاف اليه هم ځکه نسبت د شي

شوي دي په واسطې د حرف جر سره تقديراً **(و بعد حاشا)** دا مستثنى به مجرور وي چې واقع شي پس د کلمې د حاشا نه **(في الاكثر)** په اکثر استعمالات د عربو کې ځکه حاشا په اکثر استعمال د عرب، کې حروف جارو غير مشهورو نه دي او اثر د حرف جر نه دي مگر جر دي په مدخول کې او اقل استعمال د عربو کې مستثنى منصوب وي وروستو د حاشا نه بنا بر مفعول به. هذا هو الصحيح و لم يجوز سيبويه في المستثنى بعد غير النصب لانه يرى انها لاتكون الا فعل و لا في المستثنى بحاشا غير الجر لانه يرى انها لاتكون الاحرفاً

سوال: مخفوض مشتق دي د خفض نه او خفض د دوی په اصطلاح کې جر بالحرکة ته وائي او ته وائي مستثنى به مخفوض وي يعني مجرور به وي جر بالحرکة سره جاءني القوم غير زيدٍ خو داخل شو جاءني القومُ غير زيدينِ ترينه اووته، ځکه دا مجرور بالحرکة نه دي بلکه مجرور بالحرف دي؟ **جواب**: دا دي ذکر د خاص دي چې خفض دي مراد ترينه عام دي چې جر دي

سوال: حاشا چې کله فعل شو مستثنى منصوب شوه بنا بر مفعول به او دي حاشا دپاره فاعل څوک شو؟ **جواب**: فاعل ضمير مستتر دي چې هغه هو دي

سوال: بيا هغه ضمير چا ته راجع دي؟ **جواب**: دا ضمير راجع دي الله ته اضمار قبل الذكر نه راځي ځکه الله ملفوظ دي په قلوبو د مؤمنانو کې جاءني القومُ حاشا زيداً د دي معنى دا ده الله پاك کړيې دي د هغه نسبت د مستثنى منه نه دا زيد (٢) يا راجع دي جائي ته، يا بعضي مطلق ته چې پاك دي دا جائي يا بعضي مطلق د زيد نه. د مستثنى اعراب يې بيان کړه او الاحرف دي دا خو قابل د حرکت نه دي د هغه يې ځکه بيان ونه کړه اوس د دي غير او سوی او سواء اعراب څه دی د هغې بيان اعراب بيانوي **(و اعراب غير)** (١) غير وائي هم جائز دي (٢) او که غيرَ وائي هم جائز دي ځکه که دا غير علم کړي په تاويل د کلمة سره غير منصرف دي او که علم يې نه کړي منصرف دي، اعراب د کلمه د غير **(فيه)** په باب د استثناء کې، ځکه که صفت واقع شي هلته اعراب د دي به معلوميږي د اعراب د موصوف نه **(كاعراب المستثنى بالا)** په شان د اعراب د مستثنى په الاسره **(على التفصيل)** په تفصيل مذکور باندې چې مستثنى واقع شي پس د الانه د هغې اعراب دري قسمه تير شو هغه دري قسمه اعراب په دي غير کې راځي (١) منصوب وجوباً نحو جاءني القومُ غير زيدٍ جائز (٢) جواز د نصب اختيار د بدل نحو ما جاءني القوم غيرُ زيد (مختار) غيرزيد جائز ما ضربتُ احداً غير زيدٍ (٣) معرب على حسب العوامل نحو ما جاءني غيرُ زيدٍ ما ضربتُ غيرِ زيد، ځکه هر کله چې مستثنى مجرور شو وروستو د غير نه بنا بر اضافت نقل شو هغه اعراب د مستثنى غير ته او غير صالح د اعراب دي مانع د اعراب نه نشته دي.

اوس بيانوي معنى حقيقي او معنى مجازي د الا **(وغير)** کلمه د غير، دا ترجمه ځکه کوو چې غير مبتدأ ده او صفت ورله خبر دي او نکره مبتدأ نه واقع کيږي دا مراد اللفظ علم دي دپاره د هغه غير چې هغه په تراکيبو کې واقع کيږي **(صفة)** هغه اسم دي چې دلالت کوي په ذات مبهمه باندې ماخوذ او معتبر وي ورسره يو صفت د صفاتو نه هغه تعريف به دي غير باندې صادقيږي **(حملت)** مستعمل کولې شي دا

په د غیر (علی الا) په شان د استعمال د الاچې وضع شوي دي لپاره د استخراج (في الاستثناء) په باب د استثناء کي مجازاً د وجې د تعذر د معنی حقیقي نه نحو جاءني القومُ غیر زیدٍ اي الازیدٌ، علاقه دل د نظیر په نظیر چې دواړه دلالت کوي په مغایرت د مابعد د ما قبل نه

سوال: د حمل يوه معنی صدق او ثبوت دي چې يو شي بل شي له ثابتوي د دي حمل په صله کي علی کي مدخول د علی محکوم علیه او مبتدأ وي ستا د دي عبارت نه معلومه شوه چې الا به مبتدأ وي غیر به خبر وي دا ترکیب خو اډو شته دي نه؟ جواب: دلته حمل په معنی د استعمال سره دي نه په معنی د ثبوت او صدق سره اوس اشاره کوي چې دا استعمال مجازي د جانبینو نه دي (کما حملت) په مستعمل کولي شي (الا) کلمه د الا (علیها) په شان د استعمال د غیر (في الصفة) په مقام د صفت کي نحو جاءني رجل الازید دلته دا کلمه د الا په معنی د غیر سره ده اي غیر زیدٍ سوال: کله چې کلمه د الا معنی د غیر سره شي ما بعد کي به اعراب څه وي؟ جواب: په اعراب د منعوت سره

دي سره دفع د اعتراض وشوه چې دا کلام موجب دي او مستثنی منه مذکور دي دا بدل هم نه جوړیږي که بدل په حکم د تکریر د عامل کي وي دلته بیا لازمیږي فساد د معنی؟ جواب: دا دي چې مستثنی واقع شي وروستو د الااستثنائي نه په کلام موجب کي او مستثنی منه مذکور وي هلته نصب واجب دي او دلته دا الا استثنائي نه دي بلکه الاصفتي دي او الاصفتي نه وروستو چې کوم اسم واقع شي هغه په اعراب د منعوت سره وي. شرط لپاره د کون د غیر په معنی د الا سره تعذر د حقیقت دي فقط نحو ما جاءني القومُ غیرَ زیدٍ غیر په معنی د الاسره دي نعتیت نه صحیح کیږي او شرط لپاره کون د الا په معنی د غیر سره ظاهر کي دري دي یعني حقیقت کي دي لپاره هم شرط تعذر د حقیقت دي او تعذر د حقیقت لپاره دري اسباب بیانوي (اذا کانت تابعة) کله چې دا کلمه د الا واقع شي (لجمع) وروستو د متعدد نه لپاره د دې خبرې چې دا حالت استعمال مجازي موافق شي د حالت استعمال حقیقي سره (تابعة) په معنی د واقعه سره دي، لجمع کي لام په معنی د بعد سره دي او جمع نه مراد دي متعدد

سوال: نه وائي الا به تابع وي جمع لپاره او الا حرف دي تابع نه واقع کیږي د توابعو خمسوو نه څکه تابع په اعراب د متبوع سره وي او حرف قابل د اعراب نه دي لهذا دا تابعة عبارت غلط دي؟ جواب: دلته مجاز مرسل دي ذکر د ملزوم چې تابعةٌ دي مراد ترینه لازم چې واقعةٌ دي څکه تابعیت سره وقوع لازم ده.

سوال: نه وائي دا چې واقع وي وروستو د جمع نه حکم هکذا دي او دا الاچې پس د اسم جمع نه واقع وي هم حکم دغه دي او دا الاچې پس د تثنیه نه واقع شي هم حکم دغه دي؟ جواب: دلته هم مجاز مرسل دي چې ذکر د ملزوم دي چې جمع ده مراد ترینه لازم دي چې متعدد دي (منکور) دا جمع به منکور وي مبهم به وي مصداق به یې معین نه وي (غیر محصور) معلوم العدد به نه وي، یعني عدد د دي به معلوم نه وي د دي دواړو شرطونو علت یو دي ولي که دا شرط نه شي تعذر د استثناء نه راځي (لتعذر الاستثناء) د وجې د تعذر د استثناء نه چې د استثناء دواړه نوعین ممتنع دي ولي ممتنع دي څکه مستثنی (۲) قسمه ده (۱) متصل (۲) منقطع، متصل کي علم یقین په دخول شرط دي او منقطع کي علم یقین په

عدم دخول شرط دي، اوس دلته کي دا نکره غیر محصور وي نه علم يقين په دخول شته او نه علم يقين په عدم دخول شته لهذا دواړه نوعين د مستثنى نه جوړيږي څکه دا الا په معنى د غير سره دي. د دي منکور معنى خو ظاهر ده د دې محصور څه معنى ده؟

جواب: الاشياء تعرفُ باضدادها محصور د دوی په اصطلاح کي (۲) قسمه دي (۱) جنس مستغرق (۲) بعضي معلوم العدد نحو كل رجل ياتيني الازيداً دا جنس مستغرق چې ټول افراد مراد دي. لفلان علي عشرة الاواحداً دا بعضي معلوم العدد دي اوس نه جنس مستغرق دي او نه بعضي معلوم العدد دي دا غير محصور دي (**مثل**) مثال د دي لکه دا قول د الله تعالى شو (**لو كان فيهما آلهة الا الله لفسدتا**) اي غير الله دلته دا الا په معنى د غير سره دی، دريٍ واړه شرطونه موجود دي چې دا کلمه د الاواقع ده (۱) پس د متعددنه (۲) منکور (۳) غير محصور نه چې آلهة دي دا الهه متعدد دي څکه جمع ده نکره دي څکه يو د معارف سته ؤ نه ندي او غير محصور دي څکه نه جنس مستغرق دي او نه بعضي معلوم العدد دي او دا حکم په اعتبار د غلبي سره دي او غالباً قواعد مستنبط د استعمال الاغلب نه دي.

سوال: ستا د دي عبارت نه معلومه شوه چې الاواقع شي پس د جمع منکور غير محصور نه دا الا په معنى د غير سره دي د وجې د تعذر د استثناء نه دا قاعده جامع هم نه ده او مانع هم نه ده (۱) يو ځاى کې د دې الانه مخکې نکره ده غير محصور ده او مستثنى پکې ممتنع نه ده نحو جاءني رجال الازيداً رجال نکره متعدد غير محصور دي او استثناء جوړيږي لهذا ستا قاعده جامع نه شوه (۲) دويم ماده د نقض يو ځاى کي د الانه مخکي نکره محصوره ده بيا هم الا په معنى د غير سره دي او استثناء نه جوړيږي نحو جاءني مائة رجلٍ الاواحد مائة رجل محصور دي او استثناء پکې متعذره ده بلکه دا الا په معنى د غير سره دي؟

جواب: دا دي چې دا حکم په اعتبار د غلبي سره دي او قواعد د کافيه ملا جوړ شوي دي د استعمال اغلب نه او استعمال اغلب دا دي چې دا دري شرطونه وي دا الا په معنى د غير سره دي او استعمال اغلب کي دا دري شرطونه چې موجود نه وي دا الا په معنى د غير سره نه راځي او دا دوه مادي شاذي دي هغې له اعتبار نشته اوس جاءني رجال الازيداً کي د دي رجال نه متکلم هغه رجال مرادوي چې زيد پکې داخل دي متصل وي او که د دي رجالو نه د متکلم هغه رجال مراد وي چې زيد پکې نه دي داخل منقطع دي، دې بل کي جاءني مائة رجلٍ الاواحد استثناء ولي ممتنع ده؟

جواب: ما قبل د الااګر که محصور ده لکن دا په هغه ځاى کي چې د متکلم عمل يقين نشته نه په دخول باندې او نه په عدم دخول باندې، مثال د دي لکه دا ايت د الله تعالى شو چې الاواقع دي پس د جمع نه او هغه جمع نکره غير محصور ده مستثنى پکې په اعتبار د قسمينو سره متعذر ده. (۲) دليل دوى دلته دا بيانوي چې دا الا په معنى د غير سره دي څکه که دا الااستثنائي شي بيا معنى نه صحيح کيږي څکه د آيت مدلول توحيد مطلقه دي اوس که دا الا په معنى حقيقي سره شي د آيت مدلول توحيد مطلقه نه کيږي نفي د آلهوو مقيده راغله او مقصود نفي د آلهه ؤ مطلقه ؤ

سوال: ترخیم مصدر متعدي دی او مصدر متعدي مضاف کیږي کله فاعل ته او کله مفعول ته او دلته اعتراض اضافة مفعول ته کوی حذف کول د متکلم منادی لره او دا معنی باطل ده لهذا دلته اضافة نه ده صحیح دی او نه مفعول ته؟ **جواب:** اضافة د مصدر متعدی فاعل یا مفعول به ته حقیقةً دی او کله کله اضافة د مصدر کیږي مفعول فیه ته مجازاً او دلته اضافة شوی دی مفعول فیه ته

سوال: ترخیم د منادی دوه قسمه دی (۱) جائز (۲) واجب، او ته یواځې جائز وایې؟

جواب: دلته دا جائز په معنی د واقع سره دی (۲) یا جواز په مقابل د امتناع کې دی **وفي غيره** حذف کول د اخیر په غیر د منادی کې واقع دی موجود دی **ضرورة** دوجې د ضرورت شعري نه که ضرورت شعري تقاضا اوه ترخیم به کوی او که ضرورت شعري تقاضا نه وو ترخیم به نکوی، ترخیم په منادی کې مطلقاً جائز دی یعنې په نثر کې هم جائز دی او شعر کې هم جائز دی ځکه مقصود په نداء کې جواب د نداء وی په منادی چې دا متکلم زر فارغ شي د غیر مقصود نه مقصود ته چې هغه جواب دی. مثال د ترخیم في غیره لکه دا قول د شاعر شو:

لیارُمَیت اذمیة تصاحبنا لا یری مثلها عرب ولا عجم

کلي د معشوقي نه دی لیدلی مثل د دی کلی نه عربو او نه عجمو ولې نشته دی اذمیه تصاحبنا ځکه دی میه مونږ سره ملگرتیا کړی ده اذمیه اصل کې اذمیت پدې کې ترخیم شوی دی د وجې د ضرورت شعري نه وهو (۱) دا ترخیم د منادی چې مذکور د ی صراحة او مقصود بالبحث دی په اصطلاح د نحات کښې **حذف** حذف کول او اسقاط د متکلم دی یو جز لره **في اخره** په اخر د منادی کې **تخفيفا** لپاره د مجرد **تخفیف** بې د علته موجبه للحذف نه او بې د قانون صرفی نه او تعریف د مطلق ترخیم ترینه معلومیږي بالمقایسه (۲) یا وهو دا مطلق ترخیم چې مذکور دی په ضمن د دې منادی کې او **مبحوث** دی په ضمن د منادی کې ځکه مطلق مذکور وی په ضمن د مقید کې حذف حذف کول د متکلم دی حرف اخر د اسم تخفیفاً محض لپاره د تخفیف بې دقانون صرفی نه او تعریف د ترخیم د منادی معلوم شو بالمقایسه

سوال: دا هو ضمیر چا ته راجع کوی مطلق ترخیم ته راجع کوی او که ترخیم د منادی ته دواړه باطل دی که ته وایې دا ضمیر راجع دی ترخیم د منادی ته او دا تعریف د ترخیم د منادی دی بیا اعتراض دا دی چې معرفة د خاص موقوف دی په معرفة د عام پورې د انسان معنی به مونږ هله اوپیژنو چې اول مونږ د حیوان معنی او پیژنو دارنګې ترخیم دمنادی تعریف به مونږ هله اوپیژنو چې اول مونږ د مطلق ترخیم تعریف اوپیژنو ځکه دا عام دی او معرفت د خاص موقوف وی په معرفت د عام پورې، او که ته وایې دا ضمیر راجع دی مطلق ترخیم ته او دا تعریف د مطلق ترخیم دی بیا اعتراض دا دی (۱) چې مطلق ترخیم مذکور نه دی اضمار قبل الذکر لازم شو او اضمار قبل الذکر جائز نه دی (۲) دا مطلق غیر مقصود دی تعریف د غیر مقصود اوشو (۳) د مطلق ترخیم چې تعریف دا شو د ترخیم د منادی تعریف څه دی؟ **جواب:** دا دی چې دا هو ضمیر راجع دی ترخیم د منادی ته دا تعریف دی د ترخیم د

جواب: شرط په مستثنی منه کي عموم دي په اعتبار د لفظ سره او شرط په مستثنی کي خصوص دي په اعتبار د لفظ سره او په اعتبار د مصداق سره عموم وي ډيره ښه ده او که نه وي بيا څه نقصان نشته دي، اوس اعراب د هغه عصام ملاخو څرګند دی چې دا مبتدأ ده خبر مقدم لپاره جمهور او د مصنف په نزد باندې مرفوع ولي شو جمهور وائي دا الا په معنی د غير سره نعت دي اله لپاره د هغې اعراب نقل شوي دي ما بعد ته او نعت د لفظ نه او محل قريبه نه هم نه صحيح کيږي ځکه په هغې کي عامل لا دي او بدل په حکم د تکرير د عامل کي وي او لا پس د الا نه عمل نه شي کولي لهذا دا نعت دي د محل بعيده نه چې هغه مرفوع دي بنا بر ابتدائيت

سوال: هغه خو په فتحي سره دي بيا دا ولي مرفوع شو؟ **جواب:** دا قاعده ده وَاذَا تعذرَ البدلُ على اللفظ فعلى الموضعِ کله چې بدليت د لفظ نه متعذره شي بدل به واقع کوي د محل نه دلته دا بدل واقع شوي دي د محل بعيده نه او (لو کان فيهما آلهة الا الله) دلته کي مشهوره دا ده چې دا الا په معنی د غير سره دي دا الله دلته مرفوع دي ځکه دا نعت دي

سوال: آلهه مذکر جمع ده الله مفرد مذکر دي دا مفرد مذکر څنګه نعت واقع کوي د جمع مذکر لپاره نعت او منعوت کي خو مطابقت شرط دي؟ **جواب:** دا دي چې اصل کي نعت غير دي او د الله نعت دي مجازاً او نيابةً د هغه غير اعراب نقل شوي دي ديته او غير مخفف دي دا غير نه او اسم تفضيل مضاف کي مطابقت او عدم مطابقت دواړه جائز دي

سوال: بيا دي الله ته بدل ولي نه وائي چې نعت وائي دا؟ **جواب:** دوی کوي چې بدل نه صحيح کيږي ځکه بدل په کلام غير موجب کي راځي او دا کلام موجب دي، لکن اصل کي خبره دا ده چې بدل بعض هم صحيح کيږي ځکه دا موجب دي لفظاً او غير موجب دي معنیً ځکه د دي لفظي ترجمه دا ده: کچيري وي په ځمکه او اسمان کي آلهه غير د الله نه خامخا فساد به راغلي وُ او دا د اميانو ترجمه ده ملايان او طالبان به دا ترجمه نه کوي، بلکه داسې به کوي چې تعدد نشته دي فساد ځکه نشته دي اعراب د غير خو بيان کړه اوس سوی او سواء د دوی اعراب څه دي دي وائي (**و اعراب سوی و سواء**) اعراب د سوی او سواء (**النصب**) نصب دي (**على الظرف**) بنا بر مفعول فيه (**على الاصح**) په مذهب اصح باندې چې هغه مذهب د جمهور دي ځکه دا سوی او سواء صفت وو د مکانٌ هغه موصوف حذف شوي دي اوس د هغې په ځاي سوی او سواء مستعمليږي بعضي وائي دا معرب دي بحسب العامل والمقام په دي شان سره که مقام او عامل تقاضا د رفع کرله مرفوع به وي او که مقام تقاضا د نصب کوله منصوب به وي او که مقام تقاضا د جر کوله مجرور به وي دليل د هغوی لپاره هغه شعر دي:

فلما اصبح الشر و هو عريانٌ دناهم کما دانوا فلم يبق سوی العدوان

(**فلم يبق**) دا فعل دي او سوی فاعل دي مرفوع دي تقديراً ځکه مقام تقاضا د رفع کوي او جمهور وائي دا مرفوع محلاً او منصوب تقديراً دي ځکه مقام تقاضا د رفع کوي او دا بنا دي په هغه

قاعدې باندې چې کوم اسم لازم النصب دي په مقام د رفع کي واقع شي بيا به هم منصوب وي دا (لقد تقطع بينکم) د قبيلې نه دي.

خبر كانَ و اخواتها

بل د منصوباتو نه يا د ملحقاتو نه خبر د کانَ او يو د اشباهو د کانَ دي دا پنځه مفاعل مستحق د نصب بالذات دي باقي دا نور ملحقات دي، بيا دري ملحقات چې کوم بيان شو د هغې او د دوی په مينځ کي فرق دا دي چې هغه مدخول د عامل بالذات نه دي، اوس بيانوي هغه ملحقات چې مدخول د عامل بالذات دي، او (**اخواتها**) کي مجاز مرسل دي ذکر د ملزوم چې اخوات دي او مراد ترينه لازوم چې اشباه دي ځکه اخوت سره مشابهت لازم دي غالباً. اوس د مجاز ولي دي؟ **جواب:** لتعذر الحقيقة چې د اخوات خپله معنى دلته نه جوړيږي ځکه هغه راځي په ذوي العقولو کي او دا غير ذوي العقول دي.

سوال: بيا دا يو قيد ولي راوباسو؟ **جواب:** ځکه دا ټول افعال ناقصه په يو خبر باندې نه داخليږي.

(**وهو**) دا خبر د افعال ناقصو په اصطلاح د نحو کي (**المسند**) هغه شي دي چې مسند وي غير ته (**بعد دخولها**) پس د دخول د کان او اخوات د کان نه (١) لپاره د ايراث د اثر په ده کي لفظاً او معنًى (٢) يا په اسناد جديده سره.

سوال: ظاهر کي اعتراض دي کان زيد يضربُ ابوه چې په دي يضرب باندې ستا تعريف صادق دي ځکه دا مسند دي ابوه ته بعد دخولها او خبر نه دي بلکه مجموعه خبر دي دينه چا؟ **جواب:** کړي دي چې المسندُ نه مراد دي اسم مسند او دا فعل مسند دي، دا جواب کمزوري دي ځکه بيا دا تعريف نه جامع کيږي خارج شو دينه هغه خبر د کان چې جمله وي. (٢) چا جواب کړي دي: چې المسندُ کي الف لام عهدي دي چې مسند وي اسم د کان ته او دا يضرب مسند اسم د کان ته نه دي، دا جواب هم کمزوري دي ځکه بيا بعد دخُولها قيد لغو ه کيږي د دي دوه جوابونو نه علاوه نور (٣) جوابه د جامي صاحب خوښ دي: چې دي مسند نه مطلق مسند مراد دي اسم وي او که جمله وي لکن دا شي به مسند وي غير ته بعد دخولها (١) لپاره د ايراث د اثر په ده کي لفظاً او معنًى دا يضربُ اووته ځکه کانَ په دي کي تاثير نه دي کړي نه لفظاً او نه معنًى بلکه مجموعه په دي جمله کي يې تاثير کړي دي. (٢) په اسناد جديده سره بيا دا يضربُ اووته ځکه يضرب مسند دي خپل فاعل ته په اسناد قديمه سره (**مثل**) مثال د خبر د کان لکه قائمًا شو په دي ترکيب کي چې (**کانَ زيد قائمًا**) دي دا قائمًا خبر د کان دي ځکه دا مسند دي غير ته چې زيد دي پس د دخول د کان نه (١) په ايراث د اثر سره لفظاً او معنًى (٢) يا په اسناد جديده سره. د تعريف نه وزګار شو اوس احکام د خبر د کان بيانوي ځني اجمالًا او ځني تفصيلًا

(**وامره**) حکم د خبر د کان (**کامر خبر المبتدأ**) پشان د حکم د خبر د مبتدأ دي (١) په اقسامو کي چې هغه ځلور دي: مفرد، جمله، معرفه، او نکره، دا ځلور اقسام لکه څنګه چې هلته راځي دارنګي دلته هم راځي. (٢) په احکامو او صفاتو کي چې هغه هم ځلور دي: واحد، او متعدد، مثبت، او محذوف دا ځلور هم لکه څنګه چې هلته راځي دارنګي دلته راځي چې خبر د کان کله واحد وي او کله متعدد وي

كله مذكور وي او كله مقدر وي. (٣) او په شرائطو كي چې خبر د مبتدأ جمله وي فلا بد من عائد دي دارنګه دلته هم چې خبر د كان جمله وي فلا بد من عائد دي (٢) لكه هلته عائد حذف كول جائز ؤ په وخت د وجود د قرينه كي، دارنګي دلته هم حذف د عائد جائز ؤ په وخت د وجود د قرينه كي، صرف په دي حكم كي خلاف دي چې (ويتقدم) مقدم كيږي خبر د كان په اسم باندې (معرفة) په حال كون د دې خبر كي چې معرفه وي يا نكره مخصصه وي ځكه اختلاف د اعراب دلته كي دافع د التباس دي او هلته كي اتحاد د اعراب موجب د التباس دي، دا تقديم دلته هله جائز دي چې اعراب دواړو كي يا يو كي لفظي وي نحو (كانَ قائماً زيد كان المنطلقَ هذا) او كه اعراب دواړو كي تقديري يا محلي وي بيا دلته كي هم تقديم جائز نه دي ځكه دا موجب د التباس دي نحو (كانَ الفتى هذا) (و قد يحذف) كله حذف كولي شي (عامله) عامل د خبر د كان چې هغه كان دي خاصةً ځكه كان د وجې د شهرت نه دا اولى دي په تعميم سره چې كله به مذكور وي او كله به محذوف وي په خلاف د نورو افعالو ناقصو نه چې هغه قانوناً نه شي حذف كولي مثال لكه دا قول د پيغمبر عليه السلام شو (الناس مجزيون باعمالهم) خلقو له به بدله ملاويږي مطابق د عمل خپل (ان خيرا فخير) ان كان عملهم خيراً فجزاءهم خيراً (و ان شرا فشر) اي ان كان عملهم شراً فجزاءهم شراً دلته كي دا انْ خيراً او انْ شراً دواړه منصوب دي ځكه دا خبر د كانَ محذوف دي قرينه دخول د انْ دي چې دا انْ واجب الدخول دي په فعل باندې او نحو سره يې اشاره وكړه تعميم ته چې مراد په دي سره هر هغه تركيب دي چې كانَ محذوف وي او محكي ان او لَوْ شرطيه وي بيا حذف د كان جائز دي د وجې د وجود د قريني نه چې انْ او لو دي او واجب نه دي د وجې د عدم وجود د سد مسد نه مثال د انْ لكه دا مذكور شو مثال د كانَ محذوفه پس د لَوْ نه كقوله عليه السلام (١) التمس و لو خاتماً من حديد، اي و لو كان الذي تلتمسه خاتماً من حديد (٢) اطلب العلم و لو بالصين، اي و لو كان بالصين (و يجوز) جائز دي (في مثلها) په مثل د دي مسئله كي مراد په مثل سره هر هغه تركيب دي چې انْ شرطيه وي (٢) پس د ان شرطيه نه اسم وي (٣) پس د اسم نه فا وي (۴) او پس د فاء نه اسم وي اربعة اوجه څلور تركيبونه جائز دي (١) نصب د اسم اول او رفع د اسم ثاني ځكه اسم اول خبر د كان محذوف دي او دويم اسم مرفوع دي ځكه خبر د مبتدأ محذوف دي دا تراكيب كافيه ملا ذكر كړي دي ځكه دا تراكيب اقوى او اولى دي د وجې د قلت د محذوف نه كان يو اسم د كان دوه او مبتدأ دري صرف دا دري حذف شوي دي په دي تركيب كي. (٢) دواړه منصوبه دي اي ان كانَ خيراً فخيراً و انْ كانَ شراً فشراً ځكه دواړه خبر د كان محذوفه دي ان كان علمهم خيراً فكان (فيكون) جزاؤه خيراً و ان كان عملهم شراً فكان (فيكون) جزاؤهم شراً دي كي څلور كلمي محذوف دي (١) كان سره د اسم نه په معطوف عليه كي او كان سره د اسم نه په معطوف كي. (٣) دواړه مرفوع دي ان خير فخير و ان شر فشر دا اول اسم دي د كان مقدر او دا وروستني اسم مرفوع دي خبر د مبتدأ محذوف دي. اي ان كانَ في عملهم خير فجزاءهم خير و ان كانَ في عملهم شر فجزاؤهم شر دي كي څلور كلمي محذوف شوي دي دا تركيبونه متوسط دي. (۴) عكس د اول چې اول مرفوع ثاني منصوب دي ان خير فخيراً و ان شر فشراً دا اول مرفوع دي ځكه دا اسم د كان محذوف دي او ثاني منصوب دي ځكه دا خبر د كان

محذوف دي اي ان كان في عملهم خير فكان جزاؤهم خيراً و ان كانَ عملهم شر فكان جزاؤهم شراً دلته پنځه كلمي حذف شوي دي دا تركيب ادنى دي.

(و يجب) واجب دي **(الحذف)** حذف د عامل د خبر د كان چې كان دي د وجې د وجود د قريني او سد مسد نه **(في مثل)** په مثل د دي تركيب كي چې **(اما انت منطلقًا انطلقت)** دي دوه تركيبه جائز دي: (۱) اما په كسري سره (۲) أما په فتحي سره مصنف د فتحي بيان كوي اصلي تركيب داسې ؤ **(لان كنت منطلقا انطلقت)** بيا كنت كي (۱) كاف حذف شو تخفيفًا (۲) ضمير متصل بدل شو منفصل سره د وجې د عدم د ما اتصل به نه بيا په (۳) عوض د كان كي ما راوړي شو لان كي (۴) دا لام جاره حذف شو ځكه تقدير د حرف جر سره د أنْ او أن نه قياسيّ دي أنْ ما انت منطلقًا انطلقتُ پاتې شو بيا په دي ان ما كې ادغام وشو په قاعدې د يرملون سره چې نون ساكنه نه وروستو واقع شي يو حرف د حروف د يرملون نه بيا ادغام د نون په ما بعد كي واجب دي بيا أما انتَ منطلقًا انطلقتُ پاتې شو.

(۲) يا اصل كي اِنْ كنتَ منطلقًا (شرط) انطلقتُ (جزا) ففعل به ما فُعل بالتركيب المذكور.

سوال: كافيه ملا دا يو ولې ذكر كړي دي؟ **جواب:** ځكه دا يو مشهور دي او دا بل قليل دي دا مشهور يې ذكر كړي دي د وجې د شهرت نه او دا بل يې پرېخوده د وجې د قلت نه دلته كي دا اِنْ قرينه ده او ما سد مسد دي لهذا دا حذف واجب دي د وجې د وجود د قريني او سد مسد نه.

وحذف كان وجوبًا دون اسمها و خبرها) مشروط بخمسة شروط: (۱) ان تقعَ صلةً لان (۲) ان يدخل على ان حرف التعليل (۳) ان تتقدم العلة على المعلول (۴) ان يحذف الجار (۵) ان يؤتى بما كقولهم اما انتَ منطلقًا اي انطلقتُ و اصلُ هذا الكلام انطلقتُ لان كنتَ منطلقًا اي انطلقت لاجل انطلاقك ثم دخل في هذا الكلام تغيير عن وجوه (۱) تقديمُ العلة و هي لان كنت مطلقاً على المعلول و هو انطلقتُ للدلالة على الاختصاص (۲) حذف لام العلة و فائدة ذلك الاختصار (۳) حذف كان و فائدته ايضًا الاختصار (۴) انفصال الضمير و ذلك لازم عن حذف كان (۵) وجوب زيادة ما و ذلك لارادة التعويض (۲) ادغام النون في الميم و ذلك لتقارب الحرفين مع سكون الاول. و من شواهد هذه المسئلة قول العباس بن مرداس رضي الله عنه: والعباس صحابي ابا خراشة اما انت ذا نفرٍ. فان قومي لم تاكلهم الضبع. اي لان كنتَ ذا نفرٍ افتخرتَ على فعل فيه ما ذكرنا (از شرح شذور الذهب).

اسم إن و اخواتها

بل د منصوباتو نه اسم د ان او يو د اشباهو د انَ چې هغه مشابه دي ان سره په عمل كي چې اسم له نصب وركوي او خبر له رفع وركوي **(هو)** دا اسم دَ ان په اصطلاح د نحو كي هغه اسم دي **(المسنداليه)** چې اسناد كړي شوي دي ده ته د غير **(بعد دخولها)** پس د دخول د ان او يو د اشباهو د ان نه (۱) لپاره د ايراث د اثر په ده كي لفظاً او معنًى (۲) يا مسنداليه دي په اسناد جديده سره نو ان زيداً ابوه قائم كي ابوه سره اعتراض وارد نه شو **(مثل)** مثال د اسم د ان لكه زيداً شو په دي تركيب كي چې **(ان زيدا قائم)** دي دا زيداً اسم د انّ دي ځكه ديته اسناد شوى دى د قائم په اسناد جديده سره پس د دخول د ان نه **المنصوب بلا** بل د

منصوباتو نه هغه اسم دي چې منصوب دي په لا سره (**التي**) هغه لا چې (**لنفي الجنس**) وضع کړې شوې دي لپاره د نفي د صفت د جنس نه او کوم ځای کې چې نفي د جنس راځي هغه په اعتبار د خبر سره چې خبر د افعال عامو نه وي، هر کله چې خبر د لا غالباً افعال عامو نه وو او په نفي د خبر سره نفي د اسم راځي پس ونه ویل ماتن لنفي صفة الجنس، او هر کله چې اسم د لالنفي الجنس نه کل د منصوباتو نه وو او نه اکثر د منصوباتو نه وو بلکه اقل د منصوباتو نه او په دې شان سره اسم د لالنفي الجنس اته قسمه دي په اعتبار د حرکت سره شپږ قسمه مرفوع دي (۱) مبني على الفتح دي او (۱) منصوب دي ځکه تعبیر وکړه کافیه ملا المنصوب سره ځکه بحث د منصوباتو نه دي **سوال:** نور ځایونو کې تعبیر کوي اسم سره دلته تعبیر المنصوب سره ولې وکړه ؟ **جواب:** اسم لا یې ونه ویل ځکه دا نه اکثر د منصوباتو نه دي او نه کل د منصوباتو نه دي بلکه اقل د منصوباتو نه دي لهذا جعل د اسم د لا مطلقاً د منصوباتو نه دا صحیح نه دي نه حقیقةً ځکه کل د منصوباتو نه ندي او نه مجازاً ځکه اکثر د منصوباتو نه نه دي

سوال: لا رجلَ ظریف في الدار دلته خو نفي د خبر راغلي ده او ته وائې دا لا وضع شوې دي نفي د جنس لپاره چې هغه اسم دي؟ **جواب:** دا دي دا عبارت په حذف د مضاف سره دي اي لنفي صفة الجنس و هو الخبر پس اعتراض وارد نه شو.

سوال: بیا اعتراض دي چې لا رجلَ في الدار کې خو نفي د رجل راغلي ده؟

جواب: هلته نفي د رجل راغلي ده په نفي د خبر سره.

سوال: هر کله چې دا لا وضع شوې دي نفي د صفت لپاره بیا یې دا مضاف ولې ذکر نه کړه؟ **جواب:** غالباً خبر د لا د افعال عامو نه راځي او هلته په نفي د خبر سره نفي د جنس هم راځي ځکه نفي د وجود مستلزم ده نفي د ذات لره ځکه یې لنفي الجنس وویل (**هو**) دا منصوب بلا په اصطلاح د نحو کې هغه اسم دي (**المسند**) چې اسناد کړې شوې دي (**الیه**) دي اسم ته غیر الخ (۱) په اسناد جدیده سره (۲) یا لپاره د ایراث د اثر په ده کې لفظاً او معنًى پس اعتراض وارد نه شو لا غلامَ رجلٍ ابوه قائم کې دي ابوه سره، هر کله چې مقصود بالذات تعریف د منصوب په لا سره ؤ نه د مطلق اسم د لا ځکه ذکر کړه دي کافیه ملا دا دري قیده چې یلیها نکرةً مضافاً دي او اسم د لا به منصوب هله وي چې دا دري قیدونه معاً موجود وي.

سوال: مقصود دلته کې تعریف د اسم د لا دي او دا تعریف تام کیږي المسند الیه **بعد دخولها** سره یلیها الخ دغه قیدونو ذکر کولو ته څه ضرورت دي؟ **جواب:** مقصود [illegible] دلته تعریف د اسم د لا نه دي بلکه تعریف د منصوب د لا دي او تعریف د منصوب د لا نه تامیږي بې د ذکر د دې قیدونو نه (**یلیها**) په حال کون د دې اسم کې چې دا به یلي وي دې لا سره په دې شان سره په مابین د ده او اسم کې به فاصل نه وي (**نکرة مضافا**) په حال کون د دې اسم کې چې نکره وي او په حال کون د دې اسم کې چې دا به مضاف وي (**او مشبهابه**) یا به مشابه مضاف وي، دا یلیها جمله حال دی د ضمیر د المسند الیه او نکرةً او مضافاً حال دي د ضمیر د یلیها نه (**مثل**) مثال لکه (**لا غلام رجل**) شو دا غلامَ رجل اسم دي او لك ورله خبر دي دا مثال د مضاف دي (**و لا عشرین درهما لك**) عشرین درهماً اسم دي او لك ورله خبر دي دا مثال د شبه مضاف مشهور نسخه د کافیه ملا دا ده چې دا لك دواړو لپاره خبر دي په اعتبار د متعلق سره

(۲) بعضو نسخو کي **لا غلام رجل** سره **ظريف فيها** ذکر شوي دي بيا دا لك خبر دي دي وروستني لا لپاره.

(فان کان مفردا) که اسم د لا لنفي الجنس مفرد وي په انتفاء د شرط ثالث سره سره د بقاء د شرطينو اولينو نه او غير مکرر وي ځکه د مکرر حکم راروان دي **(فهو مبني)** دا به مبني وي **(على ما)** په هغه حرف او حرکت باندې **(ينصب)** چې منصوب کولي شي دا اسم **(به)** په دي حرف او حرکت سره محکي د دخول د لانه، هر چې دي نفس بنا ځکه دي متضمن دي معنی د من لره او کم اسم چې متضمن وي معنی د حرف لره هغه اسم مبني وي، هر چې دي بنا على الحرکة چې دا حالت عارضي او بنائي مشابه شي د حالت اصلي سره چې هغه اعراب دي

سوال: ته وائي اسم د لا مفرد وي يعني مضاف او شبه مضاف نه وي دا مبني دي دا قاعده ستا منقوض شوه لا زيد في الدار و لا عمرو لا في الدار رجل سره هلته اسم د لا مفرد دي او مبني نه دي؟ **جواب:** دلته مراد د مفرد نه هغه مفرد دي چې مضاف او شبه مضاف نه وي سره د بقاء د شرطينو اولينو نه يعني نکره يلي غير مضاف وي هله مبني على الفتح دي لا زيد في الدار و لا عمرو کي اسم د لا نکره نه دي بلکه معرفه دي او لا في الدار رجل کي اسم د لا اګر که نکره دي لکن يلي نه دي ځکه مبني على الفتح نه دي

سوال: لا حول و لا قوة کي اسم د لا نکره يلي غير مضاف دي هلته خو مبني على الفتح نه دي بلکه پنځه وجې روا دي؟ **جواب:** دلته مفرد نه مراد دي مفرد غير مکرر او هلته مفرد مکرر دي

سوال: ته اجتماع د ضدينو کوي چې مبني دي او منصوب دي؟ **جواب:** اجتماع د ضدينو په وختينو کي دي چې اوس مبني دي او منصوب دي محکي د بنا نه.

سوال: اوس دا مبني ولي دي؟ **جواب:** ځکه دا متضمن دي معنی د من لره او کوم اسم چې متضمن وي معنی د حرف لره هغه مبني وي، ځکه دا ترکيب واقع کيږي جواب د سوال حقيقةً يا حکماً سوال کي خو من شته دی په دي کي من نشته دی لفظاً معلومه شوه چې دا من مقدر دی، نحو هل من رجلٍ في الدار ام لا؟ لا رجل في الدار

سوال: دا لازم نه دی چې دا ترکيب به خامخا جواب د سوال کي واقع شوی وي؟

جواب: دا جواب سوال عام دي حقيقةً وي او که حکماً وي

سوال: لا غلام رجلٍ کي هم متضمن دي معنی د من لره هغه ولي معرب دي؟ **جواب:** دا اګر که متضمن دی معنی د من لره لکن اضافت د خواص معظمو مکبرو د اسم نه دي قوي کيږي دي سره جهت د اسميت او ضعيف کيږي جهت د مشابهت من يې بنا ته راکاږي او اضافت يې اعراب ته راکاږي، او اصل په اسماؤ کي اعراب دي ځکه هغه معرب دي ځکه بنا لپاره مانع موجود دي چې هغه اضافت دي او دا مبني دي، ځکه بنا لپاره مانع نه دي موجود

سوال: بيا مبني على الحرکة ولي دي؟ **جواب:** لپاره د دي چې دا حالت عارضي موافق شي حالت اصلي سره چې هغه اعراب دي.

(وان كان معرفة) غرض د مصنف بيان د صورو د اسم د لاو حكم د هغې دي، كه دغه مسنداليه پس د دخول د لانه معرفه وه د دې صورتونه (٢) دي (١) مفرد وي نحو لازيد في الدار و لاعمرو (٢) يا مضاف وي نحو لاغلام زيدٍ في الدار و لاغلام عمرو **(او مفصولا)** يا فصل واقع شوي وو **(بينه)** په ما بين د اسم د لا كې **(وبين لا)** او په ما بين د لاكې د دې صورتونه (۴) دي (١) نكره مفرده مفصوله نحو لافي الدار رجل و لاامرأة (٢) معرفه مفرده مفصوله نحو لافي الدار زيد و لاعمرو (٣) مضاف الى النكرة مفصوله نحو لا في الدار غلامُ رجلٍ و لاغلام امرأة (۴) مضاف الى المعرفة مفصوله نحو لافي الدار غلام زيد و لاغلامُ عمرٍو، نو مجموعه شپږ صورتونه شو. او كلمه د واو لپاره د مانعة الخلو ده نه لپاره د مانعة الجمع يعني خلو ممتنع ده او جمع ممتنع نه ده يو ځاى كې جمع هم راغلي دي لكه لافي الدار زيد و لاعمرو چې اسم د لا معرفه هم دي او مفصوله هم دي **(وجب الرفع)** واجب دي اسم د لاكې په دې ټولو صورتونو كې رفع بنا بر ابتدائيت **(والتكرير)** او تكرير د مطلق اسم د لاسره د لانه. هر چې دي په معرفه كې د وجې د امتناع د تاثير د لانه په معرفه كې ځكه دا وضع شوي دي لپاره د تاثير په جنس كې چې هغه نكره ده، هر چې دي نكره مفصوله كې ځكه دا لاضعيف العمل دي عمل كوي بلا فصله او سره د فصل نه عمل نه شي كولى نو رفع واجب شوه بنا بر ابتدائيت او لاملغاة العمل شو لفظاً ټولو صورتونو كې:

سوال: تكرار ولې واجب دى؟ **جواب:** اما په معرفه كې لپاره د دې چې جبيره شي د ما فات چې هغه تعدد دى يعني چې فوت كيدل د جنسيت او نكارت دى او په نكره كې لپاره د مطابقت د سوال جواب سره چې غالباً دا تركيب جواب د سوال كې واقع كيږي لكه سائل سوال كړى وو أفي الدار رجل ام امرأة؟ جواب وشو لافي الدار رجل وٌ لاامرأةٌ، سره سوال په تكرار سره وو جواب هم په تكرار سره وشو لپاره د دې چې دا جواب موافق شي سوال سره. او مراد په تكرير سره تكرير نوعي دي نه تكرير شخصي پس اعتراض وارد نه شو.

سوال: چې تكرير خو ذكر الشئ مرة اخرى ته وائي په دې مثالونو كې خو تكرار نه دي موجود په دې معنى باندې؟ **جواب:** دلته تكرير نه تكرير نوعي مراد دي چې مطلق اسم د لابه معاد وي هغه هر څنګه چې وي. هر كله چې وارد وو اعتراض په دې قاعدې باندې چې اسم د لامعرفه وي واجب ده رفع او تكرير دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې تركيب سره چې **قضية و لا ابا حسنٍ لها** دي چې دلته كې اسم د لا معرفه دي نه مرفوع دي او نه مكرر دي ماتن راغلې جواب يې وكړه **(متاول)** سره چې دا معرفه متاول دي په نكرې سره حاصل د جواب دا دي چې دا صورةً معرفه ده او تاويلاً نكره ده د تاويل طريقي دوه دي: (١) ذكر د علم مراد ترينه وصف مشهوره اي لافيصل لها او دا تاويل غوره دي د هغه بل نه ځكه (١) تقدير ته ضرورت نشته دي (٢) تنوين د حسن قرينه ده چې دلته ذكر د علم دي مراد ترينه وصف مشهوره دي وَ الالاابا الحسن ويلي وي معرفه باللام (٢) دلته اسم د لامضاف مقدر دي مثل اي لامثل ابا حسنٍ لها او مثل اګر كه مضاف شوي دي معرفي ته لكن د وجې د كمال توغل نه په ابهام كې نه معرفه كيږي په اضافت سره معرفي ته بهر حال اسم د لانكره دي ځكه مرفوع او مكرر نه دي.

(وفي مثل لا حول و لا قوة) هر كله چې وارد ؤ اعتراض په قاعدې باندې چې اسم د لا نكره يلي غير مضاف وي مبني على الفتح وي وجوبًا دا قاعده ستا منقوضه شوه په دې تركيب سره چې لا حولَ و لا قوةَ الا بالله دی په دې شان سره اسم د لا نكره يلي غير مضاف ده او حكم يې بنا على الفتح وجوبًا نه ده بلكه پنځه وجې جائز دي مصنف راغی **جواب:** يې وكړو. وَ في مثلِ الخ. سره كفييت د جواب دا دی چې دا مستثنى دی د هغې نه او هغه قاعده ما سوا د مكرر نه ده او **(مثل)** سره يې اشاره وكړه تعميم ته چې مراد په دې سره هر هغه تركيب دي چې (١) لا پكې مكرر وي په سبيلي د عطف سره (٢) او يلي وي هر لا سره نكره مفرده بيا دا تركيب وي لو كه بل وي لكه فلا رفثَ و لا فسوقَ و لا جدالَ شو.

(خمسة اوجه) پنځه وجې دي په اعتبار د لفظ سره چې هغه اعراب دي نه په اعتبار د توجيه سره چې هغه علت د اعراب دي ځكه علتونه د اعراب پنځه ندي بلكه ډير دي **(فتحهما)** اول صورت فتحه د دې دواړو لا حولَ و لا قوةَ چې لا په دواړو ځايونو كې لا لنفي الجنس دي زائد نه دي او اسم د لا چې نكره يلي غير مضاف وي مبنيّ على الفتح وي لكه دا قاعده ده دا په هغې كې داخل شوه بيا (١) كه عطف د جملې په جملې كوي اول لپاره به جدا خبر محذوف را اوباسي (٢) او كه عطف د مفرد كوي په مفرد باندې يعنې عطف د اسم په اسم باندې خبر دغه يو دي لا حولَ و لا قوةَ موجود. هر كله چې لا متحد وو صورةً ذاتًا او عملاً په حكم د واحد كې شو توارد د عاملينو راغې په معمول واحد كې.

او هر كله چې اسم د لا متحد وو صورةً او حقيقةً او صورةً چې دواړه مفرد دي او دواړه نكره دي نو په حكم د واحد كې شو خبر يې ځكه مفرد دی. په دې باندې دره اعتراضونه دي د هغې نه جوابونه وشو

سوال: عطف د جملې په جملې كوي دا تركيب صحيح دي او كه عطف د مفرد په مفرد كوي دا تركيب ټيك نه دی (١) مبتدا كانې او اسم د لا دوه دي خبر يې يو ولې را وباسي؟

جواب: دواړه په حكم د واحد كې دي ځكه خبر يو را وباسو

سوال: دواړو ځايونو كې لا لنفي الجنس دي او ملغات العمل نه دي بيا دواړو لپاره چې خبر يو را اوباسي توارد د عاملينو راغې به اثر واحد كې چې هغه رفع ده دا باطل دي؟ **جواب:** دا دی چې دواړه متحد دي حقيقةً او عملاً په حكم د واحد كې دي لهذا توارد د عاملينو په اثر واحد كې راغې په خلاف د ان زيدا و عمرو ذاهبان هغه جائز نه دي ځكه ان او عامل معنوي متباين دي حقيقةً او عملاً نو توارد د عاملينو متباينينو لازميږي او دا جائز نه دي.

سوال: دلته تا توارد د عاملينو جائز كړه په اثر واحد كې او هلته عطف د اسم په محل د اسم د ان باندې بې د تقديم د خبر نه جائز نه وائې ځكه لازميږي توارد د عاملينو په اثر واحد باندې دا باطل دي نو هلته كې اتحاد د عامل ولې نه وائې چې دواړه په حكم د عامل واحد كې شي او توارد جائز شي؟

جواب: دا دي چې هغه دواړه متباين دي عملاً او ذاتًا په حكم د واحد كې يې نه شو ويلي **(وفتح الاول و نصب الثاني)** دويم صورت فتحه د اول او نصب د ثاني لا حولَ و لا قوةً الا بالله چې دا اول لا لنفي الجنس دي او اسم نكره يلي غير مضاف دي د هغه قاعدې لاندې داخل دي او دا دويم لا زائد دي لپاره د تاكيد

د نفي او دا قوةً عطف دي (١) په محل قريبه د حول باندې او محل قريبه د اسم د لامنصوب دي (٢) يا لفظ د حول باندې او دا لفظ د حول اګر كه مبني على الفتح دي لكن دا حركت بنائي د عامل نه پيدا شوى دى دا په حكم د اعراب كې دى نو دا منصوب شو تشبيها او مجازاً (٣) توجيه (ورفعه) فتحه د اول او رفع د ثاني لاحولَ ولاقوةٌ دا اول لا بيا لنفي الجنس دي او ثاني زائد دي لپاره د تاكيد د نفي عامل لفظي نه دي او دا قوةُ عطف دي په محل بعيده د حول باندې چې پخوا مبتدأ وه او عامل يكې معنوي وو، او عطف د مفرد په مفرد باندې جائز دي او كه ته وائي توارد د عاملينو راغي لكن دواړه رفع وركوي د دي اتحاد في العمل د وجې نه دا توارد جائز وايو (ورفعهما) چې دواړه مبتدا ګاني دي دواړو كي لا زائد ملغاة العمل دي او دا جواب دي د سوال مقدر او جواب موافق دي د سوال سره سوال: داسې دي ابغير الله حول وقوة؟ جواب: لاحول ولاقوة الا بالله (٥) طريقه (ورفع الاول) رفع د اول (على ضعف) دلته وجه يوه ده او توجيه (٢) دي (١) ځكه لامشابه بليس دي لالنفي الجنس نه دي بيا ضعيف ولې دي ځكه عمل د لا په معنى د ليس سره قليل دي (و فتح الثاني) ځكه دا دويم لالنفي الجنس دي او اسم د لانكره يلي غير مضاف چې وي هغه مبني على الفتح وي دا يوه توجيه (٢) دويمه توجيه دا ده: چې لا اول زائد ملغاة العمل او حول مرفوع دي بنا بر ابتدائيت او دا لاثاني لنفي الجنس دي، لكن تلفظ كي فرق نه راځي چې لازائد شي بيا هم حول مرفوع دي او كه مشابه د ليس شي بيا هم مرفوع دي ديته دوی يو وائي، او شرط لپاره جواز د الغاء د لالنفي الجنس تكرير دي او هغه موجود دى.

سوال: ته وائي لا اول زايد ملغاة العمل دي الغاء د لا لپاره خو شرط تكرير او تعريف دي هلته خو تعريف نشته ځنګه يې ملغى وائي؟ جواب: هغه دواړه شرطه لپاره د وجوب الغاء دي او دلته دا الغاء جائز ده دى لپاره صرف تكرار كافي دي (و اذا دخلت الهمزة) كله چې داخل شي همزه استفهامي په لالنفي الجنس باندې (لم يتغير العمل) نه بدليږي تاثير لفظي د لالنفي الجنس غرض د ماتن بيان د قاعدې كليه دي چې همزه استفهامي په لالنفي الجنس باندې داخل شي عمل لفظي د لالنفي الجنس نه باطله وي يعنې دا دخول د ده مبطل د عمل لفظي نه دي ځكه دا عامل لفظي نه دي او عامل معنوي دي نو معنى كي تغير راولي لفظ كي يې نه راولي او كه دا داخل عامل لفظي ؤ بيا دا داخل عامل د مدخول عمل لفظي باطلوي (٢) يا غرض د ماتن دفع د توهم ده او منشا د توهم دوه دي (١) با جاره چې داخل شي په لالنفي الجنس باندې عمل لفظي د لا باطلوي نحو كنتُ بلا مالٍ چا توهم وكړه چې همزه استفهامي داخل شي هم عمل لفظي به باطلوي دي دفع د توهم وكړه (و اذا دخلت الخ) سره (٢) لا عمل كوي د وجې د نفي نه او كه وروسته د ده نه الا راشي هغه د دي عمل لفظي باطلوي د وجې د انتفاء د نفي نه د دينه متوهم دا توهم وكړه همزه استفهامي چې داخل شي په لالنفي الجنس باندې دا به هم عمل لفظي د لا باطله وي د وجې د انتفاء د نفي نه دي دا دفع د توهم وكړه (و العرض) يا به معنى د عرض كوي د وجې د مقام نه نحو الاتنزل بنا فنحسن اليك (و التمني) يا به معنى د تمني كوي نحو الا اتيان منك فتبشرنا، او دا تركيب چې الا رجلاً جزاه الله خيراً دا لاتحضيض دي په معنى د هلا سره نه لا لنفي الجنس چې داخل شوي دي وربانديې همزه استفهاميه.

سوال: نه وائي لالنفي الجنس باندې همزه استفهامي داخل شي مبطل د عمل لفظي نه دي دا خبره ستا منقوض شوې ده قول د شاعر سره

الا رجلاً جزاه الله خيرًا يدل على مُحصلة تبيتُ

اسم د لايلي غير مضاف دي پکار دا وو چې مبني على الفتح وي او دلته منصوب دي ذي همزه عمل لفظي باطل کړه؟ **جواب:** دا دي چې دا الا په معنی د هلا سره حرف تحضيض دي واجب الدخول دي په فعل باندې او مدخول د دي فعل حذف شوی دی اصل کې الاترونني دي **(او نعت للمبني)** هر کله چې توابع د اسم د لامبني لپاره احکام مختصه وو چې هغه نه جاري کيده په مطلق توابع باندې ذکر کړه مصنف توابع د اسم مبني د لا لپاره د احکام مختصو اګر که توابع لپاره باب علاحده دی. هغه اعتراض دفع شو.

سوال: چې توابع لپاره خاتمه منعقده ده دلته يې ولې ذکر کوي؟ **جواب:** منم چې توابعو لپاره مستقل باب وضع شوي دي لکن هلته کي احکام عامه بيانيږي حکم عامه د تابع دا دي چې تابع د معرب تابع د لفظ وي فقط جواز د وجهينو نشته او تابع د مبني تابع د محل وي فقط جواز د وجهينو نشته او دلته دا جواز د وجهينو يا جواز د وجوه ثلاثو دا حکم مختصه دي دا مطلق توابعو کي نه راځي نو دا حکم مختصه دی دلته يې ځکه بيانوي **(نعت)** د اسم د لاهسې اسم **(المبني)** چې مبني دي على ما ينصبُ په دي سره احتراز وکړو نعت د غير مبني نه ځکه نعت د اسم د لا چې معرب وي هغه تابع د لفظ دي **(الاول)** هسې نعت چې اول مرتبه کې واقع دی په دې سره يې احتراز وکړو د نعت ثاني او ثالث او رابع نه نحو لا غلام رجلٍ ظريف کريم في الدار ځکه هغه ذو جهتين دي نه ذو جهات ثلاثه او دلته هغه تابع بيانوي چې هغه ذو جهات ثلاثه وي **(مفردا)** په حال کون د دي نعت کې چې مفرد وي مضاف او شبه مضاف نه وي په دي سره يې احتراز وکړه د هغه نعت نه چې هغه مضاف اوشبه مضاف وي نحو لا رجل غلامُ امرأة لارجل حسنُ الوجه ځکه دا هم ذو جهتين او ذو حکمين دي.

سوال: دا مفرداً ولې منصوب دی؟ **جواب:** دا حال دی.

سوال: د چا نه حال دی؟ **جواب:** ظاهراً دوی وائي دا حال واقع شو د ضمير د مبني نه.

سوال: بيا مقدم شوي ولي دي؟ **جواب:** لپاره اتصال د قيوداتو چې دا ټول قيودات په يو لړ کې ذکر شي **(يليه)** او په حال کون د دي نعت کي حال بعد حال مترادفه يا متداخله چې متصل وي اسم سره په دي شان سره چې په ما بين د دي نعت او اسم کي فاصل بله کلمه نه وي په دي سره يې احتراز وکړه لارجل فيها ظريفًا نه ځکه په دې کي صرف دوه وجې جائز دي.

سوال: دا يلي لغوه کوي هغه قيد چې الاول دی ځکه يلي چې وی هغه اول وی لهذا هغه قيد ذکر کول نه وو پکار؟ **جواب:** که قيد ثاني ملغی د اول شي دا ذکر کول جائز دي او که قيد اول ملغی د ثاني وو دا ذکر کول جائز نه دي لکن اصلي جواب دا دي چې اول مقابل د متصل نه دي بلکه اول مقابل د ثاني او ثالث دي. اوس عام دي متصل وي او که نه وي لهذا د دي دا ذکر هسې نه دي **(مبني)** دا نعت به مبني على الفتح وي پشان د اسم.

سوال: مبني ولې وي؟ جواب: ځکه دي متحد دي منعوت سره مصداقاً (۲) او متصل دي د منعوت سره صورتاً او لفظاً (۳) او منفي دي حقيقةً ځکه نفي چې متوجه شي مقيد ته نفي د قيد کوي غالباً نو لا عمل د بناء په ديکې کوي په خلاف د نعت د منادی مفرد مبني على الضمة نه ځکه هغه اګر که متحد وي او متصل دي لکن مقصود بالنداء نه ده حقيقةً ځکه حرف النداء داخل دي په منادی باندې نه په نعت باندې، اعتراض دفع شو. سوال: ته دلته دا حکم ورکوې نعت ته منادی کې دا حکم ولې نه ورکوې نعت د منادی مفرد معرفه ته دا هم متصل دي لفظاً او متحد دي مصداقاً نحو يا زيد العاقلُ و العاقلَ؟ جواب: د ده او د هغې په مينځ کې فرق دي دلته حقيقت کې دا لا نعت ته متوجه دي او هلته کې حرف نداء حقيقت کې دي نعت ته نه دي متوجه بلکه دي منادی ته متوجه دي نو هغه دوه وجې دلته شته هغه دريمه وجه نشته دي ځکه دا حکم نشته دي او په خلاف د لا ماء ماءَ بارداً نه، دي بارداً کې بنا على الفتحه جائز نه دي ځکه مراد په مبني سره مبني بالذات دي نه بالواسطه که دا بارداً نعت د ماء ثاني شي هغه مبني بالتبع دي او که دا نعت د ماء اول شي بيا يلې رانغله لهذا په دې کې صرف دوه وجې جائز دي (و معرب) دا نعت به معرب وي ځکه اصل په توابعو کې تبعيت دي د متبوعاتو په اعراب کې نو دا اعراب مقتضى د اصل دى (رفعا) په حال کون د ده کې مرفوع به وي د وجې د حمل نه په محل بعيده باندې (و نصبا) په حال کون د ده کې منصوب به وي د وجې د حمل نه په لفظ باندې يا د وجې د حمل نه په محل قريبه باندې چې اسم د لا منصوب وي لکه ظريف شو په دې ترکيب کې (لا رجل (۱) ظريف) مبني على الفتح (۲) (و ظريف) معرب مرفوع د وجې د حمل نه په محل بعيده باندې چې هغه مرفوع دي بنا بر ابتدائيت (۳) (و ظريفا) معربٌ منصوب د وجې د حمل نه په لفظ باندې (و الا) نعت د اسم د لا مبني کچيرې داسې نه وي مثلاً اول نه وي ثاني او ثالث وي مفرد نه وي بلکه مضاف او شبه مضاف وي دارنګې يلې نه وي (فالاعراب) حکم د نعت اعراب دي وجوباً بنا پکې جائز نه ده مثالونه زيل کې ذکر شو دي (والعطف) د يو اسم بالحرف په لفظ د اسم د لا مبني على الفتح باندې (على اللفظ) د وجې د حمل د معطوف نه په لفظ د اسم د لا مبني على الفتح باندې (و على المحل) او د وجې د حمل د معطوف نه په محل بعيده د اسم د لا مبني باندې (جائز) جائز دي د وجې د عدم د مانع نه.

سوال: صله د عطف کې چې على راشي مدخول د على معطوف عليه وي دلته خو دا لفظ او محل خو معطوف عليه نه دي بلکه دا خو عبارت دي د اعراب او بنا نه او دا اوصاف دي؟ جواب: دا دي چې دا على صله د يحمل ده يعنې عطف د يو اسم په اسم د لا مبني باندې د وجې د حمل د معطوف نه په لفظ باندې يا د وجې د حمل نه په محل بعيده باندې جائز ده ځکه مانع د جواز د وجهينو نه نشته دي خو شرطونه په کې دوه دي: (۱) لا مکرر نه وي هله دا دوه وجې دي ولې که لا مکرر وي د هغې حکم مخکې بيان شوي دي (۲) معطوف به معرفه نه وي ولې که معطوف معرفه وي د هغه حکم هم بيان شوي دي چې لا عمل نه شي کولې نحو لا غلام لك و الفرس په دې کې صرف رفع ده ځکه دا معرفه ده او س مثال د دي (في مثل) مراد په دې سره هر هغه ترکيب دي چې اسم د لا نکره يلې غير مضاف معطوف عليه او

نکره معطوف بالواو وي بلا مکرر (**لا اب و ابنا**) مثل مروان و ابنه، اذ هو بالمجد ارتدی و تازرا، يعنې د مروان او خوی د مروان په شاني بل پلار او خوی نشته دي.

اوس بنا پکې ولي جائز نه شوه ځکه فصل راغي ما بين د اسم د لا او معطوف کې په حرف عاطف سره، هر کله چې تصريح نه وه راغلي د جمهور متقدمينو نه په حکم د باقي توابعو کې او په دې دوو کې تصريح د متقدمينو جمهورو نه راغلي وه نوکافيه ملا ذا دري بيان نه کړه مسئله مجهوله پاتې شوه، اندلسي ويلي دي حکم د هغه دريو پشان د حکم د توابعو د منادی دي چې هغه ترفع او تنصب دي (**و مثل لا ابا الخ**) هر کله چې وارد ؤ اعتراض په دې قاعدې باندې چې اسم د لا نکره يلي غير مضاف وي مبني على الفتح وي دا قاعده دې منقوضه شوه په دې ترکيب باندې چې لا ابا له او لا غلامي له دي چې دلته اسم د لا نکره يلي غير مضاف دي او حکم يې بنا على الفتحه نه دی بلکه منصوب دي علامه د نصب الف دي په ابا کې او (ي) ده په غلامي کې مصنف راغی؟

جواب: يې وکړو مثل لا ابا له و لا غلامي جائز سره، او مراد په دې سره هر هغه ترکيب دي چې اسم د لا نکره يلي غير مضاف وي او جاري وي په ده باندې حکم د مضاف چې الف دي په اول کې او سقوط د نون دی په ثاني کې (**جائز**) دا جائز دی قاعدةً جائز نه دی بلکه تشبيهاً جائز دي (**تشبيها له**) د وجې د مشابهت د اسم د لا نه په دې ترکيبينو کې چې مضاف نه دي (**بالمضاف**) د مضاف حقيقةً سره، علت د جواز تشبيه شوه اوس علت د تشبيه چې ولي مشابه دي؟ (**لمشارکته**) د وجې د مشارکت د اسم د لا نه په دې ترکيبينو کې چې مضاف نه وي (له) دي مضاف حقيقةً سره (**فی اصل معناه**) (١) په اصل معنی د مضاف کې (٢) يا اصل معنی د اضافت کې چې هغه اختصاص دي اګر چې د ال په اختصاص باندې دلته کې لام دي او په مضاف کې دال په اختصاص باندې اضافت دي نو اختصاص باندې دواړه دلالت کوي لکن کيفيت د دلالت بدل دي اوس په دې باندې تفريع پيش کوي چې علت ... د جواز تشبيه ده او علت لپاره د تشبيه اختصاص دي، اوس کوم ځای کې چې دا تشبيه په اختصاص کې نه وي هغه ترکيب جائز نه دي (**و من ثم**) د دې د وجې نه چې تشبيه بالمضاف د وجې نه يې دا حکم ورکړي وو اسم د لا نکره يلي غير مضاف ته (**لم يجز**) جائز نه دي (**لا ابا فيها**) بلکه لا اب فيها به وائي د قاعدې مطابق ځکه اختصاص د ابوة د ابوة دار لپاره جائز نه دي ځکه اختصاص بنا دي په ثبوت باندې او ثبوت د ابوة دار لپاره نشته دي نو د قاعدې مطابق استعمال کثيره هلته جائز ؤ لا اب له لا غلامين له، او استعمال قليله جائز ؤ شبيه د وجې نه لا ابا له لا غلامي له او قاعدې مطابق دلته لا اب فيها به وائي، او هغه استعمال قليله دلته جائز نه دي ځکه مشابهت نشته دي.

(**وليس بمضاف**) او اسم د لا په دې ترکيبونو کې مضاف حقيقةً نه دي (**لفساد المعنی**) ځکه کچيرې مضاف حقيقةً راشي بيا لازميږي فساد د معنی مراد د متکلم معنی مراد د متکلم (١) نفي د جنس اب او جنس غلامين د دې غائب دي (٢) په دې کلام سره مستقلاً بې د حاجت نه مقدر ته اوس که دا مضاف شي (١) نفي راځي د اب او غلامين معينو (٢) او کلام محتاجه کيږي مقدر ته ځکه لا ابا له لا غلامي

له دا مضاف مضاف اليه اسم د لا او خبر به محذوف را اوباسي (خلافا لسيبويه) خلاف ثابت دي
لره هغه وائي دا مضاف دي حقيقةً او لام پكې زائد دي ما بين د مضاف او مضاف اليه كي. او غرض د
مصنف بيان د خلاف دي چې دا مسئله اختلافي ده نه تعين د مخالفينو نو اعتراض وارد نه شو
سوال: دا وو لكه څنګه چې سيبويه خلاف دي دا رنګه خليل هم خلاف دي درانګه نور تا يواځې سيبويه
ولې ذكر وكړه ؟ (و يحذف) حذف كولې شي اسم د لا (كثيرا) په حذف كثيره سره (في مثل) په مثل د
تركيب كې چې (لا عليك) مراد په دې سره هر هغه تركيب دي چې خبر د لا مذكور وي او اسم حذف شوي
وي ولې كه خبر هم محذوف وي بيا اسم د لا نه شي حذف كولې نحو لاعاصمَ اليوم الامن رحم كي شو
څكه بيا لازميږي اجحاف د كلمې (اى لا باس عليك) دا باس اسم د لا مبني على الفتحه دي عليك جار
مجرور خبر دي قرينه په حذف باندې دخول د حرف دي په حرف باندې (٢) قرينه لا دي څكه لا نفي لپاره
راځي منفي غواړي. او دا تركيب چې لاكزيد دي (١) دا كاف په معنى د مثل سره دي دا اسم شو او خبر
د دي مقدر دي اي لا مثلَ زيد موجود (٢) او كه كاف حرف جر شي بيا دا جار مجرور خبر دي او اسم
مقدر دي مثل لاعليك اي لا مثلَ كزيد نو اعتراض وارد نه شو. سوال: دا وو چې ته وائي كه خبر حذف
شوي وي بيا اسم نه حذف كيږي لاكزيد كې خو دواړه حذف شوي دي

خبرُ ما و لا المشبهتين بليسَ

بل د منصوباتو نه خبر د ما و لا دي هغې ما و لا چې مشابه دي د ليسَ سره (١) په نفي د مضمون د
جملې كې (٢) په دخول د جمله اسميه كې څكه يې عمل د ليسَ اخستې دي (هو) دا خبر د ما و لا هغه
شي دي (المسند) چې مسند وي غير ته (بعد دخولها) پس د دخول د دې ما و لا نه (١) لپاره د ايراث د اثر په
ده كې لفظاً او معنى (٢) يا مسند دى غير ته په اسناد جديده سره پس د دخول د ما و لا نه دواړو ترجمو
سره اعتراض دفع شو. سوال: ما زيد ابوه قائم دا قائم مسند دي ابوه ته او خبر د ما نه دي او حال دا دي
تعريف ستا صادقيږي چې مسند دي غير ته پس د دخول د ما نه؟ جواب: دا دى (١) بعد دخولها نه بعد
ذكري نه دى مراد بلكه مسند به وي غير ته پس د دخول د ما و لا نه لپاره د ايراث د اثر په ده كې لفظاً
او معنى (٢) يا اسناد جديده مراد دي او دا قائم مسند دي دي ابوه ته په اسناد قديمه سره
اوس ماتن اظهار د اختلاف او ما هو المختار كوي (وهي) (١) دا عمل د ما و لا (٢) دا خبر د ما و لا (٣) خبريت
د ما و لا چې مستفاد دي د خبر نه او اثر د خلاف ظاهريږي په خبر كې څكه يې خلاف ذكر كړي دي په خبر
كې اګر كه خلاف موجود دي په اسم او خبر دواړو كې او هي ضمير راجع دي خبر يا عمل ته تانيث د ضمير
په اعتبار د خبر سره دي څكه ضمير راشي ما بين د مرجع او خبر كې لحاظ د خبر اولى دي. يا دا ضمير
راجع دي خبريت د ما و لا ته چې مستفاد دي د خبر نه بيا لحاظ د خبر او مرجع دواړو وشو.
سوال: خلاف د حجازين او بني تميم اسم او خبر دواړو كې دي كافيه ملا يواځې په دې خبر كې ولې ذكر
كړه؟ جواب: خلاف خو دواړو كې دى لكن ثمره د خلاف د دوى ظاهريږي په خبر كې څكه يواځې په خبر كې
ذكر كړه. بنو تميم وائي دا ما و لا د حروف عامله ؤ نه ندي بلكه حروف غير عامله دي. دلائل د هغوى دوه

دي (١) عقلي (٢) نقلي. **دليل عقلي**: د هغوی لپاره دا دي چې شرط لپاره د عامل اختصاص د عامل دي په يو نوع پورې او دا ما ولا په اسم او په فعل دواړو باندې داخليږي (**دليل نقلي**: ورله دا قول د شاعر دي

و مهفهف كالغصن قلت له انتسب فاجاب ما قتل المحب حرامُ

دا حرام شاعر صاحب مرفوع لوستلي دي معلومه شوه چې دا ما عمل نه کوي ځکه کچيري دي ما عمل کولي حرامًا به يې ويلي وي.

او **حجازيين وائي**: دا د حروف عاملوو نه دي عمل کوي پشان د عمل د ليس دلائل د هغوی هم دوه دي (١) دليل عقلي چې علت د عمل د ما و لا لپاره تشبيه ده او هغه علت موجود دي او وجود د علت مستلزم دی وجود د معلول لره نو عمل هم موجود دي (٢) دليل نقلي ورله (ما هن امهاتهم) ما هذا بشرا

جواب: د طرف د حجازينو نه بنو تميم ته د دليل عقلي نه دا دي چې ما ولا دوه قسمه دي (١) ما و لا دي په فعليه او اسميه دواړو باندې داخليږي هغې ته ما و لاصرف نافيه وائي دا د حروف غير عاملو نه دي (٢) هغه ما و لا دي چې مشابه دي ليس سره هغې ته ما و لا المشبهتين بليس وائي دا داخليږي فقط په جمله اسميه باندې او جواب د دليل نقلي نه دا دي چې دغه شاعر د بني تميم نه وو او دا ستاسو مصادره علی المطلوب ده چې خپل قول دليل کي پيش کوئ لهذا مختاره مذهب مذهب د حجازينو جمهورو دي ځکه ماتن مذهب د حجازينو مختار کړه **و اذا زيدت** کله چې زيات کړي شي **ان مع ما** سره د ما نه لپاره تاکيد د نفي د ما نحو ما ان زيداً قائم او نفي په نفي داخل شي اثبات فائده کوي چې ثاني مؤکد د اولی نه وي او کله چې ثاني مؤکد دا ولي وي بيا دلالت په نفي باندې کوي په اثبات باندې نه کوي او (**انتقض**) يا مات کړي شي نفي په الا سره نحو ما زيد الا قائم (**او تقدم الخبر**) يا مقدم شي خبر په اسم باندې نحو ما قائم زيد (**بطل العمل**) باطل کيږي عمل د ما و لا دري واړه صورتونو کي هر چې دي صورت اول کي ځکه ما و لاضعيف العمل دي عمل کوي مع الوصل او مع الفصل عمل نه شي کولي هر چې دې صورت ثاني کي ځکه ما ولا عمل کوي د وجې د نفي نه او الا مبطل د نفي دي لهذا سره د الا نه عمل نه شي کولي هر چې دي صورت ثالث کي ځکه ما ولا عمل کوي مع الترتب او بلا ترتيب عمل نه شي کولي، اود زيادت د ان تصريح يې وکړه د ما سره نه د لا سره د وجې د عدم زيادت د ان نه د لا سره، که په دي اول باندې دوه اعتراضونه دي (١) ته وائي ما نه وروستو ان راشي عمل باطليږي ستاسو قاعده دا ده چې نفي په نفي داخل شي فائده کوي اثبات او دلته خويې اثبات فائده نه کړه؟

جواب: دا دی چې نفي په نفي داخل شي اثبات هله فائده کوي چې ثاني مؤکد د اول نه وي او دلته دا ان زائد دی لپاره د تاکيد د نفي د ما.

سوال: دويم اعتراض دا دي چې د ان تصريح يې ما سره وکړه او د لا نه چې وروستو راشي هم دغه حکم دي؟ **جواب**: دا دی چې زيادت د ان وروستو د ما نه منقول دي او د لا نه وروستو منقول نه دي ځکه هغې سره تصريح ونه کړه.

الفرق بين ما و لا المشبهتين بليس (۱) ما عمل كوي معرفه او نكره دواړو كې او لا عمل كوي فقط په نكره كې (۲) ما نفي د مضمون د جملي اسميه كوي حالًا او لانفي د مضمون د جملي اسميه كوي مطلقا (۳) با زائده راځي په خبر د ما كې نحو ما زيد بقائم، خبر د لا كې نه راځي (۴) فرق دغه شوچې ان زائد وروسته د مانه راځي او وروسته د لانه نه راځي (يونس) نحوي جائز كوي عمل د ما په خبر كي پس د لانه دليل ورله دا قول د شاعر دي، شعر:

وَمَا الدهرُ الا منجنونًا باهله　　　　وما صاحب الحاجات الا معذبًا

ترجمه: نده زمانه مگر گرځيدونكي په اهل خپل باندې، او نه دي خاوند د حاجتونو مگر معذب دا منجنونًا منصوب دي او معذبًا منصوب دي پس د الانه واقع دي معلومه شوه چې ما عمل كوي پس د الا نه جواب: دا د دي وجې نه منصوب نه دي چې دا خبر د ما دي بلكه دا منصوب دي (۱) بنا بر مفعول به لپاره د فعل محذوف اي الاان يشبه منجنونًا (۲) يا منصوب دي مفعول مطلق دي په اعتبار د مضاف محذوف سره لپاره د فعل محذوف: اي الاان يدورَ دورانَ منجنونٍ دا مضاف حذف شوي دي او مضاف اليه قائم شوي دي په مقام د هغه كي اعراب د هغه يې اخستي دي او دا معذبًا مصدر ميمي مفعول مطلق دي لپاره د فعل محذوف: اي الاان يعذبَ معذبَ پشان د ما أنت الاسيراً ، بل مانع (**واذا عطف**) كلمه چې عطف وكړي شي يو اسم (**عليه**) په خبر د ما و لا باندې (**بموجب**) په هغه حرف عاطف سره چې فائده كوي اثبات او ايجاب په مدخول كي پس د نفي نه چې هغه لكن او بل دي (**فالرفع**) پس رفع په معطوف كي واجب ده چې دي عطف دي په محل د خبر باندې، نه په لفظ باندې ځكه لفظ كي عامل ما ولا دي او ما ولا عمل كوي د وجې د نفي نه او دا مبطل د نفي دي نو ما ولا لفظ د دي كي عمل نه شي كولي

المجرورات

دا خبر د مبتدأ محذوفي دي، هذا بحثُ المجرورات ربط د ما قبل سره دا دي هر كله چې فارغ شو مصنف د مقصد اول او ثاني د اسم معرب نه چې مرفوعات او منصوبات وو نو شروع وكړه په مقصد ثالث د اسم معرب كې چې مجرورات دي دا ما سياتي تر يو حده پورې بحث د اسماء مجروره وو دي، او مجرورات جمع د مجرور ده. نه د مجرورة، ځكه دا صفت د اسم دي او صفت د مذكر غير عاقل جمع كيږي الف او تا سره يعنې جمع مؤنث سالم سره قياسًا او اطرادًا (هو) دا جنس مجرور چې دال دي په دي باندې لفظ د مجرورات د قبيلي د دلالت د جمع نه په جنس باندې نه د قبيلي د دلالت د جمع نه په فرد باندې ځكه دا تعريف دي او تعريف كيږي د جنس په جنس سره په مقام د جمع كي او دا مقام د جمع دي، او په عنوان د جمع كي اشاره ده كثرت د انواعو ته چې انواع د مجرور (۴) دي (۱) مجرور په اضافت لفظي سره (۲) مجرور په اضافت معنوي سره (۳) مجرور په اضافت د فعل سره عند سيبويه (۴) مجرور په حرف جر لفظي سره په اصطلاح د نحو كي.

(ما) اسم دي حقيقةً وي او كه تاويلا وي هسې اسم (اشتمل) چې مشتمل وي دا اسم د قبيلي د اشتمال د كالموصوف نه په صفت باندې په تابعيت كي (على علم المضاف اليه) په علامي د كون د شي باندې مضاف اليه چې هغه (۱) كسره ده په مفرداتو او جمع مكسر او جمع سالم مؤنث كي (۲) او فتحه ده په غير منصرف كي (۳) او يا ده په اسماء ستو مكبرو او په تثنيو او په جمعو كي او دا اشتمال عام دي لفظاً وي او كه تقديراً وي او كه محلاً وي، هر كله چې كلمه د ما عبارت وه د اسم نه صادق نه شو تعريف په حرف اخير باندې لكه مررت بزيد كي چې دا مجرور لغةً دي خو اصطلاحًا نه دي بلكه اصطلاحًا مجرور دا كلمه ده ځكه مرفوعات او منصوبات او مجرورات په اصطلاح د نحو كي صفات د اسم دي

سوال: معترض صاحب وائي كلمه د ما عبارت ده د شي نه نو دا تعريف د مجرور ستا صادق شو په حرف اخير د اسم معرب باندې چې مشتمل دي په علامي د مضاف اليه باندې دا حرف اخير د اسم معرب په مررتُ بزيدٍ كي؟ **جواب:** دا دي چې ما عبارت د اسم نه دي.

سوال: تول اسم مشتمل دی په جر باندې مجازاً او دا حرف اخير مشتمل حقيقةً دي او ته دي اسم ته مجرور وائي او دي حرف ته مجرور ولې نه وائي؟ **جواب** د نحو په اصطلاح كې دی اسم ته مجرور وايي اگر كه لغت اعتبار سره مجاز دي هر كله چې مشتمل په علامه د مضاف اليه باندې عام دي چې مساوي دي د مطلق مجرور سره نو تعريف بالمساوي شو نه تعريف بالاخص، لكه معترض

هر كله چې تعريف دمجرور مشتمل وو په مضاف اليه باندې پس لابدې شوه د تعريف

ځكه دا ماتن تعريف د مضاف اليه كوی. او هر كله چې په تعريف د مضاف

مذهب د جمهورو (كل اسم نسب اليه اسم) او بل مذهب د سيبويه

مذهب د سيبويه ؤ ځكه يې دلته مذهب د سيبويه ذكر كړه.

سوال: د ده مذهب ولي مختار دي؟ جواب: هر كله چې مضاف اليه لغوي عام ؤ چې مطلق منسوب اليه ته وائي، سيبويه مغنی اصطلاحي هم عامه وی او كه فعل وی لپاره د دی چې مفهوم اصطلاحي د مفهوم موافق شي د مفهوم لغوي سره په عموم كي (**كل اسم**) هر هغه اسم دي چې حقيقةً وي او كه تاويلا وي (**شئ**) هغه شي عام دی چې اسم وي نحو غلام زيدٍ يا فعل وي نحو مررت بزيد (**بواسطة حرف الجر**) دي سره ووته مبتدأ فاعل نائب فاعل (**لفظا او تقديرا**) كي اشاره ده تعميم ته چې حرف جر عام دي لفظاً وي نحو مررت بزيد او كه تقديراً وي نحو غلام زيد (**مرادا**) په حال كون د حرف جر كي چې دا به مراد وي په اعتبار د عمل او اثر سره په دي شان سره چې اثر يې باقي دي په دي سره خارج شو مفعول فيه منصوبه چې هلته في مقدر دي لكن اثر يې باقي نه دي، دارنګي خارج شو مفعول له منصوبه چې هلته لام مقدر دي لكن اثر يې ظاهر او باقي نه دي.

سوال: ذكر د مراد پس د تقديراً نه لغوه دي ځكه تقدير دي ته وائي اسقاط عن اللفظ او مراد وي په نيت كي؟ **جواب:** دا دي چې دلته مراد او تقدير په مينځ كي فرق دي تقدير دا معنى چې ملفوظ نه وي اثر يې باقي وي او كه نه وي، او مراد هغې ته وائي چې ملفوظ نه وي اثر يې باقي وي.

سوال: ته وائي هغه اسم ته وائي نسب اليه شئ بواسطة حرف الجر لفظاً او تقديراً دا تعريف ستا صادق شو صمتُ يوم الجمعة او ضربت تاديبًا باندې چې دا يوم الجمعة او تاديبًا اسم دي نسبت يې شوي دي ديته د يو شي چې صمت او ضربت دي په واسطې د حرف جر تقديري سره چې هغه في دي په مثال اول كي او لام دي په مثال ثاني كي؟ **جواب:** وشو مراداً سره چې په حال كون د دي حرف جر كي چې دا به مراد وي په اعتبار د عمل سره يعني اثر به يې باقي وي په خلاف د صمتُ يومَ الجمعة او ضربت تاديبًا نه چې هلته كي مراد دي په اعتبار د ظرفيت او علتيت سره نه په اعتبار د عمل سره (**فا لتقدير**) هر كه چې مطلق اضافت كي احتمالات عقليه (۴) مضاف چې اسم وي دوه قسمه دي: (۱) مضاف دي په ظهور د حرف جر سره نحو غلامٌ لزيد (۲) مضاف دي په تقدير د حرف جر سره نحو غلام زيدٍ دا دواړه مستعمل دي په كلام د عربو كي، مضاف چې يكې فعل وي بيا په دوه قسمه دي: (۱) مضاف دي په ظهور د حرف جر سره نحو مررت بزيد دا هم مستعمل دی په كلام د عربو كي (۲) مضاف وي په تقدير د حرف جر سره دا مجرد احتمال عقلي دي نه دي مستعمل په كلام د عربو كي نو تقدير د حرف جر مختص شو په اسم مضاف كي اوس تقدير د حرف جر لپاره شرط بيانوي ماتن (فالتقدير) پس تقدير د حرف جر په ما بين د مضاف او مضاف اليه كي (**شرطه**) شرط لپاره د تقدير د حرف جر (**ان يكون**) كون د مضاف دي (**اسما**) اسم ولي كه مضاف فعل وي بيا ظهور او تلفظ د حرف جر واجب دي او تقديراً يې ممتنع دي په دليل د عدم سره (**مجردا**) په حال كون د دي اسم كي چې لري كړي شوي به وي او منسلخ به وي (**تنوينه**) تنوين د اسم د دي اسم نه يا قائمقام د تنوين چې نون د تثنيه او نون د جمع دي (۱) كه چيري تنوين ورله موجود وي (۲) يا شرط ورله تجريد د تنوين دي حقيقةً لكه منصرف كي يا حكمًا لكه غير منصرف

تنوين د اسم د دي اسم نه يا قائمقام د تنوين چې نون د تثنيه او نون د جمع دي (١) كه چيرې تنوين ورله موجود وي (٢) يا شرط ورله تجريد د تنوين دي حقيقةً لكه منصرف كې يا حكماً لكه غير منصرف كې (**لاجلها**) د وجې د اضافت نه ځكه اضافت واجبوي اتصال ما بعد سره او عدم اتمام بې د ما بعد نه او تنوين واجبوي انفصال د ما بعد نه او اتمام بې د ما بعد نه ما بين كې يې منافات دي

سوال: دا عبارت د ماتن مؤدي د مقصود نه دي ځكه د دي ترجمه دا ده چې تنوين به پريدي تنوين به پريږدي او اسم به او امر بالعكس دی چې اسم به پريدي تنوين به لري كړي ځكه دا مراد د ماتن دي؟
جواب: دا دي چې دلته مجرداً په معنى د انسلاخ سره دي او دا انسلاخ نسبت عارض ته كيږي او دلته تنوين عارض دي نو معنى مراد ادا شوه.

سوال: تجريد د تنوين فرع د وجود د تنوين ده غير منصرف چې مضاف شي هلته تقدير د حرف جر موجود دي او شرط نه دي موجود چې تجريد د تنوين نه دي ځكه تنوين شته دي نه د دي (**جوابونه**) دوه دي: (١) ان وجد او دلته موجود نه دي. (٢) يا جواب دا دي: چې مطلقاً حكم دي تجريد عام دي حقيقةً وي لكه منصرف كې شو او كه حكماً او فرضاً وي لكه غير منصرف كې. او په اضافت لفظي كې په نزد د مصنف حرف جر مقدر دي اګر كه مصنف بيان نه دي كړي تقدير د حرف جر په اضافت لفظي كې نو اعتراض دفع شو چې حسن الوجه كې خو اضافت د اسم شوي دي او حرف جر نه لفظاً شته او نه تقديراً؟ **جواب:** دا دي چې د مصنف په نزد باندې اضافت لفظي كې هم حرف جر مقدر دي لكن د هغې تصريح يې نه ده كړي ځكه خلك اعتراض كوي چې: ده په نزد مقدر نه دي (**وهي**) دا اضافت په تقدير د حرف جر سره دوه قسمه دي (**معنوية**) يو اضافت معنوي دي (**ولفظية**) او بل اضافت لفظي دي.

وجه د حصر دا ده: كه مضاف پكې صفت عامله قبل الاضافت ؤ اضافت لفظي، او كه صفت عامله قبل الاضافت نه ؤ اضافت معنوي.

وجه د تسميې: لفظي ته لفظي ځكه وائي چې فائده مرتبه فقط لفظي ده چې هغه تخفيف دي په لفظ كې، او معنوي ته معنوي ځكه وائي چې دا مفيد د معنى دي په مضاف كې تعريفاً و تخصيصاً. (**فالمعنوية**) پس علامه د اضافت معنوي دا ده (**ان يكون المضاف**) كون د مضاف دي (**غير صفة**) غير مشتقي يعني مضاف به مشتقي نه وي هسې مشتقي (**مضافة الى معمولها**) چې مضاف وي معمول خپل ته قبل الاضافة

سوال: فالمعنوية دا يې معرف ان يكون الخ دائي تعريف دلته حمل نه صحيح كيږي او اتحاد راغلي ما بين د معرَف او معرِف كي؟ **جواب:** دا دی: چې دا تعريف بالاثر دي نه تعريف بالمفهوم، خو د دې صفت نه مراد درې دي: (١) اسم فاعل (٢) اسم مفعول (٣) صفت مشبه، او معمول نه مراد دوه دي: (١) فاعل (٢) مفعول به، اوس دلته كې غير نفي ده او متوجه ده مقيد ته اوس د دې صورتونه دوه دي: (١) چې قيد مقيد دواړه نشته دی لكه غلامُ زيدٍ (٢) يا فقط قيد نشته دي لكه رب العالمين، مصارع مصر، كريم البلد. مالك يوم الدين شو

دي؟
سوال: ضاربُ زيدٍ کې خو دا زيد معمول نه دي بلکه مضاف اليه دي او مجرور دي ځکه چې په اضافت کې مضاف اليه مجرور دي
جواب: دا دی چې معمول به وي قبل الاضافة اوس خو د اضافت د وجې نه مضاف اليه مجرور دی
(وهي) دا اضافت معنوي (۳) قسمه دي دليل اول تتبع او استقراء ده **(اما بمعنی اللام)** يا به په معنی د لام
سره په دي شان سره چې مضاف او مضاف اليه په مينځ کې معنی د لام موجود وي چې هغه تخصيص
دي برابره خبره ده چې اظهار د لام جائز وي لکه غلام زيد کې او که نه وي لکه علم الفقه. شجر الاراك
کي، تعريف بالعلامه دا دي **(في ما)** په هغه مضاف اليه کې **(عدا جنس)** چې دا غير دي د جنس د مضاف
نه په دي شان سره چې دا مضاف اليه به اصل او ماخوذ منه د مضاف نوي **(و ظرفه)** او دا مضاف اليه به
ظرف زمان او مکان د مضاف نوي **(و اما بمعنی من)** يا به وي په معنی د من سره په دي شان سره چې
معنی د من بياني موجود وي په دي شان سره چې مضاف اليه بيان د مضاف وي دا راځې په هغه ځاي
کې چې مضاف اليه جنس او اصل او ماخوذ منه د مضاف وی **(او بمعنی في)** چې معنی د في موجود وي
په دې شان سره چې مضاف اليه ظرف زمان او مکان د مضاف وي (۱) مضاف اليه ظرف زمان او مکان
لپاره د مضاف او دا په معنی د في سره دي (۲) ما بين د مضاف او مضاف اليه کې نسبت د عموم
خصوص من وجه وو (۲) او مضاف متخذ او مضاف اليه ماخوذ منه دا په معنی د من سره دي (۳)
ماسوا ځومره چې دي هغه په معنی د لام سره دي اوس بيان د فرق استعمالي کوي **(وهو)** دا اضافت په
معنی د في سره **(قليل)** قليل دي په استعمال کې د دي وجې نه بعضي خلقو مندرج کړي دي اضافت په
معنی د في سره اضافت په معنی لام کې او مصنف دا اندراج خوښ نه دي ځکه يې مستقل نوع ذکر
کړه چې د ده احکام جدا دي د احکامو د هغې نه **(غلام زيد)** دا اضافت بمعنی اللام **(خاتم فضة)** دا
اضافت بمعنی من چې ما بين د خاتم او فضه کې نسبت عموم خصوص من وجه دي، او مضاف متخذ
دی او مضاف اليه ماخوذ منه دي **(ضرب اليوم)** دا اضافت بمعنی في دي ځکه مضاف اليه ظرف زمان
دی لپاره د مضاف **(و تفيد تعريفا)** غرض د ماتن بيان د فوائدو د اضافت معنوي دي، د اضافت معنوي
تعريف وشو، اوس فوائد د اضافت معنوي بيانوي **(و تفيد)** فائده کوي دا اضافت معنوي **(تعريفا)**
تعريف د مضاف، تعريف په مضاف کې تعين د مصداق د مضاف دي **(مع المعرفة)** سره د مضاف اليه
معرفي نه لکن ما سوا د (۱) شبه (۲) نحو (۳) مثل او (۴) غير نه، دا ځلور الفاظ اګر که مضاف شي
معرفي ته بيا هم نه معرفه کيږي ځکه دا اضافت معنوي کذائي وضع شوی دی لپاره د تعريف د
مضاف، او تعريف د مضاف عبارت دي د تعين د مصداق د مضاف نه او د دي مثل او شبه او نحو او
غير مصداق نه معين کيږي په اضافت سره معرفي ته ځکه دا مثل او شبه او نحو او غير د وجې د کمال
توغل نه په ابهام کې نه معرفه کيږي په اضافت سره، او د معرفي او نکري فرق دار مدار په تعين د
مصداق باندې دي که مصداق ورله معين وو معرفه والاتکره اوس ته وائي جا عني غيرك، اوس د دي
غيرك مصداق مبهم دي مخاطب ته نه دی معلوم **(و تخصيصا)** او فائده کوي دا اضافت معنوي
تخصيص په مضاف کې چې هغه قلت د شرکاء دي او قلت د مصداقاتو دي **(مع النكرة)** سره د مضاف

اليه نكري نه، او دا تخفيف چې حاصليږي په سقوط د تنوين يا قائم مقام د تنوين سره هغه د مطلق اضافت فائده ده او دلته کې هغه اثر او هغه فوائد بيانوي چې هغه مختص دي په اضافت معنوي پورې احتمالات عقليه په اضافت معنوي کې څلور دي: (١) اضافت د نکرې معرفې ته نحو غلام زيد (٢) اضافت دنکري نکري ته نحو غلام رجلٍ دا دوه جائز او واقع دي په نفس الامر کې يو اضافت د معرفې معرفې ته نحو الغلامُ زيد دويم اضافت د معرفې نکرې ته نحو الغلامُ رجلٍ دا دوه صورتونه ممتنع دي (**وتفيد تعريفا مع المعرفة**) دې لپاره دليل چا داسې ويلې دي (١) نسبت د مبهم معين ته دا فائده کوي تعين په مبهم کې لکن دا دليل د شارح په نزد کمزوري دي ځکه يو ځاى کې نقض اجمالي راځي لکه ضرب زيد شو نسبت د ضرب زيد ته شوى دى نه دى معرفه شوى بلکه مطلق ضرب مراد دي (٢) دا وائي دليل ورله وضع دي ځکه دا ترکيب کذائي وضع شوي دي لپاره د تعريف.

سوال: ته وائي دا ترکيب کذائي وضع شوي لپاره د تعريف دي کله کله متکلم اضافت معرفې ته وکړي بيا هم تعريف نه فائده کوي چې تعين د مصداق قصد اونه کړي متکلم مثال لکه جاءني غلام زيدٍ؟

جواب: دا اضافت پشان د الف لام دي لکه څرنګه چې الف لام وضع شوي دي تعريف لپاره لکن مستعمل بې کله مستعمله وي خلاف د وضع، دارنګې دا ترکيب کذائي وضع شوي دي تعريف لپاره لکن مستعمل بې کله مستعمله وي خلاف د وضع د واضع، لکن حصر د فوائد د اضافت معنوي په دي دوه ونشته دي بلکه کله دا مضاف تانيث فائده کوي د مضاف اليه نه (٢) او کله تذکير کسب کوي د مضاف اليه نه (٣) او کله جمعيت کسب کوي د مضاف اليه نه (۴) او کله افراد کسب کوي د مضاف اليه نه

(**وشرطها**) شرط لپاره د اضافت معنوي (**تجريد المضاف**) (١) خلو د مضاف ده (**من التعريف**) د تعريف نه (٢) خالي کول د متکلم دي مضاف لره د تعريف نه که چرى دا مضاف معرفه ؤ، ولې ځکه کچيرې مضاف معرفه وي ته يې مضاف کړي معرفې ته بې د تجريد نه لازميږي تحصيل حاصل او که ته يې مضاف کړي نکرې ته لازميږي طلب د ادنى سره د حصول د اعلى نه دا دواړه باطل دي.

سوال: تجريد باب تفعيل دي متعدي خالي کول د يو شي ته وائي مثلا الغلامُ دي ته يې مضاف کړې زيد ته غلامُ زيد اوائې تجريد راغې اوس مثلا غلام دي بغير د الف لام نه ته يې مضاف کړي زيد ته غلامُ زيدٍ ووائې د سره په دې کې تجريد رانغې او ته وائي شرط لپاره د اضافت معنوي تجريد د مضاف دي د تعريف نه؟ **جواب:** جوابونه د دې دوه دي: (١) څوک وائي تجريد باب تفعيل په معنى تجرد باب تفعل سره دي، تجرد معنى خلو د شي يعني خالي کيدل د شي اوس ته يې خالي کوي او که بخپله خالي وي (٢) څوک وائي: تجريد په خپله معنى سره دي لکن دوى يو قيد معتبر کوي اي و شرطها تجريد المضاف من التعريف ان کان معرفةً

سوال: جعل د معرفې مضاف دا تا باطل کړه او جعل د معرفې علم جائز نحو ابن عمر بن عباس العقبة النجم، او تحصيل د حاصل دواړو کې دي؟ **جواب:** چې په جعل د معرفې کې نه منم چې تحصيل حاصل

دي بلکه هلته کې ازاله د تعريف اولى ده چې هغه الف لام زائد کړي او لغو کړي و کذا حصول د تعريف اخر ده.

سوال: دلته کې ازاله معتبر کوي هلته کې ازاله ولې نه معتبر کوي؟ **جواب:** دا دی هلته کې ازالې باندې اثر مرتب دي او فائده مرتب معتبر ده ځکه په هغه کې ازاله د ضعيف دي او حصول د قوي دي او دلته په ازالې باندې فائده نه ده مرتب ځکه په دې کې ازاله د قوي ده او طلب د ضعيف دي چې تعريف قوي مې لرې کړه او تعريف سوال مې پيدا کړه.

تنبيه: په دي مقام کې به د هغه سيبويه ترتيب لحاظ به ساتي په معارف کې **(و ما اجازه)** هر کله چې استدلال نيولو کوفيانو په عدم تجريد د مضاف د تعريف نه په بعضي جزئياتو د عربو سره مصنف راغي جواب يې وکړه د بصريانو د طرف نه او رد يې وکړه په کوفيانو باندې او وئي ويل **(وما)** هغه ترکيبونه **(اجازه)** چې جائز کړي دي هغې لره کوفيانو **(من العدد)** د عدد نه چې عدد معرفه باللام مضاف وي معدود معرف باللام ته **(ضعيف)** دا ضعيف دي قياساً او استعمالاً يعني د قاعده نحوي نه هم خلاف دي او فصحاء عربو د استعمال نه هم خلاف دي نو قاعده نحوي نه خلاف دي هغه دغه ده چې اضافت معنوي کې مقصود اصلي تعريف او تخصيص دي او دا دواړه منتفي دي په اضافت د عدد معرفه باللام کې معدود معرف باللام ته او ضعف استعمالاً دا دي چې يو فصيح شاعر دي د هغه په قول کې عدد مضاف دي معدود معرف ته او عدد مضاف معرفه باللام نه دي نحو ثُلاث الاثافي و الديار البلاقعُ، دا ترکيبونه چې کوم دي الثلاثةُ الاثوابُ و غيرها مخالف دي د قاعدې او استعمال فصيح د عربو نه معلومه شوه چې دا يا ترکيب معنوي دي يا کلام د مولدين دي **(ضعيف)** يعني مضاف باندې الف لام دا خلول ضعيف دي قياساً او استعمالاً هر چې دي دا قول د پيغمبر عليه السلام اغسلوا يوم الجمعة و لو اشتريتم کاساً بالالف الدينار (١) دا محمول دي په بدل باندې اوس دويم په دي مقام کې دا مسئله زده کړئ چې ماخذ استنباط د علم فقه او علم اصول لپاره قرآن او حديث دي او ماخذ لپاره د علم نحو او علم صرف او علم معاني لپاره درې دي بالاتفاق (١) کلام عربي په زمانه د جاهليت کې (٢) کلام عربي په ابتداء د اسلام کې (٣) قرآن پاك اما کلام د حضرت ماخذ لپاره د علم نحو او علم صرف او علم معاني ګرځي او که نه په دي کې خلاف دي (١) ځوك وائي دا هم ماخذ ګرځول صحيح دي دليل د دوی لپاره دا دي کلام عربي جاهلانه خو ماخذ ګرځي کلام د حضرت ځنګه ماخذ نه ګرځي باوجود د دينه چې نبي عليه السلام افصح د فصحاء نه دي او ابلغ د بلغاؤ نه دي (٢) بعضي وائي کلام د حضرت ماخذ نه ګرځي د دي علوم لپاره ځکه فصاحت د حضرت خو معجزانه فصاحت دي او بلاغت د نبي عليه السلام معجزانه بلاغت دي لکن په هغه فصاحت او بلاغت د نبي عليه السلام سره حديث منقول دي او که نه دي په دي کې خبره ده د وجې د کثرت د دخول د عجمو نه په روايت د احاديثو کې جائز کړي يې دی روايت بالمعنى، يعني خپل خپل الفاظو سره نقل کوي چې دا مؤدي وي هغه مضمون او معنى مراد د حضرت لره بعينه هغه الفاظ د نبي عليه السلام سره حديث نقل کول شرط نه

دي ځکه دا ماخذ نه ګرځي د دي علومو لپاره، هر کله چې کلام د حضرت ماخذ نه شو د دي علومو لپاره نو استدلال نیول په حدیث د پیغمبر علیه السلام سره لپاره د عدم تجرید د مضاف د تعریف نه دا صحیح نه دي (**واللفظية**) هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د قسم اول د اضافت نه چې هغه اضافت معنوي دي پس شروع یې وکړه په بیان د قسم ثاني د اضافت کې چې هغه اضافت لفظي دي وئي ویل (**واللفظية**) اضافت لفظي (**ان يكون**) علامه د اضافت لفظي دا ده (١) (**صفة**) چې مضاف به پکې مشتقي وي دا یو قید (٢) (**مضافة الى معمولها**) مضاف به وي معمول خپل ته، دوه قیده، دا دوه قید چې معاً اضافت کې راشي هغې ته به اضافت لفظي وائي و الافلا یعني یا د سره مشتقي نه دي او یا مشتقي خو دي لکن مضاف معمول خپل ته نه دي نو اضافت لفظي کې په جانب د مضاف کې شرط دا دي چې مضاف به مشتقي وي د دي مضاف مشتقي مصداقونه دري دي: (١) اسم فاعل (٢) اسم مفعول (٣) صفت مشبه، او په جانب د مضاف الیه کې شرط دا دي چې مضاف الیه به معمول د مضاف وي لکن معمول نه هغه دوه مراد دي (١) فاعل (٢) مفعول به که اندراج وکړي د نائب فاعل په فاعل کې او که اندراج اونه کړي بیا دري دي فاعل (٢) نائب فاعل (٣) مفعول به.

سوال: ته وائي و اللفظيةُ ان يكون الخ، دا خو د اضافت لفظي تعریف نه دي ځکه اضافت لفظي دیته وائي نسبت د شي دي اسم ته په واسطي د حرف جر سره لفظاً وي او که تقدیراً وي؟ **جواب**: دیته وائي تعریف رسمي او تعریف بالعلامه دا مضاف الیه به معمول د مضاف به وي قبل الاضافة ځکه اوس خو مضاف الیه مجرور دي لکن قبل الاضافة دا مضاف الیه مضاق لپاره فاعل او یا نائب فاعل او یا مفعول به او مثال لکه (**ضارب زيد**) دا اضافت لفظي دي او اضافت د اسم فاعل شوي دي مفعول به ته،

ترجمه: وهونکي زید لره (**حسن الوجه**) دا هم اضافت لفظي دي اضافت د صفت شبه دي فاعل ته

هر کله چې فارغ شو مصنف د تعریف د اضافت لفظي نه اوس بیانوي فائده د اضافت لفظي (**ولا تفيد**) نه فائده کوي دا اضافت لفظي تعریفاً و لاتخصیصاً یوي فائدي لره (**الا تخفيفا في اللفظ**) مګر فائده کوي تخفیف په لفظ کې (١) تنوین ساقطه وي (٢) قائمقام د تنوین ساقطه وی بیا دا حذف د تنوین عام دي، یا دا تخفیف عام دي حقیقةً وي او که حکمًا وي نحو حواج بیت الله، په دي کې خو حذف د تنوین نشته ځکه په دي کې تنوین شته دي نه؟ **جواب**: په دي کې تنوین حذف شوي دي حکماً.

سوال: اضافت لفظي فقط مفید د تخفیف في اللفظ ولې دي، او اضافت معنوي کې فائده معنوي او لفظي دواړه مرتب ده او اضافت لفظي کې فقط فائده لفظي مرتب ده د دي څه وجه ده؟ جواب: تعریف او تخصیص راځي په مضاف کې د وجې د اتصال نه او اضافت معنوي کې اتصال معنوي دی چې عامل معمول دی او اتصال لفظي دي چې لفظ کې یو بل سره متصل دي نو په اتصال معنوي باندې فائده معنوي مرتب شوه چې هغه تعریف او تخصیص دي، او په اتصال لفظي باندې اثر لفظي مرتب شو چې هغه تخفیف دي په لفظ کې، او په اضافت لفظي کې اتصال معنوي نه دي راغلي اتصال معنوي مخکي د اضافت نه وو چې هغه عامل معمول دي فقط اتصال لفظي راغلي دي ځکه په دي

حکم کوي چې دا اضافت لفظي په حکم کې فقط اثر لفظي مرتب دی نه اثر معنوي د دې د وجې نه دوی حکم د انفصال کې دی.
(ولا تفيد الا تخفيفا في اللفظ) کې دوه مدعی ګاني ماتن بيان کړي (١) مدعی ايجابي صراحةً او لفظاً (٢) مدعی سلبي ضمناً او تقديراً صراحةً دا چې اضافت لفظي کې فائده لفظي مرتب ده ضمناً دا چې (ولا تفيد تعريفاً ولا تخصيصاً)
لاندې دي نکتې ليکلي دي (ولا تفيد الاتخفيفاً في اللفظ نه څنګه معلوميږي؟ **جواب:** په دې کلام کې
سوال: دا مدعی ضمني د دي و لاتفيد الا تخفيفاً في اللفظ نه څنګه معلوميږي؟ **جواب:** په دې کلام کې حصر دی او کوم کلام کې چې حصر وي هغه مشتمل وي په نسبتينو باندې مذکور ته منطوق وائي او هغه نسبت غير مذکوره ته مفهوم وائي، اوس په دي مدعی ضمني او سلبي باندې اول تفريع پيش کوي (و من ثم) د دي وجې نه چې اضافت لفظي مفيد د تعريف نه دی (جاز) جائز شو دا ترکيب چې (مررت برجل حسن الوجه) دي (وامتنع) او ممتنع شو دا ترکيب چې (مررت بزيد حسن الوجه) دي د وجې د عدم مطابقت نه په ما بين د نعت او منعوت کې دا دوه تفريع په هغه ضمني سلبي باندې شوي اوس تفريع پيش کوي په مدعی صريحي ايجابي باندې **ومن ثم** د دی وجې نه چې اضافت لفظي مفيد د تخفيف دي په لفظ کې (و جاز) جائز شو دا ترکيب چې (الضاربا زيد) دي د وجې د حصول د تخفيف نه په سقوط د نون تثنيه سره په الضاربا زيد کې، او جمع سره په الضاربو زيد کې د وجې د اضافت نه (و امتنع) او ممتنع شو دا ترکيب چې (الضارب زيد) دي د وجې د عدم حصول د تخفيف نه په اضافت سره ځکه په دي کې دا تنوين ساقط شوي دي د وجې د دخول د الف لام نه. نه د وجې د اضافت نه دا دوه تفريع په هغه مدعی صريحي ايجابي باندې شوي (١) حکم چې مرتب شي په مجموعي باندې دا لازم نه ده چې هر جز دی علت شي لپاره د ترتب د حکم بلکه کله کله حکم مرتب وي په مجموعي باندې په اعتبار د يو جز سره دلته هم حکم مرتب دي په مجموعي باندې په اعتبار د يو جز سره چې هغه کون د اضافت لفظي دي غير مفيد د تعريف دا نه چې هر واحد د اجزاء د مشار اليه نه علت دي (٢) او تفريع په قيد ضمني باندې مقدم کړه د تفريع د قيد صريحي نه پکار دا وه چې عکس يې کړي وي چې صريحي يې مقدم کړي وي په ضمني باندې ځکه صريحي اصل دي د ضمني نه لکن دي عکس و نه کړه ځکه قيد صريحي لپاره لواحق کثيره دي نو دا کثير شو او هغه قليل، او داب او طريقه د کافيه ملا دا ده چې دي قليل مقدم کوي په کثير باندې، دي سره اعتراضونه دفع شو.
سوال: و من ثم مشار اليه دري سيزونه دي چې اضافت لفظي مفيد د تعريف او تخصيص نه دي او مفيد د تخفيف دي او مشار اليه، دا من ثم علت وي لپاره د حکم او دلته کې حکم لپاره دري واړه علت خو نه دي ته څنګه حکم مرتب کوي په مجموعي باندې او وائي و من ثم جاز الخ؟
جواب: حکم چې مرتب شي په مجموعي باندې دا لازمه نه ده چې هر واحد د مجموعي لره دی دخل وي او تاثير وي بلکه کله حکم مرتب وي په مجموعي باندې په اعتبار د مجموعي سره او کله حکم مرتب وي په مجموعي باندې په اعتبار د يو جز سره.

سوال: كوم حكم چې هلته لفظاً مذكور دي هغه باندې تا تفريع وروسته كړه او كوم حكم چې هلته ضمناً مذكور دي په هغه باندې تا تفريع مخكې كړه پكار دا وه چې دا صريحي دى مخكې كړې وي په ضمني باندې لأن المذكور اولى من الضمني؟ **جواب:** كوم تعريف چې په حكم لفظي باندې مرتب دي هغه طويل البحث دي او تفصيل دي او كومه چې په حكم ضمني باندې مرتب دي هغه طويل البحث نه ده اجمالي ده او اجمال مقدم وي د تفصيل نه (**خلافا للفراء**) نسبت د خلاف كولې شي دي جمهورو ته او خلاف ثابت دي فراء لره چې هغه وائي دا تركيب ممتنع نه دى بلكه جائز دي، دلائل د هغې دوه دي: (١) دليل دا دي چې اضافت مقدم دي په الف لام باندې په دې شان سره الضاربُ زيدٍ كې دا تنوين ساقط شوي دي اضافت د وجې نه بيا دا الف لام داخل شوي دي نو مسقط لپاره د تنوين دا اضافت دي نه الف لام لهذا دا اضافت لفظي مفيد د تخفيف دي په لفظ كې دا تركيب جائز دي د دينه؟ **جواب:** دا دې حكم په تقديم د اضافت باندې د الف لام نه سره د تقديم د الف لام نه په اضافت باندې صورتًا او حسًا دا خلاف د عقل او بداهت نه دى يعني د ظاهر نه دي دا خبره خلاف ده لهذا د دې ظاهر او عقل تقاضا دا ده دا الف لام لكه څرنګه چې لفظاً او حسًا مقدم دي دارنګې اعتباراً هم مقدم دي (٢) دليل نقلي هغې لپاره دا قول د شاعر دي (**الواهب المائة الخ**) شاعر صاحب وائي څما ممدوح بخښونكي د سلو اوښانو سپينو دي چې تازه لنګي شوي دي او سره د بچو نه او سره د غلام نه بخښي دا د دې شاعر مطلب دي.

دليل د فراء دلته كې دا دي: (١) (**الواهب**) مضاف اسم فاعل معرف باللام (المائة) موصوف اسم جنس معرف باللام مضاف اليه اګر كه فائدې نه دي مرتب (**الهجان**) صفت، دا تركيب جائز دي بالاتفاق دي باندې د چا اعتراض نشته دي. (٢) (و عبدها) عطف دي په (**المائة**) باندې نو الواهب عبدها شو څكه مسئله دا ده چه: **معطوف په حكم د معطوف عليه كې وي**، اضافت د معرفه باللام معرفې ته وشو دينه معلومه شوه چې دا جائز دي او الضاربُ زيدٍ محمول دي په دې باندې نو دا تركيب جائز شو نقلاً او الضاربُ زيدٍ جائز دي حملاً؟ جواب: هر كله چې استدلال نيولې ؤ فراء په دې قول د شاعر سره لپاره د جواز د دې تركيب چې الضاربُ زيدٍ دي مصنف راغي جواب يې وكړه د جمهورو د طرف نه د دليل نقلي د فراء نه (**وضعف**) سره اوس د دې ضعف دوه ترجمې دي: (١) ضعيف دي دا تركيب چې الواهبُ المائة الخ دي څكه په دې كې اضافت لفظي دي او اضافت لفظي باندې اثر مرتبه تخفيف دي او دې كې تخفيف نه دى مرتب نو دا شعر ضعيف دي، هر كله چې دا شعر ضعيف شو دا دليل كې پيش كول ضعيف دي لكن دا ترجمه كمزوري ده څكه په دې كې مصادره على المطلوب ده څكه ددې ضعف لپاره تا دليل اونيوه هغه مدعى. (٢) اصلي ترجمه دا ده: (**وضعف**) ضعيف دي استدلال نيول د فراء او قياس د فراء، دا تركيب نه دي ضعيف بلكه د دې شعر نه دليل نيول د فراء ضعيف دي څكه د دې شعر نه د هغه مدعى نه ثابتيږي څكه دا مسئله ده چې اذا جاء الاحتمال بطلَ الاستدلالُ دليل كې به هغه شي پيش كوې چې هغه نص وي په هغې كې د بل احتمال نه وي، اوس په دې عبدها كې دوه اعرابه جائز دي: (١) عبدها مجرور (٢) عبدَها منصوب بنا بر مفعول معه. (١) او كه اومنم چې عبدها مجرور دي او مضاف اليه دي لكن دا د نحو مسئله ده ډير كرتې يو حكم معطوف كې جائز وي او معطوف

عليه كې جائز نه وي لكه رب شاة و سخلتها شو، دارنګي دا عبدها په مرتبه د معطوف عليه كې وي دا حكم جائز نه وو لكن دا په مرتبه د معطوف كې دي ځكه حكم جائز دي بهر تقدير قياس د فراء باطل شو.

(وانما جاز) دا هم جواب دي د قياس د فراء نه، فراء لپاره يو مقيس عليه دا دي چې هغه وائي الضارب زيد په الواهبُ المائة و عبدها باندې باطل شو. مقيس عليه خو اتفاقي دي، دا وائي بيشكه زيد جائز دي ځكه دا قياس دي په **الضارب الرجل** باندې او مقيس عليه خو اتفاقي دي، دا وائي بيشكه جائز دي دا تركيب چې (**الضارب الرجل** دي بالاتفاق (**حملا**) د وجې د محموليت د دي تركيب نه (**على المختار**) په تركيب مختار باندې په (**الحسن الوجه**) كې يعني الضاربُ الرجلِ قياساً جائز نه دي بلكه دا جائز دي حملاً په تركيب مختار باندې چې كائن دي په الحسن الوجه كې، وروسته به راځي چې صفت مشبه كې اتلس صورتونه دي من جمله د هغې صورو نه (**الحسن الوجه**) دي په دي كې (٣) تركيبونه دي دوه غير مختار او يو مختار (١) الحسن الوجهِ د الوجهُ غير مختار ځكه دي چې رابط پكې نشته دي (٢) الحسن الوجهَ په دي كې رابط شته بيا ولي غير مختاره دي ځكه دا منصوب دي بنا بر تشبيه او په دي كې تكلف دي (٣) او الحسنُ الوجهِ كې تكلف نشته لهذا الحسن الوجهُ او الحسنُ الوجهَ غير مختاره او الحسنُ الوجهِ مختاره او دا مقيس عليه جائز دي قاعدةً ځكه اضافت لفظي كې اثر مرتبه تخفيف دي او د تخفيف صورتونه (٣) دي (١) سقوطِ د تنوين حقيقةً يا حكماً (٢) او قائم مقام د تنوين په جانب د مضاف كې (٣) او په اسقاط د ضمير سره د مضاف اليه نه او استتار په صفت كې او دلته كې تخفيف مرتب دي په جانب د مضاف اليه كې په حذف د ضمير سره په وجه كې او په استتار د ضمير سره په صفت كې او (**الضارب الرجل**) مقيس جائز دي حملاً اګر كه تخفيف نه دي مرتب نه په مضاف كې او نه په مضاف اليه كې او علت مشتركه مضاف دواړو كې معرف باللام دي دي او مضاف اليه دواړو كې معرفه باللام اسم جنس دي، او (الضاربُ زيدٍ) نه دی جائز قاعدةً دي او نه جائز دي حملاً ځكه مضاف كې شركت شته او مضاف اليه كې شركت نشته نو قياس د ده په الحسنُ الوجه باندې قياس مع الفارق شو او دا تركيب ممتنع پاتې شو. (**والضاربك**) دا دريم مقيس عليه دي د فراء چې فراء وائي الضاربُ زيد جر دي ځكه دا محمول دي په الضاربك باندې مصنف راغي جواب يې وكړه چې (**الضاربك وشبهه**) او مثل د الضاربك چې صفت معرفه باللام مضاف وي ضمير ته لكن دي ځاى كې دا ښكاره كوي چې تركيبونه دوه دي (١) يو تركيب باندې اعتراض وارديږي (٢) دي بل تركيب باندې اعتراض نشته (١) مضاف مضاف اليه لكه سيبويه چې وائي (٢) الضاربك ضمير منصوب مفعول به د مضاف اليه ترجمه: نه كوي وهونكي ستا او د مفعول به ترجمه به كوي وهونكي تا لره، نو دغه تركيب جائز دي (**حملا**) د وجې د حمل نه او د وجې د قياس نه او د وجې د محموليت نه (**على ضاربك**) په ضاربك باندې او ضاربك جائز دي د وجې د ضرورت نه نه قاعدةً هغه ضرورت دا دي متكلم اراده وكړه چې د دي اسم فاعل اتصال راولم دي ضمير سره كمال اتصال يعني متكلم اراده وكړه چې د دي عامل او معمول په مينځ كې كمال اتصال نه حاصليږي بې د اضافت نه لهذا دي دا (ضارب) مضاف كړه لك ته لپاره د حصول د اتصال قطع لحاظ د ترتب د فائدي نه د هغې لحاظ يې ونه كړه،

اوس دا تنوين اضافت د وجې نه ولې نه دي ساقط شوي؟ **جواب:** ځکه تنوين ساقط شوي ؤ مخکې د اضافت نه اتصال د ضمير د وجې نه او ستا دا قياس مع الفارق دي ځکه هلته کې مضاف اليه علم اسم ظاهر دي او دلته کې مضاف اليه ضمير د مخاطب دي **(ولا يضاف موصوف)** اوس د دينه وروسته ماتن هغه ځايونه بيانوي چې کوم اسمين نه مرکب اضافي نه جوړيږي د هغې ځايونو نه دوه دي او دا مسئله اختلافي ده او دا مصنف مقلد د بصريانو دی دا وائي **(ولا يضاف)** نه شي مضاف کولې موصوف **(الى صفة)** صفت ته **(ولا صفة)** او نه شي مضاف کولې صفت **(الى موصوف)** موصوف خپل ته سره د بقاء د معنى مراد د ترکيب د ترکيب توصيفي نه ولې ځکه (١) مدار د ترکيب توصيفي اتحاد باندې دي په ما بين د موصوف او صفت کې په اعتبار د مصداق سره او مدار د ترکيب اضافي تغاير تباين باندې دي، په ما بين د مضاف او مضاف اليه کې په اعتبار د مصداق سره غالباً منافت دي او متغايرينو نه متحدينو نه شي جوړولې او متحدين نه متغايرين نه شي جوړولې.

بيا مونږ دي اضافت سره غالباً قيد ولګوه ځکه کله کله مضاف او مضاف اليه په مينځ کې اتحاد وي په اعتبار د مصداق سره لکه اضافت بياني کې شو لکن دا قليل دي ديله دوی اعتباري نه ورکوي.

(٢) يا اثر مرتبه د ترکيب اضافي تعريف او تخفيف دي په مضاف کې او اثر مرتبه د ترکيب توصيفي وضاحت د موصوف دی ما بين کې يې منافات دی ځکه غايه يې هم بدله ده د ترکيب اضافي نه او مصداق يې هم بدل دی ځکه اضافت د موصوف صفت ته او اضافت د صفت موصوف ته نه دي جائز.

(٣) مدار د ترکيب توصيفي په تابعيت باندې دي په اعراب کې او مضاف اليه مجرور ابداً وي مابين کې منافات دي.

سوال: مونږ خو کتابونو کې وايو چې دا اضافت د موصوف دي صفت ته او دا اضافت د صفت دي موصوف ته؟ **جواب:** د هغې سره د دي منافات نشته ځکه ما بقي على حالها مراد دي او هلته کې ما بقي على حالهما نه دي **(و مثل مسجد الجامع)** اوس په دي دواړو قاعدو باندې اعتراض دي، په بصريانو باندې او کوفيانو لپاره دليل دي نو مصنف راغي جواب يې وکړو د بصريانو د طرف نه **(متاول)** سره چې دې تولو کې مضاف اليه مقدر دي يعني مضاف پکې موصوف نه دي او مضاف اليه پکې صفت نه دی بلکه مضاف اليه بل دي او دا د هغې صفت دي ځکه حمل نه صحيح کيږي جامع مسجد نه ويلی کيږي الخ، معلومه شوه چې دا صفت د هغه موصوف مقدر دي **سوال:** اضافت خو صحيح کړه ليکن توصيف د مکان غربي سره نه صحيح کيږي ځکه مکان کل اسمان ته وائي؟ **جواب:** دي مکان نه هم جز اخلم نه کل مکان لهذا اضافت هم صحيح شو او توصيف هم صحيح شو **(و مثل جرد قطيفة الخ)** دا اعتراض دي په دويمې قاعدې باندې دا جواب يې وکړه **(متاول)** سره اصل کې داسې وو قطيفة جرد او ثياب اخلاق د دي تاويل دا دي دي کې مضاف مضاف اليه مقدر نه دي بلکه دا اصل کې قطيفة جرد او ثياب اخلاق او بيا قطيفة جرد نه دا قطيفة حذف کړی شو دا جرد پاتې او ثياب اخلاق نه دا ثياب لرې کړی شوه تش صفت پاتې شو بيا يې دا صفت د صفتيت نه اوويسته نقل يې کړه جنسيت ته **(جرد)** معنی مطلق زوړ شي **(اخلاق)** معنی

مطلق زور شي، بيا دي متكلم اراده وكړه چې جنس مضاف كومه فرد ته لپاره د تخصيص بيايي دا جرد مضاف كړه قطيفة ته او اخلاق بې مضاف كړه ثياب ته دا اضافت د عام دي خاص ته او اضافت د جنس دي فرد ته لپاره د تخصيص **(ولا يضاف)** د دي او مخكني فرق دا دي چې د هغې نه تركيب اضافي نه جوړيږي ما بقيَ علی حالهما وي او دا دويم هغه دي چې بلكل تري تركيب اضافي نه جوړيږي **(ولا يضاف)** نه شي مضاف كولي **(اسم)** يو اسم **(مماثل)** چې مماثل وي د مضاف اليه **(في العموم)** په عموم كې چې دواړه عام دي **(والخصوص)** په خصوص كې چې دواړه خاص دي په دې شان سره چې دواړه مساويين دي يا دواړه مرادفين دي، مرادفين وي هم اضافت باطل دي او مساويين وي هم اضافت باطل دي، مماثلت خو اصل كې اشتراك د شيئن في النوع ته وائي لكه زيد او عمرو مماثلين دي ځكه دا دواړه شريك دي په انسان كې چې هغه نوع ده، او دلته مماثل نه مراد دي اتحاد في المصداق او دا اتحاد في المصداق عام دي په ضمن د ترادف كې وي **(كليث الخ)** ځكه دا متحد دي مفهوماً و مصداقاً لكه ليث او **اسد** او **حبس** او **منع** شو چې دا مرادفين دي او كه په ضمن د مساوات كې وي لكه انسان و ناطق چې دا دواړه مساويين دي ځكه دا دواړه متحد في المصداق دي دون المفهوم دي **ترادف** اتحاد في المفهوم و المصداق ته وائي، او مساوات اتحاد في المصداق ته وائي فقط **(لعدم الفائدة)** د وجې د عدم ترتب د فائدي نه چې هغه تخصيص دي په مضاف كې يا تعريف دي په مضاف كې.

سوال: اوس هغه فائده ولې نه ده مرتب په دې كې؟ **جواب:** ځكه اضافت معنوي كې مقصودي فائدې دوه دي تعريف او تخصيص او دلته نه تعريف راغي او نه تخصيص راغي ځكه نه مضاف اليه معرفه دي چې مضاف كې تعريف راشي او نه مضاف اليه كم دي د مضاف نه چې مضاف كې تخصيص راشي

سوال: ته وائي لعدم الفائدة تخفيف خو مرتب دي په مضاف كې چې هغه سقوط د تنوين دي د وجې د اضافت نه؟ **جواب:** په اضافت معنوي كې تخفيف لره دوی اعتبار نه وركوي كچيري هغه دوه فائدي پكې نه وي **(بخلاف كل الدراهم الخ)** دا جمله مستانفه ده جواب سوال دي.

سوال: په دې باندې اعتراض دی چې ته وائي مماثل نه مضاف كيږي مماثل ته دا قاعده ستا منقوض شوه په دې دوه تركيبونو سره (١) **(كل الدراهم)** كې كل عام دي دراهم عام دي (٢) هكذا في عين الشئ نو اضافت د عام راغي عام دا راغي؟ **جواب:** يې وكړه **(بخلاف الخ)** په خلاف د كل الدراهم او **عين الشئ** نه چې دا دواړه تركيبونه جائز دي ځكه **(فانه)** دا مضاف په دې دواړو تركيبونو كې **(يختص)** ګرځي خاص **(به)** په دې مضاف اليه سره په دې شان سره چې مخكې د اضافت نه دا مضاف عام وو ځكه كل كې قبل الاضافت احتمال د دراهم او دنانير و غيرهما ټولو وو پس د اضافت نه خاص شو په دراهم پورې، دارنګې عين لفظ قبل الاضافة عام وو چې احتمال د موجود د معدوم دواړو وو پس د اضافت نه خاص وګرځيده چې مصداق بعينه دغه مضاف اليه دي نو اضافت د عام راغي خاص ته اضافت د مماثل مماثل ته نه دي راغلي.

سوال: تخصیص هغه ځای کې راځي چې اضافت د نکره نکرې ته شوي وي دلته خو اضافت د نکره معرفي ته شوي دي؟ یا اعتراض داسې وکړه ستا د دي عبارت نه معلومه شوه چې اضافت د کل اوعین سره تخصیص فائده کړه په مضاف کې نه تعریف په دي کې خو یې تعریف فائده کړي دي ځکه دا مضاف دي معرفي ته؟ جواب: دلته کې تخصیص په مقابل د عموم کې دي په دي شان سره مضاف باقي نه دي پخپل عموم باندې اوس هغه معرفه ده او که نکره ده دلته چې مونږ وکتل معرفه ده؟

جواب بالفاظ دیگر یا دا تخصیص عام دي چې په ضمن د تعریف کې وي او که غیر کې وي او دلته په ضمن د تعریف کې دي

سوال: کل الدراهم کې خو منم چې دا عام خاص دي عین الشي کې دا عام خاص نه منم بلکه په دي کې اتحاد دي؟ **جواب:** دلته کې عین په معنی د مطلق حقیقت سره دي او حقیقت د شي کله موجود وي په خارج کې لکه حقیقت د انسان شو او کله موجود نه وي لکه حقیقت د عنقاء شو **(و قولهم الخ)** دا هم جمله مستانفه جواب سوال دي **سوال:** ته وائي اضافت د خاص خاص ته نه کیږي دا خبره ستا منقوض شوه په **(سعید کرز)** سره چې سعید اسم محضه دي او کرز اول لقب دي د یو سړي دلته اضافت د خاص خاص ته شوی دی (۲) تا مخکې ویلې دي شرط لپاره د اضافت معنوي تجرید د مضاف دي د تعریف نه او دلته اضافت د معرفه معرفي ته شوي دي دا راغي جواب یې وکړه (و قولهم) دا قول د عربو چې **(سعید کرز)** دي **(و نحوه)** یا مثل د سعید کرز چې دوه اسمین علمین د مسمی واحد یو بل ته مضاف وي په کلام د عربو کې **(متاول)** په دي کې تاویل کړی شوی دی په دې شان سره اول نه به تعبیر کوي مسمی او مدلول سره او ثاني نه به تعبیر کوي هذا اللفظ سره نو شوه معنی د دي دارنګې جاځي سعید کرزٍ اي مدلول هذا الفظ او مسمی هذا اللفظ اضافت د عام راغي خاص ته او اضافت د نکري راغي معرفي ته، او دا یې تاویل بالعکس ونه کړه یعني سعید نه تاویل په لفظ سره او کرز نه تاویل په هذا المسمی یا هذا المدلول سره ونه کړه د وجې د امتناع د اسناد مجیئت نه لفظ ته، بیا د عربو عامه قاعده دا ده کله چې دوې علمینو نه ترکیب اضافي جوړوي بیا دوی هغه محضه مضاف کوي لقب ځکه غالباً لقب اوضح وي د محضه نه ځکه دلته ذا سعید اسم محضه مضاف دي، کرز لقب ته.

سوال: بیا ستا د دی قاعدی مصداق پاتې نه شو هر ځائې کې یو مماثل مضاف کوه بل مماثل ته او تاویل وکړه عام خاص سره؟ **جواب:** دیته نکات بعد الوقوع وائي د دي قاعدې نه یو ځایې مخالف راشي هغه نه به تاویل کوي. هر کله چې مضاف یا د متکلم لپاره احکام مختصه ؤ چې هغه نه جاري کیده په مطلق مضاف باندې پس شروع یې وکړه مضاف یې د متکلم کې؛ یعني یو اسم چې مضاف کړي یا د متکلم ته د هغې په اخیر کې څه تغیرات راځي د وجې د اضافت نه هغه مادي دي بیانوي **(واذا اضیف)** کله چې مضاف کړي شي اسم صحیح **(او الملحق به)** یا ملحق بالصحیح چې لام کلمه کې واو دي یا یا ده او ماقبل ترینه ساکن دي ځکه حرف علت پس د سکون نه دا پشان د حرف علت دي په ابتداء کې لکه صحیح باندې حرکات ثلاثه او تنوین جاري کیږي په دي باندې هم حرکات ثلاثه او

تنوين جاري کيږي. حکم يې دا دی (**کسر**) کسره ورکولي شي (**اخره**) هغه اخر حرف لره د وجې د مناسبت د يا نه ځکه اضافت مقدم دي په عامل باندې، او هر کله چې مشغول شو حرف علت اخير د ده په کسرې سره د وجې د مناسبت د يا نه پس ممتنع شو حرکت اخير په دې کې لپاره د دې چې لازم نه شي اجتماع د حرکتينو متبائنينو ذاتاً يا صفةً. اوس د دې مضاف اليه چې يا د متکلم ده حال څه دی؟

جواب: د دې دوه حاله دي: (١) (**مفتوحة**) نحو سجد وجهي للذي خلقه الخ (٢) او (**ساكنة**) نحو الهي انت ذو فضلٍ و منٍ و اني ذو خطايا فاعف عني، سکون خو جائز دی د وجې د خفت نه دا فتحه ولې جائز ده ځکه دا قاعده ده: کومه کلمه چې حرف واحد باندې وي اصل په هغې کې حرکت دې بيا دا حرکت فتحه ځکه ده چې دا اخف الحرکتين دي.

(**فان كان الخ**) هر کله چې مصنف فارغ شو د بيان د حکم د اسم صحيح نه پس شروع يې وکړه په بيان د حکم د اسم مقصور او د اسم منقوص کې (**فان كان**) کې دا فا تفصيليه ده بيان کوي د هغه اسم چې د هغه په اخير کې الف دي او هغه مضاف شوي دي يا د متکلم ته (**اخره**) اخير د اسم چې اراده کړې شوي د اضافت د ده يا د متکلم ته (**تثبت**) باقي پاتې کولي شي دا الف په اکثر استعمال د کلام د عربو کې د وجې د عدم د علت د حذف نه برابره خبره ده چې الف د مفرد وي او که الف د تثنيه وي نو (**عصا**) چې مضاف کړې يا د متکلم ته عصاي به وائي **ضاربان** چې مضاف کړې يا د متکلم ته ضارباي به وائي (**وهذيل**) قبيله د هذيل عربو کې **تقلبها** بدلوي الف لره (**لغير التثنية**) غير د الف د تثنيه نه (**ياء**) په يا سره لپاره د حصول د مجانست په ما بين د حرفينو کې او لپاره د تجانس او اتحاد او تماثل بين الحرفين، مخکې يې ويلي ؤ چې دا حروف هجاء هر يو ځانله ځانله نوع ده لهذا الف او يا دا دواړه نوعين متبائنين دي کله چې الف بدل کړو يا سره دواړه حرفه د يو نوعې شو، بيا دې ماتن لغير التثنية وويل ځکه تثنيه کې بالاتفاق تثبت دي. د جمهورو دليل خو دا دی د وجې د عدم د علت د حذف نه، او هذيل قبيله دليل دا وائي: که تثنيه کې الف بدل کړې يا سره او ادغام وکړې بيا التباس لازميږي د مفرد سره بې د موجب او قانون صرفي نه، نو په مفرد کې قلب باندې باعث تجانس او په تثنيه کې عدم قلب باندې باعث التباس، بيا دې باندې اعتراض دی.

سوال: دلته کې تاسو قلب نه کوئ التباس د وجې نه او ډيرو ځايونو کې قلب راغلي دي او هغه قلب موجب د التباس دې بيا هم تاسو قلب کوئ لکه مسلمي کې شو؟ **جواب**: چې لازم نه شي التباس بې د موجب او قانون صرفي نه او کوم ځايونو کې چې التباس راغلي دي د وجې د قانون صرفي نه هغه مدفوع دي.

قاعده: په دې اسماء د اماکن او اقوام کې دا قانون دی که تاويل ترينه بقعة او قبيلة سره کوې غير منصرف او که تاويل مکان او قوم سره کوي منصرف دي لهذا دلته هذيل بلا تنوين غير منصرف، او هذيل مع التنوين منصرف دا دواړه جائز دي (**وان كان**) که چيرې وو اخير د دې اسم کې چې اراده کړې شوي دي اضافت د ده يا د متکلم ته (**ياء**) يا (**ادغمت**) ادغام کولي شي دغه يا د اخير د اسم مضاف هغه يا د متکلم کې د وجې د اجتماع د حرفينو د جنس واحد نه (**وان كان واوا**) او که اخير د اسم واو ؤ بيا واو اصلي دي او که واو د جمع دي (**قلبت ياء**) بدلولي شي دا واو يا سره د وجې د اجتماع د واو او يا نه لپاره

حصول د تخفیف (وادغمت) بیا ادغام کولي شي یا په یا باندې د وجې د اجتماع د حرفینو متجانسینو ، بیا تعین چې واو به بدلوي یا سره او یا به نه بدلوي واو سره ځکه واو اثقل دي او اثقل به ورکوي، دا څو د مضاف حال شو اوس د هغه مضاف الیه څه حال دي؟ (وفتحت الخ) فتحه به ورکولي شي یا لره په دې درې وارو صورتونو کې چې لازم نه شي التقاء د ساکنینو علی غیر حده په حالت د سکون او په صورت د سکون کې (واما الاسماء الستة) هر چې اسماء سته مکبره چې مضاف شي یا د متکلم ته حکم یې څه دي؟ (فاخي وابي) په نزد د جمهورو بیا په دي اما باندې اعتراض دي چې اما تفسیري وائي او که اما استینافي وائي دواړه نه صحیح کیږي اما تفصیلي ځکه نه صحیح کیږي چې مخکي اجمال نشته دي او اما استینافي ځکه نه صحیح کیږي چې دا په خطبو د کتاب او سر د کلام کې راځي؟ جواب: دا اما تفصیلي دي ځکه مخکي اجمالاً بیان شوي ؤ چې اسماء سته مکبره مضاف شي غیر د یاء د متکلم ته حکم یې دا دي بالواو الخ او که مضاف شي یا د متکلم ته حکم یې دا دي دا هلته مجمل پاتې شوي او دلته د هغې تفصیل کوي اما الاسماء الستة سره چې یو شي هلته بیان شوي دي او یو دلته بیا نه وي یا جواب: دا دي: چې دا اما استینافیه دي او اما استینافیه دیته نه وائي چې خامخا دا دي په خطبه د کتاب کې راشي بلکه اما استینافیه دیته وائي چې ما بعد تفصیل د ما قبل نه وي او ما قبل ترینه مجمل نه وي (فاخي وابي) بي د رد د محذوف نه او بي د قلب نه په جعل د محذوف سره نسیاً منسیاً (و اجاز المبرد) هغوی وجوباً اخي او ابي وائي او مبرد وائي هغه خو اولی ده لکن دا هم جائز ده (اخی و ابی) هغه درې تکلفات کوي په دي کې (۱) اول رد د محذوف کوي (۲) بیا قلب کوي (۳) او بیا ادغام کوي دلیل دي لپاره یو شعر دي (وابي مالك ذو المجاز بدار) چې هلته کې ادغام راغلي دي اوس دا ادغام د څه د وجې نه راغلي دي دا دلیل دي چې دلته دا ادغام راغلي دي په رد د محذوف او په قلب سره. جمهور د دینه دوه (۲) جوابه کوي: (۱) دا ادغام دلته په رد د محذوف او په قلب سره ضرورت شعري د وجې نه راغلي دي او مسئله زمونږه په نثر کې ده او ته لاړې شعر ته اشعارو کې خو دا مسئله ده چې یجوز في الشعر ما لا یجوز في غیره (۲) دا مفرد نه دي مضاف شوې یا د متکلم ته بلکه دا جمع مضاف شوي دي یا د متکلم ته ابینَ نه ابي جوړ شوي دي.

سوال: ابین جمع مذکر د اب چیرته راغلي ده په کلام د عربو کې دا په جمهورو باندې اعتراض دي؟

جواب: جمهور وائي آو راغلي ده دوی لپاره دلیل دا قول د بل شاعر دي (وفدیننا بالابینا)

(وتقول) نه غرض د ماتن بیان د استعمالاتو د عربو دي په اسماء ستوو مکبرو کې ماسوا د هغه استعمال مشهور نه مشهور استعمال په اسماء ستوو مکبرو کې چې مضاف شي غیر د یا متکلم ته اعراب بالحرف دي اوس دا حم اوهن دي چې مضاف شي یا د متکلم ته د دې حکم څه دي وائي (و تقول) وائي به زنانه په حم کې (حمي) او هن کې (هني) کله چې مضاف نسیاً منسیاً کړې یا د متکلم ته بي د رد د محذوف نه په جعل د محذوف سره بالاتفاق. بیا په دي تقول کې وائي به زنانه دا ترجمه ولي کوو ځکه تقول کې دا تا تانیث لپاره ده خطاب لپاره نه ده، اوس تقولُ کې دا تا خطاب لپاره ولي نه ده ځکه حمو مؤنث لپاره وي نه مذکر لپاره ځکه حمو ویلي شي قریب د ښځې ته د جانب د زوج نه چې پښتو

کې ورته مونږ لیور وایو او د دي اضافت نه کیږي مګر مؤنث ته ځکه لیور نه وي مګر ښځي لپاره وي خکه یې د دي قول نسبت مؤنث ته وکړه چې تقول یې ویل په صیغه د واحدي مؤنث سره.

(۱) بیا کافیه ملا دا په جمله مستانفه سره ذکر کړه هغه مخکني سره یې تړل نه کړه ځکه دا مسئله اتفاقي ده او که هغه سره یې تړل کړي وي دا توهم وو چې مبرد په دي کې هم خلاف دي او چا قول نه دي کړي چې مبرد په دي کې هم خلاف کړي دي د جمهورو نه (۲) یا هر کله چې خلاف د مبرد په دي دواړو کې غیر مشهور ؤ نو ذکر کړه مصنف په جمله مستانفه سره مندرج یې نه کړه په ما قبل کې **(ویقال)** ویلي کیږي په فم کې **(في)** کله چې مضاف کړي یا د متکلم ته (۱) په رد د محذوف سره یعنې په رد سره اصل ته (۲) بیا په قلب سره (۳) او په ادغام سره **(في الاکثر)** په اکثر استعمال د کلام د عربو کې د **(فمي)** په وائي په رد سره اصل ته او بې د قلب نه او بې د ادغام نه په بعض استعمال د کلام د عربو کې، دا خو هغه بیان ؤ چې اسماء سته مکبره مضاف شي یا د متکم ته **واذاقطعت** کله چې قطع کړي شي دا اسماء سته مکبره د اضافت نه یعنې مضاف الیه حذف شي نسیاً منسیاً **(قیل)** او به ویلي شي **(اخ الخ)** په جعل د محذوف سره نسیاً منسیاً او په جریان د اعراب او تنوین سره په عین کلمه کې **(و فم)** بیا په دي فم کې (۳) لغات دي: (۱) فم په فتحي د فاء سره (۲) فم په کسري د فاء سره (۳) فم په ضمي د فا سره **(وفتح الفاء)** فتحه د فاء افصح دي **(منهما)** د ضمي د فَا او کسري د فا نه، دیته وائي مثلث الفاء **(و جاء)** راغلي دي په استعمال قلیله د عربو کې **(حم)** چې مضاف شي غیر د یا د متکلم ته **(مثل ید)** پشان د ید په جعل د محذوف سره نسیاً منسیاً او په جریان د اعراب او تنوین سره په عین کلمه کې برابره خبره ده چې مضاف وي او که غیر مضاف وي. دارنګه راغلي دي په استعمال قلیله د عربو کې لفظ د حم په شان د **(خبم)** په قلب د واو همزه سره حمء **ودلو،** او راغلي دي په استعمال قلیله د عربو کې لفظ د حم په شان د دلو په دي شان سره هغه واو محذوفه واپس کړي او اعراب او تنوین جاري کړي په واو کې، اوس دا اعراب په واو کې ولي جاري کوي ځکه حرف علت پس د سکون نه دا پشان د حرف علت دي په ابتداء کې **(و عصا)** او راغلي دي لفظ د حم په شان د عصاً په قلب د واو الف سره او معرب په اعراب تقدیري سره **(مطلقا)** دا ترجمه به کوي برابره خبره ده چې دا مفرد وي او که مضاف وي غیر د یاء د متکلم ته **(و جاء هن)** راغلي دي هن په شان د ید (۱) بې د رد د محذوف نه (۲) او په جعل د محذوف سره نسیاً منسیاً (۳) او په اجراء د اعراب سره عین کلمه کې **(مطلقا)** اي في ال افرادو الاضافة یعنې مفرد وي او که مضاف وي، اوس دوه مسئلي نوري بیانوي، غرض د ماتن بیان د فرق دي ما بین د ذو او باقي پنځه اسماء ستوو مکبرو کې په دوه حکمونو کې: (۱) **(وذو)** کلمه د ذو دا اسماء ستو مکبرو نه **(لا یضاف)** نه شي مضاف کولي **(الی مضمر)** مغرفي ته ذکر د خاص مراد ترینه عام دي مجاز مرسل دي، ځکه ذو وضع شوي دي وسیله او ذریعه لپاره توصیف د شي په اسم جنس سره مدخول او مضاف الیه د دي به نه وي مګر اسم جنس، او اسم جنس نه وي مګر نکره وي، فرق دا را اووته باقي پنځه د اسماء ستو مکبرو نه ضمیر ته هم مضاف کیږي او اسم ظاهر ته هم مضاف کیږي (دا یو فرق) او نور معرفي ته هم مضاف کیږي او نکري ته هم مضاف کیږي او دا ذو نکري ته مضاف کیږي معرفي ته نه مضاف کیږي

هر کله چې مقصود د ماتن دلته کې فرق د ذو وو د باقي اسماء ستو مکبرو نه په احکامو کې په دي باندې سره کله چې دا اسماء مضاف شي يا د متکلم ته په هغې باندې کوم احکام چې مرتب وي هغه په دي ذو کې نه راځي ځکه دا نه مضاف کيږي يا د متکلم ځکه ده نفي د اضافت د مضمر نه وکړه اګر که دا نه مضاف کيږي مطلق معرفي ته. دي سره مودفع د اعتراض وکړه.

سوال: ذو نه مضاف کيږي مطلق معرفي ته تا الى مضمر ولي وويل الى معرفة دی ولې ونه ويل؟

جواب: د دي مقصود صرف بيان د مضاف اليه نه دي بلکه مقصود بالذات د مصنف فرق دي په ما بين د ذو او باقي پنځه اسماء ستو مکبرو کې چې مضاف شي يا د متکلم ته هغې لپاره احکام مختصه دي او هغه احکام مختصه په دي ذو کې نه جاري کيږي ځکه دا ذو نه مضاف کيږي مضمر ته (٢) (**ولا يقطعه**) او ذو نه شي قطع کولي د اضافت نه (دا دويم فرق) او باقي پنځه اسماء ستو مکبرو مضاف اليه حذف کيږي او د دي ذو مضاف اليه نه حذف کيږي

دليل: بيا هغه دي چې ذو وضع شوي دي وسيله لپاره توصيف د شي په اسم جنس سره او دا مقصد نه حاصليږي بې د اضافت نه

التوابع

هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د اسماء معربه بالاصالة نه پس شروع يې اوکه په بيان د اسماء معربو بالتبع کې، کوم اسم چې مدخول د عامل بالذات وي ديته معرب بالاصالة وائي، او کوم اسم چې مدخول د عامل بالذات نوي هغې ته معرب بالتبع وائي، او توابع جمع د تابع ده نه د تابعة ځکه دا صفت د اسم دي او موصوف او صفت په مينځ کې مطابقت واجب دي (١) او وزن د فاعل نه جمع کيږي په وزن د فواعلُ باندې قياسًا او طرداً او دا شاذ دي (٢) يا توابع جمع د تابع ده په مذهب د هغه چا باندې چې هغوی جمع د فاعل فواعل وائي مطلقاً (٣) يا توابع جمع د تابع ده او تابع وزن فاعل اسمي دي ځکه دا تابع اګر که اصل وضع کې مشتقي دي لکن په عرف کې علم دي يو نوع د اسم لپاره چې هغې ته معرب بالتبع وائي او فاعل اسمي جمع کيږي په فواعل سره بالاتفاق قياسًا او طرداً لکه کاهل شو چې جمع شوي دي کواهل سره

(**التوابع**) جنس تابع، ځکه الف لام جنسي چې داخل شي په جمع باندې معنی د جمع باطله وی او په عنوان د جمع کې اشاره ده کثرت د انواعو ته چې هغه پنځه دي بالاستقراء دليل ورله استقراء ده په اصطلاح د نحاتو کې (**کل ثانی**) هر هغه متاخر دي چې لحاظ وکړي شي سره د متبوع نه واقع کيږي مرتبه ثاني کې، او کلمه د کل زائد ده په تعريف کې ذکر شوي ده لپاره د تصريح په جامعيت باندې (**باعراب سابقة**) هسې ثاني او هسې متاخر چې دا متلبس به وي يعنې معرب به وي په مثل د جنس اعراب د سابق سره او تلبس عام دي لفظاً وي او که تقديراً وي او که محلاً وي (من جهة واحدة) هسې اعراب چې دا اعراب به ناشي وي د سبب واحده شخصي نه. دغه قيوداتو سره اعتراضونه دفع شول

سوال: (١) كله كله تابع د متبوع نه مقدم كيږي لكه ورحمةُ الله عليك السلامُ معطوف مقدم شوي دي په معطوف عليه باندې دا تابع خو اول دي او ته وائي ثاني دي؟ (٢) تابع ثالث رابع متوسط هغه ترينه ووته؟ **جواب:** وشو په دي قيد سره چې هر هغه متاخر دي ثاني په معنى د متاخر سره دي ذكر د خاص مراد ترينه عام ذكر د ثاني مراد ترينه متاخر ذكر د ملزوم مراد ترينه لازم مجاز مرسل دي.

سوال: په دي مجاز كې نكته څه ده؟

جواب: نكته دا ده چې تلفظ وكړي شي سره د متبوع نه واقع كيږي مرتبه ثاني كې څكه كل ثانٍ ووېل.

سوال: ته وائي چې دا متلبس دي اعراب د سابق سره ګني د هغې اعراب دي كې راغي هغه كنګال پاتې شو د اعراب نه؟ **جواب:** وشوپه تقدير د مثل سره.

سوال: ته وائي باعراب سابقه جاء زيد و رجلان اووته څكه دا رجلان معرب باعراب سابقه نه دي؟

جواب: مراد د اتحاد في الاعراب نه اتحاد في الجنس مراد دي، باعراب سابقه سره اووته كان زيد قائمًا او ان زيداً قائم (**من جهةٍ واحدة**) دا معنى چې دواړو كې به سبب يو وي، اوس لكه جاءني زيد و رجلان كې دواړو لپاره سبب يو دي چې كونه فاعلًا دي سره مبتدأ خبر اووته څكه سبب پكې يو نه دي يو كې سبب كونه مسندا اليه دي او بل كې سبب كونه مسند دي. دارنګې دې سره خارج شو مفعول ثاني د باب د علمتُ او ظننتُ او د اعطيتُ او د لبستُ څكه سبب پكې يو نه دي په دي اول كې سبب كونه معلومًا فيه او مظنونًا فيه كونه آخذ كونه لابس دي، او په دي دويم كې كونه معلوما، كونه مظنونا، كونه ماخوذ، كونه ملبوسا دي.

النعت

هر كله چې نعت اكثر وو استعمالاً او اكثر وو فائدةً او اكثر وو تبعيةً د باقي توابعو نه پس مقدم يې كړه په باقي توابعو باندې څكه العزةُ للتكاثرِ دي. نفس تابع كې نعت شريك دي د نورو سره ظاهراً په دي باندې اعتراض دي چې تقديم د نعت په باقي توابعو باندې دا ترجيح بلا مرجح ده.

(**النعت**) نعت په اصطلاح د نحاتو كې (**تابع**) جنس تابع دي هسې تابع (**يدل**) چې دلالت كوي مراد په دلالت سره دلالت ذهني او فهمي دي نه نفسُ الامري (**على معنى**) په هغه معنى باندې په هغه وصف باندې چې هغه قائم دي (**في متبوعه**) په موصوف كې حقيقةً يا حكمًا بالذات يا بالواسطه نعت بحاله او بحال متعلقه دواړه داخل شو او نه معلوميږي هغه معنى مخاطب ته د لفظ د موصوف نه (**مطلقا**) په هره ماده كې (**يدل**) سره بدل او معطوف اووته (على معنى في متبوعه) سره عطف بيان او تاكيد اووته (**مطلقا**) سره بعض افراد د توابعو اوباسي نحو اعجبني زيد علمه بدل اشتمال اووته څكه بدل اشتمال هره ماده كې دلالت نه كوي په هغه معنى باندې چې قائم بالغير دي لكه اعجبني زيد ثوبه كې شوي.

(**و فائدته**) هر كله چې فارغ شو مصنف د تعريف د نعت نحوي نه پس شروع يې وكړه په اثر مرتبه د نعت نحوي باندې (**و فائدته**) اثر مرتبه د نعت نحوي (**تخصيص**) تخصيص دي په نكره كې چې هغه عبارت دي

په اصطلاح د نحويانو کې د قلت د شرکاء نه نحو (فتحرير رقبة مؤمنة) جاءني رجل عالم شك نشته چې د جاءني رجل افراد زيات وو د جاءني رجل عالم نه دي عالم سره قلت د افرادو راغي په رجل کې چې رجل جاهل ترينه خارج شو دارنګې دی مؤمنة سره قلت د افرادو راغی په رقبة کې چې رقبه غير مؤمنه خارج شوه. **او توضيح** يا اثر مرتبه د نعت نحوي توضيح ده چې هغه رفع د ابهام وصفي ده په معرفه کې نحو جاءني زيد العالمُ جاءني زيد التاجرُ (**وقد يكون**) هر کله چې استعمال د نعت په کلام د عربو کې په دې دوه معنو کې اکثر وو او په نورو کې قليل وو نو و قد يكونُ سره يې اشاره وکړه قلت ته (**لمجرد الثناء**) په دې شان سره مقصود د متکلم دي د ترکيب نعتي نه نفس مدح وي يا ذم وي، او هغه بل پرېښې دي هغه هم ورسره تړل کړي، يا نفس ترحم وي علامه دا ده: چې دا معنی نعتي به معلوم وي مخاطب ته مخکې د ذکر کولو د نعت نه، اوس يو ځای کې التباس دي نحو جاءني زيد العالمُ د معرفي نه چې وروسته نعت راشي چې دا نعت مادحه دي او که موضحه دي.

فرق: دی په اعتبار د مقام او مخاطب سره چې مقام او مخاطب ته به ګوري که دا معنی نعتي په دې موصوف کې معلوم وه مخاطب ته پخوا د ذکر د نعت نه دغې لپاره به وائي چې دا نعت مادحه دي او دا نعت مدح لپاره دي و الافالنعتُ للتوضيح (**او التوكيد**) يا دا نعت رازي محض تاکيد د موصوف لپاره، دلته مراد د تاکيد نه تاکيد لغوي دي اعاده د معنی د موصوف ځکه تاکيد اصطلاحي خو مقابل د نعت نحوي دي، دا هغه ځای کې چې دا معنی نعتي د لفظ د موصوف نه معلوميږي دي بيا ذکر کوي محض لپاره د تاکيد، د تاکيد مثال لکه (**نفخة واحدة**) شو واحدة مشتق دي د وحدت نه او وحدت معنی معلوميږي د نفخة نه مخاطب ته ځکه دا تا وحدت لپاره ده دوباره واحدة ذکر کړه محض لپاره د تاکيد، دارنګې مثال د نعت تاکيد د قرآن پاك نه عشرة كاملة (ولا تتخذوا الهين اثنين).

سوال: نعت مادحه کې هم معنی نعتي د منعوت نه معلوميده مخاطب ته او په دې نعت تاکيدي کې هم معنی نعتي د منعوت نه معلوميږي مخاطب ته بيا د نعت مادحه او د نعت تاکيدي په مينځ کې فرق څه شو؟ **جواب:** قدر مشترك دا دي چې معنی نعتي دواړو کې د منعوت نه معلوميږي لکن هلته کې معلوميږي د امر خارج نه او دلته کې معلوميږي د لفظ د موصوف نه (و لا فصل) هر کله چې غالباً په کلام د عربو کې نعت مشتقي و پس جمهورو قول وکړه چې اشتقاق په نعت کې شرط دي حقيقةً يا تاويلا په دې شان سره کوم ځای کې چې نعت غير مشتقي وي تاويل به کوي په مشتقي سره وجوباً، او هر کله چې دا مختاره د مصنف نه وه رد يې وکړه په جمهورو باندې او اظهار د ما هو المختار يې وکړه نو و لافصلَ سره غرض د مصنف دوه خبري دي: (١) رد په جمهورو باندې (٢) اظهار ما هو المختار چې عدم اشتراط د اشتقاق دي په نعت کې (**و لا فصل**) نشته دي فرق په دې کې (**بين الخ**) چې دا نعت مشتقي دي او که غير مشتقي دي په دلالت کې په معنی مقصود باندې **ثمره:** د خلاف ظاهريږي په هغه ماده کې چې نعت غير مشتقي وي په دې شان سره جمهور ترينه تعبير کوي په مشتقي سره وجوباً او مصنف تعبير نه کوي په مشتقي سره.

دليل د جمهورو غلبه استعمال دي چې غالباً په كلام د عربو كې نعت مشتقي راځي او دليل مصنف لپاره دا دي چې شي معلوميږي د تعريف نه. تعريف لكه څنګه چې صادقيږي په غير مشتقي باندې صادقيږي. او جواب دليل د جمهورو نه دا دي چې غلبه د اشتقاق په نعت كې په استعمال د كلام د عربو كې دا دليل د اولويت دي نه د وجوب. دا ثمره د خلاف يې څكه وويله چې (١) غلبه د اشتقاق په نعت كې دا اتفاقي دي (٢) او وقوع د نعت په كلام د عربو كې غير مشتقي دا هم اتفاقي دي لكن خلاف په دي كې دي چې جمهور تاويل كوي او مصنف نه كوي **(وضعه)** وضع د دي غير مشتقي **(لغرض المعنى)** لپاره د يو غايه او يو فائده او يو اثر مرتبه چې هغه دلالت د غير مشتقي دي په معنى في متبوعه باندې اندفع ما قيل.

سوال: لغرض المعنى دا اضافت بياني دي او غايه خو اخير د شي ته وائي دا معنى خو مخكې ده د لفظ نه ديته څنګه غايه وائي، بيا دا دلالت د غير مشتقي على معنًى في متبوعه دوه قسمه دي (١) عموماً په هره ماده كې **(تميمي)** مراد د دينه هر هغه جامد دي چې يا نسبتي وريوري متصل شوي ده بيا دا وي او كه بل وي لكه قيسي شو، اوس دا تميم والي يو معنى ده په دي رجل كې دي رجل نه نه معلوميږي دي تميمي نه معلوم شو نو دا تميمي دائماً دلالت كوي په يو ذات ما باندې چې هغه منسوب دي تيم قبيلي ته **(وذو مال)** دويم مثال د غير مشتقي چې هغه دلالت كوي على معنًى في متبوعه دائماً لكه ذو مال شو چې دا دائماً دلالت كوي په يو ذات ما باندې چې هغه صاحب مال دي څكه دا وضع شوي دي لپاره د توصيف د شي په اسم جنس سره (٢) **او خصوصاً** يا دا غير مشتقي دلالت كوي على معنًى في متبوعه باندې په يوه ماده خاصه كې **(مررت برجل اي رجل)** اي كامل في الرجولية. دلته كې صرف دا اي رجل دلالت كوي على معنًى في متبوعه چې هغه كمال رجوليت دي او اي رجل عندك كې دلالت په دي معنى باندې نه كوي نو نعت نه دي **(مررت بهذا الرجل)** دا الرجل نعت دي څكه دا دلالت كوي على معنى في متبوعه چې هغه تعين د جنسيت دي او دا جنسيت د دي هذا لفظ نه نه معلوميده **(وبزيد هذا)** دا هذا اسم اشاره صفت واقع شوي دي زيد لپاره څكه دا هذا دلالت كوي على معنًى في متبوعه اي مررت بهذا المشار اليه په دي زيد مشار اليه په اشاره حسي سره دا د لفظ د زيد نه نه معلوميده بلكه دا د دي هذا نه معلوم شو، دري صورتونه شو: (١) مشتقي (٢) مؤول بالمشتقي (٣) هغه دي چې نه مشتقي دي او نه مؤول بالمشتقي دي مطلقاً ماتن په تعريف كې لګولي دي په نسبت سره هغه دوه مادو ته او دلته خصوصاً ويلي دي په نسبت سره دي يو ته لهذا تناقض لازم نه شو په عبارت د ماتن كې، دي سره يو اعتراض دفع شو.

سوال: هلته تعريف كې تا مطلقاً وويل چې دا تابع دلالت كوي په معنى نعتي باندې په هره ماده كې او دلته كې خصوصاً وويل چې دا تابع دلالت كوي په معنى نعتي باندې په يو خاص ماده كې د دي ماتن په عبارتينو كې تدافع ده؟ **جواب:** هلته مطلقاً قيد لګولي دي په اعتبار د هغه دوه نوعينو سره يا په اعتبار د اغلب سره لهذا د هغې د دي سره منافات نشته دي.

(و توصف) توصيف كولي شي **(النكرة)** د نكري **(بالجملة الخبرية)** په جمله خبريه سره، غرض د ماتن د دينه بيان د درې وو مسئلو دي (١) جمله هم صفت واقع كيږي افراد لازم نه دي صفت سره (٢) جمله خبريه صفت واقع كيږي نه انشائيه (٣) جمله خبريه صفت د نكره واقع كيږي نه د معرفه. اوس دا جمله خبريه صفت د معرفي ولي نه واقع كيږي ځكه د موصوف او صفت په مينځ كې مناسبت وي جمله من حيث انها جملة چې واخلي د نكره سره يې مناسبت شته او معرفي سره نشته دي ځكه (١) لكه څنګه چې نكره خالي وي د آدات د تعريف نه جمله من حيث انها جملة هم خالي وي د اداتو د تعريف نه (٢) لكه څنګه چې نكره دلالت كوي په مصداق مبهم باندې دارنګې جمله من حيث انه جملة هم دلالت كوي په نسبت مبهمه او مفهوم باندې دغه دوه مناسبتونو د وجې نه صفت د نكره واقع كيږي

دا من حيثُ قيد ځكه لګوو جملي سره چې جمله په اعتبار د اجزاء سره كله معرفه وي او كله نكره وي، اما جمله من حيث انها جملة دا نه معرفه ده او نه نكره ده ځكه معرفه او نكره دا اقسام د اسم دي او جمله اسم نه دي ځكه دا صفت د معرفه نه واقع كيږي، او صفت د نكره واقع كيږي دغه دوه مناسبتونو د وجې نه چې مخكې ذكر شو دغه دوه مناسبتونه دليل د جواز د وقوع د جمله دي صفت لپاره دنكرى

(و توصف) په دې مضارع سره يې اشاره وكړه قلت ته چې وقوع د جمله صفت دا قليل دي په نسبت سره مفرد ته او وقوع د مفرد صفت دا كثير شائع دي په كلام د عربو كې **(بالجملة الخبرية)** په دې الخبرية سره احتراز وكړه د انشائيه نه ځكه جمله انشائيه چا لپاره صفت نه واقع كيږي ځكه (١) نعت بيان د موصوف وي او مُوضح د موصوف وي او مربوط وي موصوف سره او جمله انشائيه چا لپاره بيان نه واقع كيږي او نه چا سره ربط او تعلق ساتي مربوط نوي (٢) يا صفت ثابت وي موصوف لپاره او مضمون د جمله انشائيه چا لپاره نه ثابت كيږي هر كله چې جمله مستقل بنفسها وه په دې شان سره چې دى دلالت كولو كې به خپل معنى باندې محتاجه نه ده غير ته پس لابدي شوه د رابط نه چې دي ربط راولي ما قبل سره نو وويل مصنف **(و يلزم الضمير)** للربط. بيا دا مخكې ويلي شوي ؤ او جمله خبر واقع شي لابدي ده د عائد نه او هغې لپاره څلور عائد ؤ او جمله چې حال واقع شي هغې لپاره رابط دوه ؤ (١) ضمير (٢) واو، او جمله چې نعت واقع شي يا صله واقع شي هغې لپاره عائد فقط ضمير وي ځكه خبر ركن د كلام دي توسع پكار ده او حال فضله دي او فضلتيت كې كامله ده رابط قويه پكار دي او رابط قويه نه دي مګر واو مع الضمير دي يا ضمير مع الواو دي او نعت او صله نه بلكل عمده او ركن دي توسع نه ده پكار او نه بلكل فضله دي رابط قويه هم نه دي پكار چې هغه ضمير مع الواو دي بلكه دي دواړو لپاره فقط دا ضمير كافي دي

(و يوصف بحال الموصوف) سره غرض د مصنف تقسيم د نعت نحوي دي دوه قسمو ته: په اعتبار د قيام د معنى نعتي سره (١) ته نعت بحاله او نعت حقيقي او نعت بالذات وائي (٢) او بل ته نعت بحال متعلقه او نعت مجازي او نعت بالواسطه وائي **(و يوصف)** توصيف كولي شي او صفت واقع كولي شي د موصوف **(بحال)** هغه معنى مصدري سره او هغه معنى نعتي سه چې هغه قائم دي موصوف پورې

حقيقةً علامه يې دا ده (۱) چې نعت به مشتقي وي غالباً (۲) او فاعل به ضمير وي (۳) راجع به وي موصوف ته. مثال لکه جاءني رجل عالم شو ديته وېلي شي نعت حقيقي او نعت بحاله او نعت بالذات (و بحال متعلقه) او توصيف کولي شي د يو موصوف په هغه معنی مصدري سره چې هغه قائم ده متعلق د موصوف پورې حقيقةً نه په موصوف پورې علامه يې دا ده چې صفت به مشتقي وي غالباً او فاعل به اسم ظاهر وي مشتمل به وي په ضمير باندې راجع به وي موصوف ته او دا اسم ظاهر به د متعلقاتو د موصوف نه وي مثال د دې لکه (مررت برجل حسن غلامه) شو ديته نعت بحال متعلقه او نعت مجازي او نعت بالواسطه وائي، او دا قيد چې ماتن ذکر کړي دي علی معنیً في متبوعه عام دی حقيقةً وي او که حکماً وي، هر کله چې فارغ شو د تقسيم د نعت نه په اعتبار د قيام د معنی نعتي نه قسمينو ته پس شروع وکړه په بيان د احکامو د قسم اول او د قسم ثاني کې (فالاول) پس قسم اول د نعت نه چې هغه نعت بحاله دي (يتبعه) تابعداري کوي دا قسم اول د موصوف لس امورو کې (في الاعراب الخ) چې هغه اعرابات ثلاثه او تعريف او تنکير الخ دي: لکن موجود کيږي به د دې لسو امورو نه معاً په ترکيب کې څلور فقط (۱) يو د اعراب نه (۲) يو د تعريف او تنکير نه (۳) او يو د تذکير او تانيث نه (۴) او يو د افراد جمع نه، ځکه باقي کې منافات او ضديت دي هغه نه جمع کيږي معاً په يو ترکيب کې

سوال: دا قسم اول په لسو امورو کې ولې تابعداري د ما قبل کوي؟

جواب: ځکه تابعداري په خمسه اولو کې په اعتبار د ما جرٰی عليه سره دي او تابعداري په خمسه اُخرو کې په اعتبار د مسند اليه سره دي او قسم اول کې ما جرٰی عليه او مسند اليه يو شي دي ځکه دا قسم اول په لس امورو کې تابعداري د موصوف کوي

سوال: ته وائي مسند اليه او ما جرٰی عليه دلته يو شي دي مسند اليه خو دلته ضمير دي چې فاعل دي عالم لپاره او ما جری عليه رجل دي بيا يو څنګه شو؟ **جواب:** دا مخکې د شرح جامي په سر کې وېلي شوي ؤ چې اسناد ضمير د شي ته دا حقيقت کې اسناد دی هغه شي ته.

دا مطابقت په لسو امورو کې هله واجب دې چې دا قسم اول چې صفت بحاله دي (۱) صفت مشترکه نه وي بين المذکر و المؤنث نو اعتراض وارد نه شو جاءتني امرأة جريح (۲) او په دې صفت کې تا تاکيد د مبالغې لپاره راغلې نه وي نو اعتراض وارد نه شو جاءني رجل علامة سره.

(و الثاني) قسم ثاني چې نعت بحال متعلقه دي (يتبعه) تابعداري کوي د موصوف (في الخمسة الاول) په پنځه اُولو کې چې هغه رفع او نصب او جر او تعريف او تنکير دي لکن موجود يږي به په ترکيب کې بالفعل دوه د هغو پنځو نه يو د اعراب نه او يو د تعريف او تنکير نه. ځکه باقي کې ضديت او منافات دي هغه نه جمع کيږي معاً په يو ترکيب کې (و في البواقي) او باقي امورو کې (کالفعل) دا صفت بحال متعلقه په شان د فعل دي (۱) لکه د فعل چې اسناد اوشي اسم ظاهر ته وُحد ابداً دي دلته هم وُحد ابداً دي (۲) لکه فعل متصرف چې اسناد اوشي اسم ظاهر مؤنث حقيقي ته متصل بلا فصل تانيث د فعل واجب دي دارنګې دلته هم واجب دي

سوال: دا صفت بحال متعلقه په پنځه امورو اولنو کې تابعداري د ما قبل او باقي پنځه اُخرو کې تابعداري د ما بعد ولې کوي؟ **جواب:** ځکه تابعداري خمسه اولو کې په اعتبار د ما جرٰی علیه سره دي او تابعداري په خمسه اُخرو کې په اعتبار د مسندالیه سره دي او ما جرٰی علیه او مسندالیه د قسم اول یو دي ځکه هغه تابعداري کوي په لس امورور کې د ما قبل او قسم ثاني ما جرٰی علیه او مسندالیه غیر غیر دي چې ما جرى علیه دغه موصوف دي او مسندالیه وروسته متعلق دي ځکه په پنځو کې د ما قبل او پنځو کې د ما بعد تابعداري کوي.

سوال: ته خو بیانوې فرق په ما بین د قسمینو کې او فرق خو راغی لافي الخمسة الأُخر سره و في البواقي كالفعل دي عبارت ته ضرورت وو؟ **جواب:** هر کله چې مقصود مصنف بیان د حکم د قسم ثاني وو په خمسو باقیو کې نه صرف امتیاز په ما بین د نعتینو کې ځکه دي وویل و في البواقي کالفعل یعنې غرض د ماتن دلته کې دوه دي: (١) غرض بیان د فرق دي په ما بین د نعتینو کې (٢) غرض د دي د قسم ثاني حکم بیانول دي په دي خمسو اُخرو کې چې (١) افراد او تثنیه او جمع نه به یو راځي چه: و اذا اسند الی الظاهر وُحد ابداً دي، نحو جاءني رجل عالم غلامُه یا غلامه یا غلمانه (٢) او تذکیر او تانیث نه به یو راځي صورتونه جوړیږي څلور: (١) کې تذکیر واجب دي که فاعل د دي مذکر وو (٢) کې تانیث واجب دي چې د دي نعت بحال متعلقه نسبت شوي وو مؤنث حقیقي ته متصل بلا فصل (٣) او دوه صورتونو کې جواز د وجهینو دي نو غرض د ماتن دوه وو (١) فرق هم بیان شو د قسم ثاني دقسم اول سره (٢) او د قسم ثاني حکم هم بیان شو تشبیهاً ځکه دي ماتن دا عبارت مختاره کړه د هغه عبارت نه.

اوس به دا تفریع پیش کوي: **(و من ثم)** د دي د وجې نه چې دا نعت ثاني په خمسو اخرو کې په شان د فعل دي **(قام رجل قاعد غلمانه)** افرادواجب دي او تذکیر او تانیث دواړه جائز دي ځکه فعل چې اسناد اوشي جمع تکسیري ته تذکیر او تانیث دواړه جائز دي نحو قام الرجال، قامت الرجال، دواړه جائز دي، دارنګې مشتقي او صفت بحاله اسناد اوشي جمع تکسیري ته جواز د وجهینو دیو، اوس دلته کې قام رجل قاعد غلمانه، او قاعدة غلمانه، دواړه جائز دي، اما افراد د قاعد واجب دي ځکه فعل چې اسناد اوشي اسم ظاهر ته وُحد ابداً، دي دارنګې د مشتقي او صفت بحال متعلقه اسناد اوشي اسم ظاهر ته وُحد ابداً دي. **(و ضعفه الخ)** لکه چې ضعیف دي یقعدون غلمانه ځکه فعل چې اسناد اوشي اسم ظاهر ته وُحد ابداً دي لپاره د دي چې لازم نه شي تعدد د فاعل او دا باطل ده.

سوال: دلیل ستا تقاضا کوي د ابطال د دي ترکیب او ضعف دلالت کوي په جواز باندې؟

جواب: دا ترکیب د قبیلي د اکلوني البراغیث نه دي چې دا واو صرف علامه ده په دي خبره باندې چې وروسته فاعل د دي فعل جمع راروان دي، بیا دا ترکیب ضعیف ولې دي ځکه صورتاً تعدد د فاعل لازمیږي **(و یجوز)** جائز دي بې د ضعف او بې د حسن نه **(قعود غلمانه)** ځکه هر کله چې دا مشتقي جمع شُو په جمع مکسر سره خارج شو د مشابهت د فعل نه لفظاً یعنې مشابهت لفظي د فعل سره لاړو ځکه فعل نه جمع کیږي په جمع مکسر سره نو حکم د فعل پکې جاري نه شو چې هغه افراد دي وُحد ابداً

دي، دا (٣) تفريع شو. (١) جائز مع الحسن (٢) جائز مع القبح يعني سره د ضعف نه (٣) جائز بي د ضعف او بي د حسن نه (**والمضمر**) ضمير په تركيب كې (**لا يوصف**) موصوف نه واقع كيږي ځكه فائدې اصلي په صفت كې دوه دي: (١) توضيح (٢) تخصيص، او ضمير اعرف المعارفو نه دي نه يكې تخصيص جوړيږي ځكه كثرت د شركاء نشته دي او نه يكې توضيح جوړيږي ځكه ابهام نشته دي، او ضمير غائب محمول دي په ضمير د متكلم او ضمير د مخاطب باندې طرداً للباب. او نعت مادحه او نعت ذامه محمول دي په نعت موضحه او نعت مخصصه باندې طرداً للباب (**ولا يوصف**) او توصيف نه شي كولې د يو اسم (**به**) په ضمير سره، يعني ضمير مطلقاً په تركيب كې چا لپاره صفت نه واقع كيږي ځكه (١) د نعت تعريف دا دي تابع يدلّ على معنًى في متبوعه، او ضمير دلالت كوي په ذات باندې نه على معنًى في متبوعه (٢) دليل د دي راروانې مسئلي نه معلوميږي چې موصوف او صفت كې دا خبره شرط ده چې موصوف به په تعريف كې زيات وي د صفت نه يا به مساوي وي لكن كم به نه وي. او س ضمير چې صفت واقع كړو موصوف كې به تعريف كم شي د صفت نه ځكه ضمير اعرف المعارف نه دي او ضمير غائب محمول دي په ضمير د متكلم او مخاطب باندې (**والموصوف**) موصوف به (**اخص**) په تعريف كې زيات به وي د صفت نه (**او مساوٍ**) يا به مساوي وي دا موصوف صفت سره په تعريف كې كه دواړه معرفه ؤ او مساوي به وي په تنكير كې كه دواړه نكره ؤ ځكه كه داسې نه شي بلكه صفت زيات شي په تعريف كې يا په تنكير كې د موصوف نه لازم به شي انقصيت د مقصود چې موصوف دي د غير مقصود نه چې هغه صفت دي او دا جائز نه دي، نو موصوف چې معرفه وي شرطونه دوه دي: (١) اخص به وي (٢) يا به مساوي وي او صورتونه دري دي: دوه جائز او يو ممتنع مثال د اول چې موصوف اخص دي د هغه نه په تعريف كې لكه مررتُ بزيدِ الفاضل فان العلم اعرف من المعرف باللام (٢) مثال د ثاني چې موصوف مساوي دي صفت سره په تعريف كې لكه: مررتُ بالرجل الفاضل (٣) مثال د ثالث چې موصوف دون وي د صفت نه په تعريف كې نحو مررتُ بالرجل صاحبك فصاحبك بدل عندهم لانعت لان المضاف للضمير في رتبة الضمير او رتبة العلم و كلاهما اعرف من المعرف باللام. لكن د اخص دوه معاني دي: (١) اخص مشتق دي د خصوص نه او خصوص مقابل د عام دي او معترض صاحب دلته خصوص مقابل د عام اخستي دي اعتراض كوي.

سوال: چې ستا دا قاعده منقوضه شوه په دې دوو مادو سره چې مخكې ذكر شو ځكه دلته كې دا موصوف خاص نه دي د صفت نه ځكه دا صفت عام نه دي بلكه دا موصوف او صفت دواړه خاص دي؟

جواب: دا دي چې دلته دا خصوص مقابل د عام نه دي بلكه اخص په معنى د اعرف او اكمل في التعريف سره دي منشا د سوال دا ؤ چې خصوص يې په مقابل د عموم كې اخستي ؤ او منشا د جواب دا ده چې دلته كې خصوص مقابل د تنكير كې دي، دا موصوف اخص دي او كه مساوي دي صفت سره په تعريف كې دا به هله او پيژني چې اول د دې معارفو مراتب او پيژني منقول د سيبويه او د جمهورو نه دا دي (١) چې ضمير اعرف د معارف نه دي او باقي معارف د دې نه كم دي په تعريف كې لكن د ضمير دروازه خو

بنده شوي ده د توصيف نه باقي پاتې شو پنځه (١) علم کې تعریف زیات دي د نورو نه (٢) بیا دویم نمبر کې اسماء اشارات دي (٣) بیا دریم نمبر کې معرف باللام او اسماء موصولات دي دا دواړه مساوي دي په تعریف کې (۴) مضاف په رتبه د مضاف الیه کې دي یا په مرتبه د علم کې دي

قاعده: اوس مثلاً داسې ترکیب په کلام د عربو کې راشي د دي قاعدې نه خلاف چې اسم ثاني کې تعریف زیات وو او اسم اول کې تعریف کم ؤ مثال لکه جاءني العالم زید، جاءني الرجل صاحبك شو او دا قاعده د کافیه ملا ته مني بیا هغه به محمول کوي په بدلیت باندې یعنې بدل او مبدل منه به وائي موصوف صفت به نه وائي، اوس په دي قاعده مذکوره باندې تفریع پیش کوي (**ومن ثم**) د دي دوو وجو نه چې موصوف به اخص وي یا به مساوي وي صفت سره په تعریف کې (لم یوصف) توصیف نه شي کولی (**ذو اللام**) **معرفه باللام** (**الا بمثله**) مګر مثل خپل سره او مساو کې داخل شو چې معرف باللام آخر یا موصول دي (**او بالمضاف الی مثله**) یا دا معرفه باللام موصوف کولي شي هغه اسم سره چې هغه مضاف دي مثل د معرف باللام ته بالذات یا بالواسطه چې هغه معرف باللام او موصول دي نو ذو اللام چې موصوف وي نعت کې صورتونه دري دي (١) معرفه باللام نحو قام الرجل العالمُ (٢) موصول نحو قوله تعالی (من شر الوسواس الخناس الذي یوسوس في صدور الناس) مفسرین یو ترکیب دا کوي چې دا موصوف صفت دي (٣) مضاف معرف باللام یا موصول ته نحو مررت بالرجل صاحب الفرس

اوس اعتراض وارد شو په دي قاعده باندې چې ستا د قاعدې تقاضا دا ده چې اسم اشاره په ترکیب کې موصوف واقع شي نعت څلور احتماله دي (١) اسم اشاره لپاره نعت راشي بل اسم اشاره او مساو کې داخل شو (٢) اسم اشاره لپاره نعت راشي ذو اللام (٣) اسم اشاره لپاره نعت راشي موصول (۴) اسم اشاره لپاره نعت راشي مضاف یو د دي امور ثلاثو نه دا دریواړه اخص کې داخل شو او حال دا دي په کلام د عربو کې نعت د اسم اشاره فقط دوه راځي (١) موصول (٢) معرف باللام، دا راغي جواب یې (**انما**) بیشکه (**التزم**) التزام کړي شوي دي وصف د باب دهذا (**بذي اللام**) په ذو اللام سره یا په موصول سره، بذي اللام کې دا موصول داخل دي (**للابهام**) د وجه د هغه ابهام نه چې هغه ناشي دي په معنی موضوع له د ده کې د وجې د تعدد نه لکه دا مذهب د متاخرینو دي چې د متاخرینو دا مذهب دي چې دا وضع کړي شوي دي جزئیاتو لپاره په واسطه د مفهوم کلي سره دا جزئیات د دي معنی موضوع له ده، یا دا ابهام ناشي دي په معنی مستعمل فیه کې د وجې د تعدد نه لکه دا مذهب د متقدمینو دي چې د متقدمینو دا مذهب دي دا اسم اشاره وضع کړي شوي ده مفهوم کلي لپاره لکن مستعمل کیږي په جزئیاتو کې حاصل د جواب دا دي مقصد په نعت د اسماء اشاراتو کې رفع د ابهام ده او رفع د ابهام په دي دوو سره راځي نه په نورو سره ځکه هغه نور صفت دي لپاره نه واقع کیږي اسم اشاره سره رفع د ابهام ځکه نه راځي چې هغې کې پخپله ابهام دي (خفته را خفته کی کند بیدار) او مضاف کې تعریف سوالي دي ځکه تعریف په دي کې راغلي دي د وجې د اضافت نه هغه صالح نه دي لپاره د رفع د ابهام. اوس د دي ما قبل تایید کوي چې هر ذو اللام هم صفت نه واقع کیږي اسم اشاره

سپاره بلکه هغه ذو اللام صفت واقع کيږي چې په هغې کې رفع د ابهام وي (و من ثم) د دي وجې نه چې مقصود پکې رفع د ابهام ده (ضعف) ضعيف دي دا ترکيب چې (مررت بهذا الرجل الابيض) دي ځکه هذا کې ابهام ؤ الابيض سره هغه ابهام پوره نه شو (و حسن بهذا العالم) حسن دي دا ترکيب چې مررت بهذا العالم دي ځکه العالم سره هغه ابهام جنسي پوره شو د هذا نه.

سوال: لکه څنګه چې الابيض کې ابهام جنسي دي دارنګې العالم کې هم ابهام جنسي نو څنګه يو ته حسن وائي او بل ته ضعيف وائي؟ جواب: د هغې او د دي فرق په اعتبار د عرف عام سره دي الابيض چې عرف عام کې ذکر شي مراد ترينه ذات من له البياض دي او العالم په عرف عام کې ذکر شي مراد ترينه رجل عالم وي.

سوال: دليل نه خو معلوميږي ابطال د دي ترکيب او و ضعف نه معلوميږي جواز د دي ترکيب ما بين کې منافات دي يعنې دليل دي مطابق نه دي مدعى سره؟ جواب: يو احتمال د صحت شته ځکه و ضعف ويلي دي چې الابيض کې الف لام عهدي کړي مراد يو ذات معين واخلي بيا دا ترکيب صحيح دي بلا ضعف په شان د مررت بهذا العالم او حکم د ضعف يې کړي دي په اعتبار د عنوان عامه سره.

قاعده: اذا كان المنعوت معلوماً بدون النعت نحو مررت بامرء القيس الشاعر جاز فيه ثلاثة اوجه (١) الاتباع فيخفض (٢) و القطع بالرفع باضمار هو (٣) و بالنصب باضمار فعل و يجب ان يكون ذلك الفعل (١) اخص او اعنى في صفة التوضيح (٢) و امدح في صفة المدح (٣) و اذم في صفة الذم فالاول كما في المثال المذكور و الثاني كما في قول بعض العرب الحمد لله اهل الحمد و الثالث كما في قوله تعالى (و امرأته حمالة الحطب اي اذم حمالة الحطب)

العطف

معطوف بالحرف په اصطلاح د نحاتو کې (تابع) تابع دي هسې تابع (مقصود) (١) چې قصد کړي شوي وي (بالنسبة) نسبت د ده غير ته که معطوف على المسند وي (٢) يا قصد کړي شوي وي نسبت د غير ديته که معطوف على المسند اليه وي (بالنسبة) په نسبت کلامي سره چې هغه مستفاد دي او مفهوم دي د لفظ نه (مع متبوعه) په حال کون د دي تابع کې چې دي معي دي د متبوع خپل سره په قصد کې چې دواړه مقصود دي په اصل نسبت سره په دي شان سره معطوف عليه په حين د ذکر کې تمهيد نه دي او معطوف مرتب او متفرع نه دي لکه څنګه چې مبدل منه تمهيد دي او بدل متفرع دي ما قبل باندې، مراد په معيت سره معيت في القصد دي نه معيت في الذکر ځکه ذکر کې خو ټول توابع معي دي د متبوع سره، مقصود سره خارج شو د تعريف د معطوف بالحرف نه نعت او عطف بيان او تاکيد ماسوا د بدل نه، او (مع متبوعه) سره بدل هم اووته ځکه متبوع په بدل کې غير مقصود دي تعريف د معطوف بالحرف بلکل جامع مانع شو.

اوس بيان د فوائدو د قيوداتو: (عطف) چې په معنى د معطوف سره واخسته ډير اعتراضونه دفع شو

اول اعتراض شمارل د عطف د توابعو نه دا باطل دي ځکه تابع صفت د اسم دي او عطف صفت د متكلم دي مائله كولو ته وائي؟
دويم اعتراض (العطف) مبتدأ (تابع) خبر، او خبر محمول وي په مبتدأ باندې دلته حمل د ذات مع الوصف راغي په صرف وصف باندې او دا باطل دي؟
دريم اعتراض: العطفُ معرَّف، تابع معرِّف دا تعريف بالمبائن دي او تعريف مبائن سره باطل دي؟
جواب: وشو دري واړو اعتراضونو ته چې دلته کې عطف خپل معنى سره نه دي بلكه عطف په معنى د معطوف سره دي مصدر مبني للمفعول دی منشا دی، اعتراض دا وو چې معترض صاحب عطف معنى مصدري سره اخستي ؤ او منشا د جواب دا ده: چې عطف مصدر مبني للمفعول دي **سوال:** تابع صفت د اسم دي او قصد متعلق كيږي په فعل اختياري د متكلم پورې دا اسم فعل اختياري خو نه دي؟ **جواب:** دا مقصود نعت بحال متعلقه دي دا نعت بحاله ندي منشا د اعتراض دا وو چې دا نعت بحاله ګرځولي وو.
سوال: ته وائي مقصود بالنسبة قصد كړي شوي دي نسبت د ده غير ته په سبب د نسبت سره سببيت د شي لنفسه دي؟ جواب: يو نسبت نفس الامري خارجي دي او يو نسبت كلامي دي او هغه نسبت خارجي نفس الامري مقصود مسبب او دا نسبت كلامي آله او سبب دي هغې لپاره.
سوال: ته وائي معطوف مقصود وي مع متبوعه دا تعريف ستا جامع نه شو دينه خارج شو معطوف بيل ولا او لكن و اما و او؟ **جواب:** دلته مقصود دا معنى نه ده چې دواړه مقصود بالايجاب و السلب معًا دي، دلته کې د مقصود دا معنى ده چې معطوف عليه په حين د ذكر کې تمهيد نه دي او معطوف متفرع او مرتب نه دي. هر كله چې تعريف جامع مانع شو ذكر كړه مصنف لپاره د كمال وضاحت دا قيد (و يتوسط) ذكر كيږي او واقع كيږي به په ما بين د معطوف او معطوف عليه کې يو حرف د حروف عشره ؤ نه چې د هغې بيان به وروسته راشي په بحث حرف کې
سوال: په تعريف کې چې كوم قيد ذكر شي يا به هغه قيد احترازي وي يا به هغه قيد جامعه وي مدخله وي، و يتوسط الخ دا خو نه قيد احترازي دي او نه قيد جامعه دي؟ **جواب:** په تعريفاتو کې دا لازمه نده چې هر قيد دي خامخا قيد جامعه او مانعه وي بلكه كله قيد منبه او بيان د واقع وي.
سوال: فرض منصبي ستا اختصار دي تا به د عطف داسې تعريف كړي وي العطف تابع يتوسط بينه و بين متبوعه احد الحروف العشرة، يعنې تعريف به دې كړي وي په قيد منبهه سره دا دومره طوالت ته څه ضرورت وو؟ **جواب:** دا اورد تعريف چې يې وكړه په دې کې دوه فائدې دي: (١) مقصوديت د دواړو نه معلوميده د دې تعريف نه او د دې اورد تعريف نه معلومه شوه (٢) كه داسې تعريف يې كړي وي دا تعريف مانع كيده نه دخول د غير نه كله موصوف سره صفات كثيره ذكر كيږي نو هغه موصوف او صفت په مينځ کې واو راځي دا تعريف صادق دي او د دې معرف افرادو نه ندي ځكه دا قيد يې منبه وګرځوه او هغه يې تعريف وګرځوه. بيا وائي د دې حروفو بيان وكړه دې وائي: و سياتي، مثال لكه عمرو شو په دې تركيب کې چې (جاءني زيد و عمرو) دي

هر كله چې فارغ شو مصنف د تعريف د معطوف نه پس شروع يې وكړه په بيان د احكامو د معطوف كې (واذا عطف) كله چې اراده وكړې شي عطف د يو اسم (على المرفوع المتصل) په ضمير مرفوع متصل باندې (اكد) تاكيد به يې كولې شي د دې ضمير مرفوع متصل اولاً يعنې دا اراده نه وروسته او عطف نه مخكې (بمنفصل) په ضمير مرفوع منفصل سره لپاره د دې خبرې چې لازم نه شي عطف د مستقل كلمې په جز د كلمې باندې ځكه ضمير مرفوع متصل كالجزء دې د فعل نه لفظاً او معنىً (مثال الخ) مثال لكه ضربت انا و زيد شو بل مثال لكه دا قول د الله تعالى شو (لقد كنتم انتم و آباءكم في ضلال مبين)

سوال: قانون دا دې چې جزا مرتب وي په شرط باندې او مؤخر وي په وجود كې د شرط نه او دلته كې واذا عطف شرط دې، اكد جزا ده او د دې جزا ترتب نه صحيح كيږي په شرط باندې؟ جواب: وشو چې دلته كې شرط اراده دې ځكه دا عطف فعل اختياري د متكلم دې او هر فعل اختياري د متكلم مسبوق بالاراده وي منشا د اعتراض د اده چې دا عطف معترض صاحب شرط ګرځولې وو جزا لپاره او منشا د جواب دا ده چې شرط اراده دې نه عطف ځكه و اذا عطف معنى دا دې و اذا اردت العطف ځكه دا عطف فعل اختياري د متكلم دې او هر فعل اختياري د متكلم مسبوق بالاراده وي. مرفوع سره احتراز وكړه د منصوب او د مجرور نه د مجرور حكم خو راروان دې او عطف د اسم په ضمير منصوب متصل باندې بلا تاكيد جائز دې، او متصل سره يې احتراز وكړه د ضمير مرفوع منفصل نه ځكه عطف د اسم په ضمير مرفوع منفصل باندې بلا تاكيد جائز دې، اوس عطف د مستقل كلمې په جز د كلمې باندې ولې جائز نه دې ځكه (١) معطوف په حكم د معطوف عليه كې وي او دا معطوف عليه جز دې نو دا معطوف به هم جز وي د كلمې نه او دا معطوف جز د كلمه نه دې بلكه دا مستقل كلمه ده.

سوال: معترض صاحب وائي زه تا نه تپوس كوم چې دا زيد په تُ باندې عطف كوې او كه انا باندې عطف وائې كه عطف په تُ باندې وائې بيا عطف د متسقل كلمې په جز د كلمې باندې راغې كم كندې نه چې تختيدې په هغې كې پريوتې او كه په دې انا باندې عطف وائې بيا معطوف په حكم د معطوف عليه كې وي هغه انا خو تاكيد وو او دا زيد به هم تاكيد شي او د زيد نه تاكيد نه جوړيږي ځكه مصداق د مؤكد او د مؤكد يو وي، او د زيد او د انا مصداق يو نه دى؟ جواب: په تُ باندې عطف وايم او په سبب د انا سره په دې تُ كې استقلال راغې حكماً، تاكيد د ضمير مرفوع متصل واجب دې ضمير مرفوع منفصل سره په كل اوقاتو كې (الا) مګر نه دې واجب (ان يقع فصل) په وخت د وقوع د فصل كې په ما بين د معطوف او معطوف عليه كې واجب نه دې صورتونه دوه دې: (١) جائز دې (٢) او كه ممتنع وي دا وائي (فيجوز تركه) جائز دې ترك د تاكيد د ضمير مرفوع متصل په ضمير مرفوع منفصل سره. جواز په معنى د امكان سره دې چې سلب د ضرورت راغلې دې د جانبينو نه دا په دې شان سره چې دا تاكيد هم ضروري نه دې او دا ترك هم ضروري نه دې بلكه جائز دې ځكه لازم شو په كلام كې طول او طول تقاضا د تخفيف كوي او تخفيف حاصل شو په ترك تاكيد سره (مثل ضربت اليوم و زيدا) دا مثال دې د ترك. بل مثال د دې لكه دا قول د الله تعالى شو (ما اشركنا و لا آباؤنا يدخلونها و من صلح

او مثال د ایراد لکه دا قول د الله تعالی شو (فکبکبوا فیها هم والغاون) فیها دا فصل او هم ضمیر مرفوع منفصل تاکید ، دا مذهب د بصریانو دي چې هغوی تاکید وائي هر چې دي دا قول د نبي علیه السلام كنتُ و ابوبكر و عمرُ ، فعلتُ و ابوبكر و عمر شاذ دي د دوی په نزد باندې ، او کوفیان حضرات وائي تاکید اولی دي واجب ندي بې د تاکید نه هم عطف جائز دي کوفیان دغې ته ګوري دا ضمیر فاعل متصل کلمه ده او عطف بلا تاکید جائز دي (و اذا عطف) کله چې اراده وکړي شي عطف د یو اسم (**على الضمير المجرور**) په ضمیر مجرور متصل باندې (**اعيد الخافض**) ذکر کولي شي جار معطوف سره برابره خبره ده چې حرف وي او که اسم وي دا جار لپاره د دي چې لازم نه شي عطف د مستقل کلمي په جز د کلمي باندې (۱) ځکه اتصال په ما بین د جار او مجرور کې اشد دي د اتصال نه په ما بین د فعل او فاعل کې ځکه انفصال د دي ممکن نه دي او فاعل کله کله جدا کیږي او ضمیر مرفوع متصل کالجز وو د ما قبل نه نو ضمیر مجرور کالجزء دي په طریقه اولی سره (۲) او نشته دي ضمیر مجرور منفصل چې تایید وکړي شي؟ هغې سره (۳) او ضمیر مرفوع منفصل مستعملولو سره لازمیږي مُذلت د عمده (۴) او فصل مؤثر دي په ترک د وجوب د تاکید کې ضمیر مرفوع منفصل سره چې تاکید واجب نه دي او دلته کې تاکید نشته نه نو څرنګه به جائز شي عطف د اسم په ضمیر مجرور باندې بې د اعادي د جار نه د وجې د فصل نه، پس لابدي شوه لپاره صحت دعطف د اعادي د جار نه نو بالضرور صحت د عطف لپاره متعین شو دا یوه طریقه.

سوال: بیا وائي ضمیر مرفوع متصل باندې اسم عطف کولو لپاره یې تاکید کړې وو دلته تاکید ولې نه کوي؟ **جواب:** وشو چې نشته دي ضمیر مجرور منفصل چې تاکید وکړي شي هغې سره.

سوال: بیا وائي ضمیر مرفوع منفصل سره تاکید وکړه؟ **جواب:** وشو چې ضمیر مرفوع منفصل سره تاکید وکړه لازمیږي م ذلت د عمده چې دا ضمیر مرفوع منفصل دي او مذلت د عمده جائز نه دي.

سوال: بیا وائي فصل راوله په ما بین د ضمیر مجرور او د معطوف کې په یو شي سره بیا عطف کوه بې د اعادې د جار نه لکه هلته کې دې عطف کول بلا تاکید؟ **جواب:** وشو چې فصل مؤثر دي په ترک د وجوب د تاکید او دلته کې تاکید نشته دي مثال د اعاده د جار چې حرف دي (**مررت بك وبزيد**) او بل مثال لکه دا قول د الله تعالی شو (لها و للارض. قل الله ینجیکم منها و من کل کربٍ و علیها و علی الفلك تحملون) او مثال د اعاده د جار چې اسم وي لکه المال بیني و بینَ عمرو شو.

سوال: بیا معترض وائي که عطف د مجموعه په مجموعي باندې وائي بیا دې مسئله ورانه کړه چې هغه عطف د اسم په ضمیر مجرور باندې ؤ او که دا و بزید عطف وائي په دي مجرور باندې بیا لازم شو اجتماع او توارد د مؤثرینو په اثر واحد باندې دا باطل دي؟ **جواب:** عطف د مجرور په مجرور باندې وایم نه مجموعه په مجموعه باندې اجتماع د مؤثرین نشته دي اصلي عامل هغه دي دا وروسته با زائد لپاره صحت د عطف.

سوال: حرف زائده هم عمل کوي لفظاً؟ **جواب:** عمل کوي هله چې مؤکد د اولی نه وي. دا هم مذهب د بصریانو دي چې دوی عطف د یو اسم په ضمیر مجرور باندې بې د اعادي د جار نه جائز نه وائي او

دي او په کلام فصيح کې راغلي دي تسائلون به والارحام کوفيانو وائي بې د اعادې د جار نه هم جائز دي او په کلام فصيح کې راغلي دي تسائلون به والارحام بصريان د دينه تکلفًا جواب کوي (۱) والارحام کې دا واو واو قسميه دي واو عاطفه نه دي (۲) يا دا منصوب دي مفعول به دي فعل مقدر لپاره عطف د جمله دي په جمله باندې (۳) يا منصوب دي عطف دي په دي به مجموعه باندې

بيا مسئله مفتى به دا ده: چې اعاده د جار اولى ده واجب نه ده بې د اعادې د جار نه هم عطف جائز دي په ضمير مجرور باندې (**والمعطوف**) معطوف بالحرف (**في حکم المعطوف عليه**) په حکم د معطوف عليه کې دي (۱) په هغه احکامو کې چې عارض وي معطوف عليه ته د ما قبل نه نه په احکامو ذاتيه وکې (۲) او مقتضى د دي احکامو منتفي نه وي په معطوف کې. دي اول قيد سره ځنې اعتراضونه دفع شو

سوال (۱) جاءني زيد و رجل ته وائي و المعطوف في حکم المعطوف عليه دا رجل په حکم د ما قبل کې خو نه دي ځکه زيد معرفه ده او رجل نکره دي (۲) جاءني رجل و امرأة کې دا معطوف په حکم د معطوف عليه کې نه دي ځکه رجل مذکر دي او امرأة مؤنث دي؟ (۳) جاءني رجل و امراتان کې هم دا معطوف په حکم د معطوف عليه کې نه دي ځکه رجل مرفوع بالضمه او مرفوع بالحرکة دي او رجلان مرفوع بالالف او مرفوع بالحرف دي؟ **جواب:** ماتن چې ويلي دي و المعطوف في حکم المعطوف عليه حکم نه مراد دي هغه حکم چې د ما قبل نه عارض وي او دا ما قبل نه عارض نه دي تعريف او تنکير تذکير او تانيث دا احکام ذاتي د معطوف عليه دي د ما قبل عامل د وجې نه ندي عارض شوي دي معطوف عليه ته دارنګې دا جنس رفع د ما قبل نه عارض په دي کې به شريك وي دا معطوف معطوف عليه سره او دا نوع د حرکت حکم ذاتي دي د ما قبل نه عارض ندي. او په دويم قيد سره اعتراض دفع شو.

سوال: يا زيدُ و الحارثُ سره چې معطوف عليه کې تجريد دي من اللام او معطوف کې تجريد نشته نو معطوف په حکم د معطوف عليه کې نه شو؟ **جواب:** تجريد حکم دي علت ورله مباشرت او دخول بالفعل دي او دا مباشرت او دخول د حرف ندا بالفعل و الحارث کې نشته او منتفي دي ځکه دا مجرد عن اللام ندي. اوس په دي باندې مثالونه تفريع کوي پيش کوي (**ومن ثم**) د دي وجې نه چې معطوف به په حکم د معطوف عليه کې وي (**لم يجز**) په ذاهب کې په جانب د معطوف کې (**الا الرفع**) مګر رفع، اوس په دي ذاهب کې جر جائز نه دي چې عطف شي بقائم مجرور باندې دارنګه نصب جائز نه دي چې عطف شي په قائمًا منصوب باندې ولې که دا عطف شي په هغه مجرور باندې يا منصوب باندې دا به خبر شي زيد نه او دا ممتنع دي د وجې د خلو د ضمير نه چې واقع دي په معطوف عليه کې او راجع دي اسم د ما ته او دا حکم عارض دي د ما قبل نه. بنه نصب او جر خو جائز نه شو بيا ترکيب به څنګه کوي ترکيب صورتونه دوه دي: (۱) ذاهب خبر مقدم، عمرو: مبتدأ مؤخره قسم اول خبر مقدم سره د مبتدأ مؤخر نه جمله اسميه عطف د جملې دي په جمله باندې (۲) يا ذاهب مبتدأ مسند به، عمرو: فاعل سد مسد خبر عطف د جملې دي په جمله باندې، په دي اول ترکيب کې په دي ذاهب کې ضمير دي هغه زيد ته نه دي راجع بلکه ما بعد عمرو ته راجع دي، او مرتبه د هغه مخکې ده فلا يلزم اضمار قبل الذکر لفظاً او رتبتاً او په دي دويم ترکيب کې سره ضمير نشته دي (**وانما جاز**) دا جمله مستانفه جواب سوال واقع شوي دي

سوال: معترض صاحب وائي تاسو دا وويل چي معطوف عليه كي ضمير وي راجع وي ما قبل ته پس لابدي ده په معطوف كي هم د دغه ضمير نه چي راجع شي ما قبل ته و الالم يجز العطف دا قاعده ستاسو منقوضه شوه په دي تركيب سره (**الذي يطير**) هغه شي چي هغه الوزي او زيد خفه كيږي (**الذباب**) مچ دي، په دې شان سره چي (**يطير**) معطوف عليه دي په دي كي ضمير دي موصول ته او (**فيغضب**) معطوف دی په دي يطيرُ باندې او په دي كي ضمير نشته دي (**لانها**) ځكه دا فا چي ده په فيغضب كي (**فاء السببية**) فا سببي ده د جواب صورتونه دوه دي (۱) **جواب منعي** نه منم چي دا فا عاطفه ده بلكه دا فا سببي ده او فا سببي كي دا شرط نشته دي فا سببي هغه جملتين په مينځ كي راځي چي جمله اولی په اعتبار د مضمون سره سبب وي مضمون د جمله ثاني لپاره (۲) لانها: دا فا عاطفه فا سببي دي يعني فا عاطفه هم ده او ورسره سببي هم دي او سبب او مسبب په حكم د شي واحد كي دي دا مجموعه لكه يوه صله شوه او په صله كي يو عائد وي (**واذا عطف**) سره غرض د ماتن بيان د حكم اختلافي دي چي دري صورتونه د عطف دي دوه اتفاقي او يو اختلافي هغه اختلافي صورت ماتن بيانوي (**واذا عطف**) كله چي اراده وكړي شي عطف د اسمينو (**على عاملين**) په معمولينو د عاملينو مختلفينو باندې په دي شان سره عاملين مختلف وي په عمل كي او ثاني مؤكد د اولی نه وي (**لم يجز**) دا عطف جائز نه دي مطلقاً په نزد د جمهورو (**خلافا للفراء**) نسبت د خلاف كړی شوی دی جمهورو ته داسي خلاف چي ثابت دي فراء لره په دي شان سره فراء جائز وائي مطلقاً په تراكيبو مسموع كي سمعا او په نورو كي قياساً (**الا في نحو**) مگر جائز دی په دي تركيب كي چي (**في الدار زيد والحجرة عمرو**) دا مراد په دي سره هر هغه تركيب دي چي مجرور مقدم وي په جانب د معطوف عليه او په جانب د معطوف دواړو كي ځكه دا تركيب مسموع دي د عربو نه او باقي نه دي جائز قياساً په دي تركيب مسموع باندې ځكه واو حرف علت ضعيفه نه شي قائم كيدی په مقام د عاملينو مختلفينو په وصول د اثر د عاملينو مختلفينو كي معمولين مختلفين ته **خلافا للسيبويه** او نسبت د خلاف كړي شوي دي جمهورو ته داسي خلاف چي ثابت دي سيبويه لره په دي شان سره چي سيبويه وائي دا عطف جائز نه دي مطلقاً او كوم تراكيب چي مسموع من العرب دي هغه ماول دي په حذف د مضاف يا د بل شي سره نو في الدار زيد و الحجرةِ عمرو معنى دا ده: في الدار زيد و صاحب الحُجرة عمرو دا عطف د جمله دي په جمله باندې او دا قاعده ده چي كله كله مضاف حذف كيږي او مضاف اليه پاتي كيږي په خپل اعراب باندې كما في قوله تعالى (و الله يريدُ الآخرة) اصل تركيب دا دي: و اللهُ يريدُ عرضَ الآخرة، مضاف حذف شوي دي او مضاف اليه په خپل اعراب اصلي باندې باقي پاتي دي تفصيل د دي دا دي چي متكلم اراده وكړي دوه اسمين عطف كومه په دوه معمولينو باندې دا مراد د ادا كيږي په قواعد نحويو سره او كه نه د دي صورتونه دري دي: (۱) عطف د اسمينو په معمولينو مختلفينو د عامل واحد باندې دا جائز دي بالاتفاق كقوله تعالى (هو الذي جعل لكم الارض فراشًا و السماء بناءً) ځكه حرف علت واحده قائم كيدي شي په مقام د عامل واحده په وصول د اثر كي (۲) او كه نه دا معمولين دوو نه زيات وو مثلا

متكلم اراده وكړه چې دا دري عطف كومه په دي درېو باندي دا جائز نه دي بالاتفاق دليل هغه دي چې واو حرف علت ضعيفه دي نه شي قائميدي په مقام د دي عواملو باندي په وصول د اثر د هغوى کې دي معمولاتو ته مثال لكه: ثبت زيد في الدار ضاربًا اباه دا خو دري عامل او دري معموله شو، وعمرو البيت غلامه دا تركيب ممتنع دي (٣) دا تثنيه صورة پاتې شو مختلف فيه چې دا جائز دي او كه نه دي؟ وائي په دي کې دري مذهبونه دي (١) افراط کړي دي چې هغه فراء وائي عطف د اسمينو په معمولينو مختلفينو د عاملينو مختلفينو باندي مطلقاً جائز دي څکه کوم تراکيب چې مسموع دي د عربو نه هغه جائز دي سمعًا او کوم چې مسموع د عربو نه نه دي هغه جائز دي قياسًا يعني هغه قياس كوو په دي تراكيبو مسموعه باندي (٢) سيبويه تفريط کړي دي چې هغه وائي مطلقاً جائز ندي عطف د اسمينو په معمولينو د عاملينو مختلفينو باندي دليل دي لپاره هغه دي چې دا واو حرف علت ضعيفه دي نه شي قائميدي په مقام د عاملينو مختلفينو باندي په وصول د اثر د عاملينو مختلفينو کې معمولينو مختلفينو ته بيا په ده باندي اعتراض دي

سوال (١) چې کوم تراکيب مسموع د عربو نه دي هغې سره به څه چل کوي دا وائي په هغه کې زه تاويل کوم په حذف د مضاف سره يا د بل شي سره کما مر

سوال (٢) دا قاعده ده چې مضاف حذف شي او مضاف اليه د هغې په ځای قائم شي حکم د هغې اخلي نحو قوله تعالى (و اسئل القرية) اي اهل القرية دا مضاف حذف شوي دي او مضاف اليه قائم شوى دى په مقام د هغه باندي اعراب د هغه اخستي دي بيا دلته دا الحجرة مجرور ولې دى؟

جواب: سيبويه وائي دا قاعده منم چې مضاف حذف شي او مضاف اليه قائم شي په مقام د مضاف کې حکم د هغې اخلي لکن دا قاعده هم په نحوه کې شته دي چې کله کله مضاف حذف شي او مضاف اليه قائم شي په مقام د هغه باندي دا مضاف اليه په خپل اعراب باندي باقي وي کما في قوله تعالى (و الله يريد الآخرة) على قراءة، اي عرضَ الآخرة مضاف حذف شوى دى او مضاف اليه قائم شوى دى په مقام د مضاف باندي او په خپل اعراب باندي باقي دى.

(٣) مذهب د جمهورو دي، او د جمهورو په مذهب کې افراط تفريط نشته دي جمهور وائي: عطف د اسمينو په معمولينو د عاملينو مختلفينو باندي جائز دي په دې شرط سره چې مجرور مقدم شوى وي هم په جانب د معطوف عليه کې او هم په جانب د معطوف کې و الافلا يجوزُ العطفُ ځکه کوم ترکيب چې وارد شي خلاف القياس هغه مختص وي په مورد د سمع پورې لکه شريعت محمدي کې چې يو حکم مخالف راشي د عقل نه هغه مختص وي په مورد د سمع پورې د هغې نه مقيس عليه نه شي جوړولي يعني په هغې باندي د نورو حکمونو قياس نه شي کولي دارنګه په شريعت عربي کې کوم ترکيب چې وارد شي خلاف القياس هغه مختص دي په مورد د سمع پورې نور وزباندي نه شي قياس کولي اوس د عربو نه عطف د اسمينو په معمولينو د عاملينو مختلفينو باندي مسموع دي په هغه ځای کې چې مجرور مقدم وي په جانب د معطوف او معطوف عليه دواړو کې خلاف القياس يعني

خلاف د عقل نه ځکه عقل وائي دا ترکیب جائز نه دي ځکه واو حرف علت ضعیفه دي نه شي قائمیدي په مقام د عاملینو مختلفینو په وصول د اثر د دوی کې معمولینو مختلفینو ته او قاعده دا ده کوم ترکیب چې مسموع وي خلاف القیاس هغه مختص وي په مورد د سمع پورې لهذا دا حکم مختص دي په دغه ترکیب پورې نور په دي باندې نه شي قیاس کولي مثال د تراکیبو مسموعه (۱) ما کلُ سوادٍ تمرةً و بیضاءُ شحمة. هر تور شي کجوره نه وي او هر سپین شي وازګه نه وي، اوس دا ترکیب د عربو نه مسموع دي په دي کې دوه عامله دي یو (۱) ناصب (۲) جاره او د دوی دوه معمولین دي مختلفین چې هغه سوداء او تمرة دي، او عطف د اسمینو په هغوی باندې راغلي دي چې بیضاء او شحمة دي او مجرور مقدم دي په جانب د معطوف او معطوف علیه دواړو کې چې سوداء او بیضاء دي

(۲) مثال: أکلَ امریٍٔ تحسبین امرءاً ونارٍ توقد باللیل ناراً

هر سړي لپاره دا ګمان مه کوه چې دا ګنې کامل سړي دي، او نه هره رڼا لپاره دا ګمان کوه په شپه کې چې دا اور دي، اوس دلته کې عطف د اسمینو راغلي دي چې نار او ناراً دي په معمولینو د عاملینو مختلفینو باندې چې هغه امریٔ او مرءاً دي په دي امریٔ کې عامل کل دي او په امراءً کې عامل تحسبین دي او مجرور مقدم په منصوب باندې په جانب د معطوف او معطوف علیه دواړو کې چې هغه امریٔ او نار دي (۳) دریم مثال: و في اللین ضعف و الشراسة هیبة و من لم یهب یُحمل علی مرکب وغر او مختار مذهب عند المصنف مذهب د جمهورو دي ځکه د دوی په مذهب کې افراط تفریط نشته دي په خلاف د مذهب د فراء او د سیبویه نه چې فراء افراط کړي دي چې مطلقاً جائز وائي، او سیبویه کمی کړي چې مطلقاً جائز نه وائي. بیا ستا دي متن باندې اعتراض واردیږي

سوال: د عطف په صله کې چې علی راشي قاعده دا ده: چې مدخول د علی معطوف علیه وي دینه دا معلومه شوه چې دا عاملین معطوف علیهما دي او ته خو په دي عاملینو باندې عطف نه کوې؟ **جواب:** هله به ستا اعتراض واردیدو چې دا علی ظرف لغوه متعلق وي په عُطف پورې دلته کې دا علی بنائي دي متعلق دي بناء پورې علت د ما قبل دي یا بناءً علی وجود عاملین

(۲) یا جواب دا دي چې دا علی صله د عطف دي یعنې ظرف لغوه دي متعلق دي عطف پورې او دا عبارت حذف د مضاف سره دي ای علی معمولي عاملین

التاکید

مؤکد په اصطلاح د نحویانو کې **(تابع)** تابع دي هسې تابع **(یقرر)** چې ثابتوي په ذهن د مخاطب کې په دې شان سره چې سامع نه شك زائل کوي یقین پکې راولي **(امر المتبوع)** صفت او حال د متبوع چې هغه کون د متبوع دي منسوب یا کون د متبوع دي منسوب الیه **(فی النسبة)**

سوال: امر د متبوع بعینه دغه نسبت دي ظرفیت نه صحیح کیږي؟

جواب: في په معنی د من سره دي، چې هغه نسبت د متبوع دي غیر ته که دا تابع مؤکد د مسند وو نحو زید قائم قائم یا نسبت د غیر دي ده ته که دا مؤکد د مسندالیه ؤ نحو جاءني زید زید **(او الشمول)** یا

هغه امر د متبوع څه دي هغه شمول د حکم دي ټول افرادو د مؤکد او متبوع لره، تاکيد نه مونږ واخست مؤکد دي سره هغه اعتراضونه دفع شو دري کما مر في العطف، منشا د اعتراض دا ده: چې معترض صاحب تاکيد معنی مصدري سره اخستي دي او منشا د جواب دا ده: چې دا مبني للفاعل دي. او که تاکيد نه مبني للفاعل نه اخلي بيا جواب دا دي اګر که تاکيد په لغت کې صيغه د مصدر ده لکن په اصطلاح د نحويانو کې نقل شوي دي معنی مصدري نه علم ګرځيدلي دي د يو تابع لپاره د توابع خمسه ؤ نه. هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د تعريف د تاکيد نه پس شروع يې وکړه په تقسيم د تاکيد کې (**و هو لفظي و معنوي**) دا تاکيد يو لفظي دي او بل معنوي دي که تاکيد حاصل ؤ په تکرار د لفظ اول سره دېته تاکيد لفظي وائي. او که تاکيد حاصل شوي ؤ په تکرار د معنی سره دېته تاکيد معنوي وائي دواړو کې نسبت د مسبب دي سبب ته (**فاللفظي**) پس تاکيد لفظي اصطلاحي چې قسم اول دي (**تکرير اللفظ الاول**) مکرر مصدر مبني للمفعول د لفظ اول دي حقيقةً يا حکماً، لفظ اول چې دويم ذکر شي حقيقةً يا حکماً دي دويم لفظ ته د دوی په اصطلاح کې تاکيد لفظي وائي، مثال د تکرار د لفظ اول حکماً لکه ضربت انت شو (**و يجري**) د دي دوه ترجمې دي: (۱) جاري کيږي دا مطلق تاکيد لغوي چې مذکور دي ضمناً فلا يلزم الاضمار قبل الذکر او مقصود دي او مبحوث دي په ضمن د تاکيد لفظي اصطلاحي کې نو لازم نه شو خروج عن البحث (**في الالفاظ کلها**) په ټولو الفاظو کې اسم وي او که فعل وي او که حرف وي. (۲) دويمه ترجمه: جاري کيږي دا تاکيد لفظي اصطلاحي چې مذکور بالمطابقة او مبحوث بالذات دي (**في الالفاظ کلها**) په اسماء کلها کې، مجاز مرسل دي ذکر د عام دي چې الفاظ دي مراد ترينه خاص دي چې اسماء دي او کلها ذکر شوي دي لپاره د دي چې دلالت وکړي په عدم حصر باندې، دي سره اعتراض دفع شو.

سوال: في الالفاظ به يې ويلي وي په دې تاکيد او کلها ويلو کې نکته څه ده؟ **جواب:** وشو چې دا کلها ذکر شوي دی لپاره د دلالت او تصريح په عدم حصر باندې

سوال: يجري په دي ضمير باندې اعتراض دي چې دا ضمير به خالي نه وي يا به راجع وي مطلق تاکيد ته يا به راجع وي تاکيد اصطلاحي ته که مطلق تاکيد ته راجع وي چې هغه تاکيد لغوي دي مطلق اعاده د اولی ته وائي په دي کې دوه نقصانه لازم شو (۱) اضمار قبل الذکر راغي (۲) خروج د بحث نه راغی، ځکه بحث زمونږ په تاکيد اصطلاحي کې دي نه په تاکيد لغوي کې او که دا ضمير راجع وي تاکيد اصطلاحي ته بيا اضمار قبل الذکر او خروج عن البحث خو رانغي لکن في الالفاظ کلها دا ورسره نه لګي ځکه تاکيد اصطلاحي فقط په اسماؤ کې راځي؟ **جواب:** وشو په هغه دوه ترجمو سره.

(**والمعنوي**) تاکيد معنوي اصطلاحي دا جاري کيږي (**بالفاظ محصورة**) په اسماء محصورو کې چې هغه اته الفاظ دي، د دوی په اصطلاح کې، بيا دلته ذکر د الفاظ دي مراد ترينه اسماء دي.

سوال: (ضربت انت) دا اوس کوم يو تاکيد دي تاکيد لفظي هم نه دي ځکه تکرار د لفظ اول نشته او تاکيد معنوي هم نه دي ځکه هغه الفاظ محصوره پکې نشته؟ **جواب:** دا قسم اول کې داخل دي، ځکه

دواړه ضميرين متحد دي مصداقًا دا حقيقت كي تكرار د لفظ اول دي (**فالاولان**) فا تفصيليه بيان او تفصيل د الفاظو محصورو كوي (**فالاولان**) اول دواړه چې نفس او عين دي (**يعمان**) عام دي په اعتبار د استعمال سره په دي شان سره چې دا مستعمليږي په مفرد او تثنيه او جمع او مذكر او مؤنث كي

سوال: بيا خو التباس راغي يو بل سره؟ **جواب:** باختلاف الخ

سوال: ته وائي چې دا نفس او عين د دي نورو نه عام دي يعني په دي شپږو الفاظو باندې هم صادقيږي او په نورو باندې هم صادقيږي او دا خو په هغوی باندې نه صادقيږي ځكه دا الفاظ متباين دي؟

جواب: وشو چې مراد په عموم سره عموم استعمال دي نه عموم صدقي.

سوال: نفساهما پكار وو انفسهما، ولي وويل ځكه دا هما تثنيه دي دي سره نفسا تثنيه پكار ؤ او دا انفس جمع دي دا جمع دلته ولي مستعمله وي؟ **جواب:** دا بنا دي په يوي قاعدې باندې چې اجتماع د تثنيتينو چې متصلين وي لفظاً او معنًى دا مكروه دي په كلام عربي كي. اتصال لفظاً دا دي چې تثنيه مضاف ده بل تثنيه ته دا اتصال لفظاً شو. او اتصال معنًى دا په دواړو تثنيو معدود يو دي دا تصال او اتحاد معنًى شو نو بيا په الزيدان انفسهما دا افصح دي او جاءني الزيدان نفساهما دا قبيح دي د دي وجې نه راغلي دي په كلام فصيح او كلام بليغ كي چې هغه قرآن پاك دي (قلوبكما) راغلي دي قلباكما نه دي راغلي (فاقطعوا ايديهما) راغلي دي يداهما نه دی راغلي. دا قاعده په هغه ځاى كي ده چې ثاني نه تعبير شوي وي په تثنيه سره اول نه به تعبير كوي جمع سره او كه ثاني نه تعبير شوي نه ؤ په تثنيه سره بيا به مفرد ذكر كوي په عطف سره نحو (على لسانِ داودَ وَعيسى). اعلَم ان النفسَ و العينَ اذا اكد بهما يجب (١) ان يكون مفردين مع المفرد (٢) و مجموعين مع الجمع (٣) و اما اذا اكد بهما المثنى ففيها ثلاث لغات: (١) نفسهما عينهما په اضافت د مفرد سره ضمير د تثنيه ته (٢) نفساهما عيناهما په اضافت د تثنيه سره تثنيه ته (٣) انفسهما اعينُهما په اضافت د جمع سره تثنيه ته، و هو الافصحُ. (**والثاني**) چې هغه كلاهما دي (**والباقي**) باقي نور الفاظ لغيرِ المثنّى لپاره راځي چې هغه مفرد او جمع دي

سوال: التباس راغي بين المفرد و الجمع؟ **جواب:** **باختلاف الضمير الخ** اعلم انه يجبُ في التاكيد كونُه مضافًا الى ضمير عائد الى المؤكد مطابق له و يستثنى من ذلك اجمع و ما تصرف منه فلا يُضيف الى الضمير فمن ثم قال بعضهم اذا قلت: بالجيش اجمعه فاجمعه بدل لا توكيد لان التوكيد به لا يضاف للضمير. مثال د كل او اجمع چې تاكيد واقع شوي دي جمع مذكر لپاره لكه دا قول د الله تعالى شو (**فسجد الملائكة كلهم اجمعون**). قال بعض العلماء: ذكر كل لدفع وهم من يتوهم ان الساجدين بعضهم لا كلهم وذكر اجمعون لدفع وهم من يتوهم انهم لم يسجدوا في وخت واحد بل سجدوا في وختين مختلفين، و الاول صحيح، و الثاني باطل، بدليل قوله تعالى (لأغوينهم اجمعين) لان اغواء الشيطان لهم ليس في وخت واحد فلا ان اجمعين لا تعرض فيه لاتحاد الوخت و انما معناه كمعنى كلهم و هو قول جمهور النحويين، و انما ذكر في الاية تاكيداً على تاكيد كما قال الله تعالى (فمهل الكافرين امهلهم رويدا) (**ولا يوكد**) تاكيد نه شي كولي يو اسم (**بكل و اجمع**) په لفظ د كل او اجمع سره (**الا ذو اجزاء**) مګر تاكيد كولي شي د هغه شي چې

هغه مرکب وي د اجزاؤ نه حقيقةً لکه جاءني القومُ کلهم اجمعون. يا تاويلاً. او حکماً لکه جاءني الانسانُ کله يا اجمع داسې اجزاء (يصح) چې صحيح وي (افتراقها) جدا والي د دې اجزاؤ د يو بل نه په دې شان سره چې هر جز خانله خانله مرتب عليه د حکم وي دا ترتب د حکم هر واحد باندې عام دې چې (حسا) وي لکه جاءني القوم کلهم شو. قوم مرکب د اجزاؤ نه دې چې زيد او عمرو او بکر دي. او هم يو مرتب عليه د حکم دې حساً (او حکما) يا حکماً وي مثال لکه (اشتريت العبد کله) شو اوس دا عبد مرکب دې د اجزاؤ نه چې هغه نصف او ثلث او ربع دي لکن دا افتراق حساً نه دې بلکه حکماً دې يعني شرعاً او شراء مرتب کيږي په کل او په نصف او په ثلث او په ربع باندې (بخلاف جاءني زيد کله) ځکه جاءني زيد کې هغه اجزاء شرعي هم مرتب عليه د حکم نه دي او هغه اجزاء خارجي هم مرتب عليه د حکم نه دي ځکه د دې زيد تاکيد جائز نه دې په کل سره او اشتريتُ العبد کلّه کې هغه اجزاء خارجي مرتب عليه د حکم نه دي هغه اجزاء شرعي مرتب عليه د حکم دي

سوال: اوس کوم يو شي چې ذي اجزاء نه وي نو د هغې تاکيد په کل او اجمع سره ولي جائز نه دي؟
جواب: ځکه کل په اعتبار د مادي سره دلالت کوي په کليت باندې او اجمع په اعتبار د مادي سره دلالت کوي په جمعيت باندې او کليت او جمعيت نه راځي مگر په مرکب کې راځي لهذا د دوی مؤکد به نه وي مگر ذي اجزاء به وي حقيقةً يا حکماً (٢) لپاره د دې خبرې چې تاکيد په کل او اجمع سره مفيد د فائده شي چې هغه دفع د توهم ده ځکه کل او اجمع سره تاکيد کوو مونږ لپاره دفع د توهم چې بعضې راغلي دي او بعضې نه دي راغلي او دا توهم پيدا کيږي په هغه شي کې چې هغه مرکب وي او ذي اجزاء وي او جاءني زيد کې د دې زيد تاکيد په کل سره صحيح نه دي ځکه دلته توهم نشته دې چې بعضې راغلي دي او بعضې نه دي راغلي د وجې د عدم د وجود د منشا د توهم نه.

سوال: مؤکد په کل او اجمع سره دوه قسمه دي (١) ذي اجزاء دي (٢) ذي افراد دي، چې کلي وي د هغه لاندې افراد وي لکه انسان شو دلته داسې ويل پکار وو ولا يؤکد الاذو اجزاء و ذو افراد؟ **جواب:** داسې يې ونه ويل ځکه کوم ځای کې چې کلي وي د هغه نه حکماً مرکب جوړ شوي دي او لاندې افراد و نه يې حکماً اجزاء جوړ شوي دي (واذا اکد) کله چې اراده وکړي شي تاکيد د ضمير مرفوع متصل (بالنفس و العين) په نفس او عين سره نه په نورو سره (اکد) تاکيد به کولي شي د دې ضمير مرفوع متصل اولاً (بمنفصل) ضمير مرفوع منفصل سره، و ثانياً به کوي په نفس يا عين سره. لپاره د دې خبرې چې لازم نه شي التباس په ما بين د مؤکد او فاعل کې په بعضې صورتونو کې چې فاعل ضمير مرفوع مستتر وي او نور صورتونه محمول دي طرداً للباب او التباس مخل د مقصود دې او دفع د التباس لپاره به تاکيد کوي مثال د التباس لکه زيد جاء نفسه يا عينه د متکلم دا اراده ده چې دا نفسه او عينُه فاعل نه دي بلکه فاعل هغه ضمير مستتره دي په دې جاء کې چې راجع دي زيد ته او دا نفسه يا عينه د هغې لپاره تاکيد دي او مخاطب به وائي چې په دې جاء کې ضمير نشته بلکه دا نفسه يا عينه فاعل دي جاء لپاره ځکه د فعل غائب نه وروسته چې اسم ظاهر مرفوع راشي هغه فاعل وي دا منشا د توهم د مخاطب نو

دا متكلم دفع د التباس لپاره داسې به وائي زيد جاءني هو نفسُه يا عينُه، اوس دلته كې دوه تاكيده راغلل دا مخكني تاكيد مقصود نه دي بلكه دا تمهيد دي دي وروستني تاكيد لپاره او مقصود دا وروستني تاكيد دي (**ضربت انت نفسك**) دا مثال د عدم التباس دي دا محمول دي په صورت د التباس باندې طرداً للباب، مرفوع سره يې احتراز وكړه د ضمير منصوب او مجرور نه ځكه د دوی تاكيد په نفسه يا عينه سره كولي شي بې د تاكيد نه په ضمير منفصل سره اولاً ځكه التباس نشته دي په هيڅ صورت كې نحو ضربتك نفسك مررتُ بك نفسك، او متصل سره احتراز وكړه د منفصل نه ځكه هلته كې هم التباس نشته نحو: انت نفسك قائم انت عينك قائم

سوال: د هغه اته الفاظو نه يې دا دوه ولې خاص كړه؟ **جواب**: دا نفس او عين دا دوه الفاظ لكه څرنګه چې په كلام د عربو كې تابع واقع كيږي درانګه فاعل معرب بالاصاله هم واقع كيږي خلاف د كل او اجمع نه هغه دواړه غالباً په كلام د عربو كې تابع واقع كيږي په دوی كې هغومره التباس نشته دي، چې څومره التباس په نفس او عين كې وو (**واخواه**) او اخوين د دي اكتع او نظيرين د دي اكتع چې هغه ابتع او ابصع دي (**اتباع**) په استعمال كې تابع دي (**لاجمع**) د اجمعُ، د اتباع او اتباع په مينځ كې تجنيس خطي دي او معترض صاحب اِتباع جوړ كړي دي بيا يې اعتراض كړي دي په عدم صحت د حمل سره؟

جواب: دا دي چې دا اتباعَ دي په فتحه د همزه سره دا اتباع نه دي په كسري د همزه سره.

سوال: ته وائي چې اكتعُ او د دي اخوين دا تابع د اجمع دي يعنې د هغې لپاره تاكيد واقع كيږي دا خو د هغې لپاره مؤكد خو نه دي او نه هغه ورله مؤكد دي بلكه دا دواړه مؤكد دي غير لپاره؟ **جواب**: مراد په تابع سره تابع استعمالي دي نه اصطلاحي يعنې په استعمال كې د هغې تابع دي نه په اعراب او حكم كې، اوس د هغه تابع استعمالي بيان دا دي: (١) (**فلا تتقدم عليه**) (٢) (**و ذكرهما دونه**) او ذكر كول د ابتع او اخوين د دي چې ابتع او ابصع دي بې د ذكر كولو د اجمع نه (**ضعيف**) ضعيف دي په كلام بليغ او په كلام فصيح كې نه راځي د وجې د عدم ظهور د دلالت نه په جمعيت باندې بې د اجمع نه ځكه د دوی په معنی لغوي كې خلاف دي، (١) څوك وائي د دوی ځانله معنی لغوي نشته دي دا مهملات دي د دي نظير لكه لرګي مركي دوه دي موږي د اجمع نه چې وروسته ذكر شي بعينه دغه اجمع معنی د دي (٢) بعضې خلك وائي د دوی ځانله معاني لغوي شته لكن هغه معنی لغوي په مقام د تاكيد كې مراد نه دي دلته كې بالاتفاق په معنی د اجمع سره دي يعنې په مقام د تاكيد كې د دي بله معنی نشته ماسوا د اجمع نه بالاتفاق.

البدل

بدل په اصطلاح د نحويانو كې (**تابع**) تابع دي هسې تابع (مقصود) چې قصد كړي شوي دي (**به**) په هغه حكم سره او هغه شي سره (نسب) چې نسبت كړي شوي د د هغه حكم (**الى المتبوع**) متبوع ته چې مبدل منه دي (**دونه**) په حال كون د دي تابع كې چې مجاوز دي د متبوع نه په قصد كې په دي شان سره چې متبوع او مبدل منه اولاً په حين د ذكر كې مقصود نه دي په اصل نسبت سره برابره خبره ده چې هغه مثبت وي او كه منفي وي بلكه تمهيد دُي تابع ته چې بدل دي لپاره د ايقاظ د مخاطب او دا حاصليږي په نقيض

سره هم. اعتراض دفع شو چې وارديدو په عدم مانعيت باندې په معطوف بدل سره چې هلته هم دا تابع مقصود بالنسبة دی دون المتبوع او هغه بدل نه دي؟

جواب: هلته کې معطوف عليه په حين د ذکر کې مقصود دي اګر که انتهاءً مقصود نه دي او دلته کې دا متبوع په حين د ذکر کې مقصود نه دي بلکه تمهيد دي تابع ته

سوال: دا تعريف د بدل جامع نه شو ځيل افرادو لره خارج شو ترينه ما جاءني احد الازيد ځکه ما جاءني احد الازيد کې دا زيد مقصود بما نسب الى المتبوع نه دی ځکه د کوم شي نسبت چې متبوع ته شوی دی هغه نفي د قيام ده، او د کوم شي نسبت چې تابع ته شوی دی هغه خو اثبات د قيام دی؟

جواب: بدل مقصود وي په اصل منسوب سره او اصل منسوب دلته قام دی چې منسوب دی په ظاهر کې اولاً متبوع ته او ثانياً تابع ته په قصد د متکلم کې، اګر چې مخالف دی په اعتبار د صفت سره چې هغه نفي ده په اول کې او اثبات دی په ثاني کې، نو حاصل دا دی چې کلمه د ما په دې عبارت کې چې ما نسب الى المتبوع عبارت دی د فعل او شبه فعل نه او په ترکيب مذکور کې فعل **قام** دی چې منسوب دی احد او زيد دواړو ته او کلمې د ما او د الاد دې په وصف کې تغير راوستی دی نه په ذات کې او وصف د دې منسوب نه دی. **وهو** او دا بدل څلور قسمه دی. (مشهور) **بدل الكل والبعض والغلط والاشتمال** يو بدل کل دی بل بدل بعض دی، بل بدل اشتمال دی او بل بدل غلط دی، **فالاول** قسم اول چې بدل کل دی **مدلوله مدلول الاول** مدلول او مصداق د دې به مدلول او مصداق د مبدل منه وي، نحو جاءني زيد **والثاني جزئه** او دويم قسم چې بدل بعض دی مدلول د دې جز دی د مدلول د مبدل منه نه، نحو ضربت زيداً رأسه، **والثالث** او دريم قسم چې بدل اشتمال دی دا هغه دی **بينه وبين الاول ملابسته بغيرهما** چې په مينځ د دې او په مينځ د مبدل منه کې تعلق دی بغير د کليت او جزئيت نه، نحو اعجبني زيد علمه **والرابع ان تقصد اليه بعد ان غلطت بغيره** او څلورم قسم هغه دی چې ته قصد وکړې هغې ته پس د دې نه چې ته غلط شوی يې په ذکر کولو د غير د دې بدل سره چې هغه مبدل منه دی. نحو رأيت رجلاً حماراً

تشريح: په متن کې مشهور اقسام ذکر دي ليکن تفصيلاً اقسام د بدل پينځه دي. ۱- بدل کل من الکل ۲- بدل کل من البعض ۳- بدل البعض ۴- بدل الاشتمال ۵- بدل مباين

وجه د حصر: دا بدل به خالی نه وی يا به مصداق د بدل بعينه مصداق د مبدل منه وی يا به مباين وی د مصداق د مبدل منه. يا به داسې نه وي يعنې نه به عين وي نه به مباين وی، که اول وو هغه ته بدل کل من الکل وايي، او که ثاني وو هغې ته بدل مباين وايي، او که نه عين وو او نه مباين وو بيا به خالی نه وي يا به کل د مبدل منه به وي يا به بعض د مبدل منه به وي يا به داسې نه وي، که دا بدل کل د مبدل منه وو هغې ته بدل کل من البعض وايي: نحو قوله تعالى: فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئًا ۝ جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ عِبَادَهُ بِالْغَيْبِ الجنة مبدل منه دی جنات عدن بدل کل من البعض دی وقول الشاعر:

رحم الله اعظما دفنوها
بسجستان طلحة الطلحات

په دې شعر کې اعظما مبدل منه دی او طلحة بدل کل من البعض دی وقول امرأ القيس:

كان غداة البين يوم تحملوا لدى سمرات الحى نافق حنظل

پدې قول دامرأ القيس كې غداة البين مبدل منه دى يوم تحملوا بدل كل من البعض دى او كه مصداق د بدل نه عين مبدل منه وو او نه بالكل مبائن وو د مبدل منه نه هغې ته بدل الاشتمال وايي، او مثال د باقي څلورو وارو ذكر دى په دې قول دابن مالك كې:

كـزرة خالدا اوقبله اليدا واعرفه حقه وخذ نبلامدى

اقسام البدل المباين: بدل مباين چې مصداق د دې بالكل مباين دى د مصداق د مبدل نه دا په درې قسمه دى: ۱- بدل غلط ۲- بدل نسيان ۳- بدل اضراب.

وجه د حصر: مبدل منه به خالي نه وي يا به ذكر شوى وى غلطى سره يا به ذكر شوى وي نسيان د وجه نه يا به ذكر شوى وى قصدا للاضراب، كه مبدل منه ذكر شوى وى غلطى د وجه نه هغې ته بدل غلط وايي او كه نسيان د وجه نه ذكر شوى وو بدل نسيان وايي او كه قصدا ذكر شوى وو اضراب ته بدل اضراب وايي.

بدل الغلط: چې متكلم مبدل منه ذكر كړي په غلط لساني سره د هغى نه بدل زر وكړي تصحيح د غلط ته نحو: جاءنى زيد اخوه.

بدل النسيان: چې متكلم مبدل منه ذكر كړى نسيانا د هغې نه وروسته ده ته معلوم شى خپل خطائى د هغې نه عدول وكړي ذكر د بدل ته چې هغه صواب دى نحو صلت امس العصر الظهر فى المسجد

بدل الاضراب: چې متكلم مبدل منه ذكر كړى قصداً بيا هغه وګرځوي په حكم دمسكوت عنه ذكر د بدل وكړي نحو سافر زيد في قطار سيارة بدل اضراب په كلام فصيح كې راځي اوبدل غلط او بدل نسيان په كلام فصيح كې نه راځي.

ويكونان معرفتين و نكرتين ومختلفتين غرض د ماتن د دې عبارت نه بيان د اقسامو د بدل دى په اعتبار د تعريف او د تنكير سره. بدل په اعتبار دتعريف اوتنكير سره څلور قمسه دى:

۱- بدل المعرفة من المعرفة نحو.قوله تعالى اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ

۲- بدل النكرة من النكرة نحوقوله تعالى: مِّن وَرَائِهِ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ صَدِيدٍ ، فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ

۳- بدل النكرة من المعرفة نحو مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ ، يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ

۴- بدل المعرفة من النكرة نحو قوله تعالى: وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٢﴾ صِرَاطِ اللَّهِ الَّذِي

واذا كان نكرة من معرفة فالنعت غرض د ماتن د دې عبارت نه بيان د احكامو د بدل دى نو يو حكم د احكامو د بدل نه دا دى چې كله كله نكره بدل واقع شي د معرفې نه توصيف د نكره په بوصفت سره واجب ده لپاره د دې چې لازم نه شي انقصيت د مقصود د غير مقصود نه يا لپاره د دې چې لازمه نه شي لغويت د بدل څكه په دې بدل ذكر كولو باندې فائده نه ده مرتب نحو قوله تعالى: بِالنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ

سوال: دا قاعده منقوض ده بقوله تعالى: ﴿فَسَوّٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾؟ **جواب:** دا قاعده په نکره محضه کښې ده او دا سبع سموات نکره مخصصه ده، تخصيص د اضافت د وجه نه راغلی دی.

سوال: دا قاعده ستا منقوضه شوه بقوله تعالى: ﴿مَا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِنْهُمْ﴾ ځکه قليل نکره محضه بدل واقع شوی دی د معرفې نه چې هغه ضمير د فعلوه دی او توصيف نه دی شوی په صفت سره؟

جواب: دا قاعده په بدل کل کښې ده او قليل بدل البعض دی.

سوال: دا قاعده منقوضه شوه فی قوله تعالى: ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ﴾ بنا په يو ترکيب باندې احد بدل کل واقع شوی دی د لفظ د الله نه او دا احد نکره محضه ده او توصيف په يو صفت سره نه دی شوی؟

جواب: ۱۔ دا قاعده په بدل يقينی کښې ده او دا بدل احتمالي دی ځکه په دې کښې دريې ترکيبونه نور هم دي.
۲۔ حسن ابدال النكرة المحضة من المعرفة اذا التفيد منها مالم يستفيد عن المبدل منه (رضی).

ويكونان ظاهرين و مضمرين ومختلفين دا بل حکم دی چې کله بدل او مبدل منه دواړه اسمين ظاهرين وي نحو جاءني زيد اخوك **ومضمرين** کله به دواړه مضمر وي نحو الزيدون لقيتم اياهم، **و مختلفين** او کله به مختلف وي، د دې دوه صورتونه دي (۱) چې اسم ظاهر بدل واقع شوی وي د ضمير نه نحو أخوك ضربته زيداً. (۲) چې ضمير بدل واقع شوی وي د اسم ظاهر نه نحو أخوك ضربت زيداً اياه.

ولا يبدل ظاهر من مضمر بدل الكل الا من الغايب او بدل نه واقع کيږي اسم ظاهر د ضمير نه بدل کل، مګر د ضمير غائب نه، دا بل حکم دی يعني اسم ظاهر د ضمير مخاطب او متکلم نه بدل کل نه شي واقع کيدی او د ضمير د غايب نه واقع کيدی شي او وجه يې دا ده چې په بدل کل کښې مدلول د مبدل منه او د بدل متحد وي او اسم ظاهر د قبيلې د غيبوياتو نه دی نو که اسم ظاهر بدل واقع شي د ضمير د مخاطب يا متکلم نه نو د دې دواړو په مدلول کښې اتحاد نه شي راتلی. (۲) ضمير د متکلم او مخاطب اقوی دی او اخص دی د اسم ظاهر نه په اعتبار د دلالت سره نو که اسم ظاهر بدل کل واقع شي نو لازم به شي کون د مقصود انقص د غير مقصود نه، او بدل بعض، بدل اشتمال او بدل غلط واقع کيدی شي د وجې د عدم د مانع نه ځکه هلته اتحاد د مدلول د بدل نه وی د مدلول د مبدل منه سره فيقال اشتريتك نصفك واشتريتنی نصفي، واعجبتني علمك واعجبتك علمي، وضربتك الحمار وضربتني الحمار، او اسم ظاهر ضمير د غايب نه بدل کل واقع کيدی شي ځکه دلته هم مانع نشته نحو ضربته زيداً.

عطف البيان

ربط: هر کله چې ماتن فارغ شو د بيان د څلورم قسم د توابعو نه چې بدل وو نو شروع يې وکړه په بيان د پنځم قسم د توابعو کښې چې عطف بيان دی، په عطف بيان کښې لابدي ده د معرف د امور سته ؤ نه (۱) مفهوم لغوي (۲) مفهوم اصطلاحی (۳) معرفت دفوائدو (۴) معرفت د احکامو (۵) الفرق بين عطف البيان والبدل باعتبار الحكم (۶) الفرق بينهما باعتبار اللفظ. عطف بيان په لغت کښې اماليې او اظهار ته وائي، او په اصطلاح کښې **تابع غير صفة يوضح متبوعه** دا يو تابع دا سې تابع دی چې غير دی د صفت نه او داسې تابع چې وضاحت کوي د متبوع خپل، په هر تعريف کښې لابدي وي د جنس او فصل نه، **تابع**

جنس دی شامل دی ټولو توابعو ته **غیر صفة** فصل اول دی په دې سره یې احتراز وکړو د نعت نه **یوضح متبوعه** فصل ثاني دی په دې سره یې احتراز وکړو د بدل عطف بالحرف او د تاکید نه نو تعریف د عطف بیان جامع او مانع شو، مثال د عطف بیان لکه دا قول د شاعر شو:

اقسم بالله ابو حفص عمر، دویم نیم بیت یې دا دی ما مسها من نقب ولا دبر دلته په دې ابو حفص کې ابهام وو چې ابو حفص څوك دی څکه چې دا اسم کنیه وه د عمر رضي الله عنه لیکن هغه په دې سره مشهور نه وو نو په عمر سره د هغې بیان او وضاحت وشو چې دا د هغه علم محضه وو او په دې سره هغه مشهور وو.

سوال: ستا د دې عبارت نه مونږ ته دوه خبرې معلومې شوې (١) چې عطف بیان به د ایضاح لپاره راځي دا خبره معلومه شوه د یوضح متبوعه نه او دا خبره منقوضه ده بقوله تعالی «**جعل الله الکعبة البیت الحرام**» جار الله زمخشري ویلې دي چې په دې آیت کې البیت الحرام عطف بیان دی د الکعبة لپاره او عطف بیان د مدح لپاره دی نه د ایضاح لپاره څکه بیت الله په الکعبة سره زیات مشهور دی د البیت الحرام نه لهذا په الکعبة کې ابهام نشته دی چې په البیت الحرام سره د هغې بیان وکړې شي.

(٢) دویمه دا خبره معلومه شوه چې دا عطف بیان به اوضح وي د متبوع نه دا هم معلومیږي د یوضح متبوعه نه څکه کون د شئ موضح فرع د دې ده چې دا اوضح وي او اوضحیت د عطف بیان د متبوع نه شرط نه دی په عطف بیان کې څکه کله کله وضاحت راځي د مجموعې د متبوع او د تابع دواړو نه؟

جواب: هذه العبارة من قبیل قوله تعالی «**والله خلق کل دابة من ماء**» یعنې دا خبره د مصنف بنا ده په اعم او اغلب باندې.

فوائد د عطف بیان

١: غالبا وضاحت د مبتوع ته راځي نحو قوله تعالی: ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٢١﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ.

وقول الشاعر: اقسم بالله ابو حفص عمر ماامسها من نقب ولادبر

٢- کله وضاحت دمتبوع کوی په ذکر کولو دتابع اومتبوع دواړو سره نحو جاءنی اب، عمر وعبدالله.

٣- کله عطف بیان راځی تخصیص ته که نکره بیان واقع شویو دنکری ته نحو: قوله تعالی: مِن مَّآءٍ صَدِيدٍ. ٤- کله عطف بیان راځی مدح ته نحو قوله تعالی جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلْكَعْبَةَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ قِيَٰمًا لِّلنَّاسِ

احکام د عطف بیان

١- ضمیر عطف بیان نه واقع کیږی. ٢- فعل عطف بیان نه واقع کیږی. ٣- جمله عطف بیان نه واقع کیږی. ٤- عطف بیان رفع داشتراك کوی نه رفع دمجاز. ٥- عطف بیان اسم جامد راځی نه مشتقی.

٦- عطف بیان غالبا معرفه راځی. ٧- قطع دعطف بیان داعراب دمتبوع نه جائز دی.

٨- عطف بیان تابع دمتبوع خپل دی په لس امورو کې چې هغه رفع نصب اوجر تذکیر اوتانیث افراد او تثنیت جمعیت تعریف تنکیر اویه خارج کې موجود کیږی د دې لسو نه څلور.

الفرق بين البدل وعطف البيان باعتبار الحكم

١- البدل مقصود بالحكم بخلاف عطف البيان. ٢- البدل في تقدير جملتين بخلاف عطف البيان فهو في تقدير جملة ولهذا امتنع البدل وتعين البيان في نحو: قولك: هند قام عمر و اخوها مررت برجل قام عمرو اخوه. ٣- يطابق عطف البيان ماقبله في التعريف بخلاف البدل. ٤- ان عطف البيان لايجري على المضمر بخلاف البدل. ٥- ان البدل قديكون غير الاول كبدل المباين بخلاف عطف البيان. ٦- ان عطف البيان لايكون جملة. ٧- ولايكون تابعاً لجملة. ٨- ولافعلا تابعا لفعل بخلاف البدل. ٩- ولايكون بلفظ الاول بخلاف البدل بشرط ان يكون مع الثاني زيادة بيان نحو: بِالنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ. وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰ إِلَىٰ كِتَابِهَا الْيَوْمَ. على قراءة يعقوب نصب كل الثانية. ١٠- البدل في الحكم تكرار العامل بخلاف عطف البيان نحو: يازيد الحارث، اناالضارب الرجل زيد، زيد افضل الناس الرجال والنساء، جاء هذا الرجل حامد باي الرجلين جعفر وحسن مررت. جاءني كلا اخويك زيد وعمرو تعين عطف البيان في هذه الامثلة المذكورة وامتنع البدل وفي نحو: يا اخانا زيد تعين البدل وامتنع عطف البيان.

وفصله من البدل لفضاً، ترجمه: او فرق د عطف بيان د بدل سره د حيثيت د لفظ نه واقع دی په مثل د دي قول د شاعر کې انا ابن التارك. غرض د ماتن د دې عبارت نه دفع د اعتراض ده، اعتراض دا دی چې صحيح ده په اعتبار د حکم سره خو فرق شته دی په بدل او عطف بيان کې ليکن په اعتبار د لفظ سره پکې فرق نشته دی لکه جاء ني زيد اخوك کې دا اخوك د بدل او د عطف بيان دواړو احتمال لري، نو ماتن جواب وکړو. **د جواب:** حاصل دا دی چې فرق لفظي بين البدل وعطف البيان اګر چې په ټولو موادو کې نشته دی خو په بعض موادو کې شته دی، لکه په دې قول د شاعر کې: انا ابن التارك البكري بشر، دويم نيم بيت يې دا دی چې عليه الطير ترقبه وقوعاً. اوس په دې قول د شاعر کې دا لفظ د بشر که عطف بيان وګرځولی شي د بكري لپاره نو دا ترکيب صحيح دی او که دا بدل وګرځولی شي د البكري نه نو نه دی صحيح ځکه بدل په حکم د تکرير د عامل کې وي نو تقدير به دا شي چې انا ابن التارك بشر او التارك بشر د قبيلې د الضارب زيد نه دی او الضارب زيد نه دی صحيح د وجې د عدم حصول د تخفيف نه، نه په جانب د مضاف کې او نه په جانب د مضاف اليه کې، او عطف بيان ځکه صحيح دی چې هغه په حکم د تکرير د عامل کې نه وي او د دې نه مراد هر هغه ترکيب دی چې تابع واقع شي د هغه اسم متلبس باللام لپاره چې هغه مضاف اليه واقع شوی وي د صفت متلبس باللام لپاره د دې نه علاوه بعض نور تراکيب هم شته چې هغې کې لفظي فرق ثابت دی په مينځ د بدل او عطف بيان کې تابع واقع شي اسم متلبس باللام ته چې هغه مضاف اليه واقع شوی دی صفت متلبس باللام ته کقولك انا الضارب الرجل زيد دا زيد عطف بيان دی الرجل ته نه بدل وقول الشاعر:

انا ابن التارك البكرى بشر
عليه الطير ترقبه وقوعا

په دې شعر کې بشر عطف بيان واقع شوی دی البكري ته نه بدل، ځکه بدل حکم د تکرار د عامل کې دی بيا عبارت دارنګه کيږي التارك بشر په شان د الضارب زيد دا ترکيب جائز نه دی لعدم حصول

التخفيف في المضاف والمضاف اليه ۲ - تابع واقع شي مفرد معرفه معرب د منادي مفرد مبني على ما يرفع نه نحو ياغلام زيدا دا عطف بيان دی نه بدل، ځکه تابع د منادي چې مفرد معرفه عطف بيان راشي يرفع وينصب دی او که بدل راشي **حکمه حکم المنادی** المستقل دی اعراب نه دی جائز ۳ - په يا اخانا زيد کې بدل دی نه عطف بيان ځکه بدل په حکم دتکرار دعامل کې دی اعراب نه دی جائز لهذا که عطف بيان وی يا اخانا زيدا ويل پکار وو ځکه تابع معرب تابع د لفظ وی ۴ - تابع دمنادی مفرد معرفه اسم متلبس باللام راشي نحو يا زيد الحارث دا عطف بيان دی نه بدل والا يکون يا الحارث، ځکه بدل په حکم د تکرار د عامل کې دی او يا الحارث جائز نه دی عند البصريين ځکه دخول د حرف نداء په اسم متلبس باللام باندې بې د توسط د ای اوهذا نه ندی جائز په استعمال د کلام دعربو کې عند البصريين ۵ - الرسل افضل الناس، الرجال والنساء عطف بيان واقع شوی دی الناس لپاره نه بدل والا يکون الرسل افضل النساء دا صحيح نه دی ځکه رسل بعض د مضاف اليه نه گرځي ځکه اسم تفضيل کې دا قانون دی چې فاعل داسم تفضيل به بعض د افراد د مضاف اليه نه به وی ۶ - ای الرجلين زيد وعمرو جاءك دا زيد وعمر په دې ترکيب کې عطف بيان واقع شوی دی نه بدل والا يکون ای زيد وعمرو او دا جائز نه دی ځکه ای اضافت کيږي جمع ته يا مثنی لفظاً ومعنیً ته يا د ای اضافت کيږی مفرد معرفې ته پدې شرط سره چې مکرر وو نحو ای وايك فارس، يا اراده د اجزاء کړې وي نحو ای زيد حسن، ای اجزاء زيد حسن ۷ - جاءنی کلا اخويك زيد وعمرو په دې ترکيب کې زيد وعمرو عطف بيان دی نه بدل ځکه بدل په حکم د تکرار د عامل کې دی اضافت دکلا راځي زيد وعمرو ته ای کلا زيد وعمرو او دا جائز نه دی ځکه د کلا اضافت کيږی تثنيه مذکر ته لفظا او معنی ۸ - جاء هذا الرجل حامد، حامد عطف بيان دی او که بدل شی کيږی جاء هذا حامد او دا جائز نه دی ځکه تابع د اسم اشاره مجرد عن اللام نه راځي يا ايها القائد سعيد عطف بيان دی بدل ندی، ځکه که بدل شی کيږي يا ايها سعيد او دا جائز نه دی ځکه تابع د ای په منادی کې معرف باللام راځي يا اسم اشاره راځي چې د هغه تابع معرف باللام راځي. وقول الشاعر:

ايا اخوينا عبد شمس ونوفلا اعيذكما بالله ان تحدثا حربا

عبد الشمس او نوفل عطف بيان دی نه بدل ځکه که بدل شي کيږي ايا عبد الشمس ونوفلا دا صحيح نه دی ځکه معطوف مجرد عن اللام حکم د دې حکم د منادی مستقل دی، او ماسوا د دې مواضع مذکورو نه فرق لفظي نه دی ثابت په مينځ دعطف بيان اوبدل الکل کې پد ی شان سره چې په کوم ځای کې عطف بيان صحيح کيږي هلته بدل کل هم جوړيږی وکذا بالعکس لهذا قسم بالله ابوحفص عمر کې دوه ترکيبه دی ۱ - ابو حفص مبين عمر عطف بيان ۲ - ابوحفص مبدل منه عمر بدل کل دغسې په جاءني زيد اخوك کې دوه ترکيبه دی ۱ - زيد مبدل منه اخوك بدل کل ۲ - زيد مبين اخوك عطف بيان

تمت

المطالب العالية

في

توضيح الكافية





مکتبۃ الاشاعۃ محلہ جنگی پشاور

0300-5875425 / 0345-9459209

